فضائلِ اعمال

شیخ الحدیث

حضرت مولانا محمد زکریا صاحب رحمة الله علیه

ژباړن

مولوي عبدالهادي (حماد)

کندهار

اهـداء

د فـضایل اعمـال دغـه کتـاب چـې د افغـان
ښوونې ـ روزنې خیریه ادارې (AEF) یو تن
غړي لخوا دده په شخصي لګښت چاپ شوی
دی، د هیواد ځوان نسل ته ئې د اسلامي او
عقیدتي پـوهې د کچې د لوړولـو پـه موخـه
ډالۍ کوي.

فضائل اعمال

شیخ الحدیث

حضرت مولانا محمد زکریا صاحب رحمة الله علیه

ژباړن

مولوي عبدالهادي (حماد)

د کتاب ځانګړتیاوي:

د کتاب نوم :: فضائل اعمال

د لیکوال نوم :: حضرت مولانا محمدزکریا رحمة الله علیه

ژباړن :: مولوي عبدالهادي (حماد)

د چاپ کال :: ۱۳۸۸ ش

د چاپ شمېر :: زر ټوکه

تقريظ

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده ونصلي على رسوله الكريم

درنو لوستونكو ! څرنګه چي د مولانا محمد زکريا رحمه الله د کتابونو مجموعه يعني فضائل الاعمال هغه کتاب دئ چي دنړۍ په زياتو سيمو کي لوستل کيږي او ترلمر ښکاره ده چي واقعًا داسي يو کتاب دئ چي زيات خلک تري اغيزمن شوي دي او ګټي يې بې شمېره دي. همدا ډول نوموړي کتاب په بيلو - بيلو ژبو ترجمه شوی دئ چي په لړ کي يې پښتو هم راځي خو بدبختانه دغه پښتو ژباړه په منطقوي ډول وه چي دځينو سيمو خلګو استفاده تري کولای شوای او دځينو سيمو خلک نه پرې پوهېدل. په همدې موخه چي کتاب تريوه بريده په معياري ژبه شي او يا ديوې بلي سيمي خلک هم پرې پوه شي او د دغه کتاب دبې شماره ګټو څخه تر اوس هم زيات خلک مستفيد شي. په ځانګړي ډول د کندهار او شاوخوا سيمو خلګو لپاره نوی زيری وي په همدې هيله د اشرفيې مدرسې د تاليف او ترجمې د څانګي مدير مولوي عبدالهادي (حماد) د نوموړي کار لپاره هڅي وکړې او دغه کار يې ترسره کړئ څرنګه چي نوموړي کار موږ تريوه بريده وڅارئ په زړه پوري او د تائيد وړ و الله ﷻ دي دفضائل الاعمال مؤلف، ژباړونکي او هر کوشش کونکي ته عظيم اجر ورکړي او الله ﷻ دي يې نور هم زيات د خلګو د استفادې وړ وګرځوي

وماتوفيقي الابالله وعليه توکلت واليه المصير .

دجامعې اسلاميې اشرفيې دتاليف او ترجمې څانګه اوله ناحيه کندهار افغانستان

دتاليف او ترجمې دڅانګي اراکين		
نوم	دنده	لاسليک
مولوي محمد رسول صاحب	عمومي رئيس	
مولوي عبدالهادي حماد	دتاليف، ترجمې او دمدرسې اداري مدير	
شيخ الحديث مولوي عبدالرحيم صاحب	رئيس دارالافتاء	
مولوي سيد احمد غفوري	نائب دارالافتاء	
مولوي مجاهد صاحب	نائب مهتمم	

فهرست

شمېره	سرليکونه	صفحه
۱	خطبه اوتمهيد	۱
۲	**لومړی باب**	۳
۳	ددين له امله سختۍ تېرول ، تکليفونه او ستونزې ګالل	۳
۴	د نبي کريم ﷺ دطايف دسفر قصه	۳
۵	د حضرت انس بن نضر رضی الله عنه د شهادت قصه	۶
۶	د حديبې صلح (د روغې جوړې تړون) د ابوجندل او د ابو بصير رضی الله عنهما قصه	۷
۷	د حضرت بلال رضی الله عنه اسلام او تکليفونه	۱۰
۸	د حضرت ابوذر غفاري رضی الله عنه اسلام	۱۱
۹	د حضرت خباب بن الارت رضی الله عنه تکليفونـــه	۱۴
۱۰	حضرت عمار رضی الله عنه او دده مبارک د مور او پلار بيان	۱۵
۱۱	د حضرت صهيب رضی الله عنه اسلام	۱۶
۱۲	د حضرت عمر رضی الله عنه داسلام راوړلو قصه	۱۷
۱۳	و حبشې ته د مسلمانانو هجرت او په شعب ابي طالب کې نظر بنده کېدل	۱۹
۱۴	**دوهم باب**	۲۴
۱۵	د الله ﷻ څخه خوف او وېره	۲۴
۱۶	د سيلۍ په وخت کې د نبي ﷺ طريقه	۲۴
۱۷	په تياره کښې د حضرت انس رضی الله عنه عمل	۲۵
۱۸	د لمر ترنځي نيولو په وخت کې د رسول ﷺ عمل	۲۶
۱۹	نبي کريم ﷺ ټوله شپه په ژړا تيرول	۲۷
۲۰	د الله ﷻ څخه د حضرت ابوبکر رضی الله عنه وېره	۲۷
۲۱	د حضرت عمر رضی الله عنه حالت ا و دَحَرَ ه واقعه	۲۹
۲۲	د حضرت عباس رضی الله عنه نصيحت	۳۱
۲۳	د تبوک په سفر کښې د ثموديانو په کلي تيريدنه	۳۲
۲۴	په تبوک کښې د حضرت کعب رضی الله عنه غير حاضري او د هغه توبه	۳۳

فهرست

شمېره	سرلیکونه	صفحه
۲۵	د اصحابو کرامو په خندا د نبي ﷺ خبر تیا او د قبر یاد	۳۹
۲۶	حضرت حنظله ؓ د نفاق وېره	۴۰
۲۷	د الله ﷻ څخه د ویري بېل حالات	۴۱
۲۸	**دریم باب**	۴۵
۲۹	د اصحابو کرامو ؓ د پرهیزګاری او مسکنت بیان	۴۵
۳۰	د نبي ﷺ لپاره د غرونو د سرو زرو جوړول څخه دنبي ﷺ انکار	۴۶
۳۱	ددنیا د ډېروالي پر غوښتلو باندي د عمر ؓ خبر تیا او د نبي ﷺ د ګوزارې حالت	۴۶
۳۲	حضرت ابوهریرة ؓ د لوږې په حالت	۴۸
۳۳	د حضرت ابوبکر ؓ د بیت المال څخه عایشه (خوراکه)	۴۹
۳۴	د حضرت عمر ؓ د بیت المال څخه تنخوا (عایشه)	۵۰
۳۵	د حضرت بلال ؓ د نبي ﷺ لپاره دیو مشرک څخه قرض اخیستل	۵۳
۳۶	د حضرت ابو هریرة ؓ په لوږه کي د مسئلي پوښتنه	۵۵
۳۷	دنبي کریم ﷺ د اصحابو څخه ددو کسانو په باره کښي سوال	۵۶
۳۸	د نبي اکرم ﷺ سره پر محبت کوونکي باندي د مسکنت راتلل	۵۷
۳۹	د عنبر په سریه کښي د مسکنت حالت	۵۷
۴۰	**څلورم باب**	۵۹
۴۱	د اصحابو کرامو رضی الله عنهم د تقوا په باب بیان کي	۵۹
۴۲	د نبي ﷺ د یوې جنازې څخه بیرته راتګ او د یوې ښځي بلنه	۵۹
۴۳	د نبي ﷺ د صدقې د یوې خرما د ویري څخه ټوله شپه ویښتیا	۶۰
۴۴	د حضرت ابوبکر ؓ د یو کاهن (فالګر) د خوراک څخه قی وهل	۶۰
۴۵	د حضرت عمر ؓ د صدقې د شیدو څخه قي	۶۱
۴۶	د حضرت ابوبکر ؓ د احتیاط لمخي باغ وقف کول	۶۲
۴۷	د حضرت علي بن معبد رحمه الله علیه د کرایي د کور په خاوره سره د خط وچول	۶۲

فهرســـت

شمېره	سرليکونه	صفحه
۴۸	د حضرت علي کرم الله وجهه پر يو قبر تېرېيدنه	٦٣
۴۹	د نبي ﷺ ارشاد چي د خوراک چيښناک حرام وي د هغه دعا نه قبليږي	٦۵
۵۰	د عمر ﷺ د خپلي بي بي منعه د مشکو دتللو څخه	٦٦
۵۱	دعمر بن عبدالعزيز رحمة الله عليه د حجاج حاکم لره حاکم نه جوړول	٦٦
۵۲	**پنځم باب**	٦٧
۵۳	د لمانځه شوق او په لمانځه کي عاجزي	٦٧
۵۴	دالله ﷻ ارشاد د نفل کونکي په اړه	٦٧
۵۵	د نبي کريم ﷺ ټوله شپه لمونځ کول	٦٨
۵٦	د رسول الله ﷺ په څلور رکعتوکي شپږ سيپارې ويل	٦٩
۵۷	د حضرت ابوبکر صديق، حضرت ابن زبير، حضرت علي او نوروا صحابو رضي الله عنهم د لمونځونو حالات	٧٠
۵۸	د مهاجر او انصاري چوکيداري او په لمانځه کښي پر انصاري غشي لګېدل	٧٢
۵۹	د حضرت ابو طلحه ﷺ په لمانځه کښي د فکر راتلو په وجه باغ وقف کول	٧٣
٦٠	د حضرت ابن عباس ﷺ د لمانځه په وجه د سترګي علاج نه کول	٧۴
٦١	د صحابه رضي الله عنهم د لمانځه په وخت کښي دستي د کانونه بندول	٧۵
٦٢	د حضرت خبيب ﷺ د قتل په وخت کي لمونځ کول او د زيد او عاصم رضي الله عنهما قتل	٧٦
٦٣	د نبي ﷺ سره د جنت د ملګرتيا لپاره د لمانځه مرسته	٧٩
٦۴	**شپږم باب**	٨٠
٦۵	ايثار، همدردي او د الله ﷻ په لاره کښي مال خرڅول	٨٠
٦٦	د صحابي د ميلمه له خاطره ډيوه مړه کول	٨٠
٦٧	د روژاتي لپاره څراغ مړ کول	٨١
٦٨	د يو صحابي په زکوة کښي اوښ ور کول	٨٢
٦٩	د حضرت ابوبکر ﷺ اوحضرت عمر ﷺ په صدقه کښي مقابله	٨٣

فهرست

شمیره	سرلیکونه	صفحه
۷۰	د اصحابو کرامودنورو په وجه د تندي څخه مړه کېدل	۸۳
۷۱	د حضرت حمزة ﷺ کفن	۸۴
۷۲	د سیرلي سره ګر ځیدل او بیا بیرته راتلل	۸۶
۷۳	حضرت عمر ﷺ ددایي توب لپاره د خپلي بي بي بېول	۸۶
۷۴	دحضرت ابو طلحة ﷺ باغ وقف کول	۸۸
۷۵	د حضرت ابوذر غفاري ﷺ و خپل خادم ته خبر ورکول	۸۹
۷۶	د حضرت جعفر ﷺ قصه	۹۱
۷۷	**اوم باب**	۹۳
۷۸	بهادري ، زړه ورتوب او دمرګ ارزو	۹۳
۷۹	دحضرت ابن حبحش او حضرت سعد رضي الله عنهما دعا	۹۳
۸۰	داحد په غزا کي د حضرت علي ﷺ بهادري	۹۴
۸۱	حضرت حنظلة ﷺ شهادت	۹۵
۸۲	د حضرت عمرو بن جموح ﷺ دشهادت ارزو	۹۶
۸۳	د حضرت مصعب بن عمیر ﷺ شهادت	۹۷
۸۴	د قادسیې په جنګ کي د حضرت سعد ﷺ خط	۹۸
۸۵	د حضرت وهب بن قابوس شهادت د احد په غزاء کي	۱۰۰
۸۶	د بیر معونه جنګ	۱۰۱
۸۷	د حضرت عمیر ﷺ وینا چي خر ما خوړل اوږد ژوند دی	۱۰۳
۸۸	دحضرت عمر ﷺ هجرت	۱۰۳
۸۹	د موته د غزا قصه	۱۰۴
۹۰	د سعید بن جبیر رحمة الله علیه او حجاج بن یوسف خبري اتري	۱۰۶
۹۱	**اتم باب**	۱۱۱
۹۲	د علم شوق او په علم کښي بوختیا	۱۱۱
۹۳	د فتوا ورکونکي ډلي سرلیک	۱۱۳
۹۴	د حضرت ابو بکر ﷺ د حدیثو د مجموعې سوځل	۱۱۳
۹۵	د حضرت مصعب ﷺ تبلیغ او د نبي ﷺ تعلیم ښودل	۱۱۴

فهرست

شمېره	سرليکونه	صفحه
۹۶	د حضرت ابي بن کعب ﷺ تعليم	۱۱۵
۹۷	د حضرت خذيفة د فتنو اهتمام	۱۱۷
۹۸	دحضرت ابوهريرة ﷺ دحديثونو يادول	۱۱۸
۹۹	دمسيلمة کذاب وژل او دقرآن جمعه کول	۱۲۰
۱۰۰	دحضرت ابن مسعود ﷺ دحديث په روايت کې احتياط	۱۲۱
۱۰۱	وحضرت ابودرداء ﷺ ته ديوه حديث لپاره دمدينې څخه ودمشق ته ورتلل	۱۲۲
۱۰۲	د حضرت ابن عباس ﷺ و يو انصاري ته ورتلل	۱۲۴
۱۰۳	متفرقې علمي کارنامې	۱۲۶
۱۰۴	**نهم باب**	۱۳۳
۱۰۵	دنبي ﷺ فرمانبرداري ، حکم منل او دا کتل چې د نبي ﷺ منشاء مبارکه څه ده؟	۱۳۳
۱۰۶	دحضرت عبدالله بن عمرو بن العاص ﷺ پټو سوځل	۱۳۳
۱۰۷	د يو انصاري خپله ودانې نړول	۱۳۴
۱۰۸	د اصحابانو سَرَه پټوان راکښته کول	۱۳۵
۱۰۹	دحضرت وائل ﷺ د ذباب په لفظ سره وېښته پرېکول	۱۳۶
۱۱۰	د حضرت سهيل بن حنظلية ﷺ عادت اود خريم ﷺ وېښته پرېکول	۱۳۷
۱۱۱	د حضرت ابن عمر ﷺ د خپل زوی سره خبرې نه کول	۱۳۷
۱۱۲	دحضرت ابن عمر ﷺ څخه پوښتنه چې دلمانځه قصرپه قرآن کې نسته	۱۳۹
۱۱۳	دحضرت ابن مغفل ﷺ د خذف په وجه خبرې پرېښودل	۱۳۹
۱۱۴	د حضرت حکيم بن حزام ﷺ د سوال نه کولو ژمنه	۱۴۰
۱۱۵	د حضرت خذيفة ﷺ د جاسوسۍ (مخبرۍ) لپاره تلل	۱۴۱
۱۱۶	**لسم باب**	۱۴۳
۱۱۷	دښځو ديني جذبه	۱۴۳
۱۱۸	د بي بي فاطمي ﷺ تسبيحات	۱۴۳

فهرست

شمېره	سرليکونه	صفحه
۱۱۹	د حضرت عائشې رضي الله عنها صدقه	۱۴۴
۱۲۰	د حضرت ابن زبير رضي الله عنه د عائشې رضي الله عنها منعه کول دصدقې څخه او ددې خوابدتيا	۱۴۶
۱۲۱	د حضرت عائشې رضي الله عنها دالله جل جلاله څخه د وېرې حالت	۱۴۷
۱۲۲	د حضرت ام سلمة رضي الله عنها د خاوند دعا او هجرت	۱۴۷
۱۲۳	دحضرت ام زياد رضي الله عنها د يو څو ښځو سره دخيبر په جنګ کې ګډون	۱۴۹
۱۲۴	د ام الحرام رضي الله عنها د البحر په غزا کې دشرکت خواهش	۱۵۰
۱۲۵	د حضرت ام سليم رضي الله عنها دزوی د مرګ سره ، دخپل مېړه سره يو ځای والی	۱۵۱
۱۲۶	د حضرت ام حبيبې رضي الله عنها خپل پلار پر بستره نه کښېنول	۱۵۲
۱۲۷	د حضرت زينب رضي الله عنها د افک په معامله کې پاکوالی او صدقه	۱۵۳
۱۲۸	د حضرت خنسآء رضي الله عنها د خپلو څلورو زامنو سره په جنګ کې ګډون	۱۵۶
۱۲۹	- د حضرت صفيې رضي الله عنها په يوائې سره د يهودي وژل	۱۵۷
۱۳۰	د حضرت اسمآء رضي الله عنها د ښځو د ثواب په هکله پوښتنه	۱۵۸
۱۳۱	د حضرت ام عمار رضي الله عنها اسلام او په جنګ کې ګډون	۱۵۹
۱۳۲	د حضرت ام حکيم رضي الله عنها اسلام او په جنګ کې ګډون	۱۶۱
۱۳۳	د حضرت سمية ام عمار رضي الله عنها شـــهادت	۱۶۲
۱۳۴	د حضرت اسماء بنت ابوبکر رضي الله عنها ژوند او تنګ لاسی	۱۶۳
۱۳۵	د حضرت ابوبکر رضي الله عنه دهجرت په وخت کې داسمآء رضي الله عنها خپل نيکه ته تسلي ورکول	۱۶۴
۱۳۶	د حضرت اسمآء رضي الله عنها سخاوت	۱۶۵
۱۳۷	د نبي ﷺ د لور حضرت زينب رضي الله عنها هجرت او وفات	۱۶۶
۱۳۸	د حضرت ربيع بنت معوذ رضي الله عنها ديني غيرت	۱۶۷
۱۳۹	دنبي اکرم ﷺ بيبياني او اولادونه	۱۶۸
۱۴۰	د حضرت خديجې رضي الله عنها حالات	۱۶۹

فهرست

شمیره	سرلیکونه	صفحه
۱۴۱	دحضرت سودې رضي الله عنها حالات	۱۷۰
۱۴۲	د حضرت عائشې رضي الله عنها حالات	۱۷۰
۱۴۳	د حضرت حفصې رضي الله عنها حالات	۱۷۲
۱۴۴	د حضرت زینب بنت خزیمة رضي الله عنها حالات	۱۷۳
۱۴۵	د حضرت ام سلمې رضي الله عنها حالات	۱۷۴
۱۴۶	د حضرت زینب بنت جحش رضي الله عنها حالات	۱۷۵
۱۴۷	د حضرت جویریة بنت الحارث رضي الله عنها حالات	۱۷۶
۱۴۸	د حضرت اُم حبیبې رضي الله عنها حالات	۱۷۸
۱۴۹	د حضرت صفیې رضي الله عنها حالات	۱۷۹
۱۵۰	د حضرت میمونې رضي الله عنها حالات	۱۸۰
۱۵۱	**معلومات** دنبي ﷺ اولاد	۱۸۱
۱۵۲	دحضرت قاسم علیه السلام حالات	۱۸۱
۱۵۳	د حضرت عبدالله علیه السلام حالات	۱۸۲
۱۵۴	د حضرت ابراهیم علیه السلام حالات	۱۸۲
۱۵۵	د حضرت زینبې رضي الله عنها حالات	۱۸۲
۱۵۶	د حضرت رقیې رضي الله عنها حالات	۱۸۳
۱۵۷	دحضرت ام کلثوم رضي الله عنها حالات	۱۸۴
۱۵۸	دحضرت فاطمې رضي الله عنها حالات	۱۸۵
۱۵۹	**یوولسم باب**	۱۸۷
۱۶۰	دکوچنیانو دیني جذبه	۱۸۷
۱۶۱	د کوچنیانو روژه نیول	۱۸۸
۱۶۲	د حضرت عائشې رضي الله عنها حدیثونه او دآیت نازلیدل	۱۸۹
۱۶۳	د حضرت عمیر رضي الله عنه په جهاد کښې د ګډون شوق	۱۸۹
۱۶۴	د حضرت عمیر رضي الله عنه د بدر په غزا کې په پټه د شرکت کوشش	۱۹۰
۱۶۵	د وه انصاري هلکان او دابوجهل قتل	۱۹۱

فهرست

شمیره	سرلیکونه	صفحه
۱۶۶	د حضرت رافع او حضرت ابن جندب ﷺ مقابله	۱۹۲
۱۶۷	دحضرت زید ﷺ د قرآن په وجه وړاندې والی	۱۹۳
۱۶۸	د حضرت ابو سعید خدري ﷺ په کوچنیوالي کښې د پلار وفات	۱۹۴
۱۶۹	د حضرت سلمة بن اکوع ﷺ په غابه کې ځغاسته	۱۹۵
۱۷۰	د بدر مقابله اود حضرت براء ﷺ شوق	۱۹۷
۱۷۱	د حضرت عبدالله بن عبد الله بن ابي ﷺ دخپل پلار سره معامله	۱۹۸
۱۷۲	د حضرت جابر ﷺ په حمراء الاسد کښې ګډون	۱۹۹
۱۷۳	د حضرت ابن زبیر ﷺ دروم په جنګ کښې بهادري	۲۰۰
۱۷۴	د حضرت عمرو بن سلمه ﷺ د کفر په حالت کښې د قرانکریم یادول	۲۰۱
۱۷۵	د حضرت ابن عباس ﷺ دخپل غلام په پښو کښې بیړۍ اچول	۲۰۲
۱۷۶	د حضرت ابن عباس ﷺ په کوچنیوالي کښې قران شریف یادول	۲۰۳
۱۷۷	د حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ په کوچني والي کې د احادیث یادول	۲۰۴
۱۷۸	د حضرت زید بن ثابت ﷺ قران شریف یادول	۲۰۵
۱۷۹	د حضرت حسن ﷺ په کوچني والي کښې علمي بوختیا	۲۰۶
۱۸۰	دحضرت حسین ﷺ په کوچني والي کې علمي بوختیا	۲۰۷
۱۸۱	**دولسم باب**	۲۰۹
۱۸۲	دنبي ﷺ سره د محبت قصې	۲۰۹
۱۸۳	د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ د اسلام اعلان او تکلیف	۲۱۰
۱۸۴	د حضرت عمر ﷺ دنبي ﷺ پر وفات باندې غم	۲۱۲
۱۸۵	د یوې ښځې دنبي ﷺ دخپر په وجه بې ارامه کېدل	۲۱۳
۱۸۶	په حدیبیه کې د ابو بکر صدیق ﷺ او مغیرة ﷺ کار او د عامو اصحابو طریقه	۲۱۴
۱۸۷	د حضرت ابن زبیر ﷺ وینه چیښل	۲۱۷
۱۸۸	د حضرت مالک بن سنان ﷺ وینه چیښل	۲۱۸

فهرســـت

شمیره	سرلیکونه	صفحه
۱۸۹	د حضرت زید بن حارثة رضي الله عنه و خپل پلار ته انکار	۲۱۸
۱۹۰	داحد په جنګ کې د حضرت انس بن نضر رضي الله عنه عمل	۲۲۰
۱۹۱	په احد کښې د سعد بن ربیع رضي الله عنه پیغام	۲۲۱
۱۹۲	د نبي ﷺ په قبر لیدو سره د یوې ښځې مرګ	۲۲۱
۱۹۳	د اصحابانو دمحبت متفرقي قصي	۲۲۲
۱۹۴	خبر داري	۲۲۶
۱۹۵	د اصحابو کرامو رضي الله عنهم سره معامله او ددوی لنډ فضلیتونه	۲۲۷

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

خطبه اوتمهيد

نحمده ونصلي ونسلم علي رسوله الكريم واله وصحبه واتباعه الحماة للدين القويم .

امابعد : دالله جل جلاله ديوه سپېڅلي بنده حضرت مولاناعبدالقادررائپوري رحمة الله عليه امر ماته په سنة ١٣٥٣ هـ ق كي وسو چي زما سره احسان كونكى اوزما تربيت كونكى دئ (امر يې داصحابانو په اړه وو) چي زه داصحابانو په اړه څو قصې وليكم په ځانګړي ډول دلږ عمر لرونكو اصحابانو . اود ښځو ددينداري څه حالات په اردو (دژباړي وروسته په پښتو) ژبه وليكم ځكه كوم كسان چي دقصو شوقيان دي هغه ددې پرځاى چي ديوې اوبلي خوا ددرواغو قصې اوري كه داقصې واوري نو ددوى ددين دترقۍ سبب به جوړسي .

ښځي چي دشپې كوچنيانو ته ددرواغو قصې كوي كه دغه قصې وكړي دماشومانو زړونه به داصحابانو دميني ډك سي ددوى درنښت اوعظمت به يې په زړو كي راسي ديني كارونو ته به يې مينه پيداسي .

زما لپاره دغه امر منل يولازمي كار ووځكه زه دده په احسانو كي ډوب وم بل داچي دالله جل جلاله ددوستانو رضا دداړو جهانو دكاميابۍ سبب كيږي خو دخپلي كم علمۍ په وجه مي زړه نه سواى كولاى چي دده مبارك دخوښۍ سره برابر دي دغه كار وكړم. څلور كاله دغه امر ماته تكرارېدى زه دخپلي نه وړتيا څخه شرمېدم دوخت په تېرېدوسره په سنه ١٣٥٧ هـ ق كي دصفري په مياشت دماغي ناروغي راپېښه سوه دكار څخه منعه سوم فكر مي وكړى چي دغه خالي ورځي كه پدې بركتناكه كار ولګوم ښه به وي ځكه كه زما دغه پاڼي ونه منل سوي نو بوختيا خو به مي په يوه بركتناكه كار كي وي .

پدې كي شك نسته چي دالله جل جلاله ددوستانو قصې اوددوى حالات ددې وړ دي چي سړى تحقيق اوڅېړنه پكښي وكړي اوسبق څني حاصل كړي په ځانګړي توګه د اصحابانو رضي الله عنهم حالات چي الله جل جلاله دخپل خوږ رسول صلى الله عليه وسلم دملګرتيا لپاره خاص كړي دي .دوى مباركان ددې حقداره دي چي تابعداري يې وسي . ددوى پرته دالله جل جلاله ددوستانو په بيان سره دالله جل جلاله رحمتونه نازليږي .

حضرت جنید بغدادي رحمه الله فرمايي : قصې د الله ﷻ دلښکرو څخه يو لښکر دئ چي مریدانو ته ، دزړونو طاقت په حاصليږي يوچا پوښتنه څني وکړه چي ددې لپاره يو دليل سته؟ ده مبارک په جواب کي ورته وفرمايل : الله ﷻ فرمايي :

وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِۦ فُؤَادَكَ ۚ وَجَآءَكَ فِى هَٰذِهِ ٱلْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ وَذِكْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٢٠﴾(١)

ژباړه : دپیغمبرانو دقصو څخه موږ داټولي قصې تاته بيانوو چي په سبب يې موږ ستا زړه ته طاقت ورکړو (يوه فايده خو دا سوه) اوپدې قصو کي تاته داسي مضمون رسيږي چي خپله درست اوواقعي وي اودمسلمانانو لپاره نصيحت (اودښو کارکولو) يادول وي.(٢)

يوه بله خبره هم په زړه کي دکښينولو وړ ده هغه داده چي ديني کتابونه دنبي ﷺ دحديثو وي ، دبزرګانو دحالاتو دبيان وي ،دمسائلو کتابونه وي اوکه دمخورو خلګو دارشاداتو اولارښوونو کتابونه وي پکار نه ده چي يوار وکتل سي اوبيا دتل لپاره پردغه يوار کتلو باندي بسنه وسي بلکي پکارده چي دغه کتابونه دخپل طاقت مطابق په تکرار سره وکتل سي.

ابوسليمان داراني رحمه الله فرمايي : زه ديوه واعظ په وعظ کي کښيناستم دده وعظ زما په زړه کي اثر وکړی کله چي راولاړ سوم هغه اثر ختم سو دوهم ځل ورغلم ورته کښيناستم کله چي راولاړ سوم بيا اثر ولاړی دريم ځل ورغلم بيا ورته کښيناستم ددغه دريم ځل ناستي اثر تر کوره پوري و ،کورته چي ورغلم دالله ﷻ دنافرمانۍ اسباب مي ټوله مات کړل دالله ﷻ لاره مي اختيار کړه .

دديني کتابونو حال هم داسي دئ په يوار چابک کتلو سره يې اثر کم وي په همدې وجه دديني کتابونو لوستل په بيا بيا په کار دي .

دلوستونکو داسانۍ اودمضامينو په زړه کي کښينولو په خاطر مي دغه رساله پر دوولسو بابونو اويوه خاتمه باندي ويشلې ده :

لومړی باب : ددين له امله سختۍ تېرول اوتکليفونه زغمل .

دوهم باب : دالله ﷻ څخه خوف اوويره چي داصحابو کرامو رضي الله عنهم خاص عادت و.

دريم باب : داصحابو کرامو دزاهدانه اوفقيرانه ژوند نمونه.

---

(١) سورة هود الاية (١٢٠)

(٢) بيان القران

ځلورم باب : داصحابو دتقوا اوپرهيزګارۍ حالت.
پنځم باب:دلمانځه شوق اوپابندي.
شپږم باب:صدقه،ترخپل ځان دنورو اړتياوي مخکي پوره کول ، دالله ﷻ په لاره کي مصرف کول
اوم باب : بهادري ، همت ، زړورتوب ،شجاعت اودمرګ شوق .
اتم باب : علمي بوختيا اودعلمي محنت نمونې.
نهم باب:دنبي ﷺ دلارښوونو عملي کول.
لسم باب:دښځو جذبه اوبهادري اودرسول الله ﷺ داولادونو بيان.
يوولسم باب:دماشومانو ديني شوق اوپه کوچنيوالي کي ددين پابندي.
دوولسم باب :دنبي ﷺ سره دمحبت نمونې.
خاتمة : داصحابو کرامو رضي الله عنهم حقونه اوددوی لنډ فضيلتونه .

لومړی باب

ددين له امله سختۍ تيرول ، تکليفونه او ستونزي ګالل

نبي کريم ﷺ او اصحابو کرامو رضي الله عنهم ددين دجوړولو لپاره دومره زيات تکليفونه پرځانونو باندي تېر کړي دي ،چي موږ نااهلو ته يې اراده کول هم ګران کاردئ د نوموړو مبارکو انسانانو په پېښو او سختيو ژوند ليک باندي کتابونه ډک دي موږ دومره دکمزورۍ پرخوا روان يو چي د دوی په احوالو هم ځان نه خبرو، عمل ورباندي کول خو بېله خبره ده ، نو له همدې امله پدې کتاب کښې د نوموړو مبارکو انسانانو څو قصې د نمونې په ډول بيانوم چي ترټولو مخکي د نبي کريم ﷺ د يوې قصې څخه پيل کوم ځکه د نبي کريم ﷺ يادول دبرکت ذريعه ده .

(١) د نبي کريم ﷺ دطايف دسفر قصه

کله چي څښتن تعالی ﷻ نبي کريم ﷺ پيغمبر کړ ، نهه کاله رسول الله ﷺ په مکه مکرمه کي تبليغ کاوه او د خپل قوم د اصلاح او ګټې کوشش به يې کاوه مګر په مکه مکرمه کي د يوې کوچنۍ ډلي پرته چي مسلمانان سوي وه او د يوې کوچني ډلي پرته چي کافران وه مګر

د رسول اللهﷺ مرسته به یې کول نور تول له د مکې او سیدونکو د رسول اللهﷺ او مسلمانانو د ځورولو لارې لټولې، تکلیفونه به یې ور رسول پسخند به یې په واهه آن تر دې چې څه به یې په توان وه په هغه اندازه به یې تکلیف ور رساوه، د نبوت په لسم کال چې کله د نبي کریمﷺ اکا ابو طالب وفات سو د نو موړي مړیني د مکې کفارو ته د مسلمانانو د ځورولو نوره لاره خلاصه کړه په دغه وخت کې دوي په ښه ازاده پښه کولای سوای چې خلګ له اسلام او مسلمانېدو څخه منعه کړي، رسول اللهﷺ او اصحابو کرامو رضی الله عنهم ته تر خپله وسه تکلیفونه ورورسوي، نبي کریمﷺ په دې موخه طائف ته تشریف یو وړی چې دهغه ځای اوسیدونکي (ثقیف) نومي قوم چې یو لوی قوم وو مسلمانان سي نو مسلمانان به ددې تکلیفونو څخه خلاص سي او د اسلام د مبارک دین د خپرولو لپاره به یو بنسټ کښېښودل سي کله چې رسول اللهﷺ طائف ته ورسېدی نو دهغه قوم د مشرانو سره یې خبري پیل کړې چې د دغه قوم نوموتي او مخور مشران ګڼل کېده او د اللهﷻ د پاک دین و لوري ته یې را وبلل او د اللهﷻ د دین و مرستي ته یې متوجه کړه نوموړو کسانو ددې پر ځای چې د اللهﷻ او دهغه د رسولﷺ د دین مرسته وکړي یا لږ تر لږه د عربو مشهوره میلمه پالنه وکړي و رسول اللهﷺ ته یې په بې مخي سره مخامخ جواب ورکړی او د بد اخلاقۍ رویه یې غوره کړه پر دې بد اخلاقۍ باندې یې بسنه ونه کړه بلکې دا یې هم زړه نه قبلول چې رسول اللهﷺ دلته پاته سي. دوی درې واړه چې رسول اللهﷺ مشران بلل او دا یې هیله وه چې دوی به په شرافت سره خبري وکړي د دوي څخه ددې هیلي په خلاف یوه وویل: او هو! بس یوازې ته وې چې اللهﷻ پیغمبر کړې بل ځوک نه وو، دوهم وویل: ستا پر ته بل څوک نه و چې اللهﷻ رسول را لېږلي وای، دریم وویل: زه ستا سره خبري کول نه غواړم ځکه که ته رشتیا د اللهﷻ له لوري څخه پیغمبر یې نو ستا د خبرو څخه مخ اړول خو لوی تاوان دئ (نو ښه دئ چې خبري نه در سره وکړم) او که دروغ وایې نو د دروغجن سره هم خبري نه کوم، کله چې رسول اللهﷺ د دوی څخه نا امیده سو نو ددغه قوم د نورو خلګو سره یې خبري پیل کړې ځکه رسول اللهﷺ د همت او خپلواکۍ غرو، نور خلګ هم د مشرانو پر پله روان سوه د رسول اللهﷺ دعوت یې نه و مانه بلکي رسول اللهﷺ ته یې وویل ژر زموږ د ښار څخه ووزه هر ځای چې ستا د خوښي ځای وي هلته ولاړ سه کله چې رسولﷺ په نا امیدۍ سره دهغه قوم څخه را روان سو د هغه قوم ناوړه خلګو په رسول اللهﷺ پسې د کلي هلکان پسې کړه رسول اللهﷺ یې په کاڼو ویشتی، پسخند به یې په واهه او چک چکي به یې پسې کولې تر داسې بریده چې د رسول اللهﷺ دواړي څپلکي په وینو سرې

سوي رسول الله ﷺ د دوی څخه بېرته راغلی کله چې ددغه شرا چونکو څخه بې غمه سو نو په لاره کې یو ځای کښېناستی او دا دعا یې ووېل :

اللهم اليک اشکو ضـعف قوتي وقلة حيلتي و هوني علي الناس يـا ارحـم الـراحمين انـت رب المستضعفين وانـت ربي الي مـن تکلني الي بعيد يتجهمي ام الي عدو ملکته، آمري ان لم يکـن بـک علي غضب فلا ابالي و لکن عافيتک اوسع لي اعوذ بنور وجهک الـذي اشرقت له الظلمات وصلح عليـه امر الدنيا والاخرة من ان تـنزل بي غضبک اويحل علي سخطک لـک العتبي حتي ترضي و لاحول ولا قوة الا بک[1]

ژباړه : اې خدایه ! تا ته د خپلي کمزوری، ناتوانی او په خلګو کې د رسوایی شکایت کوم ، اې ارحم الراحمین ذاته ! د ناتوانانو رب یې ته زما پالونکی یې ما څ ته پرېږدي؟ پردی ځوک چې مې ووینې تندی را باندي تریو کړي یا مې دښمن ته (پرېږدي) چې هغه ته تا پر ما باندي برلاسی ورکړي وي ، اې خدایه ! که ته زما څخه ناراضه نه یې زما د هیڅ پروا نسته ستا ساتنه ما لره بس ده زه ستا د مخ (بلاکیفه) په رڼا پنا غواړم هغه رڼا چې تیارې یې ځلولي دي او د دنیا او آخرت کارونه پرې سم سوي دي زه له دې څخه پنا غواړم چې ته راته په غضب یې او یا را څخه نا راضه یې ستا نا راضي ترهغه وخته پوري لیري کول لازمي د ه تر څو راضي کیږي (اې خدایه !) ستا پرته نه بل قوت سته او نه بل طاقت سته .

څښتن تعالي ﷻ چې یو صفت یې قهر دئ د خپل نازولي په ځورېدو یقیناً په قهرېږي نو دستي یې جبرائیل ؑ راواستاوه او رسول الله ﷺ ته یې سلام ووایه بیا یې ووېل چې ، الله ﷻ ستا ټولي خبري واورېدې او د قوم جوابونه یې هم واورېده یوه ملائکه چې الله ﷻ د غرونو واک او اختیار ورکړی ، الله ﷻ ستا د خدمت لپاره راواستول دستي هغه ملائکه را غلل سلام یې ووایه دسلام وروسته یې رسول الله ﷺ ته ووېل : یا رسول الله ! امر وکړه که ته امر وکړې زه به پر دې قوم باندي غرونه را پورته کړم ټوله به چخټاڼ (زره ،زره) کړم رسول الله ﷺ چې ډېر زړه سوانده ، رحم لرونکی پیغمبرو ملائکي ته یې په جواب کي ووېل : زه د دوی هلاکېدل نه غواړم بلکي زه دوی ته دهدایت دعا کوم که دوی مسلمانان نسي امید لرم چې د دوی په اولادو کي به مسلمانان پیدا سي چې دا الله ﷻ عبادت او بندګي به کوي.

فایده : د رسول الله ﷺ په غوره اخلاقو او صبر کي فکر وکړئ څومره صبر یې درلودئ ،څومره مهربانه و هغو بد ورسره کول ده ښه ورسره کول یعني ددوزخ څخه د خلاصېدو او

---

[1] کذا في سيرة ابن هشام قلت واختلفت الروايات في الفاظ الدعا کما في قرة العيون

دجنت دپیدا کېدو دعا یې ورته کول ، اوس زموږ حال ته وګورئ موږ په داسې حالت کې قرار لرو چې یو څوک کوچنې ښکنځل راته وکړي نو موږ بله لمبه سو او دهغه څخه داسې بدله اخلو (چې دهغه ښکنځلو څو برابره وي آن تردې) چې ټول عمر مو بدله نه خلاصېږي اونه مو زړه په سړېږي ، پر ظلم سربېره ظلم کوو او بیا درسول الله ﷺ د تابعدارۍ او محمدي کېدو دعوه هم کوو تاسو ولیدل چې د رسول الله ﷺ سره بد وسوه بیا هم ده ښه ورسره کول یعنې د جنت د پیدا کېدو او د دوزخ څخه د خلاصون دعاېې ورته کول.

(۲) د حضرت انس بن نضر رضي الله عنه د شهادت قصه

حضرت انس بن نضر رضي الله عنه یو صحابي و چې د بدر په غزا کې یې ګډون نه و کړی نو موږ ېې پدې وجه چې د اسلام په لومړنۍ لویه غزا کې یې ګډون نه و کړی پر ځان به یې ملامتیا ویل ډېر خوابدی او په زړه به غمجن و په هر صورت په دې هیله که داسلام بله غزا پېښه سوه حتمًا به ګډون په کښې کوي ، د تقدیر پرېکړه وه چې د احد غزا پېښه سوه حضرت انس بن نضر رضي الله عنه په ډېره مینه او زړورتوب په دې غزا کې ګډون وکړی د غزا په لومړی سر کې مسلمانانو فتحه (برلاسي) ترلاسه کړ خو د یوې تېروتنې له امله مسلمانانو ماته وخوړه ، تېروتنه له دې څخه عبارت وه ، چې رسول الله ﷺ ځینو اصحابو کرامو رضي الله عنهم ته دنده ورکړې وه چې د غره پر یوه کوتل به کښیني ، مسلمانان که فتحه ترلاسه کړي او که ماته وخوري باید دوی ولاړ نسي خو له بده مرغه دوی هغه وخت ولاړ سوه چې په لومړیو کې مسلمانانو بریالیتوب تر ګوتو کړ ، کله چې دوی ولاړېده په دوی کې چې څوک آمر و هغه منع کړه چې مه ولاړېږئ خو دوی دا ویل چې کافرانو ماته وخوړه د تیښتې په حالت کې دي باید ورپسې ورسو او دغنیمت مالونه ورڅخه را ټول کړو او دا فکر یې کاوه چې د رسول الله ﷺ امر چې موږ ته یې دنه ولاړېدو کړی و یوازې د بریالیتوب تر وخته پوري و آخر دا چې مسلمانان له دې ځای څخه ولاړ سوه دجګړې ډګر ته ورسېدل ، تښتېدونکو کافرانو چې دغه ځای خالي ولیدئ نو دوخته څخه یې ګټه واخستل او ددغه لوري څخه یې پر مسلمانانو باندې حمله وکړه مسلمانان د نا خبرۍ په حالت کې وه چې د سختو بریدونو سره مخ سوه د دوو طرفونو څخه د کافرانو په منځ کې راغلل په پایله کې د ماتې سره مخ سوه مسلمانان په وارخطايۍ سره پر هر لوري تښتېدل ، حضرت انس رضي الله عنه ولیدل چې یو صحابي حضرت سعد بن معاذ رضي الله عنه را روان دئ .ده مبارک ورته وویل : اې سعده ! چیرې ځې ؟ په الله جل جلاله قسم کوم چې د احد

دغره څخه د جنت بوی راځي ددې خبرې دکولو وروسته یې توره پورته کړه په مېړانه د کافرانو په یوه ډله ورننوتی سخته جګړه یې پیل کړه ترهغه وخته پورې نه راووتی تر څو شهید سو د شهادت څخه وروسته چې وکتل سوه ټوله بدن یې غلبیل سوی و تر اتیاوو زیات زخمونه یې په بدن کې د تورو او غشو وه آن تر دې چې نه پېژندل کېدئ آخر د ګوتو پر بندو وپېژندل سو .

فایده : څوک چې په ریښتني او مخلصانه ډول د الله ﷻ د خوښۍ غوښتنې په موخه زخمي سي یقیناً به په دنیا کي د جنت بوی ورته راځي حضرت انس رضي الله عنه چې په اخلاص د څښتن تعالی ﷻ د رضا غوښتونکی و په دنیا کي یې د جنت بوی بویاوه که په چا کي اخلاص موجود سي په دنیا کي به د جنت خوندونه ورته راسي ، ما د یوه معتبر سړي څخه چې د حضرت مولانا شاه عبدالرحیم رائپوري مخلص خادم و - دده مبارک یوه خبره اورېدلې ده چې ده مبارک ویل : (د جنت خوندونه راځي) د (روژې په فضائلو) کي مي دا قصه لیکلې ده .

۳ : د حدیبې صلح (دروغي جوړي تړون) د ابو جندل او د ابو بصیر رضي الله عنهما قصه

رسول الله ﷺ د هجرت په شپږم کال د عمرې کولو اراده وکړه د مکې مکرمې پر لوري روان سو د مکي کافران چې خبر سوه نو د رسول الله ﷺ راتګ یې ځان ته شرم او ذلت ګاڼه ځکه دوی د کبر او غرور په نشو مست وه نو له همدې امله یې د مقابلې لاره خپله کړه رسول الله ﷺ چې حدیبه نومي ځای ته ورسیدئ په همدغه ځای کي بند سو د رسول الله ﷺ سره سرتیري اصحاب رضي الله عنهم ملګري وه چې پر رسول الله ﷺ باندي یې ځان قربانونه خپل افتخار باله ، دستي جنګ کولو ته تیار سوه خو رسول الله ﷺ د مکې د مسلمانو او سېډونکو له امله (چې هغوی ته د دوی له وجي تکلیف پېښ نسي) - د جنګ اراده نه کول بلکي د روغي جوړي کوشش یې کاوه سره ددې چې اصحاب رضي الله عنهم په پوره مېړانه وجنګ ته تیاروه مګر رسول الله ﷺ د کافرانو دومرې لحاظ وکړی ، چې د هغوی ټول شرطونه یې ومنل که څه هم اصحابو رضي الله عنهم ته داسې تر زور لاندې روغه جوړه د منلو وړ نه وه مګر دوی د رسول الله ﷺ تابع وه او ځانونه یې ترې قربانول نو دوی بیا د دومرې مینې سره څه کولای سوای ؟ (چې د رسول الله ﷺ روغه یې نه وای منلې خامخا یې منل) آن تر دې چې د حضرت عمر رضي الله عنه په څېر مېړنیو لا ومنل . په روغه جوړه کي یو شرط دا و چې ، که د کافرانو څخه یو څوک مسلمان سي او د مکې څخه و مدینې

منورې ته هجرت وکړي نو مسلمانان به نو موړي کس بېرته و کافرانو ته په لاس ورکوي او
که خدای مه کړه د مسلمانانو څخه یو څوک مرتد (کافر) سي نو کافران به دغه کس
مسلمانانو ته په لاس نه ورکوي د روغي جوړي دغه پرېکړه لیک لا نه و لیکل سوی چي د
ابو جندل رضی الله عنه په نامه یو صحابي راغلی چي د اسلام د راوړلو وروسته کفارو ډېر تکلیفونه
پر تېر کړي وه او په ځنځیرانو یې تړلی و د مسلمانانو د مرستي په هیله پرېواتی چي ګوندي
مسلمانان زما مرسته وکړي او ددې تکلیفونو څخه به خلاص سم خود هغه پلار (سهیل) چي
د کافرانو له خوا وکیل وا و تر دغه وخته پوري لا مسلمان سوی نه و بلکي د مکې د فتحي په
وخت کي مسلمان سو. ابو جندل رضی الله عنه یې په چپلاخه وواهه او پر بېرته بیولو یې ټینګار وکړ،
رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: چي تر اوسه خو لا پرېکړه لیک نه دئ لیکل سوی پر موږ باندي
لازمه نه ده چي مسلمان تاسو ته وسپارو، کافرانو نه منل بیا رسول الله ﷺ ورته وفرمایل:
دغه یو سړی ماته په خواست را پرېږدئ، کافران د پخوا په څېر پر ضد ولاړ وه هیڅ یې نه منل
او ابو جندل رضی الله عنه و مسلمانانو ته د مرستي نارې وهلې فریاد یې کاوه چي اې مسلمانانو! زه
مسلمان سوی یم او دې کافرانو پر ما ډېري خواري تیري کړي دي تاسو مي بېرته په لاس
ورکوی؟ په دغه وخت کي چي د مسلمانانو پر زړونو باندي څو مره زحمت تېرېدئ و الله جل جلاله ته
معلوم دئ ویل او لیکل یې د بیان توان نه لري، وروسته د خوږ نبي ﷺ په امر بېرته په لاس
ورکړل سو. رسول الله ﷺ تسلي ورکړه او ورته وې فرمایل چي الله جل جلاله به ډېر ژر ستا مرسته
وکړي او تا ته به د خلاصون لاره خلاصه کړي.

د روغي جوړي د بشپړېدو څخه وروسته یو بل صحابي رضی الله عنه د ابو بصیر رضی الله عنه په نامه هم
مسلمان سو او مدینې منورې ته راورسېدئ کافرانو دستي دوه کسان پسي را واستول او
رسول الله ﷺ ته یې وویل: چي، و تړون دوفا له مخي دغه کس په لاس راکړئ رسول الله ﷺ
نوموړي صحابي بېرته په لاس ورکړئ ابو بصیر رضی الله عنه نارې کړې چي زه مسلمان سوی یم تاسو
مي بېرته په لاس ورکوئ؟ او بېرته مي د دغه ظالمانو ومنګلو ته سپارئ؟ رسول الله ﷺ ډاډ
ورکړی چي الله جل جلاله به ژر تا ته د خلاصون لاره خلاصه کړي. ابو بصیر رضی الله عنه د هغه دوو کافرانو
سره یو ځای و مکې ته روان سو. پر لاري ابو بصیر رضی الله عنه ویوه کافر ته وویل چي دا ستا توره
ډېره ښه معلومېږي (دا چي صفت خوښونکی سړی ډېر ژر غولېږي) نو دستي هغه کافر خپله
توره و مسلمان ابو بصیر رضی الله عنه ته د تیکي څخه را وایستل ورښکاره یې کړه ابو بصیر رضی الله عنه چي
توره په لاس کي واخستل سمدلاسه یې پر دغه کافر باندي وچلول مړ یې کړی هغه دوهم کافر
چي دا حالت ولیدئ د تیښتي لاره یې خپله کړه وتښتېدئ مدینې منورې ته یې ځان ورساوه

رسول اللهﷺ ته يې وويل : يا رسول اللهﷺ! ابو بصيرؓ زما ملګري وواژه او س زما واری دئ وژني مې په دغه حالت کې ابو بصيرؓ هم راورسېدئ رسول اللهﷺ ته يې وويل : يا رسول اللهﷺ !ستا د دوی سره وعده او تړون وتا هغه پوره کړئ زما او د دوی تر منځ خو هيڅ تړون نسته رسول اللهﷺ ورته وفرمايل : ته جنګ تازه کونکی يې کاشکې ستا يو ملاتړ کونکی وای ابو بصيرؓ پوه سو چې که اوس څوک راسې ما به بېرته په لاس ورکړي نو دستي د دغه ځای څخه ولاړی او د يوه درياب پر څنډه يې ژوند کول پيل کړه د مکې خلګ په دې پېښه خبر سو ه . ابو جندلؓ ته چې حال ورسېدئ تر توان يې ووتل په پټه يې ځان ورورساوه دابو بصيرؓ سره يو ځای سو ، آخر دا چې هر څوک چې به مسلمان کېدئ د دوی سره به يو ځای کېدئ په ډېر لنډ وخت کې د دوی څخه يوه کوچنۍ ډله جوړه سوه (د اللهﷻ د رښتيني دين سره د مينې په موخه په يوه ډېرې سختۍ په يوه ځنګله کې تېرولې ځکه)په دغه ځنګله کې چې دوی اوسېدل د خوراک او چيښاک هيڅ انتظام نه و د اللهﷻ د دين په خاطر چې پر دوی باندې د لوږې او تندې څخه کوم تکليفونه تېرېدل و اللهﷻ ته معلوم دي مګر د کومو ظالمانو د لاسه چې دوی سرګردانه او لالهانده وه او د دوی د لاسه تښتېدلي وه د هغوی لاره يې بنده کړه کومه قافله چې به د کافرانو راتله دوی به جنګ ورسره کاوه ، آخر دا چې د مکې کافران دمسلمانانو ددغه کوچنۍ ډلې څخه تنګ سوه او رسول اللهﷺ ته يې يو سړی وليږی او په ډېر عذر او زاری يې خواست ورته وکړی چې د اللهﷻ په خاطر دغه بې سره (بې ادارې) ډله ځان ته راوبوله او په تړون کې يې داخله کړه تر څو زموږ ته د تلو او راتلو لاره خلاصه سي .

ويل سوی دي : چې کله و ابو بصيرؓ ته د رسول اللهﷺ اجازه ليک ورسېدئ چې ومدينې ته د راتلو اجازه پکښې ليکلې وه ابوبصيرؓ د مرګ په حال کې و په لاس کې يې دغه ليک و نيوی وفات سو . رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَاَرْضَاهُ .(۱)

فايده : کوم څوک چې پر خپل دين ټينګ ودرېږي په دې شرط چې دين يې رېښتني او حق دين وي يعني مسلمان وي نو لوی ، لوی طاقتونه يې هم دخپل دين څخه نه سي اړولای .

---

(۱) (بخاري - وفتح)

۴- د حضرت بلال رضي الله عنه اسلام او تکليفونه

حضرت بلال رضي الله عنه يو نوموتي او مشهور صحابي دئ چي د نبوي ﷺ مسجد لپاره د رسول الله ﷺ په ژوند کي تل مؤذن (اذان کونکی) پاته سوی دئ نوموړي د يوه کافر مريی و کله چي مسلمان سو نو د مسلمان کېدو له امله ډېر تکليفونه ورکړل سوه (اميه بن خلف) چي د مسلمانانو سخت دښمن و بلال رضي الله عنه به يې د غرمې په وخت پر تودو شګو باندي ستوني ستغ پرې ايستلی و بيا به يې پر سينه باندي يو لوی ډبره ورکښېښوده ددې لپاره چي و نه ښوري وروسته به يې ورته وويل : په دې سخت حالت کي مړ سه که خلاصون غواړې نو د اسلام څخه واوړه ، بلال رضي الله عنه په دې سخت حالت کي هم د (اَحَد ، اَحَد) ناري وهلې يعني داچي د عبادت لايق يو الله جل جلاله دئ ، د شپې به يې په ځنځيرانو ټينګ و تړی بيا به يې په کروړو (اغزنو لښتو) واهه د ورځي به يې بيا په دغه زخمي بدن پر تودو شګو و غورزاوه ددې لپاره چي د سخت عذاب له امله به د اسلام څخه واوړي او يا به په دې حالت کي مړ سي آن تر دې چي عذاب ورکونکی به ستړی سو نو ځکه به يې په عذاب ورکولو کي واری سره کاوه کله به د ابو جهل واری و کله به د اميه بن خلف واری و لنډه داچي هر سړي به کوشش کاوه چي نوموړي مبارک صحابي ته په عذاب ورکولو ځان ستړی کړي کله چي ابو بکر صديق رضي الله عنه دی مبارک په داسي سخت حالت کښي وليدئ نو په پيسو يې رانيوی بيا يې آزاد کړي .

فايده : بت پرستو عربو به بتانو ته خدايان ويل ددې ناوړه کار په مقابله کښي اسلام و خلګو ته د توحيد (د خدای په يووالي) ښوونه کول يعني دا چي الله جل جلاله يو دئ بتان خدايان نه دي همدا لامل وو چي بلال رضي الله عنه په ژبه به په تکرار سره وويل : يو دئ ، يو دئ ، دا د بلال رضي الله عنه د ميني او محبت خبره وه چي د خپل يوه خدای جل جلاله سره يې درلوده موږ وينو چي يو څوک د بل چا سره د لنډ وخت لپاره د دروا غو محبت لري هغه هم د خپل محبوب په نوم اخيستلو سره خوند اخلي او بيا ، بيا يې نوم اخلي نو د څښتن تعالی جل جلاله سره چي څوک محبت او مينه لري د دې ميني به څه حال وي چي په دين او دنيا دواړو کي په کار راځي همدا لامل وو چي بلال رضي الله عنه ته ډېر تکليفونه ورکول کېده آن تر دې چي د مکې هلکانو ته به په لاس ورکړل سو تر څو د سپکاوي په موخه يې په کوڅو کي وګرځوي او ده ته يو ډول نه يو ډول تکليف ورسوي خو د بلال رضي الله عنه زړه د الله جل جلاله ميني نيولی و د (يو دی ، يو دی) ذکر يې د خولې څخه نه اچوی د ده مبارک د دومره سختو تکليفونو تېرولو په بدله کي الله جل جلاله د رسول الله ﷺ په دربار کي د

مؤذن دنده ورکړه درسول اللهﷺ سره په سفر او کور دواړو کې د آذان کولو دنده دده د غاړې وه کله چې رسول اللهﷺ وفات سو نو ده د رسول اللهﷺ څخه پرته ژوند کول او د رسول اللهﷺ ځای خالي ليدل نه سوای زغملای نو ددې اراده يې وکړه چې پاته ژوند په جهاد کې تېر کړي په همدې وجه د جهاد کولو په موخه روان سو تر يو وخته پوري مدينې منورې ته نه راغلی يو ځل يې رسول اللهﷺ په خوب وليدئ رسول اللهﷺ ورته وفرمايل: دا څه ظلم دئ ماته خو بيخي نه راځې؟ کله چې بلال رضي الله عنه ويښ سو دستي د مدينې منورې پر لور روان سو مدينې ته چې ورسېدئ حضرت حسن او حسين رضي الله عنهما د اذان کولو امر ورته وکړی ده هم آذان وکړی ځکه ذ نازولو امر خو داسي نه و چې چا څه پکښي ويلي وای خلګو چې دده آذان واورېدئ د رسول اللهﷺ خوږ ژوند ورياد سو د مدينې منورې په خلګو کي شورماشور ګډ سو ښځې هم د کورو څخه په ژړا راووتې (د رسول اللهﷺ د بيلتون اور لمبه، لمبه سو خو د چا لاس ته شی نه ورتلی). حضرت بلال رضي الله عنه د څو ورځو د تېرولو وروسته بېرته ولاړی او په شلم هجري کال کې د مشق ته نژدې وفات سو. (۱)

۵- د حضرت ابوذر غفاري رضي الله عنه اسلام

حضرت ابوذر غفاري رضي الله عنه يو مشهور صحابي دئ چې وروسته دلويو عالمانو او زاهدانو څخه وګرځېدئ.

حضرت علي رضي الله عنه دده په اړه وايي: ابوذر رضي الله عنه دومره علم لاسته راوړی دئ چې خلګ ځني عاجزه دي خو ابوذر رضي الله عنه دغه علم محفوظ ساتلی دئ.

کله چې ابوذر رضي الله عنه ته د لومړي ځل لپاره د رسول اللهﷺ د نبوت خبر ورسېدئ نو ده خپل ورور ته وويل: چې مکې ته ولاړ سه او د رسول اللهﷺ ټول حالات معلوم کړه او خبري يې په ښه غور سره واوره او دې خبري ته هم ځير سه چې رسول اللهﷺ وايي: ماته د آسمان څخه وحي راځي ځان په پوه کړه چې څنګه وحي راځي. دده ورور مکې ته ولاړی د حال معلومولو وروسته بېرته راغلی ابوذر ته يې وويل: ما رسول اللهﷺ وليدئ چې خلګو ته يې په نيکو خويو او نيکو عادتونو امر کاوه او د خولې څخه يې داسي کلام اورېدل کېدئ چې نه شعر و او نه د کاڼنانو (جادوګري) خبري وې د ابوذر غفاري رضي الله عنه د ورور په دې لنډو خبرو داډ ونسو

---

(۱) اسد الغابة

خپله یې دسفر اراده وکړه دستي مکې ته روان سو کله چي مکې ته ورسېدئ برابر مسجد حرام ته ولاړی دا چي ده رسول اللهﷺ نه پېژندئ او دچا څخه پوښتنه کول هم غوره کار نه ورته برېښېدئ نو تر ماښامه پوري په مسجد حرام کي واوسېدئ ځرنګه چي د اصحابو دا عادت وو چي د مسافرانو خدمت ، دناتوانو مرسته او میلمه پالنه به یې کول نو حضرت علي کرم الله وجهه ابوذر غفاريرضی الله عنه کورته بوتی میلمستیا یې ورکړه عليرضی الله عنه د پوښتني اړتیا ونه لیده چي د ابوذررضی الله عنه څخه و پوښتي چي د څه لپاره راغلی یې دوهمه ورځ یې بیا تېره کړه د چا څخه یې پوښتنه ونه کړه چي رسول اللهﷺ څوک دئ دوهم ماښام بیا عليرضی الله عنه بوتی میلمستیا یې ورکړه فکر یې وکړی چي مسافر دئ د یو کار لپاره به راغلی وي ښایي نن به یې کار نه وي پوره سوی نو پاته سوی دئ عليرضی الله عنه په دوهم ماښام بیا پوښتنه ځني ونه کړه اونه دده څخه داسي څه ښکاره سوه چي عليرضی الله عنه پرې وپوهېږي او دده حال معلوم کړي چي دی د څه لپاره راغلی دئ ، دریمه ورځ ابو ذر غفاريرضی الله عنه بیا مسجد حرام ته راغلی د چا څخه یې پوښتنه ونه کړه ښایي وجه به یې دا وه چي د رسول اللهﷺ سره د دښمنۍ قصې ډېري مشهوري وي چا چي به د رسول اللهﷺ له کول هغه به د تکلیف سره مخ کېدئ ده فکر کاوه چي ښایي که زه پوښتنه وکړم هغه به د دښمنۍ فکر وکړي مفت (وړیا) به په تکلیف اخته سم ، دریمه شپه عليرضی الله عنه بوتی پوښتنه یې ځني وکړه چي د څه لپاره راغلي یې ؟او څه مقصد لري ؟ابو ذر غفاريرضی الله عنه لوړه وعليرضی الله عنه ته قسم ورکړی او وعده یې ځني واخیسته چي صحیح حال به راته وایي وروسته یې خپل مقصد ورته وښودئ حضرت عليرضی الله عنه ورته وویل : په اللهﷻ قسم یادوم چي دشک پرته هغه د اللهﷻ رسول دئ سبا چي کله زه ځم هلته به دي بوزم مګر مخالفت بیخي زیات دئ ددې لپاره چي زما او ستا یو ځای تګ معلوم نسي او څوک را څخه ونه ویرېږي نو که پر لاري څوک په مخه راغلي زه به پر ضرورت کښېنم بیا به په جامو سمولو اخته سم ته سیده روان سه لنډه دا چي عليرضی الله عنه او ابوذر غفاريرضی الله عنه دنبي کریمﷺ و حضور ته ورسېدل ، ابو ذررضی الله عنه د رسول اللهﷺ سره خبري وکړي دستي مسلمان سو رسول اللهﷺ په دې موخه چي ابو ذررضی الله عنه ته تکلیف نه ورسیږي ورته وې فرمایل : اوس خپله مسلماني پټه وساته خپل قوم ته ولاړ سه هر کله چي اللهﷻ موږ ته بریالیتوب را نصیب کړی بیا به راسي ابو ذر غفاريرضی الله عنه وفرمایل : اې د الله رسوله ! قسم په هغه ذات چي زما روح یې په قدرت کي دئ زه به دغه د توحید کلمه ددغه بې ایمانو په منځ کي په لوړ آواز وایم دستي یې مسجد الحرام ته تشریف یووړی او هلته یې په لوړ اواز وویل :

(اشهد ان لا اله الا الله و اشهد ان محمدا عبده ورسوله) کله چې ده کلمه خلاصه کړه د څلورو طرفونو څخه خلګ پر راپورته سوه دومره يې وواهه چې مرګ ته نژدې سو د رسول اللهﷺ اکا عباس چې په دغه وخت کې لا مسلمان سوی نه و ـ په دې موخه چې ابوذر خلاص کړي خلګو ته يې وويل : دا سړی د غفار د قبيلې دئ دغفار قبيله وشام ته پر لارې پرته ده او تاسو د شام تجارت کوئ که دا سړی ووژل سي نو و شام ته به ستاسو لاره بنده سي خلګو چې دا خبره واورېده فکر يې وکړ چې زموږ ټولي اړتياوي د شام څخه پوره کېږي که دشام لاره بنده سي دا خو لوی تاوان دی نو لدې امله يې ابوذرﷺ پرېښودئ ابوذر غفاريﷺ دوهمه ورځ بيا مسجد حرام ته راغلی بيا يې دشهادت کلمه په لوړ آواز وويل خلګو ددغه کلمې داورېدلو زغم نه درلودئ دستي پر راوغورځېدل بيا يې وواهه عباس د تيري ورځې په څېر خلاص کړی چې ستاسو دتجارت لاره بنديږي .

فايده : درسول اللهﷺ د منعه کولو په صورت کې چې ابو ذرغفاريﷺ ته يې امر کړی و چې اسلام پټ ساته بيا هم ده مبارک اسلام ښکاره کړی او وهل يې پر ځان تېر کړه دا دده جوش او جذبه وه ځکه حقيقت دا و چې اسلام يو حق دين دئ نو دا ابو ذرغفاريﷺ يقين و چې اسلام حق دين دئ نو د چا ټيکه ده چې له ويري به يې اسلام نه ښکاره کوم ؟ او رسول اللهﷺ چې دی منع کاوه دا درسول اللهﷺ شفقت او مهرباني وه چې موږ ته خو داسلام په خپرولو کې تکليفونه ډېر دي بايد ددې تکليفونو څخه دی خلاص وي کېدلای سي چې دی به يې ونه زغمي اصحابو کرامو ﷺ چې به کله په دغه ډول د رسول اللهﷺ د لارښووني مخالف کار وکړی دا ددوی دا اللهﷻ او رسول اللهﷺ سره دميني هغه غلبه وه چې دوی به يې داداره کولو توان نه درلودئ که نه نو ددې مجال خو بيخي دامکانه وتلی و چې دوی دې درسول اللهﷺ څخه مخالف کار وکړي ،يو نمونه به يې په راتلونکي باب کې راسي ، حضرت ابوذر غفاريﷺ ددې پر ځای چې په دين کې تکليفونه ووينې د رسول اللهﷺ حقيقي تابعداري غوره کړه چې داسلام ښکاره کول دي دا هم يوه لويه خبره وه همدالامل و چې اصحابو تل برياليتوب لاسته راوړی او په هر ميدان کې به دوی بريالي وه د دنيا او آخرت ګټې به يې په برخه وي تر داسي بريده چې يو چا به يو ځلي د شهادت کلمه وويل داسلام تر بيرغ لاندي به راغلی بيا به لوي ، لوي طاقتونو ددين څخه نه سوای منع کولای او لوي ، لوي ظلمونو به ددې د دين څخه نسو ای اړولای .

٦- د حضرت خباب بن الارت رضي الله عنه تکليفونـــه

حضرت خباب بن الارت رضي الله عنه دهغه مبارکو هستو څخه دئ چې خپل ځان یې و سختو امتحانونو تـه وړاندي کړی دئ او دالله جل جلاله په لاره کي يې ډیر زیات تکلیفونه تېر کړي دي نو موړی هغه مسلمان صحابي دئ چې د پنځو یا شپږو کسانو وروسته دستي مسلمان سوی دئ . دهمدې وجهي څخه ده مبارک ډېر تکليفونه ګاللي دي . حضرت خباب رضي الله عنه تـه به د اوسپني زغـره ورواغوستل سوه بيا بـه د غرمې پـه سختو ګرميو کي و غورځول سو او د زحمت څخه به زياتي خولې ترې بهېدلې کله به داسي وسوه چې ستوني ستخ بـه پر ګرمو ډبرو وغورځول سو چې د ډېره زحمته څخه به يې د ملا غوښي ورستې سوې او تـوی بـه سوي حضرت خباب رضي الله عنه د يوې ښځې مريی و کله چې يې باداره خبره سوه چې خباب رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ملا قات کوي نو دې به اوسپنه ګرمه کړه بيا به يې په دغه اوسپنه سر ورداغي . يوه ورځ حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په خپل خلافت کي د خباب رضي الله عنه څخه دده دتکليفونو پوښتنه وکړه چې د اسلام په لومړيو کي کافرانو باندي تېر کړي وه ده مبارک خپله ملا ښکاره کړه او وې ويل تاسو زما ملا و ګورى عمر رضي الله عنه چې دده ملا وليده وې ويل ما خو داسي ملا تر اوسه نه ده ليدلې خباب رضي الله عنه ورتـه وويـل: کـافرانو بـه زه پر اور وغورځولم کله چې بـه يې را پورتـه کړم زمـا د مـلا پـه وازګـه او وينو بـه اور مړ سو ، دا داصحابو کرامو ژوند ليک و دومري سختي يې تېرولې ددې ددومره سختيو سره .سره کله چې اسلام ترقي حاصله کړه دغه مبارکو اصحابو به ژړل او ويل به يې چې هسي نه چې دغه ترقي زموږ دتکليفونو بدله وي او آخرت تـه مو شي نسي پاتـه ، حضرت خباب رضي الله عنه فرمايي : يـوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم د عادت خلاف ډېر اوږد لمونځ وکړی موږ پوښتنه ځني وکړه چې يارسول الله صلى الله عليه وسلم ! دا څومره اوږد لمونځ و ؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم راته وفرمايل : دا دويري او رغبت لمونځ و پدې لمانځه کي ما و الله جل جلاله ته درې دعاوي وکړې دوې دعاوي قبولي سوې يوه نه سوه قبوله لومړی دعـا مي دا وه چې يا الله جل جلاله زما امت په قحط سالي سره مه هلاکوې ، دا دعا قبوله سوه ، دوهمه دعا مي داوه چې يا الله جل جلاله زما پر امت باندي داسي ظالم آمر مه مقررولې چې زما پر امت دومره ظلمونه وکړي چې بيخي يې ختم کړي ، دا دعا مي هم قبوله سوه ، دريمه دعا مي دا وکړه چې يا الله جل جلاله زما په امت کي خپل منځی جګړې مه اچوي دا دعا نه سوه قبوله .

حضرت خباب رضي الله عنه د اوه ديرشو کالو په عمر وفات سو دی لومړی صحابي و چې په کوفه کې دفن سو دده د مړيني وروسته حضرت علي رضي الله عنه دده وقبر ته ودرېدئ او وې فرمايل : پر حضرت خباب رضي الله عنه دې الله جل جلاله رحم وکړي په خپله خوښه مسلمان سو په خپله خوښه يې هجرت وکړی ژوند يې په جهاد کې تېر کړی او ډېر تکليفونه يې پر ځان تېر کړل هغه څوک مبارک دی چې قيامت ياد ساتي او د حساب لپاره تياري کوي ، پر دومرې مال باندې صبر کوي چې دده ګذاره په کېږي او خپل بادار يعنې الله جل جلاله راضي کوي.(۱)

فايده : په حقيقت کې د الله جل جلاله رضا ددغه کسانو په برخه وه ځکه دوی هر کار د الله جل جلاله د رضا لپاره کاوه.

۷- حضرت عمار رضي الله عنه او دده مبارک د مور او پلار بيان

حضرت عمار رضي الله عنه او دده مور او پلار د اسلام لپاره د کافرانو د لاس څخه تر سختو هم زيات سخت تکليفونه تېر کړل د مکې مکرمې پر تودو شګلنه مځکه باندې عذاب ورکول کېدئ نبي کريم صلى الله عليه وسلم چې به کله د دوی په لوري ولاړی دوی ته به يې د صبر تلقين ورکاوه او د جنت زيری به يې ورکوی دده پلار حضرت ياسر رضي الله عنه په دغه تکليفونو کې مړ سو کافرانو تر مرګه پوري آرام نه پرېښودئ او موريې ابو جهل لعين په شرمګاه کې په نېزه ووهل او شهيده سوه د عمار رضي الله عنه مور حضرت سمية رضي الله عنها سپين سري وه خوبيا هم د هيڅ شی پروايې ونه لرل تر مرګ پوري د اسلام څخه نه وا وښته دا په اسلام کې لومړی شهيده وه او د اسلام لومړی مسجد يعني مسجد قبا عمار رضي الله عنه جوړ کړی، کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم مدينې منورې ته تشريف يووړی عمار رضي الله عنه وويل چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم لپاره د سيوري يو ځای جوړول ضروري دئ چې پکښې تشريف ږدي غرمه آرام پکښې کوي او لمونځ سيوري ته کوي نو حضرت عمار رضي الله عنه اول ډبري را ټولي کړې او مسجد قبا يې جوړ کړی حضرت عمار رضي الله عنه په جنګ کې په ډېره مينه او جذبه ګډون کاوه يوه ورځ په جنګ کې په جذبه راغلی او وې ويل : ځو د خپلو دوستانو سره يو ځای کېږو د محمد صلى الله عليه وسلم د ډلې سره يو ځای کېږو په دغه حالت کې تږی سو د او بو غوښتنه يې وکړه يو چا د او بو پر ځای شيدې ورکړې دده مبارک شيدې وڅښلې بيا يې وويل : ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي دي چې ته به په ژوند کې وروستی شی

---

(۱) اسد الغابة

شيدې چيښي ددغه خبري وروسته شهيد سو دشهادت پرمهال يې عمر شپږنيوي (٩٦) کاله وځينو بيا يونيم کال کم عمر ښودلی دئ.(١)

٨ـ دحضرت صهيب رضي الله عنه اسلام

حضرت صهيب رضي الله عنه د حضرت عمار رضي الله عنه سره يو ځای اسلام راوړی، رسول الله ﷺ د حضرت ارقم رضي الله عنه په کور کي تشريف درلودئ چي دوی دوه هريو جلا ـ جلا د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوه خو نابېره په دروازه کي سره يو ځای سوه خپلي موخي يې يو و بل ته ښکاره کړې چي د رسول الله ﷺ فيض لاسته راوړل وه . کوم تکليفونه چي د مسلمانانو ودغه کوچنۍ ډلي ته رسېدل ده ته هم ورسېدل آخر تنگ سو د هجرت کولو اراده يې وکړه خو کافرانو داهم نه خوښول چي مسلمانان هجرت وکړي او يو بل ځای هوسا ژوند وکړي نو په هر چا چي به خبر سوه چي هجرت کوي نو دهغه د نيولو کوشش به يې کاوه دنورو مسلمانانو په څېر چي کله په صهيب رضي الله عنه خبر سوه چي هجرت کوي په ده مبارک پسي يې هم يو ډله پسې کړه چي وې نيسي او دتکليفونو څخه خلاص نه سي حضرت صهيب رضي الله عنه د غشو کڅوړه را وايستل او هغې ډلي ته يې وويل : گورئ ! تاسو پوهيږئ چي زه ښه غشی ويشتونکی يم تر څو چي زما په لاس کي يو غشی وي هيڅوک به ماته را نژدې نسي که مي غشي خلاص سي نو تر څو چي زما توره په لاس کي وي يو به هم ځان ته نژدې نه پرېږدم او که تاسو پيسې غواړئ نو زه به تاسو ته خپلي پيسې وښيم ورسئ هغه واخلئ : دوې مينځياني مي په مکه کي دي هغه هم بوزئ ده مبارک چي و خلکو ته دا خبري واورولې هغوی په پيسو راضي سوه دی يې پرېښودئ ده مبارک خپل ځان په پيسو رانيوئ او هجرت يې وکړئ په دې اړه لاندني آيات نازل سو :

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشۡرِي نَفۡسَهُ ٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ رَءُوفُۢ بِٱلۡعِبَادِ ﴿٢٠٧﴾ (٢)

ژباړه : ځيني د خلکو څخه د الله جل جلاله د رضا دلټولو لپاره خپل ځانونه په پيسو اخلي الله جل جلاله پر خپلو بندگانو باندي زيات نرمي کوونکی دئ.

---

(١) اسد الغابة

(٢) البقره الاية (٢٠٧) ، درمنثور

په دغه وخت کې رسول اللهﷺ په قباء مسجد کښې تشریف درلودئ چې صهیبؓ یې ولیدئ او ورته وې فرمایل: تا په خپل تجارت کې گټه وکړه حضرت صهیبؓ فرمایي : په دغه وخت کې رسول اللهﷺ خرماوي خوړلې زما سترگه خوږېدل ما هم په خوراک شروع وکړه رسول اللهﷺ راته وویل : ستا سترگه خوږ ده ته خرماوي خوري ؟ ما ورته وویل : یا رسول اللهﷺ ! وهغه لوري ته یې خورم چې هغه سترگه روغه ده رسول اللهﷺ چې دده جواب واورېدئ وې مسل ، حضرت صهیبؓ زیات خرڅ کاوه آن تر دې چې یو ځلي حضرت عمر فاروقؓ ورته وویل : چې ته بې ځایه خرڅونه کوې ده مبارک ورته وویل : چې پر نا حقه کار هیڅ ځای خرڅ نه کوم حضرت عمر فاروقؓ چې کله وفات کېدئ نو وصیت یې وکړی چې ماته دي حضرت صهیبؓ د جنازې لمونځ را کړي .(۱)

۹ – د حضرت عمرؓ داسلام راوړلو قصه

د حضرت عمرؓ پاک نوم هم د مسلمانانو لپاره ویاړ دئ دده مبارک دایمان دجذبې له امله (۱۳۰۰) کاله وروسته دکافرانو په زړه کې وېره پرته ده ، عمرؓ د اسلام راوړلو څخه مخکې د مسلمانانو په تکلیف ورکولو کې مشهور و درسول اللهﷺ د وژنې هڅې یې کولې، یوه ورځ د کافرانو یوه جرگه جوړه سوې وه په دغه جرگه کې غوښتنه سوې وه چې څوک به محمدﷺ ووژني ؟ عمرؓ وویل : زه به یې ووژنم ، خلگو ورته وویل : بېشکه ته یې وژلای سې ده هم دستي توره را واخیسته د محمدﷺ د وژنې قصد یې وکړی کله چې دی را روان سو پر لاري سعد بن ابي وقاصؓ په مخه ورغلی پوښتنه یې ځني وکړه چې چیرې ځې اې عمره ! عمرؓ ورته وویل : ځمه چې محمدﷺ ووژنم (العیاذ باالله) د بنو زهره قوم سعد بن ابي وقاصؓ ورته وویل : ځومره بې فکره سوی یې که ته محمدﷺ ووژني دبنو زهره قوم ، د بنو هاشم قوم او دبنو عبد مناف قوم به تا ووژني عمرؓ ته درد (غصه) ورغله او ورته وې ویل : فکر کوم چې ته هم بې دینه سوی (مسلمان سوی) یې ؟ نو اول به ستا کار دروکړم یعني وه به دي وژنم بیا به گورم ، دا خبره یې وکړه توره یې راوکښل سعد بن ابي وقاصؓ(۲) وویل : هو زه مسلمان سوی یم خپله توره ده هم را وکښل د دواړو

---

(۱) اسد الغابة
(۲) ځینو علماؤ دده پر ځای د بل صحابي نوم لیکلي دئ

سره اسلام ته قوت ورکړې يعني مسلمان يې کړه (دوی دواړه په قوت سره مشهور وه) خباب ﷺ زياته کړه : معلوميږي چې د رسول الله ﷺ دعا ستا په هکله قبوله سوې ده ددې څخه وروسته عمر ﷺ د رسول الله ﷺ وخدمت ته حاضر سو او دجمعې په سهار يې اسلام راوړی.(۱)

کله چې حضرت عمر ﷺ مسلمان سو د کافرانو مرال ټيټ سو خو بيا هم مسلمانان يوه کوچنۍ ډله وه او په کافرانو ټوله مکه ډکه وه بلکې ټول عرب کافران وه د عمر ﷺ په مسلمانيدو کافرانو نور هم زور واخيستی مشورې او جلسې يې شروع کړې او د با عزته مسلمانانو د له منځه وړلو کوشش يې کاوه او بېلا بېل پلانونه يې جوړول مګر مسلمانانو ته دعمر ﷺ په مسلمانيدو يو ويار ورپه برخه سو هغه دا و چې مسلمانانو په مسجد حرام کې په ښکاره لمونځ کول شروع کړه،حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمايي:دعمر ﷺ مسلمانيدل دمسلمانانو فتحه وه او هجرت يې دمسلمانانو ملاتړ و او خلافت يې رحمت و.(۲)

۱۰ :وحبشې ته د مسلمانانو هجرت او په شعب ابي طالب کي نظر بنده کېدل

حضرت محمد ﷺ او مسلمانان په مکة کي دسختو تکليفونو سره مخ وه او ورځ تر بلې تکليفونه د کمېدو پر ځای زياتېدل نو حضرت رسول اکرم ﷺ اصحابو ته اجازه ورکړه چې ددې ځای څخه بل ځای ته ولاړ سي زياتو اصحابو کرامو وحبشې ته هجرت وکړی دحبشې پاچا که څه هم عيسايي و تر دغه وخته پوري لا مسلمان سوی نه و مګر د زړه په نرموالي او عدل خوښوني سره مشهور و دخدای تعالي (رجب) په مياشت کي دنبوت په پنځم کال د يوولسو يا دوولسو نارينوو دڅلورو يا پنځو ښځو پوري يوې ډلې وحبشې ته هجرت وکړی د مکې خلک په پسې سوه چې ولاړ نه سي مګر په لاس نه ورغلل اصحاب کرام حبشې ته ځني ورسېدل حبشې ته چې ورسېدل مسلمانان په هغه ځای کي خبر سول چې دمکې خلک ټول مسلمانان سوي دي او اسلام غالب سوی دئ دوی مبارکان په دې خبره ډېر خوشحاله سوه او بېرته خپل وطن ته را روان سوه کله چې مکې ته را نژدې سوه ورته معلومه سوه چې پورتنی خبره بې بنسټه ده او دمکې خلک د پخوا په څېر بلکې تر هغه لا

---

(۱) خصائص

(۲) (اسد الغابة)

زیات دمسلمانانو په زورولو اخته دي نو ډېر خوابدي سوه ځینو مبارکو اصحابانو بېرته و حبشې ته تشریف یووړی ، ځینو بیا دیو چا څخه پناه واخیسته او مکې ته داخل سوه دغه هجرت ته دحبشې لومړی هجرت ویل کیږي ، ددې څخه وروسته یوه لویه ډله د درواتیا نارینه و ، اتلس ښځو څخه جوړه وه په بېل ـ بېل ډول یې وحبشې ته هجرت وکړی دغه هجرت ته دحبشې دوهم هجرت ویل کیږي ، ځینو اصحابو یو هجرت وکړی او ځینو دواړه هجرتونه وکړه ، کافرانو چې مسلمانان ولیدل چې په حبشه کې آرام ژوند تېروي نو نوریې درد (غصه) زیاته سوه او ډېري تحفې یې برابري کړي یوې ډلې ته یې په لاس ورکړې دحبشې پاچا نجاشي ته یې ورواستولې ، همدا ډول یې هغه خاصو کسانو (پادریانو) ته تحفې ورواستولې چې دپاچا سره یې نژدې ناسته درلوده د مکې دکافرانو ډله چې کله حبشې ته ورسېده نو لومړی یې د واکمنانو او پادریانو سره ولیدل او تحفې یې ورکړې ددوی څخه یې وعده واخیسته چې پاچا ته به یې سپارښت کوي بیا دغه ډله د پاچا و دربارته حاضره سوه لومړی یې پاچا ته سجده وکړه بیا یې تحفې ورکړې ورسره یې خپل خواست هم ورته وړاندي کړی چې خواست یې په دې ډول و : اې پاچا ! زموږ دقوم یو څو بې عقلانو هلکانو خپل زوړ دین پرې ایښې دئ یو نوی دین یې غوره کړی دئ داسې دین دئ چې نه یې موږ پېژنو او نه یې تاسو پېژنی دلته ستاسو هیواد ته راغلي دي دلې او سیږي موږ دمکې مشرانو ، ددغه هلکانو پلرونو ، اکاګانو او خپلوانو رالیږلي یو چې دغه کسان بېرته له ځانه سره بوزو تاسو دوی موږ ته وسپاری د دوی د خبري سره سم هغه واکمنانو او پادریانو چې دوی رشوت ورکړی و د دوی طرفداري او پلوي وکړه پاچا ورته وویل : کومو کسانو چې زما په هیواد کې پناه اخیستې وي دځېرني پرته یې تاسو ته نه سو سپارلای لومړی به هغه راغواړم معلومات به ځني لاسته کوم که چیري ستاسو خبره صحیح وه نو تاسو ته به یې دروسپارم او که ستاسو خبره درسته نه وه نو ستاسو غوښتنه نه سم پوره کولای ، دستي یې مسلمانان راوغوښتل په لومړی وخت کښې مسلمانان ډېر خوابدي سول چې څه به کوو ، خو د الله ﷻ مرسته او فضل و چې په همت یې دا پرېکړه وکړه چې پاچا ته به ورځو او پاکه خبره به ورته کوو ، کله چې مسلمانان و شاهي دربارته را ورسېدل لومړی یې سلام ووایه ، دستي یو چا نیوکه پرې وکړه چې دوی د پاچا ادب ونه کړی یعني پاچا ته یې سجده ونه کړه ، مسلمانانو ورته وویل چې زموږ نبي ﷺ د الله ﷻ څخه پرته وبل چاته دسجدې کولو اجازه نه ده راکړې ، ددې خبرو وروسته پاچا د دوی د حالاتو پوښتنه وکړه حضرت جعفر رضي الله عنه ورمخکې سو پاچا ته یې وویل : موږ په ډېر سخت جهالت کې پراته وو نه مو

اللهﷻ پېژانده او نه دهغه په رسولانو خبروو د ډبرو عبادت به مو کاوه مرداري به مو خوړلې بد کارونه به مو کول خپلوي مو پرې ایښې وې زورور سړي به کمزوري کس واږه موږ په دې حالت کې وو چې اللهﷻ یو رسول راولېږی داسې رسول دئ چې موږ یې نسب ، صداقت ، ایمانداري او پرهیزګاري ښه پېژنو دغه رسول موږ د یوه اللهﷻ یعنې د شریک پرته و عبادت ته راوبللو د ډبرو او بتانو دعبادت څخه یې منعه کړو ، د ښو کارونو حکم یې راته وکړی ، د بدو کارونو څخه یې منعه کړو ، موږ ته یې د رېښتیا ویلو ، امانتدارۍ ، وصیله رحمۍ ، د همسایه سره د ښه سلوک ، دلمانځه کولو ، روژې نیولو ، خیرات ورکولو او د ښو اخلاقو حکم وکړئ ، دزنا ، بدکارۍ ، دروا غ ویلو ، دیتیم دمال خوړلو ، پرچا د تهمت ویلو او داسې نورو بدو عملونو څخه یې منعه کړو . موږ ته یې د قرآنکریم ښوونه راکړه موږ په هغه ایمان راوړی او دهغه حکمونه مو ومنل همدا لامل و چې زموږ قوم زموږ دښمنان سوه او دهرډول تکلیفونو رارسول یې شروع کړه موږ ارسو چې د خپل نبيﷺ د لارښوونې سره سم ستاسو په هیواد کې پناه واخلو . پاچا وویل : کوم قرآن چې ستاسو نبي تاسو ته راوړی دئ د هغه څخه ماته یو څه راوړی حضرت حعفرؓ د سورة مریم لومړني ایاتونه ورته تلاوت کړه پاچا چې دقرآنکریم دغه ایاتونه واورېده - دی او دده پادریان چې دلته موجود وه ټولو ډېر وژړل آن تردې چې ږیرې یې لندې سوې وروسته پاچا وویل : په اللهﷻ قسم یادوم چې دغه کلام او هغه کلام چې حضرت عیسیؑ راوړی دئ دیوه نور څخه را وتلي دي بیا یې دمکې وخلګو ته انکار وکړئ چې زه و تاسو ته دغه مسلمانان نسم سپا رلای دمکې خلګ ډېر خوابدي سوه او ډېر سپک سوه پخپلو منځو کې یې مشوره پیل کړه دمشورې په بهیر کې یوه وویل : زه به سبا یو داسې چل وکړم چې پاچا د دوی رېښې پرېکړې ملګرو ورته وویل : داسې کار نه دئ په کار ځکه که څه هم دوی مسلمانان سوي دي بیا هم زموږ خپلوان دي خودغه سړي نه ومنل سبا بیا و پاچا ته ورغلل پاچا ته یې وویل : پاچا صاحب ! دغه مسلمانان ستاسو د پیغمبر حضرت عیسیؑ په هکله بې ادبي خبري کوي او وایي چې حضرت عیسیؑ د خدایﷻ زوی نه دئ پاچا د دوهم ځل لپاره مسلمانان راوغوښتل ، مسلمانان د غوښتنې پر مهال د تېر وار په پرتله زیات خواشیني سول په هر صورت مسلمانانو ویلي دي چې موږ پاچا ته ورغلو پاچا راته وویل : تاسو د عیسیؑ په هکله څه وایاست ؟ مسلمانانو ورته وویل : موږ د عیسیؑ په هکله هغه څه وایو چې اللهﷻ زموږ پر نبيﷺ باندې نازل کړي دي پاچا ورته وویل : ستاسو پر نبيﷺ باندې د عیسیؑ په هکله څه نازل سوي دي ؟ مسلمانانو ورته وویل : عیسیؑ د اللهﷻ

نبي دئ، دالله ﷻ بنده دئ، دالله ﷻ روح دئ، دالله ﷻ کلمة ده، الله ﷻ د يوې پيغلې (بې واده) ښځې يعني بي بي مريمې رضي الله عنها په وجود کې پيدا کړی او بيا يې وزيږوی. نجاشي پاچا ورته وويل: ستاسو خبرې ريښتيا دي ځکه عيسی عليه السلام هم تر دغه خبرو زياتې نه دې ويلې دپاچا سره ناستو پادريانو بک، بک شروع کړی يعني خبرې يې سره واړولې خو پاچا ورته وويل: تاسو چې هر څه وايـاست خو حقيقت داسې دئ لکه مسلمانان چې وايي ددې څخه وروسته يې دمکې کافرانو ته بېرته تحفې په لاس ورکړې او مسلمانانو ته يې وويل: تاسو نور په امن کې ياست هر څوک چې تاسو ته تکليف رسوي تاوان به ورکوي بيا يې دغه اعلان هم وکړی چې مسلمانان په امن دي هر څوک چې تکليف ورکوي تاوان باندې لازم دئ.(۱)

په دغه وخت کې په حبشې کې دمسلمانانو عزت نور هم زيات سو دمکې د کافرانو ډله سپکه او رسوا سوه په دغه کار دمکې دکافرانو دحسد جذبه نوره هم زياته سوه او حضرت عمر رضي الله عنه هم اسلام راوړی و دده مبارک په اسلام سره هم دوی ډېر سوځېدل، دوی غوښتل چې دمسلمانانو سره د نورو خلګو ليدل بند سي او په يو ډول نه په يو ډول داسلام ډېوه مړه کړي آخر داچې دمکې مشرانو مشوره وکړه-په مشوره کې يې وويل چې اوس نو د محمد ﷺ وژل ضروري دئ مګر د محمد ﷺ وژل څه آسان کار نه و ځکه بنو هاشم يو لوی خاندان و بنو هاشم که څه هم مسلمانان نه وه مګر د محمد ﷺ و وژلو ته هم تيار نه وه نو له همدې امله کافرانو يو وعده سره وکړه چې د بنو هاشم او بنو عبدالمطلب سره پرېکون کوي يعني ددغه دوو قومو سره به نه څوک خبرې، نه به څوک ورسره کښېني، نه به څوک رانيول او خرڅول ورسره کوي، نه به څوک کورته ورځي او نه به يې کورته پرېږدي تر هغه وخته پورې چې دوی نبي کريم ﷺ ومرګ ته نه وي حواله کړي د ذوی دغه وعده دخولې پر خبرو خلاصه نه سوه بلکې په عملي ډول يې دمحرم (حسن حسين) په لومړۍ دنبوت په اووم کال يو پرېکړه ليک وليکی او په مکة مکرمه کې يې وځړاوه او ټولو خلګو ته يې خبر ورکړی چې ددغه پرېکړه ليک به پوره درنښت کوي او په پلې کولو کې به يې پوره کوشش کوي ددغه پرېکړې له وجهې اصحاب کرام رضي الله عنهم د دوو غرونو په منځ کې يعني په يوه سخته وچه مځکه کې چې په (شعب ابي طالب) سره يادېده-نظر بند سوه نه چا خبرې ورسره کولې او نه څوک ورسره يو ځای کېده او نه دوی د چا سره يو ځای کېدلای سوای نه يې دچا څخه شي

---

(۱) (خميس)

رانیولای سوای او نه یې د هغه چا سره ملاقات کولای سوای چې د مکې دباندې ځخه به راتلې او نه د دوی ځخه څوک دباندې راوتلای سوای که به راووتې کافرانو به واهه د مسلمانانو ځخه که به څوک یو شی ته اړ سو نو کافرانو به جواب ورکاوه د دوی اړتیا به یې هیڅ نه پوره کول.

دغه مبارکو انسانانو چې لږ غله دانه درلوده په لږ وخت کې خلاصه سوه د خوراک هیڅ نه سوه ورپاته، دسختو لوږو ورته مخ سو، دلوږو داسې تکلیفونه پرې تېر سوه چې آخر به د دوی اولادونه او ښځو د لوږې د سخت تکلیف له امله ژړل، دوی مبارکان به هم د لوږې ځخه په سخت تکلیف اخته وه خو د خپل ځان تر تکلیف به د اولادونو په لوږه زیات غمګین وه. د ښښتن تعالی ﷻ پېرزوینه وه چې درې کاله وروسته هغه پرېکړه لیک چې په مکه مکرمه کې ځړېدئ وینو وخوړی اصحاب کرام د پورتني ناورین ځخه خلاص سوه پر اصحابو کرامو چې هر څومره لوږې، تندې او تکلیفونه تېر سوه خو دوی پر خپل دین ټینګ ولاړ وه. او د دین د خپرولو ځخه یې لاس نه واخیستی.

فایده: پورتنې تکلیفونه هغه کسانو پر ځان تېر کړي دي چې نومونه یې تر اوسه ځلانده دي او موږ ځانونه د دوی تابعداران بولو، د بریالیتوب په ذکر کې د اصحابانو په څېر د ترقۍ خوبونه وینو (او د حقیقي تګ لارې ځخه یې ډېر لیرې یو) لږ تر لږه موږ ته هم یو څه فکر کول پکار دي چې دغه مبارکو اصحابانو د دین لپاره څومره قربانۍ ورکړې دي او موږ د دین، اسلام او مذهب لپاره څه کړي دي ؟ او حال دا چې بریالیتوب د کوشش او زیار په نتیجه کې لاسته رائحي. موږ غواړو چې هوسا، ارام او د دنیا په لذتو کې ژوند وکړو. په بې دینۍ او عیش کې د کافرانو سره اوږه پر اوږه روان یو د اسلام ترقي دي هم راسره وي، دا کله کیدای سي.

ترسم نرسی بکعبه ای اعرابی

کین راه که تو می روی بترکستان است .

ژباړه: وېرېږم اې صحرایي ! چې وکعبې ته به و نه رسیږې ځکه دغه لاره چې ته پرې روان یې ترکستان ته تللي ده .

دوهم باب

د الله ﷻ څخه خوف او وېره

اصحاب کرام رضي الله عنهم د قربانۍ ورکولو او تکلیفونو تېرولو سره ـ سره د الله ﷻ څخه زیات وېرېدل د دوی د تکلیفونو د نمونې په ډول تاسو ځو قصې ولوستلې چې د دین لپاره یې مال، عزت او خپل ځان قرباني کړي وه ، الله ﷻ دې وکړي چې د دوی د وېرې او خوف څخه یوه لږه حصه په موږ کې هم پیدا سي د بیلګې په ډول د دوی د خوف او وېرې ځو قصې بیانوم:

۱ د سیلۍ په وخت کې د نبي ﷺ طریقه

حضرت عایشة) رضي الله عنها فرمایي: کله چې به وریځ، سیلۍ او داسي نور پېښ سوه د رسول الله ﷺ پر مخ به اثر ښکاره سو او د مخ مبارک رنګ به یې بدل سو کله به د ننه ولاړ او کله به د باندې راووتی او دا کلمة به یې ویل: اَللّهُم اِني اَسئَلُکَ خَیرَهَا وَ خَیرَ مَافِیهَا وَ خَیرَ مَااُرسِلتَ بِهِ وَ اَعُوذُبِکَ مِن شَرهَا وَ شَر مَافِیهَا وَ شَرمَااُرسِلتَ بِهِ .

ژباړه: اې خدایه ! ﷻ زه د دې هوا خیر غواړم او کوم څه چې په دې هوا کې دي (چې د باران او نورو څخه عبارت دي) د هغو خیر غواړم او د کوم مقصد لپاره چې دي دغه هوا رالېږلې ده د هغه خیر غواړم اې خدایه ﷻ ! زه د دې هوا د شر څخه پنا غواړم کوم څه چې په دې هوا کې دي د هغه د شر څخه پنا غواړم او د کوم څه لپاره چې دي رالېږلې ده د هغه د شر څخه پنا غواړم. کله چې به باران شروع سو رسول ﷺ به خوشاله سو ، حضرت عایشه رضي الله عنها فرمایي: ما د رسول ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې اې د الله ﷻ رسوله! خلک چې وریځ ووینې خوشالیږي ته تر هغه وخته پرېشانه یې چې باران شروع کېږي رسول الله ﷺ وفرمایل: زه څه با ور نلرم چې په دې وریځ کې به د الله ﷻ عذاب وي او که به باران وي، د عادیانو قوم دا عادت درلودئ چې وریځ به راغله دوی به خوشالیدل یوه ورځ وریځ راغله دوی خوشاله وه چې باران دئ مګر په هغه وریځ کې د الله ﷻ عذاب و ټوله یې هلاک کړه.(۱)

الله ﷻ د عادیانو په اړه فرمایلي دي:

(۱) درمنثور

فَلَمَّا رَأَوۡهُ عَارِضًا مُّسۡتَقۡبِلَ أَوۡدِيَتِهِمۡ قَالُواْ هَٰذَا عَارِضٌ مُّمۡطِرُنَاۚ بَلۡ هُوَ مَا ٱسۡتَعۡجَلۡتُم بِهِۦۖ رِيحٌ فِيهَا عَذَابٌ أَلِيمٌ ۝٢٤ تُدَمِّرُ كُلَّ شَيۡءِۭ بِأَمۡرِ رَبِّهَا فَأَصۡبَحُواْ لَا يُرَىٰٓ إِلَّا مَسَٰكِنُهُمۡۚ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ۝٢٥ (۱)

ژباړه: دعادیانو قوم چې کله وریځ ولیده چې د مځکې پر لوري راروانه وه نو وې ویل: دا وریځ پر موږ باران اوروي (الله ﷻ وفرمایل) نه داسې نه ده بلکې دا هغه عذاب دئ چې تاسو یې د راتلو ژر غوښتنه کول (او پیغمبر ته به مو ویل: که ته رېښتني یې نو پر موږ عذاب راوله، الله ﷻ یې په دې ډول بیان کړی دئ:) یوه سخته سیلۍ ده چې سخت عذاب پکښې دئ او هر شی به د الله ﷻ د حکم سره سم تباه کړي وروسته د هغه سیلۍ په وجه ټول داسې هلاک سوه چې د ودانیو پرته هیڅ نه پکښې ښکارېدل (الله ﷻ فرمایي:) موږ په دغه ډول مجرمانو ته عذاب ورکوو. (۲)

فایده: تاسو وګورئ چې هغه څوک چې د دنیا او آخرت سردار دئ دومره زیات د الله ﷻ څخه وېرېږي سره له دې چې ټولو ته معلومه ده چې الله ﷻ په قرآنکریم کې د رسول ﷺ سره وعده کړې ده چې ستا په شتون کې به ودوی ته عذاب نه ورکوم د دې وعدې سره ـ سره بیا هم رسول الله ﷺ ته د سیلۍ او وریځې د راتګ په وخت کې به د تېرو قومونو عذاب ور په یاد سو.

د رسول الله ﷺ په حال کې یو څه فکر کول پکار دي که تاسو وګورئ موږ هر وخت په ګناهونو کې اخته یو زلزلې او نور ډول ـ ډول عذابونه وینو بیا هم د دې پر ځای چې د الله ﷻ څخه و وېرېږو، توبې و باسو او لمونځونه وکړو بې ځایه تحقیقات شروع کړو.

۲ـ په تیاره کښې د حضرت انس ﷺ عمل

نضر بن عبدالله ﷺ فرمایي: د حضرت انس ﷺ په ژوند کې یوه ورځ دوړځې تیاره خوره سوه زه د حضرت انس ﷺ و حضور ته ورغلم او ورته و مې ویل: چې د نبي ﷺ په زمانه کې هم دا ډول شیان راتلل انس ﷺ راته و ویل: د نبي ﷺ په زمانه کې چې به لږ هوا تېزه سوه موږ به د قیامت څخه وېرېدو او په چټکۍ سره به و مسجد ته تلو.

---

(۱) سورة الاحقاف الاية (۲۴)

(۲) بيان القران

يو بل صحابي ابو درداء ﷺ فرمايي: د رسول ﷺ دا عادت و چې کله به سيلۍ را والوته نبي ﷺ به و مسجد ته تشريف يو وړی .(۱)

فايده: په اوس وخت کې لوی ـ لوی مصيبتونه او بلا وې راځي بيا هم هيڅوک مسجد ته نه دي تللي عام خلک خو پرېږده بلکي خاصو خلکو هم دا کار نه دئ کړی خپله په زړه کې ددې سوال په جواب کې فکر وکړئ.

۳_ د لمر ترندي نيولو په وخت کي د رسول ﷺ عمل

د رسول الله ﷺ په زمانه کې د اصحابو کرامو سره دا فکر و چې رسول ﷺ به د لمر د ترندي نيولو په وخت کې څه کوي او دا به يې ويل: چې ددې کار څېړنه دې وسي. کله چې به لمر ترندي ونيوی اصحابانو مبارکانو به خپل کارونه پرېښودل په چابکۍ سره به راغلل همدا ډول د نوی عمر هلکان چې د غشي ويشتلو په تمرين به اخته وه په چابکۍ سره به را غلل څو وګوري چې رسول الله ﷺ څه کوي؟ رسول الله ﷺ به دوه رکعته د کسوف (دلمر ترندي نيولو) لمونځ ادا کړی او ډېر به يې لمونځ اوږد کړی دومره به يې اوږد کړی چې خلک به بې هوښه پرېوتل په لمانځه کې به يې ژړل او فرمايل به يې: اې خدايه ﷻ! تا زما سره وعده نه وه کړي چې ستا په شتون کې به پر دوی عذاب نه راولم؟ او نه به په داسي وخت کې عذاب پرې راولم چې دوي په استغفار اخته وي؟ (يعني اې الله جل جلاله! دا ترنده ليري کړې).

الله ﷻ په سورة الانفال کي د رسول ﷺ سره وعده کړې ده چې ته په دوی کې موجود يې پر دوی به عذاب نه راولم، نه په داسي وخت کي عذاب پرې راولم چې دوی په استغفار اخته وي ځکه الله ﷻ فرمايي:

وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنتَ فِيهِمْ ۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴿٣٣﴾ (۲).

ژباړه: الله ﷻ داسي نه دئ چې پر دوی عذاب راولي او حال دا چې ته په دوی کي يې او نه الله ﷻ په عذاب کونکی دی حال دا چې دوی استغفار ويونکي وي.

رسول الله ﷺ و خلکو ته داسي نصيحت وکړی: که چيري لمر يا سپوږمۍ ترنده ونيسي نو ووېرېږئ او د لمانځه و لوري ته هڅه وکړئ زه چې کوم څه کوم د آخرت حالات

---

(۱) جمع الفوائد

(۲) سورة الانفال الاية (۳۳)

وينم كه تاسو ته دا حالات معلوم سي نو خندا به كمه كړی او ژړا به ډېره كړی كله چي مو داسي حالات (دلمر او سپوږمۍ ترنده) وليدل لمونځ كوئ، دعا كوئ او صدقه وركوئ.

٤- نبي كريم ﷺ ټوله شپه په ژړا تېرول

رسول الله ﷺ يو ځلي ټوله شپه په ژړا تېره كړه او ترسهاريې په لمانځه كي د آيات وايه:

إِن تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ ۖ وَإِن تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿١١٨﴾ (١)

ژباړه: (اې خدايه!) كه ته دوی په عذاب كړې (ستا اختيار دئ)، دوی ستا بنده ګان دي (مالک اختيارلري چي خپلو بندګانو ته دګناه په بدل كي سزا وركړي) او كه ته دوی ته مغفرت وكړې (نو هم ستا اختيار دئ) بېشكه ته، هم ته غالب يې او د حكمت څښتن يې (معافي به دي د حكمت موافق وي) (٢)

د امام ابو خنيفة رحمة الله عليه په اړه راغلي دي چي يوه شپه يې ټوله لاندينی آيات په لمانځه كي لوستي او ژړل يې:

وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ ﴿٥٩﴾ (٣)

ژباړه: جلا سئ اې مجرمانو! نن ورځ (په دنيا كي خو تاسو او سپېڅلي خلک ګډ اوسېدلاست)

د قيامت په ورځ به مجرمان جلاوي او سپېڅلي خلک به جلا وي د الله ﷻ دغه حكم چي سړی واوري هر څومره چي سړی وژاړي لږ ده ځكه نه ده معلومه چي موږ به د مجرمانو په ډله كي يو او كه به د سپېڅلو خلګو په ډله كي يو.

٥- د الله ﷻ څخه د حضرت ابوبكر رضي الله عنه وېره

د ټولو اهل سنتو په اتفاق سره حضرت ابوبكر رضي الله عنه د انبياوو نه پرته تر ټولو انسانانو غوره انسان دئ او دده مبارک جنتي كېدل يقيني دي پخپله رسول ﷺ د جنتي كېدو زيری وركړی

---

(١) سورة المائده الاية (١١٨)

(٢) بيان القران

(٣) سورة يسين الاية (٥٩)

او تاسو په سلګو نو خبرې يو او بل ته کوو او ددې فکر هم په ذهن کې نه راځي چې په آخرت کې به ددې خبرو بدله اخيستل کيږي او يا به حساب او کتاب راسره کيږي.

٦- د حضرت عمر ﷺ حالت او دَحَرَه واقعه

حضرت عمر ﷺ به زيات وخت يوه کڅوړه واخيسته او وبه يې ويل ارمان چې زه دا کڅوړه وای کله به يې ويل ارمان چې زه خپلې مور نه وای زيږولې يوه ورځ يو سړی ورته راغلی او ورته وې ويل: فلانکي سړي پر ماظلم کوي تاسو راسره ولاړ سئ د هغه څخه زما بدله راواخله ده مبارک هغه سړي په يوه دوره وواهه او ورته وې ويل کله چې زه د کار د پاره کښينم ته نه راځې او کله چې زه په نورو کارونو اخته سم نو ته راسې او راته وايې چې بدله راواخله، هغه سړی ولاړی، ده مبارک دستي يو سړی پسې ولېږه او هغه يې راوغوښتی او دوره يې په لاس ورکړه ورته وې ويل اې سړيه! ته ما وهلی يې اوس ته زما څخه بدله واخله هغه سړي ورته وويل ما ته د الله ﷻ لپاره بخښلی يې.

حضرت عمر ﷺ کورته تشريف يووړی دوه رکعته نفل يې ادا کړه بيايې خپل ځان ته وويل :اې عمره ! ته کښته وې الله ﷻ لوړ کړې ، ته ګمراه وې الله ﷻ هدايت درکړی، ته ذليل وې الله ﷻ عزت درکړی بيايې د خلګو پاچا جوړ کړې اوس تا ته يو سړی راځي او درته وايي چې زما د ظلم بدله راواخله ته يې په دوره وهې سبا به د قيامت په ورځ خپل رب ته څنګه جواب وايې ده مبارک په دغه ډول ترډېره وخته پورې پرځان ملامتي ويل.(١)

دحضرت عمر ﷺ مريي (غلام) حضرت اسلم ﷺ وايي : زه يوه ورځ د حضرت عمر ﷺ سره (حَرَه -٢) نومې ځای ته تلم يوځای مې په يو ځنګل کښې اور تر سترګو سو حضرت عمر ﷺ وفرمايل: ښايي دا يو قافله وي چې د شپې په وجه به ښار ته نسوای تلای د ښار دباندې به پاته سوې وي راځه چې پوښتنه يې وکړو او ددوی د نن شپې د حفاظت انتظام وکړو هلته چې ورسېدو ومو ليدل چې يوه ښځه ناسته ده څو کوچني اولادونه ورسره دي ژاړي او چغې وهي يو ديګ پر نغري پروت دئ د اوبو ډک دئ لاندې اور ترې بليږي مونږ سلام ورته ووايه اودنږدې ورتلو اجازه مو ځني واخيسته حضرت عمر ﷺ پوښتنه ځني وکړه

---

(١) اسد الغابة

(٢) مدينې ته نږدې د يو ځای نوم دی

چې دا کوچنيان ولې ژاړي؟ ښځې ورته وويل: ډېر ورځې سوې دي د لوږې له امله ژاړي دده مبارک بيا پوښتنه ځنې وکړه چې په ديګ کښې څشي دي؟ ښځې ورته وويل دا ديګ مې د کوچنيانو د خوشحاله کولو لپاره د اوبو ډک کړی اوپر اور مې ايښې دئ چې ددوی زړونه پرې ډاډه سي او ويده سي، ښځې زياته کړه چې زما او د امير المومينن عمر ﷺ په منځ کښې به الله ﷻ فيصله کوي چې زما ددې ستړې حال څخه ځان نه خبروي حضرت عمر ﷺ په ژړا سو او وې ويل الله ﷻ دې پر تا رحم وکړي عمر ستا د حال څخه څه خبر دئ؟ ښځې وويل هغه زمونږ امير جوړ سوی دئ او زمونږ د حال څخه ځان نه خبروي اسلم ﷺ وايي چې زه حضرت عمر ﷺ د ځان سره بېرته بوتلم او په يوه ګونۍ (بوری) کښې يې د بيت المال څخه څه اوړه، خورماوي، وازګه، څه کالي او څه پيسې واچولې ګونۍ يې ښه ډکه کړه ماته يې وويل چې دا زما پر ملا باندي کښېږده ما ورته وويل زه به يې يوسم دده مبارک راته وويل: يا زما پر ملا باندي يې کښېږده، دوه درې واره مې ټينګار وکړی چې زه به يې يوسم دده نه راسره منل آخر ده راته ويل ايا د قيامت په ورځ زما بار ته پورته کولای سې؟ ماورته وويل: يا نه يې سم پورته کولای دده مبارک راته وويل نو دابه هم زه پورته کوم ځکه چې د قيامت په ورځ پوښتنه زما څخه کيږي، آخر زه مجبوره سوم چې ګونۍ دده پر ملا باندي کښېږدم، حضرت عمر ﷺ په ډېره چابکۍ سره د ښځې و ځای ته تشريف يووړی زه هم ورسره وم هلته چې ورسېدو دده مبارک په پخپل لاس په ديګ کښې څه اوړه، څه وازګه او خورماوي وديګ ته واچولې او دديګ لړل يې شروع کړه، د نغري اوريې پخپله پوه کاوه اسلم ﷺ وايي دده مبارک دږيري څخه دود وتل ماوليدل اخر دا چې ډېره يې په دود تورہ سوه ددې څخه وروسته يې پخپل مبارک لاس دديګ څه خواړه راويسته او په هغه کوچنيانو يې وخوړل هغه ښه ماړه سوه په خندا او لوبو اخته سوه او کوم څه چې پاته سوه هغه يې ددوی د بل وخت لپاره وروسپارل ښځه هم ډېره خوشاله سوه اووې ويل الله تعالی ﷻ دې تاته د خير بدله درکړي ته ددې ورېږې چې د عمر ﷺ پر ځای باندي خليفه سې. (ښځې دا خبره له دې امله وکړه) چې ښځې دی نه پېژانده چې امير المومنين دئ، عمر ﷺ دې ته تسلي ورکړه او ورته وې ويل کله چې ته خليفه ته ورسې مابه هلته پيدا کړې عمر ﷺ ددوی څخه لږ ليرې پر مځکه کښېناستی د لږ ناستې وروسته روان سو او وې ويل: زه له دې وجهې څخه کښېناستم چې ما دغه کوچنيان په ژړا ليدلي وه زما زړه وغوښتل چې لږ ساعت يې په خندا هم ووينم.(۱)

---

(۱) اشهر مشاهير منتخب كنز العمال

حضرت عمرؓ د سهار په لمانځه کښې زيات وخت سوره کهف، طه او داسې نور لوی - لوی سورتونه لوستل او دومره به يې ژړل چې اواز به يې تر څو صفونو پورې رسېدئ يوه ورځ يې د سهار په لمانځه کښې سورة يوسف لواسته کله چې دې ځای ته راورسېدئ :قَالَ إِنَّمَآ أَشۡكُواْ بَثِّي وَحُزۡنِيٓ إِلَى ٱللَّهِ وَأَعۡلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٨٦﴾ (۱) نو د ژړا له وجهې يې اواز بند سو تر خولې يې بڼه نه خاتی.

کله به د تهجد په لمانځه کښې په ژړا پرېوتی او ناجوړه به سو.

فايده: داد اللهﷻ د وېرې څخه د هغه چا حالت دئ چې د نامه څخه يې لوی - لوی پاچاهان وېرېدل او رپېدل نن ورځ يعنې ديارلسنيم سوه کاله وروسته يې هم دبدبه، شان او شوکت منل سوی دئ، نن يو پاچا نه، حاکم نه بلکې يو کوچنی آمر هم د خپل رعيت سره داسې معامله نه کوي.

۷- د حضرت عباسؓ نصيحت

وهب بن منبهؒ فرمايي: د حضرت عبد الله بن عباسؓ د ستر کو ديد لمنځه ولاړی يوه ورځ ما کعبې شريفې ته بوتی هلته چې ورسېدئ د يوې ډلې خلګو څخه د جګړې اواز راتلی ماته يې وويل ما دغه طرفته بوزه نو ما هلته بوتی ده مبارک درسېدو سره سم سلام ووايه هغو خلګو دده څخه د کښېناستلو غوښتنه وکړه ده انکار وکړی او وې فرمايل تاسو ته معلومه نه ده چې د اللهﷻ د خاصو بنده ګانو ډله هغه خلګ دي چې د اللهﷻ د وېرې څخه خاموشه وي حال دا چې هغه خلګ نه عاجزه او نه ګونګيان وي بلکې ښه پاکې خبرې کوونکي وي، ويونکي وي، پوهه لرونکي وي خو د الله تعالیﷻ لوی ذکر ددوی زړونه حيران کړي وي ددغه وجهې څخه يې زړونه مات وي او ژبې يې خاموشه وي کله چې دوی ته په دغه حالت کې پوخوالی پيدا سي نو نېک کارونه په چابکۍ سره کوي. (اې خلګو! ښه کسان خو داسې وي لکه چې ومې ويل) نو تاسو ولې دومره لېرې سوي ياست؟ يعنې اوازونه مو پورته کړي دي.

وهب بن منبهؒ فرمايي ددې څخه وروسته ما دوه کسان هم يو ځای ونه ليدل.

---

(۱) سورة يوسف الاية (۸۶)

سرپرسته پاتېدې خو ددې تولو سختو تکليفونو سره د الله ﷻ وېره پردوی مبارکانو باندې غالبه سول او د رسول الله ﷺ سره روان سول يواځې منافقان، معذورين، ښځې، کوچنيان او هغه کسان پاته سول چې په مدينه کې ورته اړتيا وه او يا داسې کسان پاته سول چې ددوی لپاره سپرلۍ نوې د ژړا په حالت کښې پاته سول الله ﷻ يې په اړه ايات نازل کړې:

وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ إِذَا مَآ أَتَوۡكَ لِتَحۡمِلَهُمۡ قُلۡتَ لَآ أَجِدُ مَآ أَحۡمِلُكُمۡ عَلَيۡهِ تَوَلَّواْ وَّأَعۡيُنُهُمۡ تَفِيضُ مِنَ ٱلدَّمۡعِ حَزَنًا أَلَّا يَجِدُواْ مَا يُنفِقُونَ ﴿٩٢﴾ (۱)

ديادوني وړ ده چې درې کسان د ضرورت پرته پاته سول چې قصه به يې وروسته راسي کله چې رسول ﷺ او اصحاب رضي الله عنهم د ثموديانو پر کلي تېرېدل نو نبي ﷺ خپل مخ مبارک په لمن پټ کړی او اوښه يې تېزه کړه اصحابو کرامو رضي الله عنهم ته يې امر وکړی چې پر دې ځای په تېزۍ سره تېر سئ، د ظالمانو په کلي کښې په ژړا تېر سئ او په دې وېره تېر سئ چې خدای مکړه هغه عذاب پر تاسو نازل نسي کوم چې پردوی نازل سوی دئ. (۲)

فايده: د الله تعالي خوړ او نازولی بنده او دده سرتيري دوستان چې د خپلې قربانۍ ثبوت ورکوي په دغه ځای کښې په تېزۍ سره تېرېږي او رسول ﷺ په ژړا د تلو حکم ورکوي چې خدای مکړه هغه عذاب پردوی نازل نسي (کوم چې پر ثموديانو نازل سوی و) زموږ حال وګوره په کوم کلي کښې چې زلزله وسي د هغه ځای څخه دسيل ځای جوړوو، دوران سوو ودانيو وسيل ته ورځو ژړا خو څه کوي بلکې په زړه کښې د ژړا فکر لا نه کوو.

۹- په تبوک کښې د حضرت کعب رضي الله عنه غير حاضري او د هغه توبه

د تبوک په غزا کښې د معذورانو څخه پرته د اتياوو څخه زيات منافقان د انصارو څخه وه چې په جنګ کې يې ګډون نه وکړی په دغه پيمانه د کلو او صحرا و خلک هم وه، ددې څخه علاوه يوه لويه ډله د باندنيو خلګو څخه داسې وه چې خپله هم په غزاء کښې نه وه تللي او نوريې هم منعه کول لکه چې الله ﷻ ددوی بيان داسې کوي:

لَا تَنفِرُوا فِي الحَرِّ .

ژباړه: (منافقانو به نورو خلګو ته ويل:) په ګرمۍ کښې مه وځئ.

---

(۱) سورة التوبة الاية (۹۲)

(۲) اسلام، خميس

يعني دوى به خلک منعه کول چي سخته ګرمي ده مه ځئ او حال دا چي الله ﷻ فرمايي ددوزخ د اور ګرمي ډېره سخته ده.

ددغه خلګو څخه علاوه درې ريښتني پاخه مسلمانان هم وه چي د قوي عذر څخه پرته په جنګ کښي نوه شريک سوى يو کعب بن مالک ﷛، دوهم هلال بن اميه ﷛ او دريم مراره بن ربيعه ﷛ دا درې سره مبارک اصحابان د نفاق دعذر په وجهه نوه پاته سوي بلکي خوشحالي يې د پاته کېدو سبب سو.

کعب ﷛ خپل حالات په تفصيل سره بيانوي وروسته به راسي، د مراره بن اميه ﷛ باغ ښه د ميوو ډک و فکر يې وکړى چي که چيري زه ولاړ سم نو ټوله ميوې به ضايع سي زه تل په غزاو کښي شريک سوى يم که دا ځل نسم ولاړ نو څه پروا لري ددغه وجهي څخه پاته سو خو کله چي په حقيقت پوه سو نو دباغ ټولي ميوې يې د الله ﷻ په لاره کښي صدقه کړي ځکه دغه ميوې دده دپاته کېدو سبب ګرځېدلي وې.

دهلال ﷛ اولادونه او خپلوان يو خواته تللي وه نابېره په دغه وخت کښي سره جمع سول ده هم دا فکر وکړى چي زه تل په غزاو کښي شريک سوى يم که دا ځل شريک نسم نو څه تاوان لري کله چي په حقيقت پوه سو تود زړه له درده يې د ټولو قريبانو سره د اړيکو پرېکولو اراده وکړه ځکه دغه اړيکي دده د پاته کېدو سبب ګرځېدلي وې.

د حضرت کعب ﷛ قصه په احاديثو کي زياته راغلېده خو دى مبارک خپل حالت په تفصيل سره داسي بيانو ي : زه د ټولو غزاو په وخت کي دومره شتمن نه وم لکه د تبوک دغزا په وخت کي چي شتمن وم ما پدغه وخت کي دوې او ښاني درلودې او بل هيڅ وخت زه ددوو اوښانو مالک سوى نه وم.

د نبي ﷺ عادت داو چي هر چيري به يې د جنګ اراده وکړه نو د جنګ د ځاى معلومات به يې نه ورکاوه بلکي د نورو اړخونو حالات به يې پوښتل څرنګه چي د تبوک په غزاء کښي ګرمي ډېره وه، سفر هم ليري و او ددښمن دلښکر شمېر هم زيات و نو ځکه يې په ښکاره اعلان وکړى تر څو خلک تياري وکړي همدا وجهه وه چي د نبي ﷺ يو لوى شمېر مسلمانانو نومونه ثبت کړه آن تر دې چي د نومونو ليکل يې مشکل سو که چا غوښتي واى چي ځان پټ کړي نو د خلګو دډېروالي له امله يې ځان په ډېره اسانۍ سره پوټوالاى سواى کعب ﷛ وايي پدغه وخت کي ميوې بيخي پخې وې ما به سهار د سفر د سامان دتيارولو اراده وکړه خو مابنام به سو هيڅ قسم تياري به مي نه وکړه مګر ما په خپل زړه کښي دا فکر کاوه چي زما سره هر څه سته که زه پخه اراده وکړم نو ژر به وسي تر داسي وخته چي نبي کريم ﷺ روان سو او

مسلمانان ورسره روان سوه زما دسفر سامان تيار نسو بيا به مي هم دا فکر کاوه چي په يوه يا دوو ورځو کښي به ځان تيار کړم وربه سم په دغه ډول مي نن او سبا ته کول تر داسي وخته چي دنبي ﷺ هلته د رسېدو وخت ډېر نژدې سو هغه وخت مي هم کوشش کاوه خو سامان مي تيار نسو په دغه وخت کي چي ما په مدينه منوره کي شاوخوا وکتل نو يوازې به مي هغه کسان تر سترګو کېدل چي د نفاق داغ به پرې لګېدلی و او يا به معذوره وه ، نبي ﷺ چي تبوک ته ورسېدی پوښتنه يې وکړه چي کعب رضي الله عنه نه معلومېږي څه پېښه ده يو ملګري وويل: اې د الله رسوله ! هغه خپل مال او ښکلا مست وګرځاوه حضرت معاذ رضي الله عنه دغه کس ته وويل: غلطه خبره دي وکړه مونږ ته چي څومره معلومات سته هغه ښه سړی دئ نبي ﷺ چوپ سو هيڅ يې ونه ويل تر داسي وخته چي د څو ورځو وروسته ما درسول الله ﷺ د بېرته راتلو خبر واورېدئ نو ډېر غمجن او فکرمن سوم په زړه کښي به مي د دروغو عذرونه راتلل چي د نبي ﷺ د درد (غصې) څخه به ځان په خلاص کړم بيا به د بخښني خواست ځني وکړم پدې اړه مي د خپلي کورنۍ د هر يوه سره مشوره کول بالاخره په زړه کښي مي دا پرېکړه وکړه چي د ريښتيا پرته مي بل شی نسي خلاصولای نو مي ټينګه اراده وکړه چي نبي ﷺ ته به ريښتيا وايم ، د نبي ﷺ مبارک عادت دا و چي کله به يې د سفر څخه تشريف راوړی نو لومړی ځل به يې مسجد ته تشريف يووړی او هلته به يو لږ وخت و اوسېدئ چي د خلګو سره ملاقات وکړي ، رسول الله ﷺ د تبوک څخه د راتګ پر وخت د خپل عادت سره سم مسجد ته ولاړی منافقان به ورته راتلل د دروغو عذرونه به يې ورته ويل او قسمونه به يې ورته اخيستل نبي ﷺ به د هغو ښکاره حال قبلاوه او پټ حال به يې الله جل جلاله ته سپاری پدغه وخت کي زه حاضر سوم او سلام مي ووايه نبي ﷺ د خوابد تيا په ډول مسکی سو او اعراض يې را څخه وکړی ماته يې هيڅ توجه ونه کړه ما ورته وويل: اې د الله رسوله! تاسو زما څخه مخ واړوه په الله تعالي دي مي قسم وي چي نه زه منافق يم او نه مي په ايمان کي شک سته ده مبارک راته وويل: دې خوا ته راسه زه ورنژدې سوم او کښېناستم نبي ﷺ راته و فرمايل: کوم شی د تلو څخه منعه کړی وې؟ آياتا او ښاني نه وي رانيولي؟ ما ورته وويل: اې د الله رسوله! که ستا پر ځای د يو بل شتمن سړی سره مخامخ وای نو زما دا يقين دئ چي د هغه قهر څخه به مي په يوه مناسب عذر ځان خلاص کړی وای ځکه الله جل جلاله ماته د خبرو کولو طريقه را زده کړې ده خو ستاسي په اړه ماته معلومه ده چي که چيري نن تاسو په دروغو راضي کړم نو الله جل جلاله به را څخه ناراضه سي او که پاک ريښتيا درته ووايم تاسو به راته په غصه سی خو نژدې دی چي الله جل جلاله به ستاسو خفګان ليري کړي نو ځکه زه ريښتيا درته وايم حقيقت دا و چي قسم په الله جل جلاله ما هيڅ عذر نه

درلودئ او څومره چې زه په اوس وخت کې فارغ او طاقتمن وم ددې څخه مخکې هیڅ وخت نه وم سوی، نبي ﷺ راته وفرمایل : ریښتیا دې وویل بیا یې راته وویل چې ولاړ سه فیصله به الله ﷻ کوي زه ددغه ځای څخه ولاړ سوم زما د قوم خلکو پرما ملامتي وویل: چې تا ددې څخه مخکې هیڅ ګناه نده کړې که چیرې تا عذر ویلی وای نبي ﷺ به ستاسو لپاره د بخښنې خواست کړی وای د نبي ﷺ استغفار ستا لپاره بس و ما ددوی څخه و پوښتل چې آیا داسې یو بل څوک سته چې داسې معامله ورسره سوې وي خلکو راته وویل: دوه نور کسان سته و نبي ﷺ ته یې داسې خبرې وکړې لکه تا چې وکړې او نبي ﷺ داسې جواب وکړی لکه تا ته چې یې درکړی یو هلال بن اُمیه رضی الله عنه او دوهم مراره بن ربیع رضی الله عنه دی. کعب رضی الله عنه فرمایي : ما دوه نور نېکان کسان ولیدل چې بدریان هم وه (یعني دبدر په غزا کې یې ګډون هم کړی و) زما په برخلیک راسره شریک وه نبي اکرم ﷺ زموږ ددرو سره وو سره د خبرو منعه وکړه چې هیڅوک به زموږ سره خبرې نه کوي.

داقانون دئ چې هغه چاته څوک غصه کوي چې د هغه سره یې اړیکې زیاتې وي او مینه ورسره لري ، زورونه وهغه چاته ورکول کیږي چې په هغه کې اهلیت وي د چاسره چې داسې استعداد نه وي هغه ته نه څوک غصه کوي او نه زورونه ورکوي همدا وجه وه چې نبي ﷺ د منافقینو پر ځای و دوی درو ته په غصه سو ځکه په دوی کې اهلیت موجود و. کعب رضی الله عنه فرمایي: خلکو زمونږ سره خبرې پرېښودې ګویا زموږ دنیا بدله سوه آن تر دې چې پر موږ باندې فراخه مځکه تنګه معلومېده ټول خلګ پردي سوه هیچا خبرې نه راسره کولې او که خدای مه کړه رسول الله ﷺ وفات سي نو تر پایه پورې به خلګ زما سره خبرې نه کوي او د مړینې پر مهال به څوک د جنازې لمونځ نه راکوي ځکه د نبي ﷺ دامر خلاف هیچا کار نه سوای کولای زموږ دغه حال تر پنځو سو وروځو پورې و زما دوه ملګرې دپیل څخه په کور کې پټ ناست وه زه په دوی کښې یو څه قوي وم ګرځېدم را ګرځېدم او په لمانځه کښې مې ګډون کاوه خو زما سره به هیچا خبرې نه کولې. د نبي ﷺ مجلس ته به ولاړم سلام به مې واچوی او په ډېره غور به مې د نبي ﷺ و شونډانو ته کتل چې ذ جواب لپاره شونډان ښورې که یا دلمانځه وروسته به نبي ﷺ ته نژدې ودرېدم پاته لمونځ به مې کاوه او نبي ﷺ ته به مې پټ- پټ کتل چې هغه مبارک ماته ګورې که یا کله چې به زه په لمانځه مشغول سوم نو نبي ﷺ به ماته کتل او کله چې به زه نبي ﷺ متوجه سوم هغه به زما څخه مخ واړوی او اعراض به یې وکړی په همدې ترتیب مسلمانانو زما سره ګذاره کول آخر پر ما کړې تنګه سوه او پرما د مسلمانانو خبرې نه کول ډېر درونـد تمام سو یوه ورځ د ابوقتار رضی الله عنه پر دېواله وختم

ابو قتارﷺ په قرابت کې زما د اکا زوی و او زما سره يې ډيري اړيکي درلودې نو سلام مې ورته وواېه ابو قتارﷺ جواب نه راکړی بيا مې دوهم ځل سلام ورته وواېه بيا يې جواب نه راکړي دريم ځل مې بيا سلام ورته وواېه ده مبارک راته وويل: اللهﷻ او دغه رسولﷺ ښه پوهيږي ددې خبري په اوريدو سره مې د سترګو څخه اوښکي رواني سوې او بېرته ولاړم د څو ورځو د تيريدو وروسته د مدينې بازار ته ولاړم که مې کتل يو عيسايي قبطي د غلي خرڅولو لپاره راغلي دئ او د کعبﷺ په نامه پوښتنه کوي مسلمانانو زما و خواته اشاره وکړه نو موړي عيسايي زما و خواته راغلی او د شام د پاچا غسان خط يې ماته راکړی په خط کې ليکلي وه: مونږ خبرسوی يو چي ستاسو پيغمبر پر تا ظلم کړی دئ اللهﷻ به دې دذلت څخه وساتي ته زما و خواته راسه موږ به دې مرسته او ملاتړ وکړو (داددنيا قانون دئ چي مشر دکشرانو دادب او تربيې لپاره کشرانو ته زورونه ورکوي نو مخالف څوک يې کوشش کوي ترڅو بلي خواته يې ولمسوي او تربيه يې ضايع کړي آخريې خير خوا جوړ سي) کعبﷺ فرمايي: ماچي خط ولوستئ (اِنا لله) مې وويل چي زما حالت اوس ترداسي اندازې رارسيدلی دئ چي کافر اوس زما طمعه کوي او زما داسلام څخه د اوښتلو پلانونه جوړوي.
داخو زه په يو بل غم اخته سوم خط مې راواخيستی يو تنور ته مې واچوی وروسته رسول اللهﷺ ته را غلم او عرض مې ورته وکړی چي اې د اللهﷻ رسوله! ددا اعراض او خوابديا له وجهي زما دغه حالت دئ چي اوس کافران وماته طعمه کوي په دغه وخت کې څلوېښت ورځي پوره سوي وې چي د نبيﷺ قاصد راغلی او ماته يې وويل: چي خپله ښځه د ځان څخه جلا کړه ما ورته وويل: ايازه خپله ښځه طلاقه کړم؟ هغه راته وويل: يا بلکي بيلتون غوره کړه ما خپلي ښځي ته وويل: چي د پلار کره ولاړه سه تر هغه وخته پوري چي زما په اړه اللهﷻ فيصله کوي همدا ډول زما دوو ملګرو ته هم د يو قاصد په واسطه د رسولﷺ پيغام ورسول سو د هلال بن اميهﷺ ميرمن و رسول اللهﷺ ته حاضره سوه او خواست يې ځني وکړی چي هلال سپين ږيری دئ که زه ولاړه سم نو دده د خدمت څوک به نه وي که يې د حال او احوال معلومولو لپاره څوک نه وي نو هلال به مړ سي رسول اللهﷺ ورته وفرمايل: پروانه کوي مګر پام کوه چي کوروالی ونه کړئ ښځي ورته وويل: چي هغه ددې نه دئ دا قصه چي پيښه سوې ده هغه په ژړا اخته دئ. کعبﷺ فرمايي: ما فکر وکړی که زما ميرمن د هلالﷺ د ميرمني په شان د رسول اللهﷺ څخه اجازه واخلي نو کيدای سي چي ماته هم اجازه راکړي بيا به مې فکر وکړی چي هغه خو سپين ږيری و زه خو ځوان يم ګوره چي ماته څه جواب راکړي نو دلاوري به مې نسوای کولای آخر داچي لس ورځي نوري تيري سوې چي زموږ سره چا خبري نه کولې

کافرانو چې طمعه وکړه پدې هیله چې دی په غصه کړي مګر ده دغصې پر ځای نو رهم پر
ځپلو کړو پښېماني وکړه او دایې هم دالله ﷻ او دهغه د رسول ﷺ ناراضي وګڼله چې زما دین
دومره کمزوري درجې ته رسېدلی دئ چې اوس کافران طمعه راته کوي چې ددینه څخه مي
بې دینه کړي.

موږ مسلمانان یو داسلام ټول احکام زموږ په وړاندې پراته دي د هغو احکام څخه که
لمونځ را واخلو چې تر ایمان وروسته لوی مهم حکم دئ په موږ کې یې څومره خلګ کوي؟ او
کوم کسان چې یې کوي هغه یې په څه ډول کوي زکوة او حج خو لا ایسته کښېږده ځکه په هغه
کې خو مال مصرفیږي.

۱۰- داصحابو کرامو په خندا د نبي ﷺ خبر تیا او د قبر یاد

نبي کریم ﷺ یوه ورځ مسجد ته تشریف راوړی یوه ډله خلګ یې ولیدل چې خاندي او
دخندا په وجه یې غاښونه سپین معلومېدل رسول الله ﷺ ورته و فرمایل: مرګ ډېر یادوئ که
تاسو مرګ ډېر - ډېر یاد کړئ نو کوم حالت چې زه وینم (یعني خندا) به بیا نه پیدا کیږي پر قبر
هیڅ داسي شپه نه تېریږي مګر قبر اوازونه کوي چې زه دیوازي والي کور یم، زه د خاورو کور
یم، زه د نابودۍ کور یم او زه د چینجیو کور یم کله چې پاک مؤمن په قبر کې کښېښودل سي
نو قبر ورته وایي ستا راتله دي مبارک وي ښه دي وکړه چې راغلې څومره انسانان چې پر
مځکه باندي ګرځېدل په هغو ټولو کې ته وماته ډېر خوښ وې نو اوس به زما ښه سلوک
ووینې وروسته نو چې دمړي د سترګو دید تر کومه ځایه رسیږي په هغه اندازه قبر ورته پراخ
سي او دجنت څخه یوه دروازه ورته خلاصه سي چې د جنت خوشبویي او ښه هوا ورته راځي.
کله چې یو بدعمله سړی په قبر کې کښېښودل سي نو قبر ورته ووایي ستا دراتلو دي مبارکي
نه وي بد دي وکړه چې راغلې پر مځکه چې څومره انسانان ګرځېده په ټولو کې مې ستا څخه
بد راتله نن چې ته ماته و سپارل سوې نو زما معامله به ووینې ددې څخه وروسته قبر پر
راتنګ سي دغه کس کښېکاږي تر داسي اندازې چې پښتۍ یې سره تیري سي بیا اویا اژدها
مارونه پر ده باندي مقرر سي که چیري یو مار پر دنیا باندي یو ځل پو کړي نو د زهرو له امله به
د مځکي پر مخ یو وابنه هم نه سي پاته دغه ماران به نو موړي سړی تر قیامته پوري چیچي

ددې خبرې څخه وروسته رسول ﷺ و فرمایل: قبر یا د جنت یو باغ دئ او یا د دوزخ یوه کنده ده.(۱)

فایده: د الله ﷻ څخه وېره زیاته مهمه او اړینه خبره ده همدا وجه وه چې رسول الله ﷺ به هر وخت د الله ﷻ څخه دویرې په زیات فکر کې و.

مرګ یادول د انسان لپاره زیات ګټور دئ ځکه نبي ﷺ پورتنۍ نسخه وښوده چې د انسان لپاره مرګ یادول زیات اړین او ګټور دئ (یعني همدا د مرګ یاد دئ چې انسان دناوړو کارونو څخه ژغوري).

۱۱- حضرت حنظله رضي الله عنه د نفاق وېره

حضرت حنظله رضي الله عنه فرمایي: یوه ورځ موږ د رسول الله ﷺ په مجلس کې ناست وو چې رسول الله ﷺ وعظ وکړې داسې وعظ و چې زړونه په نرم سوه او د سترګو څخه اوښکې و بهېدې او خپل حقیقت موږ ته ښکاره سوه ، حنظله رضي الله عنه فرمایي: کله چې زه د رسول الله ﷺ د مجلس څخه راولاړ سوم کورته ولاړم ښځه او اولادونه مې راته راغله د دنیا خبرې شروع سوې د اولادو سره مې د خوښۍ او خندا خبرې شروع کړې د ښځې سره ټوکې او خنداکول شروع سوه هغه حالت ولاړې چې ماد رسول الله ﷺ په مجلس کې زړل دستې فکر راسره پیدا سو چې ته خو منافق سوی یې یوازې د رسول الله ﷺ په مجلس کې داسې یې کورته چې راغلې دستې دې حالت بدل سو په دغه فکر ډېر افسوس راته راغلی او ډېر غمجن سوم دستې د کور څخه راووتلم او دا مې وویل چې حنظله خو منافق سو مخامخ حضرت ابوبکر رضي الله عنه په مخه راغلی ده مبارک ته مې وویل: چې حنظله خو منافق سو ابوبکر رضي الله عنه راته وویل: سبحان الله هیڅ کله نه، ما خپله قصه ورته بیان کړه چې موږ خو دنبي ﷺ په مجلس کې ناست یو نبي ﷺ د دوزخ او جنت بیان کوی موږ داسې سو چې ګویا دغه دواړه زموږ په مخ کې دي کله چې موږ کورته راسو نو د اولادو، ښځې او مال په غم کې سو دنبي ﷺ د مبارک مجلس خبرې ټولې راڅخه ولاړې سي حضرت ابوبکر رضي الله عنه و فرمایل: چې دا خبره خو ماته هم پېښېږي. نو ددې خبرې لپاره دواړه دنبي ﷺ حضور ته حاضر سوه حنظلة رضي الله عنه و نبي ﷺ ته وویل: اې د الله ﷻ رسوله! زه خو منافق سوم نبي ﷺ ورته و فرمایل: څه پېښه سوه چې منافق سوې حنظلة

(۱) (مشکوة)

ﷺ وویل: یا رسول الله ﷺ! کله چې موږ ستا په مجلس کې ناست یو نو ته د دوزخ او جنت بیان راته کوې موږ داسې سو چې ګویا جنت او دوزخ زموږ په مخ کې دئ او کله چې کورته ولاړسو نو د اولادو، کور او ښځې په غمو اخته سو ستا بیان مو د ذهن څخه ووزي رسول الله ﷺ و فرمایل: که چیرې هغه وخت تاسو داسې یاست لکه زما په مخکې چې یاست نو زما دې قسم په هغه ذات وي چې زما روح دده په قدرت کې دئ چې ملائکې به پر لارو او بستر ستاسو سره لاس په لاس وي اې حنظله! خبره داده. کله کله کله.(۱)

فایده: دانسان سره انساني اړتیاوې مل وي نو د هغه پوره کول هم ضروري دي لکه خوړل، چیښل، ښځه، اولادونه او ددوی د حال پوښتنه دا هم ضروري شیان دي په دې وجه پورتنی حالت کله کله منځته راځي او هر وخت نه راځي او نه یې امید کول په کار دئ ټول عمر په داسې حالت کې پاتېدل د ملائکو شان دي ځکه دا شان دهغوی سره مل وي څرنګه چې انسان دانساني اړتیاوو سره لاس او ګرېوان دئ نو ټول عمر په یوه حالت کې نه سي پاتېدلای خو دا خبره ضروري ده چې د اصحابو په پاک ژوند کې ژوړ فکر وکړو چې هغوی به د نبي ﷺ د مجلس څخه د ولاړېدو وروسته لږ فکر بدل سو نو بیا به یې هم دا ویل چې منافق سوم او د منافق کېدو ویره به ورسره وه (لکه چې وایي-عشق است هزار بد ګمانی) یعني عشق دئ او زر بد ګمانۍ دي، د کوم چاسره چې عشق وي نو زر بد ګمانۍ ورته پیدا سي. د مثال په ډول که د چا د خپل زوی سره مینه وي او هغه یو ځای په سفر ولاړ سي نو هر وخت د زوی د خیر او خیریت په فکر کې وي او که خبر سي چې په هغه ځای د طاعون مرض ګډ سوی دئ یا کوم بل فساد پېښ سوی دئ نو خدای خبر چې څومره خطونه به ورته لیږي؟

تکمیل

د الله ﷻ څخه د ویرې بېل حالات

د قرآن کریم په آیاتونو، حدیثونو او د اولیآؤ په واقعاتو کښې چې څومره د الله ﷻ دوېرې اړونده شیان سته د هغه ټولو یو ځای کول خو ګران کار دئ خو دومرې په کار ده چې سړی ځان پوه کړي چې ددین د کمال هره ځینه د الله ﷻ څخه ویره ده. حضرت عبد الله بن عمر

---

(۱) (احیاء، مسلم)

ﷺ دومري زيات ژړل چي په ژړا - ژړا کي به يې سترګي خرابي سوې يوه ورځ يو چا وليدئ دده ژړا ته حيران سو ده مبارک ورته وويل ته زما و ژاړ ته حيران يې؟ دالله ﷻ د ويري څخه لمر ژاړي. په يو بله قصه کي راغلي دي چي ده مبارک ورته وويل: چي د الله ﷻ دوېري څخه سپوږمۍ ژاړي. يو ځوان صحابي قرآنکريم تلاوت کاوه رسول الله ﷺ تېرېدئ کله چي صحابي ودغه ځای ته راورسېدئ :

فَإِذَا ٱنشَقَّتِ ٱلسَّمَآءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً كَٱلدِّهَانِ ﴿٣٧﴾ (١)

نو د بدن وربښتان يې شک، شک ودرېده او په ژړا - ژړا په سلګو سو او وې ويل: آه کومه ورځ چي اسمان وچوي يعني قيامت سي زما به څه حال وي. های ! زه به برباد يم. رول ﷺ ورته وويل: ستا ددې ژړا له امله ملائکي هم په ژړا سوې. يو انصاري ﷺ د تهجد لمونځ وکړی بيا کښېناستی ډېرېې و ژړل او وې ويل: و الله ﷻ ته ددوزخ څخه فرياد کوم. رسول الله ﷺ ورته وويل تا نن ملائکي وژړولې.

عبد بن رواحة ﷺ يو صحابي دئ ډېرېې ژړل دده مبارک ښځي چي دی په داسي حالت کي وليدئ نو داهم په ژړا سوه عبد الله بن رواحة ﷺ پوښتنه ځني وکړه چي ولي ژاړې؟ دې ورته وويل ته پر څشي ژاړې؟ ده مبارک ورته وويل زه خو پردې په ژړايم چي پر دوزخ باندي تېرېدل سته ګوره چي زه به خلاص سم او که به هلته پاته سم (٢)

زراره بن اوفي رحمه الله په يو مسجد کي لمونځ ورکاوه کله چي دې ځای ته راورسېدئ :

فَإِذَا نُقِرَ فِي ٱلنَّاقُورِ ﴿٨﴾ (٣)

نو ژر پرېوتی او وفات سو خلقو را پورته کړی او کورته يې يو وړی.

حضرت خليد رحمه الله يو وخت لمونځ کاوه کله چي لاندېني آيات ته راورسېدئ :

كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِ ۗ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ ۖ فَمَن زُحْزِحَ عَنِ ٱلنَّارِ وَأُدْخِلَ ٱلْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ ۗ وَمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَآ إِلَّا مَتَـٰعُ ٱلْغُرُورِ ﴿١٨٥﴾ (٤)

---

(١) سورة رحمان الاية (٣٧)

(٢) (قيام اليل)

(٣) سورة المدثر الا ية ٨

(٤) سورة ال عمران الاية (١٨٥)

نو دغه آيات يې په تکرار سره وو ايه ديوه کونج څخه نا ببره بږغ وسو چي تر څو به دغه آيات وايي ؟ ستا په بيا بيا ويلو سره څلور پېرانان مړه سوه.

د يو بزرګ قصه يې ليکلې ده چي قرآنکريم يې وايه کله چي دې ځای ته راورسېدئ :

وَرُدُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ مَوۡلَىٰهُمُ ٱلۡحَقِّۖ.(١)

نو يوه چيغه يې و کښل و تپېدئ وفات سو نور هم ددې ډول څخه ډېرو واقعات پېښ سوي دي.

حضرت فضيل رحمة الله عليه يو مشهور بزرګ دئ فرمايي : چي د الله ﷻ څخه وېره سړی ته د هر لوري څخه خير ښيي.

د حضرت شبلي رحمة الله عليه نوم تولو اورېدلی دئ ، دی مبارک فرمايي : د هغه وخت څخه چي زه د الله ﷻ څخه وېرېدلی يم ماته داسي د حکمت او عبرت دروازه خلاصه سوې ده چي ددې څخه مخکي هيڅ وخت نه وه خلاصه سوې.

په يوه حديث شريف کي راغلي دي چي الله ﷻ فرمايي : زه پر خپلو بندګانو دوې وېري نه جمعه کوم او نه دوې بې فکرۍ پرې راولم کوم څوک چي په دنيا کي بې فکره سي نو په آخرت کي يې وېروم او که په دنيا کي زما څخه وو ېرېدئ نو په آخرت کي يې بې فکري ورکوم يعني دافکر به نه وي ورسره چي دوزخ ته به ولاړ سم.

د رسول الله ﷺ څخه روايت دئ : څوک چي د الله ﷻ څخه وويرېږي د هغه څخه به هر شی ويرېږي او که څوک د الله ﷻ پرته د بل چا څخه وويرېږي نو هغه به د هر شی څخه ويرېږي.

يحيي بن معاذ رحمة الله عليه فرمايي : که څوک د الله ﷻ څخه دومري ووېرېږي لکه د مسکنت څخه چي ويرېږي نو برابر به جنت ته ولاړ سي.

ابو سلمان دراني رحمة الله عليه فرمايي : د کوم زړه څخه چي د الله ﷻ وېره ولاړه سي هغه برباد سو.

رسول الله ﷺ فرمايي : د کومي سترګي څخه چي د الله ﷻ د وېري اوښکه توی سي که څه هم د مچ تر سر کوچنۍ وي او پر مخ يې پرېوزي نو الله ﷻ به پر ده باندي د دوزخ اور حرام کړي.

رسول الله ﷺ فرمايي : کوم زړه چي د الله ﷻ د وېري څخه ورپيېږي د ده ګناهونه داسي رژيږي لکه د درختي څخه چي پاڼې رژيږي.

---

(١) سورة يونس الاية ٣٠

دنبي ﷺ څخه په يو بل روايت کي راغلي دي : څوک چي دالله ﷻ د وېري څخه وژاړي دهغه کس دوزخ ته تلل داسي مشکل دئ لکه شيدې چي د تيو څخه راووزي بيا يې بېرته په تيو ننوتل مشکل وي.

حضرت عقبه بن عامر ﷺ د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي د خلاصون لاره کومه ده؟ رسول الله ﷺ ورته و فرمايل: خپله ژبه ترګورت لاندي راوله (يعني قابو يې کړه) په کور کي کښېنه او پر خپلو ګناهونو ژاړه.

حضرت عائشې رضي الله عنها يوه ورځ د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي ايا ستا په امت کي داسي څوک سته چي بې حسابه او بې کتابه جنت ته ولاړ سي؟ رسول الله ﷺ ورته و فرمايل: هو! سته هغه څوک دئ چي خپل ګناهونه يادومي او ژاړي.

زما د آقا ﷺ يو بل روايت دئ چي فرمايي: والله ﷻ ته دوه څاڅکي ډېر خوښ دي يو د اوښکي څاڅکی دئ چي دالله ﷻ د وېري څخه توی سي دوهم د وينو څاڅکی دئ چي د الله ﷻ په لاره کي توی سي.

په بل روايت کي راغلي دي چي اوه کسان به د عرش تر سيوري لاندي ناست وي يو هغه کس دئ چي په يوازي والي کي يې د الله ﷻ د وېري څخه اوښکي تويېږي.

حضرت ابوبکر ﷺ فرمايي: چاته چي ژړا ورځي ودي ژاړي که ژړا نه ورځي نو د ژړا چم دي وکړي.

محمد بن منکدر رحمة الله عليه چي به کله ژړل نو اوښکي به يې پر مخ او ږيره تويېدلې او ويل به يې چي ما ته دا روايت رارسېدلی دئ چي ددوزخ اور به وهغه ځای ته نه رسيږي چي په اوښکو لوند سوی وي.

د ثابت بناني رحمة الله عليه سترګي خوږ سوې يوه طبيب ورته وويل: د يوې خبري وعده وکړه سترګي به دي ښې سي هغه وعده داده چي مه ژاړه ده مبارک ورته وويل: په هغه سترګو کي خير نسته چي نه ژاړي.

يزيد بن ميسرة رحمة الله عليه فرمايي: ژړا د اوو شيانو څخه کيږي : ليو نتوب، خوشالي، رياکاري، درد، نشه، وېرېدل او د الله ﷻ د ويري څخه ، همدا ژړا چي د الله ﷻ د وېري څخه وي غوره ژړا ده چي په يوه اوښکه باندي د دوزخ د اور درياب مري.

کعب احبار رحمة الله عليه فرمايي: زما دي په هغه ذات قسم وي چي زما روح ده په قدرت کي دئ که زه د الله ﷻ د وېري څخه وژاړم او اوښکي مي د سترګو څخه توی سي دغه ژړا ماته تر هغه صدقې غوره ده چي د غره په شان سره زر صدقه کړم.

ددې څخه علاوه نور هم په زرګونو داسې ارشادات سته چې د اخبره ثابتوي چې د الله ﷻ په یاد کې او د خپلو ګناهونو په فکر کې ژړا کول کیمیا ده او ډېره اړینه او ګټوره ده.

یوه بله خبره هم ضروري ده هغه دا چې لکه څرنګه چې د الله ﷻ څخه سړی ویرېږي په دغه اندازه بلکې زیات به د الله ﷻ و رحمت ته امید کوي او د امید په کولو کې به کمی نه کوي ځکه د الله ﷻ د رحمت ساحه ډېره پراخه ده.

د حضرت عمر رضی الله عنه څخه روایت دئ، دی مبارک فرمایي: که په ورځ د قیامت اعلان وسي چې ټول خلګ جنت ته ځي یو کس به دوزخ ته ځي لا به هم زما دا وېره وي چې هغه کس خو به زه نه یم، او که داسې اعلان وسي چې ټول خلګ دوزخ ته ځي یو کس به جنت ته ځي لا به هم زما امید وي چې هغه کس به زه یم.

نو پکار ده چې وېره او امید بېل، بېل وګڼل سي او ځان په پوهه کړل سي دد واړو فکر کول پکار دي په ځانګړي ډول د مړیني پر مهال د امید فکر کول زیات پکار دئ.

د نبي ﷺ څخه روایت دئ چې فرمایي: په تاسو کې دې څوک نه مري مګر په داسې حالت کې دې مړ سي چې الله ﷻ ته یې زیات امید وي.

امام احمد بن حنبل رحمه الله علیه چې کله وفات کېدئ نو خپل زوی یې راوغوښتی او ورته وې ویل چې ما ته داسې حدیثونه واوروه چې و الله ﷻ ته امید په زیاتیږي.

دریم باب

داصحابو کرامو رضي الله عنهم د پرهیزګارۍ او مسکنت بیان

د مسکنت په اړه خپله د رسول الله ﷺ عادت او دده مبارک واقعاتي پردې ښودنه کوي چې مسکنت رسول ﷺ په خپله اختیار کړی او خوښ یې و په دې اړه دومره ډېر حدیثونه په کتابو کې جمعه سوي دي چې د هغه نمونه بیانول هم ګران کار دئ.

رسول الله ﷺ فرمایي: فقر (مسکنت) د مؤمن تحفه ده.(۱)

۱- د نبي ﷺ لپاره د غرونو د سرو زرو جوړولو څخه د نبي ﷺ انکار

د رسول الله ﷺ څخه روایت دئ چې دی مبارک فرمایي: الله ﷻ ماته وویل چې ستا لپاره به غرونه د سرو زرو جوړ کړم ما ورته وویل: اې خدایه ﷻ! زما دا خوښه ده چې یوه ورځ به ماړه نس ډوډۍ وخورم او دوهمه ورځ وږی سم تاته زارۍ وکړم او تا یاد کړم چې کله موړ سم ستا شکر ادا کړم او ستا ستاینه وکړم.(۱)

فایده: تاسو فکر وکړی دا د هغه څا حال دئ چې موږ یې تل نوم یادو او د هغه په امتي کېدو باندې فخر کوو او دده مبارک هره خبره موږ ته پر سر او سترګو قبوله ده.

۲- د دنیا د ډېروالي پر غوښتلو باندې د عمر ؓ خبر تیا او د نبي ﷺ د ګوزارې حالت

رسول الله ﷺ یو وخت قسم اخستی و چې یوه میاشت به خپلو بیبیانو ته نه ورځي تر څو وځو ریږې او ځان ته یې یوه جلا کوټه انتخاب کړې وه په هغه کې اوسېدئ دا خبره په خلګو کې مشهوره سوه چې رسول الله ﷺ و ټولو بیبیانو ته طلاق ورکړی دئ حضرت عمر ؓ په دغه وخت کې په کور کي و چې دا خبر یې واورېدئ دستي په چټکۍ سره مسجد ته راغلی وې لیدل چې اصحاب کرام جلا، جلا ناست دي او د رسول الله ﷺ د خفګان په وجه ژاړې هلته بیبیګاني په خپلو کورو کښې ژاړې حضرت عمر ؓ خپلې لور حفصې ؓ ته ورغلی هغې هم په خپل کور کې ژړل عمر ؓ ورته وویل: ته اوس ژاړې ایا ماته نه وي وېرولې چې د رسول ﷺ د خفګان خبره ونه کړې بیا یې مسجد ته تشریف راوړی په مسجد کې د منبر سره یوه ډله خلګ ناست و ژړل یې دی هم هلته یو ګړی کښېناستی خو صبر یې ونه سو نو هغه ځای ته راغلي چې هلته رسول الله ﷺ نژدې و چې وې کتل یو مریی (غلام) حضرت رباح ؓ د کوټې په دروازه کې ناست دی پښې یې ځړانده کړې دي نو ددغه مریي په واسطه یې د رسول الله ﷺ څخه د ننوتلو اجازه و غوښته حضرت رباح ؓ چې رسول الله ﷺ ته راغلی او ورته وې ویل: عمر ؓ د راتلو اجازه غواړي رسول الله ﷺ چوپ سو رباح ؓ راغلی و عمر ؓ ته یې وویل: چې رسول الله ﷺ هیڅ اجازه نه راکړه عمر ؓ بیا د منبر سره کښېناستی بیا یې طاقت نه

---

(۱) (ترمذي)

و سو بیا راغلی د رسول الله ﷺ څخه یې اجازه و غوښته رسول الله ﷺ بیا چوپ سو د عمر ﷛ طاقت نه کېدئ دریم ځل یې بیا اجازه و غوښته حضرت رباح ﷛ په لوړ اواز وویل: اې عمره! رسول الله ﷺ تا ته د ننوتلو اجازه درکړه حضرت عمر ﷛ د رسول الله ﷺ و خدمت ته حاضر سو وې لیدل چې رسول الله ﷺ پر بوریا (چټایي) باندې ستوني ستخ پروت دئ او یو شی سرېېره باندې هوار دئ په بدن مبارک کې یې د بوریا نښې دورایه ښکارې تر سر یې د څرمنې یو بالښت لاندې دئ چې د خرما د درختو د خاشو څخه ډک دئ. عمر ﷛ وایي: ما رسول الله ﷺ ته سلام وواېه د سلام څخه وروسته مې د ستې و پوښتل: اې د الله ﷻ رسوله! تا و بیبیگانو ته طلاق ورکړی دئ ده مبارک راته وویل: یا، ما و رسول الله ﷺ ته په خوش طبعی وویل: اې د الله ﷻ رسوله! موږ قریشي خلک وو پر ښځو باندې برلاسي وو د انصارو نارینه پر خپلو ښځو باندې برلاسي نه دي زموږ ښځو چې کله د انصارو ښځې و لیدې نو زموږ ښځو هم اثر څنې و اخیستی همدا ډول مې یو نیمه خبره نوره وکړه چې رسول الله ﷺ مسکی غوندې سو. عمر ﷛ زیاتوي ما چې د رسول الله ﷺ په کور کښې و کتل د کور ټول سامان یې درې نارنک سوې څرمنې او یو مټ وربشې وې نور چې مې هر څه شا وخوا وکتل هیڅ شی په سترگو نه راغلی زه په ژړا سوم رسول الله ﷺ راته وویل: ولې ژاړې؟ ماورته وویل ولې به نه ژاړم ستا په وجود مبارک کې د بوریا نښې معلومېږي او د کور ټول سامان دې دادئ چې زما په مخ کې پروت دئ بیا مې ورته وویل: اې د الله ﷻ رسوله ﷺ! ته دعا وکړه چې ستا په امت کې د پیسو او شتمنې پراخې راسي د روم او پاریس خلک گوره چې د الله ﷻ د نه عبادت او بې د ینې سره دومره شتمن دي، قیصر او کسرا د ویالو او باغونو په منځ کې دي ته خو د الله ﷻ افضل بنده یې دغه حال دې دئ. رسول الله ﷺ څنگ وهلی و پدغه وخت کې کښېناستی او وې فرمایل: اې عمره! ته لا تر اوسه په شک کې پروت یې د آخرت نعمتونه او شتمنې تر دنیا غوره دي کافرانو ته په دې دنیا کې نعمتونه او ښه ژوند رسېږي موږ ته په آخرت کې نعمتونه او ښه ژوند رسېږي. عمر ﷛ وویل: اې د الله ﷻ رسوله! زما لپاره بخښنه و غواړه ما په دې خبره کې غلطي وکړه.(۱)

فایده: دا ددین او د دنیا د پاچا او د الله ﷻ د نازولي حضرت محمد ﷺ کړنلاره وه چې په بدن مبارک کې یې د بوریا نښې ښکارېدې او د کور ساز او سامان یې هم معلوم سو تاسو ولیدئ چې یو چا ښه ژوند غوښتنه وکړه ده مبارک دستې خبرتیا ورکړه.

---

(۱) (فتح الباري)

د حضرت عایشې رضي الله عنها څخه یو چا پوښتنه وکړه چې ستا په کور کې د رسول الله ﷺ بستره څنګه وه؟ دې مبارکې و فرمایل: یوه څرمنه وه چې د خرما د درختې د خاشو څخه ډکه وه.

د حفصې رضي الله عنها څخه هم چا پوښتنه وکړه چې د رسول الله ﷺ بستره څنګه وه؟ دې مبارکې ورته و فرمایل: دګونې ټوکرو رسول الله ﷺ به و غوړاوه بیا به پر پرې واتی دا مبارکه وایي: یوه ورځ مي دغه ټوکر څلور غبرګه کړی چې یو څه پوست (نرم) سي سهار رسول الله ﷺ راته وویل: ماښام دي څشي غوړولی و؟ ما ورته وویل: هغه ټوکر مي څلور غبرګه کړی و. رسول الله ﷺ راته وویل بېرته یې هغسې کړه لکه پخوا چې و ځکه د شپې د پورته کېدو څخه منعه کونکې جوړېږي.(۱)

موږ ته وګوره چې پر نرمو پستو ګوربچو او فرشونو باندې بیدېږو الله جل جلاله څو مره پراخي راکړې ده موږ د دې پر ځای چې د الله جل جلاله شکر وکاږو د ناداری ناري وهو.

۳- حضرت ابوهریرة رضي الله عنه د لوږې په حالت

حضرت ابوهریرة رضي الله عنه یو ځلي په بوسکي پزه پاکه کړه بیا یې ځان ته وویل: څه به وایي اې ابوهریرة! نن خو به بوسکي پزه پاکوې هغه وخت دې هېر دئ چې د نبي ﷺ د منبر او کوټې تر منځ به د لوږې څخه بې هوښه پروت وې خلګو به لیونی ګڼلې او پښه به یې پر څټ درکښېښودل او حال دا چې لیونتوب نه و بلکې لوږه وه.

فایده: یعني ابوهریرة رضي الله عنه به څو ورځې په نهاره تېرولې بیخي زیات به وږی وآن تر دې چې بې هوښه به سو خلګو به فکر کاوه چې لیونی سوی دئ. ویل سوي دي: چې د هغه وخت دا دود و چې څوک به لیونی سو نو دوی به پر څټ پښه ورایښودله دا د دوی علاج (درملنه) وه حضرت ابوهریرة رضي الله عنه په خلګو کې زیات صابر او عابد انسان و ورځې، ورځې به یې په نهاره باندې تېرولې.

د نبي ﷺ د څخه وروسته الله جل جلاله فتوحات مسلمانانو ته ور په برخه کړه شتمني راغلې خو ددې سره ـ سره بیا هم ابوهریرة رضي الله عنه لوی عابد و یوه کڅوړه به ورسره وه د خرما د مندکو څخه به یې ډکه کړه تسبیح به یې پرې ویلې کله چې به خالي سوه نو مینځې به بیا ورډکه کړه او ورته

---

(۱): شمائل

کښېښنودل به يې دا دده مبارک عادت و چې شپه به يې درې حصې کړې وه ده، دده ښځې او خادم به يې په وار سره عبادت پکښې کاوه (يعني يوه حصه به ده عبادت کاوه يوه حصه به يې ښځې عبادت کاوه او يوه حصه به يې خادم عبادت کاوه).(۱)

ما د خپل پلار صاحب څخه اورېدلي دي چې زما د نيکه هم تقريباً د ابوهريرة ﷺ په څېر عادت وو پدې ډول چې اول به تريوې بجې پورې زما پلار په مطالعه اخته وو دوهم ځل به زما نيکه راپورته سو زما پلار به يې بيده کړی او خپله به يې د تهجد لمونځ وکړی دريم ځل به دسهار د لمانځه څخه درې پاوه مخکې زما اکا رحمه الله راپورته سو دتهجد لمونځ به يې وکړی زما نيکه به د سنت د اتباع په موخه ارام وکړي. اَللّٰهُم ارزُقنِي اِتبَاعَهُم

۴- د حضرت ابوبکر ﷺ د بيت المال څخه عايشه (خوراکه)

حضرت ابوبکر صديق ﷺ د ټوکرانو تجارت کاوه او ددې لارې يې د خپل کور ګزاره کوله - کله چې خليفه سو نو ددود مطابق يې څو پټوان پر لاس واچول او د خرڅولو لپاره يې بازار ته تشريف يووړی حضرت عمر ﷺ په مخه ورغلی پوښتنه يې ځني وکړه چې کومې خواته ځې؟ ده مبارک ورته وويل چې بازار ته ځم عمر ﷺ ورته وويل: که چيري ته په تجارت اخته سې نو د خلافت کار به څنګه کيږي؟ ابوبکر ﷺ ورته وويل چې اولادو ته خوراکه د کومې لارې برابره کړم عمر ﷺ ورته وويل چې ابو عبيده ﷺ ته رسول الله ﷺ د امانت ساتونکی لقب ورکړی دی هغه ته به ورسو چې ستا لپاره د بيت المال څخه يو شی مقرر کړي دوی مبارکان و ابو عبيده ﷺ ته ورغله ابو عبيده ﷺ و ابوبکر ﷺ ته دومره معاش مقرر کړی چې په اوسط ډول يې يو مهاجر ته مقرر کړی و يعني تر دغه نه زيات او نه کم وو.

يو ورځ د ابوبکر ﷺ بي بي دده مبارک څخه غوښتنه وکړه چې يو خواږه شی ته مې زړه کيږي ابوبکر ﷺ په جواب کي ورته وويل: زما سره خو پيسې نسته چې دا شی درته رانيسم؟ بي بي ورته وويل: چې زه به د هري ورځي د خوراک څخه لږ - لږ بچت کوم څو ورځي وروسته به دومره پيسې سي چې زه هغه شی په واخلم ده مبارک اجازه ورکړه بي بي مبارکي په څو ورځو کي يو اندازه پيسې سره يو ځای کړې حضرت ابوبکر ﷺ ورته وفرمايل: د تجربې څخه دا معلومه سوه چې دومره پيسې چې تا بچت کړی دي دا مونږ ته د بيت المال څخه

---

(۱) (تذکرة الحافظ)

زياتي راكول كېدي (ځكه موږ په بيت المال كي دومره حق لرو چي ګزاره په وكړو نو تاچي دومره پيسې بچت كړې ددې څخه معلومه سوه چي ته په پاته پيسو ګذاره كولاى سې) نو ده مبارك هغه پيسې چي بي بي جمع كړي وي هغه يې بيرته بيت المال ته وسپارلې او په راتلونكي كي يې د خپلي تنخواه څخه دومره پيسې كمي كړي چي بي بي جمع كړي وې.

فايده: دومره لوى خليفه چي لومړى يې خپل تجارت كاوه او دده داړتياوو لپاره يې بسنه كول لكه څرنګه چي دده داعلان څخه هم معلوميږي او هغه روايت يې هم تائيد كوي كوم چي په بخاري شريف كي د عايشې ؓ په روايت كي راغلى دئ :كله چي ابوبكر ؓ خليفه جوړ سو نو وې فرمايل: چي زما قوم ته دا خبره معلومه ده چي زما كارو بار تجارت و او زما د اولادو لپاره يې بسنه كول خو اوس د خلافت په وجه د مسلمانانو په چوپړ كي مشغولتيا ده اوس زما لپاره د بيت المال څخه يو څه مقررېږي چي زما د اولادو لپاره بسنه وكړي. ددې سره سره كله چي دى وفات كي دئ وعايشې ؓ ته يې وصيت وكړ: چي زما په كور كي كه د بيت المال څخه يو شى وهغه و نوى خليفه ته وسپاره. حضرت انس ؓ فرمايي: دابوبكر ؓ د وفات څخه وروسته دده مبارك د كورنۍ سره پيسي نه وې مګر يوه د شېدو اوښه، يوه پياله او يو خادم و په ځينو رواياتو كي تلتك اويوه كمبله هم راغلې ده كله چي عمر ؓ خليفه سو نو دغه شيان ورته و سپارل سوه ده مبارك وويل: الله ﷻ دي پر ابوبكر ؓ رحم وكړي خپل پاته اولادونه يې په سختى كي پرېښودل.(۱)

۵- د حضرت عمر ؓ د بيت المال څخه تنخوا (عايشه)

حضر عمر ؓ هم تجارت كاوه كله چي خليفه مقرر سو نو دبيت المال څخه په دې ډول تنخوا ورته مقرر سوه چي ده ټول خلګ راټول كړه او پوښتنه يې ځني وكړه چي تاسو ته معلومه ده چي ما تجارت كاوه اوس چي تاسو په دې كار اخته كړم نو زما د ګزارې ذريعه به څشي وي؟ خلګو بيلي ، بيلي اندازې دده دتنخوا لپاره وښودلې حضرت علي كرم الله وجهه چوپ ناست و ده مبارك پوښتنه ځني وكړه چي تاسو څه نظر لرئ؟ حضرت علي كرم الله وجهه وفرمايل: زما په آند چي منځنۍ تنخوا مقرره سي ښه به وي چي ستا او ستا داولادو لپاره كافي وي حضرت عمر ؓ هم دغه نظر خوښ كړى او دده لپاره منځنۍ عايشه (تنخوا) مقرره

---

(۱) فتح الباري

سو. ددې مجلس څخه وروسته په یوه مجلس کې چې حضرت علي ﷺ، حضرت عثمان ﷺ، حضرت زبیر ﷺ او حضرت طلحة ﷺ هم یکښې موجود وه د حضرت عمر ﷺ د تنخوا خبره راغله دوی وویل: چې د عمر ﷺ تنخوا باید زیاته سي ځکه هغه په یوه تنګ حالت کې ژوند تېروي مګر ددې همت خو چا نسوای کولای چې عمر ﷺ ته ووایي چې ستا تنخوا دې زیاته سي نو دوی حفصة رضي الله عنها را وغوښتل چې د رسول الله ﷺ بي بي هم وه او د عمر ﷺ لور هم وه و حفصې رضي الله عنها ته یې وویل: چې ته و عمر ﷺ ته دا خبره وکړه او زموږ نومان تر هغه وخته مه ورښیه چې دده نظر نه وي درته معلوم سوی حضرت حفصة رضي الله عنها د عمر ﷺ په خدمت کې حاضره سوه او ددوی خبره یې ورته وکړه د حضرت عمر ﷺ په مخ کښې د غصې او درد نښې ښکاره سوې او بیا یې ددې څخه ددغه کسانو د نومونو پوښتنه وکړه حضرت حفصې رضي الله عنها ورته وویل: چې لومړی ستاسو نظر راته معلوم سي بیا به یې نومونه درته وښیم حضرت عمر ﷺ ورته وویل که ماته ددوی نومان معلوم سي نو مخونه به یې وربدل کړم یعني دومړي سزاوي به ورکړم چې په مخو کښې به یې نښې معلومې سي بیا یې ورته وویل: اي حفصې! درسول الله ﷺ تر ټولو ښه جامه ستا په کور کښې څه شي وه؟ حفصې رضي الله عنها ورته وویل: دوې ګیردې رنګه جامې وې چې رسول الله ﷺ به د جمعې په شپه یا ورځ او یا به یوه ډله خلک راتله ده مبارک به اغوستې بیا یې پوښتنه ځنې وکړه چې رسول الله ﷺ تر ټولو ښه خوراک کوم خوراک کړی دئ؟ دې مبارکې وویل: چې زموږ خوراک د اوربشو ډوډۍ وه یوه ورځ مو د غوړو د تېم لاندې پاته سوې برخه پر ډوډۍ ومږله نو نبي ﷺ په خپله په ښه خوند سره وخوړله او په نورو یې هم وخوړله بیا عمر ﷺ پوښتنه وکړه چې ستا په کور کې د نبي ﷺ ښه بستره څنګه وه؟ حفصې رضي الله عنها ورته وویل یو غټ ټوکر و چې رسول الله ﷺ به په ګرمۍ کښې غبرګ هوار اوه او په ژمي کښې به یې نیمه خوا لاندې او نیمه خوا به یې سر بېره پر ځان واچول.

عمر ﷺ وویل: اي حفصې! هغو خلګو ته دا خبره ورسوه چې نبي ﷺ خپل طرز العمل یوه اندازه مقرر کړی و او د آخرت په امید یې بس والی کړی و زه به هم د رسول الله ﷺ تابعداري کوم زما او زما ددوو ملګرو یعني رسول الله ﷺ او حضرت ابوبکر ﷺ مثال داسې دئ لکه درې ملګري چې پر یوه لاره روان وي لومړی یو کس د ځان سره توښه واخلي او مقصد ته ورسیږي بیا دوهم کس دهغه اول ملګري تابعداري وکړي او ورپسې ورسیږي بیا دریم کس

تلل شروع کړي او س نو که زه ددوی پر لاره ولاړ سم نو ددوی سره به یو ځای سم او که مې لاره بدله کړه نو هیڅ کله به ددوی سره یو ځای نسم. (۱)

فایده: داده هغه سړی دژوندانه حال دئ چي ددنیا پاچهان به ځني وېرېدل او رپېدل څومره زاهدانه او سپېڅلي ژوند یې کاوه.

یوه ورځ یې خطبه ویل لونګ یې ددوولسو پینو څخه جوړ وو او یوه پینه د څرمني پکښې وه.

یوه ورځ په خطبه کي څه ځنډ والی راغلی کله چي دی راورسېدئ نو معذرت یې وغوښتی او وې ویل: زما څخه پر کالو مینځلو وخت تېر سو او ددې څخه پرته مې نور کالي نه درلوده.(۲)

یوه ورځ حضرت عمر ﷺ دوډۍ خوړله غلام (مریی) ورته راغلی او ورته وې ویل: چي عتبه بن ابي فرقد راغلی دئ ده مبارک د دننه راتلو اجازه ورکړه کله چي عتبه بن ابي فرقد راغلی نو عمر ﷺ د دوډۍ خوړلو ست ورته وکړی ده هم ډوډۍ خوړل پیل کړل هغه ډوډۍ داسي زیږه وه چي ده نسوای تېرولای نو عتبه بن ابي فرقد ورته وویل: چي تاسو ته د میده اوړو ډوډۍ هم رسېدلای سي عمر ﷺ وویل: ایا ټول مسلمانان د میده اوړو ډوډۍ خوري؟ عتبه بن ابي فرقد ورته وویل: یا ټوله یې نه خوري. عمر ﷺ ورته وویل: افسوس ته غواړي چي زه ددنیا خوند ونه په ژوند کي خلاص کړم.(۳)

ددې ډول څخه په سوونو نه، په زرګونو نه بلکي په سلهاوو زرونه د مبارکو اصحابو ﷺ پېښې سته.

ددوی مبارکانو تابعداري نه اوس کېدای او نه هر چا ته په کار ده ځکه قوتونه کم دي هر څوک یې نه سي پورته کولای همدا وجه ده چي زموږ د وخت د تصوفو بزرګانو دداسي تکلیفونو ایستلو اجازه نه ورکوي ځکه قوتونه تر پخوا کم دي هسي نه چي ضعف راسي. خو ددغه مبارکو انسانانو داتباع هیله کول ضروري ده او لږ تر لږه په استراحت کي یو څه کمي راولئ.

---

(۱) اشهر
(۲) اشهر
(۳) أسد الغابة

کښته او پورته وګورئ او د دې زمانې مطابق یو میانه ژوند اختیار کړئ بدبختانه زموږ خلګ د دنیا په خوندونو کې زیاتوب کوي او تر ځان وزیات مالداره او شتمن ته ګوري او په دې افسوس کې مري چې فلانکی سړی تر ما زیات مالدار دئ.

٦- د حضرت بلال ﷺ د نبي ﷺ لپاره دیو مشرک څخه قرض اخیستل

یو ملګري د حضرت بلال ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې د رسول الله ﷺ د خوراک د خرڅ انتظام څنګه و؟ حضرت بلال ﷺ وویل: د رسول الله ﷺ سره خو پیسې نه وي خو دا خدمت ماته سپارل سوی و. کله چې به یو مسلمان وږی راغلی نو نبي ﷺ به ماته اشاره وکړه مابه یو ځای پور وکړی هغه ته به مې خوراک ورکړی یابه یو څوک لوڅ راغلی نبي ﷺ به ماته اشاره وکړه مابه یو ځای پور وکړی او هغه ته به مې جامې ورپیدا کړې د دې انتظام د چلېدو په لړ کې یوه ورځ یو کافر ماته راغلی او راته وې ویل: چې زه مالدار او شتمن یم که دې د پیسو اړتیا سوه د بل چا څخه پور مه اخله ماته راځه زه یې درکوم ما ورته وویل: تر دې خو ښه خبره نسته. نو کله چې به رسول الله ﷺ ماته امر وکړی ما به د هغه سړي څخه پور اخستي او د رسول الله ﷺ حکم به مې پوره کاوه. دی مبارک وايي یوه ورځ مې اذان وکړی او دس مې تازه کړی که مې کتل هغه کافر راغلی او ماته یې وویل: اې حبشي! زه ورته متوجه سوم زما د متوجه کېدو سره سم یې ښکنځل شروع کړه او بد او رد یې ویل بیا یې راته وویل: چې د میاشتې څلور ورځې پاته دي که دي په دغه څلورو ورځو کې زما ټول پور را راپوره نه کړی نو په بدل کې به تا بوزم او غلام به دي کړم د پخوا په څېر به حیوانان څروې بلال ﷺ وايي کافر دا خبره وکړه ولاړی ماټوله ورځ په غم او تکلیف تېره کړه هرڅنګه چې وه تېره سوه د ماخستن د لمانځه وروسته د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سوم او ټوله قصه مې ورته وکړه بیا مې ورته وویل: چې اې د الله ﷻ رسوله! اوس خو نه ستا سره څه شی سته او نه زما سره زه دستي یو کار کولای سم دغه سړی مې بې عزته کوي او شرموي مې نو که ستا اجازه وي زه به یو ځای پټ سم که چیري ستاسو سره یو څه شی پیدا سو بیا به حاضر سم د دې خبري سره سم راغلم توره، ډال او زغره مې را واخیستل ځکه دا زما د سفر سامان و او د سهار کېدو انتظار مې کاوه سهار نژدې و چې یو ملګری راغلی او راته وې ویل: ژر ورسه د رسول الله ﷺ پکار یې زه هم چابک راغلم که مې وکتل څلور اوښاني بار چوکي دي رسول الله ﷺ راته وویل: د خوشالۍ خبره درته کوم الله ﷻ ستا د پور انتظام وکړی دغه څلور بار اوښاني ستا په تصرف

کي دي رسول الله ﷺ زياته کړه دا د فدک رئيس ماته تحفه رالېږلې ده بلال ؓ وايي ما دالله ﷻ شکر ادا کړی او په خوشالی، خوشالی مي هغه واخيستي او ټول قرض مي په ادا کړی بېرته راغلم رسول الله ﷺ په مسجد کي انتظار کاوه زه ورغلم او ورتهومي ويل: اې دالله ﷻ رسوله! دالله ﷻ شکر دئ چي الله ﷻ د قرضو څخه ستا اوږې سپکي کړې او اوس هيڅ قرض نه دئ پاته نبي ﷺ وفرمايل: دهغه شيانو څخه څه شی پاته سو ما ورته وويل: بلي پاته سو رسول الله ﷺ راته وويل: ورسه هغه هم تقسيم کړه چي زه هو سا سم تر هغو زه د مسجد څخه نه ځم تر څو هغه مال تا نه وي تقسيم کړی ټوله ورځ تېره سو د ماخستن د لمانځه د ادايينې وروسته رسول الله ﷺ زما څخه پوښتنه وکړه چي هغه پاته مال تقسيم سو ما ورته وويل چي يا رسول الله ﷺ څه پاته دئ اړ سړي نه دئ راغلی بيا رسول الله ﷺ په مسجد کي ارام وکړئ. دوهمه ورځ ماخستن بيا نبي ﷺ وفرمايل: چي يو څه سته ما ورته وويل: چي الله ﷻ تاسو هوسا کړلاست ټوله مال خلاص سو.

فايده: دالله ﷻ د دوستانو دا غوښتنه وي چي ددوی په ملک کي هيڅ مال او سامان نوي پاته نو نبي ﷺ چي د ټولو نبيانو سردار دئ او دټولو اوليا او د سر تاج دئ نو ولي به د نه مال غوښتل نه کوي چي ددنيا څخه بيخي فارغه ولاړ سم.

ما په ټينګو ثابت سوو روايتو کي اورېدلي دي چي دحضرت مولانا شاه عبدالرحيم رائپوري (نورالله مرقده) عادت داو چي د نذرانو به څه پيسې جمعه سوې نو په پابندی به يې هغه پيسې راوغښتلې او ټولي به يې وويشلې دوفات کېدو څخه مخکي يې د خپلو اغوستلو جامې او نور شيان خپل خاص خادم حضرت مولانا شاه عبدالقادر صاحب ته ورکړه او ورته وې ويل چي زه به اوس ستا څخه دغه جامې په خواست تر لنده وخته پوري واخلم او ګټه به ځني اخلم او په مِلک کي به ستاوي.

د خپل پلار څخه مي ډېر اوريدلي دي چي څو زره قرضداره و او ويل به يې: چي داد جګړې شی زه د شپې د ځان سره نه ساتم ددې ډوله څخه د بزرګانو ډېري پيښې سته خو دا ضروري نه ده چي د هر بزرګ رنګ دي يو ډول وي بلکي د بزرګانو رنګونه بېل بېل دي او دچمن په ګلانو کښې د هر يو ګل شکل او خوی جلا ـ جلا وي.

۷- د حضرت ابو هريرة ﷺ په لوږه كي د مسئلې پوښتنه

حضرت ابو هريرة ﷺ فرمايي : تاسو زموږ هغه حالت ليدليدئ ؟ چي كله ـ كله به مونږ دومره خوراكه نه سوه پيدا كولاى چي خپله ملا پرې جگه كړو ما به دلوږي دوجهي ځخه ځيكر د ځمكي سره يو ځاى كړى او كله به مي نس پر ځمكه اچولى و او پروت به وم او كله به مي په نس پوري دبري تړلي وې يو واري زه پر هغه لاري باندي كښېنستم چي اصحاب كرام ﷺ به پر تېرېدل ، حضرت ابوبكر ﷺ تېر سو ما دده مبارك ځخه د ځينو خبرو پوښتنه كول شروع كړه فكر مي كاوه چي كورته به مي بوځي او بيا به مي د عادت مطابق ځه چي په كور كي موجود وي پر هغه به مي ميلمه كړي خو ده مبارك داسي نه وكړه شايد فكر يې بلي خواته تللي و يا دكور حال ورته معلوم و چي په كور كي هيڅ نسته ددې ځخه وروسته حضرت عمر ﷺ تشريف راوړى دده په راتگ سره هم هغسي حالات پېښ سول، بيا نبي ﷺ تشريف راوړى زه يې وليدم نو مسكى سو زما په حالات او مقصد پوه سو راته وې ويل: راځه زما سره ولاړ سه زه هم ورسره ولاړم نبي ﷺ كورته ننواتى ماهم د ننوتلو اجازه واخيسته او كورته ورننوتم په كور كښي يوه پياله دشېدو پرته وه د رسول ﷺ په خدمت كي يې كښېښوده ده مبارك پوښتنه وكړه چي دا شيدې د كومي خواسوى دي جواب وركړل سو چي د فلانكي ځاى ځخه تاسو ته هديه راغلې ده نبي ﷺ ماته وويل اې ابو هريرة ! ته ولاړ سه اهل صفه راوغواړه (اهل صفه د اسلام ميلمانه گڼل سوى دي چي نه به يې كور درلودئ او نه يې ځاى درلودئ او نه به يې د خوراك ځه انتظام وو او اهل صفه ځكه ورته ويل كېده چي صفه اصلا ديو سايوان نوم وو دوى تر هغه سايوان لاندي وه نو ځكه ورته اهل صفه ويل كېده) ددغه قصې په وخت كښي ددوى شمېر او يا تنه وو دنبي ﷺ عادت دا وو چي ددوى ځخه به يې دوه دوه يا ځلور ځلور ديو شتمن صحابي ميلمانه كول او خپله به يې هم داسي كول چي كله به صدقه راغله نو ټوله به يې دوى ته ورلېږل او خپله به يې گډون نه پكښي كاوه او كه به ده مبارك ته ديو ځاى ځخه هديه راغله ده مبارك به هم گډون پكښي كاوه يعني ورسره خوړل به يې ابو هريرة ﷺ وايي: كله چي رسول الله ﷺ ماته ددوى درابلني حكم وكړى په طبيعت كي خو مي نه وه خوښه ځكه شيدې ډېري لږ وي فكر مي كاوه كه ټوله راسي او شيدې وڅېښي نو اخر واري ماته را رسيږي نو په پياله كي به هيڅ شى نه وي مگر ماته د نبي ﷺ امر و دمنلو پرته بله چاره نه وه زه ولاړم ټوله مي راوسته نبي ﷺ راته وويل: چي دا پياله واخله او په دوى شيدې وڅيښه ما به يوه ـ يوه ته پياله

ورکول هغه به په ښه ماړه نس شیدې چیښلې او پیاله به یې بېرته ماته راکول په دغه ډول ټولو شیدې وچیښلې او ماړه سوه بیا نبي ﷺ پیاله په لاس کې واخیسته ماته یې وکتل او مسکی سو بیا یې و فرمایل: چې اوس خو زه او ته پاته سو ما ورته وویل: چې بېشکه داغسې ده، ده مبارک راته وویل: واخله وې چښه ما وچیښلې بیا یې راته وویل نوري وچښه ما نوري و چیښلې آخر ما ورته وویل: اې د الله جل جلاله رسوله ﷺ! اوس زه نوري نسم چیښلای نبي ﷺ د ټولو څخه وروسته پاته شیدې وچیښلې.

۸- دنبي کریم ﷺ د اصحابو رضي الله عنهم څخه ددوو کسانو په باره کښې سوال

د نبي ﷺ په خدمت کې څه کسان موجود وه چې یو سړی مخاخ تېر سو نبي ﷺ پوښتنه وکړه چې تاسو ددې سړي په اړه څه نظر لری؟ خلګو ورته وویل: اې د الله جل جلاله رسوله ﷺ! دا سړی په عزتمنو خلګو کښې دئ په الله ﷻ قسم کوو که چیري دی د یو چا دنکاح غوښتنه وکړي غوښتنه یې منل کیږي که د چا سپارښت کوي منل کیږي رسول الله ﷺ چې ددوی خبري واورېدې چوپ سو ددې څخه وروسته یو بل ملګری مخامخ تېر سو نبي ﷺ دده په اړه هم پوښتنه وکړه خلګو په جواب کې ورته وویل اې د الله جل جلاله رسوله ﷺ! دا یو غریب مسلمان دئ که چیري د کوزدې غوښتنه وکړي نو څوک خور او لور نه ورکوي که د چاسپارښت کوي نه منل کیږي او که خبري کوي څوک توجه نه ورته کوي نبي ﷺ وفرمایل: که چیري داول کس په څېر ټوله دنیا ډکه سي نو دغه دوهم کس تر ټولو بهتر دئ.

فایده: مطلب دادئ چې یواځې نبوي عزت دالله ﷻ په نزد تر سلګونو هغه عزتمنو خلګو بهتر دئ چې په دنیا کې یې خبري ته په درنه سترګه کتل کیږي او هر څوک یې د خبرو منلو او اورېدلو ته تیار وي خو د الله ﷻ په نزد ددغه انسان هیڅ عزت نسته. حقیقت خبره داده چې دنیا دالله ﷻ دنامه ویونکو له برکته ودانه ده ځکه که په دنیا کې دالله تعالي نوم اخیستونکی نسي پاته قیامت به راسي او ددنیا وجود به ختم سي دا دالله ﷻ د پاک نامه برکت دئ چې ددنیا ټوله نظام ولاړ دئ.

۹- د نبي اکرم ﷺ سره پر محبت کوونکي باندي د مسکنت راتلل

يو صحابي د نبي ﷺ په خدمت کي حاضر سو او وې ويل: اې د الله ﷻ رسوله! زه ستاسره محبت لرم رسول ﷺ ورته وويل وګوره څه وايي ؟ صحابي بيا ورته وويل: چي زما ستاسره محبت دئ نبي ﷺ بيا په دغه ډول جواب ورته وواېه کله چي درې واري د اسوال او جواب وسو نو نبي ﷺ ورته وويل: که چيري ته په خپله خبره کي رېښتني يې نو مسکنت ته ځان تيار کړه ځکه کوم کسان چي زما سره محبت کوي پر هغو باندي مسکنت داسي په چابکۍ سره راځي لکه اوبه چي دلوړي څخه پر کښته په تېزۍ سره راځي.

فايده: همدا وجه وه چي ټول اصحاب کرام رضي الله عنهم به هر وخت په مسکنت او لوږه کي وه همدا ډول لوی محدثين، لوی صوفيان او لوی فقهاءِ کرام زيات يې شتمن نه دي پاته سوي.

۱۰- د عنبر په سريه کښي د مسکنت حالت

نبي ﷺ د هجرت په اتم کال د خدای تعالي په مياشت کي د درياب و غاړي ته يو درې سوه کسيز لښکر ولېږئ همدغه درې سوه کسيز لښکر ته سريه ويل کيږي (۱) پر دوی باندي يې حضرت ابو عبيده رضي الله عنه آمر کړی نبي ﷺ په يوه کڅوړه کښي د خورما و يوه توښه ورکړه دوی مبارکان په هغه ځای کښي پنځلس ورځي واوسېدل د دوی مبارکانو توښه خلاصه سوه حضرت قيس رضي الله عنه پدې قافله کښي موجود و داوښانو د مالکانو څخه يې اوښان په پيسو واخيسته پدې طمعه چي په مدينه منوره کښي به يې پيسي ورکوي او درې-درې اوښان به يې هره ورځ حلالول خو دريمه ورځ د قافلې آمر داوښانو د حلالولو څخه منعه وکړه ځکه ده فکر کاوه چي سورلۍ به خلاصي سي او بېرته تګ به ګران سي نو د خلکو څخه يې خپلي، خپلي خرماوي راټولي کړې د چاسره چي وي بيايې په کڅوړه کښي واچولې او هره ورځ به يې يوه يوه خرما ورکول دوی به ځېښله بيا به يې اوبه پسي چيښلي تر ماښامه پوري يې دغه خوراک و که څه هم دا په ويلو کښي کوچنۍ خبره ده مګر د جګړې پر مهال چي زياتي توانايۍ

۱: اصلا سريه د مسلمانانو هغه لښکر ته ويل کيږي چي رسول الله ﷺ خپله ګډون نه وي پکښي کړی او غزا وهغه لښکر ته ويل کيږي چي خپل رسول الله ﷺ ګډون پکښي کړی وي . ژباړن

ته اړتیا وي په یوه دانه خرما ټوله ورځ تېرول ګران کار دئ اولویه خبره ده .کله چې حضرت جابرﷺ د نبي ﷺ څخه وروسته خلګو ته دا قصه وکړه نو یو شاګرد پوښتنه وکړه چې صاحبه! دایوې خرما به نو څه کار کاوه؟ ده مبارک ورته وویل: ددې یوې خرما قدر هغه وخت معلوم سو چې دا یوه خرما هم نه پیدا کېدل یوازي لوږه وه نور هیڅ نه وه دد رختي وچې پاڼي به موږ څنډلي بیا به مو لندې کړې او خوړلي مو مجبوري هر څه کوي او د هري سختی وروسته الله ﷻ اساني راولي الله ﷻ ددې تکلیفونو وروسته دغه مبارکو اصحابانو ته د دریاب څخه یو ماهی راوایستی دغه ماهي ته یې عنبر وایه ددغه ماهي څخه اصحابو ﷺ تر اتلسو ورځو پوري خوراک کاوه او دمدیني منوري تر تګ پوري په توښه دانونو کي ددغه ماهي غوښه پرته وه کله چې دوی مدینې ته ورسېده او هلته یې نبي ﷺ ته پوره قصه وکړه رسول الله ﷺ ورته وویل: دا دالله ﷻ دلوري یو رزق دئ چې تاسو ته یې رالیږلی دئ .

فایده: په دنیا کي تکلیفونه تېرول ضروري دي په ځانګړې ډول پر سپېڅلو انسانانو باندي زیات تکلیفونه راځي ځکه رسول الله ﷺ فرمایي: زیات تکلیفونه الله ﷻ پر انبیاؤ راولي ورپسي پر هغه چا ډېر تکلیفونه راولي چي تر ټولو بهتر وي ورپسي یې پر هغه چا راولي چي په پاته کسانو کي بهتر وي. د هر سړي ازموینه د هغه سړي ددیني مرتبې سره برابره کیږي او د هر تکلیف وروسته الله ﷻ د خپلي مهرباني لمخي اساني راولي. په دې خبره کي هم فکر وکړئ چي زموږ پر مشرانو څومره تکلیفونه تېر سوي دي او دا ټول تکلیفونه یې ددین لپاره پر ځان تېر کړي دي او ددین د خورولو لپاره یې تېر کړي دي او اوس یې موږ په لوی لاس ضائع کوو دوی مبارکانو به لوږې، تندې پر ځان تېرولې ، پاڼي به یې خوړلي وینې به یې تویولې او دین به یې نشر کاوه اوس موږ ددوی ګټه هم نسو ساتلای .

څلورم باب

د اصحابو کرامو رضي الله عنهم د تقوا په باب بیان کې

د اصحابانو رضي الله عنهم هر عمل او هر عادت د دې وړ دئ چې څوک یې د ځان لپاره غوره کړي او تابعداري یې وکړي. ولې به نه وي چې الله ﷻ د خپل نازولي او محبوب رسول ﷺ د ملګرتیا لپاره دغه ډله غوره او چاڼ کړه د رسول الله ﷺ ارشاد دئ چې فرمایي: زه د انسانانو په بهترین قرن او زمانه کې و لېږل سوم. (۱)

له همدې امله دغه زمانه له هره پلوه غوره زمانه وه او د زمانې بهترین خلک د رسول الله ﷺ په ملګرتیا کې وساتل سوه.

۱- د نبي ﷺ د یوې جنازې څخه بېرته راتګ او د یوې ښځې بلنه

نبي کریم ﷺ یوه ورځ د یوې جنازې څخه راتلی یوې ښځې د میلمستیا بلنه ورکړه نبي ﷺ د خپلو خادمانو سره د هغې ښځې کور ته تشریف یووړی دده مبارک ومخ ته ډوډۍ کښېښودل سوه خلګو ولیدل چې د نبي ﷺ خوله ښوري خو تېرېږي نه. نبي ﷺ وفرمایل: داسي معلومېږي چې دا دې سېرلي غوښې د مالک بې اجازې اخیستل سوي وې هغې ښځې وویل: یا رسول الله! ما ددغه سېرلي د رانیولو لپاره سړی لېږلي و خو پیدا نسو بیا مې د همسایه سېرلی واخیستي او پیسې مې ورولېږلې خو د کور مالک نه وو نو د هغه میرمني ته مې ورکړې او هغې میرمنې سېرلی را ولېږی رسول الله ﷺ وفرمایل: په دې ډوډۍ بندیان و خوروئ. (۲)

فایده: دنبي ﷺ د لوړ شان پر برابر یو مشتبه یا د شک شی هم تر ستوني نه تېرېږي دا څه لیري خبره نه ده ځکه د نبي ﷺ ادنا مریانو ته دا ډول واقعاتي پېښیږي.

---

(۱) شفاء

(۲) ابو داؤد

۲- د نبي ﷺ د صدقې د يوې خرما د ويرې څخه ټوله شپه ويښتيا

نبي ﷺ يوه شپه ټوله شپه ويښ وو اړخ پر اړخ اوښتی په بيبيانو کې يو چا ورته وويل: اې د الله ﷻ رسوله ﷺ! نن خوب نه درځي؟ ده مبارک وويل: نن يوه خرما پرته وه ما راپورته کړه چې ضايع نسي او ومې خوړله اوس فکر راسره پيدا سو چې هسې نه چې هغه خرما د صدقې وه.

فايده: زياته صحيح خبره خو دا وه چې هغه خرما د نبي ﷺ خپله وه مګر ځرنګه چې د صدقې خرما وې نبي ﷺ ته راتلې نو ده فکر کاوه چې د صدقې خرما مې نه وي خوړلې ددې شک په وجه ټوله شپه خوب نه ورتلی او دايې ويل چې خداې مه کړه د صدقې خرما مې نه وي خوړلې دا خو د سردار عالم حال و چې د يوې خرما په وجه يې اړخونه بدلول او ټوله شپه خوب نه ورتلی اوس يې داوسنی زمانې د غلامانو حال وګوره چې د رشوت، غلا، سود او نورې پيسې په زړور تيا خوري او په فخر سره ځان د محمد ﷺ په غلامانو کې ګڼي.

۳- د حضرت ابوبکر ؓ د يو کاهن (فالګر) د خوراک څخه قی وهل

حضرت ابوبکر ؓ يو غلام درلودی چې ده مبارک ته يې د غُله[1] په ډول ګټه ورکول يوه ورځ غلام ده ته د خوراک يو شی راوړی ده مبارک يو څه و خوړی غلام ورته وويل: چې تا به هر ورځ زما څخه پوښتنه کول چې د کومې لارې دې ګټه کړې ده نن دې هيڅ پوښتنه نه راڅخه وکړه ده مبارک ورته وويل: چې نن ډېر وږی وم د لوږې له امله مې پوښتنه نه وکړه اوس ووايه چې د کومې لارې دې ګټلې ده غلام ورته وويل: چې د کفر په وخت کې زه پر يو قوم تېرېدم پر هغوی مې منتر ويلي وو دوی زما سره د يو شي وعده کړې وه نن د هغوی کره واده وو زه ورغلم دا ډوډۍ يې راکړه ابوبکر ؓ ورته وويل: تا خو زه هلاک کړم ابوبکر ؓ ددې څخه وروسته په ستوني ګوتې چخ کړې او د قې وهلو کوشش يې وکړی خو لکه ځرنګه چې ده هغه ګوله په لوږه خوړلې وه نو قی يې نه کړه چا ورته وويل: چې په اوبو سره قی وهل کيدای سي

[1] غُله دې ته ويل کيږي چې غلام ته ووائي چې ولاړسه روزانه ماته دومره پيسې راکوه نورې که دې وګټې هغه ستا دې دا جائزه معامله ده. (هذا الهامش من الشيخ)

نو ده مبارک یوه لویه پیاله د اوبو راوغوښته اوبه یې وڅېښلې بیا یې قي کړې تر داسې اندازې چې د ډوډې ګوله یې هم قی کړه یو چا ورته وویل: پر تا دې الله ﷻ رحم وکړي دیوې ګولې ډوډۍ لپاره دې دومره تکلیفونه پر ځان تېر کړل ده مبارک ورته وویل: که چیرې زما په ساه سره دا ګوله راوتلای مابه را ایستلې وای ځکه ما دنبي ﷺ څخه اورېدلي دي چې کوم بدن چې په حرامو سره وده وکړي نو د دوزخ اور د هغه لپاره غوره دئ. زما سره داوېره وه چې هسې نه چې په دغه ګوله سره زما د بدن یوه برخه وده وکړي.(١)

فایده: د حضرت ابوبکر ؓ څخه داسې ډېرې پېښې راغلي دي ځکه دده په طبیعت کې احتیاط زیات و چې لږ شک به ورته پیدا سو دستي به یې قي واهه.

هم دا ډول د بخاري شریف په یو روایت کې راغلي دي چې یوه ورځ یو غلام د جاهلیت په وخت کې د سحر او جادو یو شی چاته ښودلی و هغه اتفاقاً صحیح سو نو هغه ودغه غلام ته څه پیسې ورکړې غلام په مقرر سوو پیسو کې و حضرت ابوبکر ؓ ته دغه پیسي ورکړې ابوبکر ؓ و خوړلې بیا چې دده په نس کې کوم څه وه هغه یې ټوله قی کړه. دا لازمي نه ده چې په دغه ډول پیسو کې به د غلامانو پیسي حرامي وي بلکې حرام او حلال دواړو ګمان پر کېده خو حضرت ابوبکر ؓ د ډېر احتیاط له امله د شک مال نه خوښوی.

۴- د حضرت عمر ؓ د صدقې د شیدو څخه قي

حضرت عمر ؓ یو وار شیدې و چیښلې د هغو شیدو خوند عجیبه ورته معلوم سو نو کوم ملګري چې شیدې راوړې وي د هغه څخه یې پوښتنه وکړه چې دا څنګه شیدې وي؟ او دکومي خوا څخه راغلي وي؟ هغه سړي وویل: چې په فلانکی ځنګله کې د صدقې اوښان څرېدل زه هلته ولاړم هغو خلګو د اوښانو شیدې ولوشلې ماته یې هم راکړې، حضرت عمر ؓ په خوله کې ګوتې واچولې او هغه شیدې یې قی کړې. (٢)

فایده: د اصحابو مبارکانو سره تل دا فکر وو چې د شک په شي سره مو د بدن یوه برخه وده ونه کړي دا خو لاڅه کوي چې ښکاره حرام وي لکه زموږ په زمانه کې چې عام سوي دي.

---

(١) منتخب کنز العمال

(٢) مؤطا امام مالک

۵- د حضرت ابوبکر ﷺ د احتیاط لمخې باغ وقف کول

ابن سیرین رحمه الله علیه فرمایي: کله چې د ابوبکر ﷺ د وفات وخت نژدې سو نو ده مبارک و حضرت عائشې رضي الله عنها ته وویل: کله چې زه خلیفه سوم خلګو راته وویل چې که ته په تجارت مشغول سې نو د مسلمانانو په کارو کې به څه نیمګرتیا پیدا سي باید ته خپله خوارکه دبیت المال څخه واخلې نو له دې وجې زه مجبور سوم چې یو څه واخلم نو اوس دې زما فلانکی باغ په بدله کې ورکړل سي هر کله چې حضرت ابوبکر ﷺ وفات سو نو حضرت عائشې رضي الله عنها و حضرت عمر ﷺ ته سړی ولېږی او د پلار د وصیت مطابق یې باغ ورکړی حضرت عمر ﷺ وفرمایل: ستا پر پلار دې الله ﷻ رحم وکړي ده مبارک غوښتل چې چا ته د خولې د خلاصولو وخت ورنه کړي.(۱)

فایده: درنو لوستونکو ! د فکر کولو خبره ده چې اول خو هغه شی چې ابوبکر ﷺ اخیستی څه شی وو یعني ډېر لږ شی و بیا چې ده مبارک اخیستی د مشورې والاوو په ټینګار یې اخیستي او د مسلمانانو د فایدې په وجه سره و ددې سره، سره څومره چې دده مبارک توان وو بلکې تر هغه لا زیات یې احتیاط پکښې کاوه چې د احتیاط اندازه یې په دریم باب ثلور مه شمېره کې وښودل سوه چې بي بي یې د تنکسیا سره دیوه خوږ شی لپاره یو څه پیسې جمعه کړې وې ده مبارک هغه پیسې هم بیت المال ته وسپارلې او په هغه اندازه یې د خپلې عائشې (تنخوا) څخه کمي کړې د ټولو څخه وروسته یې د آخر کار وو چې د اخیستل سوو پیسو بدله یې بېرته بیت المال ته وسپارل.

۶- د حضرت علي بن معبد رحمه الله علیه د کرایې د کور په خاوره سره د خط وچول

علي بن معبد رحمه الله علیه یو محدث دئ، دی مبارک فرمایي: د یو کرایې په کور کې اوسېدم. یوه ورځ مې یو شی ولیکی ددغه خط د وچولو اړتیا پیدا سوه ددغه کور دېوالونه خاورین وه نو فکر مې وکړی چې ددغه دېوال څخه یو څه خاوره را واخلم او خط په وچ کړم بیا مې فکر وکړی چې دا کور خو ما په کرایه نیولی دئ داوسېدو لپاره دئ ددې لپاره خو مې

(۱) (کتاب الاموال)

نه دئ نیولی چې خاوره یې استعمال کړم بېرته مې په فکر کې راغله چې په دا لږ خاوره هیڅ نه کېږي پروانه لري لږشی دئ نو خاوره مې را واخیسته د شپې یو څوک په خوب کې راغلی او راته وې ویل: چې صبا د قیامت په ورځ به درته معلومه سي چې لږ خاوره یا لږشی څه پروا لري؟.

فایده: دا خبره چې صبا به معلومه سي ددې ظاهري مطلب دادئ چې د تقوا درجې زیاتي وي کامله درجه یې یقیناً داوه چې ددغه لږشی څخه هم ځان وساتي که څه هم دومره لږشی د جائز کیدو په اندازه کي دئ.(١)

٧- د حضرت علي کرم الله وجهه پر یو قبر تېرېدنه

کمیل ؓ فرمایي: چې زه یو ځل د حضرت علي ؓ سره روان وم چې یو ځنګله ته ورسېدو حضرت علي ؓ یوې هدیرې ته مخ کړی او وې ویل: اې د هدیرې څښتنانو! اې پاته سوو خلګو! اې د وېرې او یوازیوالي خلګو! څه خبري دي؟ څه حال مو دئ؟ زموږ خبر خو دادئ چې ستاسو وروسته ستاسو مالونه تقسیم سوه، اولادونه مو یتیمان سوه، ښځو مو نور مېړونه وکړه دا خو زموږ خبر دئ تاسو هم یو څه وواياست، کمیل ؓ وایي چې علي ؓ ددې څخه وروسته زما لوري ته وکتل او وې ویل: اې کمیله! کچیري دې خلګو ته د خبرو اجازه وای او خبري یې کولای سوای نو دوی به خامخا ویلي وای چې بهترینه توښه تقوا ده دایې وویل بیا په ژړا سو او وې فرمایل: اې کمیله! قبر د عمل صندوق دئ د مرګ په وخت کې به معلوم سي (٢).

فایده: یعني انسان که ښه کار کوي او که بد کار کوي په دغه قبر کې به ساتل کیږي لکه په صندوق کې چې یو شی ساتل کیږي.

په زیاتو حدیثونو کې راغلي دي چې ښه عملونه به په یوه ښایسته ښه جوړ سي په قبر کې به د مړي د زړه خوشاله کولو او محبت کولو لپاره راسي او ددې مړي ډاډګیرنه به کوي او بد عملونه به په یو بد شکل جوړ سي بد بوی به یې وي او مړي به نور په تنګیږي.

---

(١) احیاء
(٢) منتخب کنز

په حديث شريف کې راغلي دي چې يو سړی مړ سي نو تر قبر پوري دده سره درې ملګري ځي:

١- لومړی دده مال وي لکه چې د عربو داسي دود وو چې د مړي سره به يې دده مال وړی.

٢- دوهم هغه کسان دي چې دی تر قبر پوري رسوي.

٣- دريم دده عمل دئ.

دوه ملګري يعني مال او دده خپلوان به بېرته ځني راځي او عمل به ورسره پاته وي. نبي ﷺ يوه ورځ اصحابو کرامو ته وفرمايل: چې ستاسو د مال او عمل مثال څه ډول دئ؟ اصحابو کرامو رضي الله عنهم ورته وويل: چې تاسو لارښوونه راته وکړئ رسول الله ﷺ وفرمايل: ددې مثال داسي دئ لکه چې يو څوک درې ورونه لري او مړ کيږي نو دوی راوغواړي او ورته ووايي چې وروره ته پوهيږي چې پر ماڅه تيريږي؟ ته زما څنګه مرسته کولای سي دايو ورور ورته ووايي چې زه به ستا درملنه وکړم او هر ډول خدمت به دي وکړم کله چې ته مړ سي غسل به درکړم کفن به درکړم او پر اوږو به دي تر قبره پوري يوسم او تر مرګ وروسته به دي په ښو يادوم دا ورور دانسان اولاد او قريبان دي، بيا دوهم ورور ورته ووايي چې زما ستا سره تر مرګه پوري اړيکي دي د مرګ څخه وروسته زه ستا هيڅ پروانه لرم، دا ورور مال دئ، بيا دريم ورور راوغواړي پوښتنه ځني وکړي دريم ورو ورته وايي چې زه ستا په قبر کي ملګري يم دوېري په وخت کي به دي زړه خوشاله کوم کله چې ستا سره حساب کيږي د نيکۍ په پله کي به دي کښېنم د نيکۍ پله به دي درنوم، دا ورور عمل دئ. رسول الله ﷺ و اصحابو کرامو رضي الله عنهم ته وفرمايل: اوس نو تاسو وښياست چې کوم ورور ښه او ګټور دئ؟ اصحابو کرامو رضي الله عنهم وويل: اې د الله ﷺ رسوله! دغه دريم ورور ګټور دئ هغه لومړني دوه وروڼه خو بې ګټي دي.(١)

۸- د نبي ﷺ ارشاد چې د خوراک چیښاک حرام وي د هغه دعا نه قبلیږي

د نبي ﷺ ارشاد دئ: چې الله ﷻ خپله پاک دئ پاک مال قبلوي مسلمانانو ته د هغه شی امر کوي کوم چې یې خپلو رسولانو ته کړی دئ. الله ﷻ فرمایي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُواْ مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَٱعۡمَلُواْ صَٰلِحًاۖ إِنِّي بِمَا تَعۡمَلُونَ عَلِيمٞ ﴿٥١﴾ (۱)

ژباړه: اې رسولانو! د پاکو شیانو څخه خوراک کوئ نېک عملونه کوئ زه په هغه شیانو خبریم چې تاسو یې کوئ.

دوهم ځای الله ﷻ فرمایي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ كُلُواْ مِمَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ حَلَٰلٗا طَيِّبٗا وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٌ ﴿١٦٨﴾ (۲)

ژباړه: اې هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دئ خوراک کوئ د هغه پاکو شیانو څخه چې موږ په رزق درکړي دي د شیطان د قدمونو پیروي مه کوئ بېشکه شیطان ستاسو ښکاره دښمن دئ.

نبي ﷺ د یو سړي بیان وکړی چې اوږده، اوږده سفرونه یې کړي وي (د مسافر دعا قبلیږي) او دی خواره واره ویښتانو والاوي، خړ وړ جامو والا (یعني پرېشانه) وي دی دواړه لاسونه الله ﷻ ته پورته کړي او ووایي: اې الله! اې الله! مګر دده خوراک حرام وي چیښاک یې حرام وي جامې یې حرامې وي تل یې حرام خوړلي وي نو دده دعا چېرې قبلیږي. (۳)

فایده: د خلګو سره تل دا فکر وي چې د مسلمان دعا ولې نه قبلیږي که دې حدیث شریف ته وګورو نو ټول حالات معلومیږي که څه هم الله ﷻ کله، کله په خپل فضل د کافر دعا لا هم قبلوي فاسق خولا څه کوې مګر د پرهیزګاره سړي دعا اصل شی دی ځکه نو د پرهېزګارانو څخه خلګ د دعا هیله کوي. که څوک غواړي چې زما دعا قبوله سي نو د حرامو څخه دي ځان وساتي.

---

(۱) سورة مؤمنون الاية (۵۱)

(۲) سورة البقرة الاية (۱٦۸)

(۳) مجمع الفوائد

د حجاج په زمانه کي حاکم پاته سوی یم. عمر بن عبد العزیز رحمه الله ورته وویل چي ستا لپاره دومره بدي بس ده چي چي د هغه سره یو ورځ یا تر ورځي هم کم حاکم پاته سوي یې. (١)

فایده: مطلب دادئ چي دده سره د پاته کېدو اثر خامخا پاته کېږي. څوک چي د پرهېزګارو خلګو سره اوسیږي نو پرا وسیدونکی باندي زوروره اغېز په نه لیدونکي ډول د پرهیزګارو خلګو پرېوزي او څوک چي د بدعملو خلګو سره اوسیږي نو د بدعملو خلګو اثر به خامخا پرده پرېوزي همدا وجه ده چي د بدو خلګو د ناستي څخه منعه پکار ده انسانان لا څه کوي بلکي د حیوانانو سره په اوسېدو لا اثر پرېوزي.

رسول الله ﷺ فرمایي: داوښانو او اسونو په مالکانو کي فخر او لویي وي او د بزو په مالکانو کي عاجزې وي. نبي ﷺ ارشاد دئ چي فرمایي: د نیک سړی سره ناسته د مشکو په څیر ده که مشک ورونه رسیږي نو بوی به یې خامخا ورسیږي او د بد سړی سره ناسته د اور د کورې په څېر ده که د اور بڅرکي ورونه رسیږي نو د دود (لوګي) څخه یې نه خلاصیږي. (٢)

پنځم باب

د لمانځه شوق او په لمانځه کي عاجزي

لمونځ په ټولو عبادتو کي اړین او لازم شی دئ د قیامت په ورځ به هم لومړی د لمانځه پوښتنه کیږي.

نبي ﷺ فرمایي: د کفر او اسلام تر منځ لمونځ فرق کوونکی دئ. ددې څخه علاوه نور هم زیات ارشادات راغلي دي چي زما په یوه بله رساله (فضائل نماز) کي بیان سوي دي.

١- دالله جل جلاله ارشاد د نفل کونکي په اړه

الله جل جلاله فرمایي: څوک چي زما ددوست سره د ښمني کوي و دغه کس ته زما د جنګ اعلان دئ او هیڅوک زما سره نژدې والی نسي کولای تر څو هغه څه ادا نه کړي چي ما فرض

---

(١) احیاء

(٢) مجمع الفوائد

کړي دي یعنې زما نژدې والی د فرضونو په ادائینه سره لاسته راتلای سي او د نفلو په وجه بنده ماته رانژدې کیږي تر داسي بریده چي زه یې خپل محبوب جوړ کړم نو بیا زه د هغه سړي غوږ سم چي او ریدل په کوي او زه د هغه سړي سترګه سم چي لیدل په کوي او د هغه سړي لاس سم چي یو شی په را اخلي او د هغه سړي پښه سم چي تلل په کوي او کوم شي چي زما څخه غواړي هغه به ور کوم او د کوم شی څخه چي پنا غواړي زه به یې ځني ساتم.([1])

فایده: د سترګي، غوږ او نورو غړو جوړېدو څخه مطلب دادئ چي د هغه لیدل، اوریدل او ګرځېدل به زما د خوښی تابع وي او هیڅ خبره به زما د خوښی خلاف نه کوي. هغه کسان څومره نیک مرغه دي چي د فرضو دادایني وروسته د ډېرو نفْلو توفیق ورپه برخه سي او دا دولت ورپه برخه سي. الله ﷻ دي په خپل فضل سره ماته او زما دوستانو ته هم ورنصیب کړي.

۲- د نبي کریم ﷺ ټوله شپه لمونځ کول

یو سړي د عائشې ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي د نبي ﷺ که څه عجیبه خبره تالیدلې وي نو راته وې وایه. عائشې ﷺ وویل: د نبي ﷺ کومه خبره عجیبه نه وه؟ بلکي هره خبره یې عجیبه وه یوه شپه راغلی زما سره پرېوتی بیا یې وویل ما پرېږده چي د خپل رب عبادت وکړم دایې وویل نو پر لمانځه ودرېدئ او ژړا یې شروع کړه تر داسي اندازې چي اوښکي یې پر سینه مبارکي راتوی سوې بیا پر رکوع سو په رکوع کي یې هم په دغه ډول ژړل بیا پر سجده سو په سجده کي یې هم په دغه ډول ژړل تر داسي وخته چي بلال ﷺ راغلی او د سهار د لمانځه لپاره یې اواز وکړی ما وویل: اې د الله ﷻ رسوله ﷺ! تاسو دومره و ژړل او حال دا چي تاسي د مخکي او وروسته ګناهو څخه پاک یې او که فرضاً هم یې نو الله ﷻ تاسو ته د مغفرت وعده در کړې ده. ده مبارک راته وویل: چي الله ﷻ داسي راسره کړی دي بیا نو زه د الله ﷻ شکر ګذار بنده نه سم جوړ؟ بیا یې راته وویل: ما به ولي داسي نه کول او حال دا چي نن پر ما باندي دا آیاتونه نازل سوي دي:

إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ ﴿١٩٠﴾ ([2])

([1]) مجمع الفوائد

([2]) سورة ال عمران الاية (١٩٠)، اقامة الحجة

داخبره په زيات شمېر حديثونو کې راغلې ده چې رسول الله ﷺ به د شپې دومره اوږد لمونځ کاوه چې د ډېرې ولاړې څخه به يې پښې وپړسېدې خلکو به ورته وويل: اې د الله ﷻ رسوله ﷺ! ته دومره تکليف پر ځان تېروې حال دا چې الله ﷻ ته بخښلی يې ده مبارک به په جواب کې ويل: ايا زه د الله ﷻ شکر ګذار بنده جوړ نسم؟ (١)

٣- د رسول الله ﷺ په څلور رکعتو کې شپږ سپارې ويل

حضرت عوف ﷺ فرمايي: چې زه يوه ورځ د رسول الله ﷺ سره په سفر ولاړم رسول الله ﷺ مسواک وواهه او اودس يې وکړی دلمانځه نيت يې وتړی زه هم په لمانځه کې ورسره شريک سوم نبي ﷺ په يو رکعت کې سورة بقره ولوستی کوم ځای چې به د رحمت آيات راغلی نو رسول الله ﷺ به لږ ساعت ودرېدئ او د رحمت دعا به يې غوښتل، کوم ځای چې به د عذاب آيات راغلی نو تر لږ وخته پورې به يې پنا غوښتل دسورة د ختمېدو سره سم يې رکوع وکړه او په رکوع کښې يې (سُبحَانَ ذِي الجَبَرُوت وَالمَلَكُوت وَ العَظمَـة) بيا يې په همدغه اندازه اوږده سجده وکړه کله چې دوهم رکعت ته ولاړ سو په دوهم رکعت کې يې سورت آل عمران ووايه همدا ډول په يو رکعت کې يې يو -يو سورت ووايه چې په څلور رکعتو کښې پاو بالا شپږ سپارې کيږي دا به څومره اوږد لمونځ وچې په هر آيت درحمت او آيات دعذاب باندې يې تر ډېره ساعته دعا غوښته او بيايې په دغه پيمانه اوږده رکوع او سجده کول.

حضرت خذيفة ﷺ هم خپله يوه قصه د نبي ﷺ سره د لمونځ کولو رانقله کړې ده او فرمايي: چې رسول الله ﷺ په څلورو رکعتو کښې څلور لوی سورتونه ولوستل يعني د سورت بقره څخه د سورت مائده تر ختمه پورې يې وويل.

فايده: د غه څلور سورتونه چې نبي ﷺ په څلور رکعتو کښې لوستلي دي پاؤ بالا شپږ سپارې کيږي او د نبي ﷺ عادت دا و چې قرآنکريم به يې په تجويد او ترتيل سره لواسته (داصولو سره برابر او په ډېره ارامتيا سره) لکه چې په احاديثو کې راغلې دي. ددې سره رسول الله ﷺ پر هر آيت درحمت او پر هر آيت دعذاب درېدئ او دعا به يې غوښتل بيا به يې درکعتو د ولاړې په اندازه اوږده رکوع او سجده کول يعني کله به رسول الله ﷺ په يو رکعت

(١) بخاري

کښي سورت بقره، آل عمران او سورت مائده لواسته چي د غه درې سورتونه نږدې پنځه سپارې کیږي (بیا به یې په دغه اندازه رکوع کول).
دا هغه وخت کېدای سي چي چا په لمانځه کښي ارام او د سترګو پو خوالي نصیب سي.
نبي ﷺ فرمايي: زما د سترګو پو خوالي په لمانځه کښي دئ. اَللّٰهُم ارزُقنِي اِتبَاعَهُ.

۴- د حضرت ابوبکر صدیق، حضرت ابن زبیر، حضرت علي او نورو اصحابو رضي الله عنهم د لمونځونو حالات

مجاهد رضي الله عنه د حضرت ابوبکر صدیق، او حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنهما حال رانقل کړی دئ چي کله به دوی پر لمانځه ودرېدل داسي به ښکارېدل لکه یو لرګی چي ښخ کړې یعني هیڅ به نه ښوریده.(۱)

علماو لیکلي دي چي حضرت ابن زبیر د حضرت ابوبکر رضي الله عنه څخه لمونځ زده کړی دئ او ابوبکر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه لمونځ زده کړی دئ یعني په څه ډول چي رسول الله ﷺ لمونځ کاوه پدغه ډول به ابوبکر رضي الله عنه لمونځ کاوه او عبدالله بن زبیر رضي الله عنه هم په دغه ډول لمونځ کاوه ثابت رضي الله عنه وایي چي دعبدالله بن زبیر رضي الله عنه لمونځ داسي و لکه یو لرګی چي یو ځای ښخ کړې. یو څوک وایي چي ابن زبیر رضي الله عنه به کله دومره اوږده اوبې حرکته سجده وکړه چي مرغان به راغله دده پر ملا به کښېناسته، کله به یې دومره اوږده رکوع وکړه چي ټوله شپه به ترسهاره په رکوع کښي و او کله به یې دومره اوږده سجده وکړه چي ټوله شپه به تېره سوه کله چي پر حضرت زبیر رضي الله عنه باندي جنګ کېدئ نو یو واری د مسجد پر دېواله ولګېدئ چي د مسجد د دېوال یوه ټوټه یې والوزل او د حضرت زبیر رضي الله عنه د ستوني او ږیري ترمنځ هغه واری تېر سو خو ده هیڅ فکر نه وکړی نه وارخطا سونه یې رکوع او سجده لنډه کړه یوه ورځ یې لمونځ کاوه دده زوی چي هاشم نومېدئ دده وخنګ ته بیده و دبام څخه یو مار راولوېدئ او دده پر زوی باندي راتاو سو زوی یې چغې کړې د کور خلک ټوله په چابکی سره راغله شورماشور جوړ سو هغه ماریې مړ کړی ابن زبیر رضي الله عنه په هغه ډول سره په ښه ارامتیا سره لمونځ کاوه کله چي یې سلام وګرځاوه نو وې ویل چي یو څه شور او ږغ مي ترغوږ وسو څه شي و؟ بي بي یې ورته وویل چي الله (ﷻ) دي پر تا رحم وکړي زوی خو به دي مړ سوی وای ته په خبر نه

(۱) تاریخ الخلفاء

هم نه یې ؟ده مبارک ورته وویل ورکه سې که په لمانځه کښې مې بلې خوا ته توجه او فکر کولای نو لمونځ به چیري پاته سوی وای .(۱)

حضرت عمر ﷺ چې په آخر وخت کې په خنجر ووهل سو او ددغه زخمو څخه بیا شهید سو هر وخت به وینه تري بهیدله او زیات وخت به بې هوښه وخو بیا هم دلمانځه لپاره بیداره کېدئ لمونځ به یې کاوه دا به یې ویل چې دهغه چالپاره په اسلام کې هیڅ حصه نسته چې لمونځ پرېږدي .

حضرت عثمان ﷺ به ټوله شپه ویښ واو په یوه رکعت کښې به یې ټوله قرآنکریم ختماوه.

دحضرت علي (کرم الله وجهه) مبارک عادت داسي و چې کله به دلمانځه وخت راغلی نو پر بدن به یې رپېدل راغله او مخ به یې ژړ سو یو چا پوښتنه ځني وکړه چې دا څه خبره ده چې دلمانځه دوخت په راتګ سره دي مخ ژړ سي او بدن دي رپيږي؟ ده مبارک ورته وویل : دادهغه امانت وخت دئ چې الله ﷻ پر اسمانو مځکه او غرونو باندي نازل کړی دوی یې دپور ته کولو څخه ناتوانه سول خو ما پورته کړی.

دحضرت خلف بن ایوب رحمة الله عليه څخه یو چا پوښتنه وکړه چې تا په لمانځه کښې مچان نه تنګوي؟ ده مبارک په جواب کښې ورته وویل چې بدکاره خلک حکومت په دورو وهي دی زغ نه کوي دا تکلیفونه پر ځان تېروي خو په دې فخر کوي چې زه دحکومت په هرډول وهلو کې نه ښورم یعني چې زه خو شومره ټینګ یم زه چې دخپل رب ﷻ وحضور ته ولاړ یم زه دیوه مچ له امله وښوریږم.

مسلم بن یسار رحمة الله عليه چې به کله دلمانځه لپاره ودرېدی نو دخپل کور خلګو ته به یې وویل چې تاسو ماته خبري کوي زه ستاسو په خبرونه پوهېږم یوه ورځ ده مبارک دبصرې په جامع مسجد کې لمونځ کاوه چې دمسجد یوه برخه راچپه سوه خلګو یې له امله وځغستل دباندي سره یو ځای سوه شور او غوغا سوه خو دی هیڅ په خبرنه سو .

دحضرت خاتم اصم رحمة الله عليه څخه چا دلمانځه دحالاتو پوښتنه وکړه ده مبارک په جواب کښې ورته وویل : کله چې دلمانځه وخت راسي اودس وکړم او هغه ځای ته ولاړ سم چې لمونځ پکښې کوم لږ ساعت کښېنم چې دبدن په ټولو حصو کښې مې ارامتیا پیدا سي بیا دلمانځه لپاره په داسي ډول ودرېږم چې بیت الله شریفه دخپل نظر وړاندي وګڼم ، پل

---

(۱) بدایه وغیره

صراط تر پښولاندې جنت راسته طرف ته، دوزخ چپه طرف ته او د مرګ ملائکه د شا طرفته وګڼم او دا فکر وکړم چې دا مې وروستى لمونځ دئ د دې څخه وروسته په پوره عاجزۍ او کمينۍ سره لمونځ ادا کړم بيا دا ميد او ويرې ترمنځ وا وسم چې قبول به سي که يا.(۱)

۵- د مهاجر او انصاري چوکيداري او په لمانځه کښې پر انصاري غشي لګېدل

نبي ﷺ د يو غزا څخه تشريف راوړى د شپې يې يو ځاى د تېرولو لپاره غوره کړى او بيايې وويل چې نن شپه به چوکيداري څوک وکړي يو مهاجر صحابي حضرت عمر بن ياسر رضي الله عنه او يو انصاري صحابي حضرت عباد بن بشر رضي الله عنه وويل چې مونږ دواړه به چوکيداري وکړو نبي ﷺ د هغه غره ولوري ته ولېږل چې د هغه لوري څخه د دښمن د راتلو وېره وه او ورته وې ويل چې تاسي به پر د غه غره باندې چوکيداري وکړى دوى مبارکانو هغه غره ته تشريف يوړى انصاري و مهاجر ته وويل چې شپه به پر دوو برخو وويشو په يوه برخه کې به ته بيده سي زه به وينښ سم په دوهمه برخه کښې به ته وينښ سي زه به بيده سم ځکه که دواړه تول شپه وينښ سو نو کېدلاى سي چې پر دواړو باندې د خوب غلبه راسي او دواړه به بيده سو که چيرې څه خطر وينښ ملګري ته معلوم سي نو خپل ملګري به کښېنوي د شپې لومړۍ برخه د انصاري ملګري د وينښ والي لپاره وټاکل سوه مهاجر بيده سوه انصاري د لمانځه نيت وکړى د دښمن لخوا څخه يو سړى راغلى او يو څوک يې د ليرې څخه ولاړ وليدئ دستي يې په غشي وويشتى انصاري هيڅ نه وښورېدئ بيايې دوهم غشي وويشتى ورپسي يې په دريم غشي وويشتي هر غشي چې به يې په بدن کي ولګېدئ ده به په لاس د بدن څخه راوايستى او وه به يې غورځوى د دې څخه وروسته يې په ښه ارامتيا سره رکوع او سجده وکړه لمونځ يې پوره کړى بيا يې خپل ملګرى راوينښ کړى دښمن چې دوى دوه وليدل و تښتېدئ او فکريې وکړى چې نده معلومه چې دا به څومره ملګري وي دده ملګرى چې کله راوينښ سو نو وې ليدل چې د انصاري د بدن د درو ځايو څخه وينه بهيږي مهاجر ورته وويل: سبحان الله تا ولي زه په لومړى وخت نه وينښولم؟ انصاري په جواب کښې ورته وويل: ما په لمانځه کښې سورة کهف شروع کړى و زړه مې نه غوښتل چې د خلاصېدو مخکې رکوع وکړم خو زما سره دا وېره پيدا سوه چې د ډېرو غشو په لګېدو سره مړ نه سم او د نبي ﷺ د حفاظت خدمت چې ماته يې

---

(۱) احياء

سپارلی و هغه راځخه پاته نه سي که چیري زما سره دا وېره نه وای نو د سورة د خلاصېدو مخکي به مي رکوع نه وای کړې.(۱)

فایده: داد مبارکو اصحابو کرامو لمونځ و او دلمانځه سره مینه وه چي دغشو د ویشتلو سره او د وینو د بهېدو سره یې هم د لمانځه په خوند کښي فرق نه راتلی زموږ لمانځه ته ګوره چي غوماشه مو وخوري نو دلمانځه فکر راځخه ولاړ سي او د مچمچی او غالبوزي پوښتنه خو مه کوه.

دلته یو مذهبي اختلافي مسئله سته هغه دا چي زمونږ د امام اعظم رحمه الله علیه په آند په وینو تویېدلو سره اودس ماتیږي او د امام شافعي رحمه الله علیه په آند اودس نه ماتیږي کېدلای سي چي د همدې صحابي طریقه همدا وه، یا کېدلای سي چي تر دغه وخته پوري ددې مسئلې تحقیق نه وسوی ځکه نبي ﷺ په دغه مجلس کي تشریف نه درلودئ یا تر دغه وخته پوري ده ته دا مسئله معلومه نه وه.

۶- د حضرت ابو طلحه رضی الله عنه په لمانځه کښي د فکر راتلو په وجه باغ وقف کول

حضرت ابو طلحه رضی الله عنه یوه ورځ په باغ کښي لمونځ کاوه نو یو مرغه والوتی نو ځرنګه چي باغ ډېر ګڼ و او مرغه ته ژر د وتلو لار پیدا نه سوه مرغه به یوې اوبلي خوا ته الوتی او د وتلو لار به یې لټول دده مبارک نظر د مرغه په لوري پرېواتی او فکر یې د مرغه په لوري بند سو کله چي یې د لمانځه تورو ته فکر را جمعه کړی تېروتی چي کوم رکعت دئ نو ډېر خوابدی سو چي ددې باغ په وجهه دا غم راپیښ سو چي په لمانځه کښي تېروتنه راځخه وسوه ژر د نبي ﷺ و حضور ته ورغلی او ټوله قصه یې ورته وکړه او غوښتنه یې ځني وکړه چي ددې باغ په وجه دا مصیبت ماته راپیښ سو نو له همدې امله دغه باغ زه د الله جل جلاله په لاره کښي ورکوم، کوم ځای چي ستاسو زړه غواړي هلته یې ولګوه. همدا ډول یوه بله قصه د حضرت عثمان رضی الله عنه په زمانه کښي هم پېښه سوې ده چي یو انصاري په خپل باغ کښي لمونځ کاوه د خرماوو د پخېدو وخت په وده وو د خرماوو غونچې ډېري ښې ورته معلومي سوې فکر یې د خرماوو په لوري ولاړی او داځني ورکه سوه چي څو رکعته مي کړي دي نو ډېر غم او خفګان ورته پېښ سو ددې غم په وجه یې دا ټینګه اراده وکړه چي داسي باغ به ځانته ونه ساتم چي په

---

(۱) بیهقي، ابوداود

وجه يې ماته دومره لوی غم پېښ سو او لمونځ يې راڅخه ورک کړی نو د حضرت عثمان ﷺ حضورته ورغلی او ورته وې ويل: چې دا باغ زه د الله ﷻ په لاره کي خرڅوم تاسو چې څه په کوی هغسي ورسره وکړی عثمان ﷺ په پنځوس زره خرڅ کړی او پيسې يې پر ديني کارونو ولګولې.(۱)

فايده: دا ايماني غيرت دئ چې د لمانځه په ډول يو مهم شي کي چې د بل شي فکر بند سي نو د پنځوسو زرو باغ يو دم صدقه کړي. زموږ حضرت شاولي الله رحمة الله عليه په قول جميل نومي کتاب کښي د صوفيانو د نسبت ډولونه ليکلي دي ددې په اړه يې دا هم ليکلي دي چې دانسبت دالله ﷻ په اطاعت کښي پر نورو باندي مخکې والی او په دې کي د غيرت کولو دئ دوی مبارکانو ته پردې کار باندي غيرت دريږي چې د الله ﷻ په اطاعت کښي يې فکر بلي خواته ولاړ سي.

۷- د حضرت ابن عباس ﷺ د لمانځه په وجه د سترګي علاج نه کول

د حضرت ابن عباس ﷺ په سترګه کي يو وخت اوبه راغلې نو د سترګي علاج کوونکي دده حضورته ورغلی او ورته وې ويل که اجازه وي مونږ به ستا د سترګي علاج وکړو خو تر پنځو ورځو پوري به تاسو احتياط کوی او دمځکي څخه به يو څه پر لوړ ځای يا پر يو لرګي باندي سجده کوئ ده مبارک ورته وويل هيڅکله داسي نسي کېدلای، زما دي په الله ﷻ قسم وي چې په دې ډول ماته يو رکعت هم دقبلولو وړندئ د نبي ﷺ ارشاد ماته معلوم دئ چې فرمايي: کوم څوک چې قصداً لمونځ پريږدي هغه به د الله ﷻ سره په داسي ډول ملاقات وکړي چې الله به ځني ناراضه وي. (۲)

فايده: که څه هم شريعت لمونځ په داسي مجبوري کښي جايز کړی دئ او په داسي حالاتو کښي که څوک لمونځ قصداً پريږدي دعذاب ترو عيد لاندي نه راځي خو دا د اصحابو کرامو د لمانځه سره محبت و او دنبي کريم ﷺ په ارشاد باندي په لويه پيمانه د عمل کولو اهميت و په همدې وجه حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما د سترګي علاج خوښ نه کړی دوی مبارکانو پر يوه لمانځه باندي ټوله دنيا قربانول، نن مونږ د بې حيا يې. څخه چې څه غواړد

(۱) موطا امام مالک رحمه الله
(۲) درمنثور

ددې قرباني کوونکو په څېر کې يې تر خولې باسو هرکله چې سبا د دوی سره مخامخ سو نو دغه پر دين قرباني ورکوونکي به د حشر د ميدان د سيل خوند اخلي بيا به حقيقت معلوم سي چې دوی څوک وه او موږ د دوی سره څه سلوک کړی دئ.

۸-د صحابه ﷺ د لمانځه په وخت کښې دستي دوکانونه بندول

حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما په بازار کې تشريف درلودئ چې د لمانځه د جماعت وخت سو وې ليدل چې فوراً ټولو خپل دوکانونه بند کړل او مسجد ته ننوتل عبد الله بن عمر رضي الله عنهما فرمايي: چې ددې خلکو په اړه دا آيات نازل سوی دئ:

رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ اللَّهِ (١)

د پورتني آيات پوره ترجمه داسې ده: په دغه مسجدونو کې داسې خلک سته چې د الله ﷻ د ذکره څخه يعني د لمانځه، روژې او زکوة څخه يې رانيول او خرڅول نه مشغول کوي دوی د داسې ورځې د نيولو څخه ويرېږي چې د پر زړونه او سترګي به اوړي. (٢)

حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي: چې دغه خلک به په خپل کارو بار مشغول وه کله چې به يې اذان واورېدئ نو دستي به يې کار او بار پرېښودئ او مسجد و ته به ولاړه. نو موږې يو ځای وايي چې قسم په الله ﷻ دا خلک تاجران و مګر د دوی تجارت دوی د الله ﷻ د عبات څخه نه مشغولول. حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه يوه ورځ په بازار کې تشريف درلودئ چې اذان وسوده مبارک وليدل چې خلکو خپل سامانونه پرېښودل او مسجد ته ولاړل ابن مسعود رضي الله عنه وفرمايل: دا هم هغه خلک دي چې په اړه يې الله ﷻ فرمايي: رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ اللَّهِ (سورة نور).

په يو حديث شريف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ فرمايي: په ورځ د قيامت چې ټوله دنيا الله ﷻ سره يو ځای کړي نو بږغ به وسي چې هغه خلک دي جلا سي چې د غم او خوشالۍ په دواړه وختونو کې يې د الله ﷻ حمد او ثنا ويل، يوه کوچنۍ ډله به راپورته سي بې حسابه او بې کتابه به جنت ته ولاړه سي. بيا به بږغ وسي چې هغه خلک دي جلا سي چې په شپه کې به

---

(١) سورة نور الاية (١٨)

(٢) بيان القران

کافرانو تر لاس لاندې راتلل نه غواړو نو دستې يې د ترکش څخه غشي را وايستل مقابله يې شروع کړه. حضرت عاصم ﷺ په جذبه خپلو ملګرو ته وويل: ستاسو سره دوکه وسوه خو د ويرې خبره نه ده شهادت غنيمت وګڼی ستاسو محبوب ستاسو سره دئ د جنت حورې ستاسو انتظار کوي دد ې خبرې په کولو سره يې په پوره توان جګړه پيل کړه کله چې نېزه ماته سوه بيا يې په توره جګړه پيل کړل خو د کافرانو ډله ډېره وه آخر شهيد سو او دعا يې وکړه چې اې الله ﷻ! خپل رسول ﷺ ته زموږ د قصې خبر ورکړه دادعا يې قبوله سوه الله ﷻ په دغه وخت کې رسول الله ﷺ ته خبر ورکړئ. عاصم ﷺ خبر و چې سلافه نذر منلی دئ چې زما په کوپړه کې به شراب چيښي نو دعا يې وکړه چې اې الله ﷻ! زما سر ستا په لاره کې پرې کيږي نو زما د سر حفاظت وکړه. الله ﷻ يې دعا قبوله کړه کافرانو چې کله دده دسر د پرې کولو اراده وکړه نو الله ﷻ د شاتو مچمچۍ را ولېږلې او په يوه روايت کې راغلي دي چې د غالبوزو يوه ډله الله ﷻ راولېږل دعاصم ﷺ پر بدن باندې د څلورو طرفونو څخه راوګرځېدلې. کافران ونه توانيدل چې دده مبارک سر پرې کړي بيا دوی فکر وکړی چې د شپې به دا کار وکړو د شپې بيا د باران يوه څپه راغله دده مبارک جسد يې يوووړی دوی ته په لاس نه ورغلی. په دغه ډول درې يا اوه کسان شهيدان سول درې کسان پاته سوه چې يو حضرت خبيب ﷺ وو دوهم زيد بن طارق ﷺ وو او دريم عبد الله بن د ثنة ﷺ پاته سو ددوی سره کافرانو وعده وکړه چې تاسو راکښته سئ موږ ستاسو سره دوعدې مخالفت نه کوو دوی مبارکان راکښته سوه کافرانو دلينديو تسمې خلاصې کړې ددوی موټې يې ټينګې وتړلې عبدالله بن طارق ﷺ وويل چې دا لومړی دوعدې مخالفت دئ زه هيڅکله ستاسو سره نه ځم دهغو شهيدانو پر لاره تلل زما هم خوښ دي کافرانو چې دی هر څو مرې پورې واهه دی مبارک دځايه څخه نه وښورېدئ آخر يې شهيد کړی يوازې دوه مبارک اصحابان پاته سوه خبيب ﷺ و اوبل زيد بن دثنة ﷺ و، زيد بن دثنة ﷺ صفوان بن اميه د پنځوسو اوښانو په بدله کې واخيستی چې د خپل پلار اميه په بدل کې يې ووژني حضرت خبيب ﷺ جحير بن ابي اهاب دسلو اوښانو په بدله کې واخيستې چې دخپل پلار اهاب په بدله کې يې ووژني ، دبخاري شريف په يوه روايت کې راغلي دي چې خبيب ﷺ دحارث بن عامر اولادو رانيوی ځکه ده حارث دبدر په غزاکې وژلی و، صفوان خپل بندې يعني زيد بن دثنة ﷺ ژر ديوه غلام په لاس ورکړی د حرم دباندې يې د وژلو له پاره بوتی دده مبارک دشهادت پر وخت زيات خلک يو ځای سوي وه چې ابو سفيان هم راغلی و دده د شهات پر وخت يې دده څخه پوښتنه وکړه چې ستا دې په الله ﷻ قسم وي ريښتيا ووايه که ستا پر ځای محمد ﷺ قتل سي ته خلاص سې خوشحاله يې؟ حضرت زيد ﷺ وفرمايل: چې

زما دې په الله ﷻ باندې قسم وي چې د محمد ﷺ قتل خو لا څه کوي که په هغه يو ځوزجګ يې او زه په کور کې ارام کښېنم لا يې هم نه خوښوم. قريشو چې د اجواب واورېدی حيران پاته سوه، ابوسفيان وويل: د محمد ﷺ د ملګرو چې څومره محبت دده سره ما وليدئ مثال مې هيڅ چيرې نه و ليدلی ددې څخه وروسته زيد ﷺ شهيد کړل سو. حضرت خبيب ﷺ تر څه وخته پورې بندې و د جحير مينځه چې بيا وروسته مسلمانه سوه وايي: خبيب ﷺ چې کله زموږ سره په بندکې و موږ وليدل چې د خبيب ﷺ په لاس کې يوه ورځ د سړي د سر په اندازه يوه لويه غونچه د انګورو وه او خوړله يې. په مکه کې دغه وخت انګور بيخي نه وه. نوموړې مينځه زياتوې چې کله دده دمرګ وخت رانژدې سو نو د نظافت لپاره يې يوه چاړه وغوښتل کله چې يې چاړه ورکړه نابيره يو ماشوم و خبيب ﷺ ته ورغلی خلګو چې وليدل چې خبيب ﷺ چاړه په لاس کې او ماشوم ورته ولاړ دئ خلګ ووېرېدل چې خبيب ﷺ د غه ماشوم مړ نکړي. خبيب ﷺ دوی ته وويل: ايا ستاسو فکر دئ چې زه به دا ماشوم ووژنم؟ هيڅکله به داسې و نکړم. ددې څخه وروسته کافرانو خبيب ﷺ د حرم څخه وايستی او په رسۍ يې وځړاوه په دغه وخت کې کافرانو پوښتنه ځنې وکړه: که دې په زړه کې څه ارمان وي نو ووايه دده مبارک په جواب کې ورته وويل ماته دومره وخت راکړئ چې دوه رکعته لمونځ وکړم ددنيا څخه د تلو وخت دئ او د الله ﷻ سره ملاقات نژدې دئ کافرانو د ه ته وخت ورکړی دده مبارک دوه رکعته نفل په ډېره ارامتيا سره وکړه او بيا يې وفرمايل: که چيرې زما دا فکر نه وای چې ستاسو به دا خيال وي چې زه د مرګ د ويرې له وجهې وخت تېروم نو دوه رکعته به مې نور هم کړي وای ددې څخه وروسته يې په رسۍ وځړاوی او دعا يې وکړه چې اې الله ﷻ! داسې څوک به وي چې ستا تر رسول ﷺ پورې به زما وروستی سلام ورسوي. نبي ﷺ ته دوحيو په واسطه دغه سلام ورسول سو. نبي ﷺ وفرمايل: وعليکم السلام يا خبيب او ملګرو ته يې خبر ورکړی چې خبيب قريشو قتل کړی دئ.

حضرت خبيب ﷺ چې کله په رسۍ باندې وځړول سو نو څلور کافرانو د څلورو طرفونو څخه پرده باندې دنېزو حمله وکړه او بدن يې ورغلبېل کړی په دغه وخت کې يو چا قسم ورکړی بيا يې پوښتنه ځنې وکړه چې ته دا خوښوې چې تا پرېږدو او محمد ﷺ قتل کړو؟ دده مبارک په جواب کې ورته وويل والله العظيم زما داهم نه ده خوښه چې زما د ځان په بدله کې دې په محمد ﷺ يو ځوزننوزي.(۱)

(۱) فتح الاسلام

فایده: که څه هم د دې قصو هر لفظ د عبرت ده خو په دې قصه کې دوه شیان په ځانګړې ډول د درنښت او عبرت قابل دي؛ لومړی دا چې د دې مبارکو اصحابانو محبت او عشق دومره زیات و چې د نبي ﷺ د یوه لږ تکلیف په لیدلو کې هم خپل ځانونه قربانول. که څه هم د دغه کافرانو ورسول الله ﷺ ته لاس نه رسېدئ خو خبیب ﷺ یوائې په خوله هم نه غوښتل چې دا خبره پر ځان ومني چې ګویا د ده په بدله کې دې محمد ﷺ ووژل سي. کافرانو تر خپله وسه پورې کوشش کاوه چې هر ډول تکلیف نبي ﷺ ته ورسوي که څه هم محض په خوله وي پدې یې هم زړه سړېدئ. دوهم شی د صحابه کرامو ﷺ د لمانځه د درنښت او د لمانځه سره محبت و په دغسې وخت کې خلګ خپل اولادونه، ښځه، قریبان یادوي او د هغوی شکلونه لیدل غواړي پیغام او سلام ورته وایي خو د مبارکو اصحابانو ﷺ سلام د نورو پر ځای و نبي ﷺ ته و او اخري ارمان یې دوه رکعته لمونځ و.

۱۰- د نبي ﷺ سره د جنت د ملګرتیا لپاره د لمانځه مرسته

حضرت ربیعه ﷺ فرمایي چې ما د نبي ﷺ په خدمت کې شپه تېرول او د تهجید په وخت کې به مې ورته د اوداسه اوبه او نور د ضرورت وړ شیان لکه مسئله، مسواک او داسې نور ورته ایښودل یوه ورځ نبي ﷺ زما د خدمت څخه ډېر خوشحاله سو اوراته وې ویل: وغواړه څه شي غواړې؟ ما ورته وویل اې د الله ﷺ رسوله! په جنت کې ستا ملګرتیا غواړم نبي ﷺ راته وویل نور څه غواړې؟ ما ورته وویل بس دغه یو شی مې بس دئ نبي ﷺ راته وویل د سجدو په ډېروالي سره زما مرسته کوه.(۱)

فایده: په پورتنۍ خبره کښې د دې خبرې خبرداری دئ چې یوائې په دعا سره بې فکره کښېناستل نه دي په کار بلکې د عمل اړتیا هم سته او په عباداتو کې تر ټولو بهتره عبادت لمونځ دئ څومره چې د لمانځه ډېروالی وسي سجدې زیاتې کیږي. کوم خلګ چې په دې هیله ناست دي چې پلانکی پیر یا پلانکی بزرګ ما ته دعاوې وکړي دا محض د ځان تېرایستل دي ځکه الله ﷺ دا دنیا په اسبابو سره چلولې ده که څه هم بې له اسبابو هم پر هر شي باندې قدرت لري او د قدرت د ښکاره کولو لپاره کله داسې هم کوي چې بې له اسبابو یو کار ترسره کړي خو عام عادت یې دا دئ چې د دنیا کارونه د اسبابو سره تړي. د حیرانتیا خبره

---

(۱) ابوداود

داده چې موږ ددنیا په کارونو کې پر تقدیر او یوازې ددعا په هیله نه کښینو بلکې (۵۰) ډوله کوششونه کوو چې څرنګه پیسې پیدا کړو او څنګه یې ډیرې کړو مګر ددین په کارونو کې تقدیر او دعا رامنځته کوو په دې کې هیڅ شک نسته چې د سپېڅلو انسانو دعا ډېره ضروري ده خو نبي ﷺ دا ارشاد هم فرمایلی دئ چې د سجدو په ډېروالي سره زما مرسته وکړئ.

شپږم باب

ایثار، همدردي او د الله ﷻ په لاره کښې مال خرڅول

ایثار و دې ته وایي چې د خپلو اړتیاوو مخکې د نورو اړتیاوې پوره کړې د اصحابو کرامو رضي الله عنهم هر عادت هم داسې و چې د خپلې اړتیا تر پوره کولو مخکې یې د بل ورور مسلمان اړتیا پوره کول. دا صحابو کرامو د ټولو عادتونو سره برابر والي خو څه کوې که ددوی مبارکانو د عادتونو څخه یوه برخه د یو چا نصیب سي لویه نیکبختي ده. ځیني داسې عادتونه په دوی مبارکانو کې خاص وه که یې ځوک په ځان کې راولې نو ددوی مبارکانو د عادتونو یوه برخه به یې په ځان کې راوستلې وي چې ددغه عادتونو څخه یو هم ایثار دئ الله ﷻ په قرآن شریف کې ددې ایثار ستاینه کړې ده او فرمایي:

وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ[1]	ژباړه: دوی د نورو اړتیاوې تر خپلو اړتیاوو مخکې پوره کوي که څه هم دوی وږي وي.

۱- د صحابي د میلمه له خاطره ډېوه مړه کول

یو صحابي د نبي ﷺ و حضور ته ورغلی او د خپلې لوږې او سترې ژوند حال یې ورته بیان کړی. نبي ﷺ خپلو کورونو ته خلګ ولېږل تر څو دده لپاره یو شی پیدا کړي، خو هیڅ شی پیدا نسو بیا نبي ﷺ و اصحابو رضي الله عنهم ته وویل: یو څوک سته چې ددغه صحابي میلمستیا

[1] سورة حشر الاية (۹)

وکړي؟ يو انصاري صحابي وويل: اې د الله ﷻ رسوله ! زه به يې مېلمه کړم، نو دغه صحابي يې خپل کورته بوتی او خپلي بي بي ته يې وويل: دادنبي ﷺ ميلمه دئ، هر څومره عزت چي يې کولای سې، کمی مه پکښي کوه، او هيڅ شی مه پوټه وه ، بي بي ورته وويل: په الله ﷻ دي مي قسم وي چي د ماشومانو لپاره مي يو شی ايښي دئ نور هيڅ په کور کي نسته. صحابي ورته وويل: ماشومانو ته تسلي ورکړه او بيده يې کړه کله چي دوی بيده سوه نو ته ډوډۍ راواخله بياته د څراغ دسمولو په بهانه ولاړه سه او څراغ مړ کړه موږ به داغسي ورته کښېنو صحابي به ډوډۍ وخوري بي بي هم داسي وکړه. صحابي، بي بي او ماشومانو په نهاره شپه تېره کړه او هغه ميلمه صحابي يې موړ کړئ، الله ﷻ دا آيات نازل کړی:

وَيُؤۡثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ وَلَوۡ كَانَ بِهِمۡ خَصَاصَةٞۚ(۱)	ژباړه: دوي د نورو اړتياوي تر خپلو اړتياوو مخکي پوره کوي که څه هم دوي وږي وي.

فايده: په دې ډول اصحابو کرامو ته ګڼ شمېر واقعات پېښ سوي دي چي يوه بله واقعه يې هم په لاندي ډول ده:

۲- د روژاتي لپاره څراغ مړ کول

يو صحابي ﷺ په پرله پسي ډول روژې نيولې او د روژه مات لپاره يې هيڅ نه درلوده يو انصاري صحابي حضرت زيد بن ثابت ﷺ ته معلومه سوه چي دغه صحابي په پرلپسې ډول روژې نيسي او د روژمات لپاره شی نه لري نو خپلي بي بي ته يې وويل چي زه نن شپه يو ميلمه راولم چي خوراک شروع سي نو ته د څراغ د سمولو په بهانه څراغ مړ کړه تر هغه وخته پوري چي ميلمه مړېږي او خپله خوراک مه کوه بي بي يې هم داسي وکړه ټول پر سترخان باندي د ميلمه سره ناست وه ګويا ډوډۍ خوري په حقيقت کي دوی ډوډۍ نه خوړل صبا چي کله زيد بن ثابت ﷺ د رسول الله ﷺ و حضورته ورغلی رسول الله ﷺ ورته وويل: تاسو تېره شپه د ميلمه سره ډېر ښه سلوک وکړی د الله ﷻ ډېر خوښ راغلی.(۲)

---

(۱) سورة حشر الاية (۹)

(۲) منشور

۳- د يو صحابي په زکوة کښې اوښ ورکول

حضرت ابي بن کعب ﷺ فرمايي: زه يو ځلي نبي ﷺ د زکوة راټولولو لپاره وليږلم زه يو صحابي ته ورغلم د مال حالات چې مي معلوم کړې نو د اوښ يو بچې پر لازم کيده ماغوښتنه ځني وکړه ده مبارک په جواب کښې راته وويل چې يو کلن جونګې خو نه د شيدو کار کوي او نه د سپرتيا کار کوي بيا ولاړې يو ګران قيمته اوښه يې راوستل او راته وې ويل چې دا اوښه بوزه ماورته وويل چې دا نسم بېولاې ځکه چې ماته دښه مال اخيستولو حکم ندی سوی که چيري دا اوښه ورکول غواړې نو نبي ﷺ په سفر کښې دئ اونن په پلانکي ځای کښې تشريف لري نو ته پخپله ورسه او دده په خدمت کښې يې وړاندي کړه که چيري رسول ﷺ قبوله کړه زه هيڅ انکار نه کوم او که يې قبوله نکړه زه مغفرت غواړم هغه صحابي دغه اوښه زما سره يو ځای روانه کړه او دنبي ﷺ حضور ته ورغلو او ورته وې ويل اې د الله ﷺ رسوله ﷺ! ستاسو قاصد زما د زکوة اخيستلو لپاره راغلی و په الله ﷺ دي مي قسم وي چې ماته به تر ننه پوري داسي نيکمرغي نوای چي د الله ﷺ رسول ﷺ زما په مال کښې مداخله کړې وای نو ما خپل ټول مال قاصد ته وړاندي کړی قاصد راته وويل چې ستا په مال کښې يو کلن اوښ زکوة واجب دئ يا رسول الله ﷺ !يو کلن اوښ خو نه د شيدو کار کوي او نه د سپرتيا کار کوي نو له همدې امله مي ستاسو قاصد ته يو ښه ځوانه اوښه ورکړه خو ستاسو قاصد قبوله نه کړه نو ما خپله راوستل او ستاسو حضور ته حاضر سوم نبي ﷺ ورته وويل ستاسو زکوة هم هغه يو کلن اوښ دئ او پر تاسو هم هغه اندازه واجب دئ که چيري ته د خپل لوري څخه زيات اوښه مال ورکوې نو قبول دي يې کړي الله ﷺ دي يې وتاته بدله درکړي صحابي ﷺ وويل داده اوښه حاضره ده، نبي ﷺ اوښه قبوله کړه او د برکت دُعايې ورته وکړه.

فايده: داد اصحابو کرامو ﷺ د زکوة د مال حال و نن ډېر د اسلام دعوه کونکي سته او د رسول الله ﷺ سره د محبت او ميني دعوه هم کوي د زکوة څخه زيات مال خو څه کوې بلکي هغه پوره اندازه ورکول هم ورته مرګ دئ نن دلوړي مرتبې خلک چې زيات شتمن ورته ويل کيږي ددوی په وړاندي د زکوة بيان کول بيخي نسته او کوم کسان چې دميانه مرتبې خلک دي او خپل ځانونه ديندراره هم ګڼي هغه هم زيار باسي چې کوم خيرن مال وخپلوانو ته ورکړي او يا کوم بل ځای مجبوره سي نو د زکوة نيت پکښې کوي.

۴- د حضرت ابوبکر ﷛ اوحضرت عمر ﷛ په صدقه کښې مقابله

حضرت عمر ﷛ فرمايي چې يوه ورځ نبي ﷺ د صدقې ورکولو امر وکړی نابيره پدغه وخت کښې زما سره يو څه مال موجود و ماوويل چې نن ورځ خو زما سره نابيره مال ستهاو زه هيڅ کله په صدقه ورکولو کښې تر حضرت ابوبکر صديق ﷛ زيات سوی نه يم نن به ترې زيات سم دا فکر چې مي وکړی او په خوشحالی سره کور ته ولاړم او هر څه چې په کور کښې وه نيم مي تهوله راوړل نبي ﷺ راته وويل د کور خلګو ته دې يو څه پرېښول ماورته وويل چې نيم مي ور پرېښودل حضرت ابوبکر صديق ﷛ چې په کور کښې څه درلودل هغه يې تهوله راوړل رسول الله ﷺ ورته وويل چې اې ابوبکر صديق ! د کور خلګو ته دې يو شی پرېښودئ حضرت ابوبکر ﷛ ورته وويل: چې د کور د خلګو لپاره مې الله ﷻ او دده د رسول ﷺ د نوم برکت او ددوی رضا او خوشحالي پرېښودل حضرت عمر ﷛ فرمايي: ما وويل: زه هيڅ کله د حضرت ابوبکر صديق ﷛ په څېر نه سم مخته کيدلای.

فايده: په ښو صفتونو او نيکو کارونو کښې سيالي کول يعني يو تر بل ځان مخکې کول مستحب دئ په قرآن کريم کښې و دې کار ته هځونه راغلې ده. (دا پېښه د تبوک په غزاء کښې راغلې ده) په دغه وخت کې نبي ﷺ د صدقې راټولو لپاره په ځانګړې ډول داصحابو کرامو هځونه کړې وه او اصحابو کرامو د خپل توان سره برابر بلکې تر همت او وس زياتې مرستې کړې وې چې بيان يې په دوهمه باب اتمه قصه کښې په لنډ ډول تېر سوی دئ.

جَزَاهُمُ اللّٰهُ عَنَّا وَعَن سَائِرِالْمُسلِمِينَ اَحسَنَ الجَزَا

۵- د اصحابو کرامو ﷱ دنورو په وجه د تندي څخه مړه کېدل

حضرت ابوجهم بن حذيفه ﷛ فرمايي چې د يرموک په غزاء کښې زه خپل دا کاد زوی په لټه کښې راووتلم چې زمونږ سره يې په جنګ کښې ګډون کړی و، د اوبو يو لوښی اويو جام مې د ځان سره واخيستی فکر مې کاوه چې هغه به تږی وي نو اوبه به په و چيښم نابيره هغه په يو داسې ځای کښې پروت و چې ساه يې پر وتو وه ماپوښتنه ځني وکړه چې اوبه درته راوړم ؟ هغه په اشاره راته هو وکړه په دغه حالت کښې يو بل ملګري نژدې پروت وو آه يې وکړی زما دا کاکا زوی چې دد غه صحابي ږغ واورېدئ ماته يې اشاره وکړه چې ده ته اوبه

۴- د حضرت ابوبکر ﷛ او حضرت عمر ﷛ په صدقه کښې مقابله

حضرت عمر ﷛ فرمايي چې يوه ورځ نبي ﷺ د صدقې ورکولو امر وکړی نابيره په دغه وخت کښې زما سره يو څه مال موجود و ماوويل چې نن ورځ خو زما سره نابيره مال سته او زه هيڅ کله په صدقه ورکولو کښې تر حضرت ابوبکر صديق ﷛ زيات سوی نه يم نن به ترې زيات سم دا فکر چې مې وکړی او په خوشحالی سره کورته ولاړم او هر څه چې په کور کښې وه نيم مې ټوله راوړل نبي ﷺ راته وويل د کور خلګو ته دې يو څه پرېښول ماورته وويل چې نيم مې ورپرېښودل حضرت ابوبکر صديق ﷛ چې په کور کښې څه درلودل هغه يې ټوله راوړل رسول الله ﷺ ورته وويل چې اې ابوبکر صديق ! د کور خلګو ته دې يو شی پرېښودئ حضرت ابوبکر ﷛ ورته وويل: چې د کور د خلګو لپاره مې الله ﷻ او دده د رسول ﷺ د نوم برکت او ددوی رضا او خوشحالي پرېښودل حضرت عمر ﷛ فرمايي: ما وويل: زه هيڅ کله د حضرت ابوبکر صديق ﷛ په څېر نه سم مخته کيدلای.

فايده: په ښو صفتونو او نيکو کارونو کښې سيالي کول يعني يو تر بل ځان مخکي کول مستحب دئ په قرآن کريم کښې و دې کار ته هڅونه راغلې ده. (دا پېښه د تبوک په غزاء کښې راغلې ده) په دغه وخت کې نبي ﷺ د صدقې راټولو لپاره په ځانګړې ډول داصحابو کرامو هڅونه کړې وه او اصحابو کرامو د خپل توان سره برابر بلکي تر همت او وس زياتي مرستي کړې وې چې بيان يې په دوهمه باب اتمه قصه کښې په لنډ ډول تېر سوی دئ.

جَزَاهُمُ اللّٰهُ عَنَا وَعَن سَائِرَالمُسلِمِينَ اَحسَنَ الجَزَا

۵- د اصحابو کرامو ﷻ د نورو په وجه د تندي څخه مړه کېدل

حضرت ابوجهم بن حذيفه ﷛ فرمايي چې د يرموک په غزاء کښې زه خپل دا کا د زوی په لټه کښې راووتلم چې زمونږ سره يې په جنګ کښې ګډون کړی و ، د اوبو يو لوښی او يو جام مې د ځان سره واخيستی فکر مې کاوه چې هغه به تږی وي نو اوبه به په و چيښم نابيره هغه په يو داسي ځای کښې پروت و چې ساه يې پر وتو وه ماپوښتنه ځني وکړه چې اوبه درته راوړم ؟ هغه په اشاره راته هو وکړه په دغه حالت کښې يو بل ملګري نژدې پروت وو آه يې وکړی زما دا کار زوی چې دد غه صحابي ږغ واورېدئ ماته يې اشاره وکړه چې ده ته اوبه

پزه ، غوږونه او داسي نوراندامونه پرې کړل سوي دي نودا دالله ﷻ په لارکي کومه لويه خبره نه ده موږ په دې کار راضي يو دالله ﷻ څخه د ثواب هيله لرو او انشاءالله صبربه وکړم حضرت زبير رضي الله عنه نبي ﷺ ته ورغلی دمور خبري يې ورته وکړې نبي ﷺ چي دهغې جواب واورېدئ نودليد ولو اجازه يې ورکړه دا راغله خپل ورور يې وليدئ اِنالِلهِ يې وويل او دده لپاره يې استغفار او دعا وويل . په يوبل روايت کي راغلي دي چي د احد په غزاکي چي کوم ځای مړي پراته وه نو يوه ښځه په چابکۍ سره راتله نبي ﷺ وفرمايل چي وګورئ هغه ښځه منعه کړئ، حضرت زبير رضي الله عنه فرمايي : ما وپېژندل چي زما مورده زه په تلوار د منعه کولو لپاره ورمخکي سوم خو هغه ډېره زوره وره وه زه يې په سوک ووهلم اورا ته يې وويل چي ليري سه ما ورته وويل چي نبي ﷺ منعه کړې ده نو دا دستي ودرېده ددې څخه وروسته يې دوه پټوان را وايسته او وې وويل چي ما دخپل ورور د کفن لپاره راوړي دي اوزه يې دوفات څخه خبره سوې يم په دغه پټووانو کښي کفن ورکړئ موږ هغه پټووان را واخيسته چي حضرت حمزه رضي الله عنه ته کفن پکښي ورکړو په دغه وخت کي يوبل انصاري صحابي دده وڅنګ ته پروت و چي کافرانو هم دحمزه رضي الله عنه په څېر ظلم ورسره کړی وا وشهيد کړی يې وو نوم يې حضرت سهيل رضي الله عنه وو نو موږ ته پردې خبره شرم ودرېدئ چي حمزه رضي الله عنه ته په دووجامو کښي کفن ورکوو او انصاري يو کفن هم نلري نوله همدې امله ددواړو لپاره يوه يوه جامه وټاکل سوه خو يوه جامه (پټو) لوی و اوبل کوچنی و نو موږ هيسکه وا چوله ددې لپاره چي هره جامه دهرچا په نامه راووتل هغه ته به يې ورکوو کله چي مو هيسکه تر سره کړه لويه جامه د حضرت سهيل رضي الله عنه په برخه سوه او لنډه جامه د حضرت حمزه رضي الله عنه په برخه سوه چي دده مبارک ترقد کوچنۍ وه پښې چي به مو ورپټې کړې سر به يې لوڅ سو او سر چي به مو ورپټ کړی پښې به يې لوڅي سوې نبي ﷺ و فرمايل چي سر ورپټ کړئ پر پښو يې پاڼي او داسي نور شيان ورواچوئ .(۱)

د ابن سعد رضي الله عنه په روايت کي راغلي دي چي حضرت صفيې رضي الله عنها چي کله دوې جامې راخيستي وې او دخپل ورور د جسد په لټه کي وه چي وڅنګ ته يې د ورور په څېر يو بل انصاري هم وليدئ نو يو يو پټو يې دواړو ته کفن ورکړی د حضرت حمزه رضي الله عنه پټو لوی وو . دا روايت مختصر دئ او دخميس کتاب روايت تفصيلي دئ.

فايده: دا ددواړو جهانو د پاچا د اکا کفن و هغه هم پدې ډول چي يوه ښځه د خپل ورور لپاره دوې جامې راوړي دوی دا هم نه خوښوي چي ده ته دي دواړي جامې ورکفن کړي او يو

(۱) خميس

بل انصاري دي بې کفنه پاته سي نو بيا هغه دوې جامي يوه -يوه ددوی په منځ کي ويشي او لنډه جامه و هغه ته رسيږي چي ددواړو جهانو د پاچا اکا دئ څوک چي د مسکينانو ملاتړ کوي او د عدل دعوه کوي که چيري په خپلو دعوو کي رښتني وي نو ددې پاکو انسانو تابعداري دي وکړي ،چي يو ازي په وينا سره نه بلکي په عمل سره يې هم وښودل ، موږ چي ددې پاکو هستو دتابعدارۍ دعوه کوو دا زموږ لپاره دشرم خبره ده.

۷- د سيرلي سره ګر ځيدل او بيا بېرته راتلل

حضرت ابن عمر رضي الله عنهما فرمايي چي يو صحابي ته يو چا سېرلی په تحفه کښې ورکړی هغه فکر وکړی چي زما فلانکی ملګری تر ماډېري اړتيا وي لري د اولادو او بچيانو څښتن دئ او د هغه د کور خلګ ډېر محتاجه دي نو دستي يې د هغه ملګري وکورته ورولېږی هغه بيا وبل ملګري ته ولېږی لنډه دا چي اوو کورونو ته ولېږل سو آخر بېرته د هغه صحابي وکورته راغلی چي لومړي ورته تحفه سوی و (١).

فايده: ددې ډول قصو څخه معلوميږي چي دوی هم ډېر اړ وه خو هر يوه به د خپلي اړتيا تر پوره کولو مخکي دنورو اړتياوي پوره کولې.

۸- حضرت عمر رضي الله عنه ددايي توب لپاره د خپلي بي بي بېول

امير المومنين حضرت عمر رضي الله عنه چي د خپل خلافت په زمانه کښې يې ډېر واري د شپې د چوکيدارۍ په ډول د ښار ساتنه هم کول يوه ورځ په يوه ډګر باندي تېر سو چي دوړيو يوه خيمه يې وليدل چي پخوا دلته نه وه ولاړه نو نژدې ورغلی کله چي ورنژدې سو نو يو ملګری هلته ناست دئ او د خيمې څخه د ځګېروي اواز راځي حضرت عمر رضي الله عنه سلام ورته وو وايه او د هغه ملګري سره کښېناستی او پوښتنه يې ځني وکړه چي ته څوک يې؟ هغه سړي په جواب کي ورته وويل چي زه مسافر يم د ځنګله او سېدونکی يم امير المومنين ته خپلي اړتياوي وړاندي کوم او د مرستي غوښتلو لپاره راغلی يم بيا ده مبارک پوښتنه ځني وکړه چي د خيمې څخه څنګه اواز راوزي؟ هغه سړي ورته وويل چي ځه سړيه خپل کار دي کوه نوري

---

(١) در منثور

پوښتنې مه کوه خو ده مبارک ټینګار وکړی چې خامخا به وایې چې د اد څه شي تکلیف دئ هغه سړي ورته وویل چې ښځه مې پر اولاد مریضه ده درد ونه ورته پیدا سوي دي ده مبارک ورته وویل چې بله کوم ښځه نسته ؟ هغه سړي ورته وویل چې هیڅوک نسته دی مبارک ددې ځای څخه راروان سو کورته یې تشریف یووړی او خپلې بي بي حضرت ام الکلثومؓ ته یې وویل چې د یو ډېر ثواب شی ستا لپاره راغلی دئ هغې پوښتنه وکړه چې څه شي دئ؟ ده مبارک ورته وویل چې د ځنګله دیو او سېدونکي یوه بېوزله ښځه یوائحې ده پر اولاد باندې مریضه ده ، بي بي وویل: چې دا څومره نیکمرغي ده زه تیاره یم که ستا اجازه وي زه به ورسم . ولې به دانه وه تیاره ځکه دا هم د حضرت فاطمېؓ لور وه حضرت عمرؓ ورته وویل کوم شیان چې د ولادت په وخت کې پکار یږي لکه تیل، ټوکران او داسي نور هغه هم درسره واخله او یو څه غوړي او داني هم درسره واخله ام الکلثومؓ دغه دضرورت شیان واخیسته او روانه سوه حضرت عمرؓ وروسته پسي تلی تر داسي وخته پوري چې بي بي خیمې ته ننوته او عمرؓ د خیمې دباندي دهغه صحرایي سړي سره کښېناستی او ریې بل کړی کټو یې باندې کړه یو څه داني یې وایشولې بیا یې غوړي وروا چول په دغه وخت کې هغه ښځه دزیږد څخه فارغه سوه دخیمې دننه بي بي ناره کړه چې یا امیر المؤمنین! خپل دوست ته مبارکي ورکړه چې هلک پیدا سو هغه سړی چې د امیر المؤمنین لفظ واورېدئ نو وو پرېدئ امیر المؤمنین وویل: د ویري خبره نه ده وروسته یې هغه کټو د خیمې سره کښېښوده او بي بي ته یې وویل: دغه کتغ هغې ښځې ته ورکړه چې وې خوري . بي بي هم ښځې ته خوراک ورکړی هغې وخوړی بیا یې کټو د باندې راوایسته امیر المؤمنین و هغه سړی ته وویل: واخله دغه پاته شیان ته وخوره ټوله شپه دي په نهاره تېره کړې ده ددې څخه وروسته یې بي بي د خپل ځان سره بوتله او سړي ته یې وویل: چې صبا راسه ستا لپاره به انتظام وسي. (۱)

فایده: زموږ د زمانې پاچا نه ، رئیس نه بلکي د یوه کوچنی حیثیت لرونکي شتمن سړی داسې سته چې د مسافر لپاره دي خپله بي بي د شپې ځنګله ته بوزي ؟او په خپله دي په نغري کي اور بلوي بیا دي پخول کوي؟ شتمن سړی خو پرېږده یو دیندار ه سړي هم داسي کړي دي؟ یو څه فکر کول پکار دي د ُچا نوم چې موږ اخلو د چا په اړه چې موږ د برکت هره خبره کوو ایا ددوی په شان موږ هم یو څه کړي دي؟

(۱) اشهر

۹- دحضرت ابو طلحة ﷺ باغ وقف کول

حضرت انس ﷺ فرمايي: د مدينې په انصارو کې ابو طلحة ﷺ تر ټولو زيات شتمن و او تر ټولو دلوی باغ څښتن و دده مبارک يو باغ وو چې (بيرحآء) نوميده دده ډېر خوښ و مسجد نبوي ته هم نژدې و او خوړې اوبه هم پکښې زياتې وې نبي ﷺ به زيات وخت هغه باغ ته ورتلی او اوبه به يې چيښلې.

کله چې دا آيات نازل سو:

لَن تَنَالُوا۟ ٱلْبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُوا۟ مِمَّا تُحِبُّونَ ۚ وَمَا تُنفِقُوا۟ مِن شَىْءٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٌ ﴿٩٢﴾ (١)

ژباړه: هيڅکله به تاسو دنيکۍ کاملې درجې ته نه ورسيږې تر څو هغه مال نفقه نه کړې چې تاسو ته ډېر خوښ وي.

ابو طلحة ﷺ چې دغه آيات واورېدئ درسول الله ﷺ و حضور ته ورغلی او ورته وې ويل: اې د الله ﷻ رسوله ﷺ! ماته تر ټولو زيات بير حآء خوښ دئ او د الله ﷻ فرمان دئ چې تاسو به تر ټولو ښه مال د الله ﷻ په لاره کې خرڅوئ او س زه خپل دغه باغ د الله ﷻ په لاره کې خرڅوم څنګه چې يې تاسو مناسبه بولئ په هغه ډول يې خرڅ کړه نبي ﷺ ډېر خوشحاله سو او ورته وې ويل: زه دا مناسبه بولم چې د خپلو قريبانو په منځ کې يې وويشې ابو طلحة ﷺ هغه باغ د خپلو قريبانو په منځ کې وويشی ټوله يې د الله ﷻ په لاره کې مصرف کړی. (٢)

فايده: موږ ته تر ټولو خوښ مال يعني خپل ښه جايداد کله په يو وعظ يا دقرآنکريم د يو آيات په لوستلو يا اوريدلو سره خيراتوو ؟ که د خيراتولو فکر هم راته پيداسي نو دغه کار هغه وخت کوو چې موږ د ژوند څخه نااميده سوي يو يا د قريبانو څخه خوابدي سوي يو د هغوی د محرومه کولو په موخه د خيراتولو فکر راسره پيداسي او کلونه په دې فکر کې يو چې يو داسي شی پيداسي چې زما په ژوند کې په کار راسي وروسته چې هر څه کيږي پروانه کوي. که نوم ښودنه پکښې وي لکه د واده يا کوزدې مجلسونو جوړولو دداسي کار لپاره چې د پيسو مصرف کيږي نو که په سود او قرض راته پيداسي هم مخ نه ګرځني اړوو.

---

(١) سورة ال عمران الاية (٩٢)

(٢) درمنشور

۱۰- د حضرت ابوذر غفاري ﷺ و خپل خادم ته خبر ورکول

حضرت ابوذ غفاري ﷺ یو مشهور صحابي دئ چي د اسلام راوړلو قصه يې په لومړی باب پنځم شمېره کي تېره سوه نوموړی د لویو زاهدانو څخه و. ده مبارک خپله هم مال او شتمني نه سره جمعه کول او نه يې داخوښېدل چي بل څوک يې جمعه کړي زیات وخت به د شتمنو خلکو سره په جنګ اخته و په همدې وجه د حضرت عثمان بن عفان ﷺ په حکم په زبدة نومي ځای کي اوسېده چي په ځنګله کي ډېر کمزوری ځای و د حضرت ابوذر ﷺ سره په ځنګله کي اوښان وه یو کمزوری څرونکي يې درلودئ ده مبارک به يې احوال پوښتی ، یوه ورځ د بنو سلیم قوم یو سړی ده مبارک ته راغلی او ورته وې ویل: اې ابوذره ﷺ! زه غواړم چي ستا خدمت وکړم او ستا د فیوضاتو څخه ځان برخمن کړم حضرت ابوذر ﷺ ورته وویل: زه هغه څوک خوښوم چي زما خبره مني که ته زما خبره منې نو په شوق او مینه سره اوسه که يې نه منې نو ستا اړتیا نسته. سلیمي صاحب وایي چي ما ورته وویل: اې ابوذره ﷺ! کوم شی ستاسو پکار دئ چي په هغه کي زه ستاسو اطاعت وکړم؟ ابوذر ﷺ وویل: زه چي کوم مال دالله ﷻ د رضا لپاره خرڅوم نو تر ټولو ښه مال به ورکوې. دغه نوی خادم وایي : ما دده خبره قبوله کړه. خادم وایي: نابېره یوه ورځ ابوذر ﷺ ته چا وویل: چي پر اوبو باندي ځني خلک اوسیږي چي زیات ضرورتمن دي خوراک ته اړ دي ده مبارک ماته وویل: چي یو اوښ راوله زه هم ولاړم ډېر ښه اوښ چي د سورلۍ لپاره زیات فرمانبردار و د وعدې مطابق مي د بیولو اراده وکړه بیا مي فکر وکړی چي غریبان خو يې غوښي خوري نو دا ښه طاقتور د سورلۍ اوښ ولي ورولم نو تر هغه مي یوه درجه کم اوښه وکته دده مبارک حضور ته مي وروستل داسي اوښه وه چي تر پاته ټولو اوښانو غوره وه یوازي تر هغه اوښ کمزوري وه چي ما ویلي وه چي دا ډېره ښه د سورلۍ اوښ دئ کیدلای سي دده او ملګرو د سورلۍ لپاره یو وخت پکارسي ابوذر ﷺ راته وویل : اې خادمه! تا خیانت وکړی زه دستي پوه سوم دستي ولاړم هغه ښه اوښ مي ابوذر ﷺ او نورو ملګرو ته راوستی چي اول مي پري ایښي و ابوذر ﷺ و ناستو کسانو ته وویل: په تاسو کي داسي کسان سته چي د الله ﷻ د رضا لپاره کارو کړي؟ دوه کسان ولاړ سوه او وې وېل چي موږ يې کوو. ابو ذر ﷺ ورته وویل: دا اوښ حلال کړئ ټوټې - ټوټې يې کړئ بیا هغه ټول کورونه وشمېرئ چي پر اوبو باندي ودان دي د ابوذر ﷺ یعني زما کور هم یو ددوی څخه حساب کړئ او په ټولو کورونو باندي غوښي وویشی زما

کورته هم دومره اندازه غوښه ورکړئ لکه و هغه نورو کوروته چې يې ورکوئ دوی هم داسې وکړل غوښې يې تقسيم کړې خادم وايي: وروسته يې زه راوغوښتم او راته وې ويل: زما هغه وصيت د ښه مال خرڅول دي په قصده پرې ايښی و او که درڅخه هېر سوی و که درڅخه هېر سوی وي نو معذوره يې. ماورته وويل: چې هېر سوی مي نه و ماهم لوړی هغه اوښ راروان کړی وروسته مي فکر وکړی چې دا اوښ تاسو ته زيات په کار راځي ابوذر ﷺ وويل: يوائځي ماته په کار راځي ما ورته وويل: هو! يوائځي تاسو ته په کار راځي اوستاسو د ضرورت لپاره مي پرې ايښي و ده مبارک راته وويل: زه د خپل ضرورت وخت درښيم؟ زما ضرورت هغه ورځ ده چې زه يوائځي په قبر کي وغورځول سوم دغه ورځ زما دضرورت او احتياج ورځ ده په مال کښې درې برخه لرونکي سته لومړي برخه لرونکی تقدير دئ چې د مال په بېولو کي د هيڅا انتظار نه کوي ښه او بد دواړه بيايي، دوهم برخه لرونکی ستا وارث دئ چې ستا دمړيني وروسته ستامال اخلي اودريم برخه لرونکی ته په خپله يې نو څومره چې دي په توان وي او کيدلای سي نو په درو برخه لرونکي کي عاجزه مه جوړېږه ځکه الله ﷻ فرمايي:

لَن تَنَالُوا۟ ٱلْبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُوا۟ مِمَّا تُحِبُّونَ ۚ وَمَا تُنفِقُوا۟ مِن شَىْءٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٌ ﴿٩٢﴾ (١)

ژباړه: هيڅکله به تاسو دنېکۍ کاملې درجې ته نه ورسيږئ تر څو هغه مال نفقه نه کړئ چې تاسو ته ډېر خوښ وي.

نو له همدې امله د خپل ځان لپاره تر ټولو ښه مال مخکي ولېږه. هغه مال چې ستا تر ټولو خوښ وي تر څو ستا لپاره جمعه سي.

فايده: په درو برخه لرونکو کي تر ټولو دعاجزانه جوړېدو مطلب دادئ چې څومره دي په توان وي د آخرت په زخيره کي يو شی جمعه کړه داسي نه چې مقدر غالب سي او هغه مال ستا څخه ضائع سي ياته مړ سي مال دي د نورو په لاس کښېوزي بيا دي څوک پوښتنه نه کوي دکورنۍ غړي او ښځه به دي يو لږ وخت درپسي وژاړي بيا دي نه يادوي داسي ډېر خلک سته چې په مړي پسي خيرات هم نه کوي.

په يوه حديث شريف کي راغلي دي چې نبي ﷺ فرمايي: انسان تل دا وايي چې زما مال، زما مال، حال دادئ چې دده مال هغه دئ چې ده وخوړی او ختم يې کړی ياپې واغوستی او زوړ يې کړی او ياپې د الله ﷻ په لاره کي مصرف کړی د ځان لپاره يې خزانه کړی دده نه پرته نور چې دی هر څه مال يو ځای کړی وي هغه د نورو لپاره يو ځای کړي دئ.

---

(١) سورة ال عمران الاية (٩٢)

په يو حديث شريف کي راغلي دي چي نبي ﷺ پوښتنه وکړه چي په تاسو کي څوک سته چي تر خپل مال يې د وارث مال خوښ وي؟ اصحابو وويل: يا رسول الله ﷺ! داسي څوک به نه وي چي د نورو مال يې تر خپل مال خوښ وي. (يعني داسي څوک نسته) نبي ﷺ وفرمايل: خپل مال يوازي هغه دئ چي سړی يې خپله وخوري او کوم مال چي پاته سو هغه د وارثانو مال دئ. (١)

۱۱- د حضرت جعفر رضي الله عنه قصه

حضرت جعفر رضي الله عنه د نبي ﷺ د اکا زوی او د حضرت علي کرم الله وجهه سکه ورور و. لومړی خو ددوی کورنۍ په سخا، بهادري او شجاعت کي نوموتې کورنۍ وه مګر د حضرت جعفر رضي الله عنه د مسکينانو سره خاصه رابطه او علاقه وه او زياته ناسته يې ورسره کول کله چي د کافرانو څخه تنګ سو نو لومړی يې حبشې ته هجرت وکړی حبشې ته چي کافران پسي ورغلل نو ده خپله صفايي او پاکوالی نجاشي پاچا ته وړاندي کړی چي قصه يې د اول باب په لسم شمېره کي تېره سوه د حبشې څخه يې بيا ومدينې منورې ته هجرت وکړی او د موته په غزا کي شهيد سو چي قصه به يې د راتلونکي باب په پای کي راسي دده مبارک دوفات سره رسول الله ﷺ دده کور ته تشريف يووړی تر څو دده د کورنۍ سره غمرازي وکړي او تسلي ورکړي دده زامن عبدالله، عوان او محمد يې راوغوښتل پر سرو يې لاس ورتېر کړی د برکت دعا يې ورته وکړه د حضرت جعفر رضي الله عنه په ټول اولادو کي دده اثر (اغيزه) وه خو په عبدالله نومي زوی کي يې د سخاوت صفت زيات و له همدي امله ده ته د قطب السخاء لقب ورکول سوی دئ يعني د سخاء ستوری د او و کالو په عمر يې د نبي ﷺ سره بيعت وکړی. يو چا عبد الله بن جعفر رضي الله عنه و حضرت علي رضي الله عنه ته د سپارښت لپاره بوتی دده په سپارښت د هغه سړي کار وسو نو هغه سړي دده لپاره څلوېښت زره روپۍ د نذراني په ډول را واستولې ده مبارک بېرته ورواستولې او ورته وې ويل: موږ خپله نيکي نه خرڅوو يو بل چا هم درې زره روپۍ د نذراني ورته راوړې ده په ناستو خلګو وويشلې خپله يې نه کړي قبولي يو وخت يو تاجر بازار ته شکره راوړې وه په بازار کي هيڅ خرڅه نه سوه د هغه تاجر سره ډېر فکر او غم و عبد الله بن جعفر رضي الله عنه خپلو کارکوونکو ته وويل: تاسو ددغه تاجر څخه شکره (بوره) رانيسئ او په خلګو

(١) مشکوة

يې مفته (وړيا) وويشئ. د شپې چې به ددوی قوم ته ميلمه راغلی نو دده په کور کې به يې خوراک او چيښاک کاوه او هر ډول اړتياوي به يې ده پوره کولې.(۱)

حضرت زبير ﷺ په يو جنګ کې ګډون کړی و يوه ورځ يې خپل زوي عبد الله راوغوښتی او وصيت يې ورته وکړی په وصيت کې يې ورته وويل: فکر کوم چې زه به نن شهيد سم ته زما پور ادا کړه او فلانکی او فلانکی کار وکړه دا وصيتونه يې زوی ته وکړه په همدغه ورځ شهيد سو زوی چې يې د پور حساب وکړی نو پر ده باندي دوويشت لکه روپۍ باندي وي هغه هم په دې ډول وي چې خلګو ده ته په امانت مالونه ايښودل ځکه دی په امانت داری کې زيات مشهور و کله چې به خلګو مال ورته راوړی ده به ورته وويل چې زما سره خو ځای نسته ستا مال يې پر ما قرض دا خبره به يې ورته وکړه مال به يې ځني واخيستي دستي به يې صدقه کړی. دا يې هم وزوی ته ويلي وه که څه مشکل درته پيښ سو نو زما مولا ته وايه عبد الله وايي: چې زه په دې نه سوم پوه چې د مولا څخه يې مقصد څوک دئ نو ماپوښتنه ځني وکړه چې ستا مولا څوک دئ؟ ده مبارک راته وويل: زما مولا الله ﷻ دئ. آخر دا چې حضرت عبد الله ﷺ دده مبارک ټول قرضونه ادا کړه، عبد الله بن زبير ﷺ فرمايي: کله چې ماته مشکل ديوه قرض په ادا کولو کې پيښ سو نو ما به وويل: يا د زبير مولا! فلانی کار نه کيږي هغه کار به دستي وسو عبد الله بن زبير ﷺ فرمايي: يوه ورځ ما وعبد الله بن جعفر ﷺ ته وويل: چې زما دپلار لس لکهه روپۍ د قرضونو په سر ليک کې ستاسو پر ذمه دئ ده مبارک راته وويل کومه ورځ چې دي خوښه وي په هغه ورځ راسه چې پيسې درکړم عبد الله ﷺ وايي زه ددې خبري کولو وروسته پوه سوم چې ما غلطي کړې وه په حقيقت کې دده قرض زما د پلار پر ذمه و نو زه بېرته ورغلم و عبد الله بن جعفر ته مي وويل چې زه غلط سوی وم ستاسو زما پر پلار باندي قرض دئ ده مبارک راته وويل: ما ور وبخښلی دئ ماورته وويل: بخښنه نه غواړم ده مبارک راته وويل: ښه دئ، هره ورځ چې درته اسانه وي په هغه ورځ يې راکړه ماورته وويل: ددې پيسو په بدله کې مځکه زما څخه واخله ماته د غنيمت په مال کښې ډېره مځکه راغلې ده، ده مبارک راته وويل: ښه دئ، مايوه کمزوري مځکه چې اوبه او نور داړتيا شيان يې هم نه درلوده ور مي کړه ده دستي را څخه قبوله کړه غلام ته يې امر وکړی چې په دغه مځکه کې د لمانځه مسئله اواره کړه غلام په هغه مځکه کې د لمانځه مسئله اوراه کړه عبد الله بن جعفر ﷺ پر هغه ځای دوه راکعته نفل وکړه او ډېره اوږده سجده يې وکړه د لمانځه څخه چې

---

(۱) اصابه

فارغه سو غلام ته يې وويل : دا ځای وکنده غلام چې هغه ځای وکندی دستي يوه چينه د اوبو راپورته سوه چې جوش يې واهه.(۱)

فايده: داصحابو مبارکانو دغه کارونه وه چې ددې باب په قصو کې ليکل سوي دي يا په نورو قصو کې ليکل سوي دي دا ددوی لپاره څه لويه خبره نه وه بلکې دا ددوی عام عادتونه وه.

اوم باب

بهادري، زړه ورتوب او دمرګ ارزو

د مرګ د شوق لازمي نتيجه بهادري ده څوک چې تر خپل سر تير سي نو بيا هر څه کولای سي وېره، فکر کول، د ځان د ساتني لاري چاري لټول، مال او شتمني ټوله دژوند لپاره دي کله چې دمرګ شوق پيدا اسي دمال محبت پاته کيږي ددښمن وېره لمنځه ځي. ارمان چې ددې مبارکو انسانانو په برکت ماته هم دادولت را نصيب سوی وای.

۱- دحضرت ابن جحش او حضرت سعد رضي الله عنهما دعا

حضرت عبد الله بن جحش رضي الله عنه د احد په غزا کې و حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه ته وويل: اې سعد ! راسه چې په ګډه دعا وکړو په ما او تا کې دي هر يو دخپل ضرورت دعا وکړي هغه بل به امين وايي ځکه داسي دعا قبليدو ته زياته نژدې ده دواړه مبارکان يو کونج ته ولاړل او هر يوه دعا وکړه لومړی حضرت سعد رضي الله عنه پدې ډول دعا وکړه : اې الله جل جلاله! صبا وماته په جنګ کې يو لوی بهادر انسان په مقابله کې راولې چې پر ما زوروره حمله وکړي او زه هم زوروره حمله پرې وکړم بيا ماته فتحه (بری) رانصيب کړې او هغه ستا د رضا لپاره ووژنم او غنيمت يې ماته حاصل کړې. حضرت عبد الله بن جحش رضي الله عنه آمين پرې وايه وروسته حضرت عبد الله بن جحش رضي الله عنه پدې ډول دعا وکړه: اې الله جل جلاله! صبا وماته يو لوی بهادر په مقابله راولې چې پر ما سخته حمله وکړي او زه هم سخته حمله باندي وکړم او بيا ماستا په

(۱) اسد الغابة

لاره کې شهید کړې بیا پزه او غوږونه راڅخه پرې کړې کله چې قیامت سي ته پوښتنه راڅخه وکړې چې اې عبد الله! ستا غوږونه او پزه ولې پرې سوي دي؟ زه درته ووایم چې یا الله جل جلاله! ستا او ستا د رسول ﷺ په لاره کې پرې سوي دي حضرت سعد رضی الله عنه پرې آمین ووایه. دوهمه ورځ جنګ شروع سو ددوی دعاوې په هغه ډول قبولې سوې لکه دوی چې کړې وې. (۱)

سعد رضی الله عنه وایي: د عبد الله بن جحش رضی الله عنه دعا زما تر دعا غوره وه ما داحد د غزا په میدان کې ماښام ولیدل چې د جحش رضی الله عنه غوږونه او پزه په یو تار پیودل سوي وه. هم دا ډول دده توره هم ماته سوې وه بیا رسول ﷺ یو ښاخ ورکړی چې دده په لاس کې توره جوړه سوه تر ډېره وخته پورې هم داسې وه بیا په دوه سوه دیناره خرڅه سوه. (۲) دینار د سرو زرو د یوې سیکې نوم دئ.

فایده: په دې قصه کې د یوې خوا لوی کمال بهادري او زړور توب دئ چې د یوه بهادر دښمن د مقابلې ارزوه ده د بلې خوا لوی کمال د خپل محبوب سره مینه او عشق دئ چې په لاره کې یې د ځان ټوک، ټوک کولو هیله ده په آخر کې چې پوښتنه ځني وسي چې دا ولې؟ دی ورته ووایي چې دا ستا لپاره.

رہِ گا کوئی تو تیغِ ستم کی یادگاروں میں ۞ مری لاشی لاشوں کی ٹکری دفن کرنا کرسو مزاروں میں

ژباړه: چیري خو به د ظلم د توري څخه یوه ټوټه د نښې په ډول پاته سي زما د وجود ټوټې په سلو قبرونو کې ښخې کړئ.

۲- داحد په غزا کې د حضرت علي رضی الله عنه بهادري

د احد په غزا کې مسلمانانو ته یو څه ماته وه چې لوی لامل یې د نبي ﷺ د یوه امر نه پرځای کول وه چې بیان یې د اول باب په دوهمه قصه کې سوی دئ په دغه وخت کې مسلمانان د ځلورو طرفونو څخه د کافرانو په منځ کې راغلل په همدې وجه ډېر مسلمانان شهیدان سوه یو څه و تښتېده نبي ﷺ هم د کافرانو د یوې ډلې په منځ کې راغلی کافرانو دا اوازه خپره کړې وه چې نبي ﷺ شهید سو په دغه وجه هم ډېر مسلمانان و تښتېدل حضرت علي رضی الله عنه فرمایي: کله چې کافرانو مسلمانان راګیر کړه او نبي ﷺ زما د سترګو څخه پټ سو نو لومړی ما د رسول

---

(۱) خمیس

(۲) اصابه

الله ﷺ لتهون په ژوندو کې و کړی نه مې کړی پیدا بیا مې په شهیدانو کې ولټوی هلته مې هم نه کړی پیدا نو ما په خپل زړه کې وویل چې دا خو شوني نه ده چې رسول الله ﷺ دې د جنګ د میدان څخه تښتېدلي وي داسې معلومېږي چې الله ﷻ زموږ د عملونو له امله ناراضه سوی وي او خپل رسول ﷺ یې اسمانو ته پورته کړي وي نو د علاج لپاره بله لاره نسته بې له دې چې د کافرانو په ډله ورګډ سم ترڅو شهید سم ما خپله توره راواخیسته حمله مې وکړه تر داسې اندازې چې کافران د منځ څخه و یوې خواته سوه زما پر رسول الله ﷺ باندې سترګې ولګېدې زه ډېر خوشحاله سوم او پوه سوم چې الله ﷻ د ملائکو په واسطه د خپل محبوب حفاظت کړی دئ نو ولاړم د رسول الله ﷺ سره و دریدم کافران ډلې ډلې راتلل پر رسول الله ﷺ یې حملې کولې نبي ﷺ و فرمایل: اې علي! دا ډله منعه کړه زه هم د هغې ډلې مقابلې ته ورغلم یوائې مې د هغې ډلې مقابله وکړه او ځینې مې ځني مړه کړه بیا یوه بله ډله پر نبي ﷺ د حملې په نیت رامخکې سوه رسول الله ﷺ زما و طرفته اشاره وکړه زه بیا د دوی مقابلې ته ورمخکې سوم د دوی مقابله مې وکړه. د دې څخه وروسته جبرائیل ؑ راغلی د حضرت علي ؓ د بهادرۍ او مرستې ستاینه یې وکړه رسول الله ﷺ و فرمایل: اِنَّهُ مِنِّي وَاَنَا مِنْهُ یعني زه د ده څخه یم دی زما څخه دئ. نبي ﷺ پد غه خبره سره په خپل منځ کې پوره یوالي ته اشاره وکړه جبرائیل ؑ وویل: وَاَنَا مِنْكُمَا یعني زه ستاسو د دواړو څخه یم.(۱)

فایده: یوائې سړی چې د یوې ډلې سره مقابله کوي او بیا نبي ﷺ پیدا کوي بېرته د شهادت په نیت د کافرانو په ډله ورننوځي دا که د یوې خوا د رسول الله ﷺ سره زیاته مینه او عشق څرګندوي خو د بلې خوا کامل او پوره دلاوري او زړورتوب دئ.

۳- حضرت حنظلة ؓ شهادت

حضرت حنظلة ؓ په لومړي وخت کې د احد په غزا کې ګډون نه و کړی وایي: چې ده واده کړی و د شپې د بي بي سره یو ځای سوی و سهار یې د غسل تیاري کول د غسل لپاره ناست و سر یې مینځی چې نا ببره د مسلمانانو د ماتې ږغ یې تر غوږ سو د دې او از ږغم یې نه درلودی دستي ولاړ سو توره یې واخیسته د جنګ میدان ته یې ځان ورساوه پر کافرانو یې حملې شروع کړې او برابر پر مخ روان و چې په د غه حالت کې شهید سو څرنګه چې شهید که

(۱) قرة العیون

جنوب نه وي نو بيله غسله په قبر کي ښخيږي نو اصحاب ﷺ خو دده په جنابت نه وه خبر نو ددوى سره يې هم داسي معامله وکړه خو نبي ﷺ وليدئ چي ده مبارک ته ملائکي غسل ورکوي ابو سعيد ساعدي ﷺ فرمايي: ماچي دنبي ﷺ واصحابو کرامو ته دده د غسل بيان وکړى او به څڅيدېنبي ﷺ چي کله فرمان واورېدئ نو زه ولاړم حنظلة مي وکاتي د حنظلة تر سر او به څڅيدې نبي ﷺ چي کله داحد د غزا څخه راغلى او ښځي ئې وکړل ورته معلومه سوه چي حنظلة د غسل پرته و غزا ته تللي و.(١)

فايده: داهم کامله بهادري ده ځکه بهادر سړي ته په خپله اراده کي ځنډ کول ګران کار دئ نو له همدې امله ده مبارک دومره انتظار هم نه سو کولاى چي غسل وکړي.

۴- د حضرت عمرو بن جموح ﷺ دشهادت ارزو

حضرت عمر بن جموح ﷺ په پښه ګوډ وو څلور زامن يې درلوده زيات يې د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضرول او په غزاو کي يې ګډون کاوه. د احد په غزا کي دده سره هم دافکر پيدا سو چي کاشکي زه هم په غزا کي ګډون وکړم خلکو ورته وويل: چي ته معذور يې د ګډوالي له امله ستا لپاره تلل ګران کار دئ ده مبارک ورته وويل: داڅومره بده ده چي زما زامن جنت ته ولاړ سي او زه دې پاته سم. بي بي يې هم د پيغور په ډول دده د تيارولو لپاره ورته وويل: زه وينم چي ته د جنګ څخه راتښتېدلى يې او بېرته راغلى يې عمرو بن جموح ﷺ چي دا واورېدل وسله يې واخيستل د قبلې پر لوري روان سو او دادعا يې وويل: : اَللّـهُم لَـا تُرَدني اِلي اَهلِي ژباړه: اې خدايه! مابېرته خپل کور ته مه راولې دستي راغلى د نبي ﷺ په خدمت کي حاضر سو د خپل حال بيان يې ورته وواية چي دى خپل قوم د غزا څخه منعه کړى و او دځان شوق يې هم ورته وواية اووې ويل: يا رسول الله ﷺ ! زه اميد لرم چي په دې ګوډه پښه په جنت کي وګرځم رسول الله ﷺ ورته وويل: الله ﷻ ته معذوره کړې يې نو ستا په نه تلو کي څه تاوان دئ ده مبارک بيا دخپلي ميني او شوق څرګندونه ورته وکړه نو رسول الله ﷺ اجازه ورکړه. ابو طلحة ﷺ وايي: ماعمرو بن جموح ﷺ په جنګ کي وليدئ چي سينه يې ايستلې وه نيغ روان و او دايې ويل: قسم په الله ﷻ زه د جنت شوقي يم دده يو ځوى هم په ده پسي روان و دواړه جنګېدل آخر دواړه شهيدان سوه دده بي بي د خپل مېړه او زوى جسدونه پر اوښ واچول

---

(١) ايضا

ددفن کولو لپاره یې مدینې منورې ته راوړل خو اوښ کښېناستی هر څه چې یې په وکړه اوښ نه ولاړېدئ چې وي به واهه اوښ به بېرته د احد پر لوري مخ کړی بې بې یې ونبي ﷺ ته بیان وکړی نبي ﷺ ورته وویل: دا اوښ ته امر سوی دئ عمرو بن جموح ﷺ چې د کور څخه وتی څه خو به یې نه وي ویلي دې ورته وویل: عمروبن جموح ﷺ چې د کور څخه وتی مخ یې وقبلې ته کړی دادعا یې وویل: اَللهُم لا تُرَدنِي اِلي اَهلِي. نبي ﷺ ورته وفرمایل: په همدغه وجه اوښ نه ځي.(١)

فایده: دداسي چانوم د جنت شوق دئ او هم د الله ﷻ او د هغه د رسول الله ﷺ سره رېښتني محبت دئ ځکه اصحاب دیوه ځای څخه بل ځای ته ورسېدل خو دی مبارک د مرګ څخه وروسته په هغه ډول دئ. ډېر کوشش یې وکړی چې ددې ځای څخه یې یوسي خو اوښ نه تلی یا به کښېناستی او یا به بېرته د احد پر لوري روان سو.

۵- د حضرت مصعب بن عمیر ﷺ شهادت

حضرت مصعب بن عمیر ﷺ د اسلام دراوړلو څخه مخکي په ډېر ناز پالل کېده دډېرو شتمنو هلکانو څخه و پلار به دده لپاره یوه جوړه کالي په دوسوه اخیسته بیا به یې په ده باندي اغوسته د نوي عمر ځوان و په ډېر ناز او نعمتو کښي لوی سوی و. د اسلام په پیل کي د کورنۍ د خلګو څخه په پټه مسلمان سو دی هم په دغه حالت کي اوسېده چې یو چا دده کورته خبر ورکړی چې مصعب ﷺ مسلمان سوی دئ کورنۍ چې یې خبره سوه دی یې بندي کړی او وې تړی څو ورځي تېري سوې یو وخت یې موقع پیدا کړه وتښتېدئ کومو خلګو چې حبشې ته هجرت کاوه ده هم هجرت ورسره وکړی د هغه ځای څخه چې راغلی نو مدینې منورې ته یې هجرت وکړی د پرهیزګارۍ او مسکنت ژوند یې تېراوه، په تنګ حالت کي یې ژوند تېرواه. یوه ورځ رسول الله ﷺ تېرېدئ مصعب ﷺ یوازي په یوه پټو کي و هغه هم داسي پټو و چې ځای پر ځای به شکېدلی و او ځای پر ځای به د تهوکر یاد څرمني پنه ورکړل سوې وه نبي ﷺ دده داوسنی حالت او تېر حالت بیان وکړی سترګي مبارکي یې د اوښکو ډکي سوې.

---

(١) قرة

داحد په غزاکې د مهاجرو مجاهدینو بیرغ ده مبارک نیولی و یو کافر دیوې خوا راغلی دی مبارک یې پر هغه لاس ووهه چې بیرغ یې په نیولی و ددې لپاره چې بیرغ ولوېږي او مسلمانانو ته خپله ماته ښه ښکاره معلومه سي ده مبارک دستي په بل لاس بیرغ ونیوی کافر پر دا بل لاس په توره ووهه ده مبارک بیرغ په ځیګر کې ښخ کړی یعني په منډوانو یې ونیوی مځکې ته یې نه پرېښودئ کافر دی مبارک په غشي وویشتی دی شهید سو بل صحابي راغلی بیرغ یې پورته کړی هر کله چې یې دی ښخوی نو دده سره یوازې یو پټو ورسره و چې سر به یې په پټ کړی پښې به یې ښکاره سوې چې پښې به یې ورپټې کړې سر به یې ښکاره سو رسول الله ﷺ امر وکړی چې د سر خوا یې ورپټه کړی پر پښو باندې یې پاڼې ورواچوی.(۱)

فایده: داد هغه نازولي آخري ژوند دی چې په ناز ـ ناز سره لوی سوی و او یوه جوړه کالي یې په دوسوه درهمه اخیستل او اغوستل به یې نن دده مبارک یو کفن هم نه پیداکېږي او دایې مېړانه وه چې په خپل ژوند یې بیرغ و مځکې ته نه پرېښودئ لاسونه یې دواړه پرې سوه خو بیا یې هم بیرغ مځکې ته نه پرېښودئ. ډېر په ناز لوی سوي و خو د هغو خلګو ایمانونه دومره مضبوط سوي وه چې دایمان د میني له وجې به یې د ځان سره هیڅ شی نه پرېښودئ پیسې، ارام او شوق به یې هیڅ و ځان ته نه پرېښودئ او خپل ځان یې د ایمان په خوارۍ کې لګاوی.

٦ـ د قادسیې په جنګ کې د حضرت سعد ؓ خط

دعراق په جنګ کې دحضرت عمر ؓ اراده وه چې په جنګ کې ګډون وکړي خو دخاصو او عامو ډلو سره یې په دې کار کې تر ځو ورځو پورې مشوره کېدله چې دعمر ؓ پاتېدل به ښه وي اوکه به په جنګ کې تلل ښه وي دعامو خلګو داخوښه وه چې حضرت عمر ؓ په جنګ کې ګډون وکړي او دخاصو خلګو داخوښه وه چې عمر ؓ ګډون نه پکښې وکړي او په مدینه کې پاته سي دلښکرو انتظام وکړي. دمشورې په خبرو کې د سعد بن ابي وقاص ؓ نوم واخیستل سو ټولو خوښ کړی او وې ویل: که سعد ولاړسي نو بیا عمر ؓ ته اړتیا نسته حضرت سعد ؓ مشهور بهادر وو د عربو په زمریانو کې شمېرل کېدئ لنډه دا چې سعد ؓ و

(۱) قرة ـ اصابه

تاکل سو او ولېږل سو کله چې په قادسیه کې د حملې لپاره ورسېدئ نود کسرا پاچا دده دمقابلې لپاره رستم خان را واستوی چې مشهور پهلوان و پر رستم خان باندې وېرې غلبه کړې وه او پوره کوشش یې کاوه چې پاته سې پاچا ته یې وېره نه ښکاره کوله په ښکاره به یې داویل چې مادلې پرېږده زه به دلته ستاسره په لښکر لېږلو ،صلاح او مشورو کولو کې ستاسره مرسته کوم خو پاچا چې نوم یې (یزدجرد) و ونه منل آخر د مجبورۍ څخه په جنګ کې شریک سو.(۱)

حضرت سعد ﷺ چې کله روانېدئ حضرت عمر ﷺ دده ته وصیت وکړی چې دالفاظو لنډه ترجمه یې داده: اې سعده! په دې خبره خطانه وزې چې ته درسول الله ﷺ ماما بلل کېدې او دهغه صحابي وې الله ﷻ بدي په بدي نه مینځي بلکې بدي په نیکي مینځي د الله ﷻ او د بندګانو تر منځ هیڅ خپلوي نسته بلکې الله ﷻ ته یوازې بندګي قبوله ده د الله ﷻ په نزد باعزته او بې عزته ټوله یو برابر دي ټول دالله ﷻ بندګان دي او الله ﷻ د ټولو رب دئ د الله ﷻ نعمتونه په بندګې سره لاسته راځي په هر کار کې و هغه شي ته ګوره چې د نبي ﷺ طریقه وه په هم هغه شي باندې عمل کوه زما دا نصیحت یاد ساته ته دیوه لوی کار لپاره لېږل سوې یې چې خلاصون یې یوازې د الله تعالی په تابع دارې کې لګېدلای سي د خپل ځان او ملګرو سپېڅلې عادتونه جوړوه د الله تعالی څخه وېره اختیار وه د الله ﷻ څخه وېره په دوو خبرو کې یو ځای کېدای سي لومړې د الله جل جلاله په اطاعت کښې ، دوهم دګناه څخه په ځان ساتلو کې ، د الله جل جلاله اطاعت چې د چاپه برخه سي ددنیا څخه به یې کرکه کیږي او د آخرت سره به مینه لري.(۲)

ددې څخه وورسته حضرت سعد ﷺ په ډېره خوشحالی سره لښکر تیار کړی او د جنګ پر لوري روان سو دده د خوشحالي کیفیت دهغه خط څخه معلومیږي چې ده رستم ته لېږلی دئ ده مبارک په خپل خط کې لیکلي دي: فَاِنَ مَعِيَ قَومٌ یُحِبونَ المَوتَ کَمَا یُحِبونَ الاعَاجِمَ الخَمرَ ژباړه : بېشکه زما سره داسې قوم ملګری دی چې د مرګ سره داسې مینه لري لکه عجم چې یې د شرابو سره لري.(۳)

(۱) اشهر
(۲) اشهر
(۳) تفسیر عزیزي اول ټوک

فایده: د شرابو د مینه لرونکو څخه که پوښتنه وسي چي په شراب چیښلو کي څومره خوند دئ؟ (نو هغه ته خامخا معلومیږي چي تر ټولو خوږو خوند ورد ئ) څوک چي د مرګ سره په دغه پیمانه مینه لري نو کامیابي ولي د داسي چاپلونه نه موچوي؟

۷- د حضرت وهب بن قابوس ﷺ شهادت د احد په غزاء کي

حضرت وهب بن قابوس ﷺ یو صحابي دي چي یو وخت مسلمان سو په صحراء کښي په یو کور کښي اوسېدئ بزې یې څرولې یو وخت یې د وراره سره بزې په یوه پړی وتړلې او د مدینې منورې پر لوري روان سو کله چي مدینې منورې ته ورسېدئ پوه سو چي محمد ﷺ د احد غزاء ته تللی دئ بزې یې هلته پرېښودې د محمد ﷺ ملاقات ته ورغلی په دغه وخت کي د کافرانو یوه ډله راغله رسول الله ﷺ و فرمایل: څوک دغه ډله خواره واره کولای سي چي زما سره به په جنت کي ملګری وي حضرت وهب ﷺ په ډېر زور سره توره وچلول کافران یې ټوله خواره واره کړل دوهم او دریم ځل بیا داسي پېښه وسوه رسول الله ﷺ وده مبارک ته د جنت زیری ورکړی ده چي دا واورېدل توره یې واخیستل د کافرانو په یوه ګڼه ډله ورننوتی او شهید سو.

حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ فرمایي: ما د وهب ﷺ په څېر بهادري او شجاعت د هیچا ندی لیدلی ده د شهادت څخه وروسته ما رسول الله ﷺ ولیدئ چي دده د سر لوري ته ولاړو او دایې ویل: الله ﷻ دي ستا څخه راضي سي زه ستا څخه راضي یم ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ دي په خپلو مبارکو لاسونو سره ښخ کړی سره ددې چي په دغه غزاء کي رسول الله ﷺ هم ځني راضي سوي و حضرت عمر ﷺ فرمایي زما د هیچا په نیکو کارونو غبته (۱) نه وه سوې لکه د وهب په نیکو کارونو چي مي وسوه زما زړه غواړي چي د الله ﷻ څخه دده په څېر عمل نامه واخلم. (۲)

---

(۱) غبطه ودې ته وایي چي یوڅوک یوه ځانګړتیا ولري بل کس چي یې ویني نو دافکر ورته پیدا سي چي کاشکي ماهم دغه ځانګړتیا درلودای. حسد دې ته ویل کیږي چي یوڅوک یوه ځانګړتیا ولري بل کس فکر وکړي چي کاشکي دغه ځانګړتیا ده نه درلودای بلکي ما درلودای غبطه روا ده اوحسد ناروا دی. ژباړن

(۲) اصابه – قره

فایده: په ده باندې د حضرت عمر رضي الله عنه غبته کېدل د یو خاص کار له امله و، هغه دا چې خپل ځان ته یې په ځان نه وه ویلي (یعني تر خپل سر تیر و) که نه نو حضرت عمر رضي الله عنه او د نورو صحابه کرامو رضي الله عنهم نیک کارونه تر دغه هم زیات وه.

۸- د بیر معونه جنګ

د بیر معونه یو مشهور جنګ دئ چې د اصحابانو او پاکسیزه لوی جماعت په پوره ډول پکښې شهید سوی دئ چې دوی ته قرآء (قاریان) ویل کیږي ځکه چې دوی ټوله د قرآنکریم حافظان وه زیات شمېر یې انصار وه پرته د یو څو کسانو څخه چې مهاجرین وو د دوی د نبي ﷺ سره ډېره مینه وه ځکه چې دوی د شپې زیاته برخه په ذکر او تلاوت تېرول او د ورځې به یې د نبي ﷺ د بیبیانو د کورونو، اړتیا وي لکه لرګي، او به او داسي نور پوره کولې. دغه سپېڅلې ډله د نجد یو اوسیدونکي د بني عامر د قوم یو سړي چې نوم یې عامر بن مالک و او کنیه نوم یې ابوبراء و د خپل ځان سره یې تر خپل سیوري لاندې د تبلیغ او وعظ په نامه بېولې وه که څه هم نبي ﷺ دوی ته ویلي وه چې زما سره داوېره ده چې اصحابو رضي الله عنهم ته کوم تاوان ونه رسیږي خو دغه سړي ډېره تسلي ورکړې وه نبي ﷺ دغه اویا اصحاب رضي الله عنهم ورسره کړه او یو خط یې د عامر بن طفیل په نامه چې د بني عامر رئیس و ولیکی په خط کښې د اسلام بلنه لیکل سوې وه. دوی مبارکان د مدینې منورې څخه رخصت سوه کله چې بیر ته معونه ته ورسېده هلته تم سوه د دوی دوو ملګرو هریو حضرت عمر بن امیة رضي الله عنه او حضرت منذر بن عمر رضي الله عنه د خپلو ملګرو ټولو اوښان د څرولو لپاره پر غاړه واخیستل او حضرت حرام رضي الله عنه د دوو ملګرو سره یو ځای و عامر بن طفیل ته ورغلل د دې لپاره چې د رسول الله ﷺ خط ورورې هلته چې نژدې سوه حضرت حرام رضي الله عنه و خپلو ملګرو ته وویل: تاسو دلې ودریږئ زه به ورسم کچیرې یې زما سره دوکه وکړه نو تاسو ولاړ سئ ځکه د درو تر مړه کېدو نو د یوه مرګ بهتر دئ. عامر بن طفیل د عامر بن مالک وراره و هغه عامر چې مسلمانان یې راوستلي وه عامر بن طفیل د مسلمانانو سره سخته دښمني درلوده حرام رضي الله عنه چې د رسول الله ﷺ خط ورکړی عامر بن طفیل مخکې تر دې چې خط ولولي حرام رضي الله عنه یې په نېزه داسي ووهه چې نېزه پورې ووري ترې ووتل حرام رضي الله عنه وویل: (فُزتُ وَرَبِّ الكَعبَةِ) یعني د کعبې په رب قسم کوم چې زه کامیاب سوم د دې وینا څخه

وروسته شهيد سو عامر بن طفيل په دې هم بسنه ونه کړه چي قاصد وژل په هيڅ قوم کي روا کار نه دئ او نه يې دې ته کتل چي دغه حضرات زما اکا په خپله پنا کي راوستلي دي بلکي خپل قوم يې راجمعه کړی ددې لپاره چي دا ټول اصحابان ووژني او يو هم ژوندی پرې نه ږدي خو دده قوم په دې وجه چي عامر بن مالک دغه اصحابان په خپله پناه کي راوستلي دي د اصحابانو ووژلو ته تيار نسوه خو عامر بن طفيل د شاوخوا څخه خلګ راجمعه کړه يوه لويه ډله يې تياره کړه پر مسلمانانو باندي يې حمله وکړه مسلمانانو هم مقابله وسره شروع کړه اخر مسلمانانو به ترکومه پوري ددوی سره مقابله کولای چي د څلور خواوو څخه کافرانو حمله پرې وکړي وه اودوی يې په منځ کي محاصره سوي وه ؟ د کعب بن زيد ﷺ پرته چي کافرانو مړ بللی وو نور ټول اصحابان ﷺ شهيدان سوه . حضرت منذر ﷺ او حضرت عمر بن امية ﷺ چي اوښان يې څرول د اسمان و خواته يې وکتل وې ليدل چي مردار خواره مرغان الوتل دواړو وويل چي خامخا يو څه پيښه سوې ده نو بېرته د خپلو ملګرو و خواته راغلل کله چي راورسېدل وې ليدل چي ملګري يې ټوله شهيدان سوي دي او شاوخوا په توره سمبال سواره پرې راګرځي دوی دواړو چي دا حالت وليدی نو په خپلو منځو کي يې مشوره وکړه حضرت عمر بن امية ﷺ وويل: راځه چي بېرته ولاړ سو رسول الله ﷺ خبر کړو خو منذر ﷺ وويل رسول الله ﷺ خو به هغسي هم خبر سي زما زړه نه کيږي چي شهادت پرېږدم او ددې ځاي څخه ولاړ سم چي ملګري مي بيده پراته دي درځه چي د خپل ملګرو سره يو ځای سو نو دواړو و ميدان ته ورودانګل حضرت منذر ﷺ شهيد سو او حضرت امية ﷺ ونيول سو . څرنګه چي د عامر مور د يوه غلام ازادول په يو کار کي نذر ايښی و نو عامر په هغه وجه عمر بن امية ﷺ ازاد کړی.(١)

په دغه مبارکو انسانانو کي د حضرت ابوبکر ﷺ غلام عامر بن فهيره هم و دده مبارک قاتل جبار بن سلمي وايي: ماچي کله عامر بن فهيره په نيزه وواهی ده وويل: (وَاللهِ فُزتُ) يعني په الله ﷻ مي دي قسم وي چي زه کامياب سوم ددې څخه وروسته ما وليدی چي دده جسد و اسماني طرف ته پورته سو زه ډېر حيران سوم ددې څخه وروسته ما د خلګو څخه وپوښتل : چي دغه سړی ما په نيزه وواهی دستي مړ سو خو بيا هم دی وايي چي په الله ﷻ قسم چي زه کامياب سوم دده کاميابي نو په چشي کي ده؟ خلګو راته وويل: دده کاميابي په جنت کي ده په دې وجه زه مسلمان سوم.(٢)

(١) اسلام
(٢) خميس

فایده: دا هغه خلګ دي چې اسلام په دوی فخر کوي نو پر ځای خبره ده چې وویل سي: بېشکه دوی د مرګ سره د عجمو تر میني د شرابو زیاته مینه درلوده ولي به دوی ته مرګ خوښ نه و چې دوی په دنیا کي داسي کارونه کړي وه چې د الله ﷻ په نزد د دوی کامیابي یقیني وه نو دوی چې به مړه کېده کامیابه کېده.

۹- د حضرت عمیر رضی الله عنه وینا چې خرما خوړل اوږد ژوند دئ

د بدر په غزا کي رسول الله ﷺ په یوه خیمه کي تشریف درلودئ چې اصحابانو ته یې اشاره وکړه یعني ورته وې ویل: ولاړ سئ داسي جنت ته ورمخکي سئ چې پلنوالی یې تر اسمانو او مځکو زیات دئ او د متقیانو لپاره جوړ دئ یو صحابي حضرت عمیر بن الحمام رضی الله عنه چې دا خبره واورېدل وې ویل: واه، واه، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: پر کومه خبره دي واه واه وویل ده مبارک ورته وویل: چې زه به هم غواړم چې د دغه خلګو څخه سم چې جنت ته ځي رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ته هم د دغه خلګو څخه یې بیا یې د خرما کڅوړه راواخیستل او خرماوي یې خوړلې بیا یې وویل زه چې دغه خرماوي خورم چې زما په لاس کي دي دا هم ډېر وخت دئ او خلاصوم یې نو زه دومره انتظار نه سم کولای خرماوي یې وغورځولې توره یې واخیستل د کافرانو په یوه ګڼه ډله ورننوتی تر هغه وخته پوري وجنګېدی تر څو شهید سو.(۱)

فایده: په حقیقت کي هم دا خلګ د جنت وړ وو او په جنت یې ټینګ یقین و زموږ که یقین ټینګ سي نو ټولي خبري به سمي سي.

۱۰- دحضرت عمر رضی الله عنه هجرت

د حضرت عمر رضی الله عنه به څه بیان کوې هر سړی د ده په بهادري خبر دئ او د ده په مېړانه اقرار کوي د اسلام په شروع کي چې مسلمانان په کمزوري حالت کي وو نبي ﷺ په خپله د اسلام د قوت لپاره د ده د مسلمانېدو دعا وکړه او د رسول الله ﷺ هغه دعا قبوله سوه حضرت عبد الله بن

---

(۱) طبقات ابن سعد

مسعود ﷺ فرمايي: موږ د عمر ﷺ تر مسلمانېدو تر وخته پورې و کعبې ته نږدې په ښکاره لمونځ نه سواى کولاى، حضرت علي ﷺ فرمايي: په لومړي وخت کې به مسلمانانو په پټه هجرت کاوه يو - يو به تلى خو کله چې عمر ﷺ د هجرت اراده وکړه نو توره يې په غاړه کړه لېندۍ يې په لاس کې واخيسته او ډېر غشي يې هم د ځان سره واخيسته لومړى مسجد ته ولاړى په ښه ارامۍ سره يې طواف وکړى بيايې په ښه ارامۍ سره لمونځ وکړى وروسته د کافرانو مجلسونه ورغلى او ورته وې ويل: د چاچې زړه غواړي چې مورېې پر وژاړي، ښځه يې کونډه سي او اولادونه يې يتيمان سي هغه دې د مکې دباندې راووزي او زما مقابله دې وکړي دا وينا يې جلا - جلا ډلو ته وکړه بيايې تشريف يووړى په هيچا کې دومره همت نه سو پيدا چې دده مقابلې ته ورووزي. (۱)

۱۱- د موته د غزا قصه

رسول الله ﷺ و مختلفو پاچهانو ته د اسلام د بلنې ليکونه واستول چې په هغو کې يې يو د حضرت حارث بن عمير ازدي ﷺ په لاس د بصرا پاچا ته ولېږى حارث بن عمير ﷺ چې کله و موته ته ورسېدئ د قيصر د حاکمانو څخه يو کس چې شرحبيل غساني نومېدئ دغه مبارک قاصد وواژى او حال دا چې د قاصد وژل د ټولو قومونو په اصطلاح کې يو ناروا کار بلل کېدئ پر نبي ﷺ باندې دا خبره ګرانه پرېوتل نو درې زره کسيزه لښکر يې تيار کړى حضرت زيد بن حارثه ﷺ يې ور امير کړى بيايې ورته وفرمايل: که زيد بن حارثه ﷺ شهيد سي نو بيا دې جعفر بن ابي طالب ﷺ امير سي که دى هم شهيد سي نو بيا دې عبد الله بن رواحة ﷺ امير سي که دى هم شهيد سي بيانو د مسلمانانو چې هر څوک زړه غوښتى هغه دې امير کړي يوه يهودي دا خبرې واورېدې او وې ويل: دا کسان به خامخا شهيدان کيږي ځکه د لومړنيو انبياؤ د دغه ډول خبرو څخه مطلب هم داسې و رسول الله ﷺ يو سپين بيرغ جوړ کړي حضرت زيد ﷺ ته يې ورکړى بيا رسول الله ﷺ اودوى ديوې ډلې سره ددوى د رخصتولو په اراده د ښار د باندې راوواتى د ښار د باندې چې مجاهدين رخصتېدل پاته خلګو دعا ورته کوله چې الله ﷻ دې تاسو کاميابه کړي او په خير او سلامتيا سره مو رب تعالي ﷻ بېرته راوله او الله ﷻ

(۱) اسد الغابة

دي تاسو د هر ډول بدي ،څخه وساتي حضرت عبد الله رواحه ﷺ ددوی په جواب کي درې بيتونه وويل چي مطلب يې داسي و : زه د خپل رب څخه دګناهونو بخښنه غواړم او يوه داسي توره وي چي په هغې سره زما د وينو داري رواني سي او يا په يوه داسي نېزه ووهل سم چي زما تر کولمو او اينې ووزي څيري يې کړي کله چي څوک زما و قبر ته تيريږي نو ووايي: الله ﷻ دي تالار ښود او کاميابه کړي ريښتيا هم ته لمر او کامياب وي دد ې څخه وروسته دوی مبارکان روان سوه شرحبيل ته هم ددوی د روانېدو خبر وررسېدئ د شرحبيل سره سل زره فوج تيار سو دمقابلې لپاره ، کله چي دوی مخکي ولاړل نو ورته معلومه سوه چي د روم پاچا هرقل هم د سلو زرو فوجيانو سره مقابلې ته راروان دئ ددې خبر په اورېدو سره اصحابان فکر من سوه چي ددې دومره لوی طاقت مقابله شروع کړي او که رسول الله ﷺ ته خبرور کړي په دغه حال کي عبدالله بن رواحه ﷺ په لوړ اواز وويل: اې خلګو ! تاسو د کومي خبري څخه وېريږئ ؟ تاسو د کوم مقصد لپاره راوتلي ياست ؟ ستاسو مقصد شهيد کېدل دي موږ هيڅ کله د قوت او د سړو د ډېروالي په زور نه يو جنګېدلي بلکي موږ يوازي د هغه دين په زور جنګېدلي يو چي د هغه دين په وجه الله ﷻ موږ ته عزت راکړی دئ. مخ په وړاندي ځئ ددوو کاميابيو څخه به يوه خامخا لاسته راوړئ يا به بريااليتوب وي او يا به شهادت وي مسلمانانو چي دا خبره واورېده ميړانه يې وکړه پر مخ روان سوه آن تر دې چي موته نومي ځای ته ورسېده او جنګ شروع سو حضرت زيد ﷺ بيرغ په لاس کي واخيستي ميدان د جنګ ته ورغلی زورور جنګ شروع سو د د شرحبيل ورور ووژل سو او ملګري يې و تښتېدل خپله شرحبيل هم و تښتېدئ په يوه کلا کي پټ سو و هرقل ته يې د مرستي لپاره سړي ولېږی هر قل دوسوه زره فوجيان راولېږل جنګ په زيات زور سره شروع کېدئ چي زيد ﷺ شهيد سو دستي حضرت جعفر ﷺ بيرغ په لاس کي واخيستي د خپل آس پښې يې په خپله پرې کړې چي بيرته تګ يې د زړه څخه ووزي يو څو اشعار يې وويل چي مطلب يې دادئ : اې خلګو ! جنت څومره ښه شی دئ او جنت ته نژدې کېدل څومره ښکلی دئ او د جنت اوبه څومره يخي دي. د روم پر خلګو عذاب راغلی ماته په کار ده چي هغه ووژنم ، دا شعرونه يې وويل د آس پښې يې پخپله پرې کړې چي بېرته تلل يې د زړه څخه ووزي توره يې واخيسته کافرانو راسته لاس ځني پرې کړی بيايې بيرغ په چپه لاس کي ونيوی کافرانو چپه لاس ځني پرې کړی ده مبارک بيرغ په موټانو کي ټينګ کړی په خوله يې کلک ونيوی يو سړي د شا دخوا څخه ورغلی د شا دخوايې دوې ټوټې کړی ، دی مبارک غوزار سو دستي شهيد سو. عبد الله بن عمر ﷺ فرمايي: موږ چي کله شهيدان راټول ول دی چي مو راپورته کړی په بدن کي يې (۹۰) زخمونه وه. حضرت

جعفر رضي الله عنه چي شهيد سو خلكو عبد الله بن رواحة رضي الله عنه ته اواز وكړى ده په دغه وخت كي د جنګ په يو طرف كي د غوښي يو ټوټه خوړله ځكه ددرو ورځو څخه يې هيڅ شى نه و خوړلى ده چي اواز واورېدئ دستي راپورته سو او وې ويل: حضرت جعفر رضي الله عنه شهيد سوى دئ ته په دنيا اخته يې دستي راغلى بيرغ يې راپورته كړى سخت جنګ يې شروع كړى ګوته يې زخمي سوه په وځېده ده مبارك د اځېدلې ګوته په پښه ونيول لاس يې راكش كړى ګوته يې پرې سوه ليري يې و غورځوله په سخت جنګ او خفګان كي فكر من سو چي نه د مقابلې توان سته او نه همت ستـه. لږ وخت ددې فكر تېرسوي و چي خپل زړه ته يې وويل: اې زړه! اوس د څشي شوق او مينه درته پاته ده؟ چي ته يې له خطره وېرېږي د بي بي شوق غواړي؟ هغه په درې طلاقه طلاقه ده.،د غلامانو شوق غواړي؟ هغه ټول ازاد دي د باغ او پيسو شوق غواړي؟ هغه ټوله د الله جل جلاله په لاره كي صدقه دي ددې څخه وروسته يې يو څو اشعار وويل چي ترجمه يې داسي ده. اې زړګيه! ته به وركښته كېږې. په خوشحالي وركښته كېږې كه په خوابدى وركښته كېږې ستا د ارام ژوند يوه زمانه تېره سوه. فكر وكړه ته د يو څاڅكي نطفې څخه پيدا يې كافران ګوره پر مسلمانانو په ډاډه زړه راروان دي تاته څه پېښه سوه چي جنت نه خوښوې كه شهيد نه سي نو آخر خو هم مرې په دغه وخت كي د آس څخه راكښته سو د اكا زوى يې يوه ټوټه غوښي ورته ونيولې چي وې خوره! ملا به دې سيده سي د څو ورځو څخه دي شى نه دى خوړلى ده د اكا دزوى څخه هغه ټوټه غوښه واخيستله ديو طرف څخه د حملې اواز راغلى ده هغه ټوته غوښه وغورځول او سخت وجنګېدى ترشهيد كېدو پوري يې توره وچلول.(۱)

فايده: دا داصحابو كرامو د ژوند يوه نمونه ده ددوى مباركانو هر قصه ددنيا د فاني كېدو او د آخرت سره دميني سبق وركوي. د اصحابانو كرامو رضي الله عنهم څخه به څه پوښتنه كوې چي په تابعينو كي داسي خلګ ختلي دي چي په يوه په قصه سره يې دغه باب ختمو و چي د هغه رنګ بل ډول دئ ددښمن مقابله خو تاسو وليده اوس يې د حكومت په وړاندي د لاوري هم ووينئ:

(۱) خميس

۱۲- د سعيد بن جبير رحمة الله عليه او حجاج بن يوسف خبرې اترې

نبي ﷺ فرمايي: اَفضَلُ الجِهَادِ كَلِمَةُ حَقٍ عِندَ السلطَانِ جَائِرٍ
ژباړه: بهترين جهاد د ظالم پاچا په وړاندې د حق خبره کول دي.

د حجاج بن يوسف ظلم او تېرى په ټوله دنيا کې مشهور دئ که څه هم د هغې زمانې ظالم پاچا په ظلم سره د دين د خورولو کار هم کاوه خو د عادل او ديندار ه پاچا په پرتله به دى بد ګڼل کېدئ او په دغه وجه به خلک د ده څخه بېزاره وه.

سعيد بن جبير رحمة الله عليه د ابن الاشعث رحمة الله عليه سره يو ځاى سو د حجاج مقابله يې شروع کړه حجاج د عبد المالک بن مروان له خوا حاکم و او سعيد بن جبير رحمة الله عليه مشهور تابعي و او دلويو علماؤ څخه و د حکومت د ده سره دښمني درلودل په ځانګړې ډول حجاج د ده سره زياته دښمني درلوده لکه څرنګه چې مبارک تابعي د حجاج سره مقابله شروع کړې وه او هغه ونه کړاى سواى چې دى ونيسي نو خامخا يې دښمني ورسره کول د ماتي وروسته و مکي ته په پټه ولاړى حکومت مکې ته نوى حاکم ولېږى زوړ حاکم يې راوغوښتى نوى حاکم چې ورغلى خطبه يې وويل او په آخر کې يې د عبد المالک بن مروان دا فرمان خلګو ته واوروى چې هر چا چې و سعيد بن جبير رحمة الله عليه ته پناه ورکړه خير يې نسته وروسته حاکم د خپل ځان لخوا ورته وويل د هر چا په کور کې که دى پيدا سو نو هغه به وژل کيږي. يوازې د ده کورنى نه بلکې د همسايه ګانو کورونه به يې هم ورغور ځوم لنډه دا چې د مکې حاکم په ډېر تکليف سره نوموړي تابعي ونيوى او حجاج ته يې ولېږى حجاج ته د خپل درد (غصې) او وژلو موقع په لاس ورغله خپل مخ ته يې راوغوښتى او پوښتنې يې ځني وکړې:

حجاج: ستا نوم څه شي دئ؟

سعيد رحمة الله عليه: زما نوم سعيد دئ.

حجاج: ستا د پلار نوم څه شي دئ؟

سعيد رحمة الله عليه: زما د پلار نوم جبير دئ. (سعيد معني نيک بخته او جبير معني اصلاح سوى) که څه هم په نومونو کې خو معني مقصود نه وي خو حجاج ته دغه ښه معني والا نوم هم خوند نه ورکوى نو پدې وجه يې ده ته وويل: ته شقي بن کسير يې (شقي معني بدبخته او کسير معني مات سوى)

سعيد رحمة الله عليه: زما مور زما نوم تر تا ښه پېژندى.

حجاج: ته هم بدبخته یې او ستا مور هم بدبخته ده.

سعید رحمة الله علیه: په غیبو باندي ستا څخه علاوه یو بل ذات خبر دئ (یعني علام الغیوب الله ﷻ دئ)

حجاج: ګوره زه اوس تا اوژنم.

سعید رحمة الله علیه: نو زما مور زما نوم صحیح ایښی دئ.

حجاج: اوس زه تا دژوند په بدله کي دوزخ ته لېږم.

سعید رحمة الله علیه: -که ماته معلوم وای چي دوزخ ستا په لاس کي دئ نو ته به مي معبود جوړ کړی وای.

حجاج: د نبي ﷺ په هکله ستا څه عقیده ده؟

سعید رحمة الله علیه: هغه درحمت نبي و، د الله ﷻ رسول و او په هدایت ښودلو سره ټولي دنیا ته لېږل سوی و.

حجاج: د خلفاو په هکله ستا څه نظر دئ؟

سعید رحمة الله علیه: زه د هغوی محافظ یم هر څوک دخپل عمل زموار دئ.

حجاج: زه هغوی ته ښه وایم که بد؟

سعید رحمة الله علیه: په کوم څه چي زه نه یم خبر د هغه په هکله زه هیڅ نسم ویلای ماته یوازي خپل حال معلوم دئ.

حجاج: په دوی کي تاته تر ټولو خوښ څوک دئ؟

سعد رحمة الله علیه: ماته تر ټولو خوښ زما د څښتن تعالی ﷻ راضي کوونکي دئ. په ځینو کتابو کي ددې جواب پرځای داسي توري راغلي دي: دهغوي ځیني حالات پر ځینو باندي تر جیح ورکوي.

حجاج: د ټولو څخه زیات د مالک راضي کونکی څوک دئ؟

سعید رحمة الله علیه: دغه کس و هغه چاته معلوم دئ چي د زړه پر ښکاره او پر پټ رازونو باندي علم لري.

حجاج: حضرت علي رضي الله عنه به په جنت کي وي که به په دوزخ کي؟

سعید رحمة الله علیه: زه ددې څخه کم یم چي په پټو حالاتو باندي خبر درکړم.

حجاج: ته زما سره د ریشتیا ویلو اراده نه کوي؟

سعید رحمة الله علیه: ما دروا غ نه دي ویلي.

حجاج: ته ولي نه خاندي؟

سعید رحمة الله علیه: د خندا خبره نه ده سوې چې زه وخاندم او هغه څوک به څنګه خاندي چې د خاورو څخه جوړ وي قیامت ته یې تلل وي شپه او ورځ په فتنو کې اوسي.

حجاج: زه خو خاندم.

سعید رحمة الله علیه: الله ﷻ موږ په مختلفو طریقو پیدا کړي یو.

حجاج: زه خو تاوژنم.

سعید رحمة الله علیه: زما د مرګ سبب پیدا کونکی د خپل کار څخه فارغ سوی دئ.

حجاج: زه و الله ﷻ ته تر تا ډېر خوښ یم.

سعید رحمة الله علیه: په الله ﷻ هغه څوک د لاوري نه سي کولای چې تر څو خپله مرتبه معلومه نه کړي په غیبو یوازي الله ﷻ خبر دئ وبس.

حجاج: زه به ولي دلاوري نه کوم زه د ټولني د پاچا سره یم او ته د باغیانو د ډلي سره یې.

سعید رحمة الله علیه: زه د ټولني څخه جلا نه یم او نه فتنه خوښوم څه چې په تقدیر کې دي هیڅوک یې نه سي بدلولای.

حجاج: کوم شیان چې موږ دا میر المؤمنین لپاره جمعه کوو ته یې په اړه څه نظر لرې؟

سعید رحمة الله علیه: زه نه یم خبر چې تاسو څه شي جمعه کوی؟

حجاج: سره زر، سپین زر، ټوکران او داسي نور، بیا یې دا شیان را وغوښتل او دسعید په مخکي یې کښېښودل.

سعید رحمة الله علیه: دا ښه شیان دي چې د خپلو شرطونو مطابق وي.

حجاج: شرطونه څشي دي؟

سعید رحمة الله علیه: شرطونه دادي چې په دغه سره داسي شیان واخلې چې د قیامت په ورځ امن پیدا کړي که نه نو د شیدې ورکونکي به تی روه دونکی هېر کړي او حمل به وغورځي او سړي ته به د ښه عمل څخه پرته بل هیڅ شی کار نسي کولای.

حجاج: موږ چې دا شیان یو ځای کړي دي دا ښه شیان دي.

سعید رحمة الله علیه: ددې شیانو ښه والي تاته معلومېږي.

حجاج: ته په دې شیانو کې یو شی ځانته خوښوې؟

سعید رحمة الله علیه: زه یوازي هغه شي خوښوم چې الله ﷻ یې خوښوي.

حجاج: ستا دپاره دي هلاکت وي.

سعید رحمة الله علیه: هلاکت دي هغه چالره وي چې د جنت څخه لیري سوی وي او دوزخ ته داخل سوی وي.

حجاج : وښيه زه تا په کومه طريقه ووژنم ؟

سعيد رحمة الله عليه : کومه طريقه چې د ځان لپاره خوښوې.

حجاج : ايا زه تا معاف کړم؟

سعيد رحمة الله عليه : معافي د الله جل جلاله په نزد ده ستا معافي هيڅ شی نه ده.

حجاج : جلاد ته امر وکړی چې سعيد ووژني، سعيد رحمة الله عليه چې يې دباندي راوايستی سعيد رحمة الله عليه وخندل حجاج ته خبر ورکړل سو چې سعيد رحمة الله عليه وخندل حجاج راوغوښتی پوښتنه يې ځني وکړه چې ولې دي وخندل؟

سعيد رحمة الله عليه : ستا په زړورتيا باندي چې پر الله جل جلاله يې لرې او د الله جل جلاله پر صبر باندي چې ستا په وړاندي يې لرې.

حجاج : زه هغه څوک وژنم چې د مسلمانانو په ټولنه کې بيلتون رامنځته کوي بيايې جلاد ته وويل : دده سر زما په مخکي پرې کړه.

سعيد رحمة الله عليه ووېل : زه دوه رکعته لمونځ کوم لمونځ يې وکړی او دا کلماتي يې وويل:

إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا ۖ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿٧٩﴾ (١)

ژباړه : ما خپل مخ د هغه ذات ولوري ته واړوی چې اسمانانونه او مځکي يې پيدا کړي دي په داسي حال کي چې د باطل څخه وحق ته ميل کونکی يم زه د مشرکانو څخه نه يم.

حجاج ووېل : دده مخ د قبلې څخه واړوئ د نصاراوو قبلې ته يې کړئ ځکه هغو هم په دين کي تفريق کاوه او اختلاف يې رامنځته کوی. ژر دده مبارک مخ واړول سو. سعيد رحمة الله عليه ووېل:

وَلِلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ۚ فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿١١٥﴾ (٢) الكافي بالسرائر

ژباړه : الله جل جلاله لره ختيځ او لويديځ دئ هري خوا ته چې مخ واړوې هم هلته خدای جل جلاله سته بېشکه الله جل جلاله پراخي راوستونکی او زيات عالم دئ . الله جل جلاله کافي دی په پټو رازو کي يعني په پټو احوالو خبر دئ.

حجاج ووېل : پړي مخ يې واړوئ موږ په ظاهر باندي د عمل کولو زمه واريو.

---

(١) سورة ال عمران الاية (٧٩)

(٢) سورة بقرة الاية (١١٥)

سعيد رحمه الله وويل: ﴿ مِنۡهَا خَلَقۡنَٰكُمۡ وَفِيهَا نُعِيدُكُمۡ وَمِنۡهَا نُخۡرِجُكُمۡ تَارَةً أُخۡرَىٰ ﴾ (۱)

ژباړه :موږ ددې مځکې څخه پيدا کړي ياست بېرته مو دې مځکې ته ورولو او بيا مو ددې مځکې څخه راباسو.

حجاج وويل: وي وژنئ! سعيد رحمه الله وويل: زه تا ددې خبرې شاهد جوړوم چې زه وايم. لا اله الا الله و اشهد ان محمد عبده ورسوله.

ته دغه کلمه په ياد ساته کله چې زه ستا سره د قيامت په ورځ يو ځای سم بيا به يې بدله درڅخه اخلم. ددې څخه وروسته شهيد سو. (انا لله و انا اليه راجعون)

دده په شهادت دده د بدن څخه زياته وينه ولاړه حجاج ورته حيران سو دخپل طبيب څخه يې پوښتنه وکړه چې ولې دومره وينه ځني ولاړه؟ طبيب ورته وويل: دده زړه ډېر ارام و په زړه کې يې دمرګ هيڅ وېره نه وه نو وينه يې پر خپل نورمال حالت باندې وه نو ځکه ډېر وينه ځني ولاړه. داسې نه لکه نور خلګ چې تر مرګ مخکې يې ټوله وينه دوېرې څخه وچه سي. (۲)

فايده: ددې قصې په سوال او جواب کې نور کتابونو زيادت او کمی کړی دئ نورو بيا ځني نور سوالونه او جوابونه رانقل کړي دي زموږ مقصد يوازې نمونه ښودل دي نو له دې امله مو په دغه اندازه بسنه وکړه.

ددې ډول څخه د تابعينو زياتې قصې راغلي دي (چې ددوی پر بهادرې باندې ښودنه کوي) امام اعظم رحمه الله ، امام مالک رحمه الله ، امام احمد بن حنبل رحمه الله او داسې نورو مبارکو انسانانو د حق وينا په وجه ډېرې سختۍ تيرې کړې دي خو حق يې د لاسه نه دئ ورکړی.

اتم باب

د علم شوق او په علم کښې بوختيا

څرنګه چې ددين اصل دتوحيد کلمة (لا اله الا الله محمدر سول الله) د ټولو کمالاتو بنسټ ده ددې کلمې پرته هيڅ سپېڅلې کار د قبول وړنه دئ په همدې وجه اصحابانو خصوصا د اسلام په لومړيو وختو خپل ټول قوت د همدې کلمې په خپرولو کې مصرفوی ، د کافرانو سره به يې

(۱) سورة طه الاية (۵۵)
(۲) علماء سلف کتاب الامامة والسياسة

جهاد په پوره زور سره کاوه دوی مبارکان دعلم لاسته راوړلو ته فارغ او متوجه نه وو ددې دومره بو ختیا و سره ـ سره ددوی دعلم سره دومره شوق او مینه وه (دومره علم یې لاسته راوړی) چې نن ځوارلس سوه کاله وروسته د قرآن او حدیث د علومو د بقا ذریعه ده، دا یو څرګند حقیقت دئ. ددې مبارکو انسانانو چې د وخت په تېرېدو سره څه فراغت تر لاسته کړی او د مسلمانانو ډله هم یو څه لو سوه نو لاندینی آیات کریمه نازل سو:

﴿وَمَا كَانَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُوا۟ كَآفَّةً فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا۟ فِى ٱلدِّينِ وَلِيُنذِرُوا۟ قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوٓا۟ إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ ۝١٢٢﴾ (۱)

ژباړه: نه ښایي مومنانو لره چې ټول دې ووزي که چیرې داسې نه وي ددوی د هر ډلې څخه دې یوه کوچنۍ ډله ځي ددې لپاره چې پوهه په دین کښې حاصله کړي او کله چې بېرته قوم ته راسي نو خپل قوم دې دالله ﷻ د عذاب څخه وویروي.

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمایي: کوم عاموالي چې ددغه آیاتو څخه: ٱنفِرُوا۟ خِفَافًا وَثِقَالًا (۲) او د ـــ إِلَّا تَنفِرُوا۟ يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا (۳) هغه پدې آیات سره وَمَا كَانَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُوا۟ كَآفَّةً منسوخ سو. اصحابان رضي الله عنهم په پیل کي د شمېر له مخې لږ وه دوی اړ وه چې ددوی دغه کوچنۍ ډله ددین ټول کارونه سرته ورسوي خو کله چې د تابعینو په زمانه کښې اسلام تر لېرو ځایونو پورې خپور سو نو د مسلمانانو یو لویه ډله رامنځته سوه د اصحابو رضي الله عنهم په څېر لږ والی له مینځه ولاړی الله ﷻ ددین د هري څانګي لپاره خلګ پیدا کړه. د حدیثو لپاره خپله ډله پیدا سوه چې په پوره پاملرنه سره به یې د حدیثو منظمول او خپرول کول، د فقهاؤ بیله ډله جوړه سوه، د صوفیانو، قاریانو، مجاهدینو او داسې نورو لپاره ډلې جوړې سوې. مطلب دا چې ددین د هرې شعبې لپاره مستقل سمبالونکي پیدا سول په هغه وخت کښې داشی ضروري وو چې په یوه شعبه کښې دې ځان کمال ته ورسوي ځکه چې ددین په ټولو شعبو کښې ځان کمال ته رسول ګران کار و دا صفت الله ﷻ و انبیاؤ (علیهم السلام) ته ورکړی و خصوصا و سید الانبیا ﷺ ته یې ورکړي و نو له

---

(۱) سورة التوبة الاية (۱۲۲)، بیان القران
(۲) سورة التوبة الاية (۴۱)
(۳) سورة التوبة الاية (۳۹)

همدې امله به پدې باب کښې د اصحابانو ترڅنګ د نورو مبارکو انسانانو قصې هم ذکر سي ترڅو معلومه سي چې د وی مبارکانو په څومره سختيو کې د علم سره شوق د لورد ئ.

۱- د فتوا ورکونکي ډلي سرليک

که څه هم اصحابان د اعلاء کلمة الله لپاره د جهاد په کولو سره مشغول وه خو بيا هم ددغه بوختيا سره - سره په علم هم بوخت وه او ددې علم خپرول او رسول هم د دوی دنده وه په دوی کې يوه ډله د فتوي لپاره خاصه سوې وه چې د نبي ﷺ په زمانه کې يې هم د فتوي کار کاوه نومونه يې په لاندې ډول دي: حضرت ابوبکر ﷺ، حضرت عمر ﷺ، حضرت عثمان ﷺ، حضرت عبدالرحمان بن عوف ﷺ، حضرت علي ﷺ، حضرت ابی بن کعب ﷺ، حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ، حضرت معاذ بن حبل ﷺ، حضرت عمار بن ياسر ﷺ، حضرت خذيفة ﷺ، حضرت سلمان فارسي ﷺ، حضرت زيد بن ثابت ﷺ، حضرت ابو موسي ﷺ او حضرت ابودرداء ﷺ (۱)

فايده: دا ددغه مبارکو انسانانو د کامل او بشپړ علم خبره وه چې د نبي ﷺ په موجوديت کې دوی د فتوي ورکولو کار کا وه.

۲ د حضرت ابو بکر ﷺ د حديثو د مجموعې سوځل

حضرت عائشة رضي الله عنها فرمايي: زما پلار حضرت ابوبکر ﷺ د پنځوسوو حديثونو يوه مجموعه تياره کړې وه يوه شپه ما وليدئ چې زما پلار ډېر ناارامه دئ پر ځای باندې اړخ پر اړخ اوړي ما چې وليدئ ډېره خوا بدې سوم پوښتنه مې ځنې وکړه چې څه تکليف لرې او که دې څه د فکر وړ خبره اورېدلې ده؟ لنډه دا چې ټوله شپه کت پر کت او ښتی سهار يې راته وويل: هغه زما د حديثو مجموعه چې ما ستا سره ايښې وه هغه راوړه ما چې راوړه ده مبارک

---

(۱) تلقيح

ځان سره دي کښېنولی دئ او زموږ ناپوه خلک تېر باسي. اسید چې اسعد ﷺ ته راغلی نو په سختۍ سره یې خبرې ورسره وکړې اسعد ﷺ ورته وویل: ته راسه د هغه خبرې واوره که دي خوښې سوې نو قبولې یې کړه که دي خوښې نه سوې نو بیا که یې منعه کړې پروانه لري اسید ورته وویل: دا ښه دانصاف خبره ده حضرت مصعب ﷺ و اسید ته د اسلام صفتونه واورول او د قرآنکریم آیاتونه یې ورته تېر کړل اسید چې دده خبرې واورېدې نو وې ویل: دا څومرې ښې خبرې دي دا څومره ښه کلام دئ اسید زیاته کړه: اې مصعبه ﷺ! تاسو چې څوک په خپل دین کي داخلوی نو څنګه یې داخلوی؟ مصعب ﷺ ورته وویل: غسل وکړه د شهادت کلمة ووایه. اسید ﷺ دغه ټول کارونه وکړه او مسلمان سو د مسلمانېدو سره سم ولاړی سعد یې هم راوستی هغه هم دده خبرې واورېدې مسلمان سو بیا خپل قوم بنو الاشهل ته ولاړی او هغوته یې وویل: زه ستاسو په نظر څنګه سړی یم هغو ورته وویل: ته زموږ په نظر ډېر غوره او بهتر سړی یې پردې خبره باندې سعد ﷺ ورته وویل: ستاسو د نارینوو او ښځو سره زما خبرې تر هغه وخته پورې حرامې دي تر څو چې تاسو مسلمانېږی او په محمد ﷺ باندې ایمان راوړی ده مبارک په دې خبره سره د بنوالاشهل قوم ټول نارینه او ښځینه مسلمانان سوه او حضرت مصعب ﷺ دوی ته په تعلیم ورکولو باندې مشغول سو. (۱)

فایده: د اصحابانو رضی الله عنهم دا عمومي قاعده وه چې کله به څوک مسلمان سو نود مسلمانېدو سره سم به دی یو مستقل تبلیغ کوونکیو او کومه خبره چې به د اسلام ده ته ورسېده نو ده به دستي نورو ته رسول او خورول به یې دا دده د ژوند یوه وظیفه وه په دغه وظیفه کي د پیسو، تجارت، دنده او کوم بل دنیوي مسلک نه و.

۴- د حضرت ابي بن کعب ﷺ تعلیم

حضرت ابي بن کعب ﷺ یو مشهور صحابي دئ، د مشهورو قاریانو څخه دئ او د اسلام راوړلو مخکي یې لیک او لوست زده و په عربو کي د لیکلو دود نه وو خو د اسلام څخه وروسته د لیکلو دود عام سو دی مبارک د لومړی وخت څخه په لیک دود پوهه و دی مبارک به د رسول الله ﷺ په حضور کي حاضرېدئ او وحي به یې لیکلې. د قرآنکریم لوی ماهر و، نوموړی د هغه کسانو څخه و چې د نبي ﷺ په ژوند کښې یې قرآن یاد کړی و نبي ﷺ دده په اړه

---

(۱) تلقیح

فرمايي: زما د امت لوی قاري ابي بن کعب دئ ده مبارک په پابندۍ سره په اتوشپو کښې د تهجد په لمانځه کښې قرآنکريم ختماوی نبي ﷺ يوه ورځ ودته وفرمايل: الله ﷻ ماته فرمايلي دي چې زه و تاته قرآنکريم واوروم ده مبارک ورته وويل اې د الله ﷻ رسوله ﷺ! الله ﷻ زما نوم واخيستی ؟ نبي ﷺ ورته وفرمايل: هو، ستانوم يې واخيستی ده مبارک چې دا خبره واوريدل د ډېرې خوشحالۍ څخه په ژړا شو. شعر

ذکر ميرا مجه سی بهتر هی کی اس محفل مي هی

يعني زما يادونه تر ما بهتره ده چې په دغه مجلس کې کيږي.

جندب بن عبد الله رضي الله عنه فرمايي: زه مدينې منورې ته دعلم حاصلولو لپاره حاضر سوم په نبوي مسجد کښې د حديثو لوستونکي ګڼ شمېر مبارکان ناست وو د شاګردانو ټولۍ په جلا ـ جلا ډول استاذانو ته ناستې وې زه په دې حلقو کې تېر سوم يو سړی د مسافر په ډول ناست و چې دوې جامې يې په تن وې حديث يې نورو ته ښودل ماد خلګو څخه وپوښتل: دا کوم بزرګ دئ؟ دوی راته وويل: دا دمسلمانانو سردار ابي بن کعب رضي الله عنه دئ، زه هم دده مبارک ددرس په ټولۍ کې کښېناستم کله چې د حديثو څخه فارغه سو کور ته تلی زه په پسې سوم کله چې دی کور ته ورسېدئ و مې ليدئ چې کورېې ډېر زوړ، خراب او د کمزورې سامان لرونکی و او ډېر د عاجزۍ او زهد ژوند يې و.(۱)

حضرت ابی بن کعب رضي الله عنه فرمايي: يوه ورځ نبي ﷺ زما څخه امتحان واخيستی چې د قرآنکريم لوی آيات کوم دئ؟ (د برکت په لحاظ) ما ورته وويل: اې د الله ﷻ رسوله! الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ ښه پوهيږي نبي ﷺ دوهم ځل پوښتنه راڅخه وکړه ما داب له وجې په هغه ډول جواب ورکړی دريم ځل يې بيا راڅخه وپوښتل نوما په جواب کې ورته وويل: د آية الکرسي آيات دئ. نبي ﷺ ډېر خوشحاله سو او راته وې ويل: الله ﷻ دې تاته ستا علم مبارک کړي.

يو ځلې نبي ﷺ لمونځ ورکاوی يو آيات ځنې پاته سو ابي بن کعب رضي الله عنه فتحه ورکړه (د لمانځه د فراغت څخه وروسته) نبي ﷺ وپوښتل چې دافتحه چا راکړه؟ ابي بن کعب رضي الله عنه و فرمايل: دا زه وم. نبي ﷺ وفرمايل: زما هم دا ګمان و چې تا به ښودلې وي.(۲)

---

(۱) طبقات
(۲) مسند احمد

فایده: دا د ابي بن کعب ﷺ علم او قرآن سره مینه او محبت و او دده مبارک خاص خدمتونه وه، ده مبارک دنبي ﷺ سره په هره غزا کي ګډون کړی و د نبي ﷺ هیڅ داسي جهاد نه و چي ده ګډون نه وي پکښي کړی.

۵- د حضرت خذیفة ﷺ د فتنو د پیژندني اهتمام

حضرت خذیفة ﷺ دنومتو اصحابو څخه دئ دده مبارک لقب صاحب السر (راز ساتونکی) و نبي ﷺ د منافقینو او فتنو علم ده ته ښودلی دئ. ویل سوي دي: یو ځلي نبي ﷺ ده مبارک ته تر قیامته پوري راتلونکي فتنې ټولي په شمار سره وښودلې. نبي ﷺ هیڅ داسي فتنه نه ده پرې ایښې چي په هغه کي دي درې سوه کسان شریک وي مګر ده ته یې دهغې فتنې حال او د لارښود نوم، د پلار او مور نوم او د هغه د قوم نوم یې په څرګند ډول ښودلي دئ. حضرت خذیفة ﷺ فرمایي: خلګو به د نبي ﷺ څخه د خیر د خبرو پوښتنه کول خو ما به د بدیو د خبرو پوښتنه کول د دې لپاره چي ځانونه ځني وساتو، ما یوه ورځ دنبي ﷺ څخه و پوښتل: اې د الله ﷻ رسوله ﷺ! دغه برکتونه چي ستا په وجه موږ ځني برخمن یو ایا ددې څخه وروسته یوه بدي هم راتلونکې ده؟ نبي ﷺ راته وفرمایل: هو، بدي راځي، ما ورته وویل: ددې بدۍ وروسته بیا نیکي راځي؟ نبي ﷺ راته وویل: اې خذیفة ﷺ! د الله ﷻ کلام وایه او په معناوو کي یې فکر کوه او د احکامو تابعداري یې کوه (دي مبارک وایي: زه فکر اخیستی وم) وه مي ویل: ددې بدۍ وورسته به نیکي راځي؟ نبي ﷺ و فرمایل: هو، نیکي راځي خو زړونه به داسي نه وي لکه لومړي چي وه. ما بیا ورته وویل: اې د الله ﷻ رسوله ﷺ! ددې نیکۍ وروسته به بیا بدي وي؟ نبي ﷺ راته وویل: داسي خلګ به پیدا سي چي نور به ګمراه کوي او ددوزخ لوري ته به یې بیایي ما ورته وویل: که زه په دغه زمانه کي موجود وم نو څه به کوم؟ نبي ﷺ راته وویل: که چیري په دغه وخت کي د مسلمانانو یوه متحده ډله وه او یو پاچا یې درلودئ نو ددوی سره واوسه که نه وو ټولي ډلي پرېږده په یو کونج کي جلا کښېنه او یا دیوې درختي په بیخ کي کښېنه او هم دلته تر مرګه پوري واوسه.

څرنګه چي رسول الله ﷺ و ده ته د ټولو منافقانو حال ښودلي و نوله همدې امله به حضرت عمر ﷺ دده څخه پوښتنه کول چي زما په حاکمانو کي خو څوک منافق نسته؟ حضرت

عمر ﷛ به هغه حاکم ددندې څخه ليري کوی چې غالباً به يې په خپل فراست (الهي پوهه) سره پېژندلی وای. کله چې به څوک مړسو نو عمر ﷛ به څېړنه کول چې حذيفة ﷛ يې په جنازه کې ګډون کوي که يا؟ که به حذيفة ﷛ په جنازه کې و نو عمر ﷛ به يې هم په لمانځه کولو کې ګډون کاوه که به يې ګډون نه وکړی نو عمر ﷛ به هم نه ورتلی. کله چې حضرت حذيفة ﷛ وفات کېدئ نو په ډېره ناارامۍ سره يې ژړل خلګو پوښتنه ځني وکړه (چې ولي ژاړې؟) ده مبارک په جواب کي ورته وويل: ددنيا په پاته کېدو باندي نه ژړام بلکي مرګ خو زما خوښ دئ مګر زه پردې ژاړم چې زه به دالله ﷻ په رضا کي روان يم او که به ناراضي کي روان يم ددې څخه وروسته يې وويل: دا زما دژوند وروستی ساعت دئ اې الله ﷻ! تا ته معلومه ده چې زه ستاسره مينه لرم نو پدې وجه سره په خپل ملاقات سره ما ته برکت راکړې.(۱)

۶_ دحضرت ابوهريرة ﷛ دحديثونو يادول

حضرت ابوهريرة ﷛ يو نوموتي او ددرنښت وړ صحابي دئ او دومره ډېر حديثونه ده مبارک رانقل کړي دي چې دده په څېر بل صحابي نه دي نقل کړي دده مبارک وعلم ته خلک حيران وه ځکه دی په اووم کال دهجرت راغلی او مسلمان سو په يوولسم کال دهجرت نبي ﷺ وفات سوی دئ په دومره لږ وخت کي چې څلور کاله کېږي ده څنګه دومره ډېر حديثونه ياد کړل ؟ددې خبري وجه خپله حضرت ابوهريرة ﷛ ښودلې ده فرمايلي يې دي چې خلک وايي ابوهريرة ﷛ ډېرروايتونه رانقل کړي دي حال دا چې زما مهاجر ورونو تجارت کاوه ، بازارته تلل اوراتلل او زما انصارو ورڼود کښت او کروندې کار کاوه دوی ټوله په کارونو بوخت وه (ماهيڅ بوختيانه درلوده) حضرت ابوهريرة ﷛ داصحاب صفه دمسکينا نو څخه يو مسکين ودنبي ﷺ په خدمت کي به چې يو څه دخوراک لپاره ورکړل سوه په هغه به يې صبر کاوه پروت به وپه داسي پېښو کي به دی مبارک موجود وچې نوراصحابان به نه وه موجود داسي شيان به يې يادول چې هغوی به نسوای يادولای.

ابوهريرة ﷛ فرمايلي دي : ما يو ورځ نبي ﷺ ته دخپلي حافظې شکايت وکړی رسول الله ﷺ راته وويل ته خپل پټو هوار کړه ما چې پټو هوار کړی نبي ﷺ په دواړولاسونو په پټو کي

(۱) ابوداؤد – اسد الغابة

ديوشي اشاره وکړه بيايې راته وويل :داپټو دځان سره يوځای کړه ماهم هغه پټوپه خپله سينه پوري ونيوی ددې څخه وروسته بياهيڅ شی زما څخه نه سوهېر.(۱)

فايده: اصحاب صفه وهغه کسانو ته ويل کېږي چي دنبيﷺ په خانقاه کي به اوسېدل ددوی مبارکانو دخوراک لپاره څه خاص انتظام نه و. دومري به وو ايو چي دوی دنبيﷺ ميلمانه وه دکوم ځای څخه چي به څه هديه ياصدقه راتله په هغه به ددوی گوزاره وه حضرت ابوهريرةؓ هم په دې خلکو کي و دېروختونه به پردوی باندي په نهاره تېرېدل ځني وخت به دلوږي له امله دليو نتوب په څېر حالت کي سوه لکه چي دد ريم باب په دريمه او ومه قصه کي تېرسوه ددې دومره سترپا ووسره - سره بياهم ده مبارک حديثونه يادول دادده شغل وچي له برکته يې ده ترټولوزيات حديثونه ښودلي دي.

ابن جوزيؒ په (تلقيح) نومي کتاب کي ليکلي دي چي ابوهريرةؓ پنځه زره درې سوه څلوراو يا (۵۳۷۴)حديثونه رانقل کړي دي .

يوه ورځ ابوهريرةؓ دجنازې اړوند يوحديث بيان کړی چي دنبيﷺ ارشاددئ : څوک چي دجنازې لمونځ ا داکړي بېرته راسي يوقيراط ثواب ورکول کېږي اوڅوک چي دمړي په ښخولو کي شريک سي دوه قيراطه ثواب ورکول کېږي اوديوه قيراط ثواب د احد ترغره زيات دئ حضرت عبدالله بن عمرؓ ته په دې حديث کي يو څه شک پيداسو اوورته وې ويل :اې ابوهريرةؓ ! په فکر سره خبري کوه ده مبارک ته درد (غصه) ورغله دستي وعائشېؓ ته ورغلی اوورته وې ويل :زه تاته قسم درکوم چي دغه دقيراط حديث تادنبيﷺ څخه اورېدلی دئ؟ عائشېؓ وفرمايل: هو،اورېدلی مي دئ ، ابوهريرةؓ وفرمايل :زمالپاره خونه په باغ کي ددرختو ايښودلو څه کارو او نه په بازار کي دمال خرڅولو څه کارو زه به دنبيﷺ په دربار کي پروت وم يوازي داکار مي درلو دئ چي دياد ولو څه خبره په لاس راسي او يا څه خوراک راکړل سي .

حضرت عبدالله بن عمرؓ وويل : بېشکه ته ترموږ دنبيﷺ په حضورکي زيات حاضر وې اوپه حديثونو زيات پوهه يې.(۲)

ددې سره سره ابوهريرةؓ فرمايي : زه هره ورځ دولس زره واره استغفار وايم. دده سره يوتار و چي زرغوټې ورکړل سوي وې (دتسبوح په څېر)دشپې به تر هغه وخته پوري نه بيده کېدئ ترڅو چي دغه غوټې به يې په سبحان الله نه وي پوري کړي.(۱)

---

(۱) بخاري

(۲) مسنداحمد

۷ـ دمسيلمة كذاب وژل او دقرآن جمعه كول

دنبي ﷺ دوفات څخه وروسته دمسيلمة كذاب پر خلګو باندي اثر پر زياتېدو سو (ده د نبي ﷺ په ژوندكي دنبوت دعوه كړې وه) څرنګه چي په عربوكي ددين څخه اوښتل په زورسره شروع سوه نوله وجهي يې دی نورهم طاقتور سو. حضرت ابوبكر ﷛ دده سره جنګ وكړی الله ﷻ اسلام ته برلاسی وركړی او مسيلمة ووژل سو مګر په دې جنګ كي داصحابانو ﷡ يوه لويه ډله هم شهيدان سوه خصوصا دقرآنكريم دحافظانو يوه ډله هم شهيدان سوه.

حضرت عمر ﷛ دابوبكر ﷛ حضورته ورغلی اوورته وې ويل: په دې جنګ كي قاريان ډېر شهيدان سوه كه چيري په دغه ډول په يوه يادوو جنګوكي نور حافظان هم شهيدان سي نودقرآنكريم دډېرو برخو دضائع كېدو ويره ده نودا قرآنكريم په يوځاي كي وليكه چي وساتل سي حضرت ابوبكر ﷛ ورته ويل: ته څنګه په يوه داسي كاركي دلاوري كوې چي نبي ﷺ نه دئ كړی. حضرت عمر ﷛ پردغه خبره باندي ټينګار كوی اوداړتيا څرګندونه يې كول په آخركي دحضرت ابوبكر ﷛ نظر هم ورسره برابر سونو حضرت زيدبن ثابت ﷛ يې راوغوښتی (چي قصه يې په يوولسم باب اتلسم شمېره كي راروانه ده) زيد ﷛ فرمايي: زه دحضرت ابوبكر ﷛ وحضورته ورغلم چي عمر ﷛ هم تشريف درلودئ حضرت ابوبكر ﷛ خپلي خبري او دعمر ﷛ ټولي خبري راته بيان كړې وروسته يې وفرمايل: (اې زيده ﷛!) ته ځوان اودعقل څښتن يې پرتاباندي هيڅ ډول بدګماني نسته ددې ټولو خبروسره ته دنبي ﷺ په زمانه كي دوحيو ليكونكی پاته سوی يې نولدې وجهي دغه كارهم ته وكړه دخلګو څخه قرآنكريم راجمعه كړه اويوځای يې نقل كړه حضرت زيدبن ثابت ﷛ فرمايي: په الله ﷻ قسم كوم كه ابوبكر ﷛ ماته امر كړی وای چي فلاني غرونړوه اوودې خوا ته يې رابدل كړه ماته به تردغه كارآسانه وای. ماورته وويل: تاسو څنګه داسي كاركوی چي نبي ﷺ نه دی كړی دوی مباركانو به زه وپوهولم. (يعني قناعت به يې راكړئ) په يوحديث كي راغلي دي چي حضرت ابوبكر ﷛ وزيد ﷛ ته وفرمايل: كه ته دعمر ﷛ ملګرتيا وكړې نوزه به هم ددغه كارحكم دركړم اوكه يې نه كوې نوزه هم ددغه كار اراده نه كوم زيدبن ثابت ﷛ فرمايي: چي دډېروخبرو وروسته الله ﷻ زماسينه ودې لوري ته خلاصه كړه چي قرآنكريم دې يوځای جمعه

(۱) تذكره

کړل سي نو ما هم دا مر په عملي کولو کې د خلګو څخه قرآنکریم را جمعه کړئ چې جلا ،جلا لیکل سوی وا و هغه قرآنکریم مې هم را جمعه کړی چې د اصحابانو رضي الله عنهم په سینو کې ساتل سوی و د ټولو لته مې وکړه او سره یو ځای مې کړی .(۱)

فایده: ددې قصې څخه لومړی دا معلومیږي چې دوی مبارکان دنبي ﷺ د تابعداری دومره پابنده وه چې دغره بدلول ورته اسانه کار و تر دا سي کار چې نبي ﷺ نه وو کړی .ددې دومري اخلاص په نتیجه کې الله ﷻ دیوه داسي کتاب جمعه کېدل چې ددین بنسټ دئ ددوی په عملنامو کې ایښي دئ . بیا حضرت زید رضي الله عنه د قرآنکریم په جمعه کولو کې دومري احتیاط کاوه چې هیڅ آیات به یې دلیکلو پرته نه اخیستي (بلکي داسي آیات به یې په لیکلي ډول اخیستي) چې دنبي ﷺ په زمانه کې به لیکل سوی و دغه آیات به یې دنورو سره یو ځای کوی بیا به یې دحافظانو دلوستلو سره کاتی (چې لیکلي آیات او دیاد سوي آیات څو فرق نسته) څرنګه چې قرآنکریم په جلا - جلا ځایونو کښې لیکل سوی و په همدغه وجه یې په پیدا کولو کې څه ستړیا او زحمت و مګر ټوله قرآنکریم پیدا سو .ابي بن کعب رضي الله عنه چې نبي ﷺ په خپله د قرآنکریم زیات پوه ورته ویلي و د قرآنکریم په جمعه کولو کې یې د زید بن ثابت رضي الله عنه مرسته کول .په داسي زحمتونو سره قرآنکریم دغه مبارکو انسانانو تر ټولو لومړی جمعه کړی.

۸- دحضرت ابن مسعود رضي الله عنه دحدیث په روایت کې احتیاط

حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه د نوموتو اصحابانو څخه دئ ، د هغه اصحابانو د ډلي څخه دئ چې فتوي ورکونکي وه او د اسلام په پیل کې مسلمانان سوی وه او د حبشې هجرت یې هم کړی و په ټولو غزاوو کې یې دنبي ﷺ سره ګډون کړی و د خاص خدمت په وجه د صاحب النعل (څپلو والا) ، صاحب الوسادة (بالښت والا) صحاب المطهرة (داودا سه ابو والا) لقبونه ورکړي سوي دي ځکه دنبي ﷺ زیات خدمتونه ده ته سپارل سوي وه رسول الله ﷺ دده په اړه دا هم فرمایلي دي : دمشورې پرته که مې څوک امیر ټاکی نو عبد الله بن مسعود به امیر ټاکم . نبي ﷺ ده مبارک ته فرمایلي وه چې تا ته هروخت در اتلو اجازه ده په بل ځای کې رسول الله ﷺ فرمایلي دي : څوک که غواړي چې په هغه ډول قرآنکریم ولولي چې نازل سوی دئ نو دعبد الله بن مسعود رضي الله عنه په طریقه دي یې ولولي نبي ﷺ فرمایلي دي : ابن

---

(۱) در

مسعود ﷺ چې کوم حدیثونه بیان کړي هغه رښتیا بولی ابوموسی اشعري ﷺ فرمایلي دي: موږ چې کله دیمن څخه راغلو نو تر ډېره وخته پوري مو ابن مسعود ﷺ داهل بیتو څخه ګڼی ځکه درسول الله ﷺ په کورکي دده او دمور تګ اوراتګ دومره زیات و لکه دوی چې یې دکور خلک وي.(۱)

خودې تولوسره سره ابوعمرو شیباني ﷺ فرمایلي دي چې زه دابن مسعود ﷺ سره یوکال واوسېدم ما هیڅ کله دی نه ولیدئ چې دیوې خبري نسبت دې یې رسول الله ﷺ ته کړي وي که به یې نسبت رسول الله ﷺ ته کوی نو پربدن به یې رپېدل راغله. عمر بن میمون ﷺ وایي چې زه تر یوکاله پوري دهر ې پنجشنبي په ورځ ابن مسعود ﷺ ته ورتللم ماهیڅ کله دده څخه داسي خبره وانه ورېدل چې ده یې و رسول الله ﷺ ته نسبت کړي وي یوازي یوه ورځ یې حدیث بیانوی پرژبه یې راغلل چې نبي ﷺ وفرمایل نو بدن یې ورپېدئ په سترګو کي یې اوښکي راغلې رګونه یې وپړسېدل او دایي وویل انشاءالله هم داسي به یې ویلي یا به یې دې ته نژدې ویلي وي او یا به په دغه ډول و، یابه ددې وینا څخه یو څه کم او یا به یې یو څه زیات فرمایلي وي.(۲)

فایده: دادصحابانو مبارکانو ﷺ دحدیثونو په اړه احتیاط وځکه رسول الله ﷺ فرمایلي دي: څوک چې پر ما باندي دروا غ ووایي نو خپل ځای دي په اوردوزخ کي تیارکړي. دوی مبارکان ددې ویر ي څخه چې درواغ پررسول الله ﷺ را څخه ونه ویل سي نو هر ه مسئله به یې درسول الله ﷺ دوینا او حالاتو سره برابره بیانول خو دابه یې نه ویل چې دا درسول الله ﷺ وینا ده ځکه دوی مبارکان وېرېدل چې داسي نه جي پر رسول الله ﷺ باندي درواغ وویل سي ددوی په وړاند ي که موږ خپل ځانونه پرتله کړو نو بې شمېره بې څېړني حدیثونه بیانوو یوه ذره هم نه وېرېږو حال داچې دنبي ﷺ ولوري ته دخبري دنسبت کولو اوراانقلولو کاریوه لویه ذمواري ده. حنفي فقه هم زیاته دعبدالله بن مسعود ﷺ دوینا و څخه اخیستل سوې ده.

---

(۱) بخاري

(۲) مقدمه او جز مسنداحمد

۹-وحضرت ابودرداء رضي الله عنه ته ديوه حديث لپاره دمدينې څخه ودمشق ته ورتلل

کثيربن قيس وايي چي زه ددمشق په مسجد کي دابودرداء رضي الله عنه سره ناست وم چي يوسړی ابودرداء رضي الله عنه ته راغلی او ورته وې ويل چي زه دمدينې څخه ديوه حديث لپاره راغلی يم مااورېدلي دي چي تا هغه حديث درسول الله ﷺ څخه اورېدلی دی ابودرداء رضي الله عنه پوښتنه ځني وکړه چي دتجارت خودي څه کار نه و؟ هغه سړي ورته وويل :يا، بيا ابودرداء رضي الله عنه تري وپوښتل: بل څه مقصد خودي نه و؟ سړي ورته وويل :يا،يوازي دحديث دزده کړي لپاره راغلی يم ابودرداء رضي الله عنه ورته وويل: ما درسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي چي څوک دعلم لاسته راوړلو لپاره ځي الله ﷻ دهغه کس لپاره دجنت لاره اسانه کوي ،ملائکي خپل وزرونه دعلم دزده کونکي دخوښۍ په موخه غوړوي او دطالب العلم لپاره دآسمان اوځمکي اوسېدونکي دمغفرت غوښتنه کوي تردا سي بريده چي ماهيان په اوبو کښي طالب العلم ته دمغفرت غوښتنه کوي . دعالم ارزښت پرعبادت کونکي باندې داسي دئ لکه دسپوږمۍ ارزښت پرستورو باندي . علماء دانبياآؤ وارثان دي ، انبياآء خپل وارثان دمال اوشتمنۍ نه جوړوي بلکي خپلو وارثانو ته علم پرېږدي.څوک چي علم لاسته راوړي هغه لوی دولت لاسته راوړی.(۱)

فايده: حضرت ابودرداء رضي الله عنه په هغه اصحابانو کي دئ چي په فقه کښي پوهېدئ اودته حکيم الامت (دامت پوه) ويل سوي دي .ده مبارک فرمايلي دي : مادنبي ﷺ دنبوت په وخت کي تجارت کاوه دمسلمانېدو وروسته مي وغوښتل چي تجارت اوعبادت دواړه وکړم خودواړه نه سره کېده نو تجارت مي پرېښودئ اوس مي زړه داسي دئ : که چيري دمسجد په دروازه کي مي دکا ن وي يو لمونځ هم نه راڅخه قضا کېږي ، دورځي څلوېښت ديناره وګټم اوبيا يې صد قه کړم لامي هم تجارت نه خوښيږي .يوچاپوښتنه ځني وکړه: چي ولي دي داسي تجارت نه خوښيږي چي لمونځ هم نه درڅخه قضا کېږي اوهره ورځ دومره ګټه هم کوې بيايې دالله ﷻ په لاره کي خرڅوې؟ ده مبارک په جواب کي ورته وويل : حساب خوغواړي. ابودرداء رضي الله عنه دا هم فرمايلي دي چي زه دمرګ سره مينه لرم ددې لپاره چي دخپل بادارسره

---

(۱) ابن ماجة

ملاقات وکړم، د مسکنت سره مینه لرم د عاجزۍ لپاره، او د ناروغۍ سره مینه لرم د دې لپاره چې ګناه مې ومینځل سي.(۱)

په پورتنۍ قصه کې (تاسو ولیدل) چې یو صحابي دیوه حدیث لپاره دومره لوی سفر کړی و د دوی مبارکانو لپاره د حدیثونو په لاسته راوړلو کې سفر څه ګران کارنه و دیوه حدیث داوریدلو اوزده کولو لپاره دېرلري سفرکول د وی مبارکانو ته اسانه و . شعبي رحمة الله علیه یو مشهور محدث دئ دکوفې اوسیدونکی دئ یوه ورځ یې خپل شاګرد ته یو حدیث وایه اوبیا یې ورته وویل واخله دا حدیث دي په خپل کور کې مفت (وړیا) په لاس درغلی که نه نو ددغه یوه حدیث لپاره به دې هم مدینې منورې ته سفرکاوه ځکه په لومړیو کې د حدیثونو خزانه مدینه منوره وه . دعلم سره مینه لرونکو حضراتو دعلم لاسته راوړلو لپاره ډېر لوی او اوږده سفرونه کړي دي سعید بن المسیب رحمة الله علیه یو نوموتي تابعي دئ ، دی مبارک فرمایي : زه دیوه حدیث شریف لپاره څو ورځې او شپې پیاده (پلې) تللی یم امام الائمه امام بخاري رحمة الله علیه په سنه ۱۹۴هـ کې پیدا سوی دئ په سنه ۲۰۵هـ کې یعني دیوولس کالو په عمرېې د حدیثو دعلم لوستل شروع کړي دي . عبدالله بن مبارک رحمة الله علیه ټول کتابونه په کوچنوالي یاد کړل کوم حدیثونه چې په خپل ښار کې لاسته ورتلل هغه یې زده کول بیایې په سنه ۲۱۶هـ کې سفرپیل کړی دده مبارک پلار وفات سوی و دی یتیم و په سفرکې یې مور ورسره ملګرې وه . دسفر دپیل څخه وروسته یې بلخ ، بغداد ، مکې مکرمې ، بصرې ، کوفې ، شام ، عسقلان ، حمص او دمشق ښارونو ته سفرونه وکړل او هر ځای چې به د حدیثو زخیره لاس ته ورتله په لاس یې راوړل په داسې کشرتوب کې د حدیثو استاذ سو چې پرمخ یې دږیري وېښته نه و دی مبارک وایي : زه داتلس کالو وم چې ماد اصحابانو او تابعینو د فیصلو نومی کتاب جوړ کړی. حاشد رحمة الله علیه او دده یو ملګري وایي چې موږ به د امام بخاري رحمة الله علیه سره یو ځای استاذ ته ورتلو ما او ملګري به لیکل کول خو امام بخاري رحمة الله علیه به داغسې چوپ ناست و یو وخت موږ ورته وویل: ته خو داغسې وخت تېروې؟ ده جواب رانه کړی موږ په تکرار سره دغه سوال ځني وکړی ده مبارک راته وویل: زه مو ډېر تنګ کړم راوړئ تاسو څه لیکلي دي موږ خپله لیکنه راوړه چې شا وخوا پنځلس زره (۱۵۰۰۰) حدیثه کېدل ده مبارک دغه ټوله حدیثونه په یاد راته وویل موږ بېخي ورته حیران سو.

---

(۱) تذکره

۱۰- د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما و يو انصاري ته ورتلل

حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي: مايو انصاري ته وويل: نبي ﷺ خو وفات سو تر اوسه پوري د اصحابانو يوه لويه ډله موجوده ده راځه ددوی څخه په پوښتنو مسئلې يادي کړو انصاري راته وويل: ددومره ډېرو اصحابانو په شتون کي به تاته خلګ د مسئلې پوښتلو لپاره راځي؟ لنډه دا چي هغه انصاري همت نه وکړی خوزه د مسئلو په زده کړه پسي روان سوم کله چي به زه خبرسوم چي فلاني صحابي فلانی حديث د رسول الله ﷺ څخه اورېدلی دئ زه به ورتلم او څېرنه به مي ځني کوله. ماته د مسائلو ډېره لويه زخيره د انصارو څخه لاسته راغله ځينو خلګو ته به ورغلم نو معلومه به سوه چي بيده دئ نو خپل پټو به مي په دربند کي کښېښودئ هلته به کښېناستم که څه هم د باد او دوړو له امله به خاوري زما پر خوله او بدن باندي بادېدلې خو مابه انتظار کاوه کله چي به هغه راکښېناستی نو کومه خبره به چي ما به ځني زده کول هغه به مي ځني وپوښتل هغه سړي به راته وويل: ته د نبي ﷺ د اکا زوی يې تاولي دومره تکليف ايستلی دئ؟ زه به درغلی وای مابه ورته وويل: زه د علم حاصلونکي يم او د علم حاصلونکی دراتلو مستحق وي. ځينو اصحابانو رضي الله عنهم به زما څخه پوښتنه وکړه چي د څه وخت څخه ناست يې؟ مابه ورته وويل د ډېر وخت څخه ناست يم. هغه سړي به راته وويل: تابد کول ولي دي خبر نه راکوئ؟ مابه ورته وويل: زما زړه نه غوښتل چي تاسو زما په وجه د خپلو اړتياو د خلاصېدو مخکي راسی آخر داسي وخت راغلی چي خلګ به ماته راجمعه سول د دې لپاره چي علم راڅخه زده کړي. بيا هغه انصاري صاحب وويل: افسوس دغه هلک ترموږ ډېر هو ښيار و.(١)

فايده: داهغه شی دی چي په وجه يې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ته يې د (حبر الامة) او د (بحر العلم) لقبونه ورکړي دي. کله چي دی مبارک وفات کېدی نو په طائف کي يې تشريف درلودئ د جنازې لمونځ حضرت محمد رحمه الله ورکړی چي د حضرت علي کرم الله وجهه زوی و اووې فرمايل: نن د دې امت امام رباني رخصت سو. حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما فرمايي: د قرآنکريم د آياتونو د شان نزول په پېژندلو کي عبد الله بن عباس رضي الله عنهما تر ټولو ممتاز و حضرت عمر رضي الله عنه به ده ته د علما ؤ په خاص صف کي ځای ورکاوه دا ټوله د ده د قرباني نتيجه وه که نه نو

---

(١) دارمي

دی چې د خپلې صاحبزادګۍ په ګمان او سېدی (يعني دا چې زه د رسول الله ﷺ د اکا زوی يم) چيرې دې لوی مقام ته رسېدای سوای په خپله د آقای نامدار حضرت رسول اکرم ﷺ ارشاد دئ چې فرمايي: د کوم چا څخه چې علم حاصلوی د هغه په مخ کې عاجزي کوئ په بخاري شريف کې د مجاهد رحمة الله عليه څخه نقل سوی دئ: چې څوک په علم او زده کړه کې شرم يا کبر کوي علم لاسته نه سي را وړلای حضرت علي رضي الله عنه فرمايي: څوک چې ما ته يو حرف را وښيي هغه زما بادار دئ دده خوښه ده چې ما ازادوي که مي غلاموي.

يحيي بن کثير رحمة الله عليه فرمايي: علم په ارامتيا او استراحت سره نه حاصليږي. امام شافعي رحمة الله عليه فرمايي: څوک چې د ميني پر ته او يا په بې پروايي سره علم حاصل کړي دغه کس نه سي کامياب کېدلای څوک که علم په عاجزي او داړتيا په ډول لاسته راوړي کامياب به کېدای سي. يحيي بن مغيره رحمة الله عليه يو لوی محدث دئ، دی مبارک فرمايي: موږ به داستاذ څخه داسي وېرېدو لکه څوک چې د پاچا څخه وېرېږي: امام بخاري رحمة الله عليه دده په اړه وايي: ده مبارک به د محدثينو دومره احترام کاوه چې ما د بل چا دومره احترام نه دئ ليدلی. امام ابويوسف رحمة الله عليه فرمايي: ما د مشرانو څخه اورېدلي دي چې څوک د استاذ احترام نه کوي هغه نه سي کاميابه کېدای. په پورتنی قصه کي د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ديوې خوا داستاذانو احترام او د هغوی په وړاندي عاجزي معلومېږي د بلي خوا دده مبارک د علم سره مينه او شوق معلومېږي د چا څخه چې به يو حديث وو دی به په خبر سو دستي به ورتلی هغه حديث به يې زده کوی که هر څومره تکليف او زحمت پکښې وای. اصلي خبره دا ده چې څو تکليف پر ځان نه يو سي علم خوڅه کوي بلکي يو کوچنی شی هم لاسته نه سي راوړای دا يو مشهور متل دئ چې وايي: (مَن طَلَبَ العُلى سَهَرَ اليَالِي.)

يعني څوک که لوړې مرتبې غواړي نو شپې به رڼوي

متفرقي علمي کارنامې

حارث بن يزيد، ابن شبرمة، قعقاع او مغيره رضي الله عنهم څلور اصحابان وه دوی مبارکانو به دماخستن تر لمانځه وروسته يو علمي بحث شروع کړی د سهار تر اذانه پوري به يو هم نه جلا

کېدئ . لیث بن سعد رضي الله عنه فرمايي : امام زهري رحمه الله به دماخستن دلمانځه څخه وروسته په اوداسه باندي دحديثونو سلسله شروع کړه دسهار تراذانه به يې ورسول .(۱)

(دارمي)دراوردي رحمه الله وايي : امام ابوحنيفة رحمه الله او امام مالک رحمه الله ماوليدل چي دماخستن ترلمانځه وروسته يې په يوه مسئله کي بحث شروع کړی پرسهار سو او هلته يې دسهار لمونځ وکړی هغه هم داسي مسئله وه چي ملامتول نه وه پکښې.(۲)

ابن فرات بغدادي رحمه الله چي کله وفات سو اتلس ۱۸ صندوقه کتابونه ځني پاته سوه چي په دغه کتابو کي يې اکثره په خپل قلم ليکلي وه ستره خبره لاداده چي دمحدثينو په آند دنقل په صحت اوښه والي کي دده ليکل سوی ښه دليل دئ .ابن جوزي رحمه الله يونو موتى محدث دئ دده مبارک پلار دده په درې کلنی کي وفات سو ده مبارک ديتيم والي په حالت وده وکړه . مګر دتکليف ايستلو يې دا حال و چي دجمعې دلمانځه پرته به بل چيري دکور څخه ليري نه تلی يوه ورځ يې پر منبر وويل: ماپه دغه خپلو ګوتو دوه زره (۲۰۰۰) جلده ليکلي دي په دې کي تر دوه نيم سوه (۲۵۰) کتابونو زيات دده خپل وه. څلور برخي ليکل روزانه دده عادت و . ددرس يې دا سي حالت وچي په يو وخت کي دده شاګردان سل زره اټکل سوي دي . اميران ، پاچاهان او وزيران به دده ددرس په مجلس کي حاضره وه.

ابن جوزي رحمه الله فرمايي: سلو زرو ۱۰۰۰۰۰ کسانو زمالاس نيوی کړي دئ اوشل زره زماپه لاس مسلمانان سوي دي .ددې سره چي دشيعه ګانو زور و ده مبارک ډېر تکليفونه پرځان تېر کړي دي.(۳)

ده مبارک دحديثو دليکلو په وخت کي قلمونه تراشل هغه تراش سوی پسپل يا هغه براده يې سره يوځای کول کله چي وفات کېدئ نو وصيت يې وکړی چي په دغه تراشنو (برادې) سره زمادغسل اوبه تودې کړی ده مبارک دومره قلمان استعمال کړي وه چي يوازي تراشني يې دومره زياتي وې چي دده مبارک دمړيني وروسته يې دده دغسل اوبه په تودې کړې يوڅه تراشني لاپاته سوې .

يحيي بن معين رحمه الله يونو موتي استاذ دئ ، دی مبارک وايي : ماپه خپلو لاسونو لس سوه زره ۱۰۰۰۰۰۰ حديثونه ليکلي دي .

---

(۱) دارمي
(۲) مقدمة
(۳) تذکره

ابن جرير طبري رحمه الله يو مشهور مؤرخ دئ ،دی مبارك داصحابانو اوتابعينو په حالاتو ښه خبر دئ تر ځلويښتو كالو پوري يې هره ورځ ځلوېښت پاڼې ليكل عادت وو ده مبارك دوفات وروسته دده شاګردانو حساب وكړی څومره پاڼې چې ده په ژوند كې ليكلې وې دبالغ كيدو څخه تر وفات پوري يې ټولې پاڼې جمعه كړې بيايې دده پرژوند وويشلې نو پر ورځ باندې څوارلس پاڼې راووتې . دده دتاريخ طبري نومي كتاب مشهوره دئ په عمومي ډول تر ګوتو كيدای سي كله چې ده دتصنيف اراده وكړه نو دخلګو څخه يې وپوښتل چې دټول عالم تاريخ ليكل به تاسو خوشحاله كړي ؟ خلګو پوښتنه ځني وكړه چې اندازه به يې څومره وي ؟ ده په جواب كې ورته وويل : چې تقريبا ديرش زره پاڼې به راسي خلګو ورته وويل : ددې كتاب دپوره كېدو مخكې به عمرونه ختم وي يعني موږ به مړه سو بيا به بشپړ سي ده ورته وويل : اناالله ، همتونه ټيټ سوه ددې څخه وروسته يې كتاب رالنډ كړی تقريبا درې زره پاڼې سو په همدغه ډول دده تفسير چې يادونه يې وسوه په عمومي ډول لاسته راتلای سي.

دارقطني رحمه الله دحديثو يو مشهور مؤلف دئ دحديثو دزده كړې لپاره يې بغداد ،بصرې ، كوفې ، واسط ، مصر اوشام ته سفرونه كړي دي يوه ورځ داستاذ په مجلس كې ناست وو استاذ حديث لوستی ده يوشی دكتاب څخه نقل كاوه يوه ملګري يې نيوكه باندې وكړه چې ته بلې خواته متوجه يې ده ورته وويل : زمااو ستاپه توجه كې فرق دئ ته راوښايه چې استاذ تراوسه پوري څومره حديثونه وويل ملګري يې په فكر كې ډوب سو ده ورته وويل : استاذ اتلس ۱۸ حديثونه وويل لومړی داو دوهم داوو په دغه ترتيب يې ټوله حديثونه سره دسنده ورته وويل .

حافظ اثرم رحمه الله يو محدث دئ ، ده مبارك دحديثو په يادولو كې زيات تمرين كاوه يو ځلې يې حج ته تشريف يوړی هلته حرم ته دخراسان څخه دوه لوی دحديثو عالمان راغلي وه او په حرم شريف كې يې په جلا - جلا ډول درس وركاوه وهر يوه ته د زده كونكو يوه لويه ډله ناسته وه دی مبارك د دواړو په منځ كې كښېناستی او د دواړو څخه يې په يوه وخت كې حديثونه وليكل . عبد الله بن مبارك رحمه الله يو مشهور محدث دئ دده مبارك په علم حاصلولو كې زحمتونه زيات مشهوره دي ده مبارك په خپله فرمايلي دي : چې ما د ځلور زرو استادانو څخه حديث زده كړي دي .

علي بن حسن رحمه الله وايي : يوه شپه سخت يخ وو زه او ابن مبارك دماخستن دلمانځه كولو وروسته دمسجد څخه راتلو چې په دروازه كې ديوه حديث په اړه زما او د ده په منځ كې

خبرې شروع سوې ما به څه ويل ده به هم يو څه ويل په همدغه ځاى کې په ولاړې ولاړ وو چې دسهار اذان وسو.

حميدي رحمة الله عليه يو مشهور محدث دئ نوموړي هغه کس دئ چې دبخاري او مسلم حديثونه يې يوځاى کړي دي ټوله شپه به يې ليکل کول دګرمي په وخت کې چې به ډېر تنګ سو نو يوه تالى (پياله) به يې داوبو څخه ډکه کړه په هغه کې به کښېناستى ليکل به يې کول. دټولو خلګو څخه به جلا اوسېدئ او شاعر هم وو چې دده يو شعر په دې ډول دئ:

لِقَآءَ الناسِ لَيسَ يُفِيدُ شَيْئًا سِوَي الهَذَيَان مَن قِيلٍ وَقَالٍ

فَاَقلِل مَن لَقَاءِ الناسِ اَلا لَاَخذِ العِلمَ اَو اِصلاح حَالٍ

ژباړه: دخلګو په ملاقات کې هيڅ ګټه نسته دبې ځايه خبرو پرته نو دخلګو ملاقات لږ کړئ ماسوا ددې څخه چې داستاذ څخه دعلم حاصلولو لپاره خبرې وکړې يا دنفس داصلاح لپاره دشيخ سره ملاقات وکړئ.

امام طبراني رحمة الله عليه يو مشهور محدث دئ ډېر کتابونه يې ليکلي دي يو چا دده دکتابونو ډېروالى وليدئ نو پوښتنه يې ځني وکړه چې څنګه دي ليکلي دي؟ ده مبارک ورته وويل: ديرش کاله مې شپه او ورځ پر بوريا (چټايي تېر کړي دي. ابو العباس شيرازي رحمة الله عليه وايي: ما د طبراني رحمة الله عليه څخه درې سوه زره ۳۰۰۰۰۰ حديثونه ليکلي دي.

امام ابو حنيفة رحمة الله عليه په ناسخ او منسوخ حديثونو کې زياته څېړنه کول کوفه چې په دغه زمانه کې دعلم کور ورته ويل کېده هر څومره محدثين چې پکښې وه ده مبارک دټولو حديثونو جمعه کړي وه کله چې به ددباندې څخه يو محدث راغلى نو ده به شاګردانو ته امر وکړ: چې که دده سره يو داسې حديث وي چې زموږ سره نه وي نو څېړنه يې وکړئ. امام ابو حنيفة رحمة الله عليه چې به کله په يو علمي مجلس کې ديوې مسئلې څېړنه کول په دغه مجلس کې به په حديثو او فقه پوه خلګ په زيات شمېر ناست وه نو کله به پر دغه مسئله يوه مياشت خبرې وسوې وروسته چې به فيصله وسوه نو هغه به دده مذهب وګرځول سو او وه به ليکل سوه

دامام ترمذي رحمة الله عليه دنامه څخه به څوک ناخبره وي (يعني هر سړى يې پېژني) دحديثو زيات يادول دده خصوصي ځانګړتيا وه او دحافظې په توان کې مشهوره و يو وخت دده څخه محدثينو امتحان واخيستى څلوېښت داسې حديثونه يې بيان کړه چې مشهوره نه وه او امام ترمذي رحمة الله عليه دستي بيان کړه. امام ترمذي رحمة الله عليه فرمايي: ما يوه ورځ دمکې مکرمې په لاره کښې داستاذ څخه دوه حديثونه نقل کړه نابېره دهغه استاذ سره مې ملاقات وسو که څه هم هغه حديثونه ما نقل کړي وه خو ومې غوښتل چې داستاذ څخه يې په خپله واورم نو

داستاذ څخه مي دويلو غوښتنه وکړه استاذ حديثونه ويل شروع کړه نابېره داستاذ سترګي زما په لاس کي پر هغه کاغذ ولګېدې چي ما هغه دوه حديثونه پکښي ليکلي وه استاذ چي کاغذ وليدی نو دواړه حديثونه يې وليدل ناراضه سو او ماته يې وويل: ته نه شرمېږي چي حديثونه دي زده دي او درسره دي بيايې په ماهم وايي ماورته وويل: استاذه! داحديثونه ماستا څخه پرلاري واورېدل ته چي هر حديث ووايي زما دستي په ياد وي داستاذ باور نه وسو نو راته وې ويل: ښه ته هغه حديثونه ووايه چي ما ويلي وي، ماټوله حديثونه ورته وويل بيا استاذ راته وويل داحديثونه به ستا دپخوا څخه ياد وه ماورته وويل: استاذه! ته اوس نوي حديثونه ووايه زه به يې دستي درته ووايم استاذ نوي حديثونه وويل ما دستي په ياد ورته وويل يو غلطي مي نه وکړل. دا دپخوانيو محدثينو او علماو زحمتونه وه چي دعلم په لاسته راوړولو اوخورولو کي يې ګالل چي دهغه ټولو شمېرل هم ګران کاردئ.

قرطمة رحمه الله يو محدث دئ چي زيات مشهور نه دئ دده يوشاګرد داؤد رحمه الله وايي: خلګو به دابوحاتم رحمه الله او داسي نورو دحافظې بيان کاوه خو ما چي دقرطمة رحمه الله حافظه ليدلې ده بل مي هيڅ چيري دومره حافظه نه ده ليدلې زه يوه ورځ قرطمة رحمه الله ته ورغلم ده راته وويل: په دغه کتابو کي چي دي هريو زړه غواړي راوايې خله زه يې په ياد درته وايم ما کتاب الاشربة راپورته کړی ده مبارک ددغه کتاب هر باب دسر څخه تر پايه پوري ټوله ووايه په دغه ترتيب يې ټوله کتاب په ياد تېر کړی.

ابوذرعة رحمه الله وايي: دامام احمد بن حنبل رحمه الله لس سوه زره ۱۰۰۰۰۰۰ حديثونه ياد وه.

اسحاق بن راهويه رحمه الله وايي: ما سل زره حديثونه جمعه کړي دي او ددير شو زرو دېر زما په ياد دي. خفاف رحمه الله وايي: اسحاق رحمه الله موږ ته يو ولس زره حديثونه په ياد وليکل او بيا يې هغه ټوله په ليکل سوي ترتيب په ياد وويل يو حرف يې نه پکښي کم کړی دی او نه يې پکښي زيات کړی دی.

ابوسعد اصبهاني بغدادي رحمه الله دابو نصر بغدادي رحمه الله دحديثو دزدکړي لپاره دشپاړسو کالو په عمر بغداد ته روان سو پر لاري يې دده دوفات خبر واورېدئ بې اختياره يې وژړل او په چغو يې وويل: چي ددې استاذ دحديثو سند به بيا دچا څخه ترلاسه کوم. دا هغه وخت کېدای سي چي ديوچا ديو شی سره مينه وي. دده مبارک مسلم شريف ټوله په ياد و او په ياد به يې طالبانو ته ليکی. يو ولس حجه يې کړي وه کله چي به خوراک ته کښېناستی نو سترګي به يې داوښکو څخه ډکي سوې. ابوعمرضرير رحمه الله چي پيداسو ړوند و خو دحديثو په حافظانو کي شمېرل کېږي. په علم فقه، تاريخ او علم ميراث کي يې پوره مهارت درلودئ.

دابو الحسين اصبهاني رحمه الله بخاري او مسلم دواړه ياد وه بخاري خوېې داسې ياد و چې چابه دکوم حديث سند ووايه ده دستي دهغه حديث متن ورته وايه. شيخ تقي الدين بعلبكي رحمه الله په څلورو مياشتو کې مسلم ياد کړی او دجمع بين الصحيحين حافظ و، دکرامت څښتن و ، بزرگ و او دقرآنکريم حافظ و. سورة الانعام يې په يوه ورځ په ياد کړی.

ابن السني رحمه الله دامام نسائي رحمه الله مشهور شاګرد دئ دژوند تر پايه پورې په حديثو کې مشغول و. زوی يې وايي: زما پلار ليکل کول آخرېې قلم او مشوانۍ کښېښوده لاسونه يې په دعا پورته کړه په دغه حالت کې مړسو. علامه ساجي رحمه الله په کوچنيوالي کې دفقه علم لاسته راوړی. بيا په حديثو مشغول و. په هرات کې لس کاله و اوسېدئ د دغه وخت په اوږدو کې يې شپږ واره ترمذي په خپل لاس وليکی دابن منده رحمه الله څخه يې غرائب شعبه ، زده کاوه ابن منده رحمه الله په دغه حالت کې دماخستن ترلمانځه وروسته وفات سو . داستاذ علمي مينه دشاګرد ترعلمي ميني ددرننبت وړده ځکه دژوندتر آخري پورې يې درس کاوه .

دابو عمر خفاف رحمه الله سل زره حديثونه په ژبه ياد و. د امام بخاري استاذ عاصم بن علي رحمه الله چې کله بغداد ته ورسېدئ نو دشاګردانو دومره باندې ګڼه سوه چې زيات وخت به د شاګردانو شمېر سلوزرو ته ورسېدئ يوه ورځ د شاګردانو اندازه معلومه کړل سوه نو يوسل اوشل زره شاګردان وه. ځني و ختونه به د حديثو ځني الفاظ څوواره تکرارېدل. دده يو شاګرد وايي چې يو وار (حدثنا ابو الليث) لفظ څوارلس واره تکرار سو ښکاره خبره ده چې څوک يوسل اوپنځويشت زرو ته اواز رسوي نو خامخا به ځني الفاظ تکرارېږي.

ابو مسلم بصري رحمه الله چې کله بغداد ته ورسېدئ نو په يولوی ميدان کې ددرس لپاره کښېناستی اوو نفرو به په ولاړه و نورو ته دليکلو لپاره ويل کول لکه د اختر تکبيرونه چې ويل کيږي ددرس څخه وروسته مشوانۍ وشمېرل سوې څلويښت زره وې او هغه کسان چې ليکل يې نه کول بلکې يوازې يې اوريدل کول دهغو شمېرترليکونکو زيات وو.

د فريابي رحمه الله په مجلس کې په دغه ډول درې سوه ليکوالان ولاړوه د شاګردانو د شمېر ډېروالي ددغه ليکوالانو څخه معلومېږي چې څومره به زيات وه چې يوازې فتحه ورکونکي درې سوه دي . په دغسې سترياو تېرولو سره ددغه پاک دين علم ترنن پورې ژوندی دئ .

امام بخاري وايي: د شپږ وسوو زرو حديثونو څخه مې دبخاري د حديثونو انتخاب وکړی چې اوه زره دوه سوه پنځه اويا (۷۲۷۵) حديثونه دي او ده مبارک چې به هر حديث ليکی نو دوه رکعته نفل به يې کول بيا به يې حديث ليکی کله چې بغداد ته ورسېدئ نو

محدثینو ده څخه امتحان واخیستی په دې ډول چې لس کسان وګمارل سو دغه کسانو ته یې لس، لس حدیثونه انتخاب کړل بیایې الفاظ وربدل کړل بیا یې دده څخه پوښتنه وکړه په غلط ډول به یې حدیث ورته ووایه بیایې ورته وویل زه نه یم خبر چې حدیث څه ډول دئ په دغه ډول لسو سره پوښتنه ځني وکړه ده مبارک په ترتیب سره لومړی و لومړي پوښتوونکي ته وویل: تادا سوال وکړی حدیث دي په دې ډول ووایه دا غلط دئ اصل یې داسي دئ. بیایې دوهم ته ووایه بیا یې دریم ته ووایه په دغه ترتیب یې لسو کسانو ته جواب ووایه او هر سړي ته به یې هغه الفاظ هم ویل چې هغه به اول غلط ویلي وه په دغه ډول یې سل حدیثونه دوی ته وویل.

امام مسلم رحمة الله علیه د څوارلسو کالو په عمر د حدیثو زده کړه شروع کړه او د ژوند تر پایه پوري په دغه حدیثو مشغول و. دی مبارک فرمایي: ما د مسلم شریف دپاره د دروسوو زرو حدیثونو څخه حدیثونه انتخاب کړه او مسلم شریف مي ځني ولیکی چې دوولس زره حدیثه پکښي دي.

امام داود رحمة الله علیه فرمایي: ما پنځه سوه زره حدیثونه اوریدلي دي په دغه ټولو کي مي څلور زره اته سوه حدیثونه انتخاب کړه او سنن ابي داود کتاب مي ځني جوړ کړی.

یوسف مزي رحمة الله علیه یو مشهور محدث دئ، د اسماء رجال (د حدیث د نقل کونکو د نومانو) امام دئ اول یې په خپل ښار کې فقه او حدیث زده کړل بیا یې مکې مکرمې، مدینې منورې، حلب، حمات، بعلبک او داسي نورو ځایونو ته سفرونه وکړل. ډېر کتابونه یې په خپل قلم سره لیکلي دي. تهذیب الکمال یې په دوه سوه ټوکه کې لیکلي دئ او کتاب الاطراف یې تر اتیاوو جلدو زیات دئ. دده مبارک عادت دا وچې زیات وخت به چوپ و د خلګو سره یې خبري کمي کولې زیات وخت به په کتاب مشغول و، د حسد کونکو له وجهي دښمني ورته پیښه سوه خو ده د هیچا څخه بدله نه وا خیسته. ددې مبارکانو حالات او قصې بیخي ډېري دي د ټولو لیکل لوی، لوی کتابونه هم نسي کولای خو دلته مي دوې درې قصې د نمونې په ډول ددې لپاره راوړي چې دا د حدیثو علم چې دیارلس سوه کاله وروسته داسي پیاوړی دئ، ددې لپاره څومره تکلیفونه ایستل سوي دي او په څومره قربانۍ سره ساتل سوی دي او کوم خلګ چې د علم لاسته راوړلو دعوې کوي او ځانته طالب العلمان وایي هغه ددې علم لپاره څومره خواري تېره وي آیا په هغه ډول دي که یا؟ او که صرف وخت تېرول دي؟ او که چېري موږ په آرامۍ، استراحت، عیش او عشرت ژوند غواړو او د دنیا

په کارنو کې مشغول اوسو او دا مو فکر وي چې د نبيﷺ د دين او حديثو حفاظت کوونکي يو نو دا د (این خیال است ومحال است وجنون) پرته بل شی نه دئ.

(يعني دا داسې يو فکر دئ چې شونی نه دئ او ليونتوب دئ)(۱)

نــهم بــاب

دنبيﷺ فرمانبرداري، حکم منل او دا کتل چې د نبيﷺ منشاء مبارکه څه ده؟

که څه هم د اصحابانو هر کار دنبيﷺ په تابعداري کې و او دتېرو قصو څخه هم دا خبره معلومېږي خو دلته يو څو قصې بيانوو چې موږ د خپلو حالاتو سره په دې باب سره په خصوصي ډول مقابله وکړو او وګورو چې موږ د اللهﷻ او دهغه د رسولﷺ فرمانبرداري تر کومي اندازې پوري کړې ده، کوم چې زموږ خلګ په دې هيله دي چې هغه ترقي او نصرت به موږ ته راسي لکه دوی مبارکانو ته چې راغلی و که زموږ خلګ ربښتيا د دې هيله لري نو په هغه ډول دي ژوند اختيار کړي لکه دوی چې وکړی او دنياته يې وښودئ.

۱- دحضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه پټو سوځل

حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه فرمايي: چې موږ يو وار د نبيﷺ سره په سفر کې وو زه دنبيﷺ حضور ته ورغلم پر ما باندې يو پټو و چې په کسم (ژړ ډوله رنګ) باندې لږ رنګ سوی و نبيﷺ چې پټو وليدئ نو ماته يې وويل: دا دې څه شی پر ځان اچولی دئ؟ ما دنبيﷺ د دې پوښتني څخه دده مبارک د ناخوښی اثرات معلوم کړل دستي کورته ولاړم په کور کې ښځو په نغري کې اور بل کړی و ما پټو په اور کې واچوی. دوهمه ورځ چې

---

(۱) نوموړی بيت په پوره ډول داسې دی. هم خدا خواهی هم دنیا خواهی هم بنون. این خیال است ومحال است وجنون.

ژباړه: هم خدای غواړی هم دنيا غواړي هم زامن غوړي دا يوازي خيال دی امکان نه لري اوليونتوب دی په پورته موضوع کې شيخ وفرمايل: چي څوک داسي په عيش اوعشرت کې علم لاسته راوړل غواړي دا داسي دی لکه څوک چې خدای، دنيا اوزامن ټوله غواړي لکه هغه چې ليونتوب دی په داسي ډول علم لاسته راوړل هم ليونتوب دی. ژباړن

راغلم نبي ﷺ راته وویل : هغه پېښو دي څه کړئ ما ورته قصه وکړه ده مبارک راته وویل : ولي دي وښځو ته نه ورکاوئ د ښځو لپاره خويې پروانه کول . (۱)

فايـــده : که څه هم دپېښو سوځولو اړتيا خونه وه خو د چا په زړه کي چې د چا دناخوښۍ او ناراضۍ ګذارسوی وي هغه ددې هم نه وي جوګه چې لږ فکر وکړي چې آيا ددې پېښو لپاره يوه بله لاره هم سته که يوازي له منځه وړل دي . البته زما په دول نالايقه چاته به نو خدای خبر څومره فکرونه ورلوېدلي وای چې دنبي ﷺ ناراضي څومره اندازه ده او پوښتنه به مي کړي وای چې بله لاره هم لري داجازې لپاره که يا ؟ نبي ﷺ خو پوښتنه کړې ده منعه خويې نه ده کړې او داسي نور .

۲- د يو انصاري خپله ودانۍ نړول

نبي ﷺ يوه ورځ د کور دباندي تشريف وړی و چې وې ليدل يو ګنبده لوړه جوړه سوې ده د ملګرو څخه يې پوښتنه وکړه چې دا څه شی دئ ؟ ملګرو ورته وويل : دا فلاني سړي ګنبده جوړه کړې ده نبي ﷺ چوپ سو . يو بل وخت هغه انصاري د نبي ﷺ و حضور ته ورغلی نبي ﷺ ته يې سلام ووايه نبي ﷺ مخ څني واړوی انصاري فکر وکړی چې ښايي دنبي ﷺ نه وي فکر سوی بيا يې سلام ورته ووايه نبي ﷺ بيا هم جواب نه ورته ووايه انصاري ددې زغم نه سوای کولای دستي يې د ناستو اصحابانو ﷺ څخه پوښتنه وکړه او څېړنه يې وکړه چې ولي زه د نبي ﷺ په نظر نه ورځم ؟ اصحابانو ﷺ ورته وويل : نن نبي ﷺ دباندي تللی و ستا ګنبده يې وليده بيا يې پوښتنه وکړه چې دا دچا ده ؟ انصاري چې دا واورېدل دستي ولاړی هغه ګنبده يې ونړول داسي يې د مځکي سره سمه کړه چې هيڅ نښان يې نسو پاته او بيا يې داهم ونه کړه چې راغلی وای او نبي ﷺ ته يې ويلي وای چې ستا د ناخوښۍ له وجي مي ګنبده ونړول ، نابيره نبي ﷺ په خپله هلته تېرېدئ نو وې ليدل چي ګنبده نسته پوښتنه يې وکړه ، اصحابانو ﷺ ورته وويل : څو ورځي مخکي چې تاسو دده څخه مخ اړولی و ده زموږ څخه پوښتنه وکړه ، موږ ورته وويل : نبي ﷺ ستا ګنبده ليدلې ده دی ولاړی هغه ګنبده يې بيخي

---

(۱) ابوداود

ونړول. نبيﷺ وفرمايل هره آبادي د سړي لپاره عذاب دئ مګر هغه آبادي نه چې د سختي اړتيا او مجبوری لپاره وي.(۱)

فـايده: دا دپوره ميني خبري دي ،دوی مبارکانو داهم نه سوای زغملای چې د رسول اللهﷺ مخ مبارک غمجن ووينې تر خپل ځان يې رسول اللهﷺ ګران بلی ،دغه مبارک صحابي خپله ګنبده ونړوله بيايې داهم نه کول چې د نړېدو وروسته راغلی وای او رسول اللهﷺ ته يې ويلي وای چې ستا د خوشحالی په موخه مې ګنبده ونړول بلکې نبيﷺ چې کله په پېښيدونکې ډول هلته ولاړی په خپله يې وليدل. نبيﷺ ته پر آبادی باندې پيسې مصرفول په خصوصي ډول ناخوښه کار و په ډيرو احاديثو کې دد ې بيان راغلی دئ. په خپله د نبيﷺ د بيبيانو خونې دخرما د ښاخونو کوډلې وې او د دروازو پردې يې د ګونيو څخه جوړې وې دد ې لپاره چې د پردی سړی نظر دننه ولاړ نسي. يو ځل نبيﷺ يو ځای په سفر تللی وو ام سلميؓ ته يو څه مال په لاس ورغلی نو دې مبارکې خپله خونه د خرما وو د لښتو پر ځای په اومو خښتو جوړه کړه نبيﷺ چې کله وليده نو دې ته يې وويل: دادې څه کړي دي؟ دې مبارکې ورته وويل: په هغه خونه کې د بې پردګۍ شک و، نبيﷺ وفرمايل: بدترين شی پر تعمير باندې پيسې خرڅول دي. عبدالله بن عمرؓ فرمايي: يوه ورځ ما او زما مور د خپل کور ديوال سماوی چې ډېر خراب سوی و نبيﷺ چې وليدئ نو راته وې فرمايل: مرګ دد ې ديوال ترنړېدو ډېر نژدې دئ.(۲)

۳- د اصحابانو سَرَه پټوان راکښته کول

حضرت رافعؓ فرمايي: يوه ورځ موږ دنبيﷺ سره په سفر کې و او زموږ په اوښانو کې پټوان پراته وه چې په دغه پټوانو کې سور رنګه تارونه وو نبيﷺ وفرمايل: زه پوهيږم چې دغه سور والی پر تاسو غالبه کيږي نبيﷺ چې دا ارشاد وفرمايه موږ په داسې ويره کې وغورزېدو چې اوښان يوې خوا او بلې خواته وتښتېدل او موږ دستې داوښانو څخه پټوان راکښته کړه.(۳)

---

(۱) ابوداؤد
(۲) ابوداؤد
(۳) ابوداؤد

فــایده : اصحابانو مبارکانو ﷺ ته په ژوند کې داسې پېښنو اهمیت نه درلودئ البته زموږ د ژوند په لحاظ سره و داسې پېښنو ته حیرانتیا کېږي ځکه د اصحابو کرامو ﷺ عام ژوند هم داسې و ، د حدیبې صلح چې په لومړي باب د ریمه قصه کې یې بیان وسو په دغه صلح کې عروة بن مسعود د کافرانو لخوا و مسلمانانو ته قاصد راغلی و ده د مسلمانانو ژوند په غور سره تر نظر تېر کړی کله چې مکې ته ولاړی و کافرانو ته یې وویل : زه و لویو. لویو پاچاهانو ته د قاصد په توګه تللی یم لکه د فارس ،روم او حبشې پاچاهانو سره چې مې لیدلي دي ماد هیڅ پاچا په دربار کې د درباریانو دومره درنښت نه دئ لیدلی چې خپل پاچا ته یې ورکوي لکه د محمد ﷺ ملګري چې محمد ﷺ ته تعظیم کوي .هیڅکله دده بلغم و مځکې ته نه پرېږدي بلکې هر یوه ته چې په لاس ورسي دستي یې پر مخ او بدن مږي ، کله چې دی ﷺ د یو شی امر کوي نو ټول ملګري یې تلوار کوي چې هغه کار وکړي . کله چې هغه اودس کوي نو داوداسه د اوبو اخیستلو لپاره ټوله تلوار کوي چې پر بدن یې ومږي د تلوار بڼه یې داسې وي چې ګویا دوی به په خپلو منځو کې جګړه کوي .او کله چې هغه خبري کوي نو ټوله چوپ سي هیڅوک دده د درنښت له وجهي دده لوري ته پورته نه ګوري.(۱)

۴- دحضرت وائل ﷺ د ذباب په لفظ سره وېښته پرېکول

وائل بن حجر ﷺ فرمایي : زه یوه ورځ د رسول الله ﷺ حضور ته ورغلم زماد سر وېښتان ډېر غټ سوي وه کله چې زه ورته مخامخ سوم نو نبي ﷺ راته وویل : ذباب،ذباب . مافکر وکړی چې دایې لکه چې زماد سر دوېښتانو په اړه وویل نو زه دستي ولاړم د سر وېښتان مي وکښل کله چې په دوهمه ورځ درسول الله ﷺ حضور ته ورغلم رسول الله ﷺ راته وفرمایل : ماتا ته نه وه ویلي مګر ښه دي وکړه (چې دسر وېښتان دي لرې کړه).(۲)

فــایده : ذباب دسپېره په معنې دئ او دبېکاره په معنې هم دئ دادنبي ﷺ په اشارو باندي د اصحابو دقرباني خبره وه چې دمنشاء پېژندلو وروسته که هغه غلط پوه سوی وي بیا هم په عمل کولو کې به یې ځنډ نه راوستی . دلته نبي ﷺ ورته وویل :چې تاته مي نه وو ویلي خو ده دغه خبره دخپل ځان په اړه بلل په دې وجه څه شو نتیا وه چې ځنډ راغلی وای ، د اسلام

---

(۱) بخاري شریف
(۲) ابوداؤد

په پیل کې په لمانځه کې خبرې کول روا وې بیا وروسته منعه سوې حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه یوه ورځ د رسول الله ﷺ حضور ته ورغلی رسول الله ﷺ په لمانځه کولو اخته وه ده مبارک دعادت سره سم سلام ورته وو ایه څرنګه چې په لمانځه کې خبرې منعه سوې وې نو نبي ﷺ جواب ورنکړی. دی مبارک فرمایي: د نبي ﷺ په جواب نه راکولو سره نوې اوزړې خبرې را پر زړه سوې په بیلو فکرونو کې ډوب سوم کله به مې فکر کاوه چې پر فلانۍ خبره به ناراضه سوی وي کله به مې فکر کاوه چې فلانۍ خبره پېښه سوې ده پرهغه به ناراضه سوی وي کله چې نبي ﷺ سلام وګرزاوه نو راته وې ویل چې په لمانځه کې خبرې کول منعه سوې دي نو په دې وجه مې د سلام جواب در نه کړی د نبي ﷺ د دې خبرې په کولو سره په ما کې ساه وچلېده.

۵ - د حضرت سهیل بن حنظلیة رضي الله عنه عادت او د خریم رضي الله عنه ویښته پرېکول

په دمشق کې سهیل بن حنظلیة رضي الله عنه نومې صحابي اوسېدئ یوازې ژوند یې تېروی ډېر کم به یې دخلکو سره ګډون کاوه هیچیرې به نه تلی ټوله ورځ به په مسجد کې په لمانځه یا تسبوح مشغول و او یا به یې وظیفه کول و مسجد ته د تللو پروخت د حضرت ابو درداء رضي الله عنه سره مخ سو چې مشهور صحابي دئ ابودرداء رضي الله عنه ورته وویل: په تلو کې د خیر یوڅه خبري کوه زموږ لپاره فایده ده تاته څه تاوان نسته نو سهیل رضي الله عنه به د نبي ﷺ د زمانې څه واقعاتي او حدیثونه ورته وویل، یوه ورځ سهیل رضي الله عنه پر لاري روان و ابودرداء رضي الله عنه د عادت مطابق خواست ورته وکړی چې یوه د خیر خبره راته وکړه بیا ولاړ سه ده مبارک ورته وویل: یوه ورځ نبي ﷺ وفرمایل: چې خریم اسدي رضي الله عنه ښه سړی دئ که چیرې دا دوې خبرې نه وای پکښې یو دا چې د سر ویښتان یې لوی دي دوهم دا چې لنګ تر بجلکو کښته کوي کله چې خریم ته د نبي ﷺ دا ارشاد ورسېدئ نو دستي یې چاړه راواخیسته د سر ویښتان یې تر غوږو کښته پرېکړل او لنګ یې تر نیمي پنډۍ پوري پورته تړل شروع کړل. (۱)

فایــده: په ځینو روایتو کې راغلي دي چې نبي ﷺ خپله و خریم ته ارشاد وکړی او خریم رضي الله عنه قسم وکړی چې دادواړه به د اوس څخه نه وي په هرصورت په دواړو روایتو کې

---

(۱) ابوداؤد

شک نسته، کېدلای سي چي وده ته یې خپله ارشاد فرمایلي وي او دده په نه موجودیت کي دي یې هم ارشاد فرمایلي وي چي اورېدونکی تللی وي او هغه ته یې خبر رسولیوي.

٦ – د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما د خپل زوی سره خبري نه کول

حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما یو ځلي وویل: نبي ﷺ فرمایلي دي چي ښځو ته و مسجد ته د تللو اجازه ورکوئ دابن عمر رضي الله عنهما یو زوی وویل: چي موږ اجازه نسو ورکولای ځکه دوی وموږ ته بهانه جوړوي او دآزادۍ او فساد لاره خلاصوي. حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ډېر ناراضه سو او زوی ته یې بد او رد وویل او ورته وې ویل چي زه د نبي ﷺ ارشاد د ربه وایم ته وایې چي اجازه نسو ورکولای ددې څخه وروسته یې د تل لپاره دخپل زوی سره خبري پرېښودې.(١)

فایده: ددغه مبارک دزوی د اجازې نه ورکول له دې وجهې څخه و چي ښځي فساد ته بهانه جوړوي (دخپلې زمانې دښځو حال یې لیدلی و) په همدې وجه حضرت عائشة رضي الله عنها په خپله فرمایي: که چېري نبي ﷺ د اوسنیو ښځو حالت لیدلی وای نو ښځو ته به یې و مسجد ته د تللو اجازه نه وای ورکړې او حال دا چي د عائشې رضي الله عنها زمانه د نبي ﷺ څخه لیري نه وه خو ابن عمرو رضي الله عنهما دا نسوای زغملای چي دی دي د نبي ﷺ ارشاد ووایي او څوک دي یو څه شک پکښي پیدا کړي یوازي پر دې خبره چي هغه د نبي ﷺ د ارشاد څخه انکار وکړي ټول عمر یې دخپل زوی سره خبري نه وکړي. مبارکو اصحابانو رضي الله عنهم ته په دې کې ډېر تکلیفونه راغلل د یوې خوا د نبي ﷺ د ارشاد اهمیت و چي دوی خپل ځان بالـه او د ښځو اجازه پکښي امر سوې وه او دبلې خوا د فتنو او فساد بیره وه نو دوی مبارکانو ته هم د ښځو اجازه مشکل کار سو او بندول یې هم مشکل کار سو. حضرت عاتکة رضي الله عنها چي څو واري یې نکاح سوې وه او د حضرت عمر رضي الله عنه سره یې هم نکاح سوې وه دا به مسجد ته تلل د حضرت عمر رضي الله عنه پر طبیعت ښه نه لګېده یو چا ورته وویل چي ته مسجد ته ځې د حضرت عمر رضي الله عنه نه خوښېږي دې ورته وویل چي دده نه خوښېږي نو منعه دي وکړي. د حضرت عمر رضي الله عنه تر وفات وروسته دې د حضرت زبیر رضي الله عنه سره نکاح وکړه د حضرت زبیر رضي الله عنه نه خوښېده چي دا مسجد ته ځي خو ددې دلاورې یې نسوای کولای چي منع دي یې کړي (ځکه د رسول الله ﷺ د اجازې ارشاد و)

---

(١) مسلم، ابو داؤد

يو وار زبير رضي الله عنه د شپې د ماخستن دلمانځه پروخت پرلارې ورته کښېناستې کله چې داتېره سوه نو وې ځوروله ده ته خو جائزه وه ځکه مېږه يې و دې د تيارې له امله ونه پېژندی چې دا څوک دئ ددې څخه وروسته دې ومسجد ته تلل پرېښودل، حضرت زبير رضي الله عنه پوښتنه ځنې وکړه چې مسجد ته تلل دې ولې پرېښودل ؟ دې ورته وويل : اوس هغه زمانه نه سوه پاته کوم چې درسول الله ﷺ زمانه وه .

۷- دحضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه پوښتنه چې دلمانځه قصر په قرآن کې نسته

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه چا پوښتنه وکړه چې د کورني سرې د لمانځه بيان خو په قرآن کې سته د ويرې د لمانځه بيان سته او د مسافر دلمانځه بيان په قرآن کې نسته ؟ ابن عمر رضي الله عنهما و فرمايل : واوره ! الله جل جلاله نبي ﷺ جوړ کړی بيا يې راولېږی موږ نه پوهېدو هيڅ مونه پېژندل اوس نو موږ چې هغه مبارک په څه ډول په کولو ليدلی دئ هم غسې به کوو .(۱)

فايــــده : مقصد دادئ چې د هري مسئلې وضاحت په قرآن کريم کې لازمي نه دئ بلکې د عمل لپاره د نبي ﷺ څخه تائيدول بنه کوئ. پخپله نبي ﷺ فرمايلي دي : ماته قرآنکريم راکړل سوی دئ او ددې برابر نور حکمونه راکړل سوي دي ډېر ژر هغه زمانه راتلونکې ده چې د مړې ګېډې خلګ به پر خپلو ګديانو ناست وي او وايي به چې بس قرآنکريم ټينګ ونيسئ کوم احکام چې په قرآن کې دي په هغه عمل وکړئ.(۲)

۸- دحضرت ابن مغفل رضي الله عنه د خذف په وجه خبري پرېښودل

حضرت ابن مغفل رضي الله عنه يوه ورځ يوه ځوان وراره وليدئ چې ډبرې يې غورځولې لوبې يې په کولې نو ده ورته وويل : اې وراره ! دا کار مکوه ځکه د نبي ﷺ ارشاد دی : چې دا کار نه ښکار دئ او نه دښمن ته څه تاوان په رسيږي نابېره به پر يو چا ومښلي د هغه به يا سترګه وچوي او يا به يې غاښ مات سي . وراره چې يې کم عمره و دا کار يې نه پرېښودی بلکې چې اکا به يې وليدي نو بيا به يې ډبرې ويشتل شروع کړه اکا يې ورته وويل : زه د نبي ﷺ

---

(۱) شفاء
(۲) ابوداؤد

ارشاد تاته وایم ته دغه کار نه پرېږدې په الله ﷻ دې مې قسم وي چې بیا به هیڅکله ستا سره خبرې نه وکړم په یوه بله قصه کې راغلي دي چې ده ورته وویل: په الله ﷻ قسم کوم چې زه به ستا په جنازه کې ګډون نه کوم او نه به ستا د ناروغۍ پوښتنې ته درځم.(۱)

فایـــده: خذف دې ته وایي چې پر ښه ګوته کوچنۍ ډبره کښېږدي بیا یې غورځوي په کوچنیانو کې عموماً د دا ډول لوبو مرض وي دا داسې ډبرې غورځول دي چې ښکار نه پرې کېږي که نابېره د چا پر سترګه ومښلي نو هغه به زخمي کړي حضرت عبدالله بن مغفل ﷺ دا نسوای زغملای چې د رسول الله ﷺ د ارشاد وروسته دې هغه کوچنی بیا هم دغه کار کوي. موږ هره ورځ د نبي ﷺ څومره ارشادات اورو او بیا د هغه څومره اهتمام کوو هر سړی خپله د خپل ځان په اړه پرېکړه کولای سي .(جالبه خو لا داده چې موږ خپل اولادونه دهغه کارونو څخه نه منعه کوو چې رسول الله ﷺ یې منعه کړې ده بلکې موږ خپل ماشومان په داسې کارونو امر کوو چې درسول الله ﷺ مخالفت پکښې وي دمثال په ډول ښکنځل په کوو او داسې نور دضرر رسولو کارونه په کوو او هم هغه توکي ورته په خپل لاس برابروو چې نبوي منعه پرې راغلې ده لکه ډبرو غورځولو ځیني ربړي الات، پلاستکي توپکان اوداسې نور.)

۹- د حضرت حکیم بن حزام ﷺ د سوال نه کولو ژمنه

حضرت حکیم بن حزام ﷺ یوه ورځ د نبي ﷺ و حضور ته ورغلی او یو شی یې ځني وغوښتی نبي ﷺ ورکړی بیا یې په بله موقع کښې یو څه ځني وغوښتل نبي ﷺ بیا ورکړه دریم واري یې بیا یو څه ځني وغوښته نبي ﷺ ورکړه او ورته وې وفرمایل: اې حکیمه! مال داسي دئ لکه شین باغ خو قاعده یې داده چې که چېرې د زړه په شتمنۍ سره راسي نو په دې مال کې برکت دئ او که په طمعه او دوکې سره لاسته راسي نو بیا برکت نسته پکښې بیا داسې کیږي (لکه د غوایي د لوږې ناروغي) چې هر وخت خوراک کوي خو نه مړیږي. حضرت ابن حزم ﷺ وویل: اې د الله رسوله! ستا څخه به وروسته زه هیڅوک نه تنګوم . وروسته بیا د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ په خلافت کې ابوبکر ﷺ و ابن حزام ﷺ ته د بیت المال څخه د یوشي د ورکړې اراده وکړه خو ده انکار وکړی وروسته بیا حضرت

---

(۱) ابن ماجه ، دارمي

عمر رضي الله عنه په خپل خلافت کې د یو شي د ورکړې اراده وکړه او ټینګار یې وکړ خو ده انکار وکړ.(۱)

فایـده: همدا وجه ده چې نن سبا زموږ په مالو کې برکت نشته چې په چل او طمعه سره لاسته راغلي دي.

۱۰- د حضرت حذیفة رضي الله عنه د جاسوسی (مخبری) لپاره تلل

حضرت حذیفة رضي الله عنه فرمایي: چې د خندق په غزا کې د مکې کافران زموږ طرفته وه او د دوی سره د کافرانو نوري ډیرې ډلې وې چې پر موږ باندې راختلي وې او د حملې لپاره تیارې وې او دلته په مدینه منوره کې د بني قریظو یهودیان وه چې هر وخت د دوی څخه دا وېره وه چې دوی مدینه منوره خالي ووینې او زموږ اهل او عیال بیخي را ختم کړي موږ د مدینې دباندې د جنګ په سلسله کې پراته وو منافقانو به د کور د یوازیوالي او خالي والي په بهانه د نبي ﷺ څخه اجازه غوښته او بېرته به کورو ته راتلل نبي ﷺ به هر اجازه غوښتونکي ته اجازه ورکول په دغه بهیر کې یوه شپه دومره سخته سیلۍ (باد، دوړې) راغلې چې نه ددې څخه مخکې راغلي وې او نه وروسته او تیاره دومره زیاته وه چې د یو سړي لیدل خو څه کوې خپل لاس نه لیدل کېده، باد دومره سخت و چې بوږهاری یې د برق په څېر و منافقان خپلو کورو ته بېرته تلل زموږ درې سوه کسیزه ډله په دغه ځای کې وه نبي ﷺ د هر یوه پوښتنه کوله او دهري خوا څېړنه یې کول په دغه لړ کې نبي ﷺ زما خواته تېرېدئ زما سره نه د دښمن څخه د حفاظت وسله وه او نه د یخ د مخنیوي لپاره څه جامه وه یو کوچنی پټو راسره و چې ما اغوستی و پر پوندو باندې پر مځکه پوري مښتي ناست وم نبي ﷺ پوښتنه وکړه چې څوک یې؟ ما ورته وویل: حذیفة یم، زه د یخ له امله ولاړېدای نسم او د شرم له وجې په مځکه پوري پیوست سوم نبي ﷺ راته وویل: ولاړ سه و درېږه د دښمنانو ټولګیو ته ولاړ سه او دهغوی حال راوړه چې څه کېږي؟ زه په دغه وخت کې د بیري او یخنۍ له وجهي تر ټولو په بد حالت کې وم خو د رسول الله ﷺ د امر منلو لپاره ولاړ سوم دستي روان سوم کله چې زه روان سوم نو نبي ﷺ داسي دعا وکړه:

اللهم احفظه من يديه و من خلفه و عن يمينه وعن شماله ومن فوقه ومن تحته.

---

(۱) بخاري

ژباړه: اې الله! دده ساتنه دمخ دلورې او د شا د لورې څخه وکړې د راسته او چپه لورې څخه يې (ساتنه وکړې) د لوړې او لاندې خوا څخه يې (ساتنه وکړې). خذيفه ﷺ وايي نبي ﷺ چې دا دعا وکړه زما څخه بيره او يخني بيخي ولاړل او پر هر قدم ماته معلومېده چې ګويا زه په ګرمۍ کې را روان يم او زما د روانېدو په وخت کې نبي ﷺ دا هم راته وويل: چې په پټه خوله ولاړ سه هيڅ حرکت مه کوه محض وګوره چې څه کيږي، زه چې هلته ورسېدم نو ومې ليدل چې اور بليږي خلک ځانونه ورته تودوي يو سړی مې وليدی چې پر اور لاس تودوي بيايې پر تشي مږي هري خواته نارې دي چې بېرته ولاړ سئ (يعني درځئ کوروته) هر سړی د خپل قوم وخلکو ته د بېرته تلو نارې وهي د دوی پر خيمو باندې د ځلورو طرفو څخه با د ډبري اوروي، خيمې يې شکيږي، آسونه او نور حيوانات يې هلاکيږي . ابو سفيان چې د ټولو قومونو لکه سردار داسې جوړ سوی و پر اور يې ځان تودا وی په زړه کې مې راغله چې له منځه يې يوسم دستې مې د ترکش څخه غشي راوکښی خو د نبي ﷺ ارشاد را په ياد سو چې حرکت ونه کړې وګوره راسه! بېرته مې غشي وترکش ته واچوی دوی ته يو څه شک پيدا سو اووې ويل: په تاسو کې يو څوک جاسوس سته هر يو دې خپل ملګري تر لاس ونيسي ما هم ژر يو سړي تر لاس ونيوی او پوښتنه مې ځني وکړه چې ته څوک يې؟ هغه راته وويل: سبحان الله ته ما نه پېژنې زه فلانکی يم زه دهغه ځای څخه بېرته را روان سوم کله چې نيمې لارې ته راورسېدم تقريباً شل سواره دشاله خوا راپسې راغله چې لنګوټې يې تړلې وې او راته وې ويل: چې ته خپل آقا ته ووايه چې الله ﷻ د دښمنانو چاره وکړه ته بې غمه اوسه زه چې کله بېرته راورسېدم نبي ﷺ يو کوچنی پټو پر سرکړی و لمونځ يې کاوه د نبي ﷺ مبارک عادت داو چې کله به د ويرې څه خبره پېښه سوه ده مبارک به د لمانځه و لورې ته توجه کول، کله چې رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغه سو ما خپل د حال ټوله قصه ورته بيان کړه کومه چې مې ليدلې وه نبي ﷺ چې د جاسوسی قصه واورېده نو غاښونه مبارک يې (دخندا څخه) وځلېدل، نبي ﷺ زه د خپلو پښو مبارکو سره پرې ايستلم او دخپل پټو يوه برخه يې پر ما واچول ما خپله سينه د رسول الله ﷺ د تلو مبارکو سره ومښلول.(۱)

فايـــده: دا د دوی مبارکانو برخه وه او دا د دوی لپاره مناسبه وه چې په دومره سختو تکليفونو کې د رسول الله ﷺ امر منل د خپل بدن، مال، ځان او تر ټولو ورته خوښ

---

(۱) درمنثور

و.الله ﷻ دي داستحقاق او اهليت پرته ما ناپاکه ته هم د ده ی داتباع يوه برخه را نصيب کړي.

لسم باب

دښځو ديني جذبه

حقيقت دادئ چي که چېرې په ښځو کي د دين جذبه پيدا سي نو په اولادو کي ددې اثر وجود لازمي دئ او حال داچي زموږ په ټولنه کي ددې پر خلاف اولادونه په لومړيو وختو کي په يوه داسي چاپېرچال کي ساتل کيږي چې پر اولادو باندي د دين خلاف اثر پرېوزي يا لږ ترلږه ودين ته نه پام نه پکښې پيداسي کله چي يوماشوم د پيل څخه د دين په خلاف چاپېريال کي وساتل سي نو نتيجه يې هغه نتيجه ده چي ښکاره ده.

۱- د بي بي فاطمې رضي الله عنها تسبيحات

حضرت علي رضي الله عنه يوه ورځ خپل يو شاګرد ته وويل: چي زه د ځان او د بي بي فاطمې رضي الله عنها قصه درته وکړم چي د نبي ﷺ نازولې لوروه؟ شاګرد ورته وويل: بيخي يې راته وکړه علي رضي الله عنه ورته وويل: بي بي فاطمې رضي الله عنها په خپلو لاسونو مېچن چلول تر داسي اندازې پوري چې په لاسو کي يې تناکي پيداسوې پخپله به يې اوبه راوړلې چې د سلواغو د رسۍ نښې به يې په سينه کي معلومي سوې دکور ټول کارونه لکه جارو او داسي نور به يې پخپله کول تر داسي اندازې پوري چي کالي به يې خيرن سوه. يو وار نبي ﷺ ته څه غلامان او مينځې راغلې ما وفاطمې رضي الله عنها ته وويل چې ته هم ورسه دنبي ﷺ څخه يو خادم وغواړه چي د کورپه کارو کي مرسته درسره وکړي دا مبارکه دنبي ﷺ و حضور ته ورغله هلته چي ورغله ګڼه ګوڼه وه ددې مبارکي په طبيعت کي شرم او حيا ډېره وه نو دشرم له وجهي وپلار ته د نورو مخکي ورتلل شرم او حيا ورته وګڼل سوه نو بېرته راغله دوهمه ورځ نبي ﷺ پخپله زموږ کورته تشريف راوړی او وې ويل: اې فاطمې رضي الله عنها! پرون ته راغلې وې څه کار دي

و؟ فاطمې رضي الله عنها د شرم له وجهې چوپ سوه. علي رضي الله عنه وايي ما وويل: چې اې د الله رسوله صلى الله عليه وسلم! دا په داسې حالت کې ده چې د میچنې له وجهې یې په لاسو کې تناکې پیدا سوې دي د اوبو راوړلو له وجهې یې په سینه کې درسی نښې معلومیږي د کور په کارو کې دومره بوخته ده چې هره ورځ یې کالي خیرن وي نو ما ورته وویل: چې رسول الله ﷺ ته څه غلامان او مینځیاني راغلي دي ته هم ورسه یو خادم ځنې راوله چې مرسته درسره وکړي د دغه لپاره درغلې وه. په ځینو روایاتو کې راغلي دي چې بي بي فاطمې رضي الله عنها وویل: اې د الله ﷻ رسوله! زه او علي رضي الله عنه د څرمنې یوه بستره لرو د شپې پکښې بیدیږو او د ورځې بیا اوښ ته دانه او واښه پکښې ایږدو. رسول الله ﷺ ورته وویل: لورې! صبر کوه د حضرت موسی علیه السلام او د هغه د بي بي تر لسو کالو پورې یوه بستره وه هغه هم د موسی علیه السلام چپنه وه د شپې به پر بیدېدل، ته تقوي حاصله کړه د الله ﷻ څخه وویرېږه او د خپل څښتن تعالی جل جلاله رضاء لاسته راوړه د کور خدمت کوه کله چې بیدېږې دروديرش واره سبحان الله وایه، دروديرش واره الحمد الله وایه او څلوردېرش واره الله اکبر وایه دغه تسبیح تر خادم ښه دي بي بي فاطمې رضي الله عنها وویل: زه د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ څخه راضي یم.(۱)

فایـــده: یعني کوم څه چې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ زما لپاره خوښ وي او د دوی پکښې رضا وي زه په راضي یم ما ته په خوشالی قبول دي. دا د دواړو جهانو د سردار د لور ژوند و. زموږ خلک چې دوې پیسې پیدا کړي نو د کور کارونه خو څه کوي خپل کار هم نسي کولای په تشناب کې د اوبو ګډوه بل څوک ورته ایږدي یوازي په پورتنی واقعه کښې د بیدېدو د وخت د ذکر بیان سوی دئ. په نورو حدیثونو کې تر هر لمانځه وروسته پورتنی درې کلمې درودېرش واره ویل ښودل سوي دي او یو وار لاندینۍ کلمې ویل هم راغلي دي: لا اله الا الله وحده لا شریک له، له الملک وله الحمد و هو علي کل شئ قدیر.

۲- د حضرت عائشې رضي الله عنها صدقه

د حضرت عائشې رضي الله عنها و حضور ته دوې لوی، لوی ګونۍ د پیسو ډکې راوړل سوې چې تر سلو زرو درهمو زیاتي پکښې وي حضرت عائشې رضي الله عنها څو لوښي راوغوښتل او هغه

---

(۱) ابوداؤد

یې په ډک کړل وېشل یې شروع کړل تر ماښامه پوري یې ټولي خیرات کړې یو درهم یې لا هم نه پرېښودئ خپله یې روژه وه و مینځي ته یې وویل چې د روژماتلپاره یوشی راوړه مینځي یوه ډوډۍ او څه د زیتون تیل ورته راوړه او ورته وې ویل : څومره به ښه وای چې نن مو د یوه درهم غوښې راغوښتي وای او په غوښو مو نن روژه ماته کړې وای دې مبارکي ورته وویل : اوس نو په پیغور څه کیږي هغه وخت به دي را په یاد کړې وای چې پیسې مي وېشلې ما به راغوښتي وای.(۱)

فایــده : د حضرت عائشې رضي الله عنها وحضور ته به دغه ډول نذرانې د امیر معاویة رضي الله عنه، عبدالله بن زبیر رضي الله عنه او داسي نورو حضراتو لخوا وړاندي کېدې ځکه دغه زمانه د فتوحاتو زمانه وه د نیوي فراخي وه په کورو کښې به د غلو په څېر د اشرفیو زخېرې وې ددې ټولو اسانتیاوو سره، سره دې مبارکي ډېرساده او کمزوری ژوند تېراوی آن تر دې چې د روژه ماتلپاره به هم د خدمتګار د یادولو اړتیا وه تر سلو زرو درهمو پوري یې پیسې خیرات کړې دا یې هم په فکر کي نه راغله چې زما روژه ده د غوښو راغوښتل غواړي په اوس وخت کې داسي پیښې دومره لیري سوې دي چې په خپله ددې واقعاتو په ریشتیا کېدو کي لا شک پیدا کیږي خو د کومو کسانو چې دهغې زمانې ژوند تر نظر تېر کړی وي پر داسي واقعاتو او نورو په سوونو واقعاتو باندي هیڅ حیرانتیا نه کوي . په خپله د حضرت عائشې رضي الله عنها ډېري واقعاتي نژدې ، نژدې دي یو واري روژه وه په کور کې یې د یوې ډوډۍ پرته بل هیڅ نه وه یو فقیر راغلی سوال یې وکړی دې مبارکي و خادمې ته وویل چې هغه یوه ډوډۍ ورکړه خادمي ورته وویل چې د روژه ماتلپاره په کور کي هیڅ شی نسته دې مبارکي ورته وویل پروا نه کوي ته هغه ډوډۍ ورکړه خادمي هغه ډوډۍ ورکړه.(۲)

یو واري یې په کور کي مار مړ کړی په خوب کي یو چا ورته وویل چې مسلمان دې مړ کړی دئ دې ورته وویل چې مسلمان و نو د نبي ﷺ بیبیانو کور ته به نه راتلی هغه ورته وویل چې په پرده کي راغلی و په دې خبره سره ډېره وویرېده راویښه سوه دولس زره درهمه یعني د یوه انسان دویني تویولو سره برابر یې خیرات کړل.

---

(۱) تذکره
(۲) موطا

فایــــده : موږ د سهار څخه تر ماښامه پورې څومره قسمونه په یوه ساه اخلو بیا یې څومره پروا کوو ؟ د دې جواب پخپله په فکر وهلو کې دئ . د کوم چا سره چې د الله ﷻ د نامه عزت وي او هغه د الله ﷻ په نامه قسم وکړي بیا ترې و پوښتې چې په نه وفا یې پر زړه څه تیریږي ؟ همدا وجه وه چې عائشې رضي الله عنها ته به قسم په یاد ورغلی ډېر به یې ژړل.

۴- د حضرت عائشې رضي الله عنها دالله ﷻ څخه د ویرې حالت

د رسول الله ﷺ چې د عائشې رضي الله عنها سره څومره محبت و د چا څخه پټ نه دئ آن تر دې چې چا به د نبي ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې ستاسو د چا سره ډېر محبت دئ ؟ رسول الله ﷺ به و فرمایل چې د عائشې رضي الله عنها سره د دې سره ، سره دا مبارکه په مسئلو دومره خبرداره وه چې لوی ، لوی اصحابان به د مسئلې د څېړلو لپاره د دې حضور ته ورتلل . جبرائیل علیه السلام به دې ته سلام وایه . رسول الله ﷺ ته په جنت کې د دې د بي بي کېدو زیری ورکړل سوی دئ . منافقانو چې پر دې تهمت ولګاوی په قرآنکریم کې د دې د برائت آیاتونه نازل سوه . په خپله عائشة رضي الله عنها فرمایي : په ما کې لس داسې خصوصیات سته چې بله بي بي یې نلري . ابن سعد رحمه الله په تفصیل سره را نقل کړي دي .

د دې مبارکې دسخا حالت د پورتنیو قصو څخه معلوم سو خو د دې سره ، سره د دې د الله ﷻ د ویرې څخه داسې حالت و چې ویل به یې : کاشکې زه درخته وای چې د الله ﷻ تسبیح مې ویلای او په آخرت کې زما څخه مطالبه نه وای ، کاشکې زه ډبره وای ، کاشکې زه لوټه وای ، کاشکې زه نه وای پیدا سوې ، کاشکې زه د درختې پاڼه وای ، کاشکې زه واښه وای.(۱)

فایــــده : د الله ﷻ څخه د ویرې بیان په ورته ډول په دریم باب ، پنځمه قصه کې هم تېر سوي دئ د دوی مبارکانو دا عمومي حالت و د الله ﷻ څخه ویره د دوی یوه برخه وه.

---

(۱) بخاري

۵- د حضرت ام سلمة رضي الله عنها د خاوند دعا او هجرت

ام المؤمنین حضرت ام سلمي رضي الله عنها د نبي ﷺ څخه مخکې د ابو سلمة رضي الله عنه په نکاح وه دوی دواړو په خپل منځ کې دومره محبت درلودئ چې ددې قصې څخه يې اندازه معلومېږي يوه ورځ ام سلمې رضي الله عنها و ابو سلمة رضي الله عنه ته وويل چې ما اورېدلي دي چې مېړه او مانينه دواړه جنتيان وي او ښځه چې د بل مېړه سره نکاح نه وکړي الله ﷻ په جنت کې دغه ښځه وهغه سړي ته په نکاح ورکوي نو راسه ددې لپاره چې ما او تا ژمنه وکړو چې په موږ کې هر يو مخکې مړ سو د بل چا سره به نکاح نه کوي .ابو سلمة رضي الله عنه وويل : چې ته به زما خبره ومنې ؟ام سلمة رضي الله عنها وويل چې زه مشوره کوم ددې لپاره چې ستا خبره ومنم . ابو سلمة رضي الله عنه وويل چې زما تر مرګ وروسته ته نکاح وکړه ، بيا يې دعا وکړه چې اې خدايه ! زما څخه وروسته ام سلمة رضي الله عنها ته تر ما غوره خاوند ورنصيب کړې چې نه دا تنګوي او نه يې په عذابوي . دوی دواړه يعني ښځه او خاوند د اسلام په شروع کې و حبشې ته يو ځای مهاجر سوه دحبشې د هجرت وروسته يې بيا مدينې منورې ته هجرت وکړی چې خپله ام سلمة رضي الله عنها يې قصه په تفصيل سره داسې بيانوي : ام سلمة رضي الله عنها وايي : کله چې ابو سلمة رضي الله عنه د هجرت اراده وکړه نو اوښ يې تيار کړی زه او زما زوی سلمة يې پر سپاره کړو ابو سلمة د اوښ مهار کشاوی زما پلرګنۍ بنو مغيره چې موږ وليدو نو ابو سلمة رضي الله عنه ته يې وويل چې ته دخپل ځان اختيار لرې آزادې موږ خپله نجلۍ ستا سره نه پرېږدو چې ته يې ښار په ښار ګرځوې دستي يې د ابو سلمة رضي الله عنه د لاس څخه د اوښ مهار کش کړی زه يې په زوره راکښته کړم زما خسرګنۍ بنو الاسد خبر سوه چې د ابو سلمة خپلوان وه هغوی چې دا حالت وليدی نو زما د پلرګنۍ سره په جنګ اخته سوه او ورته وې ويل چې تاسو ابو سلمة ته نجلۍ په لاس نه ورکوی نو تاسو هم دخپلي نجلۍ اختيار لری مګر زموږ هلک سلمة په لاس نه درکوو (چې ددوی مبارکانو زوی و) دا مبارکه وايي چې زما خسرګنۍ هلک را څخه وکړزوی زه يې دپلرګنۍ په لاس ورکړم په دغه حالت کې موږ درې سره پر درې لارې سو ابو سلمة رضي الله عنه مدينې ته ولاړی زه د پلرګنۍ سره پاته سوم او زوی مې د نيکه کورته ورسېدئ زه به هره ورځ ميدان ته راتلم تر ما ښامه پورې به مې ژړل پوره يو کال مې وژړل چې نه زه خاوند ته ورتلای سوم او نه ماته زوی راکول کېدئ يوه ورځ زما د اکا زوی پر ما زړه وسو خپلو خلګو ته يې وويل : تاسو ولې پردې مسکينې رحم نکوی دمېړه څخه موجلا

کړې ده د زوی څخه مو جلا کړې ده دا ولې نه پرېږدی چې خپل مېړه ته ولاړه سي؟ لنډه دا چې زما داکا زوی په خبرو دوی راضې کړه دوی ماته اجازه راکړه چې که مېړه ته ځې نو ولاړه سه .بنو الاسد (زما دخاوند قریبانو) چې دا حال ولیدئ نو هغوی هم زما زوی را سره کړی ما یو اوښ تیار کړی او زوی مې په غیږ کې ونیوی یوازې مدینې ته روانه سوم درې څلور میله تللې وم چې په تنعیم کې مې عثمان بن طلحة ولیدی ده زما څخه پوښتنه وکړه چې یوازې چېرې ځې؟ ما ورته وویل چې پخپل خاوند پسې مدینې ته ځم بیایې راته وویل ستا سره بل څوک سته؟ ما ورته وویل: د الله ﷻ پرته بل څوک نسته را سره نو ده د اوښ مهار ونیوی مخکې روان سو . په الله ﷻ قسم کوم چې ما تر عثمان بن طلحة شریف سړی نه و لیدلی . کله چې به زه کښته کېدم نو اوښ به یې چوک کړی دی به خپله د یوې درختې شاته جلا کښېناستی کله چې به د سپرېدو وخت سو نو اوښ به یې نژدې ماته چوک کړی زه به پر سپره سوم بیا به ده د اوښ مهار ونیوی روان به سو پر دغه ترتیب مدینې ته ورسېدو کله چې قبا ته ورسېدو نو عثمان راته وویل: ستا خاوند دلته دئ تر دغه وخته پوري ابوسلمة رضی الله عنه په قبا کې اوسېدئ عثمان بن طلحة زه مدینې ته ورسولم دی بېرته مکې ته ولاړی دا مبارکه بیا وایي په الله ﷻ قسم کوم چې ما دعثمان بن طلحة په څېر شریف او کریم سړی نه دی لیدلی . پدې کال کې چې ما څومره زحمتونه تېر سوي دي ښایي پرهیچا نه وي تېر سوي.(¹)

فایــــده: دا پر الله ﷻ باندې د توکل خبره وه چې یوازې یې د هجرت اراده وکړه الله ﷻ په خپل فضل سره ددې د سفر دسامان انتظام وکړی او ددې مرسته یې وکړه څوک چې پر الله ﷻ باندې توکل کوي الله ﷻ د هغه مرسته کوي د بندګانو زړونه د الله ﷻ په قدرت کې دي دښځې لپاره چې هجرت فرض وي یوازې هم سفر کولای سي که څه هم محرم نه وي ورسره هم دا وجه ده چې ددې پر سفر باندې شرعي نیوکه نسته .

(¹) اسد الغابة . کومه ښځه چې دوهمه نکاح وکړي په اړه یې دوه حدیثه راغلي دي په یوه حدیث کي راغلي دي چې دوهم مېړه ته په جنت کي ورکول کیږي په دوهم حدیث کي راغلي دي چې ښځې ته اختیار ورکول کیږي دکوم مېړه سره چې اوسېدل غواړي دهغه سره به اوسیږي. پدې خبره کي هم اختلاف سته چې په جنت کي به یوه سړی ته څومره بیبیاني ورکول کیږي . هذا الهامش من الشیخ رحمه الله.

٦ـ دحضرت ام زیاد رضي الله عنها د یو شو ښځو سره دخیبر په جنګ کې ګډون

د رسول الله ﷺ په زمانه کې نارینوو د جهاد مینه او محبت درلودئ چې په زیات شمېر سره یې قصې راغلي دي خو د جهاد دګډون په شوق کې ښځې هم تر دوی نه وې پاته تل به یې د جهاد سره مینه درلوده کله چې به موقع په لاس ورغله نو ځان به یې رساوه ، حضرت ام زیاد رضي الله عنها فرمايي : موږ شپږ ښځې په جهاد کې د شریکېدو لپاره رواني سو نبي ﷺ چې خبر سو نو موږ یې راوغوښتلو او په مخ مبارک کې یې د درد (غصې) نښې ښکارېدې راته وې فرمایل : تاسو د چا په اجازه راغلي یاست ؟ موږ ورته وویل : اې د الله ﷻ رسوله ﷺ ! زموږ وړې وړې وړېشل زده دي او په جهاد کې اړتیا ورته پېښېږي او دواوي هم زموږ سره دي که نور هیڅ نه وي نو د مجاهدینو سره خو په غشو ورکولو کې مرسته کولای سو ، که څوک زخمي سي نو د هغه درملنه خو کولای سو ، د اوبو لوښي موښې ډکولای سو ، د چیښلو لپاره خو اوبه برابرولای سو .(۱)

فایده : الله ﷻ په هغه وخت کې په ښځو کې داسې دلاوري پیدا کړې وه چې دنن سبا سړي یې نه لري ، ګورئ دغه مبارکې اصحابیاني د خپل شوق له مخې د جهاد دګرته رسېدلې وې او څومره کارونه یې دځانو لپاره په خپله وټاکل ، حضرت ام سلیم رضي الله عنها سره ددې چې عبدالله بن طلحه یې په نس وو یعني حامله وه دحنین په غزا کې یې ګډون وکړی او یوه چاړه یې د ځان سره ساتلې وه رسول الله ﷺ پوښتنه ځنې وکړه چې دادې دڅه لپاره ساتلې ده ؟ دې ورته وویل : که کوم کافر ماته نژدې کېدئ نو زه به یې په دغه چاړه ووهم تردې مخکې د احد په غزا کې هم شریکه سوې وه د زخمیانو او ناروغانو دارو درمل به یې کاوه حضرت انس رضي الله عنه فرمايي : ما حضرت ام سلیم او عائشة رضي الله عنها ولیدې چې د اوبو لوښي یې په چابکې سره ډکول او راوړل یې زخمیان یې اوبول کله چې به لوښي خالي سوه بیا به تللې .

۷ـ د ام الحرام رضي الله عنها د البحر په غزا کې دشرکت خواهش

حضرت ام حرام رضي الله عنها دانس رضي الله عنه خاله وه نبي ﷺ به د هغې کورته زیات تشریف وړی او کله ـ کله به یې د غرمې آرام هم ددې په کور کې کاوه یوه ورځ نبي ﷺ ددې په کور کې آرام

---

(۱) ابو داؤد

کاوه په مسکا راپورته سو ، ام حرام رضي الله عنها پوښتنه ځني وکړه چي زما مور او پلار دي تر تا قربان سي پر څه شي مسکی سوې؟ ده مبارک وفرمایل : زما د امت څه خلک ماته وښودل سوه چي د دریاب پر څنډه د جنګ په اراده داسي پر آسانو سپاره دي لکه پاچهان چي پر تختو ناست وي ام حرام رضي الله عنها وویل : اې د الله ﷺ رسوله ﷺ ! ماته هم دعا وکړه چي الله ﷻ مي په دوی کې شامله کړي ، نبي ﷺ وفرمایل : ته به هم په دوی کي شامله سې له دې څخه وروسته بیا نبي ﷺ آرام وکړی ، بیا راپورته سو مسکی ام حرام رضي الله عنها د مسکا سبب ځني وپوښتی نبي ﷺ په هغه ډول جواب ورکړی دې بیا ورته وویل : اې د الله ﷻ رسوله ﷺ ! ماته دعا وکړه چي زه هم د دوی په ډله کي داخله سم نبي ﷺ ورته وویل : ته به په لومړی ډله کي یې

د حضرت عثمان رضي الله عنه په خلافت کي امیر معاویه د شام حاکم و پر جزائر قبرص باندي یې د حملې کولو اجازه وغوښته حضرت عثمان رضي الله عنه اجازه ورکړه ، امیر معاویه یو لښکر تیار کړی او حمله یې وکړه په دغه لښکر کي ام حرام رضي الله عنها او ددې میړه دواړه موجود وه د بېرته راتګ پر وخت ام حرام رضي الله عنها پر یوه غاتره سپره وه چي هغه غاتره و توریده دا مبارکه ځني ایله سوه مغزی یې مات سو او وفات سوه او هم هلته خاوروته وسپارل سوه.(۱)

فایده : داد جهاد سره مینه وه چي په هره غزا کي به یې د ګډون شوق کاوه خو لکه څرنګه چي د ام الحرام رضي الله عنها په دوهم جنګ کي ګډون په تقدیر کي نه و لیکلی نو ځکه یې ګډون نه وکړی او رسول الله ﷺ هم دعا نه وه ورته کړه.

۸- د حضرت ام سلیم رضي الله عنها دزوی د مرګ سره ، دخپل میړه سره یو ځای والی

حضرت ام سلیم رضي الله عنها د حضرت انس رضي الله عنه مور وه کله چي د انس رضي الله عنه پلار وفات سو نو دانس رضي الله عنه د پالني په موخه یې تر څه وخته پوري نکاح نه وکړه څو ورځي وروسته یې د ابو طلحة رضي الله عنه سره نکاح وکړه د ابو طلحة رضي الله عنه څخه یې یو زوی ابو عمیر پیدا سو نبي ﷺ چي به کله د دوی کورته تشریف یو وړی نود ابو عمیر سره به یې خوشطبعي کول . نابېره ابو عمیر وفات سو ام سلیم رضي الله عنها ښه پاک ولمبوی کفن یې ورکړي پر یو کټ یې پرې ایستی د ابو طلحة رضي الله عنه روژه وه د خوراک شیان یې ورته برابر کړه او خپله یې ځان ښه ښایسته کړی خوشبویي یې ولګول ماښام چي یې خاوند راغلی ډوډی یې وخوړله او دخپل زوی پوښتنه یې وکړه دې ورته وویل : چي هغه خو اوس آرام دئ بیخي ښه سوی دئ نو خاوند یې ډاډه

---

(۱) بخاري

سو دشپې يې د خپلې ميرمنې سره يو ځای والی وکړی کله چې سهار سو ام سليمؓ وابو طلحةؓ ته وويل : که څوک تا ته څه پيسې په قرض درکړي او بيا يې بېرته غواړي نو بېرته يې ورکول په کار دي او که نه ؟ ابو طلحةؓ ورته وويل : ورکول يې په کار دي د ځان سره دساتلو هيڅ حق نه لري دهغه شی دی بيرته يې غواړي . وروسته ام سليمؓ ورته وويل : ستا زوی چې الله ﷻ تاته امانت درکړی و بېرته يې واخيست په دې خبره سره ابو طلحةؓ غمجن سو او ورته وې ويل : تا ولي زه نه خبرولم . سهار د رسول الله ﷺ حضور ته ورغلی او ټوله قصه يې ورته وکړه نبي ﷺ ورته دعا وکړه او وې فرمايل چې ښايي الله ﷻ په دغه شپه کي برکت واچوي . يو انصاري وايي چې ما دنبي ﷺ دهغې دعا برکت وليدی دهغې شپې دحمل څخه عبدالله بن طلحةؓ پيدا سو چې دده بيا نهه اولادونه وسوه ټولو قرآن کريم ولوستی.(۱)

فايده : ډېر دصبر خبره ده چې خپل زوی يې مړ سي او په دغه ډول دي يې وزغمي چې خاوند يې هم په پوه نسي ځکه چې د خاوند يې روژه وه که چېري خبر سي نو د خوراک څخه به ووزي.

۹- د حضرت ام حبيبېؓ خپل پلار پر بستره نه کښېنول

ام المومنين حضرت ام حبيبةؓ د نبي ﷺ څخه مخکي د عبدالله بن جحش په نکاح کښې وه دوی دواړه يعني مېړه او ماينه يو ځای مسلمانان سوي وه او د حبشې هجرت يې هم يو ځای کړی و کله چې حبشې ته ولاړل نو مېړه يې داسلام څخه واوښتی مرتد سو دکفر په حالت کي مړ سو دې مبارکي د کونډتوب وخت په حبشه کې تېر کړی نبي ﷺ د نکاح پيغام ورواستوی او دحبشې د پاچا په معرفت نکاح وسوه چې دده باب په پای کي به دبيبيانو په بيان کي راسي ، د نکاح څخه وروسته يې مدينې منورې ته تشريف راوړی د حديبې د روغي جوړي په وخت کي دده پلار ابو سفيان مدينې منورې ته راغلی چې د نبي ﷺ سره د روغي جوړي د ټينګوالي لپاره خبري وکړي ، د لور د ملاقات لپاره کور ته ورغلی کله چې دی ورغلی ددې په کور کي بستره غوړېدلې وه ابوسفيان پر کښېناستی حضرت ام حبيبېؓ هغه بستره ژر راټوله کړه پلار يې حيران سو چې ددې پر ځای چې بستره را هواره کړي ، هواره کړې بستره يې ټوله کړه پوښتنه يې ځني وکړه چې زه په دې بستره نه

---

(۱) بخاري - فتح

ارزېدم چې راسه ټوله دې کړه او که يې زه ورنه وم؟ ام حبيبې ﷺ ورته وويل : دا د الله ﷻ د پاک نبي ﷺ بستره ده او ته ناپاکه مشرک يې زه تا څنګه پردې بستره کښېنوم ، پلار يې ډير ورته په درد (غصه) سو او ورته وې ويل : چې له ما څخه د جلاکېدو وروسته په ډيرو بدو عادتونو اخته سوې يې خو د ام حبيبې ﷺ په زړه کې چې د رسول الله ﷺ کوم درنښت و دهغې په وجه يې دا نسواى زغملاى چې يو ناپاک مشرک دې يې پر بستره کښېني که يې پلار وي يا بل څوک وي .

يوه ورځ يې د نبي ﷺ څخه د څاښت د دوولسو رکعتونو فضيلت واورېدى نو تل به يې په پابندۍ سره کول .

ددې پلار چې اوس يې قصه تېره سوه وروسته مسلمان سو کله چې وفات سو نو لورېې دريمه ورځ خوشبويي را وغوښتل او استعمال يې کړه او وې ويل چې زما و خوشبويي ته اړتيا نه وه او نه مې شوق ورته کېدئ خو ما د نبي ﷺ څخه اورېدلي دې چې ښځې ته د مېړه پرته جائز نه ده چې پر بل چا باندې تر درو ورځو زيات غم وکړي يوازې به پر مېړه باندې څلور مياشتې او لس ورځې غم کوي زه له دې وجهې خوشبويي استعمالوم چې غم ونه ګڼل سي . کله چې يې د وفات وخت را ورسېدئ نو حضرت عائشة ﷺ يې را وغوښتله او ورته وې ويل چې زما او ستا د بنوالي ژوند وا و د بنو تر منځ خامخايو څه راځي نو الله ﷻ دې ماته بخښنه وکړي او ته يې هم راته وکړه حضرت عائشې ﷺ ورته وويل :الله ﷻ دې تاته ټول شيان در وبخښي او معافي دې درته وکړي ، دې چې دا واورېدل نو ورته وې ويل : تا ماته ډيره خوشحالي را وبخښل الله ﷻ دې تاته هم خوشحالي درکړي او الله ﷻ دې تر او تازه ولره وروسته يې ام سلمې ﷺ ته هم سړې ور ولېږي.(۱)

فايده:دبنو په منځ کي داسي اړيکي وي چي يوه دبلي درنګ ليدل هم نه غواړي خو دې ته دا معلومه وه چي د دنيا اړيکي پر همدې ځاى خلاصيږي او دآخرت باړونه به مي پر سر پاته سي. ددې چي دنبي ﷺ سره څومره محبت و او دنبي ﷺ چي څومره درنښت ددې سره و په پورته قصه کي د بسترې څخه معلوم سو.

۱۰- د حضرت زينب ﷺ د افک په معامله کي پاکوالی او صدقه

ام المومنين حضرت زينب بنت جحش ﷺ په قرابت کي د نبي ﷺ دخاله لور وه داسلام په پيل کي مسلمانه سوې وه په اول کي ددې نکاح د حضرت زيد ﷺ سره سوې وه نوموړي

---

(۱) طبقات

د نبي ﷺ ازاد سوی غلام و او نبي ﷺ په زوی سره هم نیولی و په همدې وجه ورته زید بن محمد ﷺ ویل کېږي.

د زید رضي الله عنه د زینب رضي الله عنها سره جوړوالی نه راغلی نو زید رضي الله عنه طلاق ورکړی نبي ﷺ پدې موخه چي د کفر دوخت دا دود مات کړي چي کوم څوک به په زوي والي سره نیول سوی و هغه دسکه زوی په څېر و د ماینې سره به یې نکاح نه کول (یعني لکه چي دمړور سره نکاح نه ده روا دکفر په وخت دنیول سوي زوی دمېرمني سره هم نکاح روا نه وه داچي دغه رواج مات سي) نو نبي ﷺ و زینب رضي الله عنها ته د نکاح پیغام ورواستوی زینب رضي الله عنها ورته وویل: زه د خپل خدای ﷻ سره مشوره کوم دستي یې اودس تازه کړی دلمانځه نیت یې وکړی او وې ویل: چي د الله ﷻ د مشورې پرته زه کار نه کوم، ددې ددغه پاک نیت برکت و چي الله ﷻ پخپله دنبي ﷺ نکاح دزینب رضي الله عنها سره وکړه او دا آیات نازل سو:

فَلَمَّا قَضَىٰ زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَـٰكَهَا لِكَىْ لَا يَكُونَ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ فِىٓ أَزْوَٰجِ أَدْعِيَآئِهِمْ إِذَا قَضَوْا۟ مِنْهُنَّ وَطَرًا ۚ وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ مَفْعُولًا ﴿٣٧﴾ (۱)

ژباړه: نو کله چي زید خپله اړتیا له هغې (زینب رضي الله عنها) څخه پوره کړه (جوړوالی یې ورسره نه راغلی) نو موږ هغه (زینب رضي الله عنها) ستا په نکاح کښي درکړه دپاره ددې چي پر مومنانو باندي تنګي را نسي په ښځو کي د زوی نیول سوي (یعني دنیول سوي زوی دښځي سره نکاح روا سي) کله چي هغوی خپل ضرورت پوره کړی وي، او دالله ﷻ امر خامخا کېدونکی دی.

کله چي زینب رضي الله عنها ته ددې آیات د نازلېدو زیری ورکړل سو نو دې زیري کونکي ته هغه کالي ورکړه کوم چي یې اچولي وه او پخپله پرسجده پرېوته او دوې میاشتي روژه یې نذر کړه.

دحضرت زینب رضي الله عنها دا ویاړ په برخه و چي نکاح یې په آسمان کي وسوه او په قرآن کي نازله سوه او دنورو بیبیانو نکاحي د دوی د خپلوانو لخوا سوي وي دا د عائشې رضي الله عنها مقابلې ته راغله ځکه پر نبي ﷺ باندي د عائشې رضي الله عنها ترټولو د محبوبیت ناز و او ددې دآسمان دنکاح ناز وو. ددې سره ـ سره چي کله پر عائشې رضي الله عنها باندي د تور لګولو قصه پېښه سوه نو نبي ﷺ د نورو تر څنګ ددې څخه هم پوښتنه وکړه دې په جواب کي ورته وویل

---

(۱) سورة الاحزاب الاية (۳۷)

چې زه په عائشه رضي الله عنها کې د نیکۍ پرته بله بدي نه وینم دا ریشتنې دینداره ده . (دادې مبارکې دبنې په وړاندې دریزوو) کنه نو همدغه پربن باندې د تور لګولو وخت وا ودې وخت و چې د میره د نظر څخه یې وغورځوي او نازبینه هم وه (ځکه د بنې خو هغه بن بیخي نه خوښیږي چې پر میره ګرانه وي) ددې سره یې د زړه له کومې د عائشې رضي الله عنها صفايي وکړه .

حضرت زینب رضي الله عنها ډېره بزرګه وه ډېري روژې یې نیولې او ډېر نفلونه یې هم کول پخپلو لاسو به یې زیار ایستي څه چې به په لاس ورغلل خیراتول به یې ، د رسول الله ﷺ د وفات په وخت کې بیبیانو پوښتنه وکړه چې ستاسو سره به لومړی کومه بي بي ملاقات کوي رسول الله ﷺ وفرمایل : د چا چې لاسونه اوږده وي دوی مبارکانو لرګي راواخیستل د لاسو اندازه کول یې شروع کړل وروسته معلومه سوه چې د لاسو د اوږدوالي څخه مقصد ډېر خیرات او ورکړه ده ځکه تر ټولو مخکي زینب رضي الله عنها وفات سوه .

حضرت عمر رضي الله عنه چې کله د نبي ﷺ بیبیانو ته تنخوا مقرره کړه او دې ته یې ددې برخه دوولس زره درهمه ور ولیږل دې فکر وکړی چې دا د ټولو بیبیانو دې نو وې ویل چې د وېش لپاره نوري بیبیاني وړ دي قاصد ورته وویل : داپیسې یوازې ستا دي او دټول کال لپاره دي دې په حیرانتیا سره وویل : سبحان الله دستې یې پر مخ یوه زړه ټوټه ټوکر واچوی ددې لپاره چې دا مال نه ووینې بیا یې وویل چې د خونې په کونج کې یې واچوه او یو ټوکر یې پرې واچوی بیا یې برزه رضي الله عنها ته وویل : (د قصې نکل کوونکي دئ) ددې مال څخه یو موټ فلاني ته ورکړه او یو موټ فلاني ته ورکړه لنډه دا چې په قریبانو او مسکینانو یې یو-یو موټ ووېشی آخر لږ پیسې پاته سوې نو برزه رضي الله عنها یې هم غوښتنه وکړه دې مبارکې ورته وویل : کومې پیسې چې تر ټوکر لاندې پاته سوې دي هغه ته واخله برزه رضي الله عنها وايي : ما پاته پیسې واخیستې او حساب مې کړې څلور اتیا درهمه وې ددې څخه وروسته یې دعا وکړه چې اې الله جل جلاله ! راتلونکی کال ماته داسې پیسې مه راکوې ځکه په راتلو کې یې فتنه ده ، ددې دعا قبوله سوه د راتلونکي کال مخکي دا وفات سوه کله چې حضرت عمر رضي الله عنه ته خبر ورغلی چې دې مبارکې هغه ټولې پیسې خیرات کړې نو دوولس زره نوري یې ورواستولې دې هغه هم خیرات کړې . سره ددې چې مسلمانانو ډیري فتوحاتې کړي وي او ډیري لاسته راوړنې یې درلودې خو ددې څخه د وفات په وخت کې هیڅ مال نسو پاته یوازې هغه کور

ورته پاته سو چې دا پکښې او سېده ددې دډېرې صدقې له امله ددې لقب ماءوى المساكين وېعني د مسكينانو تم ځاى.(۱)

يوه ښځه وايي چې زه د حضرت زينب رضي الله عنها په كور كې وم موږ د كالو په رنګولو اخته وو نبي ﷺ تشريف راوړى موږ چې يې وليدو بېرته ولاړى د زينب رضي الله عنها دا فكر سو چې نبي ﷺ ته جامې رنګول خوښ نه سوه نو دستي يې هغه رنګ سوي جامې بېرته پرېولې رنګ يې ځني بوتيدو هم ځل نبي ﷺ تشريف راوړى هغه د رنګ اثر نه و نو خوني ته يې تشريف يووړى.(۲)

۱۱- د حضرت خنسآء رضي الله عنها دخپلو څلورو زامنو سره په جنګ كې ګډون

حضرت خنسآء رضي الله عنها يوه مشهوره شاعره وه د خپل قوم د څو كسانو سره يو ځاى مدينې ته راغله مسلمانه سوه . ابن اثير رحمة الله عليه وايي : د علماؤ پر دې اتفاق دئ چې په ښځو كې تر دې چا ښه شعر و نه دي ويلي نه مخكې او نه وروسته . د حضرت عمر رضي الله عنه په خلافت كې په سـنه ۱٦ هـ كښې د قادسيې جنګ وسو په دغه جنګ كې دا د خپلو څلورو زامنو سره شريكه سوه د جنګ يوه ورځ مخكې يې خپلو زامنو ته نصيحت وكړى د جهاد جذبه يې پكښې پيدا كړه او ورته وې ويل : اې زما زامنو ! تاسو پخپله خوښه مسلمانان سوي ياست پخپله خوښه مو هجرت كړى دئ په هغه ذات دې مې قسم وي چې دده څخه ماسوا بل څوك د عبادت نسته لكه څرنګه چې تاسو دمور د يوه نس څخه پيدا سوي ياست په همدغه ډول د يوه پلار څخه پيدا سوي ياست ما ستاسو د پلار سره خيانت ندئ كړى نه مې ستاسو ماماګان شرمولي دي او نه مې ستاسو پر عزت څه خال پيدا كړى دى . تاسو ته معلومه ده چې د كافرانو سره جهاد كول څومره ثواب لري الله ﷻ زيات ثوابونه پكښې ايښي دي دا هم ياد ساتى چې په آخرت كې تل ژوند كول د دنيا تر ژوند ډېر بهتر دئ ځكه الله ﷻ فرمايي :

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱصْبِرُواْ وَصَابِرُواْ وَرَابِطُواْ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٢٠٠﴾ (۳)

ژباړه : اې هغه كسانو ! چې ايمان يې راوړى دئ صبر وكړئ پر تكليفونو باندې صبر وكړئ (د كافرانو سره پر جنګ باندې) (د كافرانو جنګ ته) تيار و اوسئ د الله ﷻ څخه وويرېږئ ښايي چې تاسو خلاص سئ.(۱)

---

(۱) طبقات

(۲) ابوداؤد

(۳) سورة ال عمران الاية (۲۰۰)

نو په همدې وجه کله چې تاسو سهار په سلامتيا سره را کښېناستاست نو په ډېر فکر سره د کافرانو دمقابلې په جنګ کې شريک سئ د کافرانو په مقابله کې د الله ﷻ څخه مرسته وغواړئ په جنګ کې مخکې ځئ کله چې تاسو ووينئ چې جنګ تېز سو لمبې يې پورته سوې نو تاسو هغه تيزو لمبو ته ورننوځئ د کافرانو د سردار سره مقابله وکړئ انشاء الله په جنت کې به په عزت سره کامياب واوسيږئ. هم داسې وسوه کله چې سبا جنګ په تېزۍ سره شروع سو نو څلور زامن يې نوبت پرنوبت مخکې کېده او دمور نصيحت يې په شعرو کې وايه چې دخلګو شوق او جذبه په زياته سې آخر به شهيد کېدئ بيا به بل مخکې سو شهيد به سو لنډه دا چې څلور زامن يې ټوله شهيد سوه کله چې يې مور ته خبر ورغلی چې څلور زامن دې ټوله شهيدان سوه دې ووېل: الله ﷻ لره دې شکر وي چې د دوی په شهادت سره يې ماته عزت راکړی د الله ﷻ څخه هيله لرم چې زه هم په هغه سايه کې واوسم چې د الله ﷻ د رحمت سايه پر دوی څلورو ده.(۲)

فايده: داسې ميندې هم وې چې خپلو ځوانانو زامنو ته يې په تيز جنګ کې د ورننوتلو هڅونه ورکول او کله چې شهيدان سوه نو د الله ﷻ شکر يې ادا کړی.

۱۲ – د حضرت صفيې رضي الله عنها په يواځې سر ديهودي وژل

حضرت صفية رضي الله عنها د نبي ﷺ عمه وه او د حمزة رضي الله عنه خور وه د احد په غزا کې يې ګډون کړی و په دغه غزا کې چې مسلمانانو شکست وخوړی نو کله چې به يو مسلمان تښتېدی دې به پر مخ په نېزه وهی او بيرته به يې د جنګ لوري ته استوی ، د خندق په غزا کې رسول الله ﷺ ټولې ښځې په يوه کلا کې بندي کړې حسان بن ثابت رضي الله عنه يې باندې محافظ کړی و يهوديانو دا موقع ګټه وبلل او يوې ډلې يې پر ښځو دحملې اراده وکړه ځکه دوی اصلي دښمنان وه نو يو يهودي دحال معلوملو لپاره راغلی صفيې رضي الله عنها دليري څخه وليدئ حضرت حسان رضي الله عنه ته يې ووېل چې د کلا څخه دباندې ورووزه هغه يهودي مړ کړه احسان رضي الله عنه کمزوري سپين ږيری و دلاوري يې ونه کړه نو دې خپله د يوې خيمې موړی را واخيستی دباندې ورووته هغه يهودي يې په يوازې سر مړ کړی دا چې هغه يهودی نامحرم و نو ديهودي سامان يې نه را واخيستی دسر او پښو څخه ئې شيان نه وايستل راغله وحضرت حسان رضي الله عنه ته يې ووېل چې هغه يهودي ما مړ کړی ته ورسه سامان يې راوړه او سر

---

(۱) بيان القران
(۲) اسدالغابة

يې هم ورپرې کړه ده بيا د کمزورۍ له وجهې دلاوري ونه کړه دا په خپله ورووته سامان يې
ځني راوړی او سريې ځني پرې کړی راييې وړی پر ديوال باندې يې د يهوديانو پر يوې
ټولې باندې ورو غورزوی يهوديانو چې سر وليدی وې ويل چې محمد ﷺ خپلې ښځې
يوازې نه پرېږدي خامخا محافظين ورپرېږدي او په کلا کې دننه موجود دي.(۱)

فايده: حضرت صفية رضي الله عنها د هجرت په شلم کال د درواويا کلو په عمر وفات سوې ده
او د خندق غزا د هجرت په پنځم کال کې سوې ده نو په دغه وخت کې د دې عمر (۵۸) کاله
کيږي په اوس وخت کې زموږ ښځو ته په دومره عمر کې د کور کار لا ورته ګران وي پر
يوازې سر سړی قتلول خو لا ايسته پرېږده په داسې حال کې چې يوې خواته ښځې وې او
بلې خواته د يهوديانو نارينوو ډله وه .

۱۳- د حضرت اسمآء رضي الله عنها د ښځو د ثواب په هکله پوښتنه

حضرت اسمآء بنت يزيد رضي الله عنها يوه صحابيه وه د نبي ﷺ و حضور ته ورغلل او ورته وې
ويل : اې د الله ﷻ رسوله ﷺ ! زما مور او پلار دې تر تا قربان سي زه د مسلمانانو ښځو د
استازې په توګه راغلې يم تاسو الله ﷻ د نارينوو او ښځو دواړو لپاره پيغمبر لېږلی يې موږ
ښځې پر الله ﷻ او پر تاسو ايمان لرو موږ په کورو کې ګيرېو نارينوو موږ په کورو کې ښځې
کړې يو د نارينوو خواهشات زموږ څخه پوره کېږي د دوی اولادونه موږ په نس وړو د دې
ټولو خبرو سره - سره نارينه تر موږ په ديني کارو کې مخکې دي ، د جمعې لمونځ کوي ،
لمونځ په جماعت کوي ، د ناروغانو پوښتنه کوي ، په جنازو کې ګډون کوي ، د حج پسې بل
حج کوي او تر دې ټولو زيات جهاد کوي ، کله چې دوی حج ، عمرې او جهاد ته ځي نو موږ
ښځې د دوی د مالو حفاظت کوو ، جامې ور جوړوو او اولادونه يې ور پالو ايا موږ د دوی
سره په ثواب کې شريکې نه يو ؟ نبي ﷺ چې د دې خبرې واورېدې اصحابو ته متوجه سو ورته
وې ويل : آيا تاسو د دين په اړه تر دې ښځې ښه سوال کوونکې ليدليدئ ؟ اصحابو ورته
وويل : اې د الله ﷻ رسوله ﷺ ! موږ هم فکر نه کاوه چې ښځې دې هم داسې سوال کولای
سي رسول الله ﷺ د اسمآء رضي الله عنها و لوري ته متوجه سو او ورته وې ويل : اې اسماء ! ښه يې
واوره او ځان په پوه کړه او هغه ښځو ته يې وښيه چې ته يې راليږلې يې چې د ښځې د خپل

(۱) اسد الغابة

مېرمه سره ښه سلوک ، د مېرمه خوښي لاسته راوړل او په امر يې عمل کول دهغه دټولو ثوابونو سره برابر دئ اسماء رضي الله عنها چي دا خبره واورېدل ډيره خوشحاله سوه او بېرته ولاړل.(۱)

فايده : دښځو د خپلو مړو سره ښه سلوک کول او د دوی اطاعت کول ډير قيمتي شی دئ خو ښځي په نا خبره دي . اصحابانو يوه ورځ رسول ﷺ ته وويل : عجم خلګو خپلو پاچهانو او سردارانو ته سجده کوي ته تر دوی ډېر حقداريې موږ به تاته سجده کوو نبي ﷺ منع وکړه او ورته وې ويل : که چيري د الله جل جلاله پرته بل چاته سجده روا وای نوښځو ته به يې امر کړی وای چي خپلو مړو ته سجده وکړي بيا نبي ﷺ وفرمايل : په هغه ذات دي مي قسم وي چي زما روح يې په قدرت کي دئ چي ښځه به تر هغه وخته د خپل خدای حق ادا نه کړي ترڅو د مېړه حق يې نه وي ادا کړي ، په يو حديث کي راغلي دي چي که يوه ښځه په داسي حال کي مړه سوه چي مېړه يې ځني راضي و جنت ته به ځي ، په يوه حديث کي راغلي دي چي که چيري يوه ښځه د خپل مېړه څخه نا راضه سي او ولاړه سي جلا شپه تېره کړي ملائکي لعنت باندي وايي ،په يوه حديث کي راغلي دي چي د دوو کسانو لمونځ چي تر سر پورته سي د قبوليت لپاره آسمان ته نه ځي يو غلام چي د بادار څخه تښتېدلی وي دوهمه ښځه چي مېړه ځني ناراضه وي.

۱۴ - د حضرت ام عمار رضي الله عنها اسلام او په جنګ کي ګډون

حضرت ام عمار رضي الله عنها يوه انصاري صحابيه ده چي د اسلام په پيل کي مسلمانه سوې ده او په بيعة العقبة کي يې ګډون کړی دی دعقبة معني دَرَه ده نبي ﷺ په اول کي خلګ په پټه مسلمانانول ځکه کافرانو دغه مسلمانانو ته بيا ډير تکليفونه ورکول د مدينې څخه خلګ د حج په زمانه کي راتلل د مني په غره کي يوه دره وه په دغه دره کي په پټه مسلمانانېدل . د هجرت وروسته چي کله د جنګونو سلسله پيل سوه نو دا په زياتو جنګونو کي شريکه سوې ده خصوصاً د احد ،حديبة ، خيبر ، عمرة القضاء ، حنين او ديمامة په جنګونو کي يې ګډون کړی دئ د احد په غزا کي دا خپله قصه کوي چي د احد په غزا کي ما لوښي د اوبو ډک کړي وه احد ته روانه سوم د دې لپاره چي ورسم مسلمانان د نژدې څخه ووينم چي څه حال يې دئ که تږي وه او به به ورکړم او که څوک زخمي و دوا به ورکړم په دغه وخت کي د دې عمر

---

(۱) اسدالغابة

دروڅلوېښت کاله وو او ددې دوه زامن او مېړه هم په دغه غزا کې وه دا وايي په اول کې مسلمانانو فتحه تر لاسه کړه وروسته د کافرانو برلاسي ښکاره سوه ما رسول اللهﷺ ته نژدې ځان ورسوی کوم کافر چې به د رسول اللهﷺ و خواته تلی هغه به مې منع کوی په اول کې ددې سره ډال نه وو ورسره وروسته بیا ور کړل سو چې د کافرانو حملې به یې په منعه کولې یو ټوکر یې تر ملا تړلي و د ربنکیو (زړوټوکرانو) څخه ډک و کله چې به څوک زخمي سو نو دستي به یې یو ټوکر را واخیستی و به یې سوځی او هغه زخم به یې په ډک کړی خپله هم زخمي سوه دوولس یا دیارلس ځایه زخمي سوه په دغه زخمو کې یو زخم ډیر زیات و . ام سعیدؓ وایي : ما ددې پر اوږو یو ژور زخم ولیدئ ما پوښتنه ځني وکړه چې دا زخم څنګه جوړ سوی دئ؟ دې راته وویل : د احد په غزا کې کله چې خلګ لالهانده یوې او بلې خواته ګرځېدل نو ابن قیمة را مخکي سو او وې ویل : محمدﷺ چیري دئ؟ماته یې یو څوک را وښیاست که نن ژوندی ولاړی نو بیا زما خلاصون نسته . مصعب بن عمیرؓ او څو کسان یې ومخته ورغلل په هغو کسانو کې زه هم وم ابن قیمة زما پر اوږه ګذار وکړی ما هم څو ګذارونه پر وکړه خو هغه دوې زغري اغوستي وي هیڅ تاثیر یې پر و نه کړی. دغه زخم داسي سخت زخم و چې په ټوکرانو سره مي علاج وکړي خو علاج یې نه و سو . کله چې رسول اللهﷺ د حمراء الاسد د جنګ اعلان وکړی ام عمارؓ هم ملا وتړله خو لکه څرنګه چې زخم یې ډیر تازه و په دغه وجه یې شرکت نه وکړی ، رسول اللهﷺ چې کله د غزا څخه راغلی نو لومړی یې ددې حال معلوم کړی کله چې خبر سو چې دا ښه ده نو ډیر خوشاله سو ددې څخه علاوه نور زخمونه هم ددې پر بدن د احد په غزا کې جوړ سوي وه ، ام عمارؓ فرمایي چې په اصل کې دوی سپاره وه موږ پلي (پیاده) وو که چیري دوی یعني کافران هم پیاده وای نو اصلي مقابله به معلومه سوې وای ، کله چې به پر آس یو څوک سپور راغلی نو دهغه حملې به ما په ډال منعه کولې خو کله چې به هغه بلي خواته روان سو نو ما به دهغه دآس پښه پرېکړه آس به غوزار سو سپور به هم راپرېوتی کله چې به هغه راپرېوتی نو نبيﷺ به زما زوی ته ناره وکړه زوی به مې راغلی زما مرسته به یې وکړه په دواړو به مو مړ کړی ددې زوی عبدالله بن زیدؓ فرمایي : زما چپه مټ زخمي سو وینه یې نه درېدل نبيﷺ وفرمایل چې پر دغه مټ پټۍ وتړه زما مور راغله دملا څخه یې ربنکۍ را وایستل او پټۍ یې را وتړل بیا یې راته وویل : ځه ولاړ سه د کافرانو سره مقابله وکړه نبيﷺ داپېښه ولیدل او وې فرمایل : اې ام عمار ! دا ستا په ډول څوک همت لري؟ (یعني هیڅوک دومره همت نه لري چې خپل زخمي زوی دي جنګ ته استوي). نبيﷺ په دغه حالت کې دې او ددې کورنۍ ته څو ـ څو واره

دعاوي وکړې او ستاینه یې وکړه ام عمار رضي الله عنها فرمايي يو وار يو کافر راغلی نبي ﷺ وفرمایل: اې ام عمار! دا هغه سړی دئ چي ستا زوي یې زخمي کړی دئ دا وايي ما حمله پرې وکړه پر پنډۍ مي ووا هه هغه زخمي سو دستي کښېناستی بیا زموږ څو خلګ ورمخته سوه هغه مو مړ کړی نبي ﷺ مسکی سو او راته وې ویل: د خپل زوی بدله دي واخیستل. دا وايي: کله چي نبي ﷺ موږ ته دعاوي کولې ما ورته وویل: اې د الله ﷻ رسوله ﷺ! موږ ته دعا وکړه چي الله ﷻ مو ستا سره په جنت کي یو ځای کړي کله چي نبي ﷺ دغه دعا ورته وکړل دې ورته وویل: چي اوس نو زه هيڅ پروانه کوم هر څو مره تکليفونه چي په دنيا کي پر ما تېر سي. د احد د غزا څخه علاوه دا په نورو غزاوو کي هم شريکه سوې ده کارنامې یې معلومي سوي دي. د نبي کريم ﷺ د وفات وروسته د اسلام څخه اوښتل زيات سوه او په يمامة کي سخت جنګ وسو دا په دغه سخت جنګ کي هم شريکه سوه په دغه غزا کي دد دې يو لاس پرې سوی دئ او يوولس زخمونه یې پر بدن باندي جوړ سوي دي د دغه زخمو په حالت کي مديني منوري ته ورسېده.(۱)

فایده: دا د يوې ښځي د کارنامو حال دئ چي د احد په غزا کي یې عمر د روڅلوېښت کاله و او د يمامة په غزا کي یې عمر د وپنځوس کاله و بيا یې هم داسي په جنګو کي ګډون کاوه دي ته نو کرامت ويل کيږي.

۱۵ – د حضرت ام حکيم رضي الله عنها اسلام او په جنګ کي ګډون

ام حکيم بنت حارث د عکرمة بن ابي جهل بي بي وه او د احد په غزا کي یې د کافرانو د لوري څخه ګډون کړی و کله چي مکة مکرمه فتحه سوه نو مسلمانه سوه د خپل خاوند سره یې زياته مينه وه خو هغه د خپل پلار ابو جهل د اثر له وجهي نه و مسلمان سوی کله چي مکة فتحه سوه نو خاوند یې يمن ته وتښتېدئ دې د رسول الله ﷺ څخه د خپل مېړه د پاره امن وغوښتی بيا خپله يمن ته ولاړه او مېړه یې په ډېر تکليف راضي کړی چي ستا لپاره مي د نبي ﷺ په لمن کي امن غوښتی دئ ته د رسول الله ﷺ د توري څخه پناه پيدا کولای سې نو هغه مديني منورې ته ورسره راغلی مسلمان سو دواړو په خوشحاليږوند تېراوه.

---

(۱) طبقات

وروسته د حضرت ابو بکر رضی الله عنه په خلافت کې د روم جنګ وسو عکرمة رضی الله عنه ګډون پکښې وکړی دغه ښځه هم ورسره وه ، عکرمة رضی الله عنه په دغه غزا کې شهيد سو ، بيا د دغه بي بي سره حضرت خالد بن سعيد رضی الله عنه نکاح وکړه ده مبارک په دې سفر کې په مرج الصفر نومي ځای کې د يو ځای کېدو غوښتنه وکړه دې ورته وويل : اوس لا هم د دښمن وېره ده يو څه صبر وکړه ده ورته وويل : زه په دغه جګړه کې خپل شهادت په سترګو وينم نو په يوه خيمه کې يو ځای والی وکړی سهار د وليمې انتظام کېدئ چې د روميانو فوځيانو راپورته سوه سخت جنګ شروع سو حضرت خالد بن سعيد رضی الله عنه شهيد سو ام حکيم رضی الله عنها هغه خيمه را واخيستله چې شپه يې پکښې تېره کړې وه خپل ټول سامان يې پکښې وپېچی خپله يې د کافرانو مقابله شروع کړه او وه کسان يې په يوازې سر ووژل.(۱)

فايده : زموږ ښځې وګوره د يوې خوا خو په داسې حالت کې نکاح ته نه تيارېږي که تياري هم سي نو په داسې ناڅاپه مرګ سره تر ډېرو ورځو پورې ژاړي جهاد کول خو لا څه کوي دې مبارکې د ژړا پر ځای جهاد شروع کړی او وه کسان يې په ښځينه لاس ووژل .

۱٦ - د حضرت سمية ام عمار رضی الله عنها شـــهادت

سمية بنت خياط رضی الله عنها د حضرت عمار رضی الله عنه مور وه چې قصه يې د اول باب په اوومه شمېره کې تېره سوې ده دې هم د خپل خاوند او زوی په څېر د اسلام لپاره ډول ، ډول تکليفونه تېر کړي دي خو د اسلام ميني چې ددې په زړه کې کوم کور جوړ کړی و له وجهې يې ددې په زړه کې يوه ذره فرق هم نه راتلی دا به يې د ګرمۍ په سخت وخت پر ډبرو پرې ايستل د اوسپني تو دې زغرې به يې په واغوستلې بيا به يې ودرول د دوبي په ګرمي کې چې اوسپنه ډېره تو دېږي دا به په ډېر سخت تکليف کې وه نبي ﷺ چې به کله د دوی وخوا ته تېرېدئ نو د صبر نصيحت به يې ورته کاوه او د جنت وعده به يې ورکول يو ځلي بي بي سمية رضی الله عنها ولاړه وه ابو جهل په ډېر درد او غصه سره دا مبارکه په نېزه په شرمګاه کې ووهل او د هغه زخم څخه وفات سوه . د اسلام په خاطر دا تر ټولو لومړۍ شهيده ده.(۲)

(۱) اسدالغابة

(۲) اسدالغابة

فایده : د ښځو دومره صبر زغم او همت د غبتې ورډې یعني (دا چې کاشکي زه هم داسي وای) خو اصلي خبره داده چې د چا په زړه کي چې کوم شی کور جوړ کړي بیا د هیڅ شي پروانه کوي او هر څه ورته اسانه کیږي ، اوس هم داسي په لس ګونو قصې راځي چې خلک خپل ځانونه قربانوي مګر که ځان قربانول د الله ﷻ په لاره کي وي ، ددین لپاره وي او دهغه ژوند لپاره وي چې ترمرګ وروسته راځي نو دکامیابی سبب ګرځي اوکه دنیوي مقصد پکښې وي نو دنیا خو یې ولاړه آخرت یې هم برباد سو .

۱۷- د حضرت اسماء بنت ابوبکر رضي الله عنهما ژوند او تنګ لاسي

حضرت اسماء رضي الله عنهما د ابوبکر رضي الله عنه لوروه ، د حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنه موروه او دحضرت عائشې رضي الله عنها میرېزې خوروه او مشهوره صحابیه بي بي ده د اسلام په پیل کي مسلمانه سوې ده ویل سوي دي چې دا دلسو نارینوو څخه وروسته مسلمانه سوې ده او د هجرت څخه اوویشت کاله مخکي پیدا سوې ده کله چې حضرت محمد ﷺ او حضرت ابوبکر رضي الله عنه و مدینې منورې ته هجرت وکړی نو زید رضي الله عنه او داسي نورېې ولېږل ددې لپاره چې د دوی اهل او عیال راولي دهغې خوا د دوی سره حضرت اسماء رضي الله عنهما هم راغله کله چې قباء ته راورسېده نو عبدالله بن زبیر رضي الله عنه پیدا سو د هجرت وروسته دا لومړی پیدا ښت دئ .ددغه زمانې فقر ، مسکنت مشهور و خو ننګ ، همت زړه ورتیا او جفا کشي یې هم ښې ساري وه ، په بخاري شریف کي د اسماء بنت ابي بکر رضي الله عنهما د ژوند حالات په خپله ددې څخه نقل سوي دي چې دا وایي : کله چې زما نکاح د زبیر رضي الله عنه سره وسوه ، دده سره نه مال وو ، نه جایداد وو او نه غلام و یو اوښ یې درلودئ چې اوبه به یې پرې راوړلې او یو آس یې درلودی ، ما به هم داوښ لپاره واښه راوړل ، خرما خستکي به مي ورته راوړلې میدولي به مي د دانو په ډول به مي په خوړلي .ما به پخپله اوبه راوړلي د اوبو څلواغه چې به وشکېده په خپله به مي ګنډله او هم به مي د آس خدمت په خپله کوی، واښه او دانې به مي ورکولې او دکورټول کار او خدمت به مي کاوه مګر ډوډۍ پخول مي ښه نه وه زده نو اوړه به مي واغښل د همسایه انصارو کورته به مي وروړل د همسایه د کور ډېره ریشتني مخلصه ښځه وه زما ډوډۍ به یې راپخه کړه . رسول الله ﷺ په مدینه کې وزبیر رضي الله عنه ته یوه ټوټه ځمکه ورکړه چې نژدې دوه میله لیري وه ما به دهغه ځای څخه پر خپل سر د خرماوو هډوکي راوړل زه یوه ورځ په دغه ډول چې بار مي پر سر و نبي ﷺ په مخه راغلی چې پر اوښ را روان و او یوه

د له انصار هم ورسره وه نبي ﷺ چې زه ولیدم نو آس یې ودراوه او اوښ ته یې د چوکېدو اشاره وکړه د دې لپاره چې زه پر سپره سم زه د خلګو په مخکې پر اوښ باندې په سپرېدو شرمېدمه او دامي هم په فکر کې وه چې زبیر رضي الله عنه ډېر غیرتمن دئ کېدای سي دده پر طبیعت ګرانه پرېوزي، نبي ﷺ ته زما حال معلوم سو چې دا شرمیږي نو بیرته کورته روان سو او زه چې خپل کورته چې ورسېدم و زبیر رضي الله عنه ته مې قصه وکړه چې زه شرمېدم هم او ستا د غیرت فکر مي هم کاوه، زبیر رضي الله عنه وویل: قسم په الله جل جلاله چې ستا پر سر د هډوکو راوړل ماته تر دغه هم ګران دي (مګر مجبوري وه مسلمانان زیات وخت په جهاد او نورو د دین په کارو اخته وه نو له دې امله زیات د کور کارونه ښځو کول) دا مبارکه وایي ددې څخه وروسته زما پلار ابوبکر رضي الله عنه یو غلام راواستوی چې نبي ﷺ ده ته ورکړی و هغه غلام د آس خدمت کاوه زه د آس د خدمت څخه ډېره ستړې وم غلام چې راغلي زه داسي سوم لکه د لوی بند څخه چې خلاصه سوم.(۱)

فایده: د عربو دا رواج و او اوس یې هم دا رواج دئ چې د خرما وو هډوکي میده کړي بیا یې میچن کړي وروسته یې په حیواناتو د دانې په ډول خوري.

۱۸- د حضرت ابوبکر رضي الله عنه دهجرت په وخت کې داسماء رضي الله عنها خپل نیکه ته تسلي ورکول

حضرت ابوبکر رضي الله عنه چې کله د هجرت اراده وکړه نو فکر یې کاوه چې ښایي پر لارې د ډېرو تکلیفونو سره مخ سو او نبي ﷺ هم ورسره و نو څه پیسې چې ورسره وې ټولې یې د ځان سره واخیستې (چې نژدې پنځه یا شپږ زره درهمه کېدې) ددې څخه وروسته د حضرت ابوبکر رضي الله عنه پلار ابو قحافه چې په سترګو ړوند و او تر دغه وخته پورې لا مسلمان سوی هم نه و خپلې لمسۍ ته د تسلي لپاره راغلی او ورته وې ویل افسوس چې ابوبکر رضي الله عنه په خپل تګ سره تاسو ته تکلیف ورساوی او ښایي خپل ټول مال یې هم وړي وي دا بیا بل تکلیف دئ، اسماء رضي الله عنها وایي چې ما ورته وویل: یا، نیکه! زما پلار ډېر مال پرې ایښی دئ دا خبره مې ورته وکړه دستي مې کوچنۍ، کوچنۍ ډبرې را ټولې کړې او په یوه ټوکره کې مې غوټه کړې او په هغه تاخچه کې مې کښېښودې چې پیسې به ایښودل کېدې نیکه چې لاس پر وګرځاوه ورته معلومه سوه چې تاخچه د پیسو ډکه ده نو وې ویل دا یې ښه کړي دي ستاسو

---

(۱) بخاري - فتح

په ګوزاره په وسي اسماء رضي الله عنها وايي قسم په خداى ﷻ زما پلار يوه پيسه هم نه وه پرې ايښې خو ما دخپل نيکه دتسلي لپاره او د دې لپاره چې غمجن نسي دغه چم مي ورته وکړی.(١)

فايده: داد همت او صبر خبره ده که نه نو تر نيکه به دغه نجونو زيات غم کاوه او هر څو مره شکايتونه چې يې نيکه ته په دغه وخت کي کړي واى صحيح و ځکه ظاهري اسره يې په دغه نيکه وه په دغه وخت کي چې نيکه و دې ته متوجه کړې چې د يوې خوا د پلار جلا والى دئ او دبلي خوا د مال نيستي ده د دې سره ،سره د مکې او سيدونکي د دوی سره چنداني اړيکي هم نه لرلي او اکثره يې دښمنان وه ځکه دوی مسلمانان وه خو الله ﷻ دغه مبارکو انسانانو هر يوه ته جلا جلا نارينه وکه ښځينه وو يوه-يوه ځانګړتيا ورکړې وه چې د انسان غبته پرې کيږي يعني دا چې کاشکي ما هم داسي ځانګړتيا درلوداى ، حضرت ابوبکر رضي الله عنه په اول کي زيات مالدار و او لوی تاجرو خو اسلام ته د راتلو وروسته يې د الله ﷻ په لاره کي دومره پيسې خرڅي کړي چې د تبوک په غزا کي يې ټوله مال راوړی او وريې کړي لکه د شپږم باب په څلورمه قصه کي يې چې بيان په تفصيل سره وسو په همدا وجه رسول الله ﷺ فرمايي : ماته د هيچا مال دومره فايده نه ده رسولې لکه دابوبکر رضي الله عنه مال چې فايده را رسولې ده ما د هر چا د احسانونو بدله ورکړې ده خو دابوبکر رضي الله عنه د احسانونو بدله به الله ﷻ ورکوي.

١٩ - د حضرت اسماء رضي الله عنها سخاوت

حضرت اسماء رضي الله عنها ډېره سخي وه په اول کي به يې صدقه په ټاکلې اندازه ورکول يعني په تول او ترازو يا په پيمانه به يې خيرات کاوه خو کله چې رسول الله ﷺ ورته وويل : پيسو ته غوټه مه ورکوه ، تړل مکوه او حساب مه کوه څومره چې دې توان وي صدقه ورکوه بيا يې زيات خيراتونه کول خپلو لوڼو او د کور ښځو ته به يې داسي نصيحت کاوه : کله چې د الله ﷻ په لاره کي صدقه کول غواړی نو د دې انتظار مه کوئ چې پيسې به زياتي سي بيا به صدقه ورکړم که مو دا انتظار کاوه هيڅکله پيسې نه زياتيږي ځکه اړتياوي هم ور سره

---

(١) مسند احمد

ډېرېږي او که مو بيله انتظاره پيسې مصرفولې نو ستاسو په پيسو کې به هيڅ کمی رانسي.(١)

فايده : ددې مبارکو انسانانو لاسونه چې په پيسو کې څومره تنگ وه پدغه پيمانه د دوی لاسونه په صدقه ورکولو کې پراخ او لوی وه. (عجيبه داده چې د رسول الله ﷺ په زمانه کي هيچا د مسکنت شکايت نه کاوه) او اوس ټول خلک د مسکنت څخه شکايت کوي سره ددې چې هيڅ به اوس داسي ډله پيدا نه کړی چې په نسو پوري يې ډبري تړلي وي يا يې څو ورځي په نهاره تېري کړي وي .

٢٠- د نبي ﷺ د لور حضرت زينب رضي الله عنها هجرت او وفات

د دواړو جهانو د سردار حضرت محمد ﷺ لور زينب رضي الله عنها د نبوت لس کاله مخکي پيدا سوې ده يعني هغه وخت چې نبي کريم ﷺ ډېرش کلن و او د خپلي خاله د زوی ابوالعاص بن ربيع سره يې نکاح وسوه کله چې نبي ﷺ هجرت کاوه نو دا نه ورسره ولاړه ددې خاوند د کافرانو له لوري د بدر په غزا کي راغلی و بيا ونيول سو دمکې خلکو چې کله د خپلو بنديانو لپاره فديې راواستولې نو دې مبارکي هم د خپل خاوند لپاره فديه راواستول په هغه فديه کې اميل و چې خديجې رضي الله عنها و دې ته د واده په وخت کي ورکړی و نبي ﷺ چې اميل وليدی نو بي بي خديجة رضي الله عنها ور په ياد سوه او دسترګو څخه يې اوښکي راغلې ، د اصحابو رضي الله عنهم په مشوره دا پرېکړه وسوه چې ابوالعاص دي د فديې پرته آزاد سي په دې شرط چې دی مکې ته ولاړ سي نو زينب رضي الله عنها دي مدينې ته راولېږي ، دوه کسان د زينبې رضي الله عنها د راوستلو لپاره ورسره کړل سوه يعني هلته چې ورسيږي نو دغه دوه مسلمانان به د مکې دباندي تم سي ، ابوالعاص به دوی ته دامبارکه په لاس ورکړي زينب رضي الله عنها خپل ليور کنانة پر اوښ سپره او روانه سوه . د مکې کافران چې په دې پېښه خبر سوه نو اور پر بل سو دستي يې يوه ډله دمقابلې لپاره ولېږل چې په هغو کې يو بن اسود و چې دخديجې رضي الله عنها د تربره زوی وو په همدې لحاظ د زينبې رضي الله عنها د ورور په درجه کي و او يو بل نفر ورسره و. پر حضرت زينب رضي الله عنها باندي يې د نېزې واری وکړ ی دا مبارکه د اوښ څخه راولوېده ، څرنګه چې ماشوم يې په نس و نو هغه ماشوم يې هم ضايع سو اکثره وايي چې دغه حمله کونکی جبار و کنانة د دوی

---

(١) طبقات

سره د غشو مقابله شروع کړه ابو سفیان ورته وویل د محمد ﷺ لور چي په دومره ښکاره ډول مدینې ته ځي دا خو موږ نه سو زغملای نو داسي وکړه چې اوس بېرته ولاړه سئ بل واري په پټه ولاړه سئ کنانة ورسره خوښه کړه د زینبي رضي الله عنها دغه زخم تر څو کاله پوري و او ددغه زخم څخه ناجوړه سوه او په اتم کال د هجرت وفات سوه

(رضي الله عنها و ارضاها)

نبي ﷺ فرمايي : زینب رضي الله عنها زما تر ټولو ښه لور وه ځکه زما په مینه کې يې ډېر تکلیفونه وزغمل دښځېدو په وخت کي نبي ﷺ خپله ددې وقبرته کښته سو دایې ښخه کړه نبي ﷺ چي کله وقبرته کښته سو نو ډېر غمجن و کله چي راپورته سو نو مخ يې ډېر روښانه (خوشاله) و اصحابانو رضي الله عنهم پوښتنه ځني وکړه (چي یا رسول الله ﷺ !ولي دي مخ مبارک خوشاله دئ؟)ده مبارک ورته وویل : چې زه د زینبي رضي الله عنها دناتوانی په فکر کي وم نو دعا مي وکړه چي الله ﷻ ددې څخه تکلیف او دقبر تنګوالی لیري کړي الله ﷻ دعا قبوله کړه.(١)

فايده : د نبي ﷺ لور ددین په خاطر دومره تکلیفونه تېر کړل چي آخر يې ساه پکښي ورکړل بیا هم د قبر د پراخوالي لپاره د نبي ﷺ د دعا اړتیا ورته پیدا سوه نو زموږ به څه حال وي؟ په همدې وجه د قبر د پراخوالي لپاره زیاتي دعاوي پکار دي ځکه نبي ﷺ به زیات وختونه دتعلیم په منځ کي دقبر د عذاب څخه پناه غوښتله.

اللهم احفظنا بمنک و کرمک و فضلک .

۲۱ – د حضرت ربیع بنت معوذ رضي الله عنها ديني غیرت

ربیع بنت معوذ رضي الله عنها یوه انصاري صحابیة وه په زیاتو غزا وو کي د نبي ﷺ سره ملګرې وه دزخمیانو درملنه به يې کول او د وژل سوو شهیدانو جسدونه به يې را پورته کول د نبي ﷺ د هجرت مخکي مسلمانه سوې وه او دهجرت وروسته واده سوه ددې د واده په ورځ نبي ﷺ ددې وکور ته تشریف یووړی هلته نجونو هغه شعرونه ویل چي داسلامي کارنامو او اسلامي مشرانو بیان پکښي سوي و چې د بدر په غزا کې شهیدان سوي وه په دوی کي یوه نجلۍ دا مصرع ویل : وَفِينَا نَبِي يَعلَمُ مَا فِي غَد . یعني په موږ کې یو نبي دئ چي د سبا په حال خبر دئ. نبي ﷺ ددغه شعر څخه منع کړه چي د سبا په حال خو یوازي الله ﷻ خبر دئ

---

(١) خمیس ،اسد الغابة

دربیع رضي الله عنها پلار معوذ په هغو کسانو کې وچې ابو جهل يې ووژه یوه ورځ یوه ښځه چې اسماء نومېده دیو څو ښځو سره یو ځای دربیع کورته ورغلل دې عطر خرڅول نو دربیع ځخه يې د معرفي کېدو غوښتنه وکړه لکه د ښځو چې همداسې دود دئ ربيع رضي الله عنها خپل ځان ورته معرفي کړی یعني خپل او د پلار نوم يې وروښودل هغې ښځې چې د معوذ نوم واورېدئ نو ورته وې ویل : د خپل سردار د قاتل معوذ لوریې؟(څرنګه چې ابو جهل د عربو سردار ګڼل کېدی نو له همدې وجهې دغې ښځې ورته وویل چې دخپل سردار د قاتل لورېې) ربیع رضي الله عنها چې ددې سوال واورېدئ ډېر درد (غصه) ورغله او ورته وې ویل زه د خپل غلام د قاتل لور یم (دربیع رضي الله عنها زړه نه منله چې ابو جهل دې ددې دپلار سردار ونوموول سي.) اسماء چې ددې خبره واورېده چې ابو جهل ته يې د غلام نسبت وکړی درد (غصه) ورغله ورته وې ویل زما عطر خرڅول پر تا باندې حرام دي ربیع رضي الله عنها ورته وویل پر ما باندې هم حرام دئ چې ستا څخه عطر واخلم ما په هیڅ عطرو کې دومره بد بویي نه وه لیدلې لکه ستا په عطرو کښې چې سته.([1])

فایده : ربیع رضي الله عنها فرمایي : چې د بدبویي لفظ مې ددې د سوځولو لپاره ووایه دا ددې مبارکې غیرت نه منل چې د دین ددښمن په اړه دې د سردار لفظ واوري . په نن زمانه کښې د دین د لویو دښمنانو لپاره د سردار تر لفظ لوړ الفاظ استعمالیږي که يې څوک منعه کړي نو خلک تنګ نظره ورته وایي او حال داچې نبي ﷺ فرمایي : تاسو منافق ته سردار مه وایاست که چیري هغه ستاسو سردار سو نو تاسو خپل رب ناراضه کړئ ([2]).

معلومات

دنبي اکرم ﷺ بیبیاني او اولادونه

دخپل آقا او د دواړو جهانو سردار نبي اکرم ﷺ د بیبیانو او اولادو حالات معلومول یو لوی شوق دئ او هر مسلمان ته په کار دئ چې د دوی په اړه یو لنډ معلومات په لاس راوړي او په لنډ دول يې ولیکي ځکه تفصیلي حالات لیکل يې لوی لوی کتابونه غواړي دنبي اکرم ﷺ د نکاحو شمېر چې د محدیثنو او مؤرخینو پرې اتفاق دئ د یوولسو بیبیانو سره

([1]) اسدالغابة

([2]) ابوداود

دئ تر دغه شمېر په زیاتو بیبییانو کښې اختلاف سته او پر دې خبره هم اتفاق دئ چې د نبيﷺ لومړی نکاح د بي بي خدیجې رضي الله عنها سره سوې ده خدیجة رضي الله عنها کونډه وه کله چې نبي عليه السلام نکاح ورسره کول دده مبارک عمر (٢٥) کاله و او ددې مبارکې عمر (٤٠) کاله و د نبيﷺ اولادونه دابراهیم څخه پرته نور ټول ددې څخه پیدا سوي دي چې بیان به یې وروسته راسي ۰

١- د حضرت خدیجې رضي الله عنها حالات

د حضرت خدیجې رضي الله عنها لومړی نکاح د ورقة بن نوفل رضي الله عنه سره په پلان کښې وه خود نکاح نصیب نه و سوی وروسته بیا د دوو نورو کسانو سره ددې نکاح سوې ده دا چې په دې دوو کسانو کښې به یې اول دچا سره نکاح کړې وي پدې کي اختلاف دئ زیات تاریخ پوهان په دې آند دي چې اول یې دعتیق بن عائذ سره نکاح سوې وه چې دده څخه یې یوه لور پیدا سوي وه چې نوم یې هنده وه کله چې غټه سول نو مسلمانه سوه او د اولادو خاونده سول. ځینو لیکلي دي چې د عتیق څخه یې یو زوی پیدا سو چې نوم یې عبدالله یا عبدالمناف و د عتیق څخه وروسته یې بیا نکاح د ابو هالة سره سوې ده د ابو هالة څخه یې دوه اولادونه سوي دي چې یو یې هند نومېده او بل یې هالة نومېده ځینو ویلي دي چې هند هلک و او هالة نجلۍ وه ځینو بیا ویلي دي چې دواړه هلکان وه خو هند د حضرت علي کرم الله وجهه تر خلافت پوري ژوندی و کله چې ابو هالة وفات سو بیا یې د حضرت رسول اکرمﷺ سره نکاح وکړه پدغه وخت کښې ددې عمر (٤٠) کاله و د نبيﷺ سره په نکاح کښې (٢٥) کاله پاته سوه دنبوت پر لسم کال د روژې په میاشت کي د (٦٥) کالو په عمر وفات سوه د نبيﷺ ددې سره زیاته مینه وه ددې په ژوند یې د هیڅ بلې ښځې سره نکاح ونکړه تر اسلام مخکي ددې لقب طاهره وه په همدې وجه ددې اولادونه د نور ښځو څخه ټاکلي دي او بنو طاهره ورته ویل کیږي ددې مبارکي فضائل (مناقب) د حدیثو په کتابو کښې زیات راغلي دي ددې دوفات څخه وروسته نبيﷺ پخپله ددې و قبر ته ورکښته سو او په خپلو مبارکو لاسونو یې ښخه کړه تر دغه وخته پوري دجنازې د لمانځه حکم نه و راغلی وروسته بیانبيﷺ د حضرت عائشې او سودې رضي الله عنها سره نکاحي کړي دي پدې خبره کښې هم اختلاف دئ چې لومړی یې د چا سره نکاح وکړه ځینو تاریخ پوهانو لیکلي دي چې اول یې د

عائشې رضي الله عنها سره نکاح وکړه ځينو ويلي دي چې لومړی يې د سودې رضي الله عنها سره نکاح وکړه او وروسته يې د عائشې رضي الله عنها سره نکاح وکړه.

۲- دحضرت سودې رضي الله عنها حالات

حضرت سوده رضي الله عنها هم کونډه وه ددې دپلار نوم زمعه بن قيص و ددې اوله نکاح د خپل داکا د زوی سکران بن عمرو سره سوې ده دواړه مسلمانان سول او حبشې ته يې هجرت وکړ ی سکران په حبشه کښې وفات سو ځينو ليکلي دي چې مکې ته راغلی بيا وفات سو دده دوفات وروسته د نبوت په لسم کال چې کله خديجة رضي الله عنها وفات سوه څو ورځې وروسته دنبي اکرم ﷺ ددې سره نکاح وسوه ددې سره واده د حضرت عائشې رضي الله عنها ترواده د ټولو په اتفاق مخکې سوی دئ دنبي ﷺ مبارک عادت دا و چې په زيات وخت به په لمانځه کې مشغول ويو ځلي نبي ﷺ ته دې وويل چې مابښام تا دومره اوږده رکوع وکړه چې زه پر دې وبېرېدلم چې د پزي څخه به مي ويني ولاړې سي (دې به د نبي ﷺ وروسته په نبي ﷺ پسې لمونځ کاوه څرنګه چې دا دبدن څخه درنه وه نو له امله به يې تکليف ورپېښ سوي وي) يو ځلي نبي ﷺ ددې د طلاق اراده وکړه دې مبارکې ورته وويل چې اې د الله ﷺ رسوله! زه د مېړه خواهش نلرم خو دا مې خوښه ده چې په جنت کې ستا په بيبيانو کښې داخله يم نو تاسې وماته طلاق مه راکوی زه د خپلې شپې نوبت و حضرت عائشې رضي الله عنها ته ورکوم په همدې وجه به ددې د شپې واری د حضرت عائشې رضي الله عنها په برخه کښې راتلی په (۵۴) يا (۵۵) هجري کال کښې وفات سوې ده ځينو ليکلي دي چې د حضرت عمر رضي الله عنه په خلافت کښې وفات سوه ددې څخه علاوه يوه بله ښځه د سودې په نامه هم سته چې د قريشو د قوم څخه ده دهغې سره هم نبي ﷺ د نکاح کولو اراده وکړه دې ورته وويله چې زما تر ټوله دنيا ته خوښ يې خو زما پنځه يا شپږ اولاد ونه دي ماته دا خبره ګرانه ده چې هغه ستا سرته ولاړ وي ژاړي او چيغې وهي نبي ﷺ ددې خبره خوښه کړل او ددې ستاينه يې وکړل او دنکاح اراده يې پرېښوده.

۳- د حضرت عائشې رضي الله عنها حالات

دحضرت عائشې رضي الله عنها سره په مکة مکرمة کښې دنبوت پر لسم کال د کوچنې اختر په مياشت کښې رسول الله ﷺ نکاح وکړه پدغه وخت کې ددې عمر شپږ کاله و د نبي ﷺ په بيبيانو کې يوازې دا پيغله وه نوري ټولي کونډياني وي چې نکاح يې ورسره وکړل د نبوت څلور

کاله وروسته دا پیدا سوې ده د هجرت په وخت کښې ددې عمر نهه (۹) کاله و د (۱۸) کالو په عمر یې د حضرت محمد ﷺ سره مخه ښه وکړه یعني نبي ﷺ ځیني وفات سو په (۵۷) هجري کال کښې دروژې پر اوولسمه دسې شنبې په شپه د (٦٦) کالو په عمر وفات سوه دې مبارکې وصیت وکړی چې ما په عمومي هدیره کښې د نورو بیبیانو سره ښخه کړی داغسې هم وسوه په بقیع (نومي هدیره) کښې دفن سوه، په عربو کښې دا خبره زیاته مشهوره وه چې د کوچني اختر په میاشت کښې نکاح بې برکته وي حضرت عائشة رضی الله عنها فرمایي: زما نکاح د نبي ﷺ سره هم د کوچني اختر په میاشت کښې وسوه او واده مي هم د نبي ﷺ سره د کوچني اختر په میاشت کښې وسو د نبي ﷺ په بیبیانو کښې چې تر ما زیاته برخمنه وه بي بي خدیجة رضی الله عنها وه. د خدیجې تر وفات وروسته خولة رضی الله عنها د حکیم لور د نبي ﷺ حضور ته ورغله او ورته وې ویل چې اې د الله جل جلاله رسوله! تاسو نکاح نکوئ؟ نبي ﷺ وفرمایل د چا سره؟ دې ورته وویل پیغله هم سته او کونډه هم سته نبي ﷺ ورته وویل چې څوک دي؟ دې ورته وویل چې پیغله ستاسو دېر دوست حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه لور عائشه ده او کونډه سوده بنت زمعه ده، نبي ﷺ وویل ښه خبره ده وې کړئ دا ددې ځایه څخه د ابوبکر صدیق رضی الله عنه کور ته ولاړه او حضرت عائشې رضی الله عنها مور ام رومان رضی الله عنها ته یې وویل چې زه د یو لوی خیر او برکت سره راغلې یم هغې پوښتنه وکړه چې څنګه برکت دئ؟ دې ورته وویل چې نبي ﷺ زه د عائشې سره د نکاح کولو لپاره رالیږلې یم، ام رومان رضی الله عنها ورته وویل چې عائشه رضی الله عنها خو د نبي ﷺ وریره ده د هغه سره څنګه نکاح کېدلای سي خو بیا هم ښه دئ چې ابوبکر رضی الله عنه راسي حضرت ابوبکر رضی الله عنه پدغه وخت کښې په کور کې نه و تر راتګ وروسته دې دغه بیان ورته وکړی هغه هم دغه جواب ورکړی چې دا خو د نبي ﷺ وریره ده د نبي ﷺ سره نکاح څنګه کېدای سي خولة رضی الله عنها ولاړه نبي ﷺ ته یې قصه وکړل نبي ﷺ ورته وویل چې ابوبکر رضی الله عنه خو زما د اسلام ورور دئ د هغه دلور سره زما نکاح جائز ده خولة رضی الله عنها راغله و ابوبکر رضی الله عنه ته یې د نبي ﷺ وینا واورول د څه وخت وروسته ابوبکر صدیق رضی الله عنه وویل: نبي ﷺ را وغواړه نبي ﷺ د ابوبکر صدیق رضی الله عنه کور ته تشریف یووړی نکاح وسوه هجرت چې وسو څو میاشتې وروسته ابوبکر رضی الله عنه و نبي ﷺ ته وویل چې تاسو خپله بي بي یعني عائشة رضی الله عنها ولې نه و دوئ؟ نبي ﷺ د سامان د نه برابرېدو عذر ورته وکړی حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د نذرانې یو څه پیسې وړاندې کړې چې په دغه پیسو سره د واده تیاري وسوه د هجرت وروسته د کوچني اختر د میاشتې په لومړی یا دوهمه ورځ د څاښت په وخت کې د ابوبکر رضی الله عنه په کور کې واده وسو دغه درې نکاحې د نبي ﷺ د هجرت مخکې سوې دي ددې څخه وروسته څومره نکاحې چې

سوي دي تر هجرت وروسته سوي دي د حضرت عائشې ﷞ څخه وروسته د حضرت عمر ﷜ د لور حفصې ﷞ سره نکاح وسوه.

۴- د حضرت حفصې ﷞ حالات

حضرت حفصة ﷞ پنځه کاله مخکي تر نبوت په مکة کې پیدا سوې ده لومړی نکاح یې په مکة کي د خنیس بن حذافة ﷜ سره سوې ده دی هم زوړ مسلمان و لومړی یې حبشي ته هجرت وکړی بیا یې مدینې منورې ته هجرت وکړی دبدر په غزا کي یې ګډون کړی دی پدغه غزا یا د احد په غزا کي زخمي سو چي ددغه زخمه څخه جوړ نسو په دوهم یا دریم کال د هجرت وفات سو. حضرت حفصې ﷞ هم د خپل خاوند سره حبشې هجرت کړی و بیا مدینې ته راغلې وه کله چي کونډه سوه نو حضرت عمر ﷜ لومړی د حضرت ابوبکر ﷜ څخه غوښتنه وکړه ددې لپاره چې دده دلور حفصې سره نکاح وکړي حضرت ابوبکر ﷜ چوپ سو کله چي د حضرت عثمان ﷜ بي بي حضرت رقیة ﷞ وفات سوه نو حضرت عمر ﷜ و حضرت عثمان ﷜ ته د خپلي لور حفصې ﷞ د نکاح یادونه وکړه عثمان ﷜ په جواب کي ورته وویل: زه فی الحال د نکاح اراده نه لرم. حضرت عمر ﷜ و نبي ﷺ ته شکایت وکړی چي دوی زما د لور سره نکاح نه کوي، نبي ﷺ وفرمایل: زه د حفصې ﷞ لپاره تر عثمان بهتر سړی دربښیم او د عثمان لپاره تر حفصې بهتره میرمن ښیم وروسته نبي ﷺ په دوهم یا دریم کال د هجرت پخپله د حفصې ﷞ سره نکاح وکړه او عثمان ﷜ ته یې خپله لور ام کلثوم په نکاح ورکړه.

د حفصې ﷞ په لومړی خاوند کي د تاریخ پوهانو اختلاف دئ ځیني وایي چي د بدر په غزا کي زخمي سو او دغه زخم څخه شهيدَ سو او ځیني وایي چې د احد په غزا کي زخمي سو دبدر غزا په دوهم کال د هجرت وه او د احد غزا په دریم کال د هجرت وه په همدې وجه ددې مبارکي د نکاح په نېټه کي هم اختلاف سته حضرت ابوبکر ﷜ فرمایي: ماته چي کله عمر ﷜ د حفصې ﷞ د نکاح وویل نو زه له دې وجهي چوپ سوم چي نبي ﷺ ددې د نکاح بیان ماته کړی و، قبلولای مي ځکه نسوه چي نبي ﷺ یې د نکاح اراده درلوده او انکار مي ځکه نسو کولای چې د نبي ﷺ راز مي نسو ښکاره کولای (ځکه که مي انکار کړی وای عمر ﷜ دلیل راڅخه غوښتی درواغ مي نسوای ورته ویلای خامخا به مي رشتیا ورته ویلای) که چېري نبي ﷺ د حفصې ﷞ د نکاح اراده نه درلودای نو خامخا به ما نکاح ور سره

کړې وای. حضرت عمر رضي الله عنه وایي ما ته د عثمان رضي الله عنه تر انکار دابوبکر رضي الله عنه انکار ډېر غمونکی و. حضرت حفصة رضي الله عنها ډېره عابده وه زیات وخت به د شپې ویښه وه عبادت به یې کاوه او زیات وخت به یې روژې نیولې، نبي ﷺ یو وخت په یوڅه وجه دې ته طلاق ورکړی او پر دغه خبره باندې د عمر رضي الله عنه خوابدتیا پکار وه نو حضرت جبرئیل علیه السلام تشریف راوړی او وې ویل: چې الله جل جلاله فرمایي چې حفصې رضي الله عنها ته بېرته رجوع وکړه دا به د شپې زیات وخت بیداره وه (عبادت به یې کوی) او زیات وخت به یې د ورځې روژې وې. د عمر رضي الله عنه لحاظ هم پکښې منظور و په همدغه وجه نبي ﷺ بیرته رجوع ورته وکړه، په پنځه څلویښتم هجري کال د جمادي الاولي (ددریمې خور) په میاشت کې د دروشپېتو کالو په عمر وفات سوه ځینو لیکلي دي چې په یو څلویښتم هجري کال د شپېتو کالو په عمر وفات سوه. ددې د نکاح وروسته نبي ﷺ د زینب رضي الله عنها سره نکاح وکړه.

۵- د حضرت زینب بنت خزیمة رضي الله عنها حالات

حضرت زینب رضي الله عنها د خزیمة لور وه ددې مبارکې په لومړۍ نکاح کې اختلاف دئ ځینو لیکلي دي چې لومړۍ نکاح یې د عبدالله بن جحش سره سوې ده چې د احد په غزا کې شهید سو قصه یې په اووم باب اوله شمېره کې تېره سوه وروسته یې دنبي ﷺ سره نکاح وسوه ځینو لیکلي دي چې لومړۍ نکاح یې د طفیل بن حارث سره وسوه بیا ده طلاق ورکړی دطلاق وروسته دده ورور عبیده بن حارث په نکاح کړه عبیده بن حارث رضي الله عنه د بدر په غزا کې شهید سو وروسته نبي ﷺ نکاح د هجرت یو دېرش میاشتي وروسته په دریم هجري کال د روژې په میاشت کې ور سره وکړه، اته میاشتي د نبي ﷺ په نکاح کې وه وروسته په څلورم هجري کال د دوهمې خور په میاشت کې وفات سوه. د نبي ﷺ په بیبیانو کې حضرت زینب او حضرت خدیجة رضي الله عنها د نبي ﷺ په ژوند کې وفات سوي دي نوري ټولي نه سره دده مبارک تر وفات وروسته وفات سوي دي حضرت زینب رضي الله عنها ډېره سخي وه په همدغه وجه داسلام مخکې ددې نوم ام المساکین و یعني د مسکینانو مور، بیا نبي ﷺ ددې نوم ام سلمة کښېښودئ. ددې دنکاح وروسته د نبي ﷺ نکاح د حضرت ام سلمة رضي الله عنها سره وسوه.

٦- د حضرت ام سلمې رضي الله عنها حالات

حضرت ام سلمة رضي الله عنها د ابو امية لور وه ددې مبارکې لومړی نکاح خپل د اکا د زوی ابو سلمة رضي الله عنه سره سوي ده چي اصلي نوم يې عبد الله بن عبد الاسد و، ام سلمة رضي الله عنها او خپل خاوند په اول کي مسلمانان سوي دي وروسته د کافرانو د لاسه تنګ سوه حبشې ته يې هجرت وکړی د حبشې څخه بيا مدينې ته راغلل په حبشه کي يې يو زوی وسو چې سلمة نومېدئ چي قصه يې د دغه باب په پنځمه شمېره کي په تفصيل سره تېره سوه په مدينه کي چي اوسېدل يو هلک د عمر په نامه يې پيدا سو ا دوې لوڼي يې د دره او زينب په نامه پيدا سوې ابو سلمة رضي الله عنه د لسو نارينوو څخه وروسته مسلمان سوی دئ د احد او بدر په غزاوو کي يې ګډون کړی دئ د احد په غزا کي زخمي سو د دغه زخم څخه يې ډېر تکليفونه پر ځان تېر کړل وروسته د صفري په مياشت کي د څلورم کال د هجرت و يوې سريې ته ولاړی (سريه معنی د کافرانو سره کوچنی جنګ چي رسول الله ﷺ پکښې ګډون نه وي کړی) د هغې څخه راتګ پر وخت يې زخم تازه سو د دغه زخم څخه په څلورم کال د هجرت د څلورمې خور (جمادي الثاني) په مياشت کې شهيد سو. حضرت ام سلمة رضي الله عنها په دغه وخت کي حامله وه يعني عيال داره وه زينب يې په نس وه. کله چي پيدا سوه نو عده يې پوره سوه، حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه و دې ته د نکاح خواهش وکړی دې عذر ورته ووايه وروسته رسول الله ﷺ د نکاح غوښتنه ځني وکړه دې مبارکي ورته وويل: يو خو زما سره زوی سته او بل زما په طبيعت کي غيرت سته زما هيڅوک قريب نسته (يعني دا چي زما غيرت نه قبلوي چې د قريبانو پرته پر خپل سر نکاح وکړم) رسول الله ﷺ ورته وويل: ستا د زوی خو الله ﷻ ساتونکی دئ او غيرت به ولاړ سي ستا د قريبانو څخه به هيڅوک دا نسب نا خوښه نه کړي چي تا نکاح ور سره کړې ده دې مبارکي خپل زوی سلمة ته وويل چي زما نکاح د نبي ﷺ سره را وتړه، په څلورم کال د هجرت د کوچني اختر د مياشتې په آخره ددې نکاح د نبي ﷺ سره وسوه ځينو دوهم او ځينو دريم کال ليکلي دئ. ام سلمة رضي الله عنها فرمايي: ما د نبي ﷺ څخه اورېدلي دي چې چا ته مصيبت ورسېږي او لاندي دعا ووايي الله ﷻ به د هغه سوي تاوان غوره بدله ورکړي: اللهم اجرني في مصيبتي واخلفني خيراً منها. ژباړه: اې الله ﷻ! ما ته د غم مزدوري راکړې او د غم په بدل کي غوره بدله راکړي. ام سلمة رضي الله عنها وايي: کله چي ابو سلمة رضي الله عنه وفات سو نو ما دغه دعا ويل او فکر به مي کاوه چي تر ابو سلمة رضي الله عنه به نو بهتر څوک وي الله ﷻ زما نکاح د

رسول اللهﷺ سره راوکړه. ددې د ښایست ډېر نوم تللی وو عائشهؓ وایي ما ددې ډېر تعریف اورېدلی و نو کله چي ددې نکاح وسوه نو زه په یوه بهانه په پټه، پټه ولاړم ورته ومي کتل کله چي مي ولیدل نو تر هغه ډېره ښائسته وه چي ما یې تعریف اورېدلی و بیا ما حفصېؓ ته ددې بیان وکړ حفصېؓ راته وویل: یا دومره نه ده ښائسته لکه نوم چي یې تللي دئ د رسولﷺ په بیبیانو کې تر ټولو وروسته په (۵۹) هجري کال او یا په (۶۲) هجري کي وفات سوه په دغه وخت کي یې عمر څلور اتیا کاله و چې په دغه لحاظ نهه (۹) کاله مخکي تر نبوت پیدا سوې ده څرنګه چي ددې نکاح تر زینب بنت خزیمهؓ تر وفات وروسته وسوه نو ځکه دا د زینب بن خزیمهؓ په خونه کې اوسېده، داچي هلته ورغلل په خونه کې په یوه ټوکره کي لږ اوربشي غوټه دي یوه میچن پرته ده دې مبارکي هغه اوربشي میده کړې پخې یې کړې غوړي یې ور واچول د مالیدې په څېر یې یو شی ځني جوړ کړی په اوله ورځ یې نبيﷺ ته د خوراک لپاره کښېښودئ ددې د نکاح وروسته نبيﷺ د زینب بنت جحش سره نکاح وکړه.

۷- د حضرت زینب بنت جحشؓ حالات

داد نبيﷺ د عمة لور وه لومړی نکاح یې د زید بن حارثؓ سره سوې وه چې نبيﷺ په زوی والي سره نیولی و وروسته ده طلاقه کړه بیا اللهﷻ پخپله ددې نکاح د رسول اللهﷺ سره وکړه چي قصه یې په سورة احزاب کې بیان سوې ده دغه وخت ددې عمر پنځه دېرش کاله و، دمشهوري وینا مطابق ددې نکاح دمیانۍ په میاشت کې سوې ده ځینو یې کال دهجرت دریم کال ښودلیدئ خو صحیح خبره داده چې پنځم هجري کال و پدغه حساب نو داد نبوت اولس کاله مخکي پیدا سوې ده دې په دې وجه فخر کاوه چې دټولو بیبیانو نکاحي د هغو خپلوانو کړي دي او زما نکاح اللهﷻ کړې ده، کله چي حضرت زیدؓ دې ته طلاق ورکړي نبيﷺ دې ته د نکاح پیغام ولېږی، دې په جواب کي ورته وویل زه تر هغه پوري فیصله نکوم تر څو زه د خپل خدای ﷻ سره مشوره ونکړم، دا یې وویل اودس یې تازه کړی دوه رکعته نفل یې وکړ بیا یې داسي دعا وکړه: اې الله که ته زما نکاح ستا دپیغمبر سره کول غواړې او زه دهغه قابله یم نو زما نکاح د رسول اللهﷺ سره وکړې دې چي دا خبره وکړه اللهﷻ دا آیات نازل کړې:

فَلَمَّا قَضَىٰ زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَٰكَهَا لِكَيْ لَا يَكُونَ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ فِيٓ أَزْوَٰجِ أَدْعِيَآئِهِمْ إِذَا قَضَوْا۟ مِنْهُنَّ وَطَرًا ۚ وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ مَفْعُولًا ﴿٣٧﴾ (۱)

ژباړه : نو کله چې زيد خپله اړتيا له هغې (زينب ﷺ) څخه پوره کړه (جوړوالی يې ورسره نه راغلی) نو موږ هغه (زينب ﷺ) ستا په نکاح کښې درکړه دپاره ددې چې پر مومنانو باندي تنګي را نسي په ښځو کي د زوی نيول سوي (يعني د نيول سوي زوی د ښځي سره نکاح روا سي) کله چې هغوی خپل ضرورت پوره کړی وي ، او د الله ﷻ امر خامخا کېدونکی دی .

دغه آيات چې نازل سو نبي ﷺ دې ته زېری ور واستوی، دا چې خبره سوه د خوشحالی څخه پر سجده پرېوته ، نبي ﷺ ددې د نکاح وليمه (د واده ډوډۍ) په لوړ شان وکړه يوه بزه يې حلاله کړه د غوښو او ډوډۍ ميلمستيا يې وکړه ټولو خلګو ته يې په ماړه نس ډوډۍ ورکړه يوه ډله چې به فارغه سوه نو بلې ډلي ته به يې بلنه ورکړه ، زينب ﷺ ډېره سخي وه او پخپله به يې خواري کښله چې يو شی به ځني زيات سو هغه به يې خيراتوی، ددې په باره کي رسول الله ﷺ فرمايلي دي : چې زما سره به تر وفات وروسته لومړی بې بې هغه څوک وي چې لاسونه يې اوږده وي ، بيبيانو يوه لښته را وخيستله ظاهري اوږدوالی يې مراد کړی خپل لاسونه يې اندازه کړه په ټولو کي د سودې ﷺ لاسونه اوږده وه د نبي ﷺ تر وفات وروسته چې دستي دا وفات سوه نو معلومه سوه چې دلاسو داوږدوالي څخه ظاهري اوږدوالی نه دئ مراد بلکي سخا ترې مراد ده ددې مبارکي ډيري روژې هم نيولې د هجرت په شلم کال د پنځوسو کالو په عمر وفات سوه دجنازې لمونځ حضرت عمر ﷺ ورکړی.ددې قصه په هم دغه باب کي په لسمه شمېره کي تېره سوه . ددې څخه وروسته نبي ﷺ د جويريې ﷺ بنت الحارث بن ابي ضرار سره نکاح وسوه.

۸- د حضرت جويرية بنت الحارث ﷺ حالات

داد مريسيع په غزا کي په بنديانو کي راغلي وه د غنيمت د مال د وېش پر مهال د حضرت ثابت بن قيس ﷺ ته په برخه ورغلل د بندي کېدو مخکي د مسافع بن صفوان په نکاح کښي وه حضرت ثابت ﷺ دا په نهه اوقيو سرو زرو په بدله کي مکاتبة کړه ، مکاتبة دې ته

(۱) سورة الاحزاب الاية (۳۷)

ویل کېږي چې بادار و خپل غلام ته ووايي چې ته ماته دومره پیسې راوګټه یا یې راپیدا کړه زه به تا آزاد کړم. یوه اوقیه څلوېښت درهمه ده او یو درهم درې نیمې انې کیږي [1] په اوسني حساب د نو (۹) اوقیو قیمت اته اویا درهمه او دولس آنې کیږي، که چیرې درهم څلور انې سي نو نوي (۹۰) درهمه کیږي.

دا مبارکه د نبي ﷺ حضور ته ورغله او ورته وې ویل: اې د الله ﷻ رسوله ﷺ! زه د خپل قوم د سردار حارث لور یم ماته چې کوم مشکل پېښ دی و تاسي ته معلوم دئ اوس زه په دومرې پیسو باندي مکاتبه سوې یم دغه پیسې زما د توان څخه وتلي دي اوس ستاسي په امید راغلې یم نبي ﷺ ورته وویل زه به تا ته ډېره ښه لاره دروښیم هغه دا چې پیسې به در کړم آزاده به دې کړم او نکاح به در سره وکړم، رښتیا هم تر دې ښه لاره نه وه دې هم په خوشحالۍ سره قبوله کړه د مشهورې وینا له مخې په پنځم هجري کال یې نکاح وسوه ځینو شپږم هجري کال ښودلی دئ اصحابو کرامو ﷺ چې کله واورېدل چې په بنو المصطلق د نبي ﷺ خسرګنۍ سوه نو دوی هم ددې خپلوۍ په درنښت خپل خپل غلامان آزاد کړل ویل سوي دي چې د یوې حضرت جویریې ﷺ له وجهې سل کورنۍ آزادي سوې چې نژدې اووه سوه نارینه پکښې شامل وه د نبي ﷺ په ټولو نکاحو کښې دا ډول مصلحتونه موجود وه.

حضرت جویریة ﷺ ډېره ښایسته وه په مخ کښې یې ملاحت ((نمکي والي)) موجود و ویل سوي دي چې چا به ورته وکتل نو نه به ترې ولاړېدئ، حضرت جویریې ﷺ ددې جنګ څخه مخکي یو خوب لیدلی و چې د یثرب څخه یوه سپوږمۍ را روانه وه او زما په غیږ کښې را ولوېده دا وايي چې زه کله بندي سوم نو ماته د خپل خوب د ختلو امید پیدا سو دغه وخت ددې عمر شل (۲۰) کاله و د مخکني قول مطابق دا مبارکه په پنځوسم (۵۰) هجري کال په لومړي خور کښې د (۶۵) کالو په عمر په مدینه منوره کښې وفات سوه په ځینو روایاتو کښې ددې وفات په (۵۶) هجري کال کښې د (۷۰) کالو په عمر لیکل سوي دئ.

---

[1] په حقیقت کي درهم د یوې زړې سکې نوم دی چې درې ماشې سپین زر کیږي د شیخ په زمانه کي نو درهم درې نیمې انې کېدی، انه یو پاکستاني اوهندی واحد دی چې هره انه (۱۵) پیسې کیږي او سل پیسې یوه پاکستانۍ یاهندۍ روپۍ کیږي. دشیخ (رحمة الله علیه په زمانه کي یودرهم درې نیمې انې کیده اوس یوه اوقیة زیاتي پیسې کیږي). ژباړن

۹ـ د حضرت اُم حبیبې رضي الله عنها حالات

دا مبارکه د ابو سفیان لور ده ددې په نامه کي اختلاف دئ ډېرو مرمله ددې نوم ښودلی دئ او ځینو بیا هند ښودلی دئ ددې اوله نکاح په مکة مکرمه کښي د عبدالله بن جحش سره سوې ده دا او ددې خاوند په اوله کښي مسلمانان سوي دي دوی دواړه د کافرانو د تکلیفونو له امله خپل وطن پرېښود دئ حبشې ته یې هجرت وکړی هلته چي ورسېدل مېړه یې پر اسلام پاته نسو بلکه نصراني سو دې هم په دغه شپه کښي خپل خاوند په خوب کښي په ډېر بد شکل ولیدئ سهار ورته معلومه سوه چي دی نصراني سوی دئ پردې چي په یوازي والي کښي کوم حالت تېر سوي دئ هغه یوائي و الله ﷻ ته معلوم دئ خو الله ﷻ ودې ته دا بدل ورکړی چي د نبي ﷺ په نکاح کښي راغله نبي ﷺ د حبشې پاچاه ته پیغام ولیږی چي د ام حبیبې رضي الله عنها نکاح زما سره وکړه نجاشي ابرهه نومي ښځه ودې ته د خبر لپاره ولېږل ، دې په خوشحالی کښي خپل دواړه بنګړي چي په لاس وې وه ، د پښو پازیبونه ، ګوتمی ، کړې او داسي نور شیان ورکړل نجاشي ددې نکاح وکړه او د خپل طرفه څخه یې څلور سوه دیناره مهر ادا کړی ډېر شیان یې ورکړل کوم خلګ چي د نکاح په مجلس کښي ناست وه هغوی ته یې د خوراک تر څنګ پیسې هم ورکړې دډېرو تاریخپوهانو په آند دغه نکاح په اووم هجري کال کښي سوې ده ځینو بیا شپږم کال ښودلی دئ د خمیس لیکوال لیکي : چي ددې نکاح په شپږم کال کښي وسوه او واده یې په اووم کال وسو کله چي دا مدینې ته را ورسېده نجاشي پاچا ډېري خوشبویاني ، سامانونه او داسي نور شیان ورکړي وه دنکاح وروسته یې د نبي ﷺ حضور ته ولېږل ځینو د تاریخ کتابونو لیکلي دي چي ددې نکاح ددې پلار وتړل مګر د حدیثو څخه نه معلومیږي او بل دا چي دا خبره ځکه صحیح نده چي ددې پلار تر دغه وخته پوري مسلمان سوي نه و تر دې قصې وروسته مسلمان سو ددې یوه قصه هم ددې باب په (۹) شمېره کښي تېره سوې ده . ددې په وفات کښي ډېر اختلاف دئ ډېرو خلګو (۴۴) سنه ښودلې ده او ددې څخه علاوه (۴۲) هجري سنه ، (۵۰) هجري سنه ، (۵۵) هجري سنه او داسي نوري سنې هم ښودل سوي دي.

۱۰ – د حضرت صفيې ﷺ حالات

حضرت صفية ﷺ د حيي لور ده د حضرت موسي ﷺ د ورور حضرت هارون ﷺ د اولادې ځخه ده اول د سلام بن مشکم په نکاح کښې وه وروسته بيا د کنانة بن ابي حقيق په نکاح کښې راغله دده سره يې په داسي وخت کښې نکاح وسوه چې جنګ شروع سوی واو ددې خاوند وژل سوی و ،د خيبر د جنګ ځخه وروسته د حيه کلبي ﷺ نومي صحابي د نبي ﷺ ځخه يوه مينځه وغوښته نبي ﷺ صفية ورکړه . څرنګه چې په مدينه منوره کي دوې لوی قبيلې يعني بنو قريظه او بنو نضير مخ په وده وې دا ديو سردار لوروه په دغه وجه ډېرو خلګو وويل چې ددې مينځيتوب ډېرو خلګو ته ناخوښه دئ که نبي ﷺ دا په نکاح واخلي نو د ډېرو خلګود زړه تسلي به وسي ، په دغه وجه نبي ﷺ و دحية ﷺ ته ډېر شي په بدله کي ورکړی دايې ځني واخيسته آزاده يې کړه او په نکاح يې واخيسته او د خيبر ځخه د راتګ پر مهال په يو کور کښې ددې واده وسو سهار نبي ﷺ واصحابو ته وويل : د چا سره چې کوم د خوراک شيان دي هغه راوړی اصحابانو چې جلا جلا د خوراک شيان در لوده لکه خرماوي ، پنير ،غوړي او داسي نور هغه يې راوړه دڅرمني پر يو ستر خوان باندي يې کښېښوده په ګډه يې وخوړل دا وليمه وه (يعني د واده ډوډۍ وه) .په ځينو روايتو کي راغلي دي چې نبي ﷺ ودې ته اختيار ورکړی او ورته وې ويل : که ته په خپل قوم او هيواد کي اوسېدل غواړې نو آزاده يې ولاړه سه او که زما سره په نکاح کي اوسېدل غواړې نو دلته اوسه دې ورته وويل : چې اې د الله ﷻ رسوله ﷺ ! زه چې د شرک په حال کي وم ما ستا خواهش درلودئ اوس چې مسلمانه سوم څنګه ولاړه سم ، ددې ځخه مراد غالباً هغه خوب و چې دې د مسلمانېدو ځخه مخکي ليدلی و دې مبارکي خپل خوب وخپل مېړه کنانة ته ويلی و چې ديثرب ځخه د سپوږمۍ يوه ټوټه زما په غېږ کې ولوېده مېړه يې يوه ټينګه چپلاخه داسي په زور ووهل چې په سترګو کي يې نښې معلومي سوې او ورته وې ويل چې ته د يثرب د پاچا سره نکاح کول غواړې؟ . يو واريې لمر په خوب ليدلی و چې ددې په سينه کي راغلی و دغه خوب يې هم خپل خاوند ته بيان کړي و هغه ورته ويلي وه چې ته غواړې د يثرب د پاچا په نکاح کې راسي ؟ چا ويلي دي چې دې خوب ليدلی و چې د سپوږمۍ يوه ټوټه يې په سينه کي راغلې وه دغه خوب يې خپل پلار ته بيان کړی و پلار يې هم يوه ټينګه چپلاخه پر مخ وهلې وه او ورته ويلي يې وه چې ته غواړې چې ديثرب پاچا ته ولاړه سې (دغه دوه درې

ډوله روايتونه راغلي دي دا چې کوم يو به صحيح وي) ممکنه ده چې دغه خوب يې مېړه او پلار دواړو ته ويلي وي او يا يې سپوږمۍ دوه واره ليدلې وي. د صحيح قول مطابق دا مبارکه د روژې په مياشت په سنه (۵۰) هجري کال د شپېتو کالو په عمر وفات سوه. دا وايي چې زه کله د نبيﷺ په نکاح کښې راغلم نو زما عمر اولس کاله لا نه و.

۱۱- د حضرت ميمونې رضي الله عنها حالات

حضرت ميمونه رضي الله عنها د حارث بن حزن لور وه او اصلي نوم يې بره وو نبيﷺ د دې نوم بدل کړی ميمونه نوم يې باندي کښېښودئ لومړی د ابو رحم بن عبد العزي په نکاح کښې وه د ډېر تاريخ پوهانو هم دا وينا ده چې نوموړی کس د دې لومړی خاوند و ځينو بيا ليکلي دي چې دې د نبيﷺ مخکي د دوو کسانو سره نکاح کړې ده. نبيﷺ چې کله په اووم هجري کال او عمرې ته تلی نو د دې سره يې د ميانې په مياشت کي په سرف نومي ځای کي نکاح وکړه د نبيﷺ اراده وه چې د مکي څخه تر بېرته ستنېدو وروسته د دې سره واده وکړي خو څرنګه چې د مکي خلګو نبيﷺ ته په مکة کي د اوسېدو اجازه ورنکړه نو ځکه تر بيرته راتګ وروسته يې په سرف کي واده وسو په سرف کي هم خاص په هغه ځای کي چې د واده خيمه وه. د صحيح قول مطابق دا مبارکه په سنه (۵۱) هجري کال کې وفات سوه ځينو د دې دوفات تاريخ سنه (٦١) هجري ښودلې ده په دغه وخت کي د دې عمر يواتيا کاله و او هم هلته يې قبر جوړ سو. دا هم د عبرت ځای دئ او تاريخي پېښه ده چې په يوه سفر کي نکاح وسي په دوهم سفر کي واده وسي او څه وخت وروسته يې هلته قبر جوړ سي.

حضرت عائشة رضي الله عنها فرمايي: ميمونه رضي الله عنها په موږ ټولو کي زياته پرهېزګاره او وسيله کونکي وه، يزيد بن اصم رضي الله عنه وايي: چې د دې بوختيا لمونځ او يا د کور کارو که چېري د دواړو څخه به فارغه سوه نو مسواک به يې واهه. د بيبيانو په نکاحو کي د ميمونې رضي الله عنها نکاح تر ټولو آخره وه په دغه خبره کي د ټولو محدثينو او مؤرخينو اتفاق دئ البته د بيبيانو د نکاحو په ترتيب کي اختلاف سته چې په وجه يې د دوی د نکاح په تاريخو کي اختلاف پيدا سوی دئ چې په مختصر ډول معلومه سوه، د نبيﷺ دوې بيبياني يعني خديجة او زينب بنت خزيمة رضي الله عنهما د نبيﷺ په ژوند کي وفات سوي دي نوري ټولي د نبيﷺ په وفات کي موجودي وې. د دغه بيبيانو څخه علاوه ځينو محدثينو او مؤرخينو د نبيﷺ نوري نکاحي هم ښودلي دي چې په کېدو کي يې اختلاف و نو ځکه ما د هغه بيبيانو حالات

لیکلي دي چې دمحدثینو پرې اتفاق دئ او دنورو حالات مې نه دي لیکلي کوم چې پکښې اختلاف دئ.

معلومات

دنبي ﷺ اولادونه

دمحدثینو او مؤرخینو پر دې خبره اتفاق دئ چې د نبي ﷺ څلور لونړې وې او دديري ځيرني وروسته معلوميږي چې تر ټولو مشره حضرت زینب رضي الله عنها ده دوهمه حضرت رقیة رضي الله عنها ده دریمه حضرت ام کلثوم رضي الله عنها ده څلورمه سیدتنا حضرت فاطمة رضي الله عنها ده، او په زامنو کي يې ډېر اختلاف دئ ځکه چې دوی مبارکان ټوله په کوچنیوالي وفات سوي دي. په دغه وخت کي د عربو د تاريخ چنداني پروا نه وه او سرتيري اصحابان هم په دغه وخت کي زيات نه وه چې هره خبره يې په پوره ډول ساتلې وای دزیاتو علماؤ څېړنه داده چې د نبي ﷺ درې زامن حضرت قاسم، حضرت عبدالله، او حضرت ابراهیم (علیهم السلام) سوي دي ځینو ویلي دي چې دنبي ﷺ نارينه اولادونه پنځه وو څلورم يې حضرت طاهر او پنځم يې حضرت طیب دي، ځینو ویلي دي چې طیب او طاهر داوړه دنبي ﷺ دیوه زوی نومان دي که داسي وي نو دنبي ﷺ نارینه اولادونه څلور کیږي، ځینو ویلي دي چې طیب او طاهر دواړه د عبدالله نومونه وه که داسي سي نو د نبي ﷺ نارينه اولادونه درې کيږي، ځینو ویلي دي چې د نبي ﷺ دوه زامن نور وه چې مطیب او مطهر دي دوی لیکلي دي چې طیب او مطیب یو ځای پیدا سوه او طاهر او مطهر یو ځای پیدا سوه په دغه ډول نو د نبي ﷺ د نارينه اولادو شمېر اوو ته رسيږي، خو د زياتو علماؤ څېړنه داده چې دنبي ﷺ نارينه اولادونه درې دي. همدا ډول د نبي ﷺ ټول اولادونه د ابراهیم عليه السلام څخه پرته د خديجې رضي الله عنها څخه پیدا سوي دي.

۱- دحضرت قاسم عليه السلام حالات

حضرت قاسم عليه السلام تر ټولو مخکي پیدا سوی دئ خو په دې کي اختلاف دئ چې حضرت زینب رضي الله عنها تر ده مشره وه او که کشره وه حضرت قاسم عليه السلام په کوچنیوالي کي وفات سو چې عمر يې دوه کاله و ځینو تر دې کم او زيات عمر لیکلي دئ.

۲- د حضرت عبدالله علیه السلام حالات

د نبي ﷺ دوهم زوی حضرت عبد الله علیه السلام دئ د نبوت څخه وروسته پيدا سوی دئ په هم دغه وجه ده مبارک ته طيب او طاهر ويل کيږي دئ هم په کوچنيوالي وفات سوی دئ ده مبارک په وفات باندي کافران ډېر خوشاله سوه ځينو ليکلي دي چي د حضرت قاسم په وفات باندي کافران ډېر خوشاله سوه ددې لپاره چي د نبي ﷺ نسل ختم سي او دا به يې ويل چې د نسل د ورکېدو څو ورځي وروسته به دده نوم هم ورک سي د دوی ددغه وينا په جواب کي الله ﷻ سورة کوثر نازل کړی چي دده مبارک نوم به ورک نسي هم داسي وسوه چي نن څوارلس پيړۍ وروسته هم دده مبارک نوم د سلهاوو زرو انسانانو په زړو کي سته.

۳- د حضرت ابراهيم علیه السلام حالات

د نبي ﷺ دريم زوی حضرت ابراهيم علیه السلام دئ چي د ټولو په اتفاق تر هجرت وروسته د لوی اختر په مياشت کي په اتم هجري کال کي پيدا سو د نبي ﷺ دغه مبارک زوی د نبي ﷺ د مينځي حضرت ماريې رضي الله عنها څخه پيدا سو او د نبي ﷺ تر ټولو وروستی نارينه اولاد دئ نبي ﷺ دده په اوومه ورځ دده عقيقة وکړه دوه پسونه يې حلال کړه (يعني د شکرانې په ډول يې اوومه ورځ والمانځل) نبي ﷺ دده د سر د ويښتانو په اندازه سپين زر خيرات کړل. ابو هند بياضي رضي الله عنه دده مبارک سر وروخرايه او د سر ويښتان يې ښخ کړه، نبي ﷺ وفرمايل: ماد خپل پلار ابراهيم علیه السلام نوم پر ده باندي کښېښودئ. دی مبارک د شپاړسو مياشتو په عمر د لومړۍ خور په لسمه نېټه په سنه (۱۰) هجري کي وفات سو. ځينو بيا دده عمر مبارک اتلس مياشتي ښودلی دئ. نبي ﷺ فرمايلي دي: چي ابراهيم علیه السلام لپاره په جنت کي شيدې ورکونکي مقرره سوه.

۴- د حضرت زينب رضي الله عنها حالات

حضرت زينب رضي الله عنها د نبي ﷺ تر ټولو مشره لوروه ځينو مؤرخينو ددې مبارکي نوم بل ډول ليکلی دئ خو صحيح نه دئ دا مبارکه د نبي ﷺ د نکاح پنځه کاله وروسته پيدا سوه په دغه وخت کي د نبي ﷺ عمر ديرش کاله و، د خپل مور او پلار په غيږ کي لو سوه، مسلمانه

سوه، دخپل خاله د زوی سره یې نکاح وکړه چې ابوالعاص بن ربیع ﷺ نومېده د بدر دغزاء څخه یې وروسته هجرت وکړی په دغه هجرت کښې د کافرانو د ناپاکو حرکتونو په لړ کښې زخمي سوه چې قصه یې دد ې باب په (۲۰) شمېره کښې تېره سوه دهمدغه زخم له امله د ژوند تر پایه پوري ناروغه وه اود (۸) هجري کال په شروع کښې وفات سوه دد ې خاوند هم په (٦، یا ۷) هجري کال کښې مسلمان سو کله چې یې خاوند مدینې منورې ته ورسېدئ نو دا مبارکه هم دده په نکاح کښې پاته سوه د بې بې زینبې ﷺ دخپل خاوند څخه دوه اولادونه پیدا سوي دي چې یو هلک او بله نجلۍ وه د هلک نوم یې علي و چې د خپلې مور د وفات وروسته د بلوغ څخه لږ څه مخکې د نبي ﷺ په ژوند کښې وفات سو همدغه علي د نبي ﷺ سره دمکې د فتحې په سفر کښې پر اوښه باندې سپور و. د نجلۍ نوم یې حضرت امامة ﷺ وه دا هغه نازولې وه چې دحدیثو په کتابو کښې یې ډېرې قصې راځي چې کله به نبي ﷺ لمونځ کاوه سجدې ته به ولاړی دا به یې پر ملا سپره سوه دا دنبي ﷺ تر وفات وروسته ژوندۍ وه.

حضرت فاطمة ﷺ چې دد ې خاله وه کله چې وفات سوه دد ې نکاح د حضرت علي ﷺ سره وسوه دحضرت علي ﷺ تر وفات وروسته یې بیا د مغیره بن نوفل سره نکاح وکړه د حضرت علي ﷺ دد ې څخه هیڅ اولاد ندی سوی مگر د مغیره څخه ځینو دیحیې په نوم یو زوی لیکلیدئ ځینو بیا دا خبره رد کړې ده. ویل سوي دي چې حضرت فاطمة ﷺ کله وفات کېده نو وصیت یې کړی و چې زما څخه وروسته دې حضرت علي ﷺ زما دخورزې سره نکاح وکړي حضرت امامة ﷺ په سنه (۵۰) هجري کښې وفات سوه.

۵- د حضرت رقیې ﷺ حالات

دنبي ﷺ دوهمه لور حضرت رقیة ﷺ وه دا مبارکه تر خپلې خور حضرت زینب ﷺ دري کاله وروسته پیدا سوې ده په دغه وخت کښې دنبي ﷺ مبارک عمر (۳۳) کاله و ځینو رقیة ﷺ تر زینب ﷺ مشره ښودلې ده خو صحیح خبره داده چې دا کشره وه د نبي ﷺ د اکا ابو لهب دزوی عتبه سره یې نکاح سوې ده کله چې د ابو لهب په شان کښې د الله ﷻ د لوري څخه سورة (لهب) نازل سو نو ابولهب خپلو دوو زامنو عتبه او عتیبه ته وویل: که چېري تاسو د محمد ﷺ لوڼو ته طلاق ورنکړی نو زما ملاقات ستاسو سره حرام دئ عتیبه ته نبي ﷺ دریمه لور ام کلثوم ورکړې وه په همدا وجه دوی دواړو د نبي ﷺ لوڼې

طلاقې کړې د دوی نکاح په کوچنيوالي کښې سوې وه په دغه وخت کښې لا د دوی واده نه و سوی کله چې مکة مکرمة فتحه سول نو د رقيې رضي الله عنها خاوند عتبه مسلمان سوی و خو بې بې ته يې لا پخوا طلاق ورکړی و او نکاح يې د حضرت عثمان رضي الله عنه سره د پر وخت مخکې سوې وه حضرت عثمان او حضرت رقية رضي الله عنها په دواړو وارو کښې وحبشې ته هجرت کړی و چې بيان يې د اول باب په لسمه شمېره قصه کښې تير سو تر دغه هجرتو وروسته نبي ﷺ و فرمايل ماته هم دهجرت امر کيدونکی دئ او زما د هجرت ځای به مدينه منوره وي د نبي ﷺ ددې خبري سره اصحابانو رضي الله عنهم مدينې ته سفر شروع کړی په دغه سلسله کښې د نبي ﷺ تر هجرت مخکې دوی دواړه مبارکان مدينې ته ورسيدل د نبي ﷺ تر هجرت وروسته چې يې کله د بدر وغزا ته تشريف وړی پدغه وخت کښې رقية رضي الله عنها ناروغه وه نبي ﷺ ددې د ناروغۍ په وجه حضرت عثمان رضي الله عنه ورته پرېښودی د بدر دغزا د فتحې زيری چې اصحابانو ته را رسيدئ په دغه وخت کې دوی د رقيې رضي الله عنها ښخېدو مراسم بشپړ کړي وه په همدغه وجه رسول الله ﷺ ددې په ښخيدو کې هم شريک نسو ددې داول خاوند سره واده نه و سوی نو دهغه مېړه څخه يې اولاد هم ندی سوی مگر د حضرت عثمان رضي الله عنه څخه يې يو زوی د عبدالله په نامه په حبشه کښې پيدا سوی دئ د خپل مور تر وفات وروسته هم ژوندی و اوپه سنه (۴) هجري کښې دشپږو کالو په عمر وفات سو ځينو بيا ليکلي دي چې تر خپلې مور تر مرگ يو کال مخکې وفات سو ددغه زوی پرته د رقيې رضي الله عنها بل هيڅ نارينه اولاد ندئ سوی.

٦ - دحضرت ام کلثوم رضي الله عنها حالات

دنبي ﷺ دريمه لور ام کلثوم رضي الله عنها ده په دې کښې هم اختلاف دئ چې ځيني وايي فاطمة رضي الله عنها مشره وه او ځيني وايي چې ام کلثوم رضي الله عنها مشره وه خو دزياتو په آند ام کلثوم رضي الله عنها مشره ده ددې نکاح هم لومړی د عتيبه سره سوې وه واده يې لا نه و سوی چې دسورة (لهب) په نازلېدو سره عتيبه دپلار ابولهب په امر طلاق ورکړی لکه چې د رقيې رضي الله عنها په قصه کې تير سو خو دهغې خاوند وروسته مسلمان سو او ددې خاوند عتيبه چې طلاق ورکوی نود نبي ﷺ حضور ته راغلی او په ډېره گوستاخه، بې ادبه او نامناسبه الفاظ يې د خولې څخه را وايستل نبي ﷺ ښراوي ورته وکړې او وې ويل چې اې الله ﷻ! د خپلو سپو څخه يو سپی پر ده مقرر کړې ابوطالب لا په دغه وخت کې ژوندی وکه څه هم مسلمان سوی نه و

طلاقي کړې د دوی نکاح په کوچنيوالي کښې سوې وه په دغه وخت کښې لا د دوی واده نه و سوی کله چې مکة مکرمة فتحه سول نو د رقيې رضي الله عنها خاوند عتبه مسلمان سوی و خو بېرې ته يې لا پخوا طلاق ورکړی و او نکاح يې د حضرت عثمان رضي الله عنه سره د پر وخت مخکې سوې وه حضرت عثمان او حضرت رقية رضي الله عنها په دواړو وارو کښې وحبشې ته هجرت کړی و چې بيان يې د اول باب په لسمه شمېره قصه کښې تير سو تر دغه هجرتو وروسته نبي ﷺ و فرمايل ماته هم دهجرت امر کېدونکی دئ او زما د هجرت ځای به مدينه منوره وي د نبي ﷺ د دې خبرې سره اصحابانو رضي الله عنهم مدينې ته سفر شروع کړی په دغه سلسله کښې د نبي ﷺ تر هجرت مخکې دوی دواړه مبارکان مدينې ته ورسېدل د نبي ﷺ تر هجرت وروسته چې يې کله د بدر وغزا ته تشريف وړی پدغه وخت کښې رقية رضي الله عنها ناروغه وه نبي ﷺ د دې د ناروغۍ په وجه حضرت عثمان رضي الله عنه ورته پرېښودی د بدر دغزا د فتحې زيرى چې اصحابانو ته را رسېدئ په دغه وخت کې دوی د رقيې رضي الله عنها د ښخېدو مراسم بشپړ کړي وه په همدغه وجه رسول الله ﷺ د دې په ښخېدو کې هم شريک نسو د دې د اول خاوند سره واده نه و سوی نو دهغه مېړه څخه يې اولاد هم ندی سوی مګر د حضرت عثمان رضي الله عنه څخه يې يو زوی د عبدالله په نامه په حبشه کښې پيدا سوی دئ د خپل مور تر وفات وروسته هم ژوندی و او په سنه (۴) هجري کښې د شپږو کالو په عمر وفات سو ځينو بيا ليکلي دي چې تر خپلې مور تر مرګ يو کال مخکې وفات سو ددغه زوی پرته د رقيې رضي الله عنها بل هيڅ نارينه اولاد ندئ سوی.

٦ - دحضرت ام کلثوم رضي الله عنها حالات

دنبي ﷺ دريمه لور ام کلثوم رضي الله عنها ده په دې کښې هم اختلاف دئ چې ځينې وايي فاطمة رضي الله عنها مشره وه او ځينې وايي چې ام کلثوم رضي الله عنها مشره وه خو دزياتو په آند ام کلثوم رضي الله عنها مشره ده د دې نکاح هم لومړی د عتيبه سره سوې وه واده يې لا نه و سوی چې دسورة (لهب) په نازلېدو سره عتيبه د پلار ابولهب په امر طلاق ورکړی لکه چې د رقيې رضي الله عنها په قصه کې تير سو خو دهغې خاوند وروسته مسلمان سو او د دې خاوند عتيبه چې طلاق ورکوی نو د نبي ﷺ حضور ته راغلی او په ډېره ګوستاخه، بې ادبه او نامناسبه الفاظ يې د خولې څخه را وايستل نبي ﷺ ښراوي ورته وکړې او وې ويل چې اې الله ﷻ د خپلو سپو څخه يو سپی پر ده مقرر کړې ابوطالب لا په دغه وخت کې ژوندی و که څه هم مسلمان سوی نه و

خو دنبي ﷺ د ښراوو څخه بېرېدئ او ده ته يې وويل چې د دغو ښراوو څخه ستا خلاصېدل نسته او همدغسي وسول يوه ورځ عتيبه وشام ته سفر كاوه پلار ابو لهب يې د نبي ﷺ د ډيري دښمنۍ سره ـ سره وده ته وويل چې زما سره د نبي ﷺ د ښراوو فكرسته د قافلې وټولو خلگو ته يې وويل چې زما پر زوى باندي به زيات پام او فكر كوئ دوى يوځاى ته ورسېدل په هغه ځاى كښي ډېر زمريان موجود وه د قافلې خلگو د قافلې ټوله شيان سره يو ځاى كړل او يوه لويه غونډه يې ځني جوړه كړل د شپې يې عتيبه سربېره پر دغه غونډۍ بيده كړى دوى خپله دڅلورو طرفو نو څخه شاو خواپرې را وګرځېدل كله چې دوى بيده سول يو زمرى راغلى دټولو خولې يې بوى كړې آخر د كالو غونډۍ ته پورته سو پر سر باندي يې عتيبه پيدا كړى سريې د بدن څخه ورجلا كړى يوه ناره يې وكړه خلګ چې راپورته سول كار يې تر كار تېر سوي و يعني مړ سوى و، ځينو مؤرخينو ليكلي دي چې داپېښه و عتبه ته پېښه سوې ده او عتيبه مسلمان سوى و خو په هرصورت د ام كلثوم او حضرت رقيې رضي الله عنها په خاوندانو كښي يو تن مسلمان سوى دئ او بل تن ته يې دغه دعبرت قصه ورپېښه سوې ده په همدې وجه خلګ د الله ﷻ د دوستانو د دښمنۍ څخه بيرېږي الله ﷻ په حديث قدسي كښي فرمايي :(من عادى لي وليا فقد اذنته با لحرب) ژباړه : څوک چې زما د دوست سره دښمني كوي هغه ته زما د جنګ اعلان دئ .د حضرت رقيې رضي الله عنها تر وفات وروسته په سنه (۳) هجري كي د ام كلثوم رضي الله عنها نكاح د حضرت عثمان رضي الله عنه سره وسوه د نبي ﷺ ارشاد دئ چې ما د ام كلثوم رضي الله عنها نكاح د عثمان رضي الله عنه سره د آسماني وحيو په امر وكړل، ځينو ويلي دي چې نبي ﷺ دغه وينا د ام كلثوم او رقيې رضي الله عنها دواړو په اړه وه د ام كلثوم رضي الله عنها د لومړى مېړه سره واده نه و سوى نو اولاد خو يې بيخي دهغه مېړه څخه ندئ سوى او د حضرت عثمان رضي الله عنه څخه يې هم اولاد ندئ سوى دامباركه په سنه (۹) هجري د برات په مياشت كښي وفات سوه ، نبي ﷺ ددې د وفات څخه وروسته وفرمايل : كه چيري زما سل لوڼي واى په همدغه ډول وفات كېدلاى نو ما به يو په بل پسي و حضرت عثمان رضي الله عنه ته په نكاح وركولاى.

۷- دحضرت فاطمې رضي الله عنها حالات

د نبي ﷺ څلورمه لور د جنتيانو ښځو سرداره حضرت فاطمة رضي الله عنها ده چې په عمر كي د زياتو تاريخ پوهانو په آند كشره وه د نبوت څخه يو كال وروسته پيدا سوه پدغه وخت كي د نبي ﷺ عمر مبارک (۴۱) كاله و ځينو ليكلي دي چې د نبوت پنځه كاله مخكي پيدا سوې ده

چې دنبي ﷺ عمر (۳۵) کاله و وايي چې ددې نوم دالهام يا د وحيو په ذريعه ايښودل سوی دئ د فطم څخه اخيستل سوی دئ په معني د منع کولو دئ دا مبارکه هم د دوزخ له اوره څخه محفوظه ده په سنه(۲) هجري د حسن حسين، صفري، خدای تعالي او يا د روژې په مياشت کښې يې نکاح د حضرت علي ﷺ سره وسوه اوه مياشتي او پنځلس ورځې وروسته يې واده وسو دا نکاح هم د الله ﷻ په حکم وسوه پدغه وخت کښې ددې عمر پنځلس کاله او پنځه مياشتي و ، ددغه خبري څخه هغه وينا تائيديږي چې دا مبارکه د نبوت څخه يو کال وروسته پيدا سوې ده پدغه وخت کښې د حضرت علي ﷺ عمر يو ويشت کاله پنځه مياشتي او يا څلرويشت کاله يوه نيمه مياشت و دنبي ﷺ په ټولو لوڼو کښې ددې سره زياته مينه وه نبي ﷺ چې به کله يو ځای په سفر تلی نو تر ټولو وروسته به يې ددې څخه رخصت اخيستيا وکله چې به يې د سفر څخه تشريف راوړی نو لومړی به يې ددې کورته تشريف وړی . حضرت علي کرم الله وجهه د ابوجهل دلور سره د دوهمي نکاح کولو اراده وکړه دا غمجنه سوه او نبي ﷺ ته يې شکايت وکړی ، نبي ﷺ وفرمايل : فاطمة ﷺ زما د بدن ټوټه ده که چادې ته تکليف ورسوی ماته يې تکليف ورسوی په همدې وجه حضرت علي ﷺ ددې په ژوند کښې بله نکاح نه وکړه ددې تر وفات وروسته يې ددې مبارکي دخورزې حضرت امامة ﷺ سره نکاح وکړه چې بيان يې د زينب ﷺ په حالاتو کښې تير سو ، دنبي ﷺ دوفات څخه شپږ مياشتي وروسته حضرت فاطمة ﷺ ناروغه سوه يوه ورځ يې خدمتګاري ته وويل : زه غسل کوم اوبه راته تياري کړه (اوبه يې تياري سوې)غسل يې وکړی پاکي جامې يې واغوستي بيا يې وويل چې زما بستره دکور په منځ کښې کړئ (بستره چې کښېښودل سوه) دې مبارکي تشريف ورووړی مخ يې وقبلې ته کړئ خپل راسته لاس يې تر مخ لاندي کښېښودی اووې ويل : زه اوس مړه کيږم دايې وويل وفات سوه . د نبي ﷺ د اولادو سلسله ددې څخه را روانه ده او تر قيامته پوري به چليږي ددې مبارکي شپږ اولاده وسوه درې يې زامن وه او درې يې لوڼې وي لومړی يې د نکاح په دوهم کال حضرت حسن ﷺ زوی پيدا سو .د نکاح په دريم کال يعني سنه (۴) هجري کښې يې حضرت حسين ﷺ پيدا سو بيا حضرت محسن ﷺ پيدا سو او دکوچني والي په وخت کښې وفات سو په لوڼو کي يې حضرت رقية ﷺ په کوچني والي کي وفات سوې ده په همدې وجه ځينو مؤرخينو نده ليکلې ، دوهمه لور يې حضرت ام کلثوم ﷺ وه چې لومړی نکاح يې د اميرالمؤمنين حضرت عمر ﷺ سره وسوه دده څخه يې يو زوی د زيد په نامه او يوه لور د رقيې په نامه پيدا سوه د حضرت عمر ﷺ د وفات څخه وروسته د ام کلثوم ﷺ نکاح د حضرت عون بن جعفر ﷺ سره وسوه دده څخه

يې هيڅ اولادونه سو دده دوفات وروسته يې نکاح دده د ورور محمد بن جعفر رضي الله عنه سره وسوه دده څخه يې هم هيڅ اولاد ونه سو ، دده د وفات وروسته يې د عبدالله بن جعفر سره نکاح وسوه او هم دده په نکاح کښي ام کلثوم رضي الله عنها وفات سوه ددې د وفات په ورځ ددې مبارکي زوی زيد هم وفات سو دواړي جنازي په يو واري پورته سوې او ددې مبارکي د اولادو هيڅ سلسله ونه چلېدل دا درې مبارکان حضرت عبدالله ، عون او محمد رضي الله عنهم هغه ورونه دي چي په شپږم باب يوولسمه شمېره کي يې قصه تېره سوه د حضرت علي رضي الله عنه وريرونه دي او د حضرت جعفر طيار رضي الله عنه زامن دي .د حضرت فاطمې رضي الله عنها دريمه لور حضرت زينب رضي الله عنها ده چي د عبدالله بن جعفر سره يې نکاح وسوه او دوه زامن يې عبدالله او عدن پيدا سول او هم دده په نکاح کښي وفات سول ددې د وفات وروسته حضرت عبدالله بن جعفر ددې د خور حضرت ام کلثوم رضي الله عنها سره نکاح وکړه . دا هم د حضرت فاطمې رضي الله عنها اولادونه دي ، ددې مبارکي تر وفات وروسته چي علي رضي الله عنه د کومو بيبيانو سره نکاحي کړي دي د هغوی څخه يې هم اولادونه سته چي تاريخ پوهانو دوديرش ليکلي دي چي په هغې کښي شپاړس زامن او شپاړس لوڼې دي . د حضرت امام حسن رضي الله عنه پنځلس زامن او اته لوڼې دي او د حضرت حسين رضي الله عنه شپږ زامن او درې لوڼې دي .

رضي الله تعالي عنهم وارضا هم اجمعين وجعلنا بهديهم متبعين والله اعلم و علمه اتم.(۱)

يوولسم باب

د کوچنيانو ديني جذبــه

د اصحابو رضي الله عنهم کوچنيانو اولادونو چي کومه ديني جذبه درلوده دا په حقيقت کي د دوی د مشرانو د ښې تربيې نتيجه وه . که چېري مور او پلار او نور دوستان د خپل اولاد د مينې د ضايع کيدلو پر ځای د دوی د ديني حالت پوښتنه کوي او ورته نصيحت کوي نو د دين کارونه به د دوی د اولادو په زړو کښي ځای ونيسي کله چي لوی سي دغه کارونه به د دوی عادت وګرځي بدبختانه چي موږ د اولادو پر بدو کارو نو ستر ګي پټوو او که مو زيات د مينې جوش راسي نو په خوشاليږو که چيري د دين په کارو کښي سستوالی کوي نو موږ

---

(۱) ملخص من الخميس والزرقاني علي المواهب والتلقيح والاصابة واسدالغابة

خپل زړه ته تسلي ورکوو او وایو چې لوی سي په خپله به سم سي او حال دا چې کوم عادتونه چې په کوچنیوالي کښې تخم کرلي وي هغه عادتونه پاخه سوي دي بیا نه ایسته کېږي، تاسو غواړې چې د زوزو تخم وکړئ او بیا په حاصل کي غنم لاسته راوړئ دا خبره مشکله ده که تاسو غواړئ چې په اولادو کښې مو ښه عادتونه پیدا سي او د دین په ټولو کارو کښې دي پوره پاملرنه وکړي نو تاسي پخپلو اولادو کښې د کوچني والي څخه د دین د اهتمام عادت جوړ کړئ، اصحابو ﷺ چې به د کوچني والي څخه د خپلو اولادو نګراني کوله او دیني کارونه به یې په پابندی سره په ادا کول، د حضرت عمر ﷺ په خلافت کي یو سړی نیول سوی راوستل سو چې د روژې په میاشت کې یې شراب چیښلي وه او روژه یې نه وه نیولې حضرت عمر ﷺ ورته وفرمایل: چې تبا او برباد سې زموږ کوچنیان لا روژې نیسي او ته روژه خورې.(۱)

۱- د کوچنیانو روژه نیول

ربیع بنت معوذ ﷺ چې قصه یې د لسم باب په آخر کښې تېره سوه فرمایي: نبي ﷺ یو ځلي اعلان وکړی چې نن د عاشورا ورځ ده ټوله روژه ونیسئ موږ به دد ې څخه وروسته ټولو روژې نیولې په کوچنییانو به مو هم روژې نیولې کله چې به هغوی د لوږې څخه ژړل نو موږ به د پنبوو څخه د لوبو یوشی ورجوړ کړی او په هغه به مو د روژه مات تر وخته پوري مشغول ساتل.(۲)

فایده: په ځینو حدیثو کښې دا هم راغلي دي چې ښځو به و شیدو رودونکو ماشومانو ته شیدې نه ورکولې که څه هم د هغه وخت بدنونه ډېر توانا وه او د اوس خلګ ډېر ناتوانه دي نو ځکه د هغه وخت خلګو او کوچنییانو تحمل درلودای سوا و دې ته هم کتل پکار دي چې د اوس خلګ څومره تحمل لري او هغو څومره تحمل درلود یځکه تحمل ته کتل ضروري دي د تحمل په درلودلو کښې کمزوري کول یقیناً نامناسبه کار دئ.

---

(۱) بخاري

(۲) بخاري

۲ـ د حضرت عائشې رضي الله عنها حدیثونه او دایت نازلېدل

حضرت عائشة رضي الله عنها د شپږو کالو په عمر د نبي ﷺ په نکاح کښې راغله او د (۹) کالو په عمر په مدینه منوره کښې واده سوه دا مبارکه د (۱۸) کالو وه چې نبي ﷺ ددې نړۍ څخه تشریف یووړی (۱۸) کاله عمر نو څه شي دئ دې په دومره لږ وخت کې د نبي ﷺ څخه دومره زیات حدیثونه، دیني علمونه او دیني مسئلې رانقل کړیدي چې اندازه یې نسته.

مسروق رحمة الله علیه فرمایي: ما لوي-لوي اصحابان ولیدل چې د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه به یې د مسئلو پوښتنه کوله.

عطاء رحمة الله علیه فرمایي: دا مبارکه تر نارینوو په مسئلو باندې زیاته باخبره او عالمه وه.

ابو موسي رضي الله عنه فرمایي: موږ ته چې به کوم علمي مشکل پیښ سو نو حل به یې د حضرت عائشې رضي الله عنها د لوري څخه رارسېدی.(۱)

ددې مبارکې دوه زره دوه سوه لس (۲۲۱۰) حدیثونه د حدیثو په کتابو کښې موجود دي.(۲)

دا مبارکه پخپله فرمایي: چې ما په مکة مکرمة کې په کوچنیوالي کښې لوبې کولې چې پر نبي ﷺ باندې د سورت قمر لاندینی آیت نازل سو:

بَلِ ٱلسَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَٱلسَّاعَةُ أَدْهَىٰ وَأَمَرُّ ﴿٤٦﴾ (۳)

دا مبارکه تر اتو کالو پورې په مکة مکرمة کې پاته وه په دومره کم عمر کې یې دا د آیت په نازلېدو خبره وه او بیا یې یاد ول دا ددین سره په خاص محبت کیږي که نه نو اته کاله عمر نو څه شي دئ؟

۳ـ د حضرت عمیر رضي الله عنه په جهاد کښې د ګډون شوق

حضرت عمیر رضي الله عنه د ابې اللحم غلام و، کوچنی هلک وو په دغه وخت کې د جهاد شوق په لوی او کوچنی کښې و. حضرت عمیر رضي الله عنه د خیبر په جنګ کښې د ګډون غوښتنه وکړه دده سردارانو هم د نبي ﷺ په حضور کښې دده سپارښت وکړی چې وده ته په جنګ کښې د ګډون

(۱) اصابة
(۲) تلقیح
(۳) سورة القمر الایة (۴۶) بخاري

اجازه ورکړي نبيﷺ هم اجازه ورکړه او يوه توره يې ورپه غاړه کړه خو توره لو وه او دده قد کوچنی و توره پر ځمکه ورسره ځکېدل پدغه وخت کښي دده د خيبر په جنګ کښي ګډون وکړی مګر ځرنګه چي دی کوچنی هم واو غلام هم و نو په مال دغنيمت کښي پوره ونډه ورنکړل سوه خو بيا هم د انعام په ډول يو څه سامان يې ورکړی.(۱)

دده په ځېر مبارکانو ته دا معلومه وه چي په مال دغنيمت کښي زموږ پوره ونډه نسته خو ددې سره-سره بهيې د نورو په واسطه و نبيﷺ ته سپارښت کاوه چي په جهاد کښي د ګډون اجازه ورکړي په همدې وجه داد ديني جذبې او د الله تعالیﷻ او دهغه دريښتني رسولﷺ پر وعدو باندي دتسلي پرته بل شی نسي کېدای.

۴- د حضرت عميرؓ د بدر په غزا کي په پټه د شرکت کوشش

حضرت عميربن ابي وقاصؓ يو کم عمره صحابي و د اسلام په شروع کي يې اسلام راوړی و د مشهور اصحابي سعد بن ابي وقاص ورور و سعدؓ فرمايي : چې ما خپل ورور عميرؓ وليدئ چي د بدر دغزا دلښکر د روانېدو پر وخت پټ پټ يوې خوا او بلي خواته کېدی چي څوک مي ونه ويني ما چي دا حال وليدی نو ورته حيران سوم او پوښتنه مي ځني وکړه چي ولي پټ-پټ ګرځې؟ ده راته وويل: چې په دې وجه پوتېږم چي نبيﷺ مي ونه ويني او د کوچنی خيال را باندي ونکړي او دجنګ څخه مي منع نکړي ، که يې وليدم بيا به زه نسم تلای او زه دا غواړم چي خامخا په دې جنګ کي ګډون وکړم . کېدلای سي چي الله ﷻ ماته په دې جنګ کي په يو ډول شهادت را نصيب کړي ،آخر چي کله لښکر را وړاندي سو نو ده ته چي کومه خطره وه هغه پيښه سوه او نبيﷺ دی مبارک د کم عمر په وجه وجنګ ته دتللو څخه منع کړی خو دشوق غلبه وه ددې تحمل يې نسوای کولای نو په ژړا سو نبيﷺ ته چي دده دشوق او دژړا حال معلوم سو نو اجازه يې ورکړه هيله يې پوره سوه او دوهمه ارزويې هم پوره سوه په دغه غزا کي شهيد سو ، دده ورور سعدؓ فرمايي : دده کوچنيوالي او دتورې د لوی والي له وجهي ما دده د توري و تسمې ته غوټې ورکولې چي پورته سي.(۲)

(۱) ابوداود
(۲) اصابة

۵- د وه انصاري هلکان او دابوجهل قتل

حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه د مشهورو او لويو اصحابانو څخه دئ، دی مبارک فرمايي : چې زه د بدر په ميدان کې د جنګ کوونکو په قطار کې ولاړ وم ما وليدل چې راسته او چپه طرف ته مې دوه انصاري هلکان ولاړ دي ما فکر وکړی چې کاشکې زه د توانا خلګو په منځ کې ولاړ وای نو ښه به وای چې د اړتيا په وخت کې مو يو د بل سره مرسته کولای په دغه وخت کې يوه تر لاس ونيوم او راته وويل : کاکا جانه ! ته ابو جهل پېژنې ؟ ما ورته وويل : هو څه يې کوې؟ ده راته وويل چې زه خبر سوی يم چې ده رسول الله ﷺ ته ښکنځل کړي دي نو زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما روح يې په قبضه کې دئ که زما سترګې پرده ومښتلې تر هغه به زه ځني جلا نسم چې زه دی وژنم او يا دی ما وژني . زه ددې هلک په سوال او جواب کې حيران وم چې هغه دوهم هلک پوښتنه راڅخه وکړه پداسې ډول لکه اول هلک چې راڅخه کړې وه ، نا ببره په دغه وخت کې ابو جهل راښکاره سو زما چې سترګې پرې ولګېدې نو دوی ته مې وويل : کوم څوک چې ستاسو پکار و هغه دی روان دئ دوی چې وليدئ نو په ځغاسته ورغلل توري چلول يې پر شروع کړه تر داسې وخته پوري چې هغه يې راغوزار کړی.(۱)

فايــده : دغه دواړه هلکوان معاذ بن عمرو بن جموح او معاذ بن عفرا رضي الله عنهما وه . معاذ بن عمرو رضي الله عنه فرمايي : ما د خلګو څخه اورېدلي وه چې ابو جهل هيڅوک نسي وژلای هغه په ډېر حفاظت کې او سيږي د هغه وخت څخه زما دا خيال و چې دی به وژنم ، دغه دوه هلکوان پياده وه او ابو جهل سپور و ، عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه فرمايي : کله چې دغه دوه هلکان په ځغاسته ورورسېدل نو پر آس سپور باندي حمله ګرانه وه په همدې وجه يوه پر آس حمله وکړه او بل د ابو جهل پر پښه حمله وکړه چې په دغه حمله سره آس هم غوزار سو او ابو جهل هم غوزار سو پورته کېدای نسو په هغه ځای کې پروت و تاو تاو کېدی د معاذ بن عفراء ورور معوذ بن عفراء نور هم زخمي کړي چې ولاړ نسي خو مړ نسو ددې څخه وروسته عبدالله بن مسعود رضي الله عنه يې سر د بدن څخه ور جلا کړی. معاذ بن عمرو وايي ما چې کله د

(۱) بخاري

ابو جهل پر پښنه حمله وکړه دده سره خپل زوی عکرمة ورسره و. زوی یې زما پر اوږه حمله وکړه زما لاس بیخي پرې سو خو یوازې په څرمن پیوندو.(۱)

دی مبارک وایي: ما خپل په څرمن پیوند لاس ترشا واړوی او ټوله ورځ په دابل لاس وجنګېدم کله چي زه د لاس څخه په تکلیف سوم. نو هغه ځړېدلی لاس مي تر پښنه لاندي کړی او راکش مي کړی لاس پري سو و مي غورځوی.(۲)

٦- د حضرت رافع او حضرت ابن جندب رضي الله عنهما مقابله

دنبي ﷺ مبارک عادت داوو چي کله به لښکر دمديني څخه ووتی نو دستي به يې لښکر معاينه کاوه د لښکر حال به يې ځان ته معلوماوه او اړتيا وي به يې ځانته معلومولې د لښکر اصلاح به يې کول کم عمره هلکان يې بېرته استول زيات هلکوان به په خپل شوق سره د غزا لپاره ووتل نبي ﷺ چي کله د احد غزا ته تشريف وړی نو د معاينې لپاره يې يو ځای لښکر ودراوه او کم عمره هلکان يې د کوچني والي په وجه بېرته استول چي پدغه هلکانو کښي دغه لاندي مبارکان وه. عبد الله بن عمر زيد بن ثابت، اسامه بن زيد، زيد بن ارقم، براء بن عازب، عمرو بن حزم، اسيد بن ظهير، عرابه بن اوس، ابو سعيد خدري، سمرة بن جندب او رافع بن خديج رضي الله عنهم ددوی عمرونه نژدې (۱۳) او (۱۴) کاله وو کله چي دوی ته د بيرته تللو امر وسو نو حضرت خديج رضي الله عنه و نبي ﷺ ته د خپل زوی رافع سپارښت وکړی او ورته وې ويل چي اې د الله جل جلاله رسوله ! زما دزوی غشي ويشتل ډېر ښه زده دي رافع چي د پلار دا خبره واورېدل دا جازې په شوق جګ جګ سو چي قدم يې اوږد معلوم سي نبي ﷺ اجازه ورکړه. سمرة بن جندب رضي الله عنه خپل پلندر مره بن سنان ته وويل چي نبي ﷺ رافع ته اجازه ورکړه او و ماته يې اجازه رانکړه حال دا چي زه پر رافع باندي غښتلی يم که چيري زما او د هغه مقابله وسي نو زه به هغه راچپه کړم نبي ﷺ ددوی دواړو مقابله وکړه ريښتيا هم سمرة رافع راچپه کړی پدې وجه نبي ﷺ سمرة ته هم اجازه ورکړه ددې څخه وروسته نورو کوچنيانو هم د اجازې هڅې وکړې په هغو کښې هم ځينو ته اجازه ورکړل سوه پدغه بهير کښي شپه سول نبي ﷺ د ټول لښکر د حفاظت انتظام وکړل سو او پنځوس کسه يې د ټول لښکر د حفاظت لپاره مقرر

(۱) اسد الغابة
(۲) خميس

کړل بیا یې وفرمایل: څوک به زمونږ حفاظت وکړي؟ یو ملګری ولاړ سو او وې ویل چي یا رسول الله! زه و دې کار ته تیار یم نبي ﷺ ورته وویل چي ستانوم څه شي دی؟ ده مبارک وویل ذکوان دئ نبي ﷺ وفرمایل: ښه دئ ته کښېنه بیا یې و فرمایل: څوک به زمونږ حفاظت وکړي؟ یو ملګری ولاړ سووې ویل: یا رسول الله ﷺ زه ودې کار ته تیار یم نبي ﷺ د نامه پوښتنه ځني وکړه ده ورته وویل چي زما نوم ابو سبغ (دسبغ پلار) دئ نبي ﷺ ورته وفرمایل چي ښه دئ ته کښېنه، نبي ﷺ دریم ځلي بیا پوښتنه وکړه چي زمونږ حفاظت به څوک کوي؟ بیا یو ملګری ولاړ سو چي یا رسول الله ﷺ زه ودې کار ته تیار یم نبي ﷺ د نامه پوښتنه ځني وکړه ده ورته وویل چي زما نوم ابن عبد القیس دئ نبي ﷺ ورته وفرمایل چي ښه دئ ته کښېنه لږ وخت وروسته نبي ﷺ و فرمایل هغه درې سره کسان دي راسي یو ملګری د نبي ﷺ حضور ته راغلی نبي ﷺ ورته وفرمایل چي ستا هغه نور دوه ملګري څه سول؟ ده ورته وویل: اې دالله ﷺ رسوله ﷺ! درې سره واره زه ولاړ سوی وم نبي ﷺ دعا ورته وکړه او د حفاظت امر یې ورته وکړی ده هم ټوله شپه د نبي ﷺ د خیمې حفاظت وکړی.(۱)

فایـــده: داد مبارکو اصحابانو شوق او جذبې وي، کوچنیان وه که لویان وه داسي مست وه چي ځان قربان ول یې خپل هدف و همدا وجه وه چي تل به بریالیتوب د دوی قدمونه ښکلول رافع بن خدیج رضي الله عنهما د بدر په غذا کښې هم ځان وړاندي کړی وخو په هغه وخت کښې اجازه ورنکړل سول بیا یې د احد په غزاء کښې ځان وړاندي کړی چي قصه یې اوس تېره سول ددې څخه وروسته په هره غزاء کښې یې ګډون کاوه داحد په غزاء کښې یو غشی دده پر سینه باندي ولګېدئ کله چي یې راکښې ټوله راوختي مګر یوه ټوټه یې دننه په بدن کښې پاته سول هغه پاته سوی ټوټې یې دیو زخم شکل اختیار کړی په آخر عمر کښې چي سپین بږیر والي ته نژدې و دغه زخم تازه سو او د مرګ سبب یې وګرځېدئ. (۲)

۷- دحضرت زید رضي الله عنه د قرآن په وجه وړاندي والی

حضرت زید بن ثابت رضي الله عنه د هجرت په وخت کښې د یوولسو کالو وو او د شپږو کالو په عمر یتیم سوي دئ د بدر په غزاء کښې یې ځان راوړاندي کړی خو اجاز ورنه کړل سول بیا داچي د احد په غزاء کښې ووتی خو بیرته راواستول سو لکه اوس چي یې قصه تېره سوه

---

(۱) خمیس
(۲) اسد الغابه

ځينو ويلي دي: څرنګه رافع بن خديج ﷛ او سمرة بن جندب ﷛ ته اجازه ورکړل سول په همدغه وجه ده ته هم اجازه ورکړل سول ددې څخه وروسته به په هره غزاء کښې شريک کېدئ دتبوک په جنګ کښې د بنو مالک قوم بيرغ د حضرت عمار ﷛ پلاس کښې و، نبي ﷺ د عمار ﷛ څخه واخيست او حضرت زيد ﷛ ته يې ورکړی عمار ﷛ فکر وکړی چې ښايي زما څخه يو څه غلطي سوې وي او يا په يو څه وجه نبي ﷺ زما څخه خوا بدی سوی وي نو پوښتنه يې وکړه چې اې د الله ﷻ رسوله ﷺ! زما د څه شي شکايت تاسو ته در رسېدلی دئ؟ نبي ﷺ وفرمايل دا خبره نه ده بلکي زيد ﷛ تر تا قرآن ډېر ويلی دئ قرآن ددې بيرغ په پورته کولو کښې مخکي کړی.(۱)

فايده: دنبي ﷺ عمومي عادت و چې په ديني ځانګړتيا وو کښې به يې هغه چاته ترجيح ورکول چې ددين په اعمالو کي به تر نورو زيات و دلته که څه هم د جنګ موقع وه دقرآن د زيات ويلو مداخله نه وه پکښې مګر بيا هم نبي ﷺ د بيرغ پورته کول و هغه چاته ورکړی چې قران يې زيات ويلي و په داسي ډېرو کارو کښې نبي ﷺ ددين لحاظ کړی دئ آن تر دې چې که به چيري اړتيا پېښه سوه چې څو مړي به په يوه قبر کي ښخ سي نو لو موړی به يې هغه څوک مخکي کاوه چې قرآن به يې ډېر لوستلی و لکه داحد په غزا کښې چي داسي سوه.

۸-د حضرت ابو سعيد خدري ﷛ په کوچنيوالي کښې د پلار وفات

ابو سعيد خدري ﷛ فرمايي: زه د ديارلسو کالو وم داحد په غزا کي را مخکي سوم خو نبي ﷺ اجازه را نه کړه بيا مي پلار سپارښت وکړی و نبي ﷺ ته يې وويل چې دی په قوت کي ښه دئ او هډونه يې هم غټ دي نبي ﷺ به وماته پورته وکتل بيا به يې کښته وکتل ان دا چي ماته د کم عمرۍ په وجه اجازه نه راکړل سوه زما پلار په دغه غزاء کښې شريک سو او شهيد سو زما د پلار مال او داسي نور سامانونه هيڅ نه سوه پاته زه د نبي ﷺ حضور ته د سوال کولو په نيت ورغلم نبي ﷺ چي ماته وکتل راته وې ويل: څوک چې د الله ﷻ څخه صبر غواړي الله ﷻ و هغه ته صبر ورکوي، څوک چې د الله ﷻ څخه عفت او پاکوالی غواړي الله ﷻ و هغه ته پاک لمني او عفت ورکوي، څوک چې د الله ﷻ څخه شتمني غواړي الله ﷻ شتمني ورکوي. ماچي د نبي ﷺ دا خبري واورېدې بيا مي هيڅ ونه غوښتل په چوپه خوله بېرته راغلم

(۱) اسد الغابة

ددې څخه وروسته الله جل جلاله وده ته دومره لويه مرتبه ورکړه چې دده په شپږ کم عمره اصحابان به بيا په مشکله پيدا کيږي.(۱)

فايده: دا څومره لوې همت دئ چې د پلار د شهادت د غم تر څنګ ډېر زيات محتاجه هم وخو دنبي ﷺ په يو عام نصيحت په چوپه خوله راولاړ سو بېرته ولاړی د خپل غم څرګندونه يې هيڅ نه وکړه. په اوس وخت کي لوی کسان دومره صبر کولای سي؟ رشتيا هم الله ﷻ د خپل رسول ﷺ د ملګرتيا لپاره داسي کسان غوره کړي وه چې د رسول الله ﷺ د ملګرتيا اهل وه په همدې وجه نبي ﷺ فرمايي: الله ﷻ د ټولو انسانانو څخه زما اصحاب انتخاب کړي دي. دغه حديث به ددې کتاب په آخر کي راسي.

۹- د حضرت سلمة بن اکوع رضي الله عنه په غابه کي ځغاسته

غابه د مدينې منورې څخه څلور پنځه ميله د باندي يوه ابادي وه په دغه ځای کي دنبي ﷺ يو څه اوښان څرېدل عبد الرحمان فزاري د کافرانو يوې ډلې سره مل دغه اوښان لوټ کړل او څرونکی (شپانه) يې وواژه دغه کسان په سلاوو سمبال او پر آسونو سپاره وه روان سوه نابېره حضرت سلمة بن اکوع رضي الله عنه د ځان سره غشي او لينده اخستي دي دغابة پر لور پياده روان دئ نابېره يې پر دوی ستر ګي ومښتي هلک وخو ډېر تيز و دده د ځغاستي تېزوالي ډېر مشهور و تر داسي اندازې چې ده به عربي آس لاندي کولای سو او نيولای به يې سو خو آس دی نسوای نيولای او نه يې لاندي کولای سوای هم دا ډول دی مبارک په غشي ويشتلو کي هم ډېر مشهور و دستي د مدينې پر يو غره باندي وخاتی او د لوټ اعلان يې وکړی په خپله يې په غلو پسي و ځغستل کله چې وررورسېدئ نو پر هغويې داسي د غشو باران شروع کړی چې د هغو دا فکر سو چې دا يوه ډله ده خودی يوائې او پياده و نو چې کله به يو چا آس پسي راګرځوی دی به د يوې درختي شاته پټ سو کله چې به هغه تير سو نو ده به د شاد خوا څخه د غشي واری پر وکړی آس به يې زخمي سو سپور به فکر وکړی که ونه ګرځم آس به مي دحرکته ولويږي زه به ونيول سم نود مقامت پرته به بيرته ولاړی. حضرت سلمة رضي الله عنه فرمايي چې پردغه ترتيب دوی ځغاسته ماپسي ځغستل تر داسي اندازې پوري چې دوی هغه ټول اوښان پرېښودل چې دوی لوټ کړي وه ددې څخه علاوه دېرش نيزې او دېرش پټوان هم ځني

---

(۱) اصابه - استيعاب

پاته سوه په دغه وخت کي عيينة بن حصن د يوې ډلي سره د غلو مرستي ته راورسېدئ او دوی ته هم دا معلومه وه چي زه يوازې يم نو ددوی ډله پياوړې سوه نو څو کسان يو ځای په ماپسي راروان سوه زه پر يوه غره وختلم دوی مي هم راوغوښتل کله چي دوی رانژدې سوه نو په لوړ اواز مي ورته وويل چي يو اوري ودرېږئ زما يوه خبره واورئ هغه دا چي تاسو ما پېژنئ چي زه څوک يم؟ هغو راته وويل: چي ته ځان راوښيه چي ته څوک يې؟ ده ورته وويل زه ابن الاکوع يم زما دې په هغه ذات قسم وي چي محمد ﷺ ته يې عزت ورکړی دئ که په تاسو کي يو څوک غواړي چي ما ونيسي نو نه مي سي نيولای او که زه په تاسو کي يو څوک نيول و غواړم نو نيولای يې سم دا چي دی په ځغاسته کي ډېر نوموتي و نو دا څه عجيبه خبره نه وه چي ده و هغو ته ويل څکه اعرابي آس دده مقابله نسوای کولای. سلمة ﵁ فرمايي زما هدف دا و چي دوی ته خو مرسته راورسېده ګوندي ماته هم مرسته راورسيږي په همدې وجه مي دوی په خبرو اخته کول او ماهم دراتګ په وخت کي پر غره باندي اعلان کړی و لنډه دا چي زه په دغه خبرو اخته وم چي د مدينې و خواته مي د درختو په منځ کي په غور سره وکتل و مي ليدل چي زما د مرستي لپاره يو ډله راروانه ده په مخ کي يې اخرم اسدي ﵁ و دراتلو سره سم يې پر عبد الرحمان فزاري باندي حمله وکړه عبدالرحمان هم ده ته متوجه سو پر ده يې حمله وکړه ده مبارک د عبد الرحمان د آس پر پښو حمله وکړه پښې يې پرې سوې دی راغوزار سو ده بيا پر خرم اسدي ﵁ باندي حمله وکړه چي په دغه حمله سره اخرم اسد ﵁ شهيد سو عبد الرحمان فزاري دستي دده پر آس سپور سو ابو قتاد ﵁ دستي پر عبد الرحمن فزاري حمله شروع کړه عبدالرحمن د ابو قتاد ﵁ د آس پر پښو باندي حمله وکړه ابو قتاد ﵁ غوزار سو دستي يې پر عبدالرحمن حمله وکړه په دغه حمله سره عبد الرحمن ووژل سو ابو قتاد ﵁ دستي پر هغه آس سپور سو چي عبد الرحمن د اخرم اسدي ﵁ څخه اخيستي و.([1])

فايده: ځينو د تاريخ کتابونو ليکلي دي چي حضرت سلمة ﵁ اخرم اسدي ﵁ د حملې کولو څخه منع کړی او ورته وې وويل چي يو لږ ساعت ودرېږه چي د مسلمانانو نور کسان هم راسي ده ورته وويل چي ماپرېږده چي شهيد سم وايي چي په مسلمانانو کښي يوائي دی شهيد سو او په کافرانو کښي ډېر کسان مړه سول ددې څخه وروسته د مسلمانانو يو لويه ډله راورسېدل او کافران وتښتېدل حضرت سلمة ﵁ نبي ﷺ ته خواست وکړی چي زما سره سل کسان راسره کړه چي په دوی پسي ولاړ سم نبي ﷺ ورته وفرمايل: چي هغه اوس خپلو ډلو

([1]) ابو داود

(ځايونو) ته ورسېدل. د تاريخ د زياتو كتابونو څخه معلوميږي چي په دغه وخت كښي د حضرت سلمة ﷺ عمر دولس يا ديارلس كاله و، نو د دولسو يا د ديارلسو كالو هلك چي پراسونو سپاره يوه لويه ډله څغلوي او هغه داسي وار خطا كوي چي غلا كړي شيان پرېږدي او خپل سامانونه هم ځني پاتيږي دا دهغه داخلاص بركت و چي الله ﷻ د اصحابانو ﷺ دلي ته ورپه برخه كړي و.

۱۰- د بدر مقابله او د حضرت براء ﷺ شوق

د بدر غزاء تر ټولو غزاوو بهترينه ده ځكه په دغه غزاء كښي مقابله ډېره سخته وه او مسلمانان ډېر لږ وه ټوله مسلمانان (۳۱۰) تنه وه يوائې دري آسان، شپږ يا نهه زغري، اته توري او (۷۰) اوښان ورسره وه پر يوه اوښ به څو څو كسان په وار سره سپرېدل ، كافران (۱۰۰۰) تنه وه (۱۰۰) آسان (۷۰۰) اوښان او د جنګ پوره سامان ورسره وو په همدې وجه كافران په ډېر ارامتيا د باجو او سندورو ويونكو ښځو سره ميدان ته راغلل پدې خوا كښي نبي ﷺ ډېر فكر من و، ځكه مسلمانان ډېر په كمزوري حالت كښي وه نبي ﷺ چي ددواړو خواوو اندازه و لګول نو داسي دعايې وغوښتل : اې الله ﷻ دا مسلمانان پياده دي ته سپرلۍ وركونكى يې ، دوى په بدن لوڅ دي ته جامه وركونكى يې ، دوى اوږي دي ته مړه ونكى يې ، دوى ناداره دي ته غني كوونكى يې دنبي ﷺ دعا قبوله سوه سره ددې ټولو خبرو حضرت عبدالله بن عمر ﷺ او حضرت براء بن عازب ﷺ دواړه په جنګ كښي د ګډون په شوق د كور څخه راروان سول نبي ﷺ دوى دواړه د كوچني والي له امله بېرته كورونو ته واستول.(۱)

دغه دواړه مباركان داحد په غزاء كښي هم بېرته واستول سوه لكه په لومړۍ قصه كښي چي ددوى بيان تير سو داحد غزا د بدر تر غزا يو كال وروسته وه نو د احد په غزا كي چي دوى په كوچنيانو كښي شمارل كېدل نو د بدر په غزاء كښي خو بيخي كوچنيان وه دا ددوى مباركانو شوق و چي د كوچني والي څخه يې په زړو كښي شوق او جذبې حركت كاوه او په هر جنګ كښي يې د ګډون او اجازې اخيستلو كوشش كاوه.

---

(۱) خميس

۱۱- د حضرت عبدالله رضي الله عنه بن عبد الله بن ابي دخپل پلار سره معامله

په پنځم هجري کال کښي د بنو المصطلق مشهوره جګړه وسوه پدې کښي د يو انصاري او د يو مهاجر په خپل منځ کښي جنګ وسو دا ساده خبره وه خو آخر لويه سوه هر يوه د خپل قوم څخه کومک و غوښتی ددواړو لورو څخه يوه ـ يوه ډله پيدا سوه نژدې و چي د جنګ ميدان ګرم سوی وای خو ځيني خلګ راغلل او صلحه يې وکړل عبدالله بن ابي د منافقانو سردار و او مشهور منافق او د مسلمانانو سخت دښمن و خو لکه څرنګه چي يې ځان په ښکاره مسلمان ښودئ په همدې وجهه يې د مسلمانانو سره په ښکاره مخالفت نه سوای کولای دا هم په دغه وخت کښي د منافقانو سره عامه معامله وه کله چي ده ته د دغه قصې خبر ورسېدئ نو ده د نبي ﷺ په اړه ډيري بې ادبي خبري وکړې او خپلو دوستانو ته يې وويل چي دا هر څه ستاسو د خپله لاسه دي تاسو دې خلګو ته په خپلو ښارو کي ځای ورکړی خپل مالونه مو ددوی سره په سم نمايي وويشل او س هم که چيري تاسو ددې خلګو مرسته پرېږدئ نو دوی به ددې ځايه څخه ټوله ولاړ سي . دغه منافق زياته کړه چي په الله ﷻ دي مي قسم وي که چيري مونږ مدينې ته ورسېدو نو موږ عزتمن به سره راټول سو او دا ذليل خلګ به وباسو (مراد يې مهاجر مسلمانان) وه حضرت زيد بن ارقم رضي الله عنه د نوي عمر هلک و د دغه منافق خبري چي يې واورېدې نو د زغم پياله يې ډکه سوه منافق ته يې وويل زما دې په الله ﷻ قسم وي چي ته ذليل يې ځکه تاته خپل قوم هم په سپکه سترګه ګوري او ته هيڅوک مرستيال نلرې حضرت محمد ﷺ عزتمن دئ الله ﷻ د هر لوري څخه عزت ورکړی دئ او په خپل قوم کښي هم عزتمن و عبد الله بن ابي ورته وويل چي ښه دئ چوپ سه ما خو هسي ټوکي کولې حضرت زيد بن ارقم رضي الله عنه ولاړی و نبي ﷺ ته يې قصه وکړه حضرت عمر رضي الله عنه وويل چي يا رسول الله ﷺ !ددې منافق سر دي ورپرې سي خو نبي ﷺ اجازه ورنه کړه عبد الله بن ابي چي خبر سو چي نبي ﷺ په قصه خبر سوی دئ نو د رسول الله ﷺ و حضور ته ورغلی او د دروا غو قسمونه يې ورته اخيستل چي ما ددې خبرو څخه يوه خبره هم نه ده کړې. زيد بن ارقم رضي الله عنه درواغ ويلي دي په دغه مجلس کي د انصارو هم يو څه کسان موجود وه هغو هم دده سپارښت وکړی او وې ويل چي عبد الله بن ابي د قوم سردار دئ لوی سړی شمېرل کيږي د يو کوچني هلک خبري دده په مقابل کښي د قبلېدو وړ ندي ممکنه ده چي په اورېدو کي څه غلطي ځني سوې وي او يا کوچنی سم نه وي پوه سوی نبي ﷺ دده عذر قبول کړی حضرت زيد رضي الله عنه چي کله خبر سو چي

عبد الله بن ابي د دروا غو په قسمونو سره ځان رېښتني ثابت کړی دی او زه يې درواغجن ثابت کړی يم نو زيد ﷺ د شرمه څخه د باندې وتل پرېښودل او د شرمه څخه د نبي ﷺ و حضور ته نه راتلی تر داسې وخته پورې چې سورة منافقون نازل سو د منافقانو احوال پکښې وه د زيد ﷺ رېښتينوالی پکښې ثابت سو او د عبد الله بن ابي د دروا غو قسمونه پکښې ښکاره سوه د حضرت زيد ﷺ عزت د مخالفو او منافقو خلکو په وړاندې زيات سو او د عبد الله بن ابي قصه هم و ټولو ته ښکاره سوه کله چې مدينې ته نژدې راغله نو د عبد الله بن ابي يو زوی و دريدی او پلار ته يې وويل تر هغه وخته پورې دې د مدينې منورې و ښار ته نه پرېږدم تر څو چې د دې اقرار ونکړې چې زه ذليل يم او محمد ﷺ عزتمن دی پلار يې ډير حيران سو چې د غه زوی خو به ټول عمر زما عزت او درنښت کاوه او نيک ژوند به يې راسره کاوه خو د نبي ﷺ په مقابله کښې دريدای نه سوای مجبوره سو اقرار يې وکړی او وې ويل چې قسم مي دي په الله ﷻ وي چې زه ذليل يم او محمد ﷺ عزتمن دی تر دې اقرار وروسته و مدينې ته داخل سو. (۱)

۱۲- د حضرت جابر ﷺ په حمراء الاسد کښې ګډون

مسلمانان چې کله د احد د غزا څخه فارغه سوه او مدينې ته ورسېدل نو د جنګ او سفر له وجهي څخه ډېر ستړي او ستومانه وه خو مدينې ته درسېدو سره سم د ابو سفيان له لوري څخه خبر راورسېدی چې ابو سفيان په حمراء الاسد نومي ځای کښې د بيا جګړې لپاره تياري نيولې ده ابو سفيان دخپلو ملګرو سره مشوره کړې وه او ورته ويلي يې وه چې مسلمانان په احد کښې ماته و خوړه بايد موږ دا غنيمت و ګڼو بيا معلومه نده چې داسې موقع په لاس راسي او که يا؟ په همدې وجه دنبي ﷺ د قتلولو ورو سته (نعوذ باالله) بيرته تلل پکار دي نو دوی د مشورې وروسته بېرته راوګرځېدل وجنګ ته تيار سول نبي ﷺ اعلان وکړی چې هغه کسان دي ودې جنګ ته زما سره ولاړ سي چې د احد په غزاء کښې زمونږ سره راسره وه د دوهمي حملې لپاره تلل پکار دي. که څه هم داحد په غزاء کښې ګډون کوونکي مسلمانان ډېر ستړي وه بياهم ټوله مسلمانان د دوهمي حملې لپاره تيار سوه. لکه څرنګه چې نبي ﷺ امر کړی و چې يوازې دي هغه کسان راسره ولاړ سي چې د احد په غزاء کښې يې ګډون

---

(۱) خميس

کړی و په همدې وجه نور خلک پاتــه سوه او د احد شریکان تیارسوه یو ازي حضرت جابر ﷺ و حضرت محمد ﷺ ته خواست وکړی چي یا رسول الله ﷺ! زه د احد په غزا کښي شریکېدم خو پلار مي اجازه رانکړه او راته وې ویل چي ستا اووه خونديٰ دي بل نارينه په کور کي نسته نو په ما او تا کي دیوه پاته کیدل ضروري دي نو پلار مي پخپله دتلو اراده وکړه او زه پاته سوم هغه داحد په غزا کښي شهیدسو اوس ماته اجازه راکړه چي ستا سو سره ولاړسم نبي ﷺ اجازه ورکړه د حضرت جابر ﷺ پرته بل هیڅوک د هغو کسانو څخه په دغه سفر کي موجود نه و چي د احد په غزاء کي یې ګډون نه وکړي.(۱)

فایده: د حضرت جابر ﷺ دغه مینه او محبت دجهاد سره څومره دهمت او غیرت قابل دئ چي پلار یې اوس شهید سوی دئ ډیر قرضونه یې پر ذمه پاته دي هغه هم د یهودیانو وه او یهودیانو د خلګو سره ډېره سخته معامله کول دده سره یې بیا بیخي سخته معامله کول ددې څخه علاوه دده اووه خوندي وې دهغوی د ګوزارې فکر و او پلار یې ددوی په وجهه داحد اجازه هم نه وه ورکړې خو دده شوق پردې ټولو ستونزو باندي برلاسی سو او د جهاد اجازه یې ترلاسه کړه.

۱۳- د حضرت ابن زبیر ﷺ دروم په جنګ کښي بهادري

په سنه ۲٦ هـ کښي د حضرت عثمان ﷺ په خپل خلافت کښي چي کله دمصر د حاکم عمربن عاص ﷺ پر ځای عبد الله بن ابي سرح ﷺ و ټاکی نو دی مبارک دروم د جنګ لپاره د شل زره کسیزه لښکر سره راووتی د رومیانو لښکر دوه سوه زرو ته نژدې و ډېر سخت جنګ وسو د رومیانو امیر جرجیر اعلان وکړی چي هر څوک چي عبد الله بن ابي سرح ووژني زه به و هغه ته خپله لور په نکاح ورکوم او سل زره اشرفۍ به انعام ورکوم په دې اعلان سره ځیني مسلمانان فکر من سول عبد الله بن زبیر ﷺ چي خبرسو نو وې ویل داد فکر او تشویش خبره نده مونږ به هم اعلان وکړو چي څوک جر جیر ووژني دهغه لور به ده ته په نکاح ورکوو، یو لک اشرفۍ به انعام ورکړو او ددې سره سره به یې د هغه ښار امیر هم جوړ کړو لنډه داچي تر ډېره وخته پوري جګړه وسوه حضرت عبد الله بن زبیر ﷺ جرجیر ولیدئ چي د ټوله لښکر وروسته روان دئ او لښکر ځني مخته سوی دئ پر ده باندي دوممینځیانو د طاؤوس په وزرو

---

(۱) خمیس

سايه کول عبد الله بن زبير ﷺ په پټه د خپل لښکر څخه جلا سو او پر هغه يې حمله وکړه دده دراتګ پر وخت هغه دا فکر کاوه چي کېدلای سي هغه د يوروغي او جوړي پيغام د ځان سره راوړی وي خو دی برابر ور ورسېدی حمله يې پرې وکړه سر يې ځني پرې کړی بيا يې په نيزه پيودلی راوړی او ټول خلګ ورته حيران سوه.

فايده: حضرت عبد الله بن زبير ﷺ تنکی ځوان و تر هجرت وروسته په مهاجرينو کي لومړي کوچنی دی وو چي پيدا سو دده په پيدائش سره مسلمانان ډېر خوشحاله سوه ځکه تر يوه کاله پوري د هيڅ مهاجر په کور کي کوچنی نه و پيدا سوی او يهوديانو به دا ويل چي مونږ په دغه مهاجرو باندي جادو کړی دئ چي ددوی په کور کښي هلک نه سي پيدا د نبي ﷺ د کوچنيانو سره بيعت کول عادت نه و خو د عبد الله بن زبير ﷺ سره يې داوو کالو په عمر بيعت وکړی ددغه جنګ په وخت کښي دده عمر څلوريشت يا پنځه ويشت کاله و خو په دوه لکه فوځ ورننوتل او د پاچا سر ورپرې کول دا څه اسانه خبره نه ده.

۱۴ – د حضرت عمرو بن سلمه ﷺ د کفر په حالت کښي د قرانکريم يادول

عمرو بن سلمه ﷺ فرمايي چي مونږ د مدينې په لاره کښي يو ځای اوسېدو چي تلونکي او راتلونکي به زمونږ د ټاټوبي څخه تېرېدل کوم خلګ چي به د مدينې څخه راتلل مونږ به د هغو څخه د حال او احوال پوښتنه کول او دا به مو ورته ويل چي هغه صاحب څنګه دئ چي د نبوت د عوه يې کړېده هغو به راته ويل چي هغه وايي پر ما باندي د الله ﷻ وحي نازلېږي چي دغه-دغه اياتونه دي دی وايي زه کم عمره هلک وم دوی چي به کوم اياتونه ماته بيانول ما به يادول زما تر مسلمانېدو مخکي ډېر قرانکريم يادو. د عربو ټولو خلکو د مسلمانېدو لپاره د مکې و خلګو ته انتظار کاوه کله چي مکه فتحه سوه نو هره ډله د مسلمانېدو لپاره حاضره سوه زما پلار هم د يو څو سړو سره د خپل قوم په استازيتوب د نبي ﷺ و حضور ته ورغلی نبي ﷺ زما و پلار ته د شريعت احکام و ښودل لمونځ يې ورزده کړی. او په جماعت سره يې دلمانځه کولو طريقه وروښوده او ورته وې فرمايل چي د کوم چا چي په تاسو کښي ډېر قرآن شريف په ياد وي هغه کس د جماعت ورکولو لپاره بهتر دئ څرنګه چي ما د اسلام مخکي ډېر اياتونه ياد کړي وه نو زه تر ټولو زيات د قرآن شريف حافظ وم نو ټولو خلګو زما

لټه وکړه او زه یې امام جوړ کړم په دغه وخت کښې زما عمر شپږ یا اووه کاله و کله چې به څه ګنه یاد جنازې موقع راغله نو زه به یې امام جوړ کړم.(۱)

فایده: دا ددین و لوري ته د طبعي میلان او رغبت اغیز و چې په دومره لږ عمر کې د مسلمانېدو پرته یې د قران شریف ډېره برخه یادوه پاته دا خبره سوه چې په کوچنۍ پسي لمونځ کېدلای سي که یا؟ ددې په جواب کې باید ووایو چې د کوچنی په امامت کې اختلاف سته ځیني یې جائز بولي هیڅ شک نه پکښې کوي ، او ځیني یې جائز نه بولي هغوی ددې سوال په جواب کې وایي چې نبي ﷺ دوی ته امر کړی و چې په تاسو کې دې د قران زیات حافظ امام سي درسول الله ﷺ مطلب کوچنی نه و (دا ددوی پر خپل سر کار و چې کوچنی یې امام وټاکی).

۱۵ د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دخپل غلام په پښو کښې بېړی اچول

د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما غلام عکرمة رحمة الله علیه د مشهورو علماؤ څخه دئ ، دی وایي چې زما آقا عبد الله بن عباس رضي الله عنهما به و ماته قرانکریم، احادیث او شرعي احکام لوسته نو زما په پښو کښې به یې زولنې اچولي وې چې زه یوې خوا او بلې خواته ولاړ نسم دده مبارک و ماته قران شریف او احادیث ښوده.(۲)

فایده: که څه هم دتګ او راتګ په وخت کښې خو هم زده کړه کېده خو کوم څوک چې د زده کړې په وخت کښې سیل او دبازار میلې کوي دغه کس بېکاره خپل عمر ضایع کوي یعني علم لاسته نه سي راوړلای هم ددغه شی اغېزه وه چې د غلام عکرمة څخه حضرت عکرمة رحمة الله علیه جوړ سو او بحر الامة ، حبر الامة په القابو سره یاد سویدئ قتاده وایي چې په ټولو تابعینو کښې څلور لوی عالمان دي چې په هغو کښې یو عکرمة رحمة الله علیه دی.

(۱) بخاري و ابو داود
(۲) بخاري ، ابن سعد

۱۶- د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما په کوچنيوالي کښي قران شريف يادول

پخپله حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چي زما څخه د تفسير پوښتنه کوئ ما په کوچنيوالي کښي قران شريف ياد کړی دئ په بل حديث کښي راغلي دي چي ما دلسو کالو په عمر اخري منزل ويلی و.(۱)

فايده: د هغه زمانې يادول داسي نه ولکه داوس زمانې چي د پرديو ژبو د ښتنانو يادول دي بلکي هغو چي به څه يادا وه په پوره تفسير سره به يې يادوی پدې وجه حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د تفسير لوی امام دئ د کوچنيوالي يادول ډېر محفوظ وي. د تفسير حديثونه چي څومره دعبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه نقل سوي دي د بل چا څخه نه دي نقل سوی عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي : د قران شريف بهترين مفسر عبد الله بن عباس رضي الله عنهما دی ابو عبدالرحمن رحمه الله فرمايي: کوم اصحابانو رضي الله عنهم چي به مونږ ته قران شريف راښودئ هغوی فرمايي چي اصحابو رضي الله عنهم به د نبي ﷺ څخه لس آياتونه زده کړل وروسته به يې تر هغه پوري نو راياتونه نه زده کول تر څو چي ددغه لسو اياتونو برابر علم او عمل په لاس نه وای ورغلی.(۲)

فايده: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ددیارلس کالو و چي نبي ﷺ وفات سو په دومره لږ عمر کښي دی مبارک د تفسير او حديث هغه درجې ته ورسېدئ چي د تفسير امام سو او لوی، لوی اصحابانو به دده څخه د تفسير پوښتنه کول دا ښکاره کرامت دئ او د عبرت خبره ده دادنبي ﷺ ددعا برکت و څکه نبي ﷺ يو وخت استنجا ته تشريف يووړی عبد الله بن عباس رضي الله عنهما داوبو لوښی ورډک کړی نبي ﷺ دغه خدمت خوښ سو او دعايې ورته وکړه چي الله ﷻ دي تاته فهم او هوښياري په دين کي درکړي او په قرانکريم کي دي الله ﷻ تاته پوهه درکړي ددې څخه وروسته يو وخت نبي ﷺ نفل کول ده هم نيت وکړی په نبي ﷺ پسي ودرېدئ نبي ﷺ راکش کړی او خپل څنگ ته يې ودراوی څکه که مقتدي يو سړی وي نو دامام و څنگ ته برابر درېدل پکار دي نبي ﷺ چي پر لمانځه ودرېدئ دی بېرته لږ شاته سو کله چي نبي ﷺ د

---

(۱) بخاري ،فتح

(۲) منتخب كنز

لمانځه څخه فارغه سو نو پوښتنه يې ځني وکړه چي ولي شاته سوې ده ورته وويل چي ته دالله ﷺ رسول يې زه څنګه ستا سره برابر ودرېږم نبي ﷺ ده ته د علم د زياتوالي دعا وکړه.(۱)

۱۷- د حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه په کوچني والي کي د احاديثو يادول

حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه د هغو زاهدانو اصحابانو څخه دئ چي په يوه ورځ يې قران شريف ختماوی او ټوله شپه به په عبادت مشغول و او دورځي به يې ټول عمر روژه وه نبي ﷺ به دده مره زيات تکليفونو ايستلو څخه منع کاوی او ورته فرمايل به يې چي په داسي حالت کي به دي بدن ډير کمزوری سي ټوله شپه ويښ يې سترګي به دي خرابي سي دبدن هم پر تا حق دئ، د اولادو هم پر تا حق دئ او د ميلمنو هم پر تا حق دئ ،دی مبارک وايي چي ما به هره ورځ قرانکريم ختماوی نبي ﷺ راته وويل چي په ټوله مياشت کښي يو قرانکريم ختموه ما ورته وويل اې د الله جل جلاله رسوله صلى الله عليه وسلم! ما ته اجازه راکړه چي د خپلي ځوانۍ څخه ګټه واخلم نبي ﷺ ورته وويل نښه دئ په شلو ورځو کي يې ختموه ما ورته وويل يا رسول الله ﷺ !دا ډېر کم تلاوت دئ ما ته اجازه راکړه چي د ځوانۍ څخه ګټه واخلم اخر دا چي په درو ورځو کښي يې د يو ختم اجازه راکړه دده مبارک عادت دا و چي د نبي ﷺ ارشادات يې ليکل چي په ياد يې پاته سي دده سره دنبي ﷺ د حديثونو يو مجموعه ليکل سوې پرته وه چي د الصادقه نوم يې پر ايښی و دی وايي ما چي به هر حديث دنبي ﷺ څخه اورېدئ هغه به مي ليکی خلګو زه منعه کړم چي نبي ﷺ خو انسان دئ کله په غصه کي وي، کله د خوابدتيا په وخت کي وي يو څه فرمايي او کله د خوشحالۍ په وخت کي چا ته بل څه فرمايي ته په هر حالت کي هر څه ليکې نو ما ليکل پريښوده يو ځلي مي نبي ﷺ ته ددغي خبري بيان وکړی نبي ﷺ راته وويل چي ليکه يې زما دي په هغه ذات قسم وي چي زما روح دده په قدرت کي دئ دده د خولې څخه چي کوم شی وزي د درد په حالت کي وي که د خوشحالۍ په حالت کي وي د حق نه پرته نه وزي.(۲)

فايده : حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه سره ددې چي په عبادت او صفوف کښي به ساري شمېرل کېدې بيا هم ابو هريرة رضي الله عنه فرمايي چي په اصحابو رضي الله عنهم کښي تر ما زيات د حديثو

---

(۱) اصابه

(۲) مسند احمد وابن سعد

روايت کوونکی نسته ماسوا د عبد الله بن عمرو ﷺ څخه چې هغه به ليکل او مانه ليکل ددې څخه معلومېږي چې د عبد الله بن عمرو ﷺ روايتونه تر ابوهريرة ﷺ ډير دي که څه هم زمونږ په زمانه کښي د ابو هريرة ﷺ روايتونه دده تر روايتو زيات په لاس راغلی دي چې يو شمېر لاملونه لري خو په هغه وخت کي دده دومره زيات عبادت ترڅنګ دده حديثونه زيات موجود دي.

۱۸- د حضرت زيد بن ثابت ﷺ قران شريف يادول

حضرت زيد بن ثابت ﷺ په جليل القدر اصحابانو ﷺ کښي دئ چې په خپل وخت کښي لوی عالم او لوی مفتي ګڼل کېږي په ځانګړي ډول د ميراث په علم کښي زيات ماهر و ويل کيږي چې په مدينه منوره کښي دی مبارک په فتوا، قضا، ميراث او قرائت کښي په لوړو کسانو کښي ګڼل کېدئ کله چې نبي ﷺ هجرت وکړی مدينې منورې ته يې تشريف راوړی پدغه وخت کښي دی کم عمره هلک وچې عمريې يوولس کاله و په همدې وجه ده ته په لومړنيو جګړو کښي لکه د بدر او داسي نورو کي د ګډون اجازه ورنکړه سول د هجرت پنځه کاله مخکي د شپږو کالو په عمر يتيم سو نبي ﷺ چې تر هجرت وروسته مدينې منورې ته ورسېدئ خلک د نبي ﷺ حضور ته ورتلل او خپل هلکان يې د برکت حاصلولو لپاره د ځان سره راوستل. زيد ﷺ حضورته وروړاندي سو يو چاورته وويل چې داد انصارو د کوريو هلک دئ ستاسو تر راتګ يې مخکي اوولس سورتونه پياد کړی دي. نبي ﷺ د امتحان لپاره ماته د ويلو امر وکړی ماسورت ق ورته وو ايه نبي ﷺ زما لوستل خوښ کړل. نبي ﷺ چې به يهوديانو ته کوم خطونه لېږل هغه به يې په يهوديانو ليکل يو ځلي نبي ﷺ وماته امر وکړی چې زه د يهوديانو په ليکلو باور نلرم داسي نه چې غلط يې وليکي ته د يهوديانو ژبه زده کړه (ما هم داسي وکړه) ددې څخه وروسته چې به هغوی ته کوم خط تلی ما به ليکی اوديهوديانو له خوا څخه به چې کوم خط راتلی مابه وايه په يو بل حديث کښي راغلي دي چې نبي ﷺ ارشاد و فرمايه چې ماته ځينو خلکو په سرياني ژبه خطونه ليکلي دي پدې وجه يې ماته د سرياني ژبي د زده کولو امر وکړی ما په اوولسو ورځو کښي سرياني ژبه زده کړه.[1]

---

[1] فتح - اصابة

۱۹- د حضرت حسن ﷛ په کوچني والي کښې علمي بوختيا

د سيد السادات حضرت حسن ﷛ پيدا ينښت دزياتو علماؤ دوينا سره سم په سنه ۳ھ کال کې دروژې په مياشت کښې سوى دئ په همدې اعتبار دده عمر دنبي ﷺ د وفات په وخت کښې اووه کاله او څو مياشتي و. اووه کاله به څه عمر وي؟ چې پدې کم عمر کښې يې علمي کمال حاصل کړى خو ددې سره دده مبارک څخه څو حديثونه نقل سوي دي ابو الحوراء رحمة الله عليه د حضرت حسن ﷛ څخه پوښتنه وکړه چي تاته د نبي ﷺ څه خبره ياد ده، ده ورته وويل: هوه زه د نبي ﷺ سره پر لاره روان وم پر لاري د خيرات د خرما وو يوه کوټه پرته وه ما ددغو خرماوو څخه يو خرما پورته کړه او په خوله کښې مي واچول نبي ﷺ ماته وفرمايل: کخ، کخ (توکه توکه) او زما د خولې څخه يې راوايستل او راته وې ويل چي مونږ د خيرات مال نه خورو. دى مبارک زياتوي چي ما پنځه واړه لمونځونه د رسول الله ﷺ څخه زده کړي دي.(۱)

حضرت حسن ﷛ فرمايي: نبي ﷺ ماته د وترو لپاره دا دعا ښودلې ده:

اللهم اهدني فيمن هديت و عافني فيمن عافيت و تولني فيمن توليت و بارک لي فيما اعطيت و قني شر ماقضيت فانک تقضي ولا يقضي عليک انه لايذل من واليت تبارکت ربنا و تعاليت .

ژباړه اې الله ﷻ! ماته د هغه چا څخه هدايت وکړې چي تا هدايت ورته کړى دئ او صحت راکړې ماته په هغه خلګو کي چي صحت دي ورکړى دئ ته زما سرپرست (متولي) جوړ سې لکه څرنګه چي د نورو سرپرست يې، کوم څه چي تا ماته راکړي دي په هغو کي برکت واچوې او څه چي دي زما په تقدير کي ليکلي دي د هغو د بدۍ څخه مي وساتې څه فيصلې چي ته وکړې هغه کيږي او ستا په خلاف څوک فيصله نسي کولاى د کوم چا چي ته مرسته وکړې هغه هيڅوک نسي ذليله کولاى ستا ذات برکت والا دئ.

حضرت حسن ﷛ فرمايي : ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي څوک د سهار لمونځ وکړي پر هغه ځاى باندي تر لمر ختلو پوري کښيني الله ﷻ به يې د دوزخ د اور څخه خلاص کړي . حضرت حسن ﷛ څو حجونه پر پښو باندي کړي دي او فرمايل يې چي ماته پر دې خبره شرم راځي چي زه مړ سم د الله ﷻ سره يو ځاى سم او زه دي د هغه و کور ته پر پښو باندي نه يم ورغلى

(۱) مسند احمد

.دی مبارک ډیرصبرناک و په مسنداحمد کې دده ذکرپه زیات شمېر روایتو کې سوی دئ.
دتلقیح لیکوال هم دئ په هغه اصحابانو ﷺ کې ذکر کړی دئ چې دیارلس حدیثونه ځني نقل سوی دي. اوه کاله به څه عمر وي ده مبارک په دومره لږعمر کې دومره علم لاسته راوړی دئ دا دحافظې کمال دئ او دشوق نهایي نقطه ده .افسوس چې زموږ خلګ تر اوو کالو پورې خپل زوی ته ددین معمولي خبره هم نه ښیي .

۲۰.دحضرت حسین رضی الله عنه په کوچني والي کې علمي بوختیا

سیدالسادات حضرت حسین رضی الله عنه ترخپل ورور حضرت حسن رضی الله عنه یوکال کشر و په همدې وجه دده مبارک عمر درسول الله ﷺ دوفات په وخت کې نور هم کم و یعني شپږ کاله اوڅو میاشتې و دشپږو کالو کوچنی به څه ددین خبرې وساتي ؟ خو دده دومره کوچني والي سره بیاهم دده روایتونه دحدیثو په کتابو کې رانقل سوي دي اومحدیثینو په هغه اصحابانوکې شمېرلی دي چې اته حدیثونه ځني رانقل سوي وي . حضرت حسین رضی الله عنه فرمایي : مادرسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي کوم مسلمان نارینه اویا ښځې ته چې کوم غم ورسیږي ډیر وخت وروسته ورپه یاد سي دی ووایي : انا لله وانا الیه راجعون .(یعني دغم په وخت خو یې ویلي وي ډیر وخت وروسته چې ورپه یادسي بیا یې هم ووایي) دغه کس ته الله ﷻ دومره ثواب ورکوي لکه دغم په وخت کې چې یې ورکوي .داهم دنبي ﷺ څخه روایت دئ چې فرمایي: زماامت چې په کښتۍ کې سپریږي داآیت دي ووایي : بِسۡمِ ٱللَّهِ مَجۡرٜىٰهَا وَمُرۡسَىٰهَآۚ إِنَّ رَبِّي لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ الله ﷻ به یې دغرقېدو څخه وساتي .حضرت حسین رضی الله عنه پنځویشت حجونه پرپښو کړي دي . لمونځونه به یې هم زیات کول اوروژې به یې هم زیاتې نیولې .په خیرات اوددین په هرکار کې یې زیاته هڅه کول .ربیعة رضی الله عنه فرمایي : ماد حسین رضی الله عنه څخه پوښتنه وکړه چې دنبي ﷺ بله کومه خبره ستا یاد ده ؟ ده مبارک راته وویل : هو زه یوه ورځ پر یو کلکین باندې وختم هلته خرما وې پرتې وې مایوه دانه راواخیسته په خوله مې کړه نبي ﷺ راته وفرمایل : وې غورځوه موږ دخیرات خوړلو څخه منعه یو . حضرت حسین رضی الله عنه

درسول اللهﷺ څخه روايت کوي چي نبيﷺ فرمايي : دسړي داسلام ښه والی دادئ چي بې کاره کارونه پرېږدي .(۱)

ددې څخه پرته نور روايتونه هم دده مبارک څخه سوي دي .

فايده : ددې ډول څخه داصحابانو ﷺ څخه ډېري واقعاتي رانقل سوی دي چي دوی مبارکـانو پـه کـوچني والـي کـي درسـول اللهﷺ څخـه نقـل کـړي وي محمـودبن الربيعﷺ يوصحابي دئ چي دنبيﷺ په وفات کي دده عمر پنځه کاله و دی مبارک فرمايي : زه به ټول عمر داخبره هېره نه کړم چي نبيﷺ زموږ کورته راغلی زموږ په کور کي يو څاه و ددې څاه داوبو څخه يې يوه لپه اوبه زما پر مخ واچولې.(۲)

موږ خپل کوچني اولادونه په بې ځايه خبرو کي اخته کړي دي دد درواغو قصې ورته کوو (چي ځني خلګ ورته نکلونه وايي) اوپه بې ځايه شيانو مو ماغزه ور خراب کړي دي که چيري موږ د سپېڅلو انسانانو قصې پيدا کړو او خپلو ماشومانو ته يې وکړو اويا ددې پر ځای چي ماشومانو تـه د پيريـانو ، دېـانو او داسي نـورو شيانو قـصې کـوو او زړونـه يې وروېروو بايد زړونه يې د اللهﷻ په عذاب سره ور وروېږدو دوی ته به په دنيا کښي په کار ورسي او په اخرت کي به خامخا ګټه ورتـه وکړي د کوچني والي په وخت کي حافظه ډېره زوروره وي او د کوچني والي د وخت شی هيڅکله نه هيرېږي په داسي وخت کښي که چيري قرانکريم حفظ کړي نونه به څه تکليف ورته وي او نه به يې وخت لګيږي ماد خپل پلار صاحب څخه (اللهﷻ دي يې پر قبر باندي نور واوروي) ډېر واري او رېدلي دي اودخپل کور د سپين سرو ښځو څخه مي هم اورېدلي دي چي زما پلار صاحب چي کله د تي څخه پرې سو نو يو ربع يې (د سپاري څلورمه برخه) يې په يادوه او د اوو کالو په عمر کښي يې ټول قرآن په ياد سو او زما پلار زما د نيکه په پټه د فارسي ډيري برخي لکه بوستان، سکندرنامه او داسي نور شيان ويلي وه زما پلار ويل چي ماته به پلار د قرانکريم د ختمېدو وروسته ويل چي اوس نو دورځي يو قران ختموه او نور ټوله ورځ رخصتي کوه نو زه به دده د امر مطابق دسهار تر لمانځه وروسته د کور پر بام باندي کښېناستم په شپږو يا اوو ساعتو کي به مي ټوله قرانکريم ختم کړی د غرمې ډوډی به مي وخوړه وروسته به مي د خپلي خوښی سره سم فارسي ويل تر شپږو مياشتو پوري مي پرله پسي دا عادت و هره ورځ به مي يو قرآنکريم ختماوی وروسته به مي نور سبقان ويل داهم د اوو کالو په عمر څه معمولي خبره نه ده . ددغه

(۱) اسد الغابة ، استيعاب .

(۲) اصابه

زیات تلاوت فایده داوه چې د ده څخه قرآنکریم نه هېرېدئ او نه ځني ګډوډېدئ څرنګه چې ددوی ظاهري ګوزاره دکتابونو په تجارت وه او د ګتب خانې ډېر کارونه یې په خپل لاس سره کول نو هیڅکله داسي نه ده پیښه سوې چې دوي دي په لاس کار کاوه او په خپله خوله دي یې تلاوت نه وي کړي .کله کله به دوی ته د مدرسې څخه جلا درس ویل کېدئ دا درې کارونه به یې په یوه وخت سرته رسول د تعلیم ډول داسي نه و کوم ډول چې په عمومې توګه په مدرسو کښي دئ چې زیات پشار پر استاز وي بلکي دخاصو طالبانو سره طریقه داسي وه چې شاګرد به عبارت وایی ترجمه به یې کول مطلب به یې بیانوی که به چیري هغه مطلب صحیح و نو استاذ دمخکي تللو امر ورته کاوی که به یې غلطي پکښي وکړه نو که به دغه غلطي ته دتهدید اړتیا وه شاګرد به یې تهدید کړی او که به د ښودلو وه وروه به یې ښودله داد پخوا قصه نه ده بلکي دهمدې پیړۍ واقعه ده په همدې وجه داخبره د منلو وړ نه ده چې د اصحابانو رضی الله عنهم په ډول طاقتونه اوس نسته.

دولسم باب

دنبي ﷺ سره د محبت قصې

که څه هم کومي قصې چې مي تر او سه پوري رانقل کړی دي هغه ټول دنبي ﷺ سره د محبت قصې دي چې ددوی مبارکانو د عاشقانه ژوند سبب و د ځان، مال، ژوند ، مرګ، هیڅ پروا به یې نه کول ددې څخه علاوه د محبت قصې هیڅ شی نه دي داد هغو حالتونو څخه یو حالت دئ چې تر الفاظو او عبارتونو پورته دئ محبت یو داسي شی دئ چې په زړه کي ځای ونیسي نو محبوب لره پر هر شی غلبه ورکوي نه بیا د ننګ او ناموس پروا الري او نه د عزت او شرافت پروا لري . الله ﷻ دي پخپله مهربانۍ او دخپل محبوب په برکت سره خپل او د خپل رسول محبت را نصیب کي (که داسي وسي) نو په هر عبادت کښي خوند دئ او ددین په هر تکلیف کښي هوسایي ده.

۱- د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ د اسلام اعلان او تکلیف

د اسلام په پیل کښې چې به څوک مسلمان سو نو تر خپله وسه به یې اسلام پټ ساتی نبي ﷺ به هم نو موړي کس د اسلام و پټولو ته هڅاوی چې د کافرانو دخوا کوم تکلیف ورونه رسیږي کله چې د مسلمانانو شمېر (۳۹) نفرو ته ورسېدئ نو ابو بکر ﷺ د اسلام د ښکاره کولو لپاره خواست وکړی چې په ښکاره ډول تبلیغ وکړل سي نبي ﷺ اول ځل انکار وکړی خود ابو بکر صدیق ﷺ په ډېر ټینګار یې دده غوښتنه قبوله کړه داسلام د ښکاره کولو اجازه یې ورکړه دوی ټول مبارکان د کعبې مسجد ته ولاړه حضرت ابو بکر صدیق ﷺ د تبلیغ خطبه ورته شورع کړه داپه اسلام کښې تر ټولو لومړی خطبه وه چې ده مبارک وویل په دغه ورځ سید الشهداء حضرت حمزه ﷺ د نبي ﷺ اکا هم اسلام راوړی او تر دغه ورځې درې ورځې وروسته حضرت عمر ﷺ په اسلام مشرف سو خطبه چې شروع سول د څلورو طرفونو څخه کافرانو او مشرکانو پر مسلمانانو چپاو راوړی حضرت ابو بکر صدیق ﷺ سره ددې چې په مکة مکرمه کښې دده عزت او درنښت منل سوی و خو کافرانو دومره وواهه چې مخ مبارک یې د وینو ډک سو پزه او غوږونه یې ټوله په وینو رنګ سول اونه پېژندل کېده په سوکانو او لغتو یې وواهه او سربېره پکښې وغورځېده څه چې یې نسوای کولای هغه یې ورسره وکړل ابوبکر صدیق ﷺ بې هوښه سو دده مبارک خپل قوم بنو تمیم خبر سول او ددغه ځای څخه یې پورته کړی رایې وړی او ټولو خلګو ته دایقنیي وه چې ابوبکر صدیق ﷺ ددې حیواني حملې څخه ژوندی نسي پاتېدلای بنو تمیم مسجد ته راغلل او اعلان یې وکړی چې کچیري ابوبکر ﷺ ددې ووهلو څخه مړ سو نو موږ به یې په بدله کښې عتبة بن ربیعة ووژنو عتبة د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ په وهلو کښې زیات دبدبختیو اظهار کړی و تر ماښام پوري ابوبکر صدیق ﷺ بې هوښه و دوی چې به هر څه ورته وویل هغه به خبري نه کولې ماښام دوی ډیر ږغونه ورته وکړه ددې لپاره چې خبري وکړي ده مبارک هم خبره وکړه خو خبره یې داوه چې د محمد ﷺ څه حال دئ هغو ورته وویل چې دهغه د لاسه دومره غم درته پیښ سو ټوله ورځ د مرګ په خوله کښې وې ته یې لاپوښتنه کوې ټوله ورځ دي دمرګ او ژوند درک نه و معلوم اخر چې څه ساه درپکښې پاته ده هغه دي هم د نبي ﷺ خبري وکړي خلګ ولاړ سوه ده مور ام خیر ته یې وویل چې ده ته د خوړلو او څیښلو لپاره یو شی برابر کړه موریې هم یو شی برابر کړی رایې وړی اوده ته یې په خوړلو ټینګار وکړی خو دده مبارک هغه یوه خبره وه چې د نبي ﷺ څه حال

دئ پر هغه څه تېر سول؟ دده مبارک مور ورته وويل زه خو په هغه نه يم خبره ده ورته وويل چي دحضرت عمر ﷺ خور ام جميل رضي الله عنها ته ورسه او دده مبارک پوښتنه ځني وکړه هغې غريبي د خپل زوی د مظلومانه او پرېشانه حالت د غوښتني د پوره کولو لپاره و ام جميل رضي الله عنها ته ورغله. او د نبي ﷺ د حال پوښتنه يې ځني وکړه هغې هم د عامو مسلمانانو په څېر خپل اسلام پټ ساتلی و ودې ته يې وويل چي زه هيڅ څوک نه پېژنم او محمد ﷺ څوک دئ؟ ستا د زوی ابوبکر ﷺ په حال خبره سوم ډېره خوا بدې سوم کچيري ته وايې ستاسره به ولاړه سمه او ستاد زوی حال به ووينم د ام خير ورسره خوښه سوه دواړي يو ځای راغلې او د ابوبکر ﷺ حال يې وليدئ ام جميل رضي الله عنها چي ورته وکتل د توان څخه يې ووتل بي اختياره په ژړا سوه چي دې بدعملو پر څه حال باندي کړی دئ الله ﷻ دي دوی ته خپله سزا ورکړي حضرت ابوبکر صديق ﷺ ددې څخه پوښتنه وکړه چي نبي ﷺ پرڅه حال دئ؟ ام جميل رضي الله عنها دابو بکر د مور و طرف ته اشاره وکړه چي دايې اوري ابوبکر ﷺ ورته وويل ددې څخه مه وېرېږه ام جميل رضي الله عنها ورته وويل چي رسول الله ﷺ بيخي جوړ او روغ دئ ابوبکر صديق ﷺ پوښتنه ځني وکړه چي اوس چيري دئ ام جميل رضي الله عنها ورته وويل چي دارقم په کور کښي دئ ابوبکر ﷺ و فرمايل چي زما دي په الله ﷻ قسم وي چي تر هغه وخته پوري به هيڅ خوړل او څښل ونه کړم ترڅو رسول ﷺ ونه وينم . دده مبارک مو ر بيا پدې وجه ناارامه وه چي دی يو څه خوراک او څښاک وکړي ترڅو يوڅه توانايي يې په بدن کي پيداسي ځکه کافرانو ټوک ، ټوک کړی و.دېلي خوا دده مبارک قسم کوی چي زه به تر هغه وخته پوري خوراک ونه کړم چي نبي ﷺ ونه وينم په همدې وجه مورېې انتظار وکړی چي دخلګو تلل او راتلل بند سي بيايې د رسول الله ﷺ د ليدلو لپاره بوزي پدې وجه چي څوک يې ونه ويني او تکليف ورونه رسوي کله چي دشپې ډېره برخه تېره سوه نو ابوبکر ﷺ يې دارقم کور ته بوتی کله چي ابوبکر ﷺ ورورسېدئ درسول ﷺ په غاړه کي يې لاس ور واچوی او رسو ل الله ﷺ دده په غاړه کي لاس واچوی دواړه په ژړا سول ټول مسلمانان هم په ژړا سول ځکه چي د حضرت ابوبکر صديق ﷺ حال د ليدلو نه و ددې څخه وروسته ابوبکر صديق ﷺ خواست وکړی چي دا زما مور ده تاسو ددې لپاره د هدايت دعاء وکړی او دې ته د اسلام بلنه ورکړی نبي ﷺ اول دعاء ورته وکړه او وروسته يې اسلام ته و هڅول دا مبارکه په دغه وخت کي مسلمانه سول.(۱)

(۱) خميس

فایده: د عیش او عشرت او د خوشحالي په وخت د مینې او محبت دعوه کوونکي ډېر دي خو عشق او محبت هغه دی چې د تکلیف او غم په وخت کښې هم پاته وي.

۲-د حضرت عمر ﷛ دنبي ﷺ پر وفات باندې غم

حضرت عمر ﷛ د بې ساري زړورتیا او قوت سره-سره چې نن څلوارلس پیړۍ وروسته یې هم زړورتیا مشهوره ده او ددې سره چې داسلام ښکاره کېدل هم دده د اسلام راوړلو سره وسو د مسلمانېدو وروسته یې خپل اسلام په پټه ساتل نه خوښوی دده مبارک د نبي ﷺ سره دمحبت یو کوچنۍ نومونه داده چې کله نبي ﷺ وفات سو نو دده د زغم څخه خبره ووته حیرانۍ واخیستی، توره یې په لاس کې واخیستل ودرېدئ او وې ویل: که هر چا وویل چې نبي ﷺ وفات سوی دئ زه به دهغه سر ورپرې کړم نبي ﷺ د خپل رب و لوري ته تشریف وړی دئ لکه موسي ﷺ چې طور غره ته تشریف وړی و ډېر ژر به راسي او د هغه خلگو لاسونه او پښې به پرې کړم چې دنبي ﷺ د وفات غلطي اوازې خپروي حضرت عثمان ﷛ تر دوهمي ورځې پوري گونگی و هیڅ یې دخولې نه راوتل گرځېدئ را گرځېدئ خبري یې نه سوای کولای حضرت علي ﷛ چوپ ناست و بدن یې حرکت نه کاوه یوازې ابوبکر ﷛ و چې د غره په څېر ولاړو او تول غمونه یې وزغمل چې د رسول الله ﷺ سره یې او س د محبت قصه تېره سوه پدغه وخت کې یې په ډېره آرامتیا سره تشریف راوړی اول یې دنبي ﷺ تندی مچ کړی وروسته د باندې راووتی حضرت عمر ﷛ ته یې وویل کښېنه وروسته یې خطبه وویل چې مطلب یې داسي و: کوم چا چې د نبي ﷺ عبادت کاوه هغه دې پوه سي چې نبي ﷺ وفات سو څوک چې دالله ﷻ عبادت کوي هغه دې پوه سي چې الله ﷻ ژوندی دئ او تل به وي وروسته یې د قرانکریم دغه مبارک آیات تر پایه پوري وواېه: (۱)

وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ ٱلرُّسُلُ ۚ أَفَإِين مَّاتَ أَوْ قُتِلَ ٱنقَلَبْتُمْ عَلَىٰٓ أَعْقَٰبِكُمْ ۚ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ ٱللَّهَ شَيْـًٔا ۗ وَسَيَجْزِى ٱللَّهُ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿١٤٤﴾ (۲)

---

(۱) خمیس

(۲) سورة ال عمران الایة (۱۴۴)

ژباړه : محمد ﷺ صرف پیغمبر دئ .(خدای خو نه دئ چې مرګ او فنا نه پرې راځي) .
کچیرې محمد ﷺ وفات یا شهید سي نو تاسو بېرته له دینه څخه اوړئ؟ او که څوک له دین
څخه واوړي هغه ته هیڅ تاوان نسي رسولای (یوازې خپل ځان ته تاوان رسوي) او الله ﷻ به
شکرګذاره خلګو ته ژر بدله ورکړي.(۱)

فایده: څرنګه چې الله ﷻ د حضرت ابوبکر ؓ څخه د خلافت مهم کار اخیستی او دده
شان هم په دغه وخت کې مناسب و په همدې وجه دده سره په دغه وخت کې دومره زغم موجود و
چې د بل چاسره موجود نه و او دده مبارک ته چې د ښخېدلو او میراث څومره مسئلې معلومې
وې بل چاته نوې معلومې د نبي ﷺ د ښخېدو په ځای کې اختلاف سو ځینو وویل چې په مکه
کې یې ښخوو ځینو وویل چې په مدینه منوره کې یې ښخوو او ځینو ویل چې په بیت المقدس
کښې یې ښخو خو حضرت ابوبکر صدیق ؓ وویل چې ما د نبي ﷺ څخه اورېدلي دي : پر کوم
ځای چې پیغمبر وفات سي پر هغه ځای به یې قبر وي پر کوم ځای چې د نبي ﷺ وفات سوی دئ
پر هغه ځای دي قبر وکښل سي بیا یې و فرمایل: چې ما د نبي ﷺ څخه اورېدلي دي چې د
نبي ﷺ وارث هیڅوک نسي جوړېدلای کوم مال چې ځیني پاته سي هغه به خیراتیږي بیا یې
وفرمایل: ما د نبي ﷺ څخه اورېدلي دي چې څوک د مسلمانانو د حکومت سرپست سي او
بیا په بې پروایی سره بل څوک امیر جوړ کړي پر ده دي لعنت وي بل خبره داده چې نبي ﷺ
فرمایلي دي چې قریش د امر او سلطنت مسئول او سرپرست دي. او داسې......

۳- د یوې ښځې د نبي ﷺ د خبر په وجه بې ارامه کېدل

د احد په غزا کې چې مسلمانانو ته تکلیفونه ورسېدل او ډېر مسلمانان شهیدان سوه
دغه دردونکی خبر چې مدینې منورې ته ورسېدئ نو یوه ښځه لا لهانده د حالاتو د معلومولو
لپاره د کوره څخه را ووتل راغله د خلګو یوه ډله ولاړه وه دې په بې قرارۍ سره پوښتنه ځني
وکړه چې رسول الله ﷺ څنګه دئ؟ هغو په جواب کې ورته وویل: چې ستا پلار شهید سوی
دئ دې انا لله وویل بیا یې په بې قرارۍ سره پوښتنه وکړه چې رسول الله ﷺ څنګه دئ؟ هغو
ورته وویل چې ستا خاوند شهید سو بل چا د زوی د شهادت ورته وویل بل چا بیا د ورور د
شهادت خبر ورکړی چې دا ټول شهیدان سوي دي خو دې د نبي ﷺ پوښتنه کول چې رسول

---

(۱) بیان القران

الله ﷺ څنګه دئ؟ خلګو ورته وویل چې په خیر او خیریت کور ته راغلی ددې زړه داړ نه کاوی او وې ویل چې چیری دئ؟ خلګو ورته وویل چې په هغه ډله کې دئ دا په خپله ولاړه د رسول الله ﷺ په لیدلو یې خپلې سترګې یخې کړې د رسول الله ﷺ په لیدو یې وویل اې د الله رسوله ﷺ! ستا د لیدو وروسته ماته هر غم کمزوری او پر هیڅ دئ په یوه روایت کې راغلی دئ چې دې نبي ﷺ تر جامو ونیوئ او ورته وې ویل: اې د الله ﷻ رسوله ﷺ! چې تاسو ژوندی او سلامت یاست نو ماته د هیڅ مرګ پروا نسته.[۱]

فایده: ددې ډول څخه ډیري قصې راغلي دي په همدې وجه د مؤرخینو دنومونږي ښحي په په نومونو کښې اختلاف دئ خو صحیح خبره داده چې قصې د څو ښځو څخه پیښې سوی دي.

۴- په حدیبیه کې د ابو بکر صدیق رضی الله عنه او مغیرة رضی الله عنه کار او د عامو اصحابو رضی الله عنهم طریقه

د حدیبې مشهور جنګ په سنه ٦ ه کې د میانۍ په میاشت کې سوی دئ. کله چې نبي ﷺ د اصحابانو د یوې لوې ډلې سره د عمرې اراده وکړه د مکې کافران چې خبر سوه نو په خپل منځ کې یې مشوره وکړه چې مسلمانان دې د مکې څخه منعه سي د دغه لپاره یې لویه تیاري وکړه او د خپلې مرستې لپاره یې د دباندې څخه هم خلګ راوغوښتل او یو لوی جماعت یې د مقابلې لپاره تیار کړی نبي ﷺ یو صحابي و ذوالحلیفة نومې ځای ته د حال معلومولو لپاره واستوی (هغه صحابي چې بېرته راغلی) د نبي ﷺ سره یې په عسفان کې ولیدل او نبي ﷺ ته یې وویل چې د مکې خلګو د مقابلې لپاره لویه تیاري نیولې ده او زیات شمېر خلګ یې د دباندې څخه هم راغوښتي دي نبي ﷺ د خپلو اصحابانو سره مشوره وکړه چې اوس څه کول پکار دي؟ یوه لویه لاره داده چې کوم خلګ چې دوی د دباندې څخه راغوښتي دي د هغو پر لورو حمله وسي هغه چې خبر سي نو بېرته به خپلو کورونو ته ولاړ سي بله لار داده چې برابر پر ورسو . حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه وویل: اې د الله ﷻ رسوله ﷺ! مونږ خو د بیت الله شریف د زیارت په اراده روان سوی یو د جنګ خو مو هیڅ اراده نه وه مونږ به ځو که چیري دوی مخته راغلل مونږ یې منعه کړو مقابله به وکړو که نه نو ځو به نبي ﷺ دا خبره خوښه کړه او مخکې روان سو کله چې حدیبې ته ورسېدل نو بدیل بن ورقا خزاعي د یوې ډلې سره نبي ﷺ ته راغلی

---

(۱) خمیس

داخبره يې ورته وکړه چې کافران تاسو هيڅکله د مکې داخلېدو ته نه پرېږدي د جنګ لپاره يې لويه تياري نيولې ده نبي ﷺ ورته وويل چې موږ خو بيخي د جنګ په اراده نه يو راغلي زموږ مقصد عمره کول دي قريشو ته خو هره ورځ جنګونو ډېر تاوانونه رسولي دي ځانونه يې بيخي هلاک کړي دي که ددوی خوښه وي چې روغه جوړه وکړي زه روغې جوړې ته تيار يم زما او ددوی ترمنځ به ژمنه وي چې زه ددوی سره جنګ نه کوم او که دوی زما سره جنګ نه کوي مادي نورو ته پرېږدي او که دوی په هيڅ شي نه راضي کېږي نو زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما روح يې په قبضه کې دئ چې تر هغه وخته به ورسره جنګېږم چې اسلام غالب سي او يا زما سرپرې سي. بديل ورته وويل: ډېر ښه دئ زه به ستا پيغام هغو ته ورسوم، دی ولاړی هغو ته يې پيغام ورساوه خو هغه راضي نه سوه. په همدې ترتيب ددواړو لورو څخه دتګ او راتګ لړۍ جاري وه چې يو وار پکښې عروة بن مسعود ثقفي د کافرانو له لوري څخه راغلی چې په دغه وخت کې لا مسلمان سوی نه و وروسته بيا مسلمان سو ده هم د بديل په څېر د نبي ﷺ سره خبري وکړې او ورته وې ويل: اې محمد ﷺ! که ته ټول عرب له منځه ورل غواړې داخوشوني نه ده ځکه تر اوسه ستا مخکي داسي يو څوک نه دی پيدا سوی چې دغه کار يې کړی وي يعني ټول عرب دي يې لمنځه وړي وي او که چيري دوهم حالت سي يعني عرب پر تاسو برلاسي سي نو کوم کسان چې ستاسره دي هغه زه د شريفو خلکو ډله نه وينم ټول به درڅخه ولاړ سي تابه يوازي پرېږدي ابوبکر ﷺ په دغه ځای کې ولاړو داخبره يې ونه زغمل دستي يې ورته وويل: دخپل خدای (لات) د بولو ځای و څټې ايا موږ به وتښتو؟ او نبي ﷺ به يوازي پرېږدو؟ عروة پوښتنه وکړه چې دا څوک دئ؟ نبي ﷺ ورته وويل: دا ابوبکر ﷺ دئ عروة ورته وويل: ستا يو زوړ احسان پر ما پروت دئ هغه احسان ادا سو او که دي هغه احسان نه وای نو خامخا به مي ددې ښکنځلو جواب درکړی وای ددې خبرو د کولو څخه وروسته بيا د نبي ﷺ سره په خبرو کولو مشغول سو ده د عربو ددود سره سم د نبي ﷺ وږيري مبارکي ته لاس وروړی ځکه دغه کار دوی د خواهش کولو پرمهال کاوه اصحابو ﷺ دغه کار نسو زغملای نو د عروة وراره مغيرة بن شعبة ﷺ په دغه ځای کي ولاړو خود يې پر سر وه د توري په مټ يې خپل اکا (عروة) وواهه چې لاس دي ليري ساته (يعني دنبي ﷺ وږيري مبارکي ته لاس مه وروړه) عروة پوښتنه وکړه چې دا څوک دئ؟ نبي ﷺ ورته وويل: دا مغيرة ﷺ دئ عروة ورته وويل: اې غداره! ستا غداري تر اوسه پوري زغمم ستا زما سره دا وفا ده ؟(مغيرة د اسلام مخکي څو کافران وژلي وه عروة يې ديت ورکړی و په دغه ځای کي يې و هغه کار ته اشاره وه) لنډه دا چې عروة د نبي ﷺ سره خبري کولې او پټ-

پښه به یې د سترګو تر بیخو داصحابانو ﷡ حال هم معلوماوه کله چې بېرته و کافرانو ته ولاړی هغو ته یې وویل: اې قریشو! زه د ډیرو پاچهانو دربارو ته تللی یم. د قیصر، نجاشي او د کسری دربارونه مي لیدلي دي او د هغوی اداب مي لیدلي دي قسم په الله ﷻ که ما دیو پاچا سره د خپلو ملګرو دومره محبت لیدلی دئ لکه د محمد ﷺ د ملګرو محبت چې دده سره دئ کله چې دی لاښي توکي دوی یې چابک په لاس را واخلي پر مخ او بدن یې موږي کوم امر چې دی وکړي د پوره کولو لپاره یې تولـه و ځغلي کله چې هغه اودس کوي نو د اوداسه اوبو لپاره لاسونه ورته نیسي یو څاڅکی او به مځکي ته نه پرېږدي کوم یوه ته که څاڅکی ور ونه رسیږي نو دهغه بل یوه لوند لاس راکش کړي پر خپل مخ یې و موږي که د محمد ﷺ په مځکي دوی خبري کوي نو په لوړ اوازیې نه کوي دادب له وجهي ده ته لوړ نه ګوري که د هغه د سر یا د ږیري ویښته ولویږي نو دبرکت لپاره یې پورته کوي مځکي ته یې نه پرېږدي لنډه دا چې ما دهیچا دومره محبت دخپل مشر سره نه دئ لیدلی لکه د محمد ﷺ د ملګرو محبت چې دده سره دئ. وروسته نبي ﷺ عثمان ﷛ د قاصد په ډول مکې ته واستوی ځکه یو خو دی مسلمان و او بل دده په مکة کې ډیر عزت و په همدې وجه دده په وړاندې ډیره ویره نه وه چې خلګ دې تاوان ورورسوي. نو ځکه یې دی د قاصد لپاره غوره و بلل سو. ده مبارک تشریف یووړی. مسلمانانو ارمان وکړی چې دی خو لاښه سو مکې ته ولاړی ښه په خوند به طوافونه وکړي نبي ﷺ وفرمایل: زما امید نسته چې هغه دې زما پرته طواف وکړي. کله چې عثمان ﷛ مکې ته داخل سو نو ابان بن سعید په خپله پناه کې واخیستی اورته وې ویل: چې ولاړ سه هر چیرې چې ځې هیڅوک ستا منعه نسي کولای عثمان ﷛ هم شاو خوا وګرځېدئ د ابو سفیان او د قریشو د سردارانو سره یې و لیدل د نبي ﷺ پیغام یې ورو رساوه کله چې بېرته راتلی نو دمکې خلګو ورته وویل: چې اوس راغلی یې ونیسه طواف وکړه ده مبارک په جواب کې ورته وویل عجیبه ده چې رسول الله ﷺ به منعه کړل سوی وي او زه به طواف کوم دا هیڅکله نه سي کېدلای کافران دده پر دې خبره په غصه سوه دی یې بندي کړی او مسلمانانو ته یې حال وروا ستوی چې عثمان شهید سو نبي ﷺ چې دا خبر واورېدئ داصحابانو ﷡ څخه یې تر آخري سلګۍ پوري د جنګېدو ژمنه واخیسته کافران چې د مسلمانانو پدې بیعت (ژمنه) خبر سوه دستي یې عثمان ﷛ ایله کړی.(۱)

(۱) خمیس

فایده: په دې قصه کې د ابوبکرؓ وینا او د مغیرةؓ وهل، د اصحابانوؓ عامه تګلاره چې عروة په ډېر ځیر ولیده هم دا ډول د عثمانؓ د طواف څخه انکار، هره قصه داسې ده چې د نبي ﷺ سره د بې اندازې مینې خبر ورکوي. دغه بیعت (ژمنې) ته بیعت الشجر وایي په قرانکریم هم د دې بیعت بیان راغلی دئ چې الله ﷻ په سورة فتح کې فرمایي:

﴿ لَّقَدْ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنِ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ ٱلشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَٰبَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا ۝١٨ ﴾ (۱)

پورتنی آیات به د ترجمې سره ژر په خاتمه کې راسي انشا الله.

۵- د حضرت ابن زبیرؓ وینه چیښل

نبي ﷺ یو ځلي ښکرونه ولګول او کومه وینه چې راووتل ابن زبیرؓ ته یې ورکړل چې دا یو سه یو ځای یې ښخه کړه ده مبارک هغه وینه را واخیستل خپله یې و چیښل او راغلی نبي ﷺ ته یې وویل چې وینه مې ښخه کړه نبي ﷺ ورته وویل: چیرې دې ښخه کړه؟ ده مبارک ورته وویل چې و مې چیښل. نبي ﷺ ورته وویل: کوم بدن ته چې زما وینه ورسیږي هغه بدن اور د دوزخ نسې مسحه کولای خو د خلګو څخه تا ته هلاکت دئ ستا څخه و خلګو ته هلاکت دئ.(۲)

فایده: د نبي ﷺ لوې او کوچنې اودس مات تول پاک دئ په دې کې هیڅ مشکل نسته دنبي ﷺ د دې ارشاد څخه مطلب دادی چې د خلګو څخه تا ته هلاکت دی ستا څخه و خلګو ته هلاکت دئ علماؤ لیکلې دي چې و امارت او سلطنت ته اشاره ده خو (ځینې بیا اختلاف کوي) کله چې عبد الله بن زبیرؓ پیدا سو هغه وخت هم نبي ﷺ و دې طرفته اشاره کړې وه او ورته ویلي یې وه چې ستا یو پسه د چرموښانو په منځ کې دئ داسې چرموښان دي چې کالي به یې اغوستي وي وروسته د یزید او عبد الملک مشهور جنګ د ابن زبیرؓ سره وسو او په هغه کې هم شهید سو.

---

(۱) سورة الفتح الایة (۱۸)

(۲) خمیس

٦- د حضرت مالک بن سنان رضي الله عنه وينه چيښل

داحد په غزاء کې چې د نبي ﷺ په مخ اويا سر مبارک د خود دوې کړۍ ننوتې نو د يوې خوا حضرت ابو بکر رضي الله عنه ورو څغستل او د بلې خوا ابو عبيده رضي الله عنه ورو ځغستل او په غاښو يې د کړيو را ايستل شروع کړه لومړۍ ابو عبيده يوه کړۍ په غاښ را وايستل دوهم غاښ يې مات سو. ددې دوو کړيو په راوتو سره د نبي ﷺ د پاک بدن څخه وينه راووته د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه پلار مالک بن سنان رضي الله عنه دغه وينه په خپلو شونډانو وځيښل او وې رودل وينه يې تېره کړه. نبي ﷺ و فرمايل: د کوم بدن سره چې زما وينه يو ځای سي هغه بدن د دوزخ اور نه سي مسحه کولای.(۱)

۷- د حضرت زيد بن حارثة رضي الله عنه و خپل پلار ته انکار

حضرت زيد بن حارث رضي الله عنه د کفر په وخت کې د خپلې مور سره دانا و کورته تلی چې قافله يې بنو قيس و شکول او وې لوټل چې زيد رضي الله عنه هم پکښې و دی يې غلام کړي د مکې په بازار کې يې خرڅ کړی. حکيم بن حزام د خپلې عمة خديجې رضي الله عنها لپاره رانيوی د خديجې رضي الله عنها چې کله د نبي ﷺ سره نکاح وسوه نو خديجې رضي الله عنها زيد د نبي ﷺ په خدمت کې وړاندې کړی. د زيد پلار د خپل زوی په بيلتون ډېر غمګين و. ځکه طبعي خبره ده چې پلار د اولاد سره مينه لري. د زيد پلار به د خپل زوی په جلا والي کې ژړل او اشعار به يې ويل يوې خوا او بلې خواته به ګرځېدئ چې د شعرونو لنډه ترجمه يې داده: زه د زيد په ياد کې ژاړم نه يم خبر چې هغه ژوندی دئ چې اميد يې وکړم او که مرګی ختم کړی دئ په الله ﷻ قسم کوم چې دا هم نه ده راته معلومه چې اې زيده! ته پستې مځکې هلاک کړي يې او که د غره مځکې هلاک کړي يې. ارمان چې ماته معلومه وای چې ته بيرته راځې که يا زما په ټول عمر کې لوی ارمان دادئ چې ته بېرته راسې اې زيده! چې لمر راخيږي هم ته را ياديږې او چې باران کېږي نو هم ستا ياد ما ځوروي او کله چې بادونه چليږي نو هم ستا ياد تازه کوي. های افسوسه زما غم او فکر څومره اوږد سو زه به دده په لټه او تلاش کې په ټوله دنيا د ګرځېدو لپاره د اوښ چابکي په کار واچوم پر ټوله دنيا د ګرځېدو څخه به نه سم ستړی اوښ که ستړی سي خو زه نه ستړی

---

(۱) قرة العيون

کېږم خپل ټول ژوند به په دې کښې تېروم که ماته مرګ راسي نو ډېر به ښه وي ځکه مرګ هر شی فنا کوي که څه هم هر څوک هر څومره امید ونه لري خو زه به د خپلوانو څخه فلانکي فلانکي ، آل اولاد ته وصیت وکړم چې په دغه ډول په زید پسې تلاش وکړي. لنډه دا چې ده به په ژړا ژړا کې دا اشعار و ویل او تلاش به یې کاوه ناڅاپه دده د قوم څو کسان حج ته ولاړل(۱) هلته یې زید و پېژندئ او خپل د پلار حالت یې ورته بیان کړی د پلار شعرونه یې ورته وویل او د هغه د بیلتون قصه یې ورته وکړه. حضرت زید ﷺ وهغو ته درې شعرونه په لاس ورکړل چې مطلب یې داسې و. زه په خیر او خیرت کې یم زه د ډېرو سخیانو خلګو په غلامۍ کې یم زما لخوا هیڅ فکر مه کوئ. هغه کسان چې ولاړل د زید و پلار ته یې د زید د خیریت خبر ورکړی او هغه اشعار یې ورته وویل چې زید ورته ویلي وه او د زید ادرس یې وروښودئ. د زید پلار او اکا روان سوه د غلامۍ د خلاصېدو په نیت یې د ځان سره فدیه واخیسته د نبي ﷺ حضور ته ورغلل او ورته وې ویل: اې د هاشم اولاده! او د خپل قوم سرداره! تاسو خو د الله ﷻ د کور همسایګان یاست تاسو خو د حرم اوسېدونکي یاست تاسو خو خپل بندیان ازاده وی. وږو خلګو ته خوراک ورکوی موږ د خپل زوی د خلاصون لپاره راغلي یو پر موږ احسان او کرم وکړه زموږ فدیه قبوله کړه. زما زوی ازاد کړه بلکي څومره چې فدیه ده تر هغه زیاتي پیسې واخله نبي ﷺ ورته وویل: څه خبره ده؟ دوی ورته وویل چې موږ د زید په طلب راغلي یو نبي ﷺ ورته وویل. بس دومري خبره ده؟ دوی ورته وویل. هو، نبي ﷺ ورته وویل: هغه راوغواړئ او پوښتنه ځني وکړئ که چیري په خپله خوښه تلی نو بېله فدیې یې بوزئ او که نه تلی نو زه پر داسې چا باندي زور نسم اچولای چې په خپله خوښه نه ځي دوی ورته وویل: تاسو تر حق هم زیات احسان وکړی دا خبره مو بیخي خوښه ده. زید ﷺ راوغوښتل سو نبي ﷺ پوښتنه ځني وکړه چې ته دوی پېژنې؟ زید ﷺ ورته وویل: هو، دا زما پلار دئ او دغه بل مي اکا دئ نبي ﷺ ورته وویل: زما حال هم تاته معلوم دئ که په خپله خوښه زما سره اوسېدل غواړې خو زما سره اوسه او که ددوی سره ځې نو درته اجازه ده حضرت زید ﷺ ورته وویل یا رسول الله ﷺ! زه ستاسې په مقابله کې هیڅوک نسم خوښولای ته زما د پلار پر ځای یې او د اکا پر ځای مي هم یې پلار او اکا دواړو ورته وویل: زیده! د ازادۍ په مقابل کښې غلامي خوښوې؟ د پلار، اکا، کور او نور قریبانو په مقابل

(۱) تر اسلام مخکي کافرانو هم دحج یوډول دود درلودی چې لوڅ به یې پر مکه مکرمة باندي طواف کاوه او چک چکې به یې کولې . داسي نه ده چې دزید خپلوان په دغه وخت کي مسلمانان وه فرضي حج یې اداکوی.ژباړن .

کښېي غلام او سېدل غواړې؟ زيد ﷺ ورته ؛ نبي ﷺ و لوري ته اشاره وکړه او وې ويل: ماپه ده کي داسي شيان ليدلي دي چي په مقابله کي يې هيڅ شی نسم خوښولای نبي ﷺ چي دده خبري واورېدې نو دی يې په غيږ کي ونيوی او وې ويل چي دی ما په زوی والي نيولی دئ. پلار او اکا چي يې دا حال وليدئ ډېر خوشاله سوه او په خوشحالۍ سره يې پرېښودئ ولاړل.(١)

فايده: حضرت زيد ﷺ په دغه وخت کي کوچنی هلک و چي پر خپل کور، پلار او نورو باندي يې د غلامۍ ژوند غوره کاوه داد هغه محبت ښودنه کوي چي ډېر ښکاره دئ.

۸- داحد په جنګ کي د حضرت انس بن نضر ﷺ عمل

د احد په غزاء کي چي مسلمانانو ماته و خوړل نو يو چا دا خبره مشهوره کړه چي نبي ﷺ شهيد سو ددې دردونکي خبري چي کومي اغيزې پر اصحابانو ﷺ باندي ښکاره وې هغه ډېره ښکاره خبره ده. مسلمانانو ددې ويره ونکي خبر په اورېدو سره هغه پاته همت هم دلاسه ورکړی حضرت انس ﷺ رااروان و چي د مهاجرو او انصارو په يوه ډله کي يې حضرت عمر ﷺ او حضرت طلحة ﷺ وليدل چي ټوله د خوابدتيا په حالت کي دي انس ﷺ پوښتنه وکړه چي دا څه پيښه ده چي مسلمانان خوابدي ښکاري؟ دوی ورته وويل چي نبي ﷺ شهيد سو حضرت انس ﷺ ورته وويل چي دنبي ﷺ وروسته چي تاسو ژوندی پاته سئ نو څه به کوئ توري په لاسو کي واخلئ ځانونه قربان کړئ. حضرت انس ﷺ توره په لاس کي واخيستل د کافرانو په يوه ډله ورننوتی تر هغه پوري وجنګېدئ ترڅو چي شهيد سو.(٢)

فايده: دده مبارک مطلب دا و چي د کوم چالپاره چي ژوند و هغه نسو پاته نو بيا ژوند پاته کېدل د څه لپاره دئ هم داسي وسوه، چي خپل ځان يې قربان کړی.

---

(١) خميس

(٢) خميس

۹- په احد کښې د سعد بن ربيع ﷺ پيغام

نبي ﷺ داحد په غزا کې پوښتنه وکړه چې د سعد بن ربيع ﷺ حال معلوم نه سو چې څه به پر تېر سوي وي يو صحابي ﷺ يې دده د تلاش لپاره ولېږئ دغه صحابي د شهيدانو په ډله کې لټون وکړی چې ګونډي ژوندی وي بيا يې په لوړ اواز وويل: زه نبي ﷺ رالېږلي يم چې د سعد ﷺ خبر راوړه. د يو ځای څخه يو کمزوری اواز راووتی دغه صحابي و هغه طرفته ورغلی که يې وکتل سعد ﷺ د شهيدانو په منځ کې پروت دئ لږ ساه پکښې ده کله چې نژدې ورغلی سعد ﷺ ورته وويل: چې نبي ﷺ ته زما سلام وايه چې زما د خوا دي الله ﷻ تاسو ته غوره بدل درکړي. کوم بدله چې يوه نبي ته د امتي لخوا ورکړل سوې ده تر هغه غوره بدله، او مسلمانانو ته زما دا پيغام ورسوه. که و نبي ﷺ ته کافران ورسېدل او په تاسو کې يو سترګي لګېدونکی و يعني ژوندی و نو دالله ﷻ په وړاندي يې بيا هيڅ عذر نه قبلېږي. دا يې وويل وفات سو.(۱)

فايده: فجزاه الله عنا افضل ماجزاي صحابياً عن امة نبيه .

په حقيقت کې دغه مبارکو تر سرتيرو اصحابانو د خپلي سر تيرۍ ثبوت ورکړی دئ (الله ﷻ دي يې قبرونه د نور څخه ورډک کړي) په زخمو باندي زخمونه قبلوي ساه يې وزي مګر ددې فکر نسته چې شکايت، وېره او يا دي غم وکړي بلکي ددوی سره په دغه حال کې هم د نبي ﷺ د حفاظت او پر نبي ﷺ باندي د ځان قربانولو شوق او جذبه سته. ارمان! په ماغوندي نااهله کې هم ددوی په څېر يوه لړه برخه مينه وای.

۱۰- د نبي ﷺ په قبر ليدو سره د يوې ښځي مرګ

د حضرت عائشې ﷺ حضور ته يوه ښځه راغله او ورته وې ويل چې ماته د نبي ﷺ قبر مبارک راوښيه عائشې ﷺ هغه مبارکه او د نوره ډکه کوټه ورخلاصه کړه چې د نبي ﷺ قبر مبارک پکښې و هغې ښځي چې قبر مبارک وليدئ په ژړا سوه په ژړا ژړا کې وفات سوه. رضي الله عنها و ارضا ها.(۲)

---

(۱) خميس

(۲) خميس

۹- په احد کښې د سعد بن ربيع ﷺ پيغام

نبي ﷺ داحد په غزا کې پوښتنه وکړه چې د سعد بن ربيع ﷺ حال معلوم نه سو چې څه به پرې سوي وي يو صحابي ﷺ يې دده د تلاش لپاره ولېږی دغه صحابي د شهيدانو په ډله کې لټون وکړی چې ګوندي ژوندی وي بيا يې په لوړ اواز وويل: زه نبي ﷺ را لېږلي يم چې د سعد ﷺ خبر راوړه. د يو ځای څخه يو کمزوری اواز راووتی دغه صحابي وهغه طرفته ورغلی که يې وکتل سعد ﷺ د شهيدانو په منځ کې پروت دئ لږ ساه پکښې ده کله چې ورغلی سعد ﷺ ورته وويل: چې نبي ﷺ ته زما سلام وايه چې زما د خوا دي الله ﷻ تاسو ته غوره بدل درکړي. کومه بدله چې يوه نبي ته د امتي لخوا ورکړل سوې ده تر هغه غوره بدله او مسلمانانو ته زما دا پيغام ورسوه. که ونبي ﷺ ته کافران ورسېدل او په تاسو کې يو سترګي لغړونکی و يعني ژوندی و نو دالله ﷻ په وړاندې يې بيا هيڅ عذر نه قبلېږي. دايې وويل وفات سو.(١)

فايده: فجزاه الله عنا افضل ماجزاي صحابياً عن امة نبيه .

په حقيقت کې دغه مبارکو تر سرتيرو اصحابانو د خپلې سر تيرۍ ثبوت ورکړی دئ (الله ﷻ دې يې قبرونه د نور څخه وډک کړي) په زخمو باندې زخمونه قبلوي ساه يې وزې مګر ددې فکر نسته چې شکايت، وېره او يا دې غم وکړي بلکې ددوی سره په دغه حال کې هم دنبي ﷺ د حفاظت او پر نبي ﷺ باندې د ځان قربانولو شوق او جذبه سته. ارمان! په ماغوندې نااهله کې هم ددوی په څېر يوه لږه برخه مينه وای.

۱۰- د نبي ﷺ په قبر ليدو سره د يوې ښځې مرګ

د حضرت عائشې رضي الله عنها حضور ته يوه ښځه راغله او ورته وې ويل چې ماته د نبي ﷺ قبر مبارک راوښيه عائشې رضي الله عنها هغه مبارکه او د نوره ډکه کوټه ورخلاصه کړه چې دنبي ﷺ قبر مبارک پکښې وهغې ښځې چې قبر مبارک وليدئ په ژړا سوه په ژړا ژړا کې وفات سوه. رضي الله عنها و ارضا ها.(٢)

---

(١) خميس

(٢) خميس

فایده: ایا تاسو ددې عشق نمونه یو ځای لیدلې ده چې دقبر د زیارت توان هم ونه لري او هلته یې ساه و خیږي؟.

۱۱- د اصحابانو رضی الله عنهم دمحبت متفرقي قصې

د حضرت علي کرم الله وجهه څخه یو چا پوښتنه وکړه چې د نبي ﷺ سره څومره مینه لرې؟ ده مبارک ورته وویل زمادي په الله ﷻ قسم وي چې نبي ﷺ موږ ته تر خپلو مالو، مور او پلار، تر خپلو ځانو او د سختي تندي په وخت کي تریخو اوبو زیات محبوب دئ.([1])

فایده: ده مبارک ریشتیا وویل: د اصحابانو مبارکانو هم داسي حالت و ځکه دوی د کامل ایمان څښتنان وه. الله ﷻ فرمایي:

قُلْ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوَٰنُكُمْ وَأَزْوَٰجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَٰلٌ ٱقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَٰرَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَجِهَادٍ فِى سَبِيلِهِۦ فَتَرَبَّصُوا۟ حَتَّىٰ يَأْتِىَ ٱللَّهُ بِأَمْرِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٢٤﴾ ([2])

ژباړه: دوی ته ووایه: که چیري ستاسو پلرونه، ستاسو زامن، ستاسو ورونه، ستاسو بیبیاني، ستاسو قوم او هغه مال چې تاسو ګټلی دئ او هغه تجارت چې ستاسو سره د هغه د وتلو وېره ده او هغه کورونه چې تاسو یې خوښوی (که چیري دا ټول شیان) تاسو ته تر الله ﷻ او د هغه تر رسول ﷺ او د الله ﷻ په لاره کښي تر جهاد ستاسو خوښ وي نو تاسو صبر وکړئ تر هغه وخته پوري چې د الله ﷻ حکم راځي (او د الله ﷻ حکم نه منونکي خپل مقصود ته یعني عذاب ته رسوي)، الله ﷻ فاسقانو ته هدایت نه کوي.([3])

په دې آیت کي د الله ﷻ د هغه کسانو سره د عذاب وعده ده چې د نورو شیانو سره تر الله ﷻ او تر رسول الله ﷺ زیاته مینه کوي. د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دئ چې نبي ﷺ فرمایي: تر هغه به یو ستاسو څخه کامل مؤمن نسي تر څو زما سره تر خپل پلار، اولاد او ټولو خلکو زیات محبت ونه کړي. د حضرت ابو هریرة رضی الله عنه څخه هم داسي مضمون لیکل سوی

([1]) شفاء
([2]) سورة التوبة الایة (۲۴)
([3]) بیان القران

دئ. علماؤ ويلي دي : چي ددې محبت څخه اختياري محبت مراد دئ غير اختياري يعني اضطراري محبت نه دی مراد. که چيري ددې محبت څخه طبعي محبت مراد سي نو هم کېدای سي خو بيا د ايمان څخه د کاملي درجې ايمان مراد دئ لکه د اصحابانو ﷺ ايمان چي و. حضرت انس ﷺ فرمايي: چي نبي ﷺ ورته وفرمايل: درې شيان دي که په چا کښي موجود سوه نو د ايمان خوږوالی به ورپه برخه سي لومړی د الله ﷻ او د رسول الله ﷺ سره محبت دئ چي تر هر شي زيات او خوندور دئ دوهم دا چي د يو چا سره محبت کوي د الله ﷻ د رضا لپاره وي. دريم دا چي د کفر ولوري ته تلل يعني کافر کېدل دومره ورته ګران سي لکه په اور کي پرېوتل.

يو ورځ حضرت عمر ﷺ وفرمايل: اې د الله ﷻ رسوله ﷺ! ته ماته تر خپل ځان پرته تر ټولو شيانو محبوب يې رسول الله ﷺ وفرمايل: چي څوک تر هغه وخته پوري کامل مؤمن نسي جوړېدلای تر څوزه تر خپل ځان ورته محبوب نه سم. عمر ﷺ وويل: اې د الله ﷻ رسوله ﷺ! اوس ته ماته تر خپل ځان هم محبوب يې رسول الله ﷺ ورته وويل: (الآن) يا عمر! يعني اوس اې عمره! دا چي د نبي ﷺ ددې جواب مطلب به څه وي علماؤ يې دوه مطلبه ښودلي دي. لومړی دا چي اوس ستا ايمان پوره سو. دوهم دا چي دا خبرداری و چي اې عمره! اوس دا خبره پيدا سوه پکار خو دا وه چي د پخوا څخه وای. سهيل تستري رحمه الله فرمايي: څوک چي په هر حال کښي نبي ﷺ په خپل والي يعني آقا ونه ګڼي هغه د سنتو خوند نسي څکلای. يو صحابي نبي ﷺ ته راغلی او ورته وې ويل چي د قيامت ورځ به کله راځي؟ نبي ﷺ ورته وويل چي د قيامت لپاره دي څه تياري نيولې ده چي پوښتنه يې کوې صحابي ورته وويل ما ډيري روژې، خيراتونه او لمونځونه ندي کړي مګر زما په زړه کښي مي د الله ﷻ او د رسول الله ﷺ سره محبت دئ نبي ﷺ ورته وويل چي د قيامت په ورځ به ته د هغه چا سره ملګري يې چي ته مينه ورسره لرې دغه حديث ډيرو اصحابانو نقل کړی دئ چي په دوی کښي عبد الله بن مسعود، ابو موسي اشعري، صفوان، ابوذر ﷺ او داسي نور مبارکان هم دي. حضرت انس ﷺ فرمايي چي اصحابانو ﷺ ته چي پدې حديث سره مسلمانانو ته څومره خوشحالي حاصله سوه په هيڅ شي دومره خوشحالي نه وه ورته حاصله سوې. دا ښکاره خبره ده چي اصحابانو ﷺ ته خوشحالي په کار وه ځکه د نبي ﷺ محبت د دوی په رګ او رېښه کښي موجود وو نو بيا به ولي نه خوشحالېدل. د حضرت فاطمې ﷺ کور د نبي ﷺ د کور څخه لږ ليري و نبي ﷺ وفرمايل: چي زما زړه غواړي ستا کور زما و کور ته نژدې سي حضرت فاطمې ﷺ وويل: چي د حارثه ﷺ کور تا ته نژدې دئ و هغه ته ووايا ست چي زما سره کور

بدل کړي رسول الله ﷺ ورته وویل د حارثة رضي الله عنه سره مخکې هم یو ځلي بدلون سوی دی او س ماته حیاء راځي. حارثه رضي الله عنه په دې خبر سو دستي د نبي ﷺ و حضو ته ورغلی او ورته وې ویل چي زه خبرسوی یم چي تاسو د فاطمې رضي الله عنها کورو خپل ځان ته نژدې غواړئ دغه زما کورونه دي او تر دغه وتاسو ته هیڅ کور نژدې نسته هر یو چي موخوښ وي دهغه سره یې بدل کړئ اې د الله ﷻ رسوله ﷺ! زه او زما مال دالله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ دي اې د الله ﷻ رسوله! زما دې په خپل خدای ﷻ سره قسم وي کوم مال چي تاسو زما څخه واخلی هغه زما ډېر خوښ دی تر هغه مال چي زما څخه پاته سي نبي ﷺ ورته وفرمایل چي رښتیا وایي او د برکت دعا یې ورته وکړه او کور یې ورسره بدل کړئ. (۱)

یو صحابي د نبي ﷺ حضور ته ورغلی او ورته وې ویل چي ستاسو سره زما تر ځان، مال، اهل او عیال محبت زیات دئ زه په خپل کور کښي ناست یم چي تاسو راپیاد سی نو صبر مي نه کیږي تر هغه وخته چي راسم او ستاسو زیارت ونه کړم او ماته په فکر کښي راځي چي ما او تاسو ته مرګ خامخا راتلونکی دئ خو ددې وروسته به ته لوړو د انبیاو درجو ته ولاړسې زما سره دا وېره ده چي بیا به زه تاسو نه وینم نبي ﷺ دده په جواب کښي چوپتیا اختیار کړه تر هغه وخته چي جبرائیل علیه السلام راغلی او دا آیت یې نازل کړی:

وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَعَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّٰلِحِينَۚ وَحَسُنَ أُوْلَٰٓئِكَ رَفِيقٗا ﴿٦٩﴾ (۲)

ژباړه: څوک چي دالله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ اطاعت وکړي نو بېشکه دغه کس د هغه کسانو سره دئ چي الله ﷻ نعمت پرې کړی دئ (چي عبارت دي) د انبیاؤ، صادقانو، شهیدانو او صالحانو څخه (او دغه کسان) ښه دي د ملګرتیا لپاره.

دغه آیت رسول الله ﷺ ده ته په جواب کښي وو ایه. داسي ډېري پېښي اصحابانو رضي الله عنهم ته پېښي سوی دي او خامخا ورته پېښېدلې (عشق است وهزار بدگمانی- یعني مینه ده او زر بد ګماني)

همدا ډول یو صحابي نبي ﷺ ته راغلی او ورته وې ویل: چي زما ستا سره دومره محبت دئ هر وخت چي په خیال کي راسې که په هغه وخت کي زه رانسم او ستا زیارت ونه کړم نو زما غالب ګمان راسي چي زما ساه به ووزي خو زما سره دا فکر دئ چي که چیري زه جنت ته ولاړ

(۱) طبقات

(۲) سورة النساء الاية (٦٩)

سم نو زما درجه به ترتا کښته وي او ماته به په جنت کي او سېدل ستا د زيارت پرته هم لوی تکليف وي نبي ﷺ دغه آيات ورته ووايه . په يو بل حديث کښي راغلي دي چي يو صحابي د نبي ﷺ حضور ته ورغلی او ډېر غمجن و نبي ﷺ پوښتنه ځني وکړه چي ولي غمجن يې؟ ده مبارک ورته وويل چي زه په يوه فکر کي يم نبي ﷺ ورته وويل : په کوم فکر کښي يې؟ ده مبارک ورته وويل موږ سهار او ماښام ستاسو حضور ته راځو ستاسو په زيارت زړونه خوشحاله کوو ستاسو په خدمت کښي کښېنو سبا چي تاسو د انبياء(عليهم السلام)ودرجې ته ورسېږې نو موږ خو هلته نه سو رسېدلای (ستاسو د زيارت څخه به بې برخي يو) نبي ﷺ چوپ سو کله چي هغه پورتنی آيت نازل سو نبي ﷺ هغه انصاري صحابي راوغوښتی او زيري يې پر وکړې. په يوه حديث کښي راغلي دي چي ډېرو اصحابانو پورتنی شکايت وکړی نبي ﷺ پورتنی آيت ورته ووايه. په يو حديث کښي راغلي دي چي اصحابانو ﷺ وويل: اې دالله ﷻ رسوله ﷺ! داخو ښکاره خبره ده چي نبي ﷺ پر امتي باندي فضيلت لري او د نبي ﷺ درجې به لوړې وي نو بيا به د دوی د يو ځای کېدو لپاره کومه لاره وي نبي ﷺ ورته وفرمايل: چي د لوړو درجو خاوندان به راځي د کښتو درجو والا سره به کښېني او خبري اتري به ورسره کوي.(١)

نبي ﷺ فرمايي چي زما څخه وروسته به ځني خلک زما سره محبت کوونکي پيدا سي او دا هيله به لري چي کاشکي دوی دخپل مال، اهل او عيال په بدل کښي زه ليدلی وای د خالد ﷺ لور عبده وايي چي زما پلار به کله د بډېدو لپاره ستوني ستخ پرېوتی سترګي به يې نه سره ورتللې دنبي ﷺ په ياد او مينه به اخته و. د مهاجرينو او انصارو نومونه به يې اخيستل اويادول به يې چي دا زما اصول او فروغ دي يعني دوی کوچني او لوي د دين ښاخونه دي زما زړه ددوی و لوري ته کش سوی دئ . اې الله ﷻ ! ماته ژر مرګ راولې چي ددوی سره يو ځاي سم دا به يې ويل بيده به سو .

حضرت ابو بکر صديق ﷺ يو ځلي وويل اې دالله ﷻ رسوله ﷺ! زه دخپل پلار د مسلمانېدو پر ځای ستاد اکا د ابو طالب د مسلمانېدو زياته ارزو لرم ځکه چي پدې سره به تاسي خوشحاله سی يو ځلي حضرت عمر ﷺ د نبي ﷺ اکا حضرت عباس ﷺ ته وويل زه د خپل پلار تر مسلمانېدو ستا په اسلام راوړلو زيات خوشحاله سوم ځکه ستاسو اسلام راوړل نبي ﷺ ته ډېر زيات خوښ و. يوه شپه حضرت عمر ﷺ د حفاظت ګښت کاوه چي د يوه کور

---

(١) درمنشور

راویانو د روایتو څخه به مخ اړوئ. هغه روایتونه چي ددوی په شان کښي تاوان پیدا کوي ددې ډول څخه که څه روایت واورېدل سي نو دهغه به په ښه ډول تاویل کوئ او پر ښه لار به یې حملوئ ځکه دوی ددې حق دار دي. د امبارکان په بدی مه یادوئ ددوی نیکی، ښه صفتونه اوددوی فضائل بیانوئ او د عیب د خبرو څخه یې چوپ واوسئ لکه نبي ﷺ چي فرمایي: کله چي زما د اصحابانو رضي الله عنهم بد بیان کېږي نو چوپتیا غوره کړئ د اصحابانو رضي الله عنهم فضائل په قران کریم او احادیثو کښي زیات راغلي دي الله ﷻ فرمایي:

مُحَمَّدٌ رَّسُولُ ٱللَّهِۚ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ أَشِدَّآءُ عَلَى ٱلۡكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيۡنَهُمۡۖ تَرَىٰهُمۡ رُكَّعٗا سُجَّدٗا يَبۡتَغُونَ فَضۡلٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٗاۖ سِيمَاهُمۡ فِي وُجُوهِهِم مِّنۡ أَثَرِ ٱلسُّجُودِۚ ذَٰلِكَ مَثَلُهُمۡ فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِۚ وَمَثَلُهُمۡ فِي ٱلۡإِنجِيلِ كَزَرۡعٍ أَخۡرَجَ شَطۡـَٔهُۥ فَـَٔازَرَهُۥ فَٱسۡتَغۡلَظَ فَٱسۡتَوَىٰ عَلَىٰ سُوقِهِۦ يُعۡجِبُ ٱلزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ ٱلۡكُفَّارَۗ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِنۡهُم مَّغۡفِرَةٗ وَأَجۡرًا عَظِيمَۢا ﴿٢٩﴾ (١)

ژباړه: محمد ﷺ دالله ﷻ رسول دئ کوم کسان چي دده سره ور سره دي سخت دي پر کافرانو او په خپل منځ کي رحم لرونکي دي ته به ویني چي رکوع او سجده کوونکي دي د الله ﷻ فضل او رضا لټونکي دي ددوی نښي ددوی په موخانو کي د سجدې اثر دئ هم دا ډول ددې مثال په توراة او انجیل کښي هم سته لکه یو تخم (چي لومړی راشین سي) نازکه پونګه راوباسي بیا زوروره سي نو ښه په قوت کي سي بیا پر خپله تنه باندي برابر سي (همدا ډول اصحابان رضي الله عنهم هم وه چي اول کمزوري وه وروسته الله ﷻ ورځ تر بلي قوت وروبخښئ او دا قوت الله ﷻ ځکه ورکړی) چي پدې قوت سره کافران د حسد له امله وسوځي. الله ﷻ د هغو کسانو سره وعده کړې ده چي ایمان یې راوړی دئ، نیک کارونه یې تر سره کړي دي چي الله ﷻ به مغفرة ورته کوي او لوی اجر به ورکوي.

دا ترجمه په دې ډول ده چي دتورات پر لفظ باندي آیات پوره سي ځکه دآیات په فرق سره ترجمه فرق کوي لکه دتفسیرونو څخه چي معلومېږي. په همدغه سورة کي الله ﷻ

(١) سورة فتح – رکوع (۴)

قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ ٱللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣١﴾ (١)

ژباړه: دوی ته ووایه که تاسو د الله ﷻ سره محبت کوی نو زما تابعداري وکړئ الله ﷻ به ستاسو سره محبت وکړي ستاسو ګناهونه به معاف کړي الله ﷻ بخښونکي او زيات رحم لرونکي دئ.

خاتمه

د اصحابو کرامو رضي الله عنهم سره معامله او ددوی لنډ فضليتونه

د اصحابو رضي الله عنهم څو قصې د نمونې په ډول وليکل سوې که نه نو ددوی قصې لوی او غټ کتابونه هم نسي ليکلای په اردو ژبه ددوی په اړه زيات کتابونه او رسالې هم پيدا کېدلای سي څو مياشتي وسوې چي دغه رساله مي شروع کړې وه. بيا د مدرسې د بوختيا او د وخت د تنګوالي له امله وځنډېده اوس يې پر دغه پاڼو ختموم کوم څه چي پکښي ليکل سوی دي هيله لرم چي د فايدې اخيستولو وړ سي په آخر کښي پر يوه خبره باندي خبرداری زيات اړين دئ هغه دا چي د يوې خوا پدې آزاده زمانه کښي زموږ د مسلمانانو ددين په کارو کښي کمزوري ده او د ازادی رنګ دئ د بلي خوا د اصحابانو رضي الله عنهم په پېژندلو دهغوی د آدابو او احتراماتو په هکله زياته کمزوري ده داخو لاڅه کوي ځني خلګ خو داسي هم سته چي د دين څخه دبې پروايی له امله ددوی په اړه ګوستاخي کوي حال دا چي اصحابان مبارکان ددين بنسټونه دي ددين لومړي خپرونکي دي مونږ ددوی حقونه تر مرګه پوري نه سو پوره کولای الله ﷻ په خپل فضل ددوی پر پاکو نفسونو سلګونو زره رحمتونه نازل کړي دي چي دوی د نبي ﷺ څخه دين لاسته راوړی او مونږ ته يې راورساوه ځکه نو پدې خاتمه کښي د قاضي عياض رحمه الله د شفآء نومي کتاب څخه د يو فصل لنډه ترجمه چي ددې موضوع سره وړ ده ليکم او رساله باندي ختموم دی مبارک فرمايي: چي د نبي ﷺ په اعزاز او اکرام کښي داخبره شامله ده چي دنبي ﷺ د اصحابانو رضي الله عنهم په اعزاز کوئ. ددوی حق به پېژنئ، ددوی تابع داري به کوئ، ددوی ستاينه به کوئ، دوی ته به د مغفرت دوعا کوئ، ددوی په خپل منځي اختلافاتو باندي به چوپ پاتېږئ د مؤرخينو، شيعه ګانو، بدعتيان او ناپوهو

(١) سورة ال عمران الاية (٣١)

فرمايي: لَّقَدْ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنِ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ ٱلشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَٰبَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا ﴿١٨﴾ وَمَغَانِمَ كَثِيرَةً يَأْخُذُونَهَا ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿١٩﴾

ژباړه: بېشکه الله ﷻ راضي سو دهغه کسانو څخه چي ستاسره په سفر کي وه او ستا سره يې تر درختي لاندې بيعت وکړی. بيا الله ﷻ په هغه (اخلاص او صداقت) عالم و چي ددوی په زړو کي و نو الله ﷻ پر دوی باندي ارامتيا راواستول او دوی ته يې نژدې فتحه ورنصيب کړه (چي مراد څني د خيبر فتحه ده) او الله ﷻ ډير غنيمتونه ورنصيب کړه چي دوی اخيستل او الله ﷻ غالب دئ او زيات د حکمت څښتن دئ.

په بل ځاي کي الله ﷻ د اصحابانو ﷺ په اړه فرمايي:

رِجَالٌ صَدَقُوا۟ مَا عَٰهَدُوا۟ ٱللَّهَ عَلَيْهِ ۖ فَمِنْهُم مَّن قَضَىٰ نَحْبَهُۥ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوا۟ تَبْدِيلًا ﴿٢٣﴾(۱)

ژباړه: په دې مؤمنانو کي داسي کسان سته چي د الله ﷻ سره يې کومه ژمنه کړې وه په هغه کي رېښتني وختل داسي دي چي خپل نذر يې پوره کړی (يعني شهيدان سول) او څني د پوره کولو په موخه انتظار کوي او ددوی د ارادو په بدلولو کي هيڅ بدلون نسي راتلای په بدلولو سره.

په بل ځای کي الله ﷻ فرمايي:

وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلْأَوَّلُونَ مِنَ ٱلْمُهَٰجِرِينَ وَٱلْأَنصَارِ وَٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُم بِإِحْسَٰنٍ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا۟ عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى تَحْتَهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ۚ ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿١٠٠﴾(۲)

ژباړه: کوم مهاجر او انصار (چي په ايمان راوړلو کي تر نورو) مخکي دي او څومره خلګ چي په اخلاص سره ددوی تابعداري کوي الله ﷻ ددې ټولو څخه راضي دئ او دوی دالله ﷻ څخه راضي دي الله ﷻ ددوی لپاره جنتونه برابر کړي دي چي تر درختو (تر ښاخو) لاندي به يې (څلور ويالې) بهيږي او هميشه به په جنت کي وي دغه هم لويه کاميابي ده.

په دغه آياتو کي الله ﷻ د اصحابانو ﷺ څخه خپله خوښي ښکاره کړې ده همدا ډول په ډيرو حديثونو کي ددوی زيات فضائل راغلي دي نبي ﷺ فرمايي: چي زما څخه وروسته په

---

(۱) سورة احزاب – رکوع ۱۳
(۲) سورة التوبة الاية (۱۰۰)

ابو بکر ﷺ او عمر ﷺ پسې اقتدا کوئ. په یوه حدیث کې راغلي دي چې نبي ﷺ فرمایي: زما اصحاب رضي الله عنهم د ستورو په شان دي په هر یوه پسې چې اقتدا وکړی سمه لاره به پیدا کړی، ډیرو محدثینو په دغه حدیث کې خبري کړي دي په همدې وجه پر قاضي عیاض رحمه الله باندې اعتراض دئ چې دغه حدیث یې نقل کړي دئ خو ملا علي قاري رحمه الله لیکلي دي چې ممکنه ده چې دده په آند به د بیلو طریقو له امله داعتبار وړ وي یا په دې وجه چې داد فضائلو ځای دئ د فضلیت په ځای کې کمزوری حدیث نقل کول هم جائز دي حضرت انس ﷺ فرمایي چې نبي ﷺ فرمایلي دي چې زما اصحاب رضي الله عنهم داسي مثال لري لکه په خوراک کې مالگه چې دغه خوراک بې له مالگې ښه کېداي نسي. نبي ﷺ فرمایي: زما د اصحابو رضي الله عنهم په اړه دالله ﷺ څخه وویرېږئ دوی د ملامتیا نښه مه جوړوئ څوک چې ددوی سره محبت کوي هغه زما سره محبت کوي او څوک چې ددوی سره کینه لري هغه زما سره کینه لري چاچې دوی ته تکلیف ورکړی هغه ماته تکلیف راکړی چاچې ماته تکلیف راکړی هغه الله ﷻ ته تکلیف ورکړی او څوک چې الله ﷻ ته تکلیف ورکړي د الله ﷻ په راکشولو کې به راسي.

نبي ﷺ فرمایي: زما اصحابو رضي الله عنهم ته ښکنځل مه کوئ په تاسو کې که څوک د احد دغره سره برابر سره زر خیرات کړي نود اصحابو رضي الله عنهم د یوه یا نیم مد ثواب نسي لاسته راوړلای. نبي ﷺ فرمایي: څوک چې اصحابو ته ښکنځل کوي پر دغه کس د الله ﷻ، ملائکو او ټولو انسانانو لعنت دئ او ددغه سړي نه فرض قبلیږي او نه نفل. نبي ﷺ فرمایي: چې الله ﷻ ټوله انسانان راچڼ کړل دانبیاؤ (علیهم السلام) څخه پرته په دوی ټولو کې یې دغه څلور کسان غوره کړه: حضرت ابوبکر ﷺ، حضرت عمر ﷺ، حضرت عثمان ﷺ او حضرت علي ﷺ او دوی یې زما پر ټولو اصحابانو رضي الله عنهم باندې بهتر وګرځول ابو سختیاني رحمه الله فرمایي: کوم چاچې د ابوبکر ﷺ سره محبت وکړی هغه خپل دین سیده کړی. چاچې د عمر ﷺ سره محبت وکړی نو ددین روښانه لاره یې پیدا کړه. چاکه دعثمان ﷺ سره محبت وکړی د الله ﷻ په رڼا سره روښانه سو او چاچې د علي ﷺ سره محبت وکړی دغه کس نو ددین رسۍ ونیول. څوک چې داصحابانو رضي الله عنهم ستاینه کوي دغه کس د نفاق څخه پاک دئ، څوک چې د اصحابانو رضي الله عنهم بې ادبي کوي منافق، بد عتي او د سنتو مخالف دئ زما سره دابیره ده چې هیڅ عمل به قبول نسي تر څو د اصحابانو رضي الله عنهم سره محبت پیدا نسي او ددوی په اړه یې زړه پاک نسي. په یو حدیث کې راغلي دي چې نبي ﷺ فرمایي: اې خلکو! زه د ابوبکر ﷺ څخه خوشاله یم تاسو دده مرتبه وپیژنئ زه دعمر ﷺ، عثمان ﷺ، علي ﷺ، طلحة ﷺ، زبیر ﷺ، سعد ﷺ، سعید ﷺ، عبد الرحمن بن عوف ﷺ او عبیده بن جراح ﷺ څخه خوشاله یم تاسو

ددوی مرتبه وپېژنئ. اې خلکو کوم څوک چې د بدر او احد په غزا کې شریک سوي دئ الله ﷻ وهغو ته بخښنه کړې ده تاسو زما د اصحابو رضي الله عنهم په اړه زما لحاظ کوئ او دهغه خلکو په باره کښې زما لحاظ کوئ چې ددوی لوڼې زما په نکاح کښې دي او یا زما لوڼې ددوی په نکاح کښې دي داسې نه چې دغه خلک د قیامت په ورځ ستاسو څخه د یو څه ظلم مطالبه وکړي او هغه به بیا نه بخښل کېږي په یوه حدیث کې راغلي دي چې نبي ﷺ فرمایي: زما داصحابانو، زومانو اونورو اصحابانو په اړه زما لحاظ کوئ څوک چې ددوی په اړه زما لحاظ وکړي الله ﷻ به ددغه کس په دنیا او آخرت کې حفاظت وکړي او څوک چې زما لحاظ ونه کړي الله ﷻ د هغه کس څخه بېزاره دئ او د چا څخه چې الله ﷻ بېزاره سي کېدای سي چې پر یو څه باندې ونیول سي دنبي ﷺ دا ارشاد هم دئ چې نبي ﷺ فرمایي څوک چې زما داصحابو رضي الله عنهم په اړه زما لحاظ وکړي د قیامت په ورځ به زه دده محافظ یم. په یوه بل حدیث کې راغلي دي چې نبي ﷺ فرمایي څوک چې زما د اصحابو رضي الله عنهم په اړه زما لحاظ ونه کړي حوض کوثر ته به رانه وستل سي ما به یوازې د لیرې څخه ووینې. سهل بن عبد الله رحمة الله عليه فرمایي څوک چې د نبي ﷺ د اصحابانو رضي الله عنهم تعظیم او درنښت نه کوي هغه پر نبي ﷺ ایمان نه دئ راوړی.

الله ﷻ دې په خپل فضل او مهربانۍ سره د خپل نیولو او د خپل د رسول ﷺ د قهر او خوابدتیا څخه ماته، زما دوستانو ته، زما خواخوږو ته، زما د ناستې ولاړې خلکو ته، زما مشائخو ته. زما شاګردانو او ټولو مؤمنانو ته خلاصون راکړي او ددغه مبارکو اصحابانو رضي الله عنهم په مینه دې زموږ زړونه ډک کړي.

وآخردعوانا ان الحمدلله رب العالمين والصلوة والسلام الاتمان الاكملان علي سيدالمرسلين وعلى آله واصحابه الطيبين الطاهرين وعلى اتباعه واتباعهم حملة الدين المتين .

مؤلف : مولانا محمدزکریا کاندهلوي نورالله مرقده مقیم مدرسه مظاهر العلوم سهارن پور .

نېټه : ۱۷ ـ شوال المکرم ـ ۱۳۵۷ ـ هـ ق . یعني دکوچني اختر اوولسمه ددوشنبې ورځ

ژباړونکی : مولوي عبدالهادي (حماد) کندهاري عفی الله وعافاه. مدرس ومدیر جامعه اسلامیة اشرفیا اوله ناحیة کندهار افغانستان .

نېټه : ۲۱ ـ ۹ ـ ۱۴۲۸ هـ ق . چې د ۱۱ ـ ۷ ـ ۱۳۸۶ هـ ش سره سمون خوري دچهارشنبې ورځ .

بسم الله الرحمن الرحيم

دقرآنكريم فضائل

مؤلف

شيخ الحديث مولانا محمد زكريا نور الله مرقده

ژباړونكى:

مولوي عبدالهادي (حماد)

فهرست

شمیره	سرلیکونه	صفحه
۱	خطبه اوتمهید	۱
۲	دقران اداب	۴
۳	دقران ظاهري اداب	۵
۴	دقران باطني اداب	۵
۵	غوره په تاسو کي د قران زده کونکی اوښودونکی دئ	۷
۶	د قر انکریم فضیلت پر نورو کلامو داسي دئ لکه د الله ﷻ فضیلت پر نور مخلوق باندي	۸
۷	قرانکریم د تکلیف پرته پر غوره مال بهتر دئ	۸
۸	د قران لوستونکی به د ملائکو سره وي	۱۰
۹	د قرانکریم په لوستونکي باید غبطه وسي	۱۱
۱۰	د قران لوستونکي مسلمان او منافق مثال	۱۲
۱۱	الله ﷻ ځیني خلک په قرانکریم پورته کوي اوځیني خلک په کښته کوي	۱۳
۱۲	قرانکریم به دبندګانو سره دلیل وایي	۱۴
۱۳	د قرانکریم د ایاتو په شمیر به د لوستونکي درجې لوړېږي	۱۸
۱۴	ځوک چي قرانکریم یو حرف ووایي الله ﷻ لس نیکۍ ورکوي	۲۱
۱۵	د قران ویونکي مور او پلار ته به تاج ور پر سر سي	۲۲
۱۶	قران ویونکي به اور نه سوځي	۲۴
۱۷	قران ویونکي به جنت ته داخل سي	۲۵
۱۸	ځوک چي قران نه وایي د خرابې په څېر دئ	۲۷
۱۹	د قرانکریم د پاڼو له مخي تلاوت دوه زره چنده کېږي	۲۹
۲۰	قرانکریم د زړه زنګ لیري کوي	۳۰
۲۱	پر قران ویونکو د الله ﷻ رحمت نازلېږي	۳۴
۲۲	قرانکریم ترټولو ښه و الله ﷻ ته نژدې کوونکی دئ	۳۶

فهرست

شمېره	سرليکونه	صفحه
۲۳	قران ويونکي د الله ﷻ اهل دي	۳۹
۲۴	الله ﷻ تر قران زياته هيڅ ته توجه نه کوي	۳۹
۲۵	قران تر پخوانيو کتابونو غوره دئ	۴۳
۲۶	و رسول الله ﷺ ته په قران ويونکو کي د ناستي امر سوی دئ	۴۴
۲۷	قران شفاعت کوونکی دئ	۴۷
۲۸	چا چي قرانکريم زده کړ د نبوت علوم يې په بغلو کي واخيستل	۵۱
۲۹	قران ويونکی به د اخرت په ورځ د مشکو پر غونډۍ ناست وي	۵۲
۳۰	د قرانکريم د يوه ايات زده کړه تر سلو رکعتو نفلو بهتره ده	۵۳
۳۱	څوک چي د شپې لس اياته تلاوت کړي د غافلينو د ډلي څخه به خلاص سي	۵۳
۳۲	د فتنو څخه خلاصون په قرانکريم دئ	۵۴
۳۳	خاتمه	۵۵
۳۴	که چا سورة ياسين ووايه حاجتونه به يې پوره سي	۵۷
۳۵	که چا سورة واقعة ووايه د ټول عمر د لوږي څخه به خلاص سي	۵۸
۳۶	که چا سورة ملک ووايه د مغفرت تر بريده به يې شفاعت کوي	۵۹
۳۷	قران د خلاصېدو سره سم بيا شروع کول تر ټولو عملونو غوره دئ	۶۰
۳۸	پر قرانکريم ژړ پوښتنه کوئ قرانکريم ژړ ورکېدونکی دئ	۶۱
۳۹	که څوک قران د پيسو ګټلو اله جوړوي د قيامت په ورځ به يې د مخ غوښي تللي وي	۶۲
۴۰	تتمه	۶۴
۴۱	د قرانکريم هراړخيزي ګټې	۶۶
۴۲	د حديثونو خاتمه	۷۲
۴۳	تکملة	۷۶
۴۴	دڅلوېښتو حديثونو ترجمه	۷۷

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

خطبه او تمهيد

اَلْحَمْدُلله الذي خلق الانسان و علمه البيان و انزل له القران و جعله موعظة و شفآء و هدى ورحمة لذوى الايمان لاريب فيه ولم يجعل له عوجا وانزل قيما حجة نورا لذوي الايقان و الصلوة و السلام الا تمان الاكملان على خير الخلائق من الانس و الجان الذى نور القلب و القبور نوره ورحمة للعلمين ظهوره وعلى آله و صحبه الذين هم نجوم الهداية ونا شروا الفرقان وعلى من تبعهم بالايمان. و بعد: فيقول المفتقر الى ربه الجليل عبده المدعو **بزكريا** بن يحيى بن اسماعيل هذه العجالة اربعونة في فضائل القران الفتها ممتثلا لامرمن اشارته حكم و طاعته غنم.

ژباړه :کامله ثنا دي وي هغه چا لره چي انسان يې پيدا کړی، بيا يې بيان ورته وښودی او قرآن يې ورته نازل کړ، چي نصيحت، شفا او رحمت دئ ايمان والاوو ته نه کوم شک پکښې دئ او نه کمي پکښې سته. بلکي قرآن سيده (مسستقيم) دئ، دليل او نور دئ د يقين والاوو لپاره، پوره او کامل درود او سلام دي وي پر غوره د مخلوقاتو (يعني) په ټولو انسانانو او پيرانانو کي هغه څوک چي په ژوند کي په زړو کي نور دئ او تر مرګ وروسته په قبرو کي نور دئ او د ده ظهور د درست عالم لپاره رحمت دئ هم دا ډول دي درود او سلام وي د ده پر آل، اولاد او اصحابانو باندي چي ستوري د لارښووني دي او قرآنکريم يې خپور کړی دئ او پر هغه چا چي د دوی پيروي کوي په ايمان کي. تر حمد او صلوة وروسته الله ﷻ ته اړ بنده زکريا بن يحيى بن اسماعيل وايي چي دغه په تلوار ليکل سوې رسالة څلوېښت حديثونه د قرآن په فضليت کي دي، ما د داسی مشرانو د حکم د پوره کولو لپاره جمع کړي دي چي اشاره يې امر دئ او خبره منل يې ګټه ده.

د الله ﷻ د هغه خاصو نعمتو څخه چي د سهارنپور پر عاليه مدرسه مظاهر العلوم باندی پاته سوي دي د مدرسې کليزه ده، چي هر کال د مدرسې د ځينو احوالو د بيانولو په موخه لمانځل کېږي په دغه جلسه کي چي څومره د الله ﷻ د دوستانو او د پاکو زړونو د ښتنتانو چي په پټه ژوند کوي د يوځای کولو لپاره هڅي کېږی د هند د عامو خلګو، واعظينو او مقررينو د يو ځای کولو لپاره نه کېږي. که څه هم هغه وخت تېر سوی دئ چي همدې مدرسې ته به حجة الاسلام حضرت مولانا محمد قاسم نانوتي رحمه الله او قطب الارشاد حضرت مولانا رشيد احمد ګنګو هي رحمه الله تشريف راوړی، الله ﷻ دي د دوی پر قبرونو باندی رحم وکړي دوی به د جلسې د ګډون والو زړونه روښانه کول خو دغه ليد ځای لا د سترګو څخه نه و ليري سوی چي د دغه اسلام ځلوونکو او د هدايت د لمرونو ځای ناستی

حضرت شیخ الهند رحمة الله علیه، حضرت شاه عبد الرحیم صاحب رحمة الله علیه، حضرت مولانا خلیل احمد صاحب رحمة الله علیه او حضرت مولانا اشرف علی تهانوي رحمة الله علیه د مدرسې کلنی غونډې ته راجمع سول، د خلګو د زړونو لپاره یې د نورانیت چینې بهانده وساتلې او د عشق تږي به یې مړول.

مګر په اوسني وخت کي داسي برېښي چي مدرسه د هغو سپوږمیانو څخه بې برخې سوه (چي پخوا یې درلودې) خو بیا هم د هغوی رښتیني ځای ناستي اوس هم پخپلو برکتونو او فیوضاتو باندی د ګډون والو ځولۍ ډکوي. کوم کسان چي سږ کال په جلسه کي حاضر وو هغه د دغه خبري عادل شاهدان دي، د سترګو څښتنان برکتونه په سترګو ویني خو زما په څېر نالیدونکی هم دا احساسوي چي یوشی خامخا سته. د مدرسې و کلیزی ته چي څوک د ښو نصیحتونو او روښانه تقریرو لپاره راسي ښایي دومره به خوشحاله ولاړ نه سي لکه څوک چي د زړه د علاج لپاره راسي چي په پایله کې د برکتونو او فیوضاتو څخه برخمن ولاړ سي.

فَلله الحمد والمنة!

په دغه لړۍ کي د روان کال (۱۳۴۸–د میاني میاشتي) په جلسه کي د حضرت مولانا شاه حافظ محمد یسین ګډون پر ما ګنهګار باندي دومره د شفقت او مهربانۍ باران واوروی چي د شکر د ادا کولو څخه یې زه عاجزه یم او دا هم وروسته معلومه سوه، چي نوموړی د حضرت ګنګوهی رحمة الله علیه د خلیفه ګانو څخه دئ. په داسي صورت کي نو بیا د ده د سپېڅلتیا او د ستاینی بیان ته هیڅ اړتیا نسته. کله چي ده مبارک کور ته تشریف یووړی نو د یوه خط په مټ یې ما ته امر وکړ، چي د قرآن د فضائلو په اړه څلوېښت حدیثونه را جمعه کړم او د ژباړي سره یې د ده په حضور کي وړاندی کړم د دې امر څخه زما د مخ اړولو هیڅ لاره نه وه ځکه زما د پلار او پیر په څېر زما اکا هم پر دغه کار ټینګار وکړ، په دې ډول چي په پېښېدونکي ډول دا خط ماته پر داسي مهال راورسېدی چي زه په سفر کي وم، زما اکا هم په دغه ځای کي موجود و، زما اکا دغه خط ماته راکړ په ډېر ټینګار یې د کار د اجراء امر راته وکړ، په دغه صورت کي ما ته د عذر او د دې کار لپاره د نااهلییت د بیانولو هیڅ موقع نه سوه پاته، سره د دې چي ماته د مؤطا امام مالک شرحه یو زوره ور عذر و، خو د دوی مبارکانو د امر له امله مي یو څو ورځي د دغي شرحي لیکل وځنډول. کوم څه چي ستاسو په لاس کي دي (فضائل قرآن) د دوی حضور ته وړاندي کوم او د هغه غلطیو بخښنه غواړم چي کیدل یې ما ته لازم دي.

رجآء الحشر في سلک من قال فیهم النبي صلی الله علیه وسلم من حفظ علی امتی اربعین حدیثا في امر دینها

ژباړه: په هغه ډله کي د پاڅېدو په هیله چي په اړه یې نبی علیه السلام فرمایی: کوم څوک چي څلوېښت حدیثونه یاد کړي الله جل جلاله به یې د قیامت په ورځ عالم

بعثه الله فقيها وكنت له يوم القيامة شافعاً وشهيدا. قال العلقمی الحفظ ضبط الشی ومنعه من الضياع فتارة تکون حفظ العلم باالقلب وان لم يكتب وتارة فی الكتاب وان لم يحفظه بقلبه فلو حفظ فی کتاب ثم نقل الى الناس دخل فی وعد الحديث . وقال المناوی: قوله من حفظ على امتي اي نقل اليهم بطريق التخريج والاسناد و قيل معنى حفظها ان ينقلها الي المسلمين وان لم يحفظها و لا عرف معناها وقوله اربعين حديثا صحاحا او حسانا قيل او ضعافا يعمل بها فی الفضائل. آهـ. فلله در الا سلام مايسره ولله دراهله ما اجود مااستنبطوا رزقنی الله تعالی واياكم كمال الاسلام ومما لابد من التنبيه عليه انی اعتمدت فی التخريج على المشكوة و تخريجه وشرحه المرقاة وشرح الاحياء للسيد محمد المرتضی والترغيب للمنذري وما عزوت اليها لكثرة الاخذ عنها ومااخذت عن غيرها عزوته الى ماخذه و ينبغی للقاری مراعاة اداب التلاوة عنده القراءة

وپاڅوي او زه به د هغه لپاره سپارښت کوونکی او شاهد جوړېږم. علقمي رحمة الله عليه فرمايي: حفظ د یو شي اداره کول او د ضایع کولو څخه ساتلو ته وايي، داغسی د لیکلو پرته په ژبه یې یاد کړي یا یې د یاد پرته په لیکلو وساتي، نو که څوک یې په کتاب کي ولیکي نورو ته یې ورسوي دغه کس د حدیث په زېري کي داخل دئ. مناوي رحمة الله عليه فرمایی: د نبی عليه السلام د حفظ د لفظ څخه موخه په سند سره رانقل ده. ځینو ویلي دي چي د حفظ څخه موخه و مسلمانانو ته رسول دي که څه هم یې یاد نه وي او په معنی یې نه پوهېږي په دغه ډول څلویښت حدیثونه هم عام دي صحیح وي، حسن وي او که ضعیف حدیثونه وي چي په فضایلو کي عمل ورباندي کول جائز دي. الله جل جلاله لره کامله ستاینه ده په اسلام کي څومره زیاتي اسانی ستة. الله جل جلاله لره دي ستاینه وي علماوو څومره باریکی را ایستلي دي الله جل جلاله دي ما او تاسو ته کامل اسلام را نصیب کړي. یوه خبره اړینه ده، چي زه یې تاسو ته ووایم هغه دا ده چي د حدیثو په نقل کي پر مشکوة، تنقیح الرواة، مرقاة او د منذري پر شرحو مي باور کړی دئ همدا ډول مي باور د سید محمد مرتضی پر شرحه کړی دئ، چي پر احیاء العلوم یې کړېده په همدی وجه مي د دوی حوالې نه دي رانقل کړي ځکه چي ما زیات نقل د دوی څخه کړی دئ او که مي د بل ځای څخه نقل کړي وي د هغه حواله مي رانقل کړېده. د قرآنکریم لوستونکي ته د تلاوت آداب لحاظول لازمي دي.

مطلب دا چي د پورتنی خبري په نظر کي نیولو سره دا خبره لازمي ده، چي تلاوت کوونکي ته د تلاوت ځینی اداب ولیکل سي ځکه چي وايي: شعر

بی ادب محروم گشت از فضل رب ۞

بې ادبه د الله جل جلاله د فضل څخه محرومه وګرځېدی.

په لنډ ډول د آدابو خلاصه دا ده چې قرآنکریم د معبود کلام دئ او د مطلوب او محبوب فرمایل سوي الفاظ دي، هغه کسان پوهیږي چې د الله ﷻ سره یې د میني او عشق څه لاره وي چې معشوق د خط او لیکل سوي فرمان د عاشق په آند څومره قدر لري او د میني او عشق چې کومه معامله ورسره کیږي د اداري او د اصولو څخه لوړه ده.

محبت تجه کو آداب محبت خود سکهادي گی

ژباړه: محبت خپله تا ته د محبت آداب درښیي.

په دغه وخت کي که رښتیني ښایست او د نه خلاصیدونکو نعمتونو فکر موجود وي نو محبت به موجونه ووهي ،سره ددې چې قرآن کریم د احکمُ الحَاکِمِین کلام دئ او د پاچا د پاچهانو فرمان دئ، د رعب او د لویۍ د څښتن قانون دئ چې تر هر څه لوی نه د ده سره برابر سوی دئ او نه به د ده سره برابر سي د کومو کسانو چې د پاچا په دربار کی څه واسطه پیښه سوې وي د هغوی د تجربې څخه او د کومو کسانو چې د پاچا په دربار کي یې واسطه نه ده جوړه سوې د هغوی د اندازې څخه معلومیدلای سي چې د پاچهانو کلام څومره په زړه کی رعب او هیبت لری، قرآنکریم د معبود او د پاچهانو د پاچا کلام دئ، په همدې وجه د دواړو آدابو سره یو ځای کول ضروري دي. حضرت عکرمه ﷺ چې به کله قرآنکریم د تلاوت لپاره خلاص کړ نو بې هوښه به پرېوتی او دا وینا به یې پر ژبه روانه سوه: هذا کلام ربي. یعني دا زما د رب کلام دئ، دا زما د رب کلام دی.

دا د هغو آدابو خلاصه ده او د هغو تفصیلاتو لنډیز دئ چې مشرانو د تلاوت په آدابو کي لیکلي دي، چې یو څه اندازه روښنایي یې د کتونکو په خدمت کی وړاندي کوم، د هغې خلاصه یوازی دا ده چې بنده نه نوکر او چاکر جوړ سوی دئ بلکی بنده جوړ سوی دئ او د خپل رب، مالک، احسان کوونکي او انعام کوونکي کلام دي لولي. صوفیان لیکی: څوک چې د تلاوت د آدابو څخه ځان ناتوانه بولي هغه و الله ﷻ ته د نژدې کیدو په مرتبو کي وده (ترقي) کوي او څوک چې ځانته د محبوبیت او لویۍ په نظر ګوری هغه د ودي څخه لیري کیږي.

آداب

تر تلاوت مخکي دي اودس سره د مسواک تازه کړي او یو طرف، ته دي په زیاته زړه نرمۍ او عاجزۍ سره مخ پر قبله کښیني او د زړه په زیاته توجه او وېرې سره دي داسي په خوند تلاوت کوي چې د دغه وخت سره مناسب وي په داسي ډول دي تلاوت کوي چې ګویا خپله الله ﷻ ته کلام اوروي او که چیري یې په معنی پوهېدی نو په زیات فکر او غور سره

دي د وعد او رحمت پر آیاتونو باندي دي د مغفرت او رحمت دعا غواړي او د عذاب پر آیاتونو دي د الله ﷻ څخه پنا غواړي چي د ده څخه پرته هیڅوک کار جوړونکی نسته. د الله ﷻ د عیبونو څخه د پاکوالي پر آیاتونو دي سبحان الله وایي او که چیري د تلاوت په وخت کي ژړا نه ورځي په زور دي په ځان کي د ژړا راوستلو کوښښ وکړي. **شعر**

والذ حالات الغرام لمغر م * شکوی الهوی باالمدمع المهراق

ژباړه: عاشق ته تر ټولو د خوند ځای دا دئ، چي خپل معشوق ته ګیلې کوي او تر سترګو یې اوښکي بهیږي.

که چیری یې د قرآنکریم یادول مقصد نه وي نو د قرآنکریم په تلاوت کي دي تلوار نه کوي .د تلاوت په وخت کي دي قرآنکریم په رحل (ریېل)، بالښت او یا پر بل لوړ ځای کښېږدی. د تلاوت په منځ کي دي د چا سره خبري نه کوي او که څه اړتیا پېښه سي نو تلاوت دي بس کړي خبری دي وکړي بیا دي وروسته اعوذ بالله من الشیطن الرجیم ووایي بیا دي قرآنکریم شروع کړي او که په ګڼه ګوڼه کي خلګ پخپل کاروبار مشغول وه نو کرار ویل یې بهتر دي. علماوو د قرآنکریم د تلاوت لپاره شپږ ظاهري او شپږ باطني آداب ښودلي دي:

ظاهري آداب

لومړی: په اوداسه به په ډېر عزت او ادب مخ پر قبله کښېني.

دوهم: د تلاوت په وخت کي به تلوار نه کوي په ترتیل او تجوید سره به یې وایي یعني په آرمتیا سره. سره د دې چي د حروفو د مخرجونو د اداء کولو خیال به ساتي.

دریم: د ژړا کوښښ دي کوي که څه هم په تکلیف سره ځان ژړه غونی کړي.

څلورم: د رحمت او د عذاب د آیتونو حق دي اداء کوي لکه مخکي چي تېر سول.

پنځم: که چیري د ریا شک وي یا د بل مسلمان د تکلیف او زیان وېره وي نو کرار دي یې وایي که نه نو په زوره دي یې وایي.

شپږم: قرآنکریم به په ښکلي آواز وایي ځکه د قرآنکریم په تلاوت کي د آواز پر ښکلا باندی په ډېرو حدیثونو کي ټینګار سوی دئ.

باطني آداب

لومړی: د تلاوت په وخت کي به په زړه کي د قرآنکریم درنښت او لویي ساتي، چي د څومره لویي مرتبې کلام دئ.

دوهم: د الله ﷻ لوی شان، لوی والی او لوړوالی به په زړه کي ساتي، چي د چا کلام دئ.

دریم: زړه به د وسوسو د خطرنو څخه پاک ساتي.

څلورم: په معنی کي دي یې غور او فکر کوي په خوند دي یې تلاوت کوي، ځکه نبي ﷺ یو ځلي ټوله شپه د دې آیت په لوستلو سره تېره کړه:

إِن تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ ۖ وَإِن تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿١١٨﴾ (١)

ژباړه: (اې الله جل جلاله!) که ته دوی په عذاب کړې نو دوی ستا بندګان دي او که بخښنه ورته وکړې نو بېشکه ته غالب او د حکمت څښتن یې.

سعید بن جبیر رضي الله عنه یو واري ټوله شپه په دې آیات تېره کړه:

وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ ﴿٥٩﴾ (٢)

ژباړه: اې مجرمانو! نن ورځ (د قیامت په ورځ) (د فرمانبردارو انسانانو) څخه جلا سئ.

پنځم: کوم آیتونه چي تلاوت کوې نو زړه دي د هغوی تابع و ګرځوه د مثال په ډول که چیري د رحمت آیت ولولې نو زړه دي د خوشحالۍ ډک کړه او که د عذاب آیات راسي نو زړه دي د وېري څخه ورپوه.

شپږم: غوږونه به دومره متوجه کړي چي ګویا الله جل جلاله پخپله کلام فرمایي او دی یې اوري. الله جل جلاله دي یو ازي پخپله مهربانۍ او فضل سره د دې آدابو سره د تلاوت توفیق ما او تاسو ته راکړي.

مسئله: دومره اندازه قرآن یادول چي لمونځ په روا کېږي پر هر مسلمان باندي فرض عین دي او د ټوله قرآنکریم یادول فرض کفایي دي که خدای جل جلاله مکړه هیڅوک حافظ نه وي ټوله مسلمانان ګنهکاران کېږي بلکي زرکشي رحمه الله علیه د ملا عالي قاری رحمه الله علیه څخه نقل کړی دئ: چي په کوم ښار یا کلي کي د قرآنکریم لوستونکی نه وي نو ټوله ګنهکاران دي اوس د ګمراهۍ او جهالت په زمانه کي عامه آوازه دا هم ده چي د قرآنکریم یادول بې فایدې کار دئ او د قرآنکریم الفاظ په تکرار سره لوستل بې عقلي بلل کېږي، د الفاظو یادول یې د دماغ کمزوری بلل کېږی او د وخت ضایع کېدل بلل کېږي، که چیری زموږ دا د بې دینۍ وبا خپره وي پر دغه موضوع به مي یو څه په تفصیل سره لیکلي وای خو دلته هره ادا مرض دئ او هر فکر د باطل لوری ته راخېژی پر کوم شی باندی ژاړې او د چا څخه شکایت کوې.

فَالی المشتکی والله المستعان.

---

(١) سورة المائده الایة (١١٨).

(٢) سورة یاسین.

د قرآنکریم فضیلت پر نورو کلامو داسي دئ لکه د الله ﷻ فضیلت پر نور مخلوق باندي

۲ - عن ابي سعيد رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ يقول الرب تبارک وتعالى من شغله القرآن عن ذكري و مسئلتي اعطيته افضل ما اعطى السائلين و فضل كلام الله على سائر الكلام كفضل الله على خلقه[۴].

ژباړه: ابي سعيد رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه روایت کوي، چي رسول الله ﷺ وفرمایل: رب تعالی وایي څوک چي زما د ذکر او زما څخه د سوال کولو څخه په قرآن مشغول سي زه به هغه غوره شی ده ته ورکړم کوم چي سوال کوونکو ته یې ورکوم. د الله ﷻ د کلام غوره والی پر نورو کلامونو باندی دومره زیات دئ لکه د الله ﷻ بهتر پر خپل مخلوق باندي.

یعني څوک چي د قرآن په زده کولو، یادولو او پوهېدلو دومره زیات مشغول سي چي د الله ﷻ څخه د دعا غوښتلو وخت هم نه سي ورته پاته الله ﷻ وايي زه هغه غوره شی ورکوم چي دعا کوونکو ته یې ورکوم. دا و دنیاوالو ته ښکاره خبره ده چي څوک شېریني یا خوړېښي یو څوک د شیریني اخیستونکو څخه هم د ده سره اخته وي نو د دغه کس برخه تر نورو مخکي جلا سي. په یوه بل حدیث کی هم راغلي دي چي زه به د شکر گذاره بندگانو تر ثواب غوره ثواب ورکوم.

قرانکریم د تکلیف پرته پر غوره مال بهتر دئ

۳ - عن عقبة بن عامر رضي الله عنه قال: خرج رسول الله ﷺ ونحن فى الصفة فقال ايكم يحب ان يغدو كل يوم الى بطحان او العقيق فياتى بناقتين كوماوين فى غير اثم ولا قطيعة رحم؟ فقلنا يارسول الله ﷺ! كلنا نحب ذالک. قال افلا يغدو احدكم الى المسجد فيعلم او يقراء آيتين من كتاب الله خير من ناقتين وثلث خير من ثلث و اربع خيرله من اربع ومن اعداد هن من الابل[۵].

ژباړه: د عقبة بن عامر رضي الله عنه څخه روایت دي، چي فرمایي: موږ په صفة کي وو چي رسول الله ﷺ راووتی او راته وې فرمایل: په تاسو کي کوم یو خوښوي چي هره ورځ د عقیق یا بطحان بازار ته ولاړ سي او دوې غوره اوښي د گناه او قطع رحمی پرته نیولي راولي؟ اصحابو کرامو وویل: موږ ټوله یې خوښوو. رسول الله ﷺ وفرمایل: مسجد ته تلل دوه آیاتونه لوستل یا نورو ته ښودل تر دوو اوښانو غوره دي. درې آیاتونه تر درو او ښانو او څلور آیاتونه تر څلورو اوښانو غوره دي په دغه ډول د اوښانو تر شمېر بهتر دي.

---

[۴] رواه ترمذی و الدارمی والبیهقی فی الشعب.

[۵] رواه مسلم و ابوداود.

صفة د يو خاص سايوان نوم و، چي په نبوي مسجد كي د مهاجرو غريبانو د ناستي ځاى و. د اصحاب صفة شمېر د بېلابېلو روايتونو پر بنسټ كم او زيات ښودل سوى دئ، علامه سيوطي رحمه الله څه د پاسه سل نومونه د دغه مباركانو شمېرلي دي او د دوى په اړه يې عليحده رساله ليكلې ده. بطحان او عقيق په مدينه منوره كي د دوو ځايو نومونه دي چي د اوښانو د خرڅلاو لپاره بازار پكښې جوړېدى، د عربو اوښان ډېر خوښ وه په ځانګړي ډول يې هغه اوښان ډېر خوښېدل چي بوك به يې چاغ وو. (بى له څه ګناه) مطلب ځني دا دئ چي د تكليف پرته يې لاسته راوړي يعني دا چي نه يې د چا څخه په زور واخلي او نه يې د خپلو خپلوانو پر ميراث باندي قبضه كړې وي، نه يې د چا څخه غلا كړي وي په همدې وجه نبي عليه السلام د ټولو څخه انكار وكړ، چي د ګناه پرته يعني د هيڅ تكليف پرته په لاس ورسي دا به ډېره ښه وي خو تر دې ډېر ښه دا دئ چي په مسجد كي څو آياتونه تلاوت كړي. دا يقيني خبره ده چي دوه اوښان لا څه كوي كه چيرى د ټولي دنيا پاچهي سړي ته ورسېږي نو څه شي ده؟ ځكه كه نن نه وي سبا خو خامخا مرګ راځي او د دغي شتمنۍ څخه به په زوره جلا كېږي مګر د آيتونو ثوابونه د تل لپاره پاته كېږي په دنيا كي وګورئ كه چيري يو څوك و بل چاته يوه روپي وركړي اخيستونكى ډېر خوشحالېږي او كه زر روپۍ وركړي او بيا ورته ووايي چي دا زر روپۍ درسره كښېږده زه بيرته راځم درڅخه اخلم يې په دغه صورت كښي اخيستونكي ته يوازې د امانت بار پر اوږو دئ نوره هيڅ فايده نه حاصلېږي.

په حقيقت كي په دغه حديث كي د فاني او باقي تر منځ د مقابلې كولو خبرداري مقصود دي، چي بنده دي پخپل ژوند كي فكر وكړي، چي ايا زه خپل ژوند په فاني شيانو مصرفوم او كه يې په تل پاته كېدونكو شيانو باندي مصرفوم افسوس پر هغه چا باندي چي د باقي پاته كېدونكو شيانو باندي ژوند مصرفول تاوان ګڼي. د حديث وروستۍ جمله چي د آياتونو شمېر د اوښانو تر شمېر بهتر ګڼل سوى دئ درې مطلبه كيداى سي. لومړى: دا چي تر څلورو پورې د اوښانو شمېر په تفصيل سره بيان سوى دئ وروسته بيا اختصار سوى دئ، چي د آيتونو هر څومره شمېر وي په هغه اندازه تر هغه بهتر دئ په دغه صورت كي د دغو خبرو څخه مقصد دا دئ چي د اوښانو جنس مراد دئ، يوازې نه نر اوښان مراد دي او نه ښځي اوښاني بلكي دواړه مراد دي او تر څلورو زياتوب هم مقصد دئ ځكه چي تر څلورو پوري په وضاحت سره ذكر سوي دي.

دوهم: د نبي عليه السلام د پورتنيو خبرو څخه مطلب دا كېداى سي د هر چابېله بېله خوښه ده څوك نر اوښان خوښوي او څوك ښځي اوښاني خوښوي له همدې وجي نبي عليه السلام په آخر كي فرمايي: چي هر يو آيات تر يوې اوښې بهتر دئ او كه څوك د اوښ سره محبت لري نو يو ايات تر يوه اوښ بهتر دئ.

دریم؛ کیدای سي چي مطلب دا وي چي هغه شمېر مطلب دئ کوم چي بیان سوی دئ زیات مقصد نه دئ. په دوهم مطلب کي چي یوه اوښه یو اوښ بیان سوي دي، یو مقصد نه دئ بلکي اوښه او اوښ جوړه مراد دي یعني یو آیات تر یوې جوړې اوښانو بهتر دئ. زما د پلار پر قبر دي الله ﷻ انوار واوروي هغه هم دا مطلب خوښ کړی دئ ځکه چي په دې کي ډېر بهتر والی دئ که څه هم دا مقصد نه دئ چي جوړه اوښان یا یو اوښ د یو آیات د تلاوت مقابله کولای سي بلکي دا صرف د مثال په ډول خبرداری دئ، مامخکی وویل چي د یو آیت ثواب تل پاته کېږي او د ټولي دنیا پاچهي پنا کېږي نو تل پاته کېدونکی شی تر نه پاته کېدونکی شي بهتر دئ. ملا علي قاري رحمه الله لیکي: چي یوه بزرګ ته ځینو تاجرانو خواست وکړی چي د طیارې څخه د کښته کېدو پر مهال په جده کي یو څه وخت واوسېږي چي ستاسو له برکته به زموږ په مالونو کي زیاته ګټه حاصله سي، مطلب یې دا و چي د تجارت په ګټه کي به د دغه بزرګ و خادمانو ته یو څه فایده ورسېږي لو مړی خو دغه بزرګ عذر وکړ، خو هغو په ټینګار سره دا خبره تکرار وله بیا هغه بزرګ د دوی څخه وپوښتل چي ستاسو د ګټې د زیاتوب اندازه څو مره ده؟ هغوی ورته وویل چي فرق پکښې سته خو تر ټولو زیاته ګټه یې دا ده چي ګټه دوه چنده سي بزرګ ورته وویل چي تاسو د دومره کوچنۍ خبري لپاره دومره ډېر تکلیف نه پورته کوئ. د همدې خبری لپاره زه د حرم شریف لمونځ څنګه پرېږدم چي هلته د یوه لمانځه په بدله کي ماته د سلو زرو لمونځونو ثواب لاس ته راځي. په حقیقت کي دا د مسلمانانو لپاره د فکر ځای دئ چي دوی د یوې کوچنۍ دنیایي ګټې لپاره څومره دیني ګټه د لاسه ورکوي.

د قرآن لوستونکی به د ملائکو سره وي

٤- عن عائشة رضي الله عنها قالت قال رسول الله ﷺ الماهر بالقرآن مع السفرة الکرام البررة والذي يقرء القران و يتتعتع فيه وهو عليه شاق فله اجران [١].

ژباړه: د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دئ دا مبارکه وایي، چي نبي ﷺ وفرمایل: څوک چي په قرآن کی ماهر وي د هغه ملائکو سره دئ چي لیکونکي او نیکاني دي څوک چي قرآن په ښه ژبه وایي او تکلیف نه پکښې پورته کوي یعني بندېږي هغه لره دوې مزدوري دي.

روښنایي: د قرآن ماهر هغه چاته وایي چي قرآن یې یاد وي او ښه یې هم ویلای سي او که یې په معنی پوهېږي داخو بیا بیخي لویه خبره ده. د ملائکو سره د یو ځای والي څخه

---

[١] رواه البخاري ومسلم و ابوداؤد والترمذي و النسائي و ابن ماجة.

مطلب دا دئ چي هغه هم د قرآنکريم د لوح محفوظ څخه نقلوونکي دي او دی هم د قرآنکريم نقلوونکی او رسونکی دئ نو ګويا دی د هغو سره پر يوه لاره دئ او په ورځ د قيامت به د هغو سره يو ځای وي او د تکليف يا بنديدو په صورت کي دوه ثوابه دي يو يې د تلاوت دئ بل يې د بنديدو تکليف دئ.

د دې مطلب دا نه دئ چي د ده فضليت تر ماهر زيات دئ، بلکی ده ته د تکليف په وجه عليحده ثواب ورکول کيږي په همدې وجه د عذر په صورت کي و چا ته تلاوت پرېښودل په کار نه دی.

ملا علی قاری رحمه الله د طبراني او بيهقي څخه روايت رانقل کړی دئ: څوک چي قرآن وايي او يادولای يې نه سی نو د ده لپاره دوه چنده ثواب دئ او څوک چي د قرآن د يادولو آرزو لری مګر د يادولو توان يې نه لري خولوستل يې نه پرېږدي الله جل جلاله به يې د قيامت په ورځ د حافظانو په ډله کښی راپورته کړي.

د قرآنکريم په لوستونکي بايد غبطه وسي

٥- عن ابن عمر رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ لاحسد الا على اثنين رجلا آتاه الله القرآن فهو يقوم به آنآء اليل وآنآء النهار ورجل اتاه الله مالا فهو ينفق منه آنآء اليل وآناء النهار [٧].

ژباړه: د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د دوو کسانو پرته په بل چا حسد کول نه دي روا يو هغه کس دئ چي الله جل جلاله قرآن ورزده کړی وي او دی شپه او ورځ په مشغول وي او بل هغه کس دئ چي الله جل جلاله مال ورکړی وي دی يې شپه او ورځ خيراتوي.

په قرآنکريم او زياتو حديثونو کي د حسد بدی مشهوري دي د حسد ناروا والی عام دئ او د دې حديث څخه دوو کسانو سره د حسد رواوالی معلوميږی نو له دې امله علماؤ د دې حديث دوه مطلبه بيان کړي دي لومړی دا چي په دې حديث کي د حسد څخه مطلب غبطه ده د حسد او غبطې ترمنځ توپير دا دی چي حسد کوونکی ارزو کوي چي کاشکي دغه شی ما درلودای او که مي نه درلودای خو ده دي نه درلودای او غبطه و دې ته وايي چي څوک د چا څخه يو شی ووينی نو ارزو وکړي چي کاشکي ما دغه شی درلودای بل چا که درلودای او که نه. څرنګه چي حسد کول په اتفاق کي حرام دي نو له همدې وجی دلته علماوو د حسد د لفظ څخه مجازاً د غبطې معنی اخستې ده. غبطه کول په دنياوي کاروکي جائز ده او په ديني کارو کی مستحب ده. دوهم مطلب عالماوو داسي ليکلی دي چي د حسد لفظ دلته علی

---

[٧] رواه البخاري والترمذي و النسائي.

سبيل الفرض و التقدير دئ يعني معنى يې دا ده چي که چيري حسد روا واى نو د دغه دوو کسانو سره به جائز واى.

د قران لوستونکي مسلمان او منافق مثال

٦- عن ابي موسى رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم مثل المؤمن الذى يقرء القرآن مثل الاترجة ريحها طيب و طعمها طيب ومثل المؤمن الذى لا يقرء القرآن مثل التمرة لاريح لها و طعمها حلو و مثل المنافق الذى لا يقرء القرآن كمثل الحنظلة ليس لها ريح و طعمها مر ومثل المنافق الذي يقرء القرآن مثل الريحانة ريحها طيب و طعمها مر [٨].

ژباړه : د حضرت ابى موسى رضي الله عنه څخه روايت دئ چي نبي عليه السلام فرمايي: هغه مؤمن چي د قرآن تلاوت کوي د نارنج په څېر دئ، چي بوى او خوند دواړه يې ښه دي. د هغه مؤمن مثال چي د قرآن تلاوت نه کوي د خرما په څېر دئ چي بوى نه لري او خوند يې ښه دئ. د هغه منافق مثال چي د قرآن تلاوت نه کوي د حنظل (مړغوني) په څېر دئ چي بوى نه لري او خوند يې بد دئ او د هغه منافق مثال چي د قرآن تلاوت کوي د ريحان په څېر دئ چي بوى يې ښه دئ او خوند يې تريخ دئ.

په دې حديث کي مقصد د ناليدلو شيانو مثال په ليدلو شيانو سره ورکول سوى دئ د دې لپاره چي په ذهن کي د قرآن د تلاوت او نه تلاوت توپير په اسانۍ سره راسي که نه نو د نارنج يا خرما د قرآنکريم د خوشبويي او خوږوالي سره څه نسبت دئ که څه هم د دغو شيانو په مثال کي خامخا باريکي سته (ځکه دا د سپېڅلى نبي عليه السلام وينا ده هغه داسي باريکي ده) چي د نبوت د علومو سره اړه لري او د نبي عليه السلام د علومو و پراخوالي ته اشاره کوي د مثال په ډول که څوک نارنج وخوري خوله خوشبويه کوي، معده پاکوي او هاضمې ته قوت ورکوي او داسى نوري ګټي هم پکښې دي دغه ګټې د قرآن د لوستلو سره ځانګړې مناسبت لري ځکه قرآن لوستل د خولې خوشبويي کېدل کوي، د باطن صفا کېدل کوي او روحانيت تقويه کوي د قرآن دغه ګټې د پورتنيو ګټو سره ورته والى لري.

بله خبره دا ده چي په کوم کور کي چي نارنج موجود وي و هغه کور ته پيرانان نه راځي که دا خبره صحيح وي نو بيا خو يې د قرآن سره خاص مناسبت دئ. د ځينو طبيبانو څخه ما اورېدلي دي چي نارنج حافظه قوي کوي. د حضرت على رضي الله عنه څخه په احيا نومي کتاب کي نقل سوى دئ چي درې شيان حافظه قوي کوي: مسواک، روژه او د قرآن شريف تلاوت. (که څوک د طبيبانو خبره او د علي رضي الله عنه وينا سره پرتله کړو په ښکاره د قرآنکريم او نارنج

[٨] رواه البخاري و مسلم و النسائي و ابن ماجة.

مناسبت معلومېږي). ابوداود د دغه حديث په پای کی يو بل ګټور مضمون په دې ډول ليکلی دئ: د غوره ملګری مثال د مشکو والا په څېر دئ که د دغه ملګري څخه مشک په لاس در نه سي نو خوشبويي يې خامخا درته رسېږي او د بد ملګري مثال د اوړ د کورې په څېر دئ که توروالی درته ونه رسېږي نو د دود څخه يې نه سې خلاصېدای. (د دغو خبرو په نظر کي نيولو سره) ضروري خبره ده چي په ناسته ولاړه کي د مجلس د ملګرو فکر وسي (يعني دا چي د بد ملګري څخه ځان وساتل سي او ښه ملګری د ځان لپاره وټاکل سي).

الله ﷻ ځيني خلک په قرآنکريم پورته کوي اوځيني خلک په کښته کوي

٧- عن عمر بن خطاب رضي الله عنه قال قال رسول الله ان الله يرفع بهذا الكتاب اقواما و يضع به آخرين [٩].

ژباړه: د حضرت عمر رضي الله عنه څخه روايت سوی دئ، چي نبي ﷺ فرمايي: الله ﷻ په دې کتاب سره ډېر خلک پورته کوي او نور بيا کښته (او ذليله) کوي.

يعني کوم خلک چي پر دې کتاب ايمان راوړي او عمل په کوي الله ﷻ هغه خلک په دنيا او آخرت کي په عزت کوي او کوم خلک چي ايمان نه پر راوړي هغه خلک بې عزته کوي. قرآنکريم هم دغه خبره ثابتوي ځکه الله ﷻ فرمايي:

يُضِلُّ بِهِۦ كَثِيرًا وَيَهْدِي بِهِۦ كَثِيرًا ۚ وَمَا يُضِلُّ بِهِۦٓ إِلَّا ٱلْفَـٰسِقِينَ ﴿٢٦﴾ [١٠]

ژباړه: په دې سره ډېر خلک ګمراه کيږي او ډير خلک په هدايت کېږي، په دې سره نه ګمراه کېږي مګر فاسقان.

په بل ځای کی الله ﷻ فرمايي:

وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلْقُرْءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ۙ وَلَا يَزِيدُ ٱلظَّـٰلِمِينَ إِلَّا خَسَارًا ﴿٨٢﴾

ژباړه: موږ نازلوو د قرآن څخه هغه شی چي شفاء او رحمت دئ د خلګو لپاره نه زياتېږي د ظالمانو لپاره مګر تاوان.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د دې امت ډېر منافقان به د دغه آيات لوستونکي وي. په احياء نومي کتاب کي د ځينو علماوو څخه رانقل سوي دي چي کله بنده د قرآنکريم يو سورت شروع کړي نو ملائکي د ده لپاره د رحمت دعاوي کوي تر هغه وخته پوري چي خلاصوي يې. بل کس به بيا د قرآنکريم يو سورت شروع کړي ملائکي به پر ده لعنت وايي تر

---

[٩] رواه مسلم.

[١٠] سورة البقرة الاية (٢٦).

هغه وخته پورې چې خلاصوي يې. د ځينو علماوو څخه نقل سوی دئ چې ډېر ځلې يو انسان قرآن وايي په حقيقت کي به پر ځان لعنت وايي او په ځان نه وی خبر (دا په هغه صورت کي چې خپله گنهکار وي) (د مثال په ډول) دی په قرآن کی دا آيات وايي:

أَلَا لَعۡنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٨﴾ (١١)

ژباړه: د الله ﷻ لعنت دئ پر ظالمانو باندي. په ځای کي فرمايي:

فَنَجۡعَل لَّعۡنَتَ ٱللَّهِ عَلَى ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴿٦١﴾ (١٢)

ژباړه: د الله ﷻ لعنت موږ پر دروغجنو باندي گرځوو.

په دغه ځای کي ددروغجن والی په صورت کي په لعنت کي داخلېږی. عامر بن واثلة رضي الله عنه فرمايي چې حضرت عمر رضي الله عنه نافع بن حارث د مکې حاکم مقرر کړی يو ځل يې پوښتنه ځنی وکړه چې د ځنگلو آمر دي څوک مقرر کړی؟ نافع بن حارث ورته وويل: ابن ابزای مي د ځنگلو آمر وټاکی. حضرت عمر رضي الله عنه وپوښتل چې ابن ابزای څوک دئ؟ نافع بن حارث وويل: يو غلام دی عمر رضي الله عنه د اعتراض په ډول ورته وويل: غلام دي ولی آمر جوړ کړی؟ نافع بن حارث ورته وويل: د ده قرآن زده دی عمر رضي الله عنه وويل: د نبی ﷺ څخه روايت دی چې قرآن ډېر خلک پورته کوي او ډېر خلک بيا کښته کوي.

قرانکريم به دبندگانو سره دليل وايي

٨- عن عبد الرحمان بن عوف رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال ثلث تحت العرش يوم القيامة القرآن يحاج العباد له ظهر و بطن والامانة والرحم تنادى الا من وصلنی وصله الله ومن قطعنی قطعه الله(١٣).

ژباړه: د عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه څخه روايت دئ چې نبي عليه السلام وفرمايل: درې شيان دي چې د قيامت په ورځ به د عرش تر سيوري لاندي وي (يو) قرآن دی چې د بنده گانو سره به دليل وايي د قرآنکريم لپاره ظاهر او باطن دئ. (دوهم) امانت دئ. (دريم) قريب دئ چې اواز به کوي چاچې زه د ځان سره يو ځای کړم الله ﷻ دي يې د خپل رحمت سره يو ځای کړي چا چې زه د ځان څخه ليري کړم الله ﷻ دی د خپل رحمت څخه لير کړي

(١١) سورة هود الاية (١٨).

(١٢) سورة ال عمران الاية (٦١).

(١٣) رواه فی شرح السنة.

په دې ځای کې د عرش د سیوری د لاندې والې څخه پوره نژدې والی دی یعنی د الله ﷻ په دربار کښې به ډېر نژدې وي او د قرآنکریم د دلیل ویلو څخه مقصد دا دی چې کومو خلګو د قرآن لحاظ ساتلی وي، د قرآن حق یې ادا کړی وي او په قرآنکریم یې عمل کړی وي نو قرآنکریم به د دوی له طرفه د الله ﷻ په دربار کښې دلیل وایي، شفاعت به یې کوي او درجې به یې لوړې وي. ملا علی قاری رحمه الله د ترمذي په روایت نقل کوي چې قرآن شریف به د الله ﷻ په دربار کښې عرض وکړي چې اې الله ﷻ ده بدله ورکړې الله ﷻ به د عزت تاج ورپر سر کړ. بیا به قرآنکریم د زیاتېدو غوښتنه وکړي الله ﷻ به د اکرام په پوره والې بدله ورکړي بیا به قرآن غوښتنه وکړي چې اې الله! زه د دې بنده څخه راضي یم ته ځني راضي سی، الله ﷻ به د ده څخه خپله رضا ښکاره کړي. کله چې په دنیا کې د محبوب تر رضا هیڅ یو لوی نعمت نسته نو په آخرت کښې به د محبوب د رضا په مقابله کښې کوم نعمت کېدلای سی؟ کومو خلګو چې د قرآن حق نه وي ادا کړی قرآنکریم به غوښتنه ځینی وکړي چې تا زما څه لحاظ ساتلی دئ؟ او زما دې څه حق ادا کړی دئ؟.

په شرح احیآء کښې د امام ابو حنیفة رحمه الله څخه نقل سوی دئ، چې په کال کښې دوه واره د قرآنکریم ختم کول د قرآن حق دئ اوس نو هغه کسان چې په هېره هم تلاوت نه کوی لږ دې فکر وکړي چې د دې زوره ور قرآنکریم په مخ کښې به څه جواب وایي مرګ پر هر حال راتلونکی دئ د مرګ څخه په هیڅ ډول تېښته او خلاصون نسته.

د قرآن کریم د ظاهر او باطن کېدو ښکاره مطلب دا دئ چې د قرآنکریم یو ظاهره معنی ده چې هر څوک په پوهېږي او بل یې باطني معنی ده، چې هر څوک نه په پوهېږي په دې ځای کښې د نبی علیه السلام و هغه شی ته اشاره ده، چې که څوک په قرآنکریم کې د خپلې رایي څخه یو څه وایي که څه هم صحیح وي بیا یې هم غلطي وکړه. ځینو علماوو د ظاهر څخه د قرآن الفاظ ښودلي دي چې په تلاوت کې یې هر څوک لوستلای سي او د باطن څخه یې مراد معنی او مطلبونه دي چې د قابلیت په اعتبار بېل بېل دي.

ابن مسعود رضي الله عنه فرمایي که چیر ی علم غواړئ نو د قرآنکریم په معنی کې غور او فکر وکړئ، په دې قرآنکریم کې د اولنیو او اخرنیو علم دئ. مګر د قرآنکریم د معنی لپاره چې کوم شرطونه او آداب دي د هغوی د لحاظ ساتل لازمي دي داسی نه لکه زموږ د زمانې په ډول چې څوک د عربي د یو څو لفظونو معنی زده کړ نو (ترجمه کوي) بلکې داسی لا هم سته چې د صرفي لحاظ څخه د لفظ او معنی پېژندنه نسی کولای یوائی اردو ترجمې وګوری او خپله رایه ورداخله کړي د قرآن شریف د تفسیر لپاره عالمانو د پنځلسو علومو زده کړه ضروري بللې ده د وخت د تنګوالې له امله یې په لنډ ډول درته بیانوم د دې څخه به معلومه سی چې هر څوک د قرآن پاک و حقیقي معنی ته نه سی رسېدلای.

لومړی: د لغت علم دئ، چي په دې کي د قرآن پاک د مفرد لفظونو معنی معلومه سي. مجاهد رحمه الله فرمايي: څوک چي پر الله ﷻ او د قيامت پر ورځ ايمان لري هغه ته نه ده جائزه چي د قرآنکريم د تفسير په اړه خوله پرانيزي. د يو څو لغاتونو معلومېدل بس نه دي ځکه چي ډېر ځلي يو لفظ په څو معناوو کي شريک سوی وي دی يې يوه يا دوې معناوې پېژني خو په حقيقت کي په دغه ځای کي بل څه مراد وي.

دوهم: د نحو علم دئ (يعني د عربي ژبي اعرابي قاعدې پېژندل) ځکه چي د اعراب (زور، زېر، پېښ) په بدلېدو سره معنی بيخي بدلېږي او اعراب پېژندل په علم نحو سره کېږي.

دريم: د علم صرف پېژندل ضروري دي، ځکه چي د بناء صيغو د اختلاف په وجه معنی بيخي بدلېږي. ابن فارس رحمه الله وايي د چا څخه چي د صرف علم پاته سي د هغه څخه ډېر څه پاته سول. علامه زمخشري رحمه الله په اعجوبات تفسير کښې وايي چي يو سړی د دې آيت تفسير کوي:

يَوْمَ نَدْعُوا۟ كُلَّ أُنَاسٍۭ بِإِمَـٰمِهِمْ ۖ (۱۴)

ژباړه: کومه ورځ چي موږ هر څوک د خپل مقتدا سره راوبلو.

که چيري نو موړی تفسير کوونکی د صرفی قانون په ناخبرتيا سره ترجمه داسي وکړي: په کومه ورځ چي موږ هر څوک د خپلو ميندو سره رابولو. د امام لفظ چي مفرد دئ د ام جمعه يې وګڼي. که د صرف علم ورته معلوم وی نو ورته ښکارېږي چي د ام جمع امام نه راځي.

څلورم: د اشتقاق پېژندل لازمي دي، ځکه چي لفظ کله کله د دوو مادو څخه جوړ سوی وي نو هر يو يې بېله بېله معنی لري لکه د مسيح لفظ چي د مسح څخه هم جوړ سوی دئ معنا يې يو شي ته لاس وروړل دي يا لوند لاس پر يو شي موږل او د مساحت څخه هم جوړ سوی دئ چي معنی يې اندازه کول او متر کول دي.

پنځم: د علم معاني زده کول ضروري دی چي د کلام ترکيبونه د معنی په اعتبار سره په معلومېږي.

شپږم: د علم بيان پېژندل ضروري دي په دې علم سره د کلام ظهور، اخفا، تشبيه او کناية معلومېږي يعني ښکاره والی، پټوالی، ورته والی او اشاره په معلومېږي.

اووم: د علم بديع زده کړه ده، چي د کلام غوره والی د تعبير په اعتبار سره په معلومېږي. دغه درو علومو ته علم بلاغت ويل کېږي. د مفسر لپاره دا درې واړه علوم ضروري دي ځکه تهوله قرآنکريم اعجاز دئ په دغو علومو سره اعجاز معلومېږي.

---

(۱۴) سورة بني اسرائيل الاية (۷۱).

اتم: د علم قرائت زده کړه ده، ځکه چي د بېلو قرائتونو له امله بېلي معناوي معلومېږي د ځينو معناوو پر ځينو معناوو باندي بهتر والى معلومېږي.

نهم: د علم عقايد زده کړه ده، ځکه چي په قرآن کريم کي داسي آياتونه شته چي د هغوى پوره ښکاره معنى پر الله ﷻ باندي نه صحيح کېږي بلکي د تأويل اړتيا پېښېږي لکه: ﴿ يَدُ ٱللَّهِ فَوۡقَ أَيۡدِيهِمۡ ﴾.(۱۵)

لسم: اصول فقه معلومول ځکه چي په دى علم سره دليل ويل او د مسئلو راکښل معلومېږي.

يوولسم: د نزول اسباب معلومول ځکه چي انسان نزول سره تړلي وي.

دولسم: د ناسخ او منسوخ معلومول ځکه چي منسوخ شوي احکام د نورو څخه بېل سي.

ديارلسم: علم فقه معلومول ځکه چي جزياتو په اهاطه سره کليان معلومېږي.

څوارلسم: د هغه احاديثو زدکړه چي د قرآنکريم د مجملو آيتونو په تفسير کي راغلي دي.

د دې څوارلسو څخه وروسته پنځلسم علم وهبي دئ، چي الله ﷻ پخپل فضل سره و خپلو خاصو بندګانو ته يوه خاصه ورکړه ورکوي چي په دغه حديث کي اشاره ورته سوي ده:

من عمل بما علم ورثه الله علم ما لم يعلم.

ژباړه: کله چي يو څوک په هغه څه عمل وکړي چي په پوهېږى الله ﷻ به داسي علم ورکړي چي دى نه په پوهېږى.

و دې خبري ته حضرت علي رضي الله عنه هم اشاره کړېده کله چي د ده څخه پوښتنه وسوه چي رسول الله ﷺ تاسو ته څه خاص علم درکړى دئ؟ يا يې خاص وصيتونه درته کړي دي؟ يعني د عامو خلګو پرته سېتاسو سره يو خاص څه سته؟ ده مبارک په جواب کي ورته وويل: زما دي په هغه ذات قسم وي چي جنت يې جوړ کړى دئ او د مخلوق ساه يې پيدا کړېده چي د هغه فهم او پوهي پرته بل هيڅ شى نسته راسره چي الله ﷻ يې د خپل کلام د پوهېدو لپاره و چاته ورکوي.

د ابن ابى الدنيا وينا ده چي د قرآن علمونه او کوم څه چي د دغو علومو څخه لاس ته راځى يو داسى درياب دئ چي غاړه نه لري.

پورتني علوم چي بيان سول د مفسر لپاره د الې په څېر دي کوم کس چي په دغو علومو ناخبره وي او تفسير کوي و دغه تفسير ته تفسيربالرائ ويل کېږي يعني د خپل فکر او نظر سره برابر تفسير کول د دا ډول تفسير کولو څخه منعه راغلې ده.

---

(۱۵) سورة الفتح الاية (۱۰).

دوهم دا چي د مسند امام کي په روايت کي د حَتى يقرا شيئا معه [۱۷]، څخه په ښکاره معلومېږي چي حافظ مراد دئ که څه هم ناظره ويونکی هم امکان لري کوم چي ډېر قرآن وايي. په مرقاة کي راغلي دي چي هغه لوستونکی ځنی مراد نه دئ چي قرآنکريم لعنت باندي وايي دا هغه حديث ته اشاره ده چي ډېر قرآن ويونکي داسي دي چي قرآن وايي قرآن پرده باندی لعنت وايي. نو که د چا عقيده جوړه نه وي د دغه کس قرآن ويل د ده د مقبوليت دليل نه سي کېدای. د خوارجو د ډلي په اړه دا ډول زيات حديثونه راغلی دي. د ترتيل په اړه شاه عبد العزيز صاحب پخپل تفسير کي ليکلي دي چي ترتيل په لغت کي روښانه او واضح لوستلو ته وايي او په شريعت کي د يو څو شيانو د لحاظ ساتلو سره تلاوت کولو ته وايي (چي ځينی يې په لاندي ډول دي):

لومړی: حروف صحيح ادا کول يعني هر حرف په خپل مخرج کي ادا کول داسي نه چي د (طآء) پر ځای (تا) وويل سي او د (ض) پر ځای (ظاء) وويل سي.

دوهم: دا چي وقف په ښه ډول وسي چي وصل (يو ځای والی) او قطع (جلا والی) بې ځايه ونه سي.

دريم: په حرکتونو کي اشباع کول يعني زور، زېر او پېښ په ښه ډول ادا کول [۱۸].

څلورم: د اواز يو څه لوړوالی چي د قرآنکريم الفاظ د خولې څخه رااوزي غوږونو ته ورسېږي او پر زړه باندي اثر وکړي.

پنځم: اواز په داسي ډول جوړول چي دردونکی وي د دې لپاره چي پر زړه باندي اثر وکړي ځکه دردونکی اواز پر زړه باندي ژر اثر کوي او روح قوت په اخلي له همدې امله رنځ پوهان وايي: که غواړي چي د درملو اثر و زړه ته ژر ورسېږي نو خوشبويي په ګډه کړه ځکه زړه ژر خوشبويي راکشوي او که د کومو درملو اثر و اينې (ځيګر) ته ژر رسول غواړئ نو خواږه پکښي ګډ کړه ځکه اينه د خوږو ژر راکښونکې ده په همدې وجه که تلاوت کوونکی خوشبويي استعمال کړي نو پر زړه باندي ژر اثر لوېږي.

شپږم: د شد او مد ښه ښکاره کول چي له وجي يې د قرآن لوی شان ښکاره کېږي او په اثر کولو کي مرسته کوي.

---

[۱۷] ژباړه: تر هغه وخته پوری چي دده سره يو شی د قران څخه ورسره وی.ژباړن

[۱۸] اشباع چي مولانا صاحب ذکر کړي ده موخه ځني لغوي اشباع ده ځکه اشباع په لغت کي مړوالي ته ويل کيږي په حرکاتو کي هم په کاره ده چي ټول حرکات په خپل کيفيت سره ماړه وويل سي . اصطلاحي اشباع ځني مراد نه ده ځکه اصطلاحي اشباع په ځينو ځايو کي لازمي وي اوپه ځينو ځايو کي منعه وي . ژباړن .

اووم: او د عذاب د آیاتونو حق ادا کول لکه د کتاب په پیل کې چې یې بیان وسو. د دغه اوو شیانو لحاظ کولو ته ترتیل وایي او مقصد یې په قرآنکریم کې غور او فکر کول دي او د قرآن پوهه ده.

د مؤمنانو د مور ام سلمې ﷺ څخه چا پوښتنه وکړه چې رسول الله ﷺ تلاوت څنګه کاوه؟ دې مبارکې ورته وویل: ټوله حرکتونه یعنی زور، زېر او پېښ یې په پوره ډول ادا کول او ښه به یې ښکاره کول او هر حرف به یې ښکاره او جلا ادا کوی. قرآنکریم په ترتیل سره ویل مستحب دي که څه هم په معنی یې نه پوهېږي.

عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمایي: که زه اذا زلزلت او سورة قارعة په ترتیل ووایم تر هغه تلاوت غوره دي چې سورة آل عمران او سورة بقرة بې ترتیله ووایم.

د محدثینو او علماوو په آند د نهم لمبر حدیث مطلب دا دئ چې یو، یو آیات وایه د جنت په یوه یوه درجه لوړ خیژه څکه د جنت درجې د قرآنکریم د آیاتو سره برابري دي دا خبره د روایتونو څخه معلومېږي نو څومره چې څوک د قرآن ماهر وي په هغه اندازه به یې مرتبه لوړه وي او څوک چې د ټول قرآنکریم ماهر وي تر ټولو به یې مرتبه لوړه وي ملا علي قاري رحمه الله فرمایي: د قرآنکریم تر لوستونکي لوړه درجه نسته قاریان به د آیاتونو په اندازه ترقي کوي، علامة داني رحمه الله علیه فرمایي: د اهل فن پر دې اتفاق دئ چې د قرآنکریم شپږ زره آیاتونه دي تر دې په زیات عدد کې اختلاف دئ او پنځه قوله یې رانقل کړي دی - ۲۰۴، ۱۴، ۱۹، ۳۶.

شرع احیاء لیکلي دي چې هر آیات د جنت د یوې درجې سره برابر دئ په جنت کې به تلاوت کوونکي ته وویل سي چې د جنت درجو ته د تلاوت په اندازه خیژه! څوک چې ټول قرآنکریم پوره کړي د جنت لوړې درجې ته به وخیژي او کوم چا چې د قرآنکریم یوه برخه ویلې وي په هغه اندازه به د جنت و درجې ته وخېژي. حاصل دا چې د ترقی آخري اندازه به د تلاوت آخري اندازه وي.

د بنده په آند د پورتني حدیث مطلب بل څه معلومېږي:[19] یعني د حدیث مطلب دا نه دئ چې پر یوه آیات باندې یوه درجه ده څکه په داسې صورت کې خو د ترتیل په ښکاره اړه نه پیدا کېږي نو معنی یې داسې کېږي، چې پر یوه آیات باندې د جنت یوه درجه ده که په ترتیل سره وي او که بې ترتیله وي، بلکې اصلی مطلب د حدیث دا دئ چې پر هغه آیات باندې د جنت یوه درجه ده چې په دنیا کې په ترتیل سره ولوستل سي څکه په آخرت کې هم په ترتیل سره تلاوت کېږی بیا د درجو ترقي تر لاسه کوي.

---

[19] وان کان صوابا فمن الله وان کان خطاء فمني ومن الشیطان والله ورسوله منه بریئان. ژباړه: که چیرې صحیح وي نو د الله ﷻ مرسته ده او که غلط وي نو زما خپله نیګړتیا ده. مؤلف شیخ الحدیث صاحب

ملا علي قاري رحمه الله يو حديث رانقل کړی دئ، چي کله څوک په دنيا کي د هر تلاوت کوي نو په آخرت کی به يې هم يادوي او که يې تلاوت نه کاوه هېر به يې وي. الله جل جلاله دي فضل کوي زموږ خلګ د خپلی ديني ميني له وجي په اولادونو قرآنکريم ياد کړي خو اولادونه يې د بې پروايي له وجي پر دنيا هېر کړي. د دې په مقابل کي ځيني نور حديثونه هم راغلي دي چي که څوک د قرآن د يادولو په تکليفونو کي مړ سي الله جل جلاله به يې د قيامت په ورځ دحافظانو په ډله کي راپورته کړي. د الله جل جلاله له لوري په ورکولو کي کمی نسته چي اخستلو والا وي. **شعر**

اس کی الطاف تو ہی عام شہیدی سب پر

تجھ سی کیا ضد تھی اگر تو کسی قابل ہوتا

ژباړه: د هغه شهيد مهرباني عامي دي پرټولو باندي – ستاسو سره يې څه ضد و، خو که ته د يو شی قابل وې.

څوک چي قرآنکريم يو حرف ووايي الله جل جلاله لس نېکۍ ور کوي

۱۰ عن ابن مسعود رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من قرا حرفا من كتاب الله فله به حسنه والحسنة بعشر امثالها لا اقول الٓمٓ حرف. الف حرف ولام حرف وميم حرف [۲۰].

ژباړه: ابن مسعود رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کړی دئ، چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: که چا يو حرف د قرآنکريم ووايه الله جل جلاله به په بدله کي يوه نېکي ورکړي او دغه نېکي په ثواب کي د لسو نېکيو سره برابره ده زه دا نه وايم چي (الٓمٓ) يو حرف دئ بلکي الف يو حرف، لام بل حرف او ميم بل حرف دئ (يعنی پر الٓمٓ باندي درې نېکۍ دي).

مطلب دا دئ چي نور عملونه پوره عمل پر يوه حسابېږي مګر قرآنکريم داسي نه دئ بلکي يوه برخه يې هم په پوره عمل حسابېږي پر يوه حرف باندي يې يوه نېکي ده او په ثواب کي د لسو نېکيو سره برابره ده لکه چي الله جل جلاله فرمايي:

مَن جَآءَ بِٱلۡحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشۡرُ أَمۡثَالِهَا [۲۱]

---

[۲۰] رواه ترمذی و قال هذا حديث حسن صحيح غريب اِسنادا والدارمی.

[۲۱] سورة الانعام الاية (۱۶۰).

روښنايي به څه حال وي. د لوستونکي د مور او پلار چې دومره لويه ذخيره په برخه کېږي چې د تاج روښنايي به يې د لمر تر روښنايي زياته وي نو د ده د خپلې ذخيرې او ثواب اندازه تاسو پخپله وکړئ چې څومره ثواب به يې وي. کله چې د سبب جوړېدونکي دومره ثواب دئ يعني دا چې دی يوازې د خپل زوی د تعليم سبب جوړ سوی دئ نو يقيناً د زوی يې په څو واره تر ده ثواب زيات دئ.

د لمر په کور کې کېدو سره چې کوم مثال ورکړل سوی د دې مطلب دادئ د لمر په نژدې والي سره رڼا زياته معلومېږي د دې تر څنګ يو بل باريک کار ته هم اشاره سوېده هغه دا چې کوم شی نژدې سي د هغه سره مينه زياتېږي د لمر د ليري والي له امله چې کومه نابلدتيا سته هغه د نژدې والي له وجې له منځه ځي که څه هم ديو شي فائده عامه وي هر چاته رسېږي که و هغه کس ته يوازې ورسېږي نو د هغه کس لپاره فخر وي نو د رڼا تر څنګ د رسول الله ﷺ په پورتني ارشاد کې و محبت ته هم اشاره سوېده.

حاکم رحمه الله عليه د بريدة په روايت د رسول الله ﷺ څخه نقل کوي چې رسول الله ﷺ فرمايي: کوم څوک چې قرآن ووايي او عمل په وکړي د قيامت په ورځ به الله جل جلاله داسي تاج ور پر سر کړي چې د نور څخه به جوړ وي او مور او پلار ته به يې دوې داسي جوړې ورواغوستل سي چې تر ټولې دنيا به يې ارزښت ډېر وي مور او پلار به يې ووايي: اې الله جل جلاله! دا د څه شی بدله ده؟ الله جل جلاله به ورته ووايي دا ستا د اولاد د قرآنکريم د زده کولو بدله ده. يعني دا چې تا خپل اولاد ته قرآنکريم ور زده کړی و دا يې بدله ده.

په جمع الفوائد کې د طبراني څخه نقل سوی دئ: انس رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه روايت کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: کوم څوک چې په زوی باندي ناظره قرآن زده کړي الله جل جلاله به مخکني او وروستني ټول ګناهونه ور معاف کړي او که څوک په زوی باندي قرانکريم ياد کړي نو د څوارلسم د سپوږمۍ په څېر به لوړ سي زوی ته به يې وويل سي چې قرآن ووايه زوی چې يې يو آيات وايي د پلار به يې يوه رتبه لوړېږي تر داسي اندازې چې ټوله قرآنکريم ووايي. د اولاد د قرآن د زده کړې له وجې پلار ته دغه ارزښتونه بس نه دي بله خبره هم واورئ هغه دا چې که څوک خپل اولاد د څو پيسو ګټلو په وجه د ديني زده کړې څخه محروم کړي نه يوازې چې د دغه ارزښتونو څخه بې برخې سي بلکې الله جل جلاله ته به جواب هم وايي. ته د دې وېرې څخه چې ملايان او حافظان د زده کړې وروسته يوازې امامان او د ټوک ټولولو محتاجه جوړېږي نو خپل نازولی د ديني زده کړې څخه محرومه کوې. ياد ساته نه يوازې چې اولاد دې په دايمي مصيبت اخته کړ بلکې د دغه مسئوليت جواب به هم وايې ځکه په حديث شريف کې راغلي دي:

کلکم راع وکلکم مسئول عن رعيته.

ژباړه: په تاسو کي هر څوک د خپلو لاندنيو کسانو مسئول دئ، يعني دا سوال کېږي چي څومره زده کړه دي په کړېده البته دا خبره ضروري ده، چي د دې عيبونو څخه ځان ساتنه او د نورو د ساتلو کوښښ هم کوه خو د شپږو د وړيو له وجي کالي نه اغوستل د عقل خبره نه ده بلکي د هغه جامو د پاک ساتلو کوښښ کول ضروري دي. لنډه دا چي که چيري خپلو اولادو ته ديني تعليم ورکړئ نو خپلي غاړي به مو خلاصي کړي وي او تر کومه وخته پوري چي ژوندي وي، څومره چي نېک کارونه کوي دعا او استغفار به ستا لپاره کوي نو ستا د درجو د لوړېدو سبب کېږي او که زوی د څو پيسو په وجه د ديني زده کړو څخه بې برخي کړې نو نه يوازي چي د خپلي بدي کړني مسئوليت به دي پر غاړه وي بلکي څومره چي فسق او بد کارونه کوي نو ستا عمل نامه به د دغه بدو کارونو څخه خالي نه وي نو د خداي ﷻ د پاره پر خپل حال رحم وکړئ دنيا په هر صورت تېرېدونکی شی ده، مرګ تر ټولو تکليفو داسي لوی تکليف دئ چي بيا داسي لوی تکليف نه راځي او نه پای لري.

قرآن ويونکي به اور نه سوځي

١٢- عن عقبة بن عامر ﷺ قال سمعت رسول الله ﷺ يقول لو جعل القرآن في اهاب ثم القى في النار مااحترق[٢٤].

ژباړه: د عقبة بن عامر ؓ څخه روايت دئ، دی مبارک وايي چي ما د نبي ؑ څخه واورېدل چي ويل يې: که چيری قرآنکريم په څرمنه کي و پېچل سي بيا اور ته ولوېږي نه به وسوځل سي.

د دې حديث په مطلب کي علماوو دوه نظره ښودلي دي: لومړی دا چي د څرمني څخه عامه څرمن مراد ده د هر ځناور چي وي او د اور څخه د دنيا اور مراد دئ په دغه صورت کي دا کار د نبي ؑ معجزه په هغه زمانه پوري خاصه وه لکه د نورو انبياوو عليهم السلام معجزې چي د دوی په زمانو پوري خاصي وې. دوهم مطلب دا دئ چي د څرمني څخه مراد د انسان څرمن ده او د اور څخه د دوزخ اور مراد دئ په دغه صورت کي نور حکم عام دئ يوازي د نبي ؑ په زمانه پوري خاص نه دئ، يعني که څوک حافظ وي که په يو جرم دوزخ ته واچول سي دوزخ به يې نه سوځي په يو روايت کي د (مامسته النار) لفظ هم راغلی دئ. يعني د دوزخ اور به يې مسه نه کړي.

ملا علی قاري رحمه الله د شرح السنة څخه د ابو امامة ؓ يو روايت رانقل کړی دئ، چي د دوهم مطلب تائيد کوي مفهوم يې داسي دئ: څوک چي قرآنکريم ياد کړي او وې ساتي الله ﷻ ... کس نه په عذابوي، د دې حديث مضمون پر هغه ځ باندي ښکاره دليل

[٢٤] رواه دارمي

دئ، چي د قرآنکريم يادول بې فائدې کار بولي هغوی دي د الله ﷻ لپاره د قرآنکريم د يادولو په دغو فضليتو کي فکر وکړي که دا يو فضليت ته وکتل سي بايد هر څوک د قرآنکريم په يادولو کي ځان قربان کړي ځکه داسي څوک به نه وي چي گناه به يې نه وي کړې او دوزخ ته د لوېدو وړ به نه وي. شرح احيآء د ديلمي رحمه الله په روايت د علي رضي الله عنه څخه نقل کوي چي حافظ به د نبيانو او نېکانو سره د قيامت په سخته او وېرووونکې ورځ د عرش تر سيوري لاندي وي.

قران ويونکي به جنت ته داخل سي

۱۳- عن علی رضي الله عنه قال قال رسول الله من قرأ القرآن فاستظهره فاحل حلاله وحرم حرامه ادخله الله الجنة و شفعه عشرة من اهل بيته كلهم قد وجبت له النار.[۲۵]

ژباړه: د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ، چي نبی عليه السلام وفرمايل: چا چي قرآنکريم ووايه بيا يې ياد کړ، حلال يې حلال وبلل او حرام يې حرام وبلل الله ﷻ به يې جنت ته داخل کړي او د خپلي کورنۍ د لسو داسي کسانو شفاعت به وکړي، چي دوزخ ورته واجب سوی وي.

د مؤمن لپاره خو د جنت تلل انشاءالله سته که څه هم د بدو عملو د سزا تر تېرولو وروسته وي خو د قرآنکريم د حافظانو دغه ځانگړتيا ده چي په لومړي وار به جنت ته ځي. حافظ چي د کومو لسو کسانو شفاعت کوي هغه به فاسقان او فاجران وي يعني د لويو گناهونو کوونکي به وي ځکه د کافر لپاره شفاعت نسته ځکه الله ﷻ فرمايي:

إِنَّهُۥ مَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ ٱلۡجَنَّةَ وَمَأۡوَىٰهُ ٱلنَّارُۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٖ ﴿٧٢﴾[۲۶]

ژباړه : چاکه د الله ﷻ سره شريک ونيوی بېشکه جنت پر ده باندي حرام دئ او ځای به يې دوزخ وي او ظالمانو ته مرسته کوونکي نسته.

په بل ځای کي الله ﷻ فرمايي:

مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن يَسۡتَغۡفِرُواْ لِلۡمُشۡرِكِينَ وَلَوۡ كَانُوٓاْ أُوْلِي قُرۡبَىٰ[۲۷]

---

[۲۵] روا احمد و ترمذي و قال هذا حديث غريب و حفص بن سليمان الراوي ليس هو بقوي يضعف بالحديث و رواه ابن ماجة و الدارمي

[۲۶] سورة المائده الاية (۷۲)

[۲۷] سورة التوبة الاية (۱۱۳)

ژباړه: د نبي ﷺ او مومنانو لپاره اجازه نسته چي د مشرکانو لپاره استغفار وغواړي، که څه هم يې خپلوان وي.

داسي نور آياتونه هم سته چي په ښکاره ښيي چي د مشرکانو لپاره بخښنه نسته په همدې وجه حافظان د هغه لسو کسانو شفاعت کوي چي دوزخ ورته واجب سوی وي خو کافران به نه وي بلکي مسلمان ګناهکاران به وي. که څوک د دوزخ څخه خلاصون غواړي د هغه لپاره په کاره ده که خپله حافظ نه وي يا يې نه سي يادولای نو په کورنۍ کي دي يو څوک حافظ کړي چي د هغه په وجه به دی د خپلو بدو عملونو د سزا څخه خلاص سي. پر هغه چا باندي د الله جل جلاله څومره لوی انعام دئ، چي خپله، پلار، اکاګان، نيکه ګان او ماماګان يې ټوله حافظان دي.[۲۸] اَللّٰهُم زِدْ فَزِدْ.

د قران مثال د مشکو د کڅوړي دئ

۱٤- عن ابی هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم تعلموا القرآن فا قرءوه فان مثل القرآن لمن تعلم فقرأ وقام به کمثل جراب محشو مسکا تفوح ريحه کل مکان ومثل من تعلمه فرقد وهو فی جوفه کمثل جراب اوکی علی مسک(۲۹).

ژباړه: د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ، چي نبي ﷺ وفرمايل: قرآن زده کړئ بيا يې ووایاست بېشکه مثال د هغه چا چي قرآن زده کړي بيا يې د شپې د تهجد په لمانځه کي وايي داسي دئ، لکه د مشکو کڅوړه چي د مشکو څخه ډکه وي او بوی يې پر هغه ځای باندي خورېږي او مثال د هغه چا چي قرآن زده کړي او بيا بيده سو لکه د مشکو ډکه کڅوړه چي خوله يې بنده وي.

يعني څوک چي قرآن ووايي بيا يې يادونه وکړي يعنې د شپې يې په لمانځه کي ووايي مثال يې د مشکو د ډکي کڅوړي دئ، چي خوله يې خلاصه وي او خوشبويي پر ټولو ځايونو باندي خورېږي حافظ هم داسي دئ، چي تلاوت کوي نو انوار او برکتونه يې پر ټولو ځايونو باندي اوري او که حافظ بيده وي بيا يې هم په زړه کي قرآن پروت وي د مشکو د کڅوړي په څېر دئ چي خوله يې بنده وي نو د ده د غفلت په وجه دومره تاوان ضرور ورسېږي چي نور خلګ د ده د برکتونو څخه بې برخي سوه بيا هم په هر صورت د ده زړه د مشکو څخه ډک دئ.

---

[۲۸] مراد ځني خپله د کتاب مؤلف شيخ صاحب دی ځکه دی خپله اوټوله خپلوان يې حافظان وه.

[۲۹] رواه ترمذي والنسائي و ابن ماجة و ابن حبان.

څوک چې قرآن نه وايي د خرابې په څېر دئ

۱۵- عن ابن عباس رضی الله عنهما قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان الذی لیس فی جوفه شیء من القرآن کالبیت الخرب(۳۰).

ژباړه : د ابن عباس رضی الله عنهما څخه روايت چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي؛ د چا په زړه کي چي قرآن نه وي د وران کور په څېر دئ.

د وران کور سره په مثال ورکولو کي يوه باريکه خبره دا ده چي کوم کور چي وران وي پر هغه کور باندي پيرانان قبضه کوي په همدا ډول په کوم زړه کي چي قرآن نه وي پر هغه زړه باندي هم شيطان حمله کوي (تاسو فکر وکړئ) چي په دې حديث کي څومره پر حفظ تاکيد سوی دئ چي د قرآن څخه خالي زړه يې د وران کورسره تشبيه کړی دئ. حضرت ابو هريرة رضی الله عنه فرمايي: په کوم کور کي چي قرآن لوستل کېږي اولادونه پکښې ډېرېږي، خير او برکت پکښې ډېرېږي، ملا ئکي ورته راځي او شيطانان ځني ځي او په کوم کور کي چي تلاوت نه وي بې برکتي او تنگدستي پکښې وي ، ملائکي د دغه کور څخه ځي او شيطانان پکښې داخلېږي. د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه څخه نقل سوی دئ ځيني يې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه نقل کوي: چي خالي کور هغه دئ چي د قرآنکريم تلاوت نه پکښې کېږي.

قرانکريم لوستل تر تسبيح او خيرات بهتر دي

۱٦- عن عائشه رضی الله عنها ان النبی صلی الله علیه وسلم قال قرآءة القرآن فی الصلوة افضل من قرآءة القرآن فی غير الصلوة وقرآءة القرآن في غير الصلوة افضل من التسبيح و التکبير والتسبيح افضل من الصدقة و الصدقة افضل من الصوم والصوم جنة من النار (۳۱).

ژباړه : د عائشي رضی الله عنها څخه روايت دئ، چي نبي علیه السلام وفرمايل: د قرآن تلاوت چي په لمانځه کي وي غوره دئ تر هغه تلاوت چي د لمانځه پرته وسي د لمانځه پرته تلاوت غوره دئ تر تسبوح (سبحان الله) او تکبير (الله اکبر...) او تسبيح غوره دي تر صدقې (خيرات) او خيرات غوره دی تر روژې او روژه د اور د دوزخ څخه خلاصون دئ.

د تلاوت غوره والی پر نورو ذکرونو باندي ښکاره دئ ځکه قرآنکريم د الله جل جلاله کلام دئ او مخکي معلومه سوه چي د الله جل جلاله کلام پر نورو کلامونو باندي دومر غوره والی لري لکه د الله جل جلاله غوره والی پر خپل مخلوق باندي. په نورو روايتو کي هم د ذکر غوره والی پر

---

(۳۰) رواه ترمذي و قال هذا حديث صحيح ورواه الدارمي و الحاکم و صححه.

(۳۱) رواه بيهقي في شعب الايمان

لکه د دې حديث څخه چي صدقه باندي راغلی دئ. د صدقې غوره والی پر روژه باندي معلومېږي خو د ځينو نورو روايتونو څخه بيا د روژې غوره والي پر صدقه باندي معلومېږي. دغه غوره والی د وختونو په اعتبار دئ يعني په ځينو وختونو کي روژه غوره وي او په ځينو وختونو کي صدقه غوره وي او د خلگو په اعتبار هم دی د ځينو خلگو لپاره روژه غوره وي او د ځينو خلگو لپاره صدقه غوره وي. نو کله چي په پورتني حديث کي روژه د غوره والي له پلوه تر ټولو وروسته راغلې ده او دغه روژه د دوزخ اور څخه خلاصون دئ نو د تلاوت به څومره درجه وي چي تر ټولو اول دئ. امام غزالي رحمة الله عليه په احياء کي د علي رضي الله عنه څخه نقل کوي: څوک چي قرآن په لمانځه کي په ولاړه ووايي د ده لپاره پر هر حروف باندي (۱۰۰) نېکۍ دي او څوک چي يې په لمانځه کي په ناسته (د عذر له امله) ووايي د ده لپاره (۵۰) نېکۍ دي او څوک چي قرآنکريم د لمانځه د باندي په اوداسه ووايي د ده لپاره (۲۵) نېکۍ دي او څوک چي قرآنکريم د لمانځه د باندي بې اوداسه ووايي د ده لپاره (۱۰) نېکۍ دي او چي خپله يې نه وايي د بل چا تلاوت ته يې غوږ نيولی وي د ده لپاره هم پر حرف باندي (۱۰) نيکۍ دي.

درې آياته په لمانځه کي لوستل تر درو چاغو او غټو اوښانو بهتر دي

۱۷- عن ابی هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ايحب احدکم اذا رجع الی اهله ان يجدفيه ثلث خلفات عظام سمان ؟ قلنا نعم قال فثلث آيات يقرأ بهن احدکم فی صلوته خيرله من ثلث خلفات عظام سمان [۳۲].

ژباړه : د ابي هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ، چي نبی عليه السلام وفرمايل: په تاسو کي داسي څوک سته چي کله کور ته راسي درې بلاربې غټې او چاغي اوښې دي ورته ورسېږي؟ موږ ورته وويل: هو ! (خوښوو يې) رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چي درې آياتونه په لمانځه کي ووايي: تر درو غټو او چاغو اوښو غوره دی.

په دغه ډول مضمون په دريم نمبر حديث کي هم بيان سوی دئ، مګر دلته تلاوت په لمانځه کي ښودل سوی دئ او په هغه ځای کي بېله لمانځه ښودل سوی دئ همدا وجه ده چي رسول الله صلى الله عليه وسلم د بلاربو اوښو سره مثال ورکړی دئ، ځکه د ويونکي لپاره دوه عبادتونه دي يو لمونځ دی او بل تلاوت دئ په مثال کي هم دوه شيان دي يوه اوښه ده او بل يې حمل (په نس کي بچی) دئ. ما د دريم حديث په فائده کي ليکلي دي چي دا صرف يو مثال دئ که نه نو د يو آيات تل پاته کېدونکی ثواب تر زرګونو فاني کېدونکو اوښانو بهتر دی .

---

[۳۲] رواه مسلم .

د قرانکریم د پاڼو له مخې تلاوت دوه زره چنده کېږي

۱۸- عن عثمان بن عبدالله بن اوس سقفی ﷺ عن جده قال قال رسول الله ﷺ قراءة الرجل القرآن فی غیر المصحف الف درجة وقراءته فی المصحف تضعف علی ذالک الی الفی درجة (۳۳).

ژباړه : عثمان د عبد الله زوی او د اوس ثقفي لمسی د خپل نیکه څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: یو سړی چي قرآنکریم په یاد ووایي یعني د قرآنکریم ورقو ته نه ګوري زر (۱۰۰۰) درجې ثواب لري او که یې د قرآنکریم د ورقو څخه ووایي ثواب یې دوه چنده کېږي تر دوو زرو پوري رسیږي.

د قرآنکریم د حافظ لپاره مخکي ډېر فضلیتونه راغلي وه په دې ځای کي و قرآنکریم ته کتل بیا ویل د تدبر او فکر زیاتوب دئ. نور عبادتونه هم ورسره ملګري دي لکه قرآنکریم ته لاس وروړل، قرآنکریم ته کتل او داسي نور. څرنګه چي روایتونه مطالب بېل، بېل دي او د علماوو هم په دې خبره کي اختلاف دئ چي قرآن په یاد ویل ثواب ډېر لري او که په کتلو سره؟ یوه ډله په دې آند ده چي وقرآن ته په کتلو سره ثواب زیات دئ ځکه یو خو پورتنی حدیث دلیل دئ بل دلیل دا دئ چي په قرآنکریم کي کتلو سره له غلطۍ څخه خلاصېږي. دوهمه ډله په دې آند ده چي په یاد ویل ډیر ثواب لري ځکه یو خو په دې اړه ډېر روایتونه راغلي دي، زیاته عاجزي پکښې ده، د نبی ﷺ مبارک عادت هم دا و، چي تلاوت به یې په یاد باندي کاوه. امام نووي رحمه الله علیه په دغه موضوع کي دا فیصله کړې ده چي دغه بهتر والی د خلګو په اعتبار دی یعني که چیري و یو چا ته په کتلو کي ډېر غور او تدبر حاصلېدی نو په یاد ویل ورته بهتر دي. که چا ته په یاد ویلو سره زیات تدبر او غور حاصلېدی په یاد ویل ورته بهتر دی. حافظ ابن حجر رحمه الله علیه په فتح الباري کي هم دغه تفصیل خوښ کړی دئ. ویل سوي دي چي د حضرت عثمان رضی الله عنه د ډېر تلاوت له وجي دوه قرآنکریمه زاړه سوي دي. عمر و بن میمون رحمه الله علیه په شرح احیآء کي نقل کوي: چي څوک د سهار تر لمانځه وروسته قرآنکریم خلاص کړي سل آیاتونه تلاوت وکړي نو د ټولي دنیا په اندازه به ثواب ورته ولیکل سي. قرآنکریم په کتلو سره د نظر لپاره ګټور ښودل سوی دئ. ابو عبیده رحمه الله علیه یو حدیث مسلسل رانقل کړی دئ، چي هر یو راوي ویلي دي چي ما ته د سترګو تکلیف و استاذانو د قرآنکریم په کتلو سره تلاوت وښودی. امام شافعي رحمه الله علیه به زیات وخت د ماخستن تر لمانځه وروسته قرآنکریم خلاص کړ، د سهار د لمانځه پر وخت به یې بند کړ.

---

(۳۳) روا بیهقي في شعب الا یمان

قرانکریم د زړه زنګ لیري کوي

۱۹- عن ابن عمر رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ان هذه القلوب تصدأُ كما يصدأُ الحديد اذا اصابه الماء قيل يا رسول الله وما جلائها قال كثرة ذكر الموت وتلاوة القرآن[۳٤].

ژباړه: د ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دئ، چې نبي علیه السلام وفرمایل: بېشکه زړونه هم زنګ کوي لکه او سپنه چې د اوبو په رسېدو سره زنګ کوي. یو چا پوښتنه وکړه چې پاکي یې په څه شي سره ده؟ نبی علیه السلام وفرمایل: د مرګ په ډېر یادولو سره او د قرآن په تلاوت سره.

یعني زړونه هم د الله جل جلاله د ذکر څخه په غفلت سره زنګ کوي لکه او سپنه چې د اوبو په رسېدو سره زنګ کوي خو د مرګ ډېر یادول او تلاوت کول د زړه د پاکۍ کار ورکوي. زړه د هینداري مثال لري څومره چې خیرنېږي په هغه اندازه د الله جل جلاله د پېژندني انځور پکښې کمېږي او څومره چې پاکېږي په هغه اندازه د الله جل جلاله د پېژندني انځور پکښې روښانه کېږي له همدې وجې څومره چې انسانان په شهواني او شیطاني ګناهو اخته وي په هغه اندازه د الله جل جلاله د معرفت څخه لیري کېږي. د دغي هینداري د پاکولو لپاره پیران صاحبان ریاضتونه، مجاهدې، ذکرونه او وظیفې ښیي، په حدیثونو کي راغلي دي کله چې انسانان یوه ګناه وکړي نو د ده پر زړه باندي یو تور ټکی پیدا سي که چیرې توبه وباسي نو هغه ټکی بیرته لیري سي او که دوهمه ګناه وکړي نو بل ټکی یې پر زړه پیدا سي په دغه ډول څومره چي ګناهونه کوي په هغه اندازه تور ټکي ډېرېږي تر داسي بریده چې زړه یې بیخي تک تور سي. په دغه وخت کي نو د خیر و لوري ته هیڅ رغبت او شوق نه وي بلکي د شر و لوري ته یې رغبت وي.

اللهم احفظنا منه.

دغه خبري ته د قرانکریم په لاندي آیات کریمه کي اشاره سوېده:

كَلَّا ۖ بَلْ ۜ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿١٤﴾ [۳۵]

ژباړه: بېشکه د دوی زړونه د دوی (بدو) عملونو په زنګو پوهلي دي.

په یو حدیث کي راځي چې نبي علیه السلام فرمایي: زه دوه واعظان تاسو ته پرېږدم یو ویونکی دئ او بل چپ دئ ویونکی قرآنکریم دئ او چپ د مرګ یاد دئ. د نبي علیه السلام ارشاد خو د سرپر سترګو قبول دئ مګر نصیحت د هغه چا لپاره دئ چې نصیحت قبلوي او نصیحت

---

[۳٤] رواه بیهقی فی شعب الایمان.

[۳۵] سورة مطففین (۱۴).

ته ارتیا ګڼي کوم څوک چې دین بې ګټې کار بولي او د ودې (ترقی) مانع یې بولي د هغه لپاره د نصیحت ارتیا نسته او څه ګټه به ورته وکړي؟ حسن بصري رحمة الله علیه فرمایي: پخوا خلګو به قرآنکریم د الله جل جلاله فرمان ګڼي ټوله شپه به یې فکر پکښې کاوه او د ورځې به یې عمل په کاوه تاسو قرآنکریم په زور، زېر او پېښ ښه زده کړي مګر د شاهنشاه فرمان یې نه ګڼي فکر نه پکښې کوي.

د محمدي امت افتخار قرآن دئ

۲۰- عن عایشة رضي الله عنها قالت قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان لکل شئ شرفا یتباهون به وان بهآء امتی وشرفها القرآن[۳۶].

ژباړه: عایشة رضي الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي، چې نبی علیه السلام فرمایي: هر شي لره فخر سته چې فخر په کوي زما د امت شرافت او فخر قرآن دئ.

یعني خلګ پخپلو پلرونو، نیکونو، خاندانونو او په ډېرو شیانو فخر کوي زما د امت فخر په قرآنکریم دئ چې د قرآنکریم یادول او لوستل ځني مقصد دي، چې هر شی یې فخر دئ. ولي به فخر نه وي چې د محبوب کلام دئ، د آقا فرمان دئ، د دنیا تر ټولو لوی شرافت نه سي ورسره برابر ېدلای. بله خبره دا ده چې د دنیا ټول کمالات او افتخارات که نن نه وي نو سبا خامخا ختمېدونکي دي، خو د قرآنکریم داسي کمالات دي چې تل به وي هیڅکله نه ختمېږي. د قرانکریم هغه کوچنی صفت د افتخار لپاره بس دئ. بیا چې ټوله پکښې جمع سي خو بیخي (تر اندازي زیات افتخار دئ). د مثال په ډول د قرانکریم ښایسته او پوره بیان، ښکلي ډول، د لفظونو یو د بل سره مناسبت، د خبرو یو د بل سره تړون، د تېرو او راتلونکو واقعاتو خبرداري، د خلګو اړوند داسي الزامات که یې دوی ثابتول وغواړي نه یې سي ثابتولای، لکه د یهودیانو د محبت د دعوې سره د مرګ ارزونه کول، اورېدونکي یې تر اغېزې لاندي راتلل، لوستونکي یې نه ستړي کېدل او نه خسته کېدل سره د دې چې هر کلام چې هر څومره خوندور وي او د معشوقې لیونی کوونکی خط وي که په لس واري تکرار سره خسته نه سي نو په شل واره سره خامخا خسته کېږي او که په شل واري سره خسته نه سي نو په څلوېښت واري سره خامخا خسته کېږي. د قرانکریم یوه رکوع یاد کړه دوه سوه (۲۰۰) واره یې ووایه څلور سوه (۴۰۰) واره یې ووایه هیڅکله به خسته نه سې او نه به په موړ سې که یو څه ستوماني راسي نو هغه به لنډ مهالې او مؤقتي وي ژر به له منځه ځي قرانکریم چې

---

(۳۶) رواه ابو نعیم في الحلیة

ځو مره زيات وايې خوند يې زياتېږي هيڅکله سړی نه په مړېږي او داسي نور که چاته د دغه صفتونو څخه يو ورسېږي نو د فخر لپاره يې بس دئ او که ټوله په ښه او کامل ډول ورسېږي نو بيخي لوی افتخار دئ. اوس نو موږ ته يو ساعت فکر کول په کار دي چي زموږ خلګ د قرانکريم د حافظ کېدو څو مره فخر دئ يا زموږ په نظر د حافظ کېدو په سبب څومره شرافت لاسته راځي او که په لوړو لوړو ډګرونو، لويو، لويو لقبونو سره، په دنيوي شان او شوکت سره او د مړګ څخه وروسته په پاته کېدونکي مال سره شرافت ګڼو؟ فالي الله المشتکي.

قرانکريم ذخيره په مځکه کي او نور په اسمان کي دئ

۲۱- عن ابي ذرﷺ قال قلت يارسول الله ! اوصنی قال عليک بتقوی الله فانه رأس الامر کله قلت يا رسول الله! زدني قال عليک بتلاوة القرآن فانه نور لک فی الارض وذخر لک فی السماء (۳۷).

ژباړه : ابي ذرﷺ فرمايي : ما رسول اللهﷺ ته وويل: يا رسول اللهﷺ! ما ته وصيت وکړه نبیﷺ راته وويل تقوا کوه د ټولو کارونه سره ده ما ورته وويل: يو څه نور وصيت راته وکړه! نبيﷺ راته وويل: تلاوت کوه بېشکه تلاوت ستا لپاره نور په دينا کي دئ او ذخيره په آخرت کي ده.

تقوا په حقيقت کي د ټولو کارونو سر ده په کوم زړه کي چي د اللهﷻ وېره پيدا سي د هغه سړی څخه نه بيا ګناه کېږي او نه پر هغه سړی باندي تنګسيا راځي، ځکه اللهﷻ فرمايي:

﴿وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مَخۡرَجٗا ۝٢ وَيَرۡزُقۡهُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَحۡتَسِبُ﴾ (۳۸)

ژباړه : څوک چي اللهﷻ څخه ووېرېږي اللهﷻ د هغه لپاره (د بندېدو په وخت کي) د وتلو لاره پيدا کوي او د هغه لوري څخه رزق ورکوي چي د ده هيڅ خيال او ګمان نه وي.

د تلاوت نور کېدل د لومړنيو روايتونو څخه هم معلوم سو. په شرح احيآء کي د معرفة ابونعيم څخه نقل سوی دئ، چي حضرت باسط رحمة الله عليه د رسول اللهﷺ ارشاد بيان کړ: په کوم کور کي چي د قرانکريم تلاوت کېږي هغه کور و اسمان والاوو ته داسي ځلېږي لکه د مځکي والاوو ته چي په اسمان کي ستوري ځلېږي دا حديث په ترغيب او نورو کي هم په دغه اندازه رانقل سوی دئ. مګر دغه روايت مختصر دئ اصلاً دغه روايت ډېر اوږد دئ چي د ابن حبان او داسي نورو څخه ملا علي قاري رحمة الله عليه مفصل او سيوطی رحمة الله عليه مختصر رانقل کړی دئ. څرنګه چي زموږ د رسالې سره دغه حديث په پورتني اندازه مناسب و خو د ډېري ګټي له وجي يې په پوره ډول مطلب ذکر کوم چي په لاندي ډول دئ: ابوذرﷺ فرمايي : ما د نبيﷺ

---

(۳۷) رواه ابن حبان في صحيحه في حديث طويل

(۳۸) سورة الطلاق الايتان (۲-۳).

پوښتنه وکړه چي الله ﷻ ټول څو کتابونه نازل کړي دي؟ نبي ﷺ و فرمایل چي سل (١٠٠) څخه پو ښتنه وکړه چي الله ﷻ ټول څو کتابونه نازل کړي دي؟ نبي ﷺ و فرمایل چي سل (١٠٠) صحیفې او څلور کتابونه دي. پنځوس صحیفې پر حضرت شیث علیه السلام نازل سوي دي، دېرش صحیفې پر حضرت ادریس علیه السلام نازلي سوي دي، لس صحیفې پر حضرت ابراهیم علیه السلام نازلي سوي دي او لس صحیفې پر حضرت موسی علیه السلام تر توراة مخکي نازل سوي دي. ما پوښتنه وکړه چي د حضرت ابراهیم علیه السلام په صحیفو کي څه شي وه؟ نبی ﷺ و فرمایل ټوله مثالونه وو د مثال په ډول: اې مغروره پاچا! ما ته د دې لپاره نه وې لیږلی چي پیسه په پیسه جمع کړې ما ته د دې لپاره نه وې لیږلی چي ما ته د مظلوم فریادونه راورسوې بلکي مخکي یې ته چاره وکړه، ځکه زه د مظلوم فریادونه نه ردوم که څه هم کافر وي. بېکاره بنده (یعني شیخ الحدیث صاحب) وایي: چي نبی ﷺ به کله پخپلو اصحابو کي یو څوک د یو ځای آمر ټاکی نو د نورو نصیحتونو تر څنګ به یې خامخا دا ورته ویل: واتق دعوة المظلوم فانه لیس بینها وبین الله حجاب. ژباړه: ځان د مظلوم د ښېراوو څخه ساته بېشکه د ده او د الله ﷻ تر منځ پرده نسته.

بترس از آه مظلومان که هنگام دعا کردن

اجابت از در حق بهر استقبال می آید

یعني د مظلومانو د آه څخه وویرېږه ځکه چي د الله ﷻ د لوري قبولیت مخه ته ورته راځي.

په دغه ډول په صحیفو کي راغلي وه چي هوښیار سړي ته ضروري ده چي تر څو لېونی سوی نه وي خپل وخت دي پر درو برخو ووېشي په یوه برخه کي دي د خپل رب عبادت کوي په بله برخه کي دي د خپل نفس (ځان) سره حساب کوي او دا فکر دي کوي چي څومره کارونه مي ښه وکړه او څومره کارونه مي بد وکړه او په دریمه برخه کي دي حلاله ګټه کوي. هوښیار سړي ته دا هم ضروري ده چي د خپلو وختونو حفاظت وکړي او د خپلو حالاتو د سمولو لپاره فکر وکړي د خپلي ژبي حفاظت د بې ځایه خبرو څخه وکړي څوک چي د خپلو خبرو محاسبه کوي د هغه ژبه د بې ځایه خبرو څخه تر ډېره ساتل کېږي. هوښیار سړي ته ضروري ده چي د درو شیانو پرته دي سفر نه کوي یا خو یې د آخرت لپاره توښه برابرول مقصود وي، یا یې د رزق پیدا کول مقصود وي او یا یې سفر د سیاحت لپاره وي په دې شرط سره چي جائزه وي.

ابو ذر رضی الله عنه وایي: ما پوښتنه وکړه چي اې د الله ﷻ رسوله! د حضرت موسی علیه السلام په صحیفو کي څه شي وه؟ ده مبارک راته وفرمایل: ټولي د عبرت خبري وې، د مثال په ډول: زه حیرانېږم چي د چا د مرګ یقین وي بیا هم د خوشالۍ خبري کوي (د مثال په ډول که د چا یقین سو، چي زه به ډېر ژر اعدام سم نو هغه بیا کله د خوشالۍ خبري کوي) زه حیرانتیا کوم چي د چا د مرګ یقین وي بیا هم خاندي، زه حیرانتیا کوم چي څوک د دنیا پیښي، بدلېدل او رابدلېدل او انقلاباتویني بیا هم پر دنیا باندي باور کوي. زه و هغه چاته حیرانتیا کوم چي پر تقدیر

باندي يې يقين وي بيا هم په غم كي ځان اخته كوي. زه و هغه چاته حيرانتيا كوم چي پر حساب باندي يې يقين وي بيا هم نيک عملونه نه كوي. ما وويل: اې د الله ﷻ رسوله! ماته يو څه نصيحت وكړه نبی ﷺ تر ټولو مخكي د تقوا وصيت راته وكړى اوراته وې فرمايل چي تقوا د ټولو سپېڅلو كارونو بنسټ ده. ما د نور نصيحت غوښتنه وكړه نبی ﷺ راته وويل د قرانكريم تلاوت او د الله ﷻ ذكر تل كوه چي دا په مځكه كې نور دئ او په اسمان كي ذخيره ده ما د نور نصيحت غوښتنه وكړه، نبی ﷺ راته وويل: د ډېري خندا څخه ځان وساته ځكه چي زړه مړ كوي او د مخ رونق بيايي (يعني ظاهر او باطن ته تاوان رسوي) ما د نور نصيحت غوښتنه وكړه، نبی ﷺ راته وويل: د جهاد اهتمام كوه زما د امت لپاره رهبانيت دی[۳۹] ما د نور نصيحت غوښتنه وكړه. نبی ﷺ راته وويل: د مسكينانو او اړو انسانانو سره ګډون كوه او د دوی سره ناسته او ولاړه كوه. ما ورته وويل: نور هم راته ووايه، نبی ﷺ راته وفرمايل: تر ځان كښته خلګو ته ګوره تر ځان غټو خلګو ته مه ګوره، داسي نه چي الله ﷻ كوم نعمتونه چي تاته يې دركړي دي د هغو سپكاوی وسي ما د نور نصيحت غوښتنه وكړه، نبی ﷺ راته وفرمايل: تا خلک د خپل عيبونو د بيانولو څخه منعه كړي دي ته هم د خلګو د عيبونو د بيانولو لټون مه كوه چي ته خپله پكښې ګير يې ستا د معيوبوالي لپاره دومره بس ده چي ته په خلګو كي دومره عيبونه پيدا كړې چي په تا كي موجود دي او ته د هغه څخه ناخبره يې او په دوی كي داسي خبري راوباسي چي ته يې خپله كوي. بيا نبی ﷺ د شفقت لاس زما پر سينه تېر كړ او راته وې فرمايل: اې ابوذره! د تدبير په اندازه هوښيار نسته د ګناه څخه د ساتلو په اندازه تقوا نسته تر ښه خوی زيات شرافت نسته. آه.(په پورتني حديث كي د خلاصی او مفهوم لحاظ ساتل سوی دئ د كتاب ترجمې لحاظ نه دئ ساتل سوی).

پر قران ويونكو د الله ﷻ رحمت نازلېږي

۲۲- عن ابي هريرة ﷺ ان رسول الله قال: مااجتمع قوم في بيت من بيوت الله يتلون كتاب الله ويتدارسونه بينهم الا نزلت عليهم السكينة و غشيتهم الرحمه و

ژباړه : د ابي هريرة ﷺ څخه روايت دئ، چي نبي ﷺ وفرمايل: نه يو ځای كېږي يو قوم په يو كور كي د كورونو څخه د الله ﷻ چي تلاوت د قرآن كوي او درس يې پخپلو كي كوي مګر پر دوی باندي سكينه نازلېږي، رحمت پرې غوړېږي، ملائكي پرې چاپېره

---

[۳۹] راهب هغه چاته ويل كيږي چي ددنيا دټولو كارونو سره اړيكي وشكوي يوازي دالله ﷻ عبادت شروع كړي دهيچاسره اړيكي نه ساتي دغه كار په تيرو امتونو كي و په اسلام كي منعه دئ دلته رسول الله ﷺ اشاره ورته وكړه چي زما دامت لپاره رهبانيت جهاد دئ يعني دهغو امتونو لپاره چي رهبانيت څومره ثواب درلودئ زما دامت لپاره جهاد په هغه كچه ثواب لري.

حفتهم الملائكة وذكرهم الله فيمن عنده[40]. | کېږي او الله ﷻ د دوی ذکر د ملائکو په مجلس کي کوي.

په دغه حدیث کي د اسلامي درس ځایونو او مدرسو ځانګړي فضلیت بیان سوی دئ چي د اکرام ډېر قسمونه پکښې شامل دي، داسي اکرامات دي که د هغو څخه د یوه لپاره سړی ټول عمر ولګوي او لاسته یې راوړي لا هم ارزانه دئ د بې شمېره انعاماتو تر ټنګ ستر نعمت د الله ﷻ په دربار کي د ملائکو په وړاندي یادونه ده چي په دنیا کي یې هیڅ شی مقابله نه سي کولای.

د سکینې نازلیدل په ګڼو رواتیو کي راغلي دي او په سپیناوي کي یې د حدیثو د علماوو څو ویناوی سته دغه ویناوي په دې معنی نه دي چي د دوی تر منځ دي اختلاف وي کېدلای سي چي د ټولو مجموعه ځني مراد وي. د حضرت علي ﷺ څخه د سکینې تفسیر داسي رانقل سوی دئ: سکینه یوه خاصه هوا ده چي مخ یې د انسان د مخ په څېر دئ. علامة سُدي رحمة الله عليه فرمایي: سکینه د جنت د یوې تالۍ نوم دئ چي د انبیاوو زړونه پکښې مینځل کېږي. ځینو ویلي دي چي دا یو خاص رحمت دئ. طبري رحمة الله عليه بیا دا خوښ کړي دي چي د سکینې څخه د زړه ارامتیا مراد ده. ځینو ویلي دي چي طمانیت ترې مراد دئ. ځینو یې تفسیر په عزت سره کړی دئ. چا بیا ملائکي ځني مراد کړي دي. ځینو بیا نور تفسیرونه کړي دي. حافظ ابن حجر رحمة الله عليه په فتح الباري کي په دې آند دئ چي د ټولو په پوره راتللو سره کېږي.

د نووی رحمة الله عليه نظر دا دئ چي په سکینة کي طمانیت، رحمت او داسي نور یو ځای کېږي او د ملائکو په واسطه نازلېږي. الله ﷻ فرمایي:

فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَيۡهِ[41]

په بل ځای کي الله ﷻ فرمایي :

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ فِي قُلُوبِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ[42]

په بل ځای کي الله ﷻ فرمایي:

فِيهِ سَكِينَةٞ مِّن رَّبِّكُمۡ[43]

---

[40] رواه مسلم و ابوداود.

[41] سورة توبه الاية (۴۰).

[42] سورة الفتح الاية (۴).

[43] سورة بقرة الاية (۲۴۸).

مطلب دا دئ چي په زياتو اياتونو او حديثونو كي د سكينې زېرى فرمايل سوى دئ.
په احياء نومي كتاب كي نقل سوي دي چي ابن ثوبان ﷺ د خپل يو دوست سره د روژه مات
وعده وكړه (مگر نه ورغلى) صبا سهار خپل دوست گيله ورته وكړه، ده مبارك ورته وويل كه
مي چيري ستا سره وعده نه واى كړى نو هيڅكله به مي حال نه واى درته ويلى: چي زه ولي نه
راغلم (د وعدې په وجه درته وايم) د ماښام تر لمانځه وروسته نابېره پر ما ناوخته سو آن تر
دې چي د ماخوستن د لمانځه وخت راغلى لمونځ چي مي وكړ، فكر مي وكړ، چي مرگ په
باور نه دئ ښه دا ده چي وتر هم وكړم كله چي زه پر وترو ودرېدم د عاي قنوت مي ووايه د
جنت يو شين باغ مي په نظر راغلى چي ډول ډول گلونه او داسي نور شيان پكښې وه چي په
ليدلو يې داسي مشغول سوم چي سهار سو. د دې ډول څخه په سوونو واقعات راغلي دي
چي د بزرگانو حالات پكښې ليكل سوي دي خو د دې د ښكاره كېدو هغه وخت دئ چي د
دنيا څخه اړيكي ختمي سي يوازي د الله ﷻ سره تعلق پيدا سي او د الله ﷻ لوري ته كامله
توجه پيدا سي. د لوړ لوري څخه د ملائكو خورېدل په زياتو روايتونو كي راغلي دي. د
اسيد بن حضير ﷺ تفصيلي قصه د حديثو په كتابو كښې راځي، چي ده د تلاوت په وخت كي
د لوړ لوري څخه يوه وريځ محسوسه كړه نبي ﷺ ورته وفرمايل: دا ملايكي دي د قرآنكريم د
اورېدو لپاره راغلي دي د ملائكو د ډېروالي له وجي د وريځي په څېر معلومېږي يو صحابي
ته يوه ورځ د تلاوت په وخت كي محسوسه سوه نبي ﷺ ورته وفرمايل: دا سكينه وه يعني
رحمت و، چي د قرآنكريم په وجه نازل سوى و په مسلم شريف كي دا حديث په تفصيل سره
راغلى دئ. نور مضامين هم ورسره سته او په آخر كي دا جمله هم ورسره زياته سوې ده: من
بطأ به عمله لم يسرح به نسبه (يعني څوك چي بد عمل د رحمت څخه ليري كړي نو دى خپل لوړ
نسب و رحمت ته نه سي نژدې كولاى). څوك چي پشت پر پشت د لوړ خاندان څخه وي او
گناه كار وي هغه د الله ﷻ په نزد هيڅكله د هغه كم نسبه مسلمان سره نه سي برابرېدلاى چي
تقوا داره وي. (ان اكرمكم عندالله اتقاكم).

قرانكريم تر ټولو ښه و الله ﷻ ته نژدې كوونكى دئ

٢٣- عن ابي ذر ﷺ قال قال رسول الله ﷺ انكم لاترجعون الى الله بشئ افضل مماخرج منه يعني القران(٤٤).

ژباړه: د ابي ذر ﷺ څخه روايت دئ، چي نبي ﷺ و فرمايل: تاسو د الله ﷻ و لوري ته رجوع يعني نژدېكت و الله ﷻ تر هغه شي په بل شي سره نه سی كولاى چي د ده څخه راوتلى دئ يعني قرآنكريم.

(٤٤) رواه الحاكم و صححه ابوداؤد في مراسيله عن جبير بن نفير و الترمذي عن ابي امامة بمعناه.

زياتو روايتونو دا مضمون ثابت کړی دئ، چي د الله ﷻ په دربار کي تر تلاوت زيات په بل شي سره نزدېکت نه سي راتلای. امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمايي: چي ما په خوب کي د الله ﷻ زيارت وکړ، ما پوښتنه د الله ﷻ څخه وکړه چي ستا په دربار کي زيات نزدېکت په څه شي راتلای سي؟ جواب راکړل سو چي اې احمد! زما په کلام سره. ما وويل: د پوهېدو په صورت کي (يعني په ترجمه) او که د نه پوهېدو په صورت کي؟ ارشاد وسو که پوهېږي او که نه پوهېږي و الله ﷻ ته د نژدېوالي ذريعه ګرځي. د دې حديث روښنايي، د قرانکريم د تلاوت غوره طريقه او الله ﷻ ته د نژدېوالي په ښه ډول بيان د حضرت مولانا شاه عبد العزيز دهلوي صاحب د تفسير څخه رايستل سوېده چي لنډيز يې په دې ډول دئ: سلوک الی الله يعني د احسان مرتبه د الله ﷻ د حاضر ګڼلو نوم دئ چي په دريو طريقو سره لاسته راځي:

لومړی: تصور چي په شرعي اصطلاح کي ورته تدبر او فکر کول چي صوفيه مراقبة ورته وايي.

دوهم: لساني ذکر دئ يعني په ژبه ذکر کول.

دريم: د قرانکريم تلاوت دئ. څرنګه چي اول هم د زړه ذکر دئ په همدې وجه په حقيقت کي طريقې دوې دي اول عام ذکر دئ که د زړه وي او که د خولې وي. دوهم تلاوت دئ. د کوم لفظ نسبت چي الله ﷻ ته کېږي د دغه لفظ په تکرار ويلو سره چي د ذکر مقصد دئ. په دغه قوت مدرکه (د الله ﷻ د پېژندني مطلب) به د هغه ذات ولوري ته د توجه سبب سي ګويا هغه ذات به ورته حاضر سي او د ده په حاضر ګڼلو سره د الله ﷻ سره هغه معيت (ملګرتيا) لاسته راځي چي په حديث شريف کي ښودل سوېده: (لا يزال عبدی يتقرب الی باالنوافل حتی احبه فکنت سمعه الذی يسمع به وبصره الذي يبصر به ويده التي يبطش بها).

ژباړه: نبی ﷺ فرمايي: چي الله ﷻ فرمايي: زما بنده ډېر ځلي په نفلي عباداتو سره ما ته نژدې والی لاسته راوړي تر داسي اندازې چي زه هم دی محبوب جوړ کړم نو زه يې غوږ جوړ سم چي اورېدل په کوي، سترګه يې جوړه سم چي ليدل په کوي، لاس يې جوړ سم چي نيول په کوي. يعني کله چي بنده د الله ﷻ په ډېرو عباداتو سره و الله ﷻ ته مقرب جوړ سي نو الله ﷻ د ده د غړو حفاظت کوي بيا نو سترګي، غوږونه، او ټول غړي د الله ﷻ تابع سي. نفلي عبادت يې په دې وجه ووايه چي فرضي عبادت خو اندازه سوی دئ زيادت نه سي پکښي کېدلای او د دې لپاره د الله ﷻ د تل حاضر ګڼلو اړتيا ده لکه مخکي چي معلومه سوه نو دوامداره نفلي عبادات اړين دي. مګر دا طريقه يوازي د الله ﷻ د نژدېوالي لپاره ده که څوک غواړي چي د بل نامه په ذکر سره و هغه ته نژدېوالی راولي ممکنه نه ده ځکه په دې طريقه سره تقرب و دوو شيانو ته اړتيا لري: لومړی دا چي د هغه کس علم به پر ده باندي چاپېره وي دا چي د ده پر ذکرونو باندي علم ولري که څه هم په بېلو ځايونو او بېلو وختونو کي يې کړی وي. دوهم دا

چي د ذكر كوونكي مدركه به نوراني كولاى سي چي په تصوفي عرف كي ورته (دنو - يا تدنى، قرب او نزول وايي څرنګه چي دا دواړي خبري يوازي په الله ﷻ كي پيدا كيدلاى سي (په بل چا كي نه سي راتلاى) په همدې وجه دغه تقرب يوازي په الله ﷻ پوري خاص دئ و دې خبري ته په حديث قدسي كي اشاره سوېده چي الله ﷻ فرمايي: من تقرب الى شبر تقربت اليه ذراعا. يعني څوک چي زما لوري ته يوه لويشت رانژدې سي زه يو ګز ورنژدې کېږم څوک چي زما لوري ته كرار راځي زه چابک ورځم. دا ډول مثالونه يوازي د پوهانو لپاره دي كه نه نو الله ﷻ د ګرځېدو راګرځېدو څخه پاک دئ. مطلب دا دئ چي الله ﷻ و خپل لوري ته د هڅو او كوښښ كوونكو څخه زيات و دوى توجه او نزول فرمايلى دئ ولي به يې نه فرمايي ځكه د كريم ذات سره همدا اسي مناسب وي نو كله چي د يادونكي د لوري څخه په يادولو كي هميشه توب وي نو د الله ﷻ د لوري هم د توجه او نزول هميشه توب وي. څرنګه چي قرانكريم سراسر ذكر دئ د قرانكريم يو آيات د ذكر او توجه څخه خالي نه دئ نو د نژدېوالي خبره يوازي د قرانكريم په ويلو تر لاسه كيداى سي. ځكه په هر كلام كي د كلام ويونكي د صفاتو اثرات موجود وي د مثال په ډول كه څوک د فاسقانو اشعار په تكرار سره وايي نو د فاسقانو تر اغېزې لاندي به راځي او كه د تقواداره انسانانو اشعار وايي د تقوا داره انسانانو تر اغېزې لاندي به راځي همدا وجه ده چي څوک منطق او فلسفه وايي تكبر پكښې پيدا كېږي او څوک چي په احاديثو كي مشغول وي تواضع پكښې پيدا كېږي. همدا ډول فارسي او انګريزي ژبي د حيثيت له پلوه سره برابري دي خو هر څوک چي د دغو ژبو كتابونه وايي د دغو كتابو د مصنيفينو تر اغېزې لاندي به راځي يعني د فارسي ژبي زيات مؤلفينو د دين كتابونه ليكلي دي نو ښكاره خبره ده چي مؤلف يې متدين دئ او كتونكي به يې هم و دين ته هڅېږي او د انګريزي ژبي زياتو مؤلفينو د مادياتو په اړه كتابونه ليكلي دي نو كتونكي به يې هم د ماديت تر تاثير لاندي راځي حاصل دا چي څوک ډېر ډېر د يو چا كتاب په تكرار سره وايي نو د هغه پاملرنه خامخا د ويونكي لوري ته را اوړي نو څوک چي په تكرار سره قرآنكريم لولي د الله ﷻ د مباركو صفاتو اثر به پكښې پيدا كېږي بله خبره دا ده څوک چي د يو چا كتاب په تكرار سره وايي نو د هغه پاملرنه خامخا د ويونكي لوري ته را اوړي نو څوک چي په تكرار سره قرآنكريم وايي طبعي خبره ده چي د الله ﷻ توجه به د ده لوري ته يقيني وي نو د زيات نژدېوالي سبب به ګرځي الله ﷻ دي پخپل فضل سره ما او تاسو په دغه مهربانۍ سره مشرف كړي.

قران ويونکي د الله ﷻ اهل دي

٢٤- عن انس ﷺ قال قال رسول الله ﷺ ان لله اهلين من الناس قالوا من هم يارسول الله ! قال اهل القرآن هم اهل الله وخاصته(٤٥).

ژباړه : د انس ﷺ څخه روايت دئ، چي نبي ﷺ و فرمايل: الله ﷻ لره ځيني خلګ د کور خلګ سته اصحابو وويل: اې د الله ﷻ رسوله! دا څوک دي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: د قرآنکريم والا د الله ﷻ د کور خلګ دي او خاص خلګ يې دي.

قرآنکريم والا هغه خلګ دي چي تل په قرآنکريم کي اخته وي او ورسره خصوصيت لري نو د دوی د الله ﷻ اهل کېدل ښکاره دي ځکه د مخکني مضمون څخه معلومه سوه چي دوی تل په قرآنکريم کي مشغول وي نو الله ﷻ د توجه وړ وګرځي بيا تقرب لاسته راوړي يعني نژدېوالی او څوک چي د چا سره ډېر ناسته او ولاړه کوي آخر د هغه کور خلګ وګرځي څومره لوی فضليت دئ چي د لږ تکليف په تېرولو سره د الله ﷻ د خاصو خلګو څخه ګڼل کېږي. په دنياوي درباروکي يوازي په ممبرانو، چوکېو -پوستهو د داخلېدو لپاره څومره ځاني او مالي قرباني ورکول کېږي او د رايه ورکوونکو په مخکي خوشامندی کوي خوند ترې اخلي دا سترياوي کاربولي خو د قرانکريم کوښښ بيکاره کاربولي.

ببين تفاوت راه از کجاست تا به کجا

يعني وګوره توپير د لاري د کومه ځايه څخه تر کومه ځايه پوري دب.

الله ﷻ تر قرآن زياته هيچا ته توجه نه کوي

٢٥- عن ابي هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ ما اذن الله لشيئ ما اذن لنبي يتغنى به القرآن (٤٦).

ژباړه : د ابي هريرة ﷺ څخه روايت دئ چي نبي ﷺ وفرمايل: الله ﷻ و هيچا ته دومره توجه نه کوي لکه و نبي ﷺ ته چي قرآن په ښه اواز لولي.

مخکي معلومه سوه چي الله ﷻ د خپل کلام و لوري ته په خصوصيت سره توجه کوي په لوستونکو کي لکه څرنګه چي انبياء عليهم السلام د تلاوت اداب په پوره توګه ادا کوي په همدې وجه الله ﷻ دوی ته تر نورو زياته توجه کوي بيا په خوش اوازي سره داسي سي لکه د

(٤٥) رواه النسائي و ابن ماجة والحاكم واحمد.

(٤٦) رواه البخاري و مسلم.

سرو زرو په آب سره چي وځلېږي نو څومره چي زياته وي ورسره ښايي د انبياوو عليهم السلام د توجه څخه وروسته و نورو خلګو ته توجه د حيثيت مطابق کېږي.

الله ﷻ قران تر ټولو ښه اوري

۲۶-عن فضالة بن عبيد رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ الله اشد اذنا الى قاري القرآن من صاحب القينة الى قينته [۴۷].

ژباړه: د فضالة بن عبيدالله رضي الله عنه څخه روايت دئ چي نبي ﷺ وفرمايل: الله ﷻ د قرآن ويونکي تلاوت ته تر هغه سړي زيات غوږ نيسي چي د خپلي سندري ويونکي مينځي و سندري ته غوږ نيسي.

د سندرو لوري ته طبعاً پام اوړي خو د شرعي منعي له وجي د ينداره خلګ پام نه وراړوي خو که هغه خپله مينځه وي نو بيا يې (ښځه سروزه) په سندرو اورېدلو کي شرعي تاوان نسته، نو د دې وجي د هغې و سندري ته پوره توجه کېږي البته په شريعت کي د دې څخه منعه سوې ده چي قرآن د سندرو په ډول وويل سي، ځکه رسول الله ﷺ فرمايي: اياکم ولحون اهل العشق. ژباړه ځان وساتئ د خوش اوازۍ څخه د عشق د څښتنانو.

يعني د سروز او ساز په ډول يې مه واياست. علماوو ليکلي دي: په داسي ډول (د سندرغاړو په ډول) قرانکريم لوستل جائز نه دئ که يې څوک وايي فاسق دئ اورېدونکی يې ګنهکاره دئ، البته د سروز د قاعدو د نه لحاظ په صورت کي قرانکريم په ښه اواز سره ويل په کار دي، ځکه چي په ډېرو حديثونو کي يې ترغيب راغلی دئ، په په يو ځای کي ارشاد دئ، چي: په ښه اواز سره تلاوت قرآن ښايسته کوي. په بل ځای کي ارشاد دئ، چي په ښکلي اواز تلاوت کول د قرآنکريم ښکلا دوه برابره کوي. حضرت شيخ عبد القادر جيلاني رحمه الله عليه پخپل کتاب غنية کي ليکلي دي: عبد الله بن مسعود رضي الله عنه يو واري د کوفې په شاوخوا کي تېرېدی په يوه کور کي فاسقان راټول سوي وه د زاذان په نامه يې يو سندرغاړي راوستلی و، سندري يې ويلي او سرينده يې ږغوله ابن مسعود رضي الله عنه وفرمايل: څومره ښه اواز دی که چيري قرآنکريم په تلاوت کېدای، نو پر خپل سر يې پټو واچوی تېر سو. ده مبارک چي خبره کوله زاذان وليدی او تر پوښتني وروسته ورته معلومه سوه چي ابن مسعود رضي الله عنه دئ، زاذان د ده مبارک د خبري څخه زيات متاثره سوه، چي بيخي اندازه يې نه وه. لنډه دا چي د سروز ټول سامان يې مات کړ، د ابن مسعود رضي الله عنه په لاره پسې ولاړی او د وخت لوي عالم ځني جوړ سو مطلب دا چي په ډېرو روايتونو کي د قرآنکريم په ښه اواز کي تلاوت کول راغلي دي. مګر د

---

[۴۷] رواه ابن ماجة و ابن حبان والحاكم كذا في شرح الاحياء قلت وقال الحاكم صحيح علي شرطهما وقال الذهبی منقطع.

سندرو په څېر ویل په شریعت کي منعه سوي دي لکه مخکي چي تېر سو. خذیفة رضي الله عنه روایت کړی دي، چي نبي ﷺ فرمایلي دي تاسو د عربو په ښو اوازو کي تلاوت کوئ، د عشق بازانو، یهودیانو او عیسایانو په څېر یې مه وایاست ژر دئ، چي یو قوم به راسي چي په مړو پسي به د سندرو او ژړا کوونکو په څېر قران وایي دغه تلاوت دوی ته یوه ګټه هم نه کوي دغه خلګ به خپله هم په فتنه کي پرېوزي او هغه څوک به هم په فتنه کي وغورځوي چي د دوی تلاوت ښه ورته معلومېږي. طاؤس رحمه الله علیه فرمایي: د نبي ﷺ څخه یو چا پوښتنه وکړه چي ښه اواز د چا دئ؟ نبي ﷺ ورته وفرمایل: ښه اواز د هغه چا دئ، چي ته یې پر تلاوت ووینې داسي محسوسه کړې چي دی د الله جل جلاله څخه وېرېږي یعني پر اواز یې رعب غالب سوی معلومېږي د دې ټولو سره سره د الله جل جلاله لوی انعام دا دئ، چي هر سړی د خپل توان په اندازه ذمه وار دئ. په حدیث شریف کي راغلي دي: څوک چي قرانکریم په صحیح ډول نه سي لوستلای الله جل جلاله یوه ملائکه مقرره کړي دغه ملائکه یې ورصحیح کوي بیایې پورته کوي.

د قرآن ویونکي لپاره په آخرت کي ډېر ثواب سته

٢٧– عن عبیدة الملیکی رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ یا اهل القرآن لا تتوسدوا القران واتلوه حق تلاوته من انآء اللیل والنهار و افشوه وتغنوه و تدبروا مافیه لعلکم تفلحون ولا تعجلوا ثوابه فان له ثوابا[٤٨].

ژباړه : د عبیدة ملیکي رضي الله عنه څخه روایت دئ، چي نبی ﷺ وفرمایل: تاسو پر قرآن تکیه مه لګوئ، تاسو شپه او ورځ د قرانکریم تلاوت کوئ څنګه چي د قرانکریم حق دئ د قرانکریم اشاعت کوئ، په ښه اواز یې وایاست د دې لپاره چي کامیابي تر لاسه کړئ، تاسو یې په دنیا کي ثواب مه غواړئ (ځکه چي په آخرت کي یې) لوی ثواب ستهٔ.

په دغه حدیث شریف کي څو شیان ښودل سوي دي:

لومړی دا چي پر قرآنکریم تکیه مه لګوئ، پر قرآنکریم د تکیه لګولو دوه مطلبه دي لومړی دا چي پر قرانکریم تکیه لګول د ادب خلاف کار دئ. ابن حجر رحمه الله علیه لیکلي دي چي پر قرانکریم تکیه لګول، پښې ورته غځول، شا ورته ګرځول، پښې پر ایښول او داسي نور حرام دي. دوهم دا چي مراد غفلت دئ، یعني داسي مه کوئ چي پر سرتاخ مو د برکت لپاره ایښی وي او نه یې وایاست لکه داسي چي په ځینو زیارتو کي لیدل سوي دي چي د قبرو سر ته یې پر رحېل باندي قرانکریم ایښی وي دا د قرانکریم حق ضائع کېدل دي.

---

[٤٨] رواه البیهقی فی شعب الایمان

دوهم شي دا ښودل سوی دئ، چي تاسو په داسي ډول تلاوت کوئ چي د قرآنکريم حق وي يعني د قرانکريم د ادابو د رعايت سره يې تلاوت کوئ پخپله په قرانکريم کي و دې لوري ته د توجه لپاره ارشاد سوی دئ:

ٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ يَتْلُونَهُۥ حَقَّ تِلَاوَتِهِۦٓ (۴۹)

ژباړه: و هغو کسانو ته چي قرانکريم ورکړل سوی دئ د قرانکريم رښتيني تلاوت کوي.

يعني څوک چي د لوي پاچا او محبوب کلام په کومه اندازه په شوق لوستلای سي په هغه اندازه لوستل په کار دي.

دريم شی دا ښودل سوی دئ چي د قرانکريم اشاعت کوئ يعني په ژبه، تقرير، ليکلو او څنګه چي کېدلای سي خپروی يې. نبي ﷺ د قرانکريم د خپرولو امر کړی دئ، خو زموږ روشن فکران (لوېديځ ښکلا خوښوونکي) د قرانکريم تلاوت بې ګټې بولي او ورسره ورسره اسلام او د نبي ﷺ سره د محبت دعوی هم کوي.

ترسم نه رسی بکعبه ای اعرابی - کين ره که تو می روی بترکستان است

وېرېږم چي کعبي ته به نه ورسېږي اې صحرايي - دغه لاره چي ته پر روان يې ترکستان ته تللې ده.

د نبي ﷺ حکم دئ چي قرانکريم خپور کړئ خو موږ چي څومره کوښښ د قرانکريم په بنديز کي کېږي نه يې سپمو و د جبري تعليم قانون جوړوو او دا وايو چي د اسلامي مدرسو استاذان د کوچنيانو عمر ضائع کوي نو ځکه موږ پخپلو کوچنيانو د عصري زده کړو مکاتب وايو او په مدرسو کي تعليم نه په کوو او په دې باور يو چي مکاتب په ديني زده کړو کي کوتاهي کوي نو په کوتاهي سره به ستا ذمه خلاصه سي؟ او د قرانکريم د اشاعت فريضه به ادا سي؟ خو ته د هغي کوتاهۍ په وجه خپل ماشومان په زوره له مدرسې څخه راباسي او مور او پلار ته يې اخطار ورکوې په نتيجه کي به د دغو کوچنيانو د قران څخه د محروميت ټول مسئوليت ستا پر غاړه وي د مکاتبو د استاذانو د کوتاهي جواب به دوی خپله وايي دا د سل د تبي علاج په زهرو نه دئ؟ د الله ﷻ په دربار کي به دي دا جواب وي چي د مدرسو استاذانو د قرانکريم سم لوستل نه کاوه ته فکر وکړه چي دا جواب څومره وزن لري؟ ستا په آند د کافر په دوکان کي کار کول، د انګريز نوکري کول درې حصي اهميت لري او د قرانکريم زده کړه يوه حصه اهميت لري خو د الله ﷻ په نزد څلور سره حصې د قران اهميت دئ دغه نور شيان هيڅ اهميت نه لري.

---

(۴۹) سورة بقرة الاية (۱۲۱).

څلورم: شی دا وښودل سو چې په ښکلي اواز تلاوت کوئ لکه په مخکي حديث کي چي تېر سو.

پنځم: په معناووکي يې غور او فکر کوئ. په احيآء نومي کتاب کي د تورات څخه نقل سوی دئ: چي الله ﷻ وايي: اې زما بنده! ته زما څخه نه شرمېږې چي کله د يوه دوست خط تاته راسي نو په تلو تلو کي ودرېږې و يوه کونج ته کښېني او په ښه غور سره يې يو توری وايي او په معنی کي يې فکر کوې او زما کتاب چي ستا مخ ته راسي او هر څه مي پکښي روښانه کړي دي د ځينو ضروري خبرو بيان مي په تکرار سره درته کړی دئ چي ته غور او فکر پر وکړې خو ته په بې پروا يې سره والوزي ولي زه ستا تر دوستانو کم يم؟ اې زما بنده! که ستا د دوستانو څخه ځوک درسره کښېني نو ته ښه په دقت سره ورته متوجه سې او په ښه غوږ يې اوري اوکه ځوک په منځ کي درسره کښېني نو ته په اشاره هغه د خبرو څخه منعه کوې او زه ستا سره د خپل کلام په ذريعه خبري کوم ته هيڅ نه متوجه کېږې ايا زه ستا په آند ستا تر دوستانو هم کم يم؟ آه!

د تدبېر په اړه د کتاب په پېل او د اتم نمبر حديث په تشريح کي يو څه بيان وسو.

شپږم: شی په حديث کي دا ښودل سوی دئ، چي تاسو په دنيا کي د تلاوت بدله مه اخلئ ځکه په آخرت کي د تلاوت لوی ثواب سته. که ځوک د تلاوت په بدله کي پيسې واخلي داسي مثال لري لکه د طلا په بدله کي چي کوټ واخلي. نبی ﷺ فرمايي: کله چي زما امت پيسې لوی شی وګڼي نو د اسلام رعب او هيبت به له منځه ولاړ سي او کله چي امر بالمعروف او نهي عن المنکر پرېږدي نو د روحي برکت يعني د قران د پوهي څخه به محرومه سی. کذا فی الا حيآء - اللهم احفظنا منه

قران تر پخوانيو کتابونو غوره دئ

۲۸ عن واثلة ﷺ رفعه اعطيت مكان التوراة السبع واعطيت مكان الزبور المئين و اعطيت مكان الانجيل المثاني و فضلت بالمفصل[۵۰].

ژباړه: حضرت واثلة ﷺ د نبي ﷺ څخه روايت کوي چي نبيﷺ فرمايي: ما ته د تورات په بدله کي سبع طول راکړه سوي دي د زبور په بدله کي مئين راکړل سوي دي د انجيل په بدله کي مثاني راکړل سوي او مفصل يوازي زما سره سته.

د مشهور قول پر بنسټ د قرانکريم لومړي اووه سورتونو ته طوَل ويل کېږي دوهم يوولسو سورتونو ته مئين ويل کېږي وروسته شلو سورتو ته مثاني ويل کېږي وروسته تر پايه

(۵۰) رواه احمد والكبير كذا في جمع الفوائد.

پوري مفصل سورتونه دي. په ځېنو سورتو کي اختلاف سته چي په طول کي دي، په مئين کي دي، په مثاني کي دي او که په مفصل کي داخل دي خو د حديث په مفهوم کي اختلاف نه راځي. مقصد دا دئ چي څومره لومړني کتابونه نازل سوی دي د هغو ټولو مثل په قرانکريم کي سته او تر څنګ يې مفصل سورتونه د قرانکريم ځانګړتيا ده چي مثل يې په پخوانيو کتابو کي نه پيدا کيږي.

و رسول اللهﷺ ته په قران ويونکو کي د ناستي امر سوی دئ

۲۹- عن ابي سعيد الخدری‌رضي الله عنه قال جلست في عصابة من ضعفاء المهاجر ين وان بعضهم ليستتر ببعض من العری وقاري يقرأ علينا اذا جآء رسول الله ﷺ فقام علينا فلما قام رسول الله ﷺ سکت القاری فسلم ثم قال ماكنتم تصنعون قلنا نستمع الی کتاب الله تعالي فقال الحمدلله الذی جعل من امتی من امرت ان اصبر نفسي معهم قال فجلس وسطنا ليعدل بنفسه فينا ثم قال بيده هکذا فتحلقوا وبرزت وجوههم له فقال ابشروا يا معشر صعاليك المهاجرين باالنور التام يوم القيامة تدخلون الجنة قبل اغنيآء الناس بنصف يوم وذالک خمس ماة سنة[۵۱].

ژباړه: د ابي سعيد خدريؓ څخه روايت دئ (دی مبارک وايي) زه د غريبانو مهاجرو په ډله کي ناست وم دوی دومره مسکينان وه، چي جامې يې نه درلودې ځانونه يې يو په بل پسي نهام کړي وه چي بدن يې پټ سي يوه نفر قرآن وايه چي نبي ﷺ راغلی موږ ته بيخي نژدې ودرېدی د ده مبارک د راتګ سره قاري چپ سو، نبي ﷺ سلام ورته ووايه بيا يې پوښتنه وکړه چي تاسو څه ويل؟ موږ ورته وويل: چي تلاوت مو اورېدی نبي ﷺ وفرمايل: الحمد لله چي زما په امت کي داسي خلک پيدا سوي دي چي ما ته په دوی کي د ناستي حکم وسو، بيا نبي ﷺ زموږ په منځ کي کښېنستی چي د ټولو سره برابري وکړي بيا يې موږ ته د حلقې په څېر د کښېنستو امر وکړ. ټولو و نبي ﷺ ته مخ کړ او کښېنستل نو نبي ﷺ وفرمايل: اې د غريبانو مهاجرينو ډلې! تاسو ته زيری درکوم د قيامت د ورځي د کاملي رڼا او د دې خبري چي تاسو به نيمه ورځ تر شتمنو خلګو مخکي جنت ته ځئ او دغه نيمه ورځ به د پنځوسو کالو سره برابره وي.

د کومو غړو پټول چي فرض دي هغه غړي خو يې پټ کړي وه خو د نورو بدن لڅول هم په ټولنه کي ښه نه ښکارېږي په همدې وجه يو د بل تر شا ناست وه. دوی د خپلي مشغولتيا له وجي په لومړيو کي نبي ﷺ ته فکر نه سو کله چي ډېر ورته رانژدې سو نو قاري د ادب له وجي چپ سو. د نبي ﷺ پوښتنه د دوی د خوشالولو لپاره وه په حقيقت کي نبي ﷺ د قاري تلاوت

---

[۵۱] رواه ابوداود.

لیدلی و چي قاري تلاوت کاوه. د آخرت یوه ورځ د دنیا د زرو کالو سره برابره ده ځکه الله ﷻ فرمایي:

﴿وَإِنَّ يَوْمًا عِندَ رَبِّكَ كَأَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ ۝٤٧﴾[52]

ژباړه: بېشکه ورځ ده ستا د رب په نزد له زر کاله د هغه (کلو) څخه چي تاسو يې شمېرى.

په همدې وجه هر چیري چي د قیامت بیان راځي نو په غداً سره تعبیر کېږي او دغه اندازه په اعتبار د اغلب ده او د مؤمنانو لپاره که نه نو د کافرانو لپاره د قیامت ورځ ډېره اوږده ده ځکه الله ﷻ فرمايي:

﴿فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ أَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ ۝٥﴾[53]

ژباړه: داسي ورځ به وي چي اندازه به یې پنځوس زره کاله وي.

د مؤمنانو لپاره به د دوی د حیثیت سره برابره کمه وي لکه چي په یوه حدیث کي راځي.
د ځینو مؤمنانو لپاره به د قیامت ورځ د سهار د دوو رکعتو په اندازه وي. څرنګه چي د قرانکریم د لوستلو زیات فضلیتونه راغلي دي همدا ډول د قرانکریم د اورېدلو فضلیت هم په زیاتو روایتو کي راغلی دئ، تر دې به نو زیات فضلیت چیري وي چي رسول الله ﷺ ته د قران د اورېدونکوپه ډله کي د کښېنستلو امر وسو داسي رسول دی چي د ټولو رسولانو سردار دئ، لکه څنګه چي دغه فضلیت د دغه حدیث څخه معلوم سو. د ځینو علماوو فتوی ده چي د قرانکریم اورېدل تر ویلو زیات ثواب لري ځکه چي د قرانکریم ویل نفل دي او اوریدل یې فرض دي او د فرضو درجه تر نفلو زیاته ده د دغه حدیث څخه د یوه سوال جواب هم معلومېږي هغه دا دئ چي مسکین صبرناکه چي د خپل مسکنت حال چاته نه ښکاره کوي بهتر دئ او که هغه شتمن شکرګذاره چي ټول حقونه ادا کوي؟ دغه حدیث د هغه چا لپاره دلیل کېدای سي چي مسکین غوره بولي.

قرآنکریم په آخرت کي نور دئ

۳۰- عن ابي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ من استمع الى آية من الله كتب له حسنة

ژباړه: د حضرت ابي هريرة رضي الله عنه څخه روایت دئ، چي نبي ﷺ وفرمایل: څوک چي يو آيات واوري د الله ﷻ د قران څخه د ده لپاره به دوه چنده نېکی وي او

[52] سورة الحج الاية (۴۷).

[53] سورة سجدة الاية (۵).

مضاعفه ومن تلاها كانت له نورا يوم القيامة[۵۴].

څوک چي يې تلاوت کوي د قيامت په ورځ به د ده لپاره نور وي.

که څه هم محدثينو د دغه حديث په سند کي څه خبره کړېده خو مضمون يې په نورو حديثونو سره تائيد سوی دئ. يعني قرانکريم اورېدل هم ثواب لري آن تر دې چي ځينو يې تر ويلو هم ثواب زيات ښودلی دئ. د ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي نبي ﷺ يوه ورځ پر منبر ناست و، ما ته يې وويل چي قرانکريم راته تلاوت کړه ما ورته وويل چي يا رسول الله ﷺ زه څنګه تاسو ته تلاوت وکړم او حال دا چي قران پخپله پر تاسو نازل سوی دئ. رسول الله ﷺ راته وويل: زه غواړم چي د قرانکريم اورېدل وکړم ما قرانکريم ورته تلاوت کړ، د رسول الله ﷺ تر سترګو مبارکو اوښکي رواني سوې. يو ځلي د حضرت خذيفة ﷺ ازاد سوي غلام سالم ﷺ د قرانکريم تلاوت کاوه، نبي ﷺ ډېر وخت ورته ولاړ و اورېدی يې. نبي ﷺ د ابو موسي ﷺ اشعری ﷺ قران واورېدی ستاينه يې وکړه.

په لوړ اواز تلاوت داسي دئ لکه په ښکاره صدقه ورکول

۳۱- عن عقبة بن عامر ﷺ قال قال رسول الله ﷺ الجاهر باالقران كاالجاهر باالصدقة والمسربالقرآن كا المسر باالصدقة[۵۵].

ژباړه : د حضرت عقبة بن عامر ﷺ څخه روايت دئ چي نبي ﷺ وفرمايل: په لوړ اواز تلاوت داسي دئ لکه په ښکاره صدقه ورکول او په کراره تلاوت داسي دی لکه په پټه صدقه ورکول.

په صدقه ورکولو کي کله ښکاره ورکول بهتر وي چي د نورو د هڅوني او ترغيب سبب کېږي او کله په پټه ورکول غوره وي چي د ريا، بې عزتی او داسي نورو وېره وي قرآنکريم هم کله په لوړ اواز بهتر دئ چي د نورو د ترغيب او ثواب سبب کېږي او کله په ټيټ اواز ويل بهتر وي چي د نورو د تکليف، ريا او داسي نورو سبب کېږي همدا وجه ده چي د کرار ويلو او په زوره ويلو دواړو فضليتونه راغلي دي. (البته په ځای پوري اړه لري او توپير کوي) يعني لکه چي ومو ويل په ځينو وختو کي يو بهتر وي او په ځينو وختو کي بل بهتر وي. د کرار ويلو د فضليت په دليل کي ډېرو خلګو د صدقې حديث دليل وايي. بيهقي په کتاب الشعب کي د

---

[۵۴] رواه احمد عن عبادة بن ميسرة واختلف في [illegible] عن الحسن عن ابي هريرة والجمهور علي ان الحسن لم يسمع عن ابي هريرة.

[۵۵] رواه الترمذي و ابوداود و النسائي و الحاكم و قال علي شرط البخاري.

عائشې ﷺ څخه روایت کړی دئ چي پټ عمل پر ښکاره عمل باندي اویا برخي ثواب زیات لري[۵۶].

حضرت جابر ﷺ د نبي ﷺ څخه نقل کړی دئ چي نبي ﷺ فرمايي: په دومره لوړ اواز تلاوت مه کوئ چي اواز مو د نورو سره ګډ سي. حضرت عمر بن عبد العزیز رحمه الله په نبوي مسجد کي یو سړی ولیدی چي په لوړ اواز یې تلاوت کاوه، عمر بن عبد العزیز رحمه الله منعه کړ، خلګو خبري پکښي وکړي عمر بن عبد العزیز رحمه الله ورته وویل: که چیري یې د خدای ﷻ لپاره وایي نو کرار دي یې وایي او که یې د خلګو لپاره وایي نو ویل یې بې ګټي دي. په دغه ډول د نبي ﷺ څخه په زوره تلاوت هم رانقل سوی دئ په شرح احیآء کښي د دواړو ډولو روایتونه او اثار رانقل سوي دي.

قرآن شفاعت کوونکی دئ

۳۲- عن جابر ﷺ عن النبي ﷺ القران شافع مشفع وماحل مصدق من جعله امامه قاده الی الجنة ومن جعل خلف ظهره ساقطه الی النار[۵۷].

ژباړه : حضرت جابر ﷺ د نبي ﷺ څخه روایت کړی دئ (چي نبي ﷺ فرمايي:) قرانکریم داسي شفاعت کوونکی دئ، چي شفاعت یې قبول سوی دئ داسي دلیل ویونکی دئ چي دلیل ویل یې منل سوي دي، څوک چي یې خپل مخته کښېږدي جنت ته به یې بیایي څوک چي یې شاته کړی دوزخ ته یې اچوي.

یعني دا قرانکریم چي د چا لپاره شفاعت کوي الله ﷻ ته د قرآن شفاعت قبول دئ. د چا لپاره بیا دلیل وایې چي تفصیل یې په اتم نمبر حدیث کي تیر سوی دئ چي د ده لپاره به د درجو د لوړوالي لپاره دلیل وايي او د قرانکریم حق ضائع کوونکي ته به وایي چي تا زما کوم حق ادا کړی دئ؟ یعني څوک چي قرانکریم د ځان سره ساتي او د قران د قانون مطابق خپل ژوند جوړوي قران به دی جنت ته رسوي او څوک چي قران ته شا ګرځوي تابعداري یې نه کوي نو دوزخ ته یې رسېدل ښکاره خبره ده. د بنده په آند (یعني مؤلف) هغه څوک هم په دې سزا کي داخل دئ، چي د قران څخه بې پروا وي ځکه په ډېرو روایتو کي د قران د بې پروایۍ لپاره ډېري سزاوي راغلي دي. د بخاري شریف په یوه اوږده حدیث کي راغلي دي چي د نبي ﷺ څخه روایت سوی دئ (په دغه حدیث کي ویل سوی دي) چي د نبي ﷺ څخه د هغه کس په اړه پوښتنه وسوه چي سر یې په ډبره کوټل سوی وي نبي ﷺ په جواب کي ورته وویل: دا

[۵۶] البته دغه روایت دمحدیثینو دقواعدو لمخي ضعیف دی.

[۵۷] رواه ابن حبان و الحاکم مطولاً و صححه.

هغه کس دئ، چي الله ﷻ ده ته قران ورښودلی وي او دی يې نه په شپه تلاوت کوي او نه د ورځي عمل په کوي په همدې وجه به د ده تر قيامته پوري دا عذاب وي. الله ﷻ دي پخپل فضل موږ د دې عذاب څخه وساتي. په حقيقت کي قران د الله ﷻ يو لوی نعمت دئ، که و چا ته د قرآن په بی پروايی او بي توجی سره سزا ورکړل سي مناسبه ده.

قرآنکريم او روژه دواړه په آخرت کي شفاعت کوي

۳۳- عن عبدالله بن عمرو ﷺ قال قال رسول الله ﷺ الصيام والقران يشفعان للعبد يقول الصيام رب اني منعته الطعام والشراب في النهار فشفعني فيه ويقول القران رب منعته النوم بالليل فشفعني فيه فيشفعان(۵۸).

ژباړه : د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دئ، چي نبي ﷺ فرمايلي دي: روژه او قران د بنده لپاره شفاعت کوي، روژه ووايي: اې ربه! ما دی په ورځ کي د خوراک او څښاک څخه منعه کړی و زما شفاعت د ده په حق کي قبول کړه او قران ووايي: اې ربه! ما دی په شپه کي د خوب څخه منعه کړی و ، دده په حق کي زما شفاعت قبول کړه، نو د دوی دواړو شفاعت قبول سي.

په الترغيب کتاب کي د الطام او الشراب لفظ راغلی دئ، لکه ترجمه چي يې وسوه او حاکم نومي کتاب د شراب د لفظ پر ځای د الشهوات لفظ ويلی دئ، يعني قران ووايي چي ما بنده د خوراک او جنسي خواهشاتو څخه منعه کړ ی و. په دغه حديث کي يوې خبري ته اشاره ده هغه دا چي روژاتي بايد په روژه کي د نفساني خواهشاتو څخه جلا سي که څه هم هغه جائز وي لکه د خپلي بي بي مچول، غاړه تر غاړه کېدل او داسي نور. په ځينو روايتو کي راغلي دي چي قران به د يوه ځوان سړي په بڼه راسي او وبه وايي زه هغه څوک يم چي خلګو به د شپې ويښ ساتلم او د ورځي به يې تږی ساتلم په دغه حديث کي د ې ته هم اشاره ده چي د قران د يادولو تقاضا دا ده چي د شپې په نفلو کي تلاوت سي چي بيان يې په اووه يشتم نمبر حديث کي تېر سو. هم دا ډول د قران کريم په څو ځايو کي و دې خبري ته اشاره سوېده په يو ځای کي الله ﷻ فرمايي :

وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَتَهَجَّدۡ بِهِۦ نَافِلَةً لَّكَ (۵۹)

په بل ځای کي الله ﷻ فرمايي :

وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَٱسۡجُدۡ لَهُۥ وَسَبِّحۡهُ لَيۡلًا طَوِيلًا ﴿٢٦﴾ (۶۰)

---

(۵۸) رواه احمد وابن ابي الدنيا و الطبراني في الكبير والحاكم و قال صحيح على ما شرط مسلم.

(۵۹) سورة بني اسرائيل الاية (۷۹).

په بل ځای کي الله ﷻ فرمايي:

يَتۡلُونَ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ ءَانَآءَ ٱلَّيۡلِ وَهُمۡ يَسۡجُدُونَ ﴿١١٣﴾ (٦١)

په بل ځای کي الله ﷻ فرمايي:

وَٱلَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمۡ سُجَّدٗا وَقِيَٰمٗا ﴿٦٤﴾ (٦٢)

همدا وجه ده چي نبي ﷺ او مبارکو اصحابانو به کله ټوله شپه په تلاوت کي تېرول. د حضرت عثمانؓ په اړه يو روايت راغلی دئ، چي کله به يې د وترو په يوه رکعت کي ټوله قرانکريم ختم کړ، په دغه ډول به عبدالله بن زبير ؓ هم په يوه شپه کي ټوله قرانکريم ختماوه.

سعيد بن جبير رحمه الله عليه په کعبه شريفه کي دننه په دوو رکعتو کي ټوله قرانکريم ختم کړ. ثابت بناني رحمه الله عليه به په شپه او ورځ کي ټوله قرانکريم ختماوی. ابو حره رحمه الله عليه به هم دغه ډول عمل کاوی. ابو شيخ هنائي رحمه الله عليه فرمايي: چي ما په يوه شپه کي دوه ځلي پوره قرانکريم ختم کړی او دريم ځل مي لس سيپاري وويلې، که مي غوښتي وای دريم ځل مي هم ختمولای سوای. صالح بن کيسان رحمه الله عليه چي کله حج ته ولاړی نو پر لاري يې زيات وخت په شپه کي دوه ځلي قرانکريم ختماوی. منصور بن زاذن رحمه الله عليه به د څاښت په لمانځه کي يو قرانکريم ختموی او يو قران به يې د ماپښين څخه تر ماځيګر پوري ختموی او ټوله شپه به يې په نفلو تېرول او دومره به يې د ماپښين څخه تر ماځيګره پوري ختموی، ټوله شپه به يې په نفلو تېرول، دومره به يې ژړل چي شمله به يې په اوښکو لنده وه. په دغه ډول به نورو حضراتو هم کول لکه چي محمد بن نصر رحمه الله عليه پخپل کتاب (قيام الليل) کي بيان کړی دئ. شرح احيآء ليکي: د قرانکريم په ختمولو کي د بزرګانو عادتونه مختلف وو. ځينو به هره ورځ قرانکريم ختماوه، لکه امام شافعي رحمه الله عليه چي به د روژې د مياشتي پرته دا کار کاوه او ځينو به په هره ورځ کي دوه ختمه کول لکه خپله امام شافعي رحمه الله عليه چي به د روژې په مياشت کي دا کار کاوه او دا عادت د اسود رحمه الله عليه، صالح بن کيسان رحمه الله عليه، سعيد بن جبير رحمه الله عليه او د يوې ډلي هم و. ځينو به د ورځي درې ختمه کول لکه چي سليم بن عتر رحمه الله عليه دا کار کاوه، نوموړی د لويو تابعينو څخه حساب سوی دئ، همدا ډول د عمر ؓ په زمانه کي د مصر په لويه فتحه کي شريک سوی و او حضرت معاوية ؓ د قصص امير مقرر کړی و، د ده عادت دا و، چي د شپې به يې درې ختمه کول. امام نووي رحمه الله عليه په کتاب الاذکار کي ليکي: چي تر ټولو زيات

---

(٦٠) سورة الدهر الاية (٢٦).

(٦١) سورة ال عمران الاية (١١٣).

(٦٢) سورة الفرقان الاية (٦٤).

تلاوت چي موږ ته رارسېدلي دئ د ابن الکاتب رحمه الله تلاوت دئ، چي په شپه او ورځ کي به يې اته ختمه کول. ابن قدامة رحمه الله د امام احمد رحمه الله څخه روايت کوي چي د تلاوت لپاره ټاکلې اندازه نسته د طبعيت په تازګی پوري اړه لري. د امام اعظم رحمه الله په اړه د تاريخ علماء ليکي: چي ده مبارک به د روژې په مياشت کي يو شپېته ختمونه کول يو به يې د ورځي، يو به يې د شپې او يو به يې د ټولي مياشتي په تراويح کي کاوه.

نبي ﷺ د دريو ورځو څخه د کم ختم په اړه ويلي دي چي تر دريو ورځو په کم ختم کولو کي غور او فکر نه راځي له همدې وجي څخه ابن حزم او داسي نورو تر دريو ورځو کم قرانکريم ختم کول حرام بللي دي. د بنده په آند (يعني مؤلف) چي دغه حديث د اکثريت خلګو په اعتبار دئ (نه د ټولو خلګو لپاره) ځکه په ډېرو روايتو کي د يوې ډلي اصحابو څخه تر دې په کم وخت کي هم ختم ثابت سوی دئ. په همدغه ډول د جمهورو علماوو په آند په زياتو ورځو کي هم ټاکلی وخت نسته په څومرو ورځو کي چي په اسانتيا سره ختم کولای سي ختم دي يې وکړي، خو د ځينو علماوو مذهب دا دئ چي تر څلوېښتو ورځو دي زياتي ورځي په ختم کي نه لګوي يعني لږ تر لږه بايد لازمي د ورځي دري پاوه تلاوت وکړي که يوه ورځ پاته سي بله ورځ دي يې قضا راوړي نو په څلوېښتو ورځو کي به دتنه يو ځل ختم وسي.

د جمهورو علماوو په آند که څه هم دا خبره لازمي نه ده (يعني ټاکلې اندازه نسته) خو لکه څرنګه چي د ځينو علماوو مذهب دا دئ چي په څلوېښت ورځي کي بايد خامخا ختم سي نو د احتياط له مخي دي تر دغه ورځو بايد په زياتو ورځوکي ختم ونه کړي. ځکه ځيني حديثونه د دغه خبري تائيد کوي. صاحب مجمع يو حديث رانقل کړی دئ: من قرأ القران في اربعين ليلة فقد عزب. ژباړه: څوک چي په څلوېښتو ورځو کي د قران ختم وکړي بېشکه ډېر وخت يې پر تېر کړی. د ځينو علماوو فتوا دا ده چي په مياشت کي يو ځل ختم سي خو بهتره دا ده چي په اوو ورځو کي ختم سي ځکه په عمومي ډول د اصحابانو څخه په دغه ډول ختم رانقل سوی دئ. د جمعې په ورځ دي يې شروع کړي هر ه ورځ دي يو يو منزل وايي او د پنجشنبې په ورځ دي يې ختم کړي. د امام اعظم رحمه الله وينا مخکي تېره سوه چي په کال کي دوه واري قران ختمول د قران حق دئ. تر دغه دوه واري کمول په کال کي په هيڅ صورت کي نه دي په کار. په يو حديث کي راغلي دي: که چيري د قرانکريم ختم يو څوک د ورځي په شروع کي وکړي نو ټوله ورځ به ملائکي د رحمت دعاوي ورته کوي او که يې د شپې په شروع کي وکړي نو ټوله شپه به ملائکي د رحمت دعاوي ورته کوي. د دغه حديث څخه ځينو علماوو دا مسئله هم رايستلې ده، چي په دوبي کي دي د روځي په شروع کي ختم کوي او په ژمي کي دي د شپې په شروع کي ختم کوي چي اوږد وخت د ملائکو د دعا لاسته راوړي.

تر قرآنکریم د لوړي درجې شفاعت کوونکی نسته

۳۴- عن سعید بن سلیم ﷺ مرسلا قال قال رسول الله ﷺ مامن شفیع افضل منزلة عندالله یوم القیامة من القران لا نبی ولا ملک ولا غیره(۶۳).

ژباړه : د سعید بن سلیم ﷺ څخه روایت دئ، چي نبي ﷺ وفرمایل: په ورځ د قیامت به د الله ﷻ په نزد تر قرانکریم غوره شفاعت کوونکی نه وي نه نبي، نه ملائکه او نه بل څوک.

د قرانکریم شفاعت کوونکي کېدل په داسي ډول چي شفاعت به يې قبول هم وي د ډېرو احادیثو څخه معلومېږي، الله ﷻ دي قرانکریم زموږ او ستاسو لپاره شفیع وګرځوي او د مخالف لوري لپاره دي يې نه ګرځوي په لالي مصنوعة نومي کتاب کي د بزار په روایت نقل سوی دئ، او دغه حدیث يې جعلي هم نه دئ ښودلی: چي کله انسان مړ سي د کورنۍ غړي يې په کفن ورکولو اخته سي قرانکریم يې د یوه ډېر ښایسته انسان په بڼه سر ته ولاړ وي کله چي کفن ورکړل سو نو دی يې د سینې او کفن په منځ کي سي کله چي قریبانو ښخ کړی بیرته ځني راغلله نو ده ته نکیر او منکر راسي دغه ښایسته انسان د مړي څخه جلا کول غواړي چي یوازي سوال او جواب ځني وکړي خو دغه کس ورته وایي دا زما دوست دئ دا زما ملګری دئ په هیڅ وخت کي زه دی یوازي نه سم پرېښودلای که تاسو ته د سوال کولو امر سوی دئ نو تاسو خپل کار وکړئ زه دی یوازي نه پرېږدم او نه ځني جلا کېږم تر څو چي جنت ته مي نه وي رسولی. وروسته دا ښایسته انسان د خپل ملګري و طرفته ته متوجه سي او ورته وایي: زه هغه قرانیم چي تا به کله په لوړ او کله به دي په کښته اواز تلاوت کولم ته بې فکره اوسه نکیر او منکر تر سوال او جواب وروسته پر تا هیڅ غم نه وي. کله چي د سوال او ځواب څخه ملائکي فارغه سي نو دغه کس به د ملأ اعلی (یعني لوړ عالم) څخه د بستر انتظام وکړي چي د مشکو او خوشبویۍ څخه به ډکه وي. الله ﷻ دي پخپل فضل سره زما او ستاسو نصیب وکړی. دا حدیث په ډېرو فضلیتو کي شامل دئ خو د اوږدوالي له وجي مي مختصر کړ.

چا چي قرانکریم زده کړ د نبوت علوم يې په بغلو کي واخیستل

۳۵- (عن عبد الله بن عمرو ﷺ ان رسول الله ﷺ من قرأ القران فقد استدرج النبوة بین جنبیه غیرانه لایوحي الیه لا ینبغي لصاحب القران ان یجد مع من

ژباړه : د عبد الله بن عمرو ﷺ څخه روایت دئ، چي نبي ﷺ فرمایلي دي : چا چي قرآنکریم زده کړ نو د نبوت علوم يې په بغلو کي واخیستل که څه هم وحي نه وي ورته سوې، د قرانکریم صاحب ته نه ښایي چي د غصه کوونکي سره په غصه سي او یا د جاهل سره

(۶۳) قال العراقي رواه عبدالمالک بن حبیب کذا في شرح الاحیاء.

وجد ولا يجهل مع من جهل وفي جوفه كلام الله (٦٤).

جهالت وکړی حال دا چي د ده په سينه کي قرانکريم پروت دئ.

تر رسول الله ﷺ وروسته د وحيو سلسله ختمه سوه خو څرنګه چي قرآنکريم د الله ﷻ کلام دئ، د دې کلام په زده کړه سره په نبوي علم کي شک نسته. کله چي څوک په نبوي علوموسره سرلوړی سي نو ده ته لازمي ده، چي غوره اخلاق ولري، او د بدو اخلاقو څخه ځان وساتي، فضيل بن عياض رحمه الله وايي چي د قرآن حافظ د اسلام بيرغ لوړونکی دئ، نو حافظ ته په کار نه ده چي په بې ځايه کارو، بې فائدي خبرو او د لوبو په شيانو ځان اخته کړي او يا دې د بېکاره خلګو سره کښېني.

قرآن ويونکی به د آخرت په ورځ د مشکو پر غونډۍ ناست وي

٣٦- عن ابن عمر رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ثلثة لايهولهم الفزع الا كبر ولاينالهم الحساب هم على كثيب من مسك حتى يفرغ من حساب الخلائق رجل قرأ القران ابتغاء وجه الله وام به قوما وهم به راضون وداع يدعو الي الصلاة ابتغاء وجه الله ورجل احسن فيما بينه وبين ربه وفيما بينه وبين مواليه (٦٥).

ژباړه: د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ، چي نبي ﷺ فرمايلي دي : درې کسان دي چي د قيامت په ورځ به نه وېره ورسره وي او نه به حساب ورسره کېږي تر څو نور مخلوق فارغ سوی نه وي دوی به د مشکو پر غونډيو سيل کوي. يو هغه سړی دئ، چي د الله ﷻ د رضا په موخه يې قرانکريم لوستلی وي او داسي امامت يې ورکړی وي چي مقتديان ځني راضي وي. دوهم هغه سړی دئ چي يوازي د الله ﷻ د رضا لپاره خلګ رابولي. دريم هغه سړی دئ چي د خپل خدای ﷻ او د خپلو ماتحتو (لاندنيو کسانو سره) ښه معامله کوي.

د قيامت سختۍ، وېره، هيبت، تکليفونه او غمونه داسي نه دي چي د مسلمان په زړه کي دې نه وي او يا دې ځني ناخبره وي. که د قيامت په ورځ د يوې خبري له امله مسلمانان بې پروايي لاسته راوړي نو دا تر سلګونو زرو لوی نعمت دئ او تر ميلينونو خوشاليو لويه خوشالي ده او بيا چي سيل هم ورپه برخه سي نو نېکمرغه هغه څوک دئ، چي پورتنۍ ګټي په لاس ورسي او هغه څوک برباد دئ، چي د دې ګټو څخه خالي لاس وي او د قران زده کړه بې ګټي کار بولي او د وخت ضائع کېدل يې بولي. په معجم کبير کي د دې حديث په سر کي د

(٦٤) رواه الحاكم و قال صحيح الاسناد.

(٦٥) رواه طبراني في معاجم الثلثة.

دغه حديث د راوي عبد الله بن عمرو ﷺ څخه نقل سوی دئ، چي ده مبارک ويلي دي : که ما او وه ځلي دا حديث د رسول الله ﷺ څخه نه وای اورېدلی نو ما به هيڅ کله نه وای نقل کړی.

د قرآنکريم د يوه آيات زده کړه تر سلو رکعتو نفلو بهتره ده

۳۷- عن ابي ذر ﷺ قال قال رسول الله ﷺ ياأباذر لان تغدوا فتعلم آية من كتاب الله خيرلک من ان تصلي ماة رکعة ولان تغدوا فتعلم بابا من العلم عمل به اولم يعمل به خير من ان تصلي الف رکعة (٦٦).

ژباړه: د ابي ذر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: اې ابا ذره! که تاسو سهار ولاړ سئ يو آيات د قرآن څخه زده کړئ تر سلو رکعتو لمانځه بهتر دئ چي ته يې وکړې او که ته سهار ولاړ سې يو باب علم زده کړې عمل په وکړې او يا يې په ونه کړې تر زرو رکعاتو لمانځه بهتر دئ، چي ته يې وکړې.

په ډېرو حديثونو کي دا مضمون راغلی دئ، چي علم زده کول تر عبادت غوره دي د علم د فضيلت په اړه چي څومره حديثونه راغلي د هغو ټولو يو ځای کول په دې کوچنۍ رساله کي ګران کار دئ. د نبي ﷺ څخه روايت دئ، چي د عالم فضيلت پر عابد داسي دئ لکه زما فضيلت پر يوه ادنی ستاسو باندي. په بل روايت کي راځي چي يو عالم فقيهه پر شيطان باندي تر زرو عابدانو ډېر سخت دئ.

څوک چي د شپې لس آياته تلاوت کړي د غافلينو د ډلي څخه به خلاص سي

۳۸- عن ابي هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ من قرء عشر آيات في ليلة لم يكتب من الغافلين (٦٧).

ژباړه : د حضرت ابي هريرة ﷺ څخه روايت دئ، چي نبي ﷺ وفرمايل: که چا لس اياتونه د شپې تلاوت کړل په غافلانو کي به نه وليکل سي.

تاسو فکر وکړئ چي د لسو آياتونو په تلاوت به څو د قيقې لګېږي په دومره لږ وخت کي د ټولي شپې د غفلت څخه خلاصېږي.

که چا د شپې سل آياته تلاوت وکړی د قانتينو په ډله کي به وشمېرل سي

۳۹- عن ابي هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ من حافظ على هؤلاء الصلوات المكتوبات لم

ژباړه: د حضرت ابي هريرة ﷺ څخه روايت دئ چي نبي ﷺ فرمايلي دي که چا د دغو پنځو فرض سوو لمونځو حفاظت وکړ د غافلانو په ډله کي به ونه ليکل

---

(٦٦) رواه ابن ماجة باسناد حسن

(٦٧) رواه الحاكم و قال صحيح علي شرط مسلم.

يكتب من الغافلين ومن قرأ في ليلة ماة آية كتب من القانتين (۶۸).

سي او که چا د شپې سل آياتونه ولوستل د قانتينو (صابرانو) په ډله کي به وليکل سي.

حسن بصري رحمه الله د رسول الله ﷺ څخه نقل کړی دئ، چي څوک د شپې سل آياتونه تلاوت کړي د قرآن د مطالبې څخه به خلاص سي او څوک چي دوه سوه آياتونه د شپې تلاوت کړي د ټولي شپې ثواب به ورکړل سي او څوک چي د پنځو سوو څخه تر زرو پوري آياتونه تلاوت کړي د هغه لپاره يو قنطار دئ. اصحابو و پوښتل چي قنطار څه شي دئ؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: د دوولسو زرو سره برابر دئ. (روپۍ يا اشرفۍ ترې مراد دي).

د فتنو څخه خلاصون په قرآنکريم دئ

۴۰- عن ابن عباس رضي الله عنه قال نزل جبرائيل عليه السلام على رسول الله ﷺ فاخبره انه ستكون فتن قال فما المخرج منها ياجبرائيل عليه السلام؟ قال كتاب الله (۶۹).

ژباړه: د ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ، چي جبرائيل عليه السلام و رسول الله ﷺ ته خبر ورکړ، چي ډېري فتنې به ښکاره سي رسول الله ﷺ ورته وويل: خلاصون به يې په څه شي وي؟ جبريل عليه السلام ورته وويل په قران سره.

په قرانکريم باندي عمل کول د فتنو ضامن دئ او د تلاوت برکت يې د خلاصېدو سبب دئ. په دووه ويشتم نمبر حديث کي راغلي دي چي په کوم کور کي تلاوت کېږي پر هغه کور سکينه (رحمت) نازلېږي او شيطانان د هغه کور څخه وزي. علماوو د فتنو څخه د تاتار، دجال او داسي نورې فتنې ښودلي دي. د حضرت علي رضي الله عنه څخه هم د پورتني حديث مضمون په يوه اوږد روايت کي په داسي ډول راغلی دئ: يحيی عليه السلام و بني اسرائيلو ته وويل: چي د الله ﷻ رسول تاسو ته د خپل کلام د تلاوت امر کوي او د دې مثال داسي دئ لکه يو قوم چي پخپله کلا کي محفوظ وي او که د کومي خوا څخه چي دښمن حمله کوي نو د هغې خوا څخه به د الله ﷻ حفاظت کوونکی وي او دښمن به ليري کوي.

---

(۶۸) رواه خزيمة في صحيحه و الحاكم و قال صحيح علي شرطهما

(۶۹) رواه رزين كذا في الرحمة المهداة

خاتمه

في عدة روايات زائدة علي الاربعينة لا بدمن ذكر هالا غراض تناسب المقام

١- عن عبدالملك بن عمير ﷺ قال قال رسول الله في فاتحة الكتاب شفآء من كل دآء[٧٠].

ژباړه: د حضرت عبدالملک بن عمير ﷺ څخه روايت دئ، چي نبي ﷺ د الحمد الله سورت يه اړه فرمايلي دی: په سورة فاتحه (الحمد لله) کي د هري ناروغۍ لپاره درملنه سته.

په خاتمه کي به د داسي سورتونو فضائل بيان سي چي په لوستلو کي لنډ وي او فضائل يې ډېر وي. د دې فضائلو تر څنګ به دوه داسي کارونه بيان سي چي د تلاوت کوونکو لپاره اړين دي. د سورة فاتحې ډېر فضائل په حديثو کي راغلي دي. په يوه روايت کي راغلي دي چي يو صحابي لمونځ کاوه، رسول الله ﷺ راوغوښتي هغه صحابي د لمانځه د بوختيا له وجي جواب ورنه کړ، کله چي فارغه سو نو رسو ل الله ﷺ ته راغلی. نبي ﷺ ورته وفرمايل: تا په قرانکريم کي د الله ﷻ دغه آيت نه دئ ويلی چي فرمايي :

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱسْتَجِيبُواْ لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ[٧١]

ژباړه : اې هغه کسانو ! چي ايمان يې راوړی دئ د بلني جواب الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ ته واياست کله چي مو وغواړي.

بيا نبي ﷺ وفرمايل: زه به تا ته د قرانکريم تر ټولو لوی يعني بهتر سورة و ښيم: نبي ﷺ وفرمايل هغه سورة د الحمد لله اووه اياتونه دي چي سبع مثاني او قران عظيم دئ. د ځينو بزرګانو څخه رانقل سوي دي چي پخواني ټول کتابونه په قران کي سته او ټول قران په الحمد لله کي سته او الحمد لله په بسم الله کي سته او بسم الله په (ب) کي سته تشريح يې داسي ده، چي دلته (ب) د يو ځای کولو په معني او د ټولو کتابونو مطلوب هم د بنده يو ځای کول دي د الله ﷻ سره. او ځينو پر دې هم زياتوب کړی دئ، او وايي چي (ب) بيا د باء په ټکي کي پرته ده ځکه ټکی يعني نقطه داسي تعريف سوې ده چي تقسيم نه قبلوي او دا هم د الله ﷻ د يووالي مطلوب دئ. ځينو علماوو ليکلي دي چي ټوله دنياوي او اخروي مقصدونه په (إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ۝) کي رانغښتي دي.

---

[٧٠] رواه دارمي و البيهقی في شعب الايمان

[٧١] سورة الانفال دريمه ركوع.

په يوه روايت کي راغلي دي چي نبي ﷺ فرمايي: زما دي په هغه ذات قسم وي چي زما روح يې په قدرت کي دئ، چي د فاتحې سورة په څېر نه په توراة، نه په انجيل، نه په زبور او نه په پاته قرانکريم کي نازل سوی دئ. عالمانو ليکلي دي چي که څوک سورة فاتحه په يقين سره ولولي د هري ناروغی لپاره علاج ده ظاهري ناروغي وي، که باطني وي، دنياوي ناروغي وي او که ديني وي. د سورة فاتحې ليکل، په غاړه کول او څښل يې ټوله د ناروغانو لپاره ګټور دي. په صحاحو کتابو کي راغلي دي چي اصحابانو د مار، لړم، او لېونو لپاره په الحمد لله سره دم کړی دئ او نبي ﷺ هم دا جائز وګڼل، په دغه ډول په يوه روايت کي راغلي دي چي نبي ﷺ د سورة فاتحې دم پر حضرت سائب بن يزيد ﷺ باندي وکړ او د مبارکي خولې ناړي يې د ده د درد پر ځای وموږلي. په يوه روايت کي راغلي دي چي څوک د بيدېدو پر مهال الحمد لله او قل هو الله ووايي او پر ځان يې چوپ کړي د مرګ څخه پرته به د هري بلا څخه په امن وي. په يوه روايت کي راغلي دي چي الحمد لله ويل په ثواب کي د قرآنکريم د درو حصو څخه د دوو حصو سره برابره ده. په يوه روايت کي راغلي دي چي نبي ﷺ فرمايي: ماته د عرش د خزانې څخه څلور شيان راکړل سوي دي، د دغي خزانې څخه بل هيڅا ته شی نه دئ ورکړل سوی لومړی سورة فاتحه ده، دوهم د سورة بقرې آخر آياتونه دي، دريم اية الکرسي ده او څلورم سورة الکوثر دئ. حسن بصري رحمه الله د رسول الله څخه روايت کړی دئ چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي چا چي سورة فاتحه ولوستل ګويا تورات، انجيل، زبور او قرانکريم ټوله يې ولوستل. په يوه روايت کي راغلي دي چي ابليس څلور واره پر ځان ژړلي دي: لومړی چي لعنت پر وسو، دوهم کله چي د اسمان څخه راوغورځول سو، دريم کله چي رسول الله ﷺ ته نبوت ورکړل سو، څلورم چي د فاتحې سورة نازل سو. د شعبي رحمه الله څخه روايت سوی دئ، چي يو سړی ورته راغلی د پښتورګي د درد څخه يې شکايت ورته وکړ. ده ورته وويل چي د قرآن اساس وايه پر ځان يې دم کړه. هغه سړي ورته وويل چي د قرآن اساس څه شي دئ؟ ده ورته وويل سورة فاتحه ده. د دين د بزرګانو په تجربه سوو عملونو کي ليکل سوي دي چي سورة فاتحه اسم اعظم دئ، د هر مطلب لپاره بايد وويل سي. د دې لپاره دوې طريقي سته: لومړی دا چي د سهار د فرضو او سنتو په منځ کي څلوېښت ځله څلوېښت ورځي په داسي ډول سره ولوستل سي چي په بسم الله الرحمن الرحيم کي د الرحيم ميم او د الحمد الله لام سره يو ځای سي هر مشکل چي يې وي حل به سي که په چا سحر يا جادو سوی وي يا بل مرض وي نو پر اوبو دي د سورة فاتحې دم وکړي او په مريض دي يې و څښي. دوهمه طريقه دا ده چي د مياشتي په لومړی يکشنبه دي سهار د فرضو او سنتو په منځ د ميم د يو ځای کولو پرته اويا ځله ووايي او ورسته به نو هر سهار پر هغه الحمد الله وايي او لس لس ځله به يې هره ورځ کموي تر څو په هفته کي خلاصه سي که په اوله مياشت يې مطلوب

پوره نه سو نو دوهمه او دريمه میاشت به یې هم وایي تر څو مطلوب یې پوره سي. بله طريقه دا ده چي الحمد الله به په ګلابو، مشکو یا زعفرانو وليکلي او په چینې لوښي کي دي یې په اوبو پرېولي تر څلوېښتو ورځو پوري دي دا عمل وکړي انشاء الله هر مرض چي وي علاج به یې وسي. هم دا ډول د غاښونو، سر او د نس د درد لپاره اووه ځلي ويل د دم په ډول تجربه سوېده[۷۲].

د مسلم شریف په یوه روایت کي راغلي دي چي د عبد الله بن عباس ﷺ څخه سوی دئ چي رسول الله ﷺ يوه ورځ ناست و او وې فرمایل: نن د اسمان یوه دروازه خلاصه سوه چي تر اوسه نه وه خلاصه سوې، یوه ملائکه ځني راووته چي تر اوسه نه وه راوتلي، دغي ملائکي وویل نن دوې رڼاوي راووتې چي تر اوسه هیچا ته نه وې ورکړل سوي. یوه د سورة فاتحې (رڼا) وه. دوهمه (رڼا) د سورة بقرې د آخري رکوع وه. رڼا یې ځکه ورته وویل چي دغه دوه شیان به د لوستونکي لپاره رڼا وي.

که چا سورة یاسین ووایه حاجتونه به یې پوره سي

۲- عن عطآء بن ابي رباح(رحمة الله عليه) قال بلغني ان رسول الله قال من قرأ يسٓ في صدر النهار قضيت حوائجه[۷۳].

ژباړه: عطا بن ابي رباح رحمه الله وايي چي ما ته د رسول الله ﷺ څخه یو روایت رارسېدلی دئ، چي رسول الله ﷺ فرمايي : څوک چي د ورځي په سر کي سورة یاسین ووایي ټول حوائج به یې پوره سي.

په حدیثو کي د سورة یاسین ډېر فضلیتونه راغلي دي. په یوه روایت کي راغلي دي چي هر شي لره زړه سته د قران زړه سورة یاسین دئ. څوک چي سورة یاسین ووایي د لسو قرآني ختمو ثواب الله ﷻ ورکوي. په یوه روایت کي راغلي دي چي الله ﷻ د مځکي او اسمان د پیدا ایښت زر کاله مخکي سورة یاسین او سورة طٰهٰ ولوستل، کله چي ملائکو واورېدل نو وې ویل: خوشالي ده هغه امت لره چي دا سورتونه پر نازلېږي، خوشالي ده هغه زړونو ته چي دا سورة یادوي او خوشالي ده هغه ژبو لره چي تلاوت یې کوي. په یوه حدیث کي راغلي دي چي څوک د الله ﷻ د رضا لپاره سورة یاسین ووایي الله ﷻ به یې ټول ګناهونه وروبخښي نو تاسو پخپلو مړو پسي دا سورة وایاست. په یوه روایت کي راغلي دي چي د سورت یاسین نوم په توراة کي منعمه دئ، چي لوستونکی د دنیا او آخرت په ښېګڼو کي شاملوي د آخرت مصیبت او وېره لیري کوي. د دې سورت نوم رافعه او خافضه هم دئ، یعني د مؤمنانو د

---

[۷۲] پورتني مضمون د مظاهر الحق څخه خلاصه سوی دی.

[۷۳] رواه الدارمي.

مرتبو لوړونکی او د کافرانو کښته کوونکی. په یو روایت کي راغلي دي چي نبي ﷺ فرمايي: زما زړه غواړي چي سورت ياسين زما د هر امتي په زړه کي وي. په يو روايت کي راغلي دي چي چا هره شپه سورة ياسين لوستی بيا مړ سو نو شهيد دئ. په يوه روايت کي راغلي دي چي څوک سورة ياسين وايي بخښنه به يې وسي څوک چي وږی وي وې وايي موړ به سي د چا څخه چي لار ورکه وي، وې وايي لار به پيدا کړي د چا څخه چي حيوان ورک وي وې وايي ورک سوی حيوان به پيدا کړي، که د دې وېره وي چي خوراک به لږ سي سورة ياسين دي ووايي خوراک به بس سي او که يې پر داسي چا باندي ووايي چي ځکندن يې وي ځکندن به پر اسانه سي او که ښځه د اولاد د پيدا کېدو په وخت کي سخته وي سورة ياسين دي ووايي اولاد به يې په اسانۍ سره پيدا سي. مقری رحمه الله فرمايي: که د پاچا يا د دښمن وېره وي نو سورة ياسين دي ووايي وېره به يې ولاړه سي. په يوه روايت کي راغلي دي چي که چا د جمعې په ورځ سورة ياسين او سورة صافات وويل او دعاې وکړه دُعا به يې قبوله سي. (د پورتنيو خبرو زياته برخه د مظاهر الحق څخه را اخستل سوې ده خو محدثينو په ځينو روايتو کي خبري کړي دي).

که چا سورة واقعة ووايه د ټول عمر د لوږي څخه به خلاص سي

٣- عن ابن مسعود ﷺ قال قال رسول الله من قرأ سورة الواقعة في كل ليلة لم تصبه فاقة ابدا وكان ابن مسعود ﷺ يأمر بناته يقرأن بها كل ليلة [٧٤].

ژباړه: د ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ، چي رسول الله ﷺ فرمايي : څوک چي هره شپه سورة واقعه وايي نو ټول عمر به د لوږي څخه وساتل سي. ابن مسعود ﷺ و خپلو لوڼو ته امر کاوه چي هر شپه دغه سورة ووايي.

د سورة واقعه فضائل هم په ډېرو روايتو کي راغلي دي په يوه روايت کي راغلي دي چي څوک سورة حديد، سورة واقعة او سورة رحمان ووايي د جنت فردوس اوسېدونکي ورته ويل کېږي. په يوه روايت کي راغلي دي چي سورة واقعة ته سورة غنی ويل کېږي دغه سورة وياست اولادو ته يې ورزده کړئ. په يوه روايت کي راغلي دي چي خپلو بيبيانو ته يې ورزده کړئ. د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه هم د دې سورة د ويلو تاکيد رانقل سوی دئ. مگر دا ډېر کمزوری فکر دئ، چي څوک يې د څو پيسو لپاره تلاوت کوي ښه دا ده چي د زړه د غنا او اخرت لپاره تلاوت سي دنيا به خپله ورته لاس پر نام سي.

---

[٧٤] رواه البيهقي في الشعب،

که چا سورة ملک ووایه د مغفرت تر بریده به یې شفاعت کوي

٤- عن ابي هريرة ﷺ قال قال رسول الله ان سورة في القران ثلثون آية شفعت لرجل حتى غفر له وهي تبرك الذى بيده الملک[75].

ژباړه: د حضرت ابي هريرة ﷺ څخه روايت دئ، چې نبی ﷺ فرمايلي دي: په قرآن کي د ېرش آياته سورة دي، چې د ويونکي لپاره شفاعت کوي تر څو ويونکي ته مغفرت وسي او دغه سورة تبارک الذي بيده الملک دئ، (يعني سورة الملک دئ).

د تبارک الذي سورة په اړه هم د نبي ﷺ څخه يو روايت رانقل سوی دئ، چې نبي ﷺ فرمايي: زما زړه غواړي چې دا سورة د هر مؤمن په زړه کي وي (يعني په ياد يې وي).

په يوه روايت کي راغلي دي: څوک چې سورة تبارک الذي او الم سجدة سورة د ماخستن او ماښام په منځ کي ووايي ګويا شب قدر يې روڼه کړه. په يوه روايت کي راغلي دي چې څوک دغه دوه سورتونه ووايي اويا نېکۍ به پسي وليکل سي او اويا بدۍ به څني ليري سي. په يوه روايت کي راغلي دي، چې د دغو دوو سورتونو تلاوت د شب قدر د عبادت سره برابر دئ[76].

ترمذي د ابن عباس ﷺ څخه نقل کړی دئ، چې اصحابانو يو ځای ناڅاپه خېمه ودرول خبر نه وه، چې دلته قبر دئ. د دغه ځای څخه د تبارک الذی سورة اواز اورېدل کېدی. نبي ﷺ چي راغلی، دوی حال ورته ووایه. نبي ﷺ ورته وفرمایل: دغه سورة د الله ﷻ د عذاب څخه منع کوونکی او خلاصېدونکی دئ. حضرت جابر ﷺ فرمايي چې نبي ﷺ به تر هغه وخته پوري نه بيده کېدی تر څو الم سجده او تبارک الذي سورتونه به يې نه وای لوستلي. خالد بن معدان رحمة الله عليه فرمايي: ما ته دا روايت رار سېدلی دئ، چې يو سړی ډېر ګناهګار و او سورة الم سجدة يې لوستل. د دې پرته يې نو رهېڅ نه کول کله چې مړ سو نو دغه سورت خپل وزر پر وغوړاوه او وې ويل: اې ربه! دغه سړي زما ډېر تلاوت کاوه (يعني دغه سورة د دغه سړي شفاعت کاوه) شفاعت يې قبول سو او امر وسو، چې د هري بدۍ په بدله کي دي يوه نېکي ورکړه سي. خالد بن معدن رحمة الله عليه فرمايي دغه سورة به په قبر کي د ويونکي لپاره دليل وايي تر څو دی په الله ﷻ وبخښي او وايي به: اې الله ﷻ! که به زه ستا د کتاب څخه يم نو زما شفاعت د ده په اړه قبول کړه او که به نه يم نو ما د خپل کتاب څخه ليري کړه. دغه سورة به د مرغه په بڼه سي خپل وزر به پر ده باندي و غوړوي تر څو د عذاب څخه يې وژغوري. پورتنی ټول مضمون يې د تبارک الذي په شان کي هم ويلی دئ. خالد بن معدن رحمة الله عليه به تر هغه

---

[75] رواه احمد وابوداود والنسائي وابن ماجة والحاكم و صححه وابن حبان في صحيحه.

[76] كذا في المظاهر.

پابندي کوي حال دا چي داسي نه ده بلکي د سر څخه د شروع کولو مقصد دا نه دئ، چي محض شروع په وکړی، بلکي مقصود يې دا دئ، چي د شروع وروسته يې خلاص کړه. په شرح احياء کي او علامه سيوطي رحمه الله په اتقان کي د دارمي څخه نقل کړی دئ، چي نبي ﷺ به کله قل اعوذ برب الناس ووايه بيا به يې سورة بقره پيل کړه تر مفلحون پوري به يې ووايه وروسته به يې د ختم دعا وکړه.

پر قرآنکريم ژر پوښتنه کوئ قرآنکريم ژر ورکېدونکی دئ

٦- عن ابي موسي اشعرى رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ تعاهد القران فوالذى نفسي بيده لهو اشد تفصيا من الابل في عقلها[٧٩].

ژباړه: د ابي موسى اشعري رضي الله عنه څخه روايت دئ، چي نبي ﷺ وفرمايل: پر قران پوښتنه کوئ زما دي په هغه ذات قسم وي چي زما روح يې په قدرت کي دئ، چي قران ډېر ژر وتونکی دئ تر اوښانو د خپلو رسيو څخه.

يعني بنده چي څناور د رسۍ څخه خوشي کړی نو ډېر ژر تښتي په دغه ډول انسان که قرانکريم خوشي کړي يعني يادوي يې او حفاظت يې نه کوي نو قران به هم پاته نه سي بلکي هېر به سي. اصلي خبره دا ده چي د قران يادول خپله د قران معجزه ده که نه نو د دې قرآنکريم په څېر بل کتاب دريمه يا دوهمه برخه يادول هم مشکل کار دئ، بلکي ناممکن دئ په همدې وجه د قران يادول الله ﷻ د يوه احسان په ډول ښودلي دي بلکي په سورة قمر کي يې په تکرار سره دا خبره فرمايلې ده:

وَلَقَدۡ يَسَّرۡنَا ٱلۡقُرۡءَانَ لِلذِّكۡرِ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ۝١٧ [٨٠]

ژباړه: يعني قران موږ د يادولو لپاره اسانه کړی دئ ايا په تاسو کي يو څوک سته چي قران ياد کړي؟

جلالين تفسير وايي چي دغه استفهام يعني پوښتنه د الله ﷻ د امر په معنی ده نو کوم شی چي الله ﷻ موږ ته په تکرار سره امر کړی وي او موږ هغه ته عبث او بې فايدې کار وايو او د وخت ضائع کېدل يې بولو نو د دومره بې عقلۍ په وخت کي موږ ته د عذاب د انتظار اړتيا نسته. د حيرانتيا خبره دا ده چي عزير عليه السلام په ياد قرانکريم وليکی نو خلګو ورته د خدای زوی وويل الله ﷻ چي دا احسان پر موږ باندي عام کړی دئ او موږ يې د قدردانۍ پر ځای عبث کار بولو.

---

[٧٩] رواه البخاري و مسلم.

[٨٠] سورة القمر الاية (١٧).

وَسَيَعْلَمُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ أَىَّ مُنقَلَبٍ يَنقَلِبُونَ ﴿٢٢٧﴾ (٨١)

خلاصه د خبري دا ده چي دا د الله ﷻ انعام او مهرباني ده چي قران یادېږي. د دې څخه وروسته چي څوک قران یاد کړي او بیا یې د بې توجهی له امله هېر کړي په دغه اړه ډېر سخت عذابونه راغلي دي. د نبي ﷺ څخه یو روایت سوی دئ، چي نبي ﷺ فرمایي: زما د امت ګناهونه ماته وړاندي سوه ما تر دې لويه ګناه پیدا نه کړه چي یو څوک قران یاد کړي بیا یې هېر کړي. په بل ځای کي روایت راغلی دئ، چي څوک قران یاد کړي بیا یې هېر کړي د قیامت په ورځ به د الله ﷻ و حضورته د فس په مرض اخته حاضر سي په جمع الفوائد کي د رزین په روایت دا دلیل ویل سوی دئ:

وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِى فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ أَعْمَىٰ ﴿١٢٤﴾ قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِىٓ أَعْمَىٰ وَقَدْ كُنتُ بَصِيرًا ﴿١٢٥﴾ قَالَ كَذَٰلِكَ أَتَتْكَ ءَايَٰتُنَا فَنَسِيتَهَا ۖ وَكَذَٰلِكَ ٱلْيَوْمَ تُنسَىٰ ﴿١٢٦﴾ (٨٢)

ژباړه: څوک چي زما د ذکر څخه مخ اړوی بېشکه ده لره به تنګ ژوند وي او د قیامت په ورځ به یې ړوند راپورته کړو دی به ووایي چي اې خدایه! ما خو سترګي درلودې زه ولي ړوند سوم جواب به ورکړل سي چي تا ته زموږ آیاتونه راغلل او تا هېر کړل نو نن ته هېر کړل سوې.

که څوک قرآن د پیسو ګټلو آله جوړوي د قیامت په ورځ به یې د مخ غوښي تللي وي

٧- عن بريدة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ من قرء القران يتاكل به الناس جآء يوم القيامة ووجهه عظم ليس عليه لحم (٨٣).

ژباړه: د بریدة ﷺ څخه روایت دئ، چي نبي ﷺ فرمایلي دي چي څوک قرآن د دې لپاره وايي چي د خلګو څخه دوډۍ تر لاسه کړي په ورځ د قیامت به داسي راسي چي مخ به یې یوازي هډوکي وي غوښي به نه لري.

یعني څوک چي قرآن د دنیا د ګټو لپاره وايي د هغو لپاره په آخرت کي هیڅ حصه نسته. د نبي ﷺ ارشاد دئ، چي فرمایي: موږ قرآنکریم شریف وایو په موږ کي عرب او عجم دواړه

(٨١) سورة الشعراء الاية (٢٢٧).

(٨٢) سورة طه.

(٨٣) رواه البيهقى في شعب الايمان.

سته قرآن وايي څنګه چي يې وايي وايي يې، د ېر ژر به يوه ډله راسي چي د قران حروف به داسي نېغوي لکه غشي چي خلک نېغوي د دې لپاره چي ښايسته يې کړي دا ډول د دنيا لپاره کوي د آخرت لپاره به هيڅ نه وي مقصد دا دئ چي يوازي خوش اوازي په کار نه ده، چي اخلاص نه وي پکښې او يوازي د دنيا لپاره وي. د مخ غوښې د نيستوالي مطلب دا دئ چي کله ده اشرف الاشياء يعني قران ديوه ذليله شي د ګټلو آله وګرځول نو د ده د اشرف الاعضاء (يعني د مخ) ښايست به له منځه ولاړ سي. عمران بن حصين رضي الله عنه د يو واعظ و مخ ته تېرېدى چي د تلاوت وروسته يې د خلګو څخه يو شى (پيسي) غوښتې، عمران بن حصين رضي الله عنه (انا لله وانا اليه راجعون) وويل او وې ويل چي ما د نبي ﷺ څخه اورېدلي دي، چي څوک تلاوت وکړي او يو شى غواړي نو د الله ﷻ څخه دي يې وغواړي نژدې دئ چي داسي خلګ به پيدا سي چي تلاوت به وکړي او د خلګو څخه به خير غواړي. د علماوو وينا ده چي څوک چي د علم په ذريعه مال لاسته راوړي داسي مثال لري لکه په چپلکه چي مخ پاکوي. حقيقت دا دئ چي چپلکه به پاکه سي او د مخ د پاکولو هيله بېعقلي ده او د دې خلګو په اړه الله ﷻ فرمايي:

أُوْلَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشْتَرَوُاْ ٱلضَّلَـٰلَةَ بِٱلْهُدَىٰ (بقرة - کوع ۲)

ژباړه : دا هغه کسان دي چي ضلالت يې د هدايت په بدله کي واخيستى.

ابي بن کعب رضي الله عنه فرمايي : ما يوه سړي ته د قرانکريم يو سورة وښودى هغه سړي ما ته يوه لينده په تحفه کي راکړه، ما د نبي ﷺ څخه د هغې لېندۍ په اړه پوښتنه وکړه، رسول الله ﷺ راته وويل چي د دوزخ لېنده دي واخيسته. په دغه ډول قصه د عباده بن صامت رضي الله عنه څخه هم نقل سوېده او د نبي ﷺ جواب هم په دغه ډول رانقل سوى دئ، چي ورته ويلي يې وه چي د دوزخ يوه سکروټه دي د اوږو په منځ کي ځړانده کړه. په يو بل روايت کي راغلي دي چي که ته غواړې د دوزخ يو طوق په غاړه کي قبول کړې نو دا کار وکړه. اوس نو زه د هغو حافظانو څخه په ډېر درنښت هيله کوم چي قران د دې لپاره يادوي چي د مدرسې څخه د پيسو ګټه لاسته راوړي چي خپله مرتبه دي وساتي او د خپلي ذمه دارۍ لحاظ دي وکړي، کوم خلګ چي تاسو د بدنيتو له امله د قران د زده کولو او يادولو څخه منع کوي د ګناه بار يوازي د هغو پر اوږو نه دئ، بلکي تاسو هم ورسره شريک ياست د الله ﷻ په حضور کي به تاسو هم جواب واياست تاسو دا فکر کوئ، چي موږ د قرانکريم خورونکي يو په حقيقت کي د قران کريم منعه کوونکي موږ يو د خلګو د بدنيتو له وجي موږ ولي قران پرېږدو علماوو د علم په بدل کي معاش اخيستل د دې لپاره نه دی جائز کړي چي بس موږ دا معاش مقصود وګڼو او نه دا معاش د ديني تعليم بدله ده بلکي معاش يوازي د ضرورت د پوره کولو لپاره جائز سوى دئ، اصلي مقصود د قرآنکريم د علومو زده کړه ده.

تتمه

د قرانکریم د دې ټولو فضائلو د بیانولو څخه مقصد یوازې د قرآنکریم سره محبت پیداکول دي ځکه د قرانکریم سره محبت د الله ﷻ د محبت سره لازم او ملزوم دئ او د یوه محبت د بل محبت سبب ګرزي په دنیا کي د بني آدم د پیدا ایښت د الله ﷻ د پیژندولو لپاره سوی دئ او د انسانانو پرته د نورو شیانو پیدا ایښت د انسان د ګټي لپاره سوی دئ.

ابروبادومه و خورشید و فلک درکارند * تاتونانی بکف آری وبغفلت نخوری

همه از بهر تو سرگشته و فرمان بردار * شرط انصاف نه باشد که تو فرمان نه بری

ویل سوی دي چي وریځ، باد، سپوږمۍ، لمر او اسمان ټوله ستا لپاره په کار مشغول دي، د دې لپاره چي ته خپلي اړتیاوي پوره کړې او د عبرت په سترګه ورته وګورې چي د انسانانو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره دا شیان تر کومه پوري فرمانبرداره، منونکي او پر وخت باندي کارکوونکي دي.

د خبر داری په موخه کله کله ځنې کوي د مثال په ډول د باران په وخت کي باران نه کېدل، د باد په وخت کي باد نه چلېدل او د تنرځي په مټ لمر او سپوږمۍ نه جلاکېدل حاصل دا چي په هر شي کي یو ډول بدلون د غافل د بیدارولو لپاره رامنځته کېږي تر څو عبرت ځني واخلي، د حیرانتیا خبره دا ده چي دوی ټوله ستا د آړتیا د پوره کولو لپاره نافرماني نه کوي او د دوی فرمانبرداري ستا د الله ﷻ د فرمانبرداری سبب نه کېږي د اطاعت لپاره غوره مرستیال محبت دئ، ځکه چي وایي : ان المحب لمن یحب مطیع یعني کله چي د چاسره ستا محبت پیداسي نو د هغه اطاعت ستا طبعیت او عادت جوړ سي او د هغه څخه نافرماني دومره ګرانه سي لکه بېله محبته د یو چا اطاعت عادت ګرځول. د کوم شي سره چي محبت پیداکېږي نو د هغه د کمالاتو او جلال په مشاهده سره کېږي دغه مشاهده که په ظاهره حواسو سره وي او که په باطني حواسو سره وي. لکه څرنګه چي د یو چا د مخ په لیدو سره چي بې اختیاره د هغه سره محبت پیداکېږی په همدا ډول د یو چا د ښکلي اواز په اورېدو سره هم د مقناطیس غوندي سړی تر اغېزې لاندي راځي.

نه تنها عشق از دیدار خیزد ـ بساکین دولت از گفتار خیزد

یعني عشق یوازې په لیدو سره سره نه پیداکېږي بلکي ډیر دولت په خبرو سره هم لاسته راځي، غوږ ته د یو چا اواز که بې اختیاره راکښل کوي نو د چاد وینا جوهر او ښه والی هم د محبت سبب جوړېږي. د عشق ماهرانو د عشق سبب دا هم ښودلی دئ، چي د یو چا صفتونه او کمالاتو ته په زړه کي ځای ورکړه چي د بل شي ځای نه وي پکښې لکه دا شیان چي په

طبعي عشق کي بې اختياره رامنځته کېږي. که د يو ښکلي چا اندام ووينې نو زړه دي وي چي نور اندامونه يې هم ووينې تر څو ارام دي په حاصل سي حال دا چي ارام نه په حاصلېږي.

مرض بڑھتا گیا جوں جوں دوا کی.

يعني ناروغي مي زياتېږي څومره او څومره چي دوا کوم.

په مځکه کي چي د تخم کرلو وروسته که د اوبو د ځړوبولو حال يې وانه خيستل سي نو حاصل نه کوي په همدی ډول د بي اختياره محبت د راتلو وروسته که پاملرنه ورته و نه سي نو که نن وي او که سبا وي د زړه څخه وزي او که بالعکس د محبت خط او حال د سر څخه تر پښو پوري په تلو او وينا کي وي نو د زړه د محبت و تخم ته اوبه ورکوي او آن په آن محبت زياتوي.

مکتب عشق کی انداز نرالی دیکھی۔ اس کو چھٹي نہ ملی جس نی سبق یاد کیا

يعني د عشق ښوونځي ناپيژانده وليده چي درس ياد کړي هغه رخصتي نه کړه پيدا.

داسبق چي هېر کړي دستي به رخصتي لاسته راوړی او څومره چي يې يادوي نو په هغه اندازه به پکښې بندېږي. په همدا ډول که څوک د عشق قابل پيدا کول غواړي نو د هغه په زړه راکښونکو کمالاتو پسې دي وګرځي او د هغه د جواهراتو لټه دي وکړی او څومره چي ورته معلوم وي په هغه دی بسنه نه کوي بلکي نوره لټه دي هم پسې وکړي. نو کله چي د فنا کېدونکي محبت د يو اندام په ليدو بسنه نه کېږي بلکي څومره چي کېږي نه يې سپموي.

نو الله ﷻ د هر جمال او ښکلا چينه ده په دنيا کي هيڅ ترې علاوه نسته يقيناً داسي محبوب دئ، چي هيڅ جمال او کمال باندي يې بسنه نه سي کېدلای او نه د دغه جمال پای سته او د دغه بې پايه کمالاتو څخه يو د الله ﷻ کلام قرآن هم دئ، لکه مخکي چي مي لنډي خبري پکښې کړي دي چي و الله ﷻ ته يې د نسبت وروسته نور هيڅ کمال ورسره برابرېدلای نه سي د عاشقانو لپاره به د دغه نسبت برابر څه شي وي؟

ای گل بہ تو خورسندم تو بوی کسی داری

يعني اې ګله! پر تا باندي مين يم ته د يو چا بوی لرې.

د دې کلام چي نسبت و الله ﷻ ته کېږی د دې څخه علاوه که څوک فکر وکړي چي د دې کلام اول جوړونکی څوک دی؟ او د چا صفت دئ او د نبي ﷺ سره يې کوم نسبتونه دي نو د مسلمانانو لپاره دومره خبري لږ دي؟ او که د دې څخه هم نظر واړول سي نو پخپله په قرآن که فکروسي نو په دنيا کي داسي يو صفت نسته چي په قرآن کي نه وي.

دامان نگہ تنگ و گل حسن بسیار – گل چین بہار تو ز داماں گلہ دار

یعني ستاسو د نظر لمن تنگه ده او د ښائست گلونه ډېر دي ستا د بهار د گلونه شوکونکي، گله د لمني ځخه کوي.

فدا ہوں آپ کی کس کس ادا پر – ادائیں لاکہ اور بی تاب دل ایک

یعني ستا د کومي ادا قرابان سم ادايني په سلگونو زره دي او بې قراره زړه یو دئ.

د قرآنکریم هراړخیزي گټي

د تېرو حدیثونو په غوره او دقت لوستلو سره په ښکاره معلومېږي چي په دنیا کي هیڅ یو شی نسته چي حدیث نه وي ورته متوجه سوی او نه په دنیا کي د محبت هیڅ ډول سته چي د قران بهتروالی نه وي پرې ښودل سوی. د مثال په ډول کلي او اجمالي بهتر والی چي د دنیا ټولو شیانو ته شامل دئ او هر کمال او جمال پکښې داخل دئ. تر ټولو لومړی حدیث په کلي ډول د قران بهتروالی او لوړوالی پر هر شي باندي وښودی که چا ته په نه ختمېدونکو اسبابو کي یو سبب په یو څه وجه خوښ وي نو قرانکریم پر ټولو بهتر دئ، په دې سره نو په عمومي ډول ټول د تعلق او محبت اسباب وښودل سوه چي قرانکریم پر بهتر دئ او که د یو چا د بل چا سره د یوې گټي په وجه محبت وي نو الله ﷻ وعده کړېده چي تر هغې گټي غوره گټه به ورکوم.

دوهم حدیث: که د چا په ذاتي فضلیت، ذاتي جوهر او ذاتي کمال کي یو خوښ وي نو الله ﷻ ښکاره کړېده چي د قران فضلیت پر نوور دومره زیات دئ لکه د خالق فضیلت پر مخلوق باندي او د آقا فضیلت پر غلام باندي او د مالک فضیلت پر مملوک باندي.

دریم حدیث: که څوک د مال، اسبابو، نوکرانو، خادمانو او حیواناتو مینه ولري او د یو ډول حیوانانو پالني یې زړه وړی وي نو رسول الله ﷺ د بې تکلیفه اوښانو تر لاسته راوړلو قرآن غوره و باله.

څلورم حدیث: که څوک د صفوف سره مینه لري او په پاکي پسې گرځي نو رسول الله ﷺ وښودل چي قرآن ویونکی به د ملائکو سره وي حال دا چي د ملائکو تقوا لاسته راوړل گران کار دئ، ځکه هغوی یو ساعت هم بې اطاعته نه تیروي.

پنځم حدیث : که څوک د دوو برخو شوقي وي یا دا چي د ده نظر دي دوه چنده وګڼل سي نو رسول الله ﷺ و ښودل چي د چا ژبه په تلاوت کي مبتلي د هغه لپاره دوه چنده ثواب دئ.

شپږم حدیث : که څوک د حسد شوقي وي او په ژوند کي یې حسد عادت وي او نه سي ځني اوښتلای نو د دې قابل چي واقعي ډول حسد کول په راځي هغه حافظ د قران دئ چي په زده کړه یې سړی حسد وکړي.

اووم حدیث :که څوک د میوو سره مینه لري او تر میوې نه سي تېرېدلای نو قرانکریم د نارنج سره مشابهت لري.

اتم حدیث :که څوک د خوږو شوقي وي نو قرآنکریم تر خرما خوږ دئ که څوک د عزت او لوړي چوکۍ شوقي وي بېله عزته ګزاره نه سي کولای نو قرانکریم د دنیا او آخرت د درجو د لوړولو ذریعه ده.

نهم حدیث :که څوک داسي سرتېر ملګری غواړي چي په هر ډګر کي د ده لپاره جګړه وکړي او د ده پر ځای دلیل ووایي نو قرانکریم د لوی پاچا او لوی واکمن سلطان السلاطین په دربار کي د ده د خلاصون لپاره دلیل وایي.

لسم حدیث :که څوک د باریکو نکتو په لټولو کي عمر لګوي او پر باریکو نکتو باندي خوند اخلي او د باریکي نکتې خوند د ټولي دنیا تر خوندونو ورته خوندور وي نو قرانکریم د باریکو نکتو خزانه ده.

یوولسم حدیث : که څوک د پټو حالاتو معلومول غواړي او په محکمه کي د سي آی ډي تجربه هنر ګڼي نو قرانکریم پټ رازونه ښیي چي پای نه لري. که څوک اووه منزله کور غواړي یعني په اووم منزل کي د ځان لپاره کوټه جوړول غواړي نو قران (په جنت کي) د ویونکي لپاره اووه زره منزله مرتبه لوړوي.

دوولسم حدیث :که څوک د تکلیف پرته تجارت کول غواړي چي ګټه یې ډېره وي نو د قرانکریم پریوه حرف ویلو باندي لس نېکۍ دي.

دیارلسم حدیث :که څوک د تاج او تخت وړی وي او د تاج لپاره ددنیا سره جنګېږي نو د قران د ملګري مور او پلار ته داسي تاج ورکول کېږي چي د روښنایۍ مثال یې په دنیا کي نسته.

څوارلسم حدیث: که څوک په مداري توب کي کمال غواړي او ر په لاس کي ایږدي بلا خاشه په خوله کي ایږدي نو قرانکریم د دوزخ د اور اثر منعه کوي.

پنځلسم حدیث :که څوک غواړي چي زما په یوه خط دي حاکم مجرم ایله کړي او په دې نازېږي چي فلانکی سړی مي سزا ته نه پرېښودی نو دی اړ دئ چي د حاکمانو سره

خوشامندي وکړي، دعوتونه ورته وکړي، پيسې او مال ورته ضائع کړي خو قرانکريم د خپل ملکري په ذريعه لس کسان د دوزخ څخه خلاصوي چې د دوزخ حکم ورته سوی وي.

سپاړلسم حديث: که څوک د خوشبويي سره مينه لري د ګلانو عاشق وي نو قرانکريم بالچهړ دئ (دا يو ډول خوشبويه بوټی دئ، چې په يوناني طب کي ورته سنبل الطيب وايي).

اووه لسم حديث: که څوک د عطرو شوقي وي هره ورځ په خوشبويه اوبو کي لمبېدل غواړي نو قرانکريم ټوله مشک دئ او که فکر پکښې وسي نو د قران د نورو مشکو سره نه سي پرتله کېدلای (څکه يو سالک وايي):

چه نسبت خاک را با عالم پاک

يعني د خاورو د پاک عالم سره نسبت دئ؟

کار زلف تست مشک افشانی اما عاشقان — مصلحت را تهمتی بر آهو چین بسته اند

يعني (اې محبوبي!) په اصل کی مشک ستاد زلفو کار دئ، خو عاشقان د مصلحت له مخی د چين پر هوسيانو تهمت لګوي.

اتلسم حديث: که څوک د تهديد شوقي وي په تشويق کار نه کوي نو د قرانکريم څخه کور خالي کېدل د کور بربادي ده.

نولسم حديث: که څوک په بهترين عبادت بوختيا غواړي يعني دا چې زه تر ټولو عبادتونو په غوره عبادت مشغول سم نو رسول الله ﷺ په ښکاره وښودل چې د قرانکريم تلاوت تر ټولو عبادتونو يعنی تر تسبيح (سبحان الله)، تهليل (لا اله الا الله) او تر روژې غوره دئ او ثواب يې زيات دئ.

شلم حديث: که څوک د بلا رب حيوان سره مينه لري او په لوړه بيه يې رانيسی نو نبي ﷺ د مثال په ډول وښودل چې قرانکريم پرې بهتر دئ.

يويشتم حديث: د ډير خلګو سره د صحت فکر وي ورزش کوي، څغلي، هره ورځ لمبېږي، هر سهار تفريح کوي، همدا ډول د ځينو خلګو سره غم، تشويش او يا نور د زړه تکليفونه ورسره وي نو نبي ﷺ وښودل چې سورة فاتحه د هر مرض شفا ده او قرانکريم د زړه د ناروغيو ليري کوونکی دئ.

دووه ويشتم حديث: د خلګو سره د ډېرو فخرونو تر څنګ زيات فخرونه وي چې جمعه کول يې ګران کار دئ. څوک په نسب فخر کوي څوک په ښو اخلاقو فخر کوي څوک پخپل ښه تدبير فخر کوي، څوک پخپلو عادتونو فخر کوي، څوک پخپل مقبوليت فخر کوي خو نبي ﷺ وفرمايل: چې د فخر قابل قران دئ ولي به نه وي چې په حقيقت کي د هر کمال او جمال جمعه کوونکی دئ.

آنچه خوبان همه دارند تو تنها داري

يعني هغه غوره خويونه چي ټوله ښکلي يې لري يوازي يې لرې.

درويشتم حديث: ډېر خلک د پيسو د جمعه کولو شوقيان وي خزانه يې خوښېږي سترياوي پر ځان تېروي خو پيسې بچتوي. نبي ﷺ فرمايي چي د خزانې قابل قرآن دئ څومره چي دي زړه غواړي قران په زړه کي جمعه کړه تر ټولو ښه خزانه ده.

څلورويشتم حديث: که ته د برق د روښنايۍ شوقي يې او غواړې چي پخپله خونه کي لس ګروپان ولګوي او ښه يې روښانه کړې نو تر قرآن ښه نورانيت او روښنايي نسته.

پنځويشتم حديث: که پر دې ځان وژني چي تا ته تحفې راځي او د تحفو لپاره خپلي رابطې او اړيکي زياتوي او که کوم دوست تا ته تحفه نه راواستوي نو ته خوا ځني بدوې نو تر قران بهترين تحفه ورکوونکی نسته چي سکينة درته رالېږي نو که ستا پر يو چا باندي د قربانېدو وجه دا وي چي هغه تا ته هره ورځ تحفې را استوي نو د قرآن په څېر بل څوک نسته.

شپږويشتم حديث: او که ته د يوه وزير پښې د دې لپاره مچوي چي په دربار کي ستا بيان وکړي او يا د يو ناظر سره خوشامندي د دې لپاره کوي چي مال افسر ته به ستا ستاينه وکړي او يا د چا سره د دې لپاره خوشامندي کوي چي د محبوب په مخ کي دي ستا بيان وکړي نو قرانکريم د احکم الحاکمين په دربار کي د خپل آقا په ژبه ستا بيان کوي.

اووه ويشتم حديث: که ته د محبوب د خوښي شی په هر قيمت لټوي که څه هم دومره ګران وي لکه د غرو څخه د شيدو چينه راايستل نو د بهترين محبوب تر ټولو قرآن خوښ دئ.

اته ويشتم حديث: که ته د درباري جوړېدو لپاره عمر خرڅوي او د پاچا سره د ملګرتيا لپاره په زرګونو تدبيرونه تياروې نو قرانکريم تا د هغه پاچا ملګری جوړوي چي تر ټولو لوی پاچا هم د ده په دربار کي هيڅ اهميت نه لري.

نهه ويشتم حديث: د حيرانتيا خبره دا ده چي د يوې کوچنۍ چوکۍ لپاره او د دومري لږ خبري لپاره چي د مال څښتن د ښکار لپاره ځي تا د ځان سره بوزي د دې لپاره چي ته څومره قرباني ورکوې. ځان، ارام او ټول مال قربانوې. د خلکو په ذريعه کوښښونه کوي دين او دنيا دواړه بربادوي يوازي د دې لپاره چي ستا په نظر په دغه کار کي ستا عزت کېږي نو بيا ولي د حقيقي عزت لپاره، د حقيقي پاچا د ملګرتيا لپاره، د واقعي درباري جوړېدو لپاره لږ فکر نه کوې؟ د دغه نمايشي کار لپاره خو عمر مصرف کړه مګر د الله ﷻ لپاره چي تا ته يې عمر دركړی دئ د هغه لپاره خو هم يوه برخه عمر مصرف کړه.

دېرشم حديث : په همدې ډول که ستا د طريقت چشتيه طريقه خوښه وي او بېله دغې طريقې ستا زړه نه ارامېږي نو د قرانکريم مجلس تر دغې طريقې بهتر دئ ځکه هر څومره بې پروا ړغونه د قرانکريم داورېدو څخه متاثر کېږي.

يودېرشم حديث : که ته غواړې چي خپل آقا د خپل ځان و لوري ته متوجه کړې نو تلاوت کوه.

دودېرشم حديث : او که ته د اسلام دعوه کوونکی يې او اسلام دي خوښېږي نو د نبي ﷺ امر دئ چي تلاوت په داسي ډول کوه څرنګه چي د قرانکريم حق دئ او که ستا په آند قرانکريم يوازي د خولې خبرې نه وي بلکي د الله ﷻ او د هغه د رسول الله ﷺ د اطاعت سره هم اړه ولري نو د الله ﷻ او د رسول الله ﷺ امر دئ چي تلاوت يې کوه.

درودېرشم حديث: که ته د قوميت سره مينه ولرې د مثال په ډول ترکي خولی ستا په آند اسلامي پوښ دئ او قومي عنعنات ډېر خوښوې په هر ډول چي وي ته خپل دودونه خوروې د خپرولو لپاره يې تدبيرونه په کار اچوې په ورځپاڼو کي مضامين ورکوې په جلسو کي تجويزونه ورکوې. نو الله ﷻ و تا ته امر کړی دئ چي څومره دي توان وي قرانکريم خپور او نشر کړه. بې ځايه به نه وي چي زه دلته د قوم د مشرانو څخه شکايت وکړم او ورته ووايم چي تاسو د قرانکريم د خپرولو لپاره څه کړي دي؟ د الله ﷻ لپاره يو څه په غور جواب راکړئ، چي د قران په بندولو کي ستاسو څومره برخه ده. نن د قران تعليم بې کاره ښودل کېږي، د دماغ خرابول ورته ويل کېږي او بې ځايه خوله خوځول ورته ويل کېږي. کېدای سي چي ته ورسره موافق نه يې خو يو ډله بيا داسي ده چي د پورته کارونو پوره کوښښ کوي ايا ستاسو چپوالی د دوی سره مرسته نه کوي؟ زه به يې ومنمه چي تاسو د دغه کار څخه بېزاره ياست خو ستا بېزاري کومه ګټه ورکړې ده.

ہم نے مانا کہ تغافل نہ کروگے لیکن — خاک ہو جائیں گے ہم تم کو خبر ہونے تک

يعني موږ ومنله چي تاسو به غفلت نه کوئ خو ته چي خبرېږی موږ به خاوري سوي يو.

نن چي خلګ په زور سره د قراني تعليم څخه انکار کوي وجه يې دا ده چي د مسجدو ملايانو د خپلو ځيرو ټولولو لپاره امامت يوه مشغله جوړه کړېده که څه هم دا په عمومي ډول پر نيتو باندي حمله ده ځکه چي دا يو لويه ذمه واري ده پر خپل وخت به ثبوت وړاندي کوي. زه ستاسو څخه په ډېر ادب پوښتنه کوم چي د دې خودغرضو ملايانو به د دې خودغرضی څه ګټه په دنيا کي وي؟ د خدای ﷻ لپاره لږ فکر وکړئ او ستا د دې بې غرضه تجويزو ګټه به څه وي؟ او د قرانکريم په نشر کي به ستا د دې ګټور تجويز څه مرسته وي؟ په هر حال د نبي ﷺ لارښوونه ستا لپاره د قرانکريم خپرول دي په دغه کار کي ته خپله فيصله وکړه چي تا د نبي ﷺ د دغي لارښووني په اړه څومره کار کړی دئ او څومره کولای سې. ګورئ يوې بلې

خبري ته متوجه سئ چي خلک يې کوي او موږ ورسره شريک نه يو هغه دا ده چي وايي: زموږ يې په څه؟ خو په دې خبري سره د الله ﷻ د نيولو څخه سړی نه خلاصېږي. اصحابو ﷺ د نبي ﷺ څخه پوښتنه وکړه : انهلک وفينا الصالحون ؟ قال نعم اذا کثر الخبث. يعني ايا موږ هلاکېږو چي په موږ کي صالحان موجود وي؟ نبي ﷺ وفرمايل: هو! که خباثت ډېر و. په همدې ډول په يو بل حديث کي هم راغلي دي چي الله ﷻ د يوه کلي د اړولو حکم ورکړی. حضرت جبرائيل ؑ ورته وويل : اې خدايه ﷻ! په دغه کلي کي ستا فلانکی بنده دئ او هيڅ وخت يې گناه نه ده کړې. الله ﷻ و فرمايل: دغه سړي ليدل چي زما نافرماني کېږي خو ده هيڅ وخت پر دغه کارو باندي تندي ته گونجه لا نه ده ورکړې. په حقيقت کي دا حکمونه زموږ عالمان مجبوروي چي ناجائز کارونه ويني نو د ناخوښی څرگندتيا دي کوي چي زموږ روښان خياله طبقه ورته تنگ نظره وايي تاسو د اخلاقو په فراخی او په ازاد خيالی مه بې غمه کېږئ دا يوازي د علماوو وظيفه نه ده بلکي د هر چا ذمه واري او فريضه به د هغه چا پر غاړي وي چي ناروا ويني او د کوټلو توان يې وي نه يې وکوټی. د بلال بن سعيد ﷺ څخه روايت دئ چي څوک گناه په پټه وکړي نو وبال يې يوازي د ده دئ او که يې په ښکاره وکړي چي انکار نه سو څني کېدلای نو د ټولو کسانو وبال دئ، چي دغه گناه ويني. په همدې ترتيب که ته د تاريخ سره مينه لري او هر چيري چي يو زوړ تاريخ پروت وي ته پسې ورځې نو قرانکريم تر ټولو ښه تاريخ د تېرو زمانو په معتبر ډول بيان کړی دئ.

څلورديرشم حديث : که ته د داسي لوړي مرتبې هيله لرې چي انبياو (عليهم السلام) ته دي په دغه مجلس کي د کښيناستلو حکم وسي نو دغه مرتبه هم په قران کي پيدا کولای سې.

پنځه ديرشم حديث : که ته دو مره کمزوری يې چي هيڅ دي د لاسه نه کېږي نو دغه مفت او بي تکليفه عزت هم يوازي په قران کي پيدا کوې، راسه د کوچنيانو په مدرسه کي کښېنه تلاوت اوره نور هيڅ مه کوه مفت ثواب وړه.

شپږديرشم حديث : که ته د بېلو بېلو رنگونو شوقي يې او په يوه رنگ موړ يې نو د قرانکريم د بېلو بېلو شيانو څخه خوند واخله کله قصې، کله د عذاب اياتونه، کله د رحمت اياتونه او کله احکام، کله يې کرار تلاوت کوه.او کله يې په زوره تلاوت کوه.

اووه ديرشم حديث : که ستا گناهونه تر اندازې تېر وي او د مرگ راتلل دي هم زړه ته تېر وي نو د قرانکريم په تلاوت کي يوه ذره بي پروايي مه کوه چي د قران په څېر سفارښت کوونکی او شفاعت کوونکی به پيدا نه کړې بيا داسي شفاعت چي قبلېدل يې يقيني وي.

اته ديرشم حديث: که ته د جنگ څخه وېرېږې، د خلگو د جنجال څخه وېرېږې نو د قرآن د جگړې څخه ووېرېږه ځکه د قرانکريم په څېر جنگ کوونکی به نه کړې پيدا، د دوو ډلو تر

منځ چي جګړه وي نو د هري ډلي خامخا يو ملګري وي خو د قرانکريم سره چي ستا جګړه وي نو ټوله قران ته رښتيني وايې او ستا به هيڅوک ملګری نه وي.

نهه دېرشم حديث: که ستا داسي رهبر په کار وي چي د محبوب کور ته دي ورسوي او ته ځان ترې قربانوي نو د قرانکريم تلاوت کوه او که ته د دې څخه وېرېږي چي بندي نه سم نو قرانکريم يې بهترين علاج دئ.

څلوېښتم حديث: که ته د انبياو (عليهم السلام) علوم حاصلول غواړې او ځان پر قربانوي نو قرانکريم لوله، څومره چي غواړې په هغه اندازه کمال به پيدا کړې. په همدې ډول که د ښو اخلاقو مين يې نو د قرانکريم تلاوت کوه.

يو څلوېښتم حديث: که ته د غرونو د تفريح داسي شوقي يې، چي د يوه غره پر تفريح باندي سر قربانوي د قرآن تلاوت کوه، په هغه ورځ به د غرونو تفريح کوې چي ټول خلک به نفسي – نفسي نارې وهي.

دوڅلوېښتم حديث: که ته د زاهدانو په ډله کي ځان شمارل غواړې او شپه او ورځ د نفلو څخه نه يې خلاص نو د قران زده کړه او تلاوت تر دې ډېر مخکي دي.

دروڅلوېښتم، څلور څلوېښتم حديث: که ته د دنيا د جنجالو څخه وېرېږې او د ټولو جګړو څخه ځان کناره کول غواړې، نو خلاصون يوازي د قران په تلاوت کي ستهٔ.

د حديثونو خاتمه

١ – حديث: که ته د يو طبيب سره اړيکی پيداکول غواړې نو سورة فاتحه د هر مرض شفا ده.

٢– حديث: که ستا نهايي مطالب نه پوره کېږي نو ولي هره ورځ د سورة يسين تلاوت نه کوې.

٣– حديث: که دي د پيسو سره دومره مينه وي چي بېله پيسو ژوند نه سې کولای نو ولي هره ورځ سورة واقعة نه تلاوت کوې.

۴– حديث: که ستا د قبر د عذاب څخه وېره وي او هيڅ توان يې نه لرې نو خلاصون ځني په قران دئ يعني د سورة ملک په تلاوت سره دئ.

۵– که تل دي يوه بوختيا په کار وي يعني دا چي غواړې تل مشغول پاته سې نو تر قران به بل ښه شی چيري وي.

٦– حديث: خو داسي ونه سي چي د زيار ايستلو وروسته بيرته لاسته راوړی دولت د لاسه ورکړې ځکه د پاچهی د لاسه ورکول د مايوسی سبب ګرځي او داسي حرکت ونه کړې چي نېکي دي له منځه ولاړه سي او ګناه درباندي لازمه سی.

۷- حدیث: وما علینا الا البلغ المبین.

زما غوندي بیکاره به د قرانکریم په فاید و څه پوهه وي د نیمګړي پوهي په اندازه چي کوم څه په ښکاره په نظر راغله ومي لیکل مګر د پوهي څښتنانو ته د غور او فکر لاره خامخا خلاصه سوه. د محبت د فن پوهانو د محبت پیدا کولو پنځه شیان ښودلي دي: لومړی خپل وجود دئ، چي طبعاً یې انسان خوښ ګڼي قرانکریم د غمونو څخه امن ورکونکی دئ، نو دغه قران ستا د وجود د بقا او ژوند سبب دئ. دوهم طبعي مناسبت دئ چي په اړه یې لړه روښنایي ورکوم چي قران کریم الهي صفت دئ د مالک او مملوک، د آقا او بنده تر منځ چي کوم مناسبت دئ هغه د پوهـ انسان څخه پټ نه دئ.

هست رب الناس راباجان ناس — اتصالی بی تکیف وبی قیاس

یعني د خلګو د رب د خلګو سره اړیکی دئ خو بي کیفیته او بي قیاسه دئ.

سب سی ربط اشنائی ہی اسی — دل مین ہراک رسائی ہی اسی

یعني د هغه د ټولو سره اشنایي ده د هر یوه په زړه کي د هغه رسېدل دي.

دریم جمال، څلورم کمال او پنځم احسان دئ. په تېرو حدیثونو کي که غور او فکر وسي نو نه یوازي چي ما ناقص الفهمه، کمال او جمال ته اشاره کړېده. پوره بس والی به یې په وسي بلکي د شک او شبهې څخه پرته به هیڅ کمال، جمال، عزت، افتخار، راحت، سکون او هیڅ شی به پیدا نه کړي، چي د محبت په اسبابو کي دي یې ځای ونیسي او نبي ﷺ د قران بهتر والی پر هغو باندي وښودی. خو په پرده کي پټېدل د دنیا د اړتیاوو څخه دي مګر هوښیار سړی که د لیچی مېوه خوري د اغزو په وجه یې د مغز څخه مخ نه اړوي. چا چي زړه بایللی وي هغه د خپلي محبوبي څخه په دې وجه کرکه نه کوي چي هغه په چادري کي وي. د پردې د لیري کولو لپاره به د وس تر بریده کوښښ کوي او که کامیابه هم نه سي نو د پردې سربېره به سترګي یخوي. که مي دا یقین سي چي دا هغه څوک دئ چي په کلونو ورپسې سرګردانه وم نو بیا نه ده ممکنه چي هغه په پټو کي وي او زه دي د هغه پټو څخه مخ واړوم. په همدې ډول د قرانکریم مناقب او کمالات که څه هم د پردې په وجه نه محسوسېږي نو هوښیار سړی بې پروایي نه کوي. بلکي پر خپلو کمزوریو باندي دي افسوس وکړي او په کمالاتو کي دي غور او فکر وکړي. حضرت عثمان رضی الله عنه او خذیفة رضی الله عنه روایت کړی دئ، چي کوم زړه چي د ګناه څخه پاک سي نو د قران په تلاوت نه مړېږي. ثابت بنانی رحمه الله فرمایي: چي ما شل کاله په تکلیف قران ولوستی، وروسته ما ته د قران یخوالی راورسېدی. څوک چي د ګناهونو څخه په رشتیا توبه وباسي بیا په قرآن کي غور او فکر وکړي نو پوه به سي چي قرآن د دې الفاظو مصداق دئ. آنچه همه خوبان دارد تو تنهاداری. ارمان چي د دې الفاظو معنی

پر ما باندي هم صادقېدلای، زه د دې کتاب لوستونکو ته هم خواست کوم چې د ليکونکي ولوري ته مه ګورئ ځکه زما بېکاري به خامخا تاسو د خپل مقصد څخه منعه کړي بلکې د خبري لوري ته متوجه سی او و دې ته وګوري چې د چا خبره ده او د چا څخه نقل سوېده زه خو يوازې د نقل ذريعه يم. الله ﷻ ته زور نه غواړي چې د چا په زړه کي د حفظ شوق پيدا کړي نو که څوک خپل زوی حافظ کول غواړي نو دا لازمي نه ده چې د کوچنيوالي عمر د حفظ لپاره تجربه سوی دئ، بلکې په لوی والي هم کېدلای سي.

له همدې امله د رسول الله ﷺ يو فرمايل سوی عمل درته ښيم چې د حفظ لپاره تجربه سوی دئ او ترمذي، حاکم او نورو روايت کړی دئ، زه يې ليکمه (تر څو ګټه ځني واخلي) حضرت ابن عباس ؓ فرمايي چې زه د رسول الله ﷺ په حضور کي ناست وم علی ؓ راغلی او وې ويل: اې د الله ﷻ رسوله! زما مور او پلار دې تر تا قربان سي زه چې څومره قران يادوم زما د سينې څخه وزي زما په سينه کي محفوظ نه پاتېږي. نبي ﷺ ورته وويل: زه تا ته داسي ترکيب درښيم چې تا ته هم ګټه کوي او که يې نورو ته وښيې هغو ته هم ګټه کوي او څه چې ته زده کوې هغه به دي ياد وي. حضرت علي ؓ د ترکيب پوښتنه وکړه چې دا څنګه طريقه ده؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: کله چې د جمعې شپه راسي نو که دي د لاسه وسي چې د شپې په اخر کي ولاړ سې ډېر به ښه وي ځکه دغه وخت د ملائکو د نازلېدو وخت دئ او دعا په دغه و ىت کي په خاص ډول قبلېږي. په دغه وخت کي حضرت يعقوب ؑ و خپلو زامنو ته وويل: سوف استغفرلکم . يعني ژر دئ چې زه به د خپل خدای ﷻ څخه ستاسو لپاره مغفرت وغواړم. که د شپې په آخر کي نه سې پورته کېدلای نو د شپې په منځ کي پورته سه او که هغه هم نه سي کولای نو د شپې په اول کي څلور رکعته نفل په دې ترتيب وکړه چې په اول رکعت کي تر الحمد لله وروسته سورة يسين ووايه، په دوهم رکعت کي تر الحمد لله وروسته سورت دخان ووايه، په دريم رکعت کي تر الحمد لله وروسته الم سجدة سورة ووايه او په څلورم رکعت کي تر الحمد لله وروسته سورة ملک ووايه. کله چې د التحياة څخه فارغه سوې اول د الله ﷻ حمد او ثنا ووايه بيا پر ما يعنی نبي ﷺ باندي درود ووايه وروسته پر ټولو انبياوو (عليهم السلام) باندي درود ووايه او بيا د ټولو مسلمانانو وروڼو لپاره چې ستا څخه مخکي تېر سوي دي د مغفرت لپاره دا دعا ووايه.

فائده: دعا به وروسته راسي خو تر هغه مخکي د الله ﷻ حمد او ثنا چې رسول الله ﷺ يې تر دعا مخکي امر کړی دئ بايد يوه يوه دعاء رانقل کړو، چې رسول الله ﷺ په نورو رواياتو کي رانقل کړي دي، چې د حصن حصين شرحي، مناجات مقبول او نورو کتابونو رانقل کړي دي. د دې لپاره چې کوم خلک چې يې نه سي وېلای نو دا دعا دي ووايي او کوم څوک چې

يې لوستلای سي نو هغه دي پر دې باندې بس والی نه کوي، بلکې په ښه ډول دې اوږد حمد او ثنا ووايي:

الحمد لله رب العلمين عدد خلقه ورضا نفسه وزنة عرشه ومداد كلماته اللهم لا احصى ثناء عليك انت كما اثنيت على نفسک اللهم صل وسلم وبارک على سيدنا محمدالنبي الامى الها شمى وعلى آله واصحابه البررة الكرام وعلى سائر الانبياء والمرسلين والملائكة المقربين ربنا اغفرلنا ولاخواننا الذين سبقونا باالايمان ولا تجعل في قلوبنا غلاللذين آمنو ربنا انک رؤف رحيم. اللهم اغفرلي ولوالدي و لجميع المؤمنين والمومنات والمسلمين و المسلمات انک سميع مجيب الدعوات.

ژباړه: کامله ثنا دې الله ﷻ لره وي چې رب د مخلوقاتو دئ، داسې ثنا چې د ده د مخلوق په شمېر وي او د ده ﷻ د رضا سره برابره وي، د ده د عرش سره په وزن کې برابره وي او د ده د کلماتو د رنګ سره برابره وي. اې الله ﷻ! زه ستا د ثنا کلمې نه سم يو ځای کولای لکه تا چې پر ځان ثنا ويلې ده. اې خدايه! زموږ پر سردار محمد ﷺ چې نبي، امي او هاشمي پيغمبر دئ، درود او سلام دې باندې وي. د ده پر آل او اصحابو دې درود او سلام وي چې غوره د خلګو دي. پر ټولو انبياوو، رسولانو او مقربو ملائکو دې درود او سلام وي. اې ربه! موږ ته مغفرت وکړې او هغه کسانو ته يې وکړې چې تر موږ وړاندې پر ايمان تېر سوي دي، اې خدايه! زموږ په زړو کې د مؤمنانو سره کينه مه پيداکوې، اې خدايه! ما ته، زما مور او پلار ته مغفرت وکړې (اې خدايه!) ټولو مؤمنانو مسلمانانو نارينه وو او ښځينه وو ته مغفرت وکړې. بېشکه ته اورېدونکی يې او د دعا قبلوونکی يې.

تر دې وروسته به هغه دعا و وايي چې رسول الله ﷺ و علي ؓ ته فرمايلي وه، هغه دعا په لاندې ډول ده:

اللهم ارحمني بترک المعاصی ابدا ما ابقيتنی وارحمني ان اتکلف مالا يعنينی وارزقني حسن النظر فيما يرضيک عني اللهم بديع السموات والارض ذاالجلال والاكرام والعزة التي لاترام اسئلک ياالله يارحمان بجلالک ونور وجهک ان تلزم قلبي حفظ کتابک کماعلمتنی وارزقنی ان اقرء على النحو الذى يرضيک عني اللهم بديع السموات والارض ذاالجلال والاكرام والعزة التي لاترم اسئلک ياالله يا رحمان بجلالک ونور وجهک ان تنور بکتابک بصرى وان تطلق به لساني وان تفرج به عن قلبي وان تشرح به صدري وان تغسل به بدني فانه لايعينى على الحق غيرک ولايؤتيه الا انت ولاحول ولا قوة الا باالله العلى العظيم.

ژباړه: اې خدايه! پر ما رحم وکړې چې د تل لپاره ګناهونه پرېږدم تر څو چې زه ژوندی يم. اې خدايه! پر ما رحم وکړې چې په بې ځايه کارونو کې تکليف ونه باسم او د خپلې رضا په کارونو کې پر ما نظر وکړې اې خدايه! پيدا کوونکی د اسمانو او ځمکې د لويي، عزت او کرامت څښتن يې چې د هغو د حاصلولو اراده هم ناممکنه ده زه غوښتنه کوم اې الله! اې رحم کوونکی ذاته! ستا په لويي سره ستا د ذات په نور سره چې لکه څرنګه چې تا ما ته قرآنکريم را زده کړی دئ، په دغه ډول يې زما په زړه پوري پيوست کړې او ما ته يې په هغه

ډول تلاوت رانصیب کړې چي ستا رضا پکښې وي. اې خدايه! پیدا کوونکی د اسمانو او مځکې د لويې، عزت او کرامت څښتن يې چي د هغو د حاصلولو اراده هم ناممکنه ده زه غوښتنه کوم اې الله ! اې رحم کوونکې ذاته ستا په لويي سره ستا د ذات په نور سره غوښتنه کوم چي زما نظر پخپل کتاب سره منور وګرځوې، زما پر ژبه يې جاري کړې، زما د زړه تنګي لرې کړې، زما سينه خلاصه کړې، زما د بدن د ګناهونو خيري په پاکي کړې. ستا پرته بل څوک ارزوګاني نه سي پوره کولای. د ګناهونو څخه خلاصېدل او پر عبادت باندي توفيق د الله ﷻ پرته په بل چا سره نه سي کېدلای ډېر لوی او د عظمت څښتن دئ.

وروسته نبي ﷺ و فرمايل: اې علي! دا طريقه درې، يا پنځه او يا اووه جمعې وکړه انشاء الله دعا به دي خامخا قبوله سي زما دي په هغه ذات قسم وي چي زه يې نبي رالېږلی يم چي د هيڅ مؤمن دعا به د قبلېدو څخه نه خطاکېږي. ابن عباس ﷺ فرمايي چي پر علي ﷺ باندي درې يا پنځه او يا اووه جمعې تېرې سوي وي، د نبي ﷺ حضورته ورغلی او وې ويل يا رسول الله پخوا به ما څلور آياتونه يادول هغه به هم راڅخه هېرېدل اوس څلوېښت اياتونه په يادوم داسي مي يادېږي لکه قران چي مي مخته پروت وي. پخوا به ما حديث واورېدی نو دوهم واري چي به مي وايه په ذهن کي به نه راتلی اوس حديثونه اورم کله چي يې نوروته نقلوم نو يو لفظ هم نه راڅخه پاتېږي. الله ﷻ دي ما ته هم د خپل نبي ﷺ د رحمت په وسيله د قرانکريم او د حديثونو د حفظ توفيق راکړي او تاسو دي يې هم درکړي. وصلی الله تعالي علی خير خلقه محمد وآله و اصحابه وسلم برحمتک يا ارحم الراحمين

تکمله

پورته چي کوم څلوېښت حديثونه ذکر سوي دي نو د يو خاص مضمون په وجه د مختصروالي لحاظ نه سو کېدلای او اوس همتونه بېخي کمزوري سوي دي ډېر لږ تکليف هم ځيني خلک نه سي زغملای په همدې وجه غواړم چي نوموړي څلوېښت حديثونه په مختصر ډول بيان کړم او د نبي ﷺ څخه هم يو ځای رانقل سوي دي مهمه خبره دا ده چي په دغه حديثونو کي به د دين مهم شيان جمعه سوي وي، چي مثال يې بل ځای پيدا کول ګران دئ. دغه حديثونه کنزل العمال د پورتنيو محدثيونو يوې ډلي ته منسوب کړي دي او په وروستيو کي مولانا قطب الدين مهاجر مکي رحمة الله عليه هم دا خبره کړېده څومره به ښه وي چي يو مسلمان دغه حديثونه ياد کړي او د مسو پر ځای به لعل او جواهر په لاس ورسي. څلوېښت حديثونه په لاندي ډول دي:

عن سلمان ﷺ قال سألت رسول الله ﷺ عن الاربعين حديثا التي قال من حفظها من امتي دخل الجنة قلت وماهي ؟يارسول الله! قال ان تومن بالله واليوم الاخر والملائکة والکتب والنبين والبعث بعد الموت والقدر خيره

وشره من الله تعالى وان تشهد ان لا اله الا الله وان محمد رسول الله و تقيم الصلوة بوضوء سابغ كامل لوقتها و تؤتي الزكوة و تصوم الرمضان و تحج البيت ان كان لک مال و تصلى الثنا عشرة ركعة في كل يوم وليلة والوتر لاتتركه في كل ليلة ولا تشرک باالله شيئاًولا تعق والديک ولا تأكل مال اليتيم ظلما ولا تشرب الخمر ولا تزن ولا تحلف باالله كاذبا ولا تشهد شهادة الزور ولا تعمل باالهوى ولا تغتب اخاک المسلم ولا تقذف المحصنة ولا تغل اخاک المسلم ولا تلعب ولا تله مع اللاهين ولا تقل لقصير يا قصير تريدبذالک عيبه ولا تسخر باحد من الناس ولا تمش باالنمية بين الا خوين واشكر الله تعالى على نعمته واصبرعلى البلاء والمصيبة ولا تامن من عقاب الله ولا تقطع اقربائک وصلهم ولا تلعن احد من خلق الله واكثر من التسبيح والتكبير والتهليل ولا تدع حضور الجمعة والعيدين و اعلم ان مااصابک لم يكن ليخطئک وما اخطاًک لم يكن ليصيبک ولا تدع قراءة القرآن على كل حال.(۸٤)

دڅلويښتو حديثونو ترجمه

د حضرت سلمان ﷺ څخه روايت دئ، چي ما د نبي ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي هغه څلوېښت حديثونه کوم دي چي په اړه يي راغلي دي چا چي زما د امت څخه څلوېښت حديثونه ياد کړل جنت ته به داخل سي رسول الله ﷺ وفرمايل:

۱- په الله ﷻ باندي ايمان راوړل يعنی د هغه پرذات او صفتونو باندي.

۲- د آخرت پر ورځ.

۳- پر ملائکو باندي.

۴- پر تېرو کتابو باندي.

۵- پر ټولو انبياوو (عليهم السلام).

٦- د مړيني څخه وروسته پر بېرته ژوندي کېدو.

۷- پر تقدير باندي يعنی دا چي ښه او بد ټوله د الله ﷻ د لوري څخه دي.

۸- او شاهدی ورکړي چي د الله ﷻ پرته بل ريښتنی معبود نسته او محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دئ.

۹- د هر لمانځه په وخت کي کامل اودس تازه کړي او لمونځ ادا کړي (کامل اودس دې ته وايي چي د ټولو سنتونو مستحباتو لحاظ پکښې وکړي (او د هر لمانځه په وخت کي) و دې ته اشاره ده، چي د هر لمانځه لپاره نوی اودس تازه کړي که څه هم اودس لري او د لمانځه د ادا کولو څخه مراد دا دئ، چي په لمانځه کي د ټولو سنتونو او مستحباتو پوره خيال وساتي لکه په بل روايت کي چي راغلي دي: ان تسوية الصفوف من اقامة الصلوة.

(۸۴) رواه الحافظ و ابو القاسم بن عبد الرحمان بن محمد بن اسحاق بن مندة والحافظ ابو الحسن علي بن ابي القاسم بن بابويه الرازی في الاربعين وابن عساكر و الرافعي عن سلمان ﷺ.

يعنی د لمانځه په وخت کي د صفونو سموالی چي يو قسم کوږ والی پکښې پاته نه سي دا هم په لمانځه کي داخل دئ.

۱۰- او زکوة ادا کوي.

۱۱- د روژې د مياشتی روژې نيسي.

۱۲- که دي توان و حج وکړه يعني دا چي که دي د تللو او راتلو لپاره پيسې درلودې نو حج ادا کړه ځرنګه چي ډېر وخت مال منعه کوونکی وي په دې وجه يې د مال ذکر وکړ.

۱۳- او دوولس رکعته مؤکد سنت هر ورځ ادا کوي د دې تفصيل په نورو روايتو کي داسي راغلی دئ، چي د سهار د لمانځه مخکي دوه رکعته، د ماپښين تر لمانځه مخکي څلور رکعته او وروسته يې دوه رکعته، د ماښام تر لمانځه وروسته دوه رکعته او د ماخستن تر لمانځه وروسته دوه رکعته.

۱۴- وتر هيڅ شپه مه پرېږده ځکه چي واجب دي اهتمام يې تر سنتو زيات دئ، په همدې وجه يې زيات تاکيد ښودلی دئ.

۱۵- د الله ﷻ سره هيڅ شی شريک مه جوړوه.

۱۷- د مور او پلار نافرماني مه کوه.

۱۸- شراب مه څښه.

۱۹- زنا مه کوه.

۲۰- په دروا غو قسم مه اخله.

۲۱- په دروا غو شاهدي مه ورکوه.

۲۲- د نفس د خواهشاتو تابعداري مه کوه.

۲۳- د مسلمان ورور غيبت مه کوه.

۲۴- پر پاک لمنه ښځه باندي تهمت مه لګوه (همداسي پر پاک سړی باندي).

۲۵- د مسلمان ورور سره حسد مه کوه.

۲۶- د لوبو او ټوکو په سامان مه مشغوله کېږه.

۲۷- په تماشو کي ګډون مه کوه.

۲۸- لنډي سړي ته د عيب په نيت ګردی مه وايه يعنی دا چي که څوک په دغسي نامه مشهور سوی و د عيب فکر نه پکښې پيدا کېدی پروا نه کوي لکه چي د چا نوم بدو ايښودل سوی وي چي د عيب په نيت نه وي.

۲۹- پر چا باندي خندا او ټوکي مه کوه.

۳۰- د مسلمانانو په منځ کي چغلي مه کوه.

۳۱- پر هر حال باندي د الله ﷻ د نعمتونو شکر ادا کوه.

۳۲- پر غم او بلاوو باندي صبر کوه.

۳۳- د الله ﷻ د عذاب څخه مه بې غمه کېږه.

۳۴- د دوستانو سره اړیکي مه شکوه.

۳۵- بلکي د هغو سره وسیله کوه.

۳۶- د الله ﷻ پر هیڅ مخلوق باندي لعنت مه وایه.

۳۷- سبحان الله، لا اله الا الله، الله اکبر دغه الفاظ ډېر وایه.

۳۸- د جمعې او اخترونو لمنځونو ته حاضرېږه.

۳۹- پردې خبره باندي یقین ساته چي کوم تکلیف تاته ورسېدی هغه په تقدیر کي لیکلی و، په هیڅ ډول نه پر شا کېدي او کوم چي نه در ورسېدی هغه نه و راتلونکی.

۴۰- د قرانکریم تلاوت په هیڅ وخت کي مه پرېږده.

حضرت سلیمان ﷺ فرمایي چي ما د نبي ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي څوک دغه یاد کړي څه بدله ورکول کیږي؟ نبي ﷺ راته وفرمایل: څوک چي دا یاد کړي الله ﷻ به یې د قیامت په ورځ د انبیاوو (علیهم السلام) او علماوو په ډله کي را پورته کړي که الله ﷻ زموږ ګناهونه راوبخښي او یوازي مو پخپل فضل په نېکو بندګانو کي حساب کړي نو د الله ﷻ د کریم ذات څخه لیري کار نه دئ. درنو لوستونکو په ډېري عاجزۍ سره خواست درته کوم چي زما ګنهکار بنده سره مرسته په دعا سره وکړئ.

وماتوفیقي الابالله علیه توکلت والیه انیب

تمت

مؤلف : مولانا محمد زکریا نور الله مرقده

ژباړونکی : مولوي عبد الهادي (حماد) مدرس وناظم جامعه اسلامیه اشرفیه اوله ناحیه کندهار افغانستان

۱۰ـ۸ـ۱۳۸٦ هـ ش

بسم الله الرحمن الرحيم

دلمانځه فضائل

مؤلف

شيخ الحديث مولانا محمد زكريا نور الله مرقده

ژباړونكى :

مولوي عبدالهادي (حماد)

فهرســــت

شمیره	سرلیکونه	صفحه
۱	خطبه اوتمهید	۱
۲	**لومړی باب**	۲
۳	د لمانځه ارزښت	۲
۴	**اول فصل** د لمانځه د فضیلت په بیان کې	۲
۵	لمونځ ګناهونه دپاڼو په څیر رژوي	۳
۶	دلمانځه دځانګړتیا په اړه دسلمان ؓ کړنه	۴
۷	دګناهونو په تویېدلو کې لمونځ درواني ویالې په څیر دی	۷
۸	رسول الله ﷺ دمصیبت په وخت کې لمونځ کاوه	۸
۹	لمونځ دلاس ، پښې ، سترګو اوغوږو ګناهونه لمنځه وړي	۱۳
۱۰	زیات لمونځ کونکی ترشهید وړاندي جنت ته ځي	۱۴
۱۱	لمونځ دمنځنیو وختونو ګناهونه لمنځه وړي	۱۶
۱۲	الله ﷻ دلمونځ کونکي ذموار دی	۱۷
۱۳	دوه رکعته لمونځ ترزرګونو پیسو غوره دي	۱۸
۱۴	د لمانځه په اړه څلویښت حدیثونه	۲۰
۱۵	د لمانځه په اړه ددین د بزرګانو حالات	۲۳
۱۶	**دوهم فصل** د لمانځه پرېښودونکي لپاره عذاب چې په حدیثو کې راغلي دي	۲۶
۱۷	داسلام اوکفر په منځ کې لمونځ دی	۲۶
۱۸	که چا لمونځ پرېښودی دمذهب څخه وواتی	۲۷
۱۹	که چا لمونځ پرېښودی دالله ﷻ دزمې څخه وواتی	۲۸
۲۰	که چالمونځ قضا کړی مال اوعیال یې تباه سو	۳۰
۲۱	که چا دعذر پرته دوه لمونځه یوځای کړه کبیره ګناه یې وکړه	۳۰
۲۲	لمونځ پرېښودونکی به دفرعون ، هامان اوابی بن خلف سره وي	۳۱
۲۳	لمونځ پرېښودنکی به په زرګونو کلونو په دوزخ کې وي	۴۱

فهرست

شمیره	سرلیکونه	صفحه
۲۴	دلمانځه دپرېښودنکي برخه په اسلام کي نسته	۴۳
۲۵	**دوهم باب** د جماعت لمانځه په بیان کي	۴۵
۲۶	**اول فصل** د جماعت فضائل	۴۵
۲۷	جماعت کونکي ته ملائکي دمغفرت دعاوي کوي	۴۷
۲۸	جماعت پرېښودل ګمراهي ده	۴۹
۲۹	په جماعت سره ددوزخ اونفاق څخه خلاصون دی	۵۱
۳۰	دجماعت په امید مسجد ته تلل دجماعت ثواب لري	۵۲
۳۱	دلږو کسانو په جماعت سره لمونځ والله ﷻ تر ډیرو کسانو بېله جماعته لمانځه خوښ دئ	۵۳
۳۲	څوک چي په تیاره کي جماعت ته ځي دهغو لپاره دپوره نور زیری دی	۵۴
۳۳	**دوهم فصل** د جماعت پرېښودونکي عذاب	۵۷
۳۴	بې جماعته لمونځ نه قبلیږي	۵۷
۳۵	بې له جماعته لمونځ کفر اونفاق دی	۵۸
۳۶	دجماعت نه کونکو کورونه دسوځلو وړ دي	۵۹
۳۷	جماعت نه کونکی دشیطان تربرید لاندي راځي	۵۹
۳۸	چي جماعت نه کوي که شپه ورځ عبادت کوي بیا هم په دوزخ کي دی	۶۰
۳۹	**دریم باب** د خشوع او خضوع په بیان کي	۶۲
۴۰	دبزرګانو قصې	۶۹
۴۱	دلمانځه ثواب دښه والي په اندازه دی	۷۶
۴۲	په بد لمانځه کونکی پر مخ ویشتل کیږي	۷۷

فهرست

شمېره	سرليكونه	صفحه
۴۳	دقيامت په ورځ به لومړى حساب دلمانځه كيږي	۷۹
۴۴	كه يې دلمانځه عمل په فاسد سو ټول عملونه به يې فاسد سي	۸۰
۴۵	بده غلا دلمانځه غلا ده	۸۱
۴۶	كوم لمونځ چي كونكى دګناه څخه نه راوګرځوي هغه لمونځ نه دى	۸۴
۴۷	اخري عرض	۹۶

بسم الله الرحمن الرحيم

خطبة او تمهيد

نحمده ونشكره ونصلي ونسلم علي رسوله الكريم وعلي آله وصحبه واتباعه الحماة الدين القويم وبعده فهذه اربعونة في فضائل الصلوة جمعتها امتثالا لامر عمي وصنو ابي رقاه الله الي مراتب العليا وو فقني واياه لما يحب ويرضي. اما بعد:

په اوس وخت کي چي د دين څخه ځومره غفلت او بې پروايي روانه ده بيانولو ته اړتيا نه لري آن تر دې چي لمونځ ټولو ته معلومه ده چي تر ايمان وروسته دوهمه مرتبه ده او تر نورو ټولو عبادتونو مخکي دئ او د قيامت په ورځ هم لومړی د لمانځه پوښتنه کېږي خو بيا هم د لمانځه څخه بې پروايي روانه ده تر دې لا زياته خبره دا ده، چي د دين هيڅ خبره د چا په غوږو کي نه راځي او د تبليغ هيڅ ګټه نه ښکارېږي. د تجربې له مخي زما په خيال کي راغلل، چي د نبي عليه السلام د ارشاداتو په رسولو کي کوښښ وکړل سي که څه هم په مخ کي منعه کوونکي شيان موجود وي. زما ناتوانه لپاره دومره خبره بس ده بل اميد مي دا دئ، چي د کومو خلکو ذهنونه خالي وي د دين لپاره مقابله نه کوي د دې خبرو څخه به خامخا اغېزمن سي د کلام او د کلام د څښتن په برکت اميد لرم چي ګټه به يو چا ته ورسوي، په دغه ډول نور دوستان د زياتو ګټو اميد لري د هغو مخلصينو تکراري وينا هم وه نو په همدې وجه مي اراده وکړه، چي يوازي د لمانځه د فضليت په اړه يو څو حديثونه د ترجمې سره وړاندي کړم ځکه (زما) عاجز بنده يوه رساله د تبليغ په اړه د (فضائل تبليغ) په نامه خپره سوې ده نو ځکه دغه رساله د تبليغ لپاره په دوهم نمبر کي ټاکم او د فضايل نماز نوم پر ايږدم.

و ما تو فيقي الا با لله عليه توكلت واليه انيب

د لمانځه په اداء کي خلک درې ډلي دي: يوه ډله داسي ده، چي بيخي لمونځ نه کوي دوهمه ډله داسي ده، چي لمونځ کوي خو په جماعت يي نه کوي، دريمه ډله داسي ده چي لمونځ په جماعت اداء کوي خو په لمانځه کي بې پروايي کوي په دې ځای کي به انشاء الله د درسرو ډلو په اړه مضامين ذکر سي او په هر باب کي مي د رسول الله ﷺ پاکي ويناوي د ترجمو سره ذکر کړې دي، خو په ترجمو کي مي د روښانتيا او اسانتيا لحاظ ساتلی دئ، د تحت الفظي ترجمې مي چنداني لحاظ نه دئ ساتلی. څرنګه چي د لمانځه تبيلغ کوونکي اکثره علماء دي نو ځکه

مي د حديثونو حوالې په عربي ليکلي دي ځکه چي د عوامو خلګو اړتياوي ورته نسته او علماوو ته ګټوري تماميږي او ترجمه مي په اردو ليکلي ده. (البته د لومړی ځل لپاره، ځکه شيخ رحمه الله لومړی کتاب په اردو ليکلی دئ خو اوس يې ترجمه په پښتو ده).

لومړی باب

د لمانځه دارزښت په بيان کي

په دې باب کي دوه فصله دي، په لومړي فصل کي د لمانځه د فضيلت بيان دئ او په دوهم فصل کي د لمانځه د پرېښودونکي لپاره چي په حديثونو کي کومي سزاوي راغلي دي هغه پکښې بيان سوي دي.

اول فصل

د لمانځه د فضيلت په بيان کي

١ – عن ابن عمر رضي الله عنهما قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم بني الاسلام علي خمس شهادة ان لااله الاالله وان محمد عبده ورسوله واقام الصلوة و ايتآء الزكوة و الحج و صوم رمضان[1].

ژباړه: د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ، چي نبي عليه السلام فرمايلي دي: اسلام پر پنځو شيانو باندي ولاړ دئ (لومړی دا چي) شاهدي ورکړي پر دې باندي، چي د الله جل جلاله پرته بل حق معبود نسته، (دوهم دا چي) لمونځ ادا کړي، (دريم دا چي) زکوة ورکړي، (څلورم دا چي) حج ادا کړي، (پنځم دا چي) روژه د مياشتي د روژې ونيسي.

فايده: دا پنځه شيان د اسلام مهم او ضروري ارکان دي. نبي عليه السلام په دې مبارکه وينا کي اسلام د خېمې په شان ګرځولی دئ او پنځه ستني يې ورکړيدي. کلمه د منځ د ستني په څېر ده او هغه نور څلور شيان د څلورو کونجانو د ستنو په څېر دي، د منځ لرګی چي نه وي خېمه نه سي درېدای او که د منځ لرګی موجود وي که څه د څلورو طرفو لرګيان يې نه وي بيا

[1] متفق اليه وقال المنذري في الترغيب رواه البخاري ومسلم وغيرهما عن غير واحد من الصحابة.

هم ځېمه درېدای سي، خو د کوم لوري لرګی چي نه وي هغه لوری کمزوری او پرېوتلی وي.
د دې پاک ارشاد څخه وروسته موږ ته پر خپل حالت باندي فکر او غور په کار دئ، چي موږ د اسلام خېمه تر کومه ځایه پوري درولې ده او د کوم رکن مو پوره خیال ساتلی دئ. دا پنځه رکنونه ډېر ضروري دي آن تر دې چي د اسلام بنسټ هم دا پنځه شیان ښودل سوي دي او یو مسلمان ته د مسلمان په حیث د پنځو سرو اهتمام ضروري دئ، خو په دوی کي تر ټولو دوهم ضروري لمونځ دئ. حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه فرمایي: ما د نبي علیه السلام څخه پوښتنه وکړه، چي الله جل جلاله ته تر ټولو خوښ کوم شی دئ؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: لمونځ دئ. ما وویل تر دې وروسته کوم شی الله جل جلاله ته خوښ دئ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د مور او پلار سره ښه سلوک کول. ما ورته وویل تر دې وروسته کوم شی الله صلی الله علیه وسلم ته ډېر خوښ دئ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: جهاد کول.

ملا علي قاري رحمة الله علیه فرمایي: په دغه حدیث کي علماوو ته د دې خبري د ثبوت دلیل دئ، چي تر ایمان وروسته مهم شی لمونځ دئ او د دې خبري ثبوت هم کېږي، چي وایي (الصلوة خیر موضوع) یعني لمونځ الله جل جلاله د خپلو بندګانو لپاره غوره شی ټاکلی دئ. په نورو صحیحو حدیثونو کي دا خبره په ښکاره الفاظو بیان سوېده، چي بهترین عمل لمونځ دئ، لکه په جامع صغیر نومي کتاب کي چي دا حدیث د ثوبان، ابن عمر، سلمة، ابو امامة او عبادة رضي الله عنهم څخه رانقل سوی دئ. د ابن مسعود رضي الله عنه او انس رضي الله عنه څخه لمونځ پر خپل وخت کول تر ټولو عملونو غوره عمل رانقل سوی دئ[۲].

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه او ام فروة رضي الله عنها څخه په اول وخت کي لمونځ کول تر ټولو عملونو غوره عمل رانقل سوی دئ، خو د دوی ټولو موخه یوه ده.

لمونځ ګناهونه د پاڼو په څېر رژوي

۲- عن ابي ذر رضي الله عنه ان النبي صلی الله علیه وسلم خرج في الشتآء والورق يتهافت فاخذ بغصن من شجرة قال فجعل ذالک الورق يتهافت فقال يا اباذر ! قلت لبيک يارسول الله

ژباړه: د ابي ذر رضي الله عنه څخه روایت دئ، چي یوه ورځ نبي علیه السلام په ژمي کي راووتی د درختو پاڼي تویېدلي، نبي علیه السلام د درختي یو ښاخ ونیوی وې ځنډی بیا یې وویل: اې ابوذره!

[۲] (جامع صغیر.

ﷺ! قال ان العبد المسلم ليصلي الصلوة يريد بها وجه الله فتهافت عنه ذنوبه كما تهافت هذا الورق عن هذه الشجرة)۳(.

مؤمن مسلمان چي په اخلاص سره لمونځ کوي داسي يې ګناهونه تويېږي لکه د دې درختي پاڼي چي تويېږي.

فايده: په ژمي کي د درختو پاڼي داسي تويېږي، چي يوه پاڼه هم پر درخته نه پاتېږي. د رسول الله ﷺ ارشاد دئ، چي مسلمان په اخلاص سره لمونځ وکړي يوه ګناه يې هم نه پاتېږي بلکي ټول بخښل کېږي. خو د دې سره يوه خبره د يادولو وړ ده، هغه دا ده چي علماوو د آيتونو او حديثونو څخه داسي تحقيق کړی دئ، چي کوچني ګناهونه په لمانځه سره بخښل کېږي او لوي ګناهونه د توبې پرته نه بخښل کېږي، نو که څوک لوی ګناهونه لري نو په همدې وجه د لمانځه تر څنګ د توبې کښل او استغفار ويل هم اړين دي، بايد اهتمام يې وسي او ترې غافله نه سي. چا ته چي الله جل جلاله لوی ګناهونه هم وربخښي دا خو لويه خبره ده.

د لمانځه د ځانګړتيا په اړه د سلمان رضي الله عنه کړنه

۳ - عن ابي عثمان رضي الله عنه قال كنت مع سلمان رضي الله عنه تحت شجرة فاخذ غصنا منها يابسا فهزه حتي تحات ورقه ثم قال ياباعثمان الاتسألني لم افعل هذا قلت ولم تفعله؟ قال هكذا فعل بي رسول الله ﷺ و انا معه تحت شجرة واخذ منها غصنا يابسا فهزه حتي تحات ورقه فقال يا سلمان الا تسألني لم افعل هذا قلت ولم تفعله؟ قال ان المسلم اذا توضاء فا حسن الوضوء ثم صلي الصلوة الخمس تحافت خطاياه كما تحافت

ژباړه: حضرت ابي عثمان رضي الله عنه فرمايي، چي زه يوه ورځ د سلمان رضي الله عنه سره تر درختي لاندي ولاړ وم، چي سلمان رضي الله عنه د درختي يو وچ ښاخ راکش کړ وې ښنډه کړ داسي اندازې چي پاڼي يې توی سوي، بيا يې ما ته وويل: ته ما ته ولي نه وايې چي دا کار دي ولي وکړ؟ ما ورته وويل چي ولي دي وکړ؟ سلمان رضي الله عنه راته وويل دا کار په ما باندي رسول الله ﷺ وکړ، زه د رسول ﷺ سره تر يوې درختي لاندي ولاړ وم، رسول الله ﷺ د درختي يو وچ ښاخ راکش کړ، داسي يې وښنډه چي پاڼي يې توی سوې بيا يې راته وويل: اې سلمانه! ته ولي ما ته نه وايې چي دا کار دي ولي وکړی؟ ما ورته وويل: ولي دي وکړئ؟ رسول الله ﷺ راته وويل: کله چي مسلمان

)۳(رواه احمد با سناد حسن كذافي الترغيب.

هذا الورق وقال: ﴿وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ ٱلَّيۡلِۚ إِنَّ ٱلۡحَسَنَٰتِ يُذۡهِبۡنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ ذَٰلِكَ ذِكۡرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ ١١٤﴾[۴]

ښه اودس تازه کړي او پنځه وخته لمونځ ادا کړي ګناوي يې داسي تويېږي لکه دغه پاڼي چي له درختي څخه تويېږي. بيا نبي ﷺ دا ايات ووايه: وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ ...

ترجمه يې داسي ده: لمونځ قايم کړه په دوو سرو کي د ورځي او په يو څه حصه کي د شپې ښشکه نيکۍ بدۍ له منځه وړي دا نصيحت د ذاکرانو لپاره دئ.

فايده: حضرت سلمان رضي الله عنه چي کوم عمل وښودی دا د اصحابانو د عشق يو کوچنی مثال دئ. کله چي د يو چا د چا سره عشق سي نو د هغه هره ادا يې خوښه وي او د خپل محبوب هر کار يې خوښ وي، چي دی يې کوي. کومو خلکو چي د محبت خوند څکلی وي هغه په دې خبره ښه خبر دئ، په همدې ډول اصحابو زيات وخت د نبي ﷺ د وينااوو په رانقلولو کي هغه کارونه هم رانقلول کوم چي رسول الله ﷺ به د وينا پر مهال کړي وو. د لمانځه د پابندۍ په اړه او په لمانځه سره د ګناهونو د معافۍ په اړه چي څومره حديثونه راغلي دي د هغو راجمع کول ګران کار دئ.

لومړی هم پورتنی مضمون په زياتو روايتو کي راغلی دئ. عالمانو دغه ګناهونه چي په لمانځه سره معافېږي په صغيره ګناهو پوري خاص کړي دي که نه نو په حديثو کي د صغيره شرط هم نه دئ راغلی، بلکي د عامو ګناهو نوم اخستل سوی دئ. زما پلار رحمة الله عليه د تعليم په وخت کي د دې خبري دوې وجهي و ښودې: لومړی دا چي د مسلمان د شان څخه دا ليري ده، چي کبيره ګناه وکړي که چيري هم کبيره ګناه ځني وسي نو ده ته بې له توبې پر ارامه پاتېدل مشکل کار دئ، ځکه د مسلمان د مسلمانۍ د شان سره داسي ده چي کله د ده څخه کبيره ګناه وسي نو تر هغه وخته پوري چي ده په ژړا او په زارۍ هغه ګناه نه وي بخښلې ارام نه پاتېږي او صغيره ګناهونه داسي دي چي ډېر پام نه ور اوړي نو په لمانځه او داسي نورو سره بخښل کېږي. دوهمه وجهه دا ده، چي کله يو څوک په اخلاص سره لمونځ وکړي د ټولو ادابو او مستحباتو لحاظ پکښې وکړي نو پخپله په تکراري ډول توبه پکښې رانغښتي ده، ځکه د التحيات څخه تر اللهم اني ظلمت نفسي ... پوري خو توبه او استغفار

[۴] سورة هود الاية - ۱۱۴، (رواه احمد والنسائي والطبراني و رواة احمد محتج بهم في الصحيح الا علي بن زيد كذا في الترغيب).

دوا ړه سته. په دې روایتو کې د ښه اودس امر سوی دئ مطلب ځني دا دئ چې د ادابو او سنتونو ښه خیال یې وساتل سي، د مثال په ډول د اوداسه یو سنت مسواک وهل دي، چې اوس ډېره بې فکري ځني روانه ده او حال دا چې په حدیث کې راغلي دي چې کوم لمونځ چې په مسواک والا اوداسه سره وسي تر هغه لمانځه په اویا درجې سره بهتر دئ چې په اوداسه کې یې مسواک نه وي وهل سوی. په یو حدیث کې راغلي دي چې مسواک وهل لس فائدې لري:

۱. خوله پاکوي.

۲. د الله جل جلاله رضا ده.

۳. شیطان ناراضه کېږي.

۴. الله جل جلاله او ملائکي محبت ورسره کوي.

۵. اوریو ته طاقت ورکوي.

۶. بلغم پرېکوي.

۷. خولې ته خوشبویي ورکوي.

۸. صفرا لیري کوي.

۹. د سترګو دید زیاتوي.

۱۰. د خولې بدبو یي لیري کوي.

تر ټولو بهترینه خبره دا ده، چې مسواک وهل د رسول الله ﷺ سنت دئ[۵].

عالمانو لیکلي دي، چې مسواک وهل اویا ګټې لري د هغوی څخه یوه دا ده چې د مرګ په وخت کې به یې د شهادت کلمه نصیب سي او د دې په مقابل کې د تریاق خوړل اویا تاوانه لري د هغوی څخه یو تاوان دا دب، چې د مرګ په وخت کې به د شهادت کلمه نه ورته یادرږي. د ښه اودس کولو د فضیلت په اړه زیات حدیثو نه راغلي دي. د ښه اودس کوونکي د بدن غړي به روښانه او ځلېدونکي وي د قیامت په ورځ نبي ﷺ خپل امتي دستي پر ښه اوداسه باندي پرږني یعني دا چې پښې او لاسونه به یې برېښي.

---

(۵) منبهات ابن حجر.

د ګناهونو په توییدلو کې لمونځ د رواني ویالې په څېر دئ

۱/ ٤ - عن ابي هريرة رضي الله عنه قال سمعت رسول الله ﷺ يقول أرأيتم لو ان نهرا بباب احدكم يغتسل فيه كل يوم خمس مرات هل بقي من درنه شيئ؟ قالوا لا يبقي من درنه شيئ قال فذالک مثل الصلوت الخمس يمحو الله بهن الخطايا(٦).

ژباړه : دا بي هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ، چې ما د نبي ﷺ څخه اورېدلي دي، چې ويل يې: تاسو خبر راکړئ که چيرې د يو چا د کور په دروازه کې وياله بهېږي او دی د ورځې پنځه واره پکښې لمبېږي ايا د ده پر بدن به خيره پاته سي؟ دوی ورته وويل: يا! هيڅ خيره نه پاتېږي. نبي عليه السلام وفرمايل هم دغه د پنځو لمنځونو مثال دئ، الله جل جلاله په دغه لمونځو سره ګناوي له منځه وړي.

۲/ ٤ - عن جابر رضي الله عنه قال قال رسول الله مثل الصلوت الخمس كمثل نهر جار غمر على باب احدكم يغتسل منه كل يوم خمس مرات(٧).

ژباړه : د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ، چې نبي ﷺ وفرمايل: د پنځو لمونځو مثال داسي دئ، لکه ستاسو په دروازه کي چي يوه ژوره وياله بهېږي او هره ورځ پنځه واره پکښې لمبېږي.

فايده: رواني اوبه د مرداری او ناپاکی څخه پاکي وي او وياله چي څومره ژوره وي په هغه اندازه يي اوبه پاکي وي، په همدې وجه رواني اوبه او ژوره وياله په حديث مبارک کي ښودل سوېده او اوبه چي څومره پاکي وي په هغه اندازه د بدن پاکوالی په راځي په همدې ډول څومره چي په لمانځه کي د ادابو لحاظ ساتل کېږي په هغه اندازه د ګناهونو څخه پاکوالی راځي. کوم ډول مضمون چي په پورتني حديث کي راغلی دئ په ورته ډول مضمون په ډېرو حديثونو کي په مختلفو الفاظو او د ډېرو اصحابو څخه روايت سوی دئ.

د ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت سوی دئ، چي نبي عليه السلام وفرمايل: پنځه وخته لمنځونه د منځني وختونو د ګناهو لپاره کفاره ده يعني د يوه لمانځه څخه وروسته تر بل لمانځه پوري چي د منځ وخت دئ په دغه وخت کي که کومه ګناه وسي نو هغه بخښل

(٦) رواه البخاري و مسلم والترمذي والنسائي و رواه ابن ماجة من حديث عثمان كذا في الترغيب.

(٧) رواه مسلم كذا في الترغيب و رقم حديث ٥٠٤.

کېږي. بیا نبي علیه السلام و فرمایل: څوک چي په یو کار ځای کي کار کوي نو د ده پر بدن باندي د کار له وجي خیري و لوېږي او د ده د کار ځای او کور تر منځ پنځه و یالې وي په هره یوه کي ولمبیږي (نو خیري به بیخي له منځه ولاړي سي) د پنځو لمونځو مثال هم داسي دئ کله چي په منځني وخت کي څه ګناه د یو چا څخه وسي نو په لمانځه کي د دعا او استغفار په وجه بیخي بخښل کېږي. د نبي ﷺ مقصد د دې ډول مثالو څخه دا دی چي الله جل جلاله په لمانځه کي د ګناهونو د بخښلو لپاره لوی اثر ایښی دئ. څرنګه چي په مثال ویلو سره سړی ښه پوهېږي نو ځکه نبي ﷺ دا موضوع په مثالو سره ښه روښانه کړېده د الله جل جلاله د دې رحمت، بخښي، معافی، مهربانی، احسان او انعام څخه چي زموږ خلګ ګټه وانخلي نو د چا تاوان دئ؟ بلکي دا زموږ خپل تاوان دئ هر څه موږ خپله د لاسه ورکړل. موږ د الله جل جلاله نافرماني کوو. ګناه کوو، حکمونه ماتوو، د امرنو په ادا کولو کي کمزوي کوو پکار داده چي عادل او قادر ذات سزا راکړي او د خپلو عملونو سزا ووینو خو د الله جل جلاله تر فضل او مهربانی قربان سم چي خپلو نافرمانو او امر ماتونکو بنده ګانو ته یې د بخښني لاره ښودلي ده. که موږ ګټه ځني وانخلو زموږ بې عقلي ده. د الله جل جلاله رحمت او مهرباني د ورکړي لپاره بهانې لټوي. په یو حدیث کي راغلي دي: که څوک اراده وکړي چي د تهجد لمونځ به کوم خو بیده سو راویښ نه سو نو الله جل جلاله د تهجد د لمانځه ثواب ورکوي خوب یې په ګټه کي ورپاته سو(٨).

د الله جل جلاله په ورکړه کي به څه وویل سي؟ کوم کریم ذات چي داسي ورکړه ورکوي او نه اخستل ځني سخته محرومتیا ده او لوی تاوان دئ.

رسول الله ﷺ د مصیبت په وخت کي لمونځ کاوه

٥ - عن خذیفة رضي الله عنه قال کان رسول الله ﷺ اذ حزبه امر فزع الی الصلوة(٩).

ژباړه: د حضرت خذیفة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي نبي ﷺ ته به کله یو سخت کار پېښ سو نو دستي به د لمانځه و لوري ته متوجه سو.

(٨) ترغیب.
(٩) اخرجه ابو داؤد و ابن جریر کذا في الدر المنثور.

فایده: لمونځ کول د الله ﷻ لوی رحمت دئ، نو د هر مصیبت په وخت کي و لمانځه ته متوجه کېدل د الله ﷻ د رحمت و لوري ته متوجه کېدل دي. کله چي د الله ﷻ مرسته ملګرې او کومکي سي نو بیا د پرېشانی او مصیبت څه امکان سته؟ پورتنی مضمون په ډېرو احادیثو کي په مختلفو طریقو سره راغلی دئ. اصحاب کرامو د نبي ﷺ پر هر قدم تابعداري کوونکي وه د دوی مبارکانو څخه هم دغه شی رانقل سوی دئ.

حضرت ابو ذر رضی الله عنه فرمایي، چي: کله به سېلۍ سوه نو نبي ﷺ به ژر و مسجد ته تشریف یووړی او تر څو چي به سېلۍ نه وه ارامه سوې نو د مسجد څخه به نه راوتی. په همدې ډول چي کله به لمر یا سپوږمۍ ترندي ونیول هم به نبي علیه السلام د مسجد و لوري ته متوجه سو.

حضرت صهیب رضی الله عنه د نبي ﷺ څخه روایت کوي، چي نور انبیآء (علیهم السلام) به هم د پریشانۍ په وخت کي د لمانځه و لوري ته متوجه کېدل.

حضرت ابن عباس رضی الله عنه د یوه سفر څخه پر لاوي و، یو چا خبر ورکړی چي زوی دي مړ سو. نو دی د اوښ څخه راکښته سو دوه رکعته نفل یې وکړه، بیا یې انا لله وَانا الیه رَاجِعُوْن ووایه او بیا یې وویل: ما هغه څه وکړه، چي: الله ﷻ یې امر راته کړی دئ. ځکه الله ﷻ فرمایي: وَ استَعِیْنُوا بِالصبرِ وَ الصلوة ! په همدې ډول یوه بله قصه هم د ده څخه رانقل سوې ده، چي ابن عباس رضی الله عنه یو ځای تشریف وړی پر لاري یو چا خبر ورکړی چي ستا ورور (قثم) مړ سو نو دی د لاري یو طرفته سو دوه رکعته نفل یې وکړه او په التحیات کي یې تر ډېره وخته پوري دعاوي وکړي بیا پر اوښ سپور سو او دا آیات یې ووایه: وَاستَعِیْنُوا بِالصبرِ وَالصلوة وَ اِنَّها لَکبِیرَةٌ اِلا عَلَي الخَاشِعِیْن.

ژباړه: په صبر او لمانځه سره کومک وغواړئ بېشکه لمونځ ګران دئ مګر پر هغه کسانو ګران دئ چي زړونه یې د خشوع (عاجزۍ) څخه ډک وي. د خشوع بیان په دریم فصل کي په تفصیل سره را رون دئ.

د ده مبارک یوه بله قصه هم راغلې ده، چي د رسول الله ﷺ د بیبیانو څخه یوه وفات سوه کله چي ده ته خبر ورسېدی نو دی پر سجده سو چا پوښتنه ځني وکړه چي ولي پر سجده سوې؟ ده مبارک ورته وویل چي نبي ﷺ فرمایلي دي: کله چي یو څه قصه پېښه سي نو

تاسو په لمانځه مشغول سئ نو د مؤمنامو مور چي وفات سوه تر دې به نو کله لويه ښېښه وي[۱۰].

د حضرت عبادة رضي الله عنه د مرګ وخت چي کله نژدې سو نو ده مبارک په دغه ځای کي ناستو خلګو ته وويل: زه تاسو د دې څخه منعه کوم چي په ما پسي وژاړئ، بلکي کله چي زما روح ووزي نو تاسو د لمانځه د ټولو ادابو د خيال ساتلو سره په ښه ډول اودس تازه کړئ او بيا مسجد ته ولاړ سئ دوه رکعته لمونځ وکړئ او ما ته د مغفرت او بخښني دعا وکړئ، ځکه الله جل جلاله فرمايي: وَ اسْتَعِيْنُوْا بِالصبْرِ وَ الصلوة.

تر دې وروسته ما قبر ته ورسوئ.

د حضرت ام کلثوم رضي الله عنها خاوند حضرت عبد الرحمان رضي الله عنه ناروغه و، يوه ورځ داسي ناروغه سو چي بېهوښي پر راغله خلګو فکر وکړ، چي وفات سو. حضرت ام کلثوم رضي الله عنها ولاړه سوه دوه رکعته لمونځ يې وکړ، کله چي فارغه سوه نو عبد الرحمان رضي الله عنه بېرته يو څه ارام سوی و. عبدالرحمان رضي الله عنه و خلګو ته وويل چي خير کې زه د مرګ په ډول سوی وم؟ خلګو ورته وويل: هو! ده ورته وويل چي ما ته دوې ملائکي راغلې، راته وې ويل: درځه د اَحْكَمُ الْحَاكِمِيْن په دربار کي ستا فيصله کېدونکې ده. زه ورسره ولاړم يو ځای ولاړو يوه دريمه ملائکه راغله دوی دواړو ته يې وويل تاسو بېرته ولاړې سئ، دی هغه څوک دئ چي نېکبختي يې د مور په نس کي ليکل سوې ده اوس به د ده اولاد د ده څخه نوري ګټي لاسته راوړي. د دې څخه وروسته عبد الرحمان رضي الله عنه يوه مياشت نور ژوند وکړ[۱۱].

حضرت نضر رضي الله عنه فرمايي: يو وخت د ورځي سخته تياره سوه نو زه په ځغاسته د حضرت انس رضي الله عنه و حضور ته ورغلم او ورته ومي ويل، چي: د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کي هم داسي حالت راتلی؟ انس رضي الله عنه راته وويل: په الله جل جلاله سره پنا وغواړه! د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کي چي به لږ هوا تېزه سوه مونږ به چابک مسجد ته ولاړو چي قيامت خو نه راغلی[۱۲].

عبدالله بن سلام رضي الله عنه فرمايي چي کله به د نبي صلی الله عليه وسلم پر کوروالو څه تنګسيا راغله نو نبي صلی الله عليه وسلم به د لمانځه امر ورته کاوه او د آيات مبارک به يې وايه:

---

[۱۰] ابو داؤد.

[۱۱] درمنثور.

[۱۲] ابو داؤد.

وَأۡمُرۡ أَهۡلَكَ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱصۡطَبِرۡ عَلَيۡهَاۖ لَا نَسۡـَٔلُكَ رِزۡقٗاۖ نَّحۡنُ نَرۡزُقُكَۗ وَٱلۡعَٰقِبَةُ لِلتَّقۡوَىٰ (۱۳۲)(۱۳)

ژباړه: خپل کوروالو ته د لمانځه امر وکړه او خپله يې هم پابندي وکړه موږ ستا څخه رزق ګټل نه غواړو (بلکې) رزق موږ تا ته درکوو غوره پايلې د پرهيزګارۍ په برخه دي.

په يو حديث کې راځي چې يو چا ته څه اړتيا پېښه سي، چې د هغه اړه د الله ﷻ سره وي او يا د يو بنده سره وي نو ده لره په کار دي چې په ښه ډول سره اودس تازه کړي بيا دوه رکعته لمونځ وکړي بيا حمد او درود ووايي بيا لاندينۍ دعا ووايي اړتيا به يې خامخا پوره سي. دعا دا ده:

لا اِلهَ الا هُوَ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْم سُبْحَانَ اللهِ رَب الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ اَلْحَمْدُ لِلهِ رَب الْعَالَمِيْن اَسْئَلُکَ مَوْجِبَاتِ رَحْمَتِکَ وَعَزَائِمِ مَغْفِرَتِکَ وَ الْغَنِيْمَةُ مِنْ کُل بِروَ السلامَةُ مِنْ کُل اِثْم لاتَدَعْ لَنَا ذَنْبًا الا غَفَرْتَهُ يَا اَرْحَمَ الراحِمِيْنَ وَلا هَما الا فَرَجْتَهُ وَلا حَاجَةً هِيَ لَکَ رِضًا الا قَضَيْتَهَا يَا اَرْحَمَ الراحِمِيْنَ.

وهب بن منبه رحمه الله فرمايي، چې: د الله ﷻ د اړتياوو پوره کېدل يوازې د لمانځه په ذريعه پوره کېدای سي. تېرو خلګو ته چې به څه اړتيا پېښه سوه نو د لمانځه لوري ته به متوجه سول. پر چا چې به څه تکليف تېرېدی د هغه په زړه کې به لمونځ ورګرځېدی. ويل سوي دي چې په کوفه کې يو مزدور و، د خلګو پر ده باندې ډېر اعتبار و، ځکه دی زيات امانت ساتونکی و، د تجارانو پيسې او سامان به هم ده وړل. يوه ورځ په سفر تللی پر لارې يو سړي پوښتنه ځنې وکړه چې چېرته ځې؟ ده ورته وويل چې فلانکي ښار ته ځم هغه سړي ورته وويل چې زه هم هغه ښار ته ځم نو که ته پياده تللای نو خو ستا سره به تللی وای ته سپور يې ايا دا کېدای سي چې ما په يوه دينار پر غاتره سپور کړې؟ مزدور ورته وويل: هو! دواړه سپاره سول، يو څه چې ولاړل دوې لارې راغلې سپور پوښتنه وکړه چې پر کومه لاره تلل په کار دي مزدور عمومي لاره وښودل سپور ورته وويل چې دا بله لاره لنډه ده، د حيوان لپاره اسانتيا ده، واښه پکښې ډېر دي. مزدور ورته وويل چې دا لار ما تر اوسه نه ده ليدلې. سپور ورته وويل، چې: زه څو واره پر تللی يم. مزدور ورته وويل: ښه دئ کله چې پر هغه لاره روان سول، يو څه چې ولاړل هغه لاره يو هيبتناکه ځنګل ته ودرېده چې ډېر مړي پکښې پراته وو سپور کښته سو خنجر يې راوايستی د مزدور د قتل اراده يې وکړه، مزدور ورته وويل چې ما مه وژنه دغه حيوان او سامان يې ستا په ما کار مه لره، ستا به هم دغه سامان مقصد وي سپور ونه منل او قسم يې وکړ، چې يو ځلي به تا وژنم بيا به دغه سامان اخلم. مزدور ډېري

(۱۳) سورة طه.

زارۍ او جګې ورته وکړې خو هغه هیڅ نه منل. آخر مزدور ورته وویل، چې دومره وخت خو راکړه چې دوه رکعته نفل وکړم سپور ومنل. ده چې د لمانځه اراده وکړه پر لمانځه ودریدی سپور ورته وویل: ژر کوه. دا مړي چې پراته دي دغو ټولو د دوو رکعتو نفلو غوښتنه کول هغوی ته یې هیڅ فائده نه وکړه. مزدور لمونځ شروع کړ، الحمد لله یې وویله هیڅ سورة یې په یاد نه ورتلی هلته ظالم ورته ولاړ و، دا یې ورته وویل چې ژر کوه نابېره د مزدو پر زړه باندي دا آیات راغلی:

أَمَّن يُجِيبُ ٱلۡمُضۡطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكۡشِفُ ٱلسُّوٓءَ وَيَجۡعَلُكُمۡ خُلَفَآءَ ٱلۡأَرۡضِۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ قَلِيلٗا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴿٦٢﴾ (۱۴)

دا آیات چې یې ووایه وې ژړل، نابېره یو سپور راښکاره سو، چې د اوسپني خول یې پر سر و. دغه ظالم یې په نیزه وواهه مړ یې کړ. پر کوم ځای چې دغه ظالم پرېوتی د هغه ځای څخه د اور شغلې پورته سوې. لمونځ کوونکی بې اختیاره پر سجده پرېوتی او د الله ﷻ شکر یې ادا کړ. تر لمانځه وروسته یې د هغه سړي و لوري ته ورو ځغستل او پوښتنه یې ځني وکړه، چې د خدای لپاره دومره خو راته ووایه چې ته څوک یې او څنګه راغلی یې؟ هغه ورته وویل زه د أَمَّن يُجِيبُ ٱلۡمُضۡطَرَّ غلام یم اوس ته په امن کي یې هري خوا ته چې ځې ولاړ سه. دا خبري یې وکړې بیا ولاړی (۱۵).

په حقیقت کي لمونځ یو داسي لوی دولت دئ، چې د الله ﷻ د رضا تر څنګ د دنیا زیات مشکلات په خلاصېږي او زړه ارامتیا او قرار په پیدا کوي.

ابن سیرین رحمه الله فرمایي: که چیري ما ته اختیار راکړل سي چې جنت ته ځې او که دوه رکعته لمونځ کوې؟ نو زه به دوه رکعته لمونځ خوښ کړم، ځکه د جنت په تللو کي زما خوشحالي ده او په لمانځه کي زما د رب رضا ده. نبي علیه السلام فرمایي: هغه مسلمان د غبتې وړ دئ، چې سپک وي (یعني د کور او اولاد باریې پر اوږو نه وي) د لمانځه پوره برخه ورکړل سوې وي، رزق دومره ورکړل سوی وي، چې ګذاره په وکړي، د الله ﷻ عبادت په ښه ډول

---

(۱۴) سورة النمل الاية - ٦٢.

(۱۵) نزهة المجالس.

وکړي، په يوازيوالي کي پروت وي، ژر مړ سي، ميراث يې ډېر نه وي او نه پر ده باندي ژړېدونکي ډېر وي[٦١].

په يو حديث کي راغلي دي، چي پخپل کور کي لمونځ ډېر ډېر کوئ په کور کي به مو خير ډېر سي[١٧].

لمونځ د لاس، پښې، سترګو او غوږو ګناهونه له منځه وړي

٦- عن ابي مسلم التغلبي قال دخلت علي ابي امامة وهو في المسجد فقلت يا اباامامة ان رجلا حدثني منک انک سمعت عن رسول الله ﷺ يقول من توضا فاسبغ الوضوء غسل يدية ووجهه ومسح علي راسه واذنيه ثم قام الي صلوة مفروضة غفر الله له في ذالک اليوم مامشت اليه رجلاه و قبضت عليه يداه وسمعت اليه اذناه ونظرت اليه عيناه وحدث به نفسه من سوء فقال والله لقد سمعت من النبي ﷺ مرار[١٨].

ژباړه: ابو مسلم رحمه الله فرمايي، چي زه ابو امامة ته ورغلم دی په مسجد کي و، ما ورته وويل چي ما ته يو ملګري يو حديث رانقل کړی دئ، چي تا د رسول الله ﷺ څخه اورېدلی دی، چي نبي عليه السلام فرمايلي دي: څوک چي په ښه ډول اودس تازه کړي بيا فرض لمونځ وکړي الله جل جلاله به ده ته د دغي ورځي ټول ګناهونه وروبخښي کوم چي ده په پښو تګ ورته کړی وي، يا يې په لاس نيول کړي وي، يا يې په غوږو اورېدل کړي وي، يا يې په سترګو ليدل کړي وي او يا يې په زړه کي ورته پيدا سوي وي ټولي ګناوي ورته بخښل کېږي. حضرت ابو امامة رضي الله عنه وفرمايل زما دي په الله جل جلاله قسم وي چي دغه حديث مي په تکرار سره د رسول الله ﷺ څخه اورېدلی دئ.

فايده: دغه مضمون هم د څو اصحابانو څخه رانقل سوی دئ، لکه حضرت عثمان، ابوهريرة، انس، حضرت عبدالله صنابحي، حضرت عمرو بن عبسة رضي الله عنهم او داسي نورو اصحابانو په بېلو بېلو الفاظو سره رانقل کړی دئ. کوم مبارکان چي د کشف څښتنان دي

---

[٦١] جامع صغير.

[١٧] جامع الصغير.

[١٨] رواه احمد و الغالب علی سنده الحسن و تقدم له شواهد في الوضوء كذا في التر غيب قلت و قدروي معني الحديث عن ابي امامة بطرق في مجمع الزوائد.

هغوی ته د ګناهونو لیري کېدل هم معلومېږي لکه د حضرت امام اعظم رحمة الله علیه مشهوره قصه چي د اوداسه د اوبو په تویېدو سره به ورته معلومېدل چي کومه ګناه مینځل کېږي. د حضرت عثمان رضي الله عنه څخه روایت دئ، چي نبي علیه السلام فرمايي: څوک دي په دې سره نه مغروره کېږي یعني دا چي په لمانځه سره ګناهونه بخښل کېږي نو دی دي پر ګناه کولو باندي د لاوري نه کوي. ځکه زموږ لمونځ چي څنګه دئ که چیري یې الله جل جلاله پخپل فضل او رحم سره قبول کړي دا به د الله جل جلاله لوی انعام او احسان وي که نه نو زموږ عبادت او لمونځ خو موږ ته معلوم دئ. سره د دې چي لمونځ خامخا دا اثر کوي چي ګناهونه په وبخښل سي خو چي زموږ لمونځ لمونځ سي د دې علم یوازي الله جل جلاله ته سته چي زموږ لمونځ د لمانځه قابل دئ که یا؟

دوهمهٔ خبره دا ده، چي که څوک په دې وجه ګناهونه کوي چي زما رب کریم ذات دئ ما بخښي دا زیاته بې غیرتي ده، د دې مثال داسي دئ لکه پلار چيووایي که زما زامن دا فلانکی کار وکړي زه یې معافوم نو زامن یې د دغي خبري څخه په ګټه اخیستني د پوهي سره قصداً نافرماني کوي.

زیات لمونځ کوونکي تر شهید وړاندي جنت ته ځي

۷- عن ابي هريرة رضي الله عنه قال كان رجلان من بلي حي من قضاعة اسلما مع رسول الله صلى الله عليه وسلم فاستشهد احدهما واخر الاخر سنة قال طلحة بن عبيد الله فرأيت الموخر منهما ادخل الجنة قبل الشهيد فتعجبت لذالك فاصحبت فذكرت ذالك لنبي صلى الله عليه وسلم اوذكر لرسول الله صلى الله عليه وسلم فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم اليس قد صام بعده رمضان وصلي ستة الاف ركعة وكذاوكذا

ژباړه: د حضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ، چي د یوه قوم څخه دوه کسان یو ځای مسلمانان سول یو یې په جهاد کي شهید سو او دوهم یې یو کال وروسته وفات سو، طلحة رضي الله عنه وایي چي ما په خوب ولیدی چي وروستی مړ سوی کس تر شهید مخکي جنت ته ولاړی زه حیران سوم چي د شهید مرتبه خو ډېره لوړه وي نو نبي علیه السلام ته مي پخپله عرض وکړ او یا بل چا بیان ورته وکړ، نبي علیه السلام وفرمایل: چي د دوهم کس نیکۍ ته وګورئ څومره زیاتي سوي دي د روژې یوه میاشت روژه یې نیولې ده شپږ زره او دومره او دومره

رکعة صلوة سنة[۱۹] | رکعته لمونځ يې زيات کړی دئ.

فايده: که چيرې د ټول کال مياشتې (۲۹) ورځې حساب کړل سي او لمونځ يوازې فرض او وتر حساب سي چې شل رکعته کېږي بيا هم (۶۹۶۰) رکعته کېږي او که هغه مياشتې چې ديرش ورځې دي پرې جمعه سي او شل - شل رکعته پرې زيات سي، سنتونه او نفل هم پرې زيات سي نو بيخي تر حساب وزي.

ابن ماجه دغه قصه نوره هم په تفصيل سره بيان کړېده چې خپله خوب ليدونکی يعني طلحة ﷺ پخپله بيان کوي چې د يوه قوم څخه دوه کسان د نبي ﷺ و حضور ته راغلل دواړو يو ځای ايمان راوړ، يو ملګری يې زيات قوي او همتناکه و، په جنګ کې شهيد سو او بل ملګری يې يو کال وروسته شهيد سو. ما خوب وليدی چې زه د جنت په دروازه کې ولاړوم دوی دواړه هم هلته وو د دننه څخه يو کس راغلی، و هغه ملګري ته يې و جنت ته د تللو اجازه ورکړه، چې وروسته مړ سوی و او شهيد ملګري ته يې اجازه ورنه کړه شهيد ملګری بندپاته سو يو څه وخت وروسته بيا يو ځوک راغلی شهيد ته يې اجازه ورکړه او ماته يې وويل چې ستا لا وخت نه دئ راغلی ته بيرته ولاړ سه، ما سهار خلګو ته خوب بيان کړ، ټول خلک حيران سول چې شهيد ته ولې وروسته اجازه وسوه، په کار خو دا وه چې شهيد ته لومړی اجازه ورکړل سوې وای آخر و نبي ﷺ ته د دې خبرې بيان وسو، نبي ﷺ وفرمايل: په دې کې نو د حيرانتيا څه خبره ده؟ خلګو ورته وويل چې دغه يو کس شهيد سوی و او تر هغه بل همتناکه او غيرتي هم و، مګر دده ته وروسته و جنت ته د تلو اجازه وسوه. نبي ﷺ وفرمايل: ولې ده يو کال زيات عبادت نه و کړی؟ خلګو ورته وويل بېشکه کړی يې و، بيا نبي ﷺ وفرمايل: ده د يوه رمضان روژه زياته نه وه نيولې؟ خلګو ورته وويل بېشکه نيولې يې وه، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: ده دومره او دومره زياتې سجدې د يو کال نه وې کړې؟ خلګو ورته وويل: بېشکه کړې يې وې. نبي ﷺ وفرمايل: بيا خو نو د دوی دووتر منځ د ځمکې او اسمان فرق پيدا سو.

---

[۱۹] (رواه احمد باسناد حسن ورواه ابن ماجة و ابن حبان في صحيحه والبيهقي كلهم عن طلحة بنحوه اطول منه وزاد ابن ماجة وابن حبان في اخره فلما بينهما اطول مابين السماء و الارض كذا في الترغيب ولفظ احمد في النسخة التي بايدينا و كذا و كذا ركعة بلفظ او وفي الدر اخرجه مالك واحمد و النسائي و ابن خزيمة والحاكم و صححه و البيهقي في شعب الايمان عن عامر بن سعد قال سمعت سعدوناسامن الصحابة يقولون كان رجلان اخران في عهد رسول الله ﷺ وكان احدهما افضل من الاخر فتوفي الذي هو افضلهما ثم عمر الاخر بعده اربعين ليلة. (الحديث)، و قد اخرج ابو داود بمعني حديث الباب من حديث عبيد بن خالد بلفظ قتل احدها ومات الاخر بعده بجمعة (الحديث.

د دې ډول څخه ډېري قصې د خلکو څخه رانقل سوي دي. ابوداود هم د دوو اصحابو کرامو قصه صرف د اوو ورځو په فرق سره رانقل کړېده، چي دوهم ملګری یوه هفته وروسته مړ سو، بیا هم لومړی جنت ته ولاړی په حقیقت کي موږ ته اندازه نه ده معلومه چي لمونځ څومره قیمتي شی دئ. لنډه دا چي لمونځ د نبي عليه السلام د سترګو یخوالی ښودل سوی، د نبي عليه السلام د سترګو یخوالی په نهایي درجه د محبت نښه ده دا کوچني خبره نه ده.

په یو حدیث کي راغلي دي، چي دوه وروڼه وه، یو ورور یې مړ سو، څلوېښت ورځي وروسته دوهم پسې مړ سو، هغه ورور چي لومړی مړ سوی و هغه ډېر بزرګ و خلکو د هغه اول ستاینه شروع کړه، نبي عليه السلام پوښتنه وکړه چي دا دوهم مسلمان نه و؟ خلکو ورته وویل: مسلمان و، خود کمزوري درجې څښتن و، نبي عليه السلام وفرمایل: تاسو ته څه معلومه ده، چي دوهم ورور څلوېښت ورځي وروسته لمونځ نه و کړی په دغو لمونځو سره کومي درجې ته ورسېدی. د لمانځه مثال د یوې ژوري ویالې دئ، چي اوبه یې خوږې وي او دغه ویاله په دروازه کي تېره سوې وي، سړی د ورځي پنځه واره پکښې لمبېږي ایا د دغه سړي پر بدن به خیره پاته سي؟ بیا نبي عليه السلام وفرمایل: تاسو ته څه معلومه ده دغه لمونځونه چي ده وروسته وکړه، دی یې تر کومه ځایه ورساوه؟

لمونځ دمنځنیو وختونو ګناهونه لمنځه وړي

۸- عن ابن مسعود رضي الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم انه قال يبعث مناد عند حضرة كل صلوة فيقول يا بني آدم قوموا فاطفئوا ما اوقدتم علي انفسكم فيقومون فيتطهرون و يصلون الظهر فيغفرلهم ما بينهما فاذا حضرت العصر فمثل ذالک فاذا حضرت المغرب فمثل ذالک فاذا حضرت العتمة فمثل ذالک فينامون

ژباړه: ابن مسعود رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روایت کوي چي، نبي عليه السلام وفرمایل: کله چي د لمانځه وخت سي نو یوه ملائکه اواز وکړي، چي: اې د آدم اولاده! ولاړ سئ لمونځ وکړئ هغه اور چي پخپلو ګناهونو مو پر ځان بل کړی دئ، په لمانځه یې مړ کړئ نو (دیندار) خلک ولاړ سي، د ماپښین لمونځ وکړي، کوم ګناهونه چي د سهار څخه تر ماپښین پوري یې کړي وه هغه ټول وبخښل سي، په همدې ډول د مازیګر، ماښام او ماخوستن په وخت کي داسي کېږي د دې څخه وروسته خلک په خوب مشغول سي، ځیني خلک (د زنا، غلا او داسي نورو بدو کارو) و لوري ته روان سي،

فمدلج في خير ومدلج في شر[۲۰].

ځيني خلک د نېکو کارو (لکه لمونځ وظيفه او داسي نورو کارونو) ولوري ته روان سي.

فايده: دغه مضمون د حديثو په کتابو کي زيات راغلی دئ، چي الله ﷻ پخپله مهرباني سره د لمانځه په وجه ټوله ګناهونه بخښي. ځرنګه چي په لمانځه کي استغفار موجود دئ، نو په دغه بخښنه کي صغيره او کبيره ګناهونه دواړه داخل دي، په دې شرط سره چي په زړه کي يې پښيماني موجوده وي. پخپله الله ﷻ فرمايي:

وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ ٱلَّيۡلِۚ إِنَّ ٱلۡحَسَنَٰتِ يُذۡهِبۡنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ ذَٰلِكَ ذِكۡرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ ﴿١١٤﴾[۲۱]

لکه په دريمه شمېره حديث کي چي تير سو. حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه يو مشهور صحابي دئ، دی مبارک فرمايي: کله چي د ماخوستن لمونځ وسي نو خلک پر درو ډلو ووېشل سي: يوه هغه ډله ده چي دغه شپه ورته نعمت، ګټه او نېکي ده دا هغه خلک دي چي د شپې د فرصت ځخه ګټه اخلي کله چي خلک په ارام او راحت مشغول سوه دوی لمونځونه کوي، د دوی شپه د دوی لپاره د اجر او ثواب جوړه سي. دوهمه هغه ډله ده چي د شپې يوازي والی غنيمت ګڼي د شپې په ګناهونو مشغول سي، د دوی لپاره دغه شپه وبال ده. درېيمه هغه ډله ده، چي د ماخستن لمونځ وکړي بيده سي د دوی لپاره دغه شپه نه عذاب ده او نه وبال ده، دوی نه ځه وګټل او نه يي تاوان وکړ[۲۲].

الله ﷻ د لمونځ کوونکي ذمه وار دئ

۹- عن ابي قتادة بن ربعي رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ: قال الله تبارک و تعالي : اني افترضت علي امتک خمس صلوة و عهدت عندي عهداً انه من حافظ عليهن لوقتهن

ژباړه: ابي قتاده د نبي رضي الله عنه ځخه روايت کوي چي الله ﷻ فرمايي: ستا پر امت مي پنځه وخته لمونځ فرض کړی دئ او د دې مي د ځان سره وعده کړې ده، چي ځوک دغه پنځه وخته لمونځ په پابندۍ سره کوي زه به يې پخپله ذمه واري جنت ته داخلوم

---

[۲۰] رواه الطبراني في الكبير كذا في الترغيب.

[۲۱] سورة هود الاية (۱۱۴).

[۲۲] درمنشور.

ادخلته الجنة في عهدي ومن لم يحافظ عليهن فلا عهد له عندي(۲۳).

ځوک چي يې پروا نه کوي د هغه هيڅ ذمه واري پر ما نسته.

فايده: دغه مضمون په يو بل حديث کي هم ښه روښانه راغلی دئ، چي الله ﷻ پنځه لمونځونه فرض کړي دئ، ځوک چي بې پروايي نه پکښې کوي په ښه ډول اودس کوي او په ښه خشوع او عاجزۍ سره پخپل وخت لمونځ کوي، د الله ﷻ وعده ده چي جنت ته به يې داخلوي او ځوک چي داسي نه کوي د الله ﷻ د هغه سره هيڅ وعده نسته، خپله خوښه يې ده بخښي يې او که عذاب ورکوي. د لمانځه ځومره لوی فضيلت دئ چي په وجه يې سړی د الله ﷻ په ذمه واري کي داخلېږي. موږ وينو چي يو کمزوری حاکم و يو چا ته تسلي ورکړي او يا يې د يو شي ذمه واري واخلي هغه سړی ځومره بې پروا او خوشاله ګرځي او د هغه حاکم ځومره احسان منسي او ځومره محبت ورسره کوي. دلته په يو اسانه او بې تکليفه کار سره د دواړو دنيا و پاچا ذمه وار جوړېږي بيا هم خلګ ځني غافله او بې پروا جوړېږي په دې کي د چا هيڅ تاوان نسته خپله د ده تاوان او کم نصيبي ده.

دوه رکعته لمونځ تر زرګونو پيسو غوره دئ

۱۰- عن ابن سلمان رضي الله عنه ان رجلا من اصحاب النبي صلى الله عليه وسلم حدثه قال لما فتحنا خيبر اخرجو غنائمهم من المتاع و السبي فجعل الناس يتبايعون غنائمهم فجاء رجل فقال يارسول الله لقد ربحت ربحا ماربح اليوم مثله احد من اهل الوادي قال ويحک وما ربحت قال مازلت ابيع وابتاع حتى ربحت ثلث ماة او قية فقال

ژباړه: يو صحابي فرمايي چي کله موږ په جنګ کي خيبر فتحه کړ، خلګو خپل د غنيمت مال را ايستی په هغه کښي ډول - ډول مال و، بنديان پکښې وه. رانيول او خرڅول شروع سوه هر چا د خپلي اړتيا شيان راګرځول نور شيان يې خرڅول په دغه وخت کي يو صحابي د نبي ﷺ و حضور ته ورغلی او ورته وې ويل: يا رسول الله ﷺ ما ته نن دومره ګټه حاصله سوه، چي په دې ټوله ډله کي به چا ته نه وي حاصله سوي رسول الله په حيرانتيا پوښتنه ځني وکړه، چي ځومره ګټه دي لاسته راوړه؟ صحابي وويل يا رسول الله ﷺ ما رانيول او خرڅول کول آخر ما ته درې سوه

)۲۳(كذا في الدرالمنشور برواية ابي داود وابن ماجة وفيه ايضاً اخرج مالک و ابن ابي شيبة واحمد و ابي داؤد و النسائي وابن ماجة و ابن حبان و البيهقي عن عباده بن الصامت فذكر معني حديث الباب مرفوعًا باطول منه.

رسول الله ﷺ انا انبئک بخیر رجل ربح قال ماهو یارسول الله؟ قال رکعتین بعد الصلوة)۲۴(.

اوقيې سپين زر راپاته سوه، رسول الله ﷺ ورته وويل: زه تا ته تر دې زياته ګټه دروښيم؟ صحابي ورته وويل: ښيخي يې راوښيه يا رسول الله ﷺ! رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: تر فرضو وروسته دوه رکعته نفل کوه.

فايده: يوه اوقية څلويښت درهمه کېږي او يو درهم څلور آنې کېږي، چي توله درې زره روپۍ کېږي. (د هندي روپو حساب د افغانۍ په لحاظ لس درهمه اووه مثقاله سپين زر کېږي، يو مثقال سپين زر په شپېته افغانۍ دي چي تول تر يو سلو دوه زره يو څه زياتي کېږي). د دې په مقابل کي د دواړو جهانو پاچا حضرت محمد ﷺ و فرمايل، چي: دا خو هيڅ ګټه نه ده، بلکي حقيقي ګټه هغه ده چي نه ختمېدونکې وي کي چيري په حقيقت کي زموږ ايمان داسي سي چي د دوو زرو روپو په بدله کي دوه رکعته نفل غوره کړو نو د ژوند رښتيني خوند به واخلو. ځکه لمونځ لوی دولت دئ همدا وجه ده، چي رسول الله ﷺ په لمانځه کي د سترګو يخوالی ښودلی دئ او د ژوند په آخر کي يعني د رخصتېدو په وخت کي يې هم وصيت د لمانځه په پابندۍ سره وو)۲۵(.

دغه وصيت په زياتو احاديثو کي راغلی دئ، چي يو د هغو څخه د ام سلمی رضي الله عنها روايت دئ. دا مبارکه وايي چي رسول الله ﷺ په هغه وخت کي چي د خولې څخه يې پوره الفاظ نه وتل د لمانځه د اهتمام او د غلامانو د حق ورکولو وصيت کاوه. حضرت علي رضي الله عنه هم دا روايت رانقل کړی دئ، چي رسول الله ﷺ په آخر د عمر کي د لمانځه حکم کاوه او د غلامانو د حق ورکولو په اړه يې د الله جل جلاله څخه د وېرېدو حکم کاوه[۶۲].

نبي ﷺ يو ځلي د نجد و لوري ته د جهاد لپاره لښکر وليږی، چي ډېر ژر راستون سو او ډېر د غنيمت مالونه يې د ځان سره راوړل، خلک ډېر حيران سوه چي په دومره لږ وخت کي يې دومره زياته کاميابي او مالونه راوړل. نبي ﷺ وفرمايل: چي زه تاسو ته تر دوی زياته ګټه کوونکې ډله وښيم؟ هغه کسان دي چي د سهار لمونځ په جماعت اداء کړي پر هغه ځای کښېني کله چي لمر راوختی د اشراق دوه رکعته نفل وکړي، دغه کسان تر هغو کسانو په لنډ وخت کي زياته ګټه کوي.

)۲۴(اخرجه ابوداؤد وسکت عنه المنذري.

)۲۵(کنزالعمال.

۶۲ جامع الصغير.

حضرت شفیق بلخي رحمه الله یو مشهور صوفي او بزرګ دئ، دی مبارک فرمایي چې موږ د پنځو شیانو لټه وکړه هغه په پنځو وختو کي پیدا سوه: د روژې برکت مو د ځاښت په لمانځه کي پیدا کړ، د قبر رڼا مو د تهجد په لمانځه کي پیدا کړه، د نکیر او منکر جواب مو د قران په تلاوت کي پیدا کړ، د پل صراط اسانه تېرېدل مو په روژه او صدقه کي پیدا کړ او د قیامت په ورځ د سختي ګرمۍ څخه د عرش سیوري مو په یوازي والي کي پیدا کړ[27].

د لمانځه په اړه څلوېښت حدیثونه

د حدیثو په کتابو کي د لمانځه د فضیلت لپاره ډېر حدیثونه راغلي دي د هغو ټولو جمعه کول ګران کار دئ، خو صرف د برکت لپاره د څو حدیثونو ترجمه لیکم.

۱- نبي ﷺ فرمایي: الله ﷻ زما پر امت لومړی لمونځ فرض کړی دئ او د قیامت په ورځ به لومړی د لمانځه پوښتنه کېږي.

۲- د لمانځه په باره کي د الله ﷻ څخه ووېرېږئ، د لمانځه په باره کي د الله ﷻ څخه ووېرېږئ، د لمانځه په باره کي د الله ﷻ څخه ووېرېږئ.

۳- د بنده او شرک په منځ تو پیر یوازي لمونځ دئ.

۴- د اسلام نښه لمونځ دئ څوک چي زړه فارغه کړي، د وختونو لحاظ وساتي او د ټولو مستحباتو سره لمونځ اداء کړي هغه مؤمن دئ.

۵- الله ﷻ تر ایمان او لمانځه هیڅ شی بهتر نه دئ فرض کړی، که چیري الله ﷻ تر لمانځه بل غوره شی فرض کړی وای نو ملائکو ته به یې د هغه د کولو امر کړی وای، حال دا چي ملائکي شپه او ورځ پر رکوع او سجده دي.

۶- لمونځ د دین ستون دئ.

۷- لمونځ د شیطان مخ توروي.

۸- لمونځ د مؤمن نور دئ.

۹- لمونځ تر جهاد بهتر دئ.

۱۰- کله چي مؤمن پر لمانځه ودرېږي نو الله ﷻ خپله توجه د ده و لوري ته وکړي او کله چي د لمانځه څخه لیري سي د خالق توجه هم ځني لیري سي.

[27] نزهة المجالس.

۱۱- کله چي کوم اسماني آفت نازلېږي نو د مسجد د اباد وونکو څخه لیري وي.

۱۲- که کوم لمونځ کوونکی د یو څه وجي څخه دوزخ ته ولاړ سي نو د دوزخ اور به د ده د سجدې ځایونه نه سوځي.

۱۳- الله ﷻ د سجدې پر ځایونو باندي اور حرام کړی دئ.

۱۴- الله ﷻ ته تر ټولو خوښ لمونځ دئ چي پخپل وخت کي اداء سي.

۱۵- الله ﷻ ته د بنده په ټولو حالتونو کي دا حالت ډېر خوښ دئ چي پر سجده پروت وي او تندی پر مځکه مږي.

۱٦- د الله ﷻ سره د بنده نژدېوالي په سجده سره کېږي.

۱۷- د جنت کیلي لمونځ دئ.

۱۸- کله چي بنده د لمانځه لپاره ودرېږي نو د جنت دروازې خلاصي سي د ده او الله ﷻ تر منځ پردې لیري سي تر هغه وخته پوري چي په ټوخي او یا بل شي سره مشغول کېږي.

۱۹- لمونځ د شهنشاه دروازه ټکوي او دا قاعده ده چي څوک دروازه ټکوي آخر هغه ته دروازه خلاصېږي.

۲۰- د لمانځه مرتبه په دین کي داسي ده لکه د سر مرتبه په بدن کي.

۲۱- لمونځ د زړه نور دئ څوک چي زړه نوراني کول غواړي نو د لمانځه په ذریعه دي یې جوړ کړي.

۲۲- څوک چي په ښه ډول اودس تازه کړي په ښه خشوع او عاجزۍ سره دوه یا څلور رکعته فرض یا نفل لمونځ وکړي او د الله ﷻ څخه د ګناهونو بخښنه وغواړي الله ﷻ ګناهونه وربخښي.

۲۳- د مځکي پر کومه برخه چي د الله ﷻ یاد په لمانځه کي کېږي هغه برخه د مځکي پر نورو برخو فخر کوي.

۲۴- څوک چي دوه رکعته لمونځ وکړي او د الله ﷻ څخه دعا وغواړي الله ﷻ یې دعا قبلوي دغه دعا کله ژر قبولہ سي او کله د څه مصلحت پر بنسټ یو څه وخت وروسته قبوله سي خو خامخا قبلېږي.

۲۵- څوک چي په یوازیوالي کي دوه رکعته نفل وکړي چي د الله ﷻ او د ملائکو پرته بل څوک نه وي نو ده ته د دوزخ څخه د خلاصون اجازت نامه ورکړل سي.

۲٦- څوک چي یو فرض لمونځ ادا کړي نو د الله ﷻ په نزد یې یوه دعا قبلېږي.

جوړول ګران کار دی. ددې لپاره د هغو شخه يو شی چې تر ټولو ډیر ضروري وي ماته يې راوښيه چې زه هغه شی کلک ونیسم او په هر وخت او هر ځای کښې يعني د تلو، ګرزېدو، ولاړېدو او د کښېناستو په وختونو کښې يې کوم.

په يو حديث شريف کښې راغلي دي چې څلور شيان دي چې هغه وچاته ورکړل سي نو هغه ته ددين او دنيا ښيګڼې ورکړل سوي: يو د هغو څخه هغه ژبه ده چې په ذکر کولو اخته وي دوهم هغه زړه دئ چې په شکر کښې اخته وي دريم هغه بدن دی چې تکليفونه پر ځان وړي، څلورم هغه ښځه ده چې په خپل نفس او د خاوند په مال کښې خيانت نه کوي. په نفس کښې خيانت دادئ چې په يو ډول بد اعمالو کښې اخته سي.

د رطب اللسان څخه مراد زياتو علماؤ د ذکر ډېر والی ليکلی دی اودا په عام ډول په خبرو کښې استعماليږي او زموږ په اصطلاح کې هم پيژندل سوی دی چې څوک د چا ستاينه او يادول ډېر ډېر کوي نو دا ويل کيږي چې د فلانی سړی په ستاينه او يادولو کښې رطب اللسان دی خو د عاجز بنده (مولانا محمد ذکريا صاحب) په خيال کښې يو بل مطلب هم کېدای سي هغه دا چې د چا چې د چاسره عشق او محبت وي د هغه د نوم په اخيستلو سره د هغه په خوله کښې يو ډول خوند محسوسيږی د چا چې د عشق او محبت سره څه اړه وي نو هغوي ددې څخه برخمن دي په همدې وجه مطلب دادی چې په داسي خوندسره د الله پاک نوم واخيستل سي چې په خوله کې خوند پيدا سي ماخپل ځينی بزرګان ډېر ليدلي دي چې د په زور ذکر کولو په وخت کښې داسي تازه سي چې ناست کسان هم ور څخه احساسولای سي او په خوله کښې يې داسي او به راسي چې هر څوک يې محسوسولای سي خو دا هغه وخت په لاس راځي چې کله په زړه کښې خوږ، خوږ درد او محبت وي او ژبه هم په ډېر ذکر کولو سره بلده سوي وي.

په يو حديث شريف کښې راغلي دي چې د الله ﷻ سره د محبت علامه د هغه د ذکر سره محبت دی او د الله ﷻ د بغض او د ښمنی علامه د هغه د ذکر سره بغض او د ښمني ده.

حضرت ابو الدرداء ؓ فرمايي: د کومو خلګو ژبي چې د الله ﷻ په ذکر سره تر او تازه او سيږي نو هغوی به و جنت ته په خندا سره داخليږي.

د حديثو په کتابو کي د لمانځه د فضيلت په اړه ډېر حديثونه راغلي دي، خو دلته پر دغو څلوېښتو حديثو باندي بسنه وسوه که څوک دغه څلوېښت حديثونه ياد کړي د څلوېښتو حديثونو فضيلت به يې لاسته راوړی وي. اصلي خبره دا ده چي لمونځ داسي لوی دولت دئ، چي په ارزښت به يې هغه څوک پوهېږي چي خوند يې څکلی وي. د دې دولت وجه رسول الله ﷺ لمونځ د خپلو سترګو يخوالي ښودلی دئ، همدا وجه وه چي رسول الله ﷺ د شپې زياته برخه په لمانځه کي تېروله. همدا وجه وه چي رسول الله ﷺ د وفات په وخت د لمانځه وصيت کاوه او د لمانځه پر کولو يې ټينګار کاوه. په زياتو حديثو کي راغلي دي، چي رسول الله ﷺ فرمايي: اتقوا الله في الصلوة. يعني په لمانځه کي د الله ﷻ څخه ووېرېږئ.

حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه روايت کوي، چي نبي ﷺ فرمايي: په ټولو عملونو کي ما ته لمونځ زيات خوښ دئ.

يو صحابي فرمايي: چي زه د نبوي مسجد و څنګ ته تېرېدمه، رسول الله ﷺ پر لمانځه باندي ولاړ و، زما هم شوق وسو نيت مي پسې وتړی رسول الله ﷺ سورة بقره ولوستل فکر مي وکړ، چي پر سلو آياتو باندي به رکوع ته ولاړ سي کله چي رسول الله ﷺ سل اياتونه پوره کړل، رکوع يې ونه کړه بيا مي فکر وکړ، چي پر دوه سوه آياتونو باندي به رکوع وکړي خو نه يي وکړه بيا مي فکر وکړ، چي د سورة پر پای به رکوع وکړي کله چي سورة بقرة خلاص سو نو نبي ﷺ څو واري دا کلمة وويل: اللهم لک الحمد، اللهم لک الحمد. او سورة آل عمران يې شروع کړ، ما فکر وکړ، چي د دې سورة په ختم سره به نو رکوع وکړي نبي ﷺ چي آل عمران سورة خلاص کړ، درې واري يې وويل: اللهم لک الحمد بيا يې سورة مآئده شروع کړ، سورة مآئده چي يې خلاص کړ، پر رکوع سو په رکوع کښي يې سبحان ربي العظيم وايه او يو شی يې بل هم وايه چي زه نه سوم په پوه بيا پر سجده سو سبحان ربي الاعلي يي وايه او يو شی يې بل هم ورسره وايه بيا دوهم رکعت ته ولاړ سو، سورة انعام يې شروع کړ، ما د نبي ﷺ سره د لمانځه کولو توان د لاسه ورکړ، مجبوره سوم راغلم. نبي ﷺ په لومړي رکعت کي تقريباً پنځه سپارې وويلي بيا د نبي ﷺ تلاوت په ډېره ارامتيا سره و په تجويد (ترتيل) سره يې هر آيات جلا جلا لوستی، نو په دې ډول به رکعت څومره اوږد سوی وي په همدې وجه به د نبي ﷺ په پښو کي د لمانځه پر وخت پاړسوب پيدا سو، خو د کوم شي خوند چي زړه ته تېر سي نو په هغه کار کي بيا هر ډول تکليف مشکل نه دئ.

۲۷- څوک چي پنځه وخته لمونځ په ښه ډول ادا کوي د رکوع، سجدې او اوداسه ښه اهتمام کوي نو جنت ورته واجب دئ او دوزخ پر حرام دئ.

۲۸- کوم مسلمان چي د پنځو لمونځو پابندي کوي شيطان ځني وېرېږي او کوم څوک چي په لمانځه کي بې پروايي کوي شيطان باندي دلاوره سي او د ده و غولولو ته يې طمعه پيدا سي.

۲۹- تر ټولو بهترين عمل په اول وخت کي لمونځ کول دي.

۳۰- لمونځ د پرهيزګار قرباني ده.

۳۱- د الله ﷻ په نزد تر ټولو غوره عمل په اول وخت کي لمونځ کول دي.

۳۲- سهار چي څوک لمانځه ته ځي په لاس کي يې د ايمان بيرغ وي څوک چي بازار ته ځي په لاس کي يې د شيطان بيرغ وي.

۳۳- د ماپښين تر لمانځه مخکي د څلورو رکعتونو ثواب داسي دئ لکه د تهجد د څلورو رکعتونو.

۳۴- کله چي بنده پر لمانځه ودرېږي د الله ﷻ رحمت د هغه و لوري ته متوجه سي.

۳۵- د ماپښين تر لمانځه مخکي د څلورو رکعتو ثواب د تهجد د لمانځه د ثواب سره برابر حسابېږي.

۳۶- تر ټولو بهترين لمونځ د شپې د نيمايي لمونځ دئ خو د دې کوونکي ډير کم دي.

۳۷- ماته جبراييل عليه السلام راغلی او وې ويل: اې محمد ﷺ! هر څومره چي ژوندييې آخر مرګ دئ د هره چاسره چي محبت کوې آخر بېلتون دئ. هر ډول عمل چي وکړې (يعني ښه عمل وي او که بد وي) بدله يي خامخا سته په دې کي هيڅ شک نسته، چي د مؤمن شرافت او عزت د تهجد په لمانځه کي دی او د مؤمن عزت د خلګو څخه بې نيازي ده.

۳۸- د شپې په آخر کي دوه رکعته نفل تر ټوله دنيا بهتر دئ که زه نه وېرېدای چي زما پر امت به ګرانه سي نو پر خپل امت به مي فرض کړي وای.

۳۹- د تهجد لمونځ خامخا کوئ، چي تهجد د صالحانو طريقه ده او د الله ﷻ د نزدېکت سبب دئ، د تهجد لمونځ د ګناهونو څخه منعه کوونکی دئ او د ګناهونو د بخښني ذريعه ده او بدن هم پياوړی ساتي.

۴۰- الله ﷻ فرمايي: اې د آدم اولاده! ته د ورځي په شروع کي د څلورو رکعتونو څخه مه ناتوانه کېږه زه به ټوله ورځ ستا کارونه پوره کوم.

الله ﷻ دي پخپل فضل سره د داسي مبارکو انسانانو په برکت پر ما ګنهکار بنده باندي ورحمېږي. دا نو د الله ﷻ دعامي مهرباني څخه لیري ده؟

د خونده په یوې ډکي او عبرتناکي قصې باندي دا فصل ختموم:

حافظ ابن حجر رحمه الله په منبهات کي لیکي: یو وار نبي ﷺ وفرمایل: زما درې شیان خوښ دي:

۱. خوشبویي.
۲. ښځي (د خپلو بیبیانو سره مینه).
۳. او زما د سترګو یخوالی لمونځ دئ.

د رسول الله ﷺ په حضور کي څو اصحابان ناست وه. ابو بکر صدیق رضي الله عنه وفرمایل: تاسو رښتیا وویل زما هم درې شیان خوښېږي:

۱. ستاسو مخ ته کتل.
۲. خپل مال تاسو ته درکول.
۳. او دا چي زما لور ستا په نکاح کښي ده.

حضرت عمر رضي الله عنه و فرمایل: رښتیا زما هم درې شیان خوښېږي:

۱. امر بالمعروف.
۲. نهي عن المنکر (یعني په ښو کارونو باندي امر کول او د بدو کارو څخه منعه کول).
۳. او زړه جامه.

حضرت عثمان رضي الله عنه وفرمایل: تاسو رښتیا وویل، زما هم درې شیان خوښېږي:

۱. وږی مړول.
۲. لوڅ ته جامه ورکول.
۳. او د قرانکریم تلاوت.

حضرت علي رضي الله عنه وفرمایل: تاسو رښتیا وویل، زما هم درې شیان خوښېږي:

۱. د مېلمنو خدمت کول.
۲. په ګرمۍ کي روژه نیول.
۳. پر دښمن باندي توره چلول.

په دغه حالت کښې جبراييل عليه السلام راغلی او وې ويل: زه الله جل جلاله رالېږلی يم که زه (جبراييل عليه السلام) په تاسو دنياوالو کي وای نو څه شي به مي خوښ وای؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: وښيه! جبراييل عليه السلام وفرمايل:

۱. ولاړورکي ته لاره ښودل.
۲. د غريب عبادت کونکي سره محبت کول.
۳. د عيال داره مسکين سره مرسته کول.

او د الله جل جلاله د خپلو بندګانو درې شيان خوښ دي:

۱. د توان سره برابر د الله جل جلاله په لاره کي مصرف (په سر وي او که په مال سره وي).
۲. د ګناه د پښېمانتيا په وخت کي ژړا کول.
۳. په لوږه باندي صبر کول.

حافظ ابن قيم رحمه الله په زاد الميعاد کي ليکي: لمونځ رزق راپورته کوي، صحت ساتي، مرضونه ليري کوي، زړه ته قوت ورکوي، مخ ښايسته او روښانه کوي، بدن ته خوشالي ورکوي، په غړو کي تازګي پيدا کوي، سستيا ليري کوي، د سينې د پراخوالي سبب ګرځي، د روح خوراک دئ، زړه روښانه کوي، د الله جل جلاله د انعام ساتونکی دئ، د الله جل جلاله د عذاب څخه د ساتلو سبب دئ، شيطان ليري کوي، د رحمان سره د نژدېوالي سبب دئ. لنډه دا چي د روح او بدن په حفاظت کي لمونځ زياته اغيزه لري او د دواړو ساتنه کوي همدا ډول د دواړو جهانو د ګټو په لاسته راوړلو کي او د دواړو جهانو د تاوانو څخه په ساتنه کي زيات خصوصيت لري.

دوهم فصل

د لمانځه پرېښودونکي لپاره عذاب چي په حديثو کي راغلی دئ

د حديثو په کتابو کي د لمانځه پرېښوونکي لپاره ډېر سخت عذابونه راغلي دي د نمونې لپاره څو حديثونه ذکروم د رښتيني پيغمبر يو ارشاد هم د باور لپاره بس دئ. خو تر خوږ نبي صلی الله علیه وسلم قربان سم چي د هر شي لپاره يې خپل امتيان په تکرار سره متوجه کړي دي د دې لپاره چي امت يې بې پروايي ونه کړي خو بدبختانه موږ د نبي عليه السلام د دې دومره ټينګار

سره سره بیا هم لمونځ نه کوو او په بې غیرتۍ او بې حیایۍ سره بې پروایي کوو او ځان د رسول الله امتي او د اسلام غوره خادم بولو.

د اسلام او کفر په منځ کې لمونځ دئ

۱- عن جابر بن عبدالله رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ بين الرجل وبين الكفرترک الصلوة (رواه احمد ومسلم) وقال بين الرجل وبين الشرک والكفر ترک الصلوة [۳۰].

ژباړه : د جابر رضي الله عنه څخه روایت دئ، چې نبي ﷺ فرمايي: لمونځ پرېښودل بنده کفرته رسوي. يو ځای د رسول الله ﷺ فرمان دئ د کفر او بنده تر منځ يوازې لمونځ دئ. په بل روايت کې فرمايي د کفر او ايمان تر منځ لمونځ پرېښودل دي.

فايده: په دغه مضمون کې څو حديثونه نور هم راغلي دي. په يو حديث کې راغلي دي چې د وريځې په ورځ لمونځ ژر کوئ، ځکه چې د لمانځه په پرېښودلو سره سړی کافر کېږي يعني دا چې داسې ونه سي چې د وريځې په وجه وخت معلوم نه سي او لمونځ به قضا سي. دې ته هم لمونځ پرېښودل ويل سوي دي. څومره سخته خبره ده چې رسول الله ﷺ لمونځ پرېښودونکي ته کافر ويلي دي که څه هم علماوو ويلي دي، چې د رسول الله ﷺ د دغه قول څخه هغه څوک مقصود دئ چې لمونځ نه کوي او ځني منکر هم وي خو د رسول الله ﷺ د وينا فکر سخت شی دئ، د هغه چا لپاره چې په زړه کې يې لږ د رسول الله ﷺ د وينا اهميت او عزت پروت وي د هغه لپاره ډېره سخته خبره ده د دې څخه علاوه د ځينو مخورو اصحابانو لکه حضرت عمر، عبد الله بن عباس، عبد الله بن مسعود رضي الله عنهم او داسې نورو مذهب دا دئ چې بېله عذره لمونځ پرېښودل کفر دئ. په امامانو کې د حضرت امام احمد بن حنبل، اسحاق بن راهوية او ابن مبارک مذهب دا دئ، چې بېله عذره لمونځ پرېښول کفر دئ. اللهم احفظنا منه[۳۱].

---

(۳۰) رواه ابوداود والنسائي ولفظه ليس بين العبد وبين الكفر الاترک الصلوة ، والترمذي ولفظه قال بين الكفر والايمان ترک الصلوة وابن ماجة ولفظه قال بين العبد وبين الكفر ترک الصلوة . كذا في الترغيب للمنذري وقال السيوطي في الدر لحديث جابر اخرجه ابن ابي شيبة واحمد ومسلم وابوداود والنسائي والترمذي وابن ماجة ثم قال واخرج ابن ابي شيبة واحمد وابوداود وصحه والنسائي وابن ماجة وابن حبان والحاكم وصححه بريدة مرفوعا العهد الذي بيننا وبينهم الصلوة فمن تركها فقد كفر.

(۳۱) ترغيب.

که چا لمونځ پرېښودی دمذهب څخه وواتی

۲-عن عبادة بن صامت رضي الله عنه قال اوصاني خليلي رسول الله ﷺ بسبع خصال فقال لا تشركوا باالله شيئا وان قطعتم او حر قتم او صلبتم ولا تتركوا الصلوة متعمدين فمن تركها متعمدا فقد خرج من الملة ولا تركبوا المعصية فانها سخط الله ولا تشربوا الخمر فانها رأس الخطايا كلها)۳۲(.

ژباړه : د حضرت عبادة بن صامت رضي الله عنه څخه روايت دئ، چي فرمايي ما ته خپل اشنای رسول الله ﷺ اووه نصيحتونه وکړه (چي څلوريې دا دي):

۱- د الله جل جلاله سره شريک مه نيسئ، که څه هم سوځل کېږې، ټوټه کېږې او په غاړه ځړېږې.

۲- لمونځ په قصده سره مه پرېږدئ، ځوک چي په قصده سره لمونځ پرېږدي د مذهب څخه ووتی.

۳- ګناه مه کوئ، ځکه په ګناه کي د الله جل جلاله ناراضي ده.

۴- شراب مه څښئ ځکه سر د هري خطا دي.

فايده: په يو بل حديث کي هم د ابو درداء رضي الله عنه څخه دغه ډول مضمون رانقل سوی دئ، چي فرمايي ما ته خپل اشنای وصيت وکړ، چي د الله جل جلاله سره شريک مه نيسه که څه هم ټوټه ټوټه کېږې او يا سوځل کېږې، لمونځ په قصده سره مه پرېږده ځوک چي په قصده سره لمونځ پرېږدي هغه د الله جل جلاله د ذمې څخه ووتی، شراب مه څښه ځکه چي د هري بدۍ کيلي ده.

که چا لمونځ پرېښودی دالله جل جلاله د ذمې څخه ووتی

۳- عن معاذ بن جبل رضي الله عنه قال اوصاني رسول الله ﷺ بعشر كلمات قال لا تشرک باالله شيئا وان قتلت او حرقت ولا تعقن والديک وان امراک ان تخرج من اهلک ومالک ولا تتركن صلوة

ژباړه : د معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دئ، چي ماته نبي ﷺ د لسو شيانو وصيت وکړ : ۱- د الله جل جلاله سره شريک په هيڅ شي سره مه نيسه که څه هم وژل کېږې او يا سوځل کېږې، ۲- مور او پلار مه زهيروه که څه هم د کور او مال څخه د وتلو امر درته وکړي، ۳- فرض لمونځ په قصد سره مه پرېږده ځکه که ځوک فرض لمونځ په

)۳۲(الحديث رواه الطبراني و محمد بن نصر في كتاب الصلوة با سنادين لابأس بهما كذا في الترغيب وهكذا ذكره السيو طي في الدر المنثور وعزاه اليهما و في مشكوة برواية ابن ماجة عن ابي درداء نحوه .

مکتوبة متعمدا فان من ترک صلوة مکتوبة فقد برئت منه ذمة الله ولا تشربن خمرا فانه رأس کل فاحشة و ایاک و المعصیة فان بالمعصیة حل سخط الله وایاک و الفرار من الزحف وان هلک الناس وان اصاب الناس موت فاثبت وانفق علي اهلک من طولک ولا ترفع عنهم عصاک ادبا و اخفهم في الله(۳۳)

قصده سره پرېږدي د الله ﷻ د ذمې څخه ووتی، ۴- شراب مه څښه ځکه شراب څښل د هر بې حیا کار سرچینه ده، ۵- ګناه مه کوه ځکه په ګناه کي د الله ﷻ ناراضي ده، ٦- د جهاد په ډګر کي تېښته مه کوه که څه هم هلاکېږې، ۷- که و خلګو ته مرګ رسېږي (لکه وبا، طاعون او داسي نور) نو ته مه تښته ټینګ ودرېږه، ۸- د خپلي شتمنۍ څخه پر خپل کور پراخي کوه، ۹- د خپلي کورنۍ څخه د ادب لکړه مه پورته کوه، ۱۰- خپله کورنۍ د الله ﷻ څخه ووېروه.

فایده: د لکړي څخه د نه لیري کولو مطلب دا دئ: چي هغوې بې پروا سي چي پلار و مور ته پروا نه لري او دا وایي چي پلار مو اګاهي نه راکوي څه چي زموږ خوښه وي هغه به کوو بلکي د شریعت په چوکاټ کي د هغوی کله کله وهل په کار دي ځکه چي زیات اولاد و نه د وهلو پرته نه سمېږي.

په اوس وخت کي خلک اول د خپلو اولادو سره ډېره زیاته مینه کوي کله چي په بدو عادتونو کي پاخه سي بیا ژاړي او حال دا چي د اولاد سره داسي محبت دښمني ده بلکي دوستي دا ده چي د بدو خبرو څخه یې منع کړي او دا د محبت پریکول ونه بلل سي چي په وهلو سره ښه اخلاق ور زده کړل سي. هوښیار سړی داسي کوي چي کله پر زوی باندي یې داني راوخیژي نو د دې لپاره چي زیاتي نه سي زوی ته نشتر ورلګوي اپرېشن ورکوي که څه هم خوابدی کېږي، خوږېږي او تښتي بیا یې هم نه پرېږدي. په ډېرو حدیثو کي دا مضمون راغلی دئ چي اولاد به د اوو کالو په عمر پر لمانځه باندي امر کوئ او د لسو کالو په عمر که لمونځ ونه کړي سزا ورکوئ.

---

(۳۳) رواه احمد والطبراني في الکبیر واسناد احمد صحیح لو سلم من الانقطاع فان عبد الرحمان بن جبیر لم یسمع من معاذ کذا في الترغیب و الیهما عزاه السیوطي في الدر ولم یذکر الا نقطاع ثم قال و اخرج الطبراني عن امیمة مولاة رسول الله ﷺ قالت کنت اصب علي رسول الله ﷺ و ضوء فدخل رجل فقال اوصني فقال لا تشرک با الله شیئا و ان قطعت و حرقت و لا تعص والدیک وان امراک ان تخلي من اهلک ودنیاک فتخله ولا تشربن خمرا فانه مفتاح کل شر ولا تترکن صلوة متعمدا فمن فعل ذالک فقد برئت منه ذمة الله ورسوله .

حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي: د ماشومانو پر لمانځه فکر کوئ او ښې خبري کول يې عادت ورجوړ کړئ. د حضرت لقمان حکيم رحمه الله وينا ده چې د ماشوم لپاره د پلار وهل داسي دي لکه د کښت لپاره اوبه)۳۴(. نبي عليه السلام فرمايي: څوک چې خپل اولاد ته ادب وښيي ترېوې کاسې خيرات غوره دئ يوه کاسه تقريباً درې نيم کيلو کېږي. په يو حديث کي راغلي دي چې پر هغه چا دي الله جل جلاله رحمت وکړي چې د خپلي کورنۍ د ادب لپاره يې لښته راځړولې وي. په يو حديث کي راغلي دي چې پلار و خپل زوی ته تر دې ښه ورکړه نه سي کولای چې د ښې لاري زده کړه ورکړي)۳۵(.

که چالمونځ قضا کړی مال اوعيال يې تباه سو

٤-عن نوفل بن معوية رضي الله عنه ان النبي صلى الله عليه وسلم قال من فاتته صلوة فکانما وتر اهله وماله[٦٣].	ژباړه: د نوفل بن معوية رضي الله عنه څخه روايت دئ چې نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: چا که لمونځ قضا کړ ګويا مال او کور يې برباد سوه.

فايده: زيات وخت داسي وي چې لمونځ د اولاد سره د بوختيا او يا د مال ګټلو په وجه قضا سي، نبي عليه السلام وښودل چې لمونځ قضا کول داسي دي لکه سړی چې د مال او اولاد دواړو څخه بېل سي يوازي پاته سي يعني څومره تاوان چې په دې سره دئ په هغه اندازه په لمانځه پرېښودو کي هم دئ څومره غم او درد چې په مال او اولاد د بربادی راځي بايد په هغه اندازه د لمانځه په قضا کي هم راسي. که يو باوري سړی ووايي چې پر دغه لاره غله دي که څوک پرې ورسي وژني يې او مال څني اخلي نو کوم څوک دلاوره به وي چې د شپې دي پر دغه لاره ورسي د شپې لا څه کوې د ورځي هم نه سي پر ورتلای او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په يوه نه، دوو نه بلکي په څو حديثو کي راغلي دي چې لمونځ هم داسي مثال لري (او موږ په دلاوري سره پر ورځو يعني لمونځ قضا کوو) موږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم رښتينوالی پخپلو درواغجنو ژبو سره کوو او حال دا چې د ده مبارک د وينا په موږ کي کوم اثر دئ؟ هر څوک پوهېږي.

)۳۴(درالمنثور.

)۳۵(جامع الصغير.

٦٣ رواه ابن حبان في صحيحه كذا في الترغيب زاد السيوطي في الدر والنسائي ايضاً قلت ورواه احمد في مسنده.

که چا د عذر پرته دوه لمونځه یو ځای کړه کبیره ګناه یې وکړه

٥- عن ابن عباس رضي الله عنهما قال قال رسول الله ﷺ من جمع بين صلوتين من غير عذر فقد اتى بابا من ابواب الكبائر[۳۷].

ژباړه: د نبي ﷺ روایت دئ، چې څوک د عذر پرته دوه لمونځونه پر یوه ځای باندي وکړي نو د لویو ګناهونو یوې دروازې ته ورسېدی.

فایده: حضرت علي رضي الله عنه فرمایلي دي، چې نبي ﷺ فرمایلي دي: په درو شیانو کې ځنډ مه کوئ:

۱- لمونځ چې وخت یې راسي، ۲- جنازه چې تیاره سي، ۳- بې واده ښځه چې جوړه یې پیدا سي (یعني ژر یې په نکاح ورکوئ) ډېر خلک داسي سته چې ځان ښه لمونځ ګذاره بولي خو په کوچنیو بهانو سره څو لمونځونه د کور وي یا د سفر وي ځای یې کوي یعني قضا یې کړي بیا یې یو ځای کوي دا ډېره لویه ګناه ده، چې بېله عذره لکه ناروغي او داسي نور لمونځ قضا کړي او بیا یې یو ځای راګرځوي او د بې وخته لمانځه هم دغه ګناه ده خلاصېدای تري نه سي.

لمونځ پرېښودونکی به د فرعون، هامان او ابی بن خلف سره وي

٦- عن عبدالله بن عمرو رضي الله عنه عن النبي ﷺ انه ذكر الصلوة يوما فقال من حافظ عليها كانت له نورا وبرهانا و نجاة يوم القيامة ومن لم يحافظ عليها لم يكن له نورا ولا برهانا ولانجاة وكان يوم القيامة مع فرعون وهامان

ژباړه: د عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روایت سوی دئ، چې یوه ورځ نبي ﷺ د لمانځه بیان کاوه وې فرمایل: څوک چې د لمانځه حفاظت کوي نو د ده لپاره به د قیامت په ورځ روښنایي وي او د حساب ورکولو پر ځای به دلیل وي او د عذاب څخه به خلاصون وي او څوک چې د لمانځه حفاظت نه کوي د ده لپاره به نه نور، نه دلیل او نه خلاصون وي او د فرعون، هامان او ابي بن

[۳۷] رواه الحاكم و قال حنش هو ابن قيس ثقة و قال الحافظ بل رواه همرة لا نعلم احداً و ثقهً غير حصين بن نمير كذا في الترغيب و زاد السيوطي في الدر الترمذي ايضاً و ذكر في اللا لي له شواهد و كذا في التعقبات وقال الحديث اخرجه الترمذي و قال حنش ضعيف ضعفه احمد و غيره والعمل على هذا عند اهل العلم فاشار بذالک الى ان الحديث اعتضد بقول اهل العلم و قد صرح غير واحد بان من دليل صحة الحديث قول اهل العلم به وان لم يكن له اسناد يعتمد علي مثله.

خلف سره به وي. | وابي بن خلف)۳۸(.

فایده: فرعون خو هر څوک پېژني چي لوی کافر دئ او د خدایی دعوه یي هم کړې وه او هامان د ده وزیر و. ابی بن خلف د مکې په مشرکانو کي د اسلام سخت دښمن و. د هجرت مخکي یې نبي ﷺ ته ویل چي زه یو آس لرم زیات یې نازوم هر شی په خورم زه به پر سپرېږم (نعوذ بالله) تا به وژنم. یو وار نبي علیه السلام ده ته وویل: زه به انشأالله تا وژنم. د احد په غزا کي یې د رسول الله ﷺ لټه کول او ویل یې که نن زما څخه رسول الله ﷺ خلاص سو نو زما خیر نسته. کله چي رسول الله ﷺ ته ورنژدې سو اصحابو کرامو وغوښتل چي د نبي ﷺ څخه یې لیري کړي، نبي علیه السلام وفرمایل چي راپرې یې ږدئ. کله چي رسول الله ته رانژدې سو رسول الله ﷺ د یوه صحابي څخه نېزه واخیستله پر ده یې واری وکړ، پر څټ یې وموښتی څټ یې یو څه وګرول سو پر آس باندي پرېوتی په څغاسته د خپل لښکر ولوري ته وتښتېدی او چیغي یې وهلي چي په الله جل جلاله قسم یادوم زه محمد ﷺ ووژلم کافرانو تسلي ورکړه چي لږ ګرول سوی یې خو ده ورته وویل چي ما ته په مکه کي محمد ﷺ ویلي وه چي زه تا وژنم په الله جل جلاله مي دي قسم وي که ده پر ما باندي د خولې اوبه پاشلي وای لا به هم زه مړ وای. ویل سوي دي چي د ده د چیغو نارې داسي وې لکه د غوا رمبارې. ابو سفیان چي په ډېر جوش او خروش جنګ ته راغلی و، ده ته یې وویل چي شرم وکړه په دومره لږ خوږ سره دومره نارې وهې. ده ورته وویل ته څه خبر یې چي زه چا وهلی یم. دا د محمد ﷺ واری دئ، زه دومره په تکلیف یم زما دي په لات او عزی سره قسم وي که دغه درد پر ټوله اهل حجاز باندي ووېشل سي نو ټوله به هلاک سي. محمد ﷺ ما ته په مکه کي ویلي وه چي زه تا وژنم د هغه وخت څخه ما ته معلومه وه چي زه به خامخا د ده په لاس مرم زه د ده څخه نه سم خلاصېدای محمد ټتت که د دغه وینا څخه وروسته پر ما باندي توکلي وای نو هم به زه مړ سوی وای. اخر دا چي و مکې ته تر رارسېدو یوه ورځ مخکي مړ سو)۳۹(.

موږ مسلمانانو ته د عبرت او غیرت خبره ده، چي هغه کافر و بیا یې هم دا یقین و، چي د نبي علیه السلام خبره رښتېنې ده زه به خامخا د ده د لاسه څخه مرم او هیڅ شک یې په دې کي نه

)۳۸(اخرجه احمد وابن حبان والطبراني كذا في الدر المنثور لسيوطي و قال الهيثمي رواه احمد و الطبراني في الكبير والاسط ورجال احمد ثقاة و قال ابن حجر في الزواجر اخرجه احمد باسناد جيد و زاد فيه قارون ايضاً مع فرعون و غيره كذا زاده في منتخب كنز برواية ابن نصر والمشكوة ايضاً برواية احمد والدارمي والبيهقي في الشعب و ابن قيم في كتاب الصلوة.

)۳۹(خميس.

درلودی. موږ نبي ﷺ په نبوت هم منو، د نبي ﷺ رښتینولي هم منو، د نبي ﷺ ویناوي رښتیا بولو، د نبي ﷺ سره د محبت دعوه هم کوو، د نبي ﷺ په امتیت فخر هم کوو خو بیا هم که په خپل ګرېوان کي سر کښته کړو موږ د نبي ﷺ په کومو ویناوو عمل کړی دئ؟ کوم شی چي نبي ﷺ عذاب ښودلی دی زموږ څومره زړونه څني رېږي؟ دا د هر چا خپله خبره ده بل څوک څه نه سي پکښې ویلای.

ابن حجر په کتاب الزواجر کي د قارون نوم هم ورسره ذکر کړی دئ، کوم څوک چي په لمانځه کي سستي کوي زیات وخت یې وجه هغه شی وي چي په فرعون، قارون، هامان او ابي بن خلف کي موجوده وه همدا وجه ده چي د دوی سره به د قیامت په ورځ یو ځای راپورته کېږي، ځکه که د چا مینه د مال او شتمنۍ سره وي نو د قارون سره به یو ځای راپورته کېږي او که د چا مینه د حکومت او پاچهۍ سره وه د فرعون سره به راپورته کېږي او که د چا مینه د وزارت، منصف او چوکۍ سره وه د هامان سره به راپورته کېږي او که د چا مینه د تجارت سره وه د ابي بن خلف سره به راپورته کېږي. کله چي دی د دغه کسانو سره راپورته سو نو بیا کوم قسم عذابونه چي په حدیث کي ښودل سوي دي دی به ورسره لاس او ګرېوان وي که څه هم په حدیث کي د علماوو خبري سته خو په دې کي هیڅ شک نسته چي د دوزخ عذاب به ورکول کېږي مګر دی به د ایمان په وجه یو وخت خلاص سي او هغه کسان چي دی ورسره راپورته سوی دئ هیڅ نه سي خلاصېدای خو دی چي خلاصېږي تر هغه وخته پوري د توان څخه وتلي عذابونه دي خدای خبر چي څو زرونو کاله به په دوزخ کي وي.

٧ - وقال بعضهم ورد في الحديث ان من حافظ علي الصلوة اكرمه الله تعالي بخمس خصال يرفع عنه ضيق العيش وعذاب القبر ويعطيه الله كتابه بيمينه ويمر علي الصراط كالبرق ويدخل الجنة بغير حساب ومن تهاون عن الصلوة عاقبه الله بخمس عشرة عقوبة خمسة في الدنيا وثلثة عند الموت وثلثة في قبره وثلثة عندخروجه من القبر فاماللواتي

ژباړه: په یو حدیث کي راغلي دي چي یو څوک د لمانځه اهتمام کوي الله جل جلاله یې پنځه ډوله عزت کوي لومړی دا چي په دنیا کي به تنګسیا څني لیري سي دوهم دا چي د قبر عذاب به څني لیري وي دریم دا چي د قیامت په ورځ به عمل نامه په راسته لاس ورکړل سي څلورم دا چي پر پل صراط به د برق په څېر تېر سي، پنځم دا چي جنت ته به بې حسابه داخل سي او څوک چي په لمانځه کي بي پروایي کوي الله جل جلاله پنځلس ډوله عذابونه ورکوي. پنځه ډوله یې په دنیا کي دي، درې ډوله د مرګ په وخت کي دي، درې ډوله عذابونه

في الدنيا فالاولي تنـزع البركة من عمره والثانية تمحي سيماء الصالحين من وجهه والثالثة كل عمل يعمله لايَأجره الله عليه والرابعة لايرفع له دعاء الي السماء و الخامسة ليس له حق في دعاء الصالحين واماالتي تصيبه عند الموت فانه يموت ذليلا و الثانية يموت جوعا والثالثة يموت عطشانا ولوسقي بحار الدنيا ماروي من عطشه واما التي يصيبه في قبره فالاولي يضيق عليه القبر حتي تختلف اضلاعه والثانية يوقدعليه القبر نارا فيتقلب علي الجمر ليلا ونهارا والثالثة يسلط عليه في القبر ثعبان اسمه الشجاع الا قرع عيناه من نار واظفاره من حديد طول كل ظفر مسيرة يوم يكلم الميت فيقول انا الشجاع الا قرع وصوته مثل الرعد القاصف يقول امرني ربي ان اضربک علي تضيع صلوة الصبح الي طلوع الشمس واضربک علي تضيع صلوة الظهر الي العصر واضربک علي تضيع صلوة العصر الي المغرب واضربک علي تضيع صلوة المغرب الي العشاء واضربک علی تضیع صلوة العشآء الي الفجر فکلما ضربه ضربة يغوص في الارض

په قبر کي دي او درې ډوله د قبر څخه د وتو په وخت کي دي. د دنيا عذابونه په دې ډول دي: لومړی دا چي د ژوند څخه به يې برکت ټول سي، دوهم دا چي د صالحانو رڼا به يې د مخ څخه ليري سي، دريم دا چي د نېکو عملونو ثواب به نه ورکول کېږي، څلورم دا چي د عا به يې نه قبليږي، پنځم دا چي د نېکو خلکو په دعاوو کي به يې حق نه وي. د مرګ په وخت کي يې عذابونه دا دي: لومړی دا چي ذليل به مړ سي، دوهم دا چي وږی به مړ سي، دريم دا چي تږی به مړ سي، که د ټولو دريابو اوبه وڅښي لا به هم اوبه نه سي. د قبر درې عذابونه دا دي: لومړی دا چي قبر به دومره باندي تنګ سي چي پوښتۍ به يې سره ورتېري کړي دوهم دا چي په قبر کي به اور ورته بل سي، دريم دا چي په قبر کي به داسي مار ورته پيدا سي چي سترګي به يې د اور وي، نوکان به يې د اوسپني وي او دومره به اوږد وي که يو ورځ مزل وکړل سي نو پای ته به يې ورسېږي اواز به يې د تالندي په څېر وي او دا به ورته وايي چي زما رب زه پر تا باندي مقرر کړی يم د سهار د لمانځه د قضاء کولو په وجه به دي تر لمر ختو پوري وهم، د ماپښين د لمانځه د قضا کېدو په وجه به دي تر ماځيګره پوري وهم، د ماځيګر د لمانځه د قضا کېدو په وجه به دي تر لمر لوېدو پوري وهم او د ماښام دلمانځه دقضا کېدو په وجه به دي تر ماخوستنه پوري وهم او د ماخوستن د لمانځه د قضا کېدو په وجه به دي تر سهاره پوري وهم، کله چي يې يو وار ووهي دغه مړی به اويا ګزه په مځکه ننوزي په دغه ډول به يې تر قيامته پوري وهي.

)۴۰(وماذکر في هذا الحديث من تفصيل العدد لايطابق جملة الخمس عشر لان المفصل اربع عشرة فقط

قبر ځخه د وتلو درې عذابونه دا دي: لومړی دا چې په سخت ډول به حساب ورسره وسي دوهم دا چې الله ﷻ به ورته په غصه وي دريم دا چې دوزخ ته به ولوېږي.
دغه عذابونه ځوارلس دي کېدای سي چې پنځلسم د روايت کوونکي هېر سوی وي. يو روايت کوونکي ويلي دي چې په مخ کي به يې درې کرښني وي په لومړۍ کرښه کي به ليکلي وي چې اې د الله ﷻ د حق ضائع کوونکي! دوهمه کرښه به يې د الله ﷻ په غصې سره خاص سوې وي په دريمه کرښه کي به ليکلي وي چې څرنګه چې تا په دنيا کي د الله ﷻ حق ضايع کړی دئ په دغه ډول به ته د الله ﷻ د رحمت ځخه نن محروم يې.

سبعين ذراعا فلا يزال في القبر معذبا الي يوم القيامة واما التي تصية عند خروجه من القبر في موقف القيامة فشدة الحساب وسخط الرب ودخول النار وفي رواية فانه يَأتي يوم القيامة وعلي وجهه ثلثة اسطر مكتوبات السطر الاول يا مضيع حق الله السطر الثاني يامخصوصا بغضب الله والثالث كما ضيعت في الدنيا حق الله فَاَيِس اليوم من رحمة الله(٤٠).

فايده: دغه حديث که څه هم ما د حديثو په عامو کتابو کي پيدا نه کړ، خو کوم عذابونه او ثوابونه چې په دې حديث کي ذکر سوي دي ډېر روايتونه يې تائيدوي چې ځيني يې مخکي تېر سوي دي او ځيني به وروسته راسي. (ان شاء الله) ځکه په لومړي حديث کي خو بې لمانځه د دين ځخه وتلی ښودل سوی دئ نو بيا هر څومره عذاب چې ورته ذکر سي لږ دئ البته دا خبره اړينه ده ټول عذابونه چې مخکي ذکر سوه او يا وروسته راځي نو موړي کس يې لايق دئ خو وروسته د دغه کس د ژغورلو په اړوند الهي فرمان د اسي دئ:

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ (٤١)

فلعل الراوي نسي الخامس عشر كذا في الز واجر لابن حجر المكي قلت و هو كذالک فان اباليث السمرقندي ذكر الحديث في قرة العيون فجعل ستة في الدنيا فقال الخامسة تمقته الخلا ئق في الدار الدنيا والسادس ليس له حظ في الدعاء الصالحين ثم ذكر الحديث بتمامه ولم يعزه احد وفي تنبيه الغافلين للشيخ نصر بن محمد بن ابراهيم السمر قندي يقال من دوام علي الصلوت الخمس في الجماعة اعطاه الله خمس خصال ومن تهاون بها في الجماعة عاقبه الله باثني عشر خصلة ثلثة في الدنيا و ثلثة عند الموت وثلثة في القبر وثلثة يوم القيامة ثم ذكر نحوها ثم قال وروي عن ابي ذر رضي الله عنه عن النبي ﷺ نحو هذا وذكر السيوطي في ذيل اللالي بعد ما اخر ج بمعناه من تحريج ابن نجار في تاريخ بغداد بسنده الي ابي هريرة قال في الميزان هذا حديث باطل ركبه محمد بن عباس على ابي بكر بن زياد نيسا بوري قلت ذكر الحافظ في المنبهات عن ابي هريرة مرفوعاً الصلوة عماد الدين و فيها عشر خصال الحديث ذكرته في الهندية و ذكر الغزالي في وقائق الاخبار بنحو هذا اتم منه و قال من حافظ عليها اكرمه الله بخمس عشرة الخ مفصلاً.

(٤١) سورة النساء الاية (٤٨).

ژباړه : الله ﷻ هغه چا ته بخښنه نه کوي چي د الله ﷻ سره شریک ونیسي او د دې پرته هره ګناه بخښي چاته چي یې خوښه سي.

د دې آیات او نورو آیاتو او حدیثونو پر بنسټ که وبخښل سي نو نېک بخته دئ.

په حدیثو کي راغلي دي چي د قیامت په ورځ به درې محکمې وي یوه محکمه د کفر او اسلام ده په دې کي په هیڅ بخښنه نه وي، دوهمه محکمه د بندګانو د حقونو ده په دې محکمه کي به و حقدار ته خامخا حق ورکول کېږي د کوم چا پر ذمه چي حق وي هغه نو د ! الله ﷻ خوښه ده چي ځني اخلي یې او که یې و حقدار ته د خپل رحم له خوا ورکوي او مجرم معافوي، دریمه محکمه د الله ﷻ د حقونو ده په دې مجکمه کي به مجرم ته خامخا خپله سزا ورښودل کېږي او د بخښني دروازې به خلاصي وي چا ته چي د الله ﷻ خوښه سي بخښي به یې او چا ته چي یې خوښه سي سزا به ورکوي. د دې څخه علاوه نور ډولونه عذابونه او ثوابونه هم په نورو کتابو کي راغلي دي. د بخاري شریف په یو حدیث کي راغلي دي چي د رسول الله ﷺ مبارک عادت دا و، چي د سهار د لمانځه وروسته به یې د اصحابو څخه پوښتنه کول چي چا خوب لیدلی دئ؟ که به چا خوب لیدلی و نو بیان به یې وکړ، نبي ﷺ به یې تعبیر ورته بیان کړ. یوه ورځ د عادت سره سم نبي ﷺ پوښتنه وکړه بیا یې وفرمایل: چي ما خوب لیدی چي دوه کسان راغله زه یې د ځان سره بوتلم. نبي ﷺ یو اوږد خوب بیان کړ، چي د جنت او دوزخ مختلف احوال یې پکښې بیان کړه ځیني عذابونه یې بیان کړه او د یوه کس بیان یې داسي وکړ، چي سر به یې په ډبره چختاښدی او په دومره زور سره به په ډبره ویشتل کېدی چي ډبره به د ډېره زوره څخه څرخیده کله چي به ډبره بېرته را اخیستل کېده د ده سر به بیرته په لومړی ډول جوړ سو بیا دوهم ځل په ډبره ویشتل کېدی دا معامله تر پایه ورسره کېده، نبي ﷺ فرمایي چي ما د خپلو ملګرو څخه پوښتنه وکړه چي دا څوک دي؟ ملګرو راته وویل چي دا هغه څوک دئ چي قران یې ویلی و او پرې ایښی یې و، لمونځ به یې پرېښودی بیده به سو. په همدې ډول په یو حدیث کي په ورته ډول قصه راغلې ده، چي نبي ﷺ د یوې ډلي سره داسي معامله لیدلي وه، بیا یې د جبرییل ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي دا څوک دئ؟ جبرییل ﷺ په جواب کي ورته وویل، چي: دا هغه څوک دئ چي په لمانځه کي یې سستي کول(۴۲).

(۴۲) ترغیب.

مجاهد رحمه الله فرمايي: کوم خلک چي د لمانځه د وختو خيال وساتي داسي برکت به پکښي وي لکه د ابراهيم عليه السلام او د ده په اولادو کي چي برکت و (۴۳).

حضرت انس رضي الله عنه د رسول الله عليه السلام روايت کوي چي څوک په اخلاص ايمان لري، عبادت کوي، لمونځ کوي او زکوة ورکوي د دنيا څخه به په داسي حالت کي رخصت سي چي الله جل جلاله به ځني راضي وي (۴۴). حضرت انس رضي الله عنه د رسول الله عليه السلام څخه روايت کوي چي الله جل جلاله فرمايي: زه چي و کوم ځای ته د عذاب د لېږلو اراده وکړم په هغه ځای کي داسي خلک ووينم چي مسجدونه ابادوي، د الله جل جلاله د رضا لپاره پخپلو منځو کي محبت سره کوي، د شپې په آخر کي د الله جل جلاله څخه بخښنه غواړي نو زه عذاب بند کړم (۴۵).

حضرت ابو درداء رضي الله عنه و سلمان فارسي رضي الله عنه ته يو خط واستوی په هغه کي يې وليکل: په مسجدو کي زيات وخت تېروه ما د نبي عليه السلام څخه اورېدلي دي، چي مسجد د متقي (پرهيزګاره) کور دئ، الله جل جلاله وعده کړې ده څوک چي زيات وخت په مسجد کي تېروي زه پر هغه رحم کوم، ارام ورکوم، د قيامت په ورځ به د پل صراط لاره ورته اسانه کوم او خپله رضا به ورنصيب کړم. حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د رسول الله عليه السلام څخه روايت کوي چي مسجدونه بلاکيفه د الله جل جلاله کورونه دي څوک چي د الله جل جلاله و کور ته ورسي نو الله جل جلاله يې خامخا اکرام کوي. حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت کوي چي څوک د مسجد سره محبت کوي الله جل جلاله د هغه سره محبت کوي. حضرت ابوهريرة رضي الله عنه د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت کوي چي کله مړي په قبرو کي کښېښودل سي نو ورسره تللي خلک لا بيرته نه وي ځني راغلي چي ملائکي يې د امتحان لپاره ورته راسي. نو که چيري مؤمن و لمونځ يې د سر طرفته ودرېږي، زکوة يې راسته طرفته ودرېږي، روژه يې چپه طرف ته ودرېږي او پاته ښه کارونه يې د پښو طرفته ودرېږي هيڅ څوک نژدې نه سي ورتلای ملائکي ليري ورته ودرېږي سوال او جواب ځني وکړي (٦۴).

يو صحابي فرمايي چي د نبي عليه السلام کورنۍ ته به د خرڅ څه تنګسيا پيښه سوه نو ده مبارک به د لمانځه امر ورته کاوه او دا آيات به يې تلاوت کړ:

---

(۴۳) درالمنثور.

(۴۴) درمنثور.

(۴۵) درمنثور.

٦۴ در منثور.

وَأۡمُرۡ أَهۡلَكَ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱصۡطَبِرۡ عَلَيۡهَا لَا نَسۡـَٔلُكَ رِزۡقًا نَّحۡنُ نَرۡزُقُكَ وَٱلۡعَٰقِبَةُ لِلتَّقۡوَىٰ ﴿١٣٢﴾ (۴۷)

ژباړه: خپلې کورنۍ ته د لمانځه امر وکړه او خپله يې هم اهتما م وکړه موږ ستا څخه رزق ګټل نه غواړو موږ تاته رزق درکوو او ښې پايلې د پرهيزګارۍ دي.

حضرت اسمآ رضي الله عنها فرمايي چې ذ ما د نبي عليه السلام څخه واورېدل چې فرمايل يې: په ورځ د قيامت ټول خلک داسي سره يو ځای سي چې د ملائکي دېغ به ټوله خلک اوري نو دېغ به وسي چې کومو خلګو د تکليف په وخت کي د الله جل جلاله حمد او ثنا ويل؟ يوه ډله به راپورته سي بې حسابه به جنت ته ولاړه سي بيا به دېغ وسي چې کومو خلګو د شپې عباد ت کاوه او خپل اړخونه يې د بسترو څخه ليري وه؟ بيا به يو ه ډله راپورته سي او بې حسابه به جنت ته ولاړه سي بيا به دېغ وسي چې کوم خلک تجارت کولو، رانيولو او خرڅولو د الله جل جلاله د ذکر څخه نه غافله کول؟ بيا به يوه ډله راپورته سي او بي حسابه به جنت ته ولاړه سي.

په حديث کي يوه بله قصه په دغه ډول راغلې ده په هغه حديث کي دا هم سته چې د قيامت په ورځ به دا اعلان هم وسي چې تاسو به نن ورځ سخيان ووينئ چې څوک دي؟ او دا اعلان به هم وسي چې هغه خلک کوم دي؟ چې د تجارت په وخت کي د الله جل جلاله د ذکر څخه غافله نه وه (۴۸).

شيخ نصر سمر قندي رحمة الله عليه په تنبيه الغافلين کي دا حديث ذکر کړی دئ او دا يې پکښې زيات کړي دي چې کله دا اوازونه وسوه او ټاکلي خلک بې حسابه جنت ته ولاړل نو دوزخ به يو اوږد څټ را ښکاره کړي او پر خلګو به سر بيره راسي دوې سترګي به يې وي ډېره واضحه او فصيحه ژبه به يې وي او خلګو ته به ووايي: زه پر هغه چا باندي مقرر سوی يم چې کبر جن او بد مزاجه وي او د دغه خلګو دټولني څخه به يې داسي راټول کړي لکه مرغان چې دانه ټولوي او دوزخ ته به يې وغورځوي. دوهم ځل به بيا ښکاره سي او وبه وايي زه پر هغه چا باندي مقرر سوی يم چې د الله جل جلاله رسول ته به يې تکليف رساوه بيا به دغه خلک يعني رسول صلی الله عليه وسلم ته تکليف رسوونکي خلک يو په يو ټول کړي دريم وار به بيا راسي عکسونه اخيستونکي خلک به ټول کړي وروسته به حساب شروع سي. ويل سوي دي چې پخوا به خلګو شيطان ليدی يو چا د شيطان څخه پوښتنه وکړه چې داسي چم را وښيه چې زه هم ستا په څېر سم شيطان ورته وويل: چې زما څخه خو تر اوسه چا داسي پوښتنه نه ده کړې تاته څه

(۴۷) سورة طه الاية (۱۳۲).
(۴۸) منثور.

ارتیا پیښه سوه؟ هغه ورته وویل چي زړه مي غواړي. شیطان ورته وویل په لمانځه کي سستي کوه، په دروا غو قسمونه اخله، په قسم اخستلو کي هیڅ پروا مه کوه. هغه سړي ورته وویل چي زما دي په الله ﷻ قسم وي چي هیڅکله به لمونځ نه پرېږدم او هیڅکله به قسم نه اخلم. شیطان ورته وویل چي ستا پرته هیڅا زما څخه په چم باندي شي نه دئ زده کړی او زما وعده ده چي تر دې وروسته به هیچاته نصیحت نه کوم. حضرت ابي رضي الله عنه فرمایي چي نبي ﷺ وفرمایل: دې امت ته د لوړوالي، عزت، او د دین د ترقی زیري ورکړل سوی دئ خو کوم څوک چي د دنیا لپاره کار کوي د هغه لپاره په آخرت کي هیڅ برخه نسته[۴۹].

په یو حدیث کي راغلي دي، چي رسول الله رضي الله عنه فرمایلي دي چي د الله ﷻ زیارت په یو ښه کیفیت وکړئ الله ﷻ و ماته وفرمایل: اې محمد! ملائکي یو د بل سره په څه شي کي بحث کوي؟ ما ورته وویل: چي ما ته یې علم نسته. الله ﷻ (بلا کیفه) خپل لاس مبارک زما پر سینه باندي کښیښودی چي یخوالی یې ما تر دننه پوري محسوس کړی نو ما ته د ټول عالم پوهه حاصله سوه بیا یې راڅخه وپوښتل چي ملائکي په څه شي کي یو د بل سره بحث کوي؟ ما ورته وویل: د ګناه د بخښلو په شیانو او د ګناه د کفارو په شیانو کي او په هغه ګامونو کي چي د جماعت د لمانځه لپاره پورته کېږي، په یخ کي په اوداسه کولو کي، د یوه لمانځه تر بل لمانځه پوري په انتظار کولو کي، د ناستي په فضیلت کي بحث کوي. څوک چي د دغو شیانو پابندي کوي ښه ژوند به کوي او په ښه حالت کي به مري په زیاتو حدیثونو کي راغلي دي، چي الله ﷻ فرمایي: اې د آدم زویه! ته د ورځي په پیل کي زما لپاره څلور رکعته لمونځ وکړه زه به تهوله ورځ ستا کارونه جوړوم. په تنبیه الغافلین کي راغلي دي چي لمونځ د الله ﷻ د رضا سبب دئ، ملائکو ته خوښ شي دئ او د انبیاء علیهم السلام سنت دئ، په لمانځه سره د الله ﷻ د پېژندني رڼا پیدا کېږي، دعا په قبلیږي او په رزق کي برکت په پیدا کېږي. لمونځ د ایمان سر چینه ده، د بدن استراحت دئ، د دښمن د مقابلې لپاره وسله ده، د لمونځ کوونکي لپاره سپارښت کوونکی دئ، په قبر کي څراغ دئ، د قبر د وېري په وخت کي زړه مشغولونکی دئ، د نکیر او منکر د سوال لپاره جواب دئ، د قیامت د غرمو لپاره سیوری دئ، په تیاره کي رڼا ده، د دوزخ د اور لپاره پرده ده، د نېکو عملونو د درونډ والي سبب دئ، پر پل صراط باندي چابک تېرېدونکی دئ او د جنت کیلي ده. حافظ ابن حجر رحمه الله علیه په منبهات کي د حضرت عثمان رضي الله عنه څخه نقل کوي چي څوک د لمانځه ساتنه

---

[۴۹] (ترغیب.

کوي او د وختونو په پابندي سره يي اهتمام کوي الله ﷻ يې په نهو شيانو سره د ده اکرام کوي: لومړی دا چي خپل محبوب يې جوړوي، دوهم دا چي تندرستي ورکوي، دريم دا چي ملايکي يې ساتنه کوي، څلورم دا چي په کور کي به يې برکت اچوي، پنځم دا چي په مخ کي به يې د نېکانو رڼا اچوي، شپږم دا چي زړه به يې نرموي، اووم دا چي پر پل صراط باندي به د برق په څېر تېرېږي، اتم دا چي د دوزخ څخه به خلاصېږي، نهم دا چي په جنت کي به د داسي خلکو همسايه وي چي د هغو په اړه د آيات کريمه راغلي دی : لا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاهُمْ يَحْزَنُوْنَ يعني نه به وېره وي پر دوی باندي او نه به دوی غمجن وي. نبي عليه السلام فرمايي: لمونځ د دين ستون دئ او په لمانځه کي لس ځانګړتياوي دي:

۱- د مخ روښنايي.

۲- د زړه رڼا.

۳- د بدن استراحت او تندرستي.

۴- په قبر کي انست يعني الف او مينه.

۵- د الله ﷻ د رحمت د نازلېدو سبب.

۶- د آسمان کيلي.

۷- د نيکو عملونو دروند والی د عملونو په ترازو کي.

۸- د الله ﷻ رضا ده.

۹- د جنت قيمت دئ.

۱۰- د دوزخ پرده ده چا چي لمونځ قايم کړ، دين يې قايم وساتی او چا چي پرېښودی خپل دين يې ونړوی[۵۰].

په يو حديث کي راغلي دي چي لمونځ د کور رڼا ده خپل کورونه په لمانځه سره روښانه کړی[۵۱]. دا حديث خو مشهور دئ، چي نبي عليه السلام فرمايي: زما امت به د سجدې او اوداسه په وجه د روښانه لاسونو او روښانه پښو والا وي او د روښانه مخ والا به وي او په دې نښو سره به د نورو امتونو څخه پېژندل کېږي. په يو حديث کي راغلي دي چي کله د اسمان څخه کوم آفت نازلېږي نو د مسجد آبادوونکو څخه لیري کېږي[۵۲].

---

(۵۰) منبهات ابن حجر .

(۵۱) جامع الصغير.

(۵۲) جامع الصغير.

په زياتو حديثونو کي راغلي دي چي الله ﷻ پر اور باندي حرام کړي دي چي د سجدې نښي وسوځي (يعني که څيري څوک د بدو عملونو په وجه دوزخ ته ولاړ سي نو د سجدې ځايونه به يې نه سوځل کېږي) په يو حديث کي راغلي دي چي لمونځ د شيطان مخ توروي او خيرات يې ملا ماتوي[۵۳]. په يو ځاي کي ارشاد دئ چي لمونځ شفا ده[۵۴].

په ورته ډول يوه بله قصه هم راغلي ده، چي ابوهريرة رضي الله عنه پرمخي پروت و، رسول الله ﷺ راغلی ورته وې وفرمايل: چي ولي پروت يې پر نس دي درد دئ؟ ده ورته وويل: هو! رسول ﷺ ورته وفرمايل: ولاړ سه لمونځ وکړه په لمانځه کي شفا ده[۵۵].

په يو حديث کي راغلي دي چي رسول الله ﷺ يوه ورځ جنت په خوب ليدی په جنت کي بلال رضي الله عنه هم ورسره و، کله چي راکښېنستی نو د بلال رضي الله عنه څخه يې پوښتنه وکړه چي څه وجه ده چي ته د دنيا په څېر په جنت کي هم زما سره راسره يي؟ ده ورته وويل: زه ټوله عمر په اوداسه ګرځم کله چي مي اودس مات سي نو اودس تازه کړم بيا (تحية الوضوء) لمونځ په ټاکلي اندازه وکړم[۶۵].

سفيري رحمه الله ويلي دي چي د سهار لمانځه پرېښودنکي ته ملايکي وايي: اې فاجره! او د ماپښين لمانځه پرېښودونکي ته وايي: اې خاسره! (يعني تاواني)، د مازيگر لمانځه پرېښودونکي ته وايي: عاصي! (ګناه ګاره) د ماښام لمانځه پرېښودونکي ته وايي: اې کافره! او د ماخوستن لمانځه پرېښودونکي ته وايي: اې مضيعه (يعني د الله ﷻ د حق ضايع کوونکې)[۵۷].

علامه شعراني رحمه الله فرمايي: چي په دې خبره ځان پوهول په کار دي، چي په کومو ودانيو کي لمونځ کوونکي وي د الله ﷻ د عذاب څخه ژغورل کېږي. په کومو ودانيو کي چي بې لمانځه وي پر هغه ځاى باندي د زلزلو کېدل، آسماني ټکي لوېدل او د مځکي ننوتل ليري نه دي کله چي څوک لمونځ کوي دا فکر دي نه کوي چي زه خو لمونځ کوم زما يې په نورو څه ځکه بلا چي راسي نو عامه وي.

---

[۵۳] ايضاً.

[۵۴] ايضاً.

[۵۵] ابن كثير.

[۶۵] فتح.

[۵۷] غالية المواعظ.

په یو حدیث کي راغلي دي چي یو چا پوښتنه وکړه چي موږ په داسي حالت کي هلاکیدلای سو، چي په موږ کي نیکان وي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: هو! که چیري خباثت غالب سو ځکه چي ستاسو ذمه واري ده چي تر خپله وسه پوري د ښو خبرو امر وکړئ او د بدو خبرو څخه منعه وکړئ(۵۸).

لمونځ پرېښودنکی به په زرګونو کلونو په دوزخ کي وي

۸- روي انه صل الله علیه و سلم قال من ترک الصلوة حتي مضي وقتها ثم قضي عذب في النار حقبا والحقب ثمانون سنة والسنة ثلث مأة وستون یوما کل یوم مقداره الف سنة(۵۹).

ژباړه: د رسول الله ﷺ څخه روایت سوی دئ، چي که څوک لمونځ قضا کړي که څه هم قضا یې راوړي بیا به هم یوه حقبة په دوزخ کي سزا ورکول کیږي یوه حقبة اتیا کاله ده کال (۳۶۰) ورځي دي، یوه ورځ د آخرت د دنیا د زرو کالو سره برابره ده (نو په دغه حساب یې سزا ۲۸۸۰۰۰۰۰ دوه سوه اتیا زره لکه کیږي).

فایده: حقب په لغت کي د ډېري زمانې په معنی راغلی دي، او په زیاتو حدیثونو کي حقب د اتیاو کالو په معنی راغلی دئ، په درمنثور کي زیات روایتونه د دغي اندازې رانقل سوي دي د هلال هجري رحمه الله علیه څخه یو چا پوښتنه وکړه چي حقب څومره اندازه ده؟ ده په جواب کي ورته وویل چي حقب اتیا کاله دئ، هر کال دوولس میاشتي دئ، میاشت دېرش ورځي ده او هره ورځ زر کاله ده. حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه په صحیح روایت سره د اتیاو کالو نقل کړی دئ. حضرت ابوهریرة رضي الله عنه هم د رسول الله ﷺ څخه دا روایت را نقل

---

(۵۸) لواقح الانوار.

(۵۹) کذا في المجالس الا برار قلت لم اجده فیما عندي من کتب الحدیث الا ان مجالس الا برار مدحه شیخ مشائخنا الشاه عبد العزیز دهلوي ثم قال الراغب في قوله تعالي لا بثین فیها احقابا. قیل جمع الحقب اي الدهر قیل والحقبة ثمانون عاماً والصحیح ان الحقبة مدة من الزمان مبهمة واخرج ابن کثیر في تفسیر قوله تعالي فویل للمصلین الذین هم عن صلوتهم ساهون عن ابن عباس ان في جهنم لوادیاً تستعیذ جهنم من ذالک الوادي في کل یوم اربعماة مرة اعد ذالک الوادي للمرائین من امة محمد ﷺ الحدیث وذکر ابوللیث السمر قندي في قرة العیون عن ابن عباس و هو مسکن من یؤ خر الصلوة عن و قتها و عن سعد بن ابي وقاص مرفوعاً الذین هم عن صلواتهم ساهون قال هم الذین یؤ خرون الصلوة عن و قتها و صحح الحاکم و البیهقي و قفه و اخرج الحاکم عبد الله في قوله تعالی فسوف یلقون غیا قال واد في جهنم بعید القعر خبیث الطعم و قال صحیح الا سناد.

کړی دئ، چې حقب اتیا کاله دئ، کال درې سوه شپېته ورځې دئ او هره ورځ ستاسو د ورځو په حساب (یعني د دنیا په ورځو) د زرو ورځو سره برابره ده. هم دا مضمون عبد الله بن عمر رضي الله عنه د نبي علیه السلام څخه رانقل کړی دئ، تر دې وروسته عبدالله بن عمر رضي الله عنه زیاتوي چې مسلمان ته نه دي په کار چې په دې فکر بې پروا واوسي چې آخر خو به یو ورځ د دوزخ څخه وزم ځکه (۲۸۸۰۰۰) کاله بعد وتل ډېر ګران کار دئ هغه هم چې بله هیڅ ګناه یې پر ذمه نه وي یوازي دغه یو لمونځ وي. د دې څخه علاوه په نورو حدیثونو کي زیاته اندازه هم ښودل سوېده اول خو دغه صحیح دي یعني دغه اندازه عذاب ښایي وي او که زیاتوب هم وي نو ښایي چې د خلګو په اعتبار وي. ابو اللیث سمرقندي رحمة الله علیه په قرة العیون کي د نبي علیه السلام څخه روایت کوي چې څوک یو لمونځ په قصده سره قضا کړي نو نوم یې د دوخ پر دروازه ولیکل سي او دوزخ ته یې تلل لازمي سي. حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمایي چې نبي علیه السلام یوه ورځ و فرمایل: داسي وواياست چې اې خدایه! په موږ کي شقي محروم څوک مه جوړوې بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: تاسو شقي محروم پېژنئ؟ اصحابو کرامو نه پېژندی د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې پوښتنه وکړه. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چې شقي محروم د لمانځه پرېښودونکی دئ، د ده هیڅ برخه په اسلام کي نسته. په یو حدیث کي راغلي دي چې د قصداً لمانځه پرېښودونکي و لوري ته الله جل جلاله هیڅ توجه نه کوي او سخت دردناک عذاب ورکوي. په یو حدیث کي راغلي دي چې لس کسانو ته به خاص عذاب ورکول کېږي د دغو لسو څخه یو لمونځ پرېښودونکی دئ لاسونه به یې تړلي وي ملائکي به یې پر شا او مخ وهي او جنت به ورته وایي چې زما سره ستا هیڅ اړه نسته نه ستا لپاره یم او نه ته زما لپاره یې دوزخ به ورته ووایي چې راسه ته زما لپاره یې او زه ستا لپاره یم. په یو حدیث کي راغلي دي چې په دوزخ کي یوه شېله ده نوم یې لم لم دئ په دغه شېله کي ماران دي چې د اوښ د څټ په څېر غټ دي او اوږدوالی یې د یوې میاشتي د مزل په څېر دئ په دغه شېله کي به بې لمانځو ته سزا ورکول کېږي. په یو بل حدیث کي راغلي دي چې یو میدان دئ نوم یې جب الحزن دئ دغه میدان د لړمانو کور دئ هر لړم په لویوالي کي د غاتري سره برابر دئ په دغه میدان کي هم و بې لمانځو ته سزا ورکول کېږي خو کریم ذات بخښونکی دئ چې یو څوک بخښنه وغواړي غاړه ورته کېږدي کړي د شک پرته بخښنه ورته کوي.

ابن حجر په زواجر کتاب کي لیکلي دي چې یوه ښځه مړه سوه ورور یې په دفن کي شریک سو کله چې یې ښخه کړه نابېره یوه کڅوړه په قبر کښي پاته سوه ورور ته چې یې ور په یاد سوه نو ډېر خوابدی سو اراده یې وکړه چې په پټه ورسي کڅوړه را وکاږي کله چې

وږغلی قبر یې سره خلاص کړ، قبر د اور څخه ډک و دستي په ژړا سو راغلی مور ته یې قصد وکړه مور یې ورته وویل چي دا په لمانځه کي سسته وه او قضا کاوه به یي اعاذنا الله منها.

د لمانځه د پرېښودونکي برخه په اسلام کي نسته

٩- عن ابي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لا سهم في الا سلام لمن لا صلوة له ولا صلوة لمن لاوضوء له[٠٦].

ژباړه : د ابي هريرة رضي الله عنه څخه روایت دي، چي نبي صلى الله عليه وسلم فرمایي: هغه چا لره په دین کي برخه نسته چي لمونځ نه کوي او بې اوداسه لمونځ نسته.

فایده: کوم خلک چي لمونځ نه کوي او ځان ته مسلمان وایي یا د اسلامي غیرت اوږدې - اوږدې دعوې کوي. لږ دي د نبي صلى الله عليه وسلم په دغه ویناوو کي غور او فکر وکړي.

کوم کسان چي د بزرګانو مرتبې په خوب ویني نو د هغوی په حالاتو کي دي هم لږ څېړنه وکړي چي هغوی دین څومره ټینګ نیولی و، نو بیا به دنیا ولي د دوی پښې نه مچولې. د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه په سترګو کي یو څه ناروغي پیدا سوه خلکو ورته وویل چي د دې علاج کېدای سي خو څو ورځي لمونځ پرېږده. ده مبارک په جواب کي ورته وویل چي دا نه سي کېدلای ځکه ما د نبي صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي دي چي څوک لمونځ پرېږدي د الله جل جلاله په حضور کي به په داسي ډول حاضرېږي چي الله جل جلاله به ځني ناراضه وي. په یو بل حدیث کي راغلي دي چي چا ورته وویل چي پنځه ورځي پر لرګي سجده وکړه ده په جواب کي ورته وویل چي یو رکعت به هم داسي ونه کړم بلکي ټول عمر به پر ړوند والي صبر وکړم. ګورئ دا د اصحابانو مبارکانو همت دئ حال دا چي د عذر په وجه پر لرګي سجده جائز ده. حضرت عمر رضي الله عنه چي کله په نیزه ووهل سو نو زیات وخت به بې هوښه و آن تر دې چي اخر په دغه بې هوښۍ کي وفات سو خو کله چي به د لمانځه وخت راغلی او د لمانځه کولو پوښتنه به ځني وسوه ده به ورته وویل: هو! هو! خامخا لمونځ کوم څوک چي لمونځ نه کوي هغه ته په اسلام کي برخه نسته مورږ د ناروغ ګټه په دې کي بولو چي لمونځ ونه کړي داسي نه چي د لمانځه له وجي یې ناروغي زیاته سي خو هغو مبارکانو ګټه دا بلل چي کوم عبادت چي په څه ډول کېږي باید وسي.

---

٠٦ اخرجه البزاز واخرج الحاكم عن عائشة مرفوعا و صححه ثلث احلف عليهن لا يجعل الله من له سهم في الاسلام كمن لا سهم له و سهام الا سلام الصوم و الصلوة و الصدقة الحديث و اخرجه الطبراني في الاوسط عن ابن عمر مرفوعاً لا دين لمن لا صلوة له انما موضع الصلوة من الدين كموضع الرّاس من الجسد كذا في الدر المنثور.

ببین تفاوت ره از کجا است تا به کجا

وګوره توپیر د لاري د کوم ځای څخه تر کوم ځایه پوري دئ.

حضرت علي رضي الله عنه یو ځلي د نبي ﷺ څخه د یو خادم غوښتنه وکړه چي په کارو بار کي مرسته ورسره وکړي. رسول الله ﷺ ورته وویل دا دري غلامان دي وایې خله هر یو چي دي خوښ وي. علي رضي الله عنه ورته وویل ته یې را خوښ کړه. رسول الله ﷺ ورته وویل دغه خادم واخله دا لمونځ ګذاره دئ، ګوره وهه یې مه موږ د لمونځ ګذاره د وهلو څخه منعه سوي یو. په دغه ډول یوه بله قصه هم راغلي ده، چي ابو الهیثم رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه د خادم غوښتنه کړې وه. موږ د خادم لمونځ کول د ده ناپوهي بولو او د ځان لپاره یې تاوان بولو او خادم ملامتوو یعني دا چي خادم زیات وخت پر لمانځه کي تېروي نور خلک یې په اړه وایي چي دغه نوکر که داسي وي بیا څوک مزدوري نه ورکوي ځکه دی د کار وخت په لمانځه نیسي. پر حضرت سفیان الثوري رحمة الله علیه باندي یو وخت د حال غلبه راغله تر اوو ورځو پوري په کور کي و نه یې څه خوړل او نه یې څه څښل او نه بیدېدی دده و شیخ ته حال را ورسېدی چي سفیان الثوري رحمة الله علیه په داسي حال کي دئ. دغه شیخ ورته وویل چي لمونځونه یې محفوظ دي قاصد ورته وویل چي هو لمونځونه کوي پر خپل وخت باندي شیخ ووېل: الحمد الله الذي لم یجعل للشیطان علیه سبیل. یعني حمد او ثنا خاص الله لره چي شیطان ته یې پر دې باندي د کامیابی لاره نه ده ورکړې.

دوهم باب

د جماعت لمانځه په بیان کي

څرنګه چي د رسالې په شروع کي مو وویل چي ډېر خلک داسي وي چي لمونځ کوي او د جماعت پروا نه لري حال دا چي لکه څرنګه چي د رسول الله ﷺ څخه د لمانځه په اړه تاکید راغلی دئ په هم دغه اندازه په جماعت سره د لمانځه د ادا کولو په اړه هم راغلی دئ.

په دې باب کي دوه فصله دي لومړی فصل د جماعت لمانځه په فضیلت کي دئ او دوهم فصل د جماعت لمانځه د پرېښودنکي په عذاب کي دئ:

اول فصل

د جماعت فضائل

١- عن ابن عمر ﷺ ان رسول الله ﷺ قال صلوة الجماعة افضل من صلوة الفذ بسبع و عشرين درجة(١٦).

ژباړه: نبي ﷺ فرمايي چې د جماعت لمونځ پر يوازي لمانځه باندي اووه ويشت درجې غوره دئ.

فايده: کله چې سړی د ثواب په نيت لمونځ کوي نو اسانه خبره ده کور دي يې نه کوي په مسجد کي دي يې په جماعت وکړي چې نه څه تکليف پکښې سته او نه څه ګران کار دئ او ثواب يې دومره زيات دئ. داسي څوک به وي چې د يوې روپۍ په عوض دي اووه ويشت روپۍ پرېږدي؟ خو د دين په کارو کي د دومره لويو ګټو څخه بې پروايي سته. دلته نو بله خبره نه سي کېدای يوازي دا چې زموږ خلګ د دين پروانه کوي او دا ګټې په نظر بې فائدې ورته ښکاري ځکه د دنيا په ګټو کي چې يوه آنه يا دوې آنې اويا روپۍ ګټه وي. ټوله ورځ سرګردانه پسې ګرځي او د آخرت ګټه چې اووه ويشت چنده ده پروا يې نه کوو. د جماعت د لمانځه لپاره دوکان پرېښودل او بندول تاوان ګڼو او حال دا چې د هغو کسانو چې د الله ﷻ پر وعده باندي يې باور وي دا کوچني عذرونه دي دوی ته هيڅ حيثيت نه لري او نه د دوکان او تجارت پروا لري د دوی په اړه الله ﷻ فرمايي: رجال لاتلههم تجارة دغه ايات د دريم باب په پيل کي د ترجمي سره په پوره ډول بيان سوي دي. د تجارت په اړه د اصحابو کرامو عادت و د اذان وروسته چې په حکايات صحابه کي په پنځم باب اتمه شمېره قصه کي يې په لنډ ډول بيان سوی دئ. سالم حداد رحمة الله عليه يو بزرګ و، تجارت يې کاوه کله چې به يې اذان واورېدی رنګ به يې ژړ سو، کيفيت به يې بدل سو، بې قراره به سو دوکان به يې خلاص پرېښودی ولاړ به سو دا اشعار به يې ويل:

اذا ما دعا داعكيم قمت مسرعا
مجيبا لمولي جل ليس له مثل

کله چې مؤذن د بلني لپاره ودرېږي نو زه ژر ودرېږم، د داسي مالک د بلني لپاره چې مثل يې نسته زه قبلونکی يم.

(١٦) رواه مالک و البخاري و مسلم و الترمذي و النسائي کذا في الترغيب.

أجيب اذانادي بسمع و طاعة

وبي نشوة لبيک يامن له الفضل

کله چي ستا مؤذن اذان کوي نو زه په خوشالي او تازګي سره وايم چي اې د فضل څښتنه! په خدمت کي دي حاضريم.

و يصفر کوني خيفة و مهابة

و يرجع عن کل شغل به شغل

زما رنګ د وېري او هيبت څخه ژړ سي د پاک ذات بوختيا ما د هر څه څخه بي خبره کړي.

و حقکم مالذ لي غير ذکرکم

و ذکر سواکم في فمي قط لا يحلو

ستا په حق دي مي قسم وي چي ستا د ذکر پرته بل هيڅ شي خوند نه راکوي او په خوله کي ستا د ذکر پرته راته خوندور نه دی.

متي يجمع الا يام بيني و بينکم

و يفرح مشتاق اذا جمع الشمل

زما او ستا وصال کله کېږي عاشق خو هغه وخت خوشالېږي چي وصال يې په برخه سي.

فمن شاهدت عيناه نور جمالکم

يموت اشتياقا نحوکم قط لا يسلو

د چا سترګو چي ستا جمال ليدلی وي ستا په شوق کي به مړ سی خو هيڅکله به يې تسلی ونه سي(٦٢).

په حديث کي راغلي دي چي څوک په مسجد کي ډېر وخت تېروي دوی د مسجد موږي دي ملائکي هر وخت ورسره ناستي وي کله چي دوی ناروغه سي ملائکي يې پوښتنه کوي او کله چي کار ته ولاړ سي ملائکي مرسته ورسره کوي(٦٣).

جماعت کوونکي ته ملائکي د مغفرت دعاوي کوي

٢-عن ابي هريرة رضي الله عنه قال قال

ژباړه: نبي عليه السلام فرمايي: څوک چي لمونځ

(٦٢) نزهة

(٦٣) حاکم

رسول الله ﷺ صلوة الرجل في جماعة تضعف علي صلوة في بيته وفي سوقه خمساً و عشرين ضعفا و ذالک انه اذا توضاءَ فأحسن الوضوء ثم خرج الي المسجد لا يخرجه الا الصلوة لم يخط خطوة الا رفعت له بها درجة و حط عنه بها خطيئة فا ذا صلي لم تزل الملائكة تصلي عليه ما دام في مصلاه مالم يحدث اللهم صل عليه اللهم ارحمه ولا يزال في صلوة ما انتظر الصلوة[٦٤].

په جماعت وکړي د هغه لمانځه په پرتله چې په کور یا بازار کې یې وکړي په پنځه ویشت درجې زیات دئ. خبره دا ده چې څوک اودس تازه کړي بیا یې وکړي بیا مسجد ته ولاړ سي د لمانځه پرته بل مقصد نه لري نو هر قدم چې پورته کوي الله ﷻ یوه درجه ورپورته کوي او یوه ګناه وربخښي کله چې لمونځ وکړي او په هغه اوداسه کښېني تر څو چې بې اودسه سوی نه وي نو ملائکې د مغفرت دعا ورته کوي تر څو پورې چې د بل لمانځه انتظار کوي.

فایده: په لومړي حدیث کې د جماعت د لمانځه لپاره اووه ویشت درجې ښودل سوي دي او په دې حدیث کې پنځه ویشت درجې ښودل سوي دي په دغو دوو حدیثونو کې چې د علماوو کوم اختلاف سته علماوو یې ډیر جوابونه لیکلي دي، چې د حدیثو په کتاب کې موجود دي چې دا جواب یې د جملې څخه دئ هغه دا چې دغه درجې د خلګو د نیتونو په اعتبار دي یعني د ځینو خلګو جماعت په پنځه ویشت درجو دئ او د ځینو دا بیا د ډېر اخلاص له وجې په اووه ویشت درجو دئ. ځینو علماوو د سري (یعني د پټ تلاوت) لمونځو ثواب په پنځه ویشت درجې دئ او د جهري لمانځه ثواب یې اووه یشت درجې ښودلی دئ. ځینو بیا د ماخوستن او د سهار د لمونځو ثواب اووه ویشت درجې ښو دلی دئ، ځکه چې تلل ورته ګران وي او د پاته لمونځو ثواب یې پنځه ویشت درجې ښودلی دئ. ځینو علماوو ویلي دي چې پر دې امت باندې د نعمتونو باران زیاتېدی همدا وجه وه، چې په لومړیو وختو کې پنځه ویشت درجې و وروسته بیا زیات سو اووه ویشت درجې سو. ځینو علماوو یوه عجیبه خبره کړېده هغه دا ده، چې د دې حدیث ثواب تر تېر حدیث ډېر زیات دئ، ځکه په دې حدیث کې رسول الله ﷺ داسې نه دي ویلي چې پنځه ویشت درجې زیاتېږي بلکې داسې یې ویلي دي چې پنځه ویشت درجې مضاعف کېږي چې په دې حساب یې ثواب درې اعشاریه پنځه ډېرش میلونه څلور پنځوس زره دو ډېرش کېږي. دا د الله ﷻ په دربار کې ډېر ثواب نه دئ؟ ځکه لکه څرنګه چې لمانځه پرېښودونکي ته یو حقبة عذاب ورکول کېږي لکه

---

(۶۴) روه البخاري واللفظ له و مسلم و ابو داؤد و الترمذي وابن ماجة كذا في الترغيب

ذکر کونکی به دقیامت په ورځ دعرش ترسیوري لاندي ناست وي

١٦- عن ابي هريرة ﷺ قال سمعت رسـول الله ﷺ يقول سبعة يظلهم الله في ظله يوم لا ظـل الا ظلـه الامام العادل و الشاب نَشأَ في عبادة الله ورجـل قلبـه معلق با لمساجد ورجـلان تحآبا في الله اجتمعـا علـى ذالک و تفرقاعليه ورجـل دعته امراة ذات منـصب و جمال فقال انى اخـاف الله ورجـل تـصدق بـصدقة فاخفاها حتى لا تعلم شمالـه ماتنفق يمينه ورجل ذكر الله خاليا ففاضت عيناه. (٧٩)

ژباړه:- دحضرت ابو هريرة ﷺ څخه روايت دئ چي د رسول اللهﷺ څخه مي واوريدل چي وې فرمايل: اووه کسان دي چي دوى ته به الله ﷻ د خپل رحمت په سيورى (سايه) کښي په هغه ورځ ځاى ورکړي چي په هغه ورځ به دا اللهﷻ دسيوري څخه پرته بل هيڅ سيورى نه وي. اول عادل پاچا دى، دوهم هغه ځوان دى چي په ځوانى کښي د الله ﷻ عبادت کوي، دريم هغه کس چي زړه يې د مسجدونو سره تړلى وي، څلورم هغه دوه کسان دي چي په خپل منځ کښي د الله ﷻ درضا لپاره محبت کوي چي هم ددغه لپاره جمع کيږى او هم په دغه وجه سره بېليږي، پنځم هغه کس دى چي يوه ښائسته او شريفه ښځه يې وخپلي خواته متوجه کړي او دى ورته ووايي چي زه د الله ﷻ څخه بيريږم، شپږم هغه کسان دي چي په داسي پټه طريقه سره صدقه ورکړي چي چپه لاس هم ورڅخه خبر نسي په هغه نفقه باندي چي ده په راسته لاس ورکړې وي، اووم هغه کس دى چي د الله ﷻ ذکر په يوائې والي کښي وکړي او اوښکى يې وبهيږي.

فايده:- د اوښکو د بهيدلو څخه دا مطلب هم کيداى سي چي د خبر تيا سره چي يې کوم ګناهونه کړي دي هغه يادوي او پرې ژاړى او بل دا مطلب هم کېداى سي چي د ذکر د ډېره شوقه يې د سترګو څخه اوښکى رواني سى. د ثابت بناني رحمه الله په يوه روايت کښي چي د يوه بزرګ مقوله (وينا) يې رانقل کړې ده هغه فرمايي چي وماته معلوميږي چي زما کومه دعا قبوله سوه. خلګو پوښتنه ورڅخه وکړه چي څنګه درته معلوميږي؟ وې فرمايل په کومه دعا چي د بدن وريښتان پکښي ودريږي، زړه ناقراره سي او د سترګو څخه اوښکي رواني سي نو هغه دعا قبليږى. په دې اووکسانو کښي چي په حديث کښي يې بيان راغلى دى يو

(٧٩) رواه البخاري و مسلم و غيره هما كذافي الترغيب و المشكواة وفي جامع الصغير برواية مسلم عن ابي هريرة وابي سعيد معا وذكر عدة طرقه اخراى

په لومړي باب کي چي تېر سو، په همدې ډول دومره ثواب د جماعت لمانځه لپاره هم ممکن دئ. د دې څخه وروسته نبي ﷺ و دې طرفته اشاره وکړه، چي دا خو خپله د فکر کولو شی دئ چي د جماعت په لمانځه کي څومره ثوابونه دي او څومره نیکۍ په زیاتېږي. څوک چي په کور کي اودس تازه کړي بیا ووزي پر هر قدم باندي الله جل جلاله یوه ګناه ورمعافوي او یوه نېکي ورکوي. بنو سلمة په مدینه منوره کي یو قوم و، د مسجد څخه لیري وه دوی اراده وکړه چي و مسجد ته نژدې رانقل سي، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: تاسو هلته واوسئ ستاسو هر قدم لیکل کېږي. په یو بل حدیث کي راغلي دي، چي څوک په کور کي اودس تازه کړي او لمانځه ته ولاړ سي داسي دئ، لکه احرام چي وتړي حج ته ولاړ سي. تر دې وروسته رسول الله ﷺ یوې بلې خبري ته اشاره کړېده هغه دا چي څوک لمونځ وکړي تر څو چي پر هغه ځای ناست وي ملائکي د مغفرت دعا ورته کوي. ملائکي د ګناه او خطا څخه پاک مخلوق دي او الله جل جلاله ته مقبول مخلوق دي د دعا برکتونه یې پخپله ښکاره دي. محمد بن سماعة رحمة الله علیه یو لوی عالم دئ، چي د امام ابو یوسف او امام محمد رحمة الله علیه شاګرد دئ د (۱۰۳) کالو په عمر وفات سوی دئ. ده مبارک تر دغه وخته پوري هره ورځ دوه سوه رکعته لمونځ کاوه، دی مبارک وایي چي زما څخه تر څلوېښتو کالو پوري د یوې ورځي څخه پرته تکبیر اولی نه دئ پاته سوی، یوازي یوه ورځ چي زما مور مړه وه د بوختیا له وجي تکبیر اولی راڅخه تېر سو، نو ما په دې وجه چي د جماعت لمونځ په پنځه ویشت لمونځو دئ هغه لمونځ مي پنځه ویشت ځلي وکړ، چي هغه شمېره پوره سي بیا ما خوب ولیدی چي یو چا راته وویل چي پنځه ویشت واره لمونځ خو دې پوره کړ، مګر د ملائکو آمین به څه کېږي(٦٥).

د امین څخه مطلب دا دئ چي په ډېرو حدیثونو کي راغلي دي، چي امام کله سورة فاتحه خلاصه کړي آمین وایي نو ملائکي هم آمین ورسره وایي کله چي د ملائکو آمین ورسره یو ځای سي نو ټول ګناهونه یې بخښل کېږي په خوب کي همدې خبري ته اشاره ده. مولانا عبد الحی صاحب فرمایي، چي په دغه خوب کي و دې ته اشاره ده، چي د جماعت د لمانځه ځای هیڅ شی نه سي نیولای که څه هم هغه لمونځ زر واره وسي. دا ښکاره خبره چي یوازي موافقت خو شرط نه دئ، بلکي د ټول لمانځه موافقت شرط دئ، ځکه لکه په حدیث کي چي ذکر سوه کله چي لمونځ خلاص سي نو ملائکي د مغفرت دعا ورته کوي. د دې پرته نوري ډېري ګټې هم د جماعت په لمانځه کي سته. دا خبره هم د پاملرني وړ ده، چي علماو

---

(٦٥) فوائد بهیة

سنن الهدی الصلوة في المسجد الذي يؤذن فيه(٦٧).

راتلی چي د دوو نفرو پر اوږو به يې تکيه وهلي وه رابه وستل سو او په صف کي به ودرول سو.

فايده: اصحابو کرامو د جماعت دومره پابندي کول چي که به ناروغه سوه بيا به هم چي په څه ډول به راتلای سوای نه به پاتېده که څه هم د دوو نفرو پر اوږو به يې تکيه کړې وه خو د مسجد د جماعت لمونځ به يې نه قضا کاوه. دوی به نو ولي دومره پابندي نه کول چي زموږ آقا حضرت رسول اکرم ﷺ د جماعت د لمانځه پابندي کول څکه د رسول ﷺ د مرض الموت په وخت کي داسي پيښه وسوه چي رسول الله ﷻ داسي ناروغه و، چي په وار وار به بې هوښه کېدی او څو واري به يې د اوداسه اوبه غوښتي بيا هم د حضرت عباس رضي الله عنه او يو بل صحابي په تکيه مسجد ته راغلی پښې يې هم پر مځکه ښه نه سوای لګولای حضرت ابو بکر رضي الله عنه د لاربښووني سره جماعت پيل کړي او رسول الله ﷺ پکښې شريک سو(٦٨).

حضرت ابو دردآء رضي الله عنه فرمايي چي ما د نبي عليه السلام څخه واورېدل چي د الله ﷻ عبادت داسي کوه ګويا هغه تا ته مخامخ دئ او ته يېويني او د ځان د مړو په فهرست کي حساب کړه د مظلوم د ښراوو څخه ځان وساته او څومره چي دي توان وي د ماخوستن او سهار په لمانځه کي يي د جماعت څخه مه سپموه په يو حديث کي راغلي دي، چي د سهار او ماخوستن لمونځ پر منافقانو باندي درو ند دئ که چيري دوی ته معلومه سي چي جماعت دومره ثواب لري نو پر تېوله مځکه به راختلاي او په جماعت به يې لمونځ کولای(٦٩).

په جماعت سره د دوزخ اونفاق څخه خلاصون دئ

٤-عن انس بن مالک رضي الله عنه قال قال رسو ل الله ﷺ من صلي لله اربعين يوما في جماعة يدرک التکبيرة

ژباړه: د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دئ، چي نبي عليه السلام فرمايلي دي: څوک چي څلوېښت ورځي په جماعت لمونځ وکړي، لومړی تکبير نه سي ځني تېر ده

(٦٧) رواه مسلم و ابو داود و النسائي و ابن ماجة کذا في الترغيب و الدرالمنثور و السنة نو عان سنة الهدي و تارکها يستوجب اساءة کا الجماعة و الاذان و الزوائد و تارکها لايستوجب اساءة کسير النبي ﷺ في لباسه و قعوده کذا في نور الانوار و الاضافة في سنة الهدای بيانية اي سنة هي هدای و الحمل مبالغة کذا في قمر الا قمار

(٦٨) صحيحين

(٦٩) ترغيب

الاولي كتب له براءتان براءة من النار و براءة من النفاق(۷۰).

ته به الله ﷻ دوه خلاصونه ورکړي یو خلاصون به د اور څخه وي دوهم خلاصون به د نفاق څخه وي.

فایده: یعني کوم څوک چي په اخلاص سره څلوېښت ورځي لمونځونه په جماعت سره وکړي چي په پیل کي د امام سره ګډون وکړي، یعني لومړی الله اکبر د امام سره ونیسي دغه کس به نه دوزخ ته ځي او نه به د منافقانو په ډله کي داخلېږي. منافق دې ته ویل کېږي چي په ښکاره ځان مسلمان ښکاره کوي خو په زړه کي کفر ساتي. د څلوېښتو ورځو ځانګړتیا دا ده چي په ډېرو ځایو کي په څلویښتو ورځو کي بدلون راځي لکه د ماشوم د پیدایښت مخکي چي تر څلوېښتو ورځو پوري نطفه وي بیا وینه ګرځي په داغه ترتیب څلوېښت، څلوېښت ورځي وروسته بدلون پکښې راځي. همدا ډول د صوفیانو په آند هم څلویښت ورځي خاص اهمیت لري. هغه کسان څومره نیک بختة دي چي په کلونو لومړی تکبیر نه ځني پاته کېږي.

د جماعت په امید مسجد ته تلل د جماعت ثواب لري

٥- عن ابي هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ من توضأ فاحسن الوضوء ثم راح فوجد الناس قد صلوا اعطاه الله مثل اجر من صلاها و حضرها لا ينقص ذالک من اجورهم شيئا(۷۱).

ژباړه: رسول الله ﷺ فرمایي: څوک چي ښه اودس تازه کړي بیا مسجد ته ولاړ سي کله چي دی ورسي هغوی جماعت کړی وی الله ﷻ دومره ثواب ورکوي لکه د هغه کسانو چي لمونځ یې په جماعت کړی وي بېله دې چي د هغوی د ثواب څخه یو شی کم سي.

---

(۷۰) رواه الترمذي و قال لا اعلم احدا رفعه الا ماروي مسلم بن قتيبة عن طعمة بن عمرو قال المملي رحمه الله و مسلم و طعمة و بقية رواته ثقاة كذا في الترغيب قلت وله شواهد من حديث عمر ﷺ رفعه من صلي في مسجد جماعة اربعين ليلة لا تفوته الركعة الاولي من صلوة العشاء كتب الله له بها عتقا من النار رواه ابن ماجة و اللفظ له والترمذي و قال نحو حديث انس يعني المتقدم ولم يذكر لفظه و قال مرسل يعني عن عمارة الراوي عن انس لم يدرک انسا و عزاه في منتخب الكنز الي البيهقي في الشعب وابن عساكر و ابن النجار.

(۷۱) رواه ابو داود والنسائي والحاكم و قال صحيح علي شرط مسلم كذا في الترغيب و فيه ايضا عن سعيد بن المسيب و قال حضر رجلاً من انصار الموت فقال اني محدثكم حديثا ما احدثكموه لا احتساباً اني سمعت رسول الله ﷺ يقول اذا توضأ احدكم فاحسن الوضوء الحديث . وفيه فان اتى المسجد فصلي في جماعة غفر له فان اتى المسجد و قد صلوا بعضاً و بقي بعضا صلي ما ادرک واتم مابقي كان كذالک فان اتي المسجد وقد صلوا فاتم الصلوة كان كذالک رواه ابو داود.

فايده: دا د الله ﷻ څومره لوی احسان او انعام دئ چي يو څوک د جماعت هڅه وکړي او جماعت ځني تېر سي الله ﷻ دومره ثواب ورکوي لکه د جماعتيانو خلګو. که د الله ﷻ د دې ورکړي څخه موږ ګټه نه واخلو نو د هېڅ تاوان نه دئ، بلکي زموږ خپل تاوان دی. د دې څخه دا هم معلومه سوه، چي په دې ګمان د مسجد څخه پاتېدل نه دي پکار چي جماعت به تېر سوی وي ځکه که دی ورسي جماعت ځني تېر سوی وي الله ﷻ هغه ثواب ورکوي لکه د جماعت د لمانځه ثواب او که يې يقين و، چي جماعت تېر سوی دئ بيا که پاته سو پروا نه کوي.

دلږو کسانو په جماعت سره لمونځ والله ﷻ تر ډېرو کسانو بېله جماعته لمانځه خوښ دئ

٦- عن قباث بن اشيم الليثي رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ صلوة الرجلين يؤم احد هما صاحبه ازكي عند الله من صلوة اربعة تترى و صلوة اربعة ازكي عند الله من صلوة ثمانية تترى و صلوة ثمانية يؤمهم احد هم ازكي عند الله من صلوة مأة تترى(٧٢).

ژباړه: رسول الله ﷺ فرمايي: دوه کسان چي يو و هغه بل ته جماعت ورکړي الله ﷻ ته د څلورو کسانو تر لمانځه خوښ دئ، چي جلا- جلا يې وکړي، څلور کسان چي لمونځ په جماعت وکړي الله ﷻ ته تر اتو کسانو تر لمانځه خوښ دئ چي جلا- جلا يې وکړي او د اتو کسانو لمونځ چي يو د دوی څخه جماعت ورکړي الله ﷻ دسلو کسانو تر لمانځه خوښ دئ چي بېله جماعته يې وکړي.

فايده: ځيني خلګ فکر کوي چي دوه يا څلور کسان به سره يو ځای سو په کور يا دوکان کي به جماعت وکړو، لومړی خو دوی د جماعت ثواب لاسته راوړای نه سي که يې لاسته راوړي نو بيا هم د لوی جماعت د ثواب څخه محرومه کېږي ځکه جماعتونه چي هر څومره لوی وي الله ﷻ ته خوښ وي، نو څوک چي د الله ﷻ رضا غواړي نو په هغه ډول دي يې وغواړي چي په هغه ډول د الله ﷻ رضا راتلای سي. په يو حديث کي راغلي دي چي

(٧٢) رواه البراز والطبراني باسناد لاباس به كذا في الترغيب وفي مجمع الزوائد رواه البزاز والطبراني في الكبير ورجال الطبراني موثقون و عزاه في الجامع الصغير الي الطبراني و البيهقي و رقم له بالصحة و عن ابي بن كعب رفعه بمعني حديث الباب و فيه قصة و في اخره وكلما كثر فهو احب الي الله عزوجل رواه احد و ابو داود والنسائي و ابن خزيمة و ابن حبان في صحيحهما و الحاكم و قد جزم يحيي بن معين و الذهلي بصحة هذا الحديث كذا في الترغيب

الله ﷻ ته درې شیان خوښ دي چې وې ویني لومړی د جماعت صف، دوهم بنده چې د تهجد لمونځ کوي، دریم هغه څوک چې په لښکر کې (د الله ﷻ د رضا لپاره) جنګېږي[۷۳].

څوک چې په تیاره کې جماعت ته ځي دهغو لپاره د پوره نور زیری دی

۷- عن سهل بن سعید الساعدي ﷺ قال قال رسول الله ﷺ بشر المشآئین في الظلم الي المساجد با النور التام یوم القیامة[۷۴].

ژباړه: سهل بن سعید ؓ فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم خلګ چې په تیارو کې مسجدو ته ځي هغوی ته په قیامت کې د پوره نور زېرى ورکړه.

فایده: یعني کوم څوک چې په دنیا کې په تیارو کې مسجد ته ځي د دې قدر به هغه وخت ورته معلوم سي چې د قیامت په ورځ ډېر هیبت وي هر سړی پخپل غم اخته وي الله ﷻ به ده ته د لمر په څېر یو نور ورکړي چې تر لمر به زیاته رڼا کوي. په یو حدیث کې راغلي دي چې دوی به د قیامت په ورځ د نور پر منبرونو بې فکره ناست وي او نور خلګ به په غم اخته وي.

په یو حدیث کې راغلي دي چې د قیامت په ورځ به الله ﷻ امر وکړي چې زما همسایګان څه سوه؟ ملائکې به ورته ووایي چې ستا همسایګان څوک دي؟ الله ﷻ به ورته و فرمایي: زما همسایګان د مسجدونو ابادوونکي وه. په یو حدیث کې راغلي دي چې الله ﷻ ته تر ټولو ځایونو خوښ مسجدونه دي او تر ټولو ورته ناخوښ ځایونه بازارونه دي. په یو حدیث کې راغلي دي چې مسجدونه د جنت باغونه دي[۷۵].

په یو صحیح حدیث کې راغلي دي چې ابو سعید ؓ د رسول الله ﷻ څخه روایت کړی دئ، چې که څوک مو ولیدی چې مسجد ته تلل یې عادت و، نو د ایمان شاهدي یې

---

(۷۳) جامع الصغیر

(۷۴) رواه ابن ماجه و ابن خزیمة في صحیحه و الحاکم و اللفظ له و قال صحیح علي شرط الشیخین کذا في الترغیب و في المشکوة بروایة الترمذي و ابي داود عن بریدة ثم قال رواه ابن ماجة عن سهل بن سعد و انس اه قلت و له شاهدو في منتخب کنز العمال بروایة الطبراني عن ابي امامة بلفظ بشر مدیحین الي المساجد في ظلم بمنابر من نور یوم القیامة یفزع الناس ولا یفزعون ذکر السیوطي في الدر المنثور في تفسیر قوله تعالي انما یعمر مساجد الله عدة روایات في هذا المعني

(۷۵) جامع صغیر

ورکړئ بیا یې دا آیات تلاوت کړی: إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ (الاية) یعني د الله ﷻ مسجدونه هغه څوک جوړوي چې پر الله ﷻ باندې ایمان لري[۷۶].

په یو حدیث کې راغلي دي چې د تکلیف په وخت کې اودس تازه کول او د مسجد و لوري ته قدم پورته کول او د لمانځه وروسته بل لمانځه ته انتظار کول ګناهونه مینځي[۷۷].

په یو حدیث کې راغلي دي چې مسجد څومره لیرې وي په هغه اندازه یې ثواب زیات وي[۷۸].

ځکه څومره چې مسجد لیرې وي په هغه اندازه قدمونه زیاتیږي په هر قدم باندې ثواب دئ همدا وجه وه چې اصحابانو به کوچني - کوچني قدمونه اخستل. په یو حدیث کې راغلي دي: درې شیان دي که یې و خلکو ته ثواب معلوم سي نو په جنګ به یې لاسته راوړي یو اذان کول، دوهم په جماعت لمونځ کول او دریم په اول صف کې درېدل دي[۷۹].

په یو حدیث کې راغلي دي چې د قیامت په ورځ چې خلک ډېر غمجن وي لمر به باندې ډېر تیز وي په دغه ورځ به اووه کسان د الله ﷻ د رحمت تر سیورې لاندې ناست وي یو د دغو اوو کسانو څخه هغه څوک دئ چې جماعت یې زړه وړی وي د مسجد څخه چې د څه کار لپاره راووزي نو بیا یې و مسجد ته د تللو خواهش وي. په یو حدیث کې راغلي دي چې څوک د جماعت سره محبت ساتي الله ﷻ د ده سره محبت ساتي[۸۰].

د سپېڅلي شریعت په هر حکم کې خیر او برکت وي او خامخا مصلحت پکښې نغښتی وي خو د الله ﷻ د حکمونو په ټولو مصلحتو باندې ځان خبرول ګران کار دئ خو هر سړي ته اړینه ده، چې د خپلي پوهي سره برابر ځان پرې خبر کړي همدا وجه ده چې علماء کرامو د خپلي پوهي مطابق د جماعت مصلحتونه ښودلي دي. زموږ حضرت شاه ولي الله په حجة الله البالغة کي په دې اړه یو تقریر لیکلی دئ چې مطلب یې داسي دئ:

د رسم او رواج د بربادیو د خلاصېدو لپاره یو ګټور کار دا هم دئ چې عبادتونه داسي عام سي چې د رواج ځای ونیسي او په هر وخت کې هر چیرې د هر چا ومخته پوه وي که ناپوه وي ادا سي. د کلو او ښارونو خلک په هغه اندازه کې برابر وي او خلک یو پر بل باندې په

---

(۷۶) ایضا، در

(۷۷) جامع الصغیر

(۷۸) ایضا

(۷۹) ایضا

(۸۰) ایضا

جماعت لمونځ مقرر سوی دئ. او داهم لویه وجه ده چي د عرفات په میدان کښي ټوله حاجیان په یوه حال او یوه میدان کښي دالله ﷻ طرف ته متوجه سي. لکه څرنګه چي حضرت شاه ولي الله رحمة الله علیه په حجة الله البالغة نومي کتاب کښي دا مضمون په ډېرو ځایونو کښي په پوره اهتمام سره ذکر کړی دئ. دا ټول د هغي ډلي په باره کي دي چي د الله ﷻ ذکر کونکي دي چي په حدیثونو کښي هم په ډېر والي سره دوی راغلي دي. ددې برعکس که چیري څوک د غافلینو په ډله کښي ګیر سي او په دغه وخت کښي د الله ﷻ په ذکر سره اخته سي نو دده په فضائلو کي هم ډېر حدیثونه راغلي دي په داسي وخت کي دالله ﷻ ولوري ته زیاته توجه کول په کار دي ددې لپاره چي دهغوی تراغیزی لاندي رانسي.

په حدیث شریف کښي راغلي دي چي د غافلینو په ډله کښي ذکر کونکی داسي دي لکه د جهاد څخه دتښتیدونکي ډلي څخه چي څوک کلک ودرېږي او مقابله وکړي.

په یو حدیث شریف کښی راغلي دي چي د غافلینو په دله کښی د الله ﷻ ذکر کونکي داسي دي لکه څوک چي دتښتیدونکو له طرفه څخه د کافرانو مقابله وکړي، دغه ډول ذکرکونکي داسي دي لکه په تاریک کور کي څراغ،همدا ډول ذکر کونکي داسي دي لکه په بې بلګو درختو کښي شنه او تازه درخته. همدا ډول دي کس ته الله ﷻ اول دده د جنت کور ورښیي او د ټولو انسانانو او حیوانانو په اندازه بخښنه ورته کوی داهغه وخت چي په دغه مجلسونو کښي په ذکر سره اخته وي او که داسي نوي نو دداسي مجلسونو پر ګډون باندی منعه راغلې ده.

په حدیث کښی راغلي دي چي د عشیره (انډیوالی) د مجلسونو څخه ځانونه وساتی. عزیزي رحمة الله علیه فرمایي :(ددې مطلب دادئ) چي په هغه مجلسونو کښي چي د الله ﷻ څخه ماسوا د بل چا یادول په ډېروالی سره وي. اویا په دغه مجلس کي خلګ په بې ځایه کارونو اوټوکو اخته وي ځان ځني وژغوري.

یو بزرګ وایې چي زه یو واري و بازار ته تلم. زما سره یو حبشي مینځه وه ما په بازار کښي یو ځای کښېنول چي وروسته به یې د ځان سره بو ځم. ما په هغه ځای کښي داونه لیدل او دهغه ځای څخه تللې وه ما ته درد (غصه) راغله زه کور ته راغلم هغه مینځه راغلی وه او وې ویل زما باداره! خفګان مه کوه. زه تا وداسي خلګو ته ورپرېښودم چي د الله ﷻ د ذکر څخه غافله وه زه و بریدم چي پر دوی باندی عذاب نازل نسی او په مځکه کښي ښخ نسي او زه هم ورسره په عذاب کښي ګیر نه سم.

عبادت کي مخکي کېدل فخر وګڼي د ژوندانه په چارو کي داسي عام سي چي بېلوالی يې ناممکن وي خو څرنګه چي په عبادتونو کي تر لمانځه زيات مهم عبادت نسته او نه داسي د دليل او حجت لپاره عبادت ستة لکه لمونځ نو دغه مهم عبادت پخپلو منځو کي عام رواجول ضروري دئ او د دې لپاره به د مسلمانانو سره يو ځای والی راسي او په اتفاق سره ادا کړل سي: همدا ډول په هر مذهب کي چي څه مشران او پيشوايان وي چي د هغو تابعداري کېږي په دوهمه درجه کي څه مشران وي چي لږ هڅوني ته اړتيا لري او په دريمه درجه کي داسي کمزوري عقيدې والا خلګ وي که چيري هغوي ته په ډلېز عبادت کي هڅونه ور نه کړل سي نو د سستی له امله عبادت هم پرېږدي. همدا وجه ده چي د مصلحت له مخي بايد خلګ په جماعت سره عبادت سره ادا کړي تر څو عبادت کوونکي او نه عبادت کونکي سره بېل سي او دعبادت سره د مينه لرونکو او مينه نه لرونکي به ښکاره فرق وسي. د ناخبرو خلکو به د علماوو تابعداري وسي. ناپوهو ته به د عبادت طريقه وروښودل سي. يا په بل عبارت ويلای سو چي عبادت د سپينو زرو په څېر دئ چي د ماهر سړي و مخته کښېښودل سي تر څو کوټ او ناکوټ سره معلوم کړي ښه عبادت ته دي اجازه ورکړي او ناجائز عبادت دي منع کړي. د دې څخه علاوه بله خبره دا ده چي زيات خلک چي په ځای کي سره جمع سي د الله ﷻ څخه وېره کوونکي وي، الله ﷻ ته عبادت کوونکي وي او د الله ﷻ د رحمت غوښتونکي وي په داسي اجتماع کي الله ﷻ د برکتونو او رحمتونو د نازليدو يو خاص اهميت اينبی دئ. بله خبره دا ده چي د امت محمدي د قيام موخه دا ده چي د الله ﷻ د توحيد کلمة دي لوړه سي د اسلام دين دي پر نورو د ينونو باندي غالب سي دا هغه وخت کېدای سي چي ټول خلک يعني خاص او عوام، لوی او کوچنيان، د ښار خلګ او د صحرا خلګ سره يو ځای سي او په ګډه دي د اسلام بهترين عباذت يعني لمونځ وکړي همدا وجه ده چي اسلام د جمعې لمانځه او جماعت لمانځه ته توجه کړيده چي بايد په پابندي سره ادا سي د دغه عبادت د ثوابونو اعلان يې کړی دئ او د پرېښودونکي لپاره يې عذاب ښودلی دئ. څرنګه چي اجتماع دوه ډله ده يوه اجتماع د کلي او محلې ده او بله اجتماع د ټول ښار ده څرنګه چي د ټول ښار اجتماع ګرانه ده او د کلي اجتماع اسانه ده نو ځکه يې د کلي اجتماع د هر لمانځه لپاره لازمي وبلل او د ټول ښار اجتماع يې اتمه ورځ يعني د جمعي په ورځ و ګرځول.

اصحابو او تابعينو بېله عذره د جماعت لمونځ پرېښودل حرام بللي دي او په جماعت لمونځ کول يې فرض بللي دي آن تر دې چې ځينو ويلي دي چې بېله جماعته لمونځ بېخي صحيح نه دئ. د حنفي مذهب له آنده لمونځ يې وسو خو د جماعت په پرېښودو مجرم سو.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ، چې دغه کس د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ څخه نافرماني وکړه. په بل روايت کي ابن عباس ﷺ فرمايي څوک چې اذان واوري او د جماعت لمانځه ته ولاړ نه سي نو د ښو اراده يې ونه کړه او نه ده ته د ښو اراده وسوه. حضرت ابوهريرة ﷺ فرمايي : څوک چې اذان واوري او جماعت ته ولاړ نه سي نو که د ده غوږونه د ويلي سوي سکې څخه ډک سي ښه دي.

بې له جماعته لمونځ کفر اونفاق دئ

٢- عن معاذ بن انس ﷺ عن رسول الله ﷺ انه قال الجفاء كل الجفآء و الكفر و النفاق من سمع منادي الله ينادي الي الصلوة فلا يجيبه(٨٢).

ژباړه : رسول الله ﷺ فرمايي: چې سراسر ظلم، نفاق او کفر دئ، څوک چې د الله ﷻ و لوري ته د بلني اواز واوري او جماعت ته ولاړ نه سي.

فايده: څومره سخته سزا ده چې څوک د جماعت ولوري ته بېله عذره نه ځي يعني دا چې دا کار د منافقانو او کافرانو دئ د مسلمانانو کار بېخي نه دئ. په يو بل حديث کي راغلي دي چې د سړي لپاره دغه بدبختي بس ده چې اذان واوري او جماعت ته ولاړ نه سي. سليمان بن ابي حثمة ﷺ د لوړو خلګو څخه دئ، نوموړی د نبي ﷺ په زمانه کي پيدا سوی دئ خو د کم عمرۍ له وجې د روايت موقع په لاس نه ده ورغلې. حضرت عمر ﷺ دی د بازار نګران مقرر کړی و، يوه ورځ ناڅاپه د سهار په لمانځه کي موجود نه و، حضرت عمر ﷺ د ده ولوري ته تشريف يووړی، د مور څخه يې پوښتنه وکړه چې دی نن د سهار په لمانځه کي نه و، موريې ورته وويل چې ده ټوله شپه په نفلو تېره کړه خو وروسته يې د خوب د غلبې څخه سترګې سره ورغلې. عمر ﷺ وفرمايل: که زه د سهار په لمانځه کي شريک سم نو دا ماته تر ټولې شپې نفلونو غوره دي.

---

(٨٢) رواه احمد و الطبراني من رواية زبان بن فايد كذا في الترغيب وفي مجمع الزوائد رواه الطبراني في الكبير و زبان ضعفه ابن معين وو ثقه ابو حاتم اهـ وعزاه في الجامع الصغير الي الطبراني ورقم له با الضعف.

د جماعت نه کوونکو کورونه د سوځلو وړ دي

۳- عن ابي هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ لقد هممت ان امر فتيتي فيجمعوا لي حزما من حطب ثم آتي قوما يصلون في بيوتهم ليست بهم علة فاحرقها عليهم(۸۳).

ژباړه : نبي ﷺ فرمايي: زما زړه غواړي چي يو څو ځوانانو ته ووايم چي ډېري خاشې راجمع کړي او بيا زه ورسم د هغه خلکو کورونه وسوځم چي بېله عذره په کور کي لمونځونه کوي.

فايده: نبي ﷺ د دومره شفقت او رحم سره چي پر خپل امت باندي يې درلودی او يو کوچنی تکليف يې هم باندي پېرزو نه و، خو پر جماعت پرېښودونکي باندي دومره په غصه و، چي د کور سوځلو ته يې هم اړتيا وه.

جماعت نه کوونکی دشيطان تر بريد لاندي راځي

٤- عن ابي دردآء ﷺ قال سمعت رسول الله يقول مامن ثلثة في قرية ولا بدو لا تقام فيهم الصلوة الا استحوذ عليهم الشيطان فعليكم با الجماعة فا نما يا كل الذئب من الغنم القاصية(۸٤).

ژباړه : رسول الله ﷺ فرمايي: په کوم ځای کي چي درې کسان موجود وي او جماعت نه کوي پر دوی باندي شيطان برلاسی وي پر تاسو جماعت کول لازم دي ځکه شرموښ هغه پسه خوري چي د رمې څخه وتلی وي. (د انسان شرموښ شيطان دی).

فايده: د دې څخه معلومه سوه چي کوم خلک په زمينداری مشغول وي که درې تنه هم وي بايد جماعت وکړي بلکي که دوه نفره هم وي جماعت يې بهتر دئ. بزګران خو لومړی

---

(۸۳) رواه مسلم وابوداود وابن ماجة و الترمذي كذا في الترغيب قال السيوطي في الدر اخرج ابن ابي شيبة و البخاري و مسلم وابن ماجة عن ابي هريرة ﷺ رفعه اثقل الصلوة علي المنافقين صلوة العشاء و صلوة الفجر ولويعلمون مافيها لآ توهما ولو حبوا و لقد هممت ان امر با الصلوة فتقام الحديث بنحوه

(۸٤) رواه احمدو ابوداود والنسائي و ابن خزيمة وابن حبان في صحيحهما و الحاكم و زاد رزين في جامعه وان ذئب الا نسان الشيطان اذا خلا به كله كذا في الترغيب ورقم له في الجامع الصغير باالصحة و صححه الحاكم و اقره عليه الذهبي

لمونځ نه کوي خپله بوختيا پخپل فکر عذر بولي او کوم څوک چې ځان د ينداره بولي هغه يې بيا يوازي کوي. حال دا چې د څو مځکو ځښتنان چې سره يو ځای سي لمونځ په جماعت وکړي څومره لوی جماعت به ځني جوړ سي او څومره زيات ثواب به لاسته راوړي. څوک چې د څو پيسو په خاطر يخ، ګرمي، غرمه او ماښام په تکليفونو کي تېروي او دومره لوی ثواب د لاسه ورکوي او د دې هيڅ پروا نه لري ډېر لوی تاوان دئ حال دا که دا خلګ په جماعت سره په صحرا کي لمونځ وکړي ثواب يې نور هم زياتېږي آن تر دې چې په حديث کي راغلي دي چې تر پنځوسو لمونځو پوري يې ثواب رسېږي. په يو حديث کي راغلي دي: که يو چوپان اذان وکړي بيا لمونځ وکړي نو الله ﷻ زيات ځني خوشالېږي او الله ﷻ په فخر او حيرانتيا سره ملائکو ته وايي چې وګورئ زما بنده اذان وکړ او لمونځ يې وکړ خاص زما د بېري څخه نو ما ده ته د ګناهو بخښنه وکړه او وجنت ته داخلېدو پرېکړه مي وکړه[٨٥].

چي جماعت نه کوي که شپه او ورځ عبادت کوي بيا هم په دوزخ کي دئ

٥- عن ابن عباس رضي الله عنه انه سئل عن رجل يصوم النهار ويقوم الليل ولا يشهد الجماعة ولا الجمعة فقال هذا في النار[٨٦].

ژباړه: د ابن عباس رضي الله عنه څخه چا پوښتنه وکړه چې يو څوک ټوله ورځ روژه نيسي او ټوله شپه عبادت کوي مګر د جماعت او جمعې لمانځه ته نه ځي (د ده څه حکم دئ؟) ابن عباس رضي الله عنه ورته وفرمايل: دا سړی به په دوزخ کي وي.

فايده: که څه هم يو وخت خو به د دوزخ څخه راووزي ځکه مسلمان دئ مګر دا نه ده معلومه چې په دوزخ کي به څومره وخت پروت وي. ځيني ناپوه صوفيان د وظيفې پر خوا زور وهي او تر جماعت لمانځه يې غوره بولي دا بزرګي بولي حال دا چې کامله کاميابي د الله ﷻ د محبوب په تابعداري کي ده. په يو حديث کي راغلي دي چې پر درو کسانو باندي د الله ﷻ لعنت اوري يو هغه کس چې لمونځ ګذاره مسلمان پر يو ناجائز شي باندي ځني ناراضه وي او دی امامت ورکوي، دوهم هغه ښځه چې مېړه ځني ناراضه وي، دريم هغه سړی چې اذان اوري او جماعت ته نه ځي.

---

(٨٥) مشکوة.

(٨٦) رواه الترمذي موقوفاً كذا في الترغيب و في تنبيه الغافلين عن مجاهد ان رجلاً جاء الي ابن عباس فقال يا ابن عباس ماتقول في رجل فذكره بلفظه زاد في اخره فا ختلف اليه شهراً يساله عن ذالک وهو يقول هو في النار.

٦- اخرج ابن مردويه عن كعب الاحبار قال والذي انزل التوراة علي موسي والا نجيل علي عيسي والزبور علي داود و الفرقان علي محمد ﷺ انزلت هذه الا يات في الصلوات المكتوبات حيث ينادي بهن يوم يكشف عن ساق الي قوله وهم سالمون الصلوة الخمس اذا نودي بها[٨٧].

ژباړه: کعب الا حبار فرمايي: زما دي قسم په هغه ذات وي چي تورات يې پر موسی عليه السلام نازل کړی دئ، زبور يې پر داود عليه السلام نازل کړی دئ، انجيل يې پر عيسی عليه السلام نازل کړی دئ او قرانکريم يې پر محمد ﷺ نازل کړی دئ چي لاندي آياتونه د جماعت لمانځه په اړه نازل سوي دي: يَوْمَ يُكْشَفُ .... (د آيات ترجمه داسي ده) کوم ورځ چي الله جل جلاله د ساق تجلی (روښنايي) ښکاره کړي خلګ به د سجدې لپاره راوبولي دغه خلګو به د شرم له وجي سترګي ټيټي نيولي وي سجده به نه سي کولای ذلت به پرې خپور سوی وي ځکه دوی به په دنيا کي سجده کولو ته رابلل کېده دوی به درواغ سره جوړول (سجدي به يې نه کولې).

فايده: د ساق تجلا يوه خاصه روښنايي ده کله چي دغه روښنايي بله سي نو ټول مسلمانان به پر سجده پرېوزي خو ځيني خلګ به داسي وي چي ملاوي به يې تختې وي سجده به نه سي کولای دا چي دغه به نو کوم کسان وي په دې کي بيل – بيل تفسيرونه سوي دي يو د کعب الا حبار پورتنی تفسير دئ چي ابن عباس او نورو هم دغسي کړی دئ چي دا به هغه کسان وي چي په دنيا کي به د جماعت د لمانځه بلنه ورکړل سوه دوی به جماعت ته نه حاضرېدل. دوهم تفسير په بخاري کي د ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه رانقل سوی دئ، چي دی وايي چي ما د نبي عليه السلام څخه واورېدل چي دا به هغه کسان وي چي په دنيا کي به يې عبادت د ريا او ځان ښودني لپاره کاوه. دريم تفسير دا دئ چي کافران دي چي په دنيا کي به يې هيڅ لمونځ نه کاوه. څلورم تفسير دا دئ چي دا منافقين دي. والله اعلم با الصواب

---

(٨٧) واخرج البيهقي في الشعب عن سعيد بن جبير قال الصلوات في الجماعات و اخرج البيهقي عن ابن عباس قال الرجل يسمع الا ذان فلا يجيب الصلوة كذا في الدرالمنثور قلت و تمام الا ية :يَوْمَ يُكْشَفُ عَن سَاقٍ وَيُدْعَوْنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ ﴿٤٢﴾ خَٰشِعَةً أَبْصَٰرُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ وَقَدْ كَانُوا۟ يُدْعَوْنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ وَهُمْ سَٰلِمُونَ ﴿٤٣﴾ ــ سورة القلم الاية (٤٢ ـ ٤٣

په هر صورت د جماعت د لمانځه د تفسیر لپاره کعب الاحبار قسم کړی دئ او ابن عباس یې تائید کړی دئ ځکه دی هم د لویو او مخورو اصحابانو څخه دئ څومره د کمزوری خبره ده چي د حشر پر میدان نور مسلمانان پر سجده پرېوزي او دی به په ذلت او رسوایۍ سره تیټتي ستر ګي ولاړ وي سجده به نه سي کولای. د دې څخه پرته نور عذابونه هم د جماعت پرېښودونکي لپاره راغلي دي خو د مسلمان لپاره د یوه عذاب د بیان ارتیا هم نسته یوازي د الله ﷻ د رسول ﷺ امر ورته بس دئ او د چا سره چي د رسول ﷺ د امر ارزښت نه وي نو د ده لپاره په زرګونو ډوله عذابونه بیانول هم بې ګټې دي یوازي هغه وخت به پښېماني کوي چي د الله ﷻ د سخت عذاب سره لاس او ګرېوان سي.

دریم باب

د خشوع او خضوع په بیان کي

(خشوع او خضوع یو د بل پر ځای استعمالېږي خو دومره فرق یې سته چي خشوع په زړه کي د الله ﷻ په وړاندي عاجزي کولو ته وایي او خضوع و دې ته وایي چي په اوازاو اندامونو سره د الله ﷻ په وړاندي عاجزي وکړي) ډېر خلک داسي دي چي لمونځ کوي ځیني یې د جماعت پابندي هم کوي خو په داسي ډول یې کوي چي تر ګټې یې تاوان ډېر سي لمونځ یې د قبلیدو پر ځای د ده پر مخ باندي د یوې زړې ټوټې په څېر ور وغورځول سي. که څه هم دغه لمونځ تر نه کوونکي ښه دئ ځکه د نه کوونکي عذاب تر دې هم سخت دئ ځکه د ده لمونځ خو وسو مګر قبول نه سو پر مخ په وويشتل سو، ثواب یې نه وسو مګر د نه کوونکي چي کوم کبر، غرور او بې پروایي ده هغه تر دغه ډېره ده. څوک چي کارو بار پرېږدي تکلیف قبلوي نو د دې پر ځای چي خالي لاس راځي په کار ده، چي څومره کېدای سي په هغه پیمانه دي ګټه راوړي. (یعني ښه لمونځ دي وکړي چي هر څومره لمونځ ښه کوي په هغه اندازه یې ګټه ډېرېږي) دا چي د ټولو قربانیو حکمتونه یو دي (نو د ددیل په موخه ویلاي سم) چي الله ﷻ فرمایي:

لَن يَنَالَ ٱللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا وَلَٰكِن يَنَالُهُ ٱلتَّقْوَىٰ مِنكُمْ (۸۸)

(۸۸) سورة الحج الایة (۳۷).

ژباړه: و الله ﷻ ته یې نه غوښې رسیږي او نه وینې بلکې و الله ﷻ ته ستاسو تقوای او اخلاص رسیږي.

مطلب دا دئ چې څومره د یو چا اخلاص وي په هغه اندازه به قبولیت وي. حضرت معاذ رضي الله عنه فرمایي کله چې زه رسول الله ﷺ یمن ته لیږلم نو ما د آخري وصیت غوښتنه ځنې وکړه. رسول الله ﷺ راته وویل چې په هر کار کې اخلاص کوه په اخلاص سره لږ کار هم ډېر شی دئ. حضرت ثوبان رضي الله عنه فرمایي چې ما د نبي ﷺ څخه واورېدل چې فرمایل یې: اخلاص والاوو ته دې خوشالي وي پر دوی د هدایت ډیوې بلې دي او د دوی په برکت ډېرې سختې فتنې لیرې کیږي. په یو حدیث کې راغلي دي چې الله ﷻ د ضعیفو خلکو په برکت د دې امت مرسته کوي هم دا ډول د دوی په دعا، د دوی په لمانځه او د دوی په اخلاص سره.(۸۹)

د لمانځه په اړه الله ﷻ فرمایي:

فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ ﴿٤﴾ الَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ ﴿٥﴾ (۹۰)

ژباړه: لویه خرابي ده هغه خلکو لره چې په خپل لمانځه ناخبره وي.

د ناخبره کېدو په اړه بیل – بیل تفسیرونه راغلي دي لومړي دا چې د وخت معلومات ورته نه وي قضا یې کړي، دوهم دا چې متوجه نه وي یوې خوا او بلې خوا ته مشغول وي، دریم دا چې د رکعتونو په اړه معلومات ورته نه وي. په بل ځای کې الله ﷻ د منافقینو په اړه فرمایي:

وَإِذَا قَامُوا إِلَى الصَّلَاةِ قَامُوا كُسَالَىٰ يُرَاءُونَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ اللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٤٢﴾ (۹۱)

ژباړه: کله چې دوی لمانځه ته ولاړ سي سستي کوي او د دې لپاره لمونځ کوي چې خلک یې ووینې (یعني د ریا لپاره) او دوی د الله ﷻ ذکر ډېر کم کوي.

یو ځای الله ﷻ د یو څو انبیاوو (علیهم السلام) بیان په دې ډول فرمایلی دئ:

۞ فَخَلَفَ مِن بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلَاةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوَاتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ﴿٥٩﴾ (۹۲)

---

(۸۹) ترغیب.

(۹۰) سورة ماعون الایة (۴ـ ۵)

(۹۱) سورة النساء الایة (۱۴۲)

(۹۲) سورة مریم الایة (۵۹)

ژباړه: تر دې انبیآء (علیهم السلام) وروسته به داسي نااهله خلګ پاته سوه چي لمونځونه به یې ضائع کول او د شهوتونو تابعداري به یې کول ژر دئ چي په اخرت کي به بربادي وویني.

د غَیّ لفظ د لغتو په کتابو کي د ګمراهۍ په معنی دئ او دلته مراد ځني د آخرت هلاکت او بربادي ده. ډېرو مفسرینو لیکلي دي چي غَيّ د دوزخ یوه طبقه ده چي ویني او زوي پکښې جمعه کېږي او بیا دغه خلګ پکښې اچول کېږي. په یو ځاي کي الله ﷻ فرمایي:

وَمَا مَنَعَهُمْ أَن تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقَـٰتُهُمْ إِلَّآ أَنَّهُمْ كَفَرُوا۟ بِٱللَّهِ وَبِرَسُولِهِۦ وَلَا يَأْتُونَ ٱلصَّلَوٰةَ إِلَّا وَهُمْ كُسَالَىٰ وَلَا يُنفِقُونَ إِلَّا وَهُمْ كَـٰرِهُونَ ﴿٥٤﴾ (۹۳)

ژباړه: هیڅ منع کوونکي نسته چي د دوی خیراتونه دي قبول سي مګر دا چي دوی په الله ﷻ او د هغه په رسول سره کفر کړی دئ، دوی لمونځ نه کوي مګر سست پوست کېږي او نه دوی خیراتونه کوي مګر په مات زړه باندي.

او کوم کسان چي ښه لمونځ کوي د هغوی په اړه الله ﷻ فرمایي:

قَدْ أَفْلَحَ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿١﴾ ٱلَّذِينَ هُمْ فِى صَلَاتِهِمْ خَـٰشِعُونَ ﴿٢﴾ وَٱلَّذِينَ هُمْ عَنِ ٱللَّغْوِ مُعْرِضُونَ ﴿٣﴾ وَٱلَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَوٰةِ فَـٰعِلُونَ ﴿٤﴾ وَٱلَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَـٰفِظُونَ ﴿٥﴾ إِلَّا عَلَىٰٓ أَزْوَٰجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَـٰنُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ ﴿٦﴾ فَمَنِ ٱبْتَغَىٰ وَرَآءَ ذَٰلِكَ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْعَادُونَ ﴿٧﴾ وَٱلَّذِينَ هُمْ لِأَمَـٰنَـٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَٰعُونَ ﴿٨﴾ وَٱلَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَوَٰتِهِمْ يُحَافِظُونَ ﴿٩﴾ أُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْوَٰرِثُونَ ﴿١٠﴾ ٱلَّذِينَ يَرِثُونَ ٱلْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيهَا خَـٰلِدُونَ ﴿١١﴾ (۹۴)

ژباړه: بېشکه کامیابي او خلاصون د هغه کسانو لپاره دئ چي په لمانځه کي خشوع کوونکي وي، د بې ګټو شیانو څخه اعراض کوونکي وي، د زکوة ورکونکي وي، د خپلو عورتونو حفاظت کوونکي وي، مګر د خپلو منکوجاتو او مینځیانو پرته په دې کي ملامتیا نسته او څوک چي د دې پرته شهوت لټوي هغه تېري کونکي دي (کامیاب کسان هغه دي) چي خپلو ژمنو او امانتونو ته شړونکي وي او هغه کسان دي چي خپلو لمونځونو ته

(۹۳) سورة توبة الاية (۵۴)

(۹۴) سورة المؤمنون الايات (۱ ـ ۱۱)

ساتونکي وي هم دغه کسان د جنت وارثان دي چي د فردوس جنت وارثان به جوړېږي او تل
به په دې جنت کي وي.
په حديث کي راغلي دي چي فردوس د جنت بهترينه حصه ده د فردوس څخه د جنت
تو له نهرونه راوتلي دي که تاسو د جنت دعا کوئ نو د فردوس جنت دعا کوی. په بل ځای
کي الله ﷻ فرمايي:
وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى الْخَاشِعِينَ ﴿٤٥﴾ الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَاقُوا رَبِّهِمْ وَأَنَّهُمْ إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ﴿٤٦﴾(٩٥)
ژباړه: بېشکه لمونځ ګران خو پر خشوع کوونکو باندي ګران نه دئ (خشوع
کوونکي) هغه کسان دي چي دوی په دې آند دي چي د الله ﷻ سره به ملا قي کېږي او
الله ﷻ ته به يې رجوع وي.
د داسي خلګو د ستايني په اړه الله ﷻ په بل ځای کي فرمايي:
فِي بُيُوتٍ أَذِنَ اللَّهُ أَن تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ يُسَبِّحُ لَهُ فِيهَا بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ ﴿٣٦﴾
رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ
فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ ﴿٣٧﴾ لِيَجْزِيَهُمُ اللَّهُ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا وَيَزِيدَهُم مِّن فَضْلِهِ وَاللَّهُ يَرْزُقُ
مَن يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٣٨﴾(٩٦)

ژباړه: په داسي کورو کي چي الله ﷻ امر کړی دئ چي پورته دي سي او ادب دي يې
وسي، د الله س د نامه ذکر پکښې کېږي د الله ﷻ تسبيح سهار او ماښام پکښې ويل کېږي.
داسي کسان دي چي د الله ﷻ د ذکر څخه، د لمانځه څخه او د زکوة ورکولو څخه يې تجارت
او خرڅول نه غافله کوي، دوی د هغه ورځي څخه وېرېږي چي زړونه او سترګي پکښې
پرېشانه وي (يعني د قيامت د ورځي څخه) د دې لپاره چي الله ﷻ دوی ته د نېکو عملونو
بدله ورکړي او زيات انعامات ورکړي او الله ﷻ و چاته چي يې خوښه سي بې حسابه رزق
ورکوي.

تو وہ داتا ہی کہ دینی کی لی

در تری رحمت کي ہین ہر دم کہلی

(٩٥) سورة بقرة الايتان (٤٥ ـ ٤٦)
(٩٦) سورة النور الاياٰت (٣٦ ـ ٣٨)

يعني ته هغه ورکوونکی يې چې د ورکړې لپاره ستا د رحمت دروازې هر وخت خلاصې وي.
حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چې د لمانځه د قائمولو څخه مطلب دا دئ چې رکوع او سجده په ښه ډول وکړي، په پوره ډول متوجه وي او لمونځ په خشوع سره وکړي. د قتاده رحمه الله څخه هم داسې نقل سوی دئ چې د لمانځه قائمولو څخه مطلب دا دئ چې د لمانځه د وختونو حفاظت وکړی، اودس، رکوع او سجده په ښه ډول ادا کړی. يعني په کوم ځای کې چې أَقَامَ الصلوةَ – او – يُقِيمُوا الصلوةَ راغلی دئ هم دغه شی ځني مراد دئ[٩٧]

په بل ځای کې الله جل جلاله د دغه خلګو په اړه فرمايي:

وَعِبَادُ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى ٱلْأَرْضِ هَوْنًا وَإِذَا خَاطَبَهُمُ ٱلْجَٰهِلُونَ قَالُوا۟ سَلَٰمًا ﴿٦٣﴾ وَٱلَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَقِيَٰمًا ﴿٦٤﴾ [٩٨]

ژباړه: د الله جل جلاله خاص بنده ګان هغه کسان دي چې پر مځکه باندې په عاجزۍ سره ګرځي او کله چې د جاهلانو سره مخ سي نو سلام ورته وايي (يعني د دوی د سلامتۍ خبره کوي چې د شر ختمولو لپاره وي او يا د ليرې څخه سلام وايي فقط) دا هغه کسان دي چې ټوله شپه د خپل رب په عبادت کې تېروي او پر لمانځه باندې ولاړ وي.

وروسته يې څه نور صفتونه هم بيان کړي دي په بل ځای الله جل جلاله فرمايي:

أُو۟لَٰٓئِكَ يُجْزَوْنَ ٱلْغُرْفَةَ بِمَا صَبَرُوا۟ وَيُلَقَّوْنَ فِيهَا تَحِيَّةً وَسَلَٰمًا ﴿٧٥﴾ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۚ حَسُنَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا ﴿٧٦﴾ [٩٩]

ژباړه: دا هغه کسان دي چې د جنت لوړې ودانۍ به په بدله کې ور کړل سي د دوی د صبر په وجه او دوی به د ملائکو د سلامونو او استقبال سره مخ سي (کله چې جنت ته ځي) او په دغه جنت کې به همېشه وي او د غه جنت ښو مره ښه ځای او د استوګنې ځای دئ.

په بل ځای کې الله جل جلاله فرمايي:

وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِم مِّن كُلِّ بَابٍ ﴿٢٣﴾ سَلَٰمٌ عَلَيْكُم بِمَا صَبَرْتُمْ ۚ فَنِعْمَ عُقْبَى ٱلدَّارِ ﴿٢٤﴾ [١٠٠]

---

(٩٧) در

(٩٨) سورة الفرقان الايتان (٦٣ ـ ٦٤)

(٩٩) سورة الفرقان الاياتان (٧٥ ـ ٧٦)

(١٠٠) سورة الرعد الايتان (٢٣ ـ ٢٤)

ژباړه: ملائکي به پر دوی باندي د هري دروازې څخه راننوزي او وايي به سلام دي پر تاسو ستاسو د صبر په وجه باندي وي (او يا په دې وجه دي سلام وي چي تاسو پر دين باندي ټينګ ولاړ واست). پس نو ښه عاقبت د هغه جهان دئ (يعني که داسي چاته ورسېږي ډېر ښه پايلي دي.

د دوي د ستاينې په اړه بل ځای الله ﷻ فرمايي:

تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ ٱلْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ ﴿١٦﴾ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ أُخْفِىَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٧﴾ (١٠١)

ژباړه: هغه داسي خلک دي چي د شپې د خپلو بسترو څخه جلا سي (په عبادت مشغول سي) خپل رب د دوزخ څخه د وېري او د جنت په اميد بولي او د هغه څخه چي موږ په رزق ورکړي دي نفقه کوي.

هيچا ته معلومات نسته چي د دې خلګو لپاره څومره د سترګو يخوالی پټ سته چي دوی ته د نيکو عملونو په بدله کي ورکول کېږي.

په بل ځای کي الله ﷻ د دوی په اړه فرمايي:

إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿١٥﴾ ءَاخِذِينَ مَآ ءَاتَىٰهُمْ رَبُّهُمْ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَبْلَ ذَٰلِكَ مُحْسِنِينَ ﴿١٦﴾ كَانُوا۟ قَلِيلًا مِّنَ ٱلَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ ﴿١٧﴾ وَبِٱلْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴿١٨﴾ (١٠٢)

ژباړه: بېشکه متقيان د جنت او چينو په منځ کي وي او د رب د خوا څخه چي کوم ثواب دوی ته ورکول کېږي دوی به هغه په خوشالي سره اخلي او د دې مخکي (په دنيا کي) به نېکي کوونکي وي دوی به د شپې لږ خوب کوي او د شپې په آخر کي به دوی د الله ﷻ څخه د بخښني غوښتنه کوي.

په بل ځای کي الله ﷻ فرمايي:

أَمَّنْ هُوَ قَٰنِتٌ ءَانَآءَ ٱلَّيْلِ سَاجِدًا وَقَآئِمًا يَحْذَرُ ٱلْـَٔاخِرَةَ وَيَرْجُوا۟ رَحْمَةَ رَبِّهِۦ ۗ قُلْ هَلْ يَسْتَوِى ٱلَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ۗ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٩﴾ (١٠٣)

---

(١٠١) سورة السجدة الايتان (١٦ ـ ١٧).
(١٠٢) سورة الذاريات الايات (١٥ ـ ١٨).
(١٠٣) سورة الزمر الاية (٩).

ژباړه : (ایا برابر دي بې دينه) او هغه څوک چې د شپې عبادت کوي کله سجده کوي کله ولاړ وي، د آخرت څخه وېرېږي او د الله ﷻ و رحمت ته امید لري ایا برابر دي هغه کسان چې پوهېږي او هغه کسان چې نه پوهېږي. د دې خبرو څخه يوازې پوهان نصيحت اخلي.

په بل ځای کې الله ﷻ فرمايي:

﴿ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ خُلِقَ هَلُوعًا ۝١٩ إِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ جَزُوعٗا ۝٢٠ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلۡخَيۡرُ مَنُوعًا ۝٢١ إِلَّا ٱلۡمُصَلِّينَ ۝٢٢ ٱلَّذِينَ هُمۡ عَلَىٰ صَلَاتِهِمۡ دَآئِمُونَ ۝٢٣ ﴾(۱۰۴)

ژباړه : بېشکه انسان بې صبره پیدا سوی دئ کله چې شر ورته ورسېږي نو زيات وار خطا سي او کله چې خير ورته ورسېږي نو دی بخل کوي (وایي داسي نه چې بل چاته ورسېږي) مګر لمونځ کوونکي (داسي نه دي) چې پر لمنځو باندي پابندي کوي.

په بل ځای کې الله ﷻ فرمايي:

﴿ وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَلَىٰ صَلَاتِهِمۡ يُحَافِظُونَ ۝٣٤ أُوْلَٰٓئِكَ فِي جَنَّٰتٖ مُّكۡرَمُونَ ۝٣٥ ﴾(۱۰۵)

ژباړه : هغه کسان چې د لمونځو حفاظت کوي دا هم هغه کسان دي چې په جنت کې به د دوی عزت او اکرم کېږي.

د دې پرته نور هم په ډېرو آیاتو کې د لمانځه کولو امر سوی دي او د لمونځ کوونکي فضلیتونه او ارزښتونه بیان سوي دي چې د دوی به اکرام او عزت کېږي. په حقیقت کې لمونځ داسي دولت او شتمني ده چې د دواړو جهانو سردار حضرت محمد ﷺ فرمایلي دي چې لمونځ زما د سترګو یخوالی دئ همدا وجه وه چې ابراهیم علیه السلام دعا په دې ډول کړېده.

﴿ رَبِّ ٱجۡعَلۡنِي مُقِيمَ ٱلصَّلَوٰةِ وَمِن ذُرِّيَّتِيۚ رَبَّنَا وَتَقَبَّلۡ دُعَآءِ ۝٤٠ ﴾(۱۰۶)

ژباړه : اې خدايه! ما د لمانځه پابنده وګرځوه او زما په اولاد کې هم داسي څوک پيدا کړه چې د لمانځه پابندي کوي اې خدايه! زموږ دعا قبوله کړه.

ګورئ و الله ﷻ ته محبوب پيغمبر چې د خليل لقب هم لري (يعني د الله ﷻ اشنای) هغه د الله ﷻ څخه د لمانځه اهتمام غواړي. خپله الله ﷻ و خپل نازولي پيغمبر ته فرمايي:

---

(۱۰۴) سورة المعارج الايات (۱۹ ـ ۲۳).
(۱۰۵) سورة المعارج الايتان (۳۴ ـ ۳۵).
(۱۰۶) سورة ابراهيم الاية (۴۰).

وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَوٰةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا لَا نَسْأَلُكَ رِزْقًا نَّحْنُ نَرْزُقُكَ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوَىٰ (١٠٧)

ژباړه: خپله کورنۍ په لمانځه سره امر کړه او خپله هم لمونځ کوه موږ ستا څخه رزق نه غواړو بلکي موږ تاته رزق درکوو او ښې پایلي تقوی لره دي. (یعني پرهیزګارانو لره دي).

په یو حدیث کي راغلي دي چي کله به پر نبي ﷺ باندي یو څه تنګسیا راغله نو د لمانځه امر به یې کاوه او پورتنی آیات به یې تلاوت کړ. هم دا ډول د نورو انبیاوو څخه هم نقل سوی دئ چي کله به دوی ته څه تکلیف ورسېدی نو دوی به په لمانځه مشغوله سوه. موږ د یوه داسي مهم او ضروري شي څخه بې پروا یو او د اسلام او مسلمانۍ لویې - لویې دعوې هم کوو او بیا هم دې خوا ته نه متوجه کېږو بلکي که موڅوک دې خوا ته رابولي نو موږ یې مخالفت کوو او خبري پسې کوو او کوم څوک چي لمونځ کوي هغه هم په داسي ډول باندي کوي که ټوکي ورته وواېو بې ځایه به نوي ځکه ارکان یې پوره نه ادا کوي. د خشوع هیڅ پروا نه لري حال دا چي د رسول الله ﷺ لمونځونه زموږ په مخکي تېر سوه د اصحابو کرامو کارنامې زموږ په مخکي تېري سوې، د دوی مبارکانو تابعداري پر موږ باندي لازمه ده. د اصحابو رضي الله عنهم څو قصې مي د نمونې په ډول په حکایت صحابه کي رانقل کړې بیا یې د بیان اړتیا نسته اوس غواړم چي د یو څو بزرګانو قصې بیان کړم او بیا د نبي ﷺ وینا وي ر نقل کړم.

د بزرګانو قصې

شیخ عبد الواحد رحمة الله علیه د مخورو بزرګانو څخه دئ، دی مبارک وایي چي یوه شپه دومره خوب راباندي غالب سو، چي د شپې اوراد راڅخه پاته سوه د شپې خوب وینم چي یوه ډېره ښایسته نجلۍ په خوب کي راغله د شنو ورېښمو جامې یې اغوستي وي، د پښو چپلکي یې هم په ذکر اخته وې او دایې ویل: زما طلب او کوشش کوه زه ستا په طلب کي یم د دې څخه وروسته یې د عشق اشعار ویل کله چي راپورته سوم قسم مي وکړ، چي بیا به نه بیدېږم. ویل سوي دي چي ده مبارک تر څلویښتو کالو پوري د سهار لمونځ د ماخوستن په اوداسه ادا کړی (١٠٨).

---

(١٠٧) سورة طٰه الاية (١٣٢).

(١٠٨) نزهة المجالس.

شیخ مظهر سعدي رحمه الله یو بزرګ دئ چې تر شپېتو کالو پورې یې د الله جل جلاله په عشق کي ژړل. یوه شپه یې خوب لیدی لکه چې یوه ویاله د مشکو څخه ډکه وي پر غاړه یې د ملغلرو درختې وې او ښاخونه یې د سرو زرو وي دغه ښاخونه یې ښوري په غه ځای کې یوه ښایسته نجلۍ نامسته ده د الله جل جلاله تسبیح وایي ما پوښتنه ځنې وکړه چې تاسو څوک یاست؟ هغې دوه شعرونه راته ویل چې مطلب یې داسي و: زموږ د خلګو معبود او د محمد صلی الله علیه وسلم پروردګار د دې لپاره پیدا کړي یو چې د شپې الله جل جلاله ته ودرېږو او ورسره راز او نازاو مناجات وکړو. ابوبکر ضریر رحمه الله وایې چې زما په خوا کي یو غلام اوسېدی چې ټول عمر به یې د ورځي روژه نیول او د شپې به یې د تهجد لمونځ کاوه. یوه ورځ راغلی ما ته یې وویل چې زه نن نابېره د شپې بیده سوی وم خوب مي لیدی چې محراب وچاودی د منځ څخه یې ډېرې ښائسته نجوني راووتې په دوی کي یوه ډېره بدشکله وه ما پوښتنه ځني وکړه چې تاسو څوک یاست؟ او دا بد شکله څوک ده؟ دوی راته وویل چې موږ ستا هغه د عبادت شپې یو او دا بد شکله ستا د نن شپه ده چې ته بیده سوی یې [۱۰۹].

یو بزرګ وایي چې یوه شپه ما ته داسي خوب راغلی چې بېخي مي سترګي نه رونېدې په خوب کي یوه داسي ښائسته نجلۍ راته راغله چې ما تر اوسه نه وه لیدلې او خوشبویي ځني پورته کېده چې ما تر اوسه داسي خوشبویي نه وه لیدلې ما ته یې یو کاغذ راکړ، په هغه کي درې شعرونه لیکلي وه چې مطلب یې داسي و: ته په خوند، خوند په خوب بیده یې او د جنت د ماڼیو څخه غافله یې ته به تل هلته اوسېږې او هلته مرګ نه راځي د خوب څخه کښېنه تر خوب تا ته د تهجد په لمانځه کي قران ویل بهتر دي. دی مبارک وایي ما ته چې هر کله خوب راسي نو دا اشعار رایاد سي بیا خوب بېخي راڅخه و تښتي. حضرت عطاء رحمه الله فرمایي چې زه بازار ته ولاړم هلته یوه مینځه خرڅېدله چې لېونۍ ښکارېدله ما دغه مینځه په اوه اشرفۍ رانیول کورته مي بوتله کله چې د شپې یو څه برخه تېره سوه مینځه ولاړه سوه اودس یې تازه کړ لمونځ یې په داسي ډول شروع کړ، چې ساه په ژړا – ژړا ځني وتله تر لمانځه وروسته یې مناجات شروع کړ، داسي یې ویل: اې الله جل جلاله! ستا دې زما سره په محبت قسم وي پر ما رحم وکړه ما ورته وویل داسي مه وایه بلکي داسي ووایه چې زما دې ستا سره په محبت ساتلو قسم وي دا چې یې واورېدل په غصه سوه او وې ویل: قسم دې مي په هغه ذات وي که چیرې د الله جل جلاله زما سره محبت نه وای نو ته به یې په خواږه خوب نه بیدولای او زه به

---

[۱۰۹] نزهة المجالس.

يې خپل ځان ته نه درولاي دا يې وويل پرې مخ پرېوته يو څو شعرونه يې وويل چي مطلب يې داسي و: بې ارامي مي زياتېږي، زړه مي سوځي، صبر ولاړي، اوښکي مي بهېږي و هغه چا ته به څنګه قرار راسي چي ميني او عشق ناارامه کړی وي. اې الله جَلَّجَلَالُهُ! که څه د خوشالۍ شي وي هغه ما ته راکړه پر ما رحم وکړې تر دې وروسته يې په لوړ اواز وويل: اې الله جَلَّجَلَالُهُ! تر اوسه پوري زما او ستا معامله پټه وه اوس مخلوق په خبر سول نو اوس ما واخله. دا يې وويل په زوره يې يوه چيغه وکړه او وفات سوه. (الله جَلَّجَلَالُهُ دي د داسي عاشقانو يوه ذره عشق ما ژباړونکي ته هم رانصيب کړي) په دې ډول يوه قصه د حضرت سري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ څخه هم رانقل سوېده، دی وايي ما يوه مينځه د خپل خدمت لپاره واخيسته تر يو څه وخته پوري يې زما خدمت کاوه او حال يې زما څخه پټوی دې د لمانځه لپاره يو ځای ټاکلي و دا چي به کله د خدمت څخه فارغه سوه نو ولاړه به پر لمانځه به ودرېده، يوه شپه ما وليده چي کله لمونځ کوي کله مناجات کوي داسي وايي: اې الله جَلَّجَلَالُهُ! د هغه محبت په وسيله چي ستا زما سره دئ فلانی او فلانی کار وکړې ما په زوره ورته وويل: اې ښځي داسي ووايه چي زما د محبت په وسيله چي ستا سره دئ. دې وويل: که د الله جَلَّجَلَالُهُ زما سره محبت نه وای نو زه به يې ځانته نه درولای او ته به يې د لمانځه څخه نه کښېنولای. سري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ وايي چي سهار ما راوغوښته ورته وه مي ويل چي ته زما د خدمت لائقه نه يې ته د الله جَلَّجَلَالُهُ د عبادت لائقه يې څه سامان مي ورکړ ازاده مي کړه[۱۱۰].

حضرت سري سقطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ د يوې ښځي حال بيانوي، چي دا به د تهجد پر لمانځه باندي ودرېدله نو ويل به يې اې الله جَلَّجَلَالُهُ! شيطان هم ستا بنده دئ ته د ده پر کارونو او وجود باندي علم لرې او ستا په قدرت کي دئ. شيطان ماويني او زه شيطان وينم او ته يې هم وينې او ته يې پر ټولو کارونو باندي قدرت لرې او شيطان ستا پر هيڅ کار باندي قدرت نه لري. اې الله جَلَّجَلَالُهُ! که هغه زما بدي غواړي نو ته يې زما څخه ليري کړه او که زما سره دوکه غواړي نو ته د دوکې بدله ورکړې د شيطان د شر څخه پناه غواړم او دی ستا په مرسته ليري کوم. تر دې وروسته به دغه ښځي دومره ژړل چي آخر يې په ژړا - ژړا کي د يوې سترګي نظر ختم سو يعني ړنده سوه. خلګو ورته وويل: د خداي جَلَّجَلَالُهُ څخه ووېرېږه دا بله سترګه به دي هم ړنده سي دې ورته وويل که دا سترګه د جنت وه نو الله جَلَّجَلَالُهُ به تر دې ښه سترګه راکړي او که د دوزخ سترګه وه نو ښه دئ چي زما څخه ليري سي.

شیخ ابو عبد الله جلاء رحمة الله علیه فرمايي: يوه ورځ زما مور زما و پلار ته د يوه ماهي د راوړلو وويل پلار مي بازار ته ولاړی زه هم ورسره ولاړم ماهي چي مو رانیوی نو د يوه مزدور لټه مو کول چي يو ځوان راغلی زما پلار ته يې وويل چي د دې ماهي د وړلو لپاره د مزدور اړتيا ده؟ زما پلار ورته وويل: هو! ځوان ماهي راپورته کړ را روان سو نيمی لاري ته چي راورسېدی اذان سو ځوان ماهي کښېښودی او وې ويل چي د الله ﷻ و لوري ته د بلني ناره وسوه زه اوس مسجد ته ځم او دس هم کوم بيا لمونځ کوم که تاسو انتظار کولای سئ خو ښه دئ که انتظار نه سي کولای نو ولاړ سئ خپل ماهي مو پورته کړئ. ځوان ولاړی زما پلار وويل چي دا مزدور سړی دئ دومره دلمانځه غم ورسره دئ موږ ته خو ډېر څه په کار دي نو موږ هم مسجد ته ولاړو لمونځ مو وکړ، بېرته چي راغلو ماهي هلته پروت و ځوان هم راغلی ماهي يې راپورته کړ تر کوره پوري يې راسره يو وړی کورته چي ورسېدو زما پلار زما و مور ته دا عجيبه قصه وکړه زما مور ورته وويل چي راوې ګرځوه دی به هم د ماهي غوښي وخوري زما پلار چي ورته وويل ځوان وويل چي زما روژه ده زما پلار ډېر ټينګار وکړ، چي ماښام روژه مات زموږ سره وکړه ځوان ورته وويل زه چي يو وار ولاړ سم بيا هغه ځای ته نه ورځم خو کېدای سي چي دلې نژدې زه په يو مسجد کي يم ماښام به ستاسو دعوت قبول کړم ستاسو سره به روژه مات وکړم ځوان ولاړی مسجد ته. ماښام راغلی روژه مات يې راسره وکړ تر ډوډی خوړلو وروسته موږ د خوب ځای وروښودی. زموږ سره نژدې يوه ګوډه او شله ښځه وه که مو وکتل هغه جوړه او روغه راروانه وه موږ پوښتنه ځني وکړه چي څنګه جوړه سوي؟ دې راته وويل چي د دې مېلمه په برکت مي دعا وکړه چي اې الله ﷻ! ما د دې مېلمه په برکت جوړه کړه، نو زه الله ﷻ جوړه کړم موږ چي د ده ليدو ته ورغلو دروازه بنده وه د مزدور هيڅ درک نه و.

د يو بزرګ قصه ليکل سوېده چي پر پښه باندي يې دانه راختلي وه طبيبانو ويل که دغه پښه ځني پرې نه سي نو لويه خطره ده، د ده مور وويل چي لږ صبر وکړئ! چي دی د لمانځه نيت وتړي بيا يې ځني پرې کړئ هم داسي وسوه دغه بزرګ د پښې په پرې کولو هيڅ خبر نه سو. ابو عامر رحمة الله علیه فرمايي چي ما يوه مينځه وليده چي ډېره ارزانه خرڅېده زما زړه پر وسوځی، رامي نيوله بيا مي ورته وويل چي راځه زما سره بازار ته ولاړه سه چي د روژې د مياشتي لپاره يو څه سامان رانيسو دې راته وويل د الله ﷻ شکر دئ چي ټولي مياشتي يې زما لپاره يو ډول کړي دي دې به ټول عمر د ورځي روژه نيول او د شپې به يې لمونځ کاوه کله چي اختر نژدې سو ما ورته وويل چي زما آقا ته خو په دنيا کي بيخي زيات مشغول يې دا يې

راته وويل په ښه ارامۍ سره ولاړه سوه پر لمانځه باندي ودرېده قران يې په لمانځه کي ډېر په خوند خوند وايه کله چي لاندي آيات ته راورسېده :

مِّن وَرَآئِهِۦ جَهَنَّمُ وَيُسۡقَىٰ مِن مَّآءٍ صَدِيدٍ ﴿١٦﴾ (۱۱۱)

دغه آيات يې څو ځله تکرار کړ او يوه لويه چيغه يې تر خوله ووته وفات سوه.

د يوه سيد صاحب قصه ليکل سوېده چي تر دوولسو ورځو پوري يې په يوه اودس لمونځ کاوه، پر پنځلسو کالو پوري يې د عبادت له وجي د پرېوتو موقع پيدا نه کړه او داسي به پېښه سوه چي تر څو ورځو پوري به د يو شي څکلو ته د عبادت د بوختيا له وجي خلاص نه سو. په دين کي د زحمت ايستونکو بزرګانو ډېري قصې ستهٔ خو د دوی چي کوم حرص په عبادت کولو کي و موږ ته ډېر ګران دئ هم دا ډول د هغو کسانو حرص کول هم موږ ته ګران دي چي د دين سره د دنيا په کارو کي بوخت وي. حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمه الله هر څوک پېژني د ده په احوالو هر څوک خبر دي، تر خلفاوو راشدينو وروسته د ده مقام وو د ده مبارک بي بي وايي چي عمر بن عبدالعزيز رحمه الله به زيات وخت په اوداسه او لمانځه مشغول و او په نورو کارونو به هم مشغول و، خو تر ده ما زيات وېرېدونکي څوک د الله جل جلاله څخه نه دئ ليدلی. ده چي به د ماخوستن لمونځ ادا کړ د لمانځه پر ځای به کښېنستی ژړل به يې او دعاوي به يې کولي آن تر دې چي خوب به پر غالب سو سترګي به يې سره ورغلې خو کله چي به بېرته راپورته سو بيا به يې ژړل او په دعا به بوخت سو. وايي چي تر خلافت وروسته يې د جنابت څخه غسل نه دئ کړی.د ده مېرمن د عبدالملک پاچا لور وه پلار يې ډېر کالي او جواهرات ورکړي وه يوه داسي ملغلره يې ورکړې وه چي مثال يې نه و. ده مبارک خپلي بي بي ته وويل: دوې خبري دي يا خو ستا دغه کالي راکړه چي بيت المال ته يې وسپارم او يا به زما څخه جلا کېږې، زما دغسي شيان نه خوښېږي. بي بي يې ورته وويل دا شيان خو بيخي لږ دي د دې په څو چنده شيانو باندي هم زه تا نه پرېږدم دا يې وويل ټول شيان يې په بيت المال کي داخل کړل. د ده تر وفات وروسته د عبدالملک زوی يزيد پاچا سو، و خور ته يې وويل: که ته هغه کالي غواړې نو زه به يې بيرته د بيت المال څخه درکړم؟ دې ورته وويل چي عمر بن عبد العزيز رحمه الله ژوندی و، ما د دې کالو څخه خوند نه اخيستی اوس به يې څيري واخلم. کله چي عمر بن عبد العزيز رحمه الله ناروغه سو او د هغه ناروغۍ څخه مړ سو د ناروغي په وخت کي يې د خلکو څخه پوښتنه وکړه چي خلګ د دې ناروغۍ په اړه څه وايي خلګو ورته

---

(۱۱۱) سورة ابراهيم الاية (١٦).

وويل چي خلک يې جادو بولي. ده ورته وويل: يا، داسي نه ده بيا يې يو غلام راوغوښتی پوښتنه يې ځني وکړه چي ما ته په زهرو راکولو کي خلګو تا ته څه و منل؟ غلام ورته وويل چي سل اشرفۍ يې راکړې او د ازادېدو وعده يې راسره وکړه. ده ورته وويل چي ورسه هغه اشرفۍ راوړه. غلام اشرفۍ راوړې ده په بيت المال کي داخلي کړې او ده يې وويل چي داسي ځای ولاړ سه چي خلک دي نه ويني. د ده مبارک د وفات په وخت کي مسلمه رحمة الله عليه ورته راغلی ورته وې ويل چي تاسو خو د اولاد سره داسي وکړه چي هيڅا نه دي کړي ستا ديارلس زامن دي نه دي يوه پيسه ورپريښوده او نه دي بل شی ورپريښودی. ده مبارک وويل تاسو ما لږ کښېنوی کله چي کښېنستی نو وې ويل چي ماد دوی هيڅ حق نه دئ خوړلی او نه مي د بل چا حق په دوی خوړلی دئ نو که دوی صالحان وه الله ﷻ خپله د دوی حفاظت کوي ځکه الله ﷻ فرمايي: وَ هُوَ يَتَوَلَّي الصالِحِيْنَ.(۱۱۲) ژباړه: الله ﷻ د صالحانو تولا کوي. او که دوی ګناه کاره وي نو زه يې هيڅ پروا نه لرم. حضرت امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه د فقهي مشهور عالم دئ ټوله ورځ به د مسئلو په حل مشغول و، د دومره بوختيا سره به يې په شواروز کي درې سوه رکعته لمونځ کاوه. حضرت سعيد بن جبير رحمة الله عليه په يوه رکعت کي ټوله قرانکريم خلاصوی. حضرت محمد بن منکدر رحمة الله عليه د حديث په حافظانو کي دئ. يوه شپه يې د تهجد په لمانځه کي دومره وژړل چي اندازه يې نه وه. يو چا پوښتنه ځني وکړه چي ولي دومره ژاړې؟ ده ورته وويل چي د قرانکريم په تلاوت کي مي دا آيات ولوستی:

وَلَوْ أَنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مَا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُۥ مَعَهُۥ لَٱفْتَدَوْا۟ بِهِۦ مِن سُوٓءِ ٱلْعَذَابِ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ ۚ وَبَدَا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مَا لَمْ يَكُونُوا۟ يَحْتَسِبُونَ ﴿٤٧﴾ (۱۱۳)

ژباړه: که چيري د ظالمانو سره د دنيا ټول شيان ورسره وي او په دغه اندازه نور هم وي نو دوی ته به ګټه ونه کړي الله ﷻ به دوی ته عذابونه وړاندي کړي چي دوی به يې مخکي هيڅ ګومان نه کاوه.

په دغه وخت کي به دوی ته خپل بد عملونه ښکاره سي. حضرت منکدر رحمة الله عليه د وفات په وخت کي هم زيات وېرېدی او ويل به يې چي د دې آيات څخه ډېر وېرېږم. حضرت ثابت بناني رحمة الله عليه دومره ژړل چي اندازه يې نه وه چا پوښتنه ځني وکړه چي دومره ژاړې د سترګو ديد به دي ولاړ سي ده ورته وويل چي په دې سترګو زه ونه ژاړم نو د دې سترګو فائده څه

(۱۱۲) سورة اعراف.

(۱۱۳) سورة الزمر الاية (۴۷).

سره. دا دعا به يې کول: اې الله ﷻ! که چيري و چا ته په قبر کي د لمانځه اجازه ورکول کيږي نو ما ته يې هم اجازه وکړې. ابو سنان رحمة الله عليه فرمايي چي زه په هغو خلګو کي وم چي ثابت بناني رحمة الله عليه يې دفن کاوه کله چي مو دی په لحد کي کښيښودی، يوه خښته و لحد ته ولوېده ما چي هغه خښته راپورته کول ما دی مبارک وليدی چي ولاړ و لمونځ يې کاوه ما و ملګرو ته وويل چي تاسو وګورئ دا څه کيږي؟ دوی راته وويل: چوپ سه. کله چي مو دی دفن کړ نو زه يې کور ته ورغلم د لور څخه مي يې پوښتنه وکړه چي ده څه عمل کاوه؟ هغې راته وويل چي خير دئ ولي يې پوښتنه کوې، چي ده څه عمل کاوه؟ ما ټوله قصه ورته وکړه لورېې راته وويل چي دی پنځوس کاله د شپې وينښ پاته سو او ټول عمر به يې دا دعا کوله چي اې الله ﷻ! که چيري ته دا دولت و يو چا ته ورکوې چي هغه دي په قبر کي لمونځ وکړي نو ما ته يې هم راکړه (۱۱۴).

د حضرت امام ابويوسف رحمة الله عليه علمي بوختياوي ټولو ته معلومي دي او د دې سره د قاضي القضاة وظيفه يې هم تر سره کوله چي ډېر زيات کارونه يې دي خو بيا هم يې دوه سوه رکعته نفل په شوا روز کي کول. حضرت محمدبن نصر رحمة الله عليه يو مشهور محدث دئ، ده مبارک په دومره شوق او خوند سره لمونځ کاوه چي مثال پيدا کول يې ګران دي. يوه ورځ په لمانځه کي يوې زوره وري مچمچۍ وخوړی چي تر هغه ځای يې ويني راغلې خو ده هيڅ حرکت نه وکړ، داسي لمونځ به يې کاوه لکه ښخ سوی لرګی چي هيڅ حرکت نه کوي ده هم هيڅ حرکت نه کاوه. حضرت بقي بن مخلد رحمة الله عليه به هره شپه د تهجد په وخت کي وتر کول اولس رکعته به يې د تهجد لمونځ کاوه په دغه ديارلسو رکعتو کي به يې هره شپه ټوله قرانکريم خلاصوی. حضرت هناد رحمة الله عليه يو مشهور محدث دئ. د ده شاګردان وايي چي ده مبارک تر اندازې زيات ژړل يوه ورځ يې سهار مونږ ته سبق ووايه سبق چي يې خلاص کړ، اودس يې تازه کړ تر زواله پوري يې لمونځ کاوه غرمه يې کور ته تشريف يووړی لږ ساعت وروسته د ماپښين لمانځه ته راغلی د ماپښين تر لمانځه وروسته يې نفلونه شروع کړه تر ماځيګره پوري د ماځيګر تر لمانځه وروسته يې تلاوت کاوه تر ماښامه پوري ماښام زه ځني راغلم يو همسايه ته مي دغه قصه په تعجب سره وکړه چي دا سړی څومره عبادت کوي هغه راته وويل چي دغه عبادت دغه سړی د اويا و کالو څخه کوي او که يې د شپې عبادت ووينې زيات تعجب به وکړې. مسروق رحمة الله عليه يو محدث دئ د ده بي بي وايي چي ده به دومره اوږده،

---

(۱۱۴) اقامة الحجة.

اوږده لمونځونه کول چې تل به یې پوندې. د ډېرې ولاړې څخه وپړسېدې زه به یې شاته ناسته وم د ده پر حالت باندې به مې رحم راتلی ژړل به مې. د سعید بن مسیب رحمه الله په اړه لیکل سوي دي چې پنځوس کاله یې د ماخوستن په اوداسه د سهار لمونځ کړی دئ. د ابو المعتمر رحمه الله په اړه لیکل سوي دي چې تر څلویښتو کالو پوري یې داسي کړي وه. امام غزالي رحمه الله د ابو طالب مکي رحمه الله څخه رانقل کړي دئ چې د تابعینو څخه په تواتر سره دا خبر ثابته ده، چې په دوی کي څلویښت تنه داسي وه چې د ماخوستن په اوداسه به یې د سهار لمونځ کاوه په دوی کي یې ځیني داسي وه چې څلویښت کاله یې دا کار کړی دئ (۱۱۵).

د حضرت امام اعظم رحمه الله څخه داسي ډیر رانقل سوي دي چې د ماخوستن په اوداسه یې د سهار لمونځ دېرش، څلویښت او یا پنځوس کاله کړی دئ. دغه اختلاف په اعتبار د علم دئ چا یې پر یوه اندازه علم راغلی دئ او د چا پر بله اندازه علم راغلی دئ. د ده مبارک په غرمه کي لږ ساعت بیدېدل و، ځکه ده ویل چې د غرمې خوب په حدیث کي راغلی دئ چې قیلولة ورته وایي. د حضرت امام شافعي رحمه الله عادت داسي و، چې د روژې په میاشت کي یې شپېته ختمه په لمانځه کي کول. یو سړی وایي چې زه د ده سره څو شپې پاته سوم ده مبارک یوازې د شپې لږ ساعت خوب کاوه. حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله هره ورځ درې سوه رکعته نفل کول، کله چې د وخت پاچا په چلاخو وواهه نو ډېر کمزوری سو بیا یې یو نیم سل رکعته نفل کول په دغه وخت کي د اتیاوو کالو و. ابو عتاب سلمي رحمه الله تر څلویښتو کالو پوري د شپې ژړل او د ورځې یې روژه نیول. د دغو قصو پرته په سلګونو او زرګونو قصې د داسي بزرګانو راغلي دي چې د هغو جمع کول ګران کار دئ خو صرف د نمونې په ډول دومره بس دي. الله جل جلاله دې موږ او تاسو ته د داسي مخورو بزرګانو د توفیق یوه لږ برخه رانصیب کړي. آمین.

د لمانځه ثواب د ښه والي په اندازه دئ

۱- عن عمار بن یاسر رضي الله عنه قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول ان الرجل لینصرف و ما کتب له الا عشر صلوته تسعها ثمنها سبعها سدسها خمسها ربعها ثلثها

ژباړه: نبي علیه السلام فرمایي: کوم څوک چې د لمانځه څخه فارغه سي نو د چا لپاره لسمه حصه ورکول کېږي چا ته نهمه حصه ولیکل سي او د چا لپاره اتمه د چا لپاره اومه، شپږمه، پنځمه،

(۱۱۵) اتحاف.

نصفها (۱۱٦). | څلورمه، دریمه او نیمه حصه ولیکل سي.

فایده: یعني په کومه اندازه چي په لمانځه کي خشوع او خضوع وي په هغه اندازه ثواب ورکول کېږي په دې ډول چي چا ته لسمه ورکول کېږي، چاته نیمایي او چا ته په منځ کي حصې ورکول کېږي لکه اتمه، اومه او نوري. آن تر دې چي چاته بیخي برخه نه ورکول کېږي چي هغه د برخي قابل نه وي. په یو حدیث کي راغلي دي چي فرض لمونځ د الله ﷻ په نزد یو خاص وزن دی (۱۱۷).

څومره چي په دې وزن کي کمی کېږي په هغه اندازه ثواب کمېږي. په حدیثونو کي راغلي دي چي د خلکو څخه به لومړی خشوع پورته سي چي په ټولنه کي به یو سړی هم په خشوع د لمانځه کولو لپاره پاته نسي (۱۱۸).

په بد لمانځه به کوونکی پر مخ ویشتل کېږي

٢- روي عن انس رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم فمن صلي الصلوة لو قتها و اسبغ لها وضوءها و اتم لها قیامها و خشوعها ورکوعها و سجود ها خرجت وهي بیضآء مسفرة تقول حفظک الله کما حفظتني ومن صلاها بغیر و قتها ولم یسبغ لها و ضوءها ولم یتم لها خشوعها ولا

ژباړه : رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایي: څوک چي لمونځونه په ښه ډول وکړي اودس ښه تازه کړي په ښه ډول ولاړه وکړي او په ښه ډول رکوع او سجده وکړي نو دغه لمونځ په یو ښه روښانه او ځلېدونکي صورت واوړي لمونځ کوونکي ته دعا کوي داسي ورته وایي چي الله ﷻ دي داسي حفاظت وکړه لکه تاسو چي زما حفاظت وکړ او څوک چي پخپل وخت کي لمونځ ونه کړي، ښه اودس تازه نه کړي او نه ښه رکوع او سجده وکړي او نه خشوع په لمانځه کي وکړي نو لمونځ یې په

(۱۱٦) رواه ابو داود و قال المنذري في الترغیب رواه ابوداود والنسائي و ابن حبان في صحیحه بنحوه اهـ و عزاه في الجامع الصغیر الي احمد و ابي داود و ابن حبان ورقم له با الصحیح و في المنتخب عزاه الي احمد ایضاً وفي الدر المنثور اخرج احمد عن ابي الیسر مرفوعاً منکم من یصلي الصلوة کاملة و منکم من یصلي النصف و الثلث والربع و الخمس حتي بلغ العشر قال المنذري في الترغیب رواه النسائي با سناد حسن و اسم ابي الیسر کعب بن عمر و السلمي شهد بدراً اهـ.

(۱۱۷) الجامع الصغیر.

(۱۱۸) الجامع الصغیر.

ركوعها ولا سجودها خرجت وهي سوداء مظلمة تقول ضيعك الله كما ضيعتني حتي اذا كانت حيث شآء الله لفت كما يلف الثوب الخلق ثم ضرب بها وجهه.(١١٩)

يو بد شكل سره واوړي و لمونځ كوونكي ته ښراوي كوي او ورته وايي چي الله ﷻ دي داسي برباد كړه لكه زه چي دي ضايع كړم. وروسته نو لمونځ د زړي جامي په څېر را ټول كړل سي او لمونځ كوونكى پر مخ په وويشتل سي.

فايده: هغه څوک نېكمرغه دي، چي لمونځ په ښه ډول كوي او تر ټولو بهترين عبادت يعني لمونځ دعا ورته كوي. په عمومي ډول سره خلګ لمونځ داسي كوي چي محض پر ركوع سو دستي سيده سجدې ته ولاړ سي د سجدې څخه يې سر پوره راپورته كړى نه وي دستي دوهمي سجدې ته ولاړ سي. د داسي لمانځه په اړه نبي ﷺ ارشاد د وفرمايه چي ښراوي به ورته كوي نو كله چي لمونځ ښراوي كوي نو بيا موږ ولي د خپلي بربادۍ ګيله كوو همدا وجه ده چي نن هر چيري د مسلمانانو تباهۍ او بربادۍ رواني دي په يو بل حديث كي دا خبره هم ورسره زياته سوي ده چي ښه لمونځ چي په خضوع او خشوع سره وي اسمان ته پورته سي د اسمانونو دروازې ورته خلاصي سي او دغه لمونځ د كوونكي لپاره د الله ﷻ په دربار كي سپارښت كوي. په يو حديث كي راغلي دي چي كوم څوک چي په ښه ډول سره ركوع ونه كړي يعني ملا پوره كښته نه كړي دغه سړى د هغي ښځي په څېر دى چي اميدواره (حامله) وي خو چي مياشت يې راسي نقصان وكړي(١٢٠).

په يو حديث كي راغلي دي چي ډېر روږه نيوونكي داسي دي چي د لوږي او تندي پرته بل شى په لاس ورنه سي او ډېر شپه روڼوونكي داسي دي چي د شپې د روڼولو پرته بل شى په لاس ورنه سي يعني نه د روژې ثواب په لاس ورسي او نه د شپې روڼولو ثواب په لاس ورسي. حضرت عائشة رضي الله عنها فرمايي چي ما د نبي عليه السلام څخه اورېدلي دي چي كوم څوک په ورځ د قيامت د پنځو لمونځو سره داسي حاضر سي چي پر خپل وخت باندي يې كړي وي او اودس يې په ښه ډول ورته تازه كړى وي او د خشوع او خضوع خيال يې هم ساتلى وي نو د داسي چا لپاره د الله ﷻ وعده ده چي عذاب به نه وركوي او كوم څوک چي ښه اودس نه كوي

---

(١١٩) رواه الطبراني في الاوسط كذا في الترغيب و الدر المنشور و عزاه في المنتخب الي البهيقي في الشعب و فيه ايضاً برواية عبادة رضي الله عنه بمعناه و زدا في الالي بعد قوله كما حفظتني ثم اصعد بها الي السماء ولها ضوء ونور ففتحت له ابواب السماء حتي ينتهي بها الي الله فتشفع لصاحبها وقال في الثانية و غلقت دونها ابواب السماء و عزاه في الدر الي البزاز و الطبراني و في الجامع الصغير حديث عبادة الي الطيالسي و قال صحيح.

(١٢٠) ترغيب.

د ختونو حفاظت نه کوي او په لمانځه کي خشوع او خضوع نه کوي د نوموړي کس سره د الله ﷻ هيڅ وعده نسته که يې خوښه سوه عذاب ورکوي او که يې خوښه سوه معافوي يې.
په يو حديث کي راغلي دي چي رسول الله ﷺ و اصحابو کرامو رضي الله عنهم ته تشريف راوړی او ورته وې وفرمايل: ايا تاسو خبر ياست چي الله ﷻ څه وفرمايل؟ اصحابو ورته وويل چي الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ ښه پوهيږي. نبي عليه السلام د خبري د ټينګار په موخه دغه خبره درې واره تکرار کړه اصحابانو هم په دغه ډول جواب ورکاوه. رسول ﷺ وفرمايل: الله ﷻ فرمايي چي زما دي پخپله لويي سره قسم وي چي څوک د پنځو وختونو لمونځونه په پابندی سره کوي جنت ته به يې داخلوم او کوم څوک چي يې نه کوي زما خوښه ده که مي د خپل رحمت له مخي بخښي او که مي عذاب ورکوی.

د قيامت په ورځ به لومړی حساب د لمانځه کيږي

٣- عن ابي هريرة رضي الله عنه قال سمعت رسول الله ﷺ يقول ان اول مايحاسب به العبديوم القيامة من عمله صلوته فان صلحت فقد افلح و انجح و ان فسدت خاب و خسر و ان انتقص من فريضة قال الرب انظروا هل لعبدي من تطوع فيكمل بها ما انتقص من الفريضه ثم يكون سآئر عمله علي ذالک(١٢١).

ژباړه: رسول الله ﷺ فرمايي اول شی چي د بنده سره په ورځ د قيامت حساب کيږي لمونځ دئ، که يې لمونځ صحيح و نو دی کامياب سو او خلاص سو او که يې لمونځ فاسد و نو تاواني او خاوري په سر سو، که يې په لمانځه کي څه نيمګړتيا وه نو الله ﷻ وايي چي وګورئ که زما د بنده په عملونو کي کوم نفلي لمونځ وي نو فرض لمونځ په پوره کړئ. په دغه ترتيب د نورو عملونو حساب هم کيږي.

(١٢١) رواه الترمذي و حسنه النسائي و ابن ماجة والحاكم و صححه كذا في الدر و في المنتخب برواية الحاكم في الكني عن ابن عمر رضي الله عنه اول ما افترض الله علي امتي الصلوت الخمس واول مايرفع اعمالهم الصلوت الخمس الحديث بطوله بمعني حديث الباب و فيه ذكر الصيام والزكوة نحو الصلوة و في الدر اخرج ابو يعلي عن انس رفعه اول ما افترض الله علي الناس من دينهم الصلوة واخر مايبقي الصلوة واول مايحاسب به الصلوة يقول الله ﷻ انظروا في الصلوة عبدي فان كانت تامة كتبت تامة وان كانت ناقصة قال انظروا هل له من تطوع الحديث فيه ذكر الصلوة والصدقة و فيه ايضاً اخرج ابن ماجة والحاكم عن تميم داري مرفوعاً اول مايحاسب به العبد يوم القيامة صلوته . الحديث وفي اخره ثم الزكوة مثل ذالک ثم تؤخذ الا عمال حسب ذالک وعزاه السيوطي في الجامع الي احمد وابي داؤد والحاكم و ابن ماجة ورقم له باالصحيح.

فايده: د دې حديث څخه معلومه سوه چي د ځان سره د نفلونو يو څه ذخيره ساتل هم په کار ده ځکه که په فرض لمانځه کي يو څه کمی راسي نو په نفلونو به پوره کېږي.

ډېر خلگ وايي که موږ فرض لمونځ پوره کړو هم لو خبره ده نفل کول خو د لويو خلګو کار دئ. دا خو ښکاره خبره ده که چيري فرض پوره ادا سي کفايت کوي خو ټول فرض په پوره ډول چي ټول شيان يې پوره وي اسانه کار نه دئ او که کوم لږيا ډېر کمی پکښې راسي نو په نفلو پوره کېږي بل علاج يې نسته. په يو حديث کي په ښکاره ډول راغلي دي چي الله ﷻ په عبادتونو کي لومړی لمونځ فرض کړی دئ، په عملونو کي به لومړی لمونځ وړاندي کېږي او د قيامت په ورځ به لومړی د لمانځه حساب کېږي که په فرض لمونځو کي څه کمی راسي نو په نفلو سره به پوره کېږي. بيا به د روژو حساب هم په دغه ډول وي که فرض روژې کمي سوې په نفلي روژو به پوره کېږي بيا به د زکوة حساب په دغه ډول وسي. د چا چي د نېکۍ پله درنه سي په خوشالۍ سره به جنت ته ځي او که درنه نه سوه دوزخ ته به ځي. د نبي ﷺ عادت داسي و، چي کله به څوک مسلمان سو نو لومړی به يې لمونځ ورته ښودی.

که يې د لمانځه عمل په فاسد سو ټول عملونه به يې فاسد سي

٤- عن عبد الله بن قرط رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ اول مايحاسب به العبد يو م القيامة الصلوة فان صلحت صلح سائر عمله وان فسدت فسد سائر عمله (١٢٢).

ژباړه : رسول الله ﷺ فرمايي: په ورځ د قيامت د بنده څخه لومړی د لمانځه پوښتنه کېږي که يې لمونځ پوره راووتی نو ټول عملونه به يې پوره راووزي او که يې لمونځ خراب سو نو ټول عملونه به يې خراب سي.

حضرت عمر رضي الله عنه پخپله زمانه کي يو اعلان پخپل خلافت کي د ټولو ځايونو و حاکمانو ته لېږلی و او ورته ويلي وه : زما په نزد تر ټولو مهم شی لمونځ دئ که چا د لمانځه اهتمام وکړ

(١٢٢) رواه الطبراني في الاوسط ولا بأس باسناده انشا الله تعالي كذافي الترغيب وفي المنتخب برواية الطبراني في الاوسط وايضا عن انس بلفظه وفي الترغيب عن ابي هريرة رفعه الصلوة ثلثة اثلاث الطهور ثلث والركوع ثلث والسجود ثلث فمن ارادها بحقها قبلت منه و قبل منه سائر عمله ومن ردت عليه صلوته رد عليه سائر عمله . رواه البزاز وقال لا تعلمه مرفوعاً الا من حديث المغيره بن مسلم قال الحافظ و اسناده حسن اهـ و اخرج مالك في موطا ان عمر بن خطاب كتب الي عماله ان اهم اموركم عندي الصلوة من حفظها او حافظ عليها حفظ دينه ومن ضيعها فهو لما سواها اضيع كذا في الدر.

نو د دين د نورو برخو اهتمام هم کولای سي څوک چي لمونځ ضايع کړي د دين نوري برخي به هم ضايع کړي.

فايده: د رسول الله ﷺ د دې وينا او د حضرت عمر رضي الله عنه د دغه اعلان څخه مقصد په ښکاره هغه شی دئ، کوم چي په بل حديث کي راغلی دئ، چي شيطان تر هغه وخته پوري د انسان څخه وېرېږي چي د لمانځه پابندي کوي نو د وېري له وجي پر دغه کس باندي شيطان د لاوري نه سي کولای او که يې د لمانځه پابندي پرېښودل نو شيطان ډېر پر دلاوره سي د ده و ګمراهۍ ته يې اميد پيدا سي بيا يې په لويو ګناهونو او تباکونکو شيانو اخته کړي (۱۲۳).

دغه مطلب د الله جل جلاله د دې ارشاد څخه ثابت دی چي فرمايي: اِنَّ الصلوٰةَ تَنْهٰي عَنِ الْفَحْشَآءِ وَ الْمُنْكَر. چي بيان يې نژدې راروان دئ.

بده غلا د لمانځه غلا ده

۵- عن عبد الله بن ابي قتاده رضي الله عنه عن ابيه قال قال رسول الله ﷺ اسوء االناس سرقة الذي يسرق صلوته قالوا يارسول الله وكيف يسرق صلوته قال لايتم ركوعها ولا سجودها (۱۲۴).

ژباړه : رسول الله ﷺ فرمايي: بدترينه غلا د لمانځه غلا ده اصحابو کرامو پوښتنه وکړه چي د لمانځه غلا څنګه ده؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: د لمانځه غلا داسي ده چي رکوع او سجده په ښه ډول نه کوي.

فايده: نوموړی مضمون په څو حديثونو کي راغلی دئ. اول خو غلا ډېره بده ده و غله ته ډېر په سپکه سترګه کتل کېږي بيا رسول الله ﷺ بدترين غل ورته ويلي دي، چي رکوع او

---

(۱۲۳) منتخب كنز.

(۱۲۴) رواه الدارمي وفي الترغيب راوه احمد والطبراني وابن خزيمة في صحيحه وقال صحيح الاسناد اهـ وفي المقاصد الحسنة حديث ان اسوء الناس سرقة رواه احمد والدارمي في مسند يهما من حديث الوليد بن مسلم عن الاو زاعي عن يحي بن ابي كثير عن عبدالله بن ابي قتادة ابيه مرفوعاً وفي لفظ بحذف ان وصححه ابن خزيمة والحاكم وقال انه علي شرطهما ولم يخرجاه لرواية كاتب الاوزاعي له عنه عن يحيي عن ابي سلمة عن ابي هريرة رواه احمد ايضا والطيالسي في مسنديهما من حديث علي بن زيد عن سعيد بن مسيب عن ابي سعيد خدري به مرفوعا ورواية ابي هريرة عند ابن منيع وفي الباب عن عبدالله بن مغفل وعن نعمان بن مرة عند مالک مرسلاً في اخرين اهـ وقال المنذري في الترغيب لحديث ابن مغفل رواه الطبراني في معاجمه الثلث با سناد جيد وقال لحديث ابي هريرة رواه الطبرني في الاوسط وابن حبان في صحيحه و الحاكم و قال صحيح الاسناد قلت و حديث ابي قتادة و ابي سعيد ذكر هما السيوطي في الجامع الصغير ورقم با لصحيح

سجده په ښه ډول سره نه کوي. حضرت ابودرداء رضی الله عنه فرمايي: چې يو وار نبي ﷺ اسمان ته سر پورته کړ او وې ويل چې دا وخت ما ته د دنيا څخه د علم پورته کېدل ښکاره سوه. حضرت زياد رضی الله عنه وفرمايل چې اې د الله جل جلاله رسوله! علم به زموږ څخه څنګه پورته سي موږ قران وايو، اولادو ته يې ورزده کوو هغه يې بيا خپلو اولادو ته ښيي دا سلسله به روانه وي. رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ما خو ته پوه ګڼلې. يهودو او نصاراوو هم دا کار کاوه څه ګټه يې ورته وکړه د ابو درداء رضی الله عنه يو شاګرد وايي چې زه بل صحابي حضرت عبادة رضی الله عنه ته ورغلم قصه مې ورته وکړه. ده مبارک راته وويل چې ابو درداء رضی الله عنه رشتيا وايي لومړنی چې اسمان ته پورته کېږي زه به يې تا ته وښيم د لمانځه خشوع ده، چې په ډک مسجد کي به د يوه کس په لمانځه کي هم خشوع نه وي. حضرت خذيفة رضی الله عنه چې د نبي ﷺ راز ورته ويل کېږي ده مبارک هم ويلي دي چې لومړی به خشوع پورته کېږي(۱۲۵).

په يو حديث کي راغلي دي چې الله جل جلاله و هغه لمانځه ته بيخي توجه نه کوي چې رکوع او سجده يې په ښه ډول نه وي ادا کړي. په يو حديث کي راغلي دي چې د يو بنده به تر شپېتو کالو پوري لمونځ نه قبلېږي ځکه کله به دی رکوع سمه کوي سجده به سمه نه کوي او کله به سجده سمه کوي رکوع به سمه نه کوي. حضرت مجدد الف ثاني رحمة الله عليه پخپلو خطونو کي پر لمانځه ډېر ټينګار کړی دئ په بېلو بېلو مضامينو کي يې د لمانځه اهتمام فرمايلی دئ. په يو خط کي يې ليکلي دي چې په سجده کي د لاسو ګوتي مښلول او په رکوع کي د لاسو ګوتي پرانيستل هم ضروري دي ځکه د دين هيڅ ادب بې ګټې نه دئ، يعني دا چې د يو کوچني ادب لحاظ کول يې ضروري بللي دي نو موږ عالم زياتوي چې په ولاړه کي د سجدې ځای ته کتل، په رکوع کي د پښو و ګوتو ته کتل، په سجده کي د پزې و نرمې ته کتل او په ناسته کي و لاسو ته کتل په لمانځه کي خشوع پيدا کوي او د لمانځه اطمينان يې نصيب کېږي. نو کله چې دومره کوچني اداب دومره لويې ګټې لري نو لوی اداب او سنتونه خو بيخي زياتي ګټې لري.

(۱۲۵) در.

په لمانځه کي ښورېدل دیهودیانو سره تشبیه ده

٦- عن ام رومان والدة عائشة رضي الله عنها قالت رآني ابوبكر الصديق رضي الله عنه اتميل في صلوتي فزجرني زجرة كدت انصرف من صلوتي قال سمعت رسول الله ﷺ يقول اذ قام احدكم في الصلوة فليسكن اطرافه لا يتميل تميل اليهود فان سكون الا طرف في الصلوة من تمام الصلوة (١٢٦).

ژباړه: ام رومان رضي الله عنها د عائشې رضي الله عنها مور روايي چي ما يو وخت لمونځ کاوه په لمانځه کي يوې خوا او بلي خواته ښورېدم حضرت ابوبکر رضي الله عنه وليدم دومره يې په زوره وټکولم چي نژدې و، چي د لمانځه پرېښودولو ته اړه سم بيا يې وويل چي د ما د نبي ﷺ څخه اوريدلي دي چي څوک پر لمانځه ودرېږي نو په لمانځه کي دي ټول اندامونه په کرار او ارام باندي وساتي د يهوديانو په څېر دي يې نه ښوروي ځکه اندامونه ارام ساتل په لمانځه کي د لمانځه برخه ده.

فايده: په لمانځه کي د غړو اراموالی په ډېرو احاديثو کي راغلی دئ. د نبي ﷺ مبارک عادت داسي و، چي کله به يې لمونځ کاوه زيات وخت به يې د اسمان ولوري ته کتل چي د ملائکو وحي انتظار به يې کاوه ځکه سړی چي يو شي ته انتظار کوي نو طبعاً و هغه لوري ته ګوري کله چي لاندينی آيات نازل سو نو بيا يې کښته کتل:

قَدۡ أَفۡلَحَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ۝١ ٱلَّذِينَ هُمۡ فِي صَلَاتِهِمۡ خَٰشِعُونَ ۝٢ (١٢٧)

د اصحابو کرامو رضي الله عنهم په اړه هم راغلي دي چي لومړی به يې يوې او بلي خوا ته کتل کله چي پورتني مبارک آيات نازل سو بيا يې نه کتل. حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه د دې آيات په اړه فرمايي: اصحابو کرامو چي به کله لمونځ کاوه هيڅ طرفته به يې توجه نه کول يوازي به يې د سجدې و ځاي ته کتل داسي فکر به يې کاوه، چي الله جل جلاله د دوی ولوري ته متوجه دئ. د حضرت علي کرم الله وجهه څخه چا پوښتنه وکړه چي خشوع څه شي ده؟ ده مبارک په جواب کي ورته وويل چي خشوع په زړه کښي داخل ده، يعني دا چي د زړه په توجه به لمونځ

(١٢٦) اخرجه الحكيم الترمذي من طريق القاسم بن محمد عن اسماء بنت ابي بكر عن ام رومان كذافي الدر و عزاه السيوطي في الجامع الصغير الي ابي نعيم في الحليه و ابن عدى في الكامل ور قم له باالضعف و ذكر ايضا برواية ابن عساكر عن ابي بكر رضي الله عنه من تمام الصلوة سكون الا طرف.

(١٢٧) سورة المؤمنون الايتان (١-٢).

کوي په لمانځه کي بل لوري ته نه کتل په خشوع کي داخل دي، يعني دا چي په لمانځه کي به بل لوري ته نه ګوري. ابن عباس رضي الله عنه فرمايي: خشوع کوونکی هغه څوک دئ چي د الله جل جلاله څخه وېرېدونکی وي او په لمانځه کي کرار او سېدونکی وي. حضرت ابوبکر رضي الله عنه فرمايي: يوه ورځ رسول الله وفرمايل چي د نفاق خشوع څه شي ده؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: د نفاق خشوع دا ده چي په ښکاره په لمانځه کي ارام وي او په زړه کي يې نفاق وي. حضرت ابودرداء رضي الله عنه هم په دې ډول روايت کړی دئ، چي د نفاق خشوع دا ده چي په ښکاره د لمونځ کوونکي خشوع معلومېږي خو په زړه کي يې خشوع نه وي. حضرت قتادة رضي الله عنه فرمايي چي خشوع دا ده چي سړی د الله جل جلاله څخه ووېرېږي او په لمانځه کي کښته ګوري. يوه ورځ نبي صلی الله علیه وسلم يو سړی وليدی چي پر ږيره يې لاس تېراوه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: که چيري د ده په زړه کي خشوع وای نو د بدن ټول غړي به يې ارام وای . حضرت عائشي رضي الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه يو وار پوښتنه وکړه چي په لمانځه کي يوې او بلې خواته کتل څنګه دي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل چي د شيطان د لمانځه پېښې کول دي. رسول الله صلی الله علیه وسلم يوه ورځ و فرمايل: څوک چي په لمانځه کي لوړ ګوري هغوی دي د دې کار څخه منع سي که نه نو نظرونه به يې لوړ پاته سي (۱۲۸).

د ډېرو اصحابو کرامو څخه رانقل سوي دي چي خشوع د ارامتيا نوم دئ يعني لمونځ دي په پوره ارامتيا سره ادا سي په زياتو حديثونو کي راغلي دي چي لمونځ به په داسي ډول ادا کوی چي ګويا دا وروستی لمونځ دي، يعني داسي به يې کوي لکه هغه سړی چي آخرين لمونځ کوي او دا يې فکر وي چي د بل لمانځه موقع ماته په لاس نه راځي (۱۲۹).

کوم لمونځ چي کوونکی د ګناه څخه نه راوګرځوي هغه لمونځ نه دئ

۷- عن عمران بن حصين رضي الله عنه قال سئل النبي صلی الله علیه وسلم عن قول الله تعالي ان الصلوة تنهي عن الفحشآء والمنكر فقال من لم

ژباړه: د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه يو چا د دې آيات په اړه پوښتنه وکړه، چي الله جل جلاله فرمايي: ان الصلوة تنهي ... بېشکه لمونځ د بې حيا او بدو کارو څخه منعه راولي. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمايل د کوم چا لمونځ

(۱۲۸) درالمنثور.

(۱۲۹) جامع الصغير.

تنهٰ صلوته عن الفحشآء والمنکر فلا صلوة له (۱۳۰). | چې دې د بې حیا او ناروا کارو څخه منعه نه کړي د ده لمونځ بیخي لمونځ نه دي.

فایده: بېشکه لمونځ یو داسي لوی دولت دئ، چي انسان د نامناسبه کارو څخه منع کوي که پر خپل حالت باندي ادا سي دا یې لویه ګټه ده او د چا لمونځ چي دا نتیجه ورنه کړي نو د لمانځه په کمال کي یې کمی خامخا سته دغه مضمون په ډیرو حدیثونوکي راغلی دئ. حضرت ابن عباس ﷺ فرمایي چي په لمانځه کي د ګناهو څخه بندیز دئ او د ګناهو څخه لیري والی دئ. حضرت ابو العالیة ﷺ فرمایي چي د الله ﷻ د فرمان یعني ان الصلوة..... څخه مطلب دا دئ چي په لمانځه کي درې شیان دي: اخلاص، د الله ﷻ څخه وېره او د الله ﷻ ذکر په کوم لمانځه کي چي دا درې شیان نه وي هغه بیخي لمونځ نه دئ. اخلاص د ښو کارونو امر دئ، د الله ﷻ وېره د بدو خبرو څخه منع کوي او د الله ﷻ ذکر قرانکریم دئ چي په مستقل ډول د ښو خبرو امر کوي او د بدو خبرو څخه منع کوي. حضرت ابن عباس ﷺ د رسول الله ﷺ څخه نقل کوي چي کوم لمونځ سړی د بدو کارو څخه منع نه کړي هغه لمونځ و الله ﷻ ته د نژدې والي پر ځای د الله ﷻ څخه لیري والی راولي. حضرت حسن ﷺ هم د نبي ﷺ نقل کوي چي کوم څوک چي په لمانځه سره د ناروا کارونو څخه منع نه سي دغه لمونځ نه دئ، په دغه لمانځه سره د الله ﷻ څخه لیري والی راځي. حضرت ابن عمر ﷺ هم دغه مضمون د نبي ﷺ څخه رانقل کړی دئ. ابن مسعود ﷺ د نبي ﷺ څخه نقل کوي چي څوک د لمانځه اطاعت نه کوي د هغه لمونځ هیڅ لمونځ نه دئ او د لمانځه اطاعت دا دئ چي سړی د بې حیا کارو څخه منع کړي. حضرت ابو هریرة ﷺ د نبي ﷺ څخه روایت کوي چي یو سړی د نبي ﷺ په حضور کي حاضر سو او وې ویل: یا رسول الله ﷺ یو سړی د شپې لمونځ کوي او د ورځي غلا کوي. نبي ﷺ وفرمایل ژر دئ چي لمونځ به دی د غلا څخه منع کړي. د دې څخه معلومه سوه چي څوک په ناروا کارونو اخته سي که د لمانځه اهتمام وکړي نو لمونځ به دی د دغو کارونو څخه خلاصوي. د هري بدي خبري د پرېښودلو اهتمام ګران کار دئ او وخت هم پکښې لګیږي او د لمانځه اهتمام اسانه کار هم دئ او وخت هم زیات نه پکښې لګیږي الله ﷻ به یې په برکت سره بدي خبرې ځني پاته کړي الله ﷻ دي ما او تاسو ته د ښه لمانځه توفیق رانصیب کړي.

(۱۳۰) اخرجه ابن ابي حاتم و ابن مردویه کذا في الدرا لمنثور.

بهترين لمونځ هغه دئ چي ر کعتونه يې اوږده وي

٨- عن جابر رضي الله عنه قال قال رسول الله افضل الصلوة طول القنوت اخرجه ابن ابي شيبة و مسلم و الترمذي وابن ماجة كذافي الدر المنثور و فيه ايضا عن مجاهد في قوله تعالي وقوموا لله قانتين قال من القنوت الركوع و الخشوع والطول الركوع يعني طول القيام و غض البصر و خفض الجناح و الرهبة لله وكان الفقهاء من اصحاب محمداذا قام احدهم في الصلوة يهاب الرحمان سبحانه وتعالي ان يلتفت او يقلب الحصي او يشد بصره او يعبث بشيئ او يحدث نفسه بشيئ من امر الدنيا الا ناسيا حتي ينصرف.(١٣١)

ژباړه : رسول الله ﷺ فرمايي: چي بهترين لمونځ هغه دئ چي اوږده – اوږده ركعتونه پکښې وي. مجاهد رحمة الله عليه فرمايي چي په لاندينې آيات كريمه كي ركوع هم داخله ده، چي الله جل جلاله فرمايي: قُوْمُوْا لله قَانِتِيْن. ژباړه : د الله جل جلاله په وړاندي په ادب سره ودرېږئ (نوموړی زياتوي) چي دا هم ځني مطلب دئ چي په لمانځه كي عاجزي او خشوع وكړئ، كښته ګورئ، د الله جل جلاله ځخه په لمانځه كي ووېرېږئ اوږدې ركوعوي وكړئ (يعني په كبر اوغرور مه درېږئ). د نبي ﷺ د اصحابو ځخه چي به څوک پر لمانځه باندي ودرېدی نو د الله جل جلاله څخه به زيات وېرېدی د شاوخوا كتلو، د سجدې د ځای څخه د ډبرو غورځولو، په بې ګټې شي باندي د بوختيا او په زړه كي د دنيا په يو كار كي د فكر وهلو څخه يې ځان ساتي.

فايده: د قوموا ... په آيات كريمه كي بېل – بېل تفسيرونه راغلي دي يو دا هم دئ، چي چپ ودرېږئ ځكه د اسلام په پيل كي په لمانځه كي خبري، د سلام جواب وركول او داسي نور جائز وه كله چي دا آيات نازل سو نو دغه كارونه ناجائز سوه. حضرت ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي چي زما عادت و، چي زه به كله رسول الله ﷺ ته ورغلم سلام به مي ورته وايه كه به پر لمانځه ولاړ و هم به مي سلام ورته وايه. ده مبارک به جواب راكوی. يوه ورځ زه مسجد ته ورغلم نبي عليه السلام پر لمانځه باندي ولاړ و، سلام مي ورواچوی جواب يې رانه كړ. ډېر غمګين

---

(١٣١) اخرجه سعيد بن منصور و عبدا بن حميد و ابن جرير و ابن المنذر و ابن ابي خاتم والاصبهاني في الترغيب والبيهقي في شعب الا يمان اهـ و هذا اخر ما اردت ايرادة في هذه العجالة رعاية بعد الار بعين و الله ولي التوفيق وقد و قع الفراغ من ليلة التروية من سنة سبع و خمسين بعد الف و ثلث مائة و الحمد لله اولاً و اخرا.

سوم چې کېدای سي چې د الله ﷻ د لوري څخه زما په اړه ناراضي نازله سوې وي فکرونه مي وهله زړې – زړې خبري رایادېدي چې کېدلای سي چې پر فلانکۍ خبره دي نبي ﷺ ناراضه سوی وي او یا دي پر فلانۍ خبره ناراضه سوی وي. کله چې نبي ﷺ سلام وګرځاوه نو وې فرمایل: الله ﷻ غواړي چې پخپلو حکمونو کي بدلون راولي په لمانځه کي خبري کول منع دي. پورتنی آیات یې راته تلاوت کړ او راته وې فرمایل چې په لمانځه کي د ثنا، تسبیح، حمد او تلاوت پرته نوري خبري کول منع دي. معاویة بن حکم سلمي رضی الله عنه فرمایي چې زه کله و مدینې ته د مسلمانېدو لپاره راغلم ما ته ډېر شیان راوښودل سوه یو پکښې دا هم و، چې څوک و نوړي نو الحمدلله به وایي او هغه بل کس به یرحمک الله ورته وایي څرنګه چې زه نوی مسلمان سوی وم دا نه راته معلومېده چې په لمانځه کي سړې ونوړنکي ته یرحمک الله نه وایې. یوه ورځ یوه ملګري په لمانځه کي ونوړل ما ورته وویل یرحمک الله خلګو بد بد راته کتل زه په دې هم نه وم خبر چې په لمانځه کي خبري نه کېږي ما ورته وویل های افسوس اې خلګو په تاسو څه وسول چې داسي بد بد راته ګورئ. خلګو زه په اشاره پوه کړم چې چپ سه کله چې لمونځ خلاص سو، نبي ﷺ زه نه ووهلم او نه یې وزورولم یوازي یې راته وفرمایل چې په لمانځه کي خبري کول جائز نه دي لمونځ یوازي د تسبیح او تلاوت ځای دئ. په الله ﷻ قسم یادوم چې تر نبي ﷺ مهربانه استاذ مانه دئ لیدلی. په دوهم تفسیر کي ابن عباس رضی الله عنه قانتین د خاشعین په معني کړی دئ یعني خشوع او عاجزي کوونکي واوسئ په لمانځه کي. د دې موافق مجاهد رحمه الله فرمایي لکه مخکي چې یې بیان وسو چې تاسو اوږده اوږده رکعتونه کوئ په لمانځه کي عاجزي کوئ، په خشوع او خضوع سره لوستل کوئ، کښته ګورئ او د الله ﷻ څخه وېرېږئ. حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمایي: چې په پیل کي به چې کله نبي ﷺ د شپې لمانځه ته ودرېدی نو ځان به یې په پړي وتړی د دې لپاره چې خوب غلبه رانه شي ونه کړي او غوزار نه سم تر هغه وخته چې سورة طه نازل سو. دا مضمون خو په ډېرو حدیثونو کي راغلی دی چې نبي ﷺ به دومره اوږده رکعتونه لمونځ کاوه چې په پښو کي به یې پاړسوب پیدا سو. نبي ﷺ به د شفقت له مخي موږ ته فرمایل چې دومره عبادت کوئ چې په توان مو پوره وي د توانه وتلی بار مه پورته کوئ، هسي نه چې د زیات زحمت له وجې هر څه پرېږدی. یوې صحابیې بي بي هم ځان په پړي تړلی و، نبي ﷺ ځني منعه کړه. خو دا خبره اړینه ده چې د توان وروسته چې هر څومره اوږد لمونځ وسي غوره دئ. اخر دا چې نبي ﷺ به دومره اوږد لمونځ کاوه چې په پښو کي به یې پاړسوب راغلی اصحابو کرامو به ورته وویل چې یا رسول الله! ستاسره په سورة فتح کي د

وفرمايل چي ايا زه شکر ګذاره بنده جوړ نه سم. په بخښني وعده سوې ده، ده مبارک به ورته
يو حديث کي راغلي دي چي نبي ﷺ به کله لمونځ کاوه د سينې څخه به يې د ژړا اواز داسي راوتی لکه د ميچني روغ. په يو بل حديث کي راغلي دي چي داسي اواز به و لکه د کټوې د پخيدو روغ (۱۳۲).

حضرت علي رضي الله عنه فرمايي چي د بدر په غزا کي ما نبي ﷺ وليدی چي تر يوې درختي لاندي يې لمونځ کاوه په داغه لمانځه کي پر سهار سو. په زياتو حديثونو کي راغلي دي چي الله جل جلاله د څو کسانو څخه زيات خوشالېږي يو پکښې دا دئ چي په يخه شپه کي دي پر نرمه او ګرمه بستره باندي پروت وي او څنګته يې ښايسته بي بي ورته ناسته وي او دی ولاړ سي د تهجد لمونځ وکړي د دې کس څخه الله جل جلاله ډېر خوشالېږي او تعجب کوي. د دې سره چي الله جل جلاله په غيبو خبر دئ خو په فخر د ملائکو څخه پوښتنه وکړي چي ولا سړی څه شي مجبور کړی دئ، چي داسي ودرېدی؟ ملائکي به ورته ووايي چي اې الله جل جلاله! ستا د عطاء په اميد او ستا د وېري څخه الله جل جلاله وفرمايي: د کوم شي چي اميد لري هغه مي ورکړ او د کوم شي څخه چي وېرېږي د هغه څخه مې په امن کړ. نبي ﷺ فرمايي چي بنده ته تر دې غوره ورکړه نه ده سوې، چي الله جل جلاله د دوو رکعتو توفيق ورکړي. په قرانکريم او حديثو کي زيات ځايونه راغلي دي چي ملائکي هر وخت په عبادت مشغولي وي په دوی کي يوه ډله داسي ده چي تر قيامته پوري پر رکوع باندي ولاړي وي، يوه ډله يې پر سجده وي. الله جل جلاله د انسان اعزاز او اکرام وکړی د دې ټولو مجموعه يې په دوو رکعتونو کي ورکړه چي د ملائکو د هر عبادت څخه يې يوه برخه نصيب سي او د قرانکريم تلاوت يې پر دوی باندي زيات دئ. ځکه چي لمونځ د ملائکو د عبادتونو مجموعه ده نو د دوی د صفتو څخه په لمانځه کي خوند په لاس راځي هم دا وجه ده چي نبي ﷺ فرمايي: تاسو د لمانځه لپاره خپل نس او ملاسپکه ساتئ (۱۳۳).

د ملا سپک ساتلو څخه مطلب دا دئ چي ډېر جنجالونه مه د غاړي کوی او د نس سپکولو څخه مطلب ښکاره دئ چي زيات خوراک مه کوئ چي سستي ځني رامنځته کېږي. صوفيان وايي چي په لمانځه کي دوولس زره شيان چي الله جل جلاله په دوولسو شيانو کي يو ځای کړي دي د دغو دوولسو شيانو خيال ساتل ضروري دي چي لمونځ مکمل سي او د لمانځه پوره ګټه لاسته راوړل سي. هغه دولس شيان دا دي:

---

(۱۳۲) ترغيب.

(۱۳۳) جامع الصغير.

۱- علم دی. نبي ﷺ فرمایي چې د علم په لړلو سر لړ عبادت د جهل تر ډیر عبادت بهتر دئ.

۲- اودس دئ.

۳- جامه ده.

۴- وخت دئ.

۵- د قبلې لوري ته مخ کول دي.

۶- نیت دئ.

۷- د شروع الله اکبر دئ.

۸- په لمانځه کي ولاړه ده.

۹- تلاوت دئ.

۱۰- رکوع ده.

۱۱- سجده ده.

۱۲- پر التحیات باندي کښیناستل دي.

ددې ټولو شیانو پوره کېدل په اخلاص سره کېږي بیا د دې دوولسو څخه د هر یوه درې، درې برخي دي لومړی د علم درې برخي دي هغه دا چي لومړی به په دې باندي ځان پوه کوي چي کوم فرض دي کوم سنت دي دوهم دا چي په اوداسه او لمانځه کي به سنتونه او فرضونه سره پېژني، دریم دا چي په دې به ځان پوه کوي چي شیطان په کومو چلونو باندي په لمانځه کي خرابي رامنځته کوي. د اوداسه هم درې برخي دي لومړي دا چي زړه به د حسد او کینې څخه داسي پاکوي لکه ښکاره غړي چي د ناپاکۍ څخه پاکوي. دوهم دا چي غړي به د ګناهونو څخه پاک ساتي، دریم دا چي د اوداسه په اوبو کي به اسراف نه کوي. په جامه کي هم درې شیان ضروري دي لومړي دا چي د حلالي ګټې څخه به یې لاسته راوړي وي، دوهم دا چي پاکه به وي، دریم دا چي پر سنت طریقه باندي به جوړه وي، د کبر او لویې په خاطر به یې نه اغوندي. په وخت کي هم درې شیان ضروري دي لومړي دا چي د لمر، ستورو او داسي نورو شیان خیال به ساتي چي د لمانځو وخت په معلومېږي (چي اوس یې ځای د لاس ساعت نیولی دئ). دوهم دا چي په اذان به ځان خبروي، دریم دا چي په زړه کي به د هر لمانځه د وخت خیال ساتي. هسي نه چي د لمانځه وخت تېر سي د ده هیڅ فکر نه وي. د قبلې و لوري ته په مخ ګرځولو کي هم د درو شیانو فکر ساتل ضروري دي: لومړی دا چي په پوره ډول سره به مخ قبلې ته ګرځوي، دوهم دا چي په زړه کي به په پوره ډول سره د الله ﷻ و لوري ته متوجه سي

چي د زړه کعبه هم دغه ده، دریم دا چي د بادار په وړاندي چي درېږي په پوره ډول به متوجه وي. په نیت کي هم درې شیان لازمي دي: لومړي دا چي د کوم وخت لمونځ دئ، دوهم دا چي د الله ﷻ په وړاندي ولاړ دئ او هغه ویني، دریم دا چي الله ﷻ د ده د زړه حالت ویني. د شروع په الله اکبر کي هم درې شیان ضروري دي: لومړی دا چي حروف به صحیح وایي دوهم دا چي لاسونه به غوږو ته پورته کوي چي و دې ته اشاره ده چي د الله ﷻ پرته یې نور ټول شیان تر شا و غورځول، دریم دا چي د الله اکبر د ویلو په وخت کي به د الله ﷻ عظمت او لویي په زړه کي ساتي. په ولاړه کي هم درې شیان دي: لومړی دا چي په ولاړه کي به د سجدې و ځای ته ګوري، دوهم دا چي د الله ﷻ په وړاندي د درېدو خیال به ساتي، دریم دا چي بل لوري ته به نه متوجه کېږي. ځوک چي بل لوري ته متوجه کېږي، د هغه مثال داسی دئ لکه سړی چي د پاچا وحضور ته ورځي نو د دربارچیانو ډېر منت او زاری، پر ځان تېري کړي کله چي پاچا ته ورسي پاچا هم و ده متوجه دئ نو په دغه وخت کي یوې او بلي خوا ته کتل شروع کړي په داسي صورت کي به پاچا ده ته څه توجه وکړي. په قرائت کي هم درې شیان ضروري دي: لومړی داچي قرائت به په کراره وایي، دوهم دا چي په معنا که به یې غور کوي. دریم داچي څه وایي په هغه به عمل کوي. په رکوع کي هم درې شیان دي: لومړی دا چي ملا به سیده کوي چي پورته نه وي او نه کښته وي علماء وایي چي ملا، سر، کناټي به سم دم سره برابروي. دوهم دا چي په رکوع کي به د لاسو ګوتي خلاصي پر ځنګنو باندي ایږدي. دریم دا چي تسبیح به په عظمت او وقار سره وایي. په سجده کي هم درې شان دي: لومړی دا چي لاسونه به تر غوږو لاندي ایږدي، دوهم دا چي څنګلي به پورته کوي، دریم دا چي تسبیح به په عظمت او وقار سره وایي. په ناسته کي هم درې شیان دي: لومړی دا چي راسته پښه به ودروي او پرچپه پښه به کښیني، دوهم دا چي التحیات به ووایي او په معنا کي دي یې غور وکړي ځکه دا پر نبي ﷺ باندي درود دئ او د مسلمانانو لپاره دعا ده، دریم دا چي راسته او چپه طرفته به سلام پر ملائکو، امام او ناستو خلکو باندي وایي. په اخلاص کي هم درې شیان دي لومړي دا چي لمونځ به یوازي د الله ﷻ د رضا لپاره کوي دوهم دا چي دا به یې یقین وي چي دا لمونځ مي د الله ﷻ په توفیق ادا کړی، دریم دا چي د لمانځه د ثواب امید به کوي. حقیقت دا دی چي لمونځ یو لوی خیر او برکت دئ. د لمانځه په هر ذکر کي ډېري ګټي او د الله ﷻ لویي پرته ده. سبحانک اللهم وګوره چي لومړی دعا ده او څومره فضلیتونه پکښې دي معني یې دا ده. سبحانک اللهم: پاکې ده تا لره اې خدایه ﷻ! د ټولو عیبونو څخه او د هري بدي څخه. و بحمدک. څومره د ستاینې خبر ده یعني اې خدایه ټول د

ستاینې کارونه او خبرې تا لره ښایي. و تبارک اسمک. ستا نوم مبارک دئ پر کوم شي چې ستا نوم واخیستل سي هغه شی د برکت ښتن سي. و تعالی جدک. ستا لویي او شان ډېر لوړ دي ولا اله غیرک ستا پرته بل معبود نسته د عبادت لائق یوازې ته یې. هم دا ډول په رکوع کې ویل کېږي سبحان ربي العظیم. یعني زما لوی رب د هر ډول عیب څخه پاک دئ. په رکوع کښې و الله ﷻ ته د عاجزۍ اظهار دئ، لکه څرنګه چې سر لوړول د کبر معنی لري نو سر ټیټول د عاجزۍ معنی لري دا په دې معنی دي چې اې الله ﷻ زه و تا ته سر ټیټوم او ټول امرونه دي مي منلي دي، ستا بندګي مي منلې ده، ستا اطاعت پر سر اخلم زما دغه ګنهکار وجود ستا په وړاندي حاضر دئ ستا په دربار کي ټیټ سوی یم ښشکه ته لویي والا یې. هم دا ډول په سجده کي چي ویل کېږي. سبحان ربي الا علي. په دې کي هم د الله ﷻ د زیات لوړ والي او لوی والي اقرار دئ د بلندوالي تر څنګ د الله ﷻ د هره عیبه په پاکي اقرار دئ. خپل سر د الله ﷻ په وړاندي ایښودل دي چي په ټولو غړو کي غوره غړی دئ او په سجده کي تر ټولو محبوب شیان لکه پزه، غوړونه، سترګي ګویا ټوله د دې اقرار کوي چي دا غوره غړي د الله ﷻ په وړاندي پر مځکه پراته دي په دې هیله چي اې الله ﷻ! ته پر ما فضل او رحم وکړې. د دې عاجزۍ ښکاره کول لومړی په دې ډول وه چي د الله ﷻ په وړاندي په ادب ودرېدی لاسونه یې تر نامه لاندي ونیول بیا یې پر دې هم ترقي وکړه سر یې و الله ﷻ ته کښته کړۇ، بیا یې پر دې هم ترقي وکړه سر او پزه یې الله ﷻ ته پر مځکه کښېښودل. دا هم هغه اصلي لمونځ دئ او هم دغه لمونځ د دنیا او آخرت کامیابي ده الله ﷻ دي ما او تاسو بلکي ټولو مسلمانانو ته د کامل لمانځه توفیق را په برخه کړي. آمین

مجاهد رحمه الله د اصحابو لمونځ رانقل کړی دئ چي په لمانځه کي به د الله ﷻ څخه زیات وېرېدل. حسن بصري رحمه الله چي به کله اودس کاوه نو رنګ به یې بدل سو. یو چا پوښتنه ځني وکړه چي ولي دي رنګ بدل سي؟ ده مبارک ورته وویل چي د جبار (زورور) ذات په وړاندي د درېدو وخت راغلی. کله چي به یې اودس تازه کړ، د مسجد دروازي ته به راغلی په دروازه کي به یې دا دعا ویل:

الهي عبدک بباب‍ک یامحسن قد اتاک المسیئ وقد امرت المحسن منا ان یتجاوز عن المسیئ فانت المحسن وانا المسیئ فتجاوز عن قبیح ماعندي بجمیل ماعندک یا کریم.

ژباړه: اې خدایه ﷻ! ستا بنده ستا په دروازه کي ولاړ دئ اې احسان کوونکي ستا ګنهکار بنده تا ته حاضر دئ. تا موږ ته امر کړی دئ چي په تاسو کي نېکان دي و بدانو ته دي عفوه کوي. ته ښه یې او زه بد یم. اې کریم خدایه زما بدي ستا د ښو صفاتو په برکت رامعاف

حضرت زين العابدين رَحِمَهُ اللهُ به هره ورځ زر رکعته لمونځ کاوه. هيڅ وخت به د تهجد لمونځ نه ځني پاتېدی په کور کي به وو او که به په سفر کي و. کله چي به يې اودس تازه کاوه رنګ به يې بدل سو او لمونځ چي به يې کاوه بدن به يې رپېدی. يو چا پوښتنه ځني وکړه چي دا ولي؟ ده په جواب کي ورته وويل چي ته نه يې خبر چي زه د چا په حضور کي ولاړ يم. يوه ورځ دی مبارک پر لمانځه ولاړ و په کور کي يې اور لګېدلی و، خلګو پوښتنه ځني وکړه چي ته نه وې په خبر؟ ده په جواب کي ورته وويل چي د آخرت اور د دنيا د اور څخه غافله کړی وم. د ده مبارک وينا ده چي زه و کبر کوونکي ته حيران يم چي تر پرون پوري مرداره نطفه وه سبا به مردار سي بيا هم دی کبر کوي. د حيرانتيا خبره دا ده چي د فنا کېدونکي کور لپاره فکر کوي خو د دائمي کور لپاره فکر نه کوي. د ده مبارک عادت دا و، چي د شپې به يې صدقه کول خلګو ته نه معلومېده چي دا خيرات چا راکړی کله چي دی وفات سو نو سل کوره داسي پيدا سوه چي د ده په مرسته يې ګذاره وه[۱۳۴].

د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په اړه رانقل سوي دي چي کله به د لمانځه وخت راغلی نو رنګ به يې بدل سو، بدن به يې په رپېدو سو، يو چا پوښتنه ځني وکړه چي ولي؟ ده مبارک په جواب ي ورته وويل، چي: د داسي امانت د پوره کېدو وخت دئ چي اسمانو، ځمکو او غرونو نه دئ پورته کړی، ګوره چي زه به يې پورته کړم که يا. حضرت عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چي به کله اذان واورېدي نو دومره به يې ژړل چي پټو به يې لوند سو، رنګ به يې بدل سو، رګونه به يې وپړسيدل، سترګي به يې سرې سوي. يو چا پوښتنه ځني وکړه چي موږ خو اذان اورو هيڅ تأثير نه راباندي کوي او ته دومره وېرېږې. ده په جواب کي ورته وويل: که څوک د اذان په مفهوم پوه سي چي څه وايي نو د استراحت څخه به محروم سي، خوب به ځني ولاړ سي. بيا يې د اذان د هرې جملې خبرداری په تفصيل سره بيان کړ. يو سړي وايي چي ما په حضرت ذوالنون مصري رَحِمَهُ اللهُ پسې د ماځيګر لمونځ وکړ، کله چي ده د الله جَلَّ جَلَالُهُ لفظ ووايه نو د الله جَلَّ جَلَالُهُ عظمت او جلال پر ده باندي دومره غلبه وکړه داسي سو تا به وويل چي تش کالبد دئ روح نسته پکښې، کله چي ده اکبر ووايه د ده له تکبير څخه زما زړه ټکړې ټکړې سو[۱۳۵].

---

(۱۳۴) نزهة البساتين.

(۱۳۵) نزهة البساتين.

حضرت اویس قرني رحمة الله عليه مشهور بزرگ دئ او تر ټولو تابعینو غوره تابعي دئ. ځیني وخت به یې سجده کول ټوله شپه به یې پکښې تېره کړه او کله به یې رکوع کول ټوله شپه به یې پکښې تېره کړه (۱۳۶).

عصام رحمة الله عليه د حضرت حاتم زاهد بلخي رحمة الله عليه څخه پوښتنه وکړه چي تاسو لمونځ څنګه کوئ؟ ده مبارک په جواب کي ورته وویل چي اول ښه په ارامتیا سره اودس تازه کړم، بیا هغه ځای ته ولاړ سم چي لمونځ پرې کېږي په ښه ارامتیا سره پر هغه ځای باندي ودرېږم چي ګویا کعبه زما مخته ده او پښه مي پر پل صراط باندي ده، راسته لوري ته مي جنت دئ او چپه لوري ته مي دوزخ دئ، د مرګ ملائکه مي پر سر ده او زه داسي فکر کوم چي دا مي وروستی لمونځ دي، ښایي د بل لمانځه وخت پیدا نه کړم او الله جل جلاله زما زړهویني بیا په ډېره عاجزۍ سره الله اکبر ووایم په معنی کي د فکر وهلو سره تلاوت کوم، په تواضع سره رکوع کوم، په عاجزۍ سره سجده کوم په اطمنیان سره لمونځ پوره کړم. همدا ډول د خپل لمانځه د قبلېدو امید لرم او د ردېدو څخه یې وېرېږم. عصام رحمة الله عليه پوښتنه ځني وکړه چي د څومره وخت څخه په دغه ډول لمونځ کوئ؟ ده مبارک په جواب کي ورته وویل چي دېرش کاله کېږي. عصام رحمة الله عليه په ژړا سو او وې ویل چي ما ته خو یو لمونځ هم داسي نصیب نه سو. وایي چي یو وخت د حاتم رحمة الله عليه څخه د جماعت لمونځ تېر سو پر ده باندي یې دومره اثر وکړ، چي آن دوستانو یې د غمرازۍ مېلمستیا وکړه. ده مبارک پر دغه غمرازي باندي وژړل او وې ویل که زما زوی مړ وای نو نیم بلخ به مي غمرازي کړې وای (په یو روایت کي راغلي دي چي ده مبارک داسي وویل چي لسو زرو انسانانو به مي غمرازي کړې وای) اوس چي جماعت راڅخه تېر سوی دئ فقط دوو نفرو مي غمرازي وکړه، یوازنۍ وجه یې دا ده چي د خلګو په آند د دین غم د دنیا تر غم سپک دئ. حضرت سعید بن مسیب رحمة الله عليه فرمایي چي د شلو کالو راپه دې خوا هیڅ داسي نه دي سوي چي اذان سوی وي ا و زه دي په مسجد کي نه یم.

محمد بن واسع رحمة الله عليه فرمایي: په دنیا کي زه درې شیان غواړم یو ښه ملګری، چي زما غلطیاني راښیي، دوهم د ژوند په اندازه رزق چي هیڅ جنجال نه وي پکښې، دریم د جماعت لمونځ که څه نقصان پکښې پیدا سي هغه را وبخښل سي او کوم ثواب چي یې وي هغه ما ته راکړل سي. حضرت ابو عبیده بن جراح رضي الله عنه یوه ورځ لمونځ وکړ، تر لمانځه وروسته یې

---

(۱۳۶) ایضاً.

وفرمايل چي نن پر ما باندي شيطان حمله وکړه دا وسوسه يې راواچوله چي زه بهتريم ځکه زه امام يم نو د اينديږ لپاره به زه هيڅ لمونځ نه ورکوم. ميمون بن مهران رحمة الله عليه يوه ورځ مسجد ته راغلی جماعت تېر سوی و، نو انا لله و انا اليه راجعون يې ووايه او وې ويل چي د جماعت لمونځ ما ته د عراق تر پاچهۍ هم خوښ دئ. وايي چي د دغه مبارکانو څخه به تکبير اولی تېر سو نو تر دوو ورځو پوري به يې غم کاوه او د چا څخه چي به جماعت تېر سو نو تر اوو ورځو پوري به يې غم کاوه.

بکر بن عبد الله رحمة الله عليه فرمايي : که ته غواړې چي د خپل بادار سره د واسطې پرته خبري وکړې نو کولای سې. يو چا پوښتنه ځني وکړه چي څنګه کېږي؟ ده په جواب کي ورته وويل چي په ښه ډول اودس تازه کړه د لمانځه نيت وتړه. حضرت عائشة رضي الله عنها فرمايي چي نبي عليه السلام به زموږ سره خبري کولې موږ به د نبي عليه السلام سره خبري کولې کله چي به د لمانځه وخت راغلی نبي عليه السلام به داسي سو، چي موږ بيخي نه پېژني يوازي د الله جل جلاله و لوري ته به مشغول سو. سعيد تنوخي رحمة الله عليه به تر څو ورځو پوري لمونځ کاوه د اوښکو قطار به يې مسلسل پر مخ روان و. د خلف بن ايوب رحمة الله عليه څخه يو چا پوښتنه وکړه چي دغه مچان تا په لمانځه کي نه په عذابوي؟ ده مبارک ورته وويل چي زه خپل ځان د داسي شي عادتي نه جوړوم چي د هغه په وجه زما په لمانځه کي نقصان پيدا سي خلګ د حکومت سخت وهل پر ځان قبلوي خو ږغ نه کوي يوازي د دې لپاره چي خلګ وايي چي دا سړي څومره ټينګ دئ، زه د الله جل جلاله په حضور کي ولاړ يم نو د مچانو به څه پروا ولرم. بهجة النفوس ليکي چي يو صحابي پر لمانځه باندي ولاړ و، غل راغلی آس يې خلاص کړ بويې تی د تلو پر مهال د ده نظر پر ومښتی. يو چا پوښتنه ځني وکړه چي تا غل نه ونيوی. ده ورته وويل چي په کوم کار چي زه اخته وم هغه تر دې بهتر و. د حضرت علي رضي الله عنه قصه ډېره مشهوره ده چي کله به په ده کي د جنګ پر مهال غشي ولګېدی نو د لمانځه په وخت کي به يې ځني کښښی. يوه ورځ يې په ورانه کي غشی ولګېدی خلګو يې د کښلو زيات کوښښ وکړ. خو ونه توانېدل نو دوی پخپلو منځو کي مشوره سره وکړه چي دی پر لمانځه ودرېږي ځني وه به يې کاږو کله چي دی پر نفلو ودرېدی سجدې ته ولاړي خلګو غشي ځني وکښی چي سلام يې وګرځاوه د خلګو ګڼه ګوڼه وه ده پوښتنه ځني وکړه چي د غشي کښلو لپاره راغلی ياست هغو ورته وويل چي غشی مو وکښی ده مبارک ورته وويل چي زه خو هيڅ نه يم خبر سوی. مسلم بن يسار رحمة الله عليه د خپل کور خلګو ته وويل چي زه پر لمانځه ودرېږم تاسو خبري کوئ خو ما ته هيڅ نه معلومېږي چي تاسو څه

واياست. ربيع رحمة الله عليه فرمايي چي کله زه پر لمانځه باندي ودرېږم دا فکر راته پيدا سي، چي زما څخه به څه سوال او جواب کېږي.

عامربن عبد الله رحمة الله عليه چي به کله پر لمانځه باندي ودرېدی نو د کورنۍ د خلګو هيڅ خبري يې نه اورېدي آن تر دې چي د ډولکي ږغ به و هغه يې هم نه اورېدی يو چا پوښتنه ځني وکړه چي تا ته په لمانځه د يوې خبري معلومات هم کېږي؟ ده ورته وويل ما ته په لمانځه کي دا خبره وړاندي کېږي چي يوه ورځ د الله جل جلاله په حضور کي درېدل سته جنت يا دوزخ ته تلل دي هغه ورته وويل چي موږ د دې خبري پوښتنه نه کوو بلکي زموږ خبري په لمانځه کي ته اورې؟ ده مبارک ورته وويل چي ما ته دا غوره ده چي د نېزو څوکي په ما کي بندي سي نه دا چي په لمانځه کي ستاسو خبري واورم. دی مبارک وايي که زه د قيامت په ورځ په سترګو وويnم بيا به مي هم يقين تر دغه زيات نه سي. د يو صاحب د بدن غړی خراب سو د پرېکولو اړتيا يې پيدا سوه خلګو پرېکړه وکړه چي کله دی پر لمانځه باندي ودرېږي ځني پرې به يې کړو دی به بيخي خبر نه سي همدا سي وسوه چي کله دی پر لمانځه باندي ودرېدی خلګو هغه غړي ځني پرې کړ، دی بيخي په خبر هم نه سو. د يو صاحب څخه چا پوښتنه وکړه چي په لمانځه کي تا ته د دنيا خيال هم راځي ؟ ده په جواب کي ورته وويل چي نه په لمانځه کي راځي او نه بېله لمانځه راځي. د يوه بزرګ قصه ليکل سوېده چي چا پوښتنه ځني وکړه چي په لمانځه کي تا ته څه شي په ياد درځي ده په جواب کي ورته وويل چي تر لمانځه هم زيات خوندور شی سته (بلکي نسته) نو لمونځ را په يادېږي. بهجة النفوس د يوه بزرګ قصه ليکلې ده، چي يو څوک ورته راغلی دی د ماپښين په لمانځه اخته و کله چي د لمانځه څخه فارغه سو په نفلو يې شروع وکړه تر ماځيګره پوري بيا يې د ماځيګر د لمانځه نيت وتړی د ماځيګر لمونځ چي يې خلاص کړ بيا په دعا اخته سو دعا يې کول تر ماښامه پوري بيا يې د ماښام د لمانځه نيت وتړی د ماښام لمونځ چي يې خلاص کړی بيا يې د نفلو نيت وتړی تر ماخوستنه پوري ماخوستن چي يې لمونځ خلاص کړئ بيا يې دنفلو نيت وکړئ تر سهاره پوري د سهار تر لمانځه وروسته د لمانځه پر ځای باندي کښېنستی ذکر، دعا او اوراد يې ويل په دغه وخت کي يې سترګي سره ورغلي ده ژر سترګي وموږلي استغفار يې وو ايه توبه يې وايستل او دايې وويل: اعوذمن عين لايشبع النوم. يعني زه پناه د هغې سترګي څخه غواړم چي په خوب نه مړېږي. د يوه بزرګ قصه ليکل سوېده چي د شپې به د خوب لپاره پرېوتی خوب چي به نه ورغلي نو ولاړ به سو په لمانځه به اخته سو او دا به يې ويل چي اې الله جل جلاله ته عالم يې چي زما خوب د دوزخ د وېري و تښتېدی دا به يې ويل سهار به سو. په

شوق کول د دې قصې بیخي ډېري دي د هغو ټوله شپه کې وېښ پاتېدل یا بې ارامي او یا یې شوق کول د دې قصې بیخي ډېري دي د هغو ټولو راجمع کول خو بیخي ګران کار دئ موږ د دې خوند څخه دومره لیري سوي یو چې په صحیح والي کې یې لاشک کوو او د دومره مشهورو واقعاتو څخه انکار کول او یا شک پکښې دا د ټول تاریخ څخه یقین پورته کوي. بله خبره دا ده چې موږ وینو چې خلګ ټوله شپه په سینما او تیاتر کې وېښ ولاړ وي نه ستړي کېږي او نه خوب ورځي دا موږ منو او څوک چې په عبادت کې ټوله شپه تېروي هغه نه منو حال دا چې په نېکو کارو کې د الله ﷻ له خوا قوت هم ورکول کېږي. موږ د دې شک په وجه د دې پرته بل شی نه سي کېدلای چې موږ د دې خوند څخه ناخبره یو. نابالغ هلک د بلوغ د خوند څخه څه خبر دئ، الله ﷻ دي موږ ته دا خوندونه رانصیب کړي زیات به خوش نصیبه یو.

اخري عرض

صوفیان لیکي: لمونځ په حقیقت کي د الله ﷻ سره راز او نیاز دئ او د الله ﷻ سره خبري کول دي په غفلت سره بیخي نه سي کېدلای. د لمانځه پرته نور عبادتونه په غفلت سره کېدلای سي لکه زکوة چې په غفلت سره ورکړل سي بیا هم پر نفس باندي تکلیف دئ. روژه نیول چې ټول ورځ وږي، تږي او د جماع څخه بند وي که څه هم په غفلت سره تر سره سي بیا هم دغه کارونه پر نفس باندي ګران تمامېږي او د تېزۍ څخه لوېږي. مګر لمونځ چې دئ زیاته برخه یې ذکر او تلاوت دئ د الله ﷻ سره خبري دي که په غفلت سره وي نو راز او نیاز نه دئ بلکي داسي مثال لري لکه د تبي په وخت کي چې ګډې وډې خبري سړی کوي. کوم شیان چې د سړي په ژړه کي وي هغه په ژبه ویل کېږي نه څه تکلیف پر نفس باندي راځي او نه څه ګټه پکښې ده. دا ډول لمونځ هیڅ فایده نه لري چې لمونځ یې عادت ګرځېدلی وي په خوله باندي دغه الفاظ د عادت له مخي وایي نور یې هیڅ فکر نه وي دا داسي مثال لري لکه سړی چې د خوبه ګډې وډې خبري کوي. الله ﷻ هم داسي لمانځه ته توجه نه کوي چې بېله ارادې تر سره سي په همدې وجه په لمانځه کي پوره توجه کول پکار ده خو دا خبره ضروري ده چې که د لمانځه دغه کیفیتونه تر لاسه نه سي کوم چې بیان سوه بیا یې هم کول ضروري دي دا هم د شیطان یو لوی چل دئ چې درته وایي چې تر بېکاره لمانځه خو نه لمونځ غوره دئ ځکه تر نه

کولو په بده طریقه سره لمونځ بهتر دئ ځکه د نه کولو عذاب ډېر سخت دئ آن تر دې چې ځيني عالمان وايي چې څوک په قصد سره لمونځ پرېږدي کافر دئ. البته دا ضروري ده چې د لمانځه کوم حق دئ تر خپله وسه پوري په هغه ډول وسي. الله ﷻ دي په خپله مهرباني سره موږ او تاسو ته د هغه لمانځه توفيق راکړي په کوم ډول چې زموږ مشرانو کړی دئ موږ ته يې راښودلی دئ. لږ تر لږه يو لمونځ خو داسي وکړو چې د وړاندي کولو جوګه وي يې آخره خبره دا کوم چې محدثينو (رحمة الله عليهم) دا خبره کړېده چې په فضائلو کي ډېر ضعيف حديثونه هم معاف دي او پاته د صوفيانو قصې چې دي تاريخي حيثيت لري دا ښکاره خبره ده چې د تاريخ مرتبه تر حديث ډېره کمه ده.

وماتوفيقي الا بالله عليه توكلت و اليه انيب ربنا ظلمنا انفسا و ان لم تغفر لنا و ترحمنا لنكونن من الخاسرين ط ربنا لاتؤاخذنا ان نسينا او اخطاء ناربنا لاتحمل علينا اصرا كما حملته علي الذين من قبلنا ربنا ولا تحملنا مالا طاقة لنا به ○ واعف عنا واغفر لنا وارحمنا انت مولنا فانصرنا علي القوم الكافرين ○ وصلي الله تعالي علي خير خلقه سيدالاولين والاخرين وعلي آله واصحابه و اتباعهم و حمله الدين المتين برحمتك يا ارحم الرحمين.

مؤلف: مولانا محمد زكريا نور الله مرقده

ژباړونکی: مولوي عبدالهادي حماد

بسم الله الرحمن الرحيم

دذکر فضائل

مؤلف

شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا نور الله مرقده

ژباړونکی : مولوي عبدالهادي (حماد)

فهرست

شمیره	سرلیکونه	صفحه
۱	تمهید	۱
۲	لومړی باب	۳
۳	د ذکر فضایل	۳
۴	لومړی فصل دذ کر په اړه څو ایاتونه	۳
۵	دوهم فصل د ذکر په باره کښې حدیثونه	۱۷
۶	دذکر په اړه لومړی حدیث	۱۷
۷	دهمېشه بوختیا لپاره غوره شی ذکر دی	۲۱
۸	ذکر کول دسرو اوسپینو زرو تر خیرات غوره دی	۲۳
۹	هرچیري چي دالله ﷻ ذکر کوي بیاهم درجې پرې لوړیږي	۲۵
۱۰	ذکر کونکی ترپرېیسو وېشونکي بهتر دی	۲۷
۱۱	جنتیان به یوازي پر هغه وخت افسوس کوي چي بې ذکره یې تېر کړی وي	۲۸
۱۲	څوک چي ذکر کوي رحمت پرې نازلیږي	۲۹
۱۳	ذکرکونکي چي دذکر دمجلس څخه ولاړسي بخښل سوي به وي	۳۳
۱۴	دقیامت په ورځ به ذکر کونکي دنور پرمنبرنو وي	۴۰
۱۵	دذکر حلقې دجنت باغونه دي	۴۳
۱۶	ذکر دتهجد ، نفقې ، اوجهاد ځای نیسي	۴۵
۱۷	ذکر کونکی به دقیامت په ورځ دعرش ترسیوري لاندي ناست وي	۴۹
۱۸	ذکر کونکو به تل په جنت کي وي	۵۱
۱۹	رسول الله ﷺ ته په ذکر کونکو کي دناستي امر سوی دی	۵۴
۲۰	دسهار اوماځیگر تر لمانځه وروسته ذکرکول دژوند حفاظت دی	۵۷
۲۱	دذکر پرته په دنیا کي اوسېدل دالله ﷻ درحمت څخه لیري والی دی	۵۸
۲۲	دذکر (۷۳) گټي	۶۰

فهرست

شمېره	سرليکونه	صفحه
۲۳	**دوهم باب**	۷۰
۲۴	د کلمې طيبې (لا اله الا الله محمد رسول الله) فضيلتونه	۷۰
۲۵	اول فصل هغه اياتونه چې بشپړه کلمة پکښې نوې ذکر سوې وي بلکي دکلمې مفهوم پکښې وي	۷۱
۲۶	دوهم فصل هغه اياتونه چې بشپړه کلمة پکښې ذکر سوې وي	۸۲
۲۷	دريم فصل	۸۸
۲۸	دکلمې طيبې ذکر تر اوو اسمانو اومځکو درونددی	۸۹
۲۹	دکلمې طيبې ويونکي ته به دنبوي ﷺ شفاعت نيکمرغي ورنصيب سي	۹۱
۳۰	څوک چې په اخلاص کلمة طيبه ووايي جنت ته به داخل سي	۹۲
۳۱	دکلمې طيبې ويل دجنت زيري دی	۹۵
۳۲	څوک چې کلمة طيبه ووايي ددوزخ اور به پرې حرام وي	۹۷
۳۳	دجنت کيلاني کلمة طيبة ده	۹۸
۳۴	څوک چې دورځې يا دشپې کلمة طيبة ووايي دعملنامې څخه يې بدۍ خرابي سي	۹۹
۳۵	څوک چې کلمة ووايي بخښه ورته کيږي	۹۹
۳۶	پرکلمة ويونکو به نه په قبر اونه دحشر په ميدان کې وېره وي	۱۰۱
۳۷	کلمة شهادت په ثواب کې ترمځکې اواسمانو درنه ده	۱۰۵
۳۸	رسول ﷺ دکلمې لپاره لېږل سوی دی	۱۰۶
۳۹	دجنت پر دروازه کلمة طيبة ليکلې ده	۱۰۸
۴۰	څوک چې کلمة طيبة ووايي هغه دالله ﷻ په کلا کښې داخل سو	۱۰۹
۴۱	دشيطان هلاکت په کلمة طيبة سره دی	۱۱۱
۴۲	څوک چې پرکلمة طيبة مړ سي خامخا به جنت ته ځي	۱۱۳
۴۳	دکلمې اوالله ﷻ ترمنځ حجاب نسته	۱۱۵
۴۴	څوک چې دالله ﷻ درضا لپاره کلمة طيبة وايي ددوزخ اور به پرې حرام وي	۱۱۶

فهرست

شمېره	سرليکونه	صفحه
۴۵	په دين کې دوسوسو څخه خلاصون په کلمة طيبة دی	۱۱۸
۴۶	ددائمي عذاب څخه خلاصون په کلمة طيبة دی	۱۲۰
۴۷	اسم اعظم په کلمة طيبة کښې دی	۱۲۴
۴۸	الله ﷻ ددوزخ څخه دکلمې ويونکې دراوتلو امر کوي	۱۲۶
۴۹	نوح عليه السلام خپلو زامنو ته په لااله الاالله ويلو سره وصيت کړی دی	۱۲۷
۵۰	کلمة طيبة غوره نيکي ده چې ګناه محوه کوي	۱۳۱
۵۱	څوک چې کلمة طيبة ووايي (۲۰۰۰۰۰) نيکۍ به ورته وليکل سي	۱۳۲
۵۲	څوک چې کلمة طيبة ووايي دجنت اته دروازې به ورته خلاصې سي	۱۳۴
۵۳	خپلو ماشومانو ته دخبرو دزده کړې په وخت کې کلمة طيبة ور زده کړی	۱۳۵
۵۴	تر کلمې طيبې هيڅ عمل نه سي مخکې کېدای	۱۳۸
۵۵	ايمان څه دپاسه اويا شعبې (ښاخه) دی	۱۳۸
۵۶	دايمان څه دپاسه اويا شعبې (ښاخونه)	۱۴۱
۵۷	**دريم باب**	۱۴۵
۵۸	ددريمې کلمې فضائل	۱۴۵
۵۹	لومړې فصل	۱۴۵
۶۰	دوهم فصل	۱۷۸
۶۱	الله ﷻ ته ډيرې خوښې کلمې سبحان الله وبحمده	۱۷۹
۶۲	يوسل اوڅلوېښت زره نيکۍ ديوې کلمې په ويلو سره	۱۸۰
۶۳	دجنت بوټي سبحان الله .... دي	۱۸۵
۶۴	څوک چې دنورو نيکو عملونو توانايي نه لري سبحان الله .... دي وايي	۱۸۷
۶۵	څلور کلمې والله ﷻ ته ډيرې خوښې دي	۱۸۸
۶۶	دمسکين فضيلت پر شتمن باندې په سبحان الله .... سره دی	۱۸۹
۶۷	ددرياب دځګو په څير ګناوې يې په تسبيح ..... به بخښل کيږي	۱۹۱
۶۸	تر هر لمانځه وروسته تسبيحات ويل	۱۹۲
۶۹	سبحان الله .... ثواب يې تر احد غره زيات دی	۱۹۲
۷۰	پنځه شيان دعملنامې تول درنوي	۱۹۳

فهرست

شمیره	سرلیکونه	صفحه
۷۱	سل ځله تسبیح .... دسلو مریانو ازادېدو ثواب لري	۱۹۷
۷۲	کوم څوک چي دذکر مجلس ته دبل کار لپاره ورسي هغه هم بخښل کيږي	۱۹۹
۷۳	څوک چي سبحان ... ووايي پر هرحرف باندي الله ﷻ لس نيکی ورکوي	۲۰۳
۷۴	که څوک لاندينی دعا ووايي دمجلس ګناوي ورمعافيږي	۲۰۵
۷۵	بې جوړي زيات ثواب لرونکي کلمې	۲۱۲
۷۶	درسول الله ﷺ خپلي خوري لور ته وصيت	۲۱۶
۷۷	خاتــمه	۲۱۹
۷۸	صلوة تسبيح لمونځ	۲۲۰
۷۹	دصلوة تسبيح په اړه پنځه حديثونه	۲۲۰

تمهید

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝١

نحمده ونصلي علي رسوله الكريم وعلى آله واصحابه واتباعه حملة الدين القويم

دالله ﷻ په سپېڅلي نامه کوم چي برکت ، خوند ، تسلي اوخوږوالی دئ داخبره دهغه چاڅخه پټه نه ده چي دورځي په تکرار سره دغه سپېڅلي نوم وايي اوتریوې زمانې پوري یې دځان لپاره مشغله جوړه کړې وي دغه سپېڅلي نوم دخوشالۍ اوتسلی سبب دئ ځکه الله ﷻ فرمايي :

"أَلَا بِذِكۡرِ ٱللَّهِ تَطۡمَئِنُّ ٱلۡقُلُوبُ ۝٢٨"[1]

ژباړه : ښه پوه سئ چي دا الله ﷻ (په ذکر کي داخاصیت دئ) چي دزړونو تسلی پرې کیږي .

په معاصر وخت کي زیاته پرېشاني ده هره ورځ چي کوم خطونه لېږدول کیږي پکښي زیاتي دپرېشانۍ قصې راځي ددې رسالې موخه همداده چي کوم کسان چي ځاني ، دلیزه اويا قومي پرېشاني لري هغه به دخپلي ناروغۍ درمل معلوم کړي .

دالله ﷻ دذکر دفضائلو په عامولو اوخپرولو به نیک مرغه اومبارک خلګ فایده من سي کېدای سي چي ددې رسالې په مطالعه سره یوه کس ته دښتن تعالی ﷻ دپاک نامه دیادولو توفیق ورنصیب سي اوما بې کاره ته په هغه ورځ فایده وکړي چي په هغه ورځ دعمل پرته بل شی ګټه نه لري مګر که الله ﷻ په خپل فضل سره چاته بخښنه کول هغه بېله خبره ده . ددې پرته ددې کار بله وجهه داپېښه سوه چي زما محترم اکا مولانا الحافظ الحاج محمد الیاس کاندهلوي رحمة الله عليه چي په نظام الدين ډهلي کي اوسېدی الله ﷻ په تبلیغ کي یوه خاصه پوهه اوجذبه ورکړې وه چي دهېواد څخه دباندي ترحجاز پوري رسېدلې وه ددې ګټو څخه هندوستان اونور په عمومي ډول ، په هندوستان کي بیا دمیوات سیمه په خصوصي ډول برخمنه وه یعني کومي ګټې چي دغه سیمي ته دده مباک رسېدلي دي دواقفو خلګو څخه پوټې نه دي . دده مبارک دتبلیغ اصول ډېر پاخه ، مضبوط اومحکم دي چي ګټې اوبرکتونه یې خامخا رسیږي ددغه اصولو په لړ کي یوپوخ اصل داهم دئ چي مبلغین به دذکر پابند وي اودتبلیغ په وخت کي به ذکر زیات کوي ددغه اصل داسي ګټې وي چي په سترګو مو ولیدې

[1]: سورة المائدة ركوع ۴

اوپه غوږنو مو واورېدې . په همدې وجهه ماته خپله دا ضرورت محسوس سو او ددرانه اکا امر هم راته وسو چي د ذکر کولو فضایل تر دغه خلکو پوري ورسوو ددې لپاره چي کوم خلګ د حکم منلو له وجهي ذکر کوي هغوی ته د ذکر فضایل ورسول سي اوپه خپل شوق سره د ذکر کولو پابندي وکړي ځکه دا الله ﷻ ذکر لوی دولت دئ . د ذکر فضایل راجمعه کول په حقیقت نه زما بې عمله په وس کي دي او نه ممکن دي په همدې وجهه په دغه رساله کي په لنډ ډول سره څو روایتونه رانقلوم اوپه لاندي ډول يې پر درو بابونو وېشم :

لومړی باب : د مطلق ذکر فضایل .

دوهم باب : د افضل الذکر یعني کلمې طیبې بیان .

دریم باب : ددریمي کلمې یعني تسبیح فاطمه په بیان کي .

د ذکر فضایل

د الله ﷻ د پاک ذکر په باره کښې که څېرې یو آیات یا حدیث هم نوې راغلی بیا هم دهغه اصلي انعام کونکي (الله تعالی ﷻ) د ذکر څخه په هیڅ وخت کي یو بنده ته پکا رنه ده چې د هغه څخه بې خبره اوسي ځکه چې دهغه پاک ذات په هر وخت کښې دومره بې شمېره انعامونه او احسانونه کړي دي چې اندازه یې نسته دداسي انعام کوونکي، ذکر، شکر، یادول او دهغه احسان منل فطرتي یعني پیدایشي شی دئ.

خداوند عالم کی قربان می کرم جس کی لاکھوں ہی ہر آن ہی

یعني د ټول عالم تر خدای قربان سم مهر باني یې په هر وخت کښې په سلهاوو زرونه دي خو ددې سره بیا هم قرانکریم ،حدیثونه او د بزرگانو خبرې او ددوی احوال ددې پاک ذکر د شوق او حرص د پیدا کولو څخه ډک دي د ذکر د برکتونو او د انوارو په بار کښې به څه پوښتنه کوي؟ یعني چې دومره برکتونه په ذکر کي ستهنو بیا بیان ته څه ضرورت دئ؟ خو بیا هم ددې مبارک ذکر په بار کښې لومړي څو آیاتونه او ورپسې د پیغمبر ﷺ څو حدیثونه بیانوم :

لومړی باب

اول فصل

د ذکر په اړه څو ایاتونه :

١-فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوا لِي وَلَا تَكْفُرُونِ ﴿١٥٢﴾ (٢)

ژباړه:- تاسو مایادوی (زما ذکر کوی) زه به تاسو یادوم او زما شکر ادا کوی ناشکري مه کوي.

---

(٢) سورة البقرة ١٨ ع

۲- فَإِذَآ أَفَضۡتُم مِّنۡ عَرَفَٰتٖ فَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ عِندَ ٱلۡمَشۡعَرِ ٱلۡحَرَامِۖ وَٱذۡكُرُوهُ كَمَا هَدَىٰكُمۡ وَإِن كُنتُم مِّن قَبۡلِهِۦ لَمِنَ ٱلضَّآلِّينَ ﴿١٩٨﴾ (۲)

ژباړه:- کله چي تاسي (د حج په وخت کښی) د عرفات څخه راسی نو په مزدلفه کښي پاته سئ د الله ﷻ ذکر کوئ په هغه ډول څنګه چي مو درښودلی دئ په حقیقت کښي تاسي ددې څخه دمخه د ګمراهانو څخه واست.

۳- فَإِذَا قَضَيۡتُم مَّنَٰسِكَكُمۡ فَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَذِكۡرِكُمۡ ءَابَآءَكُمۡ أَوۡ أَشَدَّ ذِكۡرٗاۗ فَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِي ٱلدُّنۡيَا وَمَا لَهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنۡ خَلَٰقٖ ﴿٢٠٠﴾ وَمِنۡهُم مَّن يَقُولُ رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗ وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِ حَسَنَةٗ وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿٢٠١﴾ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ نَصِيبٞ مِّمَّا كَسَبُواْۚ وَٱللَّهُ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ﴿٢٠٢﴾ (۴)

ژباړه:- کله چي تاسي د حج کړني تر سره کړی نود الله ﷻ ذکر کوئ په هغه ډول چي ستاسي پلرونو او نیکه ګانو کاوی بلکي د الله ﷻ ذکر ددې څخه هم ډیر پکار دئ بیا (کوم خلګ چي د الله ﷻ ذکر کوی د هغو څخه) ځینی پخپلو دعاګانو کښي داسي وایې: اې پرودګاره! موږ ته په دنیا کښي (برخه) راکړه (دوي ته چي څه ورکول سي په دنیا کښی به ورکړل سي) او ددوی لپاره په اخرت کښي هیڅ برخه نسته او ځینی خلګ داسي وایي: اې زموږ پروردګاره! موږ ته په دنیا کښي نیکي راکړې او په اخرت کښي هم نیکي راکړې او موږ ددوزخ د اور څخه وساتې. همدغه کسانو ته برخه سته دهغه څه څخه چي دوی یې عمل کړی دئ او الله ﷻ ډیر ژر حساب کونکی دئ.

فایده: په حدیث شریف کي راغلی دي چي ددرو کسانو دعاء د خدای ﷻ په دربار کښي نه ردیږي بلکي قبلیږي چي یو د هغو څخه هغه څوک دئ چي ډیر د الله ﷻ ذکر کوي، دوهم مظلوم (چي ظلم پرې سوی وي) دریم هغه پاچا چي ظلم نه کوي (۵)

۴- وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ فِيٓ أَيَّامٖ

ژباړه: او (د حج په وخت کښی په منی کښی هم پاته سي) څو ورځی الله یادوی (او دهغه ذکر

(۳) سورة البقرة ۲۵ ع
(۴) سورة البقرة ۲۵ ع
(۵) جامع الصغیر

مَّعۡدُودَٰتٍۚ (٦) | کوی)

۵- وَٱذۡكُر رَّبَّكَ كَثِيرٗا وَسَبِّحۡ بِٱلۡعَشِيِّ وَٱلۡإِبۡكَٰرِ ﴿٤١﴾ (٧)

ژباړه:- خپل رب ډېر ډېر یادوئ او سهار او ماښام تسبیح وایاست.

٦-ٱلَّذِينَ يَذۡكُرُونَ ٱللَّهَ قِيَٰمٗا وَقُعُودٗا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمۡ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ رَبَّنَا مَا خَلَقۡتَ هَٰذَا بَٰطِلٗا سُبۡحَٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿١٩١﴾ (٨)

ژباړه:- هغه کسان چي الله ﷻ په ولاړه، په ناسته او پر اړخونو باندي یادوي او همدا ډول د اسمانونو او مځکی په پیدا ایښت کښي فکر کوي (او تر فکر وروسته دا وایي) چي ای زموږ ربه! دا ټول شیان تا بېکاره ندي پیدا کړي موږ ستا تسبیح وایو موږ د دوزخ د عذاب څخه وساتې.

٧- فَإِذَا قَضَيۡتُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ قِيَٰمٗا وَقُعُودٗا وَعَلَىٰ جُنُوبِكُمۡۚ (٩)

ژباړه:- کله چي تاسو لمونځ ادا کوئ نو الله ﷻ په ولاړه، ناسته او په پروته یادوئ.

٨- وَإِذَا قَامُوٓاْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ قَامُواْ كُسَالَىٰ يُرَآءُونَ ٱلنَّاسَ وَلَا يَذۡكُرُونَ ٱللَّهَ إِلَّا قَلِيلٗا ﴿١٤٢﴾ (١٠)

ژباړه:- (دا آیت د منافقانو د حالت څخه بیان کوي) او کله چي لمانځه ته ولاړیږي نو ډېر په سستۍ سره ولاړیږي یوائې خلګو ته خپله دینداري ښیي او د الله ﷻ ذکر هم نه کوي مګر ډېر لږ ذکر کوي.

٩-إِنَّمَا يُرِيدُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَن يُوقِعَ بَيۡنَكُمُ ٱلۡعَدَٰوَةَ وَٱلۡبَغۡضَآءَ فِي ٱلۡخَمۡرِ وَٱلۡمَيۡسِرِ وَيَصُدَّكُمۡ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَعَنِ ٱلصَّلَوٰةِۖ

ژباړه: شیطان دا غواړي چي تاسي د شرابو او عیشی ژوند په واسطه په خپل مینځ کښي په دښمنۍ او په بغض (کینه) کښي واچوي او تاسي د الله ﷻ د ذکر او لمانځه څخه منع کړي

---

(٦) سورة البقرة ٢٥ ع
(٧) سورة العمران ۴ ع
(٨) سورة ال عمران الاية (١٩١)
(٩) سورة النسا ١٥ ع
(١٠) سورة النساء ٢١ ع

فَهَلۡ أَنتُم مُّنتَهُونَ ﴿٩١﴾ (١١)

اوتاسو به (ددې ناوړه شیانو څخه) منع سئ؟

١٠- وَلَا تَطۡرُدِ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ رَبَّهُم بِٱلۡغَدَوٰةِ وَٱلۡعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجۡهَهُۥ (١٢)

ژباړه:- دغه کسان د خپلو مجلسونو څخه مه بېلوه ځکه چي دوی سهار او ماښام خپل رب یادوي چي پدې سره یواځی د هغه رضا پیدا کوي.

١١- وَٱدۡعُوهُ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَۚ (١٣)

ژباړه:- وبولئ هغه (یعنی د الله ﷻ و طرفته) چي خالص کونکي د هغه لپاره یاست دپاره ددین.

١٢- ٱدۡعُواْ رَبَّكُمۡ تَضَرُّعٗا وَخُفۡيَةًۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُعۡتَدِينَ ﴿٥٥﴾ وَلَا تُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ بَعۡدَ إِصۡلَٰحِهَا وَٱدۡعُوهُ خَوۡفٗا وَطَمَعًاۚ إِنَّ رَحۡمَتَ ٱللَّهِ قَرِيبٞ مِّنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٥٦﴾ (١٤)

ژباړه:- وبولئ تاسي خپل رب په عاجزی سره او پټ پټ (یې هم وبولئ) بېشکه الله ﷻ تیری کونکی نه خوښوي، او تاسی په ځمکه کښی تر اصلاح (سموالی) وروسته فساد مه خپروئ او الله ﷻ په ویر سره (دعذاب څخه) او په طمعه سره (د رحمت) وبولئ بېشکه دالله ﷻ رحمت ونیکي کونکو ته ډېر نژدې دئ.

١٣- وَلِلَّهِ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ فَٱدۡعُوهُ بِهَاۖ (١٥)

ژباړه:- د الله ﷻ لپاره ډېر ښه نومونه دي الله ﷻ په هغه (نومونو) سره وبولئ.

١٤- وَٱذۡكُر رَّبَّكَ فِي نَفۡسِكَ تَضَرُّعٗا وَخِيفَةٗ وَدُونَ ٱلۡجَهۡرِ مِنَ ٱلۡقَوۡلِ بِٱلۡغُدُوِّ وَٱلۡأٓصَالِ وَلَا تَكُن مِّنَ ٱلۡغَٰفِلِينَ ﴿٢٠٥﴾ (١٦)

ژباړه:- خپل رب په زړه کښی او په لږ کرار اواز سره یاده وه په داسي حال کښی چي عاجزي هم ورسره وي او دالله ﷻ څخه بېره هم وي (هروخت دسهار او ماښام هم او دناخبرو څخه مه کیږه.

١٥- إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ

ژباړه:- ایمان درلودونکي خلک هغه دي چي کله ددوی په مخکښی د الله ﷻ یادونه کیږی نو (د هغه

---

(١١) سورة المائده ١٢ ع

(١٢) سورة الانعام ٦ ع

(١٣) سورة الاعراف الاية (١٢٩)

(١٤) سورة اعراف ٧ ع

(١٥) سورة الاعراف الاية (١٨٠)

(١٦) سورة الاعراف ٢٤ ع

إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُهُۥ زَادَتْهُمْ إِيمَٰنًا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٢﴾ (١٧)

دلویږي د تصور څخه) د هغو زړونه ییرېږي او کله چي ددوی په مخکښې د الله ﷻ ایاتونه تلاوت سي نو د هغو ایمانونه زیاتوي او هغوی پر خپل خدای ﷻ باندی توکل کوي.

(مخکي د هغو د لمانځه او نورو بیان سوی دی وروسته الله ﷻ وفرمایل هم داخلګ دریښتني ایمان درلودونکي دي ددوی لپاره د خپل خدای سره لوی لوی درجې دي او همدا ډول د خدای ﷻ لخوا څخه بخښنه او د عزت روزي ده.

١٦- وَيَهْدِيٓ إِلَيْهِ مَنْ أَنَابَ ﴿٢٧﴾ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكْرِ ٱللَّهِ ۗ أَلَا بِذِكْرِ ٱللَّهِ تَطْمَئِنُّ ٱلْقُلُوبُ ﴿٢٨﴾ (١٨)

ژباړه:- او څوک چي د الله ﷻ و خواته متوجه کیږي هغه ته هدایت ورنصیب کوي هغوی هغه خلګ دي چي پر الله ﷻ ایمان راوړي او د الله ﷻ په ذکر سره د هغوی زړونه مطمئن کیږي ،خبردار اوسئ چي د الله ﷻ په ذکر کي داسي خاصیت دئ چي په نا ارامه زړونه په ارامیږي.

١٧ . قُلِ ٱدْعُوا۟ ٱللَّهَ أَوِ ٱدْعُوا۟ ٱلرَّحْمَٰنَ ۖ أَيًّا مَّا تَدْعُوا۟ فَلَهُ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ ۚ (١٩)

ژباړه: ورته ووایه : په الله ﷻ ویلو سره هغه وبولئ یا یې په رحمن ویلو سره وبولئ په هر نامه چي یې بولئ (هم هغه ډیر ښه نوم دئ) ځکه چي د هغه لپاره ډیر ښه ښه نومونه دي.

١٨- وَٱذْكُر رَّبَّكَ إِذَا نَسِيتَ (٢٠)

ژباړه:- او کله چي ستا څخه هیره وسي نو د خپل رب ذکر کوه.

١٩- وَٱصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِٱلْغَدَوٰةِ وَٱلْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُۥ ۖ وَلَا تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ تُرِيدُ زِينَةَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَلَا تُطِعْ مَنْ

ژباړه:- ته خپل ځان د هغو خلګو سره (دناستي) پابند ساته چي هغوی سهار او ماښام خپل رب بولي یوائي د هغه درضا د حاصلولو لپاره او ته ددوی څخه نظر مه اړوه چي ته ددنیا د ژوند ښکلا غواړي او ته د هغه چا خبره مه منه چي د هغه زړه

(١٧) سورة الانفال ١ ع

(١٨) سورة الرعد ۴ ع

(١٩) سورة بني اسرائيل الاية (١١٠)

(٢٠) سورة الكهف ۴ ع . وفي مسائل السلوك فيه مطلوبية الذكر ظاهر.

أَغْفَلْنَا قَلْبَهُۥ عَن ذِكْرِنَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ وَكَانَ أَمْرُهُۥ فُرُطًا ﴿٢٨﴾ (٢١)

ددنیا د ژوند ښکلا غواړي اوته د هغه چا خبره مه منه چي د هغه زړه زموږ د ذکر څخه غافله وي اود خپلو خواهشاتو تابع وي د هغه حال تر حد وتلی دئ.

٢٠- وَعَرَضْنَا جَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لِّلْكَٰفِرِينَ عَرْضًا ﴿١٠٠﴾ ٱلَّذِينَ كَانَتْ أَعْيُنُهُمْ فِى غِطَآءٍ عَن ذِكْرِى (٢٢)

ژباړه:- او موږ به دوزخ په هغه ورځ (یعنی د قیامت په ورځ) د کافرانو په مخکښې وړاندي کړو او دا هغه خلک دي چي د هغوپر سترګو زموږ دیاد څخه پرده پرته وه.

٢١- ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهُۥ زَكَرِيَّآ ﴿٢﴾ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥ نِدَآءً خَفِيًّا ﴿٣﴾ (٢٣)

ژباړه:- دا یادګیرنه ستا د پرودګار ده چي پر خپل بنده زکریا (علیه السلام) باندي د مهربانی کولو څخه ده کله چي هغه (زکریا علیه السلام) خپل رب په پټه وبلی.

٢٢- وَأَدْعُواْ رَبِّى عَسَىٰٓ أَلَّآ أَكُونَ بِدُعَآءِ رَبِّى شَقِيًّا ﴿٤٨﴾ (٢٤)

ژباړه:- او زه خپل رب بولم (په یقیني ډول سره) هیله لرم چي زه خپل رب بولم محرومه به نسم پاته (دالله جل جلاله رحمت څخه)

٢٣- إِنَّنِىٓ أَنَا ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعْبُدْنِى وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِذِكْرِىٓ ﴿١٤﴾ إِنَّ ٱلسَّاعَةَ ءَاتِيَةٌ أَكَادُ أُخْفِيهَا لِتُجْزَىٰ كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا تَسْعَىٰ ﴿١٥﴾ (٢٥)

ژباړه:- بیشکه زه الله جل جلاله یم زما څخه پرته بل د عبادت لائق نسته. ته (اې موسي علیه السلام) زما عبادت کوه او زما دیادولو لپاره لمونځ کوه. بیشکه قیامت راتلونکی دی زه هغه (قیامت) پټ ساتل غواړم ددې لپاره چي و هر چا ته د خپلو د کړنو (اعمالو) بدله ورکړل سي.

٢٤ وَلَا تَنِيَا فِى ذِكْرِى ﴿٤٢﴾ (٢٦)

ژباړه:- زما په ذکر (یادولو) کښي سستي مه کوه (و حضرت موسی علیه السلام او حضرت هارون علیه السلام ته خطاب دی)

---

(٢١) سورة الکهف۴ ع
(٢٢) سورة الکهف١١ ع
(٢٣) سورة مریم١ ع
(٢٤) سورة مریم٣ ع
(٢٥) سورة طٰهٰ١ ع
(٢٦) سورة طٰهٰ٢ ع

۲۵- وَنُوحًا إِذْ نَادَىٰ مِن قَبْلُ (۲۷)

ژباړه:- نوح علیه السلام (دوی ته بیان وکړه) کله چي هغه خپل رب وبلي (د حضرت ابراهیم علیه السلام تر قصې) وړاندي.

۲۶- وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَسَّنِيَ ٱلضُّرُّ وَأَنتَ أَرْحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿٨٣﴾ (۲۸)

ژباړه:- د ایوب علیه السلام (بیان وکړه) کله چي هغه خپل رب وبلی چي ماته ډېر تکلیف ورسېدی او ته تر ټولو مهربانانو ډیر زیات مهربان یي.

۲۷- وَذَا ٱلنُّونِ إِذ ذَّهَبَ مُغَٰضِبًا فَظَنَّ أَن لَّن نَّقْدِرَ عَلَيْهِ فَنَادَىٰ فِي ٱلظُّلُمَٰتِ أَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبْحَٰنَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٨٧﴾ (۲۹)

ژباړه:- د ماهي والا (پیغمبر یعني دحضرت یونس علیه السلام بیان وکړه) کله چي دی (د خپل قوم څخه) په خفګان ولاړی او دایې وګڼله چي موږ به دهغه نیول نه کوو وروسته هغه (خپل خدای جل جلاله) په تیارو کښې وبلی چي ستا څخه پرته بل هیڅوک دعبادت وړ نسته ته د هر عیب څخه پاک یي بېشکه زه د ظالمانو څخه یم.

۲۸- وَزَكَرِيَّآ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥ رَبِّ لَا تَذَرْنِي فَرْدًا وَأَنتَ خَيْرُ ٱلْوَٰرِثِينَ ﴿٨٩﴾ (۳۰)

ژباړه:- د زکریا علیه السلام (بیان وکړه) کله چي هغه خپل رب وبلئ چي اې زما ربه! مابې وارثه مه پرېږده ته تر ټولو وارثانو غوره او حقیقي وارث یې.

۲۹- إِنَّهُمْ كَانُوا۟ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلْخَيْرَٰتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا ۖ وَكَانُوا۟ لَنَا خَٰشِعِينَ ﴿٩٠﴾ (۳۱)

ژباړه: بېشکه (دغه دټولو انبیآؤ علیهم السلام بیان کیږی چي) په نیکو کارونو کښې به یې تلوار کول او موږ به یې بللو (د ثواب) په هیله او د (عذاب څخه) به یې بېره کول او ټول زموږ لپاره عاجزي کونکي وه.

---

(۲۷) سورة الانبیا۶ ع

(۲۸) سورة انبیاء۶ ع

(۲۹) سورة انبیاء۶ ع

(۳۰) سورة انبیاء۶ ع

(۳۱) سورة انبیاء۶ ع

۳۰- وَبَشِّرِ ٱلْمُخْبِتِينَ ﴿٣٤﴾ ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ (۳۲)

ژباړه: اوته (د جنت او نورو) زیری داسي عاجزي کونکو ته ورکړه چي د هغو حال داسي وي چي د اللهﷻ ذکر کیږی نو د هغو زړونه د اللهﷻ څخه بیریږی.

۳۱- إِنَّهُۥ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْ عِبَادِى يَقُولُونَ رَبَّنَآ ءَامَنَّا فَٱغْفِرْ لَنَا وَٱرْحَمْنَا وَأَنتَ خَيْرُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿١٠٩﴾ فَٱتَّخَذْتُمُوهُمْ سِخْرِيًّا حَتَّىٰٓ أَنسَوْكُمْ ذِكْرِى وَكُنتُم مِّنْهُمْ تَضْحَكُونَ ﴿١١٠﴾ إِنِّى جَزَيْتُهُمُ ٱلْيَوْمَ بِمَا صَبَرُوٓا۟ أَنَّهُمْ هُمُ ٱلْفَآئِزُونَ ﴿١١١﴾ (۳۳)

ژباړه:- (د قیامت په ورځ به کافرانو ته د خبرو په بهیر کښي وویل سي چي ایا ستاسو ندي پیاد؟) زما د بندګانو یوه ډله وه (چي هغه غریبانو به موږ ته داسي ویل) اې زموږ ربه! موږ ایمان راوړی دئ موږ ته بخښنه وکړې او پر موږ رحمت وکړې ته تر ټول زیات رحم لرونکی یې تاسو مسخرې وبللې تر داسي اندازې چي زما یادول هم در څخه هیرسو او تاسو به پر هغو باندي خندا کوله مانن و هغو ته ددوی د صبر بدل ورکړ، او هم دوی کامیاب سوه.

۳۲- رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَٰرَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ (۳۴)

ژباړه:- (دا ایات د پوره ایمان لرونکو په اړه راغلي دئ): هغوی داسي خلک دي چي نه یې رانیول او نه یې خرڅول د اللهﷻ ذکر څخه غافله کوي.

۳۳- وَلَذِكْرُ ٱللَّهِ أَكْبَرُ (۳۵)

ژباړه:- او د الله ذکر (یادول) ډېر لوی شی دئ.

۳۴- تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ ٱلْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ ﴿١٦﴾ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ أُخْفِىَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوا۟

ژباړه:- د هغوا ړخونه (بغلونه) د خوب د ځایونو څخه بیل (لیري) اوسیږي او همدارنګه هغوی خپل رب د عذاب د بیری او درحمت دهیلي له وجهي بولي او زموږ د ورکړل سوو شیانو څخه نفقه کوي هیچاته معلومات نسته چي دداسي خلګو دسترګو یخوالی کوم شیان دغیبو په خزانه کي پټ دي چي

(۳۲) سورة الحج ۵ ع

(۳۳) سورة المؤمنون ٦ ع

(۳۴) سورة النور ۵ ع

(۳۵) سورة العنكبوت ۵ ع

يَعْمَلُونَ ﴿١٧﴾ (٣٦) ددوی د عملونو بدله ده. (٣٧).

فایده:- په یوه حدیث شریف کې راغلي دي چې د شپې په اخر کښې بنده وخپل رب ته ډېر نژدې وي که چیرې ته کولای سې نو په دغه وخت کښې د الله ﷻ ذکر کوه. (٣٨)

٣٥- لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُواْ ٱللَّهَ وَٱلْيَوْمَ ٱلْأَخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرًا ﴿٢١﴾ (٣٩)

ژباړه:- بېشکه ستاسو لپاره درسول الله ﷺ نمونه موجوده وه یعني د هغه چالپاره چې د الله ﷻ او د اخرت څخه بیرېږي او د الله ﷻ په ذکر کښې ډیروالی کوي. (کله چې پیغمبر ﷺ په جنګ کښې ګډون کوي او جهاد کوي نو د بل چا لپاره څه منع کیدونکی سته.)

٣٦- وَٱلذَّٰكِرِينَ ٱللَّهَ كَثِيرًا وَٱلذَّٰكِرَٰتِ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا ﴿٣٥﴾ (٤٠)

ژباړه:- (د اولینو څخه د مومنانو د صفتونو بیان دئ وروسته الله ﷻ فرمایي :) د الله ﷻ ډېر ذکر کونکي نارینه او د الله ﷻ ذکر کوونکي ښځي ددې ټولو لپاره الله ﷻ بخښنه او ډېر لوی اجرونه تیار کړي دي.

٣٧- يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذْكُرُواْ ٱللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا ﴿٤١﴾ وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴿٤٢﴾ (٤١)

ژباړه:- اې ایمان درلودونکو! تاسو د الله ﷻ ذکر په ښه ډېروالي سره کوئ، سهار او ماښام د هغه تسبیحات وایاست.

٣٨- وَلَقَدْ نَادَىٰنَا نُوحٌ فَلَنِعْمَ ٱلْمُجِيبُونَ ﴿٧٥﴾ (٤٢)

ژباړه:- نوح عليه السلام موږ و بللو پس موږ ښه فریاد اورېدونکي یو.

٣٩- فَوَيْلٌ لِّلْقَٰسِيَةِ قُلُوبُهُم مِّن ذِكْرِ ٱللَّهِ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٢٢﴾ (٤٣)

ژباړه:- د هغو خلک لپاره هلاکت (بربادي) ده چې د هغو زړونه د الله ﷻ د ذکر څخه تاثیرنه اخلي دغه خلک په ښکاره ګمراهي کښې دي.

---

(٣٦) سورة السجده ٢ ع

(٣٧) في الدرعن الضحاک هم قوم لایزالون یذکرون الله وروی نحوه عن ابن عباس رضي الله عنه

(٣٨) جامع الصغیر

(٣٩) سورة الاحزاب ٣ ع

(٤٠) سورة احزاب ٥ ع

(٤١) سورة الاحزاب ٦ ع

(٤٢) سورة الصّفّت ٣ ع

۴۰- ٱللَّهُ نَزَّلَ أَحۡسَنَ ٱلۡحَدِيثِ كِتَٰبٗا مُّتَشَٰبِهٗا مَّثَانِيَ تَقۡشَعِرُّ مِنۡهُ جُلُودُ ٱلَّذِينَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُمۡ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمۡ وَقُلُوبُهُمۡ إِلَىٰ ذِكۡرِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ هُدَى ٱللَّهِ يَهۡدِي بِهِۦ مَن يَشَآءُۚ (۴۴)

ژباړه:- الله ﷻ ډیر ښه کلام (قرانکریم) نازل کړ دا داسي کتاب دئ چي په خپل منځ کښي متشابه (سره ورته) دئ په ډیرو ویلو سره د هغه خلګو بدنونه لړزیږي چي د خپل رب څخه بیریږي بیا د دوی بدنونه او زړونه نرم سي او دالله ﷻ د ذکر و خواته متوجه سي دا دالله ﷻ هدایت دئ و چاته چي و غواړي د دغه (کتاب) په واسطه هدایت ورته کوي.

۴۱-فَٱدۡعُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡكَٰفِرُونَ (۴۵)

ژباړه:- پس تاسو خدای ﷻ بولئ خالص کونکي الله ﷻ لره ازروي دین که څه هم پر کافران باندی بدلګیږی (دغه ستاسي اخلاص)

۴۲- هُوَ ٱلۡحَيُّ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَٱدۡعُوهُ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ (۴۶)

ژباړه:- هغه (الله ﷻ) ژوندی دئ د هغه څخه پرته بل د عبادت (بندګی) لائق نسته. تاسو په خالصه (سوچه عقیده) سره هغه (الله ﷻ) بولئ ازروي دین.

۴۳- وَمَن يَعۡشُ عَن ذِكۡرِ ٱلرَّحۡمَٰنِ نُقَيِّضۡ لَهُۥ شَيۡطَٰنٗا فَهُوَ لَهُۥ قَرِينٞ (۴۷)

ژباړه:- څوک چي د رحمن (خدای ﷻ) د ذکر څخه (په قصدي ډول) سترګي پوټي کړي نو موږ به پر هغه باندي یو شیطان مقرر کړو بیا به د هغه سره هر وخت او سیږی.

۴۴- مُّحَمَّدٞ رَّسُولُ ٱللَّهِۚ وَٱلَّذِينَ

ژباړه:- محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دئ او کوم خلګ چي دده

---

(۴۳) سورة الزمر ۳ ع

(۴۴) سورة الزمر ۳ ع

(۴۵) سورة المؤمن ۲ ع

(۴۶) سورة المؤمن ۷ ع

(۴۷) سورة زخرف الاية (۳۶)

مَعَهُۥٓ أَشِدَّآءُ عَلَى ٱلۡكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيۡنَهُمۡۖ تَرَىٰهُمۡ رُكَّعٗا سُجَّدٗا يَبۡتَغُونَ فَضۡلٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٗاۖ سِيمَاهُمۡ فِي وُجُوهِهِم مِّنۡ أَثَرِ ٱلسُّجُودِۚ ذَٰلِكَ مَثَلُهُمۡ فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِۚ وَمَثَلُهُمۡ فِي ٱلۡإِنجِيلِ كَزَرۡعٍ أَخۡرَجَ شَطۡـَٔهُۥ فَـَٔازَرَهُۥ فَٱسۡتَغۡلَظَ فَٱسۡتَوَىٰ عَلَىٰ سُوقِهِۦ يُعۡجِبُ ٱلزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ ٱلۡكُفَّارَۗ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِنۡهُم مَّغۡفِرَةٗ وَأَجۡرًا عَظِيمَۢا (۲۹)(۴۸)

سره دي (صحابه کرام رضي الله عنهم) د کافرانو په مقابل کښې سخت دي او په خپل منځ کښې مهربانه دي او (اې کتونکې!ته به دوی په داسې حال کښې) وینې چې کله رکوع او کله سجده کوي او د الله ﷻ د مهربانۍ او درضاء د حاصلولو په لټولو کښې اخته دي (او د خشوع او عاجزۍ) علامې يې په مخونو کښې د سجدې د تاثیراتو له وجهې څخه ښکاره دي داددوی صفتونه په تورات کښې دي او په انجیل کښې دي لکه د هغه کښت په شان چې خپله ځانګه او ښاخونه راوباسي بیا هغه (کښت) قوي کړي او هغه کښت نور هم غټ سي بیا پر خپله تنه باندي برابر ودرېږي چې هغه خپل بزګران په حیرانتیا سره ودروي (دغه حال داصحابو مبارکانو رضي الله عنهم هم دئ چې په اوله کښې ډېر کمزوري وه بیا هر ورځ قوي کېدل او الله ﷻ ځکه قوی کړي) چې په دې سره کافران وسوزي الله ﷻ ددغه ایمان راوړونکو او ښه عمل کونکو سره د بخښني او غټ اجر (ثواب) وعده کړې ده.

فایده: - په دغه آیت کښې که څه هم په ښکاره درکوع، سجدې او د لمانځه فضیلت زیات مقصد دئ او دغه (فضیلت) ښکاره دئ خو د کلمې طیبې ددوهمې برخې (محمد رسول الله) فضیلت هم ورڅخه ښکاره کیږي.

امام رازي رحمه الله علیه لیکلي دي چې دپخوا څخه د حدیبه په صلحه کښې کافرانو انکار کاوه چې محمد رسول الله به نه لیکئ (یعني کله چې دحدیبې دروغي جوړي پرېکړه لیک لیکل کېدئ په دغه وخت کي مسلمانانو په دغه پرېکړه لیک داسي ولیکل چې محمد رسول الله کافرانو انکار وکړئ کافرانو دا نه خوښول چې د محمد ﷺ د نامه سره دي د الله جل جلاله رسول ولیکل سي ځکه دوی محمد ﷺ په رسالت نه مانه) بلکي پر دې خبره باندي یې ټینګار کاوه چې محمد بن عبد الله باید ولیکل سي الله ﷻ وفرمایل : چې الله ﷻ پخپله پر دې خبره باندي

شاهد دئ چي محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دئ کله چي لیږونکی په خپله پر دې خبره اقرار وکړي چي فلانی زما قاصد دئ نو که سل زره واره څوک ورڅخه انکار وکړي دده په انکار سره به څه وسي؟ددې شاهدی د اقرار لپاره الله ﷻ محمد ﷺ خپل رسول وبلی.

دوهمه خبره داده چي پدې آیت کي څو اړیني خبري هم دي یوه یې داده چي دمخ داثراتو دښکاره کېدو فضیلت دئ ددغه اثراتو په فضیلت کي بیل تفسیرونه سته یو تفسیر دادئ چي کوم څوک چي شپه دالله ﷻ په عبادت رونه کړي دده په مخ کي به دانوار اوبرکاتو اثرات وي. ځینو ویلي دي چي همدغه ترې مراد دئ.

امام رازي رحمة الله علیه فرمایي: دوه کسان چي شپه رونه کړي یو یې په ګناه تېره کړي اوبل یې په عبادت تېره کړي سهار به ددوی په مخونو کښي ښکاره فرق موجود وي کوم کس چي په ګناه یې شپه رونه کړې وي دهغه کس په څېر بیخي نه سي کېدلای چي شپه یې په عبادت تېره کړې وي.

دریمه ضروري خبره داده چي امام مالک رحمة الله علیه اویوې ډلي علماؤ پدې ایت دلیل ویلي دئ چي کوم کسان چي اصحابانو رضي الله عنهم ته ښکنځل کوي ،یابدي خبري ورته کوي اویا بغض (کینه) ورسره کوي هغوی کافران دي (۴۹)

۴۵ أَلَمۡ يَأۡنِ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن تَخۡشَعَ قُلُوبُهُمۡ لِذِكۡرِ ٱللَّهِ (۵۰)

ژباړه:- ایا د ایمان درلودونکي لپاره ددې وخت لاندئ راغلی چي زړونه یې د الله ﷻ د ذکر لپاره ټیټ سي.

۴۶- ٱسۡتَحۡوَذَ عَلَيۡهِمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ فَأَنسَىٰهُمۡ ذِكۡرَ ٱللَّهِۚ أُوْلَٰٓئِكَ حِزۡبُ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ أَلَآ إِنَّ حِزۡبَ ٱلشَّيۡطَٰنِ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ۝١٩ (۵۱)

ژباړه:- (په دې آیات کښي دمنافقانو بیان دئ) پر هغوئ (منافقانو) باندي دشیطان قبضه وسوه وروسته یې هغوئ (منافقان) د الله ﷻ د ذکر څخه بې خبره کړه داد شیطان ډله ده ښه پوه سئ (دا خبره ثابته ده) چي د شیطان ډله تاواني ده.

۴۷- فَإِذَا قُضِيَتِ ٱلصَّلَوٰةُ فَٱنتَشِرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَٱبۡتَغُواْ

ژباړه:- کله چي (دجمعې) لمونځ اداکړئ نو (تاسو ته اجازه ده) چي په مځکه کښي وپاشل سئ اود الله ﷻ څخه دروزی لټه وکړئ. (ددنیا په کارو کښي داخته

---

(۴۹) ابن کثیر
(۵۰) سورة الحدید۲ ع
(۵۱) سورة المجادله۳ ع

مِن فَضْلِ ٱللَّهِ وَٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٠﴾ (۵۲)

کېدو اجازه ده خو په دې کښې هم) د الله ﷻ ذکر ډېر کوئ د دې لپاره چې و کامیابۍ ته ورسیږئ.

۴۸- يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَٰلُكُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُكُمْ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿٩﴾ (۵۳)

ژباړه:- اې ایمان درلودونکو! ستاسو مالونه او اولادونه دې تاسو د الله ﷻ د ذکر څخه بې خبره نه کړي او کوم خلک چې داسې وکړي دغه خلک د تاوانیانو څخه دي (ځکه دغه شیان خو په دنیا کښې ختمیږي او د الله ﷻ ذکر خو په اخرت کښې کار ورکوونکی دئ)

۴۹- وَإِن يَكَادُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَيُزْلِقُونَكَ بِأَبْصَٰرِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا۟ ٱلذِّكْرَ وَيَقُولُونَ إِنَّهُۥ لَمَجْنُونٌ ﴿٥١﴾ (۵۴)

ژباړه:- دا کافران خلک چې کله ذکر (قرانکریم) واوري (نو د ډېرې دښمنۍ څخه) داسې معلومیږي چې تاسو به په خپلو نظرو نو (کتو) سره وښویوي او وبه موغورزوي او وایي چې (نعوذ با الله) داخو لیونی دئ

فایــده:- په نظر ښویولو او غورزولو کښې اشاره ده (د دښمنۍ و ډېروالي ته) لکه څرنګه چې موږ په ویناوو کښې وایو: داسې ګوري لکه خوري چې مې. حسن بصري رحمة الله علیه فرمایلي دي: څوک چې نظر سوی وي پر هغه باندې دغه آیات شریف لوستل او دمول ډېره فایده لري. (۵۵)

۵۰- وَمَن يُعْرِضْ عَن ذِكْرِ رَبِّهِۦ يَسْلُكْهُ عَذَابًا صَعَدًا ﴿١٧﴾ (۵۶)

ژباړه:- او څوک چې د خپل رب دیاد (ذکر) څخه مخ واړوي الله ﷻ به هغه په سخت عذاب کښې داخل کړي.

---

(۵۲) سورة الجمعه ۲ ع
(۵۳) سورة المنافقون ۲ ع
(۵۴) سورة القلم ۲ ع
(۵۵) جمل
(۵۶) سورة الجن ۱ ع

۵۱- وَأَنَّهُۥ لَمَّا قَامَ عَبۡدُ ٱللَّهِ يَدۡعُوهُ كَادُواْ يَكُونُونَ عَلَيۡهِ لِبَدٗا ﴿١٩﴾ قُلۡ إِنَّمَآ أَدۡعُواْ رَبِّي وَلَآ أُشۡرِكُ بِهِۦٓ أَحَدٗا ﴿٢٠﴾ (۵۷)

ژباړه:- کله چي د الله ﷻ خاص بنده (محمد ﷺ) د الله ﷻ د رابللو لپاره ودريږي نو د اکافران پر هغه بنده (محمد ﷺ) باندي راټول سي تاسو ورته وواياست چي زه خو يوازي خپل رب بولم اود هغه (الله ﷻ) سره هيڅوک شريک نه نيسم.

۵۲- وَٱذۡكُرِ ٱسۡمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلۡ إِلَيۡهِ تَبۡتِيلٗا ﴿٨﴾ (۵۸)

ژباړه:- او ته د خپل رب نوم اخله اود ټولو سره اړيکي پريکړه د (الله ﷻ) و لوري ته متوجه اوسه.

داړيکو دپريکولو څخه مطلب دادئ چي د الله ﷻ سره داړيکو په پرتله نوري اړيکي کښته کړه.

۵۳- وَٱذۡكُرِ ٱسۡمَ رَبِّكَ بُكۡرَةٗ وَأَصِيلٗا ﴿٢٥﴾ وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَٱسۡجُدۡ لَهُۥ وَسَبِّحۡهُ لَيۡلٗا طَوِيلًا ﴿٢٦﴾ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ يُحِبُّونَ ٱلۡعَاجِلَةَ وَيَذَرُونَ وَرَآءَهُمۡ يَوۡمٗا ثَقِيلٗا ﴿٢٧﴾ (۵۹)

ژباړه:- او دخپل رب نوم سهار او ماښام اخله او دشپې په يوه برخه کښي هغه ته سجده کوه او د شپې په ډيره برخه کښی د (الله ﷻ) تسبيحات وايه (چي د تهجد لمونځ ورڅخه مراد دئ) دغه خلک (يعني هغه کسان چي ستا مخالفت کوي) ددنيا سره محبت (مينه) ساتي او په خپل مخکښی يې يو درنه ورځ (دقيامت ورځ) پرې ايښي ده.

۵۴- قَدۡ أَفۡلَحَ مَن تَزَكَّىٰ ﴿١٤﴾ وَذَكَرَ ٱسۡمَ رَبِّهِۦ فَصَلَّىٰ ﴿١٥﴾ (۶۰)

ژباړه:-بېشکه هغه څوک کامياب سو چي (د بدو اخلاقو څخه) پاک سو او د خپل رب نوم يې اخستی او لمونځ يې کوئ.

---

(۵۷) سورة الجن ۱ ع

(۵۸) سورة المزمل ۱ ع

(۵۹) سورة الدهر ۲ ع

(۶۰) سورة الاعلی ۱ ع

دوهم فصل

د ذکر په باره کښي حدیثونه

کله چي دډ مضمون یعني ذکر په باره کښي دومره ډېر قرآني آیاتونه راغلي دي نو حدیثونه به څومره ډېر وي ځکه چي د قرانکریم دېرش سپاري دي او د حدیثونو کتابونه بې شمېره دي چي په هر کتاب کښي بې شمېره حدیثونه سته. یوائې د بخاري شریف دېرش لوی لوی سپاري دي او ابو داود دودېرش سپاري دي او داسي کتاب نسته چي دډ مبارک ذکر څخه خالي وي نو ځکه څوک نسي کولای چي ټول حدیثونه راجمعه کړي دنمونې او د عمل لپاره یوائې یو آیات او یو حدیث بس دئ او څوک چي عمل نه په کوي د هغه لپاره غټ کتابونه هم بې فایدې دي.

كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا

۱- عن ابي هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ يقول الله تعالى انا عند ظن عبدي بي وانا معه اذا ذكرني فان ذكرني في نفسه ذكرته في نفسي وان ذكرني في ملاء ذكرته في ملاء خير منهم وان تقرب الى شبرا تقربت اليه ذراعا وان تقرب الى ذراعا تقربت اليه باعا وان اتاني يمشي اتيته هرولة. (٦١)

ژباړه: د حضرت ابو هریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: الله ﷻ فرمایي چي زه د بنده سره هغسي کړنه کوم چي دئ یې پرما باندي ګمان کوي او کله چي دی ما یادوي نو زه دده سره یم که چیری دی ما پخپل زړه کښي یادوي نو زه دئ هم په خپل زړه کښي (بلاکیفه) یادوم او که چیري دی زما ذکر په یوه ډله کښي کوي زه یې تر هغه ډلي په غوره ډله کښي ذکر کوم یعني د ملائکو په ډله کښي یې ذکر کوم، که چیري بنده زما ولوري ته یوه لوېشت نژدې والی کوي زه دده ولوري ته یو ګز نژدې والی کوم که دی زما ولوري ته یو ګز نژدې والی کوي زه دوه ګزه نژدې والی ورته کوم او که دی زما ولوري ته کرار راروان سي زه په منډه ورځم.

(٦١) رواه احمد و البخاري و مسلم و الترمذي و النسائي و ابن ماجة و البيهقي في الشعب واخرج احمد والبيهقي في الاسماء و الصفات عن انس بمعناه بلفظ يا ابن ادم اذ ذكرتني في نفسك الحديث وفي الباب عن معاذ بن

فائده: په دې حدیث شریف کې دڅو شیانو ذکر راغلی دی : لومړی : الله ﷻ فرمایی: زه د خپل بنده سره د هغه د ګمان برابره معامله کوم ددې مطلب دادی چې د الله ﷻ څخه دده د مهربانۍ امید کول په کار دي دالله ﷻ د رحمت څخه هیڅ کله ناامیدی کول ندي پکار په یقینی ډول موږ ګنهکاریو او د سر څه تر پښو پوري ګنهګاریو او زموږ دخپلو حرکتونو او ګناهونو سزا او بدلې یقیني ده خو دالله ﷻ درحمت څخه ناامیدي کول هم ندي پکار لیرى خبره ندی چې الله ﷻ یوائې په خپلې مهرباني ټول ګناهونه رامعاف کړي ځکه الله ﷻ فرمایلي دي:

إِنَّ اللّٰهَ لاَ يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذٰلِكَ لِمَن يَشَاء

ژباړه: الله ﷻ د شرک څخه پرته نور هرچاته چې یې خوښه سي معافي ورته کوي. خو خامخا لازمي نده چې معاف یې کړي ځکه علماء فرمایي چې ایمان د امید او بیري تر منځ دئ.

نبي کریم ﷺ یو واري یو صحابي ته ورغلی هغه د ځکندن په حال کښې و نبي کریم ﷺ پوښتنه ورڅخه وکړه چې په څه حال کښی یې؟ صحابي وویل : اې د الله ﷻ رسوله! د الله ﷻ د رحمت امید لرم او د خپلو ګناهونو څخه بېرېږم نبي کریم ﷺ وفرمایل: په داسي حال کښې چې د کوم بنده په زړه کښې دا دواړه وي یعني امید او بیره وي نود الله ﷻ څخه چې یې کوم امید وي هغه ورکوي اود کوم شي څخه چې یې بېره وي د هغه څخه یې به په امان ساتي (۶۲)

په یوه حدیث شریف کې راغلي دي چې مؤمن خپله ګناه داسي بولي لکه چې دی تر غره لاندي ناست وي او هغه غر پرده باندي رالویږي. فاجر او ګناهګاره خپله ګناه داسي بولي لکه یو مچ چې ناست و او ده والوزوی یعني د ذرې پروایې هم نه لري . مطلب دادئ چې د ګناه څخه د هغې په اندازه بېره او د رحمت څخه د هغه په اندازه امید پکار دئ.

حضرت معاذ ﷺ د طاعون د مریضۍ په ذریعه شهید سو د وفات په نږدې وخت کښې ډېر ډېر بې هوښه کېدئ کله چې به په هوښ راغلی نو وبه یې فرمایل: یا الله ﷻ! تاته معلومه ده چې زما ستا سره محبت دئ ستا په عزت سره مي دي قسم وي چې وتاته دا خبره ښه معلومه

انس عندالطبراني باسناد حسن وعن ابن عباس عند البزار باسناد صحيح و البيهقى و غيرهماوعن ابي هريرة عند ابن ماجة وابن حبان و غيرهما بلفظ انا مع عبدى اذ اذكرني و تحركت به شفتاه كمافي الدرالمنثور و الترغيب للمنذرى و المشكوة مختصراً و فيه برواية مسلم عن ابي ذر بمعناه وفي الا تحاف علقة البخارى عن ابي هريرة بصيغة الجزم ورواه ابن حبان من حديث ابي الدرداء اهـ

(۶۲) جمع الفوائد

ده. کله چې یې د مرګ وخت ډېر نږدې سو نو وې فرمایل: اې مرګه ستا راتلل دې مبارک وي څومره مبارک میلمه راغلې خو د لوږې په حالت کښې دا میلمه راغلی دئ ددې څخه وروسته یې وفرمایل: اې الله ﷻ تاته معلومه ده چې زه همیشه ستا څخه بېرېدلم نن ستا څخه امید لرم یا الله ﷻ! زما دژوند سره محبت و خو د وېالو، کښنتونو او باغونو لپاره نه و بلکې د ګرمۍ د سختې تندې ګالل وه او د دین لپاره د تکلیفونه د پورته کولو لپاره وو او د ذکر په حلقو کښې د علماؤ سره ډېره ناسته وه. (٦٣)

ځینو علماؤ لیکلي دي چې په پورتنی حدیث شریف کښې لومړی د عامو حالتونو په اعتبار سره د ګمان سره برابره معامله ده د بخښنې لپاره په خاص ډول سره نده. دعا، صحت، پراخي، ارامي او نور ټول شیان پکښې داخل دي مثلا د دعا په باره کښې ځان خبر کړی مطلب یې دادی که چیري بنده دا باور وکړی چې زما دعا به خامخا او ضرور قبلیږي نو ددغه بنده دعا قبلیږي او که چیری بنده دا باور وکړی چې زما دعا نه قبلیږی نو هم هغسی معامله به ورسره کیږی لکه په نورو حدیثونو کښې چې راغلي دي چې د بنده د دعا قبلیږي تر هغه وخته پوري قبلیږي چې دی ونه وایي چې زما دعا خو نه قبلیږي، همدارنګه د صحت، مالداري او نورو ټولو کارونو حال دی. په حدیث شریف کښې راغلي دي چې پر چا باندي غریبي (مسکنت) راسي نو دی خلګوته وایي شتمن به نه سي او که د الله ﷻ په پاک دربار کښې خواست وکړی نو ډېر ژر به یې دغه د غریبۍ حالت لري سي خو دا ضروري ده چې پر الله ﷻ باندي نیک ګمان ساتل جلا شی دی او په الله ﷻ باندي مغروره کېدل بل شی دی قرانکریم ددې خبري بیان په مختلفو عنوانو کړی دی لکه چې الله ﷻ فرمایي: ولا یغرنکم باالله الغرو. ژباړه: یو غولونکی دي تاونه غولوی یعني شیطان دي خطا نه کړي چې الله ﷻ غفور او رحیم دی ګناه کوه خدای ﷻ به دي بخښی. په بل ځای کښې الله ﷻ فرمایي:

اطلع الغیب ام اتخذ عندالرحمن عهدا کلا.

ژباړه: ایا دی په غیبو باندي خبر دئ او که یې د الله ﷻ سره تعهد کړی دئ، هیڅ کله نه.

دوهم: په دې حدیث شریف کښې دوهمه خبره داده چې الله ﷻ فرمایلي دي: کله چې بنده ما یادوي نوزه دده سره یم. په یوه حدیث شریف کښې راغلي دي چې کله بنده ما یادوي نو تر څو پوري چې دده شونډې زما په ذکر ښوري تر هغه وخته پوري زه دده سره یم یعني پر ده باندي د الله ﷻ خاصه توجه وي او په خصوصي ډول رحمت پر نازلوي.

---

(٦٣) تهذیب اللغات

دريم: په دې حديث شريف کښي دريم شی داد ئ چي الله ﷻ فرمايلي دي: زه د دغه بنده ذکر د ملائکو په ډله کښي کوم يعنی د فخر په ډول سره د دغه بنده ذکر کوي اول په دې وجه چي د بشر د پيدا ايښت چي په کوم ترتيب سره سوی دئ د هغه د پيدا ئښت سره برابر په ده کښي د اطاعت (د حکم د منلو) او معصيت (د حکم د نه منلو) د دواړو ماده پرته ده چي وروسته به په اتم حديث شريف راسي په دې حالت کښی يعنی د اطاعت کولو په وخت په يقينی ډول سره د فخر سبب دی.

دوهم په ظاهره چي د بشر اول وار د پيدا کېدو پر وخت ملائکو و الله ﷻ ته عرض وکړی چي اې الله ﷻ! ته په دنيا کښي داسي مخلوق پيدا کوي چي په دنيا کښی به وينی تويوی. او فساد به کوي او په دې خاطر فساد کوي چي په دوی کښي د فساد ماده سته او په ملائکو کښي د فساد ماده نسته نو ځکه ملائکو و الله ﷻ ته وړانديز وکړی چي موږ ستا تسبيح او تقديس وايو.

دريم: په دې وجه د انسان اطاعت او عبادت د ملائکو تر عبادت بهتر دی چي د انسان عبادت په غيبو سره دی يعنی د اخرت د ليدلو څخه پرته دوی په غيبو سره عبادت کوي او د ملائکو عبادت د اخرت په ليدلو سره دی که انسان جنت يا دوزخ ليدلی وای نو څه ډول عبادت به يې کولای؟ الله ﷻ په دغه وجهو د خپلو يادونکو او عبادت کونکو عبادت ملائکو ته ښيي.

څلورم. په دې حديث شريف کښي څلورم شی دادی: په کوم اندازه چي بنده د الله ﷻ وخواته توجه کوي د الله ﷻ مهرباني او توجه تر ده زياته د خپل بنده وخواته کوي همدغه مطلب د رانژدې کېدو او په ځاغسته سره د ورتلو دی. چي زما مهرباني او رحمت و هغې خواته په تيزۍ سره ورځي. اوس د هر چا خپله خوښه ده چي د الله ﷻ رحمت او مهرباني په څومره اندازه سره و خپلي خواته متوجه کوي په هغه اندازه دي خپله توجه د الله ﷻ و طرف ته ډيره کړي.

پنځم: په دې حديث شريف کښي پنځم شی دادی: چي د ملائکو ډله يې د ذکر کونکو کسانو تر ډلي ښه ښودلي ده په داسي حال کښي چي دا مشهوره خبره ده چي انسان اشرف المخلوقات دی يعني تر ټولو مخلوقاتو بهتر او ښه دی د دغه خبري يوه وجه خو په ترجمه کښي ښکاره سوه چي د ملائکو بهتر والی په يوه خاص حالت سره دی يعني چي هغوی معصومي (د ګناه څخه پاکي) دي د هغو څخه ګناه نسي کېدلای دوهمه وجه يې د افرادو په ډيروالي کښی ده چي د ملائکو ډير افراد د انسانانو تر ډېرو افرادو بلکي تر اکثرو

مؤمنانو بهتري دي که څه هم ځيني مؤمنان لکه انبياء تر ټولو ملائکو بهتر دي. د دې څخه پر ته نوري وجهي هم لري چي په هغه کښي ډېر اوږد بحث دئ.

دهمېشه بوختيا لپاره غوره شی ذکر دئ

۲- عن عبد الله بن بسر ﷺ ان رجلا قال يا رسول الله ان شرائع الاسلام قد کثرت علی فاخبرني بشيئ استن به قال لايزال لسانک رطبامن ذکر الله (٦٤)

ژباړه:- د عبدالله بن بسر ﷺ څخه روايت دی چي: يو صحابي وويل اې رسول الله ﷺ د شريعت حکمونه خو ډير دي ماته داسي يو شی راوښيه چي زه يې خپل کسب و گرځوم او هميشه يې وايم رسول الله ﷺ ورته وويل چي هر وخت د الله ﷻ په ذکر سره خپله ژبه مشغوله ساته.

په يو بل حديث شريف کښي راغلي دي چي حضرت معاذ ﷺ فرمايي : د جلا کېدو په وخت کښي چي زما اخري خبري د رسول الله ﷺ سره وسوي هغه داوي: ما پوښتنه ځني وکړه چي د خدای ﷻ په نزد په ټولو عملونو کښي کوم عمل تر ټولو و خدای ﷻ ته خوښ دی؟ رسول الله ﷺ وفرمايل چي تا ته پداسي حال کښي مرگ راسي چي ته د الله ﷻ په ذکر کښي رطب اللسان يې (يعني ژبه دي د الله ﷻ په ذکر سره لنده او اخته وي)

فايده:- په پورتنی حديث شريف کښي د جلا کېدو څخه هغه وخت مراد دی چي معاذ ﷺ د نبي کريم ﷺ څخه رخصتېدی او رسول الله ﷺ دی د يمن خلکو ته د تبليغ او تعليم لپاره امير جوړ کړی و او يمن ته يې وليږئ په دغه وخت کي معاذ ﷺ د رسول الله ﷺ څخه د ځينو شيانو وصيتونه وغوښته رسول الله ﷺ هم په ځينو شيانو سره وصيتونه ورته وکړه.

د شريعت د احکامو د ډيرېدو څخه مطلب دا دی چي هر حکم پر ځای عملي کول ضروري دي خو په هر شي کښي کمال پيدا کول او هغه د ځان لپاره خاص د اخته کېدو شی

---

(٦٤) اخرجه ابن ابي شيبه واحمد والترمذي و حسنه وابن حبان في صحيحه و الحاكم و صححه و البيهقی كذافي الدر وفي المشكوة برواية الترمذی و ابن ماجة و حكی عن الترمذی حسن غريب اهـ قلت و صححه الحاكم و اقره عليه الذهبي في الجامع الصغير برواية ابي نعيم في الحلية مختصراً بلفظ ان تفارق الدنيا و لسانک رطب من ذكر الله و رقم باالضعف و بمعناه عن مالک بن يخامر ان معاذبن جبل قال لهم ان اخر كلام فارقت عليه رسول الله ﷺ ان قلت اي الاعمال احب الی الله قال ان تموت و لسانک رطب من ذكر الله اخرجه ابن ابي الدنيا و البزار و ابن حبان والطبراني والبيهقي كذا في الدر والحصن الحصين والترغيب للمنذري وذكره في الجامع الصغير مختصراً و عزاه الي ابن حبان في صحيحه و ابن السنی في عمل اليوم و الليلة و الطبراني في الكبير و البيهقی في الشعب وفي مجمع الزاوئد راوه الطبرانی با سانيد

په دې لړه د هغو څخه یو شی چې تر ټولو ډیر ضروري وي ماته یې
جوړول ګران کار دی. ددې لپاره د هغو څخه یو شی چې تر ټولو ډیر ضروري وي ماته یې
راوښیه چې زه هغه شی کلک ونیسم او په هر وخت او هر ځای کښې یعنې د تلو، ګرځېدو،
ولاړېدو او د کښېناستو په وختونو کښې یې کوم.

په یو حدیث شریف کښې راغلي دي چې څلور شیان دي چې هغه وچاته ورکړل سي نو
هغه ته ددین او دنیا ښیګڼې ورکړل سوي: یو د هغو څخه هغه ژبه ده چې په ذکر کولو اخته
وي دوهم هغه زړه دئ چې په شکر کښې اخته وي دریم هغه بدن دی چې تکلیفونه پر ځان
وړي، څلورم هغه ښځه ده چې په خپل نفس او د خاوند په مال کښې خیانت نه کوي. په نفس
کښې خیانت دادئ چې په یو ډول بد اعمالو کښې اخته سي.

د رطب اللسان څخه مراد زیاتو علماؤ د ذکر ډېر والی لیکلی دی اودا په عام ډول په
خبرو کښې استعمالیږي او زموږ په اصطلاح کې هم پیژندل سوی دی چې څوک د چا ستاینه
او یادول ډېر ډېر کوي نو داویل کیږي چې د فلانی سړی په ستاینه او یادولو کښې رطب
اللسان دی خو د عاجز بنده (مولانا محمد ذکریا صاحب) په خیال کښې یو بل مطلب هم
کېدای سي هغه دا چې د چاسره عشق او محبت وي د هغه د نوم په اخیستلو سره د
هغه په خوله کښې یو ډول خوند محسوسیږي د چا چې د عشق او محبت سره څه اړه وي نو
هغوي ددې څخه برخمن دي په همدې وجه مطلب دادی چې په داسې خوند سره د الله پاک
نوم واخیستل سي چې په خوله کې خوند پیدا سي ما خپل ځینې بزرګان ډېر لیدلي دي چې د
په زور ذکر کولو په وخت کښې داسې تازه سي چې ناست کسان هم ور څخه احساسولای سي
او په خوله کښې یې داسې او به راسي چې هر څوک یې محسوسولای سي خو دا هغه وخت په
لاس راځي چې کله په زړه کښې خوږ، خوږ درد او محبت وي او ژبه هم په ډېر ذکر کولو سره
بلده سوي وي.

په یو حدیث شریف کښې راغلي دي چې د الله ﷻ سره د محبت علامه د هغه د ذکر سره
محبت دی او د الله ﷻ بغض او د ښمنۍ علامه د هغه د ذکر سره بغض او د ښمنې ده.

حضرت ابوالدرداء ؓ فرمایي: د کومو خلګو ژبې چې د الله ﷻ په ذکر سره تر او تازه
او سیږي نو هغوی به و جنت ته په خندا سره داخلیږي.

ذکر کول د سرو او سپينو زرو تر خيرات غوره دئ

٣- عن ابي الدرداء ﷺ قال قال رسول الله ﷺ لا انبئكم بخير اعمالكم و ازكاها عند مليكم و ارفعها في درجتكم و خير لكم من انفاق الذهب و الورق و خير لكم من ان تلقوا عدو كم فتضربوا اعناقهم و يضربوا اعناقكم قالوا بلى قال ذكر الله.(٦٥)

ژباړه:- د حضرت ابي الدرداء ﷺ څخه روايت دئ، دی مبارک وايي چي رسول الله ﷺ و اصحابو کرامو ته وفرمايل: ايا زه تاسو ته داسي شی ونه ښيم چي تر ټولو عملونو بهتر وي او ستاسو د مالک (خدای ﷻ) په نزد د ټولو څخه زيات پاک کوونکی وي، ستاسو د درجو رلوړونکی، د خدای ﷻ په لاره (جهاد کښي) د سرو او سپينو زرو تر مصرف هم ښه وي تاسو چي د ښمنان قتل کړئ او هغوئ تاسي قتل کړي تر دې هم زيات وي؟ اصحابو وويل: خامخا يې راوښيه، رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ ذکر دئ.

فايده: دايې عام حالت په اعتبار سره فرمايلي دي ځکه ځني وختونه د ضرورت په خاطر صدقه، جهاد او نور کارونه تر ټولو زيات بهتر وي نو ځکه يې په ځينو حديثونو کښي ددې شيانو افضليت هم بيان کړی دی، چي دا ضرورتونه ځيني وختونه وي.او د الله ﷻ ذکر دهميشه والي شی دی او تر ټولو زيات ضروري او بهتر دی.

په يو حديث شريف کښي رسول الله ﷺ فرمايلي دي چي د هر شی لپاره پاک کونکی او خيره ليري کونکی شی وي (لکه د کالو او بدن لپاره صابون، د او سپني لپاره د اور کوره او داسي نور) د زړونو پاک کونکی شی د الله ﷻ ذکر دی او د الله ﷻ د ذکر څخه پرته بل هيڅ شی د الله ﷻ د عذاب څخه خلاصونکی نسته.څرنګه چي په دې حديث شريف کښي ذکر د زړه د پاکېدو وسيله او سبب ښودل سوی دی نو ځکه د الله ﷻ د ذکر تر ټولو شيانو بهتر والی ځني تابتيږي ځکه چي هر عبادت هغه وخت عبادت دی چي په اخلاص سره وي د دې مراد په

---

(٦٥) اخرجه احمد و الترمذی و ابن ماجة و ابن ابي الدنيا و الحاكم و صححه و البيهقى كذافي الدر و الحصن الحصين قلت قال الحاكم صحيح الاسناد ولم يخرجاه و اقره عليه الذهبي ورقم له في الجامع الصغير بالصحة واخرجه احمد عن معاذ بن جبل كذا في الدر وفيه ايضاً بروايته احمد والترمذی و البيهقى عن ابي سعيد سئل رسول الله ﷺ اى العباد افضل درجة عندالله يوم القيمة قال الذاكرون الله كثيرا قلت يا رسول الله ومن الغازى في سبيل الله قال لوضرب بسيفه في الكفار و المشركين حتى ينكسر و يختضب دما لكان الذاكرون الله افضل منه درجة

پاکولای پوري اړه لري په همدې خاطر ځینو صوفیانو ویلی دي چې په دې حدیث شریف کښې د ذکر څخه مراد د زړه ذکر دی نه د ژبې ذکر او د زړه ذکر دا دی چې زړه هر وخت د الله ﷻ سره یو ځای وي او په دې کښې هیڅ شک نسته چې دا حالت تر ټولو عبادتونو ښه دی ځکه کله چې دا حالت راسي نو بیا هیڅ عبادت نه پاتیږی دا په دې خاطر چې ټول پټ او ښکاره اندامونه د زړه تابع دي د کوم شي سره چې زړه وتړل سي نو ټول اندامونه هم د هغه سره سي د عاشقانو د حالتونو څخه هیڅ څوک بې خبره نه دي. د ذکر په باره کښې ډیر نور حدیثونه هم سته چې د ذکر پر ټولو باندي د ښه کېدو دلالت کوي.

د حضرت سلمان فارسي ﷺ څخه یو چا پوښتنه وکړه چې تر ټولو لوی عمل کوم یو دی؟ هغه و فرمایل چې تا قران شریف نه دی ویلی ځکه چې په قرانکریم کښې راغلي دي. ولذکر الله اکبر. هیڅ شی د الله ﷻ د ذکر څخه بهتر نسته سلمان فارسي ﷺ چې و کوم ایات مبارک ته اشاره وکړه هغه د یو شتمي سپاري اول ایات دی. مجالس الابرار لیکي چې په دې حدیث شریف کي یې ځکه د الله ﷻ ذکر د صدقې او ټولو عبادتونو څخه بهتر وښودی چې اصلی مقصد د الله ﷻ ذکر دی او نور ټول عبادتونه د دې ذریعه او اوزار دي.

ذکر پر دوه ډوله دئ یو زباني (د ژبې) ذکر دی او بل قلبي (د زړه) ذکر دی چې د ژبې تر ذکر ښه دی. په حدیث شریف کښې راغلي دي چې د یوه ساعت فکر کول د اویا و (۷۰) کالو د عبادت څخه بهتر دی دا حدیث په مسند احمد کښې دی. حضرت سهل ﷺ د رسول الله ﷺ څخه روایت کوي چې د الله ﷻ ذکر د الله ﷻ په لاره کښې د مصرف کولو تر حصې او وه سوه زره حصې ډیریږي. د دې حدیث څخه دا معلومه سوه چې صدقه، جهاد او نور عبادتونه چې هغه وختي شیان دي د وختی ضرورت په اساس دي د دې شیانو فضیلت ډېر لږیږی نو ځکه په هغه حدیثونو کښې هیڅ مشکل نسته چې ور پکښې د دې شیانو (صدقې جهاد او نورو) ډېر فضیلت راغلی دی لکه چې فرمایلي یې دي د الله ﷻ په لاره کښې یو څه وخت دریدل په خپل کور کښې د اویا (۷۰) کالو تر لمونځونو بهتر دی په داسي حال کښې چې لمونځ د ټولو (علماؤ) په اتفاق تر ټولو عبادتونو بهترین عبادت دی خو د کافرانو د حملې په وخت بیا د جهاد د دې څخه ډېر ښه او بهتر کېږي.

هر چیري چي د الله ﷻ ذکر کوي بیا هم درجې پرې لوړیږي

٤- عن ابي سعید الخدری ﷺ ان رسول الله ﷺ قال لیذکرن الله اقوام في الدنیا علی الفرش الممهدة یدخلهم الله فی الدرجات العلی (٦٦)

ژباړه:- دابي سعید الخدری ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ و فرمایل: ډېر خلک داسي دي چي په دنیا کښي په نرمو او پستو بسترو باندي د الله ﷻ ذکر کوي چي د دې ذکر په خاطر الله ﷻ دوئ ولوړو درجوته رسوي.

فایده:- په دنیا کښي تکلیفونه پر ځان تېرول داخرت د درجو دلوړېدو سبب دی څو مره چي په دینی کارونو کښي دلته پر ځان تکلیفونه تېر کړي په هغه اندازه به هلته (اخرت) کښي دلوړو درجو درلودونکی یې خو د الله ﷻ د مبارک ذکر دا برکت دی که یې په استراحت او ارام په نرمو او پستو بسترو هم وکړل سي بیا هم د درجو د لوړولو سبب ګرځي.

رسول الله ﷺ فرمایلی دي که چیري تاسو هر وخت په ذکر کښي اخته سئ نو ملائکی به ستاسو په بسترو او لارو کښي درسره روغبړ (لاس په لاس) کول شروع کړي. په یوه بل حدیث شریف کښي راغلي دي چي رسول الله ﷺ فرمایلي دي: مفرد خلګ ډېر مخته ولاړل اصحابو کرامو رضي الله عنهم پوښتنه وکړه مفرد څوک دي؟ پیغمبر ﷺ وفرمایل څوک چي په عشق او محبت سره د الله ﷻ په ذکر کي اخته وي هغه مفرد دی. د دې حدیث په خاطر صوفیانو لیکلی دي چي پاچاهان او امیران د الله ﷻ د ذکر څخه منع کول ندي پکار ځکه چي د الله ﷻ ذکر د استراحت، ارام او خوشحالي په وخت کښي هم کیږي ځکه چي دا به تاته د تکلیفونو او زحمت په وخت کښي په ښه درسي. حضرت سلمان فارسي ﷺ فرمایي کله چي د راحت، خوشحالی او مالداری په وخت کښي یو بنده د الله ﷻ ذکر کوي کله چي ده ته څه تکلیف او زحمت ورسیږی نو ملائکی وایي چي دا اواز شناخته دی چي د ضعیف بنده دی بیا و الله ﷻ ته د ده شفاعت کوي. او څوک چي د راحت او خوشحالی په وخت کښي د الله ﷻ ذکر نه کوي کله

(٦٦) اخرجه ابن حبان کذا في الدرقلت ویؤیده الحدیث المتقدم قریباً بلفظ ارفعها في درجاتکم وایضا قوله ﷺ سبق المفردون قالوا وماالمفردون یا رسول الله قال الذاکرون الله کثیراً و الذاکرات راوه مسلم کذافي الحصن وفي روایة قال المستتهرون في ذکر الله یضع الذکر عنهم اثقالهم فیاتون یوم القیمة خفافا رواه الترمذی و الحاکم مختصراً و قال صحیح علی شرط الشیخین و في الجامع راوه الطبرانی عن ابي الدرداء ایضاً

چي څه تکليف ورو سيږي او هغه وخت الله ﷻ ياد کړي نو ملائکې وايې چي دا اواز نا اشنا دئ.

حضرت عبد الله بن عباس ﷺ فرمايي چي د جنت اته دروازې دي چي په هغو کښي يو دروازه يوائي د ذاکرينو لپاره ده په يوه حديث کښي راغلي دي څوک چي د الله ﷻ ذکر ډېر کوي هغه به د نفاق څخه خلاص وي بل حديث دئ چي څوک دا الله ﷻ ذکر ډېر کوي هغه به د نفاق څخه خلاص وي. بل حديث دئ چي الله ﷻ د هغه سره محبت کوي.

د يوه سفر څخه وروسته رسول الله ﷺ ويوه ځای ته ورسېدی او وې فرمايل چي د مخه وتونکی څه سوه اصحابو کرامو ﷺ وويل چي ځينی تيز او چابک تلونکی د مخه ولاړل رسول الله ﷺ وفرمايل هغه د مخه تلونکی څه سوه؟ څوک چي د محبت په اندازه د الله ﷻ په ذکر کښي اخته او مشغول وي، څوک چي غواړی د جنت په نعمتونو ښه موړ سی نو هغه دي د الله ﷻ ذکر ډېر کوي.

٥- عن ابي موسي ﷺ قال قال النبي ﷺ مثل الذی يذکر ربه والذی لايذکر ربه مثل الحی و الميت.(٦٧)

ژباړه:- د حضرت ابو موسی ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د الله ﷻ ذکر کوي او هغه څوک چي د الله ﷻ ذکر نه کوي د دواړو مثال د ژوندي او مړه په ډول دی چي ذکر کونکی ژوندی دی او ذکر نه کونکی مړ دی.

فايده:- ژوند کول د هر چا خوښ وي او د مرګ څخه هر څوک بيريږی رسول الله ﷺ فرمايلی دي څوک چي د الله ﷻ ذکر نه کوي که څه هم ژوندی دی خو د مړی په حکم کښي دی او د هغه ژوند بې فايدې دی.

زندگانی نتوان گفت حياتی که مراست ❁ زنده آن است که بادوست وصالی دارد

ژباړه: ژوند دغه هيڅ ژوند نه دی چي زما دی بلکي ژوندی هغه څوک دی چي د خپل دوست ملاقات يې نصيب سي.

ځينو علماؤ ويلی دي چي دا د زړه د حالت بيان دئ چي څوک د الله ﷻ ذکر کوي د هغه زړه ژوندی دی او څوک چي د الله ﷻ ذکر نه کوي د هغه زړه مړ کېږي او ځينو نورو علماؤ ويلي دي چي په حديث کښي د ګټی او تاوان په اعتبار سره تشبيه سوې ده چي څوک د الله ﷻ

(٦٧) اخرجه البخاری ومسلم والبيهقی کذافی الدر و المشکوة

ذکر کوونکی ته تکلیف رسوي هغه داسي دئ لکه ژوندی ته چي تکلیف رسوي او دده څخه خپله بدله اخیستلای سي او د خپلو کړو سزا به ورکولای سي او څوک چي و هغه چاته تکلیف ورکوي چي د الله ﷻ ذکر نه کوي هغه داسي دی لکه ومړی ته چي تکلیف رسوي او دده څخه خپله بدله نسي اخیستلای. صوفیان وایي چي دد ې څخه د همېشه ژوند مراد دئ څوک چي د الله ﷻ ذکر ډېر، ډېر په اخلاص سره کوي هغه بیخي مړ نه دی بلکي هغه ددنیا دژوند څخه وروسته هم دژوندي په حکم کي دی ځکه چي په قرانکریم کښي د شهیدانو په باره کي راغلي دي :بل احیآء عندربهم. یعني : بلکي دوی ژوندي دي دخپل رب په وړاندي.

حکیم ترمذی رحمة الله علیه ویلي دي چي د الله ﷻ ذکر زړه تازه کوي او نرمي پکښي پیدا کوي او کله چي زړه د الله ﷻ د ذکر څخه خالي وي نو د نفس په ګرمی او دشهوت په اور سره وچ او سخت سي او بیا دټول بدن غړی (اندامونه) سخت سي د اطاعت (حکم منلو) څخه پاته سي که چیري دغه اندامونه راپورته سي نو مات به سي لکه وچ لرګی چي په کږولو سره ماتیږی بیا نو د ماتولو څخه وروسته د سوځلو کار ځیني اخیستل کیږی.

ذکر کونکی تر پر پیسو وېشونکي بهتر دئ

٦- عن ابي موسى رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ لوان رجلا في حجره دراهم يقسمها و اخر يذكر الله لكان الذاكر لله افضل.(٦٨)

ژباړه: -- د حضرت ابو موسى رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: که چیری د یو نفر څخه ډېري پیسي وي او هغه يې تقسیموی او بل نفر د الله ﷻ په ذکر سره اخته وي نو ذکر کوونکی تر هغه بل کس بهتر دی.

فایده: د الله ﷻ په لاره کښي مصرف کول لوی شی دی خود الله ﷻ ذکر د هغه په مقابل کښي ډېر ښه دئ هغه مالداران څومره نیکبختـه دي چي هم د الله ﷻ پـه لاره کـښي پیسې مصرفوي او هم ورته دذکر کولو توفیق ورکړل سوی وي.

پـه یـو حدیث شریف کـښی راغلي دي چي دالله ﷻ د طرف څخـه هره ورځ د بندګانو د حیثیت او مقام سره برابر څه ناڅه صدقه ورکول کیږی خو په هغو ټولو کښي دذکر تر توفیق چي ورکړل سوی وي بل ښه شی نسته هغه خلګ چي پـه تجارت ، مالداری ،بزګری او نورو

(٦٨) اخرجه الطبراني كذافى الدروفي مجمع الزوائد رواه الطبراني في الاوسط ورجاله واثقوا

کارونو کښې اخته دي که چیرې د هر لږ وخت د الله ﷻ د ذکر لپاره و باسي نو څومره مفته ګټه ده. شپې او ورځې په (۲۴) ساعتونو کښې د دې لپاره ایستل ګران کار دی؟ پر عبثو او بې کاره کارونو خو د هر وخت تیریږي نو د دې فایده مند و شیانو لپاره وخت ایستل څه ګران کار دی؟

په یوه حدیث شریف کښې رسول الله ﷺ فرمایلي دي : د الله ﷻ تر ټولو ښه بندګان هغه دي چې د الله ﷻ د ذکر لپاره سپوږمۍ، لمر، ستوري، او د سایې تحقیق کوي یعنی د وختونو د څیړني هڅې کوي که څه هم په اوسنی وخت کښې د ساعتونو د هر والي خلګ د دې کار څخه بې پروا کړي دي خو بیا هم په وختونو پوهاوی او د دې شیانو پوهاوی مناسب دی چې د ساعت د خرابتیا او غلطیا په صورت کښې وخت ضائع نسي.

په یوه حدیث شریف کښې راغلي دي چې د مځکې په هغه برخه کښې چې د الله ﷻ ذکر وسي د مځکې دغه برخه تر لاندي او و مځکو پوري پر نورو برخو باندي فخر کوي.

جنتیان به یوازي پر هغه وخت افسوس کوي چې بې ذکره یې تیر کړی وي

۷- عن معاذ بن جبل رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ لیس یتحسر اهل الجنة الا علی ساعة مرت بهم لم یذکرو الله تعالی فیها.([۶۹])

ژباړه:- د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ و فرمایل جنتیان به و جنت ته تر تلو وروسته د دنیا پر هیڅ شی باندي افسوس نه کوي یوازې د هغه ساعت څخه پرته چې هغه د الله ﷻ بې ذکره یې تیر کړي وي.

فایده:- و جنت ته تر تلو وروسته چې کله د احالت ولیدل سي چې یو واري د الله ﷻ د پاک نامه د اخیستلو اجر او ثواب څومره د هره اندازه ده څکه چې د غرونو برابر ثواب ورکول کیږي نو په دغه وخت کښې به د خپلي ګټې په تاوان باندي چې څومره افسوس وي ښکاره به یې کړي.

([۶۹]) اخرجه الطبرانی و البیهقی کذا في الدرو في الجامع رواه الطبرانی في الکبیر و البیهقی في الشعب ورقم له بالحسن وفي مجمع الزوائد رواه الطبرانی ورجاله ثقات وفي شیخ الطبرانی خلاف واخرج ابن ابي الدنیا و البیهقی عن عائشة بمعناه مرفوعاً کذا فی الدر وفي الترغیب بمعناه عن ابي هریرة مرفوعاً وقال رواه احمد باسناد صحیح و ابن حبان و الحاکم و قال صحیح علی شرط البخاري

داسي نیک بختـه بندګان هم سته چي د الله ﷻ د ذکر څخه ماسوا دادنیا ورتـه ښه نه معلومیږي.

حافظ ابن حجر رحمة الله علیه په منبهات کښي لیکلي دي چي یحیی بن معاذ رازی به په خپل مناجات یعني دعا کښي ویل:

الهی لا یطیب اللیل الا بمناجاتک ولا یطیب النهار الا بطاعتک ولا تطیب الدنیا الا بذکر ولا تطیب الا خرة الا بعفوک ولا تطیب الجنة الا برؤ یتک.

ژباړه:- یا الله ﷻ! شپه ښه نه تیرتیږي خو تا سره په راز و نیاز کښي، ورځ ښه نه معلومیږي خو ستا به عبادت سره، دنیا ښه نه معلومیږي خو ستا په ذکر سره، آخرت ښه نه دی خو ستا به معافي سره او د جنت خوند نسته خو ستا په دیدار سره.

حضرت سری رحمة الله علیه فرمایي: ماجر جاني رحمة الله علیه ولیدی چي د غنمو وچ وړه یې خوړل ما پوښتنه ځنی وکړه چي دا وچ وړه خوري؟ راته وې ویل کله چي ما د ډوډی او د غنمو وچو وړو په خوړلو کښي حساب وکړی نو د ډوډی په خوړلو کښي دومره ډېر وخت تېري دی چي په هغه وخت کي انسان اویا (۷۰) واره سبحان الله ویلای سي نو ځکه د ماد څلوېښتو (۴۰) کالو راهیسی د ډوډی خوړل پرې ایښی دي او په غنمو د وچو وړو خوړلو باندي ګوزاره کوم.

د منصور بن معتمر رحمة الله علیه په اړه لیکل سوی دي چي څلویښت (۴۰) کاله یې د ماخوستن تر لمانځه وروسته د چا سره خبري نه دي کړي.

د ربیع بن هیثم رحمة الله علیه په اړه لیکل سوي دي چي شل (۲۰) کاله به یې چي کومه خبره کوله هغه به یې پریوه ټوټه لیکله او د شپې به یې د خپل زړه سره حساب کوئ چي په دې خبرو کښي څو د ضرورت خبري دي او څو بې ضرورته خبري دي.

څوک چي ذکر کوي رحمت پرې نازلیږي

۸- عن ابي هريرة وابي سعيد رضي الله عنهما انهما شهدا على رسول الله ﷺ انه قال لا يقعد قوم يذكرون الله الا حفتهم الملئكة و غشيتهم الرحمة و نزلت عليهم

ژباړه:- حضرت ابو هریرة او حضرت ابو سعید رضي الله عنهما دواړه مبارکان ددې شاهدي ورکوي چي موږ د رسول الله ﷺ څخه واورېدل چي وې فرمایل: کومه ډله چي د الله ﷻ په ذکر سره اخته وي ملائکی پر هغه ډله د ټولو

السکینة و ذکرهم الله فیمن عنده. اخرجه ابن ابي شیبه و احمد و مسلم والترمذی و ابن ماجة و البیهقی کذافي الدر و الحصن و المشکوة وفي حدیث طویل لابی ذر او صیک بتقوی الله فانه رأس الامر کله و علیک بتلاوة القران وذکر الله فانه ذکر لک في السمآء ونور لک في الارض، الحدیث.(۷۰)

خواوو ځخه راتاوليږي او رحمت پرې غوړيږي او د زړونو ډاډ او ارام (سکينه) پرې نازليږي او الله ﷻ د هغو ذکر په خپل مجلس کي (د افتخار په ډول) کوي.

حضرت ابوذر رضی الله عنه د رسول الله ﷺ ځخه نقل کوي چي زه وتا ته د الله ﷻ د تقواى وصيت کوم چي د ټولو شيانو ريښه ده او د قرانکريم د تلاوت او د الله ﷻ د ذکر خيال ساته چي په دې سره به ته په اسمانو کښي ياد سي او په مځکه کښي به د نور لپاره سبب جوړ سي. ډير وختونه چپ اوسه د نيکۍ ځخه ماسوا بله خبره مکوه ځکه دا کار شيطان ليرى کوي په نيکو کارونه کي مرسته درسره کوي د ډيري خندا ځخه ځان ساته ځکه چي په دې سره زړه مړ کيږي او د مخ آب پرې ځي جهاد کوه چي دا زما امت فقيرى ده، د مسکينانو سره مينه، او محبت کوه او د هغو سره حسد او کينه کوه تر ځان کښته خلګو ته ګوره او تر خپل ځان و پورته خلګو ته مه ګوره چي په دې سره د الله ﷻ هغه نعمتونه بې قدره کيږي چي الله ﷻ وتا ته درکړي دي، د قريبانو سره د دوستي کولو په فکر کښي اوسه که ځه هم چي هغه ستا سره دوستي پرېږيدي په حق ويلو کي شک او شبهه مه کوه که هم پر يو چا ترخه وي د الله ﷻ په امورو کښي د هيچا د ملامتى پروا مه کوه، ستا وخپل عيبونو ته کتل دي تا د نورو د عيبونو د کتلو ځخه منع کړي، او په هغه عيب کښي چي ته اخته يې په هغه عيب کښي پر نورو قهر او غصه مه کوه اې ابوذره! د ښه پلان ځخه زيات عقلمندي نسته او د ناروا کارونو ځخه پرهيز کول ښه ترينه پرهيزګاري او تقواى ده او تر ښه اخلاقو هيڅ شرافت نسته.

فائده:- د سکينې معنى ډاډ او وقار ده يا يو ځه خاص رحمت چي د دې په تفسير کښي ډېر قولونه دي چي ما ډېر ساده په فضائل قران کښي په ځلويښتو حديثونو کښي ليکلي دي.

امام نووي رحمة الله علیه فرمايلي دي چي دا داسي خاص شى دى چي ارامو الى، رحمت او نور ټول پکښي راځي او د ملائکو سره راکښته کيږي. الله ﷻ دا شيان د ملائکو په مخ کښي د افتخار په ډول فرمايي لومړى وجه يې داده چي ملائکو د ادم علیه السلام د پيدا کېدو په وخت کښي وړانديز کړى و چي دا خلګ به په دنيا کښي فساد کوي لکه ځرنګه چي په اول حديث کښي تېر سول دوهم په دې خاطر چي د ملائکو ټولى که ځه هم د سر ځخه تر پښو پوري ټول

---

(۷۰) ذکره في الجامع الصغیر بروایة الطبرانی و عبد بن حمید في تفسیره ورقم له بالحسن

عبادت، بندګي او اطاعت کوي ځکه چي په دوئ کښي د معصيت نافرماني ماده نسته او په انسان کښي د عبادت او معصيت د واړي مادې سته مګر انسان د بې خبرۍ او نافرمانۍ په اسبابو کښي ګير سوی دئ، شهوتونه او خوندونه دده د بدن برخي دي نو کله چي دی ددې ټولو په مقابل کښي عبادت او اطاعت وکړی او د معصيت مقابله وکړي دا ډير ستايلو او قدر وړ دئ.

په حديث شريف کښي راغلي دي: کله چي الله ﷻ جنت جوړ کړئ نو جبرائيل ؑ ته يې وفرمايل: ورسه وې ګوره او بيا راسه هغه راغلی وې ويل: اې الله ﷻ ستا په عزت مي دي قسم وي چي يې خبر واوري د تلو څخه به پاته نه سي يعني کوم خوندونه، استراحتونه، خوشحالۍ او نعمتونه چي په دې جنت کښي ايښو دل سوي دي د هغو تر اوريدلو او باور وربانديراتلو وروسته به داسي څوک نه وي چي و هغه ته د ورتلو لپاره ډېر کوښښ ونه کړي ددې څخه وروسته الله ﷻ هغه په تکليفونه کښي پټ کړ، چي لمنځونه، روژې، جهاد، حج او نور شيان يې پرې فرض کړه چي دا شيان پر ځای کړه نو جنت ته به ولاړ سي. بيا يې حضرت جبرائيل ؑ ته وويل چي اوس وګوره هغه وويل اې الله ﷻ ماته اوس دا وېره ده چي څوک به بيخي جنت ته ولاړ نسي همدارنګه چي الله ﷻ دوزخ جوړ کړ، نو جبرائيل ؑ ته د هغه د کتلو امر وسو. ده چي د دوزخ عذابونه، غمونه، او تکليفونه وليدل نو وې وويل چي اې الله ﷻ! ستا په عزت سره دي مي قسم وي چي څوک ددې حالات واوري هيڅکله به نژدې ور نسي الله ﷻ د دنيا په خوندونو سره هغه پټ کړ، لکه زنا کول، شراب چيښل، ظلم کول، په حکمونو عمل نه کول او پر داسي نورو سره يې پرده پرې واچول بيا ورته وويل سوه چي اوس ورته وګوره هغه وويل چي اې الله ﷻ! ماته اوس دا بېره چي شايد ددې څخه څوک خلاص نسي په همدې خاطر کله چي بنده د الله ﷻ اطاعت کوي نو د ګناه څخه خلاصيږي د هغه محيط په اعتبار سره چي له امله يې دی د درنښت وړ ګرځي په همدې وجه الله ﷻ د خوشالۍ څرګندونه فرمايي په دې حديث او دې ته ورته په نورو حديثو نو کښي چي د ملائکو ذکر راغلی دی هغه د ملائکو يوه خاصه ډله ده چي په دې کار بانديمقرره ده چي هر ځای د الله ﷻ ذکر مجلسونه وي هلته ورسي او هغه واوري لکه چي په يو حديث شريف کښي راغلي دي د ملائکو يوه ډله جلا جلا ګرځي او په کوم ځای کښي چي د الله ﷻ ذکر واوري نو و خپلو ملګرو ته اواز وکړي چي راسئ ستاسو هدف او مقصد دلته سته او بيا هلته سره راټوليږي تر دې پوري چي د دوی حلقه و آسمان ته ورسيږي چي وروسته به په دريم باب په دوهم فصل څوارلسمه شمېره حديث کښي راسي.

۹- عـن معاويـة رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ خرج علـى حلقة من اصحابه فقال مـا اجلسكم قالوا جلسنا نذكر الله و نحمده على ماهـدانا للاسلام ومن به علينا قـال آلله ما اجلسكم الا ذالك قالوا آلله مااجلسنا الاذالك قال اما انى لم استحلفكم تهمة لكـم و لكـن اتـاني جبرئيل فاخبرني ان الله يباهي بكم الملئكة (۷۱)

ژباړه:- رسول الله ﷺ يو واري د صحابه کرامو رضي الله عنهم و يوې ډلي ته تشريف يووړی او پوښتنه يې ورڅخه وکړه چي تاسو کمي خبري دلته کښېنولی ياست؟ هغو وويل د الله جل جلاله ذکر کوو او پر دې خبره باندي د هغه حمد او ثناء وايو چي ومونږ ته يې د اسلام دولت رانصيب کړی دئ دا پر مونږ د الله جل جلاله دلوري څخه احسان دئ. رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا په خدای جل جلاله قسم چي يوائي په دې خاطر ناست ياست؟ اصحابو وويل په الله جل جلاله قسم يوائي په دې خاطر ناست يو. رسول الله ﷺ وفرمايل: چي د هيڅ بدګمانی په خاطر ماتاسو ته قسم نه دی درکړی بلکي اوس وماته جبرائيل عليه السلام راغلی او دا خبره يې راته وکړه چي الله جل جلاله ستاسو په خاطر پر ملائکو باندي فخر کوي.

فايده:- يعني ماچي کوم قسم درکړی او پوښتنه مي وکړه د دې څخه مقصد دا وو چي ممکن بله داسي خبره وي چي د الله جل جلاله د فخر سبب ګرځېدلي وي اوس معلومه سوه چي يوائي هم دا ذکر کول د الله جل جلاله د فخر سبب ګرځيدلی دی هغه څومره بختور خلک وه چي عبادتونه يې قبول وه او د هغه پر حمد او ثنا باندي د الله جل جلاله فخر ورته په دنيا کښې د رسول ﷺ په مبارکه ژبه معلوميدی. ولي به د دوی مبارکانو کارنامې د فخر وړ نوي ځکه مايې په لنډ ډول په حکايت صحابه کي بيان کړی دی ملا علی قاري رحمة الله عليه فرمايلي دي: چي د فخر کولو مطلب دا دی چي الله جل جلاله ملائکو ته فرمايي وګورئ دا خلک سره د دې چي نفس هم ورسره دی، شيطان پر دوئ باندي مقرر دئ، شهوتونه په دوئ کښي سته، د دنيا ضرورتونه هم لري د دې ټولو سره بياهم د هغو مقابله کوي د الله جل جلاله په ذکر کښي اخته دي او زما د ذکر څخه د ليری کونکو شيانو سره بيا هم زما د ذکر څخه نه ليری کيږي ستاسو ذکر او تسبيح په دې خاطر چي درته هيڅ بنديز نسته.

(۷۱) اخرجه ابن ابي شيبه و احمد و مسلم و الترمذي و النسائی کذافي الدر و المشکوة

ذکر کونکي چي د ذکر د مجلس څخه ولاړ سي بخښل سوي به وي

۱۰- عن انس ﷺ عن رسول الله ﷺ قال مامن قوم اجتمعوا یذکرون الله لایریدون بذالک الا وجهه الا ناداهم مناد من السمآء ان قوموا مغفورا لکم قد بدلت سیئاتکم حسنات.(۷۲)

ژباړه:- انس ﷺ د رسول الله ﷺ څخه روایت کوي: کوم خلګ چي د الله ﷻ د ذکر لپاره سره راټول سي او د هغه مقصد د الله ﷻ رضاء وي نو د اسمان څخه یوه ملائکه اواز وکړي چي تاسو ته بخښنه وسوه او ستاسو بدی په نېکیو سره بدلي سوی

په دوهم حدیث کښي راغلي دي چي ددې څخه خلاف یعني کوم خلګ چي په داسي ډول سره راټول سي چي په دغه مجلس کښي د الله ﷻ ذکر نه وکړي نو دا راټولېدل به د قیامت په ورځ د حسرت او د افسوس سبب وګرځي.

فایده:- پردې بې برکته راټولېدو باندي به افسوس کوي کېدای سي چي په یو څه وجه دوبال سبب سي. په یوه حدیث کښی راغلي دي چي په کوم مجلس کښي چي د الله ﷻ ذکر نه کیږی او پر رسول اللهﷺ باندي درود نه ویل کیږی نو ددې مجلس خلګ داسي دي لکه چي د مړه خره څخه ثوک ولاړ سي. په یو بل حدیث کښی راغلي چي د مجلس کفاره داده چي د هغه په ختمېدو کښی دا دعا وویل سي: سبحن الله وبحمده سبحانک اللهم و بحمدک اشهد ان لا اله الا انت استغفرک واتوب الیک.

په یو بل حدیث کښي راغلي دي چي هغه مجلس چي په هغه کښی د الله ﷻ ذکر او پر رسول الله ﷺ باندي درود نه وي نو دغه مجلس به د قیامت په ورځ دغم او د نیمګړتیا سبب وي. بیا نو که د الله ﷻ خوښه سوه په خپله مهربانی سره به بخښنه ورته وکړي او یا به عذاب ورکړي. په یو حدیث کښي راغلي دي چي د مجلسونو حق ادا کوئ او حق یې دادی چي د

(۷۲) اخرجه احمد والبزار و ابو یعلی والطبرانی و اخرجه الطبرانی عن سهل بن الحنظلیة ایضاً و اخرجه البیهقی عن عبد الله بن مغفل وزاد ومامن قوم اجتمعوا فی مجلس فتفرقوا ولم یذکرون الله الا کان ذالک علیهم حسرة یوم القیمة. (کذا في الدر قال المنذری رواه الطبرانی في الکبیر والاوسط ورواته محتج بهم فی الصحیح وفي الباب. عن ابي هریرة عند احمد وابن حبان وغیرهما وصححه الحاکم علی شرط مسلم في موضع وعلی شرط البخاری في موضوع اخری وعزا السیوطی في الجامع حدیث سهل الی الطبرانی و البیهقی في الشعب و الضیاء ورقم له بالحسن وفی الباب روایات ذکر هافي مجمع الزوائد

الله ﷻ ذکر ډېر په کښې کوئ. پر لاره تلونکو خلګو ته (د ضرورت په وخت کښې) لاره ښیاست او (که ناجائز شی مخ ته درته راسي) نو سترګې پټې کړئ.

حضرت علی ﷛ فرمایي څوک چي داغواړي چي د هغه ثواب په یوه لویه پیمانه کښې تلل سي (د ثواب مقدار يې ډېر زیات سي) کوم شی چي په لوی ترازو کي تلل کیږي نو ډېر لږ شی به دلوي شي په مقابل کښې راسي هغه ته پکار ده چي د مجلس د ختمېدو په وخت کښې دادعا ووايي:

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (۷۳)

په پورتنی حدیث کښې د بدیو په نیکیو سره د بدلېدو زیری دی همدا رنګه په قران کریم کښې هم د سورة فرقان په ختمیدو کي د مؤمنانو د څو صفتونو تر ذکر کولو وروسته الله ﷻ فرمایي: فَأُولَٰئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ. ژباړه: نو همدا خلګ دي چي بدی يې الله ﷻ په نیکیو سره بدلوي او الله ﷻ غفور رحیم دئ. ددې ایات شریف په باره کښې د علماؤ د تفسیر څو قولونه سته چي په لاندي ډول سره دي:

اول:- داچي بدی به يې معاف سي او نیکی به يې باقي پاته سي داهم یوه تبدېلي ده چي بدی يې هیڅ نه پاته کیږی.

دوهم:- دوهم قول دادی چي الله ﷻ به د بدو عملونو د کولو پر ځای دنیکو عملونو د کولو توفیق ور نصیب کړي لکه چي وایې د ګرمی پر ځای به یخ سو.

دریم:- داچي دبدو عادتونو پر ځای به يې د نیکو شیانو سره اړیکي وتړل سي. ددې وضاحت دادی چي د انسانانو عادتونه طبعي دي چي نه بدلیږي لکه چي يې یو مثال مشهور دی چي غر به لیري سي خو عادت به نه سي لیري. او دا مثال هم دیوه حدیث څخه اخیستل سوی دی چي په هغه کښې يې فرمایلي دي: که چیري تاسو واورېدل چي غر د خپل ځای څخه ایسته سوی دی او بل ځای ته تللی دی نودا خبره ومنئ خو که چیري داسي واورئ چي طبیعت بدل سوی دی نو دا خبره مه منئ ګواکي دا حدیث شریف مطلب داسو چي د عادتونو بدلېدل دغرو تر بدلېدو هم مشکل او سخت دی. ددې څخه وروسته بیا داسوال پیداکېږي چي صوفیان او مشائخ چي دکومو عادتونو اصلاح کوي د هغه مطلب څه شی دی؟ حواب يې دادی چي عادتونه نه بدلیږي بلکي د هغه تعلق بدلیږي مثلاً دیو نفر په طبیعت کښې قهر او غصه وي هغه د مشائخو په اصطلاح او کوښښونو سره داسي سي چي غصه يې د

---

(۷۳) حصن و هامشه

منځه ولاړه سي نو داخو ګرانه ده البته دا دې غصي او درد چي اول د کومو شيانو سره تعلق درلودی لکه بې ځایه ظلم او لوېي او نور او س به يې غصه او درد د الله ﷻ پر نافرمانو بندګانو باندي وي. حضرت عمر ؓ چي په یوه وخت کښي چي و مسلمانانو ته يې هيڅ تکليف رسول نه پرېښودل. ترايمان راوړلو وروسته د رسول الله ﷺ د فيض څخه د ډک صحبت په وجه پر کافرانو او فاسقانو باندي يې په هغه ډول ير غل کاوه. همدا ډول د نورو اخلاقو د مثالو نو حال دی. د دې وضاحت څخه وروسته مطلب دا سو چي د الله ﷻ دا سي خلګو د عادتونو اړيکي د ګناهونو پر ځای د نيکيو سره وتړي.

څلورم: دا چي الله ﷻ هغو ته پر خپلو بديو باندي د توبې توفيق ورکړي. چي د هغې په وجه ورته زاړه ټولو ګناهونه را په ياد سي د پښيمانتيا او توبې سبب سي او د هري ګناه په بدله کښي به يوه توبه چي عبادت او نيکي ده وليکل سي.

پنځم: دا چي که چيري الله ﷻ ته د چا دا خوښه سي او هغه ته په خپل فضل سره د بديو برابره نيکي ورکړي نو بيا د چا د پلار څه اجازه غواړي؟ هغه پخپله مالک دی بادشاه دی، د قدرت خاوند دی د هغه پراخ رحمت څو مره ډير دی او د هغه د رحمت دروازه څوک بندولای سي؟ د هغه ورکړه څوک منع کولای سي؟ وچا ته چي څه ورکوي هغه هم د خپل مال څخه ورکوي. هغه به د خپل قدرت ننداری هم ښکاره کړي د خپل مغفرت نمونې به هم په هغه ورځ ښکاره کړي.

په حديثونو کښي د محشر ننداري او د حساب امتحان په مختلفو طريقو سره راغلي دي چي بهجة النفوس په لنډ ډول سره ذکر کړی دي او ليکلي يې دي چي حساب په څو قسمه کېږي: يو قسم يې دا دی چي د ځينو بندګانو سره به ډير پټ د رحمت په پرده کښي حساب وسي او د هغوی ګناهونو به په هغوی وشميرل سي او ورته وبه ويل سي چي تا په فلانی وخت کښي دا ګناه کړي وه، په فلانی وخت کښي دي داسي کړي و او د هغه (ګنهکار) سره به دا اقرار څخه پرته بله چاره نه وي تر دې چي هغه د ګناهونو په ډيروالي سره به داسي وانګيري چي زه هلاک او برباد سوم نو ورته وبه ويل سي چي موږ په دنيا کښي پر تا پرده اچولي وه او س به هم پرده درباندي واچو او معاف به دي کړو. کله چي دغه کس او دده په شان چي نور څوک وي د حساب د ځای څخه چي ولاړ سي خلګ به يې ووينی نو دوی به ووايي چي دا څنګه مبارک بنده دی چي بيخي ګناه يې نه ده کړي.

همدا رنګه یو بل قسم به داسي وي چي کوچني او لوی ګناهونه یې کړی وي ددوی په باره کښې به وویل سي چي ددوی کوچنی ګناهونه په نیکیو سره بدل کړئ نو هغوی به ژر وواییي چي نور ګناهونه خو لا پاته دي چي د هغو خو هیڅ ذکر ونسو.

همدا رنګه یې نور قسمونه هم ذکر کړي دي چي څنګه به راوړاندي سي او څنګه به یې حساب وسي. په حدیث کي راځي چي رسول الله ﷺ فرمایي: زه هغه کس پېژنم چي تر ټولو به اخر ددوزخ څخه وایستل سي او تر ټولو اخري به وجنت ته داخل سي. یو نفر به راوغوښتل سي او ملائکو ته به وویل سي چي دده لوی ګناهونه خو مه یادوه، کوچنی، کوچنی ګناهونه ورته رامخکي کړه او پوښتنه ځنی وکړه نو شروع به وکړل سي او یوه، یوه ګناه به د وخت د حوالی سره سم و هغه ته وښودل سي هغه انکار ورڅخه نسي کولای اقرار به کوي. بیا به د الله ﷻ د طرف څخه وویل سي چي ده ته د هري ګناه په بدل کښې یوه نیکي ورکړئ نو هغه به ژر وواییي چي نور ګناهونه خو لا پاته دي د هغو هیڅ ذکر نه وسو. ددې قصې تر نقل کولو وروسته رسول الله ﷺ ته هم خندا ورغله. په دې قصه کښې اول ددوزخ څخه تر ټولو اخري وتل دي نو دا څه کمه سزا ده؟ دو هم د الله ﷻ د پاک ذات څخه امید درلودل او فضل غوښتل د بندګۍ شان دئ پر دې باندي مطمئن کېدل زړورتیا ده. البته د بدیو په نیکویو سره د بدلولو سبب چي د حدیث څخه معلومېږي په اخلاص سره د ذکر په مجلسونو کښې حاضري ده خو اخلاص هم د الله ﷻ په ورکړه سره نصیب کېږي.

یوه ضروري خبره داده چي ددوزخ څخه اخیری وتونکي په باره کښې مختلف روایتونه راغلي دي خو شک پکښې نسته. که چیری یوه ډله راووځي نو بیا هم یو کس اخیری راوتونکي دی او که څوک و اخیری ته نژدی راوزي هغه ته هم اخري ویلای سو په هم دغه ډول د خاص، خاص ډلي اخیر کس هم ورڅخه مراد کېدی سي. په دې حدیث کښې ضروري مسئله داخلاص ده او د اخلاص شرط په نورو ډېرو حدیثونو کښې هم راغلی دی په دې رساله کښې به مو د نظر څخه تېر سي. حقیقت دادي چي د الله ﷻ په نزد د اخلاص قدر دی په کومه درجه چي اخلاص وي د هغې درجې په اندازه د عمل قیمت وي په یوه حدیث کښې چي وروسته به راسي راځي چي اخلاص دادی چي د ګناهونو څخه منع وکړي. په بهجة النفوس کښې لیکل سوي دي: یو بادشاه چي ډېر جابر او ظالم سړی و په یوه طیاره کښې ورته ډېر شراب راوړل سوه. یوه صاحب ولیدل نو څومره بوتلان چي د شرابو څخه ډک وه ټول یې مات کړه او یو یې پرېښودی د هیڅا همت او غیرت هغه ددې کار څخه منع نه کړی خلک حیران سوه چي دداسي ظالم پاچا په وړاندي چا داسي کار کولای سوای نو بیاده څرنګه زړه ورتیا

وکړه. بادشاه ته خبر ورکړل سو پاچا هم حیران سو اول پر دې خبره باندې چې یوه عادي سړی څنګه دده پر مال جرئت وکړی او بیا پر دې باندې چې ولې یې یو بوتل پرېښودی. هغه صاحب یې راوغوښتی او پوښتنه یې ځیني وکړه چې دا دې ولې وکړه؟ ده جواب ورکړی چې دامې ځکه وکړه چې زما زړه غوښتل. ستا چې څنګه زړه غواړی هغسې سزا راکړه. بادشاه پوښتنه ورځخه وکړه چې دا یو دې ولې پرېښودی؟ ده ورته وویل چې ما اول د اسلامي غیرت په اساس مات کړه خو کله چې یو پاته سو نو زما په زړه کې د خوشحالۍ احساس پیدا سو چې ما یو ناروا کار ختم کړی نو ماته ددې په ماتولو کښې داشک پیدا سو چې داسې نه چې دغه کار د نفس د خوشحالۍ په خاطر وي نو ځکه مې دا یوه دانه پرېښودی بادشاه وویل چې دی پرېږدی، دی مجبور و.

په احیاء العلوم نومی کتاب کښې لیکل سوي دي: په بنيآ اسرآئیلو کښې یو عابد و چې هر وخت به په عبادت کښې مشغول (اخته) و. یوه ډله ورته راغلل او ورته وې ویل چې دلته یو قوم دی چې د یوې درختې عبادت کوي. داچې یې واورېدل ډېر درد یې ورته راغلی او تبر یې پر اوږه کښېښودی د هغې درختې د پرېکولو لپاره روان سو پر لاره شیطان د یوه سپین ږیری سړي په شکل ور سره مخامخ سو. د عابد ځخه یې پوښتنه وکړه چې کومې خواته روان یې؟ ده ورته وویل چې د فلانی درختې د پرېکولو لپاره ځم. شیطان ورته وویل ستاد دغه درختې سره څه اړه ده؟ ته په خپل عبادت کښې مشغول اوسه. تاخپل عبادت په یو بې فایدې کار لپاره پرېښودی. عابد ورته وویل چې دا هم عبادت دی. شیطان ورته ویل چې زه تا وپرېکولو ته نه پرېږدم. عابد ورته وویل چې زه یې نه پرېږدم اخر داچې دواړه په جنګ سره اخته سوه عابد د هغه (شیطان) پر سینه وختی. شیطان چې ځان عاجزه او ناتوانه ولیدی زاری یې شروع کړی او وې ویل ښه دی یوه خبره واوره. عابد پرېښودی. شیطان ورته وویل چې داخو پر تا باندې الله ﷻ نه دی فرض کړی. تاته په دې کښې هیڅ تاوان نسته ته خو ددې عبادت نه کوې د الله ﷻ ډېر بندګان دي که چیری هغه غوښتلای نو د یوه نبي په واسطه به یې پرېکړې وای. عابد وو یل چې زه به یې خامخا پر پکوم. بیا جنګ شروع سو عابد د هغه پر سینه وختي. شیطان وویل چې زه ستا د فایدې لپاره یوه خبره کوم عابد وویل وې وایه. شیطان وویل ته غریب یې ددنیاد خلګو لپاره د اوږو بار یې دا کار پرېږده. تاته به هره ورځ درې اشرفۍ درکوم چې ستاتر بالښت لاندې به پرتې وي ستا په هم ضرورتونه په پوره کیږی او پر خپلو خپلوانو به هم احسان کوي، د فقیرانو سره به کومک کولای سې او نور به هم ډېر د ثواب کارونه په کولای سي. په دې (درختې پرېکولو کښې) یو ثواب دی او هغه هم بې کاره

ځکه چي خلګ به بله درخته کښېنوي. د عابد په علم کښي دا خبره ښه راغله او قبوله يې کړه. دوې ورځي اشرفۍ ورته په لاس راغلي خو دريمه ورځ نه وي. عابد بيا په درد کښي سو او تبر يې واخيستی روان سو په لاره کښي بيا ورته هغه سپين ږيری په مخه ورغلي. پوښتنه يې ځني وکړه چي کومی خواته ځي؟ عابد ورته وويل چي د هغې درختي د پرېکولو لپاره ځم. شيطان ورته وويل چي ته هغه نسی پرېکولای دواړه په جنګ سره اخته سول. شيطان پر کامياب سو او د عابد پر سينه وختی. عابد ډېر حيران سو او پوښتنه يې ورځخه وکړه چي دا څه وجه ده چي دا وار ته کامياب سوې؟ هغه سپين ږيری (شيطان) ورته وويل چي اول وار ستا درد خاص د الله ﷻ لپاره و. په دې خاطر زه الله ﷻ مغلوبه (کمزوری) کړی وم. خو دا واری په کښي د اشرفيو داخلېدل وه نو ځکه ته مغلوبه (کمزوری) سوې. اصلي خبره داده چي کوم کار خالص دالله ﷻ لپاره وي په هغه کښي لوی طاقت او توان وي.

۱۱- عن معاذ بن جبل ﷺ قال قال رسول الله ﷺ ماعمل آدمي عملاً انجي له من عذاب القبر من ذكر الله.(۷۴)

ژباړه: د حضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ د ذکر څخه زيات بل عمل د انسان لپاره دقبر د عذاب څخه خلاصون ورکونکی نسته.

فايده:- د قبر عذاب څومره سخت شی دیددې څخه هغه خلګ خبر دي چي مخته يې هغه حديثونه تېر سوي دي چي پکښي د قبر عذاب راغلی دی.

حضرت عثمان ﷺ به چي کله هديرې ته ولاړی نو دومره به يې وژړل چي مبارکه ږيره به يې لنده سوه. يو چا پوښتنه ورځخه وکړه چي تاسو د جنت او دوزخ د ياد څخه دومره نه ژاړئ څومره چي د قبر په ليدو سره ژاړئ؟ ده مبارک وفرمايل: قبر د اخرت د منزلونو څخه اول منزل دئ څوک چي په دې منزل کښي خلاصون پيدا کړي، وروسته ټول منزلونه به ورته اسانه سي او څوک چي ددې منزل څخه خلاصون پيدا نه کړي وروسته ټول منزلونه به ورته ګران

---

(۷۴) اخرجه احمد كذافي الدر والي احمد عزاه في الجامع الصغير بلفظ انجى له من عذاب الله ورقم له با لصحة و في مجمع الزوائد رواه احمد و رجاله رجال الصحيح الا ان زيادلم يدرک معاذا ثم ذكره بطريق اخر و قال رواه الطبرانى ورجاله رجال الصحيح قلت و في المشكوة عنه مرفوعاً بلفظ ماعمل العبد عملا انجى له من عذاب الله من ذكر الله وقال رواه مالک و الترمذى و ابن ماجة اهـ قلت و هكذا رواه الحاكم و قال صحيح الا سناد و اقره عليه الذهبي و في المشكوة برواية البيهقى في الدعوات عن ابن عمر مرفوعاً بمعناه قال القارى رواه ابن ابي شيبه و ابن ابي الدنيا و ذكره في الجامع الصغير برواية البيهقى في الشعب و رقم له بالضعف و زادفي اوله لكل شيئ صقالة و صقالة القلوب ذكر الله و في مجمع الزوائد برواية جابر مرفوعاً نحوه وقال رواه الطبرانى في الصغير والاوسط و رجالهما رجال الصحيح اهـ

وي، بیا یې د رسول الله ﷺ یوه پاکه خبره واورول چې رسول الله ﷺ به فرمایل : ما تر قبر بل هیڅ دېرې ځای نه دی لیدلی.

حضرعائشه رضي الله عنها فرمایي : رسول الله ﷺ به تر هر لمانځه وروسته د قبر د عذاب څخه پناه غوښتل.

حضرت زید رضي الله عنه فرمایي: چې رسول الله ﷺ وفرمایل: چې زما سره دا خطره ده چې تاسو به دیری په خاطر د مړو ښخول پرېږدي کنه نو ما به دعا کړي وای چې الله ﷻ تاسو ته هم د قبر عذاب در واوروي دانسانانو او پېریانانو څخه پرته نو رټوله ساه لرونکي مخلوقات د قبر عذابونه اوري.

په یوه حدیث شریف کښې راغلي دي چې رسول الله ﷺ یو واري په سفر ولاړې چې د رسول الله ﷺ اوښه وتورېدل. یو چا پوښتنه وکړه چې د رسول الله ﷺ په اوښه څه وسول؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: چې ویو سړي ته د قبر عذاب ورکول کیږي د هغه اوازونه اوري.

یو وار رسول الله ﷺ و مسجد ته تشریف یوړی څو کسان یې ولیدل چې په زوره، زوره یې خندا کول رسول الله ﷺ وفرمایل که چیری مو مرګ ډېر ډېر یادولای نو دا خبره به نه وای. پر هر قبر یوه ورځ دا سي نه تیرېږي چې په هغه کښې دا اعلان نه کیږي : زه د نا اشنایی کور یم(دخاورو، د چینجیو او د ځناورو کور یم) کله چې یو مومن (د پوره ایمان درلودونکی) په خاورو کښې د فن سي نو قبر ورته وایي. ستا راتګ دي مبارک وي تا ډېر ښه وکړه چې راغلي. څومره خلګ چې زما پر شا (مځکه باندي) ګرځېدل. په هغه ټولو کښې ته ماته خوښ وي. نن وماته وسپارل سوی نو زما ښه رویه به هم ووینی تر دې وروسته قبر دومره پراخ سي چې سترګي دید کوي اود جنت یوه دروازه په قبر کښې خلاصه سي چې په هغې سره د هغه ځای هواګانی خوشبویی او نور ورسیږي. او کله چې کافر یا فاجر (بدکاره) په خاورو کښې دفن سي نو قبر ورته ووایي چې ستا راتګ دي سپېره او نامبارک وي، څه ضرورت و ستا د راتلو لپاره، څومره انسانان چې زما پر شا ګرځېدل په هغه ټولو کي زما ستاسره بغض (کینه) وه. نن ته وماته حواله سوي نن به زما معامله ووینی تر دې وروسته مځکه دومره زور پر وکړي چې پښتی. به یې یو په بل کي داسي سره ننوځي لکه دلاس په لاس کښې اچولو سره ګوتی چې یو په بله سره ننوځي تر دې وروسته (۹۰) یا (۹۹) افي ماران پر هغه باندي مقرر سي چې دی به چیچي او تر قیامته پوري به ورسره داسي کوي.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي : که چیري د هغو اژدهاګانو څخه یو په مځکه کي ساه وکاږي نو تر قیامته پوري به په مځکه کښې وابښه راشین نه سي. تر دې وروسته رسول الله ﷺ

وفرمایل چې قبر یا د جنت یو باغ دی او یا د دوزخ یوه کنده ده. په یوه حدیث شریف کښې راغلي دي چې رسول الله ﷺ پر دوو قبرونو باندې تیرسو او وې فرمایل: چې دې دواړو ته عذاب ورکول کیږی، یوه ته د چغلی د جرم په خاطر عذاب ورکول کیږي او بل ته د بولو څخه د ځان نه ساتولو په خاطر عذاب ورکول کیږي چې بدن یې د بولو څخه نه ساتی. تاسو په معاصر وخت کې فکر ووهی چې ځان متمدن بولي استنجا وهل عیب ګڼي، په استنجا پسخند وهي. علماؤ کرامو د بولو څخه ځان نه ساتل کبیره ګناه ښودلي ده. ابن حجر مکی رحمه الله لیکلي دي چې په صحیح روایت کښې راغلي دي چې د قبر اکثره عذابونه د بولو څخه د ځان نه ساتلو په خاطر ورکول کېږي.

په یوه حدیث کښې راغلي دي چې په قبر کښې به اول د بولو پوښتنه کیږی. لنډه دا چې د قبر عذاب ډېر سخت شی دی او څنګه چې ددې په کیدلو کښې ځینې ګناهونه خاص داخل دي یعني لکه څرنګه چې د قبر عذاب په ځینو خاصو اعمالو سره لاسته راځي همدا ډول ددې عذاب څخه په خلاصیدو کښې هم ځنو عبادتونو ته خصوصي شرافت حاصل سوی دی لکه چې په ډیرو حدیثونو کښې راغلي دي چې سورت الملک (تبٰرک الذی) هره شپه ویل د قبر د عذاب څخه د خلاصېدو سبب دی او همدا ډول د دوزخ د عذاب څخه د ساتلو سبب دی او الله ﷻ د ذکر په باره کښې پورتنی حدیث خو خامخا دی.

دقیامت په ورځ به ذکر کونکي دنور پر منبرنو وي

۱۲- عن ابي الدرداء رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ليبعثن الله اقواماً يوم القيمة في وجوههم النور على منابر اللؤلؤ يغبطهم الناس ليسوا بالانبياء ولا شهداء فقال اعرابي حلهم لنا نعرفهم قال هم المتحابون في الله من قبائل شتى وبلاد شتى يجتمعون

ژباړه: - د حضرت ابو الدرداء رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ به الله ﷻ ځیني قومونه داسي راوپاڅوي چې د هغو په مخونو کښې به نور ځلیږي هغوئ به د ملغرو په منبرونو باندې وي. خلک به غبطه پرې کوي هغوئ به نه نبیان وي او نه به شهیدان وي. یو چا عرض وکړی چې اې د الله ﷻ رسوله! د هغو حال راته بیان کړه چې مو ږېې وپیژنو؟ رسو ل الله ﷺ وفرمایل: هغه خلک به په خپلو منځو کې د الله جل جلاله لپاره محبت کونکي او د بیلابیلو ځایونو

علی ذکر الله یذکرونه.(۷۵) څخه به وي بیلا بیل خاندانونه به یو ځای سره راغونډ سوی وي او د الله ﷻ په ذکر کښي به مشغول وي.

په بل حدیث شریف کښي راغلي دي چي په جنت کښي به د یاقوتو ستني وي. پر هغو باندي به د زبرجدو (زمردو) بالاخاني وي چي و ثلور طرفو ته به یې خلاصي دروازې وي هغه داسي ځلیږي لکه ډیر روښانه ستوری. په هغه بالاخانو کښي به هغه خلګ اوسیږي چي د الله جل جلاله لپاره په خپلو منځو کښي محبت کوي او هغه خلګ چي د الله ﷻ لپاره یو ځای راجمع سوي وي او هغه خلګ چي په خپل منځ کي د الله ﷻ لپاره یو ځای کیږي.

فایده: په دې کي د طبیبانو اختلاف دی چي زبرجد او زمرد د یو کاڼی دوه نومونه دي یا د یوه کاڼی دوه ډولونه دي او یا د یوه ډول دوه کاڼي دي. په هر حال دا یو کاڼی دی چي ډیر روښانه او ځلیدونکی دی. دا دې غمی جوړیږي او په بازار کښي خرڅیږي. نن هغه خلګ چي په خانقاو کي ناست دي هر ډول تور (الزام) پرې لازمیږي د هري خوا څخه ورته بد ویل کیږي نن چي دي څومره زړه غوا ړی بد او رد ورته وو ایه. سبا چي دي کله سترګي خلاصي سي حقیقت به در ته معلوم سي چي دې ساده خلګو څومره ګټه یو وړل په دنیا کښي او په اخرت کښي چي پر منبرونو ناست دي د دوی حال به هم معلوم سي. **شعر**

فسوف ترای اذا انکشف الغبار * افرس تحت رجلک ام حمار

یعني ژر به معلومه سي کله چي دوړه لیري سي چي پر آس باندي سپوری وي که په خره باندي.

نن چي د ثلورو خوا څخه ښکنځل ورته کیږي د دي خانقاوو چي د الله ﷻ په نزد څومره قدر او عظمت دئ فضلیتونه یې ذکر سوی دي. په یوه حدیث کښي راغلي دي چي په هغه کور کښي چي د الله ﷻ ذکر کیږي هغه اسمان والاوو ته داسي ځلیږي لکه چي د مځکي خلګو ته چي ستوري ځلیږي.

---

(۷۵) اخرجه الطبرانی باسناد حسن کذافي الدر و مجمع الزوائد و الترغیب للمنذری و ذکر ایضاً له متابعته بروایة عمرو بن عبسة عند الطبرانی مرفوعاً قال المنذری و اسناد مقارب لاباس به ورقم لحدیث عمرو بن عبسة في الجامع الصغیر بالحسن وفي مجمع الزوائد رجاله موثقون وفي مجمع الزوائد بمعنی هذا الحدیث مطولا وفیه حلهم لنا یعنی صف شکلهم لنا فسر وجه رسول الله ﷺ بسوال الا عرابی الحدیث قال رواه احمد والطبرانی بنحوه ورجاله و اثقوا قلت وفي الباب عن ابي هریرة عند البیهقی في الشعب ان في الجنة لعمدا من یاقوت علیها غرف من زبرجد لها ابواب مفتحة تضئ کما یضئ الکوکب الدری یسکنها المتحابون في الله تعالي و المتلاقون في الله تعالی کذافي الجامع الصغیر ورقم له بالضعف و ذکر في الزوائد له شواهدو کذا في المشکوة

په يوه حديث کښې راغلي دي چې د ذکر پر مجلسونو باندې سکينه (يو خاص نعمت) نازليږي ملائکې يې ګيره وي د الله ﷻ رحمت پرې غوړيږي او هغوى الله ﷻ پر عرش باندې يادوي. ابورزين ﷺ چې يو صحابي دى وايې چې رسول الله ﷺ وفرمايل: تا ته هغه شي دروښيم چې دين په قوي کېږي او په هغه سره د دواړو جهانونو ښيګڼو ته رسېږې؟ دغه شي د الله ﷻ د ذکر کوونکو مجلسونه دي دا محکمه ونيسه او کله چې يواځې سي نو هر څومره چې دي توان دئ د الله ﷻ ذکر کوه. حضرت ابو هريرة ﷺ فرمايي په کومو کورونو کښې چې د الله ﷻ ذکر کېږي هغه واسمانو والوته داسي روښانه معلوميږي لکه چې د ځمکي و خلکو ته ستوري روښانه معلوميږي. داکورونه چې د الله ﷻ ذکر پکښې کېږي داسي منور او روښانه وي چې د خپلي رڼا په خاطر د ستور په شان ځلېږي. او وهغو خلکو ته چې الله ﷻ د نور دليد ولو سترګي ورکړى دي هغوى دلته هم د غه ځليدلويني. د الله ﷻ ډېر بنده ګان داسي دي چې د بزرګانو او د هغوى د کورونو نور په خپلو سترګو ځليدونکي ويني. لکه حضرت فضيل بن عياض رحمة الله عليه چې مشهور بزرګ دى فرمايي: په کورونو کښې چې د الله ﷻ ذکر کېږي هغه د اسمانو د مخلوق په نزد داسي ځليږي لکه ډيوه. شيخ عبد العزيز د باغ رحمة الله عليه چې په نژدې وخت کښې يو بزرګ تير سوى دى چې بيخي امي و. مګر د قرانکريم ايت، حديث قدوسي، نبوي حديث او موضوعه حديث به يې جلا، جلا ښودل او فرمايل به يې چې د متکلم (خبري کوونکي) د ژبي څخه چې الفاظ راوځي د هغه الفاظو د نور څخه معلوميږي چې داد چا کلام دى ځکه چې د الله ﷻ د کلام نور جلا او د رسول الله ﷺ د کلام نور جلا دى. او په نورو کلامونو کښې دا دواړه نورونه نه وي. تذکرة الخليل نومي کتاب چې د حضرت مولانا خليل احمد نور الله مرقدة په سوانحو کښې د مولانا ظفر احمد صاحب رحمة الله عليه په روايت کښې ليکلي دي چې ده مبارک په پنځم حج کښې کله په مسجد حرام کښې د طواف قدم لپاره تشريف راوړى نو زه د مولانا محب الدين رحمة الله عليه (چې د اعلى حضرت مولانا الحاج امداد الله صاحب مهاجر مکى نور الله مرقده د خاصو خلفاؤ څخه و او په صاحب کشف سره مشهور و) سره ناست وم مولاناصاحب په دغه وخت کښې د درود شريف کتاب خلاص کړى و او خپله وظيفه يې کوله. نابېره يې وماته وويل اوس و حرم شريف ته څوک راغلى دى چې ټول حرم نابېره د انوارو څخه ډک سو.

زه چوپ سوم چې په دې وخت کښې حضرت د طواف څخه خلاص سو او د مولاناصاحب وخواته تېرسو. مولانا صاحب ولاړسو او په خندا کښې يې وويل چې ماهم دا وويل چې نن و حرم ته څوک راغلى دئ.

د ذکر د مجلسونو فضیلت په مختلفو عنوانو په ډیرو حدیثونو کښې راغلی دی. په یوه حدیث شریف کښې راغلي دي چې تر ټولو بهترین رباط لمونځ او د ذکر مجلسونه دي.(رباط د اسلامي هیواد د سرحد ساتلو ته وایي چې کافران د هغه لوري څخه حمله ونه کړي)

د ذکر حلقې د جنت باغونه دي

۱۳- عن انس ﷺ ان رسول الله ﷺ قال اذا مررتم برياض الجنة فارتعوا قال وماریاض الجنة قال حلق الذکر.(۷۶)

ژباړه:- د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چې تاسو د جنت په باغونو کښې تیریږي نو ښه و څریږی. یو چا وویل اي د الله رسوله! د جنتیانو باغونه څه شی دي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل د ذکر حلقې دي.

فائده:- مقصد دادی که کوم نیک بخته دغسي مجلسونو ته ورسیدي نو هغه ته دغه رسیدل ډیر زیات غنیمت بلل پکار دي چې دا په دنیا کښې د جنت باغونه دي او (ښه وڅریږي) دایې ودې طرفته اشاره وفرمایل چې لکه څرنګه چې حیوانات په چمن یا باغ کښې څریدل پیل کړي نو بیا په معمولي لاري کولو نه لري کیږي. بلکه د مالدار یا مالک لښتي او نور وهل خوري خو د هغه ځای څخه مخ نه اړوي. همدا ډول د ذکر کوونکی ته هم پکار ده چې د دنیاوي فکرونو په خاطر د هغه ځای څخه مخ وانه ړوي. او د جنت باغ یې په دې خاطر ورته وویل چې لکه څرنګه چې په جنت کښې هیڅ ډول آفت نسته دغسي دا مجلسونه هم د افتونو څخه محفوظ دي.

په یوه حدیث کښی راغلي دي چې د الله ﷻ ذکر د زړونو شفا ده یعني هغه مرضونه چې په زړه کښې پیدا کیږي لکه تکبر، حسد، کینه او نور د دې ټولو مرضونو علاج (تداوي) ذکر دی.

د الفوائد في الصلوة و العوائد مصنف لیکلي دي چې د ذکر په همیشه کولو سره بنده د ټولو آفتونو څخه خلاصیږي. او په صحیح حدیث کښې راغلي دي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې زه و تاسو د الله ﷻ د ذکر کولو د ډیر والي حکم (امر) کوم. د دې مثال داسي

(۷۶) اخرجه احمد والترمذی و حسنه و ذکره في المشکواة برواية الترمذی و زاد في الجامع الصغير و البيهقي في الشعب ورقم له بالصحة وفي الباب عن جابر عند ابي الدنيا والبزار وابي يعلى و الحاكم و صححه و البيهقي في الدعوات كذا في الدرو في الجامع الصغير برواية الطبراني عن ابن عباس بلفظ مجالس العلم وبرواية الترمذی عن ابي هريرة بلفظ المساجد محل حلق الذکرو زاد الرتع سبحان الله الحمد الله ولا الله الا الله و الله اكبر

دی لکه په چاپسي چي د ښمن پسي وي او دی د هغه څخه و تښتی او په کلا کښی پټ سي. د ذکر کوونکو ډېره لویه فائده داده چي د الله ﷻ همنشین جوړیږي. په ذکر سره شرح صدر (سینه خلاصیږي) زړه، په روښانه کېږي، د زړه سختی په لیري کېږي او د دي څخه پرته نوري هم ډېري فائدي پکښي دي چي ځینو علماؤ تر سلو پوري حساب کړي دي. انتهی

د حضرت ابو امامة ﷺ په خدمت کښی یو کس حاضر سو او ورته وې ویل چي ما په خوب کښي ولیدل چي کله تاسو د ننه ځئ یا د باندي راوځئ یا دریږئ یا کښینئ نو ملائکی ستاسو لپاره دعاء کوي. حضرت ابو امامه ﷺ ورته وفرمایل که چیري ستا زړه غوړای نو ستالپاره هم ملائکي دعا کولای سي بیا یې دا آیت شریف د ﴿يَآيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللهَ ذِكْـرًا كَثِيرًا﴾ څخه تر رحیما پوري ووایه داسي معلومیږي چي و دې طرف ته اشاره ده چي د الله ﷻ رحمت او د ملائکو دعا ستاسو په ذکر پوري موقوف (ولاړ) دئ. څومره چي تاسو ذکر کوی په هغه اندازه به له هغې خوا څخه ستاسو ذکر وي.

ذکر د تهجد، نفقې، او جهاد ځای نیسي

١٤عن ابن عباس ﷺ قال قال رسول الله ﷺ من عجز منكم عن الليل ان يكابده وبخل بالمال ان ينفقه وجبن عن العدو ان يجاهده فليكثر ذكر الله.(٧٧)

ژباړه: د حضرت عبد الله بن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ستاسو څخه که څوک د شپې د کوښښ کولو څخه عاجزه وي او د بخیلۍ په خاطر مال هم نسي خرڅولای او د بزدلۍ په خاطر په جهاد کښي هم شرکت نسي کولای هغه ته پکار ده چي د الله ﷻ ذکر ډېر کوي.

فایده:- یعني هر ډول تاوان چي په نفلي عبادتونو کښي کېږي د الله ﷻ ذکر ډېر والی د هغه تاوان پوره والی کولای سي.

حضرت انس ﷺ د رسول الله ﷺ څخه روایت کوي چي د الله ﷻ ذکر د ایمان نخښه ده د بې اتفاقۍ څخه خلاصېدل دي، د شیطان څخه ساتل دي او د دوزخ د اور څخه خلاصېدل دي نو د همدي فایدو په وجه د الله ﷻ ذکر تر ډېرو عباداتو بهتر بلل سوی دی په خاص ډول بیا د شیطان د غلبې څخه په خلاصېدو کښي ودې ته خاص داخلیدل دي.

په یوه حدیث کښي راغلي دي چي شیطان د انسانانو پر زړونو باندي منګولي لګوي او کلک ناست دی کله چي انسان د الله ﷻ ذکر کوي نو دی عاجزه او خوار سي او بېرته ولاړ سي او کله چي انسان غافله (بې خبره) سي نو دی وسوسې اچول پیل کړي په دې خاطر صوفیان کرام په خلګو ډېر ذکر کوي چي په زړه کښي د شیطان د وسوسو اچولو ځای پاته نه سي او هغه (ذاکر) دومره ورته قوي سي چي دده مقابله وکړي. همدغه راز و چي صحابه کرامو ﷺ ته د رسول الله ﷺ د مجلس د فیض په برکت سره د زړه طاقت په اعلی (لویه) درجه سره حاصل سوی و د زړونو ضربانو ته یې اړتیا نه درلوده د رسول الله ﷺ د زمانې څخه چي هر څومره لیري والی کېږي په هغه اندازه د زړه لپاره ددې مقوی قلب خمیری (الهي ذکر) ضرورت ډېرېږي. اوس زړونه دومره کمزوري سوي دي چي په ډېر علاج کولو سره هم هغه د قوت

(٧٧) رواه الطبراني و البيهقي و البزار و اللفظ له وفي سنده ابو يحيى القتات و بقية محتج بهم في الصحيح كذافي الترغيب قلت هومن رواة البخاري في الادب المفرد و الترمذي و ابي داود و ابن ماجة و ثقه ابن معين و ضعفه اخرون وفي التقريب لين الحديث وفي مجمع الزوائد رواه بزار والطبراني وفيه القتات قدوثق وضعفه الجمهور و بقية رجال البزار رجال الصحيح.

درجه نسي حاصلېدای. بیا هم هر څومره چي وسي دغه ډېر غنیمت دئ دوبا په مرض کښي چي څومره اندازه کمی وسي بهتر دی. د یوه بزرګ قصه روایت سوی ده چي و الله ﷻ ته یې دعا وکړه چي وماته د شیطان د وسوسې اچولو طریقه ښکاره کړه چي څرنګه وسوسه اچوي نو ده ولیدل چي د زړه و چپې خواته تر اوږو لاندي د غوماشی په شکل ناست دی یو اوږد نیښ یې دستنی په څېر نیولي دئ د بنده په زړه یې ورلګوي وسوسې وراچوي کله چي بنده ذکر کوي نو د ستنی په جګولو کي بندوالی راسي کله چي بنده غافله سي نو دی د هغه نیښ په مټ د ګناهونو وسوسې وراچوي. په یوه حدیث شریف کی هم دا مضمون راغلی دی چي شیطان د خپلي پزي مخکنی برخه دانسان پر زړه باندي ایښی ناست وي. کله چي هغه د الله ﷻ ذکر کوي نو په ذلت سره پر شاسي او کله چي هغه غافله وي نو د بنده زړه ګوله جوړه کړي.

١٥– عن ابی سعید الخدری ﷺ ان رسول الله ﷺ قال اکثروا ذکر الله حتی یقولوا مجنون.(۷۸)

ژباړه:– د حضرت ابي سعید الخدری ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله ﷻ ذکر دومره ډېر کوی چي درته مجنون (لیونی) ووایي.

په بل حدیث کښي راغلي چي داسي ذکر کوئ چي منافقان درته ریاکاره وایي.

فایده:– د دې حدیث څخه دا هم معلومه سوه چي د منافقانو او بې علمانو په ریاکار او لیونی ویلو سره دالوي دولت پرېښودل نه دي پکار بلکي ډېر او په اهتمام سره داسي کول پکار دي چي دغه خلګ تا دماغ خرابه وبولي او تا پرېږدي او مجنون هغه وخت ورته ویل کیږی چي ډېر او په زوره سره یې ووایي په کمزوری او په کرار، کرار سره دا کار نه کیږي.

ابن کثیر رحمة الله علیه د حضرت عبد الله بن عباس ﷺ څخه روایت کوي چي هغه وفرمایل: الله ﷻ پر بندګانو باندي داسي شی نه دی فرض کړی چي د هغه لپاره یې حد او اندازه نه وي معلومه کړي او بیا یې د هغه لپاره عذر نه وي قبول کړی پرته د الله ﷻ د ذکر څخه چي نه یې

(۷۸) رواه احمد وابویعلي وابن حبان والحاکم في صحیحه وقال صحیح الاسناد وروي عن ابن عباس مرفوعا بلفظ اذکروا الله ذکرا یقول المنافقون انکم مراءون رواه الطبرانی ورواه البیهقی عن ابي الجوزاء الی عبد الله مرسلا کذا في الترغیب والمقاصد الحسنه للسخاوي وهکذا في الدر المنثور للسیوطي الا انه عزا حدیث ابي الجوزاء الی عبدالله بن احمد في زوائد الزهد و عزاه في الجامع الصغیر الي سعید بن منصور في سننه و البیهقی في الشعب ورقم له بالضعف و ذکر في الجامع الصغیر ایضاً بروایة الطبرانی عن ابن عباس مسنداً ورقم له بالضعف و عزا حدیث ابي سعید الي احمد وابي یعلی في مسنده و ابن حبان و الحاکم و البیهقی في الشعب ورقم له بالحسن.

ورته اندازه معلومه کړي ده او نه یې تر لیوتتوب پوري څوک معذور بللی دی لکه چي الله ﷻ فرمایلي دي (اُذکرُ اللہَ ذِکرًا کَثِیرًا. (یعني د الله ﷻ ښه په ډېروالي سره ذکر کوی.) په شپه، ورځ، ځنګل، دریاب، سفر، په کور، مسکنت، مالداری، مرض، جوړوالی، کرار، په زوره او په هر حال کښي د الله ﷻ ذکر کوی.

حافظ ابن حجر رحمة الله علیه په منبهات کښي لیکلي دي چي د حضرت عثمان رضی الله عنه څخه د قرانکریم د دې ارشاد : وَکَانَ تَحتَهُ کَنزٌ لَهُمَا په باره کښي روایت سوی دی چي هغه د سرو زرو یوه تخته وه چي په هغه کي اوه لیکی لیکلي وي چي ترجمه یې داده : ۱- ماته پر هغه چا حیرانتیا ده چي مرګ منی بیا هم خاندي. ۲- زه و هغه چاته حیران یم چي دا منی چي دنیا یوه ورځ ختمېدونکي ده خو بیا هم مینه ورسره کوي. ۳- زه و هغه چاته حیران یم چي دا پیژني چي هر شی د تقدیر څخه دی خو بیا هم د شي په تلو سره افسوس کوي. ۴- زه د هغه چا پر حال تعجب کوم چي په آخرت کښي یې پر حساب یقین وي بیا هم مال جمع کوي. ۵- زه د هغه چا پر حال تعجب کوم چي د دوزخ په اور خبر وي بیا هم ګناهونه کوي. ٦- زه د هغه چا پر حال تعجب کوم چي الله ﷻ مني بیا هم د بل شی ذکر کوي. ۷- زه د هغه چا پر حال تعجب کوم چي په جنت خبر وي، بیا هم د دنیا په شیانو کښي راحت کوي. په ځینو نسخو کي دا هم راغلي دي چي زه د هغه چا پر حال تعجب کوم چي شیطان دښمن بولي بیا هم د هغه اطاعت کوی.

حافظ رحمة الله علیه د حضرت جابر رضی الله عنه څخه د رسول الله ﷺ مبارک ارشاد نقل کړی دئ چي و ماته حضرت جبرائیل علیه السلام د الله ﷻ د ذکر دومره ډېر تاکید کوئ چي زما دا ګمان سو چي د الله ﷻ د ذکر څخه پرته هیڅ شی فایده نه ورکوي.

د دې ټولو روایتونو څخه دا معلومه سوه چي ذکر هر څومره ډېر کولای سئ مه یې پرېږدئ. د خلګو د ریاکاری یا د لیونی د ویلو په خاطر ذکر پرېښودل خپل تاوان دئ. صوفیانو لیکلی دي چي دا د شیطان یوه دوکه ده چي اول په دې خاطر د ذکر څخه منع کوي چي نور به یې ووینی چي څوک یې ووینی نو څه به وایې او نور. بیا و شیطان ته مستقله ذریعه او حیله پیدا سي چي هغه د ذکر څخه منع کوي په دې خاطر دا ضروري ده چي بل ته د ښودلو په نیت دي هیڅ عمل نه کوي خو که چیري یې څوک ووینی نو وه دي یې وینی په دې خاطر پرېښودل نه دي پکار.

حضر عبد الله ذو البجادین رضی الله عنه یو صحابي دی چي په کوچنیوالي کښي یتیم سوی دی دا کا سره اوسېدی چي هغه دی ښه ساتي. د کور د خلګو څخه په پټه مسلمان سوی و، اکا یې په خبر سونو د ډېره درده څخه یې لوڅ لغړ د کور څخه وایستی، مور هم ور څخه بېزاره سوه خو

بیا هم مور وه چي لوڅ لغړیې ولیدی نو یوه ټوټه پټویې ورکړی چي ده هغه دوې ټوټې کړی په یوه یې عورت پټ کړئ او بل یې پر ځان واچوئ. مدینې منورې ته حاضر سو د رسول الله ﷺ د دروازې دباندی به پروت و او په ډېر لوړ اواز به یې ذکر کوی. حضرت عمر ﷺ وفرمایل ایا دا کس ریاکاره دئ چي داډول ذکر کوي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: بلکي دی په اواهینو کښې دی (یعني والله ﷻ ته په توجه ساتونکو کښې دئ). دتبوک په غزاء کښې وفات سو. اصحابو ﷺ ولیدل چي و قبرونو ته نژدې د شپې ډیوه بلیږي نژدې چي ورغلل وې لیدل چي رسول الله ﷺ یې قبرته کښته سوی دی. حضرت ابوبکر صدیق ﷺ او عمر فاروق ﷺ ته فرمایې چي زما ورور وماته راکړی. دواړو مبارکانو ورکړی. تر ښخولو وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل: اې الله ﷻ! زه دده څخه راضي یم ته دده څخه راضی سې. حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ فرمایي چي دا ټوله واقعه ماولیدل، زما دا ارزو پیدا سوه چي دا مړی زه وای. حضرت فضیل رحمة الله علیه چي د غټو صوفیانو څخه دی فرمایي چي عمل په دې خاطر نه کول چي خلګ یې ووینی داهم په ریاء کښې شامل دی او په دې خاطر سره عمل کول چي خلګ یې ووینې داپه شرک داخل دی. په یوه حدیث کښې راغلي دي چي ځینی بنده ګان دذکر کلیانی دي کله چي د هغو شکل ولیدل سي د الله ﷻ ذکر وسي یعنی د هغو د شکل په لیدلو سره الله ﷻ راپه یاد سي. په یوه حدیث کښی راغلي دي چي هغه خلګ ولیان دي چي دهغو په لیدلو سره الله ﷻ رایاد سي. په یوه حدیث کښي راغلي دي چي په تاسو کښي بهترین خلګ هغه دي چي د هغو په لیدلو سر د الله ﷻ یاد راتازه سي. په یوه حدیث کښي راغلي دي چي په تاسو کي بهترین هغه څوک دي چي د هغه په لیدلو سره الله ﷻ یادیږی او په خبرو او علم کي وده راځي او د هغه په عملونو سره د آخرت شوق پیدا کېږي. او دا خبره هله حاصلیدای سی چي د چا د الله ﷻ ذکر کول ډېر عادت وي او چاته چي په خپله پر ذکر باندي توفیق نوی د هغه په لیدلو سره چیری چاته الله ﷻ یادیږی.

ځینی خلګ په زوره ذکر کول بدعت او ناروا بولي د اخیال ورته په حدیث باندي نظر د کمی په وجه پیدا سوی دی. مولانا عبد الحی صاحب رحمة الله علیه یوه رساله د (سباحة الفکر) په نامه هم په دې مسئله کښي لیکلی ده چي په هغې کښی یې تقرباً پنځوس (۵۰) داسي حدیثونه ذکر کړي دي چي په هغو حدیثونو سره په زوره ذکر کول ثابتیږي البته دا خبره ضروري ده چي د شرائطو سره سم د خپلو حدودو د ننه وسي چي و چاته د تکلیف رسولو سبب نه سي.

ذکر کونکی به د قیامت په ورځ د عرش تر سیوري لاندي ناست وي

۱۶- عن ابي هريرة ﷺ قال سمعت رسول الله ﷺ يقول سبعة يظلهم الله في ظله يوم لا ظل الا ظله الامام العادل و الشاب نَشَأَ في عبادة الله ورجل قلبه معلق با لمساجد ورجلان تحآبا في الله اجتمعا على ذالک و تفرقاعليه ورجل دعته امراة ذات منصب و جمال فقال انى اخاف الله ورجل تصدق بصدقة فاخفاها حتى لا تعلم شماله ماتنفق يمينه ورجل ذكر الله خاليا ففاضت عيناه. (۷۹)

ژباړه:- د حضرت ابو هريرة ﷺ څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ څخه مي واوريدل چي وې فرمايل : اووه کسان دي چي دوی ته به الله ﷻ د خپل رحمت په سيوری (سايه) کښي په هغه ورځ ځای ورکړي چي په هغه ورځ به دا الله ﷻ د سيوري څخه پرته بل هيڅ سيوری نه وي. اول عادل پاچا دی ، دوهم هغه ځوان دی چي په ځوانی کښي د الله ﷻ عبادت کوي، دريم هغه کس چي زړه يې د مسجدونو سره تړلی وي، څلورم هغه دوه کسان دي چي په خپل منځ کښي د الله ﷻ درضا لپاره محبت کوي چي هم د دغه لپاره جمع کيږی او هم په دغه وجه سره بېليږي، پنځم هغه کس دی چي يوه ښائسته او شريفه ښځه يې و خپلي خواته متوجه کړي او دی ورته ووايي چي زه د الله ﷻ څخه بيريږم، شپږم هغه کسان دي چي په داسي پټه طريقه سره صدقه ورکړي چي چپه لاس هم ور څخه خبر نسي په هغه نفقه باندي چي ده په راسته لاس ورکړې وي، اووم هغه کس دی چي د الله ﷻ ذکر په يو ائحی والي کښي وکړي او اوښکی يې وبهيږي.

فايده:- د اوښکو د بهيدلو څخه دا مطلب هم کيدای سي چي د خبر تيا سره چي يې کوم گناهونه کړي دي هغه يادوي او پرې ژاړی او بل دا مطلب هم کېدای سي چي د ذکر د ډېره شوقه يې د سترگو څخه اوښکی رواني سی. د ثابت بناني رحمة الله عليه په يوه روايت کښي چي د يوه بزرگ مقوله (وينا) يې رانقل کړې ده هغه فرمايي چي وماته معلوميږي چي زما کومه دعا قبوله سوه. خلگو پوښتنه ور څخه وکړه چي څنگه درته معلوميږي؟ وې فرمايل په کومه دعا چي د بدن وريښتان پکښي ودريږي، زړه ناقراره سي او د سترگو څخه اوښکي رواني سي نو هغه دعا قبليږی. په دې اوو کسانو کښي چي په حديث کښي يې بيان راغلی دی يو

(۷۹) رواه البخاري و مسلم و غيره هما كذافي الترغيب و المشكوٰة وفي جامع الصغير برواية مسلم عن ابي هريرة وابي سعيد معا وذكر عدة طرقه اخراى

هغه کس هم دی چې په یوائې والې کې دالله ﷻ ذکر وکړي او په ژړا سي په دې کښې دوه ښه والې جمع سوی دي او دواړه اعلی او لوړې درجې لري یو اخلاص دی چې په یوائې والي کښې د الله ﷻ په یاد کښې مشغول سو او دوهم د الله ﷻ څخه بېره یا شوق دی چې په دواړو کښې ژړا راسي او داد واړه کمال دئ. شعر

ہمارا کام ہی راتوں کو رونا یاد دلبر میں

ہماری نیند ہی محو خیال یار ہوجانا

ژباړه:- زموږ د شپو کار د دلبر په یاد کښی ژړیدل زموږ خوب بس دی خیال په یار کښې ډوبیدی

د حدیث الفاظ داسي دي : رجل ذکر الله خالیاً) هغه سړی چې د الله ﷻ ذکر په داسي حال کښې وکړي چې خالي وي . صوفیانو لیکلي دي چې د خالي کېدو دوه مطلبونه دي یو عام مطلب دئ چې هغه دادئ چې د خلګو څخه لیري وي چې معنی یې ده تنهایې (یووالي) دوهم دادئ چې زړه د نورو شیانو څخه خالي وي هغوی فرمایي چې اصلي خلوت همدا دی. په دې خاطر ډېره کامله درجه داده چې دواړه خلوتونه ورته حاصل وي. که د چا د زیاتو خلګو په شتون کی زړه د غیر الله ﷻ څخه خالی وي هغه هم دغه مرتبه لري ده ته د خلګو شتون هیڅ تاوان نه سي رسولای. هغه څوک هم په دې درجه کي داخل دئ چې دخلګو زیاتوالی اونه زیاتوالی ده ته فرق نه ورکوي بلکي په هروخت کي ژړا کوي .د الله ﷻ په یاد کي اویا دده له ویرې ژړا لوي دولت دی . په یوه حدیث کښې راغلي دي : څوک چې د الله ﷻ د بیري څخه و ژاړی تر هغه وخته پوري و دوزخ ته نسي تلای تر څو پوري چې شیدې بیرته تیوته نوي ننوتلي (دا روښانه ده چې دشیدې بیرته ننوتل ناممکنه دي نو همداسي و دوزخ ته دده تلل هم ناممکن دي.) په یوه بل حدیث کښې راغلي دي : څوک چې د الله ﷻ د بیري څخه وژاړی کومي اوښکي چې توی سي دهغو څخه چې یوه اوښکه پر مځکه پرېوزي نو هغه ته به دقیامت په ورځ عذاب نه وي.

په یوه حدیث کښې راغلي دي چې پر دوو سترګو د دوزخ اور حرام دی یوه هغه سترګه چې د الله ﷻ د بیري څخه یې ژړلی وي او دوهمه هغه سترګه ده چې اسلام او مسلمانانو د حفاظت لپاره د کافرانو په مقابله کښې ویښه پاته سوی وي.په یوه حدیث کښې راغلي دي : هغه سترګي چې د الله ﷻ د بیري څخه ژړېدلي وي د دوزخ اور پرې حرام دئ او پر هغه سترګي

هم حرام دئ چي د الله ﷻ په لاره کښي وينښه پاته سوی وي، پر هغه سترګي هم حرام دئ چي د ناروا شیانو (نامحرمه ښځی او نور) د کتو څخه منع سوي وي او پر هغه سترګه هم حرام دی چي د الله ﷻ په لاره کښي ضائع سوي وي.

په يوه حديث کښي راغلي دي: هغه څوک چي په تنهايی (يوائی و الي) کي د الله ﷻ ذکر کوي داسي دی لکه چي يوائي د کافرانو و مقابلې ته تلی وي.

ذکر کونکي به تل په جنت کي وي

١٧- عن ابي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ينادي مناديوم القيمة اين اولو الالباب قالوا اى اولي الالباب تريد ؟ قال الذين يذكرون الله قياما و قعودا وعلى جنوبهم و يتفكرون في خلق السموات والارض ربنا ماخلقت هذا باطلا سبحنک فقنا عذاب النار عقدلهم لوآء فاتبع القوم لوآءهم وقال لهم ادخلوها خلدين (٨٠)

ژباړه: د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به يو اواز کوونکی اواز وکړي چي د عقل خاوندان چيری دي؟ خلګ به پوښتنه وکړي چي د عقل خاوندان څخه څوک مراددي؟ جواب به ورکړل سي هغه خلګ چي د الله ﷻ ذکر په ولاړه، ناسته او په پروته (په هرحال کښي) کوي او د اسمانونو او مځکو په پيداکېدو کښي د فکر کولو وروسته وايي چي اې الله ﷻ! تا دغه ټول شيان بې فايدې نه دي پيدا کړي موږ ستا تسبيح وايو، ته موږ د دوزخ د عذاب څخه وساتي تر دې وروسته به د دې خلګو لپاره يو بيرغ جوړ سي چي په هغه پسي به دا ټول ځی او دوی ته به وويل سي چي د هميشه لپاره په جنت کښي داخل سي.

فايده: - د اسمانونو او مځکو په پيداکېدو کښي غور او فکر کوئ يعني د الله ﷻ د قدرت نښي او د هغه و عجائبو حکمتونو ته فکر کوئ چي په دې سره د الله ﷻ په پېژندنه کښي قوت پيدا کېږي.

الٰہی یہ عالم ہی گلزار تیرا

يعني اې زما ربه! دا ګلزار عالم ستا دی.

---

(٨٠) اخرجه الا صبهانی في الترغيب كذا في الدر

ابن ابي الدنیا رحمة الله علیه په یوه مرسل روایت کي نقل کړی دي چي رسول الله ﷺ د اصحابو رضي الله عنهم ویوې ډلي ته یو وار تشریف یو وړی چي ټول (اصحاب کرام رضي الله عنهم) چوپ ناست وه. رسول الله ﷺ وفرمایل چي څه خبره ده چي په سوچ او فکر کښي ناست یاست؟ دوي وویل چي د الله جل جلاله د مخلوقاتو په سوچ کښي یو رسول الله ﷺ وفرمایل چي د الله جل جلاله په ذات کښي فکر مه کوی (ځکه چي هغه وراء الوراء دئ) د هغه په مخلوقاتو کښي غور او فکر کوئ.

حضرت عائشې رضي الله عنها ته یو چا وویل چي د رسول الله ﷺ یوه عجیبه خبره راته وکړه. دې مبارکي وفرمایل: د رسول الله ﷺ کوم خبره داسي وه چي عجیبه نه وه؟ یو واري یې د شپې تشریف راوړي زما په بستره کښي زما سره پرېواتی. بیا یې وفرمایل: پرېږ مي ږده چي زه د خپل رب عبادت وکړم دا یې وویل او ولاړ سو. اودس یې وکړی د لمانځه نیت یې وتړی او په ژړا یې پیل وکړی دومره یې وژړل چي پر سینه مبارکه باندي یې اوښکي بهېدلي بیا یې په رکوع او سجده کښي داسي وژړل او ټوله شپه یې داسي تېره کړه تر څو چي حضرت بلال رضي الله عنه د سهار د لمانځه د بللو لپاره راغلی. ما ورته وویل اې د الله جل جلاله رسوله! ته خو بخښل سوی یې نو ولي دومره ژاړې؟ ده مبارک راته وویل: چي ایا زه د الله جل جلاله شکر ادا کونکی بنده جوړ نسم؟ بیا یې وفرمایل ما به ولي نه ژړل په داسي حال کښي چي نن دا مبارک آیاتونه نازل سوي دي: إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ بیا تر فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ پوري او بیا یې وفرمایل هغه کس ته دي هلاکت وي چي دا آیاتونه وایي خو غور او فکر نه پکښي کوي. عامر بن عبد قیس رحمة الله علیه فرمایي چي د یوه یا دوو یا درو څخه نه بلکي (له دي څخه د زیاتو) اصحابو کرامو رضي الله عنهم څخه مي اوریدلي دي چي د ایمان نور او رڼا غور او فکر دئ. حضرت ابو هریرة رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه روایت کوي چي یو سړی پر چت باندي ناست و آسمانونو او ستورو ته یې کتل بیا یې وویل په الله جل جلاله قسم کوم زما یقین او باور دی چي ستاسو پیدا کونکی خامخا سته. اې الله جل جلاله! ته وماته بخښنه وکړې. رحمت د هغه و طرف ته متوجه سو او هغه ته بخښنه وسوه. حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه فرمایي چي د یوه ساعت غور او فکر د ټولي شپې تر عبادت بهتر دی. د حضرت ابو الدرداء او حضرت انس رضي الله عنهما څخه هم دغه روایت سوی دی. د حضرت انس رضي الله عنه څخه دا هم نقل سوی دي چي په دې شیانو کښې د یوه ساعت غور د اتیاو (۸۰) کالو د عبادت څخه بهتر دئ. د حضرت ابو الدرداء رضي الله عنه د مور څخه یو چا پوښتنه وکړه چي د ابو درداء رضي الله عنه تر ټولو بهترین عبادت څه شي و؟ دې وویل غور او فکر. د حضرت ابو هریره رضي الله عنه په روایت د رسول الله ﷺ څخه هم نقل سوي دي چي د یوه ساعت غور او فکر د شپېتو (۶۰) کالو

ترعبادت بهتر دی. د دې روایتونو مطلب دا نه دی چې د عبادت ضرورت نه پاته کېږي. هر عبادت په خپل ځای کښې خپله درجه لري فرض وي که واجب یا سنت وي که مستحب چې په پرېښودلو سره د هغې درجې عذاب یا ملامتیا ورکول کېږي د کومې درجې عبادت چې وي.

امام غزالي رحمه الله لیکلي دي چې غور او فکر ته ځکه په عبادتونو کښې بهتر ویل سوی دی چې په دې کښې نو خامخا د ذکر معنی وي د دې سره دوه نور شیان هم پکښې زیات دي : د یوه الله ﷻ معرفت ځکه چې غور او فکر د معرفت کیلي ده دوهم په غور او فکر سره د الله ﷻ سره محبت زیاتیږي هم دا غور او فکر دی چې صوفیان ورته مراقبة وايي د ډېرو روایتونو څخه د دې فضلیت معلومیږي. په مسند ابو یعلی کښې د حضرت عائشې رضي الله عنها په روایت د رسول الله ﷺ څخه نقل سوی دی چې هغه خفی (پټ) ذکر چې ملائکې یې هم نسي اورېدلای او یا (۷۰) درجې دوه چنده کېږي. یعني کله چې د قیامت په ورځ الله ﷻ ټول مخلوقات د حساب لپاره جمع کړي. او کرام کاتبین ملائکې عملنامې را واخلي او راسي نو وبه ویل سي چې د فلانی بنده عملونه وګورئ. څه نور عملونه یې پاته دي. هغوی به وو ايي موږ هیڅ داسي شی ندی پرې ایښی چې مو لیکلی او محفوظ کړی نه وي. نو ورته وبه ویل سي چې دده یوه نیکي زموږ سره پاته ده چې ستاسي په علم کښې نسته او هغه خفی (پټ) ذکر دئ.

بیهقی په شعب کښې ذ حضرت عائشې رضي الله عنها څخه دا حدیث نقل کړی دی چې هغه ذکر چې ملائکې یې نه اوري دا پر هغه ذکر باندي چې هغوي یې اوري، او یا (۷۰) درجې زیات دئ. همدغه شی په دې شعر کښې هم ویل سوی دئ : شعر

میان عاشق و معشوق رمزی است - کراما کاتبین را هم خبر نیست

ژباړه:- د عاشق او معشوق په منځ کښې داسي اشارې دي چې په هغه ملایکې هم خبرې نه دي.

هغه خلک څومره نیک بخته دي چې یو ساعت نه غافله کېږي چې په خپلو ښکاره عبادتونو خو به خپل اجر او ثواب خامخا حاصلوي داد هر وخت ذکر او فکر د پوره ژوند په وختونو کښې (۷۰) چنده لا پرې زیات سو. همدغه شی دی چې شیطان خوابدی کوي.

د حضرت جنید رحمه الله څخه روایت سوی دی چې هغه یو ازې په خوب کښې شیطان لوڅ ولیدی. ورته وې وویل ته نه شرمیږې چې د خلګو په منځ کښې لوڅیږې؟ هغه وویل دا خو سړي نه دی سړي خو هغه دی چې په شونیزیه مسجد کښې ناست دی چې زما بدن یې کمزوری کړ او زما ځیګر یې کباب کړ. حضرت جنید رحمه الله فرمایي چې زه د شونیزیه و

مسجد ته ولاړم ما ولیدل چي هلته څو حضراتو په زنګونو سرونه ایښي دي په مراقبه کښي اخته دي زه چي کله هغو و لیدم راته وې ویل چي د خبیث په خبرو هیڅکله دو که نسي.

د مسوحي رحمة الله علیه څخه همدا ډول نقل سوی دی چي ده شیطان لوڅ ولیدی نو ورته وې وویل د خلګو په منځ کښي په دا ډول ګرځیدو نه شرمیږې؟ شیطان ورته وویل په الله جل جلاله قسم کوم داخو سړي نه دي که چیري دوی سړي وای نو مابه ورسره داسي لوبي نه کولای لکه هلکان چي یې په ګین کوي. سړي خو هغه دی چي زما بدن رامریض کړي (ده د صوفیانو و ډلي ته اشاره وکړه)

ابو سعید حزار رحمة الله علیه وایې چي ما په خوب کښي ولیدل چي شیطان پر باندي حمله وکړه. ما په لرګی وواهی هغه په وهلو هیڅ پروا ونه کړه د غیبو څخه یو اواز وسو چي دی ددې څخه نه بیریږي، دی د زړه د نور څخه بیریږي. حضرت سعد رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چي تر ټولو ذکرونو ښه ذکر خفی (پټ) ذکر دئ او بهترین رزق هغه دی چي د کافي (بس) کېدو درجه ولري. حضرت عباده رضي الله عنه هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم روایت کړی دئ چي بهترین ذکر خفی (پټ) ذکر دئ او بهترین رزق هغه دئ چي د کافي کېدو په اندازه وي (نه داسي کم وي چي ګوزاره نه په کیږی او نه دومره زیات وي چي په تکبر او بې حیایی یې اخته کړي) ابن حبان او ابو یعلی (رحمة الله علیهما) دا حدیث صحیح بللی دئ. په یوه حدیث کښي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چي الله جل جلاله په خامل ذکر سره یادوئ یو چا پوښتنه وکړه چي خامل ذکر څه شي دی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چي مخفی (پټ) ذکر دی. ددې ټولو روایتونو څخه د مخفی (پټ) ذکر بهتر والی معلومیږي. اوس هغه روایت هم تېرسو چي پکښي د مجنون (لیونی) ویلو ذکر سوی دی دواړه خپلو اک شیان دي خو د حالاتو په اعتبار سره مختلف دي دا بیا شیخ (پیر صاحب) معلوموي چي د کوم کس لپاره کوم وخت څه شی مناسب دئ.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په ذکر کونکو کي دناستي امر سوی دئ

١٨- عن عبد الرحمن بن سهل ابن حنیف قال نزلت علی رسول الله صلی الله علیه وسلم وهو في بعض ابیاته واصبر نفسک

ژباړه: د حضرت عبد الرحمن رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم په کور کښي و چي دا آیت شریف نازل سو: و اصبر نفسک ..... چي ژباړه یې داده. (خپل ځان د هغه خلګو د (ناستي) پابند کړه چي سهار او ماښام خپل (رب بولي)

مع الذین یدعون ربهم بالغداوة و العشی فخرج یلتمسهم فوجد قوماً یذکرون الله فیهم ثائر الرّأس وجاف الجلد وذوالثوب الواحد فلما رءاهم جلس معهم وقال الحمدلله الذی جعل في امتی من امرني ان اصبر نفسي معهم.[٨١]

رسول الله ﷺ ددې ایت په نازلېدو سره ددغو خلکو په لټه کښې ووتی (کله چې راووتی) یوه ډله یې ولیدل چې د الله ﷻ په ذکر کښې اخته وه. ځینی خلک په هغو کښې خواره واره ویښتانو او څرمنو والا وه یوازې یو کس جامو والاو (یعنی لوڅ نه وو یوازې یو لنګ ورسره و) کله چې رسول الله ﷺ دوی ولیدل نو دهغو سره کښیناستی او وې وفرمایل چې ټول تعریفونه دي دالله ﷻ لپاره وي چې زما په امت کښې یې داسي خلک پیدا کړي دي چې پخپله وماته د هغو سره د کښیناستلو حکم (امر) وسو.

فایده: - په یوه بل حدیث کښې راغلي دي چې رسول الله ﷺ د هغوی لټه وکړه چې د مسجد په اخري برخه کښې یې ناست پیدا کړه چې د الله ﷻ په ذکر کښې اخته وه. رسول الله ﷺ وفرمایل ټول تعریفونه دي الله ﷻ لره وي چې هغه زما په ژوند کښې داسي خلک پیدا کړل چې وماته یې دهغو سره د ناستي امر وکړی بیا یې وفرمایل چې همدا ستاسو سره مې ژوند دی او ستاسو سره مې مرګ دی یعني د مرګ او ژوند ملګري مې داخلک دي. په یوه حدیث کښې راغلي دي چې حضرت سلمان فارسي ﷛ او نور حضرات د اصحابه کرامو ﷡ د یوې ډلې سره دالله ﷻ په ذکر کښې اخته وه چې رسول الله ﷺ تشریف راوړی نو دوی چوپ سوه. رسول الله ﷺ وفرمایل تاسو څه کول؟ هغو وویل چې د الله ﷻ په ذکر کښې اخته وو. رسول الله ﷺ وفرمایل چې ما ولیدل چې دا الله ﷻ رحمت پر تاسو نازلیږی، نو زما زړه هم وغوښتل چې راسم او ستاسو سره شریک سم. بیا یې وفرمایل چې الحمد الله! چې الله ﷻ زما په امت کښې داسي خلک پیدا کړه چې د هغو سره د ناستی لپاره وماته امر وسو.

- ابراهیم نخعی رحمة الله علیه فرمای چې د (الذین یدعون) څخه مراد د ذاکرینو (ذکر کوونکو) ډله ده. ددې حکمونو په ډول صوفیانو هم دا مسئله را ایستلی ده چې و پیرانو ته د مریدانو سره ناسته ضروري ده چې په دې ګډون سره و مریدانو ته د فایدې رسولو څخه پرته د شیخ د نفس لپاره هم پوره مجاهده ده چې د بې خونده خلګو په بدو و خبرو سره د صبر او برداشت کولو سره په نفس کښې تابعداري پیدا سي او ددغه نفس په قوت کښې عاجزي پیدا سي. ددې څخه ماسوا د زړونو پر جمع کولو باندي د الله ﷻ رحمت او مهرباني متوجه کیږی په همدې خاطر د

---

[٨١] اخرجه ابن جریر و الطبرانی وابن مردویه کذا في الدر

جماعت لمونځ مقرر سوی دئ. او داهم لویه وجه ده چي د عرفات په میدان کښي ټوله حاجیان په یوه حال او یوه میدان کښي د الله ﷻ و طرف ته متوجه سي. لکه څرنګه چي حضرت شاه ولي الله رحمة الله علیه په حجة الله البالغة نومي کتاب کښي دا مضمون په ډېرو ځایونو کښي په پوره اهتمام سره ذکر کړی دئ. داټول د هغي ډلي په باره کي دي چي د الله ﷻ ذکر کونکي دي چي په حدیثونو کښي هم په ډېر والي سره دوی راغلي دي. ددې بر عکس که چیري څوک د غافلینو په ډله کښي ګیر سي او په دغه وخت کښي د الله ﷻ په ذکر سره اخته سي نو دده په فضائلو کي هم ډېر حدیثونه راغلي دي په داسي وخت کي د الله ﷻ و لوري ته زیاته توجه کول په کار دي ددې لپاره چي د هغوی تراغیزی لاندي رانسي.

په حدیث شریف کښي راغلي دي چي د غافلینو په ډله کښي ذکر کونکی داسي دي لکه د جهاد څخه د تښتیدونکي ډلي څخه چي څوک کلک ودریږي او مقابله وکړي.

په یو حدیث شریف کښی راغلي دي چي د غافلینو په دله کښی د الله ﷻ ذکر کونکي داسي دي لکه څوک چي د تښتیدونکو له طرفه څخه د کافرانو مقابله وکړي، دغه ډول ذکر کونکي داسي دي لکه په تاریک کور کي څراغ، همدا ډول ذکر کونکي داسي دي لکه په بې بلګو درختو کښي شنه او تازه درخته. همدا ډول دي کس ته الله ﷻ اول دده د جنت کور ورښیي او د ټولو انسانانو او حیوانانو په اندازه بخښنه ورته کوی دا هغه وخت چي په دغه مجلسونو کښي په ذکر سره اخته وي او که داسي نوي نو دداسي مجلسونو پر ګډون باندی منعه راغلې ده.

په حدیث کښی راغلي دي چي د عشیره (انډیوالی) د مجلسونو څخه ځانونه وساتی. عزیزي رحمة الله علیه فرمايي: (ددې مطلب دادئ) چي په هغه مجلسونو کښي چي د الله ﷻ څخه ماسوا د بل چا یادول په ډېروالی سره وي. او یا په دغه مجلس کي خلک په بې ځایه کارونو او ټوکو اخته وي ځان ځني وژغورئ.

یو بزرګ وایې چي زه یو واري و بازار ته تلم. زما سره یو حبشی مینځه وه ما په بازار کښي یو ځای کښېنول چي وروسته به یې د ځان سره بو ځم. ما په هغه ځای کښي داونه لیدل او دهغه ځای څخه تللې وه ما ته درد (غصه) راغله زه کور ته راغلم هغه مینځه راغلی وه او وې ویل زما باداره! خفګان مه کوه. زه تا وداسي خلګو ته ورپرېښودم چي د الله ﷻ د ذکر څخه غافله وه زه و بریدم چي پر دوی باندی عذاب نازل نسی او په مځکه کښي ښخ نسي او زه هم ورسره په عذاب کښي ګیر نه سم.

دسهار او ماښام تر لمانځه وروسته ذکر کول د ژوند حفاظت دئ

۱۹- عن ابي هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ فيما يذكر عند ربه تبارک و تعالى اذكرني بعد العصر و بعد الفجر ساعة اکفک فيما بينهما. (۸۲)

ژباړه:- د حضرت ابو هريرة ﷺ روايت دئ چي رسول الله ﷺ د الله ﷻ څخه نقل کوي چي ته د سهار او د ماذديګر تر لمانځه وروسته لږ وخت ما يادوه په منځني حصه کی زه ستا لپاره کافي کيږم.

په يو حديث کښي راغلي دي چي د الله ﷻ ذکر کوئ چي د مطلب په پوره کولو کښي به ستاسي کومک کونکی سي.

فايده:- دا خرت د ګټی پرته زموږ خلک د دنيا لپاره څومره کوښښونه کوي څه به موکم سي که چيری د سهار او ماذديګر تر لمانځه وروسته لږ وخت د الله ﷻ ذکر هم وکړو. د دې دواړو وختونو د فضليتونو په باره کښي ډېر حديثونه راغلي دي او کله چي الله ﷻ د کافي کېدو (بس کېدو) وعده کوي نو بيا وبل شی ته څه ضرورت پاته سو.

په يوه حديث کښي راغلي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل زه د داسي ډلي سره کښينم چي د سهار د لمانځه څخه وروسته تر لمر ختو پوري د الله ﷻ په ذکر کښي اخته وي دا ماته تر دې خوښه ده چي څلور عرب غلامان ازاد کړم. همدا رنګه د داسي ډلي سره کښينم چي د ماذديګر تر لمانځه وروسته تر لمر لوېدو پوري د الله ﷻ په ذکر کښي اخته وي دا مي د څلور غلامانو تر ازادولو ډېره خوښه ده . په يوه حديث شريف کښي راغلي دي چي څوک د سهار لمونځ په جماعت سره وکړي بيا تر لمر ختو پوري د الله ﷻ په ذکر کښي اخته سي او بيا دوه کعته نفل (دا شراق لمونځ) وکړي هغه ته به داسي ثواب ورکړل سي لکه چي پر (نفلي) حج او عمرې چي ورکول کيږي او هغه حج او عمره چي کامل وي.

د رسول الله ﷺ يو مبارک قول دئ چي فرمايي دا ماته د دنيا او د دنيا تر ټولو شيانو خوښه ده چي زه د يوې ډلي سره د سهار د لمانځه څخه وروسته تر لمر ختو پوري په ذکر کښي اخته سم او همدا ډول دا راته د دنيا تر ټول شيانو خوښه ده چي د يوې ډلي سره د ماذديګر څخه وروسته تر لمر لوېدو پوري په ذکر کښي اخته سم. په همدې وجه د سهار او ماذديګر تر

(۸۲) اخرجه احمد كذا في الدر

لمنځونو وروسته ذکر کول اړین دي او د صوفیانو په نزد خو ددې دوادړو وختونو خاص پابندي سته فقهآء هم ددغه وخت خاص اهمیت ساتي.

په مدونة الکبری نومي کتاب کښې د امام مالک رحمه الله څخه روایت سوی دی چې د سهار تر لمانځه وروسته تر لمر ختو پورې خبرې کول مکرو دي داحنافو څخه د درمختار مصنف هم په دغه وخت کښې خبرې کول مکروه لیکلي دي. په یوه حدیث کښې راغلي دي چې څوک د سهار تر لمانځه وروسته همدغسې ناست وي او تر خبرو کولو مخکې لاندې دعا لس ځلې ووایي نو دده لپاره لس نیکۍ لیکل کېږي، لس بدۍ یې ورمعافیږي او په جنت کښې یې لس درجې لوړیږي او ټوله ورځ به د شیطان د کرغیړنو کړنو څخه محفوظ وي دعا داده:

لا اله الا الله وحده لا شریک له له الملک وله الحمد یحیی ویمیت وهو علی کل شیئ قدیر ط

ژباړه: د الله ﷻ څخه ماسوا بل د عبادت لائق نسته. هغه په خپل ذات او صفتونو کښې یوائې دئ، هغه ته هیڅ شریک نسته ددنیا او اخرت پاچاهي هم دده ده او چې څومره حمدونه دي هغه ټول دده دپاک ذات لپاره دي هغه ژوندي کول کوي او هم مړه کول کوي او هغه پر هر شي باندې قادر دئ.

په یوه حدیث کښې راغلي دي: څوک چې د سهار او مازدیګر تر لمنځو وروسته لاندې کلمه درې واري ووایي که یې ګناهونه د سمندر په ځېر وي هم معافیږي:

استغفر الله الذی لا اله الا هو الحی القیوم و اتوب الیه. ط

ژباړه: زه د هغه الله ﷻ څخه چې تل ژوندی او همیشه دئ د خپلو ګناهونو بخښنه غواړم، دده څخه ماسوا بل معبود نسته او ده ته توبه وباسم.

د ذکر پرته په دنیا کې اوسېدل دالله ﷻ د رحمت څخه لیري والی دئ

۲۰- عن ابي هريرة رضي الله عنه قال سمعت رسول الله ﷺ يقول الدنيا ملعونة و ملعون ما فيها الا ذكر الله وما والاه وعالما و

ژباړه: د حضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چې د رسول الله ﷺ څخه مې اوریدلي دي چې وې ویل: دنیا ملعونه ده او هر هغه شی چې پکښې دئ ملعون (د الله ﷻ د رحمت څخه لیرې) دئ مګر د الله ﷻ ذکر او هغه شی چې ورته نژدې وي او

عالم او طالب (په دغه حکم کي دلعنت نه دي)
متعلما. ([۸۳])

فایده:- ددې نژدي کېدو ځخه مراد وذکر ته نژدې کېدل هم کیدای سي په دې حالت کي به هغه شیان مراد وي چي د الله ﷻ په ذکر کښي کومک کونکي وي چي په هغه کښي د ضرورت په اندازه خوړل، چیښل او د ژوند نور ضرور اسباب هم شامل دي او په دې حالت کښي چي د الله ﷻ ذکر وهر شی ته چي دعبادت دډول ځخه نه وي شامل دي.

او دا هم کېدای سي چي ددې نژدې کیدو ځخه و الله ﷻ ته نژدې کیدل مراد وي نو په دې حالت کښي به ټول عبادتونه پکښي داخل سي او د الله ﷻ د ذکر ځخه به مخصوص ذکر مراد وي او په دې دواړو حالتونو کښي علم خپله دا خل سوی دئ. په اول حالت کښي علم په دې خاطر پکښي داخل دی چي وایي :(بی علم نتوان خدارا شناخت) یعنی بې علمه الله ﷻ نه سي پېژندلای او په دوهم حالت کښي علم په دې خاطر پکښي داخل دئ چي تر علم به کوم عبادت زیات وي؟ خو ددې سره یې بیا عالم او طالب هر یو جلا جلا وښودئ چي علم ډېر لوی دولت دی. په یوه حدیث کښي راغلي دي چي علم یوا ځي د الله ﷻ لپاره زده کول د الله ﷻ ځخه د بیري په حکم کښي دي دعلم په طلب (لټه) کښي سفر کول عبادت دی دعلم یا دول تسبیح دي دعلم په تحقیقاتو (پلټنو) کښي بحث کول جهاد دی، دعلم ویل صدقه ده او ددې دعلم په خاوندانو باندي خرڅ کول الله ﷻ ته نژدېکت دی ځکه چي علم دروا او ناروا دپیژندلو لپاره نخښه ده د جنت د لاري نخښه ده یا په بیره کښي زړه خوشالونکی دی او د سفر ملګري دی کتاب کتل په یوا ځي والي کښي خبري کوونکی دی په خوشحالي او غم کښي لار ښودونکی دی، پر دښمنانو باندی وسله ده او ددوستانو لپاره ډاډ دی. الله ﷻ دهمدې علم په خاطر ویوې ډلي (علماؤ) ته لوړي مرتبې درجې ورکړي دي چي هغوی د خیرو طرف ته بلونکی وي او داسي امامان وي چي که چیري د هغو پر نقش قدم (تګ لاره) باندی تګ وسي، د هغو د کارونو متابعت وکړل سي او دهغو دنظر وخواته رجوع وکړل سي. ملائکی د هغو سره ددوستي کولو شوق کوي، خپل وزرونه (دبرکت حاصلولو یا دمحبت کولو په خاطر) پر دوی باندی موږي ددنیا هر لوند او وچ شی ددوی لپاره د الله ﷻ ځخه د بخښنی

([۸۳]) رواه الترمذی وابن ماجة و البیهقی وقال الترمذی حدیث حسن کذافي الترغیب و ذکره في الجامع الصغیر بروایة ابن ماجة ورقم له بالحسن وذکره في مجمع الزوائد بروایة الطبراني في الاو سط عن ابن مسعود ﷺ وکذا السیوطي في الجامع الصغیر وذکره بروایة البزار عن ابي مسعود ﷺ بلفظ الا امر بمعروف او نهیا عن منکر او ذکر الله . رقم له بالصحة.

دعا غواړي. ان تر دې چې د سمندرنو ماهيان، د ځنګلونو شرموښان او حيوانان او ژهرجن (ماران او نور) هم د ښخښنې دعا ورته کوي او دا ټول ددې لپاره چې علم د زړونو رڼا ده. د سترګو نور دئ. د علم په خاطر بنده دامت و بهترينو کسانو ته رسيږي ددنيا او اخرت لوړي مرتبې حاصلوي. ددې علم مطالعه د روژو سره برابره ده، يا دول يې د تهجد لمانځه سره برابر دئ په دې سره خپلوي پاللکيږي، په دې سره حلال او حرام پېژندل کيږي. علم د عمل امام دئ او عمل ددې تابع دی چې نيک بختو خلګو ته يې الهام کيږي. او بدبخته ددې علم څخه محروميږي. ځينو په مجموعي ډول په دې حديث باندې خبرې کړې دي خو په دې کښې چې کوم ډول د ذکر فضائل بيان سوي دي مرسته يې د نورو روايتونو څخه هم کيږي. دغه ډول ددې څخه ماسوا ډېر نور فضائل د حديثو په کتابونو کښې هم راغلي دي په دې خاطر يې عالم او طالب په پورتنی حديث کي په خاص ډول سره ذکر کړی دي.

د ذکر (۷۳) ګټې

يو مشهور محدث حافظ ابن قيم رحمة الله عليه چې يوه اوږده او روښانه رساله چې په عربي کښې د (الوابل الصيف) په نامه ده د ذکر په فضائلو کښې ليکلې ده. دی مبارک په هغه رساله کښې فرمايي چې په ذکر کښې تر (۱۰۰) زياتې فايدې دي چې د هغو څخه يې د شمېرې په حساب (۷۹) فايدې ذکر کړې دي چې په لنډ ډول يې نمبر واره دلته ذکر کوم خو څرنګه چې د هغوی څخه يې ځينی فايدې څو فايدې لري نو ځکه سلو ته رسيږي.

۱- ذکر شيطان دفع کوي او د هغه قوت ورماتوي.

۲- د الله جل جلاله د خوشالی سبب دئ.

۳- د زړه څخه فکر او غم ليرې کوي.

۴- په زړه کښې خوشالي پيدا کوي.

۵- مخ او زړه روښانه کوي.

۶- بدن او زړه ته قوت ورکوي.

۷- رزق ډيروي.

۸- ذکر کونکي ته د رعب جامه وراغوستل کيږي چې په کتلو يې رعب پرېوزي او ليدونکي ته خوړوالی نصيب کيږي.

۹- د الله ﷻ محبت پیدا کوي، او دا محبت د اسلام روح، د دین مرکز، د سعادت (نیک بختۍ) او د اخلاص مدار دی. څوک چې دا غواړي چې د الله ﷻ محبت ته ورسیږي هغه ته پکار ده چې د الله ﷻ ذکر ډېر کوي لکه څرنګه چې ویل او تکرار کول د علم دروازه ده همدغسې ذکر د الله ﷻ د محبت دروازه ده.

۱۰- په ذکر سره مراقبه نصیب کېږي چې بنده د احسان و مرتبې (درجې) ته رسوي په همدې مرتبه کښې د الله ﷻ عبادت داسې په نصیب کېږي لکه چې الله ﷻ ویني (همدا مرتبه د صوفیانو د مقصد دپای نقطه ده).

۱۱- د الله ﷻ و طرف ته رجوع پیدا کوي چې په دې کښې به داسې وخت راسي چې په هر شي کښې دالله ﷻ دده د پناه ځای جوړ سي او په هر مصیبت (غم) کښې د هغه و طرف ته توجه وسي.

۱۲- الله ﷻ ته نژدې کیدل پیدا کوي، او هرڅومره چې ذکر ډېرېږي په هغه اندازه یې والله ﷻ ته نژدې کیدل ډیرېږي، او څومره چې د ذکر څخه غفلت کېږي په هغه اندازه د الله ﷻ څخه لیري والی پیدا کېږي.

۱۳- د الله ﷻ د معرفت (پېژندلو) دروازه په خلاصیږي.

۱۴- د الله ﷻ بېره او د هغه لویي په زړه کښې پیدا کوي او د الله ﷻ سره حُضوري (نژدېکېدل) پیدا کوي.

۱۵- د الله ﷻ په دربار کښې د یادولو سبب دئ لکه چې الله ﷻ فرمایي: فاذکرونی اذکرکم (تاسو مایادوی زه به تاسو یادوم) او په حدیث شریف کښې راغلي دي: من ذکرني في نفسه ذکرته في نفسي (الحدیث) لکه چې د ایاتونو او حدیثونو په بیان کښې مخکې په تفصیل سره تیر سو. که چیري په ذکر کښې ددې څخه ماسوا بل هیڅ فضیلت نه وي بیا هم د شرافت او عزت په اعتبار سره دایو فضلیت کافي و خو ددې څخه ماسوا نور هم ډېر فضیلتونه لري.

۱۶- زړه ژوندی کوي. حافظ ابن تیمیه رحمة الله علیه فرمایي چې د الله ﷻ ذکر د زړه لپاره داسې دی لکه د ماهي لپاره اوبه په خپله فکر وکړی چې بېله اوبو د ماهي څه حال وي؟

۱۷- د زړه او روح روزي ده که چیري و دې دواړو ته خپله غذا ورنسي داسې دی لکه وبدن ته چې د هغه خوراک ورنه کړل سي.

۱۸- زړه د زنګ څخه پاکوي لکه په حدیث کښي چي هم راغلي دي. پر هر شي باندي مناسبه خیري وي د زړه خیري او زنګ خواهشات او غفلت دی او ذکر د هغه لپاره د پاکولو کار کوي

۱۹- غلطي او ګناهونه لیري کوي.

۲۰ و بنده ته چي د الله ﷻ څخه کومه وار خطایي وي هغه لیری کوي. یعني غافل او بې خبره زړه د الله ﷻ لخوا څخه یو ډول وار خطاء وي هغه وار خطایی په ذکر سره لیري کیږي.

۲۱- بنده چي کوم ذکرونه کوي هغه د عرش د څلورو خواوو څخه د بنده یادل کوي لکه چي په دریم باب، دوهم فصل اولسمه شمېره حدیث کښي راغلي دي.

۲۲- څوک چي د استراحت په وخت کښي د الله ﷻ ذکر کوي الله ﷻ د مصیبت (غم) په وخت کښی دی یادوي.

۲۳- د الله ﷻ د عذاب څخه د خلاصېدو وسیله ده.

۲۴- د سکېنې او د رحمت د نازلېدو سبب دئ او ملائکی د ذکر کونکو څخه چاپیره کېږي (د سکېنې معنی ددې باب په دوهم فصل اتمه شمېره حدیث کښي تیره سوي ده)

۲۵- د ذکر په برکت سره ژبه د غیبت، چغلی، درواغ ویلو، بدو او عبثو ویناوو څخه ساتل کیږي لکه چي د تجربي او مشاهدې (لیدلو) څخه ثابته سوی ده چي کوم کس چي ژبه يې د الله ﷻ په ذکر سره عادت وي هغه عموماً ددې شیانو څخه محفوظ (ساتل سوی) وي او د چاژبه چي د الله ﷻ په ذکر سره عادت نوي هغه په هر ډول بې کاره کارو کښي اخته وي.

۲۶- د ذکر مجلسونه د ملائکو مجلسونه دي او د بې کاره کارونو او غفلت مجلسونو د شیطان مجلسونو دي. اوس و انسانانو ته اختیار دي چي کوم ډول مجلسونه چي غواړی خوښ دي یې کړي. او هر کس هغه شی خوښووي چي ور سره مناسبت او اړیکي ساتي.

۲۷- د ذکر په خاطر ذکرکونکی او ور سره ناست کسان ټول نیک بخته کېږي او په غفلت کښي اخته کسان او هغه چي ور سره ناست وي ټول بدبخته دي.

۲۸- ذکر د قیامت په ورځ (ذکرکونکی) د افسوس څخه ساتي ځکه چي په حدیث شریف کښي راغلي دي په هغه مجلس کښي چي د الله ﷻ ذکر نوي نو د قیامت په ورځ به د افسوس او تاوان سبب وي.

۲۹- که چیری د ذکر سره په یوا ئي والي کښي ژړا هم نصیب سي نو د قیامت د ورځي په تاوو ګرمی کښی چي هر کس د حشر په میدان کښي ایشی دی به د عرش په سیوری (سایه) کښي وي.

۳۰- په ذکر کښي اخته کسانو ته به تر هغه ټولو شیانو زیات ورکړل سي چي و دعاغوښتونکو ته ورکول کېږی. په حدیث شریف کي د الله ﷻ قول نقل سوی دی څوک چي زما و دعا ته فارغ نه وي هغه ته به زه تر دعا غوښتونکو بهتر شی ورکوم.

۳۱- ذکر دد ې سره چي تر ټولو اسانه عبادت دی خو بیا هم تر ټولو عبادتونو بهتر دی ځکه چي ژبه ښورول د بدن د ټولو اندامونو تر ښورولو اسانه ده.

۳۲- د الله ﷻ ذکر د جنت بوټی دی (لکه چي په دریم باب، دوهم فصل ځلورمه شمېره حدیث کښي په تفصیل سره راځي).

۳۳- په ذکر کښي چي څومره د بخښنی او انعام وعده ده په بل هیڅ عمل کښي نسته لکه چي په یوه حدیث شریف کښي راغلي دي چي څوک: لا اله الا الله وحده لا شریک له، له الملک وله الحمد وهو علی کل شیئ قدیر. د ورځي (۱۰۰) واره ووایې نو دده لپاره د لس غلامانو د ازادولو د ثواب په اندازه ثواب دی، سل نیکی دده لپاره لیکل کېږي، سل بدی یې معافیږي تر ماښامه پوري د شیطان څخه محفوظ کیږی او بل هیڅوک له ده څخه بهتر نسی کېدلای. البته هغه څوک چي دده څخه زیات عمل وکړي. همدا ډول ډېر نور حدیثونه هم سته چي د ذکر بهتروالی پر ټولو عملونو باندي ځني معلومیږی (چي ډېر په دې رساله کښي ځني ذکر سوی دي.)

۳۴- د همیشني ذکر په برکت ددواړو جهانو د بدبختی سبب چي نفس دی د هیرولو څخه په امن کېږي ځکه چي د الله ﷻ یادول د نفس او خپلو ټولو مصلحتونو د هېرولو سبب دی لکه چي الله ﷻ فرمایلي دي:

وَلَا تَكُونُوا۟ كَٱلَّذِينَ نَسُوا۟ ٱللَّهَ فَأَنسَىٰهُمْ أَنفُسَهُمْ ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَـٰسِقُونَ ﴿١٩﴾ (۸۴)

ژباړه:- تاسو د هغو خلګو په ډول سره مه کېږی چي د الله ﷻ څخه یې بې پروایي وکړه نو الله ﷻ هغوی د خپلو ځانونو څخه بې پروا کړل بې شکه دغه کسان هم فاسقان دي.

یعنی د هغو عقل داسي ولاړی چي په خپله حقیقي ګټه پوه نه سوه. کله چي بنده خپل نفس هیر کړی نو د هغه د مصلحتونو او ګټو څخه بې خبره سي او دایې د بربادی سبب وګرځي لکه چي یو څوک باغ او مځکه ولري او هغه هیره کړي او په هغه ځان نه خبروي نو خامخا به هغه له منځه ولاړه سي او ددې څخه هغه وخت خلاصیدای سي چي د الله ﷻ په ذکر سره ژبه تروتازه وساتي او وذکر ته داسې خوشحاله سي لکه د تندي په وخت کي چي اوبو ته

(۸۴) سورة الحشر الاية (۱۹)

خوشالیږي، دلوږي په وخت کښې خوراک ته د ډېرې ګرمی په وخت کې ډېرو یخو اوبو ته او ډېر یخ په وخت کې کور او جامو ته بلکې د الله ﷻ ذکر ددې ټولو څخه حقداره دی ځکه چې ددې شیانو په کېدلو سره د بدن بربادي ده چې د زړه او روح د بربادی په مقابله کښې هیڅ شی هم نه دي.

۳۵- ذکر د بنده لپاره به بستر او بازار کښې په صحت او مرض کښې او د نعمتونو او خوندونو د اخته کېدو په وخت کښې ترقي ده او بل داسي هیڅ شی نسته چې هر وخت د ترقی سبب وګرځي. تر داسي اندازي پوري چې د چا زړه د ذکر په نور سره روښانه سي او هغه بیده هم د غافل انسان څخه مخکې کیږي.

۳۶- د ذکرنور په دنیا او قبر کښې هم ورسره وي او په اخرت کښې به پر پل صراط باندی تر ده مخکی ځي . الله ﷻ فرمایي:

أَوَمَن كَانَ مَيۡتًا فَأَحۡيَيۡنَٰهُ وَجَعَلۡنَا لَهُۥ نُورًا يَمۡشِي بِهِۦ فِي ٱلنَّاسِ كَمَن مَّثَلُهُۥ فِي ٱلظُّلُمَٰتِ لَيۡسَ بِخَارِجٖ مِّنۡهَاۚ (۸۵)

ژباړه: داسي کس چې اول مړ یعنیٰ ګمراه و بیا موږ هغه ژوندی یعنی مسلمان کړی. او داسي نور مو ورکړی چې د هغه نور په وسیله په خلګو کښې ګرځي را ګرځي یعني هغه نور دده سره هر وخت وي ایا په بدحالی کښې دغه کس د هغه کس په ډول دی چې د ګمراهی په تیارو کښې ګیر وي چې د هغه څخه وتلای نسي.

اول کس مؤمن دی چې پر الله ﷻ ایمان لري او د هغه په محبت، معرفت او په ذکر روښانه وي او دوهم کس ددې شیانو څخه خالي دی حقیقت دادی چې دا نور ډېر لوی شی دی او په دې نور کښې پوره کامیابي هم ده ځکه رسول الله ﷺ ددې په طلب او دعا کښې زیات والی کوی او په هر جزء (اندام) کښې به یې نور طلبی. لکه چې په حدیثونو کښې ډېري داسي دعاګاني سته چې په هغه کښې رسول الله ﷺ دا دعا وغوښتل چې اې الله ﷻ! زما په غوښه، هډوکو، پلو، ویښتانو، پوست، غوږ، سترګه، پورته، کښته، راسته طرفته، چپه طرفته، مخکی او او وروسته ټول نور وګرځوي تر داسي اندازي پوري چې دادعا به یې هم کول چې ما دسرڅخه تر پښو پوري ټول نور وګرځوي چې زما ذات نور جوړ سي. ددغه نور په اندازه په عملونو کښې نورانیت راځي. آن تر دې پوري چې د ځینو خلګو نیک عملونه په داسي حالت

(۸۵) سورة الانعام الاية (۱۲۲)

کښي اسمان ته ځي چي ورباندي د لمر په شان رڼا وي او همدغه د ول نور به د د دغه خلګو پر مخونو باندي د قيامت په ورځ هم وي.

۳۷- ذکر د تصوفو اساسي اصل دی او د ټولو صوفيانو په ټولو طريقو کښي ستنه. د ذکر دروازه خلاصه سي د هغه لپاره و الله ﷻ ته درسېدو دروازه خلاصه سوه او چا لپاره چي د ذکر دروازه خلاصه سي د هغه لپاره و الله ﷻ ته درسېدو دروازه خلاصه سوه او څوک چي و الله ﷻ ته ورسېدی هغه چي هر څه غواړي پيدا کولای يې سي ځکه چي د الله ﷻ سره د هيڅ شي کمی نسته.

۳۸- د انسانانو په زړه کښي يو کونج دی چي د الله ﷻ د ذکر څخه ماسوا په هيڅ شی سره نه ډکيږي او کله چي د ذکر پر زړه باندی قبضه وسی نو نه يواځي دغه کونج ډک سي بلکي ذکر کوونکی بي ماله مالدار کوي، بې له قومه او ډلي څخه يې د خلکو په زړونو کښي عزتمن کوي او بې بادشاهی بادشاه کوي او څوک چي د ذکر څخه غافل او بې خبره وي هغه د مال، دولت، قوم، قبيلې او حکومت سره ذليله او خوار کيږي.

۳۹- ذکر پاشلي راغونډوي او راغونډي سوي پاشی، ليري رانژدي کوي او نژدې ليري کوي. پاشلي راغونډوي د دې مطلب دادي چي د بنده په زړه کښي مختلف غمونه، فکرونه، خفګانونه وي هغه ليري کوي او په زړه کښي تسلي (ډاډ) پيدا کوي. او راغونډ سوي پاشي د دې مطلب دادی چي پر بنده باندي چي کوم فکرونه راغونډ سوی وي هغه تيت او پرک کوي، د بنده کومي غلطی او ګناهونه چي راغونډ سوی وې هغه تيت و پرک کوي، پر بنده باندي چي کوم د شيطان لښکر مقرر سوی دی هغه تيت او پرک کوي، اخرت چي ليری دی هغه نژدې کوي. او دنيا چي نژدې ده هغه ليري کوي.

۴۰ ذکر انسان د خوبه کښينوي، د غفلت څخه يې بيداره کوي، او زړه چي کله بيده وي نو خپلي ټولي فايدې ضائع کوي.

۴۱- ذکر يوه درخته ده چي د معارفو ميوه کوي د صوفيانو په اصطلاح کښي داحوالو او مقاماتو ميوه لاس ته په راځي او څومره چي په ذکر کښي ډير والی وي نو په هغه اندازه به د دغه درختي بيخ مضبوط (قوي) وي او بيخ چي څومره قوي وي په هغه اندازه به ميوه پرې راځي.

۴۲- ذکر د هغه پاک ذات وخواته نژدې کېدل کوي د چا ذکر چي کيږي تر دې پوري چي د هغه سره يې ملګريتوب په نصيب سي. لکه چي په قرانکريم کښي راغلي دي: ان الله مع الذين اتقوا (يعني الله ﷻ د تقوا دارو سره دی) او په حديث شريف کښي راغلي دي: انا مع عبدي ما ذکر ني (يعني زه د خپل بنده سره يم تر هغه و خته پوري چي ما يادوي) په يوه بل حديث کښي

راغلي دي چي زما ذکر کوونکي زما سري دي زه دوی د خپل رحمت څخه نه لیری کوم، کچیري دوی پر خپلو گناهونو باندي توبه وکاږی نو زه ددوی دوست یم او که چیري دوی توبه ونه باسي نو زه ددوی طبیب (علاج کونکی) یم او ددوی به ددې لپاره په پریشانیو کښي اخته کړم چي ددغه گناهونو څخه يې پاک کړم. د ذکر په خاطر چي د الله ﷻ کوم ملگرتیا په نصیب کیږي هغه داسي ملگرتیا ده چي د هغه سره برابره بله هیڅ ملگرتیا نسته چي هغه نه په ژبه بیانېدلای سي او نه په لیکلو کښي راتلای سي او خوند يې هغه څوک پېژندلای سي چي وچاته دا ملگرتیا په نصیب سي. (اللهم ارزقني منه شيئا)

۴۳- ذکر د غلامانو دازادولو برابر دئ، د مالونو د صدقه کولو برابر دئ د الله ﷻ په لاره کښي د جهاد برابر دئ (په ډېرو روایتونو کښي دا ډول مضمون د مخه تېر سوی دئ او وروسته هم راتلونکی دئ.

۴۴- ذکر د شکر بیخ دئ څوک چي د الله ﷻ ذکر نه کوي د هغه شکر هم نه ادا کوي. په یوه حدیث شریف کي راغلي دي چي حضرت موسی ﷺ و الله ﷻ ته خواست وکړی چي تا پر ماډېر احسانونه کړي دي و ماته طریقه راوښیه چي زه ستاډېر شکر ادا کړم؟ الله ﷻ وفرمایل: څومره چي ته زما ذکر کوي پر هغه اندازه به شکر ادا کیږي. په بل حدیث کښي د حضرت موسي ﷺ دا درخواست بیان سوی دی چي اې الله ﷻ! ستاد شان سره مناسب شکر څنگه ادا کیږي؟ الله ﷻ وفرمایل: ستا ژبه چي هر وخت په ذکر سره تر او تازه وي.

۴۵- په پرهیزگارانو خلگو کښي دالله ﷻ په نزد د ډېر عزت وړ خلگ هغه څوک دي چي هر وخت په ذکر کښي مشغول (اخته) وي. ځکه چي د تقوا اخري حد جنت دی او دذکر اخري حد دالله ﷻ معیت دئ.

۴٦- په زړه کښي یو ډول سختي ده چي بیله ذکر نه نرمیږي

. ۴۷- ذکر د زړونو د نارغیو علاج دئ.

۴۸- ذکر د الله ﷻ سره ددوستۍ ریښه ده او د ذکر څخه غفلت د هغه سره ددښمنۍ ریښه ده.

۴۹- د الله ﷻ د ذکر سره برابر بل هیڅ شی د نعمتونو راکښونکی نسته او د الله ﷻ د عذاب څخه لیری کوونکی نسته.

۵۰- پر ذکر کونکو باندي دالله ﷻ رحمت او دملائکو دعاوي.

۵۱. څوک که داغواړي چي په دنیا کښي دي یم او د جنت په باغونو کښي دي اوسیږم نو هغه دي د ذکر په مجلسونو کښي کښیني ځکه چي دا مجلسونه د جنت باغونه دي.

۵۲- د ذکر مجلسونه د ملائکو مجلسونه دي (په تیرسوو حدیثونو کښې دا مضمون په تفصیل سره تیرسوی دئ.

۵۳- الله ﷻ په ذکر کوونکو باندي د ملائکو مخ ته فخر کوي.

۵۴- همیشه ذکر کوونکی به و جنت ته په خندا سره داخلیږي.

۵۵- ټول عملونه هم د الله ﷻ د ذکر لپاره مقرر سوي دي.

۵۶- په ټولو عملونو کښې هغه عمل بهتر دئ چي په هغه کښې ډېر ذکر وکړل سي. په روژو کښې د هغه چا روژه بهتره ده چي پکښې د ذکر ډېروالی وي په حج کښې هغه حج بهتر دی چي په هغه کښې د ذکر ډېروالي وي په همدې ډول د نورو عملونو حکم هم داسي دئ لکه جهاد او نور.........

۵۷- ذکر (چي خپله هم نفلي عمل دی) د نورو نفلي عبادتونو قائم مقام دئ لکه په حدیث کښې چي راغلي دي چي غریبانو ورسول الله ﷺ ته شکایت وکړی چي مالدار خلګ لوی، لوی درجې د ځان لپاره حاصلوي دوی په روژه او لمنځو کښې زموږ سره شریک دي او د خپلو مالونو په وجه حج، عمره او جهاد کښې زموږ څخه د مخه کیږي. رسول الله ﷺ ورته وفرمایل چي زه وتاسو ته داسي شی درښیم چي په هغه سره هیڅوک وتاسي ته نسي رسېدلای مګر هغه څوک چي دا عمل وکړي رسول الله ﷺ د هر لمانځه څخه وروسته د سبحان الله، الحمدلله او الله اکبر د ویلو امر ورته وکړی (چي په دریم باب، دوهم فصل او وم حدیث کښې راځي) رسول الله ﷺ د حج، عمرې، جهاد او نورو عبادتونو په بدل کښې ذکرونه مقرر کړي دي.

۵۸- په ذکر سره د نورو عبادتونو مرسته راځي چي د دې ذکر په ډېر والي سره په نورو عبادتونو کي خوند راځي او په هیڅ عبادت کښې تکلیف او بوج نه پاتېږي.

۵۹- د ذکر په وجه هر تکلیف او ګران شی اسانیږي هر ډول بوج سپکیږی او مصیبت (غم) په لیري کیږي.

۶۰- د ذکر په خاطر د زړه څخه بېره او ترهه لیری کیږي او د بیري پر ځای اطمینان (ډاډ) پیدا کیږي، د بیري په لیري کولو کښې د الله ﷻ و ذکر ته خصوصي دخل دئ او دا د ذکر خاص تاثیر دی څومره چي ذکر ډیر وي په هغه اندازه به اطمینان نصیب کیږي او بیره به لیري کیږي.

۶۱- د ذکر په خاطر په بنده کښې یو خاص قوت پیدا کیږي چي د هغه وجه داسي کارونه کولای سي چي ګران ښکاره کیږي. رسول الله ﷺ و خپلې لور حضرت بي بي

فاطمة رضي الله عنها ته هغه وخت وفرمايل چي هغې دميچني د تکليف او کارونو دزيات بار په خاطر يو خدمتګار دده مبارک څخه وغوښتي نوده مبارک د بيده کېدو په وخت کښي ۳۳ واره د سبحان الله او الحمدلله او څلور دېرش واري د الله اکبر د ويلو امر ورته وکړی او وې فرمايل چي دا تر خادم بهتر دي.

٦٢- داخرت دکار لپاره کار کوونکي تر ټوله ځغلي خو پدې ځغستا کښي د ذاکرينو ډله تر ټولو مخکي ده د عمر مولی غُفره رحمة الله عليه څخه نقل سوی دئ چي د قيامت په ورځ چي خلګو ته د عملونو ثواب ورکړل سي نو ډېر خلګ به په دغه وخت کښي افسوس وکړي چي موږ ولي دذکر اهتمام ونکړی چي تر ټولو اسانه عمل و. په يوه حديث کښي راغلي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: مفرد خلګ د مخه ولاړل. صحابه کرامو رضي الله عنهم وويل چي مفرد خلګ څوک دي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل چي په ذکر باندي ځان قربانونکي خلګ دي چي ذکر به دهغو بارونه سپکوي.

٦٣- د ذکر کوونکي تصديق الله جل جلاله کوي او هغه ريښتني بولي. او چاته چي په خپله الله جل جلاله ريښتني ووايي د هغه حشر (دقيامت په ورځ را پاڅېدل) ددروغجنو سره نسي کېدلای. په حديث کښي راغلي دي چي کله بنده ووايي لا اله الا الله والله اکبر نو الله جل جلاله وفرمايي زما بنده ريشتيا وايي زما څخه ماسوا بل هيڅوک د عبادت لائق (ور) نسته او تر ټولو لوی يم.

٦٤- په ذکر سره په جنت کښي کور اباديږي. کله چي بنده ذکر پرېږدي نو ملائکی، جوړول پرېږدي. کله چي هغو (ملائکو) ته وويل چي تاسو ولي د فلانی ابادي بنده کړه؟ نو هغه ووايي چي د هغې ابادی سامان تر اوسه لانه دی راغلی. په يوه حديث شريف کښي راغلي دي چي يو څوک سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم ووايي نو دده لپاره په جنت کښي يوه ګنبده جوړه سي.

٦٥- ذکر ددوزخ لپاره پرده ده. که چيري يو څوک د يو بد عمل په وجه ددوزخ حقدار سي. نو ذکر به په منځ کښي پرده جوړه سي. او څومره چي ذکر ډېر وي په هغه اندازه به دا پرده پخه وي.

٦٦- دذکر کونکي لپاره ملائکي بخښنه غواړي. د حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روايت سوی دی چي کله بنده سبحان الله وبحمده يا الحمد الله رب العلمين ووايي نو ملائکی دعا کوي چي اې الله جل جلاله ده ته بخښنه وکړه.

۶۷- په کوم غره یا میدان کي چي د الله ﷻ ذکر وکړل سي هغه فخر کوي. په حدیث شریف کښي راغلي دي چي یو غر و بل غره ته ناره کوي او پوښتنه ځنی کوي چي نن په تا کي ذکر کوونکی تېر سوی دئ؟ که چیري هغه وویل چي تېر سوی دی نو هغه خوشحاله سي.

۶۸- ډېر ذکر د نفاق (منافقت) څخه د خلاصېدو لپاره اطمینان او سند دی ځکه چي الله ﷻ د منافقانو دا صفت بیان کړی دئ. (لا یذکرون الله الا قلیلا ط) (یعني دغه منافقان د الله ﷻ ذکر نه کوي مګر ډېر لږ یې کوي) د کعب احبار رحمة الله علیه څخه نقل سوی دئ چي څوک د الله ﷻ ډېر ذکر کوي هغه د نفاق څخه خلاص دی.

۶۹- د ټولو نیکو عملونو په مقابل د ذکر لپاره یو خاص خوند دی چي په بل هیڅ عمل کښي نسي پیدا کېدلای. که چیري په ذکر کښي دد خوند څخه ماسیوا نور هیڅ فضیلت نه وي نو همدا خوند بس دی دد شی لپاره کافي دئ. مالک بن دینار رحمة الله علیه فرمایي: په هیڅ خوند اخستونکي شی کښي د ذکر سره برابر خوند نسي پیدا کیدلای.

۷۰- د ذکر کوونکو په مخونو کښي به په دنیا کي ښکلا وي او په اخرت کښي به نور وي.

۷۱- څوک چي په لارو او کورونو کښي په سفر او کور کښي ډېر ذکر کوي نو په قیامت کښي به د هغه لپاره شاهدي ورکونکي ډېر وي. الله ﷻ د قیامت د ورځي په باره کي فرمایي: (یومئذ تحدث اخبارها. (په هغه ورځ به مځکه خپل خبرونه بیانوي) رسول الله ﷺ وفرمایل چي د مځکي خبرونه پیژنی؟ صحابه کرامو رضي الله عنهم بې خبري ښکاره کړه. رسول الله ﷺ وفرمایل چي که نارینه یا ښځی په مځکه کي څه کار کړی وي هغه به ووښیي چي په فلانی ورځ په فلانی وخت کي یې پر ما باندي دا کار کړی دئ. (نیک کار وي او که بد کار وي) نو ځکه په مختلفو ځایونو کښي د ذکر کوونکو لپاره به ډېر شاهدان وي.

۷۲- ژبه چي څو مره وخت په ذکر کښي اخته وي د دروغو، غیبت، بې فایدې خبرو او نورو څخه به محفوظ وي ځکه چي ژبه خو چوپ پاته کېدای نسي یا به د الله ﷻ په ذکر کښي مشغوله وي که نه نو په عبثو خبرو کښي به اخته وي. دغه ډول د زړه حال هم دی که چیري زړه د الله ﷻ په محبت کښي مشغول نه سي نو د مخلوق په محبت کښي به اخته سي.

۷۳- د انسانانو ښکاره دښمنان شیطانان دي چي په هر ډول وارخطایی کښي یې اچوي او په هري خوا کښي یې ګیروي. د کوم چا چي دا حال وي چي دده دښمنان هر وخت دده پر شاوخوا وي. دده چي هر حال وي هغه ښکاره دئ او دښمنان یې هم داسي وي چي یو یې غواړي چي هر تکلیف ز ه ورسولای سم هغه ورسوم. دد لښکرو څخه لیري کوونکی شی

د ذکر څخه ماسوا بل هیڅ شی نسته په ډېرو حدیثونو کښې ډېرې دعاګانې راغلې دي چې د هغو په ویلو سره شیطان نژدې نه سي راتلای د بیده کېدو په وخت کښې په ویلو سره ټوله شپه په حفاظت کښې او سیږي. حافظ ابن قیم رحمة الله هم داسې ډېرې دعاګانې ذکر کړې دي. د دې څخه ماسوا يې په شپوږو لمبرو کښې د ذکر ډولونه، یو پر بل باندې فضیلت او د ذکر ځینې غټ فضیلتونه ذکر کړي دي بیا يې په پنځه اویا (۷۵) فصلونو کښې خاص دعاګانې چې په خاص وختونو کښې راغلې دي ذکر کړې دي چې د اختصار په خاطر مې پرېښودلې. کوم چاته چې توفیق ورکړل سوی وي د هغو لپاره دا ذکر سوي شیان هم تر بسوالي زیات دي. او چاته چې توفیق نه وي ورکړل سوی د هغه لپاره په زرګونو فضائل هم بې کاره دي.

وما توفيقي الا باالله عليه توكلت واليه انيب ط

دوهم باب

د کلمې طیبې (لا اله الا الله محمد رسول الله) فضیلتونه

کلمه طیبه چې ورته کلمه توحید هم ویل سوی ده څومره ډېر چې په قرانکریم او حدیثونو کښې ذکر سوې ده شاید چې هیڅ شی کې دومره نه وي ذکر سوی کله چې اصلي مقصد د ټولو شریعتونو او ټولو انبیاؤ (علیهم السلام) در الیږلو څخه توحید دی نو بیا هر څومره چې د دې کلمې بیان وسي نو ورسره مناسب دی. په قرانکریم کښې په مختلفو عنوانونو او په مختلفو نومونو سره داپاکه کلمه ذکر سوې ده. لکه په کلمه طیبه، قول ثابت، کلمه تقوای، مقالید السموات والارض (د اسمانونو او مځکې کیلاني) او په نورو الفاظو سره ذکر سوې ده چې وروسته به راسي . امام غزالي رحمة الله په احیاء العلوم کښې لیکلي دي چې دا د توحید کلمة ده، داخلاص کلمة ده، دتقوای کلمة ده، عروة الوثقی کلمة ده، دعوة الحق کلمة ده، ثمن الجنة ده. څرنګه چې په قرانکریم کښې دا کلمه په مختلفو عنوانونو (نومونو) سره ذکر سوې ده نو د دې لپاره مې دا باب پر درو فصلونو وویشی.

اول فصل : — په دې فصل کښې د هغه ایاتونو ذکر دی چې کلمه طیبه ور څخه مراده او د کلمې طیبې لفظ پکښې نوي . په همدې خاطر مې د دغو آیاتونو لنډ تفسیر د اصحابو کرامو رضي الله عنهم څخه او په خپله د سید البشر علیه افضل الصلوة و التسلیم څخه نقل کړی دی.

دوهم فصل: - په دې فصل کښې هغه آیاتونه دي چې بشپړه کلمه طیبه یعني لا اله الا الله پکښې ذکر سوی ده یا په لږ څه بدلون سره ذکر سوي ده لکه چې لا اله الا هو پکښې وي. ځونکه چې په دې کښې دا کلمه په خپله موجوده ده یا د دې ژباړه په نورو الفاظو سره ذکر سوي ده په دې خاطر مي د هغو ایاتونه د ترجمې ضرورت ونه بلي. یوائې مي د سورت او رکوع په حواله بس والی وکړی.

دریم فصل: - په دې فصل کښې د هغو حدیثونو ژباړه او مطلب ذکر سوی دی چې د دې پاکي کلمي حقونه او د ویلو امرېې سوی دی.

وما توفیقی الا باالله ط

اول فصل

هغه ایاتونه چې پکښې د کلمي طیبې لفظ سته او مراد ور څخه کلمه طیبه ده.

۱- أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِى ٱلسَّمَآءِ ﴿٢٤﴾ تُؤْتِىٓ أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍۭ بِإِذْنِ رَبِّهَا ۗ وَيَضْرِبُ ٱللَّهُ ٱلْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٥﴾ وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٍ كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ ٱجْتُثَّتْ مِن فَوْقِ ٱلْأَرْضِ مَا لَهَا مِن قَرَارٍ ﴿٢٦﴾ (۸۶)

ژباړه: - ایا وتاته معلومه نه ده چې الله ﷻ د کلمې څنګه ښه مثال بیان کړی دی چې دا ورته د یوې ښه پاکي درختي سره ده چې د هغې ریښې په مځکه کي ښخې وي او ښاخونه یې د اسمان و خواته ځي او دغه درخته د الله ﷻ په حکم په هر فصل کښې میوه ورکوي (ښه ترقي کوي) او الله ﷻ مثالونه ځکه بیانوي چې خلک پوه سي او د خبیثې کلمې (د کفر د کلمې) مثال داسي دی لکه یو خرابه درخته چې وي د مځکي د سر څخه را ایستل سوي او هغې (درختي) ته پر مځکه کښې مضبوط والي نه وي.

---

(۸۶) سورت ابراهیم ۴ ع

فایده: - حضرت عبد الله بن عباس ﷺ فرمایي چي د کلمې طیبي څخه کلمه شهادت یعني اشهدان لا اله الا الله مراد ده. چي ریښه یې د مؤمن په قول کښې ده او ددې ښاخونه په اسمان کښي دي د همدې په خاطر دمؤمن عملونه تر اسمانه پوري ځي او خبیثه کلمة شرک دی چي په دې سره هیڅ عمل نه قبلیږي. په یو بل حدیث شریف کښې عبد الله بن عباس ﷺ فرمایي: په هر وخت کښې دمیوې د ورکولو څخه مطلب دادی چي الله ﷻ په شپه او ورځ کښې هروخت یادوي.

حضرت قتاده تابعي رحمة الله علیه نقل کوي چي رسول الله ﷺ ته یو چا وویل: اې دالله ﷻ رسوله! دې مالدارو خلکو (د صدقو او خیراتو نو په وجه) ټول ثوابونه یو وړل. رسول الله ﷺ ورته وفرمایل داراته وښیه که چیري څوک سامانونه سر پرسر~~سره~~ کیږدې نو ایا اسمان ته به وخیژي؟ زه تاته داسي شی دروښیم چي د هغه ریښې په مځکه کښې وي او ښاخونه یې په اسمان کښې وي نو د هر لمانځه څخه وروسته لس لس واري. لا اله الا الله والله اکبر وسبحان الله والحمد لله وایه ددې ریښې په مځکه کي دي او ښاخونه یې په اسمانو کښې دي.

۲- مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡعِزَّةَ فَلِلَّهِ ٱلۡعِزَّةُ جَمِيعًاۚ إِلَيۡهِ يَصۡعَدُ ٱلۡكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ وَٱلۡعَمَلُ ٱلصَّٰلِحُ يَرۡفَعُهُۥۚ (۸۷)

ژباړه: - څوک چي عزت حاصلول غواړی (هغه دي دالله ﷻ څخه عزت حاصل کړي ځکه چي) ټول عزتونه دالله ﷻ لپاره دي هغه ته ښې کلمې رسیږي او نیک عملونه هغه رسول کیږي.

فایده: - د ښو کلمو څخه د ډیرو مفسرینو په نزد د لا اله الا الله کلمة مراد ده لکه چي عامو مفسرینو دغه خبره نقل کړې دي. او دوهم تفسیر یې دادی چي له دې څخه مراد د تسبیح کلمې دي چي وروسته به په دوهم باب کښې راسي.

۳- وَتَمَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدۡقًا وَعَدۡلًاۚ (۸۸)

ژباړه: - او ستا درب کلمه د ریشتیا والي او د انصاف (اعتدال) په اعتبار سره پوره ده.

فایده: - حضرت انس ﷺ د رسول الله ﷺ څخه روایت کوي چي درب د کلمې څخه مراد لا اله الا الله ده او داکثرو (ډیرو) مفسیرنو په نزد ددې څخه کلام الله ﷻ شریف (قرانکریم) مرادئ.

۴- يُثَبِّتُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱلۡقَوۡلِ

ژباړه: الله ﷻ مؤمنانو په پخه خبره (په

(۸۷) سورة فاطر ۲ ع

(۸۸) سورت الا نعام ۱۴ ع

ٱلثَّابِتِ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَفِي ٱلْأَخِرَةِ ۖ وَيُضِلُّ ٱللَّهُ ٱلظَّٰلِمِينَ ۚ وَيَفْعَلُ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ ﴿۲۷﴾ (۸۹)

کلمه طیبه سره) په د نیا او اخرت دواړو کښي مضبوط ساتي او کافران په دواړو جهانونو کښي ګمراه کوي او الله ﷻ (په خپل حکمت سره) چي څه غواړی هغه کوي.

فایده:- حضرت براء ﷺ فرمايي چي رسول الله ﷺ وفرمایل کله چي په قبر کښي سوال وسي نو مسلمانان به د لااله الا الله محمد رسول الله شاهدي ورکوي. او په دې آیت کریمه کښي د پخې خبري مراد همدا کلمه ده. د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه د همدې خبري نقل سوی دئ چي له دې څخه مراد د قبر سوال او جواب دئ.

حضرت عبد الله بن عباس ﷺ فرمايي کله چي مسلمان مري نو هغه وخت ملائکي حاضري سي هغه ته سلامي وايي، د جنت زيري ورکوي. کله چي هغه مړ سي نو ملائکی د هغه سره ځي د هغه د جنازې په لمانځه کښي شريکيږي کله چي د فن سي نو دی کښېنوي پوښتني ځني کوي چي په هغو پوښتونو کښي همدا پوښتنه هم ځنی کوي چي ستا شاهدي څه ده؟ دی په جواب کي ورته ووايي: اشهدان لا اله الا الله واشهدان محمد رسول الله. چي د دې ايات کريمه مراد همدا دئ.

حضرت ابو قتاده رحمة الله علیه فرمايي چي په دنيا کښی د پخې خبري څخه مراد لا اله الا الله کلمة ده او په اخرت کښي ور څخه مراد د قبر سوال او جواب دئ. د حضرت طاؤس رحمة الله علیه څخه همدا خبره نقل سوې ده.

۵- لَهُۥ دَعْوَةُ ٱلْحَقِّ ۖ وَٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَسْتَجِيبُونَ لَهُم بِشَىْءٍ إِلَّا كَبَٰسِطِ كَفَّيْهِ إِلَى ٱلْمَآءِ لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَٰلِغِهِۦ ۚ وَمَا دُعَآءُ ٱلْكَٰفِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَٰلٍ ﴿۱۴﴾ (۹۰)

ژباړه: ريښتنی بلل هم د هغه لپاره خاص دي او د الله ﷻ څخه ماسوا چي ثوک داخلګ بولي هغوی دده خواست له دې څخه زيات نه سي منظور ولای څومره چي اوبه د دغه کس درخواست منظوروي ثوک چي خپل دواړه لاسونه د اوبو و خواته خواره کړی(او هغه اوبه خپلي خواته راوغواړي) ددې لپاره چي دده وخولي ته راسي او هغه (الوتلي اوبه) هيڅ کله دده وخولې ته راتلونکي نه وي.او د کافرانو درخواست بيخی بې تاثيره دی.

---

(۸۹) سورة ابراهيم ۴ رکوع

(۹۰) سورة رعد ۲ ع

فايده:- حضرت علی ﷺ فرمايي: چي ددعوة الحق څخه مراد د توحيد يعني لا اله الا الله كلمه ده. د حضرت عبد الله بن عباس ﷺ څخه همدا نقل دی چي ددعوة الحق څخه شهادت د لا اله الا الله مراد دی همدا ډول د نورو حضراتو څخه هم دغسي نقل سوی دی.

٦- قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ تَعَالَوْا۟ إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَآءٍۭ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِۦ شَيْـًٔا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ ۚ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَقُولُوا۟ ٱشْهَدُوا۟ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ﴿٦٤﴾ (۹۱)

ژباړه: (اې محمده ﷺ) ته ورته ووايه چي اې اهل كتابو! ديوې داسي كلمې و طرف ته راسئ چي زموږ او ستاسو تر منځ (په منلو كښي) برابره ده هغه داده چي د الله ﷻ څخه به ماسوا موږ د بل هيچا عبادت نه كوو او د الله ﷻ سره به هيڅوک شريک نه جوړوو او زموږ څخه به هيڅوک بل چا لره رب نه جوړوي چي الله ﷻ پريږدو بيا تر ددې وروسته كه هغه اعراض (ډډه) وكړي نو ته ورته ووايه چي تاسو ددې شاهدان اوسئ چي موږ مسلمانان يو.

فايده:- ددې ايات شريف مضمون په خپله صفا معلوم دی چي د كلمې څخه مراد د توحيد كلمه طيبه ده. د حضرت ابو العاليه او مجاهد (رحمة الله عليهما) څخه ښكاره روايت دی چي د كلمې څخه مراد لا اله الا الله كلمة ده.

٧- كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ ۗ وَلَوْ ءَامَنَ أَهْلُ ٱلْكِتَٰبِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُم ۚ مِّنْهُمُ ٱلْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿١١٠﴾ (۹۲)

ژباړه:- (اې د محمد ﷺ امته!) تاسو (د ټولو مذهبونو تر خاوندانو). بهترينه ډله ياست چي هغه ډله و خلكو ته د فايدې رسولو لپار ښكاره سوې ده. تاسو خلكو ته نيک كارونه وښياست او د بدو خبرو څخه (يې) منع كړئ او په الله ﷻ ايمان ولرئ. كه چيري اهل كتابو هم ايمان راوړی وای نود هغو لپاره بهتره وه دهغو څخه خو ځنی مسلمانان دي (كوم چي ايمان يې راوړی دئ) خو ددوی ډېره برخه فاسقان دي.

(۹۱) سورة ال عمران ۷ ع
(۹۲) سورة ال عمران ۱۲ ع

فایده:- حضرت عبد الله بن عباس ﷺ فرمايي چي د (تأمرون بالمعروف) مطلب دا دئ چي ددې امر کوئ چي هغوى دلا اله الا الله شاهدي ورکړي او دالله ﷻ د امرنو اقرار وکړي او لا اله الا الله ترټولو شیانو بهتر شی دی او ترټولو شیانو اعلی (لوړ) شی دئ.

۸- وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ ٱلَّيْلِ ۚ إِنَّ ٱلْحَسَنَٰتِ يُذْهِبْنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ۚ ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ ﴿١١٤﴾ (۹۳)

ژباړه:- (اې محمد ﷺ!) ته د لمانځه پابندي کوه دورځي پر دواړو سرونو باندي او د شپې په یوه څه برخو کښي بېشکه نیک کارونه بد کارونه خرابوي (د عملنامې څخه) دا خبره نصیحت منونکو ته یو نصیحت دی.

فایده:- ددې ایت شریف په تفسیر کښي ډېر حدیثونه راغلي دي چي په هغو کښي رسول الله ﷺ ددې ایت شریف وضاحت کړی دی او فرمايي چي نیکی (د عملنامې څخه) بدی خرابوي.

حضرت ابوذر ﷺ فرمايي چي ما ورسول الله ﷺ ته وویل یارسول الله ﷺ! ماته نصیحت وکړه. رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله ﷻ څخه ېېره کوه، کله چي بدي در څخه وسي نو ژر نیکي وکړه چي د هغې بدله وګرځي او بدي لیری سي. ماوویل اې د الله ﷻ رسوله ﷺ! لا اله الا الله هم په نیکیو کښي شمېرل کیږي؟ یعني ددې وظیفه او ویل هم په دې کښی داخل دي. رسول الله ﷺ وفرمایل چي دا خو په نیکیو کښي بهترین شی دئ. حضرت انس ﷺ د رسول الله ﷺ څخه روایت کوي چي بنده په شپه یا ورځ کښي کوم وخت لا اله الا الله ووایي نو د هغه دعملنامې څخه بدی پرېولل سي.

۹- إِنَّ ٱللَّهَ يَأْمُرُ بِٱلْعَدْلِ وَٱلْإِحْسَٰنِ وَإِيتَآئِ ذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَيَنْهَىٰ عَنِ ٱلْفَحْشَآءِ وَٱلْمُنكَرِ وَٱلْبَغْىِ ۚ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿٩٠﴾ (۹۴)

ژباړه:- بېشکه الله ﷻ حکم کوي دعدل او احسان او خپلوانوته دورکړي او منع کوي بې حیایی د خبرو څخه او د بدو خبرو څخه او پر چا ظلم کولو څخه الله ﷻ تاسو ته ددې لپاره نصیحت کوي چي تاسو نصیحت قبول کړئ.

---

(۹۳) سورة هود الاية (۱۱۴)

(۹۴) سورة نحل الاية (۹۰)

فایده:- د عدل معنی په تفسیرونو کښې مختلفه راغلې ده. یو تفسیر چې د عبد الله بن عباس ﷺ څخه هم نقل سوی دئ په هغه تفسیر کي راغلي دي: د عدل څخه مراد د لا اله الا الله اقرار کول دي. او د احسان څخه مراد د فرضونو ادا کول دي.

۱۰- يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ﴿٧٠﴾ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا ﴿٧١﴾ (۹۵)

ژباړه:- اې مؤمنانو! دالله ﷻ څخه ویرېږئ دراستی (پخه) خبره وواياست الله ﷻ به ستاسو عملونو ښه کړي او ګناهونه به سو معاف کړي او څوک چي د الله ﷻ او د هغه درسول الله ﷺ اطاعت کوي هغه به ویوې کامیابی ته ورسيږي.

فایده:- د حضرت عبد الله بن عباس او حضرت عکرمه ﷺ دواړو څخه روایت دئ چې د (قولوا قولا سديداً) معنی داده چي لا اله الا الله وایاست.

په حدیث شریف کښې راغلي دي چي تر ټولو زیاته پاخه عملونه درې شیان دي: اول په هر حال کښې د الله ﷻ ذکر کوي (غم وي که خوشالي - مسکنت وي که پراخي) دوهم د ځان لپاره د انصاف معامله کول (داسي نه وي چي پر نورو باندي زور راولي او د ځان په اړه يوې او بلې خوا ته کيږي) دریم د نورو سره مالي همدردي (کومک) کوي.

۱۱- فَبَشِّرۡ عِبَادِ ﴿١٧﴾ ٱلَّذِينَ يَسۡتَمِعُونَ ٱلۡقَوۡلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحۡسَنَهُۥٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ هَدَىٰهُمُ ٱللَّهُۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿١٨﴾ (۹٦)

ژباړه:- نو ته زما و هغو بندګانو ته زيرى ورکړه چي داپاک کلام په ښه توجه اوري بيا ددې بهترينو خبرو تابعداري کوي. هم دا هغه کسان دي چاته چي الله ﷻ هدایت وکړي او هم دا د عقل خاوندان دي.

فایده:- حضرت عبد الله بن عمر ﷺ فرمايي چي حضرت سعید بن زید ﷺ، حضرت ابوذر عفاري ﷺ او حضرت سلمان فارسي ﷺ دې درو سرو حضراتو به د جاهلیت (کفر) په وخت کښې لا اله الا الله ویل او په دې ایت شریف کښی د احسن القول څخه هم دغه کلمه مراد ده.

---

(۹۵) سورت احزاب الايتان (۷۱ - ۷۲)

(۹٦) سورة زمر الايتان ۱۷.۱۸

د حضرت زید بن اسلم ﷺ هم دې ته نژدې روایت کړی دئ چې فرمایي : دا ایتونه د هغه درو کسانو په باره کښې نازل سوي دي چې هغو د جاهلیت په وخت کښې هم لا اله الا الله ویل یعني زید بن عمرو بن نفیل ﷺ، ابوذر غفاري ﷺ او سلمان فارسي ﷺ

۱۲- وَالَّذِي جَاءَ بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهِ أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ ﴿٣٣﴾ لَهُم مَّا يَشَاءُونَ عِندَ رَبِّهِمْ ۚ ذَٰلِكَ جَزَاءُ الْمُحْسِنِينَ ﴿٣٤﴾ لِيُكَفِّرَ اللَّهُ عَنْهُمْ أَسْوَأَ الَّذِي عَمِلُوا وَيَجْزِيَهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ الَّذِي كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٣٥﴾ (۹۷)

ژباړه:- او کومو خلکو (چې دا لله ﷻ له خوا یاد هغه درسول له خوا) ریښتني خبره راوړله او په خپله یې هم تصد یق وکړی (هغه یې ریښتنی وبلله) نو دا خلک پر هیزګاران دي، دا خلک چي څه غواړي دهغو د پرور دکار سره هر څه سته. دا بدله د نیک کارکونکو ده ددې لپاره چي الله ﷻ د هغوی بدعملونه د هغو څخه لیری کړی (معاف یې کړي) او د نیکو کارونه بدله ورکړی.

فایـده:- هغه خلک چي د الله ﷻ له خوا څخه راوړونکي دي هغه انبیاء دي او هغه خلک چي د درسول ﷺ له خوا څخه راوړونکي دي هغه علماء دي. شکر الله سعیهم

د حضرت عبد الله بن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي دریښتنی خبري څخه مراد لااله الا الله ده دځینو مفسرینو څخه روایت سوی دئ چي الذي جآء باالصدق (یعني څوک چي دالله ﷻ لخوا څخه ریښتني خبري راوړي) مراد ځني رسول الله ﷺ دئ.او د صَدقَ بِهِ (یعني هغه خلک چاچي د هغو تصدیق وکړی) مراد ځني مؤمنان دي.

۱۳- إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴿٣٠﴾ نَحْنُ أَوْلِيَاؤُكُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ

ژباړه:- بېشکه کومو خلکو چي وویل زموږ رب الله ﷻ دئ بیا مستقیم پاته سول (کللک ولاړ وه او هغه یې پرې نه ښودئ) پر هغو به ملائکی راکښته کېږي (د مرګ په وخت کي او په قیامت کښی به ورته وایي) :بیره مه کوی، مه غم کوی او د هغه جنت زیری واخلئ چي ستاسو سره یې وعده سوې ده. موږ ددنیا په ژوند کښي ستاسو ملګری وو او په اخرت کښي به هم درسره یو او په اخرت کښي ستاسو لپاره هغه

(۹۷) سورة زمر الايات ۳۳ ـ ۳۴ ـ ۳۵

۸۱- إِنَّا بُرَءَٰٓؤُاْ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ (سورة ممتحنه ۱ ع)

۸۲- ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿۱۳﴾ (سورة تغابن ۲ ع)

۸۳- رَّبُّ ٱلْمَشْرِقِ وَٱلْمَغْرِبِ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَٱتَّخِذْهُ وَكِيلًا ﴿۹﴾ (سورة مزمل ۱ ع)

۸۴- لَآ أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ ﴿۲﴾ وَلَآ أَنتُمْ عَٰبِدُونَ مَآ أَعْبُدُ ﴿۳﴾ (سورة کافرون)

۸۵- قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ﴿۱﴾ (سورة اخلاص)

په دې پنځه اتيا (۸۵) اياتونو کښې کلمه طيبه او يا د دې مضمون راغلی دی. د دې څخه ماسوا په ډېرو نورو روايتونو کښې هم د دې کلمې طيبې معنی او مفهوم راغلی دئ. او لکه څرنګه چې ما د دې فصل په پيل کښې ليکلی دي چې توحيد د دين اصل دی. هر څومره چې په دې کښې په شوق او محبت سره مشغوليدل وي په دين کښې به پو خوالی پيدا کېږي نو ځکه يې دا مفهوم په مختلفو عبادتونو کي په مختلفو طريقو سره ذکر کړی دی چې د زړه و منځته کښته سي او د ننه په زړه کښې پوخ سي او په زړه کښې د الله ﷻ څخه ماسوا هيڅ ځای (خالي) پاته نسي.

همدا نقل سوی دئ. د حضرت عطاء خراسانی رحمه الله ځخه د پوره کلمې یعني لا إله الا الله محمد رسول الله روایت سوی دئ.

۱۶- هَلْ جَزَآءُ ٱلْإِحْسَٰنِ إِلَّا ٱلْإِحْسَٰنُ ﴿٦٠﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦١﴾ (۱۰۱)

ژباړه:- ایا د احسان بدله د احسان ځخه ماسوا نور ځه هم کېدای سي؟. نو (اې پېرانو او انسانانو!) تاسو به د خپل رب د کومو، کومو، نعمتونو ځخه منکر کېږئ.

فایده:- حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه د رسول الله ﷺ ځخه روایت کړی دئ چي د دې آیت کریمه ځخه مطلب دادی چي پر کوم کس باندی ما په دنیا کښې د لا اله الا الله د ویلو انعام وکړی نو په اخرت کښې یې د جنت ځخه ماسوا نوره بدله کېدای سي ؟د حضرت عکرمه رضی الله عنه ځخه هم دا روایت سوی دی چي د لا اله الا الله د ویلو بدله د جنت ځخه ماسوا نور ځه هم کېدای سي؟ د حضرت حسن رضی الله عنه ځخه همدا نقل سوی دئ.

۱۷- قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّىٰ ﴿١٤﴾ (۱۰۲)

ژباړه:- کامیابی ته هغه کس ورسېدئ چي تزکیه یې وکړه (پاکي یې حاصله کړه)

فایده: حضرت جابر رضی الله عنه د رسول الله ﷺ ځخه روایت کوي چي د تزکیې ځخه مراد دادئ چي د لا اله الا الله شاهدی ورکړې او بتان پرېږدې. حضرت عکرمه رضی الله عنه فرمایي چي د تزکیې معنې داده چي لا اله الا الله ووایي. د حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه ځخه هم دا روایت سوی دئ.

۱۸- فَأَمَّا مَنْ أَعْطَىٰ وَٱتَّقَىٰ ﴿٥﴾ وَصَدَّقَ بِٱلْحُسْنَىٰ ﴿٦﴾ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلْيُسْرَىٰ ﴿٧﴾ (۱۰۳)

ژباړه:- نو چاچي (د الله جل جلاله په لاره کښې مال) ورکړی اوالله جل جلاله ځخه وبیري دي اودښه خبري تصدیق یې وکړی نو موږ به اسانه کړو هغه ته اساني د شی لپاره.

فایده:- داسانی د شي ځخه جنت مراد دئ چي هر ډول خوشالي او اساني هلته پیداکېږي. بل مطلب یې دادئ چي دداسي اعمالو توفیق به هغه ته ورکړل سي چي په هغې سره به هغه عملونه په اسانی سره وکړل سي چي وجنت ته ژر رسونکي وي. دډېرو مفسرینو

---

(۱۰۱) سورة رحمن الايتان (۶۰-۶۱)
(۱۰۲) سورة اعلى الاية (۱۴)
(۱۰۳) سورة اليل الايات (۵-۶-۷)

حضرت ابو بکر صدیق ؓ په شان کښې نازل سوی دئ. د ښخه روایت سوی دئ چې دا آیت د حضرت عبد الله بن عباس ؓ ښخه روایت دی چې د ښه خبري د تصدیق ښخه د لا اله الا الله کلمة مراد ده. د حضرت ابو عبد الرحمن سلمی ؓ ښخه هم دا روایت نقل سوی دی چې د ښه خبري ښخه لا اله الا الله مراد ده .حضرت امام اعظم رحمه الله د ابو الز بیر رحمه الله په روایت د حضرت جابر ؓ ښخه راویت کړی دئ چې رسول الله ﷺ (صدق بالحسنٰی) ووایه او بیا یې وفرمایل : د لا اله الا الله تصدیق یې وکړی او (کذب بالحسنٰی) یې ووایه او بیا یې وفرمایل: دلا اله الا الله تکذیب (درواغوالی) یې وکړی.

۱۹ ـ مَن جَآءَ بِٱلۡحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشۡرُ أَمۡثَالِهَاۖ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجۡزَىٰٓ إِلَّا مِثۡلَهَا وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿١٦٠﴾ (۱۰۴)

ژباړه:- ښوک چې نیک کار کوي هغه ته به (کم تر کم) لس چنده ثواب ورکول کیږي او ښوک چې بدکار وکړی هغه ته به د هغه برابره بدله ورکول کیږي. او پر دغو خلګو به ظلم نه کیږي (چې یو ښه نیکي یې ونه لیکل سي یا بدی یې زیاتي ولیکل سي.)

فایـده: په یوه حدیث کښې راغلي دي چې کله دآیت شریف (من جآء بالحسنة) نازل سو. نو یو چا وویل اې د الله ﷻ رسوله ﷺ! لا اله الا الله هم په نیکي کښې داخله ده. رسول الله ﷺ وفرمایل چې دا په ټولو نیکیو کښې بهترینه نیکي ده. حضرت عبد الله بن عباس ؓ او حضرت عبد الله بن مسعود ؓ فرمایي چې د حسنة ښخه لا اله الا الله مراد ده. حضرت ابو هریرة ؓ غالباً د رسول الله ﷺ ښخه روایت کړی دی چې د حسنة ښخه لا اله الا الله مراد ده. حضرت ابوذر ؓ د رسول الله ﷺ ښخه روایت کوي چې لا اله الا الله خو په ټولو نیکیو کښې بهترینه ده. لکه چې مخکي تر اتمي شمېرې روایت لاندي تېر سول. حضرت ابو هریرة ؓ فرمایي چې لس چنده ثواب د عوامو لپاره دی. د مهاجرینو لپاره تر اوه سوه (۷۰۰) چنده پوري ثواب رسیږي.

۲۰- حمٓ ﴿١﴾ تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ﴿٢﴾ غَافِرِ ٱلذَّنۢبِ وَقَابِلِ ٱلتَّوۡبِ شَدِيدِ ٱلۡعِقَابِ ذِي

ژباړه:- دا کتاب د الله ﷻ له طرف ښخه نازل سوی دی چې غالب دی، د هرشي پېژندونکی دی، د ګناه بخښونکی دی او د توبې قبلونکی دی، سخته سزا ورکونکی دی، قدرت (عطاء-

(۱۰۴) سورة الانعام الاية (۱۶۰)

ٱلطَّوۡلِ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ إِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ (۱۰۵)

ورکړي) والا دئ،. دهغه څخه ماسوا هیڅوک دعبادت وړ نسته . هم هغه ته وروسته ورتلل دي.

فایده:- د حضرت عبد الله بن عمر ﷺ څخه ددې ایت په تفسیر کښې روایت سوی دی چې دهغه کس لپاره د ګناهو بخښونکی دئ چې لا اله الا الله وایي دهغه کس توبه قبلونکی دئ چې لا اله الا الله وایي. او وهغه چاته سخته سزا ورکونکی دی چې لا اله الا الله نه وایي (ذی الطول) معنی ده غنا والا (غنی دئ) لا اله الا هو د قریشو پر کافرانو باندي رد دئ چې هغوی د توحید نه منونکی وه. او (الیه المصیر) معنی د هغه وطرفته تلل دي کوم کس چې لا اله الا الله وایي ددې لپاره چې هغه په جنت کښې داخل کړي او دهغه وطرفته تلل دي کوم څوک چې لا اله الا الله نه وایي ددې لپاره چې هغه په دوزخ کښې داخل کړي.

۲۱- فَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰ لَا ٱنفِصَامَ لَهَا (۱۰۶)

ژباړه:-نو هغه کس چې د شیطان څخه بداعتقاده سي (انکار وکړي) او پر الله ﷻ باندی ایمان راوړی نو هغه لویه مضبوطه (قوی) کړۍ ونیوله چې د هغه هیڅ وخت ماتیدل نسته.

فایده:- حضرت عبد الله بن عباس ﷺ فرمایي عروة الوثقی (مضبوطه کړۍ) یې ونیول یعنی لا اله الا الله یې وویل.

د حضرت سفیان رحمة الله علیه څخه هم داسي نقل سوی دئ چې د عروة الوثقی څخه داخلاص کلمه مراد ده.

تکمیل

قلت وقد ورد في تفسير ايات اخر عديدة ايضاً ان المراد ببعض الالفاظ في هذه الايات كلمة التوحيد عند بعضهم فقد قال الراغب في قوله تعالى في قصة زكريا مصدقا بكلمة قيل كلمة التوحيد و كذا قال في قوله تعالى انا عرضنا الامانة الاية قيل هى كلمة التوحيد واقتصرت على مامر للاختصار .

---

(۱۰۵) سورة مؤمن الاية (۱، ۲، ۳)

(۱۰۶) سورة بقره الاية (۲۵۶)

دوهم فصل

په دې فصل کښې هغه آیاتونه راځي چې کلمه طیبه پکښې ذکر سوې ده، په ډېرو ځایونو کښې پوره کلمه ذکر سوې ده او ځیني ځایونه لنډه او په ځیني ځایونو کښې په نورو الفاظو عیناً د کلمې طیبې معنی ذکر سوې ده . د کلمې طیبې (لا اله الا الله) معنی داده : (د الله ﷻ څخه ماسوا هیڅوک د عبادت وړ نسته) همدا معنی د (مامن اله غیره) هم ده یعني د الله ﷻ څخه ماسوا هیڅوک د عبادت وړ نه دئ. همدا ډول د (لااله الا هو) معنی هم داده او د(لا نعبد الا الله) (یعني موږ د الله ﷻ څخه ماسوا د هیچا عبادت نه کوو) هم دامعنی ورنږدې ده. د(لا نعبد الا ایاه) معنی وکلمې طیبې ته ورنږدې ده (یعني موږ د هغه څخه ماسوا د هیچا عبادت نه کوو) ، د (انما هو اله واحد) معنی داسې ده (یعني د الله ﷻ څخه ماسوامعبود (د عبادت لایق) نسته هم هغه یو دئ.) داسې نور آیاتونه هم دي چې دهغه مفهوم (منشاء) د کلمې طیبې په ډول ده. د هغه ایاتونود سورتونو او رکوع ګانو حواله ځکه لیکل سوې ده چې که څوک د پوره ایات ترجمه کتل غواړي نو د ترجمې قرانکریم د ې و خپل مخ ته کښېږدي او په حوالو سره دي وګوري او حق خو دادی چې ټول قرانکریم د کلمې طیبې مفهوم دی او اصلی مقصد دادی چې ټول قرانکریم او ټوله دین تو حید دی. د توحید دتعلیم لپاره په مختلفو وختونو کښې مختلف پیغمبران(علیهم السلام) رالیږل سوي دي . توحید په ټولو مذهبونو کښې یو ډول دی اودتوحید د ثابتولو لپاره مختلف عنوانونه اختیار سوي دي او هم دا مفهوم د کلمې طیبې دئ.

١- وَإِلَـٰهُكُمْ إِلَـٰهٌ وَاحِدٌ لَّآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلرَّحْمَـٰنُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٦٣﴾ (سورة بقره الایة ۱۹۳)

٢- ٱللَّهُ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْحَىُّ ٱلْقَيُّومُ (سورة بقره ۳۴ ع)

٣- ٱلله لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْحَىُّ ٱلْقَيُّومُ (سورة آل عمران ١ ع)

۴- شَهِدَ ٱللَّهُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ وَٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ وَأُو۟لُوا۟ ٱلْعِلْمِ (سورة آل عمران ۲ ع)

۵- لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿١٨﴾ ۵- (سورة آل عمران ۲ ع)

٦- وَمَا مِنْ إِلَـٰهٍ إِلَّا ٱللَّهُ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٦٢﴾ (سورة آال عمران ٦ ع)

۷- قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ تَعَالَوْا۟ إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَآءٍۭ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ (سورۃ آل عمران ۷ ع)

۸- ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ (سورۃ نسآء ۱۱ ع)

۹- وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّآ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ ۚ (سورۃ مآئدہ ۱۰ ع)

۱۰- قُلْ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ (سورۃ انعام ۲ ع)

۱۱- مَّنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ يَأْتِيكُم بِهِ ۗ سورۃ انعام ۵ ع)

۱۲- ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ ۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ خَٰلِقُ كُلِّ شَىْءٍ فَٱعْبُدُوهُ ۚ (سورۃ انعام ۳ ع)

۱۳- لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ وَأَعْرِضْ عَنِ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿۱۰۶﴾ سورۃ انعام ۱۳ ع)

۱۴- قَالَ أَغَيْرَ ٱللَّهِ أَبْغِيكُمْ إِلَٰهًا (سورۃ اعراف ۱۶ ع)

۱۵- لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحْىِۦ وَيُمِيتُ ۖ سورۃ اعراف ۲۰ ع)

۱۶- وَمَآ أُمِرُوٓا۟ إِلَّا لِيَعْبُدُوٓا۟ إِلَٰهًا وَٰحِدًا ۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ (سورۃ توبۃ ۵ ع)

۱۷- فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَقُلْ حَسْبِىَ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ (سورۃ توبۃ ۱۶ ع)

۱۸- ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ فَٱعْبُدُوهُ ۚ (سورۃ یونس ۱ ع)

۱۹- فَذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمُ ٱلْحَقُّ (سورۃ یونس ۴ ع)

۲۰- قَالَ ءَامَنتُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱلَّذِىٓ ءَامَنَتْ بِهِۦ بَنُوٓا۟ إِسْرَٰٓءِيلَ وَأَنَا۠ مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿۹۰﴾
(سورۃ یونس ۹ ع)

۲۱- فَلَآ أَعْبُدُ ٱلَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ سورۃ یونس ۱۱ ع)

۲۲- فَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّمَآ أُنزِلَ بِعِلْمِ ٱللَّهِ وَأَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ (سورۃ ہود ۲ ع)

۲۳- أَن لَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّا ٱللَّهَ ۖ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ أَلِيمٍ ﴿۲۶﴾ سورۃ ہود ۳ ع)

۲۴، ۲۵، ۲۶- قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥ ۖ (سورۃ ہود) ۵-۶-۷ ع)،

۲۷- ءَأَرۡبَابٌ مُّتَفَرِّقُونَ خَيۡرٌ أَمِ ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ ﴿٣٩﴾ (سورة یوسف ۵ ع)

۲۸- أَمَرَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُۚ (سورة یوسف ۵ ع)

۲۹- قُلۡ هُوَ رَبِّي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ مَتَابِ ﴿٣٠﴾ (سورة رعد ۴ ع)

۳۰- وَلِيَعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ وَلِيَذَّكَّرَ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿٥٢﴾ (سورة ابراهیم ۷ ع)

۳۱- أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱتَّقُونِ ﴿٢﴾ (سورة نحل ۱ ع)

۳۲- إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌۚ (سورة نحل ۳ ع)

۳۳- إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ فَإِيَّٰيَ فَٱرۡهَبُونِ ﴿٥١﴾ (سورة نحل ۷ ع)

۳۴- لَّا تَجۡعَلۡ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتَقۡعُدَ مَذۡمُومًا مَّخۡذُولًا ﴿٢٢﴾ (سورة بنیٓ اسرآئیل ۲ ع)

۳۵- قُل لَّوۡ كَانَ مَعَهُۥٓ ءَالِهَةٌ كَمَا يَقُولُونَ (سورة بنیٓ اسرآئیل ۵ ع)

۳۶- فَقَالُواْ رَبُّنَا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ لَن نَّدۡعُوَاْ مِن دُونِهِۦٓ إِلَٰهًا (سورة کهف ۲ ع)

۳۷- هَٰٓؤُلَآءِ قَوۡمُنَا ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً (سورة کهف ۲ ع)

۳۸- يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ (سورة کهف ۱۲ ع)

۳۹- وَإِنَّ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُوهُۚ (سورة مریم ۲ ع)

۴۰- ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ لَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ ﴿٨﴾ (سورة طٰهٰ ۱ ع)

۴۱- إِنَّنِيٓ أَنَا ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدۡنِي وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِذِكۡرِيٓ ﴿١٤﴾ (سورة طٰهٰ ۱ ع)

۴۲- إِنَّمَآ إِلَٰهُكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ (سورة طٰهٰ ۵ ع)

۴۳- لَوۡ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَاۚ (سورة انبیآء ۲ ع)

۴۴- أَمِ ٱتَّخَذُوٓاْ ءَالِهَةً (سورة انبیآء ۲ ع)

۴۵- إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ ﴿٢٥﴾ (سورة انبیآء ۲ ع)

۴۶- أَمْ لَهُمْ ءَالِهَةٌ تَمْنَعُهُم مِّن دُونِنَا (سورة انبیآء ۴ ع)

۴۷- قَالَ أَفَتَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكُمْ شَيْـًٔا وَلَا يَضُرُّكُمْ ﴿٦٦﴾ (سورة انبیآء۵ ع)

۴۸- لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنتَ سُبْحَٰنَكَ إِنِّى كُنتُ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٨٧﴾ (سورة انبياء٦ ع)

۴۹- قُلْ إِنَّمَا يُوحَىٰٓ إِلَىَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ فَهَلْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١٠٨﴾ (سورة انبياء ۷ ع)

۵۰- فَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ فَلَهُۥٓ أَسْلِمُوا۟ وَبَشِّرِ ٱلْمُخْبِتِينَ ﴿٣٤﴾ (سورة حج ۵ ع)

۵۱، ۵۲- يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥٓ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٢٣﴾ (سورة مؤمنون ۲ ع)

۵۳- مَا ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ مِن وَلَدٍ وَمَا كَانَ مَعَهُۥ مِنْ إِلَٰهٍ (سورة مؤمنون ۵ ع)

۵۴- فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ ٱلْمَلِكُ ٱلْحَقُّ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْكَرِيمِ ﴿١١٦﴾ (سورة مؤمنون٦ ع)

۵۵- وَمَن يَدْعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ لَا بُرْهَٰنَ لَهُۥ بِهِۦ فَإِنَّمَا حِسَابُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦٓ (سورة مؤمنون٦ ع)

۵۶- أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ (سورة نمل ۵ ع) په سورة نمل کي پنځه واره په پنځمه رکوع کي راغلی دی.

۵۷- وَهُوَ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ لَهُ ٱلْحَمْدُ (سورة قصص ۷ ع)

۵۸- مَنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ يَأْتِيكُم بِضِيَآءٍ أَفَلَا تَسْمَعُونَ ﴿٧١﴾ (سورة قصص ۷ ع)

۵۹- مَنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ يَأْتِيكُم بِلَيْلٍ (سورة قصص ۹ ع)

۶۰- وَإِلَٰهُنَا وَإِلَٰهُكُمْ وَٰحِدٌ وَنَحْنُ لَهُۥ مُسْلِمُونَ ﴿٤٦﴾ (سورة عنكبوت ۵ ع)

۶۱- لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴿٣﴾ (سورة فاطر ۱ ع)

۶۲- إِنَّ إِلَٰهَكُمْ لَوَٰحِدٌ ﴿٤﴾ (سورة صافات ۱ ع)

٦٣- إِنَّهُمْ كَانُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَهُمْ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٣٥﴾ (سورة صافات ۲ع)

٦۴- أَجَعَلَ ٱلْءَالِهَةَ إِلَٰهًا وَٰحِدًا ۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَىْءٌ عُجَابٌ ﴿٥﴾ (سورة صٓ ۱ع)

٦٥- قُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ مُنذِرٌ ۖ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا ٱللَّهُ ٱلْوَٰحِدُ ٱلْقَهَّارُ ﴿٦٥﴾ (سورة صٓ ٥ع)

٦٦- ۖ هُوَ ٱللَّهُ ٱلْوَٰحِدُ ٱلْقَهَّارُ ﴿٤﴾ (سورة زمر ۱ع)

٦٧- ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ ٱلْمُلْكُ ۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَأَنَّىٰ تُصْرَفُونَ ﴿٦﴾ (سورة زمر ۱ع)

٦٨- لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ إِلَيْهِ ٱلْمَصِيرُ ﴿٣﴾ (سورة مؤمن ۱ع)

٦٩- ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ خَٰلِقُ كُلِّ شَىْءٍ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴿٦٢﴾
(سورة مؤمن ۷ ع)

۷۰- هُوَ ٱلْحَىُّ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَٱدْعُوهُ (سورة مؤمن ۷ ع)

۷۱- يُوحَىٰٓ إِلَىَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ (سورة حٰمٓ سجدة ۱ع)

۷۲- أَلَّا تَعْبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَ (سورة حٰمٓ سجدة ۲ ع)

۷۳- ٱللَّهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ (سورة شورا ۲ ع)

۷۴- رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَآ ۖ إِن كُنتُم مُّوقِنِينَ ﴿٧﴾ (سورة دخان ۱ع)

۷٥- أَجَعَلْنَا مِن دُونِ ٱلرَّحْمَٰنِ ءَالِهَةً يُعْبَدُونَ ﴿٤٥﴾ (سورة زخرف ۴ ع)

۷٦- لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحْىِۦ وَيُمِيتُ ۖ رَبُّكُمْ وَرَبُّ ءَابَآئِكُمُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٨﴾ (سورة دخان ۱ع)

۷۷- أَلَّا تَعْبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿٢١﴾ (سورة احقاف ۳ ع)

۷۸- فَٱعْلَمْ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ (سورة محمد ۲ ع)

۷۹- وَلَا تَجْعَلُواْ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ ۖ إِنِّى لَكُم مِّنْهُ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٥١﴾ (سورة ذاريات ۳ ع)

۸۰- هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ۖ هُوَ ٱلرَّحْمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٢٢﴾
(سورة حشر ۳ ع)

وَلَكُمۡ فِيهَا مَا تَشۡتَهِيٓ أَنفُسُكُمۡ وَلَكُمۡ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ﴿٣١﴾ نُزُلٗا مِّنۡ غَفُورٖ رَّحِيمٖ ﴿٣٢﴾ (۹۸)

شیان موجود دي چي ستاسو زړه غواړي او هلته چي څه تاسو غواړی هغه به درکړل سي. او دا ټول د الله ﷻ لخوا څخه (انعام او اکرام دئ) د میلمستیا په ډول (تاسو د هغه میلمانه یاست او د میلمه عزت کیږي)

فایده:- حضرت عبد الله بن عباس ﷺ فرمايي چي د (ثم استقاموا) معنی داده چي بيا به د لا اله الا الله پر اقرار باندی قائم وي. د حضرت ابراهيم او مجاهد (رحمة الله عليهما) څخه هم دا خبره نقل سوې ده چي بيا پر لا اله الا الله کلمة باندی تر مرګه پوري قائم پاته وي. په شرک او نورو کښني به نه اخته کيږي.

۱۴- وَمَنۡ أَحۡسَنُ قَوۡلٗا مِّمَّن دَعَآ إِلَى ٱللَّهِ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴿٣٣﴾ (۹۹)

ژباړه:- د خبري د ښه والي په لحاظ سره کوم کس تر هغه چاښه کیدای سي چي د الله ﷻ و طرف ته بلنه کوي او نیک عمل کوي او دا وايي چي زه د مسلمانانو څخه یم.

فایده: حضرت حسن ﷺ فرمايي چي د (دعا الي الله) څخه د اذان ويونکي لا اله الا الله ويل مراد دي. عاصم بن هبيره رحمة الله عليه فرمايي: کله چي ته دا اذان څخه فارغ سې نو لا اله الا الله والله اکبر وانا من المسلمين وايه.

۱۵- فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَعَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَأَلۡزَمَهُمۡ كَلِمَةَ ٱلتَّقۡوَىٰ وَكَانُوٓاْ أَحَقَّ بِهَا وَأَهۡلَهَاۚ .(۱۰۰)

ژباړه:- نو الله ﷻ خپله سکينه (ارامتيا، تحمل، يا خاص رحمت) پر خپل رسول باندي نازل کړی او پر مؤمنانو. او هغوی يې د تقوای پر دغه کلمې (د تقوای پر خبره) باندي کلک وساتل او هغوي د دغې تقوای د کلمې حقدار او اهل وو.

فایده:- په ډېرو روايتونو کښني راغلي دي چي د تقوای د کلمې څخه مراد کلمه طيبه ده لکه حضرت ابو هريرة رضي الله عنه او حضرت سلمه ﷺ چي د رسول الله ﷺ څخه يې هم روايت کړی دی چي د دې څخه مراد لا اله الا الله ده. د حضرت ابي بن کعب، حضرت علی، حضرت عمر، حضرت عبد الله بن عباس ، حضرت عبد الله بن عمر او د ډيرو نور صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه

---

(۹۸) سورة حمٓ السجدة الايات ۳۰. ۳۱. ۳۲

(۹۹) سورة حمٓ سجده الاية (۳۳)

(۱۰۰) سورة الفتح ۳ ع

دریم فصل

په دې فصل کښې دهغو حدیثونو ذکر راغلی دی چې د کلمې طیبې ترغیب او فضائل پکښې ذکر سوي دي په دې مضمون کښې چې آیاتونه دومره ډېر ذکر سوي دي نو حدیثونه به څومره زیات وي د ټولو راجمعه کول خو ګران کار دی نو په همدې خاطر یو څو حدیثونه د نمونې په ډول ذکر کېږي.

۱- عن جابر ﷺ عن النبی ﷺ قال افضل الذکر لا اله الا الله و افضل الدعآء الحمدلله (۱۰۷)

ژباړه:- حضرت جابر ﷺ د رسول الله ﷺ څخه روایت کوي چې په ټولو ذکرونو کښې بهتر ذکر لا اله الا الله دی او په ټولو دعاګانو کښې بهتره دعا الحمد الله ده.

فایده:- د لا اله الا الله افضل الذکر (ښه د ذکرونو) کېدل خو ښکاره ده او په ډېرو حدیثونو کښې ډېر راغلي دي. دغه ډول د ټول دین دار مدار (محور) د توحید کلمه ده. نو بیا د دې په بهتر کېدو کښې څه شک او شبه سته؟. او الحمد لله ته یې افضله (بهتره) دعا په دې خاطر ویلي دي چې د کریم ذات د حمد مطلب د هغه څخه سوال وي. په عام ډول مشاهده (لیدلي او کتلي خبره ده) چې د رئیس، امیر او داسي نورو په ستاینه کښې د قصیدې د ویلو څخه مطلب د هغه ده څخه سوال او غوښتنه وي.

حضرت عبد الله بن عباس ﷺ فرمایي : څوک چې لا اله الا الله وایي نو تر دې وروسته وهغه ته د الحمد لله ویل هم پکار دي ځکه چې په قرانکریم کښې تر (فادعوه مخلصین له الـدین) څخه وروسته الحمدلله رب العلمین راغلی دی. ملا علی قاري رحمة الله علیه فرمایي چې په دې کښې یوه ذره شک نسته چې په ټولو ذکرونو کښې بهتر او تر ټولو ذکرنو لوړ ذکر کلمه طیبه ده. چې داد هغه دین بنیاد (اساس) دی چې د ټول دین تعمیر دی او دا هغه پاکه کلمه ده چې د دین میچن د دې پر شاه وخوا راګرځي نو په همدې خاطر صوفیان او عارفین د دې کلمې اهتمام (کوښښ) کوي، په ټولو ذکرونو کښې دا غوره بولي او څومره چې ممکنه وي ډېر والی یې کوي (یعني ډېر ذکر یې کوي) په تجربو کښې چې څومره د دې کلمې ډېرې فایدې او نفعی (ګټې) معلومې سوي دي په بله کلمه کښې نسته. لکه چې د سید علی بن میمون

(۱۰۷) کذا في المشکواة بروایة الترمذی وابن ماجة و قال المنذری رواه ابن ماجة والنسائی وابن حبان في صحیح والحاکم کلهم من طریق طلحة بن خراش عنه و قال الحاکم صحیح الا سناد وقلت رواه الحاکم بسندین و صححهما واقره علیهما الذهبی و کذارقم له بالصحة السیوطی في الجامع.

مغربي رحمة الله عليه قصه مشهوره ده: کله چي يو لوی عالم، مفتي او مدرس علوان حموی رحمة الله عليه د سيد صاحب په خدمت کښي حاضر سوا و دسيد صاحب پر هغه خاصه توجه وسوه نو هغه يې د ټولو مصروفيتونو، درس، تدريس، فتوای او نورو څخه يې منع کړی او ټوله وخت يې په ذکر کښي مشغول کړی. دعوامو خلګو کار خو نيوکي او ښکنځل کول وي. خلقو ډېر غالمغال جوړ کړی چي د شيخ د فايدو څخه دنيا محرومه سوه او شيخ يې ضائع سوا و داسي نور. څو ورځي وروسته وسيد صاحب ته معلومه سوه چي شيخ ځيني وخت د قرانکريم تلاوت کوي نو دهغه څخه يې هم منع کړئ. په دغه وخت کي به نو څه حال وي؟ پر سيد صاحب باندی دزنديق (ملحد) او دبې دينه تور ولګېدی. څو ورځي وروسته پر شيخ باندي ذکر تاثير وکړی او زړه يې رنګ سو. نو سيد صاحب ورته وويل چي اوس تلاوت پيل کړه. قرانکريم چي يې خلاص کړی چي څه به يې ووايه نو پر هر لفظ باندي ورته د هغه علوم او معارف ښکاره سول. سيد صاحب ورته وويل چي خدای مکړه ما دتلاوت څخه ته نه وې منع کړی بلکي داشی پيدا کول مي غوښتل. څرنګه چي دا پاکه کلمه ددين اصل دئ، د ايمان ريښه ده په همدې خاطر څومره چي ددې په ويلو کي ډېر والي وسي نو په هغه اندازه به دايمان ريښه مضبوطه (قوي) سي. دايمان دارمدار (محور) هم پر دې کلمه باندي دئ بلکي ددنيا د وجود دارمدار هم په دې کلمه کي دی. لکه په صحيح حديث کښي چي راغلي دي: قيامت به تر هغه وخته پوري قائم نه سي تر څو پوري چي په مځکه کي د لا اله الا الله ويونکی موجود وي. په نورو حديثونو کښي راغلي دي چي تر هغه وخته پوري به قيامت نه راځي تر څو پوري چي په مځکه کي څوک د الله، الله ويونکي وي.

د کلمې طيبې ذکر تر اوو اسمانو او مځکو درونددئ

۲- عن ابي سعيد الخدری رضي الله عنه عن النبي ﷺ انه قال قال موسي عليه السلام يارب علمني شيئاً اذکرک به وادعوک به قال قل لا اله الا الله قال يارب کل عبادک يقول هذا قال قل لا

ژباړه:- حضرت ابو سعيد الخدری رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه روايت کوي: چي يو وار حضرت موسي عليه السلام د الله جل جلاله په پاک دربار کښي خواست وکړی چي وماته څه وظيفه راوښيه چي په هغه سره زه تاياد او تا په بولم. الله جل جلاله وفرمايل چي لا اله الا الله وايه. ده غوښتنه وکړه چي اې پروردګاره! دا خو ټوله دنيا وايي الله جل جلاله ورته وفرمايل چي لا اله الا الله وايه.

موسی ﷺ بیا غوښتنه وکړه چي اې زما ربه! زه خو داسي مخصوص شی غواړم چي یوائې ماته راکړل سي، الله ﷻ ورته وفرمایل که چیري اووه اسمانونه او اووه مځکي د(ترازو) په یوه پله کښي کښېښودل سي او په بله پله کښي لا اله الا الله کښېښودل سي نو د لا اله الا الله پله به درنه سي.	اله الا الله قال انما ارید شیئاً تخصني به قال یاموسي لو ان السموات السبع والارضین السبع في کفة ولا اله الا الله في کفة مالت بهم لا اله الا الله.(۱۰۸)

فایده: د الله ﷻ شریف عادت دادئ چي کوم شی چي څومره ورته ضرورت وي په هغه اندازه یې عام کړي وي. ددنیا په ضروررتونو کښي وګورئ چي ساده اوبه، هوا څومره دضرورت شیان دي او الله ﷻ دا شیان څومره عام کړي او ډیر کړي دي. البته دا ضروري شی دئ چي دالله ﷻ په نزد وزن درونـد والی په اخلاص کښي دئ یعني څومره اندازه چي یو کار په اخلاص وکړل سي په هغه اندازه به یې وزن درونـد وي. او څومره چي دا خلاص کمی وي او په ناخوالی سره وکړل سي نو په هغه اندازه به یې وزن سپک وي. د اخلاص د پیدا کولو لپاره چي څومره ددې کلمې ډېر والي فایده من دی په هغه اندازه بل شی نسته ځکه چي ددې کلمې نوم جلاء القلوب (یعني د زړونو صفایي کونکی) دئ.په هم دې خاطر صوفیانو ددې ډیره، ډیره، وظیفه ښیي. او دورځي په سوونو بلکي په زرګونو ځله ویل یې د ځان لپاره عادت جوړ کړی دئ.

ملا علی قاري رحمه الله فرمایي چي یو مرید خپل شیخ ته وویل چي زه ذکر کوم خو زړه مي غافله دئ. شیخ ورته وویل چي ذکر برابر کوه او پردې د الله ﷻ شکر کوه چي هغه ویوه اندام یعني ژبي ته د خپل یادولو توفیق ورکړی او دالله ﷻ د زړه د توجه کولو لپاره دعاء کوه. په همدې ډول واقعه په احیاء العلوم کښي د ابو عثمان مغربي رحمه الله په اړه هم رانقل سوې ده چي وهغه ته یو مرید شکایت کړی و اوده مباک دغه جواب ورکړی و چي په حقیقت کښي (لا اله الا الله) بهترینه نسخه ده.

په قرانکریم کښي راغلي دي: که چیري تاسو شکر کوی نو زه پکښي زیادت کوم.

په یوه حدیث شریف کښي راغلي دي چي د الله ﷻ ذکر د هغه لوی نعمت دی ددې نعمت شکر اداکوئ چي الله ﷻ د ذکر توفیق درکړی دئ.

(۱۰۸) رواه النسائي و ابن حبان والحاکم کلهم من طریق دراج عن ابي الهیثم عنه و قال الحاکم صحیح الا سناد کذافي الترغیب قلت قال الحاکم صحیح الا سناد ولم یخرجاه واقر علیه الذهبي و اخرج في المشکوة بروایة شرح السنة نحوه زاد في منتخب الکنز ابایعلی و الحکیم و ابا نعیم في الحلیة والبیهقی في الا سماء و سعید بن منصور في سننه وفي مجمع الزاوئد رواه ابو یعلي ورجاله وثقوا وفیهم ضعف

د کلمې طيبې ويونکي ته به دنبوي ﷺ شفاعت نيکمرغي ورنصيب سي

۴- عن ابي هريرة ﷺ قال قلت يارسول الله من اسعدالناس بشفاعتک يوم القيمة ؟ قال رسول الله ﷺ لقد ظننت ياابا هريرة ان لا يسئلني عن هذا الحديث احد، اول منک لمارأيت من حرصک على الحديث اسعد الناس بشفاعتي يوم القيمة من قال لا اله الا الله خالصاً من قلبه او نفسه.(۱۰۹)

ژباړه:- حضرت ابو هريرة ﷺ يو واری د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي د قيامت په ورځ به ستاسو د شفاعت تر ټولو زيات فايده پورته کونکی څوک وي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل چي ستا حرص مي پر حديثو باندي وليدی نو دا گمان مي و چي د دې خبري پوښتنه به ستا څخه مخکي بل څوک نه وکړي. (بيا رسول الله ﷺ ورته د سوال جواب وفرمايه) : هغه کس به زما د شفاعت تر ټولو زيات سعادتمن او فايده پورته کونکی وي چي د زړه په اخلاص سره لااله الا الله وايي.

فايده:- سعادت د الله ﷻ هغه توفيق ته وايي چي د بنده د خير و طرف ته د رسولو سبب وگرځي. اوس په اخلاص سره د کلمې د ويونکي تر ټولو زيات د شفاعت د حقدار کېدو دوه مطلبه کېدای سي. يو دا چي د دې حديث څخه هغه کس مراد دی چي په اخلاص سره مسلمان سوی وي او د کلمې طيبې د ويلو څخه ماسوا د هغه سره بل نيک عمل نه وي. په دې حالت کښي ښکاره ده چي تر ټولو سعادت ده ته په شفاعت سره حاصليدای سي ځکه خپله خو ورسره عمل نسته. د دې مطلب سره برابر به دا حديث و هغه حديثونو ته نژدې سي چي پکښي فرمايي(زما شفاعت زما د امت د کبيره .لويو) گناهونو کونکو لپاره دی. هغوی به د خپلو گناهونو په خاطر په دوزخ کښي واچول سي خو د کلمې طيبې له برکته به د رسول الله ﷺ شفاعت د هغوی په نصيب سي. دوهم مطلب دا دی چي د دې حقدار هغه خلک دي چي په اخلاص د دې کلمې وظيفه کوي او نيک عملونه کوي، د هغو تر ټولو د زيات سعادتمن کېدو مطلب دا دی چي د رسول الله ﷺ د شفاعت څخه به ډېره فايده و دوی ته رسيږي چي د درجو لوړ ولو سبب به يې جوړيږي. علامه عيني رحمة الله عليه ليکلي دي چي د قيامت په ورځ به د رسول الله ﷺ شفاعت په شپږو طريقو سره وي:

---

(۱۰۹) رواه البخاري وقد اخرجه الحاكم بمعناه و ذكر صاحب بهجة النفوس في الحديث اربعا وثلثين بحثاً

اول:- داچي دحشر د میدان دقید (بند) څخه به خلاص وي چي په حشر کښي به ټول مخلوق په ډول ډول غمونه او پریشانیو کښي وي، دابه وایي چي موږ دي په دوزخ کښي واچول سوخو ددې غمونو څخه دي خلاص سو په دغه وخت کښي به خلګ د لوړو مرتبو (درجو) د پیغمبرانو په خدمت کښي حاضر سي او ورته وبه وایي چي تاسو الله ﷻ ته زموږ سفارښت وکړئ خو د هیچا به داطاقت نه وي چي سفارښت وکړي په اخر کښي به رسول الله ﷺ شفاعت وکړي دا شفاعت به د ټول عالم د مخلوقاتو پیریانانو، انسانانو، مسلمانانو او کافرانو په حق کښي وي او ټول به ورڅخه فایده واخلي. د قیامت په باره کښي چي کوم حدیثونه دي په هغو کښي دغه قصه په تفصیل سره ذکر سوې ده.

دوهم: داچي شفاعت به د ځینو کافرانو د عذاب د کموالي په حق کښي وي لکه دابو طالب په باره کښي چي په صحیح حدیث راغلی دی.

دریم:- داچي شفاعت به د ځینو، مؤمنانو ددوزخ څخه د وتلو په باره کښي چي په دوزخ کي به داخل سوی وي.

څلورم:- داچي د ځینو هغو مؤمنانو په باره کښي به شفاعت وي چي دخپلو بدعملونو په وجه ودوزخ ته د ننوتلو مستحق سوي وي د هغو ددوزخ څخه د معافۍ اونه داخلېدو لپاره به وي.

پنځم:- داچي شفاعت به دځینو مؤمنانو لپاره دبې حسابه او بې کتابه وجنت ته دداخلېدو په باره کي وي.

شپږم:-داچي شفاعت به دمؤمنانو ددرجو د لوړولو لپاره وي.

څوک چي په اخلاص کلمة طیبه ووایي جنت ته به داخل سي

٤- عن زید بن ارقم ﷺ قال قال رسول الله ﷺ من قال لا اله الا الله مخلصاً دخــل الجنـــة قیــل ومـــا اخلاصها قال ان تحجزه عن محــارم الله. (١١٠)

ژباړه:- حضرت زید بن ارقم ﷺ د رسول الله ﷺ څخه روایت کوي چي څوک په اخلاص سره لا اله الا الله ووایي هغه به په جنت کښي داخل سي. یو چاپوښتنه وکړه چي د کلمې داخلاص (نخښنه) څه ده؟ رسول الله ﷺ وفرمایل چي د حرامو کارونو څخه هغه منع کړي.

---

(١١٠) رواه الطبراني في الاوسط والکبیر

فایـده:- دا ښکاره خبره ده کله چې یو څوک د حرامو کارونو څخه منع سي او دلا اله الا الله ویونکي سي نو وجنت ته دده په نیغ (سیده) تلو کښې څه شک نسته. خو که چیري حرام کارونه کوي بیشکه بیا هم په دې کلمه کښې دا برکت دی چې د خپلو بدو عملونو د سزا تر خوړلو وروسته به یو وخت خامخا وجنت ته داخلیږي. البته که چیري خدای مکړه د بدو عملونو په خاطر د اسلام او ایمان څخه محرومه سي نو دا بله خبره ده.

حضرت فقیه ابو اللیث سمرقندي رحمة الله علیه په تنبیه الغافلین کښې لیکلي دي چې د هر چا پاره ضروري ده چې لا اله الا الله ډېره ووایي او دالله ﷻ څخه د پر ایمان پاته کېدو دعا هم وکړي او خپل ځان د ګناهونو څخه وساتي ځکه چې ډېر خلګ داسي دي چې د ګناهونو د چټلوالي په خاطر په اخیره کښې بې ایمان سي او د دنیا څخه د کفر په حالت کښې ولاړ سي. تر دې به زیات بل څه غم وي چې د یوه کس نوم ټول عمر د مسلمانانو په فهرست کښې پاته سوي وي خو په قیامت کښې هغه د کافرانو په فهرست کښې سي دا حقیقي او کامل افسوس دی دغه افسوس پر هغه چا نه کېږي چې په بت خانه کښې همیشه پاته سوی وي او اخر د کافرانو په فهرست کښې شمار سي. افسوس خو پر هغه چا زیات دی چې په مسجد کښې پاته سوی وي او په کافرانو کښې شمار سي. دا خبره د ګناهونو د ډېروالي او په یوائې والي کښې د حرامو کارونو د کولو څخه پیدا کېږي ډېر داسي خلګ وي چې ورسره د نورو خلګ مالونه وي او داهم وایي چې دا د نورو دي خو زړه ته وایي چې یو وخت به یې بېرته ورکړم او چې د چا حق دی د هغه څخه به معافي وغواړم خو د دې واری رانه سي ده ته مرګ تر دې مخکي راسي یعني دا چې نه وهغه کس ته خپل حق ورکړي او نه بخښنه ځني وغواړي مړ سي. ډېر خلګ داسي دي ښه پوه وي چې ښځه پر طلاقه سوې ده خو د دې سره سره بیا هم ورسره کور والی کوي او په دې حالت کښې مرګ ورته راسي چې د توبې توفیق ورته نه وي. په داسي وختونو اخیر ایمان ځني او اخستل سي. اللهم احفظنا منه.

د حدیثو په کتابو نو کښې یو قصه لیکل سوې ده چې د رسول الله ﷺ په زمانه کښې یو ځوان مړ کېدی. رسول الله ﷺ ته وویل سوه چې هغه کلمه نسي ویلای. رسول الله ﷺ تشریف ورووړی او پوښتنه یې وکړه چې څه خبره ده؟ ده ورته وویل چې اې د الله ﷻ رسوله ﷺ! د قلف په ډول یو شی مي پر زړه لګېدلی دی کله چې یې د حالاتو پلټنه وکړه نو معلومه سوه چې مور ور څخه ناراضه وه او تکلیف یې ورسولی وو. رسول الله ﷺ یې مور راوغوښتله او پوښتنه یې ځني وکړه چې که چیري یو څوک ډېر اور بل کړي او ستا زوی پکښې اچوي نو ته به یې وبخښې؟ هغې وویل چې هو بخښم یې رسول الله ﷺ وفرمایل: چې داسي ده نو دده

نيمگړتياوي ورمعاف كړه هغې ټولي ورمعاف كړې بياچي د كلمې د ويلو ورته وويل سول دغه ځوان ژر كلمة وويل . رسول الله ﷺ د الله ﷻ شكر ادا كړى چي زما په خاطر يې د اور څخه خلاصون پيدا كړى. داسي په سوونو قصې پيښنيږي چي موږ په داسي گناهونو كښني اخته سو چي دهغوى چټلي ددين او دنيا دواړو لپاره تاوان وي. د احياء العلوم مصنف ليكلى دي چي يو ځلي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي لا اله الا الله داسي ووايې چي گډوډي ورسره نه وي نو دهغه لپاره جنت واجب دى. حضرت علي ﷺ پوښتنه وكړه چي اې د الله ﷻ رسوله ﷺ! دا روښانه كړه چي د گډوډ مطلب څه دئ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل چي د دنيا محبت او دهغه په طلب كښني لگېدل. ډېر خلگ داسي دي چي د نبيانو په ډول خبري كوي او د متكبرو او جابرو خلگو په ډول عملونه كوي. كه چيري څوك د اكلمه داسي ووايي چي دا كارونه نه كوي نو دده لپاره جنت واجب دى.

٥- عن ابي هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ ما قال عبد لا اله الا الله الا فتحت له ابواب السمآء حتى يفضى الي العرش ما اجتنب الكبآئر. (۱۱۱)

ژباړه:- حضرت ابو هريرة ﷺ د رسول الله ﷺ څخه روايت كوي چي داسي بنده نسته چي لا اله الا الله ووايې او د هغه لپاره د اسمانانو دروازې ليري نه سي، تر دې پوري چي دا كلمه سيده تر عرش پوري رسيږي په دې شرط چي د كبيره (لويو) گناهونو څخه ځان وساتي.

فايده:- څومره لوى فضيلت او د قبلېدو انتهاء (پاى) دى چي سيده تر عرش معلي پوري رسيږي دا دى او س درته معلومه سوه چي كه چيري څوك كلمة د كبيره گناهونو سره ووايي نو بيا هم د فايدې څخه خالي نه ده. ملا علي قاري رحمه الله فرمايي چي د كبيره گناهونو څخه د خلاصېدو شرط د ژر قبلېدو او د اسمان د ټولو دروازو د خلاصېدو په اعتبار سره دى ځكه چي ثواب او قبلېدل د لويو گناهو سره هم كيږي. ځينو عالمانو د دې حديث مطلب داسي بيان كړى دى چي د داسي كس لپاره به د مرگ څخه وروسته د ده د روح د عزت لپاره د اسمان ټولي دروازې خلاصي سي.

---

(۱۱۱) رواه الترمذي وقال حديث حسن غريب كذافي الترغيب وهكذا في المشكوة لكن ليس فيها حسن بل غريب فقط قال القارى ورواه النسائي وابن حبان وعزاه السيوطي في الجامع الي الترمذي ورقم له بالحسن و حكاه السيوطي في الدر من طريق ابن مردويه عن ابي هريرة وليس فيه ما اجتنب الكبائر وفي الجامع الصغير برواية الطبراني عن معقل بن يسار لكل شيئ مفتاح ومفتاح السموات قول لا اله الا الله ورقم له بالضعف

په يوه حديث شريف کښې راغلي دي چې دوې کلمې داسې دي چې د هغې څخه د يوې لپاره تر عرش لاندې هيڅ ځای نشته. د وهمه به اسمان او ځمکه ډکه کړي يعني دخپل نور او يا دخپل ثواب څخه يوه لا اله الا الله کلمة ده او دوهمه کلمة الله اکبر ده.

د کلمې طيبې ويل د جنت زيرى دئ

٦- عن يعلى بن شداد قال حدثني ابي شداد بن اوس وعبادة ﷺ بن الصامت حاضر يصدق قال كنا عندالنبي ﷺ فقال هل فيكم غريب يعني اهل الكتب قلنا لا يارسول الله فامر بغلق الابواب وقال ارفعوا ايديكم وقولوا لا اله الا الله فرفعنا ايدينا ساعة ثم قال الحمدلله اللهم انک بعثتني بهذه الكلمة ووعدتني عليها الجنة وانت لا تخلف الميعاد ثم قال ابشروا فان الله قد غفر لكم.(۱۱۲)

ژباړه: حضرت شداد ﷺ فرمايي او حضرت عباده ﷺ د دې قصې تصديق کوي چې يو واري موږ د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر وو. رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چې کوم نا اشنا (کافر) خو به په تاسو کښې نوي؟ موږ وويل چې هيڅوک نشته. رسول الله ﷺ وفرمايل دروازې بندې کړې تردې وروسته يې وفرمايل چې لاسونه پورته کړی لا اله الا الله وو اياست موږ لږ وخت لاسونه پورته کړه (کلمه طيبه مو وويل) بيا يې وفرمايل الحمد الله اې الله ﷻ! تا زه د دې کلمې سره رالېږلی يم او په دې کلمه سره دې د جنت وعده کړې ده او ته د وعدې څخه مخالفت نه کوې. تردې وروسته رسول الله ﷺ موږ ته وفرمايل! خوشحاله سی الله ﷻ و تاسو ته مغفرت (بخښنه) وکړه.

فايده: غالباً د نابلدتيا پوښتنه يې ځکه وکړه، او د دې لپاره يې دروازه بنده کړه چې د دغه خلګو د کلمې طيبې په وينا سره و رسول الله ﷺ ته د بخښنې د زيرې اميد و. او دغه زيرى د نورو لپاره نه و. صوفيانو په دې حديث سره د مشائخو د خپلو مريدانو و ډلې ته د ذکر په تلقين باندې دليل اخيستی دی. لکه په جامع الاصول کښې چې يې ليکلي دي چې د رسول الله ﷺ و اصحابو کرامو ته په جمع او يوا ځيوالي کې د ذکر تلقين کول ثابت دي. و جماعت (ډلې) ته يې په تلقين کولو کښې دا حديث پيش کړی دی. په دې حالت کښې د دروازې بندول د فايده اخيستونکو د پوره متوجه کولو لپاره و او په همدې خاطر يې د نا اشنا پوښتنه

(۱۱۲) رواه احمد باسناد حسن والطبراني وغيرهما كذافي الترغيب قلت واخرجه الحاكم وقال اسمعيل بن عياش احد ائمة اهل الشام و قد نسب الي سوء الحفظ وانا علي شرطي في امثاله وقال الذهبي راشد ضعفه الدار قطني وغيره ووثقه رحيم اهـ وفي مجمع الزوائد رواه احمد والطبراني والبزار ورجال موثقون اهـ.

وکړه که څه هم چي د پردي سرې په حضور کښي د رسول الله ﷺ په توجه کښي فرق نه راتلي خو د فایده اخیستو نکو په توجه کښي د فرق راتلو احتمال و. شعر

چه خوش است باتو بزمي بنهفته ساز کردن * در خانه بند کردن سر شیشه باز کردن

یعني ستا سره پټ ساز کول څومره د خوند شي دي د کور دروازه بندول او د بوتل خوله خلاصول.

۷- عن ابي هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ جددوا ايمانكم قيل يارسول الله وكيف نجدد ايماننا قال اكثروا من قول لا اله الا الله.(۱۱۳)

ژباړه:- حضرت ابي هريرة ﷺ روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل د خپل ایمان تجدید (تازه والی) کوئ. اصحابو کرامو ﷺ عرض وکړي چي اې د الله ﷻ رسوله ﷺ! د ایمان تجدید څنګه وکړو؟ رسول الله ﷺ وفرمایل چي لا اله الا الله ډیره - ډیره وایاست.

فایده:- په یوه روایت کښي رسول الله ﷺ فرمایلي دي چي ایمان هم دجامو په څیر زړیږي. ددې لپاره د الله ﷻ څخه د ایمان تازګي غواړي. د زړیدو څخه مطلب دادی چي په ګناهونو سره د ایمان قوت اورڼا ځي. لکه چي په حدیث کښي راغلي دي چي کله بنده ګناه وکړي نو یوه توره نخښه (داغ) یې پر زړه ولګیږي که چیري ریښتني توبه وباسي نو هغه نخښه پرې مینځل سي. کنه نو نوره هم مضبوطه سي. او کله چي دوهمه ګناه وکړي نو دوهمه نخښه پرې ولګیږي. ترداسي بریده چي آخر یې زړه ټوله تک تور سي او زنګ ونیسي. لکه چي الله ﷻ په سورة مطففین کښي فرمایلي دي:

كَلَّا ۖ بَلْ ۜ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿١٤﴾ (۱۱۴)

ددې څخه وروسته دده زړه په داسي حالت کښي سي چي حقه خبره هیڅ تاثیر نه پرې کوي اونه یې زړه ته ننوزي.

په یوه حدیث کښي راغلي دي چي څلور شیان د سړی زړه برباد وي. ۱- دبې عقلانو سره مقابله، ۲- د ګناهونو ډیر والی، ۳- د ښځو سره ډیره ناسته او ولاړه، ۴- د مړو خلګو سره

---

(۱۱۳) رواه احمد والطبراني واسناد احمد حسن كذافي الترغيب قلت ورواه الحاكم في صحيحه وقال صحيح الاسناد وقال الذهبي صدقة (الرواي) ضعفوه قلت هومن رواة ابي داود والترمذي واخراج له البخاري في الادب المفرد وقال في التقريب صدوق له اوهام وذكره السيوطي في الجامع الصغير برواية احمد والحاكم ورقم له بالصحة وفي مجمع الزوائد رواه احمد واسناده جيدوفي موضع اخررواه احمد والطبراني ورجال احمد ثقاة

(۱۱۴) سورة مطففين الاية (۱۴)

ډېرو ناسته، يو چا پوښتنه وکړه چې د مړو څخه څشي مراد دی؟ رسول الله ﷺ وفرمايل هر هغه مالدار چې په هغه کښې مال کبر پيدا کړی وي.

٨- عن ابي هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ اکثروا من شهادة ان لا اله الا الله قبل ان يحال بينکم وبينها. (١١٥)

ژباړه:- حضرت ابو هريرة ﷺ روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د لا اله الا الله اقرار ډېر، ډېر کوي مخکي تر دې چې پر تاسو داسي وخت راسي چې دا کلمه نه سئ ويلای.

فايده:- يعني کله چې مرګ منځ ته راسي وروسته نو بيا د هيڅ عمل وخت نه پاته کيږي. د ژوند زمانه ډېره لنډه ده چې د عمل کولو او د تخم کرلو وخت دی. او د مرګ څخه وروسته زمانه ډېره اوږده (لويه) زمانه ده او هلته به هغه څه ريبي چې دلته يې کرلي وي.

څوک چې کلمة طيبه ووايي د دوزخ اور به پرې حرام وي

٩- عن عمرو ﷺ قال سمعت رسول الله ﷺ يقول اني لا علمم کلمة لا يقولها عبد حقاً من قلبه فيموت على ذالک الا حرم الله على النار لا اله الا الله. (١١٦)

ژباړه:- حضرت عمر ﷺ روايت کوي چې د رسول الله ﷺ څخه مي واورېدل چې وې وفرمايل: زه يو داسي کلمه پېژنم چې داسي بنده نسته چې په زړه کي يې حقه وبولي او وې وايي او په دې حالت کښې مړ سي، مګر هغه به الله جل جلاله پر دوزخ حرام کړي. هغه کلمه لا اله الا الله ده.

فايده- په ډېرو روايتونو کښې دا مضمون راغلی دئ. که چيري د دغو ټولو څخه دا مراد وي چې هغه په همدې وخت کښې مسلمان سوی وي، نو بيا خو په دې کښې هيڅ شک نسته چې د اسلام د راوړلو څخه وروسته د کفر ګناه د ټولو په اتفاق معافيږي. او که چيري دا ور څخه مراد وي چې د اول څخه مسلمان سوی وي، په اخلاص يې دا کلمه وويل او مړ سو نو بيا هم کېدای سي چې الله ﷻ به يې په خپله مهربانۍ سره ټول ګناهونه ور معاف کړي. الله ﷻ فرمايي چې د شرک څخه ماسوا ټول ګناهونه چې وغواړي معاف به يې کړي. ملا علي قاري رحمه الله د ځينو علماؤ څخه هم دا نقل کړی دی چې د دغه حديث او د دې په ډول نور

(١١٥) رواه ابو يعلى باسناد جيد قوى كذافي الترغيب وعزاه في الجامع الي ابي يعلي و ابن عدى في الكامل ورقم له بالضعف وزاد لقنوها موتاكم وفي مجمع الزوائد رواه ابو يعلي ورجاله رجال الصحيح غير ضمام وهو ثقه.

(١١٦) رواه الحاكم وقال صحيح علي شرطهما وروياه بنحوه كذا في الترغيب

حدیثونه د هغه وخت لپاره وو چي په هغه وخت کي نور احکام نه وه نازل سوي. ځینو علماؤ فرمایلي دي چي ددې څخه مراد دادئ چي دغه کلمه په داسي ډول وویل سي چي ټول حقونه یې اداکړل سي لکه چي په څلورمه شمېره حدیث کښي چي تېر سوی دي. د حضرت حسن بصري رحمه الله او ځینو نورو علماؤ نظر همدادئ. دامام بخاري رحمه الله تحقیق دادی چي په پښیمانتیا یې داکلمه ویلي وي چي هم داد توبې حقیقت دی او بیا پر دغه حالت کښي وفات سوی وي.

د ملاعلي قاري رحمه الله تحقیق دادی چي ددې څخه مراد د همېشه لپاره په دوزخ کښي دپاته کېدو حراموالی دئ. ددې ټولو څخه پرته یوه بله ښکاره خبره هم داده چي د یو شی څه خاص تاثیر کول ددې څخه خلاف دئ چي د څه عارض په وجه هغه اثر ونه کړي لکه د سقمونیا د درملو تاثیر چي داسهال راوستل دي کله چي داوخوري بیا د اسهال د بندلولو لپاره داسي درمل وخوري چي سخت بندونکي وي نو سقمونیا به هیڅ تاثیرونه شیندي. خو ددې مطلب دانه دئ چي دې درملو خپل تاثیر نه وښودئ بلکي د یوه عارض په خاطر یې پر دغه کس باندي تاثیرونه کړی چي هغه داسهال بندونکي شی خوړل دي.

دجنت کیلاني کلمة طیبة ده

١٠- عن معاذ بن جبل رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ مفاتیح الجنة شهادة ان لا اله الا الله (١١٧)

ژباړه:- د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د لااله الا الله اقرار کول د جنت کیلاني دي.

فایده:- ځکه یې ورته کیلاني وویل چي د هرې دروازې او د هر جنت کیلي هم داکلمه ده نو ټولي کیلاني هم دا کلمه سوه یا په دې خاطر چي ددې کلمې دوې برخي دي یوه د لا اله الا الله اقرار کول دي، دوهمه برخه د محمد رسول الله اقرار دی په دې خاطر دوې سوي چي ددواړو په ذریعه سره جنت خلاصیږي.

---

(١١٧) رواه احمد کذافي المشکوة والجامع الصغیر ورقم له بالضعف وفي مجمع الزوائد رواه احمد ورجاله وثقوا الا ان شهراً لم یسمعه عن معاذ اهـ ورواه البزار کذافي الترغیب وزاد السیوطي في الدر ابن مردویه والبیهقي وذکره في المقاصد الحسنة بروایة احمد بلفظ مفتاح الجنة لا اله الا الله واختلف في وجه حمل الشهادة وهي مفرد علي المفاتیح وهي جمع علي اقوال اوجهها عندي انها لما کانت مفتاحا کل باب من ابوابه صارت کالمفا تیح.

په نورو روايتونو کښې هم و جنت ته د داخلېدو او يا د دوزخ حرام کېدل ذکر سوي دي د هغو څخه هم مراد پوره کلمه ده. په يو حديث کي راغلي دي چي د جنت قيمت د لااله الا الله کلمة ده.

څوک چي دورځي يا دشپې کلمة طيبة ووايي دعملنامې څخه يې بدۍ خرابي سي

١١- عن انس ﷺ قال قال رسول الله ﷺ مامن عبد قال لا اله الا الله في ساعة من ليل اونهار الا طمست مافي الصحيفة من السيئات حتى تسكن الي مثلها من الحسنات.([118])

ژباړه:- د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: بنده چي د ورځي يا د شپې په کوم وخت کښې لا اله الا الله ووايي نو د عملنامې څخه يې بدۍ خرابی سي او د هغه پر ځای نيکۍ وليکل سي.

فايده:- دبديو دخرابوالی او دنيکيو دليکلو په باره کي داول باب د دوهم فصل په لسمه شمېره حديث کښي په تفصيل سره بيان تير سوی دی. او د دې ډول آيتونو او روايتونو يو څو معناوي ليکل سوی دي. دهري معنی په اعتبار سره چي يې واخلي د دغه حديث څخه معلوميږي چي بدۍ به د عملنامې څخه خرابيږي البته اخلاص پکښې ضروري دی. د الله ﷻ نوم ډېر، ډېر اخيستل او د کلمې طيبې ډېر،ډېر ويل په خپله اخلاص پيدا کوي. په همدې خاطر د دې پاکي کلمې نوم د اخلاص کلمه ده.

څوک چي کلمة ووايي بخښنه ورته کيږي

١٢- عن ابي هريرة ﷺ عن النبي ﷺ قال ان الله تبارک وتعالي عمودًا من نور بين يدی العرش فاذا قال العبد لا اله الا الله اهتز ذالک العمود فيقول الله تبارک وتعالی اسکن فيقول کيف اسکن ولم يغفر

ژباړه:- حضرت ابو هريرة ﷺ د رسول الله ﷺ څخه روايت کوي چي وې فرمايل: د عرش په مخکي يوه د نور ستن ده کله چي څوک لا اله الا الله ووايي نو دغه ستن په ښوريدو سي. الله ﷻ وفرمايي چي ودريږه هغه ووايي څنګه ودريږم چي د کلمې طيبې ويونکي ته تر اوسه بخښنه نه ده سوي ورته

([118]) رواه ابو يعلي کذا في الترغيب وفي مجمع الزوائد فيه عثمان بن عبدالرحمن الزهري وهو متروک اهـ

لقائلها فيقول اني قد غفـرت لـه فيسكن عند ذالک. (۱۱۹)

وفرمايل سي چې ښه دی ما وهغه ته بخښنه وکړه نو هغه ستن ودريږي.

فايده: محدثينو علماؤ ته په دې روايت کښې خبري دي (ضعيف يې بللی دی) خو علامه سيوطي رحمه الله ليکلي دي چې دا روايت پر څو طريقو سره چې په مختلفو الفاظو سره دی نقل سوی دی.

په ځينو روايتونو کښې ددې سره د الله ﷻ دا فرمان هم راغلی دی چې ماکلمة طيبه څکه د دغه کس پر ژبه جاري کړه چې وهغه ته بخښنه وکړم. دا دالله ﷻ څومره مهرباني او کرم دی چې په خپله توفيق ورکوي او بيا د دغي مهربانۍ په پايله کې په خپله بخښنه ورته کوي.

د حضرت عطاء رحمه الله قصه مشهوره ده چې دی يو واري وبازارته ولاړی، هلته يوه ليونۍ مينځه خرڅېدله ده واخيسته. کله چې د شپې يو څه برخه تېره سوه نو هغه ليونۍ ولاړه سوه او دس يې وکړی، په لمانځه يې پيل وکړی او په لمانځه کښې يې داسي حالت و چې د ډېري ژړا څخه يې ساه بندېدله، تر دې وروسته هغې وويل. اې زما الله ﷻ! ستا دي زما سره په محبت کولو قسم وي چې پر ما رحم وکړه. عطآء رحمه الله چې دا واورېدل وې فرمايل چې ای مينځې! داسي ووايه اې الله ﷻ! زما دي ستا سره په محبت کولو قسم وي. مينځې چې دا واوريدل، په غصه (درد) کښې سوه او وې ويل، د هغه په ذات دي مې قسم وي، که چيري د هغه زما سره محبت نه وای نو ته به يې داسي په خواږه خوب نه بيدولای، او زه به يې داسي وخپل ځان ته نه درولای. تر دې وروسته هغې دا شعرونه وويل.

الكرب مجتمع والقلب محتـــرق	*	والصبر مفتر ق والدمع مستبـــق
كيف القرار على من لا قرار لـــه	*	مما جناه الهوای والسوق والفلـــق
يارب ان كان شيئ فيه لي فـــرج	*	فامنن علي به مادام بي رمـــق

ژباړه: - بې قراري جمع کيږي او زړه سوځي، صبر جلا سو او اوښکي بهيري. څنګه قراری راتلای سي چې د عشق، شوق او د بې قرارۍ د حملو په خاطر ورته لږ ارام هم نسته.

اې الله ﷻ! که چيري څه داسي شی کېدای سي چې په هغه کښې د غم څخه خلاصی وي نو په ژوند کښې هغه راکړه پر ما احسان وکړه.

ددې څخه وروسته هغې وويل اې الله ﷻ! زما او ستا معامله په پټه نه سوه پاته ما واخلې. دا يې وويل يو چيغه يې وکښل او مړه سوه.

---

(۱۱۹) رواه البزار وهو غريب كذا في الترغيب وفي مجمع الزوائد فيه عبد الله بن ابراهيم بن أبي عمرو وهو ضعيف جداً اه قلت وبسط السيوطي في اللالى على طرقه وذكر له شواهد

ددې دول دول څخه نوري هم ډيري قصې راغلي دي. دا ښکاره خبره ده چې د څښتن تعالی ﷻ توفيق نه وي هيڅ نسي کيدای. وما تشآءون الا ان يشآء الله رب العلمين ط.
يعني تاسو د الله ﷻ رب العالمين د خوښې څخه ماسيوا هيڅ نه سي غوښتلای.

پر کلمة ويونکو به نه په قبر اونه دحشر په ميدان کي وېره وي

۱۳- عن ابن عمر ﷺ قال قال رسول الله ﷺ ليس على اهل لا اله الا الله وحشة في قبور هم ولا منشر هم وكاني انظر الى اهل لا اله الا الله وهم ينفضون التراب عن رء وسهم ويقولون الحمدلله الذى اذهب عناالحزن وفي رواية ليس علي اهل لا اله الا الله وحشة عند الموت ولا عند القبر. (۱۲۰)

ژباړه: - حضرت عبد الله بن عمر ﷺ د رسول الله ﷺ څخه روايت کوي چي وې فرمايل: د لا اله الا الله پر ويونکو باندي به نه په قبرونو کښي بېره وي او نه به د حشر په ميدان کښي وي. هغه وخت داسي دی لکه چي زما تر نظر لاندي دی چي دوی به د خپلو سرونو څخه خاوري څنډي (د قبرونو څخه به راپورته کېږي او وايي به چي ټول تعريفونه د هغه چاليپاره دي چي زمونږ څخه يې (د همېشه لپاره) غم او تکليف ليری کړي. په بل حديث شريف کښي راغلي دي چي د لا اله الا الله پر ويونکو به نه د مرګ په وخت کښي بيره وي او نه به د قبر په وخت کښي بېره وي.

---

(۱۲۰) رواه الطبرانى والبيهقى كلا هما من رواية يحيى بن عبد الحميد الحماني وفي متنه نكارة كذا في الترغيب وذكر في الجامع الصغير برواية الطبراني عن ابن عمر ورقم له بالضعف وفي اسني المطالب رواه الطبرانى وابويعلي بسند ضعيف وفي مجمع الزوائد رواه الطبراني وفي رواية ليس على اهل لااله الاالله وحشته عند الموت ولا عند القبر في الا ولى يحيى الحماني وفي االاخرى مجاشع بن عمرو كلا هما ضعيف اهـ وقال السفاوي في المقاصد الحسنة رواه ابو يعلى والبيهقى في الشعب والطبراني بسند ضعيف عن ابن عمر اهـ قلت وما حكم عليه المنذرى بالنكارة مبناه انه حمل اهل لا اله الا الله على الظاهر علي كل مسلم ومعلوم ان بعض المسلمين يعذبون في القبر والحشر فيكون الحديث مخالفاً للمعروف فيكون منكرا لكنه ان اريد به المخصوص بهذه الصفتة فيكون موافقا للنصوص الكثيرة من القران والحديث والسابقون السابقون اولئک المقربون ومنهم سابق بالخيرات باذن الله وسبعون الفا يدخلون الجنة بغير حساب وغير ذالک من الايات والروايات فاالحديث موافق لها لا مخالف، فيكون معروفاً لا منكراً وذكر السيوطي في الجامع الصغير برواية ابن مردويه والبيهقى في البعث عن عمر بلفظ سابقنا سابق و مقتصدنا ناج وظالمنا مغفور ورقم له بالحسن قلت ويؤيده حديث سبق المفردون المستهترون في ذكرالله يضع الذكر عنهم اثقالهم فيَاتون يوم القيمة خفافاً رواه الترمذى والحاكم عن ابي هريرة والطبرانى عن ابي الدرداء كذافي الجامع ورقم له بالصحة وفي الا تحاف عن ابي الدرداء موقوفا الذين لا تزال السنتهم رطبة من ذكر الله يدخلون الجنة وهم يضحكون وفي الجامع

فایده: حضرت عبد الله بن عباس ﷺ فرمايي چي يو واری حضرت جبرائيلؑ ورسول اللهﷺ ته تشريف راوړی رسول اللهﷺ ډير غمجن و جبرائيلؑ ورته ويل: الله ﷻ پر تاسو سلام وايي او فرمايي چي زه تا خفه او غمجن وينم. ولي څه وجه ده؟ (که څه هم الله ﷻ د زړونو په رازونو خبردی خو د رسول اللهﷺ د اکرام، اعزاز او شرافت د ښکاره کولو لپاره يې دا ډول پوښتنه وکړه.) رسول الله ﷺ وفرمايل: اې جبرائيلؑ! ماته د خپل امت په باره کي ډېر فکر دی چي په قيامت کښي به د دوی څه حال وي؟ حضرت جبرائيلؑ پوښتنه وکړه چي د کافرانو په باره کي که د مسلمانانو په باره کي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل چي د مسلمانانو په باره کي فکر هم. حضرت جبرائيلؑ رسول الله ﷺ د ځان سره واخستی او يوه هديرې ته ولاړی يعنی په کوم ځای کښي چي د بنوسلمة خلک دفن (ښخ) وه. حضرت جبرائيلؑ پر يوه قبر باندي وزر ووهی او وې فرمايل چي قم باذن الله (يعني دالله ﷻ په امر راولاړ سه) د هغه (قبر) څخه ډېره ښائسته او ښکلی مخ درلودونکی کس راپورته سو او دايې وويل لا اله الا الله محمد رسول الله الحمد لله رب العلمين ط حضرت جبرائيلؑ ورته وويل چي بيرته خپل ځای ته ولاړ سه. هغه بېرته ولاړی. بيا يې پر دوهم قبر باندي وزر ووهی او وې ويل چي د الله ﷻ په امر ولاړ سه د هغه څخه يو ډېر بد شکله، تور مخی او د شنو سترګو خاوند راپورته سو او وې ويل: های افسوس، های شرمندګی، های غمه، بيا حضرت جبرائيلؑ ورته وويل خپل ځای ته بيرته ولاړ سه. تر دې وروسته يې ورسول الله ﷺ ته وويل دا خلک چي په کوم حالت کي مړه سي په هغه حالت کي به راپورته کيږي.

په پورتنی حديث کښي د لا اله الا الله د ويونکي څخه ښکاره هغه خلک مراد دي چي د دې پاکي کلمې سره د هغو خاص تعلق، خاص مناسبت او خاص شغل و ځکه د شيدو والا، ملغرو والا هغه کسانو ته ويل کيږي چي د هغو سره د دې شيانو خاصه ذخيره موجوده وي مصرفوي يې. نوځکه د لا اله الا الله د ويونکو سره په داسي معامله کېدلو کښي هيڅ شک نسته. د قرانکريم د فاطر په سورة کښي د دې امت درې طبقې بيان سوی دي. يوه سابق بالخيرات (يعني د خير په کارونو کښي وړاندي کېدونکي) چي د دوی په اړه په حديث شريف کښي راغلي دي چي هغه به بې حسابه وجنت ته داخليږي. په يوه حديث کښي راغلي دي چي څوک سل (۱۰۰) واره لا اله الا الله ووايي الله ﷻ به يې د قيامت په ورځ په داسي حال کښي راپورته کړی چي مخ به يې د څورالسم د شپې د سپوږمۍ په ډول روښانه وي.

الصغير برواية الحاكم ورقم له بالصحة السابق والمقتصد يدخلون الجنة بغير الحساب والظالم لنفسه يحساب حسابا يسيرا ثم يدخل الجنة

حضرت ابو درداء ؓ فرمایي: چي د کومو خلکو ژبي چي د الله ﷻ په ذکر سره تروتازه وي هغوی به جنت ته په خندا سره داخلیږي.

١٤- عن عبدالله بن عمرو بن العاص ؓ ان رسول الله ﷺ قال ان الله يستخلص رجلا من امتي على رءوس الخلائق يوم القيمة فينشر عليه تسعة وتسعين سجلا كل سجل مثل مدالبصر ثم يقول اتنكرمن هذا شيئا اظلمك كتبتي الحافظون فيقول لا يارب فيقول افلك عذر فيقول لا يارب فيقول الله تعالى بلى ان لک عندنا حسنة فانه لا ظلم عليک اليوم فتخرج بطاقة فيها اشهدان لا اله الا الله واشهدان محمد عبده ورسوله فيقول احضر وزنک فيقول يارب ماهذه البطاقة مع هذ السجلات فقال فانک لا تظلم اليوم فتوضع السجلات في كفة و البطاقة في كفة فطاشت السجلات وثقلت البطاقة فلا يثقل مع الله شيئ.

ژباړه: حضرت عبدالله بن عمر ؓ روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: الله ﷻ به د قیامت په ورځ زما د امت څخه یو کس انتخاب کړي، د ټولي دنیا په مخکښې به یې راوغواړي او ذده په مخکي به د عملونو نهه نوي (۹۹) دفترونو (د عملنامو کتابونه) خلاص کړي هر دفتر به دومره لوی وي چي تر کومه پوري د سترګو دید وي. له دې څخه به وروسته دده څخه سوال وسي چي ددې عملنامو په باره کي ته د څه شي څخه انکار کوي؟ ایا زما هغه ملائکی چي د عملنامو د لیکلو لپاره مقرري سوي وي ایا پر تایې څه ظلم کړی دی؟ (یعني چي تا یوه ګناه نه وی کړي هغه یې لیکلې وي یا یې د هغه د کولو څخه زیاته لیکلی وي) دی به ووایي چي یا (یعني نه دا انکار ځای په کښې سته او نه ملائکو ظلم کړی دی) بیا به ورته وفرمایل سي: چي تا ته ددې بدعملونو په کولو کي څه عذر سته؟ دی به ووایي: هیڅ عذر نسته. بیا ده ته وویل سي چي ستا یوه نیکي سته د هغه نیکي په وجه به پر تا هیڅ ظلم نه کیږي بیا به د کاغذ یوه ټوټه راوایستل سي په هغه کښې به اشهدان لا اله الا الله و اشهدان محمد عبده ورسوله لیکل سوی وي. ورته وبه فرمایل سي چي ولاړ سه دغه ټوټه کاغذ تول کړه. دی به ووایي چي ددې دومره دفترونو په مقابل کښې به دا کوچنی پرزه څه کار وکړي؟ ورته وبه فرمایل سي چي نن پر تا ظلم نه کیږي. بیا به هغه ټول دفترونه د ترازو په یوه پله کښې واچول سي او په دوهم طرف کښې به دا پرزه وي. ټول دفترونه به ددې فرزې په مقابل کښې سپک سي یعني هغه پله به کښته سي چي دفترونه پکښې او هغه پله به درنه سي چي هغه ګوچنی پرزه پکښې وي. اصلي

(۱۲۱) رواه الترمذی وقال حسن غريب وابن ماجة وابن حبان في صحيحه والبيهقي والحاكم وقال صحيح علي شرط مسلم كذافي الترغيب قلت كذا قال الحاكم في كتاب الايمان واخرجه ايضاً في كتاب الدعوات وقال

خبره داده چي د الله ﷻ تر نامه هيڅ شی درووند نسته.

فائده: - دا د اخلاص برکت دی. چي يو وار کلمهٔ طيبه په اخلاص سره ويل سوی وي پر دغو تولو دفترونو باندي غالبه سوه په همدې خاطر ضروري ده چي بنده دي يو مسلمان سپک نه بولي. او خپل ځان دي د هغه څخه غوره نه بولي. څه معلومه ده چي د دغه کس به يو عمل الله ﷻ ته قبول سي او دده د خلاصېدو سبب به سي. او خپل حال هم نه دی معلوم چي کوم عمل به مي د قبول وړ سي او که يا.

په حديثو کښي يوه قصه راځي په بني اسرآئيلو کښي دوه سړي وه چي عابد (عبادت کونکي) او بل ګنهکار و. هغه عابد به دغه ګنهکاره سړی همېشه واهه ګنهکار سړي به ورته وويل چي ما او خدای سره پرېږده. يوه ورځ عابد په غصه (درد) کښي راغلی، او وې ويل چي په الله ﷻ دي مي قسم وي ستا به هيڅکله بخښنه ونه سي. الله ﷻ په عالَم اَروَاح کي دواړه سره يو ځای کړه. ګنهکارېې په دې خاطر چي د رحمت اميدا وار و، معاف کړی او عابد يې د قسم خوړلو په بدله کښي په عذاب کړی. په دې کي هيڅ شک نسته چي دغه ډول قسم ډېر سخت دی. ځکه په خپله الله ﷻ فرمايي: ان الله لا يغفر ان يشرک به ويغفر مادون ذالک لمن يشآء ط (يعني الله ﷻ کفر او شرک نه بخښي. د دې څخه ماسوا هره ګناه چي د چا لپاره وغواړی وربخښي يې) نو چاته د دې د ويلو څه حق دی چي وفلانی ته بخښنه نسي کيدلای خو د دې دا مطلب نه دی چي په ګناهونو او ناروا خبرو دي سزا نه ورکړل کيږي دی به معاف وي او څوک به ګناهګاره سړی د ناروا څخه نه منع کوي ځکه په قرانکريم او حديثو کښي په سوونو ځايو نو د دې امر سوی دی چي ناروا کونکی بايد د ګناه څخه منعه سي او د ناروا څخه په منع کي د نه توجه په اړه سزا راغلي ده په حديثو کښي ډېر ځايونه راغلي دي چي څوک يو بل کس په ګناهونو کښي ويني او د هغه د منع کولو طاقت ولري او منعه يې نه کړي نو هغه به خپله په سزا کښي ګير سي. او په عذاب کښي به ورسره شريک سي. دا مضمون ما په خپله رساله فضائل تبليغ کښي په تفصيل سره ليکلي دی. د چا زړه که غواړی هلته دې يې وګوري.

صحيح الا سناد واقره في الموضعين الذهبي وفي المشکوة اخرجه برواية الترمذی وابن ماجة وزاد السيوطي في الدر في من عزاه اليهم احمد وابن مردويه واللا لکاتي والبيهقی في البعث وفيه اختلاف في بعض الالفاظ کقوله في اول الحديث يصاح برجل من امتی علي رؤس الخلائق وفيه ايضاً فيقول افلک عذر اوحسنة فيهاب الرجل فيقول لا يارب فيقول بلی ان لک عندنا حسنة الحديث وعلم منه ان الاستدراک في الحديث على محله ولا حاجته اذا الی ماأوله القاری في المرقاة وذکر السيوطی مايؤيد الرواية من الروايات الاخر

دلته یو ضروري شی دیادولو وړ دی هغه داچي د دیندارانو گنهکارانو لپاره قطعی دوزخ بلل د هلاکت خبره ده په کومه پیمانه چي ناپوه او جاهل خلګ چي کفري الفاظ وايي که یې په مشرانو او مقتدایانو ومني په دغه پیمانه د هلاکت خطره ډېرېږي.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي چي څوک د چا د بدعت تعظیم (عزت) کوي هغه د اسلام په نړولو کښې کومک کوي. په ډېرو حدیثونو کښې راغلی دي چي په اخره زمانه کښې به د جال، مکار او کذاب (درواغجن) پیداسي داسي حدیثونه به تاسو ته اوروي چي تاسو به (دمخه) نه وي اورېدلی. داسي نه چي دغه کس تاسو گمراه کړی او په فتنه کښې مو واچوي.

كلمهٔ شهادت په ثواب کي ترمځکي اواسمانو درنه ده

۱۵- عن ابن عباس ﷺ قال قال رسول الله ﷺ والذي نفسي بيده لوجيئ بالسموات والارض ومن فيمن وما بينهن وما تحتهن فوضعن في كفة الميزان ووضعت شهادة ان لا اله الا الله في الكفة الا خراى لرجحت بهن. (۱۲۲)

ژباړه:- حضرت عبد الله بن عباس ﷺ روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په هغه پاک ذات دي زما قسم وي چي زما ساه د ده په قبضه (واک) کښې ده که چیري ټول اسمانونه او مځکي او کوم خلګ چي د دې په منځ کښې دي او هغه شیان چي د هغه په منځ کښې دي او ټول هغه څه چي تر هغه لاندي دي هغه ټول په یوه پله کښې واچول سي او د لا اله الا الله اقرار په بل طرف کښې سي نو دغه کلمهٔ به په ترازو کښې ډېره سي.

فایده:- دا ډول روایتونه په مختلفو ځایونو کښې ذکر سوی دي او په دې کښې شک نسته چي د الله ﷻ د پاک نوم سره برابر هیڅ شی نسته. د هغه خلګو لپاره بدقسمتي او محرومي ده چي د الله ﷻ دغه سپېڅلي نوم سپک بولي. البته په دې کلمهٔ کښې درونوالی په اخلاص سره پیدا کیږي. یعني څومره چي اخلاص وي په هغه اندازه به دا پاک نوم دروند وي. د دې اخلاص د پیدا کولو لپاره د پیرانو صاحبانو بوټونه سمول یعني د هغو خدمتونه کول غوره کار دی. په یوه حدیث کښې د نبوي فرمان څخه اول یو بل مضمون ذکر سوی دی او

---

(۱۲۲) اخرجه الطبراني كذافي الدر وهكذا في مجمع الزوائد وزاد في اوله لقنوا موتاكم شهادة ان لا اله الا الله فمن قالها عند موته وجبت له الجنة قالوا يارسول الله ﷺ فمن قالها في صحته قال تلك اوجب واوجب ثم قال والذي نفس بيده الحديث قال رواه الطبراني ورجاله ثقات الا ان ابن ابي طلحة لم يسمع من ابن عباس ﷺ

هغه دادئ چي رسول الله ﷺ فرمایل دي : ومړي ته دلااله الا الله تلقین ورکوی. چاچي دمرګ په وخت کي داپاکه کلمه وویل دهغه لپاره جنت واجبیږی. اصحابو رضی الله عنهم پوښتنه وکړه چي اې دالله جل جلاله رسوله ﷺ! که چیری یې څوک په تندرستی (دروغتیا په حال کښي) ووایي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: بیانو دده لپاره دغه کلمة نوره هم زیاته دجنت واجبونکي ده. تردي وروسته یې داپورته ذکر سوی مضمون ووایه.

رسول ﷺ دکلمې لپاره لیږل سوی دئ

۱۶- عن ابن عباس رضی الله عنه قال جآء النخام بن زید و قردبن کعب وبحري بن عمرو فقالوا یا محمد ﷺ ماتعلم مع الله الهاً غیره فقال رسول الله ﷺ لا اله الا الله بذالک بعثت والی ذالک ادعو فانزل الله تعالی في قولهم قل اي شي اکبر شهادة. (۱۲۳)

ژباړه : یوځلي درسول الله ﷺ حضور ته دري کافران راغله او ورته وې ویل چي اې محمده ﷺ! ته دالله جل جلاله پرته بل څوک نه مني؟ رسول الله ﷺ کلمة طیبة وویل او بیا یې زیاته کړه چي زه په همدې کلمة سره وخلګو ته لیږل سوی یم او همدې لوري ته خلګ رابولم. بیا الله جل جلاله ددوی په اړه لاندینی آیات کریمه نازل کړی : قُل اَي شَيءٍ اَکبَرُ شَهَادَةً

فایده: رسول الله ﷺ فرمایي: زه ددې کلمې سره مبعوث (لیږل) سوی یم یعني نبي جوړ سوي او رالیږل سوی یم اود همدې کلمې وخوا ته خلګ رابولم. درسول الله ﷺ دفرمان دامطلب نه دی چي درسول الله ﷺ په دې کلمة سره خاص سوی دی بلکي ټول نبیان ددې کلمې لپاره نبیان سوي او رالیږل سوی دي اود همدې کلمې وخواته دعوت کونکي تیرسوي دي. د حضرت آدم علیه السلام څخه نیولی بیا تر ختم الانبیا فخر رسول محمد ﷺ پوري هیڅ داسي نبی نسته چي ددې مبارکي کلمې دعوت یې نه وي کړی. څومره برکتي او مهتم بالشان (مهمه او ضروري) کلمه ده چي ټول نبیان او د مذهبونو رښتنی پیروان ددې پاکي کلمې وخواته بلونکي دي او ددې ښودونکی دي. آخر یو څه خبره خو ده چي له دې کلمې څخه هیڅ ریښتنی مذهب خالي نه دی ددې کلمې په تصدیق د قرآنکریم دا آیت شریف نازل سو :قُل اَي شَيءٍ اَکبَرُ شَهَادَةً (۱۲۴)چي درسول الله ﷺ په تصدیق کښي دالله جل جلاله دشاهدۍ بیان دی.

---

(۱۲۳) اخرجه ابن اسحاق وابن المنذر وابن ابي حاتم وابو الشیخ کذا في الدرا لمنثور
(۱۲۴) سورة انعام دوهمه رکوع

په حدیث شریف کښې راغلي دي چي کله بنده لا اله الا الله ووايي نو الله ﷻ دده تصدیق کوي، او فرمايي چي زما بنده ریشتیا وويل، زما څخه ماسوا هيڅوک د عبادت لائق نسته.

۱۷- عن لیث قال قال عیسی بن مریم ﷺ امة محمد ﷺ اثقل الناس في المیزان ذلت السنتهم بكلمة ثقلت على من كان قبلهم لا اله الا الله. (۱۲۵)

ژباړه: حضرت لیث رحمه الله روایت کوي چي حضرت عیسی ﷺ فرمايي چي د محمد ﷺ د امت عملونه (د حشر په تله کښې ځکه) تر ټولو ډیر درانه دي چي ددوی ژبې دیوې داسي کلمې سره بلدي دي چي پر اولو امتونو باندي درنه وه. هغه کلمه د لا اله الا الله ده.

فایده: دا یوه ښکاره خبره ده چي د محمد ﷺ په امت کښې چي د کلمې طیبې څومره ډیر والي سته په هیڅ یوه امت کښې دومره ډیروالی نسته. پیران صاحبان د سلهاوو زرنو په اندازه دي او بیا د هر پیر زیات وکم په سوونو مریدان دي او تقریبا د ټولو په نزد کلمه طیبه د زرګونو ځلو ویلو په اندازه د ورځي په عادت کښې داخله ده. په جامع الاصول کښې لیکل سوي دي چي دالله ﷻ د لفظ ذکر د وظیفې په ډول په کمه اندازه د پنځو زرو (۵۰۰۰) په اندازه دی او د ډیر لپاره یې اندازه نسته. د صوفیانو لپاره د ورځي پنځه ویشت (۲۵۰۰۰) زره واره دی. او د لا اله الا الله په اړه یې لیکلي دي چي کمه اندازه یې د ورځي پنځه زره (۵۰۰۰) واري ده، مګر دغه اندازه د پیرانو صاحبانو لخوا کمیږي او زیاتیږي. زما مقصد د حضرت عیسی ﷺ دوینا په تائید کي د پیرانو زیاته اندازه بیانول دي چي د یوه یوه کس لپاره د ورځي ډیره کمه اندازه ښودل سوي ده. زموږ حضرت شاه ولي الله صاحب په (قول جمیل) نومي کتاب کي د خپل پلار څخه روایت کړی دی چي ما د سلوک په پیل کښې په یوه ساه دوه سوه (۲۰۰) واره لا اله الا الله وویل.

شیخ ابو زید قرطبي رحمة الله علیه فرمايي: ما اوریدل دي چي څوک اویا زره (۷۰۰۰۰) واري لا اله الا الله ووايي هغه ته به د دوزخ د اور څخه خلاصون ورکړل سي. ما چي دا واوریدل نو یو ځل مي کلمة طیبة اویا زره ځلي د خپلي بي بي لپاره وویل او څو ځلي مي اویا زره د خپل ځان لپاره وویل او د اخرت لپاره مي ذخیره کړه. زموږ سره یو ځوان اوسیدی چي د هغه په باره کي دا ویل کیده چي دی صاحب کشف دی او د جنت او دوزخ حال هم ورته معلومیږي ماته ددې په ریښتینوالي کښې یو څه شک و، یو واري دغه ځوان زموږ سره په خوراک کښې

(۱۲۵) اخرجه الا صبهاني في الترغیب كذا في الدر

شریک و چي نا ببره یې یوه چیغه وکړه او ساه یې په سلګیو کښي سوه او وې ویل چې زما مور په دوزخ کي سوځي دهغې حال ماته معلوم سو قرطبي رحمه الله وایي چي ما د هغه دا خفګان ولیدی نو ماته په فکر کښي راغلل چي یو اویا زره واره کلمة طیبة دده دمور لپاره ووایم اودده ومورته یې ور وبخښم چي په دې سره به ماته دده د ریښتینوالي تجربه وسي. نو ما یو نصاب د هغو نصابونو څخه چي د خپل ځان لپاره مي ویلي وه دده ومورته وبخښی. ما په خپل زړه کښي په پټه وروبخښی او زما ددې خبري په ویلو سره د الله جل جلاله څخه ماسوا هیڅوک نه و خبر هغه ځوان فورا وویل چي کاکا زما مور ددوزخ د اور څخه لیري کړل سوه. قرطبي رحمه الله وایي چي وما ته ددې قصې څخه دوې فایدې ښکاره سوي. یوه ددې کلمې برکت چي ما د اویا زرو په اندازه اوریدلی و.دهغه تجربه وسوه.دوهم دهغه ځوان د ریښتینولي یقین مي وسو.

دا خو یوه واقعه ده. معلومه نه ده چي دا ډول به څومره واقعاتي ددي امت په پیروانو کښي پیدا کیږي. د صوفیانو په اصطلاح کښي یو کوچنی شي (پاس انفاس)دی . پاس انفاس وهې ته وایي چي یوه ساه هم دننه یا د باندي بیله ذکر ویلو ولاړه نه سي. په محمدي امت کښي په سل ګونه زره داسي کسان شته چي دغه کیفیت ورته حاصل دی.

نو بیا د حضرت عیسی علیه السلام په دې فرمان کښي څه شک دی چي د هغو ژبي د لا اله الا الله د کلمې سره بلدي او فرمانبرداري دي.

دجنت پر دروازه کلمة طیبة لیکلې ده

۱۸). عن ابن عباس رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ قال مکتوب علی باب الجنه انني انا الله لا اله الا انا لا اعذب من قالها(۱۲٦)

ژباړه: حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل د جنت پر دروازه باندي داسي لیکل سوي دي: (انني انا الله لا اله الا انا لا اعذب من قالها) زه الله جل جلاله یم زما څخه ماسوا هیڅوک د عبادت وړ نسته ، هر څوک چي دا (کلمة) ووایي زه هغه نه په عذابوم.

فایده : په ګناهونو باندي عذاب ورکول په نورو حدیثونو کښي ډیر راغلي دي. په دې وجه که چیري ددې څخه همیشه عذاب مراد وي نو هیڅ شک پکښي نسته. خو که څوک نیکبخته په اخلاص سره ددې جملې وظیفه کوونکی وي، چي د ګناهونو سره الله جل جلاله هیڅ

(۱۲٦) اخرجه ابو الشیخ کذا في الدر

عذاب ورنه کړي نو دا هم د الهي رحمت څخه لیري نه ده. لکه چي په نهم او څوارلسم شمېرو حدیثو نو کښې چي په تفصیل سره بیان تیر سوی دی.

څوک چي کلمة طیبة ووایي هغه دالله ﷻ په کلا کښې داخل سو

(۱۹) عن علي ﷺ قال حدثنا رسول الله ﷺ عن جبرائیل ؑ قال قال الله عز وجل اني انا الله لا اله الا انا فاعبدني من جاء ني منکم بشهادة ان لا اله الا الله بالاخلاص دخل في حصني ومن دخل حصني امن عذابي.([127]).

ژباړه: حضرت علی ﷺ روایت کوي چي رسول الله ﷺ د جبرائیل ؑ څخه نقل کوي چي الله ﷻ فرمایي: زه الله یم، زما څخه ماسوا هیڅوک د عبادت وړ نسته نو زما عبادت کوی، ستاسو څخه چي څوک په اخلاص سره د لا اله الا الله شاهدي ورکونکی راسي، هغه زما په کلا کښې داخل دی او څوک چي زما په کلا کښې داخل سو هغه زما د عذاب څخه خلاص سو.

فایده: که چیري دا دهغه چالپاره وي چي کبیره ګناهونه یې نه وي نو بیا خو هیڅ شک نسته پکښې لکه چي په پنځمه شمېره حدیث کښې چي تیر سوه.

او که چیري د کبیره ګناهونو سره دا کلمه ووایي نو بیا د قاعدې سره برابر دائمي عذاب څني مراد دی البته دالله ﷻ رحمت د قاعدو پا بند نه دی. د قرآنکریم صفا او روښانه فرمان دی چي الله ﷻ شرک نه معافوي خو ددې څخه ماسوا وهر چاته چي وغواړي معافوي یې.

لکه په یوه حدیث کښې چي راغلي دي الله ﷻ هغه کس په عذابوي (عذاب ورکوي) چي دالله ﷻ څخه سرکښې کوي او د لا اله الا الله د ویلو څخه انکار کوي.

په یوه حدیث کښې راغلي چي لا اله الا الله دالله ﷻ غصه لري کوي، تر څو چي دنیا پر دین ښه ونه بولي او که دنیا پر دین ښه وبولي نو الله ﷻ ورته وایي چي ته په خپله دعوه کي رښتیني نه یې.

(۱۲۷) اخرجه ابونعیم في الحلیه کذافي الدر وابن عساکر کذا في الجامع الصغیر وفیه ایضا بروایه الشیرازي عن علی ورقم له بالصحه وفي الباب عن عتبان بن مالک بلفظ ان الله قد حرم علی النار من قال لااله الاالله یبتغي بذالک وجه الله رواه الشیخان وعن ابن عمر بلفظ ان الله لا یعذب من عباده الا المار والمتمرد الذي یتمرد علی الله وابي ان یقول لا اله الا الله رواه ابن ماجه

۲۰).عن عبدالله بن عمروﷺ عن النبيﷺ قال افضل الذکر لا اله الا الله و افضل الدعا الا ستغفار ثم قرء فاعلم انه لا اله الا الله واستغفر لذنبک . الایه .([۱۲۸]).

ژباړه: حضرت عبدالله بن عمروﷺ د رسول اللهﷺ څخه روایت کوي چي په ټولو ذکرونو کښي افضل (ښه) ذکر لا اله الا الله دی او په ټولو دعاګانو کښي افضله (ښه دعا) استغفار دی. بیا یې ددي په تائید د سورة محمد لاندي آیات ووایه : فَاعلَم اَنهُ لَا الهَ الا اللّٰہُ ....

فایده : ددي فصل تر ټولو په لومړی حدیث کښي هم دا مضمون تیر سوی دی چي لا اله الا الله ذکر تر ټولو ذکرونو افضل ذکر دی په همدې خاطر صوفیانو دا لیکلي دي چي د زړه په پاکولو کښي دې ذکر ته خاص مناسبت دی. ددې په برکت سره زړه د ټولو پلیتیو (ناپاکیو) څخه پاکیږي . او کله چي استغفار ورسره شامل سي نو بیا خو بیخي لوړه درجه ده.

په یوه حدیث کښي راغلي دي چي حضرت یونسؑ چي کله ماهي وخوړی نو ده د ماهي په نس کښي دا دعا ویل : لا اله الا انت سبحنک اني کنت من الظلمین . څوک چي په دې الفاظو سره دعا وغواړي خامخا به قبلیږي.

په اول حدیث کښي همدا مضمون تیر سوی دی چي تر ټولو افضل او بهترین ذکر لا اله الا الله دی خو هلته تر ټولو افضله اوبهترینه دعا الحمدلله ویل سوې ده . او دلته استغفار راغلی دی. دا ډول اختلافونه د حالاتو په اعتبار سره هم کیږي. یعني یو سړی متقي او پرهیزګار وي دهغه لپاره الحمدلله ویل تر ټولو افضله ده، بل سړی بیا ګناهګار دی هغه د توبې او استغفار ډېر محتاج دی. د هغه لپاره استغفار ویل تر ټولو ضروري دی.

ددې څخه ماسوا افضیلت په مختلفو وجوهاتو سره وي. یعني د فایدې په لاس ته راوړلو کي د اللهﷻ حمد او ثنا تر ټولو ډېره فایده ورکوونکي ده. خو د تاوان، ضرر او تنګی د لري کولو لپاره استغفار تر ټولو ډېر فایده من دی. ددي څخه ماسوا ددې ډول اختلافونو نوري وجهي هم سته.

(۱۲۸) اخرجه الطبراني وابن مردویه والدیلمي کذا في الدرو في الجامع الصغیر بروایه الطبراني مامن الذکر افضل من لا له الا الله ولا من الدعا افضل من الاستغفار ورقم له بالصحه

دشیطان هلاکت په کلمهٔ طیبهٔ سره دئ

(۲۱). عن ابي بکرن الصدیقﷺ عن رسول اللهﷺ علیکم بلا اله الا الله و الاستغفار فاکثروا منهما فان ابلیس قال اهلکت الناس بالذنوب واهلکوني بلا اله الا الله والاستغفار فلما رایت ذلک اهلکتهم بالاهواء وهم یحسبون انهم مهتدون . ([۱۲۹])

ژباړه: حضرت ابو بکر صدیقﷺ د رسول اللهﷺ څخه روایت کوي چي لا اله الا الله او استغفار ډیر، ډیر وایاست ځکه چي شیطان وایي ما خلګ په ګناهونو سره هلاک (برباد) کړه او هغو زه په لا اله الا الله او استغفار سره هلاک کړم. کله چي ما ولیدل (چي داخو هیڅ هم ونه سوه) نو ما دوی د نفس په هوا (بدعاتو) سره هلاک کړل او دوی ګمان کاوه چي موږ پر هدایت یو.

فایده : په لا اله الا الله او استغفار سره د هلاکولو څخه مطلب دادی چي د شیطان زورور مطلب پر زړه باندي خپل زهر خیژول (تویول) دي چي په اړه یې ذکر د اول باب ،دریم فصل په څوارلسمه شمېره کښي بیان تیر سوی دی. دا زهر هغه وخت خیژي چي کله زړه دالله ﷻ ذکر څخه خالي وي او که زړه دالله ﷻ دذکر څخه خالي نه وي نو شیطان په ذلت سره بیرته ځي . ذکر د زړونو د صفایۍ (پاکۍ) ذریعه ده لکه چي په مشکواة شریف کښي چي د رسول اللهﷺ څخه نقل سوی دی چي د هر شي لپاره یوه صفایي وي ، د زړونو صفایي دالله ﷻ ذکر دئ.

همدا ډول د استغفار لپاره هم ډیر حدیثونه راغلي دي چي استغفار د زړونو دخیرو او زنګ لري کوونکی دی. ابو علي د قاق رحمة الله علیه وایي کله چي بنده په اخلاص سره لا اله و وایي نو یو دم زړه صفا سي (لکه څنګه چي پرُ هنداره لوند ټوکر راکش سي) او کله چي هغه الا الله و وایي نو پر صفا زړه باندي د هغې نور ښکاره سي. په داسي حالت کي معلومه خبره ده چي د شیطان ټول کوښښونه بي کاره سوه او کوښښ یي ضایع سو.

په هوایي نفس سره د هلاکولو مطلب دادی چي نا حق ، حق وبولي او څه چي یې په زړه کښي راسي هغه دین او مذهب جوړ کړي. په قرآنکریم کښي ددې بدی بیان سوی دی. په یوه ځای کښي الله ﷻ فرمایي :

([۱۲۹]) اخرجه ابویعلی کذا في الدر والجامع الصغیر ورقم له بالضعف

أَفَرَءَيۡتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ وَأَضَلَّهُ ٱللَّهُ عَلَىٰ عِلۡمٍ وَخَتَمَ عَلَىٰ سَمۡعِهِۦ وَقَلۡبِهِۦ وَجَعَلَ عَلَىٰ بَصَرِهِۦ غِشَٰوَةً فَمَن يَهۡدِيهِ مِنۢ بَعۡدِ ٱللَّهِۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٢٣﴾"[130]

ژباړه: ایا تا دهغه کس حالت هم ولیدی چا چي خپل خدای د خپل نفسي خواهش جوړ کړی، او الله ﷻ دی د پوهي سره ګمراه کړی او دده پر غوږ او زړه یي مهر ولګوی او پر سترګو یې پرده وواچوله (چي حقه خبره نه اوري، نه یې ویني او نه یي زړه ته لویږي) الله ﷻ چي څوک ګمراه کړي هغه ته څوک هدایت ورکولای سي؟ بیا هم تاسي نه پوهیږی.

په بل ځای کښي الله ﷻ فرمایلي دي:

وَمَنۡ أَضَلُّ مِمَّنِ ٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ بِغَيۡرِ هُدٗى مِّنَ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٠﴾ (131)

ژباړه: تر داسي کس به ډیر ګمراه څوک وي چي د خپل نفساني خواهش تابعداري کوي.بې له دې چي څه دلیل دالله ﷻ له طرفه (دده څخه) وي الله ﷻ داسي ظالمانو ته هدایت نه کوي.

په نورو ډیرو ځایونو کښي هم دا ډول مضمون راغلی دی. دا د شیطان ډیره سخته حمله ده چي وبې دینی ته د دین جامه ورواغوندي او سړی دغه بې دیني دین وبولي . او پر هغه د ثواب امید ولري، او کله چي عبادت او ددین څخه پرته په نورو شیانو اخته وي نو ذهغه څخه به څنګه توبه کوي؟ که چیري یو څوک زنا ، غلا ، او په نورو ګناهونو کښي اخته وي نو یو وخت ورڅخه د توبې او د پرهېښودلو امید سته . خو کله چي ناروا کار عبادت بولي نو دهغه څخه به توبه ولي کوي، او هغه به ولي پریږدي. بلکي ورځ په ورځ به په هغه کي ترقي کوي همدا دشیطان ددې وینا مطلب دی چي ما په ګناهونو کښي اخته کړل خو دالله ﷻ په ذکر ، توبې او استغفار سره یې زه خفه او پرېشانه کړم. نو ما دوی په داسي جال کښي ګیر کړل چي د هغه څخه هیڅ وتلای نه سي. په همدې خاطر ددین په هر کار کښي د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو رضي الله عنهم طریقه خپل رهبر جوړول ډیره ضروري خبره ده او داسي طریقه اختیارول چي د سنتو څخه خلاف وي نیکی یې بربادوي او ګناه پر لازمه ده.

امام غزالي رحمة الله علیه د حسن بصري رحمة الله علیه څخه نقل کړی دی چي و ماته دا روایت راورسیدی چي شیطان وایي ما د محمدي امت په مخکي ګناهونه په زیب وزینت (ښائست)

---

[130]: سوة الجاثية الاية ۲۳

([131]) سورة قصص الاية (۵۰)

سره وړاندي کړل، چي دوی هغه هیڅ ګناه نه بولي چي په هغوی باندي استغفار (توبه) وکړي او دغه بدعات دین بولي . وهب بن منبه رحمه الله وايي : د الله ﷻ څخه وبیریږه ته په مجلسونو کښي پر شیطان لعنت وايي او په پټه د هغه اطاعت کوي او دهغو سره دوستي کوي.

د ځینو صوفیانو څخه نقل سوی دئ چي د اڅومره د حیرانتیا خبره ده چي دالله ﷻ په دول محسن (احسان کوونکي) د احسانونو تر معلومېدو او پر هغه تر اقرار وروسته د هغه نافرماني وسي. او د شیطان دښمني، مکاري او سرکښي معلومه سي او بیا هم دهغه اطاعت وسي.

څوک چي پر کلمة طیبة مړ سي خامخا به جنت ته ځي

۲۲).عن معاذ بن جبل رضي الله عنه قال قال رسول الله لا یموت عبد یشهد ان لا اله الا الله واني رسول الله یرجع ذالک الی قلب موقن الا دخل الجنه وفي روایه الا غفر الله له.([132])

ژباړه: حضرت معاذبن جبل رضي الله عنه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوک چي په داسي حال کښي مړ سي چي په پاخه زړه سره د لا اله الا الله محمد رسول الله شهادت ورکوي خامخا به جنت ته داخلیږي. په بل حدیث کي دي چي خامخا به وهغه ته الله ﷻ بخښنه کوي.

فایده: د رسول الله ﷺ څخه په صحیح حدیث کښي دا هم روایت سوی دئ چي زیری واوری او ونورو ته یي هم زیری ورکړی: څوک چي په ریښتني زړه د لا اله الا الله اقرار وکړي، هغه به وجنت ته داخلیږي. دالله ﷻ سره د اخلاص قدر او عزت دئ، د اخلاص سره لږ عمل هم ډېر زیات اجر او ثواب لري، که چیري دریا او دخلګو د خوشالولو لپاره څه کار وکړي نو دالله ﷻ د رحم په دربار کښي هیڅ اهمیت نه لري او په اخلاص سره لږ عمل هم ډېره ګټه لري په همدې وجه څوک چي په اخلاص سره د شهادت کلمه ووايي هغه ته به خامخا بخښنه کیږي، هغه به خامخا په جنت کښي داخلیږي، په دې کښي هیڅ شک نسته ، دا ممکنه ده چي هغه به د خپلو ګناهونو په خاطر څو ورځي سزا وخوري بیا به جنت ته ولاړ سي خو داضروري نه ده

([132]) اخرجه احمد والنسائي والطبراني والحاکم والترمذي في نوادر الاصول وابن مردویه والبیهقي في الاسماء والصفات کذا في الدروابن ماجه وفي الباب عن عمران بلفظ من علم ان الله ربه و اني نبیه موقنا من قلبه حرمه الله علی النار رواه البزار ورقم له في الجامع بالصحة وفیه ایضا بروایه البزار عن ابي سعید من قال لا اله الا الله مخلصا دخل الجنه ورقم بالصحة .

چي د چا اخلاص به مالک الملک ته خوښ سي او په څه خدمت به يي راضي سي نو د هغه ټول ګناهونه معاف سي، پر داسي کريم (سخي) ذات چي موږ خپل ځانونه قربان نه کړو څومره ډير محرومي ده.

په هر حال په دې حديثونو کښي د کلمې طيبې د ويونکو لپاره ډيري وعدې دي چي په هغه کښي دا دواړي خبري سته چي د قاعدې سره برابر به د ګناهونو په اندازه په دوزخ کښي سزا ويني وروسته به معافي ورته کيږي او يا به د الله ﷻ د مهرباني احسان او رحم په خاطر بېله عذابه ورته معافي وسي.

يحي بن اکثم رحمة الله عليه چي يو محدث دی کله چي مړ سو تو يو چا په خوب کښي وليدی او پوښتنه يې ځني وکړه چي د قبر حالت دي څنګه تير سو؟ ده په جواب کښي ورته وويل چي زه وړاندي سوم او راته وويل سوه : اې ګنهګار سپين ږيري! تا فلانی کار کړی دی ، فلانی کار دي کړی دئ ، زما ګناهونه يې حساب کړل ، او وې ويل چي تا داسي کارونه کړي دي، ما خواست وکړی چي اې الله ﷻ! ماته ستا له خوا دا حديث نه دی رارسيدلي؟ وې فرمايل چي کوم حديث درته رسيدلی دی؟ ما ورته وويل چي ماته عبدالرازق رحمة الله عليه وويل ، ده ته معمر رحمة الله عليه ويلي وه. هغه ته زهري رحمة الله عليه ويلي وه، هغه ته عروة رحمة الله عليه ويلي وه، هغه ته حضرت عائشي رضي الله عنها ويلي وه، هغې ته رسول الله ﷺ فرمايلي وه، هغه مبارک ته حضرت جبرائيل عليه السلام عرض کړي و او هغه ته تاسو فرمايلي وه چي څوک په اسلام کښي سپين ږيری سي او زه و هغه ته (د هغه د عملونو په خاطر) د عذاب د ورکولو اراده هم وکړم خو د هغه د سپين ږيريتوب څخه حيا وکړم ، معاف يې کړم او دا تاسو ته معلومه ده چي زه سپين ږيری يم ، وې فرمايل چي عبدالرازق ريښتيا ويلي دي، معمر هم ريښتيا ويلي دي، زهري هم ريښتيا ويلي دي ، عروه هم ريښتيا روايت کړی دی، عائشې هم ريښتيا ويلي دي رسول الله ﷺ هم ريښتيا ويلي دي جبرائيل عليه السلام هم ريښتيا ويلي دي او ما هم ريښتيني خبره کړې ده.

يحيی رحمة الله عليه وايي چي د دې څخه وروسته ماته و جنت ته د داخليدو امر وسو.

دکلمې او الله جل جلاله ترمنځ حجاب نسته

۲۳- عن انس رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ليس شيئ الا بينه وبين الله حجاب الا قول لا اله الا الله ودعاء الوالد.([۱۳۳])

ژباړه: حضرت انس رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د هر عمل والله جل جلاله ته د رسېدو لپاره په منځ کښې پرده وي خو دلا اله الا الله او د پلار دعا د ځوي په باره کي هیڅ پرده نسته.

فایده: د پردې د نه کېدو مطلب دادی چې ددې شیانو په قبلېدو کښې لږ غوندي وخت هم نه لګيږي، د نورو کارونو او قبلېدو په منځ کښې نوري واسطې هم مامنع وي . خو دا شیان سیده (نیغ) او ژرد الله جل جلاله ودربار ته ورسیږي.

په کتابونو کښې یې د یوه کافر پاچا قصه لیکلي ده چې ډیر سخت ظالم او کینه ګر و نابېره د مسلمانانو سره په یوه جنګ کښې و نیول سو، و مسلمانانو ته دده څخه ډیر سخت تکلیفونه رسیدلي وه نو د بدلې اخستلو جذبه هم په دوی کښې ډیره وه نوځکه یې پاچا په یوه دیګ کښې واچوی او پراور باندي یې کښیښودی ، پاچا اول خو و خپلو بتانو ته اوازونه (نارې) وکړي او کومک یې ورڅخه وغوښتی خو هیڅ ونه سوه (بتانو کومک ورسره نه وکړی) بیا مسلمان سو او دلا اله الا الله وظیفه یې پیل کړه او پر له پسې یې ویله دا چې ده په ځومره جوش او اخلاص سره به یې ویله ښکاره خبره ده دستي دالله جل جلاله له خوا څخه کومک وسو او داسي تیز باران وسو چې هغه ټول اور مړ سو او دیګ یخ سو تر دې وروسته تیزه سیلۍ (باد) راغی چې په هغه سره هغه دیګ والوتی او یوه لیري ښاره ته ولاړی کښته سو چې هلته ټوله کافران وه، ده بیا هم پر له پسې کلمه ویله ، خلګ ټول پرې راټول سوه ، کافرانو چې دا عجیبه کار ولیدی حیران سوه دده څخه یې د پیښې پوښتنه وکړه ده ورته خپله ټوله قصه وکړه اخر هغه هم په دې کلمة سره مسلمانان سوه.

([۱۳۳]) اخرجه ابن مردودیه کذا في الدرالمنثور في الجامع الصغیر بروایه ابن النجار ورقم له بالضعف وفي الجامع الصغیر بروایه الترمذي عن ابن عمر ورقم له بالصحة التسبیح نصف المیزان والحمد لله تملاه ولا اله الا الله لیس لها دون الله حجاب حتی تخلص الیه

څوک چې دالله ﷻ د رضا لپاره كلمة طيبة وايي د دوزخ اور به پرې حرام وي

٢٤). عن عتبان بن مالک ﷺ قال قال رسول الله ﷺ لن يوافي عبد يوم القيمة يقول لا اله الا الله يبتغي بذلک وجه الله الا حرم على النار. (١٣٤)

ژباړه: حضرت عتبان بن مالک ﷺ د رسول ﷺ څخه روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به څوک نه راځي چې لا اله الا الله داسي وايي چې د الله ﷻ رضاء څخه ماسوا يې بل هيڅ مقصد نه وي مګر د دوزخ به پرې هغه حرام سي.

فايده : څوک چې په اخلاص سره د كلمې طيبې وظيفه كوي پر هغه د دوزخ د اور په حرامېدولو كښي د ښكاره قاعدې سره سم دا شرط دى چې د كبائرو (لويو) ګناهونو څخه به يې ځان ساتلي وي، او يا د دوزخ د حرامېدو څخه مراد په دوزخ كي هميشه اوسيدل دي. خو كه الله ﷻ د دې پاكي كلمې په اخلاص د ويونكي د ګناهونو سره سره بيخي د دوزخ څخه معاف كړي نو څوک يې منع كولاى سي.

په حديثونو كښي د داسي بندګانو بيان هم راځي چې د قيامت په ورځ به الله ﷻ ځينو خلګو ته وفرمايي: چې تا فلانى ګناه كړي ده، فلانى كار دي كړى وو او كله چې داسي ډېر ګناهونه حساب سي نو هغه كس به پوه سي چې زه هلاک سوم او د اقرار څخه به ماسوا بله هيڅ لاره نه وي نو ورته و به فرمايل سي چې موږ په دنيا كښي پرتا پرده واچوله ستا ګناه مو نه ښكاره كول نن هم ستا پرده كوو، ته مو معاف كړي.

دا ډول ډېر واقعات په حديثونو كښي موجود دي. په همدې خاطر كه د ذاكرينو لپاره هم دا ډول معامله وي نو ليري خبره نه دي.

دالله ﷻ په لوى نامه كښي لوى بركت او ډېري فايدي دي. د دې نامه د ذكر لپاره چې هر څومره ډېروالى كېدى سي پر ښو دل يې نه دي پكار، هغه مباركي هستي څومره نيک بختي دي چې د دې پاكي كلمې په بركتونو پوه سول او د دې په ورد (وظيفه) كښي يې عمرونه ختم كړل.

---

(١٣٤) اخرجه احمد والبخاري ومسلم وابن ماجه والبيهقي في الاسماء والصفات كذا في الدر

(۲۵) عن يحيى بن طلحه بن عبدالله قال روي طلحه حزينا فقيل له مالک قال اني سمعت رسول الله ﷺ يقول اني لاعلم كلمه لا يقولها عبد عند موته الا نفس الله عند كربته واشرق لونه وراي مايسره وما منعني ان اسئله عنها الا القدرة عليه حتى مات فقال عمر رضي الله عنه اني لا علمها قال فما هي قال لا نعلم كلمة هي اعظم من كلمة امر بهاعمه لا اله الا الله قال فهي والله هي.(۱۳۵).

ژباړه : د حضرت يحيى بن طلحه رضي الله عنه څخه روايت دی چي حضرت طلحه رضي الله عنه خلکو وليدي ډير غمجن ناست و ، چا ورڅخه پوښتنه وکړه چي دا ولي؟ وې فرمايل : ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي و چي ماته يوه داسي کلمه معلومه ده چي څوک يې د مرګ په وخت کي ووايي نو د مرګ د تکليف به ورڅخه ليري سي، رنګ به يې روښانه سي او د خوشالی منظره به ووينی . خو وماته د رسول الله ﷺ څخه ددغه کلمې د پوښتني طاقت ونه سو (ددې څخه غمجن يم .) حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل : ماته معلومه ده. طلحه رضي الله عنه (خوشاله سو) وې ويل کومه ده ؟ حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل : ومونږ ته معلومه ده چي هيڅ کلمه ددې کلمي څخه لويه نسته چي رسول الله خپل اکا (ابو طالب) ته ويلي وه او هغه لا اله الا الله ده طلحه رضي الله عنه وويل په الله قسم کوم چي هم داده په الله قسم کوم هم داده.

فايده : د کلمې طيبې سراسر نور او خوشالېدل د ډيرو روايتو څخه معلوميږي . حافظ ابن حجر رحمة الله عليه په منبهات کښي د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چي پنځه تيارې دي او ددوی لپاره پنځه ډيوې (روښنايی) دي : ددنيا سره محبت تاريکه ده، ددې لپاره تقوای ډيوه ده ، ۲- ګناه تاريکه ده، ددې دپاره توبه ډيوه ده . ۳- قبر تاريک دی ، ددې لپاره لا اله الا الله محمد رسول الله ډيوه ده . ۴- آخرت تاريک دی، ددې لپاره نيک عملونه ډيوه ده او . ۵- پل صراط تاريک دی ددې لپاره يقين (باور) ډيوه ده.

رابعه عدويه يوه مشهوره بزرګه (تقوای داره) وه، ټوله شپه به په لمانځه کښي مشغوله (اخته) وه. تر صبح صادق وروسته به لږ وخت بيده کيده ، او کله به چي د سهار رڼا ښه ښکاره سوه نو په وېره به راولاړه سوه او خپل ځان به يې ملامتوی چي تر کومه وخته پوري

---

(۱۳۵) اخرجه البيهقي في الاسماء والصفات كذا في الدرقلت اخرجه الحاكم وقال صحيح على شرط الشيخين واقره عليه الذهبي واخرجه احمد واخرج ايضا من مسند عمر بمعناه بزيادة فيهما واخرجه ابن ماجة عن يحيى بن طلحة عن امه وفي الشرح الصدور للسيوطى و اخرجه ابو يعلي والحاكم بسند صحيح عن طلحة وعمر قالا سمعنا رسول الله ﷺ يقول اني اعلم كلمة الحديث

به لابیده یي ، د قبر وخت ډیر ژر راتلونکی دی چي په هغه کښي به بیا(د اسرافیل ﷺ د شپیلۍ) تر وهلو پوري بیده یي ، کله چي یې د مرګ وخت رانژدې سو ، نو یوې خدمتګاري ته یي وصیت وکړی چي دا کمزوري جامه چي ما به دتهجد په وخت کښي اغوستي په دې کښي کفن راکړه او زما په مرګ څوک مه خبروه . د وصیت سره سم یې د کفن او دفن (د ښخولو) انتظام وسو ، وروسته دغي خدمتګاري په خوب کښي ولیدله ، چي ډیري ښکلي جامې یې اغوستي وي، پوښتنه یي ورځخه وکړه چي ستا هغه جامه څه سوه چي په هغه کښي وتاته کفن درکړل سوي و. دې ورته وویل چي هغه جامه یې راټوله کړه او زما د عملونو سره یې کښیښودل. خدمتګاري ورته خواست وکړی چي وماته یو څه نصیحت وکړه. وې فرمایل چي دالله ﷻ ذکر څومره چي کولای سي کوه یي چي ددې په وجه به ته په قبر کي دغبطې وړه جوړه سي.

په دین کي دوسوسو څخه خلاصون په کلمهٔ طیبهٔ دی

٢٦). عن عثمان ﷺ قال ان رجالامن اصحاب النبي ﷺ حین توفي حزنوا علیه حتی کاد بعضهم یوسوس قال عثمان ﷺ وکنت منهم فبینا اناجالس مر علی عمر ﷺ وسلم فلم اشعر به فاشتکی عمر ﷺ الی ابي بکر ﷺ ثم اقبلا حتی سلما علي جمیعا فقال ابوبکر ﷺ ما حملک علی ان لا ترد علی اخیک عمر ﷺ سلامه قلت ما فعلت فقال عمر ﷺ بلی والله لقد فعلت قال قلت والله

ژباړه : د حضرت عثمان ﷺ روایت سوی دی چي د رسول الله ﷺ (زما روح دي ورځخه قربان سي) د وفات په وخت کي صحابه کرام ﷺ دومره سخت غمجن وه چي په ډېرو مختلفو وسوسو کښي ګیر سول . حضرت عثمان ﷺ فرمایي چي زه هم دهغه خلګو څخه وم چي په وسوسو کښي ګیر سوي وه .(زه په داسي حالت کي ناست وم) چي حضرت عمر ﷺ زما وخواته راغلی او سلام یې راته وواېه خو ماته هیڅ نه واورېدی. هغه وحضرت ابوبکر ﷺ ته شکایت وکړی چي عثمان ﷺ په ښکاره خفه دی چي ما سلام ورته وواېه هغه هیڅ جواب رانه کړی. ددې څخه وروسته دواړه حضرات عمر ﷺ اوابوبکر ﷺ یو ځای راغلل او سلام یې راته وواېه. حضرت ابوبکر ﷺ پوښتنه وکړه چي تا وخپل ورور عمر ﷺ ته د سلام جواب ولي ورنه کړی ؟ (څه خبره ده ؟) ما ورته وویل چي ما داسي نه دي کړي. حضرت عمر ﷺ وفرمایل : په الله ﷻ قسم کوم چي هم داسي سوي دي. ما ورته

ماشعرت الک مررت ولا سلمت قال ابو بکرﷺ صدق عثمانﷺ قد شغلک عن ذلک امر فقلت اجل قال ماهو قلت توفی الله تعالی نبیهﷺ قبل ان نسئله عن نجاة هذا الامر قال ابوبکرﷺ قد سئلته عن ذلک فقمت الیه وقلت له بابي انت وامي انت احق بها قال ابوبکرﷺ قلت یارسول اللهﷺ! مانجاة هذا الامر ؟ فقال رسول اللهﷺ من قبل مني الکلمه التي عرضت علی عمي فردها فهي له نجاة.(١٣٦).

وویل چي زه نه ستا په راتلو خبر سوی یم چي ته کله راغلي او نه دي په سلام پوه سوی یم. حضرت ابوبکرﷺ وفرمایل چي ریشتیا وایي. همداسي سوي دي غالبا ته به په څه فکر کښي ناست وي. ما ورته وویل چي واقعي زه په یوه ژور فکر کښي وم. حضرت ابو بکر صدیقﷺ پوښتنه وکړه څه و؟ ما ورته وویل چي رسول اللهﷺ وفات سو او موږ ورڅخه هیڅ پوښتنه ونه کړه چي ددې کار څخه خلاصی په څه شي دئ؟ حضرت ابو بکر صدیقﷺ وفرمایل چي ما پوښتنه ځني کړي ده زه ولاړ سوم او ما ورته وویل چي تر تاسو دي زما مور او پلار قربان وي واقعا ته ددې پوښتني په کولو کي ډېر حقدار یې حضرت ابو بکر صدیقﷺ وفرمایل چي ما د رسول اللهﷺ څخه پوښتنه وکړه چي ددې کار څخه خلاصېدل په څه شي کي دئ؟ رسول اللهﷺ وفرمایل چي څوک دغه کلمه قبوله کړي ، چي ما و خپل اکا (ابو طالب ته دهغه د مرګ په وخت کي) ویلي وه او هغه رد کړې وه ، همدغه کلمة دهغه لپاره خلاصېدل دي.

فایده : په وسوسو کي د اخته کېدو څخه مطلب دادی چي صحابه کرامﷺ په دغه وخت کي د مرضونو اوغمونو په تکلیف کښي داسي پرېشانه (غمجن) سوي و چي د حضرت عمرﷺ په شان دلوي مرتبې څښتن او بهادر صحابي لا توره په لاس کښي اخیستي وه ولاړ و او ویل یې چي که هر چا وویل چي رسول اللهﷺ وفات سوی دی، دهغه سر به ورپرېکړم. رسول اللهﷺ د خپل رب د ملاقات (لیدلو) لپاره تشریف وړی دی لکه څرنګه چي موسیﷺ وکوه طور ته تشریف وړی و. د ځینو صحابو وکرامو ﷺ سره داسي فکر پیدا سو چي دین اوس ختم سو، د ځینو نورو سره داسي فکر پیدا سو چي اوس ددین ترقي (پرمختګ) په هیڅ ډول نه سي کېدلای ځیني بالکل وارخطا وه چي هیڅ خبري یې نه سوای کولای ، یوائې دابو بکر صدیقﷺ مبارک ذات و چي سره ددې چي د رسول اللهﷺ سره یې کامل عشق او محبت و په دغه وخت کي هم ثابت قدم و او په کلکو قدمونو ولاړ و. ښه په لوړ

---

(١٣٦) رواه احمد کذا في المشکوة وفي مجمع الزوائد رواه احمد والطبراني في الاوسط باختصار وابویعلي بتمامه والبزار بنحوه وفیه رجل لم یسم لکن الزهري وثقه وابهمه اهـ قلت وذکر في مجمع الزوائد له متابعات بالفاظ متقاربة

اوازيې خطبه وويل چي په هغه کښي يې و ما محمد الا رسول آيت وو ايه چي ژباړه يې داده:
محمد ﷺ يوائحي رسول دی (الله خو نه دی چي مرګ نه ورته رائحي) نو که چيري دی مړيا
شهيد سي نو تاسو به ددين څخه وروسته ګرځئ او که څوک (ددين څخه) وورسته
وګرځېدی هغه و د الله ﷺ ته تاوان نه سي رسولای (خپل ځان ته به تاوان ورسوي) دا قصه ما
په خپله رساله (حکايات صحابه) کښي په لنډه ډول ليکلي ده.

لومړی چي کوم فرمان دی چي ددې کار څخه خلاصبدل څشي دي؟ ددې دوه مطلبه
دي، يو دادي چي ددين کارونه خو ډير دي. په دې ټولو کارونو کښي اصلي شی کوم يو دی
چي د هغه څخه ماسوا هيڅ علاج نه وي؟ ددې مطلب سره برابر جواب ښکاره دی چي ددين
ټوله مدارپر کلمة شهادت دی او داسلام ريښه کلمة طيبه ده. دوهم مطلب دادی چي په دې
کار (ددين) کي تکليفونه هم پيښيږي، او وسوسې په کښي رائحي، د شيطان وسوسې اچول
هم يو غټ مصيبت (غم) دی ددنيا اړتياوي خپل لوري ته راخپلوي په دې حالت کښي د
حديث مطلب دادی چي د کلمې طيبې ډير ډير ويل ددې ټولو شيانو لپاره علاج دی. چي
اخلاص پيدا کوي، زړونه پاکوي او د شيطان د هلاکت (بربادی) سبب دی، لکه چي ددې
تاثيرات په دغو ټولو روايتونو کښي ډير ذکر سوي دي. په يو حديث شريف کښي راغلي دي
چي لا اله الا الله کلمة دخپل ويونکي څخه (۹۹) ډوله بلاګاني ليري کوي چي د ټولو څخه
کمه بلا غم دی چي هر وخت پر بنده باندي سپور وي.

ددائمي عذاب څخه خلاصون په کلمة طيبة دئ

۲۷). عن عثمان ﷺ قال سمعت رسول الله ﷺ يقول اني لا علم کلمه لا يقولها عبد حقا من قلبه الا حرم علی النار فقال له عمر بن الخطاب ﷺ انا احدثک ماهي هي کلمة الاخلاص التي اعز الله تبارک وتعالی بها محمدا ﷺ واصحابه ﷺ وهي کلمه التقوی التي الاص عليها نبي الله ﷺ عمه

ژباړه: حضرت عثمان ﷺ فرمايي چي ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي چي زه يوه داسي کلمة پېژنم چي څوک دا حقه وبولي، په اخلاص او د زړه په (يقين سره) يې ووايي نو د دوزخ اور به پرې حرام وي. حضرت عمر ﷺ وفومايل چي زه يې درښيم چي هغه کلمه کومه ده هغه کلمه داده چي الله تعالی خپل رسول ﷺ او د هغه اصحابو ﷺ ته عزت په ورکړی دا د تقوی کلمه ده چي رسول الله ﷺ خپل اکا ابو طالب ته د وفات په وخت کي

اباطالب عندالموت شهادة ان لا اله الا الله.(۱۳۷)

وښودل او ده رد کړه هغه د لا اله الا الله شاهدي ورکول دي.

فایده:- د رسول اللهﷺ داقصه د حدیثونو، تفسیرونو او دتاریخ په کتابونو کښي مشهوره ده چي کله دابوطالب د وفات وخت رانژدې سو، خو څرنګه چي پر مسلمانانو او رسول اللهﷺ باندي دده احسانات ډیر وه نو ځکه رسول اللهﷺ ده ته تشریف وړوړی او وې فرمایل چي اې زما اکا! لا اله الا الله ووایه چي د قیامت په ورځ به ماته ستا د شفاعت کولو موقع په لاس راسي او زه به اللهﷻ ته ستا د اسلام شاهدي ورکړم. ده وویل چي خلګ به ماته پیغور راکوي چي د مرګ د بیري یې دوراره دین قبول کړی. که چیري دا فکر راسره نه وای نو مابه داوخت ددې کلمي په ویلو سره ستا سترګي یخي کړي وای (یعني ایمان به مي راوړی وای) په دې خبره رسول الله غمجن سو او بیرته ولاړي په دې قصه کښي د قرآنکریم دا آیت نازل سو: انک لا تهدي من احببت .....(۱۳۸) ژباړه: ته چي چا ته هدایت وغواړي نه یې سي کولای بلکي اللهﷻ چي چاته وغواړي هدایت کوي. ددې قصې څخه دا هم ښکاره سوه چي په فسق او فجور (ګناهونو) کښي ځوک اخته وي داللهﷻ او دهغه د رسولﷺ سره تعلق ونه لري، او پدې فکر وي چي د خپلو بزرګانو په دعا سره به مو بیړه تر اوبو پوري وزي په سخته غلطۍ کښي اخته دي. د کارونو کوونکی یوازې اللهﷻ دی د هغه و طرف ته رجوع کول په کار دي او دهغه سره ریښتني تعلق ساتل ضروري دی البته داللهﷻ د دوستانو ناسته او ولاړه، د هغو دعاء او دهغو توجه مو کومک کولای سي.

۲۸). عن عمرؓ قال قال رسول اللهﷺ لما اذنب آدم الذنب الذي اذنبه رفع رأسه الي السمآء فقال اسئلک بحق محمدﷺ الاغفرت لي فاوحي الله اليه من محمد فقال تبرک

ژباړه: حضرت عمرؓ روایت کوي چي رسول اللهﷺ وفرمایل: د حضرت آدمؑ څخه چي کله هغه تېروتنه وسوه (د کومي په وجه چي د جنت څخه و دنیا ته را ولېږل سو نو هر وخت به یې ژړل، دعا او استغفار به یې کاوه) یو واري یې د اسمان و خواته مخ کړی، او خواست یې وکړي چي اې اللهﷻ! د محمدﷺ په وسیله له تا څخه

(۱۳۷) رواه احمد واخرجه الحاكم بهذا اللفظ وقال صحيح على شرطهما واقره عليه الذهبي واخرجه الحاكم برواية
عثمان عن عمر مرفوعا اني لا علم كلمة لا يقولها عبدحقامن قلبه فيموت على ذالک الا حرمه الله على النار لا
اله الا الله وقال هذا صحيح على شرطهما ثم ذكر له شاهدين من حديثهما.

(۱۳۸) سورة قصص شپږمه رکوع

اسمک لما خلقتني رفعت رأسي الى عرشک فاذا فيه مکتوب لا اله الا الله محمد رسول الله فعلمت انه ليس احد اعظم عندک قدرا عمن جعلت اسمه مع اسمک فاوحى الله اليه ياآدم انه آخر النبين من ذريتک ولو لا هو ماخلقتک.(۱۳۹)

بخښنه غوارم، وحي ورته نازلي سوې چي محمدﷺ څوک دئ؟ (چي تا هغه په وسيله بخښنه وغوښتل) ده ورته وويل چي کله تا زه پيدا کړم نو ما پر عرش باندي ليکل سوې لا اله الا الله محمد رسول الله ليدلې وه نو زه پوه سوم چي تر محمد لوړه بله هستي نسته چي د هغه نوم تا د خپل نامه سره ساتلى دئ، وحي ورته نازلي سوې چي هغه خاتم النبين (آخرين پيغمبر) دی ستا د اولادو څخه دی. که چيري هغه نه واى نو ته به مي هم نه واى پيدا کړى.

فايده : حضرت آدمؑ به په دغه وخت کښي کومي ، کومي دعاگاني کړي وي او څه ډول به يې کوښښ ، زارى او ژړاوي کړي وي په دې باره کي ډير روايتونه راغلي دي. خو په دې کښي هيڅ خلاف نسته. چي پر چا د مالک ناراضي او د خپل بادار خفگان وي هم هغه يې پيژني . ددې بې حقيقته مالکانو د ناراضۍ په خاطر پر نوکرانو (خادمانو) باندي څومره زحمت تيريږي او هلته خو د مالک رزاق غصه او قهر و او پر هغه چا تېريدله چي و هغه کس ته ملائکو سجده کړي وه، خپل نژدې دوست يې جوړ کړى و. څوک چي دهرچا نژدې دوست وي په هغه اندازه د غصې تاثير کيږي په دې شرط چي انسان کم همته نه وي . او حال دا چي هغه نبي و.

حضرت عبدالله بن عباسؓ فرمايي چي حضرت آدمؑ په دومره اندازه ژړلي وه که چيري د ټولي دنيا د انسانانو ژړاگاني سره جمع سي نو دده د ژړا برابر نسي کيدلاى. تر څلويښتو کالو پوري يې سر نه و پورته کړى.

حضرت بريدةؓ چي خپله د رسول اللهﷺ څخه روايت کوي چي که چيري د آدمؑ د ژړا او د ټولي دنيا د ژړا (تر منځ) مقابله وسي نو د آدمؑ ژړا به پر ډيره سي. په يوه حديث کښي راغلي دي چي که چيري د آدمؑ اوښکي دده د ټولو اولادونو د اوښکو سره وتلل سي

(۱۳۹) اخرجه الطبراني في الصغير والحاكم وابو نعيم والبيهقي كلاهمافي الدلائل وابن عساكر في الدروفي مجمع الزوائد رواه الطبراني في الاوسط والصغير وفيه من لم اعرفهم قلت ويوئيد الاخر الحديث المشهور لولاک لولاک لماخلقت الا فلاک قال القاري في الموضوعات الكبير موضوع لكن معناه صحيح وفي التشرف معناه ثابت ويوئيدالاول ما وردفي غير رواية من انه مكتوب على العرش واوراق الجنة لا اله الا الله محمد رسول الله كما بسط طرقه السيوطى في مناقب اللالي في غير موضوع بسط له شواهد ايضا في تفسيره في سوره الم نشرح

نو د آدمؑ او ښکي به پر ډېري سي. په داسي حال کښي به يې څه ډول زاري، او کوښښونه کړي وي، ښکاره خبره ده لکه چي وايي:

یاں لب پہ لاکھ لاکھ سخن اضطراب میں ❁ واں ایک خاموشی مری سبب کی جواب میں

يعني دلته پر شونډو په سلګونو زره خبري په شک کښي دي هلته زما يوه خاموشي د ټولو په جواب کي ده.

په دې خاطر څه چي په روايتونو کښي ذکر سوي دي د ټولو په مجموعه کښي هيڅ شک نسته، د هغه د ټولو څخه يوه دا خبره هم ده چي د رسول اللهﷺ وسيله يې مختاره کړه. دوهم مضمون پر عرش باندي د لا اله الا الله محمد رسول الله ليکنه وه چي دا هم په ډېرو مختلفو روايتونو کښي راغلې ده.

رسول اللهﷺ فرمايي چي زه وجنت ته داخل سوم، نو ما د جنت پر دواړو اړخونو باندي د سروزرو په اوبو درې ليکل سوي کرښي وليدې، په اوله کرښه کښي لا اله الا الله محمد رسول الله ليکلې وه، په دوهمه کرښه کښي ليکلی و ما قدمنا وجدنا وما اکلنا ربحنا وما خلفنا خسرنا.

ژباړه: کوم څه چي موږ مخکي وليږل (صدقه، خيرات هغه مو وکړل) هغه مو بيا پيدا کړل او کوم څه چي مو په دنيا کښي وخوړل هغه مو ګټه وکړه او کوم څه چي مو پرېښودل هغه مو تاوان وکړی.

او پر دريمه کرښه کښي ليکلي وه: امة مذنبة ورب غفور. يعني امت ګنهګار دي او رب بخښونکی دئ

يو بزرګ وايي زه د هندوستان ويوه ښار ته ورسېدم نو ما هلته يوه درخته وليدل چي د هغې ميوه د بادام په ډول وه، او دوه پوستکي يې وه. کله چي ما هغه ماته کړه نو د هغه دننه شنه پاڼه (بلګ) نغښتي راووتی، هغه چي خلاصه سوه نو په روڼ خط لا اله الا الله محمد رسول الله کلمة پرې ليکلي وه. ما دا قصه وابو يعقوب شکاري رحمة الله عليه ته بيان کړه. هغه راته وويل دا د حيرانتيا خبره نه ده، ما په ايله نومي ښار کښي يو ماهی ښکار کړی و د هغه پر يوه غوږ باندي لا اله الا الله او پر دوهم غوږ باندي محمد رسول الله ليکل سوی و.

اسم اعظم په کلمهٔ طیبهٔ کښې دئ

۲۹). عن اسماء بنت یزید بن السکن عن رسول اللهﷺ انه قال اسم الله الاعظم في هاتين الآيتين والهكم اله واحد لا اله الاهو الرحمن الرحيم ، والٓمّٓ الله لا اله الا هوالحي القيوم .([140])

ژباړه : حضرت اسماءرضي الله عنها د رسول اللهﷺ څخه روایت کوي چي د الله جل جلاله تر ټولو لوی نوم (چي په اسم اعظم سره مشهور دئ) په لاندي دوو آیتونو کښې دئ (په دې شرط چي په اخلاص سره وویل سي) والهكم اله واحد لا اله الا هو الرحمن الرحيم (سورهٔ بقره ۱۹ رکوع) او الٓمّٓ الله لا اله الا هوا لحي القيوم. (سورهٔ آل عمران اوله رکوع).

فایده : د اسم اعظم په اړه ډیر روایات په حدیثونو کښې راغلي دي چي کومه دعا چي داسم اعظم تر ویلو وروسته وغوښتل سي هغه قبلیږي البته داسم اعظم په مقررتیا کښې روایات مختلف راغلي دي. او دا د الله جل جلاله عادت دی چي په هر یوه داسي ضروري شی کښې د پټوالي په وجه اختلاف پیدا کوي لکه د شب قدر په معلومولو کښې ،د جمعې په ورځ ددعا په قبلېدو کي چي په یوه خاص وخت کي یې اختلاف سوی دی ، په دې کښې ډیر مصلحتونه دي چي ما په خپله رساله (فضائل رمضان) کښې لیکلي دي.

د اسم اعظم په معلومولو کښې هم مختلف روایتونه راغلي دي د هغو ټولو څخه یو دا روایت هم دی چي پورته ذکر سو په نورو روایتو کښې هم ددغه آیاتونو په اړه ارشاد سوي دئ.

حضرت انس رضي الله عنه د رسول اللهﷺ څخه روایت کوي چي پرمتمرد (سرکښه) او شریر (شراچونکي) شیطانانو باندي تردې دوو ایتونو ډیر سخت آیتونه نسته هغه دوه آیتونه د : والهکم اله واحد څخه شروع کیږي.

ابراهیم بن وسمة رحمة الله علیه وایي پر چاچي لیونتوب تاثیر کړی وي نو دهغه لپاره ددې آیتونو ویل فایده من دي. څوک چي دا آیتونه همېشه وایي (پابندي یې کوي) ددې ډول شیانو څخه به محفوظ سي هغه آیاتونه عبارت دي :د والهکم اله واحد ، پوره آیت (سوره بقره ۱۹ ع) ،آیة الکرسي (الله لا اله الا هو الحي القيوم) او دسورهٔ بقرې اخري آیت) ، د : ان ربکم الله

([140]) اخرجه ابن ابي شيبه واحمد والدارمي وابوداود والترمذي وصححه وابن ماجه وابو مسلم الكجي في السنن وابن الضريس وابن حاتم والبيهقي في الشعب كذا في الدر

ښخه تر مسین پوري (سوره اعراف ۷ ع) او د سورة حشر آخري آیتونه د : هوالله الذي خلق
الذي لا اله الا هو ښخه شروع) مويږ ته دا خبره رارسیدلي ده چي دا ټول آیتونه (چي د مخه تېر سوه)
د عرش پر کونجونو باندي لیکل سوي دي او ابراهیم بن وسمهؒ به همدا ویل که چیري
د چا کوچني اولاد وبیرېږي یا د نظر کېدو بیره وي نو دا آیتونه دي د هغو لپاره لیکي.

علامة شاميؒ د حضرت امام اعظمؒ ښخه نقل کړی دئ چي دا اللهﷻ لفظ اسم اعظم دئ او لیکلي یې دي چي همدا قول د علامه طحاويؒ او د ډیرو نورو علمآؤ ښخه هم نقل سوی دی . او د ډیرو عارفینو (لویو صوفیانو) تحقیق همدا دی ددوی په نزد په همدې خاطر ددې پاک نوم ذکر ډیر کیږي. د حضرت شیخ عبدالقادر جیلانيؒ ښخه همدا روایت سوي دئ، دی مبارک فرمایي د اللهﷻ لفظ اسم اعظم دئ په دې شرط چي کله ته دا پاک نوم واخلي نو ستا په زړه کښي د هغه ښخه ماسوا هیڅ نه وي . دی مبارک زیاتوي چي وعامو خلګو ته دا پاک نوم داسي اخیستل پکار دي چي کله یې پر ژبه جاري سي نو عظمت او بیره ورسره وي ، د خواصو لپاره یې داسي ویل پکار دي چي ددغه پاک نوم د خاوند ذات او صفات هم په زړه کښي حاضر وي. او د اخص الخواص (ډیرو خاصو خلګو) لپاره دا ضروري ده چي د دغه پاک ذات ښخه ماسوا یې په زړه کښي هیڅ شي نه وي . ویلاي سو چي په قرآنکریم کښي دا پاک نوم دومره ډیر ذکر سوی دی چي اندازه او حساب یې نسته : تعداد یې دوه زره درې سوه شپېته (۲۳۶۰) دئ .

شیخ اسماعیل فرغانيؒ وایي چي ماته یو وخت د اسم اعظم د زده کولو خواهش وو . ډېر کوښښونه به مي کول . ډیر ورځي به مي په لوږه تېرولي نو ځکه به بې هوښه پروت وم یوه ورځ ددمشق په مسجد کښي ناست وم چي دوه سړي مسجد ته راغله زما سره نژدې ودرېدل ما چي هغه ولیدل فکر مي وکی چي دا ملائکي معلومیږي . په هغوی کي یوه د دابل ښخه پوښتنه وکړه چي ایا ته اسم اعظم زده کول غواړي؟ هغه وویل هو راته وي ښیه. ما چي دا خبري اتري واورېدي فکر مي ورته وکی ، نو ورته وې ویل چي هغه خو دا اللهﷻ لفظ دی په دې شرط چي د صدق لجا سره وي.

شیخ اسمعل فرغانيؒ وایي چي د صدق لجا مطلب دادی چي د ویونکي حالت په دغه حالت کښي داسي وي لکه چي په دریاب کښي ډوبیږي (غرقیږي) او د هغه خلاصونکي نه وي نو په داسي وخت کښي به په څومره اخلاص سره نوم اخیستل کیږي نو دغه حالت ورښخه مرادی.

د اسم اعظم د معلوملو لپاره د لوی اهلیت ، غټ صبر او ډیر برداشت ضرورت دئ. په کتابونو کښې یې دیوه بزرګ قصه لیکلې ده چې دهغه اسم اعظم ذده و . یو فقیر یې په خدمت کې حاضر سو او درخواست یې ورته وکړی چې وماته یې هم وښیه هغه بزرګ ورته وویل چې په تا کښې ددې اهلیت نسته .فقیر وویل چې په ما کښې ددې اهلیت سته . نو بزرګ وفرمایل چې ښه دی . فلانی ځای ته ولاړ سه ، هلته کښېنه هلته چې څه واقعه پېښه سي، نو خبر یې ما ته راکړه . فقیر وهغه ځای ته ولاړی وې لیدل چې یوه سپین ږیری سړی پر خره باندې لرګي رابار کړي دي او راوړي یې په مخه ورته یو سپاهي ورغلی هغه دا سپین ږیری ووهي او لرګي یې ورڅخه واخیستل ، فقیر ته ددې سپاهي پر کړنه ډیر درد ورغلی ، بیرته راغلی اوبزرګ ته یې ټوله قصه وکړه او وې ویل که زما اسم اعظم زده وای نو پر دغه سپاهي مي وایه بزرګ ورته وویل چې ددغه لرګو والا څخه ما اسم اعظم زده کړی دی.

الله ﷻ د دوزخ څخه د کلمې ویونکي دراوتلو امر کوي

۳۰ – عن انس ﷺ قال قال رسول الله ﷺ یقول الله تبارک وتعالی اخرجوا من النار من قال لا اله الا الله وفي قلبه مثقال ذرة من الایمان اخرجو من النار من قال لا اله الا الله او ذکرني او خافني في مقام.[۱۴۱]

ژباړه : حضرت انس ﷺ روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د قیامت په ورځ به الله ﷻ وفرمایي چې د دوزخ څخه هغه کس راوباسی چې دلا اله الا الله کلمة یې ویلي وي او دهغه په زړه کښې دیوې ذرې برابر ایمان وي او هغه څوک ورڅخه راوباسی چې لا اله الا الله یې ویلي وي، یا یې زه (په یو ډول) یاد کړی یم او یا پر یوه موقع زما څخه بېرېدلی وي.

فایده : په دې پاکه کلمه کښې الله ﷻ څومره برکتونه ایښي دي . ددې کلمې هغه کوچنۍ اندازه ددې خبري څخه معلومېدلای سي چې د سلو (۱۰۰) کالو سپین ږیری چې د هغه ټول عمر په کفر او شرک کښې تیر سوی وي یو واري داپاکه کلمه په ایمان سره ووایي ، مسلمان سي نو د ټول عمر ګناهونه ورڅخه لیري کیږي او د ایمان تر راوړلو وروسته که چیري ګناهونه وکړي بیا به هم ددې کلمې په برکت یو وخت ددوزخ څخه خامخا وزي.

---

(۱۴۱) اخرجه الحاکم بروایة المؤمل عن المبارک بن فضالة وقال صحیح الاسناد واقره علیه الذهبي وقال الحاکم قد تابع ابوداود مؤملا علی روایته واختصره

حضرت خذیفهؓ چي د رسول اللهﷺ رازدار دی فرمايي چي رسول اللهﷺ وفرمایل (چي يوه داسي زمانه راتلونکي ده) چي اسلام به داسي خیرن سي لکه چي د جامې نقش و نګار (دزوړوالي په خاطر خیرن سي چي نه به څوک روژه پېژني، نه حج، نه زکوه آخر به یوه داسي شپه راسي چي قرآن کریم به پورته سي یو آيات به یې هم نه وي پاته. سپين ږيري نارينه او سپين سري ښځي به دا وایي چي موږ د خپلو مشرانو څخه د لا اله الا الله کلمة اورېدلي ده موږ به همدا وايو. د حضرت خذیفهؓ څخه يو شاګرد پوښتنه وکړه چي کله زکوه، حج، روژه او هیڅ رکن نه وي نو دا کلمه به یوازي څه کار وکړي؟ حضرت خذیفهؓ چوپ سو. هغه بیا هم دغه پوښتنه وکړه، په دريم وار حضرت خذیفهؓ وفرمایل چي (يو وخت) به يې د دوزخ څخه راوباسي، ددوزخ څخه به يي راوباسي، ددوزخ څخه به يي راوباسي یعني د اسلام ارکان چي يې نه وي ادا کړي، دهغه عذاب تر تېرېدلو وروسته به یو وخت ددې کلمې په برکت ددوزخ څخه خلاصون پیدا کړي. داْ مطلب د پورتني حدیث هم دی. که چیري د ایمان يو ذره غوندي هم وي بيا به هم يو وخت ددوزخ څخه وایستل سي.

په یوه حدیث کښي راغلي دي چي څوک لا اله الا الله ووايي دا به وده ته یوه ورځ خامخا فايده ورسوي که څه هم چي دی به يو څه سزا تېره کړي.

نوح عليه السلام خپلو زامنو ته په لااله الاالله ویلو سره وصیت کړی دئ

۳۱ -. عن عبدالله بن عمرؓ قال اتي النبيﷺ اعرابي عليه جبة من طيالسة مكفوفة باالديباج فقال ان صاحبكم هذا يريد يرفع كل راع وابن راع ويضع كل فارس وابن فارس فقام النبيﷺ مغضبا فاخذ بمجامع ثوبه فاجتذبه وقال الا ارى عليك ثياب من لا يعقل ثم رجع رسول اللهﷺ فجلس

ژباړه: دحضرت عبدالله بن عمرؓ څخه روایت دی چي د رسول اللهﷺ په خدمت کي يو صحرايي سړی حاضر سو چي د وربښمو جوخه يې اغوستي وه، او د هغه پر غاړه ددیبا جو کار سوی و اصحابو ته مخاطب سو) وې ویل چي ستاسو ملګري (محمدﷺ) دا غواړي چي هرچوپان اودچوپان اولادونه لوړ کړي او لوړ خلګ او ددوی اولادونه راکښته کړي رسول اللهﷺ په غصه را ولاړ سو او هغه يې ترګريوان ونیوئ، او راکش يې کړی وې فرمایل: ته راوښيه چي تا د بې عقلانو په ډول جامې نه دي اغوستي؟ بيا خپل ځاي ته بیرته ولاړی کښیناستی او وې فرمایل چي کله نوح عليه السلام

فقال ان نوحا لما حضرته الوفاة دعا ابنيه فقال اني قاص عليكما الوصية. امركما باثنين وانهكما عن اثنين انهكما عن الشرك والكبر وامركما بلااله الا الله فان السموات والارض وما فيهما لو وضعت في كفة الميزان ووضعت لا اله الا الله في الكفة الاخرى كانت ارجح منهما ولوان السموات والارض وما فيهما كانت حلقة فوضعت لا اله الا الله عليها لقصصمتهما وامركما بسبحن الله و بحمده فانهما صلوة كل شيئ و بهما يرزق كل شيئ.(۱٤۲)

وفات کېدی نو خپل دواړه زامن يې راوغوښتل او ورته وې ويل : زه و تاسي ته ا خيري وصيت کوم . ددوو شيانو څخه مو منعه کوم او ددوو شيانو امر درته کوم ، کوم شيان چي زه مو ترې منعه کوم يو شرک دئ او دوهم تکبر (لويي) ده او کوم شيان چي زه امر درته کوم يو لا اله الا الله کلمه ده چي که چيري ټول اسمانونه اومځکي او هر څه چي په کښي دي په يوه پله دترازو کي واچول سي او په دوهمه کښي (په اخلاص سره ويل سوې کلمه) لا اله الا الله واچول سي نو دا پله به (درنه او) کښته سي او که چيري ټول اسمانونه او مځکي او هغه شيان چي په دوی کښي دي يوه کړۍ ځني جوړه سي ، او دا پاکه کلمه په هغه کړۍ باندي کښېښودل سي نو دغه حلقه به د کلمې ددروند والي په خاطر ماته سي او دوهم شي چي امريې درته کوم هغه دسبحان الله و بحمده کلمة ده چي دادواړه لفظونه د هر مخلوق لمونځ دئ او دهمدې په برکت هر شي ته رزق ورکول کيږي .

فايده : رسول اللهﷺ چي د جامو (کالو) په باره کي څه وفرمايل مطلب يې دادی چي د ظاهر (ښکاره) څخه د باطن (پټ) حالت معلوميږي . د چاچي ظاهري حالت خراب وي . د هغه باطني حال به همدغسي وي. ځکه چي د ظاهر د ښه ساتلو کوښښ کولای سي چي باطن د خپل ځان تابع کړي . په همدې وجه صوفيان (په خلګو) د ظاهري پاکوالي لکه اودس او نورو اهتمام کوي چي د باطن پاکي په حاصله سي کوم څوک چي وايي چي د باطن پاکي ښه

(۱٤۲) اخرجه الحاكم و قال صحيح الاسنادو لم يخرجه للصقعب ابن زهير فانه ثقة قليل الحديث اه واقره عليه الذهبي وقال الصقعب ثقة ورواه ابن عجلان عن زيد بن اسلم مرسلا اه قلت ورواه احمد في مسنده بزيادة فيه بطريق وفي بعض منها فان السموات السبع والارضين السبع كن خلقة مبهمة قصمتهن لا اله الا الله و ذكره المنذري في الترغيب عن ابن عمرؓ مختصرا وفيه لوكانت حلقة لقصمتهن حتى تخلص الي الله ثم قال رواه البزار ورواته محتج بهم في الصحيح الاابن اسحاق وهو في النسائي عن صالح بن سعيد رفعه الي سليمان بن يسار الي رجل من الانصار لم يسمه ورواه الحاكم عن عبدالله وقال صحيح الاسناد ثم ذكر لفظه قلت وحديث سليمان بن يسار ياتي في بيان التسبيح وفي مجمع الزوائد رواه احمد ورواه الطبراني بنحوه ورواه البزار من حديث ابن عمرؓ ورجال احمد ثقات وقال في رواية البزار محمد بن اسحق وهو مدلس وهو ثقة

د او ظاهر چي هر د ول وي پروا نه کوي دا خبره صحيح نه ده ځکه د باطن پاکي بيل کار دئ او د ظاهر ښه والي جلا کار دئ د رسول الله ﷺ په دعا ګانو کښي يوه دعا داده .

اللهم اجعل سريرتي خيرا من علانيتي واجعل علا نيتي صالحة.

ژباړه : اي الله ﷻ ! زما باطن زما تر ظاهر ډير ښه جوړ کړي او زما ظاهر صالح او نيک جوړ کړي حضرت عمر رضي الله عنه فرمايي چي وما ته رسول الله ﷺ دغه دعا ښودلې ده.

(۳۲). عن انس رضي الله عنه ان ابابكر رضي الله عنه دخل علي النبي ﷺ وهو كئيب فقال له النبي ﷺ مالي اراک كئيبا قال يارسول كنت عند ابن عم لي البارحه فلان وهو يكيد بنفسه قال فهل لقنته لا اله الا الله قال قد فعلت يا رسول الله ﷺ قال فقالها قال نعم قال وجبت له الجنه قال ابوبكر يارسول كيف هي للاحياء قال هي اهدم لذنوبهم هي اهدم لذنوبهم. (۱۴۳)

ژباړه : حضرت انس رضي الله عنه روايت کوي چي حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په داسي حال کښي چي غمجن و د رسول الله ﷺ په خدمت کښي حاضر سو رسول الله ﷺ ورڅخه وپوښتل زه تا غمجن وينم څه خبره ده ؟ ده وويل چي تېره شپه زما د اکا زوی وفات سو. د ځکندن په حال کي زه ورسره ناست وم (دهغه په لېدو مي طبيعت خراب دئ) رسول الله ﷺ وفرمايل: تا وهغه ته د لا اله الا الله تلقين ورکړی و؟ ده مبارک وويل چي ورکړي مي و. رسول الله ﷺ وفرمايل چي هغه دا کلمه ويلې وه ؟ ده وويل ويلي يي وه . رسول الله ﷺ وفرمايل چي دده لپاره جنت واجب سو. حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه وويل : اي دالله ﷻ رسوله ﷺ ! که ژوندي خلګ دا کلمه ووايي نو څه به ورسره وسي؟ رسول الله ﷺ دوه واري وفرمايل چي : کلمه د هغو د ګناهونو بالکل نړونکي ده.

---

(۱۴۳) رواه ابو يعلى والبزار وفيه زائده بن ابي الرقادوثقه القواريري وضعفه البخاري وغيره كذا في مجمع الزوائد واخرج بمعناه عن ابن عباس ايضا قلت وروي عن علي رضي الله عنه مرفوعا من قال اذا مربالمقابر السلام علي اهل لا اله الا الله من اهل لا اله الا الله كيف وجد تم قول لا اله الا الله يا لا اله الا الله اغفرلمن قال لا اله الا الله و احشرنا في زمرة من قال لا اله الا الله غفرله ذنوب خمسين سنة قيل يارسول الله ﷺ من لم تكن له ذنوب خمسين سنة قال لوالديه و لقرابته ولعامة المسلمين رواه الديلمي في تاريخ همدان والرافعي وابن النجار كذا في منتخب كنز العمال لكن روي نحوه السيوطي في ذليل اللالي و تكلم علي سنده وقال الاسناد كله ظلمات ورمي رجاله بالكذب وفي تنبيه الغافلين وروي عن بعض الصحابة من قال لا اله الاالله من قلبه خالصا ومدها بالتعظيم كفر الله عنه اربعه الاف ذنب من الكبائر قبل ان لم تكن له اربعة الاف ذنب قال يغفر لذنوب اهله وجيرانه اهـ قلت وروى بمعناه مرفوعا لكنهم حكموا عليهم بالوضع كما في ذيل اللالي نعم يوئيده الامر بدفن جوار الصالح وتاذيه بجوار السوءذكره السيوطي في اللالي بطرق ورود السلام علي اهل القبور بالفاظ مختلفه كنزالعمال وغيره

فایده: په هدیرو کي او مړي ته نژدې د کلمې طیبې په ویلو کښي ډیر حدیثونه راغلي دي. په یوه حدیث کښي راغلي دي چي د جنازې سره ډیره لا اله الا الله وایاست.

په بل حدیث کي راغلي دي چي کلمه زما د امت شعار دئ یعني زما دامت امتیازي نخښنه داده چي کله پر پل صراط باندي تیریږي لا اله الا الله به وایي. په دوهم حدیث کي راغلي دي چي کله دوی د خپلو قبرونو څخه راپورته سي نو ددوی نخښنه به لا اله الا الله وعلی الله فلیتو کل المؤمنین وي.

په دریم حدیث کي راغلي دي چي د قیامت په تیرولو کښي به ددوی نخښنه لا اله الا انت وي. د لا اله الا الله د ډیر ویلو برکتونه د مرګ څخه دمخه د څکندن په وخت کي هم معلومیږي ابو العباس رحمة الله علیه وایي چي زه په خپل ښار اشبیله کښي مریض پروت وم. ما ولیدل چي ډیر لوی لوی مرغان او د مختلفو رنګونو درلودونکي وه لکه سپین، سره، شنه او داسي نور پر یوه ځای یې وزرونه سره راټول کړه او پر یوه واري یې خلاصول او ډیر سړي وه چي په لاسونو کښي یې دوې دوې لوی تالې وي چي یو شي پر غوړېدلي و او یو شی پکښي و. ما چي دا ټول ولیدل. نو پوه سوم چي دا دمرګ تحفې دي، ما ژر، ژر کلمه طیبة ویل پیل کړه. د هغو څخه یوه نفر ماته وویل چي ستا وخت لا اوس نه دی راغلي دا دیوه بل مؤمن لپاره تحفه ده چي د هغه وخت راغلی دی.

عمر بن عبد العزیز رحمة الله علیه چي کله وفات کېدی نو ده وویل چي ما کښېنوی، خلګو کښېنوی بیا یې وفرمایل: اې الله جل جلاله! تا وماته د ډیرو کارونو امر کړی و چي زما څخه په هغه کښي کمي وسوه تازه د ډیرو خبرو څخه منع کړی وم چي زما څخه په هغه کښي نافرماني وسوه درې واره یې دا وویل خو چي لا اله الا الله یې وویل نو یوې خوا ته یې په غور سره کتل شروع کړل چا ورڅخه پوښتنه وکړه چي څه ته ګورې؟ وې فرمایل چي یو څه شنه شیان دي، نه انسان او نه هم پیریانان دي ددې څخه وروسته وفات سو.

بي بي زبیده یو چا په خوب کښي ولیدل (تر مرګ وروسته) او پوښتنه یې ورڅخه وکړه چي څه درباندي تېر سول؟ هغې وویل چي ددې څلورو کلمو په خاطر وماته بخښنه وسوه: لا اله الا الله افنی بها عمري، لا اله الا الله ادخل بها قبري، لا اله الا الله اخلو بها وحدي، لا اله الا الله القی بها ربي.

ژباړه: د لا اله الا الله سره به خپل عمر ختموم، لا اله الا الله به وقبر ته د ځان سره وړم، د لا اله الا الله سره به د یوائیوالي وخت تیروم، او لا اله الا الله به اخلم، خپل رب ته به ورځم.

کلمهٔ طیبهٔ غوره نیکي ده چې ګناه محوه کوي

۳۴- عن ابي ذر ﷺ قال قلت يا رسول الله اوصني قال اذا عملت سيئة فاتبعها حسنة تمحها قلت يارسول الله أمِن الحسنات لا اله الا الله قال هي افضل الحسنات. (۱۴۴)

ژباړه : حضرت ابو ذر غفاري ﷺ ووېل : اې د الله ﷻ رسوله ﷺ! ماته یو څه وصیت وکړه رسول الله ﷺ وفرمایل چې کله یو څه بدي در څخه وسي نو د کفارې په ډول ژر ورسره یو څه نیک کارونه وکړه (ددې لپاره چې د بدۍ چټل والی دې په پرېمينځل سي) ما ووېل : اې د الله ﷻ رسوله ﷺ ! د لا اله الا الله وېل هم په نیکیو کښې داخل دي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل چې دا خو په ټولو نیکیو کښې ډېره بهتره نیکي ده.

فایده: بدي که چیري صغیره ګناوې وي نو په نیکیو ددې لیري کیدل ښکاره دي او که چیري کبیره ګناه وي نو د قاعدې سره سم به توبه وباسي او یا یوائحې د الله ﷻ په فضل سره لیري کیدای سي لکه په اوله کښې چې تېر سوه .

په هر حالت کښې د لیري کېدو مطلب دادی چې بیا دغه ګناه نه په عملنامه کې پاته کیږي او نه هیڅ چیري ددې ذکر کیږي لکه په یوه حدیث کښې چې راغلي دي : کله چې بنده توبه وباسي (تر ګناه وروسته) نو الله ﷻ دغه ګناه د کراما الکاتبین څخه هېره کړي ، ددغه ګنهګار دلاسو او پښو څخه یې هم هیروي او د مځکي د هغې برخې څخه یې هم هېره کړي چې پر هغه ځای دغه ګناه سوي وي . آن تر دې پوري چې هیڅوک ددغې ګناه شاهدي ورکونکي پاته نسي . د شاهدۍ څخه مطلب دادئ چې په قیامت کښې به د انسان لاسونه ، پښې او د بدن نوري برخې چې نیک یا بد عملونه یې کړي وي ، د هغو شاهدي به ورکوي چې په دریم باب ، دوهم فصل اتلسمه شمېره حدیث کښې به راسي .

د پورتني حدیث مرسته د هغو روایتونو څخه هم کیږي چې په هغو کښې رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې د ګناه څخه توبه ایستونکي داسي دي لکه هیڅ ګناه چې یې نه وي کړي .

دا مضمون په څو حدیثونو کي راغلي دئ. توبه ودې ته ویل کیږي چې کله کومه ګناه وسي پر هغې ګناه باندي ډېره پښیمانتیا او شرم وي او د راتلونکي لپاره یې پخه اراده وي

---

(۱۴۴) رواه احمد و في مجمع الزوائد رواه احمد ورجاله ثقات الا ان شمربن عطيه حدثه عن اشياخ ولم يسم احدا منهم قال السيوطي في الدر اخرجه ايضا ابن مردويه والبيهقي في الاسماء والصفات قلت و اخرجه الحاكم بلفظ ياأباذر اتق الله حيث كنت واتبع السيئة الحسنة تمحها وخالق الناس بخلق حسن وقال صحيح علي شرطهما واقره عليه الذهبي وذكره السيوطي في الجامع مختصرا ورقم له بالصحة

چې بیا به ګناه نه کوم . په یوه بل حدیث کښې راغلي دي چې رسول اللهﷺ فرمایلي دي چې د الله عباد ت کوه هیڅوک ورسره مه شریکوه ، داسي په اخلاص سره عمل کوه لکه دغه پاک ذات چې ستا په مخکې وي ، خپل ځان په مړو کښې حسابه ، د الله ذکر د هر کاڼي او د هري درختې سره نژدې کوه (چې د قیامت په ورځ دي شاهدان ډیر سي) او کله چې څه بدي درڅخه وسي نو د هغې په کفاره کې نیکي وکړه که دي بدي په پټه کړي وي نو نیکي هم په پټه کوه او که دي بدي ښکاره کړي وي نو د هغې په کفاره کې نیکي هم په ښکاره کوه .

٣٤ – عن تميم الداري ﷺ قال قال رسول الله ﷺ من قال لا اله الا الله واحدا احدا صمدا لم يتخذ صاحبة ولا ولدا و لم يكن له كفوا احد عشر مرات كتبت له اربعون الف حسنة . (١٤٥)

ژباړه: د حضرت تمیم داري ﷺ څخه روایت دی چې رسول اللهﷺ وفرمایل څوک چې لا اله الا الله احدا صمدا لم يتخذ صاحبة ولا ولدا و لم يكن له كفوا احد لس واره ووایي نو دهغه لپاره به څلویښت زره (۴۰۰۰۰) نیکۍ ولیکل سي .

فایده : د کلمې طیبې پر ټاکلي شمېر باندي هم د حدیثو په کتابونو کښې ډېر فضیلتونه ذکر سوي دي . په یوه حدیث شریف کښې راغلي دي : کله چې تاسو فرض لمونځ وکړی . نو تر هر فرض لمانځه وروسته لس واره لا اله الا الله وحده لا شريک له له الملک وله الحمد وهو على كل شيئ قدير ووایاست . ددې ثواب داسي دی لکه یو غلام چې مو ازاد کړي وي .

څوک چې کلمة طیبة ووایي (۲۰۰۰۰۰۰) نیکۍ به ور ته ولیکل سي

٣٥ – عن عبدالله بن ابي اوفي ﷺ قال قال رسول الله ﷺ من قال لا اله الا الله وحده لا شريک له احدا صمدا لم يلد ولم يولد ولم يكن له كفوا احد كتب الله له الفي الف حسنه .(١٤٦)

ژباړه: حضرت عبدالله بن ابي اوفي ﷺ روایت کوي چې رسول للهﷺ وفرمایل : څوک چې لا اله الا الله وحده لا شريک له احدا صمدا لم يلد ولم يولد ولم يكن له كفوا احد ووایي الله به دده لپاره شل سوه زره (۲۰۰۰۰۰۰) نیکۍ ولیکي .

(١٤٥) اخرجه احمد قلت اخرج الحاكم شواهده بالفاظ مختلفه

(١٤٦) رواه الطبراني كذا في الترغيب وفي مجمع الزوائد فيه فائد ابو الورقا متروک .

فایده: څومره اندازه دالله ﷻ له خوا څخه د انعام او احسان باران دئ چي دیوه اسانه شي په ویلو باندي چي په هغه کښي هیڅ تکلیف نسته ، نه د هر وخت پرې تیریږي بیا هم په سلګونو زرونه نیکۍ ورکوي . خو موږ څومره غافله او بې خبره یو او د دنیا په کارونو پسي ځغلو چي ددې مهربانیو دباران څخه هیڅ شی نه اخلو . د الله ﷻ په نزد د هري نیکۍ لپاره لږ تر لږه لس چنده ثواب خو مقرر دئ په دې شرط چي اخلاص پکښي وي . تردې وروسته داخلاص په اعتبار ثواب ډیریږي . رسول الله ﷺ فرمايي چي د اسلام په راوړلو سره هم څومره ګناهونه چي د کفر په حالت کښي یې کړي وي معافیږي ، ددې څخه وروسته بیا حساب دی هره نیکي د لس چنده څخه تر اوو سونو پوري رسیږي او څومره چي الله ﷻ وغواړي لیکلای بې سي او بدي یوائې یوه لیکل کیږي او که چیري الله ﷻ دغه معاف کړي نو بیا دغه هم نه سي لیکل کیدی .

په بل حدیث کي راغلي دي چي کله بنده د نیکۍ اراده وکړي نو یوازي پر اراده باندي یوه نیکي لیکل کیږي او کله چي عمل کوي نو د لسو نیکیو څخه تر اووسوو پوري لیکل کیږي او ددې څخه وروسته چي څومره الله ﷻ وغواړي لیکل کیږي . په دې ډول حدیثونه نور هم ډیر دي چي د هغو څخه معلومیږي چي د الله ﷻ له خوا په ورکړه کښي کمی نسته خو چي اخیستونکي یې پیدا سي همدغه شیان د الله ﷻ دولیانو په نظر کي وي چي په وجه یې د دنیا لوی دولت هم نسي تېر ایستلای .

اَللّٰهُم اجْعَلْنِيْ مِنْهُمْ

رسول الله ﷺ فرمايي چي عملونه پر شپږ ډوله دي او خلګ پر څلور ډوله دي . دوه عملونه واجبونکي دي . دوه سره برابر دي او یو پکښي لس چنده او یو اووه سوه چنده دی هغه دوه عملونه چي واجبونکي دي یو دا دی چي څوک په داسي حال کښي مړ سي چي شرک یې نه وي کړي خامخا به جنت ته داخلیږي . دوهم : څوک چي د شرک په حالت کښي مړ سي خامخا به دوزخ ته ځي . هغه عملونه چي سره برابر دي هغه د نیکۍ پخه اراده ده (چي په عملي ډول یې نه وي کړې) او که چیري یې عمل هم وکړي نو لس چنده ثواب دی ، دالله ﷻ په لاره کښي (یعني جهاد او نورو کښي) خرڅ کول اووه سوه درجې ثواب لري او ګناه که چیري وکړي نو دیوې ګناه بدله یوه ده .

او څلور ډوله خلګ دادي : پر ځینو خلګو به ددنیا پراخي وي او په اخرت کښي به پرې تنګي وي

۲ ځیني خلک داسي دي چي پر هغو به په دنیا کي تنګي ده خو په اخرت کښي به پرې فراخي وي.

۳ ځیني خلک داسي دي چي پر هغو په دواړو ځایونو کي تنګي وي (چي په دنیا کي غریبي وي او په اخرت کي به پرې عذاب وي).

۴ ځیني خلک داسي دي چي په دواړو جهانو کښي به پرې فراخي وي.

یوه کس د ابو هریرة‌ؓ په خدمت کي حاضر سو ، او پوښتنه یې ځني وکړه چي ما اورېدلي دي چي ته داسي روایت کوي چي الله‌ﷻ د ځینو نیکیو په بدله کي لس سوه زره (۱۰۰۰۰۰۰) چنده بدله ورکوي حضرت ابو هریرة‌ؓ و فرمایل په دې کي د حیرانتیا څه خبره ده؟ زما دي په الله‌ﷻ سره قسم وي همداسي مي اوریدلي دي. په بل حدیث کښي راغلي دي چي ما د رسول الله‌ﷺ څخه اورېدلي دي چي د ځینو نیکیو ثواب تر شل سوه زره (۲۰۰۰۰۰۰) پوري ورکول کیږي. الله‌ﷻ فرمایي :

یضا عفها ویؤت من لدنه اجرا عظیما

ژباړه : د هغه ثواب ډیره وي او د خپلي خوا څخه ډیر ثواب ورکوي.

او کوم شي ته چي الله‌ﷻ اجر عظیم ووایي د هغه اندازه څوک کولای سي. امام غزالي رحمة الله علیه فرمایي : دا ثواب هغه وخت لاسته راتلای سي چي د الفاظو تر څنګ یې د معنی لحاظ هم وکړي او ووایي چي دا الله‌ﷻ مهم صفتونه دي.

څوک چي کلمة طیبة ووایي دجنت اته دروازې به ورته خلاصي سي

۳۶-عن عمر بن الخطاب‌ؓ عن النبي‌ﷺ قال ما منکم من احد یتوضأفیبلغ او فیسبغ الوضوء ثم یقول اشهد ان لا اله الا الله وحده لاشریک له واشهد ان محمد عبده ورسوله الا فتحت له ابواب الجنة

ژباړه: حضرت عمر‌ؓ روایت کوي چي رسول الله‌ﷺ وفرمایل څوک چي اودس وکړي (دسنتو د ادبونو پوره لحاظ وساتي) بیا دا دعا ووایي : اشهد ان لا اله الا الله وحده لا شریک له واشهد ان محمدا عبده ورسوله. دده لپاره د جنت اته سره دروازې خلاصي سي پر کومه دروازه چي غواړي ورداخل سي ور

الثمانية يدخل من ايها شآء .(۱۴۷) داخلېدلای سي.

فايده : و جنت ته دداخلېدو لپاره يوه دروازه هم بس ده ، د اتو دروازو خلاصېدل د ډېرعزت او د اکرام په خاطردی.

په يوه حديث کښې راغلي چي څوک په داسي حال کښې مړ سي چي د الله جل جلاله سره يې شريک نه وي نيولی او نا حقه يې څوک نه وي مړ کړی دجنت پر هره دروازه چي غواړي داخلېدلای سي.

۳۷ - عن ابي الدردآء رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال ليس من عبد يقول لا اله لا الله مائة مرة الا بعثه الله يوم القيمه ووجهه کالقمر ليلة البدر ولم يرفع لاحد يومئذ عمل افضل من عمله الا من قال مثل قوله او زاد .(۱۴۸)

ژباړه : حضرت ابي دردآء رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه روايت کوي چي څوک سل (۱۰۰) واره لا اله الا الله ووايي الله جل جلاله به يې د قيامت په ورځ په داسي ډول راپورته کړي چي مخ به يې داسي روښانه وي لکه د څوارلسم د شپې سپوږمۍ (چي روښانه وي) څوک چي په دنيا کي دغه کلمه ووايي دقيامت په ورځ به ترده ښه عمل کوونکي هغه څوک وي چي تر ده يې زياته دغه کلمة ويلي وي .

فايده: د ډېرو آياتونو او روايتونو څخه داهم ثابتېږي چي لا اله الا الله د زړه لپاره او هم د مخ لپاره نور دی. دا خو دسترګو ليدلی حال دی چي کومو بزرګانو چي ددې کلمي ډېر ويل عادت وي د هغو مخونونه په دنيا کښې هم نوراني وي.

خپلو ماشومانو ته دخبرو دزده کړي په وخت کي کلمة طيبة ور زده کړئ

۳۸ - عن ابن عباس رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال افتحوا على صبيانكم اول كلمة بلا اله

ژباړه : حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه روايت کوي چي و خپلو اولادونو ته په پيل کښې چي کله هغوي خبره زده کوي لا اله الا الله ورزده کوئ او کله چي د مرګ وخت

(۱۴۷) رواه مسلم و ابو داود وابن ماجة وقالا فيحسن الوضوء زاد ابو داود ثم يرفع طرفه الي السماء ثم يقول فذكره ورواه الترمذي كا بي داود وزاد اللهم اجعلني من التوابين وجعلني من المتطهرين الحديث وتكلم فيه كذا في الترغيب زاد السيوطى في الدر ابن ابي شيبه والدارمي

(۱۴۸) رواه الطبراني وفيه عبدالوهاب ضحاک متروک کذافي مجمع الزوائد قلت هو من رواة ابن ماجه ولاشک انهم ضعفوه جدا الا ان معناه مؤيد برواية منها ماتقدم من روايات يحيي بن طلحة ولاشک انه افضل الذكر وله شاهد من حديث ام هاني الآتي

الا الله و لقنوهم عند الموت لا اله الا الله فانه من كان اول كلامه لا اله الا الله و آخر كلامه لا اله الا الله ثم عاش الف سنة لم يسئل عن ذنب واحد.(١٤٩)

راسي بيا هم د لا اله الا الله تلقين ورکوئ . د چاچي اوله خبره لا اله الا الله او اخيره خبره يې لا اله الا الله وي كه زر كاله ژوندي وي نو (انشاءالله) هيڅ ګناه به دده څخه مطالبه نه وي (يا په دې خاطر چي ګناه به سوي نه وي يا كه چيري ورڅخه سوي وي نو په توبه او نورو سره به معاف سي او يا په دې خاطر چي الله ﷻ به يې په خپل فضل سره معاف كړي)

فايده : تلقين ودې ته وايي چي څوک د مړي سره د مرګ په وخت كي كښيني او كلمة داسي وايي چي هغه يې واوري او وه يې وايي ، په دې وخت كي به زور نه پرې لګوي ځكه چي هغه په سخت تكليف كي وي .په نورو صحيحو حديثونو كښي هم په اخيري وخت كي د كلمې د تلقين امر راغلی دی . په ډير حديثو نو كښي دا هم راغلي دي چي وچاته چي د مرګ په وخت كي دلا اله الا الله ويل په برخه سي نو د هغه ګناه داسي نړيږي لكه د سيلاب په وجه چي ابادی نړيږي په ځينو حديثونو كښي دا هم راغلي دي چي وچاته چي د مرګ په وخت كي دا مباركه كلمه ورنصيب سي نو د هغه وروستي ګناهونه به معاف سي . په يو حديث كي راغلي دي چي ومنافق ته ددي كلمې توفيق نه ورپه برخه كيږي.

(١٤٩) موضوع ابن مجمويه وابوه مجهولان وقد ضعف البخاري ابراهيم بن مهاجر حكاه السيوطى عن ابن الجوزي ثم تعقبه بقوله الحديث في المستدرک واخرجه البيهقي في الشعب عن الحاكم وقال متن غريب لم نكتبه الا بهذا الاسناد واورده الحافظ بن حجرفي اماليه ولم يقدح فيه بشيئ الاانه قال ابراهيم فيه لين وقد اخرج له مسلم في المتابعات كذا في اللالي وذكره السيوطي في شرح الصدور ولم يقدح فيه بشيئ قلت وقدورد في التلقين احاديث كثيرة ذكره الحافظ في التلخيص وقال في جملة من رواها ومن عروة ابن مسعود الثقفي رواه العقيلي باسناد ضعيف ثم قال روي في الباب احاديث صحاح عن غير واحد من الصحابة ورواه ابن ابي الدنيا في كتاب المحتضرين من طريق عروة بن مسعود عن ابيه عن خذيفه بلفظ لقنوا مواتاكم لا اله الا الله فانها تهدم ما قبلها من الخطايا وروي فيه ايضاعن عمر وعثمان و ابن مسعود وانس وغير هم اهـ وفي الجامع الصغير لقنوا مواتاكم لا اله الا الله رواه احمد ومسلم والاربعة عن ابي سعيد ومسلم و ابن ماجه عن ابي هريرة والنسائي عن عائشة ورقم له بالصحة وفي الحصن اذا افصح الولد فليعلمه لا اله الا الله وفي الحرز رواه ابن السني عن عمرو بن العاص اهـ قلت ولفظه في عمل اليوم والليلة عن عمرو بن شعيب وجدت في كتاب جدي الذي حدثه عن رسول الله ﷺ قال اذا افصح اولادكم فعلموهم لا اله الا الله ثم لا تبادلوا متى ماتوا او اذا اثغروا فمروهم بالصلوه وفي الجامع الصغير برواية احمد وابي داود والحاكم عن معا ذ ﷺ من كان اخر كلامه لا اله الا الله دخل الجنه ورقم له بالصحة وفي مجمع الزوائد عن علي ﷺ رفعه من كان اخر كلامه لا اله الا الله لم يدخل النار وفي غير رواية مرفوعة من لقن عند الموت لا اله الله دخل الجنه

په یوه بل حدیث کي راغلي دي چي و خپلو مړو ته د لا اله الا الله توبنه ورکوی . په یوه حدیث کي راغلي دي چي څوک د چا و اولاد ته داسي روزنه ورکړي چي هغه لا اله الا الله ووايي هغه د حساب څخه پر ته معافيږي .

په یوه حدیث کي راغلي دي چي څوک د لمانځه پابندي (ساتنه) کوي نو د مرګ په وخت کي به و هغه ته یوه ملائکه راځي چي شیطان ور څخه لیري کوي او د لا اله الا الله تلقین به ورکوي . یوه خبره چي په تجربه کښي هم راغلي ده هغه دا ده چي عموما د تلقین فایده هغه وخت کیږي چي په ژوند کي یې همدا کلمه ډیره ډیره ویلي وي . په کتابونو کي دیوه سړي قصه لیکلي سوي ده چي وابنه یې خرڅول کله چي یې د مرګ وخت راغلی نو خلګو د کلمې طیبې تلقین ورکوی ، خو هغه به ویل دا ګیډۍ په دومره ده او دا په دومره . داسي ډیر قصې په نزهة البساتین کي هم لیکل سوي دي او (هره ورځ) په لیدلو کي راځي .

ډیر واره د یوې ګناه کول هم ددې سبب سي چي د مرګ په وخت کي د کلمې ویل نه ورپه برخه کیږي . عالمانو لیکلي دي چي د تاریاکو په خوړلو کي اویا (۷۰) تاوانونه دي د هغو څخه یو دادی چي د مرګ په وخت کي به کلمه نه ورته په یادیږي . ددې برعکس د مسواک اویا (۷۰) فایدې دي چي د هغو څخه یوه داده چي د مرګ په وخت کي به کلمة ورته په یادیږي . د یوه سړي قصه په کتابو کي لیکل سوې ده چي د مرګ په وخت ورته د کلمې شهادت تلقین ورته سو ، هغه وویل چي د الله ﷻ څخه دعا وغواړی چي زما پر ژبه کلمة راسي ځکه اوس زما پر ژبه نه راځي . خلګو پوښتنه ځني وکړه چي ولي؟ ده وویل چي ما په ترازو کي بې احتیاطي کول .د یوه بل کس قصه ده چي کله وهغه ته تلقین وسو ، نو ده وویل چي نسم یې ویلای ، خلګو پوښتنه ځني وکړه چي ولي؟ هغه وویل چي یوه ښځه ماته د یو شي داخیستلو لپاره راغله زما خوښه سوه ، ما ورته وکتل .

داسي نوري قصې هم دي چي ځیني یې په تذکرة قرطبیه کي هم لیکل سوي دي . د بنده کار دادی چي د ګناهونو څخه دي توبه وباسي او د الله ﷻ څخه دي د توفیق دعا وکړي .

تر کلمې طیبې هیڅ عمل نه سي مخکي کېدای

۳۹). عن ام هانئ رضي الله عنها قالت قال رسول اللهﷺ لا اله الا الله لایسبقها عمل ولا تترک ذنبا.(۱۵۰)

ژباړه : حضرت ام هاني رضي الله عنها وايي چي رسول اللهﷺ وفرمايل : چي د لا اله الا الله څخه هيڅ عمل نه سي مخکي کېدای او دا کلمة هيڅ ګناه نه پرېږدي.

فایده : هیڅ عمل ددې کلمې څخه نه سي مخکي کېدای دا خو ښکاره ده چي هیڅ داسي عمل نسته چي د کلمې طیبې دوينا څخه ماسوا په کار راسي يعني لمونځ ، روژه ، حج او زکواة هيڅ ګټه نه لري څو چي کلمه نه وي ويل سوې . ځکه هر عمل د ايمان محتاج دئ . که چيري ايمان وي نو دغه عملونه قبلېدای سي که نه نو نه قبلیږي . او کلمه طيبة خو په خپله ايمان راوړل دي او داد هيڅ عمل محتاجه نه ده . په همدې خاطر که چيري څوک فقط ايمان ولري او د ايمان څخه ماسوا هيڅ نيک عمل ونه لري نو بيا به هم يو وخت انشاءالله خامخا وجنت ته ولاړ سي او چي څوک ايمان ونه لري نو هغه چي هر څومره نيک عملونه وکړي دده د خلاصېدو لپاره کفايت نه کوي .

د حديث دوهم جز دادی : چي هيڅ ګناه نه پرېښودل کيږي . که چيري په دې اعتبار سره وکتل سي چي کوم کس په اخيري وخت کي مسلمان سي او د کلمې طيبې تر ويلو وروسته ژر مړ سي نو ښکاره خبره ده چي ايمان تر راوړلو وروسته اول د کفر په حالت کي چي څومره ګناهونه يې کړي وي هغه ټول ولاړل (معاف سول) او که چيري لومړی ويل مراد وي نو د حديث مطلب دادی چي د زړونو صفايي راولي او زنګ ليري کوي کله چي د زړه صفايي راسي نو د توبې د ايستلو څخه ماسوا بله ارامتيا نه ورته راځي .

ايمان څه د پاسه اويا شعبې (ښاخه) دي

٤٠ - عن ابي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول اللهﷺ الايمان بضع وسبعون شعبة فافضلها

ژباړه: دحضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول اللهﷺ وفرمايل چي دايمان تر اوياوو (۷۰)زيات ښاخونه دي (په ځينو روايتونو کښي اووه اويا (۷۰) راغلي دي،

---

(۱۵۰) رواه ابن ماجة كذا في منتخب كنزالعمال قلت واخرجه الحاكم في حديث طويل وصححه ولفظ قول لا اله الا الله لا يترک ذنبا ولا يشبها عمل اهـ وتعقب عليه الذهبي بان زكريا ضعيف وسقط بين محمد وام هاني وذكره في الجامع الصغير برواية ابن ماجه ورقم له بالضعف

قول لا اله الا الله وادناها اماطة الاذى عن الطريق والحياء شعبة من الايمان.(۱۵۱)

دهغو ټولو څخه افضل (ښه) د لا اله الا الله ويل دي او تر ټولو کمه درجه يې د لارې څخه دتکليف رسوونکو شيانو (ښنته، لرګي، او داسي نور...) ليري کول دي، او حيا هم يوه شعبه دايمان ده.

فايده: دحيا يې خاص اهتمام په دې خاطر ذکر کړی دی چي دا ډيرو ګناهونو لکه زنا غلا، بده وينا، ځان لڅول، ښکنځل، پوچ ويل او داسي نورو څخه د خلاصېدو سبب دی.

دغه ډول د شرم په خيال ډير نيک کارونه ضروري کولاي سي. بلکي شرم ددنيا او داخرت ټول نيک کارونو اماده کوي. لمونځ، زکوه. حج او نور خو ښکاره دي دا ډول د نورو ټولو حکمونو پر ځای کول هم ددې سبب دی په دي وجه دامتل مشهور دی.

((*توبی حیاباش وہرچہ خواہی کن*)) يعني ته بي شرمه سه بيا چي هر څه غواړي کوه يي.

په دي باره کي صحيح حديث راغلي دی. اذا لم تستحي فاصنع ماشئت. (يعني چي ته حيا ونه لري نو څه چي دي خوښه وي کوه يي) اخر دا چي چي ټول فکر دغيرت او د شرم دی. که چيري حيا وي نو بيا به دا فکر خامخا پيدا کيږي چي لمونځ ونه کړم نو په اخرت کي به په کوم مخ ځان ښکاره کوم او که چيري شرم او حيا نه وي نو بيا به دا فکر کوي که څوک و وايي نو څه به وکړي.

خبر داري: په دي حديث شريف کي د ايمان تر اوياوو (۷۰) ډير ښاخونه ښودل سوي دي. په دې باره کي روايتونو مختلف راغلي دي او په ډير روايتونو کي د اووه اويا (۷۷) شمېر راغلی دی ځکه د حديث په ژباړه کي مي ودې طرف ته اشاره هم کړي ده چي ددې اووه اوياو شعبو په تفصيل کي عالمانو مستقل کتابونه ليکلي دي.

امام ابو حاتم بن حبان رحمه الله فرمايلي دي چي ما ددې حديث په مطلب کي تر څه وخته پوري فکر کوی. کله چي به مي عبادتونه حساب کړل نو تر اووه اوياوو (۷۷) به ډير سول. په حديثونو کښي چي مي پلټنه وکړل او په حديث شريف کښي چي کوم شيان په خاص ډول د ايمان په ښاخونو کښي ذکر سوي دي هغه چي به مي حساب کړل نو هغه به ددې حساب څخه کم سول. زه د قرآن کريم وخواته متوجه سوم او په قرآن کريم کښي چي تر ايمان لاندي کوم شيان ذکر سوي دي هغه مي حساب کړل نو هغه هم ددې حساب څخه کم وه. نو بيا ما قرآن

---

(۱۵۱) رواه الستة وغيرهم بالفاظ مختلفة واختلاف يسير في العدد وغيره واخر ماوردت ايراده في هذا الفصل رعاية لعدد والاربعين والله الموفق لما يحب ويرضى

کریم او حدیث شریف دواړه سره جمع کړل او په دواړو کې چې کوم شیان دایمان برخه ګرځول سوي ده هغه مي حساب کړل کوم شیان چې په دواړو کې مشترک وه هغه مي یواري حساب کړل چې تول (میزان) مي وکتی نو ددواړو مجموعه چې مکررات (یعني هغه شیان چې تکرار سوي دي) ورڅخه وایستل ددې حساب برابر سو نو هلته پوه سوم چې د حدیث مفهوم هم دادی .

قاضي عیاض رحمة الله علیه فرمایي چې یوې ډلي ددې ښاخونو د تفصیل د بیانولو اهتمام کړی دئ او په اجتهاد سره یې دا تفصیل صحیح ښودلی دی . حال دادی چې ددې تعداد د خصوصي تفصیل په نه معلومېدو سره په ایمان کښې هیڅ تاوان نه پیدا کیږي ځکه چې ایمان اصول او فروع (اساسي او غیري اساسي خبري) ټولي سره معلومي او تحقیق ته رسیدلي دي.

خطابي رحمة الله علیه فرمایي چې ددې تعداد تفصیل دالله جل جلاله او دهغه د رسول ﷺ په علم کښې دئ او په شریعت مطهره (پاک شریعت) کښې موجود دئ نو په دې تعداد سره تفصیلي علم نه درلودل هیڅ تاواني نه دئ .

امام نووي رحمة الله علیه فرمایي چې رسول الله ﷺ په دې ښاخونو کښې تر ټولو اعلی توحید یعني کلمة طیبه (لا اله الا الله) ویلی ده . نو ددې څخه معلومه سوه چې په ایمان کښې تر ټولو لوړه درجه ددې کلمې ده ددې څخه بل لوړ شی د ایمان په ښاخونو کښې نسته ددې څخه دا خبره معلومه سوه چې دغه کلمة اصل توحید دئ چې پر هر عاقل بالغ (نارینه او ښځینه) باندي ضروري دئ . او دایمان کښته درجه د لارو څخه د هغو شیانو لیري کول دي چې ومسلمان ته د تاوان د رسیدو امکان ولري پاته ټول ښاخونو ددوی په منځ کښې دي چې د تفصیل معلومول یې ضروري نه دئ ، پر هغو اجمالا ایمان راوړل کافي دئ لکه څرنګه چې پر ملائکو ایمان راوړل ضروري دئ خو د هغو تفصیل او نومونه یې موږ نه پیژنو . بیا هم د محدیثنو یوې ډلي دا ټول ښاخونه په تفصیل سره په مختلفو کتابو کي لیکلي دي لکه ابو عبدالله حلیمي رحمة الله علیه یو کتاب په دې باره کي لیکلي دی چې د هغه نوم یې فوائد المنهاج ایښي دئ . امام بیهقي رحمة الله علیه یو کتاب لیکلي دی . چې د هغه نوم یې شعب الایمان ایښی دئ شیخ عبدالجلیل هم یو کتاب لیکلي دئ چې نوم یې هم شعب الایمان دئ ، د اسحاق بن قرطبي کتاب النصائح هم په دې باره کي لیکلي دئ او امام ابوحاتم رحمة الله علیه د خپل کتاب نوم وصف الایمان والشعبة ایښی دئ .

د بخاري شريفي شارحينو په دې باب کښې د مختلفو کتابو خلاصه کړې ده او په لنډه ډول يې جمعه کړې دي چې دهغه نتيجه داده چې په اصل کې کامل ايمان د درو شيانو د مجموعې نوم دئ اول تصديق قلبي يعني په زړه سره د ټولو کارونو يقين کول دي . دوهم د ژبې څخه اقرار او عمل دئ او دريم د بدن اعمال دي يعني د ايمان ټول ښاخونه پر درو برخو تقسيم دي .

اول : هغه چې تعلق د نيت ، عقيدې او د زړه د عمل سره وي .

دوهم : هغه دي چې تعلق د ژبې سره وي .

دريم : هغه دي چې د هغو تعلق د بدن د پاتو برخو سره وي .

د ايمان ټول شيان په دې دريو شيانو کې داخل دي .

دايمان څخه د پاسه اويا شعبې (ښاخونه)

اول قسم : هغه شيان چې وټولو عقيدو ته شامل دي خلاصه يې په دغو دېرشو شيانو کښې ده :

۱). پر الله ﷻ ايمان راوړل چې په دې کښې د هغه پر پاک ذات او صفتونو باندې ايمان راوړل هم داخل دي او د دې يقين هم چې هغه پاک ذات يو دئ او د هغه سره هيڅوک شريک نسته او نه د هغه مثل سته . ۲). د الله ماسوا ټول شيان وروسته پيدا سوي دي د هميشه څخه هم دغه يو ذات دئ . ۳). پر ملائکو باندې ايمان راوړل . ۴). د الله پر نازل سوو کتابو باندې ايمان راوړل . ۵). د الله پر رسولانو باندې ايمان راوړل . ۶). په تقدير ايمان راوړل يعني که ښه وي يا بد وي ټول د الله ﷻ لخوا څخه دي . ۷). پر دې ايمان راوړل چې قيامت حق دئ چې په دې کښې د قبر سوال او جواب ، د قبر عذاب د مرګ څخه وروسته دوهم واري ژوندي کېدل ، حساب کول ، د اعمالو تلل او پر پل صراط باندې تېرېدل ټول په کښې داخل دي . ۸). پر جنت باور کول او پر دې چې مومن به انشاءالله هميشه په کښې اوسيږي . ۹). پر دوزخ باور کول او پر دې چې تر سختو سخت عذاب به ورپکښې دئ او دغه به هم تل تر تله وي. ۱۰).د الله ﷻ سره محبت ساتل . ۱۱). د الله ﷻ لپاره د نورو سره محبت ساتل او هم د الله ﷻ لپاره د نورو سره بغض ساتل (د الله ﷻ د فرمانبردارو خلکو سره محبت کول او د هغه د نافرمانانو سره بغض کول او په دې کښې صحابه خصوصا د مهاجرينو او انصارو او د رسول الله ﷺ د اهل

بیتو سره محبت داخل دئ . ۱۲). درسول اللهﷺ محبت ساتل چي په دې کښي دده مبارک تعظیم هم راځي ، پر رسول اللهﷺ باندي درود شریف ویل او دده مبارک د سنتو تابعداري کول هم پکښي داخل دي . ۱۳). اخلاص چي ورپکښي ریا نه وي او د نفاق څخه خلاصېدل هم پکښي داخل دي . ۱۴). توبه په زړه سره یعني پر ګناهونو باندي پښیمانتیا او د راتلونکي لپاره د نه کولو عهد (وعده) . ۱۵). د اللهﷻ څخه بیریدل . ۱۶). د اللهﷻ درحمت امید درلودل . ۱۷). د اللهﷻ د رحمت څخه نه نا امیده کیدل . ۱۸). شکر ادا کول . ۱۹). وفا کول . ۲۰). صبر کول . ۲۱). تواضع) خاکساري) کول چي په دې کښي د مشرانو تعظیم (عزت) هم داخل دی . ۲۲). شفقت او رحمت چي په دې کښي پر کشرانو باندي شفقت کول هم داخل دئ . ۲۳). د تقدیر پر اندازې باندي راضي کیدل . ۲۴). توکل کول . ۲۵). خودبیني او خودستایي (ځان ښه بلل او د ځان ستاینه) پرېښودل چي په دې کښي د نفس اصلاح کول هم داخله ده . ۲۶). کینه (بغض) نه کول او په زړه کي چاته څه نه ساتل چي په دې کښي حسد هم داخل دئ چي ځان ورڅخه وژغورل سي. ۲۷). په عیني نومي کتاب کښي دغه شمېره پاته سوي ده ښایي د کاتب د غلطۍ په وجه پاته سوې وي . زما په فکر دغه شمېره حیا کول دي . ۲۸). غصه نه کول ۲۹). دوکه نه کول چي په دې کښي بدګماني او د یو چاسره مکر او فریب نه کول هم داخل دي . ۳۰). د زړه څخه ددنیامحبت ایستل چي په دې کښي دمال ، جاه (اقتدار) محبت نه کول هم داخل دی .

علامه عینی رحمه الله فرمایي چي پورته ذکر سوي ټول د زړه په عملونو کښي داخل دي که څه هم په ښکاره ورڅخه یو شی دباندي معلومیږي خو په غور او فکر کولو سره به په دې شمېرو کي په یوه نه په یوه کي به داخل سي.

دوهم قسم : هغه عملونه چي په ژبي پوري اړه لري او ه شعبې (ښاخونه) لري . ۱).د کلمي طیبي ویل. ۲). دقرآن کریم تلاوت کول . ۳). علم زده کول ۴). علم ونورو ته ښودل . ۵). دعا کول . ۶). د اللهﷻ ذکر کول چي په دې کښي استغفار هم داخل دئ . ۷). عبث او بې کاره خبري پرېښودل.

دریم قسم : د بدن د پاته برخو عملونه ټول څلوېښت دي او پر درو برخو ویشل سوي دي .

اوله برخه : د خپل ذات (ځان) په اړه درلودونکي شیان شپاړس ښاخونه دي .

۱). پاکي په لاس راوړل چي په دې کښي د بدن ، جامو او د ځای پاکوالی داخل دئ. د بدن په پاکوالي کښي اودس هم داخل دئ ، د حیض ،نفاس او د جنابت څخه غسل هم پکښي داخل دئ.

۲). د لمانځه پابندي او قائمول چي په دې کي فرض ، نفل ، وختي او قضايي ټول لمونځونه داخل دي. ۳). صدقه چي په دې کښي زکواة ، سرسایه او نور هم داخل دي،بخشش کول خلګو ته خوراک ورکول ، دمیمله عزت کول، د غلامانو (مریانو) ازادول هم پکښي داخل دي. ۴). فرضي وي که نفلي روژه نیول ۵) حج کول فرض وي که نفلي او په دې کښي عمره هم داخله ده ، طواف هم په کښي داخل دئ. ٦). اعتکاف کول ، په دې کي د لیله القدر لټه کول هم داخله ده . ۷). ددین د ساتلو لپاره د کور پرېښودل چي په دې کښي دهجرت کول هم داخل دي . ۸). دنذر پوره کول. ۹). د قسمونو اخیستلو پوره خیال ساتل . ۱۰). د کَفَارُو ادا کول . ۱۱). عورت په لمانځه کي او دلمانځه څخه ماسوا په نورو وختو کي پټ ساتل . ۱۲). قرباني کول او دقرباني دحیوان دخیر خبر اخیستل او ددې اهتمام کول. ۱۳). د جنازې اهتمام کول او په دې پوري د اړه درلودونکو کارونو انتظام کول . ۱۴).دقرض (پور) ادا کول . ۱۵). معاملې په صحیح ډول کول او دسود څخه ځان خلاصول . ۱٦). پر ریښتیا خبري باندي شاهدي ورکول یعني حق نه پټول .

دوهمه برخه : دغه برخه د نورو خلګو سره دمعاملو پوري اړه لري په دې پوري اړه لرونکي ښاخونه شپږ دي :

۱). د نکاح په ذریعه د حرامکارۍ (زنا) څخه خلاصېدل ۲). د اولادونو د حقونو خیال ساتل او د هغو ادا کول چي په دې کښي د نوکرانو او خادمانو حقونه هم داخل دي. ۳). د مور او پلار سره ښه ګوزاره او نرمي کول او دهغو فرمانبرداري کول ۴). د اولادونو ښه تربیه کول ۵). وصیله رحمي یعني د خپلو خپلوانو سره خپلوي کول ٦). دمشرانو احترام کول او خبري یې منل .

دریمه برخه : دغه برخه عام حقونه دي یعني دعوامو خلګو حقونه دي چي په دې کي اتلس ښاخونه دي : ۱). په عدل او انصاف سره حکومت کول ۲). د حقي ډلي ملګرتیا کول ۳). د واکمنانو امر منل (په دې شرط چي د شریعت دحکمونو پر خلاف نه وي .) په خپلو منځو کي د معاملو اصلاح کول چي په دې کښي د بدوکارونو کوونکو ته سزا ورکول (د باغیانو سره جهاد کول هم داخل دي). ۵). په نیکو کارونو کښي دنورو سره کومک کول ، ٦). د نیکو کارونو امر کول او د بدو څخه منع کول چي په دې کښي وعظ (نصیحت) اوتبلیغ هم داخل دئ . ۷). د حدودو (شرعي سزاګانو) قائمول . ۸). جهاد کول چي په دې کښي د سنګرونو ساتل هم داخل دي. ۹). د امانت ادا کول چي په دې کښي د غنیمت د مالونو پنځمه ورکول هم داخله ده. ۱۰). د قرض (پور) ورکول او دهغه ادا کول . ۱۱). د

همسایګانو حقوق ادا کول ، او ددوی عزت کول ۱۲). ښه معامله کول چې په دې کښې په روا طریقه سره د مال جمع کول هم داخل دي . ۱۳). مال په خپل ځای کښې خرڅول ، د اسراف او بخیلۍ څخه ځان ساتل هم په دې کښې داخل دي . ۱۴). د سلام ویل او د سلام جواب ورکول ۱۵).و نورې کوونکي ته یرحمک الله ویل. ۱٦). د دنیا خلک د خپل تاوان او تکلیف څخه خلاصول ۱۷). لهو لعب (بي کاره خبرو ، مسخرو) څخه خلاصېدل . ۱۸). دلاري څخه د تکلیف ورکونکو شیانو لیري کول.

دا اوه اویا (۷۷) ښاخونه سوه په دې کښې د ځینو یو په بل کي داخلېدل هم کېدای سي لکه په ښه معامله کي د مال جمع کول او مصرفول ، دواړه یو په بل کي داخلېدای سي چې یو ترې جوړ سي د غسي په غور او فکر سره نور هم حساب کمېدلای سي په دې خاطر داویا (۷۰) او (٦۷) د روایتونو لاندي هم داتفصیل راتلای سي ، په دې کي بنده دعلامه عینی رحمة الله علیه کلام چې د بخاري شریفي په شرح کښې دئ اصل ګڼلي دئ چې په همدې وجه مي په لمبروار دا شیان ذکر کړي دي او ترحافظ ابن حجر رحمة الله علیه په فتح الباري کي اوترعلامه عینی رحمة الله علیه اوتر مرقات مي وضاحت او اضافه توب کړی دئ . عالمانو لیکلي دي چې دایمان ټولي شعبې اجمالا هغه دي چې پورته ذکر سوي دي. و بنده ته پکار دئ چې په دې کي غور او فکر وکړي هغه صفتونه چې په ده کښې موجود وي پر هغه دي دالله جل جلاله شکر اداکړي چې دهغه په توفیق او مهربانۍ سره هر نیکي حاصلیږي او هغه صفتونه چې په ده کښې نه وي دهغو د حاصلولو کوښښ دي وکړي او دهغو د حاصلولو لپاره دي دالله جل جلاله څخه توفیق وغواړي .

وما توفیقي الا با الله .

دریم باب

د دریمي کلمي فضائل

یعني سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اکبر . چي په ځینو روایتونو کي ددې ډول کلمو سره (لا حول ولا قوه الا بالله) هم راغلې ده . په حدیثونو کښي ددې کلمي ډیر زیات فضائل راغلي دي. دا کلمې د (تسبیحات فاطمة) په نامه سره هم مشهوري دي .دا ځکه چي رسول اللهﷺ خپلي نازولي لور حضرت بي بي فاطمېرضي الله عنها ته دا کلمې ورښودلي وې (لکه چي وروسته به څرګنده سي) په دې باب کښي هم د قرآنکریم آیتونه او نبوي حدیثونه ډیر راغلي دي نو ځکه مي پر دوو فصلونو وویشی چي په لومړي فصل کښي یې قرآني آیتونه او په دوهم کښي یې نبوي حدیثونه ځاي لري .

لومړي فصل

دا فصل هغو ایاتونو ته ځانګړي سوي دئ چي د (سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اکبر) مضمون ورڅخه څرګندیږي . له عمومې (قاعدې) سره سم کوم شی ته چي څومره ډیره اړتیا وي هغومره ډیر ورڅخه د خبرو په ترڅ کي یادونه کیږي او په ګڼو لاروچارو یې د مقابل لوري ذهن ته سپاري . له همدي امله په قرآن کریم کښي هم ددې کلمو مفهوم په مختلفو طریقو سره بیان سوی دی . په دغو کښي تر ټولو وړاندي د (سبحان الله) کلمة ده چي معنی یې په دې ډول ده: الله تعالیﷻ د هر عیب او بدۍ څخه پاک دی ، زه د هغه پر پاکوالي په بشپړه توګه اقرار کوم .دا مضمون یې د امر په ډول سره ذکر کړی دی چي (د اللهﷻ پاکي ووایاست) د خبر یا اخبار په ډول داسي چي (فرښتي او نور مخلوقات د اللهﷻ پاکي بیانوي) او په نورو سره یې هم بیان کړی دی.

دغه رنګه د نورو کلمو (د اخبار ، امر ..) حالتونه هم په قرآن کریم کښي تر ګڼو سرلیکونو لاندي په مختلفو مضامینو کښي څرګند او بیان سوي دي :

۱). وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ (۱۵۲)

ژباړه : (دانسان د پیدا کېدو پر مهال د ملائکو وینا داوه چي) موږ ستا د ستاینې په کولو سره ستاپاکي بیانوو. او په زړه سره ستاد پاکۍ اقرار کوو.

۲). قَالُواْ سُبْحَـٰنَكَ لَا عِلْمَ لَنَآ إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَآ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٣٢﴾ (۱۵۳)

ژباړه : (ملائکي چي کله د انسان په مقابل کي وازمایل سوي نو) وې ویل : ته خو (له هره عیبه) پاک یې. له موږ سره خو له هغه پوهي پرته چي تا رابښودلي ده. بل څه نسته. بېشکه ته او ته د لوي علم او ستر حکمت څښتن یې.

۳). وَٱذْكُر رَّبَّكَ كَثِيرًا وَسَبِّحْ بِٱلْعَشِيِّ وَٱلْإِبْكَـٰرِ ﴿٤١﴾ (۱۵۴)

ژباړه : او خپل رب ډېر یادوی او هم په ماښام او هم سهار دواړو وختو کښې دهغه تسبیح وایاست.

۴). رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَـٰذَا بَـٰطِلًا سُبْحَـٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿١٩١﴾ (۱۵۵)

ژباړه : (هغه پوهان خلک چي تل دالله ﷻ په ذکر بوخت وي او د هغه د قدرت په کارنامو کښې غور او فکر کوي) دا وايي چي : او زموږ ربه ! ستاسو ذات له هر ډول عیبونو څخه پاک دی. ته موږ د دوزخ له عذابه څخه وساتي.

۵). سُبْحَـٰنَهُۥٓ أَن يَكُونَ لَهُۥ وَلَدٌ (۱۵۶)

ژباړه: هغه ذات (الله ﷻ) له دې څخه چي اولاد ولري پاک دی.

---

(۱۵۲) سورة بقرة الاية (۳۰)
(۱۵۳) سورة بقرة الاية (۳۲)
(۱۵۴) سورة بقرة الاية (۴۱)
(۱۵۵) سورة ال عمران الاية (۱۹۱)
(۱۵۶) سورة النساء الاية (۱۷۱)

۶). سُبۡحَٰنَكَ مَا يَكُونُ لِيٓ أَنۡ أَقُولَ مَا لَيۡسَ لِي بِحَقٍّ (۱۵۷)

ژباړه : (د قيامت په ورځ چي کله د حضرت عيسی عليه السلام څخه پوښتنه وسي چي ايا تا دوی ته دتثليث تعليم ورکاوه يعني له ما پرته خپلي مور او خپل ځان ته د عبادت کولو په لور دي هم هڅول ؟ نو) هغه به ووايي تالره پاکي ده (له شريکه) . ماته نه ښايي هغه څه چي د ويلو حق يي نه لرم ،ووايم .

۷). سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يَصِفُونَ ۝١٠٠ (۱۵۸)

ژباړه : څښتن تعالی له ټولو هغو خبرو څخه چي (کافران) يې دهغه په هکله انګيري ، پاک دی (داسي چي الله جل جلاله ته اولاد يا شريک ثابتوي ، او داسي نور...)

۸).فَلَمَّآ أَفَاقَ قَالَ سُبۡحَٰنَكَ تُبۡتُ إِلَيۡكَ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ۝١٤٣ (۱۵۹)

ژباړه : (هغه وخت چي موسی عليه السلام د طور پر غره باندي د څښتن تعالی د يوې تجلي او شغلي د ليدو له امله بي هوښه سو او) بيا کله چي بيرته پر هوښ راغلی وحق تعالی ته يې عرض وکړ ی: چي بېشکه ستاسو ذات خو (په دغه سترګو دليدلو څخه او د هر عيب څخه) پاک دی . زه (ستا دليدو له غوښتني څخه) توبه کوم. او زه تر ټولو لومړی ايمان راوړونکي يم (د خپل وخت د ديدار په نه غوښتلو سره).

۹).إِنَّ ٱلَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِهِۦ وَيُسَبِّحُونَهُۥ وَلَهُۥ يَسۡجُدُونَ (۱۶۰)

ژباړه : بېشکه هغه څوک چي الله تعالی جل جلاله ته تر ټولو ډير نژدې دي (يعني فرښتي) هغوی د هغه له عبادت څخه تکبر نه کوي او د هغه تسبيح وايي او هغه ته سجده کوي.

---

(۱۵۷) سورة مائده الاية (۱۱۶)
(۱۵۸) سورة الانعام الاية (۱۰۰)
(۱۵۹) سورة الاعراف الاية (۱۴۳)
(۱۶۰) سورة الاعراف الاية (۲۰۶)

فایده : صوفیانو لیکلي دي چي په آیت کي د تکبر.نه کولو مخکښي بیان چي الله ﷻ یې کړئ دئ داشی را په ګوته کوي چي تکبر ختمول په عباداتو کښي دلا زیات پر مختګ سبب ګرځي او په تکبر سره په عباداتو کښي سستي پیدا کیږي .

۱۰). سُبۡحَٰنَهُۥ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿٣١﴾ (۱۶۱)

ژباړه : د هغه ذات له هغو شیانو څخه چي (دغه کافران) یې ورته د شریک په ډول ثابتوي پاک دئ .

۱۱) . دَعۡوَىٰهُمۡ فِيهَا سُبۡحَٰنَكَ ٱللَّهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمۡ فِيهَا سَلَٰمٞۚ وَءَاخِرُ دَعۡوَىٰهُمۡ أَنِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٠﴾ (۱۶۲)

ژباړه : ددغو جنتیانو له خُلې څخه به داوا وریدل سي : سبحنک اللهم (یعني اې باري خدایه ! له هر ډول عیب څخه پاک یې) او پخپلو منځو کښي به یو پر بل باندي سلام وایي چي السلام علیکم او کله چي ددنیا تکلیفونه وریاد کړي نو دا فکر وکړي چي اوس خو دتل لپاره له هغوی څخه خلاص سو نو په اخر کښي به ووایي : الحمد لله رب العالمین .

۱۲). سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿١٨﴾ (۱۶۳)

ژباړه: الله ﷻ له هغو شیانو څخه چي (دغه کافران) یې ورته د شریک په ډول نیسي ، ډیر پاک او لوي دی .

۱۳). قَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدٗاۗ سُبۡحَٰنَهُۥۖ هُوَ ٱلۡغَنِيُّۖ (۱۶۴)

ژباړه : دغه خلګ وایي چي الله ﷻ اولاد لري خو هغه له دې څخه پاک دی . هغه چاته اړه نه دی.

۱۴) وَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿١٠٨﴾

ژباړه : او الله ﷻ (له هره عیبه) پاک دی او زه له مشرکانو څخه نه یم .

---

(۱۶۱) سورة توبة الاية (۳۱)

(۱۶۲) سورة یونس الاية (۱۰)

(۱۶۳) سورة یونس الاية (۱۸)

(۱۶۴) سورة یونس الاية (۶۸)

۱۵) وَيُسَبِّحُ ٱلرَّعْدُ بِحَمْدِهِۦ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ مِنْ خِيفَتِهِۦ (۱۶۵)

ژباړه: او رعد (فرشته) د حق تعالی په حمد ويلو سره د هغه تسبيح وايي ، او نوري فرښتې هم د هغه له ويري (تسبيح او حمد) وايي.

فايده: عالمانو ليکلي دي چي څوک په اسمان کي د برېښنا او تالندي د راپيدا کيدو پر مهال (وَيُسَبِّحُ ٱلرَّعْدُ بِحَمْدِهِۦ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ مِنْ خِيفَتِهِۦ) ووايي . نو له تکي لوېدو څخه به په امان کي اوسي په يو حديث کي راغلي دي : چي کله د تالندي ږغ واورئ ، نو د الله ﷻ ذکر کوئ. ذکر کونکي له تکي څخه په امان وي . په يو بل حديث کي راغلي دي . چي د برېښنا او تالندي په وخت کي تسبيح واياست . تکبير مه واياست .

۱۶) وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُولُونَ ﴿٩٧﴾ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُن مِّنَ ٱلسَّٰجِدِينَ ﴿٩٨﴾ وَٱعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأْتِيَكَ ٱلْيَقِينُ ﴿٩٩﴾ (۱۶۶)

ژباړه: او موږ ته معلومه ده چي دا خلک (ستا په هکله کومي) خبري کوي په هغه باندي ستا زړه تنګيږي . نو (ددي هيڅ پروا مه کوه) ته د خپل رب پاکي او ستايني بيانوه ، او ځان دسجده کونکو له ډلي (لمونځ کونکو) څخه کړه . او تر هغه وخته د خپل رب عبادت کوه چي مرګ درته راځي.

۱۷) سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿١﴾ (۱۶۷)

ژباړه : هغه ذات له هغه شيانو څخه چي کافران يې ورته د شريک په ډول ثابتوي ، ډير سپېڅلی او لوړ دئ.

۱۸) وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ ٱلْبَنَٰتِ سُبْحَٰنَهُۥ وَلَهُم مَّا يَشْتَهُونَ ﴿٥٧﴾ (۱۶۸)

ژباړه : او هغوي الله ﷻ ته لوڼي ثابتوي . د هغه ذات له دې څخه پاک دئ او (عجيبه خو داده چي) د خپل ځان لپاره داسي شی ثابتوي چي ددوی خوښ سي.

---

(۱۶۵) سورة رعد الاية (۱۳)
(۱۶۶) سورة حجر الايات (۹۷ ، ۹۸ ، ۹۹)
(۱۶۷) سورة النحل الاية (۱)
(۱۶۸) سورة النحل الاية (۵۷)

۱۹) سُبۡحَـٰنَ ٱلَّذِىٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ لَيۡلاً مِّنَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ إِلَى ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡأَقۡصَا (۱۶۹)

ژباړه: (له هره عيبه) پاک دی هغه ذات چي خپل بنده (محمدﷺ) يې دشپې لخوا له مسجد حرام (کعبې شريفي) څخه و مسجد اقصی ته بوتی.

۲۰) سُبۡحَـٰنَهُۥ وَتَعَـٰلَىٰ عَمَّا يَقُولُونَ عُلُوًّا كَبِيرًا (۱۷۰)

ژباړه: اللهﷻ له هغه څخه چي دوی يې وربانديوايي پاک او ډير لوړ دی په ستر لوړتوب سره).

۲۱) تُسَبِّحُ لَهُ ٱلسَّمَـٰوَٰتُ ٱلسَّبۡعُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهِنَّ (۱۷۱)

ژباړه: ټول اوه اسمانونه، مځکي او هغه څه چي دذوی په منځ کي دي (په ټوليزه توګه) دده تسبيح وايي.

۲۲) وَإِن مِّن شَىۡءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمۡدِهِۦ وَلَـٰكِن لَّا تَفۡقَهُونَ تَسۡبِيحَهُمۡ (۱۷۲)

ژباړه: (اونه يوازي دا بلکي) هيڅ شي که ساکښ وي او که بې ساه داسي نسته چي داللهﷻ په ستايني سره دي دهغه تسبيح نه وايي. خو تاسو د هغو په تسبيح باندي نه پوهيږی.

۲۳) قُلۡ سُبۡحَانَ رَبِّى هَلۡ كُنتُ إِلَّا بَشَرًا رَّسُولاً (۱۷۳)

ژباړه: (ته دوی ته ددغه بې ځايه غوښتنو په جواب کي) ووايه چي سبحان الله زه خو يو سړی يم، رسول يم (خداي نه يم، چي هر څه غواړم هغه کوم)

۲۴) وَيَقُولُونَ سُبۡحَـٰنَ

ژباړه: (دغه پوهانو خلګو ته چي کله داللهﷻ کلام تلاوت کړل

(۱۶۹) سورة بني اسرائييل الاية (۱)
(۱۷۰) سورة بني اسرائيل الاية (۴۳)
(۱۷۱) سورة بني اسرائيل الاية (۴۴)
(۱۷۲) سورة بني اسرائيل الاية (۴۴)
(۱۷۳) سورة بني اسرائيل الاية (۹۳)

رَبِّنَآ إِن كَانَ وَعۡدُ رَبِّنَا لَمَفۡعُولٗا ﴿١٠٨﴾ (۱۷۴) — سي نو دوی د ځينو پر طرف پر سجده پرېوزي) او وايي چي زموږ رب پاک دئ. بېشکه خامخا دهغه وعده ترسره کېدونکي ده.

۲۵) فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوۡمِهِۦ مِنَ ٱلۡمِحۡرَابِ فَأَوۡحَىٰٓ إِلَيۡهِمۡ أَن سَبِّحُواْ بُكۡرَةٗ وَعَشِيّٗا ﴿١١﴾ (۱۷۵)

ژباړه: نو (حضرت زکريا عليه السلام) له خپلي کوچنی کوټي څخه د باندي خپل قوم ته راووتی او په اشاره سره يې ورته وويل چي تاسو سهار اوماښام د څښتن تعالی جل جلاله تسبيح واياست.

۲۶) مَا كَانَ لِلَّهِ أَن يَتَّخِذَ مِن وَلَدٖۖ سُبۡحَٰنَهُۥٓۚ (۱۷۶)

ژباړه: (هيڅکله) الله جل جلاله ته داسي شان نسته چي د ځان لپاره زوی غوره کړي . هغه له دې (ټولو شيانو) څخه پاک دئ.

۲۷) وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ قَبۡلَ طُلُوعِ ٱلشَّمۡسِ وَقَبۡلَ غُرُوبِهَاۖ وَمِنۡ ءَانَآيِٕ ٱلَّيۡلِ فَسَبِّحۡ وَأَطۡرَافَ ٱلنَّهَارِ لَعَلَّكَ تَرۡضَىٰ ﴿١٣٠﴾ (۱۷۷)

ژباړه : (اې محمده صلی الله عليه وسلم ! ته ددغه خلکو په نامناسبو خبرو صبر کوه) او د خپل پالونکي رب په حمد (او ثنا) ويلو سره د لمر ختلو او لوېدو څخه مخکي د هغه تسبيح وايه . د شپې له خوا او د ورځي په پيل او پاي دواړو کي د (خپل رب) تسبيح وايه . (داټول) ددې لپاره چي ته (دهغه په ثواب او بې حسابه بدلې باندي چي ددغه په مقابل کي تر لاسه کيږي ډېر) خوشحاله سي.

---

(۱۷۴) سورة بني اسرائيل الاية (۱۰۸)
(۱۷۵) سورة مريم الاية (۱۱)
(۱۷۶) سورة مريم الاية (۳۵)
(۱۷۷) سورة طٰهٰ الاية (۱۳۰)

۲۸) يُسَبِّحُونَ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ لَا يَفۡتُرُونَ ﴿٢٠﴾ (۱۷۸)

ژباړه: (د ښتن تعالی نیک بنده ګان د هغه په عبادت نه ستومانه کیږي) شپه او ورځ د الله ﷻ تسبیح وایي هیڅ وخت یې نه هیریږي.

۲۹) فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلۡعَرۡشِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٢٢﴾ (۱۷۹)

ژباړه: حق تعالی چي د عرش ښتن دی له ټولو هغو خبرو څخه چي دا خلګ یې پسي کوي پاک دی (چي نعوذ بالله خدای ﷻ شریک او یا اولاد لري.)

۳۰) وَقَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَلَدٗاۗ سُبۡحَٰنَهُۥۚ (۱۸۰)

ژباړه: دغه (کافران) وایي چي (نعوذبالله) رحمان (یعني خدای پاک فرښتې) په اولاد نیولي دي. دهغه ذات له دغه څخه پاک دئ.

۳۱) وَسَخَّرۡنَا مَعَ دَاوُۥدَ ٱلۡجِبَالَ يُسَبِّحۡنَ وَٱلطَّيۡرَۚ (۱۸۱)

ژباړه: موږ غرونه د داود ؑ تابع کړي وه (چي دده د تسبیح ویلو پر مهال) هغوی (غرونه) هم تسبیح وایي او (همدارنګه) مو مرغان (هم تابع کړي وه چي هغوی هم د حضرت داود ؑ سره یوځای تسبیح ویلې.)

۳۲) لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبۡحَٰنَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٨٧﴾ (۱۸۲)

ژباړه: (حضرت یونس ؑ په تیارو کښي وویل) چي له تا پرته بل څوک د عبادت لائق نسته، ته له ټولو عیبونو څخه پاک یي بېشکه زه کمي لرونکی یم.

۳۳) سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٩١﴾ (۱۸۳)

ژباړه: الله تعالي ﷻ له ټولو هغو خبرو څخه چي دا (کافران) یې پسي کوي پاک دی.

---

(۱۷۸) سورة الانبياء الاية (۲۰)
(۱۷۹) سورة الانبياء الاية (۲۲)
(۱۸۰) سورة الانبياء الاية (۲۶)
(۱۸۱) سورة الانبياء الاية (۷۹)
(۱۸۲) سورة الانبياء الاية (۸۷)

۳۴) سُبۡحَـٰنَكَ هَـٰذَا بُهۡتَـٰنٌ عَظِيمٌ ﴿١٦﴾ (۱۸۳)

ژباړه : اې الله جل جلاله ! تا لره ډېره پاکي ده (دا خلک چې د حضرت عائشې رضي الله عنها په هکله کومې بې بنسټه خبرې کوي) ډېر لوی تهمت دی.

۳۵) يُسَبِّحُ لَهُۥ فِيهَا بِٱلۡغُدُوِّ وَٱلۡأٓصَالِ ﴿٣٦﴾ رِجَالٞ لَّا تُلۡهِيهِمۡ تِجَٰرَةٞ وَلَا بَيۡعٌ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَإِقَامِ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءِ ٱلزَّكَوٰةِ يَخَافُونَ يَوۡمٗا تَتَقَلَّبُ فِيهِ ٱلۡقُلُوبُ وَٱلۡأَبۡصَٰرُ ﴿٣٧﴾ (۱۸۴)

ژباړه: په دې (ډلو کښې) داسې خلک هم شته چې د الله جل جلاله پاکي په سهار او ماښام کې وايي چې نه يې د تجارت (رانيولو) او نه هم د خرڅولو (چارې) د الله جل جلاله د ذکر، لمونځ کولو او زکوة ورکولو څخه بې پروا (غافله کوي) هغوی د داسې ورځې له عذابه څخه ویرېږي چې به ډېر زړونه او سترګې پکښې واوړي.

۳۶) أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱلطَّيۡرُ صَٰٓفَّٰتٖۖ كُلّٞ قَدۡ عَلِمَ صَلَاتَهُۥ وَتَسۡبِيحَهُۥۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِمَا يَفۡعَلُونَ ﴿٤١﴾ (۱۸۵)

ژباړه : (اې مخاطبه !) ايا تا ته (له دلائلو او مخامخ کتنې څخه) دا څرګنده نسوه چې ټول شيان (که) په اسمانونو او که په ځمکه کې دي او په ځانګړې ډول مرغان چې د وزرونو په خپرولو سره (په هوا کې الوزي)، د لوی څښتن پاکي بيانوي. هره یوه ته د خپلې دعا (لمانځه) او تسبيح (طريقه) څرګنده ده. الله تعالی جل جلاله له ټولو هغو کړنو څخه چې دوی يې کوي، ښه خبر دی.

۳۷) قَالُواْ سُبۡحَٰنَكَ مَا كَانَ يَنۢبَغِي لَنَآ أَن نَّتَّخِذَ مِن دُونِكَ مِنۡ أَوۡلِيَآءَ

ژباړه : (د قيامت په ورځ چې کله دا کافران او هغه معبودان چې دوی يې عبادت کاوه ټول سره جمعه کړل سي، نو له دغو معبودانو څخه به پوښتنه وکړي چې ايا دا تاسې واست چې دوی مو له سمې لارې اړولي نو) دوی به

(۱۸۳) سورة مؤمنون الاية (۹۱)
(۱۸۴) سورة النور الايتان (۳۶ ، ۳۷)
(۱۸۵) سورة النور الاية (۴۱)

وَلَٰكِن مَّتَّعْتَهُمْ وَءَابَآءَهُمْ حَتَّىٰ نَسُوا۟ ٱلذِّكْرَ وَكَانُوا۟ قَوْمًۢا بُورًا ﴿١٨﴾ (۱۸۶)

و وايي چي سبحان الله موږ ته خو هیڅ نه ښايي چي له تا پرته بل څوک د ځان لپاره مل او کار ساز جوړ کړو . بلکي دا (ناپوهان پخپله د شکر پر ځای کفر ته مخه کړه تا چي دوی او ددوي مشرانو ته ښه شتمني ورکړه ، نو دوی (د شتمنۍ په نشه ، شهوتونو او نورو کي اخته سول او) ستا ذکر يې له پامه وغورځاوه ، او په خپله برباد سول.

۳۸ وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱلْحَىِّ ٱلَّذِى لَا يَمُوتُ وَسَبِّحْ بِحَمْدِهِۦ ۚ وَكَفَىٰ بِهِۦ بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرًا ﴿٥٨﴾ (۱۸۷)

ژباړه : او په هغه ذات باندي توکل کوه چي (تل) ژوندی دی او هیڅکله نه مري او د هغه په حمد ويلو سره د هغه تسبيح وايه . (يعني د هغه په تسبيح او حمد ويلو کښي بوخت اوسه او دچا د مخالفت پروا مه کوه) دا ځکه چي هغه سپيڅلي ذات د خپلو ټولو بندګانو په ګناوو ښه خبر دی (او د قيامت په ورځ به هر چا ته د هغه د مخالفت بدله ورکول سي.)

۳۹) وَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٨﴾

ژباړه : ښتن تعالیﷻ چي د عالميانو پالونکی دی له ټولو عيبونو څخه پاک دی .

۴۰) سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٦٨﴾ (۱۸۸)

ژباړه : اللهﷻ له ټولو هغو شيانو څخه چي دا (خلګ) يې ورته د شريک په ډول نيسي ، پاک او ډير لوړ دی .

۴۱) فَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ حِينَ تُمْسُونَ

ژباړه : نو تاسو داللهﷻ تسبيح دماښام او هم دسهار په وخت کي واياست .او ده لره حمد ويل

[186] سورة الفرقان الاية (۱۸)

[187] سورة الفرقان الاية (۵۸)

[188] سورة قصص الاية (۶۸)

وَحِينَ تُصۡبِحُونَ ﴿١٧﴾ وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَعَشِيّٗا وَحِينَ تُظۡهِرُونَ ﴿١٨﴾ (۱۸۹)

کیږي په اسمانونو او هم ځمکو کي او همدارنګه (د هغه تسبیح او حمد وایاست) په ماښام (یعني د ماخستن په وخت کي) او هم دماپښین په وخت کي.

۴۲) سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿٤٠﴾ (۱۹۰)

ژباړه: الله تعالی له ټولو هغو شیانو څخه چي دا (کافران) یې ورته وایي د شریک په توګه یې ثابتوي پاک او ډیر لوړ دی.

۴۳) إِنَّمَا يُؤۡمِنُ بِـَٔايَٰتِنَا ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُواْ بِهَا خَرُّواْ سُجَّدٗا وَسَبَّحُواْ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَهُمۡ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ۩ ﴿١٥﴾ (۱۹۱)

ژباړه: نو زموږ پر ایاتونو باندي هغه خلګ ایمان راوړي چي کله ددوی په مخ کي دغه تلاوت سي نو پرسجده ولوېږي او دخپل څښتنﷻ تسبیح او حمد پیل کړي او (بل دا چي) دوی تکبر نه کوي.

۴۴) يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ ذِكۡرٗا كَثِيرٗا ﴿٤١﴾ وَسَبِّحُوهُ بُكۡرَةٗ وَأَصِيلًا ﴿٤٢﴾ (۱۹۲)

ژباړه: اې مومنانو! تاسو د اللهﷻ ذکر په ډیره اندازه سره کوی او د هغه تسبیح په سهار او ماښام کي وایاست.

۴۵) قَالُواْ سُبۡحَٰنَكَ أَنتَ وَلِيُّنَا مِن

ژباړه: (د قیامت په ورځ چي کله اللهﷻ ټول خلګ سره راټول کړي نو اللهﷻ به له فرښتو څخه پوښتنه وکړي چي ایا دا خلګو ستاسو عبادت کاوه نو) دوي به ووایي (نه) ته خو (له شرک او نورو عیبو څخه) پاک یي، زموږ خوله تاسو سره مینه او تړاو دی له

(۱۸۹) سورة الروم الایتان (۱۷، ۱۸)
(۱۹۰) سورة الروم الایة (۴۰)
(۱۹۱) سورة السجدة الایة (۱۵)
(۱۹۲) سورة الاحزاب الایتان (۴۱، ۴۲)

دُونِهِم ﷺ (۱۹۳) هغوی سره نسته .

۴۶) سُبْحَـٰنَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلْأَزْوَٰجَ كُلَّهَا (۱۹۴)

ژباړه: هغه ذات پاک دي چې ټول شیان یې جوړه جوړه پیدا کړي دي .

۴۷) فَسُبْحَـٰنَ ٱلَّذِى بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَىْءٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿۸۳﴾ (۱۹۵)

ژباړه : نو هغه ذات پاک دی چې پر هر شي برلاسي او د هر شی څښتن دئ او بیرته د همدغه (ذات) ولور ته ورګرځید ونکي یاست .

۴۸) فَلَوْلَآ أَنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلْمُسَبِّحِينَ ﴿۱۴۳﴾ لَلَبِثَ فِى بَطْنِهِۦٓ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿۱۴۴﴾ (۱۹٦)

ژباړه : نو کچیري (یونس عليه السلام) خپل ځان د تسبیح کونکو په لیکه کي نه وای درولي نو دقیامت تر ورځي به پوري به د ماهي په نس کي (ګیډه) کي پاته سوی وای .

۴۹) سُبْحَـٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿۱۵۹﴾ (۱۹۷)

ژباړه : الله جل جلاله له ټولو هغو شیانو څخه چي دا خلک یې پسي بیانوي ،پاک دی .

۵۰) وَإِنَّا لَنَحْنُ ٱلْمُسَبِّحُونَ ﴿۱٦٦﴾ (۱۹۸)

ژباړه : (فرښتې وايي چي موږ ټوله په ادب سره په خپلو لیکو کي یا صفونو کي ولاړي یو) او ټولي د هغه تسبیح وايو .

---

(۱۹۳) سورة سبا الاية (۴۱)

(۱۹۴) سورة یاسین الاية (۳٦)

(۱۹۵) یاسین الاية (۸۳)

(۱۹٦) سورة الصافات الایتان (۱۴۳ ، ۱۴۴)

(۱۹۷) سورة الصافات الاية (۱۵۹)

(۱۹۸) سورة الصافات الاية (۱٦٦)

۵۱) سُبۡحَـٰنَ رَبِّكَ رَبِّ ٱلۡعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٨٠﴾ وَسَلَـٰمٌ عَلَى ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿١٨١﴾ وَٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَـٰلَمِينَ ﴿١٨٢﴾ (۱۹۹)

ژباړه : ستارب چي د عزت (او لويي) څښتن دئ، له ټولو هغو شيانو څخه چي دوی يې وړسي وايي، پاک دئ .اوسلام دي وي پر پيغمبرانو او ټولي ستايني هم هغه الله ﷻ ته ثابتي دي چي د (ټولو) عالميانو پالونکی دئ.

۵۲) إِنَّا سَخَّرۡنَا ٱلۡجِبَالَ مَعَهُۥ يُسَبِّحۡنَ بِٱلۡعَشِيِّ وَٱلۡإِشۡرَاقِ ﴿١٨﴾ وَٱلطَّيۡرَ مَحۡشُورَةً ۖ كُلٌّ لَّهُۥٓ أَوَّابٌ ﴿١٩﴾ (۲۰۰)

ژباړه : موږ غرونو ته امر کړی و چي له هغه (حضرت داود ﷺ) سره (يو ځای) سي او سهار او ماښام په وختو کي د الله ﷻ تسبيح ووايي، دغه راز موږ مرغانو ته هم امر کړی و چي د تسبيح پر مهال به پرده راټوليدل. او ټول (غرونه، او مرغان د داود ﷺ سره يو ځای) د الله ﷻ وطرف مينه ناک او رجوع کونکي (او په تسبيح او حمد کي بوخت) وه.

۵۳) سُبۡحَـٰنَهُۥ ۖ هُوَ ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ ﴿٤﴾ (۲۰۱)

ژباړه : هغه (له ټولو عيبونو او نيمګړتياو څخه پاک دئ. داسي څښتن چي همدا يو دی (هيڅ شريک نلري او) زورور دئ.

۵۴) سُبۡحَـٰنَهُۥ وَتَعَـٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿٦٧﴾ (۲۰۲)

ژباړه : هغه ذات له هغه شيانو څخه چي دا (کافران) يې ورته د شريک په توګه ثابتوي پاک او ډير لوړ دئ.

۵۵) وَتَرَى ٱلۡمَلَـٰٓئِكَةَ حَآفِّينَ

ژباړه : او ته به (د قيامت په ورځ) فرښتې ووينې چي د عرش په چاپير (څلورو واړو لورو ته) ولاړي

---

(۱۹۹) سورة الصافات الاية (۱۸۲)
(۲۰۰) سورة ص الايتان (۱۸ ، ۱۹)
(۲۰۱) سورة الزمر الاية (۴)
(۲۰۲) سورة الزمر الاية (۶۷)

مِنْ حَوْلِ ٱلْعَرْشِ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ ۖ وَقُضِىَ بَيْنَهُم بِٱلْحَقِّ وَقِيلَ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٧٥﴾ (۲۰۳)

وي (او) د خپل څښتن تسبيح او حمد به وايي. او په هغه ورځ به د ټولو بندګانو تر منځ ريښتيني پريکړه وسي او (له هر لوري څخه به) دا وويل سي چي (الحمد الله رب العالمين) ټولي ستايني هغه الله ﷻ لره ښايي د ټولو عالميانو پالونکی دی.

۵۶) ٱلَّذِينَ يَحْمِلُونَ ٱلْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهُۥ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيُؤْمِنُونَ بِهِۦ وَيَسْتَغْفِرُونَ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَىْءٍ رَّحْمَةً وَعِلْمًا فَٱغْفِرْ لِلَّذِينَ تَابُوا۟ وَٱتَّبَعُوا۟ سَبِيلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ ٱلْجَحِيمِ ﴿٧﴾ (۲۰۴)

ژباړه : هغه فرښتي چي عرش يې پورته کړی او هغه فرښتي چي د هغه (عرش) پر شاوخوا دي ، دالله ﷻ تسبيح او حمد وايي او په هغه باندي ايمان او باور لري او له الله ﷻ څخه د مؤمنانو لپاره د بخښني غوښتنه کوي (اوداسي وايي چي) اې زموږ پروردګاره ! ستا رحمت او علم په هر شي کي نغښتی او ښکارندوی دی . نو (اې ربه !) ته هغو خلګو ته چي تاته يې د رحمت لپاره رجوع کړي ، او ستا پر لاره ځي ، بخښنه وکړي او همدوی د دوزخ له عذابه وساتي.

۵۷) وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِٱلْعَشِىِّ وَٱلْإِبْكَٰرِ ﴿٥٥﴾ (۲۰۵)

ژباړه : په سهار او ماښام کي (تل) د خپل رب تسبيح او حمد وايه.

۵۸) فَٱلَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ يُسَبِّحُونَ لَهُۥ بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ وَهُمْ لَا يَسْـَٔمُونَ ۩ ﴿٣٨﴾ (۲۰۶)

ژباړه : نو کومي (فرښتي) چي ستا رب ته نژدې دي (يعني مقربي فرښتي) د شپې او هم د ورځي له خوا د هغه تسبيح وايي . او هيڅ هم نه ستومانه کيږي .

(۲۰۳) سورة الزمر الاية (۷۵)
(۲۰۴) سورة مؤمن الاية (۷)
(۲۰۵) سورة مؤمن الاية (۵۵)
(۲۰۶) سورة فصلت الاية (۳۸)

۵۹) وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيَسْتَغْفِرُونَ لِمَن فِى ٱلْأَرْضِ (۲۰۷)

ژباړه: او فرښتې د خپل رب تسبیح او حمد وايي او د هغو (خلکو) لپاره چې په ځمکه کې استوګن دي د بخښې غوښتنه کوي.

۶۰) سُبْحَٰنَ ٱلَّذِى سَخَّرَ لَنَا هَٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُۥ مُقْرِنِينَ ﴿۱۳﴾ وَإِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ ﴿۱۴﴾ (۲۰۸)

ژباړه: (او تاسو چې پر خپلو سپرلیو باندې کښېنئ نو خپل رب یادوئ) او وایاست چې هغه ذات پاک دی چې دا سپرلۍ یې موږ ته راکړې ده. او موږ خو داسې (ځواکمن) نه وو چې هغوی مو د ځان تابع کړې وای. او بېشکه موږ خپل رب ته بېرته ورتلونکي یو.

۶۱) سُبْحَٰنَ رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ رَبِّ ٱلْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿۸۲﴾ (۲۰۹)

ژباړه: د اسمانو او ځمکې پالونکی او د عرش څښتن له ټولو هغو خبرو څخه چې دا (کافران) یې پسې کوي، پاک دی.

۶۲) وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا (۲۱۰)

ژباړه: او په سهار او په ماښام کې د هغه تسبیح وایاست.

۶۳) فَٱصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ ٱلشَّمْسِ وَقَبْلَ ٱلْغُرُوبِ ﴿۳۹﴾ وَمِنَ ٱلَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَأَدْبَٰرَ

ژباړه: نو ته د دغو خلکو په (نامناسبه خبرو) چې دوی یې وايي، صبر کوه. او تر لمر ختو وړاندې او تر لمر لوېدو وروسته د خپل رب تسبیح او حمد

---

(۲۰۷) سورة الشورى الاية (۵)
(۲۰۸) سورة الزخرف الايتان (۱۳، ۱۴)
(۲۰۹) سورة الزخرف الاية (۸۲)
(۲۱۰) سورة الاحزاب الاية (۴۲)

اَلسُّجُودِ ﴿۴۰﴾ (۲۱۱)

وایه . او د شپې لخوا او هم تر هر (فرض) لمانځه وروسته د هغه تسبیح وایه .

۶۴) سُبۡحَـٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿۴۳﴾ (۲۱۲)

ژباړه : الله تعالیٰ ﷻ له هغو شیانو څخه چې دوی (کافران) یې ورته د شریک په توګه نیسي پاک دئ .

۶۵) وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ حِينَ تَقُومُ ﴿۴۸﴾ وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَسَبِّحۡهُ وَإِدۡبَـٰرَ ٱلنُّجُومِ ﴿۴۹﴾ (۲۱۳)

ژباړه : (له مجلس یا خوب څخه) تر پاڅېدو وروسته (د تهجد په وخت کې) د خپل رب تسبیح وایه . همدارنګه د شپې له خوا او هم تر ستورو (لوېدو یا پټېدلو) وروسته هم د هغه تسبیح وایه .

۶۸) سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿۱﴾ (۲۱۴)

ژباړه : ټول هغه شیان چې په اسمانونو او ځمکه کې دي ، د الله ﷻ تسبیح وایي او همدی ځواکمن او حکمت لرونکې دی .

۶۹) سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿۱﴾ (۲۱۵)

ژباړه : ټول شیان که هغه په اسمانو کې دي او که هغه په ځمکه کې دي ، د الله ﷻ تسبیح وایي .

۷۰) سُبۡحَـٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿۲۳﴾ (۲۱۶)

ژباړه : الله ﷻ له ټولو هغو شیانو څخه چې دوی (کافران) یې ورته د شریک په توګه انګیري پاک دی .

---

(۲۱۱) سورة قاف الایتان (۳۹ ، ۴۰)

(۲۱۲) سورة الطور الایة (۴۳)

(۲۱۳) سورة الطور الایتان (۴۸ ، ۴۹)

(۲۱۴) سورة الحدید الایة (۱)

(۲۱۵) سورة الحشر الایة (۱)

(۲۱۶) سورة الحشر الایة (۲۳)

۷۱) يُسَبِّحُ لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ۝ (۲۱۷)

ژباړه : ټول شيان که په اسمانونو او که په ځمکه کي دي دالله ﷻ تسبيح وايي . او همدغه (ذات پر دوی) ځواکمن او د حکمت څښتن دئ.

۷۲) سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ ۖ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ۝ (۲۱۸)

ژباړه : ټول شيان که په اسمانو او که په ځمکه کي دي دالله ﷻ تسبيح وايي . او همدغه (ذات) برلاسي او د حکمت څښتن دئ.

۷۳) يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ ٱلْمَلِكِ ٱلْقُدُّوسِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَكِيمِ ۝ (۲۱۹)

ژباړه : ټول شيان که په اسمانونو او که په ځمکه کي دي دا د هغه الله ﷻ تسبيح وايي چي ستر پاچا (له ټولو عيبونو څخه) پاک او ډېر سپېڅلی ، (پرهر څه) برلاسی او د حکمت څښتن دئ.

۷۴) يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ ۖ لَهُ ٱلْمُلْكُ وَلَهُ ٱلْحَمْدُ ۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ۝ (۲۲۰)

ژباړه : ټول شيان که په اسمانونو او که په ځمکه کي دي ، دالله ﷻ تسبح وايي ، هم هغه ذات لره (د ټوله عالم) پاچاهي ده ، او همده لره ثنا او ستاينې دي او دغه ذات پر هر څه باندي برلاسی دئ.

۷۵- قَالَ أَوْسَطُهُمْ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ لَوْلَا تُسَبِّحُونَ ۝ (۲۲۱)

ژباړه: په هغوي کښي منځنی ورورو بي (چي تر نورو به مدبر او افضل و) وويل: چي ما تاسو ته (پخوا تر دې لا) نه و ويلي (چي په سهار وختي کي د ميوو په شکولو سره فقيران او عاجزان مه بي برخي کوئ؟) ولي دالله ﷻ تسبيح نه واياست.

---

(۲۱۷) سورة الحشر الاية (۲۴)

(۲۱۸) سورة الصف الاية (۱)

(۲۱۹) سورة الجمعة الاية (۱)

(۲۲۰) سورة التغابن الاية (۱)

۷۶ – قَالُواْ سُبۡحَٰنَ رَبِّنَآ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿٢٩﴾ (۲۲۲)

ژباړه : (نو) هغو ورونو يې وويل: چي (سبحان ربنا) زموږه رب خوله تولو نیمګړتیاوو څخه پاک دی او بېشکه موږ تيري کونکي او ظالمان يو.

۷۷) فَسَبِّحۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٥٢﴾ (۲۲۳)

ژباړه : نو د خپل ستر پالونکي خدای (په نامه یادولو سره دهغه) تسبیح وایه .

۷۸) وَٱذۡكُرِ ٱسۡمَ رَبِّكَ بُكۡرَةً وَأَصِيلاً ﴿٢٥﴾ وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَٱسۡجُدۡ لَهُۥ وَسَبِّحۡهُ لَيۡلاً طَوِيلاً ﴿٢٦﴾ (۲۲۴)

ژباړه : دخپل پالونکي خدای نوم د شپې او ورځې یادوه (یعني تسبیح یې وایه) او دشپې لخوا هغه ته سجده (لمونځ) کوه . او د شپې ډیره برخه هم دهغه په تسبیح سره تیروه .

۷۹) سَبِّحِ ٱسۡمَ رَبِّكَ ٱلۡأَعۡلَى ﴿١﴾ (۲۲۵)

ژباړه : د خپل لوړ رتبه لرونکي خدای په نامه یادولو سره دهغه تسبیح وایه .

۸۰ – فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَٱسۡتَغۡفِرۡهُۚ إِنَّهُۥ كَانَ تَوَّابَۢا ﴿٣﴾ (۲۲۶)

ژباړه: نو ته دخپل رب تسبیح او حمد وایه اوله هغه څخه بخښنه غواړه . بېشکه هغه لوی توبه قبلونکی دئ.

---

(۲۲۱) سورة القلم الاية (۲۸)

(۲۲۲) سورة القلم الاية (۲۹)

(۲۲۳) سورة الحاقة الاية (۵۲)

(۲۲۴) سورة الدهر الايتان (۲۵، ۲۶)

(۲۲۵) سورة الاعلى الاية (۱)

(۲۲۶) سورة النصر الاية (۳)

فايده : دغه اتيا (۸۰) اياتونه درې ارزښتناکه ټکي په خپل ځان کي رانغاړي :

۱- د الله ﷻ د تسبيح ويلو امر . ۲- د الله ﷻ د پاکۍ بيانولو او پر هغه باندي دا اقرار کولو امر . ۳- د الله ﷻ د تسبيح ويلو ولور ته د خلکو هڅونه .

کوم مضمون چي الله ﷻ په ډير اهتمام او دوينا په داسي ګڼو او ښائسته الفاظو سره په خپل کلام قرآن کريم کي په څو څو ځلي فرمايلي وي د هغه د لوړي مرتبې اولوړ شان په درلودلو کي هيڅ شک او شبهه نسته . له دې څخه پرته په ډيرو نورو آيتونو کي د تسبيح تر څنګ د دوهمي کلمې يعني تحميد (د الله ﷻ د ستايني کولو او په هغې کښي د الحمد لله ويلو) ذکر هم راغلی دئ لکه په پورتنيو آياتونو کښي چي راغلي دي پر دې سربيره د الله ﷻ د ستايني بيان ، چي د الحمد لله مفهوم دی په ځانګړي ډول په نورو آياتونو کي هم راغلی دی . او تر ټولو اړين او د پاملرني وړ ټکی دادی چي د الله ﷻ د سپېڅلي کلام پيل هم په الحمد لله سره سوی دی . د دې سپېڅلي کلمې فضيلت به لا تر دې زيات بل څه وي چي الله ﷻ د خپل سپېڅلي کلام پيل په همدې سره وکړئ .

۱) ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢﴾ [227]

ژباړه : ټوله ثنا او ستاينه يوازي هغه الله ﷻ لره ثابته ده . چي د عالميانو (انسانانو ، پيريانو ، ملائکو ، حيواناتو ، جامداتو او ټولو ذي روح ، او غير ذي روح شيانو) پالونکي دئ .

۲) ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَجَعَلَ ٱلظُّلُمَٰتِ وَٱلنُّورَ ۖ ثُمَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُونَ ﴿١﴾ [228]

ژباړه : ټوله ثنا او ستاينه هغه الله ﷻ لره ښايي چي اسمانونه او مځکي يي پيدا کړي دي او تياري او رڼا يي خپره کړي . بيا هم کافران خپل رب له نورو سره برابروي .

۳) فَقُطِعَ دَابِرُ ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ ۚ وَٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٤٥﴾ [229]

ژباړه : بيا پرې سوې ريښې د هغې ډلې چي ظلم تيری يې کړی و . او ټولي ستايني هغه الله ﷻ لره دي چي د عالميانو پالنه کوي .

---

(227) سورة الفاتحة الاية (۲)

(228) سورة الانعام الاية (۱)

(229) سورة الانعام الاية (۴۵)

۴).وَقَالُوا۟ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى هَدَىٰنَا لِهَٰذَا وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِىَ لَوْلَآ أَنْ هَدَىٰنَا ٱللَّهُ (۲۳۰)

ژباړه: او (جنت ته تر رسېدو وروسته) هغو (خلګو) وویل چي ټولي ستايني هغه الله ﷻ لره ښايي چي موږ يي دغه ځاي ته راورسولو او موږ به هيڅکله هم دغه ځاي ته نه واي رارسېدلي، کچيري د الله ﷻ (مرسته) او لارښوونه نه واى

۵).ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلرَّسُولَ ٱلنَّبِىَّ ٱلْأُمِّىَّ ٱلَّذِى يَجِدُونَهُۥ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِى ٱلتَّوْرَىٰةِ وَٱلْإِنجِيلِ (۲۳۱)

ژباړه: (دا متقيان او پرهيزګاران مومنان چي دالله ﷻ له لوري دوى ته رحمت مقرر دى) هغه کسان دي چي د هغه رسول (ددين) متابعت او ملاتړ کوي چي نبي او امي دى (او نوم او صفت يې) په ليکلي ډول په تورات او انجيل کتابونو کي په خپلو سترګو موندلاي سئ.

فايده: په تورات شريف کي چي د رسول اللهﷺ کومي ځانګړتياوي او ستايني سوي دي په هغوى کښي دا هم ويل سوي وه چي دهغه امت به په لويه کچه سره دا اللهﷻ بيان حمد او ثنا ويونکي وي. لکه په درمنثور کښي چي له څو روايتونو څخه دا مضمون په ډاګه سوى دى.

۶).ٱلتَّٰٓئِبُونَ ٱلْعَٰبِدُونَ ٱلْحَٰمِدُونَ ٱلسَّٰٓئِحُونَ ٱلرَّٰكِعُونَ ٱلسَّٰجِدُونَ ٱلْءَامِرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَٱلنَّاهُونَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَٱلْحَٰفِظُونَ لِحُدُودِ ٱللَّهِ ۗ وَبَشِّرِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١١٢﴾ (۲۳۲)

ژباړه: (د هغوى مجاهدينو صفتونه چي د جنت په بدل کي الله ﷻ رانيولي وي، دادي) چي له ګناوو څخه لاس په سر سوي، دااللهﷻ عبادت کوونکي د حمد او ثنا ويونکي، روژه لرونکي يا دا الله ﷻ په رضا پسي سفرکونکي د رکوع او سجدي کوونکي (لمونځ کوونکي) دهغه، پر ښو او نيکو خبرو باندي امر کوونکي او له زيانمنو (بدو) خبرو څخه (د نورو خلګو) را منع کوونکي (تبليغ کوونکي) او دااللهﷻ دحدودو (حکمونو) خوندي کوونکي دي، او داسي مومنانو ته زيري ورکړه.

(۲۳۰) سورة الاعراف الاية (۴۳)

(۲۳۱) سورة الاعراف الاية (۱۵۳)

(۲۳۲) سورة التوبة الاية (۱۱۲)

٧)دَعْوَىٰهُمْ فِيهَا سُبْحَٰنَكَ ٱللَّهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَٰمٌ ۚ وَءَاخِرُ دَعْوَىٰهُمْ أَنِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٠﴾ (٢٣٣)

ژباړه : او د هغوي (وروستى) بلنه داده: الحمدلله رب العالمين (يعني ټوله ثنا اوستايني يوازي هغه الله ﷻ لره ښايي چي د ټولو عالميانو پالونكى دى.

٨). ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى وَهَبَ لِى عَلَى ٱلْكِبَرِ إِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ ۚ (٢٣٤)

ژباړه : ټوله ثنا او ستاينه هغه الله ﷻ لره ده چي ماته يې (په سپين ږيرتوب (زوړوالي) كي (دوه زامن) اسمعيل او اسحق (عليهما السلام) راكړل.

٩) ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٧٥﴾ (٢٣٥)

ژباړه : ټوله ثنا او ستاينه يوازي الله ﷻ لره ده . خو دغه خلگ بيا هم دا الله ﷻ لوري ته پام نه اړوي) خبره داده چي زياتره يې ناپوهان دي .

١٠)يَوْمَ يَدْعُوكُمْ فَتَسْتَجِيبُونَ بِحَمْدِهِۦ وَتَظُنُّونَ إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٥٢﴾ (٢٣٦)

ژباړه: هغه ورځ (چي په شپيلۍ كي پوكي وسي نو تاسو راژوندي كړل سئ.) او تاسو الله ﷻ راوبولي نو پرتاسو دا لازمه او واجبه ده چي دهغه ثنا او ستاينه (حمد) ووایاست. (او دا حالت چي ووينئ نو) داسي گمان به كوئ چي تاسو (په دنيا كي هم) د ډير لږ وخت لپاره (دغه ځای ته له راتگ څخه) ځنډول سوي او بند سوي ياست.

١١).وَقُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٌ فِى ٱلْمُلْكِ

ژباړه: او ته په ډاگه سره داووايه چي ټوله ثنا او ستاينه يوازي هغه الله ﷻ لره ده چي نه اولاد لري او نه په پاچاهۍ كي كوم شريک لري او نه هم د كمزورۍ له كبله كوم همكار يا مرستيال ته

---

(٢٣٣) سورة يونس الاية (١٠)
(٢٣٤) سورة ابراهيم الاية (٣٩)
(٢٣٥) سورة النحل الاية (٧٥)
(٢٣٦) سورة بني اسرائيل الاية (٥٢)

وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ وَلِيٌّ مِّنَ ٱلذُّلِّ ۖ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيرًۢا ﴿١١١﴾ (٢٣٧)

ارتيالري . او د هغه ښه تکبير وايه (د لوي والي ستاينه يي کوه).

١٢) ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ عَلَىٰ عَبْدِهِ ٱلْكِتَٰبَ وَلَمْ يَجْعَل لَّهُۥ عِوَجَا ۜ ﴿١﴾ (٢٣٨)

ژباړه : ټوله ثنا او ستاينه هغه الله ﷻ لره ښايي چي پر خپل بنده (محمد ﷺ) باندي يې کتاب نازل کړ. سره لدي چي په دې (قران) کي يې هيڅ کوږوالى ندى ګرځولى (نه په الفاظو او نه هم په ماناوو کي).

١٣) فَقُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى نَجَّىٰنَا مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٨﴾ (٢٣٩)

ژباړه: (حضرت نوح عليه السلام ته خطاب دی چي کله ته په کښتۍ کي کښېنې) نو ووايه چي ټولي ستايني يوازي له هغه الله لره ښايي چي موږ ته يي له تيري کوونکو (ظالمانو) څخه خلاصون را په برخه کړ.

١۴). وَقَالَا ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى فَضَّلَنَا عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّنْ عِبَادِهِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٥﴾ (٢٤٠)

ژباړه: او حضرت سليمان او حضرت داود(عليهما السلام) وويل چي ټوله ثنا او ستاينه هغه الله ﷻ لره ده چي موږ ته يې دده پر خپلو ډيرو مسلمانانو او مومنو بندګانو غوره والي او فضيلت راکړ.

١۵). قُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ وَسَلَٰمٌ عَلَىٰ عِبَادِهِ ٱلَّذِينَ ٱصْطَفَىٰٓ ۗ (٢٤١)

ژباړه: ته (د خطبې په ډول) دا ووايه چي ټوله ثنا او ستاينه الله ﷻ لره ده او د هغه پر هغو بندګانو چي ده غوره کړي سلامتيا او سلام دي وي.

---

(٢٣٧) سورة بني اسرائيل الاية (١١١)

(٢٣٨) سورة الكهف الاية (١)

(٢٣٩) سورة مؤمنون الاية (٢٨)

(٢٤٠) سورة النمل الاية (١٥)

(٢٤١) سورة النمل الاية (٥٩)

۱٦).وَقُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ سَيُرِيكُمْ ءَايَٰتِهِۦ فَتَعْرِفُونَهَا (۲۴۲)

ژباړه: او ته ووايه چي ټوله ثنا او ستاينه هغه الله ﷻ لره ده چي کله يې (د قدرت) نښې نښانې او دلائل ووينې نو تاسو به يې وپېژنئ (چي دا رېښتيني وه).

۱۷) لَهُ ٱلْحَمْدُ فِى ٱلْأُولَىٰ وَٱلْءَاخِرَةِ وَلَهُ ٱلْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿۷۰﴾ (۲۴۳)

ژباړه: د ثنا او ستايني وړ او لايق په دنيا او اخرت کي يوازي همدغه الله ﷻ دی. (دهرشي) واک دهغه په لاس کي دی او هم دهغه لور ته به وروګرځول سئ.

۱۸) قُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿۶۳﴾ (۲۴۴)

ژباړه: (اې محمده! ﷺ) ته ووايه چي ټوله ثنا او ستاينه يوازي الله ﷻ لره ده (خو دا خلګ يې نه مني) خبره داده چي هغوی نه پوهيږي .

۱۹).وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِىٌّ حَمِيدٌ ﴿۱۲﴾ (۲۴۵)

ژباړه: او چاچي کفر (ناشکري) وکړه، نو الله ﷻ خو شتمن (او بې پروا) ،دثنا او ستايني څښتن دی.

۲۰).قُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿۲۵﴾ (۲۴٦)

ژباړه: (اې محمده! ﷺ) ته ووايه چي ټوله ثنا او ستاينه يوازي الله ﷻ لره ده (او داچي دوی يې نه مني) خبره داده چي ناپوهۍ ډوب کړي دي.

۲۱).إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْغَنِىُّ ٱلْحَمِيدُ ﴿۲٦﴾ (۲۴۷)

ژباړه: بېشکه الله ﷻ بې نيازه (بې پروا) او د ثنا او ستايني څښتن دئ.

---

(۲۴۲) سورة النمل الاية (۹۳)

(۲۴۳) سورة القصص الاية (۷۰)

(۲۴۴) سورة العنکبوت الاية (۶۳)

(۲۴۵) سورة لقمان الاية (۱۲)

(۲۴٦) سورة لقمان الاية (۲۵)

(۲۴۷) سورة لقمان الاية (۲٦)

۲۲). ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُ فِي ٱلۡأٓخِرَةِۚ (۲۴۸)

ژباړه: ټوله ثنا او ستاينه هغه الله ﷻ لره ښايي چي په اسمانونو او ځمکو کښې د شته شيانو واک دده (په لاس کي) دی. او ده لره ثنا او ستاينه ده په آخرت کي هم (لکه په دنيا کي چي وه).

۲۳). ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ (۱) (۲۴۹)

ژباړه: ټوله ثنا او ستاينه هغه الله ﷻ لره ده چي داسمانونو او ځمکو پيدا کونکی دی.

۲۴). يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ أَنتُمُ ٱلۡفُقَرَآءُ إِلَى ٱللَّهِۖ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ (۱۵) (۲۵۰)

ژباړه: اې خلګو! تاسو الله ﷻ ته اړمن او محتاج ياست او هغه بې نيازه، (بې پروا) او د ثنا او ستايني څښتن دی.

۲۵). وَقَالُواْ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِيٓ أَذۡهَبَ عَنَّا ٱلۡحَزَنَۖ إِنَّ رَبَّنَا لَغَفُورٞ شَكُورٌ (۳٤) ٱلَّذِيٓ أَحَلَّنَا دَارَ ٱلۡمُقَامَةِ مِن فَضۡلِهِۦ لَا يَمَسُّنَا فِيهَا نَصَبٞ وَلَا يَمَسُّنَا فِيهَا لُغُوبٞ (۳۵) (۲۵۱)

ژباړه: (کله چي مسلمانان جنت ته ولاړسي نو د وربښمو کالي ورواغوستل سي او وايې چي): ټوله ثنا او ستاينه هغه الله ﷻ لره ده چي له موږ څخه يې (د تل لپاره) مايوسي لري کړه. بېشکه زموږ رب بخښونکي (د ګناهګارانو) او قدردان د (نيکانو) دی. هغه ذات چي موږ يې په خپل (بې کچي) فضل سره ودې (تلپاتي) استوګنځي ته راوستلو موږ ته به نه کومي ستونځي پيښني سي او نه به له کومي ستوماني سره مخ سو.

---

(۲۴۸) سورة سبا الاية (۱).
(۲۴۹) سورة فاطر الاية (۱).
(۲۵۰) سورة فاطر الاية (۱۵).
(۲۵۱) سورة فاطر الايتان (۳۵، ۳۴).

۲۶) وَسَلَٰمٌ عَلَى ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿١٨١﴾ وَٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٨٢﴾ (۲۵۲)

ژباړه: او سلامتیا دي وي پر ټولو رسولانو، او ټوله ثنا او ستاینه هغه الله لره ده چي د ټولو عالمیانو پالونکی دی.

۲۷) ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٢٩﴾ (۲۵۳)

ژباړه: ټوله ثنا او ستاینه یوازي الله ﷻ لره ده خو ډیر خلک (په خپله ګټه او تاوان) نه پوهیږي.

۲۸) وَقَالُواْ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي صَدَقَنَا وَعۡدَهُۥ وَأَوۡرَثَنَا ٱلۡأَرۡضَ نَتَبَوَّأُ مِنَ ٱلۡجَنَّةِ حَيۡثُ نَشَآءُۖ فَنِعۡمَ أَجۡرُ ٱلۡعَٰمِلِينَ ﴿٧٤﴾ (۲۵۴)

ژباړه: او (مسلمانان چي کله جنت ته ننوځي نو) وبه وایي چي ټوله ثنا او ستاینه خو یوازي هغه الله ﷻ لره ده چي له موږ سره یې ژمنه په ریښتیني ډول (پر ځای) کړه او د تل لپاره یې دغه ځمکه راته راکړه. په جنت کي خو چي کوم ځای غواړو هم هلته اوسیږو. د (نیک) عمل کوونکو څومره ښه بدله ده.

۲۹) فَلِلَّهِ ٱلۡحَمۡدُ رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَرَبِّ ٱلۡأَرۡضِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٣٦﴾ (۲۵۵)

ژباړه: نو هغه الله ﷻ لره ثنا او ستاینه ښایي چي د اسمانونو او ځمکي پالونکي دی او هم د عالمیانو پالونکی دی.

۳۰) وَمَا نَقَمُواْ مِنۡهُمۡ إِلَّآ أَن يُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ ﴿٨﴾ ٱلَّذِي لَهُۥ مُلۡكُ

ژباړه: (یو کافر پاچا چي په مخکني آیت کي یې یادونه سوې ده. مسلمانان ځورول او تنګول) او دوی پر دغه (مسلمانانو) باندي هیڅ عیب نه لیدی پرته له دې چي دوی په هغه الله ﷻ باندي ایمان راوړی وو چي ښه

---

(۲۵۲) سورة صافات الايتان (۱۸۱، ۱۸۲)

(۲۵۳) سورة الزمر الاية (۲۶)

(۲۵۴) سورة الزمر الاية (۷۴)

(۲۵۵) سورة الجاثية الاية (۳۶)

ﭐلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ(۲۵۶) ځواکمن او د ثنا او ستاینې لائق دی. او هغه چې د اسمانونو او ځمکې پاچاهي هغه لره ده.

فایده: په دغه آیاتونو کښې دالله ﷻ د حمد و لورته هڅونه، پر هغه باندې امر او د هغه حال او احوال (خبر) څرګند سول. دغه رنګه په حدیثونو کښې هم په بې ساري توګه دالله ﷻ د حمد ویونکو ښېګڼې او فضائل په ځانګړې ډول بیان سوي دي.

په یو حدیث کې راغلي دي چې جنت ته به تر ټولو مخکښې هغه خلګ راوبلل سي چې د ژوند په هره شیبه کې، راحت وي که زحمت دالله ﷻ حمد ویونکي وي.

په یو حدیث کې راغلي دي چې الله ﷻ ته د هغه حمد او ستاینه کول ډېر خوښ دي. او همدا سې ښایي او لازمه ده ځکه چې د حمد لائق خو یوازې او فقط دالله ﷻ سپېڅلې ذات دی، له الله ﷻ پرته د بل داسې چا حمد ویل به څه ګټه کوي چې د هغه په واک کې هیڅ هم نسته آن تر دې چې خپل ځان یې هم په خپل واک کې ندی.

په یو حدیث کې راغلي دي چې د قیامت په ورځ به تر ټولو ښه او بهترین بندګان هغه څوک وي چې دالله ﷻ حمد ډېر وایي.

په یو حدیث کې راغلي دي چې حمد د شکر اصل بنیاد دی، کوم چا چې دالله ﷻ حمد ونه وایه هغه دالله ﷻ شکر هم ادا نه کړ.

په یو حدیث کې راغلي دي چې پر یو نعمت باندې حمد ویل د هغه نعمت له بیرته تلو (زوال) څخه ساتنه ده.

په یو حدیث کې راغلي دي چې که چیري دا ټوله دنیا زما له امت څخه د یو چا په لاس کې وي او الحمدلله ووایي. نو دا حمد ویل تر هغو ټولو بهتر دئ.

په یو حدیث کې راغلي دي چې کله الله ﷻ پر خپل بنده باندې یو نعمت ولوروي او هغه پر دغه نعمت باندې حمد ووایي نو دغه نعمت چې هر څومره ډېر او لوی وي زیاتیږي.

په یو حدیث کې راغلي دي چې یو صحابي له رسول اکرم ﷺ سره ناست و او له ځانه سره یې په کراره (الحمدلله حمداکثیرا طیبا مبارکا فیه) ووایه. رسول اکرم ﷺ وپوښتل چې دا دعا چا وویل هغه صحابي ووېرېدی (او ګمان یې وکړی) چې کېدای سي چې کومه نامناسبه خبره مې کړې وي. رسول اکرم ﷺ وفرمایل: چې پروا نه لري (وې وایاست) هغه څه بده خبره نه ده کړې. بیا هغه صحابي وړاندیز وکړی چې دا دعا ما ویلې ده. رسول اکرم ﷺ وویل چې ما

---

(۲۵۶) سورة بروج الایتان (۸، ۹)

دیارلس فرښتې داسې ولیدې چې هرې یوې دا هڅه کوله چې تر ټولو مخکښې دا کلمې یوسي.

او دا حدیث خو ډیر مشهور دئ چې د کوم ارزښتناک او اړین کار پیل دالله ﷻ په حمد ویلو سره ونسي نو هغه به بې برکته وي، له همدې امله په ټولیزه توګه هر کتاب دالله ﷻ په حمد سره پیلیږي.

په یو حدیث کې راغلي دي چې کله د چا (ماشوم) مړ سي نو الله ﷻ فرښتو ته ووایي چې زما د بنده له (ماشوم) څخه مو روح وایستی؟ هغوی ووایي چې (هو!) ومو ایستی بیا ورته ووایي چې دهغه دزړه ټوټه مو واخیستل؟ هغوی ووایي چې بېشکه وامو خیسته. بیا ورته ووایي چې زما بنده وروسته څه وویل؟ هغوی ورته ووایي چې ستا حمد او (انا لله و انا الیه راجعون) یې وویل. الله ﷻ ورته ووایي چې ښه دی ددغه په بدل کې دده لپاره په جنت کې یو کور جوړ کړی او په بیت الحمد (د ثنا او ستاینې کور) سره یې ونوموئ.

په یو حدیث کې راغلي دي چې الله ﷻ له هغه بنده څخه ډیر خوشحاله کیږي چې تر ډوډۍ خوړلو او یا اوبو څیښلو وروسته الحمدلله ووایي.

دریمه کلمه تهلیل (لا اله الا الله ویل) وه چې بیان یې په تفصیل سره په مخکنې باب کښې تیر سوي دی.

څلورمې کلمې ته تکبیر (الله اکبر) ویل کیږي. چې معنی یې په دې ډول ده: (دالله ﷻ لویوالی بیانول او دهغه پر لوړوالي او لویوالي باندې اقرار کول.). دا مضمون د روان باب په مخکنیو ایاتونو کښې هم تېر سو خو پر دې سربیره یوازې تکبیر یعنې دالله ﷻ د عظمت او اولوړالي بیان هم په ډېرو ایاتو نو کې راغلي دي. چې له هغې ډلې څخه څو ایاتونه په لاندې ډول ذکر کیږي:

۱) وَلِتُكَبِّرُواْ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَىٰكُمۡ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴿١٨٥﴾ (۲۵۷)

ژباړه: او ددې لپاره چې تاسو دالله ﷻ لویي بیان کړی له دې کبله چې تاسو ته یې لاره ښوولې وه. او ددې لپاره چې تاسو دالله ﷻ شکر وباسی.

۲) عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلۡكَبِيرُ ٱلۡمُتَعَالِ ﴿٩﴾ (۲۵۸)

ژباړه: هغه (الله ﷻ) په ټولو پټو او ښکارو شیانو خبر دی (تر ټولو ، لوی دی. او دلوړې مرتبې څښتن دی.)

---

(۲۵۷) سورة البقرة الاية (۱۸۵)

(۲۵۸) سورة الرعد الاية (۹)

۳) كَذَٰلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُكَبِّرُوا۟ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَىٰكُمْ ۗ وَبَشِّرِ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿۳۷﴾ (۲۵۹)	ژباړه: دغه رنګه (الله ﷻ دقرباني څاروي يا حيوانات) ستاسو لپاره تابع وګرځول. دديې لپاره چي تاسو د څښتن تعالى لويي ووايا ست په دې چي تاسو ته يې سمه لاره وښودله. (او دقرباني کولو توفيق يې درکړی) او (اې محمده!) اخلاص مندو ته (دالله ﷻ د خوښی) زيری ورکړه
۴-۵). وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْكَبِيرُ ﴿۶۲﴾ (۲۶۰)	ژباړه: او بيشکه الله ﷻ او (يوازي) همدغه ذات دلوړي مرتبې او ستر عزت څښتن دی.
۶) حَتَّىٰٓ إِذَا فُزِّعَ عَن قُلُوبِهِمْ قَالُوا۟ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ ۖ قَالُوا۟ ٱلْحَقَّ ۖ وَهُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْكَبِيرُ ﴿۲۳﴾ (۲۶۱)	ژباړه: (کله چي فرښتو ته دالله ﷻ له لوري حکم وسي نو دوی دويري له کبله په لړزه سي) او کوم وخت چي يې له زړونو څخه وېره (بيرته) ليري سي نو له يو او بل څخه به پوښتنه وکړي چي الله ﷻ د څه شي حکم وفرمايه. هغوی ورته ووايي چي د (فلانی) حقه خبره يې وفرمايه. (په ريښتيني توګه) هغه د لوړ شان او اولوړي مرتبې څښتن دی.
۷) فَٱلْحُكْمُ لِلَّهِ ٱلْعَلِىِّ ٱلْكَبِيرِ ﴿۱۲﴾ (۲۶۲)	ژباړه: نو حکم دهغه الله ﷻ لپاره دئ چي د لوړ شان او لوړي مرتبې خاوند دئ.
۸) وَلَهُ ٱلْكِبْرِيَآءُ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿۳۷﴾ (۲۶۳)	ژباړه: او دهغه (پاک ذات) لپاره لويي ده په آسمانونو او ځمکو کي او هم هغه (تر ټولو) ځواکمن حکمت والا (مدبر) دی.

---

(۲۵۹) سورة الحج الاية (۳۷)

(۲۶۰) سورة الحج الاية (۶۲) ، سورة القمان الاية (۳۰)

(۲۶۱) سورة السبا الاية (۲۳)

(۲۶۲) سورة مؤمن الاية (۱۲)

(۲۶۳) سورة الجاثية الاية (۳۷)

۹) هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْمَلِكُ ٱلْقُدُّوسُ ٱلسَّلَٰمُ ٱلْمُؤْمِنُ ٱلْمُهَيْمِنُ ٱلْعَزِيزُ ٱلْجَبَّارُ ٱلْمُتَكَبِّرُ (۲۶۴)

ژباړه: هغه داسي څښتن دی چي له هغه پرته بل هيڅوک د عبادت لائق نسته. هغه پاچا دی، له ټولو عيبو څخه پاک دی، (له ټولو عيبو څخه) سالم او روغ دی، امن ورکونکی (ژغورونکی) دی، (له آفتو او بلاوو څخه) خوندي کوونکی دی. (تر ټولو) ځواکمن دی. د خرابو او ناسمو سموونکی دی. دلويي څښتن دی.

فايده: په دغه اياتونو کي دالله ﷻ د لويوالي او عظمت ويلو لورته هڅونه او دهغه حکم (امر) راغلی دی. دغه رنګه په حديثونو کښي هم دالله ﷻ د لويي حکم اوترغيب په خصوصي ډول سره راغلی دی. په يو حديث کي راغلي دي چي کله مو په يو ځاي کي وليدل چي اور بل سونو تکبير (الله اکبر) ډېر ډېر ويا ست. دا به يې مړ کړي.

په يو حديث کي راغلي دي چي تکبير (الله اکبر ويل) اور مړ کوي.

په يو حديث کي راغلي دي چي کله کوم بنده تکبير ووايي نو (ددغه تکبير رڼا) له مځکي څخه تر اسمانه پوري ټول شيان په بر کي نيسي.

په يو حديث کي راغلي دي چي رسول اکرم ﷺ فرمايي: ماته جبرائيل عليه السلام دتکبير ويلو حکم وکړی.

پر دغه اياتونو اوحديثونو سربيره دالله ﷻ عظمت او لوړ شان او دهغه حمد او ثنا په قرآن شريف کي په مختلفو الفاظو سره تر ګڼو سرليکونو لاندي ذکر سوي ده. له دې پرته داسي اياتونه هم سته چي ددغو تسبيحاتو الفاظ کټ مټ ندي پکښي ذکرسوي خو مطلب ځني دغه تسبيحات دي. لکه لاندي څو اياتونه.

۱) فَتَلَقَّىٰٓ ءَادَمُ مِن رَّبِّهِۦ كَلِمَٰتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٣٧﴾ (۲۶۵)

ژباړه: نو تر لاسه کړی آدم عليه السلام له خپل رب څخه څو داسي کلمې (چي د هغو په مرسته يې الله ﷻ ته توبه وايسته). نو الله ﷻ هغه ته په رحمت سره خاصه پاملرنه وکړه. بېشکه هم هغه توبه قبلوونکی دی. او ډېر مهربان دی.

فايده: ددغه کلمو په تفسير کي ګڼ حديثونه راغلي دي چي يو له هغو څخه دادی چي وايي هغه کلمې (چي آدم عليه السلام په هغه سره الله ﷻ ته توبه وايسته) دا وي: (لا اله الا انت سبحنك

---

(۲۶۴) سورة الحشر الاية (۲۳)

(۲۶۵) سورة البقرة الاية (۳۷)

وبحمدك رب علمت سوءاً و ظلمت نفسي فاغفرلي انك انت خير الغافرين لا اله الا انت سبحنك وبحمدك رب علمت سوءا و ظلمت نفسي فارحمني انك انت ارحم الراحمين لا اله الا انت سبحنك وبحمدك رب علمت سوءاً و ظلمت نفسي فتب علی انك انت التواب الرحيم .دې ته ورته مضمون په مختلفو حديثونو کي هم راغلی دی چي علامه سيوطی رحمة الله عليه په درمنشور کي ليکلي دی. او په هغه کښي د تسبيح او تحميد ذکر راغلی دی.

۲) مَن جَآءَ بِٱلۡحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشۡرُ أَمۡثَالِهَاۖ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجۡزَىٰٓ إِلَّا مِثۡلَهَا وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿١٦٠﴾ (۲٦٦)

ژباړه: چاچي يوه نيکي وکړه ، هغه ته به لس چنده ثواب ورکول سي. او چاچي ګناه وکړه هغه ته به د هغې ګناه سره برابر سزا ورکول سي. او پر دوی به ظلم نه کيږي.

فايده: رسول اکرم ﷺ فرمايلي دي چي دوه خويونه داسي دي چي که يې کوم مسلمان په پرله پسي توګه تر سره کړي ، جنت ته به ولاړ سي. لومړی دا چي تر هر لمانځه وروسته به لس لس ځله (سبحان الله – الحمد لله – الله اکبر) وايي چي د هري يوې بشپړي ورځي تر پنځو لمونځو وروسته د نو موړو کلمو شمېره يو سل او پنځوس (۱۵۰) کيږي . او په دې توګه دلس چنده کېدو له کبله به په (۱۵۰۰) نيکيو باندي حسابيږي. دوهم دا چي دخوب يا ويده کېدو په وخت دي څلور ديرش (۳۴)ځله الله اکبر ، درې ديرش (۳۳) ځله الحمد لله او دري ديرش (۳۳) ځله سبحان الله ووايي چي په ټوليزه توګه (۱۰۰) کلمې سوي او دلس چنده کيدو په سبب زر (۱۰۰۰) نيکۍ کيږي اوس ددغه کلمو د ثواب شمېره او دټولي ورځي تر لمونځونو وروسته دويل کېدونکو کلمو د ثوابونو شمېره تر يو ځای کولو وروسته دوه زره پنځه سوه (۲۵۰۰) نيکۍ کيږي . تاسو فکر وکړی . د عملونو دتللو پر وخت به په هره ورځ کي (۲۵۰۰) بدۍ د چا وي ؟ چي تر دغه نيکيو درنې سي . عاجز بنده (يعني شيخ الحديث) وايي: چي که څه هم د صحابه کرامو رضي الله عنهم په وخت کي به داسي څوک نه و چي په هره ورځ کي به يې دبديو شميره (۲۵۰۰) ته رسېده خو په اوس وخت کي زموږ د خلګو دبد عملي شمېره په هره ورځ کي تر دغه (۲۵۰۰) هم څو چنده زياته ده. خو رسول اکرم ﷺ د خپلي ډيري مهرباني له کبله پر بديو باندي د نيکيو د برياليتوب او درونډوالي وينا راباندي ولوروله عمل کول او نه کول د ناروغ کار دی. يعني دا چي که عمل په وکړي روغ به سي او که يي ونه کړي ناروغ به وي.

---

(۲٦٦) سورة الانعام الاية (۱٦۰)

په یو حدیث کي راغلي دي چي صحابه کرامو ﷺ له رسول اکرم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي اې د الله ﷺ نازولي پیغمبره ! دا څه علت دی چي د دغو دوو شیانو کوونکي چي ډیر آسان دی لږ دي؟ رسول اکرم ﷺ ورته وویل چي کله دوېدو وخت راسي نو شیطان یې ددغو کلمو تر ویلو مخکښي ویده کړي، او چي د لمانځه وخت راسي نو شیطان کوم داسي خبره وریه یاد کړي چي د نوموړو کلمو تر ویلو مخکي ولاړ سي.

په یو حدیث کي راغلي دي چي رسول اکرم ﷺ ارشاد وفرمایه. چي ایا تاسو له دې څخه عاجزه یاست چي هره ورځ زر (۱۰۰۰) نیکی وګټی، یو چا ورته وویل چي اې د الله ﷺ رسوله ﷺ ! زر نیکی په یوه ورځ کي څنګه ګټل کیږي؟ ده مبارک ورته وویل چي سل(۱۰۰) ځله سبحان الله وایاست، زر نیکی به سي.

۳) ٱلۡمَالُ وَٱلۡبَنُونَ زِينَةُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡبَٰقِيَٰتُ ٱلصَّٰلِحَٰتُ خَيۡرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَخَيۡرٌ أَمَلًا ﴿٤٦﴾ (۲۶۷)

ژباړه: شتمني او زامن ددنیایي ژوند یوه (ښه) چلند لاره ده اوباقیات الصالحات (هغه نیک عملونه چي د تل لپاره پاتي کیدونکي دي) ستا درب په وړاندي هم د ثواب په اعتبار (ډیر زیات) بهتر دي او هم د امید په اعتبار سره چي په دغه باقیات الصالحات سره امیدونه او هیلي ساتل کیږي برخلاف له شتمنی او زامنو څخه چي په هغو سره امیدونه او هیلي ساتل بېکاره دي.

۴) وَيَزِيدُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ٱهۡتَدَوۡاْ هُدٗىۗ وَٱلۡبَٰقِيَٰتُ ٱلصَّٰلِحَٰتُ خَيۡرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابٗا وَخَيۡرٞ مَّرَدًّا ﴿٧٦﴾ (۲۶۸)

ژباړه: او الله ﷻ لارموندنکو ته هدایت (نور هم) ورزیاتوي، او باقیات الصالحات (تلپاتي نیک عملونه) ستا درب په وړاندي هم د ثواب په اعتبار سره ډیر ښه دي او هم دپای (انجام) په اعتبارسره ښه دي.

فایده: که څه هم په باقیات الصالحات کي (هغو عملونو کي چي د تل لپاره پاتي کیدونکي دي) ټول داسي عملونه داخل دي چي د هغوی ثواب تل تر تله په لاس راځي خو په ډیرو حدیثو نو کښي دا هم راغلي دي چي له دې څخه مراد لاندیني تسبیحات دي :په یو

---

(۲۶۷) سورة الکهف الایة (۴۶)

(۲۶۸) سورة المریم الایة (۷۶)

حديث کي راغلي دي چي رسول اکرمﷺ وفرمايل چي تاسو باقيات صالحات ډير ډير واياست يو چا پوښتنه وکړه چي هغه کوم شيان دي ؟ رسول اکرمﷺ ارشاد وفرمايه چي تکبير (الله اکبر ويل) ، تهليل (لا اله الا الله ويل) ، تسبيح (سبحان الله ويل)، تحميد (الحمد لله ويل) او (لا حول ولا قوه الا بالله ويل) دي.

په يو حديث کي راغلي دي چي رسول اکرم وفرمايل چي گورئ په دې خبر اوسئ چي (سبحان الله، الحمد لله، لا اله الا الله ، الله اکبر) په باقيات الصالحات کښي دي.

په يو حديث کي راغلي دي چي رسول اکرمﷺ وويل چي گورئ دخپل ځان ساتني لپاره تياری ونيسئ يو چا پوښتنه ځني وکړه چي اي د اللهﷻ رسولهﷺ ! د کوم دښمن يرغل کېدونکی دی؟ رسول اکرم ﷺ وفرمايل چي نه ! بلکي ددوږخ له اوره د ځان ساتني لپاره تياری ونيسئ . او هغه سبحان الله ،الحمد لله ، لا اله الا الله ،الله اکبر ويل دي. چي دا دقيامت په ورځ مخکښي وړاندي کيدونکي کلمي دي (چي سپارښت به کوي يا به ويونکی جنت ته وړاندي کوي.) او وروسته پاتي کيدونکي دي (چي ساتنه وکړي) احسان کوونکي دي او همدغه باقيات الصالحات دي.

دا مضمون په نورو روايتو کي هم راغلی دی چي هغه علامه سيوطي رحمه الله په درمنشور کښي ليکلی دئ.

۵) لَّهُۥ مَقَالِيدُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ[۲۶۹] ژباړه: دا اللهﷻ لپاره دي کيلاني داسمانونو او ځمکي .

فايده: د حضرت عثمان رضي الله عنه څخه داسي رانقل سوي دي چي دی وايي ما له رسول اکرم څخه د (مقاليد السموت والارض) يعني د اسمانونو او ځمکي د کيلانو په هکله پوښتنه وکړه. نو رسول اکرمﷺ راته وويل چي هغه لاندي کلمې دي : ((لا اله الا الله والله اکبر سبحان الله والحمدلله استغفرالله الذي لا اله الا هو الاول والاخر والظاهر والباطن يحي و يميت وهو حي لا يموت بيده الخير وهو علي کل شي قدير.

په يو بل حديث کښي راغلي دي چي ((مقاليد السموت والارض))، ((سبحان الله ، الحمدلله ، لا اله الا الله ، الله اکبر)) دي. او دا د عرش له خزانو څخه نازل سوي دي. په نورو روايتو کي هم دا مضمون راغلی دی.

۶) إِلَيۡهِ يَصۡعَدُ ٱلۡكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ ژباړه: د هم هغه لوري ته ښې کلمې رسيږي او

---

[۲۶۹] سورة الزمر الاية (۶۳) ، سورة الشورى الاية (۱۲)

وَٱلۡعَمَلُ ٱلصَّـٰلِحُ (۲۷۰) نیک کارونه هم هغه ته رسیږي.

فایده: د کلمې طیبې په بیان کې هم دغه آیات یو ځل تېر سوی دی. حضرت عبدالله بن مسعود ﷜ وایي چې کله موږ وتاسو ته یو حدیث اوروو نو له قرآن شریف څخه د هغه سند او تائید ښیيو. مسلمان چې کله سبحان الله وبحمده او الحمدلله لا اله الا الله ، الله اکبر تبارك الله وایي نو ملائکه په ډیر احتیاط سره داکلمې اسمان ته وړي. له کوم اسمان څخه چې تیریږي د هغه اسمان فرښتې د دغه کلمو د ویونکي لپاره دمغفرت دعا کوي. او د دغه خبري سند او تائیدونکي دغه مبارک آیت دی: ((الیه یصعد الکلم الطیب)).

حضرت کعب احبار رحمة الله علیه وایي چې ((سبحان الله، الحمدلله، لا اله الا الله،الله اکبر))کلمې دعرش پر شاوخوا دشاتو د مچیو د اواز په څېر یو اواز کوي چې په هغه کښې د خپل ویونکي یادونه کوي، په ځینو روایتونو کې حضرت کعب﷜ له رسول اکرم ﷺ څخه دا مضمون رانقل کړی دی.او یو صحابي چې حضرت نعمان﷜ نومیږي هم دې ته ورته مضمون پخپله له رسول اکرم ﷺ څخه رانقل کړی دی.

(۲۷۰) سورة الفاطر الایة (۱۰)

دوهم فصل

دا فصل هغو حديثونو ته ځانګړې سوى دئ چې ددې کلمو فضيلت او دهغوى ويلو ته هڅونه پکښې نغښتې ده.

۱). عن ابي هريرة قال قال النبيﷺ كلمتان خفيفتان على اللسان ثقيلتان في الميزان حبيبتان الي الرحمن سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم (۲۷۱)

ژباړه: رسول اکرمﷺ فرمايلي دي چې دوې کلمې داسي دي چې پر ژبه ډيري سپکي (اسانه) ، په تله کښې ډيري درندې او دالله ډيري خوښې دي چې هغه (سبحان الله وبحمده) او (سبحان الله العظيم) دي.

فايده : پر ژبه سپکي دي ددې مطلب دادئ چې نه يې په ويلو باندې څه وخت تيريږي ، ځکه چې ډيري لنډي دي اونه يې هم په يادولو باندې څه وخت لګيږي ، ددې ټولو سره کله چې دعملونو تللو وخت راسي نو تله به ددغو کلمو (دثواب) د ډېروالي له کبله ډېره زياته درنه سي. او که چيري له دغو څخه يوه ګټه هم ونه لري نو تردې بل څشي ښه سته چې الله جل جلاله ته داداوړې کلمې تر ټولو ډيري خوښې دي.

امام بخاري رحمة الله عليه خپل کتاب صحيح بخاري په دغو دوو کلمو سره پای ته رسولی اوهم يې خپل کتاب په دغه حديث سره پای ته رسولی دي.

په يو حديث کي راغلي دي چې په تاسو کښې دي هيڅوک داخبره نه پريږدي چې هره ورځ زر (۱۰۰۰) نيکۍ وګټي ، سبحان الله وبحمده سل ځله وايا ست ، زر (۱۰۰۰) نيکۍ به سي . دومره ګناوي خو به انشاءالله په هره ورځ کي د هيچا نه وي او پر دې تسبيح سربيره چې څومره نيک کارونه وکړي ، د هغوی ثواب خويې بېل په ګټه سو.

په يو حديث کي راغلي دي چې څوک سهار او ماښام يوه يوه تسبيح يعني سل سل ځله (سبحان الله وبحمده) وايي نو دهغه ټولي ګناوي به چې د سمندر تر ځګونو هم ډيري وي ورمعاف کړل سي.

په يو حديث کي راغلي دي چې په (سبحان الله،الحمد لله،لا اله الا الله، الله اکبر) سره ګناوي داسي له منځه ځي لکه (دمني په وچ باد سره) چې ددرختي پاڼي يا بلګونه رژيږي.

---

(۲۷۱) رواه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي وابن ماجه كذا في الترغيب

الله ﷻ ته ډيري خوښې کلمې سبحان الله وبحمده

۲). عن ابي ذر رضي الله عنه قال قال رسول الله الا اخبرك باحب الكلام الى الله قلت يارسول الله اخبرني باحب الكلام الى الله فقال ان احب الكلام الى الله سبحان الله وبحمده(۲۷۲).

ژباړه: حضرت ابو ذرغفاري رضي الله عنه وايي چي يو ځل رسول الله ﷺ وفرمايل چي ايا زه تاسو ته داونه ښيم چي دالله جل جلاله په وړاندي کوم کلام ډېرخوښ دی؟ نو ماورته وويل چي هو راويې ښاياست.ده وويل چي:(سبحان الله وبحمده) په بل حديث کي بيا داسي راغلي دي . چي (سبحان ربي وبحمده) په يو حديث کي دا هم راغلي دي چي هغه شی چي الله ﷻ د خپلو فرښتو لپاره غوره کړی، هم هغه تر ټولو ښه او غوره دی. او هغه (سبحان الله وبحمده) دئ.

فايده:د لومړي فصل په څو ايتونو کښي دامضمون تيرسوی دی چي هغه فرښتې چي عرش ته نږدې دي او له هغوی پرته نوري ټولي فرښتې دالله ﷻ تسبيح اوحمد وايي.دهغوی دنده همداده چي دالله ﷻ په پاکي بيانولو اوحمد ويلو کښي بوختي اوسي. له همدې کبله کله چي د ادم عليه السلام د پيدا کېدلو وخت راغلی نودوی دالله ﷻ په دربار کښي همداوړانديز وکړ چي:نحن نسبح بحمدك ونقدس لك. لکه دلومړي فصل په لومړي آيت کښي چي تير سوه.

په يو حديث کي راغلي دي چي اسمان دالله ﷻ دلويوالي اوعظمت (دروندوالي) څخه ږغيږي (يعني کړيچهاری کوي لکه کټ چي له ډېردروندوالي څخه ږغ کوي). او داسمان لپاره لازمه ده چي وږغيږي (ځکه چي هيبت ډير سخت وي.) قسم مي دي وي په هغه پاک ذات چي د محمد ﷺ ساه (روح) يې په واک کي دئ چي په اسمان کښي داسي ځاي يوه لويشت هم نسته چي هلته دي فرښته د سجدې په حالت کي دالله ﷻ په تسبيح اوحمدويلو کښي بوخته نه وي.

---

(۲۷۲) رواه مسلم والنسائي والترمذي الا انه قال سبحان ربي وبحمده وقال حسن صحيح وعزاه السيوطي في الجامع الصغير الى مسلم واحمد والترمذي ورقم له بالصحه وفي رواية المسلم ان رسول الله ﷺ سئل اي الكلام افضل قال ما اصطفى الله لملائكته اولعباده سبحان الله وبحمده كذا في الترغيب قلت واخرج الاخير الحاكم وصححه على شرط مسلم واقره عليه الذهبي وذكره السيوطي في الجامع برواية احمدعن رجل مختصرا ورقم له بالصحة

یوسل او څلویښت زره نیکۍ دیوې کلمې په ویلو سره

۳). عن اسحق بن عبدالله بن ابي طلحة عن ابيه عن جده قال قال رسول الله من قال لا اله الا الله دخل الجنة او وجبت له الجنة ومن قال سبحان الله وبحمده مائة مرة كتب الله له مائة الف حسنة واربعا وعشرين الف حسنة قالوا يارسول الله اذا لايهلك منااحد قال بلى ان احدكم ليجئ بالحسنات لو وضعت على جبل اثقلته ثم تجئ النعم فتذهب بتلك ثم يتطاول الرب بعدذلك برحمته. (۲۷۳).

ژباړه: رسول اکرم ﷺ وفرمایل چي: څوک (لا اله الا الله) ووايي هغه به جنت ته ولاړسي یادهغه لپاره جنت واجب سو. اوڅوک چي سل (۱۰۰) ځله (سبحان الله وبحمده) ووايي دهغه لپاره الله ﷻ یولک وڅلرويشت زره (۱۲۴۰۰۰) نیکۍ ولیکل سي اصحابو کرامو رضي الله عنهم وویل چي اې دالله ﷻ رسوله ﷺ! پردې ډول به له موږ څخه هیڅوک (په قیامت کښي) له منځه ولاړ (هلاک) نسي (ځکه چي نیکي به یې ډیري وي) رسول اکرم ﷺ وفرمایل: چي هو! (ځیني خلګ به بیاهم هلاک سي او ولي به نسي) ځني خلګ به له تاسو څخه له دومره ډیرو نیکیو سره راسي چي کچیري پر غره باندي کښیښنودل سي نو کښته به یې کړي خو دالله ﷻ د نعمتونو په مقابل کي به هغه نیکۍ کالعدم (هیڅ) وي. البته الله جل جلاله به بیاپه خپل رحمت او فضل سره دهغه مرسته وفرمايي.

فایده: دالله جل جلاله دنعمتونو په مقابل کي د نیکیو د کښته کېدو او هیڅ کېدو موخه یا مطلب دادی چي د قیامت په ورځ که له یوې خوانیکۍ اوبدۍ تلل کیږي له بلي خوابه ددې غوښتنه او حساب هم ورسره وسي چي الله ﷻ چي تاسو ته کوم نعمتونه درکړي وه، د هغو مو څه حق او څه شکر ادا کړ؟

له بنده سره چي هرڅه دي هغه دالله تعالی له لوري ورکول سوي دي، هریوشی خپل یو ځانګړی حق لري اودهغه دادا کولو غوښتنه به کیږي. لکه چي رسول اکرم ﷺ فرمايي: يصبح على كل سُلامى من احدكم صدقة الحديث (۲۷۴) مطلب دادی چي هرسهار پر هریوبنده دبدن پر هر بند باندي یوه صدقه واجب ده.

---

(۲۷۳) رواه الحاكم وقال صحيح الاسناد كذا في الترغيب قلت واقره عليه الذهبي.
(۲۷۴) في المشكوة برواية المسلم قلت رواه ابوداؤدوابن ماجة.

په یو بل حدیث کي راغلي دي چي په بنده کښي درې سوه شپیته (۳۶۰) بندونه دي.پرده باندي لازمه ده چي د هر یوه بند له لوري یوه صدقه ورکړي یعني ددې خبري په شکریه کښي چي تر ویده کېدو وروسته یې چي دمړني په شان حالت و بیاددوهم ځل لپاره ژوند راکړ اود بدن هر یو غړي مي جوړ او پرځاي پاته دئ.اصحابانو ﷺ پوښتنه ځني وکړه چي هره ورځ ددومره ډیرو صَدقو او خیراتو کول د چا په توان پوره دي؟ رسول اکرم ﷺ وفرمایل چي یوه یوه تسبیح صدقه ده هر یو تکبیر صدقه ده،یو ځل (لا اله الا الله) ویل صدقه ده ، الله اکبر ویل صدقه ده ، له لاري څخه د یو مضر او زورونکي شي لري کول صدقه ده لنده دا چي ډیري صدقې یې وشمېرلې.

دې ته ورته نور حدیثونه هم سته چي په هغوی کښي دهغو نعمتونو څرګندوني سوي چي دالله ﷻ له لوري د بنده په ذات (ختهٔ) کي ځای پر ځای سوي دي.پردې سربېره دالله ﷻ له لوري دخوړلو او چیښلو، استراحت او ارامتیا اړوند څومره ډېر او ډول ډول نعمتونه چي هروخت را رسیږي،دایې یوه بله پېرزوینه ده .

د قرآن کریم په سورة الهکم التکاثر کښي هم دا یادونه سوې چي په قیامت کښي به دالله ﷻ له لوري دورکړل سوو نعمتونو په اړه پوښتنه کیږي.

حضرت ابن عباس ﷺ فرمایي: چي دبدن او (په ځانګړي توګه) د سترګو د روغتیا په اړه به پوښتنه کیږي چي الله ﷻ د خپلي مهربانۍ له مخي دا نعمتونه درکړل ، دادي دالله ﷻ په کوم کار کښي ولګول؟ (یا د څارویو یعني حیواناتو په څېر موپه نس پاللو کي خرڅ کړل؟)

لکه بل ځای چي په سورة بني اسرآئیل کي ارشاد دئ: إِنَّ ٱلسَّمْعَ وَٱلْبَصَرَ وَٱلْفُؤَادَ كُلُّ أُو۟لَـٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْـُٔولًا ﴿٣٦﴾

ژباړه : دقیامت په ورځ به له هر چا څخه دهغه د غوږ ، سترګي ، زړه او ددې ټولو شیانو په اړه ددې پوښتنه کیږي چي داټول شیان دي چیري وکارول؟

درسول اکرم ﷺ ارشاددی چي دکومو نعمتونو په اړه چي به سوال کیږي،په هغو کښي بې فکري اوبې پروایي هم ده کومه چي په هغه کښي دالله ﷻ لوي دولت او د بدن روغتیا ده .

مجاهد رحمة الله علیه وایې چي ددنیا هر یو خوند په نعمتونو کي داخل دی چي دهغې په اړه به پوښتنه کیږي. حضرت علي ﷺ فرمایي چي په دې (نعمتونو) کي د بدن روغتیا او جوړوالي هم داخل دی. یو چا له حضرت علي ﷺ څخه وپوښتل چي د (ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ

اَلنَّعِیمِ ﴿۸﴾ ژباړه: بیا به په هغه ورځ باندې دنعمتونو په هکله پوښتنې کېږي) آیت هدف څه دی؟ حضرت علي رضي الله عنه ورته وویل: د غنمو ډوډۍ او یخې اوبه ځنې مراد دي چې ددې په اړه به پوښتنه کیږي او داستوګنځي لپاره د ځای په اړه به هم پوښتنه کیږي. په یو حدیث کې راغلي دي چې کله دا آیت نازل سونو ځینواصحابانو رضي الله عنهم وړاندیز وکړ چې اې دالله ﷺ رسوله ﷺ! د کومو نعمتونو په اړه به زموږپوښتنه کیږي په داسې حال کې چې موږ ته په نیم نس ډوډۍ رسیږي اوهغه هم داوربشو، وحي نازلې سوې چې آیا چمپلان نه په پښو کوئ، دیخې اوبه نه څښئ، داخوهم دالله تعالی ﷻ نعمتونه دي. په یوحدیث کې راغلي دي چې ځینواصحابانو رضي الله عنهم ددغه آیت په نازلیدو سره وړاندیز وکړ چې اې دالله جل جلاله رسوله ﷺ! دکومونعمتونوپه هکله به پوښتنې وسي یوازې خرمااواوبه موږ ته د خوراک او څښاک په توګه رسیږي (سره له دې) چې موږ هر وخت (د جهاد لپاره) توري پر اوږو یو. اودښمن (کافر یا کوم بل څوک) راسره جنګیږي چې له همدې امله دغه دوه شیان هم ښه په ډاډه زړه اوبې فکرۍ سره نه ترلاسه کیږي رسول اکرم ﷺ وفرمایل چې ډیر ژر به نعمتونه راسي. په یو حدیث کې راغلي دي چې رسول اکرم ﷺ وفرمایل چې په قیامت کې چې د کومو نعمتونو په اړه پوښتنه کیږي، تر ټولو لومړی به داوي چې موږ ستا بدن ته تندرستي ورکړې وه (یعني ددې تندرستۍ دې کوم حق ورپر ځای کړی او په دې کې دې دالله ﷻ درضا لپاره کوم خدمت تر سره کړ؟) او ته مو په یخو اوبو اوبه کړی وې (یخې اوبه په حقیقت کې دالله ﷻ یو ستر نعمت دی) په کوم ځای کښې چې یخې اوبه نه وي دهغه ځای له خلګو څخه دې څوک ددغه اوبو قدر او ارزښت وپوښتي. دادالله ﷻ دومره لوی نعمت دی چې هیڅ اندازه یې نه لګیږي. خوزموږ د خلګو ددغه لوی نعمت ولور ته هیڅ پام نسته، دالا څه کوې چې ددې شکراودحق ورپرځای کول یې هم له پامه غورځولی. په یو حدیث کې راغلي دي چې هغه نعمتونه چې په اړه به یې پوښتنې کیږي، دادي: ۱ –د ډوډۍ هغه پارچه چې نس په موړ سي. ۲–. هغه اوبه چې تنده په ماته سي ۳– هغه کالي چې بدن په پټ سي. یوه ورځ دغرمې په وخت حضرت ابوبکر رضي الله عنه په ډیرې پریشانۍ سره له کوره راووت او مسجد ته ولاړ په دې وخت کې حضرت عمر رضي الله عنه هم راغلی چې ویې لیدل چې حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه هم ناست و نو یې پوښتنه ځنې وکړه چې ته په دې وخت کې دلته څه کوې؟ ده ورته وویل چې دلوږې له کبله ناارامه او پریشانه یم. حضرت عمر رضي الله عنه ورته وویل چې والله (په الله دې مې قسم وي) چې زه هم همدغه شي مجبوره کړم چې کوم ځای ته ولاړ سم. دوی دوو همدا خبرې سره کولې

چې رسول اکرمﷺ ناڅاپه رابښکاره سو او مسجد ته راغی، کله چې یې دوی ولیدل نو یې پوښتنه وکړه چې تاسو دا وخت دلته څه کوئ؟ دوی ورته وویل چې اې دالله جل جلاله رسولهﷺ! لوږې ډیر مایوسه کړي یو چې له دې کبله نا ارامه سوو او دباندې راووتلو، رسول اکرمﷺ وویل: چې دهمدې مجبورۍ له کبله زه هم راغلی یم. درې واړه محترمین او حضرات یو ځای د حضرت ابو ایوب انصاري رضي الله عنه وکورته ولاړل، هغه پر ځای نه و خو میرمنې (بي بي) یې دوی حضرات په ډیرې خوشالۍ او ویاړ سره په کور کې کښېنول. رسول اکرمﷺ پوښتنه وکړه چې ابو ایوب چیرې دئ؟ دې ورته وویل چې اوس دستې راځي. دخوړو اوبو راوړلو لپاره د باندې وتلی دئ. په دې ترڅ کې حضرت ابو ایوب رضي الله عنه راغلی او په ډیر احترام سره یې د خرما له درختې څخه یوه غنچه راوشکول او رایې وړه. رسول اکرمﷺ ورته وویل چې ټوله غنچه دې ولې راوشکول په دې کښې خو اومې او نیمه پخ سوې خرماوې هم راشکیږې یوازې به دې پخې ځنې راڅنډلی وای. هغه وویل چې په دې ګومان مې راوشکولې چې څه ډول مو خوښې وي، هغه ځنې وخورې (ځکه چې کله کله تر پخو نیمه پخ سوې ډیرې د خوښۍ وړ ګرځي). غنچه یې مخته ورته کښېښودل، دی ژر ولاړی او یو سېرلی یې حلال کړی ژر ژر یې یو څه داغسې کباب کړې له پاته غوښو څخه یې کتغ تیار کړی.

رسول اکرمﷺ پر یوه ډوډۍ یو څه غوښې کښېښودلې او ابو ایوب رضي الله عنه ته یې ورکړې (او ورته وې ویل) چې دا حضرت بي بي فاطمې رضي الله عنها ته ورو وړه ځکه هغې هم له څو ورځو راهیسې شي نه دی خوړلی. هغه ژر غوښې یووړې او بېرته راغلی. دې حضراتو هم ښه تر ماړه نسه ډوډۍ وخوړله تر دې وروسته رسول اکرمﷺ وفرمایل چې وګورئ! دا د اللهﷻ نعمتونه دي: ډوډۍ ده، غوښې دي، ډول ډول وچې او پخې خرماوې، دې رسول اکرمﷺ چې دا وویل نو تر مبارکو سترګو یې اوښکې را ایله سوې او وې ویل چې په هغه ذات مې دې قسم وي چې زما ساه (روح) یې په واک کې دی چې دهمدغه نعمتونو به په قیامت کې پوښتنه کیږي (په هغسې حالاتو کې چې پر دغه وخت باندې دغه شیان دوی ته رسېدلي وه، نو له همدې کبله) اصحابانو مبارکانو رضي الله عنهم ته دا اندېښنه او فکر پیدا سو (چې موږ ته په دغه د مجبورۍ او نا آرامتیا حالت کې دا شیان راورسېدل، پر دغه باندې به هم پوښتنه او حساب وي؟) رسول اکرمﷺ وفرمایل چې دالله جل جلاله شکر ادا کول خو ډیر ضروري او اړین دئ. کله چې په دغه او دې ته ورته نورو شیانو باندې پیل کوی نو لومړی (بسم الله الرحمن الرحیم) وایاست او کله چې مو وخوړل نو بیا دا وایاست چې الحمدلله الذي هو اشبعنا وانعم علینا وافضل. ژباړه: ټوله ثنا او ستاینه یوازې هغه اللهﷻ لره ښایي چې موږ یې ماړه کړو، او

نعمتونه يې راباندې ولوروِل او راډېر يې کړل.) دغه دعا ويل د شکر ادا کولو لپاره پوره بسنه کوي.

دې ته ورته پېښې څو ځله نورې هم سوې دي چې په ګڼو حديثونو کښې تر مختلفو سرليکونو لاندې بيان سوې دي .لکه يو وخت چې د ابو الهيثم مالک بن تيهان رضي الله عنه کورته د تلو راتلو وار راغلی دی ته ورته پيښه له يوه بل اصحابي سره هم سوې وه چې واقفي نوميده.

حضرت عمر رضي الله عنه له يو داسې چا څخه تيريدی چې د فس په رنځ اخته ، ړوند، کوڼ او ګونګی و.ده له خپلو ملګرو څخه وپوښتل چې تاسو په ده کښې د الله کوم نعمتونه وينی؟ دوی وږرته وويل چې له ده سره کوم نعمت ورسره دی.؟ (بلکې هيڅ هم نسته) بيا يې ورته وويل چې کوچنی اودس مات (چای جواب) په اسانی سره هم نسي کولای؟

حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې په قيامت کې درې دربارونه دي په لومړی دربار کښې به د نيکيو حساب وي. په دوهم دربار کې به د الله جل جلاله د نعمتونو حساب وي . په دريم دربار کې به د ګناوو غوښتنه وي. نيکۍ به د نعمتونو په بدله کې ولاړې سي او بدۍ به همداسې پاتې سي چې د الله جل جلاله تر مهربانۍ او فضل به لاندې وي. ددې ټولو هدف دادی چې په څومره کچه نعمتونه چې د الله جل جلاله له لورې په هر ګړی اوهره شيبه پر خپل بنده باندې نازليږي، پر هغو باندې شکر ويل او حق يې ادا کول هم د بنده پر ذمه لازم دئ. له همدې کبله څومره ډيرې نيکۍ چې مو په توان کې وي وې کړې او په کولو کې يې کمښت مه راولئ . (او که هر څومره ډيرې نيکۍ وکړئ) هيڅ يې مه بولئ . کله چې هلته ورسيږئ نو دا به ثرګنده سي چې هغسې ډيرې ګناوې چې موږ د خپلو سترګو ، پوزې ، غوږ او د بدن په نورو برخو په مرسته داسې کړې دي چې موږ به هيڅ ګناه نه بلل.

رسول اکرم صلی الله عليه وسلم فرمايي چې په تاسو کې هيڅوک داسې نه سته چې هغه به د قيامت په ورځ د الله جل جلاله په وړاندې نه دريږي په دغه وخت کې به نه يوه پرده منع کوونکې وي او نه به کوم ژباړن (وکيل وي) چې دده دفعه وکړي . راستې خواته چې ګوري نو د خپلو عملونو انبار به يې پروت وي او که چپې خواته وګوري هم به همدغه شيان ويني . څه ډول ښه يا بد عملونه چې يې کړي وي هغه به ټول ورسره وي . د دوزخ اور به مخکښې وي له همدې کبله څومره چې ممکنه وي په صدقې باندې د دوزخ اور مړ کړئ ، که څه هم د خرما د يوې ټوټې او خشو کې سره وي.

په يو حديث کي راغلي دي چي په قيامت کي به تر ټولو مخکي دا پوښتنه کيږي چي موږ تاته دبدن ښه روغتيا او د ښيښلو لپاره يخي اوبه درکړي وي (تاسو ددې شيانو حق ادا کړ؟)

په يو حديث کي راغلي دي چي بنده به تر هغه وخته پوري د حساب له ميدانه ولاړ نسي تر څو چي د پنځو شيانو پوښتنه ځني ونسي : ١- عمر دي په کوم کار باندي خرڅ او ولګاوه؟ ٢- ځواني (يعني د هغي قوت او ځواک) دي په کوم کار کښي خرڅ کړی؟ ٣- مال دي په کومه لاره او طريقه سره وګاټه؟ ٤- اوپه کومه لاره کښي دي خرڅ کړی؟ کومه پوهه چي درسره وه (يا په کومه درجه او مقام کښي چي وي) په هغه دي څه عمل وکړی (يعني کومي مسئلې چي درته معلومي وي په هغوي دي عمل وکړی که يا؟

دجنت بوټي سبحان الله.......... دي

٤). عن ابن مسعودؓ قال قال رسول اللهﷺ لقيت ابراهيمؑ ليلة اسرى بي فقال يا محمد اِقْرَاْ امتک مني السلام واخبر هم ان الجنة طيبة التربة عذبة المآء وانها قيعان وان غراسها سبحان الله والحمدلله ولا اله الا الله والله اكبر (رواه الترمذي والطبراني في الصغير والاوسط وزاد لا حول ولا قوه الا بالله وقال الترمذي حسن غريب من هذا الوجه ورواه الطبراني ايضا با سناده واهٍ من حديث سلمان فارسي وعن ابن عباس مرفوعا من قال سبحان الله والحمدلله ولا اله الا الله والله اكبر غرس له بكل واحدة منهن شجره في الجنة . رواه الطبراني واسناد حسن لا باس فيه في المتابعات وعن جابرؓ مرفوعا من قال سبحان الله العظيم وبحمده

ژباړه: رسول اکرمﷺ فرمايي چي زه کله د معراج په شپه له حضرت ابراهيمؑ سره يو ځای سوم نو هغه راته وويل چي اې محمدهﷺ! ستا امت ته زما له خوا سلام ووايه او دا ورته ووايه چي د جنت ډيره ښه پاکيزه خاوره ده او اوبه يې ډيري خوږي دي او جنت يو هموار ميدان دئ او د هغه نيالګي او وني دادي : (سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اکبر) د چاچي څومره زړه غواړي هغومره ډيري وني دي کښينوي) په يو حديث کي تر دې وروسته ((لا حول ولا قوه الا بالله)) هم راغلی دئ په يو بل حديث کي راغلي دي چي له دغو کلمو څخه د هري يوې کلمي په عوض په جنت کي يوه ونه ورته کښېنول کيږي. په يو حديث کي راغلي دي چي څوک ((سبحان الله العظيم وبحمده)) ووايي په جنت کي يوه

غرست له نخلة في الجنة (۲۷۵). ونه ورته کښېښنول کیږي.

په یو حدیث کې راغلي دي چې رسول اکرمﷺ روان و چې حضرت ابوهریرةؓ یې ولیدی چې نیالګی یې کښېښناوه پوښتنه یې ځني وکړه چې څه کوي؟ هغه ورته وویل چې نیالګي کښېښنوم ده مبارک ورته وویل چې زه به تاته ډیر ښه نیالګی دروښیم چې باید کښېښنول سي ((سبحان الله – الحمد لله – لا اله الا الله – الله اکبر)) له دغو څخه د هرې کلمې په ویلو سره په جنت کې یوه درخته راشنه کیږي.

فایده: دا چې ابراهیمؑ د رسول اکرمﷺ په لاس موږ ته سلام رالیږلي دئ نو له همدې امله عالمانو لیکلي دي چې کوم چاته چې دا حدیث ورسیږي هغه ته پکار ده چې د حضرت ابراهیمؑ د سلام په جواب کې دا ووایي ((وعلیه السلام ورحمه الله وبرکاته)) تر دې وروسته یې ویلي و. چې د جنت خاوره ډیره ښه او اوبه یې خوږې دي ، ددې دوه هدفه دي : لومړي دا چې یوازي او یوازي دهغه ځای د حالت څرګندونه ده چې ډېر ښه ځای دی او دهغې خاوري په اړوند په حدیثونو کې دا راغلي دي چې له مشکو او زعفرانو څخه جوړه ده. او اوبه یې ډیري خوندوري دي ، په داسې ځای کې خو هر څوک دخپلي استوګنځای لپاره د یوه ځاي جوړول غواړي او که د تفریح او ارامتیا لپاره د باغ او نورو شیانو د کښېښنولو اسباب هم وي نو څوک یې پرېږدي او دوهم هدف دا کېدای سي چې د کومي سیمي مځکه او اوبه چې ښه او په زړه پوري وي نو له هغې ځمکي څخه ښه پیدا وار تر لاسه کیږي ، نو په دې ډول یې هدف داسو چې په یو ځل (سبحان الله) ویلو سره چې هلته یو نیالګی کښېښنول سي نو د اوبو او مځکي د ښه والي له کبله پخپله ښه لوییږي فقط یو واري تخم پاشل دي نور به نو هرڅه پخپله کیږي.

(۲۷۵) رواه الترمذي وحسنه والنسائي الا انه قال شجرة وابن حبان في صحيحه والحاكم في الموضعين باسنادين قال في احد هما على شرط مسلم وفي الاخر على شرط البخاري وذكره في الجامع الصغير برواية الترمذي وابن حبان والحاكم ورقم له بالصحة وعن ابي هريرة ان النبي ﷺ مربه وهو يغرس الحديث رواه ابن ماجة باسناد حسن والحاكم وقال صحيح الاسناد كذا في الترغيب وعزاه الجامع الي ابن ماجة والحاكم ورقم له بالصحة قلت وفي الباب من حديث ابي ايوب مرفوعا رواه احمد باسناد حسن وابن ابي الدنيا وابن حبان في صحيحه ورواه ابن ابي الدنيا والطبراني من حديث ابن عمر ايضا مرفوعا مختصرا الا ان في حديثهما الحرقلة فقط كما في الترغيب قلت وذكر السيوطي في الدر حديث ابن عباس مرفوعا بلفظ حديث ابن مسعود و قال اخرجه ابن مردوية وذكر ايضا حديث ابن مسعود وقال اخرجه الترمذي وحسنه الطبراني وابن مردودية قلت وذكره في الجامع الصغير برواية الطبراني ورقم له بالصحة وذكر في مجمع الزوائد عدة روايات في معنى هذا الحديث

په نومورړي حديث کي جنت يو همواره ميدان بلل سوی دئ خو په نورو هغو حديثونو کښي چي د جنت حالات رابرسيره کوي په جنت کي ډول ډول د ميوو ، باغونو ، ونو او نورو شتون ښودل سوی دی، بلکي جنت پخپله هم دباغ په معنی دی له همدي امله په ښکاره توګه يو ډول شبهه پيدا کيږي (چي دا دکوم يوه خبره له حقيقته سره نښتي ده؟)

۱-. ځينو عالمانو ويلي دي چي په اصل کښي هغه يو همواره ميدان دی خو دا چي ښو خلګو ته د هغوی د نيک عمل (بدله) ورکول کيږي ، نو دهغوی د عملونو سره برابر په جنت کي باغونه ، درختي ، او نور شيان ورته موجوديږي .

۲-. دوهمه ځيرنه (توجيه) ځينو عالمانو دا فرمايلي ده چي د جنت باغونه او نور به د خلګو دعملونو سره برابر پلاس ورځي . داباغونه او درختي خلګو ته دعملونو له کبله او له هغوی سره برابر ترلاسه کيږي نو ګويا همدا عملونه دونو سبب سول.

۳-. دريمه ځيرنه (توجيه) چي سوي ده هغه داده : لږ ترلږه مځکه چي په جنت کښي ديوه تن په واک کي وي ، تر دغه ټولي دنيا هم ډيره ده چي يو څه برخه يې پخپله د جنت اصلي باغونه دي او پاته برخه تشه ولاړه ده څوک چي څومره ذکر تسبيح او نور وکړي هغومره درختي به نوري شيني سي . د شيخ المشائخ حضرت مولنا ګنګوهي رحمة الله عليه ارشاد چي په کَوْکَبْ دُرِيْ کښي رانقل سوی دئ هغه دادی چي د جنت ټولي درختي د پوڅکی په څېر په يوه ځای کښي راټولي دي، هر څوک چي څومره ښه عملونه کوي دهغه په ځمکه کښي هغومره درختي ايښودل کيږي او لويږي ، نمو کوي.

څوک چي دنورو نيکو عملونو توانايي نه لري سبحان الله .... دي وايي

۵-. عن ابي امامةﷺ قال قال رسول الله من هاله اليل ان يكابده او بخل بالمال ان ينفقه او جبن عن العدو ان يقاتله فليكثر من سبحان الله وبحمده فانها احب الي الله من جبل ذهب ينفقه في

ژباړه: درسول اکرمﷺ ارشاد مبارک دی چي څوک د سختيو او ستونزو له ګاللو او زغملو څخه وېريږي (چي د شپي له راپاڅيدلو او عبادت کولو څخه عاجزه وي) يا دبخالت او کنجوسی له کبله دمال خرڅول ورته ګران کار وي يا د بې زړه توب له کبله يې جهاد ته زړه نه ښه کيږي هغه ته پکار ده چي (سبحان الله وبحمده) ډير ډير ووايي ځکه دا اللهﷻ په وړاندي د سروزرو تر داسي غره چي د اللهﷻ په لاره کښي مصرف سي ډير

سبيل الله(۲۷٦) ارزښت لري.

فایده: دا د الله ﷻ څومره لویه پیرزوینه ده چي د هر ډول ستونزو د نه زغمونکو لپاره یې هم د فضائلو او درجاتو دروازه نه ده تړلي څوک چي شپه نه سي رڼولای، د بخالت او کنجوسۍ په خاطر پیسې نه سي مصرفولای، د بې زړه توب او بې همتۍ له کبله د جهاد د سپېڅلي عمل نه سي تر سره کولای. د دې ټولو سره که له چا سره د دین قدر او د رښت او د آخرت فکر وي نو د هغه لپاره هم لاره پرانیسته ده. پر دې سربیره که بیا هم څه ګټه ونه کړي نو دا د بې بختۍ او کم نصیبۍ پرته بل څه ندي. دا مضمون پخوا تر دې هم د لږ تفصیل سره تېر سوی دئ.

څلور کلمې والله ﷻ ته ډیري خوښي دي

٦). عن سمرة بن جندب قال قال رسول الله احب الكلام الي الله اربع : سبحان الله – الحمدلله – ولا اله الا الله والله اكبر لا يضرک بايهن بدأتَ . (۲۷۷)

ژباړه: د رسول اکرم ﷺ وینا ده چي لاندي څلور کلمې الله ﷻ ته ډیري د خوښۍ وړ دي (سبحان الله – والحمد لله ـ ولا اله الا الله ـ والله اکبر) په دوی کښي چي له هري یوې کلمې څخه پیل وکړي پروانکوي.

فایده : یعني په قرآن کریم کي هم دا کلمې ډیري راغلي دي، په قرآن کریم کښي د دغه کلمو پر ویلو باندي امر او هم د هغه لورته هڅونه بیان سوې ده، لکه په لومړي فصل کي چي یې په تفصیل سره بیان تیر سو. په یو حدیث کي راغلي دي چي تاسو په دغو کلمو سره اخترونه ښائسته کوئ یعني د اختر ښائست او ښکلا داده چي دغه کلمې پکښي ډیري وویل سي.

---

(۲۷٦) رواه الفريا بي والطبراني واللفظ له وهو حديث غريب ولا باس باسناده انشاءالله كذا في الترغيب وفي مجمع الزوائد رواه الطبراني وفيه سليمان بن احمد الواسطى وثقه عبدان وضعفه الجمهور والغالب علي بقية رجاله التوثيق وفي الباب عن ابي هريرة مرفوعا اخرجه ابن مردويه وابن عباس ايضا عند ابن مردويه كذا في الدر.

(۲۷۷)رواه مسلم وابن ماجة والنسائي وزادوهن من القران و رواه النسائي ايضا وابن حبان في صحيحه من حديث ابي هريرة كذا في الترغيب و عزاه السيوطى حديث سمرة الى احمد ايضا ورقم له بالصحة وحديث ابي هريرة الى مسند الفردوس للديلمي ورقم له ايضا بالصحة

دمسکین فضیلت پر شتمن باندي په سبحان الله .... سره دی

٧. عن ابي هريرة رضي الله عنه قال ان الفقرآء المهاجرين اتوا رسول الله صلى الله عليه وسلم فقالوا قد ذهب اهل الدثور بالدرجات العلى والنعيم المقيم فقال ماذاک قالوا يصلون کما نصلي ويصومون کما نصوم ويتصدقون ولانصدق ويعتقون ولانعتق فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم افلا اعلمکم شيئا تدرکون به من سبقکم تسبقون به من بعدکم ولايکون احد افضل منکم الا من صنع مثل ماصنعتم قالوا بلي يارسول الله قال تسبحون وتکبرون وتحمدون د بر کل صلوة ثلث وثلثين مرة قال ابوصالح فرجع فقرآء المهاجرين الي رسول الله صلى الله عليه وسلم فقالوا سمع اخواننا اهل الاموال بما فعلنا ففعلوا مثله فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم ذالک فضل الله يؤتيه من

ژباړه: یو وخت درسول اکرم ﷺ حضورته مسکینان ګډوال (مهاجرین) راغلل او ورته وې ویل چې اې دالله جل جلاله رسوله صلی الله علیه وسلم! ټولي لوړي درجې خو دغه شتمنو خلګو تر لاسه کړي او تل پاتي نعمتونه ددوی په برخه سول. رسول اکرم ﷺ ورته وفرمایل چي ولي؟ دوی ورته وویل چي په لمانځه او روژې نیولو کي خو دوی زموږ سره ګډ دي چي موږ یې هم کوو او دوی یي هم کوي. او د شتمنی له کبله خو دوی خیراتونه (صدقې) کوي، غلامان ازادوي او موږ له دې شیانو څخه بې برخي یو. رسول اکرم ﷺ ورته وویل چي آیا تاسو ته داسي شي وښیم چي په پلي کولو (عملي کولو) سره یې هغه څوک چي له تاسو څخه مخکي وي (په ښیګڼو کي)، راونیسئ او له هغه چاچي څخه تر تاسو شاته وي، وړاندي سی، او تر تاسو به بل څوک تر هغې پوري بهتر نه وي تر څو چي ستاسو په څیر دغه عمل ونکړي؟ اصحابانو رضي الله عنهم ورته وویل چي هو! اې دالله جل جلاله رسوله صلی الله علیه وسلم! (خود یې راته ووایه) ده مبارک ورته وویل چي تر هر لمانځه وروسته سبحان الله، الحمدلله، الله اکبر هر یو درو دیرش (۳۳) درو دیرش (۳۳) ځله وایاست. (دغو حضراتو په دې کار پیل وکړی خو دهغه وخت شتمن خلګ هم دداسي شیانو سره علاقمند وه نو چي دا ورته معلومه سوه هغوی هم په دې باندي پیل وکړی) نو مسکینان بیا رسول اکرم ﷺ ته راغلل او ورته وې ویل چي اې دالله جل جلاله رسوله صلی الله علیه وسلم! زموږ شتمنو او بډایه ورڼو هم کله چي زموږ ددې کار واورید له پدې باندي یې پیل وکړی. رسول اکرم ﷺ ورته وویل چي دادالله فضل او مهرباني ده هر چاته چي یې خوښه سي هغه ته یې ورکوي (هغه

يشآء.(۲۷۸). ذات څوک له دې کاره منع کولي نسي)

په يو بل حديث کي هم دغه رنګه قصه ذکر سوي ده چي په هغه کښي رسول اکرمﷺ ويلي دي چي ستاسو لپاره هم اللهﷻ د صدقې په عوض بل څه درکړي دي چي : يو وار سبحان الله ويل صدقه ده، يو وار الحمدلله ويل صدقه ده ، له خپلي ميرمني سره کوروالی (جماع) کول صدقه ده. اصحابانو رضي الله عنهم وړانديز وکړی چي اي د اللهﷻ رسوله ﷺ! له ميرمني سره په کوروالي کښي خو شهوت پوره کيږي او دا به صدقه هم سي؟ رسول اکرمﷺ ورته وويل چي که يو څوک په حرامو باندي اخته سي نو ايا دا به ګناه وي که يا؟ دوی ورته وويل خامخا به ګناه وي.نو ده ورته چي همدغه په حلالو کښي صدقه او ثواب دی.

فايده: مطلب دادی چي کوروالي په دې نيت باندي کول چي له ناروا څخه په و ژغورل سي.ثواب او داجر سبب دی. ددې قصې ددوهم حديث ددې اشکال په ځواب کي چي دميرمني سره کوروالی دخپل شهوت پوره کول ذي، له رسول اکرمﷺ څخه ددې ستونزي ځواب رانقل سوی دی چي رسول اللهﷺ ددوی څخه سوال وکړی چي دا راته وښاياست چي که چيري يو ماشوم پيدا سي ، بيا هغه ځوان سي او تاسو دهغه دښو صفتونو هيله هم ولری او وروسته مړ سي ايا تاسو د ثواب هيله لری؟ دوي ورته وويل چي بېشکه موږ اميد لرو. رسول اکرمﷺ ورته وويل چي ولي، ايا تاسو هغه پيدا کړی و؟ تاسو هغه ته هدايت کړی و؟ او که تاسو روزي ورکړی وه ؟ (نه) بلکي اللهﷻ پيدا کړی و، هغه ذات ورته سمه لاره وښودله او هم هغه روزي ورکړله، دغه رنګه په کوروالي سره نطفه (دمنی څاڅکی) په حلال ځای کښي ايښودل هم د اللهﷻ په واک کښي ده، دده خپله خوښه ده که يې ژوندی کوي چي اولاد ترې پيدا سي او که يې وژني چي اولاد پيدا نسي. ددغه حديث بنسټيز هدف او مطلب دادی چي دغه اجر او ثواب له دې کبله ورکول کيږي چي دغه نطفه د ماشوم پيدا کيدو سبب سو.

(۲۷۸) متفق عليه وليس قول ابي صالح الي اخره الا عنده مسلم وفي رواية للبخاري تسبحون في دبر كل صلوة عشرا وتحمدون عشرا وتكبرون عشرا بدل ثلاثا وثلاثين كذا في المشكوة وعن ابي ذر رضي الله عنه بنحوه هذا الحديث وفيه ان بكل تسبيحة صدقه وبكل تحميدة صدقه وفي بضع احدكم صدقة قالوا يا رسول الله ياتي احدنا شهوته يكون له فيها اجر الحديث اخرجه احمد وفي الباب عن ابي الدرداء عند احمد

ددریاب دځګو په څیر ګناوي په تسبیح ..... به بخښل کیږي

۸). عن ابي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ من سبح الله في دبر كل صلوة ثلاثا وثلاثين وحمدالله ثلاثا وثلاثين كبرالله ثلاثا وثلاثين فتلك تسعة وتسعون وقال تمام المائة لا اله الا الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد وهو على كل شيئ قدير غفرت له خطاياه وان كانت مثل زبد البحر. (۲۷۹)

ژباړه : د رسول الله ﷺ ارشاد مبارک دی چي څوک تر هر لمانځه وروسته (۳۳) ځله سبحان الله، (۳۳) ځله الحمد لله ، (۳۳) ځله الله اکبر او (۱) یو ځل لا اله الا الله وحده لا شریک له له الملک وله الحمد وهو علی کل شیئ قدیر– ووایي دهغه ګناوي وربخښل کیږي که څه هم د سمندر د ځګ غوندي ډیري وي.

فایده : د ګناوو د بخښني په هکله مخکي د څو حدیثونو په رڼا کي بیان او بحث تیر سوی دی چي د عالمانو او پوهانو په آند له دغو ګناوو څخه مطلب کوچني ګناوي دي.

په دغه حدیث کي درې کلمې دري دیرش ، دري دیرش ځله او یو ځل لا اله الا الله راغلی دئ له دې څخه په وروسته حدیث کښي دوې کلمي دري دیرش دیرش ځله او الله اکبر څلوردیرش ځله راځي. له حضرت زید رضي الله عنه څخه رانقل سوي دي چي رسول اکرم ﷺ موږ ته تر هر لمانځه وروسته د سبحان الله – الحمد لله – الله اکبر ، هر یوه دري دیرش واره ویلو حکم وکړی. یو انصاري په خوب کښي ولیدل چي یو څوک ورته وایي چي هره یوه له دغو دریو کلمو څخه پنځه ویشت ځله وایه او پنځویشت ځله لا اله الا الله هم ورسره ملګري کړه، رسول اکرم ﷺ ته ددې خبري وړاندیز وسو. نو هغوي ومنل او اجازه یې ورکړه. چي خیر دی، همداسي وکړه . په یو حدیث کي تر هر لمانځه وروسته سبحان الله – الحمد لله – الله اکبر هریوه کلمه یې تر هرلمانځه وروسته د یوولسو (۱۱) ځلو ویلو حکم راغلی دی ، په یو بل حدیث کښي لس لس (۱۰) ځله راغلي دي. په یو حدیث کښي لا اله الا الله لس ځله او پاتي درې واړي کلمي هره یوه درو دیرش ځله راغلې ده ، په یو بل حدیث کي څلور سره کلمې سل ، سل ځله راغلي دي، له هغو روایتونو سره سم لکه په حصن حصین کښي چي راغلي دي . دا اختلاف په ښکاره توګه د حالاتو د بیلوالي له کبله دئ، ځکه چي خلګ د وزګارتیا او دندو له مخي سره بیل دي. کوم خلګ چي په نورو ضروري کارونوباندي اخته دي، دهغوی لپاره یې

(۲۷۹) رواه مسلم كذا في المشكوة وكذا في مسند احمد

لږه اندازه او کوم خلک چي وزګارتیا یې ډیره وي دهغوي لپاره یې ډیره اندازه ټاکلې او تجویز کړې ده. خو د شنونکو او څیړونکو په اندازه هغه اندازه چي په حدیثونو کښي ذکر سوې ده باید په نظر کي ونیول سي. ځکه کوم شي چي د دارو درملو په توګه کارول کیږي، دهغه شي د اندازې په پام کي نیول هم اړین دي.

تر هر لمانځه وروسته تسبیحات ویل

۹). عن کعب بن عجرةﷺ قال قال رسول اللهﷺ معقبات لا یخیب قائلهن او فاعلهن دبر کل صلوة مکتوبة ثلاث وثلاثون تسبیحة وثلث وثلاثون تحمیدة واربع وثلاثون تکبیرة (۲۸۰)

ژباړه: رسول اکرمﷺ وفرمایل چي یوڅو وروسته راتلونکي (کلمي) داسي دي چي ویونکي یې نه نامراده کیږي هغه دادي چي تر هر فرض لمانځه وروسته درو دیرش ځله سبحان الله، درو دیرش ځله الحمدلله او څلور دیرش ځله الله اکبر ووایي.

فایده: دغه کلمي په وروسته راتلونکو کلمو سره ځکه ونومول سوې چي دغه کلمې تر لمانځه وروسته ویل کیږي یا دغه کلمې تر ګناه کولو وروسته ویل کیږي، چي هغه پرېولې او له منځه یې وړي او یا دغه کلمې یو په بل پسي ویل کیږي. حضرت ابوالدرداءﷺ فرمایي چي موږ ته تر هر لمانځه وروسته د سبحان الله او الحمدلله درو دیرش ځله او دالله اکبر څلور دیرش ځله ویلو حکم سوی دئ.

سبحان الله........ ثواب یې تر احد زیات دئ

۱۰). عن عمران بن حصینﷺ رفعه امایستطیع احدکم ان یعمل کل یوم مثل احد عملا قالوا یارسول اللهﷺ ومن یستطیع قال کلکم یستطیع

ژباړه: یو وخت رسول اکرمﷺ وفرمایل چي په تاسو کي داسي څوک نسته چي هره ورځ داحد په اندازه (چي په مدینه منوره کي دیوه غره نوم دئ) عمل وکړي؟ اصحابانوﷺ ورته وویل چي اې داللهﷻ رسولهﷺ! ددې توان څوک لري (چي ددومره لوی غره په اندازه عمل

(۲۸۰) رواه مسلم کذا في المشکوة وعزاه السیوطي في الجامع الي احمد ومسلم والترمذي والنسائي ورقم له بالضعف وفي الباب عن ابي الدرداء عندا الطبراني

قالوا یا رسول الله ماذا قال سبحان الله اعظم من احد ولا اله الا الله اعظم من احد والحمدلله اعظم من احد والله اکبر اعظم من احد (۲۸۱)

وکړي؟) رسول اکرمﷺ وویل چي هر یو یې کولای سي اصحابانو ورته وویل چي په کوم ډول او طریقه سره؟ رسول اکرمﷺ وفرمایل چي د سبحان الله ثواب تر احد ډیر دی، د الحمدلله ثواب تر احد ډیر دئ، او د الله اکبر ثواب تر احد ډیر دی.

فایده: یعني د دغو کلمو له ډلي څخه هره یوه یې داسي ده چي ثواب یې د احد تر غره ډیر دئ. دا نه ده معلومه چي څومره زیات دئ. په یو حدیث کي راغلي دي چي سبحان الله او الحمدلله له خپل ثواب څخه ټول اسمانونه او مځکه ډکوي. په یو حدیث کي راغلي دي چي د سبحان الله ثواب نیمه تله ده او الحمدلله هغه ډکوي او الله اکبر د اسمان او مځکي منځ ډکوي، په یو حدیث کښي رسول اکرمﷺ فرمایي چي (سبحان الله – الحمدلله – لا اله الا الله – الله اکبر) کلمې ماته تر ټولو هغو شیانو چي لمر پرې راخیژي، زیات ارزښت لري. ملا علي قاري رحمه الله علیه وایي چي د دې خبر هدف دا دئ چي که چیري ټوله دنیا د الله جل جلاله لپاره خرڅه کړم نو دغه کلمې تر هغه هم الله جل جلاله ته ډیري خوښي دي. ویل کیږي چي حضرت سلیمان علیه السلام پر هوایي تخت باندي یو ځای ته تلی، الوتونکو مرغانو ورباندي سیوری جوړ کړی و او له پیریانو، انسانانو او نورو څخه جوړه دوه کتاره لښکر هم ورسره و. دوی له یو عابد څخه تېرېدل چي هغه د سلیمان علیه السلام د دې ستري او عمومي پاچاهۍ ستاینه وکړه. دوی ورته وویل چي د مؤمن په عملنامه کي یوه تسبیح د سلیمان بن داود علیه السلام تر پاچاهۍ ښه ده ځکه چي پاچاهي به ورانه سي خو تسبیح د تل لپاره پاته کېدونکي ده.

پنځه شیان د عملنامې تول درنوي

(۱۱). عن ابي سلام مولى رسول الله ﷺ ان رسول الله ﷺ قال بخ بخ خمس ما اثقلهن في الميزان لا اله الا الله والله اكبر وسبحان الله والحمدلله والولد الصالح يتوفى للمرء المسلم

ژباړه: یو ځل رسول اکرمﷺ وفرمایل چي واه، واه پنځه شیان (د عملنامو تللو) په تله کي څومره زیات درانده دي. ۱– لا اله الا الله – ۲– الله اکبر ۳– سبحان الله ۴– الحمدلله ۵– هغه اولاد چي دی مړ سي نو پلار (او همدارنګه مور) یې پر هغه باندي

[281] الکبیر والبزار کذا في جمع الفوائد والیهما وعزاه في الحصن ومجمع الزوائد وقال رجالها رجال الصحیح

فيحتسبه (۲۸۲) صبر وکړي.

فایده: دا مضمون له څو اصحابانو ﷺ څخه په ګڼو حدیثونو کښي رانقل سوی دئ. بخ بخ د ډیري خوشالۍ کلمه ده، کوم شی چي رسول اکرم ﷺ په دومره خوشالۍ سره فرمایي، ایا د محبت دعوا کوونکو ته نه ښایي چي تر دغه کلمو ځان قربان کړي چي د رسول اکرم ﷺ د خوشالۍ د رنښت او استقبال هم دغه دی.

۱۲). عن سليمان بن يسار عن رجل من الانصار ان النبي ﷺ قال قال نوح لابنه اني موصيك بوصية وقاصرها لكي لا تنساها اوصيك باثنين وانهاك عن اثنين اما التي اصيك بهما فيستبشر الله بهما وصالح خلقه وهما يكثران الولوج على الله اوصيك بلا اله الاالله فان السموات والارض لوكانتا حلقة قصمتهما ولوكانتا في كفة وزنتهما و اوصيك بسبحان الله وبحمده فانهما صلوة الخلق وبهما يرزق الخلق وان من شيئ الا يسبح بحمده ولكن لا تفقهون تسبيحهم انه كان حليما غفورا واما اللتان انهاک

ژباړه: د رسول اکرم ﷺ ارشاد دی چي حضرت نوح ﷺ خپل زوی ته وویل چي زه وتاته وصیت کوم په دې نیت چي هیر یې نه کړي، ډیر لنډ درته وایم، زه تاته د دوو کارونو د کولو او د دوو د نه کولو وصیت کوم او هغه دوه کارونه چي د کولو وصیت یې درته کومه داسي دي چي الله ﷻ په هغه باندي ډیر خوشالیږي. الله ﷻ ته ددغو دوو کارونو رسیدنه (او مقبولیت) ډیر زیات دی، له هغو دوو څخه یو (لا اله الا الله) دی. کچیري ټول آسمانونه او ځمکه د یوي کړۍ په ډول سي نو بیا به هم دا پاکه کلمه دغه کړۍ ماته کړي (اسمان ته د تللو څخه به پاتي نسي) او که چیري ټول آسمانونه او ځمکه د ترازو په یوه پله کښي او دا سپېڅلي کلمه یې په بله پله کښي کښېښودل سي، نو بیا به هم دا د کلمې دخوا پله درنه سي، دوهم هغه کار چي کول یې لازم دي د (سبحان الله وبحمده) ویل دي. چي دا کلمه د ټولو مخلوقاتو عبادت دی. او د همدې کلمې په برکت سره ټولو مخلوقاتو روزي ورکول کیږي. دا الله ﷻ په مخلوقاتو کښي هیڅ یو داسي شي نسته چي هغه دي دا الله ﷻ تسبیح نه وایي. خو تاسو دهغوی په تسبیح باندي نه پوهیږی. او هغه دوه

(۲۸۲) الحديث اخرجه احمد في مسنده ورجاله ، ثقات كما في مجمع الزوائد والحاكم وقال صحيح الاسناد واقره عليه الذهبي وذكره في الجامع الصغير برواية البزار عن ثوبان وبرواية النسائي وابن حبان والحاكم عن ابي سلمى وبروايه احمد عن ابي امامة ورقم له بالحسن وذكره في مجمع الزوائد برواية ثوبان وابي سلمى راعي رسول الله وسفينة مولى لرسول الله لم يسم وصحح بعض طرقها

عنهما فيحتجب الله منهما وصالح خلقه انهاک عن الشرک والکبر . (۲۸۳)

شیان چې تاسو یې له کولو څخه منع کوم عبارت دي له : شرک او تکبر څخه چې دهمدغه دوو له کبله له الله ﷻ او دهغه له صالحه بنده ګانو څخه په پرده کښې کیږئ.

فایده : دلا اله الا الله په بیان کې هم ددغه حدیث مضمون تېرسوي دي. د تسبیح په اړه چې د رسول اکرم ﷺ کومه وینا په دغه حدیث کې راغلې ده د قرآن کریم په آیتونو کښې هم تیره سوي ده : وَاِن مِنْ شَيْءٍ اِلا يُسَبِّح بِحَمْدِهِ . داد قرآن کریم آیت دی. د رسول اکرم ﷺ دا وینا چې د معراج په شپه داسمانونو تسبیح رسول اکرم ﷺ پخپله واوریدي ، په ګڼو حدیثونو کښې راغلې ده. یو ځل رسول اکرم ﷺ له یو داسې ډلې څخه چې پر خپلو آسونو او اوښانو باندې سپاره وه تېرېدی رسول اکرم ﷺ ورته وویل چې له ځناورو او حیواناتو څخه د سپرلۍ او چوکۍ په توګه کار مه اخلئ . ډیر ځناور او حیوانان تر سپرلیو ډیر ښه دي او ډیري یې د الله ﷻ ذکر کوونکي دي. حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمایي چې کښتونه او درختي (نباتات) هم د الله ﷻ تسبیح وایي . او ددې ثواب کروندګرو ته رسیږي. یو ځل رسول اکرم ﷺ ته یوه پیاله چې ثرید (یعني د غوښو په ښوروا کې میده سوي ډوډۍ) پکښې وه. راوړل سوه ، رسول اکرم ﷺ وویل چې دا خواړه تسبیح وایي ، یو چا ورته وویل چې آیا تاسو ددغه په تسبیح باندې پوهیږئ ؟ رسول اکرم ﷺ ورته وویل چې هو ! پوهیږم. تر دې وروسته رسول اکرم ﷺ یو چا ته وویل چې دا پیاله فلاني ته ورنژدې کړه. دغه پیاله هغه نفر ته ورنژدې کړل سوه او هغه هم تسبیح واوریدي ، تر دې وروسته بیا دریم نفر ته هم ورنژدې کړل سوه او هغه هم واوریدي ، یو بل چا وړاندیز وکړی چې په ټولیزه توګه دي ټولو خلګو ته واورول سي. رسول اکرم ﷺ وویل چې که یې چیري یو نفر هم وانه وري نو دا نور به دا ګومان کوي چې دغه ګنهګار دی، ددې خبري تړاو له کشف سره دی. نبیانو ته داشي په بشپړه توګه حاصل و او لازمه هم وه.

اصحابانو رضی الله عنهم ته هم د رسول اکرم ﷺ د صحبت له برکته او دهغه د زړه د انوارو له کبله ډیر وختونه دا شیان حاصلیدل . په سلګونو پېښې ددې خبري تائید کوي . صوفیانو ته هم

(۲۸۳) رواه النسائي واللفظ له ، والبزار والحاكم من حديث عبدالله بن عمر وقال صحيح الاسناد كذا في الترغيب قلت وقدتقدم في بيان التهليل حديث عبدالله بن عمر ومرفوعا وتقديم فيه ايضا مافي الباب وتقدم في الايات قوله عز اسمه وان من شيئ الا يسبح بحمده الاية واخرج ابن جرير وابن ابي حاتم وابو شيخ في العظمة عن جابر مرفوعا الا اخبركم بشيئ امربه نوح ابنه ان نوحا قال لا بنه يابني امرک ان تقول سبحان الله فانها صلوة الخلق وتسبيح الخلق وبها يرزق الخلق واخرج احمد وابن مردوديه عن ابي عمر مرفوعا ان نوحا لما حضرته الوفاة قال لا بنيه امر كما بسبحان الله وبحمده فانها صلوة كل شيئ وبها يرزق كل شي كذا في الدر

دغه شیان ډیر د مجاهدو په ډیروالي سره پلاس ورځي چي له همدې کبله هغوی د جماداتو (ډبرو ، لوټو ، ټولو بې ساه شیانو) او حیواناتو (ځارویو) په تسبیح ، خبرو اترو او نورو باندي پوهیږي.

خو د ځیرښوالو اود مشایخو په آند دا شیان نه دکمال دلیل او نه هم د نژدېوالي سبب دی. ځوک چي دا ډول مجاهدي کوي هغه پلاس ورتلای سي که اللهﷻ ته نژدې وي او که نه وي. نو له دې امله ځیرونکو مشائخودا خبره غیرضروري بولي. له دې پلوه یې زیانمنه هم بولي چي کله مبتدي (نوي ځوک) پدې باندي اخته سي، نو ددنیا د سیل شوق او مینه ورته پیداسي ، او د پرمختګ په وړاندي اخته وګرځي، ماته دخپل حضرت مولانا خلیل احمد صاحب د ځینو مریدانو په هکله دا ځرګنده ده چي کله هغوی ته د کشف دا حالت پیدا سو. نو حضرت به د ځو ورځو لپاره په پرله پسي توګه د ذکر بوختیا پرېښووله تر ځو دا حالت نور پر مختګ نه وکړي پر دې سربیره دغه مریدان به لدې کبله هم ځني ژغورل کېدل چي پدې سره د نورو خلګو ګناوي ښکاره او په ډاګه کیږي. او دهغوی د مایوسۍ سبب ګرځي .

علامه شعراني په میزان الکبری کي لیکلي دي چي حضرت امام اعظم رحمة الله عليه چي به کله ځوک پر اوداسه باندي ولیدی نو دهغه داوداسه په اوبو کښي چي به کومه ګناه پریمینځل سوي وه هغه به یې لیدله. دا به هم ورته معلومیدله چي ګناه کبیره (لویه) او که صغیره (کوچنۍ) ده ، مکروه کار دئ که خلاف اولی کار دی لکه ځرنګه چي حسي لیدلکیدونکي) شیان چي ښکاریږي په دغه ډول به دا هم ورته معلومیده ، یو وخت د کوفې د جامع جومات د اوداسه په ځای کښي و. یو ځوان اودس کاوه، دهغه د اوداسه اوبه یې ولیدې چي ځني غورځیدلې نو هغه ته یې پټ د نصیحت په توګه وویل چي ځوانه! د مور او پلار له نافرمانۍ ځخه توبه وباسه ! هغه توبه وایسته یو بل نفر یې ولیدی نو هغه ته یې نصیحت وکړی چي وروره ! زنا مه کوه ، ډیر عیب دی ده هم پر هغه ځای له زنا ځخه توبه وایستل یو بل نفریې ولیدی چي د شرابو چیښلو او لهو لعب او به ځني تویېدلي ، هغه ته یې هم نصیحت وکړی او هغه هم توبه وایسته ، لنډه دا چي تر دې وروسته امام اعظم رحمة الله عليه له اللهﷻ ځخه وغوښته چي اې الله جل جلاله ! داشي له ما ځخه لیري کړه. لدې کبله چي د خلګو په ګناوو باندي خبرېدل نه غواړم: اللهﷻ یې دعا قبوله کړه او داشي ورځخه واخیستل سو. ویل کیږي چي دغه وخت امام صاحب دکارول سوو (مستعملو) اوبو د ناپاکۍ فتوی ورکړې وه ځکه چي دغه اوبه چټلي او بدبویه ورته ښکارېدي نو ځنګه به یې پاکي ورته ویلای . خو هغه وخت چي داسي ځني لیري سو ، نو بیا یې (دکارول سوو اوبو) ناپاکي ویل هم پرېښودل ،

زموږ د حضرت مولانا الشاه عبدالرحيم رائپوري په مريدانو كښي داسي يو صاحب و چي څو څو ورځي به لدې كبله استنجا ته نه تلى چي هر ځاى ته به ولاړى هلته به انوارونه ورته ښكاريدل نوري هم په سلګونو او زرګونو دې ته ورته پيښني سته چي هيڅ د شک ځاى پكښي نسته ، كومو خلګو ته چي له كشفه څخه يوه برخه وركړل سي، هغوى ته دهغې حصي په اندازه حالات څرګنديږي.

سل ځله تسبيح .... دسلو مريانو ازاديدو ثواب لري

١٣). عن ام هانيءؓ قالت مر بي رسول الله ﷺ فقلت يا رسول الله ﷺ قد كبرت سني وضعفت او كما قالت فمرني بعمل اعمله وانا جالسة قال سبحي الله مائة تسبيحة فانها تعدل لک مائة رقبة وتعتقينها من ولد اسمعيل واحمدي الله مائة تحميدة فانها تعدل لک مائة فرس مسرجة ملجمة تحملين عليها في سبيل الله وكبري الله مائة تكبيرة فانها تعدل لک مائة بدنة مقلدة متقبلة وهللي الله مائة تهليلة قال ابو خلف احسبه قال تملاء مابين السماء والارض ولا يرفع يومئذ لاحد عمل افضل مما يرفع لک الا ان ياتي بمثل ماأتيت.([284])

ژباړه: حضرت ام هاني فرمايي چي يو ځلي رسول اكرم ﷺ راغلى ما ورته وويل چي اې دالله جل جلاله رسوله ﷺ ! زه بوډۍ سوي او كمزوري يم داسي يو كار راوښيه چي په ناسته كښي يې كومه . رسول اكرم ﷺ وويل چي سل (١٠٠) ځله سبحان الله وايه ، ددې ثواب داسي دى چي ګويا سل عرب غلامان دي ازاد كړل . او سل ځله الحمدلله وايه ، ددې ثواب داسي دي چي ګويا سل آسان دي سره له سامانه ، كيزو او نورو جهاد ته د سپرلۍ لپاره وركړه. او سل (١٠٠) ځله الله اكبر وايه ، دا داسي دى چي ګويا تا سل اوښان د قربانۍ لپاره حلال كړل ، او هغه هم قبول سول، او سل ځله لا اله الا الله وايه ، ددې ثواب د آسمان او مځكي منځ ډكوي. تر دې زيات بل د هيڅا داسي عمل نسته چي قبول دي سي. پرته له هغه چا څخه چي ستا په ډول كلمي وايي.

([284]) رواه احمد باسناد حسن واللفظ له والنسائي ولم يقل ولا يرفع الي اخره والبيهقي بتمامه ورواه ابن ابي الدنيا فجعل ثواب الرقاب في التحميدوالفرس في التسبيح وابن ماجة بمعناه باختصار والطبراني في الكبير نحو احمد ولم يقل احسبه وفي الاوسط باسناد حسن بمعناه كذا في الترغيب باختصار قلت رواه الحاكم بمعناه وصححه وعزاه في الجامع الصغير الي احمد والطبراني والحاكم ورقم له بالصحة وذكره في مجمع الزوائد بطرق وقال

د حضرت ابو رافع میرمن حضرت سلمی هم رسول اکرم ﷺ ته وړاندیز وکړی چي ماته یو ښه لنډه وظیفه راوښیه چي ډیره اوږده نه وي . رسول اکرم ﷺ وفرمایل: الله اکبر لس ځله ووایه ، الله جل جلاله ددې په جواب کښي وایي چي دا زما لپاره ده. بیا لس ځله سبحان الله وایه، الله ﷻ به بیا دا وایي چي دا زما لپاره ده. بیا اللهم اغفرني لس ځله وایه ، الله ﷻ وایي چي هو! ما وبخښلي ! (چي ته لس ځله اللهم اغفرلي ووایي، الله ﷻ هم لس ځله وایي چي ما ته وبخښلي).

فایده : د کمزورو او سپین ږیرو لپاره په ځانګړي ډول د ښځو لپاره رسول اکرم ﷺ څومره لنډ او آسانه شي مقرر کړی. وګوره ! پر داسي لنډو شیانو باندي چي نه پکښي ډیر کړاو ستړیا او نه ستومانتیا د څومره لویو لویو ثوابونو وعده ده څومره به کم نصیبه وي هغه ښځي که چیري دا تر لاسه نکړي.

حضرت ام سلیم رضی الله عنها فرمایي چي ما رسول اکرم ﷺ ته وویل چي ماته داسي یوشي راوښیه چي دهغه په مرسته په لمانځه کښي دعا وکړم رسول اکرم ﷺ ورته وویل چي (سبحان الله – الحمدلله – او الله اکبر) هر یو لس لس ځله وایه او تر دې وروسته چي دي هر څه خوښه وي د هغه دعا کوه. په یو بل حدیث کي تر دې وروسته دا وینا ده چي (څه دي خوښه وي دهغه دعا کوه) الله ﷻ پر دې دعا باندي فرمایي چي هو! هو! (ما قبوله کړه!) څومره لنډ او اسانه الفاظ دي چي یا دولو او زیاتي هڅي ته اړتیا نلري ، مونږ ټوله ورځ په بکواس کښي تیروو. له پیر و پلور سره په دوکان کښي له ناستي یا په کروندو کښي دهغوی په سمبالتیا باندي له بوختیدو سره سره که چیري دا تسبیحات په ژبه باندي وایو نو ددنیا د ګټي تر څنګ به مو د آخرت څومره لوی دولت او شتمني پلاس راسي.

اسانیدهم حسنة وفي الترغیب ایضا عن ابي امامة مرفوعا بنحو حدیث الباب مختصرا وقال رواه الطبراني ورواته رواة الصحیح خلا سلیم بن عثمان الفوزي یکشف حاله فانه لا یحضرني الا ان في جرح ولا عدالة اهـ وفي الباب عن سلمی ام بني ابي رافع قالت یا رسول الله اخبرني بکلمات واتکثر علی الحدیث مختصرا وفیه التکبیر والتسبیح عشرا عشرا واللهم اغفرلي عشرا قال المنذري رواه الطبراني ورواه محتج بهم في الصحیح اهـ قلت وبمعناه عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده مرفوعا بلفظ من سبح الله مائة بالغداة ومائة بالعشي کان کمن حج مائة حجة الحدیث وجعل فیه التحمید کمن حمل علی مائة فرس والتهلیل کمن اعتق مائة رقبة من ولد اسمعیل ذکره في المشکوة بروایة الترمذي وقال حسن غریب .

کوم څوک چي د ذکر مجلس ته د بل کار لپاره ورسي هغه هم بخښل کیږي

١٤). عن ابي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ان لله ملائكة يطوفون في الطرق يلتمسون اهل الذكر فاذاوجدوا قومايذكرون الله تنادوا هلموا الي حاجتكم فيحفونهم باجنحتهم الي السماء فاذاتفرقوا عرجوا وصعدوا الي السمآء فيسئلهم ربهم وهو يعلم من اين جئتم فيقولون جئنامن عند عبادلك يسبحونك ويكبرونك ويحمدونك فيقول هل رَاَوْنِي فيقولون لا فيقول كيف لو رَاوني فيقولون لورَاَوْكَ كانو اشدلك عبادة و اشد تمجيدا واكثرلك تسبيحا فيقول فما يسئلون فيقولون يسئلونك الجنة فيقول وهل رَاَوْها فيقولون لا فيقول فكيف لورَاَوْها فيقولون لو انهم رَاَوْهاكانوا اشد عليها حرصا واشدلها طلبا واعظم فيها رغبة قال فمم يتعوذون فيقولون

ژباړه: د رسول اکرم ﷺ ارشاد مبارک دی چي د فرښتو یو ډله ده چي په لارو او کوڅو کښي ګرځي او په کوم ځای کښي چي د الله ﷻ ذکر کوونکي په نظر ورسي نو دوی په خپلو منځو کي یو او بل سره راوبولي او سره راغونډي سي او د ذکر کوونکو چار چاپیره تراسمانه پوري سره جمعه سي کله چي دغه مجلس پای ته ورسیږي (سر پر سر) سره تیتولي سي نو دوی اسمان ته ولاړ سي او الله ﷻ له دوی څخه سره لدې چي په هر څه خبر دی بیا هم پوښتنه کوي چي تاسو له کومه ځایه راغلاست؟ دوی ورته وایي چي ستا دبندګانو له فلانی ډلي څخه راغلي یو چي ستا په تسبیح، حمد او تکبیر ویلو باندي بوخت وه. دوی ته (د الله جل جلاله له خوا) وویل سي چي ایا دغه خلګو زه لیدلی یم؟ دوی ورته وایي چي یا نه یي وې لیدلی بیا ورته وویل سي چي کچیري ما ویني نو څه حال به یې وي؟ دوی ورته وایي چي کچیري تا ویني نو نور به هم ستا په عبادت کښي اخته سي او تر دې به نور هم زیات ستا په تسبیح او حمد کښي لګیا سي، بیا ورته وویل سي چي هغوی څه غوښتل؟ دوی ورته وایي چي جنت یې غوښتی، بیا وویل سي چي ایا هغوی لیدلي دی؟ دوی ورته وایي چي یا جنت یې نه دی لیدلی، بیا وویل سي چي که یې چیري ولیدی نو څه به پیښ سي؟ دوی ورته وایي چي تر دې به نور ډیر هم په ښه هیلو او امیدونو سره د هغه په لاسته راوړنه لګیا سي، بیا ورته وویل سي چي له کوم شی څخه یې د ژغورلو غوښتنه کول. دوی ورته وایي چي له دوږخ څخه یې د ژغورلو غوښتنه کول. بیا وویل سي چي ایا هغوی دوږخ لیدلی دی؟

يتعوذون من النار فيقول وهل رآوها فيقولون لا فيقول فكيف لو رآوها فيقولون لو انهم رواها كانوا اشد منها فرار واشدلها مخافة فيقول اشهدكم اني قد غفرت لهم فيقول ملک من الملائکه فلان ليس منهم انماجآء لحاجة قال هم القوم لا يشقي بهم جليسهم (۲۸۵)

دوی ورته ووايي چي يا نه يې دی ليدلی. بيا وويل سي چي که يې چيري وليدی نو څه به پېښېږي؟ دوی ورته ووايي چي نور به هم تر دې زيات له هغه څخه د تيښتي او ژغورني هڅي وکړي. نو بيا الله ﷻ ورته ووايي چي ښه ! تاسو شاهداني (اوسی چي ما ددې مجلس ګډونوال ټول وبخښل، يوه فرښته ووايي چي اې الله ﷻ ! فلانی نفر دغه مجلس ته په ناڅاپي توګه د کومي اړتيا لپاره راغلی او ددې مجلس بنسټيز غړی نه وو. الله ﷻ ورته ووايي چي دا ډله او جماعت داسي مبارک اومنور دی چي په کښي ناست کسان هم له دې څخه نه محرومه کيږي

فايده: دې ته ورته مضمون په ګڼو حديثونو کښي راغلی دی چي د فرښتو يو ډله د ذکر په مجلسونو او د ذکر کوونکو په ډلو پسي تلاښ کوي. او په کوم ځای کښي چي يې پيدا کړي، هم هلته ورسره کښيني او دهغوی ذکر اوري ، لکه داول باب په اتمه شمېره حديث کښي چي دا مضمون تير سو (او هلته دا هم ويل سوي وه چي الله ﷻ دويار اوفخر په توګه له فرښتو څخه دهغوی په هکله پوښتنه کوي . د فرښتو دا وينا چي په مجلس کښي داسي څوک هم و چي د خپلي اړتيا لپاره راغلی و ددې ښکارندوی دئ چي دغه وخت ددوی پر حالت د ملائکو له شاهدي ورکولو څخه دئ او ددغه خلګو د عبادت او دالله ﷻ په ذکر کښي دبوختيا شاهدي ورکوي له همدي کبله د هغه د ښکاره کولو اړتيا وليدل سوه چي هسي نه اعتراض وسي) خو دا د ذاکرينو برکت او نيکمرغي ده چي له هغوی سره دا اړتيا لپاره ناست کسان هم دا الله ﷻ له مغفرت څخه نه بې برخي کيږي ، د الله ﷻ ارشاد دی :

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَكُونُوا۟ مَعَ ٱلصَّـٰدِقِينَ ﴿١١٩﴾ (۲۸۶)

ژباړه: اې مسلمانانو ! له الله ﷻ څخه ووېرېږي او له رېښتينو خلګو سره واوسی .

د صوفيانو يوه وينا ده چي له الله ﷻ سره و اوسئ او کچيري دا نسوه کېدای نو بيا له هغو خلګو سره چي له الله ﷻ سره اوسي واوسئ ، له الله ﷻ سره د اوسېدو مطلب دادئ : لکه څرنګه چي په صحيح بخاري کښي رسول اکرم ﷺ په حديث قدسي کښي وايي : الله ﷻ فرمايي

---

(۲۸۵) رواه البخاري ومسلم والبيهقي في الاسماء والصفات كذا في الدر والمشكوة

(۲۸۶) سورة توبة الاية (۱۱۹)

چي يو بنده د نفلو په کولو سره ماته په نژدېوالي کښي پر مختګ کوي تر داسي حده چي زه يې خپل محبوب جوړ کړم او کله چي مي محبوب کړی نوزه د هغه غوږ جوړ سم چي په هغه سره اورېدل کوي . د هغه سترګه جوړه سم چي په هغه سره ليدل کوي ، د هغه لاس جوړ سم چي په هغه سره نيول کوي . د هغه پښه جوړه سم چي پر هغه باندي ګرځي بيا چي له ما څخه هر څه غواړي ، هغه ورکوم . دلاس او پښو جوړېدو مطلب دادی چي د هغه هر يو کار دالله ﷻ د رضا او محبت لپاره کيږي ، د هغه هيڅ عمل دالله ﷻ له خوښي څخه بيل نه تر سره کيږي . د صوفيانو هغه حالات او واقعات چي د تاريخ په کتابو کي ډير راغلي ښه او با انصافه شاهدان دي . او دهغه دومره ډير دي چي ورڅخه دمخ اړولو يوه لار هم نسته په دي هکله يوه ټولګه د ((نزهه البساتين)) په نامه ډير شهرت لري چي له هغه څخه ددغه ته ورته حالاتو معلومات ښه کيږي.

شيخ ابوبکر کتاني رحمة الله عليه وايي چي يو وخت دحج پر موقع په مکه مکرمه کي څو صوفيان راټول سوي وه چي په دوی کښي تر ټولو کشر حضرت جنيد بغدادي رحمة الله عليه و دوی پر محبت الهي باندي خبري اتري پيل کړي ، او وې ويل چي محب (يعني د الله ﷻ سره مينه کوونکی) څوک دی؟ مختلفو حضراتو بيلي بيلي نظريې راوړاندي کړي خو حضرت جنيد بغدادي رحمة الله عليه چوپ و دې حضراتو هغه ته وويل چي ته هم څه پکښي ووايه په دې وخت کښي هغه سر کښته کړی او په ژړا سره يې وويل چي عاشق هغه دی چي ځانځاني (غرور او تکبر) تري ليري سوي وي . دالله ﷻ له ذکر سره تل مل وي او حق يې ورادا کوي. په زړه سره دالله ﷻ لوري ته ګوري . زړه يې دهيبت انوارو سوځلی وي . دالله ﷻ ذکر يې د شرابو پياله وي چي خبري کوي نو دالله ﷻ خبري کوي . ته چي وايه الله ﷻ پخپله دهغه په ژبه خبري کوي ، که خوځښت او که ارام کوي ، دالله ﷻ په حکم سره وي اوکله چي دا حالات شتون ومومي نو بيا خوړل ، څښل ، ويريدل ، راويښيدل او د ژوندانه ټول کاروبار دالله ﷻ درضا لپاره سي. نه يې ددنيا رسم ورواج ته پام وي او نه ورته دخلګو پيغور او ملامتيا په ورته څه ارزي . حضرت سعيد بن المسيب رحمة الله عليه يو مشهور تابعي دی او له لويو محدثينو څخه شميرل کيږي . يو تن چي عبدالله بن ابي وداعة رحمة الله عليه نوميده ډير حاضريدی . يوځل څوورځي پرله پسي رانه غلی او څوورځي وروسته چي بيا راغلی . نو حضرت سعيد رحمة الله عليه پوښتنه ځني وکړه چي چيري وي ؟ ده ورته وويل چي زما ميرمن مړه سوې وه، له همدې امله زه په کارو اخته سوم . بيايې ورته وويل چي زه دي خبر نه کړم ، زه به هم په جنازه کښي درسره يو ځای سوی وای . څو شيبې وروسته عبدالله بن ابي وداعة رحمة الله عليه ولاړسو تر څو ولاړ سي سعيد بن مسيب رحمة الله عليه

ترې پوښتنه وکړه چې بله نکاح دې کړې ده ؟ده ورته وویل چې حضرت ! زما سره به څوک نکاح وکړي . زما ټول توان دوه یادرې آنې دی (یعني پنځلس هندی پیسې اود هندیوه روپې سل پیسې ده) . ده راته وویل چې زه به یې دروکړم . تر دې وروسته یې خطبه وویل او د خپلې لور نکاح یې ورسره په معمولي مهر (و لور) اتو ۸ یا لسو ۱۰ انو سره وتړل (ممکن په دومره مهر سره به دده په آند نکاح روا وه. خو د حنفیانو په آند تر دوه نیمو روپو په کمه اندازه روا نه ده) تر نکاح وروسته ولاړ سوم او اللهﷻ ته معلومه وه چې زه څومره خوشحاله وم، په همدې خوشحالي کي مي سوچ کاوه چې دواده د انتظام لپاره له یو چا څخه پیسې پور کړم یا کوم بل څه وکړم چې په دې سوچ کي رابانديي ماښام سو ، زما روژه وه ، دماښام پر وخت مي روژه ماته کړه او تر لمانځه وروسته کور ته راغلم ، څراغ مي ولګاوه ، په کور کي ډوډۍ او دزیتون تیل وه . دهغه په خوړلو مي پیل وکړی چې دروازه وټکیده ، ماپوښتنه ځني وکړه چې څوک یې؟ هغه وویل سعید یم ، په فکر کي ډوب سوم چې دا نو کوم سعید دی؟ د حضرت صاحب خواته مي هیڅ فکر نه تلی . ځکه چې د څلوېښتو کالو راهیسې له خپل کور اوجومات پرته بل هیڅ ځای ته نه وتللی دباندي چې راووتلم ومي لیدل چې حضرت سعید بن المسیب رحمة الله علیه دی . ماورته وویل چې ولي دې زه هلته نه درغوښتم ؟ ده وویل چې زما راتګ مناسب و . ما ورته وویل چې څه خبره وه؟ ده راته وویل چې ماته دا فکر راپیدا سو چې اوس خو ستا نکاح تړل سوي ده نو یوازې شپه تېرول مناسب کار نه دی نو له همدې کبله مي خپله لور راوستل ، تر دې وینا وروسته یې خپله لور دروازې ته وردننه کړه ، دروازه یې بنده کړه او ولاړی ، هغه نجلۍ له شرمه نه پریوتله ، ما ددننې له خوا دروازه وتړل . او هغه ډوډۍ او تیل چې د څراغ مخې ته پراته وه له هغه ځایه مي ایسته کړه چې وه یې نه ویني او د خونې و بام ته پورته سوم او خپلو ګاونډیانو ته مي رږغ وروکړی ، خلګ سره راټول سول نو ماورته وویل چې حضرت سعید رحمة الله علیه د خپلې لور نکاح له ماسره وتړله او اوس یې خپله راوستل ، ټول خلګ حیران سول او وې ویل چې رښتیا هغه ستا په کور کي ده ؟ ماوویل : هو ! خلګ بیخي حیران سول دغه وخت زما مور هم خبره سوه او راغله وې ویل چې که چیري ته تر درو ورځو راپدې خوا دې ته ورنږدې سوي نو بیا به ستاسره هیڅ ونه وینم ، موږ په دادرو ورځو کي د هغې لپاره تیاري نیسو تر درو ورځو وروسته چې زه له هغې نجلۍ سره یو ځای سوم نو ومي لیده چې ډیره ښائسته او دقرآن شریف حافظه وه، د رسول اکرم ﷺ په سنتو باندي ښه سمباله او دمیړه په حقونو ښه خبره وه. تر یوې میاشتي پوري نه حضرت سعید رحمة الله علیه زموږ کره راغلی او نه زه د هغه په چوپړ کي حاضر سوم ، تر یوې میاشتي وروسته زه هلته

ورغلم، چي و مې ليدل ګڼه ګونه بيخي زياته وه نو سلام مي ووايه او کښيناستم ، هر کله چي ټوله خلک ولاړل نو يې راته وويل چي هغه انسان څنګه و؟ ما ورته وويل چي ډير ښه دی چي دوست يې ووينې پرې خوشاله سي او چي دښمن يې ووينې نو پرې سوځي . ده وويل چي که کومه د ناخوښۍ خبره پکښې وه نو د لرګي په مټ يې سموه . زه چي بيرته څنې راغلم نو يو سړی يې راپسې راوليږه چي شل زره درهمه يې راته راکړې (يعني تقريبا پنځه زره ۵۰۰۰ هندۍ کالداري چي دمؤلف په وخت کي کېدې او اوس بيخي زياتې کيږي) دغه نجلۍ عبدالمالک بن مروان پاچا د خپل زوی وليد لپاره چي دده وليعهد و غوښتې وه خو حضرت سعيد ﷺ ورته عذر کړی و چي له همدې کبله عبدالمالک ناراضه سو . او په يوه بهانه يې حضرت سعيد رحمة الله عليه سل چلاخې په سختې يخنۍ کي وهلی و او داوبو يو منګۍ يې پرې چپه کړی و .

څوک چي سبحان ... ووايي پر هرحرف باندي الله ﷻ لس نيکۍ ورکوي

۱۵). عن ابن عمر رضي الله عنه قال سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول من قال سبحان الله والحمدلله ولا اله الا الله والله اكبر كتبت له بكل حرف عشر حسنات ومن اعان على خصومة باطل لم يزل في سخط الله حتي ينزع ومن حالت شفاعته دون حد من حدودالله فقدضاد الله في امره ومن بهت مؤمنا او مؤمنة حبسه الله في ردغة الخبال يوم القيمة حتي يخرج مما قال وليس بخارج (۲۸۷)

ژباړه : درسول اکرم ﷺ ارشاد دی چي څوک سبحان الله ، الحمدلله ، لا اله الا الله ، الله اکبر ووايي . دهريوه توري په بدله کي به ورته لس نيکۍ وليکل سي او کوم څوک چي په کومه جګړه کي د ناحقه تن پلوي کوي هغه تر هغو پوري چي توبه ونه باسي دالله ﷻ په غصه کښې به اوسي . او څوک چي دالله ﷻ په کومه سزا کښې سپارښت کوي (او دشرعي سزا ورکولو منع کوونکي سي) هغه دالله ﷻ سره مقابله کوي . او څوک چي پر کوم مسلمان نارينه يا مسلماني ښځي باندي تهمت وايي . هغه به دقيامت په ورځ په ردغة الخبال کښې تر هغه پوري بندي کړل سي چي له همغه تهمته څخه وځي او دی هيڅکله له نو موړي تهمت څخه وتونکي نه دی .

(۲۸۷) رواه الطبراني في الكبير والاوسط ورجالهما رجال الصحيح كذافي مجمع الزوائد قلت اخرجه ابو داود بدون ذكر تسبيح فيه

فایده : د ناحقو پلوي کول نن سبا زموږ عادت او طبیعت ګرځیدلی دی په یوشي کي موږ ښه پوهیږو چي پر غلطه روان یو خو د خپلوانو پلوي او د قوم غوښتنه ده چي له امله یې په سلګونو زره ځله د الله ﷻ په غصه کښي داخل سو. الله ﷻ را څخه ناراضه او په غصه وي خو د قام او قبیلې د خبري په مقابل کي هغه هیڅ بولو . موږ که دا ناحق کارکونکي (ترټلای) نسو نو چوپتیا خو باید غوره کړو . یا ! داهم نه کوو ، بلکي په هر ډول چي وي د هغه سره مرسته کوو. که کوم څوک راته ددې کار د نه کولو وړاندیز وکړي ، نو موږ یې مقابله کوو، که زموږ یو دوست غلا ، تیری ، یا عیاشي وکړي نو موږ پر هغه باندي خپل (ترحم او مهرباني) زیاتوو. او په هر ډول چي وي مرسته یې کوو ، ایا زموږ د ایمان بنسټ داسي دئ؟ ایا دینداري داسي ده ؟ په دغه سره موږ په اسلام باندي ویاړو یا خپل اسلام د نورو په وړاندي بدنامه کوو او د الله ﷻ په وړاندي خپله هم ځانونه خوار او ذلیله کوو.

په یو حدیث کښي راغلي دي چي کوم څوک د خپلوۍ او قومیت لپاره خلګ راوبولي یا د خپلوۍ په خاطر جنګیږي ، هغه زموږ له ډلي څخه نه دئ. په یو حدیث کښي راغلي دي چي له عصبیت (قومیت) څخه موخه داده چي په ظلم سره د خپل قوم مرسته کوي .

ردغة الخبال هغه خټه ده چي د دوزخیانو له وینو ،زوو (ژړو اوبو) او نورو څخه جوړه سوي ده.

څومره چټل او ربړوونکي ځای دی چي په هغه کښي داسي خلګ بندیان کیږي چي پر مسلمانانو باندي تهمت وایي . نن په دنیا کښي دا ډیره ساده بریښي د چا په هکله چي دي څه وغوښتل ، په ډاګه یې لکه د ماړه نس غوندي وایه . سبا به هر څه چي په خوله دي ویلي وي ثابتول در څخه غواړي. او ثبوت هم په داسي ډول چي په شریعت کښي اعتبار ولري د دنیا په څیرنه چي په چالاکۍ او دروا غو خبرو باندي مقابل لوري چوپ کړل سي . هغه وخت به په حقیقي سترګو درته څرګنده سي چي موږ څه ویلي وه او څه شي وختل . په یو حدیث کي راغلي دي چي بنده ځیني داسي خبري له ژبي (خولي) څخه راباسي چي پروایې نکوي خو د هغوی له کبله په دوزخ کي غورځول کیږي په یو حدیث کي راغلي دي چي بنده ځیني خبري یوازي او یوازي ددې لپاره چي خلګ ورباندي وخاندي کوي خو د هغې له امله به (په دوزخ کي) دومره لري وغورځول سي لکه اسمان چي له ځمکي څخه لیري دی . بیا یې وویل چي د ژبي تېروتل د پښو تر ښوییدو سخت دي په یو حدیث کښي راغلي دي چي که یو څوک بل په کومه ګناه سره شرمنده کوي نو هغه به پخپله تر مرګ د مخه په دغه ګناه باندي اخته سي . امام احمد رحمة الله علیه وایي چي په مخکني حدیث کي له یادي سوي ګناه څخه مراد هغه ګناه ده چي

ګنهګار توبه ځني ايستلي وي . حضرت ابو بکر صديق ﷺ په خپله ژبه ونيول او راوبه يې کښله او ويل به يې چې ستا له کبله موږ هلاکتونو او خطر ځايونو ته ورولويږو . حضرت ابن المنکدر رحمه الله چې يو مشهور محدث او تابعي دي د مړيني پر مهال په ژړا سو . يو چا پوښتنه ځني وکړه چې ولې ژاړې څه خبره ده . ده وويل چې ماته خو داسي کومه ګناه چې ما کړې وي ، معلومه نده خو پر دې ژاړم چې که داسي يوه خبره راڅخه سوي وي چې ما هغه معمولي بللې وي خو هغه د الله جل جلاله په وړاندي ډيره سخته وي.

که څوک لاندېنۍ دعا ووايي دمجلس ګناوي ورمعافيږي

۱۶). عن ابي برزة الاسلمي قال كان رسول الله ﷺ يقول بآخره اذا اراد ان يقوم من المجلس سبحانک اللهم وبحمدک اشهد ان لا اله الا الله انت استغفرک واتوب اليک فقال رجل يارسول الله انک لتقول قولا ما کنت تقوله فيما مضي قال کفارة لما يکون في المجلس (۲۸۸)

ژباړه : رسول اکرم ﷺ دژوند په وروستيو کي دا عادت ګرځولی و چې کله به له مجلس څخه ولاړېدی نو (سبحانک اللهم وبحمدک اشهد ان لا اله الا انت استغفرک واتوب اليک) به يې ويل . يو چا وويل چې اې دالله جل جلاله رسوله ﷺ ! ته اوس دا يوه دعا وايي چې پخوا به دې نه ويل (دا دڅه لپاره ده ؟) رسول اکرم ﷺ ورته وفرمايل چې دا دعا په مجلس کي د شته شيانو يوه کفاره (د بخښني يوه لاره) ده په يو بل روايت کي هم دا قصه راغلي ده چې په هغه کښې رسول اکرم ﷺ داسي ويلي دي چې دا کلمې په مجلس کي دشته شيانو لپاره کفاره ده چې حضرت جبرائيل عليه السلام ماته ښودلي دي.

فايده: له حضرت عائشي رضي الله عنها څخه هم داسي رانقل سوي دي چې کله به رسول اکرم ﷺ له مجلس څخه راولاړېدی نو دا به يې ويل : (سبحانک اللهم ربي وبحمدک لا اله الا انت استغفرک واتوب اليک) ماورته وويل چې تاسو دغه دعا ډيره ډيره واياست (په دې کي څه راز نغښتی دئ ؟) ده مبارک راته وويل چې که کوم څوک د مجلس په پای کي دغه ووايي نو په هغه مجلس کښې چې له ده څخه کومي نيمګړتياوي او غلطۍ سوي وي . ورمعاف کړل سي په مجلسونو کښې عموما بې ځايه او بيکاره خبري خامخا کيږي څومره لنډه دعا ده کچيري

(۲۸۸) رواه ابن ابي شيبه وابو داود والنسائي والحاکم وابن مردويه کذافي الدر وفيه ايضا براوية ابن ابي شيبه عن ابي العاليه بزيادة علمنيهن جبرائيل عليه السلام

څوک له دغو دوو دعا ګانو څخه هره یوه یې ولولي نو پر مجلس باندي له ورګول کیدونکي عذاب څخه به خلاصون پیدا کړي الله ﷻ عجیب ، عجیب اسانی راباندي لوروليدي،

۱۷).عن النعمان بن بشیر قال قال رسول الله ﷺ الذین یذکرون من جلال الله من تسبیحه و تحمیده و تکبیره وتهلیله یتعاطفن حول العرش لهن دوي کدوي النحل یذکرون بصاحبهن الایحب احدکم ان لایزال له عندالله شيء یذکر به (۲۸۹)

ژباړه: د رسول اکرم ﷺ ارشاد مبارک دی چي کوم څوک چي دالله ﷻ لویي بیانوي یعني (سبحان الله الحمد لله الله اکبر لا اله الا الله) وایي . نو داکلمې څلورسره طروفونو ته د ویونکو تذکره (ذکر) په کرار اواز سره کوي (د تورو مچیور د آواز په څیر) نو ایا په تاسو کي څوک دانه غواړي چي دالله ﷻ په وړاندي دي یو ذکر کوونکي موجود وي چي ستاسو لپاره د خیر ذکر کوي.

فایده : کوم خلګ چي حاکمانو ته ځان رسوي ، کرسۍ نشین بلل کیږي . تاسو له هغوی څخه پوښتنه وکړئ چي پاچا نه ، وزیر نه ، بلکي د کوم والي په وړاندي دده ستاینه او ذکر وسي نو له خوشالۍ څخه به په کالو کي نه ځاییږي ، دماغ به یې اسمان غوندي پورته ولاړسي ، حال دا چي په دې ستاینه او یاد کي نه دده کومه ددین ګټه سته او نه هم ددنیا ، ددین ګټه نه رسیدل خو ښکاره خبره ده او ددنیا لپاره ځکه ګټه نه وررسوي چي کېدای سي هغه ګټه چي له دغه یادونو اوستاینو څخه لاس ته ورځي دهغه تاوان په پرتله چي له دغسي مرتبې او ستایني څخه ورته حاصلیږي ، بیخي لږ وي . او تاوان یې ورباندي بې کچي ډیر وي. جایدادونه پکښي خرڅوي په سود باندي (پورونه اخلي نو هغه دداسي مرتبو په لاسته راوړلو کي ښې هڅي تر سره کولای سي. ددي تر څنګ مفته) دښمني پر سر اخلي او ډول ډول خوارۍ او ذلتونه پر ځان تیروي. ددې ښه بیلګه د ټاکنو (انتخاباتو) حالت د ټولو وړاندي پروت دئ چي کوم کوم کارونه پکښي کیږي ددې برخلاف دالله ﷻ په عرش کي تذکره (یادونه او ستاینه) د مالک الملک په وړاندي تذکره دهغه پاک ذات په وړاندي تذکره چي ددین او دنیا او ټولو جهانونو ټول شیان یې په واک کښي دي ، دهغه واک داره ذات په وړاندي تذکره چي د پاچاهانو زړونه یې په واک کښي دي.د حاکمانو اختیارات یې په اختیار کښي دي ، د ګټي او تاوان څښتن هغه دی که د ټولي نړۍ ټول انسانان که حاکم او که محکوم (امیر او که مامور) ، پاچا او که رعیت یو چا ته تاوان رسول وغواړي خو مالک

---

(۲۸۹) رواه احمد والحاکم وقال صحیح الاسناد قال الذهبي موسی بن سالم قال ابوحاتم منکر الحدیث ولفظ الحاکم کدوي النحل لقین لصاحبهن واخرجه بسند اخر وصححه علی شرط مسلم اقره علیه الذهبي وفیه کدوي النحل یذکرن بصاحبهن

الملک ذات يې ونه غواړي نو هيڅوک يې نسي ورسولای . که دا ټول خلګ يو چاته ګټه رسول وغواړي خو دهغه ذات خوښه نه وي نو داوبو څاڅکي به هم ورباندي ونه اورول سي. دداسي پاک ذات په وړاندي دخپل دخير دذکرپه لټه کي اوسئ . ددنيا کوم دولت ددې ذات مقابله کولای سي؟ ددنيا کوم عزت که بې اندازي هم لوي وي ددې سره سر وهلای سي؟، نه هيڅکله نه، ددې په مقابله کي که ددنيا کوم عزت تر دې لوړ وګڼل سي نو ايا دا پر خپل ځان باندي تيرى ندى.

۱۸). عن يسيرة وکانت من المهاجرات قالت قال لنا رسول اللهﷺ عليکن بالتسبيح والتهليل والتقديس واعقدن بالانامل فانهن مسؤلات مستنطقات ولاتغفلن فتنسين الرحمة (۲۹۰)

ژباړه: حضرت يسيرةرضي الله عنها چي يوه کډواله صحابيه ده وايي چي رسول اللهﷺ وفرمايل چي پر خپل ځان باندي تسبيح (سبحان الله ويل)، تهليل (لا اله الا الله ويل) اوتقديس (دالله ﷻ پاکي بيانول مثلا سبحان الملک القدوس يا سبوح قدوس ورب الملائکة والروح ويل) لازم کړه او پر ګوتو باندي يې شمېره ځکه دغه ګوتي دقيامت په ورځ پوښتل کيږي (او ځواب ورڅخه غواړي چي څه عمل دي وکړی؟ او دوی ته د خبرو توان ورکول کيږي) او دالله ﷻ ذکر شاته مه غورځوئ (که داسي وکړئ نو دالله ﷻ) له رحمته به بې برخي پاتي سئ.

فايده : په قيامت کي به د بنده له بدن ، لاس ، پښو او نورو څخه هم پوښتنه کيږي چي د بدن هري يوې برخي کوم کوم نيک او کوم کوم بد او ناروا کارونه کړي دي په قران کريم کي په ډيرو ځايونو کي دا خبره ياده سوي ده د بيلګي په توګه يو ځای الله جل جلاله فرمايي:

يَوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ أَلْسِنَتُهُمْ وَأَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٢٤﴾ (۲۹۱)

ژباړه : هغه ورځ چي د هغوئ ژبي ، لاسونه ، پښې ، ددوی پر ګناهونو چي دوی به کول له دوی څخه برخلاف شاهدي ورکړي . بل ځای فرمايي :

---

(۲۹۰) رواه الترمذي وابو داود کذا في المشکوه وفي المنهل اخرجه ايضا احمد والحاکم اه وقال الذهبي في تلخيصه صحيح وکذارقم له بالصحة في الجامع الصغير وبسط صاحب الاتحاف في تخريجه وقال عبدالله بن عمرو رايت رسول الله يعقد التسبيح رواه ابو داود و النسائي والترمذي وحسنه والحاکم کذا في الاتحاف وبسط في تخريجه ثم قال قال الحافظ معني العقد المذکور في الحديث احصاء العدد وهو اصطلاح العرب بوضع بعض الا نامل على بعض عقد انملة الاخري فالاحاد والعشرات باليمين والمئون والالاف با ليسار اهـ.

(۲۹۱) سورة النور الاية (۲۴).

وَيَوْمَ يُحْشَرُ أَعْدَآءُ ٱللَّهِ إِلَى ٱلنَّارِ فَهُمْ يُوزَعُونَ (۲۹۲)

ددې ایت مطلب په ځو ایاتو کې نغښتي دی چې ترجمه یې په دې ډول ده: هغه ورځ (دقیامت په ورځ) کښې چې دالله ﷻ دښمنان ددوږخ خوا ته راټول کړل سي. په یوه ځای کې به واچول سي او بیا به په ټولیزه توګه دوږخ ته نژدې راسي. نو دهغوی غوږونه، سترګې او دبدن پوستکي به یې پر دوي باندې شاهدي ورکوي (او دا به ځرګنده کړل سي چې زموږ په مرسته دغه خلګو دغه او دغه ګناوې کړې دي.) په دې وخت کې به دغه خلګ (په حیرانتیاسره) هغوی ته ووایي چې تاسو ولې زموږ ځخه برخلاف شاهدي ورکوی؟ (موږ خو په دنیا کښې ستاسو دخوند او راحت لپاره ګناوې کولې) هغوی به په ځواب کې ورته ووایي چې موږ ته هغه الله ﷻ دخبرو توان راکړی چې نورو شیانو ته یې هم ورکړی دی. لومړي ځل همغه ذات پیدا کړي یاست او اوس هم بیرته هغه ذات ته راغلي یاست. په حدیثونو کې ددغه ډول شاهدۍ ګڼې پیښې او قصې راغلي دي.

په یو حدیث کې راغلي دي چې د قیامت په ورځ به کافر سره لدې چې خپلې ګناوې او بدۍ پیژني، بیا به هم انکار وکړي چې ما ګنا نه ده کړې، هغه ته به وویل سي چې ستا خپل ګاونډیان پر تا باندې شاهدي ادا کوي. دی به ووایي چې دا خلګ ددښمنۍ له کبله درواغ وایي، بیا به ورته وویل سي چې ستا خپلوان پر دې باندې شاهدي ادا کوي دی به هغوي ته هم په درواغجنو سره ووایي. نو به دده د بدن غړي پر ده باندې شاهدان کړي. په یو حدیث کې راغلي دي چې تر ټولو مخکې به ورون پر دې باندې شاهدي ورکړي چې کوم کوم بدکارونه په هغه سره سوي دي. په یو حدیث کې راغلي دي چې پر پل صراط باندې وروستی تیریدونکی تن به داسې په غورځیدو راغورځیدو سره تیریږي لکه یو ماشوم چې دخپل پلار له خوا وهل کیږي او هغه کله دې خوا او کله ها خوا ته وریږیږي ځي. فرښتې به هغه ته ووایي چې ښه! که ته چیرې سیده ولاړ سي او پر پل صراط تیر سي نو ایا خپل ټول عملونه به راوښیې؟ هغه به داسې ژمنه وکړي چې زما دې دالله ﷻ په عزت باندې قسم وي چې ټول به په رینښتیني توګه دروښیم او هیڅ به هم نه پټوم. نو به ورته وویل سي چې ښه دی: نیغ ودریږه او روان سه هغه به په ډیرې اسانۍ سره پر پل صراط تیرسي او تر تیریدو وروسته به پوښتنه ځني وسي چې ښه! اوس یې نو راوښیه هغه به دا فکر وکړي چې کچیرې زه اقرار وکړم نو هسې نه چې بیرته شاته بوتلل سم. نو لدې کبله هغه په ښکاره توګه انکار وکړي چې ما هیڅ بد عمل

---

(۲۹۲) سورة حمٓ سجدة الاية (۱۹)

نه دي کړي. فرښتې به ووايي چې ښه دي . موږ شاهدان درته راولو نو دی به ها خوا او دې خوا ته وګوري چې هيڅوک نسته دا خيال به وکړي چې اوس به شاهد له کومه ځايه راولي ټوله هر يو خپلو ځايونو ته رسيدلي دي نو له دې کبله به ووايي چې هو! شاهد راوله نو دده د بدن غړو ته به امر وسي چې خبري وکړئ هغوی به خبري شروع کړي نو د مجبوری په خاطر به دی اقرار وکړي او وبه وايي چې ښشکه اوس لا هم ډيري هلاکونکي ګناوي پاته دي . نو ارشاد به وسي چې ځه ومو بخښلې .لنډه دا چې د پورتنيو دلائلو پر ښمن لازمه ده چې دانسان د بدن له غړو څخه نيک کارونه هم تر سره سي . ددې لپاره چې دواړه ډوله شاهدان ولرو. ځکه رسول اکرمﷺ په دغه پورتني حديث کي په ګوتو سره دشمېرلو امر فرمايلي دئ. له همدې کبله په يوبل حديث کي مسجد ته په ډير تلو راتلو سره حکم سوی دی چې د قدم ښبي به هم شاهدي ادا کوي.او ثواب به يې ليکل کيږي. څومره خوش بخته دی هغه څوک چي پر هغوی باندي د بديو شاهد هيڅوک هم نه وي چي يا خو يې ګناه هيڅ نه وي کړي او يا په توبه او نورو سره ورمعاف سوي وي. او پر نيکی باندي شاهدان يې په سلګونو او زرګونو وي. چي ددې تر ټولو آسانه طريقه داده چي کله کومه ګناه ځني وسي نو ژر يې په توبه سره خرابه کړي چي بيا هغه کالعدم سي (لکه هيڅ چي نه وه) . لکه ددوهم باب ، دريم فصل ۳۴ څلورديرشمه شمېره حديث لاندي چې تير سول او نيکی په عملنامو کښي پر خپل حال پاتي وي چي شاهدان هم لري او په کومو کومو اندامو چي يې نيک عملونه کړي وي هغه ټول شاهدي ورکوي. په ډيرو حديثونو کښي په خپله د رسول اکرمﷺ په ګوتو شمېرل په مختلفو الفاظو سره رانقل سوي دي . عبدالله بن عمر رضي الله عنه وايي چي رسول اکرمﷺ به په ګوتو باندي تسبيح شمېرلې. تر دې وروسته په پورتني حديث کي دالله جل جلاله له ذکر څخه په غفلت باندي دالله جل جلاله له رحمت څخه د بې برخي کېدو وعيد يعني سزا راغلې ده. له دې څخه معلوميږي چي هغه څوک چي دالله جل جلاله له ذکر څخه محرومه دی ، هغه دالله جل جلاله له رحمت څخه هم بې برخي دی.په قرآن کريم کښي ارشاد دی چي تاسو ما يادوئ ، زه به (په رحمت سره) تاسو يادوم الله جل جلاله د بنده ياد په خپل ياد پسې کړی دی. په قرآن کريم کي راغلي دي :

وَمَن يَعْشُ عَن ذِكْرِ ٱلرَّحْمَٰنِ نُقَيِّضْ لَهُۥ شَيْطَٰنًا فَهُوَ لَهُۥ قَرِينٌ ﴿٣٦﴾ وَإِنَّهُمْ لَيَصُدُّونَهُمْ

ژباړه : او څوک چي دالله جل جلاله له ذکر څخه (هر ډول ذکر چي وي ، که د قرآن کريم وي او که دکوم بل څه ، قصدا) ځان ړوند کړي ، موږ پر هغه باندي يو شيطان مقررو. نو هغه شيطان هر وخت له ده سره وي، او هغه شيطان له خپلو

عَنِ ٱلسَّبِيلِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ ﴿٣٧﴾ (۲۹۳)

ملګرو سره يو ځاي سي او په ټوليزه توګه هغه خلګ (چي دالله ﷻ له ذکر څخه رانده شوي وه، له سمي) لاري څخه ليري کوي او دا خلګ داګمان کوي چي دوی پرهدايت دي

په يو حديث کي راغلي دي چي له هر چا سره يو يو شيطان مقرر سوي دی او له کافر سره خو هر وخت په ټولو حالاتو کي شريک وي په خوراک، څښاک او ويده کېدو کښني هم ورسره وي. خو له مومن څخه يو څه لري اوسيږي او هر وخت په دې انتظار کښني وي چي دی کله لږ غاغله (او ددين له چارو څخه بې پروا) ووينې. نو ژر ورباندي يرغل کوي. په يو بل ځای کي الله ﷻ فرمايي:

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَٰلُكُمْ وَلَآ أَوْلَـٰدُكُمْ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَـٰسِرُونَ ﴿٩﴾ وَأَنفِقُوا۟ مِن مَّا رَزَقْنَـٰكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِىَ أَحَدَكُمُ ٱلْمَوْتُ فَيَقُولَ رَبِّ لَوْلَآ أَخَّرْتَنِىٓ إِلَىٰٓ أَجَلٍ قَرِيبٍ فَأَصَّدَّقَ وَأَكُن مِّنَ ٱلصَّـٰلِحِينَ وَلَن يُؤَخِّرَ ٱللَّهُ نَفْسًا إِذَا جَآءَ أَجَلُهَا ۚ وَٱللَّهُ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١١﴾ (۲۹۴)

ژباړه: اې مؤمنانو! تاسو دې ستاسو مالونه او اولادونه (او دغه رنګه نور شيان) دالله ﷻ له ياده څخه غافله نکړي. او کوم خلګ چي داسي وکړي، هم هغوي تاواني او نقصان والا دي. او موږ چي کوم څه (شتمني او دولت) درکړی دی له هغه څخه (دالله ﷻ په لاره کي) مخکښني تر دې لګښت وکړي چي په تاسو کښي وکوم چاته مرګ راسي او بيا (له مايوسۍ او ارمانه څخه) وايي چي اې زما پالونکي ربه! ماته دي ولي ځو ورځي نور مهلت رانه کړی چي ما خيرات کړی وای او په نيکو بنده ګانو کي شمېرل سوی وای او الله ﷻ هيچاته هم تر مرګ راتلو وروسته مهلت نه ورکوي او الله ﷻ ستاسو په عملونو باندي په بشپړه توګه خبر دی (که ښه کوئ او که بد همغسي پايله به يي وينئ)..

دالله ﷻ داسي بندګان هم سته چي هيڅ وخت نه غافله کيږي حضرت شبلي رحمة الله عليه وايي چي ما يو ليونی وليدی چي هلکانو په لوټو ويشتلی. ما هغوی ځني راوګرځول، هغه هلکانو وويل چي دا سړی وايي چي زه الله ﷻ وينم، زه دهغه ليوني خوا ته ورغلم نو هغه يو څه وويل

---

(۲۹۳) سورة زخرف الايتان (۳٦، ۳۷)

(۲۹۴) سورة المنافقون الايات (۹، ۱۰، ۱۱)

چې ما په غور سره واوريدل چې تا ډير ښه وکړل چې دا هلکان دې زما څخه وګرځول، ما ورته وويل چې دا هلکان پر تا باندې يو تهمت لګوي.

ده وويل چې څه وايي؟ ما ورته وويل چې دوی وايي چې ته د الله ﷻ دليدو دعوه کوي، وا چې يې واوريدل نو يوه چيغه يې تر خوله وخته او دا يې وويل چې شبلي! په هغه ذات مې دې قسم وي چې په خپل محبت کې يې ليونی کړی يم او وصال او فراق يې هوايي کړی يم چې که چيرې يوه شيبه هم هغه له ما څخه پټ سي (يعني له سترګو څخه مې پناسي) نو زه به يې د بيلوالي له غم او درده څخه ټوټې سم. دا يې وويل او مخ يې را څخه واړاوه دا شعر يې ووايه او بيا په څغاسته سو.

خيالک في عيني وذکرک في فمي * ومثواک في قلبي فاين تغيب

ژباړه: (ستا صورت او شکل زما په سترګو کښې دئ او ستا ذکر هر وخت زما پر ژبه روان وي. ستا ځای زما زړه دی، نو ته څنګه را څخه پټېدای سي).

حضرت جنيد بغدادي رحمة الله عليه چې کله وفات کېده نو يو چا ورته د (لا اله الا الله) کلمې تلقين ورکړی ده وويل چې ما خو هغه هيڅ وخت هم نه دی هېر کړی (يعني ته خو دا هغه چاته ور په ياد وه چې يو وخت غفلت څني سوی وي.) د حضرت ممشاد دينوري رحمة الله عليه د مړيني پر مهال د هغه سره د ناستو کسانو څخه يو چا داسې دعا ورته وکړه چې الله ﷻ دې تا ته د (جنت) فلانی او فلانی دولت او شتمني درکړي. ده وخندل او وې ويل چې د دېرشو کالو راهيسې جنت د خپل ټول ساز وسامان سره ما ته ښکاره کېده خو ما يو ځل هم (د الله ﷻ طرف ته له پام او فکر څخه پر ته) بلې خوا ته پام نه دی اړولی. حضرت رديم رحمة الله عليه ته د هغه د مړيني پر مهال يو چا د کلمې تلقين ورکړی ده وويل چې زه له هغې کلمې پرته بل هيڅ شي هم په همغسې ښه شان سره نه پيژنم. د احمد بن خضرويه رحمة الله عليه د مړيني پر مهال يو چا له هغه څخه د کومې خبرې پوښتنه وکړه. دده تر سترګو اوښکې وبهېدلې او وې ويل چې د (۹۵) کالو راهيسې يوه دروازه ټکوم، هغه اوس خلاصيږي ما ته څرګنده نه ده چې هغه به په نيکبختئ او که په بدبختئ سره خلاصيږي. ما ته دا وخت د خبرو فرصت له کومه و.

بې جوړې زيات ثواب لرونکي کلمې

۱۹). وعن جويرية ان النبيﷺ خرج من عندها بكرة حين صلي الصبح وهي في مسجاها ثم رجع بعد ان اضحى وهي جالسة قال مازلت على الحال التي فارقتک عليها قالت نعم قال النبيﷺ لقد قلت بعدک اربع كلمات ثلاث مرات لووزنت بما قلت منذاليوم لو زنتهن سبحان الله وبحمده عدد خلقه ورضا نفسه وزنة عرشه ومداد كلماته (۲۹۵)

ژباړه: دمؤمنانو مور حضرت جويريةرضي الله عنها روايت کوي چي رسول اللهﷺ د سهار د لمانځه په وخت ددې له کور څخه دلمانځه لپاره هغه وخت ووتی چي دا پر خپله مصلی باندي ناسته وه (په تسبيح ويلو باندي اخته وه) رسول اکرمﷺ چي د څاښت تر لمانځه وروسته (دغرمې وخوا ته) بېرته راغلی نو دا همغسي په خپل حال ناسته وه، رسول اکرمﷺ پوښتنه ځني وکړه چي ايا ته هم پر هغه حال يې پر کوم چي زه ستا څخه تللم او ته وې؟ دې ورته وويل چي بلي هو! رسول اکرمﷺ وويل چي زه ستا څخه ولاړم څلور کلمې مي درې ځله ويلي دي، که چيري هغه ستا د ټولو هغو کلمو په مقابله کي چي تاله سهاره څخه ويلي دي وتلل سي نو هغه به پر درنې سي هغه کلمې دادي:(سبحان الله وبحمده عدد خلقه ورضانفسه وزنة عرشه ومداد كلماته) يعني دا اللهﷻ تسبيح او دهغه حمد وايم په اندازه دهغه دمخلوقاتو د شمېرې او په اندازه دهغه دخوښۍ او خوشالۍ او په اندازه دهغه د عرش او په اندازه د کلمو دمقدار دهغه.

وعن سعد بن ابي وقاص انه دخل مع النبيﷺ على امراة وبين يديها نوى اوحصي تسبح به فقال الا اخبرک بما هو ايسر عليک من هذا او افضل سبحان الله عدد ما خلق في السماء وسبحان الله عدد ما خلق في الارض وسبحان الله

ژباړه: په يو بل حديث کي راغلي دي چي حضرت سعدرضي الله عنه درسول اکرمﷺ سره د يوې صحابيه ښځي کره ولاړی، دهغې مخي ته دخرما مندکي يا شګي پرتې وې چي پر هغه باندي يې تسبيح ويلې رسول اکرمﷺ ورته وفرمايل چي زه تاته داسي شي دروښيم چي تر دې آسانه وي (يعني په شګو سره تر شمېرلو اسانه وي) يا (يې داسي وفرمايل چي) تر دې ښه وي: سبحان الله عدد ما خلق ... تر پايه پوري، دا اللهﷻ پاکي بيانوم په اندازه دهغه مخلوق چي په اسمانونو کښي يې پيدا

---

(۲۹۵) رواه مسلم كذا في المشكوة قال القاري وكذا اصحاب السنن الاربعة وفي الباب عن صفية قالت دخل علي رسول اللهﷺ وبين يدي اربعة الاف نواة اصبح بهن الحديث اخرجه الحاكم وقال الذهبي صحيح

عدد ما بين ذلک وسبحان الله عدد ما هو خالق والله اكبر مثل ذالک والحمدلله مثل ذالک ولا اله الا الله مثل ذالک ولا حول ولا قوة الا بالله مثل ذالک (۲۹۶).

کړي دي او په اندازه دهغه مخلوق چي په مځکه کښي يې پيدا کړي دي او په اندازه دهغه مخلوق چي ددوی دواړو (يعني داسمان او ځمکي) تر منځ دئ او په اندازه دهغه (مخلوقاتو چي دئ يې پيدا کونکی دی او په همدغه ډول الله اکبر او په همدغه ډول الحمد لله او په همدغه ډول لا اله الا الله (او په همدغه ډول لا حول ولا قوه الا بالله ويل).

فايده : ملاعلي قاري رحمة الله عليه ليکلي دي چي په دغه ډول کيفيتو سره د تسبيح د بهتر والي مطلب دادی چي ددې الفاظو په ذکر کولو سره دانسان ذهن همغه کيفياتو او صفاتو ته متوجه سي. او دا ښکاره خبره ده چي څومره په ډېر سوچ ، غور او فکر سره ولوستل سي هغومره به ذکر افضل وي. له همدې کبله که قرآن کريم په ښه سوچ او غور سره ولوستل سي تر هغه تلاوت چي بېله غور او فکر څخه وسي هم ډير افضله او غوره دی او ځينو عالمانو ويلي دي چي ددې غوره والي له دې کبله دی چي په دې کي دالله ﷻ دحمد او ثنا له شمېرلو څخه دعاجزۍ ښکاره والي دی چي دا د عبديت کمال دی له همدې کبله ځيني صوفيان وايي چي ګناه خو بې حسابه او بې شماره کوې او دالله ﷻ نوم په شمېر اوحساب سره وايي . ددې خبري مطلب دانه دی چي شميرل نه دي پکار ځکه کچيري داسي وای نو بيا په حديثونو کښي ولي دومره ډير ځله په ځانګړي وختو کښي شمېر راښودی . سره لدې چي په ډيرو حديثونو کښي په ځانګړو اندازو باندي ځانګړي ژمني او وعدې فرمايل سوي دي بلکي ددې مطلب دادي چي يوازي پر شمېر باندي صبر کول نه دي پکار ، بلکي دهغو وظيفو تر پوره کولو چي د ځانګړي وختو لپاره ټاکلي سوي په نورو وختونو کښي هم څومره چي کولاي سي ، هغومره دالله ﷻ په ذکر کښي په بې ساري توګه اخته کيدل پکار دي . ځکه دا تر حساب وتلی لوی نعمت دی .له دغو حديثونو څخه دتسپو (تسبحوح)يعني په تار کښي پيپيل سوو دانو رواوالي ثابتيږي ، ځينو خلګو ورته بدعت ويلی دی چي دا خبره ناسمه ده ځکه ددغه کار لپاره اصل ثابت دی ځکه رسول اکرم ﷺ په شګو او خرما په مندکو سره شمېرل وليدل. او دهغه منع يې ونکړه نو بنسټ يې ثابت سو. په تار کښي د پيپيل سوو او نه پيپيل سوو دانو تر منځ هيڅ توپير نسته له همدې کبله يې ټول بزرګان او عالمان استعمالوي. مولانا

---

(۲۹۶) رواه ابو داود والترمذي وقال الترمذي حديث غريب كذا في المشكوة قال القاري وفي نسخة حسن غريب اهـ وفي المنهل اخرجه ايضا النسائي وابن ماجة وابن حبان والحاكم والترمذي وقال حسن غريب هذا الوجه اهـ قلت وصححه الذهبي

عبد الحي رحمة الله عليه يو ځانګړي ټولګه د نزهة الفکر په نامه په دې هکله ليکلې ده . ملا علي قاري رحمة الله عليه وايي چې دا حديث د تسپو د دود پېدلو او رواکيدلو په هکله درست دليل دی . ځکه چې رسول اکرم ﷺ په شګو او خرماندکو سره شمېرنه وليده او منع يې ځني ونکړه . همدا دليل سو . او په پيل سوو او ناپييل سوو . دانو کښې هيڅ فرق نسته له همدې کبله کوم خلګ چې دې ته بدعت وايي ، دهغو وينا د باور وړ او سمه نه ده . ويل کيږي چې د صوفيانو په اصطلاح کښې تسپو ته د شيطان کروړه وايي . د حضرت جنيد بغدادي رحمة الله عليه په لاس کښې يو چا په داسي وخت کښې تسپې وليدي چې د کمال درجې ته رسيدلی و نو له ده څخه يې د دغه تسپو په اړه پوښتنه وکړه ، ده ځواب ورکړ چې هغه شی چې موږ د هغه په مرسته الله ﷻ ته رسيدلي يو ، څنګه يې پرېږدو ، له ډيرو اصحابانو رضي الله عنهم څخه دا رانقل سوي دي چې له هغو سره به خرما ندکي يا شګي ورسره وي چې په هغوی سره به يې تسبيح شمېرلې د بيلګي په توګه دابو صفية په اړه راغلي دي چې هغه به په شګو سره شمېر کاوه . او د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه د خرما ندکو او شګو دواړو روايتونه راغلي دي، له حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه هم پر شګو باندي د تسبيحاتو ويل رانقل سوي دي . په مرقاة کي راغلي دي چې له حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه يو تار وهغه ته به يې غوټي ورکړي وي او په هغو سره به يې تسبيح شميرلي او په ابو داود شريف کښې راغلي دي چې له حضرت ابو هريرة رضي الله عنه سره يوه کڅوړه وه چې له شګو يا خرماندکو څخه به ډکه وه او په هغوی سره به يې تسبيح ويلي . او کله چې به تشه سوه نو يوه مينځه يې وه چې هغې به دا کڅوړه ډکه کړه او بيا به يې له ده سره کښېښودل . د تشېدو موخه او مطلب دادی چې هغه له کڅوړي څخه راايستلي او پر مځکه به يې اچولي او په دې توګه چې به کله هغه تشه سوه نو ټولي دانې به هغې مينځې راټولي کړې او همدغه کڅوړه به يې ځني ډکه کړه . د حضرت ابو الدرداء رضي الله عنه په هکله هم روايت سوی دی چې له ده سره په يوه کڅوړه کي خرماندکي وي د سهار لمونځ چې به يې وکړی . هغه کڅوړه به يې راواخيستله او کښېناستی به تر هغه وخته پوري به ناست و او تسبيح به يې ويلي چې هغه به تشه سوه . حضرت ابو صفية رضي الله عنه د رسول اکرم ﷺ مريی و دده په مخکي به يوه څرمن غوړېدلي وه پر هغې به شګي پرتې وي . او له سهاره تر غرمې (زواله) پوري به يې پر هغو باندي وظيفه کول . کله چې به غرمه (دزوال وخت) سو . نو هغه به پورته کړل سوه . دی به په خپلو کارونو بوخت سو . دماپښين تر لمانځه وروسته به بيا وغوړول سوه . او تر ماښامه پوري به يې وظيفه پرې کوله . د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه لمسی وايي چې له نيکه څخه مي يو تار و چې دوه زره غوټې يې درلودې ، تر هغو پوري چې يو ځل يې پر هغوي باندي تسبيح

ویلي نه وای،نه ویده کیدی . دحضرت امام حسین﷜ دلور حضرت بي بي فاطمې صغرى﷞ په هکله هم دا راغلي دي چي له هغې څخه داسي یو تار و چي غوټي يې ورکړی وې او پر هغوی به يې تسبیح ویلي . دصوفیانو په دود او رواج کښي دتسپو یو نوم مذکره (ورپه یادونکي) هم دی . ځکه کله چي دا په لاس کښي وي نو خامخا پر هغوی باندي ویل زړه غواړي. له همدي کبله ګویا دالله ﷻ دنوم وریادوونکي دي. په دې اړه پدېر حدیث کي هم راغلي دي حضرت علي﷜ يې نقل کوي چي رسول اکرم ﷺ وویل چي تسبیح څومره ښه مذکره (وریادونکي شي) دي . په دې اړه یو مسلسل حدیث حضرت مولانا عبدالحي صاحب رانقل کړی دی چي غورچاڼ يې پدې ډول دی چي له مولانا څخه نیولي بیا له هغه څخه تر پورته پوري هر یوه استاد خپل شاګرد تسپې او دهغوی د ویلو اجازه ورکړي ده په پاي کښي دحضرت جنید بغدادي رحمة الله علیه تر شاګرده پوري دالړی رسیږي. هغه وایي چي ما دخپل استاد حضرت جنید رحمة الله علیه په لاس کښي تسپې ولیدي . نو ما ورته وویل چي تاسو ددومره لوړي مرتبې دلرلو سره سره بیا هم تسپې په لاس کښي ساتی. هغه وویل چي ما د خپل استاد سري سقطي رحمة الله علیه په لاس کښي لیدلي وي له هغه څخه مي هم دا پوښتنه چي تا له ما څخه وکړه کړې وه . هغه وویل چي ماهم دخپل استاد حضرت معروف کرخي رحمة الله علیه په لاس کښي تسپې لیدلي وي نو مي همدغه پوښتنه ځني وکړه هغه ویلي وه چي ما دخپل استاد حضرت بشرحافي رحمة الله علیه په لاس کي لیدلي وي . نو همدغه پوښتنه یي ځني کړې وه .هغه وویل چي ما دخپل استاد حضرت عمر مکي رحمة الله علیه په لاس کي تسپې لیدلي وي نو همدغه پوښتنه يې ځني کړې وه هغه وویل چي ما دخپل استاد حسن بصري رحمة الله علیه (چي د چشتیه د ټولي سلسلې د بزرګانو مشر دئ) په لاس کي تسپې لیدلي وي نو ورته ومي ویل چي ستاسو ددې لوړ شان او لوړي مرتبې سره سره بیاهم تر اوسه پوري تسپې ستاسو په لاس کښي دي نو هغه راته وویل چي موږ د تصوف په پیل کښي له دې څخه کار اخیستي . او ددي په مرسته مو پرمختګ تر لاسه کړی و.نو دا مو زړه نه غواړي چي اوس يې په پاي کښي پریږدو. زه غواړم چي په خپل زړه ، لاس او ژبي سره او په هر ډول دالله ﷻ ذکر وکړم. (په محدثانه حیثیت په دغه مضمون کي کلام (خبري) دي).

د رسول الله ﷺ خپلې خوږې لور ته وصيت

۲۰). عن ابن اعبد قال قال علی رضی الله عنه الا احدثک عني وعن فاطمة رضی الله عنها بنت رسول الله ﷺ وکانت من احب اهله اليه قلت بلي قال انها جرت بالرحي حتى اثر في يدها واستقت بالقربة حتي اثر في نحر ها وکنست البيت حتي اغبرت ثيابها فاتي النبي ﷺ خدم فقلت لواتيت اباک فسئلته خادما فاتته فوجدت عنده حداثا فرجعت فاتاها من الغد فقال ماکان حاجتک فسکتت فقلت انا احدثک يارسول الله جرت بالرحي حتی اثرت في يديها وحملت بالقربة حتی اثرت في نحرها فلما ان جاءک الخدم امرتها ان تاتيک فتستخدمک خادما يقيها حرماهي فيه قال اتقي الله يا فاطمة وادي فريضة ربک واعمل عمل اهلک فااذا اخذت مضجعک فسبحي ثلث وثلاثين واحمدي ثلثا وثلاثين وکبري اربعا وثلاثين فتلک مائة فهي خير لک من خادم قالت رضيت عن الله وعن رسوله (اخرجه ابوداود) وفي الباب عن الفضل بن الحسن

ژباړه: حضرت علي رضی الله عنه خپل يو شاګرد ته وويل چي ايا زه تاته د خپل ځان او خپلي بي بي فاطمې رضی الله عنها په اړه چي د رسول اکرم ﷺ لور او د خپلي کورنۍ په ټولو غړو کي يې نازولې وه . قصه وکړم؟ هغه وويل چي هو ! وواياست . ده وفرمايل : چي هغې پخپله ميچن کوله چي د هغه له امله يې پر لاسو باندي تناکي راختلي وي. او پخپله به يې داوبو ژی ډک راوړه چي د هغه امله يې پر سينه باندي درسۍ نښې جوړې سوي وي . او په خپله به يې جارو واهه چي د هغه له امله به يې کالي خيرن وه. يو ځل د رسول اکرم ﷺ خدمت ته څو مينځاني او مريان راوستل سول. ما حضرت فاطمې رضی الله عنها ته وويل چي که ته چيري خپل پلار ته ورسې او يو خدمتګاره ځني وغواړې نو ښه به وي.دا هم ولاړه خود رسول ﷺ سره په مجلس کي ګڼه ګوڼه وه . نو بېرته راغله ، په دوهمه ورځ رسول اکرم ﷺ په خپله زموږ کره راغلی او وې ويل چي پرون په کوم کار پسي راغلي وې؟ دا چوپ سوه (له حيا څخه يې څه ونه ويل) نو ما ځواب ورکړی چي اې دالله جل جلاله دسوله ﷺ !په ميچنه باندي يې لاسونه پرې سوي دي دډک مشک په راوړلو يې سينه ژوبله کړې ده او جارو وهلو يې کالي ورخيرن کړي دي پرون وتاسو ته څو مينځياني او مريان راغلي وه نو ما دې ته وويل چي که خدمتګاره ځني وغواړې نو داستونزي به دي هواري سوي وي.رسول اکرم ﷺ وفرمايل : اې فاطمي! له الله جل جلاله څخه وويرېږه ! او دهغه فرضونه ادا کوه او د خپل کور کار کوه او چي کله ديدېدو لپاره پرېوتلې نو درو دېرش (۳۳) ځله سبحان الله ،درو دېرش (۳۳) ځله الحمد لله ، او څلوردېرش (۳۴) ځله الله

الضمري ان ام الحکم او ضباعة ابنتي الزبير بن عبدالمطلب حدثته عن احد اهما قالت صاب رسول اللهﷺ سبيا فذهبت انا واختي وفاطمة بنت رسول الله فشکونا اليه مانحن فيه وسئلناه ان يامرلنا بشيئ من السبي فقال رسول الله سبقکن يتامي بدر ولکن سادلکن علی ما هو خير لکن من ذلک تکبرن الله علي اثر کل صلوه ثلثا وثلاثين تکبيرة وثلثا وثلاثين تسبيحة وثلثا وثلاثين تحميدة ولا اله الا الله وحده لا شريک له له الملک وله الحمد وهو علی کل شيئ قدير (۲۹۷)

اکبر وايه . دا کلمې تر خدمتګار ډيري غوره دي . دې وويل چي زه د اللهﷻ (په تقدير) او د رسول اللهﷺ (په وړانديز) خوښه يم. په يو بل حديث کي درسول اکرمﷺ دعمة ددوو لوڼو قصه دې ته ورته راغلې ده. دوئ وايي چي موږه دوې خوندي او درسول اکرمﷺ نازولي لور بي بي فاطمهؓ درې سره رسول اکرمﷺ ته ورغلو او خپلي ستونزي او تکليفونه مو ورته بيان کړل او يو خدمتګار مو ځني وغوښتی.رسول اکرمﷺ وفرمايل چي د خدمتګار په ورکولو کښي خو د بدريتيمان تر تاسو لومړيتوب لري زه به تاسو ته تر خدمتګار غوره شي. (دروښيم ، تر هر لمانځه وروسته دادرې کلمې هر يوه درو ديرش ، درو ديرش ځله واياست: سبحان الله ، الحمدلله ، الله اکبر ، او يو ځل لا اله الا الله وحده لا شريک له له الملک وله الحمد وهو علی کل شيئ قدير واياست ، دا تر خدمتګار ډيري غوره دی.

فايده : رسول اکرمﷺ به په ځانګړي ډول دخپلوخلګو اوخپلو خپلوانو ته ددې تسبيحاتو حکم کاوه . په يو حديث کي راغلي دي چي رسول اکرمﷺ به خپلو بيبيانو ته داسي حکم کاوه چي تاسو کله دويده کيدو اراده وکړي نو سبحان الله ، الحمد لله ، الله اکبر هر يو درو ديرش (۳۳) ځله واياست. په پورتني حديث کي چي رسول اکرمﷺ ددنيا د ستونزو او تکليفونو په مقابل کي داتسبيحات وښودل . ددې ظاهر ي دليل خو ښکاره دی هغه داچي دمسلمان لپاره ددنيا ستونزي او تکليفونه دپام وړندي هغه ته تل آخرت او له مرګه په وروسته حالت کي دراحت او ارامتيا فکر لازم دي ځکه رسول اکرمﷺ ديو څو ورځو دژوندانه ستونزو او تکليفونو ته هيڅ پام ونکړی او د آخرت لپاره دراحت دسامانونو دزياتولو لور ته يې متوجه کړه.اوله دې تسبيحاتو څخه په آخرت کي بې کچي برياوي لاسته راوړنه له همدغه روايتونو څخه چي په دغه باب کي تير سوي ښخي ښکاره ده. پر دې سربيره دوهم دليل دا هم کيداى سي چي دغه تسبيحاتو ته اللهﷻ دا شرافت هم ورکړي وي چي ددينې او آخرتي ګټې

(۲۹۷) رواه ابوداؤد وفي الجامع الصغير برواية ابن منده عن حابس کان يامر نسائه اذا ارادت احداهن ان تنام ان تحمدالحديث ورقم له بالضعيف

تر څنګ دي دنياوي ګټي هم پکښي پرتي وي. د الله ﷻ او دهغه د رسول ﷺ په سپېڅلو کلامونو کښي ډېر داسي شيان سته دي چي له هغوی څخه پر آخرت سربېره د دنيا ګټي هم په لاس راتلای سي. لکه په يو حديث کي چي راغلي دي چي د دجال په زمانه کي به د مؤمنانو خوراک د فرښتو په څير وي يعني تسبيح او تقدس (سبحان الله او نور الفاظ ويل) څوک چي دا تسبيح وايي الله ﷻ به له هغه څخه دلوږي سختي لري کړي . له دې حديث څخه دا هم څرګنده سوه چي په دې دنيا کي بيله خوراک او څيښاک څخه د الله ﷻ په ذکر سره ژوند کول شوني (ممکن) دی . او د دجال په زمانه کي به عامو خلګو ته دا دولت حاصل وي. نو په اوس زمانه کي خاصو خلګو ته داسي حالت پيدا کيدل څه ستونزمن کار نه دی له همدې کبله دهغو خلګو څخه چي په معمولي خوراک يا بيله خوراکه يې څو څو ورځي تيري کړي وي ډېري قصې ځني رانقل سوي دي. ورڅخه مخ ګرځول يا ددرواغ بللو هيڅ تکي نسته . په يو حديث کي راغلي دي چي کله کوم ځای اور واخلي نو (تکبير (الله اکبر ډېر ډېر) وايا ست ځکه ، دا اور وژني په حصن حصين کي راغلي دي چي کله چاته په کوم کار کښي ستونزي او تکليفونه څرګندي سي يا دخپل زور او ځواک ډېرول غواړي نو دوېده کېدو پر مهال دي درو ديرش (۳۳) ځله سبحان الله ، درو ديرش ځله الحمدلله ، او څلورديرش (۳۴) ځله دي الله اکبر وايي . يا دي درې سره کلمي درو ديرش درو ديرش ځله ووايي . يا دي يو له دوی څخه څلور ديرش (۳۴) ځله ووايي . (دا چي په مختلفو حديثونو کي مختلفي شمېرې ښودل سوي دي نو ځکه مي ټول رانقل کړل) . حافظ ابن تيمية رحمه الله عليه هم له هغو حديثونو څخه چي رسول اکرم ﷺ پکښي حضرت فاطمې رضي الله عنها ته د خدمتګار په بدله کښي دا تسبيحات ښودلي وه. دا (مسئله) را ايستلې ده چي څوک دغه تسبيحات همېشه وايي هغو ته به په ستونزمنو کارونو کښي هيڅ ستومانتيا او تکليف نه رسيږي . حافظ ابن حجر رحمه الله عليه وايي چي چيري لږ ، معمولي تکليف ورته پيښ سو بيا به هم تاوان پکښي نه وي . ملا علي قاري رحمه الله عليه ويلي دي چي دا په تجربه سره جوته (ثابته) سوې ده چي ددغو تسبيحاتو ويل دوېده کيدو پر وخت باندي د ستومانی دليري کولو او طاقت زياتولو سبب ګرځي ، علامه سيوطي رحمه الله عليه په مرقاة الصعود کښي ليکلي دي چي پر خدمتګار باندي ددغو تسبيحاتو غوره والی دآخرت په اعتبار هم کېدای سي ، داسي چي په آخرت کي چي داتسبيحات څومره ګټور ، پکارېدونکي دي هغومره دا خدمتګار په دنيا کي پکارېدونکي او ګټور نه تماميږي . او ددنيا په اعتبار سره هم کيدای سي . داسي چي ددې تسبيحاتو له کبله به پر کار باندي دومره توان او همت ورکړل سي چي په خدمتګار باندي به هغومره کار نسي کولای . په يو حديث کي راغلي دي

چي دوه کارونه داسي دي چي که يې څوک تر سره کړي نو جنت ته به داخل سي. او هغه دواړه ډير اسانه دي خو کوونکي يې ډير لږ دي.

لومړي دا چي نو موړي تسبيحات لس لس ځله تر هر لمانځه وروسته وايي چي دا په ويښا کښي (۱۵۰) نيکۍ کيږي خو د اعمالو په تله کي به پنځلس (۱۵۰۰) سوه وي.

دوهم دا چي دويده کېدو پر مهال درو ديرش، درو ديرش ځله سبحان الله او الحمد لله او څلور ديرش ځله الله اکبر ووايي چي دا هم په ويښا کي سل ځله خو داعمالو په تله کښي (۱۰۰۰) کيږي. يو چا پوښتنه وکړه چي اې دالله جل جلاله رسوله ﷺ! دا ولي ددې کار کوونکي لږ دي؟ رسول اکرم ﷺ ورته وويل چي د لمانځه پر مهال شيطان ورته راسي او وايي چي فلانی ضرورت او فلانی کار خو پاته دی. او کله چي دويدېدو وخت راسي نو شيطان يو ډول او بل ډول اړتياوي ورپه يادوي چي دهغه له امله د تسبيحاتو ويل ځني پاته سي (او هير يې سي) په دغو حديثو کي يوه ډيره دپام وړ خبره داهم ده چي حضرت فاطمة رضي الله عنها به مي د جنتي ښځو او بيبيانو سرداره او ددواړو جهانو د سردار لور ده. په خپل لاس سره په ميچن باندي اوړه کوي تر داسي اندازې چي پر لاسونو باندي يې تڼاکي راختلي وي او په خپله به يې داوبو لوښي ډکول او راوړله يې تر داسي اندازې چي پر سينه باندي يې د رسۍ نښي وي او په خپله به يې د کور جارو او نور ټول کارونه کول چي دهغه له امله به يې هر وخت کالي خيرن وه. اوړه به يې اخښل، ډوډۍ به يې پخول... لنډه دا چي ټوله کارونه به يې پخپله کول. نو ايا زموږ ميرمني او بيبياني دا ټول کارونه خو څه ددې نيمايي هم پخپله کوي؟ او که يې نه کوي نو څومره د غيرت خبره ده چي زموږ ښځي هغومره کارونه څه کوي بلکي دهغوي نيمايي کارونه هم نه کوي، او حال دا چي هغوی زموږ سرداران دي او موږ يې خادمان يو پکار داده چي دخادمانو کارونه تر سردارانو زيات وي او موږ په داسي حالت کي قرار لرو چي د سردارانو څوهمه برخه کارونه لا هم نه کوو داد افسوس ځای دی.

خاتــمه

په دې خاتمه کي يو ډير ارزښتمن او اړين شی ذکر کوم او په همدې سره دکتاب دا ټولګه پای ته رسوم. لکه د پورتني حديثونو څخه چي معلومه سوه دا تسبيحات چي پورته وويل سوه ډير اړين دي، په دين او دنيا کي په کاريدونکي او ډير ګټور دي. رسول اکرم ﷺ دهغوی دارزښت او غوره والي له کبله موږ په ځانګړي توګه لمانځه ته هم هڅولي يو چي د

صلوة التسبیح (د تسبیح لمونځ) په نامه سره مشهور دی او له همدې امله چي په هغه کښي دا تسبیحات درې سوه (۳۰۰) ځله ویل کیږي صلوة تسبیح ورته ویل کیږي.

رسول اکرمﷺ په پرلپسې توګه او خاصو هڅونو سره ددغه لمانځه تعلیم ورکړی دی. لکه چي په حدیث کښي راغلي دي.

صلوة تسبیح لمونځ

۱- عن ابن عباسؓ ان النبيﷺ قال للعباس بن عبدالمطلب یا عباس یا عماه الا اعطیک الا امنحک الا اخبرک الا افعل بک عشرخصال اذا انت فعلت ذالک غفرالله لک ذنبک اوله وآخره قدیمه وحدیثه خطاه وعمده صغیره وکبیره سره وعلانیته ان تصلي اربع رکعات تقرأُ في کل رکعة فاتحه الکتاب وسورة فاذافرغت من القراءة في اول رکعة وانت قائم قلت سبحان الله والحمدلله ولا اله الا الله والله اکبر خمس عشرة ثم ترکع فتقو لها وانت راکع عشرا ثم ترفع راسک من الرکوع فتقولها عشرا ثم تهوي ساجدا فتقو لها وانت ساجد عشرا ثم ترفع رَاسَک من السجود فتقولها عشرا ثم تسجد

ژباړه: رسول اکرمﷺ یو ځل خپل اکا حضرت عباسؓ ته وویل چي اې عباسه : اې زما اکا، ایا زه تاته یو سوغات درکړم، یو تحفه درکړم، ایا تا ته یو شی دروښیم ، ایا تا دلسو داسي شیانو مالک جوړ کړم چي که یې ته تر سره کړي نو اللهﷻ به ستا ټولي ګناوي ، لومړنۍ او ورستنۍ، زړي او نوي، په ناپامۍ سره دي کړي وي او که دي په قصدي توګه کړي وي، کوچنۍ وي او که لوی، په پټه دي کړي وي او که دي په ښکاره سره کړي ، ټولي به در معاف کړي هغه کار دادی چي څلور رکعته نفل (دصلوة تسبیح په نیت) وکړه. او په هر رکعت کښي کله چي الحمدلله او سورة ووایي نو له رکوع څخه مخکښي پنځلس ځله (سبحان الله والحمدلله ولا اله الا الله والله اکبر) ووایه، بیا چي رکوع ته ولاړسي نو په هغه کښي یې لس ځله ووایه بیا چي له رکوع څخه راپورته سوي او سیده ودرېدې نو، لس ځله یې ووایه. بیا چي سجدې ته ولاړې په هغه کښي یې هم لس ځله ووایه، بیا چي له سجدې څخه راپورته سوي. کښینستلې (په جلسه کښي یې)، لس ځله ووایه. بیا چي دوهمي سجدې ته ولاړ سي نو لس ځله یې په هغه کښي ووایه. بیا هم چي له دوهمي سجدې څخه راپورته سي نو (ددوهم رکعت لپاره) له دریدو څخه مخکي

فتقولها عشرا ثم ترفع رأسک فتقولها عشرا فذا لک خمس وسبعون في کل رکعه تفعل ذلک في اربع رکعات ان استطعت ان تصلها في کل یوم مرة فافعل فان لم تفعل ففي کل جمعة مرة فان لم تفعل ففي کل شهر مرة فان لم تفعل ففي کل سنة مرة فان لم تفعل ففي عمرک مرة (۲۹۸)

کښېنه، او په همدغه ناسته کي يې لس ځله ووايه، چي دا ټوله په يوه رکعت کي پنځه اويا (۷۵) ځله کېږي او په دې ډول په څلورو واړو رکعتونو کښي په ورته شکل سره پنځه اويا (۷۵) ځله پوره کړي، که د ي په توان او طاقت وه نو په يوه ورځ کي دا لمونځ يو ځل کوه. که دي نسواى کولاى نو په يوه اونۍ کي يې يو ځل کوه. که دي دا هم نسواى کولاى نو په هره مياشت کي يې يوځل کوه، که دي دا هم نسواي کولاى نو په هر کال کښي يې يو ځل کوه، او که دي دا هم نسواى کولاى نو په ټول عمر کښي خو يې يو ځل وکړه.

۲-. وعن ابي الجوزاء عن رجل کانت له صحبة یرون انه عبدالله بن عمرو قال قال لي النبيﷺ ائتني غدا احبوک واثیبک واعطیک حتي ظننت انه یعطي عطیة قال اذا زال النهار فقم فصل اربع رکعات فذکر نحوه وفیه وقال فانک لو کنت اعظم اهل الارض ذنبا غفر لک بذالک قال قلت فان لم استطع ان اصلیها تلک الساعة قال صلها من اللیل والنهار.(۲۹۹)

ژباړه: يو اصحابي وايي چي ماته رسول اکرمﷺ وويل چي سبا سهار ته راسه، تاته به يو سوغات درکړم، يو شي به درکړم او يو تحفه به درکړم، هغه صحابي وايي چي ما له دغه الفاظو څخه دا وګڼل چي يو شي به راکوي (کله چي راغلم نو راته وې ويل) چي کله د غرمې لمر تر سر واوړي نو څلور رکعته لمونځ وکړه دا يي په هغه طريقه وښودل چي په مخکي حديث کي تيره سوه. او دايې هم ورته وويل چي که ته د ټولي دنيا تر خلکو هم ډېر ګناهګار يي نو ستا ګناوي به درو بخښل سي. ما ورته وويل چي که يې چيري زه په دغه وخت کي د کومي اړتيا له امله ونه کړاى سم نو ده راته وويل چي که شپه وي او که ورځ، هر وخت چي يې

(۲۹۸) رواه ابو داود وابن ماجة والبيهقي في الدعوات الکبیر وروي الترمذي عن ابي رافع نحوه کذا في المشکوة قلت واخرجه الحاکم وقال هذا حدیث وصله موسی بن عبدالعزیز عن الحکم بن ابان وقد اخرجه ابوبکر محمد بن اسحاق وابوداود وابوعبدالرحمن احمد بن شعیب في الصحیح ثم قال بعد ما ذکر توثیق رواته واما ارسال ابراهیم بن الحکم عن ابیه فلا یوهن وصل الحدیث فان الزیادة من الثقة اولی من الارسال علی ان امام عصره في الحدیث اسحاق بن ابراهیم الحنظلي قد اقام هذا الاسناد عن ابراهیم بن الحکم ووصله اهـ قال السیوطی في اللالي هذا الاسناد حسن وما قال الحکم اخرجه النسائي في کتابه الصحیح لم نره في الشیئ من نسخ السنن الا الصغري ولا الکبري.

(۲۹۹) رواه ابوداود

کولای سي ، کوه يي.

۳-. عن نافع بن عمر رضي الله عنه قال وجه رسول الله ﷺ جعفر بن ابي طالب الي بلاد الحبشة فلما قدم اعتنقه وقبله بين عينيه ثم قال الا اهب لک الا ابشرک الا امنحک اتحفک قال نعم يا رسول الله قال تصلي اربع رکعات فذکره نحوه(۳۰۰)

ژباړه : رسول اکرم ﷺ خپل د اکا زوی حضرت جعفر طيار رضي الله عنه ، حبشې ته ليږلی وکله چي هغه له نوموړې ځای څخه راورسېدی. نو رسول اکرم ﷺ ورسره غاړه په غاړه سو او پر تندی يې مچ کړی، او بيا يې ورته وويل چي ايا زه تاته يو شی درکړم، يو زيري درباندي وکړم ، يو بخشش درته وکړم. او يو سوغات درته درکړم، هغه ورته وويل چي هو ! اې دالله جل جلاله رسوله ﷺ! رسول اکرم ﷺ ورته وويل چي څلور رکعته لمونځ وکړه ، دايې هم په هغه طريقه سره چي مخکښي تيره سوه وروښوده . په دغه حديث کي پر دغه څلورو کلمو سربېره(لاحول ولا قوة الا بالله العظيم) هم راغلي دی.

٤-. وعن العباس بن عبدالمطلب قال قال رسول الله ﷺ الا اهب لک الا اعطيک لک الا امنحک فظننت انه يعطني من الدنيا شيئا لم يعطه احدا من قبلي قال اربع رکعات (۳۰۱)

ژباړه: حضرت عباس رضي الله عنه وايي چي ماته رسول اکرم ﷺ وويل چي زه وتاته بخشش وکړم؟ يو سوغات درکړم؟ يو شی به درکړم ما دا ګمان وکړی چي له دنياوي شيانو څخه کوم داسي شی راکوي چي تر ما مخکښي يې چاته نه دی ورکړي (نو له دې کبله د ، بخشش ، سوغات او دې ته ورته نور الفاظ په څو ځليزه توګه وايي). بيا رسول اکرم ﷺ څلور رکعته هغسي لمونځ چي مخکي تېر سو راوښودی خو په دغه حديث کښي يې دا هم وفرمايل چي کله کښيني نو لومړي دا تسبيحات وايه اوبيا التحيات وايه

(۳۰۰) اخرجه الحاکم وقال اسناد صحيح لا غبار عليه وتعقبه الذهبي بان احمد بن داود کذبه الدار قطني کذا في المنهل وکذا قال غيره تبعاللحافظ لکن في النسخة التي بايدينا من المستدرک وقد صحت الرواية عن ابن عمر ان رسول الله علم ابن عمه جعفرا ثم ذکر الحديث بسنده وقال في اخره هذا اسناد صحيح لا غبار عليه وهکذا قال الذهبي في اول الحديث واخره ثم لا يذهب عليک ان في هذا الحديث زيادة لا حول ولا قوه الا بالله العظيم ايضا علي الکلمات الاربع

(۳۰۱) فذکر الحديث وفي اخره غير انک اذا جسلت للتشهد قلت ذلک عشر مرات قبل اتشهد الحديث اخرجه الدار قطني في الافراد وابو نعيم في القربان وابن شاهين في الترغيب کذافي اتحاف السادة شرح الاحياء

۵-. قال الترمذي وقدروي ابن المبارک وغير واحد من اهل العلم صلوة التسبيح و ذکر والفضل فيه حدثنا احمد بن عبدة نا ابووهب سئلت عبدالله بن المبارک عن الصلوة التي يسبح فيها قال يکبر ثم يقول سبحانک اللهم وبحمدک وتبارک اسمک وتعالى جدک ولا اله غيرک ثم يقول خمس عشرة مرة سبحان الله والحمدلله ولا اله الا الله والله اكبر ثم يتعوذ ويقرأ بسم الله الرحمن الرحيم وفاتحة الكتاب وسورة ثم يقول عشر مرات سبحان الله والحمدلله ولا اله الا الله والله اكبر ثم يركع فيقولها عشرا ثم يرفع رأسه فيقولها عشرا ثم يسجد فيقولها عشرا ثم يرفع رأسه فيقولها عشرا ثم يسجد الثانية فيقولها عشرا يصلى اربع رکعات على هذا فذلک خمس وسبعون تسبيحة في کل رکعة ثم قال قال ابووهب اخبرني عبدالعزيز عن عبدالله انه قال يبدا في الرکوع بسبحان ربي العظيم وفي السجدة بسبحان ربي الاعلى ثلثا ثم يسبح التسبيحات .(۳۰۲)

ژباړه: له حضرت عبدالله بن مبارک او ډيرو نورو عالمانو څخه ددې لمانځه فضيلت رانقل سوی دی چي ددې طريقه بيا په دې ډول ده: چي تر (سبحانک اللهم) وروسته او تر (الحمدلله) مخکښي دغه کلمې (سبحان الله والحمدلله ولا اله الا الله والله اکبر) ووايه . بيا (اعوذ بالله) او (بسم الله) بيا (الحمدلله) او بيا يو سورة ووايه . تر سورة وروسته او له رکوع څخه مخکي يې لس ځله ووايه ، بيا يې په رکوع لس ځله ووايه. بيا چي له رکوع څخه راپورته سي (په قومه کښي) لس ځله يې ووايه . بيا يې په دواړو سجدو او په (جلسه) کښي لس لس ځله ووايه . او په دې توګه څلور واړه رکعتونه پدغه طريقه سره بشپړه کړه ، چي دا ټوله په يوه رکعت کښي (۷۵) ځله کيږي. (په دغه حالت کښي تر دوهمي سجدي وروسته يې د ويلو اړتيا نښته) په رکوع کي لومړی (سبحان ربي العظيم) او په سجده کښي هم لومړي (سبحان ربي الاعلى) او بيا دا تسبيحات وايه. (له رسول اکرمﷺ څخه هم پدغه طريقه سره نقل راغلی دی)

---

(۳۰۲) قال عبدالعزيز قلت لعبدالله بن المبارک ان سهافيها يسبح في سجدتي السهو عشرا عشرا قال لا انماهي ثلث مائة تسبيحة اهـ مختصرا قلت وهكذا رواه الحاکم وقال رواية عن ابن المبارک کلهم ثقات اثبات ولا يتهم عبدالله ان يعلمه مالم يصح عنده سنده اهـ قال الغزالي في الاحياء بعد ماذکر حديث ابن عباس المذکور وفي رواية اخرى انه يقول في اول الصلوة سبحانک اللهم ثم يسبح خمس عشر تسبيحة قبل القراة وعشرا بعد القراة والباقي کما سبق عشرا عشرا اولا يسبح بعد السجود الاخير وهذا هو الاحسن وهو اختيار ابن المبارک اهـ قال الزبيدي في الاتحاف ولفظ القوت هذه الرواية احب الوجهين الي اهـ قال الزبيدي اي لا يسبح في الجلسة الاولي بين الرکعتين ولا في جلسة التشهد شيئا کما في القوت، قال وکذا لک روينا في حديث عبدالله بن جعفر بن ابي طالب ان النبيﷺ علمه صلوة التسبيح فذکره اه ثم قال الزبيدي واماحديث عبدالله بن جعفر فاخرجه الدار قطني من وجهين عن عبدالله بن زياد بن سمعان قال في احدهما عن معاوية واسماعيل بن عبدالله بن جعفر عن

څلور ارزښتناکه فائدې

فایده:۱:-. صلوة تسبیح یو ډیر ارزښتناک لمونځ دی چي ددې ارزښت کچه یې له پورتنیو حدیثونو څخه یو څه څرګنده سوه چي رسول اکرمﷺ څو مره په شفقت سره او په

ابیهما وقال في الاخرى عن عون بدل اسماعيل عن ابیهما قال قال رسول اللهﷺ الا اعطیک فذکر الحدیث وابن سمعان ضعیف وهذه الروایة هي التي اشار الیها صاحب القوت وهي الثانیة عنده قال فیها یفتتح الصلوة فیکبرثم یقول فذکر الکلمات وزاد فیها الحوقلة ولم یذکر هذا السجدة الثانیة عند القیام ان یقولها قال وهو الذي اختاره ابن المبارک اهـ قال المنذري في الترغیب وروي البیهقي من حدیث ابي جناب الکلبي عن ابي الجوزاء عن ابن عمرو (بن العاص) فذکر الحدیث بالصفة التي رواها الترمذي عن ابن المبارک ثم قال وهذا یوافق ماروینا عن ابن المبارک ورواه قتیبة بن سعید عن یحیي بن سلیم عن عمران بن مسلم عن ابي الجوزاء قال نزل علي عبدالله بن عمر وبن العاص فذکر الحدیث وخالفه في رفعه الي النبيﷺ ولم یذکر التسبیحات في ابتداء القراة انما ذکر ها بعدها ثم ذکر جلسة الاستراحة کما ذکر ها سائر الرواة اهـ قلت حدیث ابي الجناب مذکور في السنن علي هذا الطریق طریق ابن المبارک وماذکر من کلام البیهقي لیس في السنن بهذا اللفظ فلعله ذکره في الدعوات الکبیر وما في السنن انه ذکر اولاحدیث ابي جناب تعلیقا مرفوعا ثم قال قال ابو داود ورواه روح بن المسیب وجعفر بن سلیمان عن عمر بن مالک الذکري عن ابي الجوزاء عن ابن عباس قوله وقال في حدیث روح فقال حدیث النبيﷺ اه وظاهران الاختلاف في السند فقط لا في اللفظ الحدیث وذکر شارح الا قناع من فروع الشافعیه صلوة التسبیح واقتصر علي صفة ابن المبارک فقط قال الجبیرمي هذه روایة ابن مسعود والذي علیه مشائخنا انه لا یسبح قبل القراة بل بعد ها خمسة عشر والعشرة في جلسة الا ستراحة وهذا روایة ابن عباس اهـ مختصرا وعلم منه ان طریق ابن المبارک مروي عن ابن مسعود ایضا لکن لم اجد حدیث ابن مسعود فیما عندي من الکتب بل المذکور فیها علي مابسطه صاحب المنهل وشارح الاحیاء وغیرهما ان حدیث صلوة التسبیح مروي عن جماعة من الصحابة منهم عبدالله والفضل ابنا العباس وابو هما عباس بن عبدالمطلب وعبدالله بن عمرو وابن العاص وعبدالله بن عمر بن الخطاب وابو رافع مولی رسول اللهﷺ وعلی بن ابي طالب واخوه جعفر بن ابي طالب وابنه عبدالله بن جعفر وام المومنین ام سلمة وانصاري غیر مسمی وقد قیل انه جابر بن عبدالله قال له الزبیدي وبسط في تخریج احادیثهم وعلم مما سبق ان حدیث صلوه التسبیح مروي بطریق کثیرة وقد افرط ابن الجوزي من تبعه في ذکره الموضوعات ولذا تعقب علیه غیر واحد من ائمة الحدیث کالحافظ ابن حجر والسیوطي والزرکشي قال ابن المدیني قد اساء ابن الجوزي بذکره ایاه في الموضوعات کذا في اللالي قال الحافظ وممن صححه او حسنه ابن منده والف فیه کتاباوالاجري والخطیب وابوسعید السمعاني وابو موسی المدیني وابو الحسین بن المفضل والمنذري وابن الفلاح والنوري في تهذیب الاسماء واسبکي واخرون کذا في الاتحاف وفي المرقات عن ابن حجر صححه الحاکم وابن خزیمة وحسنه جماعة اهـ قلت وبسط السیوطي في اللا لي في تحسینه وحکي عن ابي منصور الدیلمي صلوة التسبیح اشهر الصلوات واصحها اسنادا.

پرلپسې توګه ددې ښوونه کړې ده ، د امت علماوو ،محدثینو ، فقهاوو صوفیانو .... په هره زمانه کښې هغه پاللې ده.

امام حدیث حاکم لیکلي دي چې ددغه په درست والي باندي یو داهم دلیل دی چې د تبع تابعین له زمانې راهیسې بیا زموږ تر وخته پورې و ټولو درنو لارښوونکو او پیشوایانو پر دې باندې همیشه توب کړی دی او نورو خلګو ته یې دهغه ښوونه کړې ده ، چې له هغې ډلې څخه یو عبدالله بن المبارک هم دی چې دی د امام بخاري داستادانو استاد دی . بیهقي وایي چې له ابن المبارک څخه وړاندې ابو الجوزآء چې د پوره باور وړ دی هم دغه لمونځ کاوه. هره ورځ به چې د ماپښین اذان وسو نو مسجد ته به ولاړی د جمعې تر وخته پورې به یې دا لمونځ ادا کاوه. عبدالعزیز بن ابي داود رحمة الله علیه چې دابن مبارک هم استاد دی او لوی عابد ، پرهیزګاره او د متقیانو له ډلې څخه دی، وایي چې څوک جنت ته دتلو نیت ولري هغه ته لازمه ده چې صلوة تسبیح ټینګ ونیسي. ابو عثمان حیري رحمة الله علیه چې ډیر لوی زاهد دی وایي چې ما د غمونو او مصیبتونو د لرې کولو لپاره د صلوة تسبیح په څیر بل ښه شی نه دی لیدلي علامه تقي سبکي رحمة الله علیه وایي چې دا لمونځ ډیر ضروري او ارزښتمن دی هسې نه چې د ځینو خلګو دنه منلو له کبله چیرته خطاوزی. څوک چې ددې لمانځه ثواب واوري او بیا هم بې پروایي کوي. هغه ددین په باره کې سستي کوونکی دی. دصالحانو له کارونو څخه لیرې دی او نه ښایي هغه ته هوښیار انسان ووایو . په مرقاة کښې لیکلي دي چې حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه به هره جمعه دا لمونځ کاوه.

فایده ۲-. ځینو عالمانو له دغه لمانځه څخه له دې امله مخ ګرځولی (انکار کړی دی) چې دومره ډیر ثوابونه یوازې او یوازې په څلورو رکعتونو باندې یو ستونزمن کار دی ، په ځانګړې توګه د کبیره (لویو) ګناوو معاف کېدل.خو دا چې له ډیرو اصحابو څخه روایت رانقل سوی دی نو مخ ځنې ګرځول (انکار ځنې کول) هم ستونزمن کار دی . البته د نورو ایاتونو ، حدیثونو له امله د کبیره (لویو) ګناوو وربخښل کید و لپاره توبه شرط ده.

فایده ۳-. په پورتنیو حدیثونو کښې ددغه لمانځه لپاره دوې طریقې ښودل سوي دي. لومړی دا چې (کله لمونځ پیل کړي) نو تر ((الحمد لله)) او سورة وروسته ۱۵ ځله دا کلمې ووایي : (سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اکبر) ، بیایې په رکوع کې تر ((سبحان ربي العظیم)) وروسته لس ځله ووایي ، بیا چې له رکوع څخه راپورته سي (په قومه کښې) تر ((سمع الله لمن حمده)) او ((ربنا لک الحمد)) وروسته یې لس ځله ووایي . بیایې په دواړوو سجدو کښې تر ((سبحان ربي الاعلی)) وروسته او ددواړو سجدو تر منځ ناسته

(جلسه) کښې لس لس ځله ووایه. او کله چې له دوهمې سجدې څخه دراپورته کیدو لپاره چې الله اکبر ووایې نو له درېدو څخه مخکښې کښېنه او لس ځله یې ووایه. بیا له الله اکبر ویلو پرته ولاړ سه. او له دوو رکعتو او دغه رنګه له څلورو رکعتو څخه په وروسته ناسته کښې لومړۍ دا کلمې لس لس ځله او بیا وروسته التحیات ووایه.

دوهمه طریقه: داده چې تر ((سبحانک اللهم)) وروسته او تر ((الحمدلله)) مخکې یې (۱۵) ځله ووایه، بیا یې تر ((الحمدلله)) او سورة وروسته لس ځله ووایه او پاته تول یې دلومړې طریقې په څېر ویل کیږي. البته پدغه طریقه کښې نه تر دوهمې سجدې وروسته د ناستې اړتیا سته او نه هم د ((التحیات)) سره د تسبیحاتو د ویلو اړتیا سته. عالمانو لیکلي دي چې ښه او غوره خبره داده چې کله یې په دغه او کله یې په هغه طریقه سره وکړي.

فایده ۴-. دا چې دغه لمونځ په ټولیزه (عمومي) توګه دود نه دی نو لدې کبله ددې اړوند څو مسئلې ددې لپاره چې لمونځ کوونکو ته اسانه سي. لیکل کیږي.

۱). مسئله: ددغه لمانځه لپاره د قرآن کریم کوم ټاکلی سورة نسته، هر سورت چې دي زړه غواړي پکښې وې وایه. خو ځینو عالمانو لیکلي دي چې سورة حدید، سورة حشر، سورة صف، سورة جمعة، سورة تغابن پکښې ووایه. په ځینو حدیثونو کښې د شلو ایاتونو په اندازه سورتونه هم راغلي دي نو داسې سورتونه پکښې ووایه چې اندازه یې شلو ایاتونو ته نژدې وي. ځینو لیکلي دي چې له ((اذا زلزلت، والعادیات، تکاثر، والعصر، کافرون، نصر، اخلاص)) سورتونو څخه یې ووایه.

۲). مسئله: داتسبیحات په ژبه سره هیڅکله مه شمېرۍ ځکه چې دژبې په شمېرلو سره لمونځ ماتیږي. په ګوتو سره یې چې بندي وي وې شمېرئ دغه رنګه په تسپو سره یې وشمیرۍ، دا جائز دی خو مکروه دی. ښه داده چې ګوتې چې په څه ډول سره پر خپل ځاې پاتې وي، همغسې دې پرتې وي او دهرې یوې کلمې په ویلو سره دې یوې یوې ګوتې ته هم په خپل ځاې باندې لږ زور ورکوئ.

۳). مسئله: که چیرې په کوم ځاې کې دا تسبیحات د رڅخه هېر سي نو په بل رکن کښې هغه پوره کړئ، البته دهیرو سوو تسبیحاتو قضا له رکوع څخه د راپورته کېدو وروسته (قومه) کښې) او ددوو سجدو تر مینځ (جلسه کې) مه راوړئ. دغه رنګه له لومړۍ او دریم رکعت څخه په وروسته ناسته کې که مو چیرې کوله هم دهیرو سوو تسبیحاتو قضا مه راوړئ، بلکې یوازې به دهغې ناستې خپل تسبیحات وایاست. او ترهغه وروسته چې کوم رکن وي په هغه کښې دهغه دخپلو تسبیحاتو تر څنګ هیر سوي تسبیحات هم وایاست. د

بیلګي په توګه که دي په رکوع کي د تسبیحاتو ویل هیر سول. نو په همدغه لومړۍ سجده کښي یې ووایاست. دغه رنګه که مو په لومړۍ سجده کي هیر سول نو په دوهمه سجده کښي یې ووایاست او یا چي تر دوهمي سجدې وروسته دوهم رکعت ته ولاړ سئ. پکښي وې وایاست، او که چیري درځخه پاته سي نو په وروستۍ ناسته کښي یې تر ((التحیات)) مخکي ووایاست.

۴). مسئله : که چیري سجده سهوه چي د کومي اړتیا لمخي لازمه سي نو په هغه کښي دغه لس ځله تسبیحات مه وایاست. ځکه چي تول له اندازه (۳۰۰) ده او هغه پوره سوه.سره لدې که چیري په دغه اندازه کښي څه شي راسي نو په سجده سهوه کښي یې ووایه.

۵-. مسئله: په ځینو حدیثونو کي راغلي دي چي تر التحیات وروسته او تر سلام مخکي دادعا وایاست :

اللهم اني اسئلک توفیق اهل الهدي واعمال اهل الیقین ومناصحة اهل التوبه وعزم اهل الصبر وجد اهل الخشیه وطلب اهل الرغبة وتعبداهل الورع وعرفان اهل العلم حتی اخافک اللهم اني اسئلک مخافه تحجزني بها عن معاصیک حتی اعمل بطاعتک عملا استحق به رضاک وحتی اناصحک في التوبة خوفا منک وحتی اخلص لک النصیحة حبا لک وحتی اتوکل علیک في الامور حسن الظن بک سبحان خالق النور ربنا اتمم لنا نورنا واغفرلنا انک علی کل شيئ قدیر. برحمتک یا ارحم الرحمین.(۳۰۳)

ژباړه: اې الله! ره له تا څخه د هدایت والو (لارښوول سوو) په څیر توفیق غواړم او دیقین والو (یقین لرونکو) عمل او دتوبه والو (توبه کښونکو) اخلاص او دصابرانو عزم او هوډ ، او له تا څخه د ویرېدونکو په څیر کوښښ (یا احتیاط) غواړم ، دمینه لرونکو په شان طلب او د پرهیزګارانو په شان عبادت او دعالمانو په شان معرفت او پوهه تر دې اندازي چي له تا څخه وویرېږم . اې الله ﷻ !زه له تا څخه دداسي ویري غوښتنه لرم چي ستا له نافرمانۍ څخه مو راوګرځوي . او ستا په اطاعت داسي عمل وکړم چي په هغه سره ستا رضا او خوشالي لاسته راوړم. او چي دهغي ویري له امله تاته د اخلاص توبه وباسم. او چي ستاسره دډیري میني او محبت له کبله په ریښتیني توګه اخلاص وکړم او چي پر تاباندي دنیک ګمان ساتلو له کبله پر تا توکل وکړم. اې د نور پیداکونکې ستاذات پاک دي اې زموږ

---

(۳۰۳) رواه ابو نعیم في الحلیه من حدیث ابن عباس ولفظه اذا فرغت قلت بعد التشهد قبل التسلیم اللهم الخ کذا في الاتحاف وقال اورده الطبراني ایضا من حدیث العباس وفي سنده متروک اهـ قلت زاد في المرقاة في اخرالدعا بعض الالفاظ بعد قوله خالق النور زدها تکمیلا للفائدة

پالونکي ! موږ ته بشپړ نور راکړي او موږ وبخښي بېشکه ته پر هر شی باندي توانايي، اې ارحم الرحيمن ! ته په خپل رحمت سره زموږ وړاندېز قبول کړي.

۶-. مسئله : له مکروهه وختونو پرته د شپې او ورځي په پاته ټولو وختونو کښي ددغه لمانځه کول جائز دي ، البته تر زوال وروسته کول يې ډير غوره دي.

۷-. مسئله : په ځينو حديثونو کي له دريمي کلمې سره (لا حول ولا قوه الا بالله العظيم) راغلی دی . دا چي له پورتنيو حديثونو څخه په دريم حديث کي هم دا تير سوی دی نو له دې کبله که کله دا هم ورسره زيات کړي نو ښه ده .

وآخر دعونا ان الحمدلله رب العلمين.

مؤلف : مولانا محمد زکريا رحمة الله عليه

بسم الله الرحمن الرحيم

دتبليغ فضائل

مؤلف

شيخ الحديث مولانا محمد زكريا نور الله مرقده

ژباړونکی :

مولوي عبدالهادي (حماد)

فهرســت

شمېره	سرليکونه	صفحه
١	تمهيد	١
٢	لومړی فصل	٢
٣	دتبليغ په اړه راغلي اياتونه	٣
۴	دوهم فصل	٧
۵	چي دګناهګار سړی سره خبري هم منعه نکړي دايمان ددرجوڅخه وزي	٧
٦	څوک چي ورور مسلمان دګناه څخه نه راګرځوي خپل ځان هلاکوي	٨
٧	دامر بالمعروف پرېښودل دبني اسرائيلو دهلاکت سبب سو	٩
٨	په کوم قوم کي چي ګناه کيږي دوی يې منعه نه کوي ترمرګ وړاندي به عذاب ورته راځي	١٠
٩	امر بالمعروف پرېښودل دکلمې سپکاوی دی	١١
١٠	که امر بالمعروف پاته سوو بيا نو الله ﷻ دعا نه قبلوي	١٢
١١	که امر بالمعروف پاته سو دوحي برکت به ولاړسي	١٣
١٢	دريم فصل	١٩
١٣	څلورم فصل	٢١
١۴	تبليغ کونکو ته لارښووني	٢١
١۵	پنځم فصل	٢٣
١٦	دمبلغ په اړه	٢٣
١٧	شپږم فصل	٢۵
١٨	عامو خلګو ته لارښووني	٢۵
١٩	اوم فصل	٢٨

بسم الله الرحمن الرحيم

نَحْمَدُهُ وَنُصَلِّي عَلَى رَسُوْلِهِ الْكَرِيم

تمهيد

د الله ﷻ د ثنا او ستاينې او پر محمد ﷺ باندې تر درود او سلام وروسته د دين اسلام مَجْدِ نُورانِي جَوْهَر او د عالمانو او بزرګانو د منځ ځليدونکي ملغلري (يعني مولانا محمد الياس رحمة الله عليه) ماته وفرمايل، چې د دين د تبليغ په اړه په لنډ ډول څو اياتونه او حديثونه وليکم او ده ته يې وړاندې کړم. څرنګه چې زما ګنهګار لپاره د داسي مخورو انسانانو رضا او خوشحالي د نجات وسيله او د ګناهو څخه کفاره ده نو له همدې امله يوه ګډوره مجموعه مې په چابکې سره د ده و حضور ته وړاندې کړه. و هري اسلامي مدرسې، اسلامي مکتب، اسلامي انجمن او هر اسلامي طاقت بلکې و هر مسلمان ته مې وړانديزدا دئ چې د دين زوال ورځ تر بلې پر زياتيدو دئ.

پر دين باندې نه يوازې چې د کفارو حملې دي بلکې د مسلمانانو له خوا هم حملې باندې کيږي، فرضونه او واجبونه نه يوازې دا چې د عامو مسلمانانو څخه پاته دي بلکې په خاصو مسلمانانو کې د خاصو مسلمانانو څخه هم پاتيږي، لمونځ او روژه خو لا څه کوې چې په سوونو زره خلګ په کفر او شرک اخته دي. تر ټولو بده خو لا دا ده چې دا شرک، شرک هم نه بولي.

وګورئ چې حرام او بد کارونه څومره عاميږي. د دين سپکوالى او په دين پورې ټوکې کول په روښانه ډول زياتيږي په همدې وجه د عامو او خاصو علماوو څخه د خلګو نفرت او ليري والى زياتيږي د دې ستره وجه دا ده چې ناپوهي ورځ تر بلې زياتيږي.

عام خلګ ځان معذور بولي وايي چې ښوونکي نه لرو. علماء ځان معذوره بولي وايي چې موږ اوريدونکي نه لرو مګر د عامو خلګو عذر د الله ﷻ په وړاندې هيڅ کافي نه دئ، ځکه د دين معلومات او څيړل د هر سړي فريضه ده. په قانون باندې نه خبرتيا په هيڅ حکومت کې اعتبار نه لري نو د احکم الحاکمين په دربار کې به دا بې ګټې عذر څنګه وچليږي.

دا خو (عذر بدتر از ګناه) دئ، په همدې ډول د علماوو عذر هم هيڅ د قبلولو وړ نه دئ، ځکه که پخوانيو مشرانو، بزرګانو او علماوو ته وګورو هغوى د دين په خپرولو کې څومره تکليفونه ګاللي دي؟ ايا هغوى پر ځانو باندې ډبري ويشتل نه دي منلي؟ ايا هغوى ته ښکنځل نه دي سوي؟ ايا هغوى په دې لاره کې زيات تکليفونه او زحمتونه نه دي ګاللي؟ تر

دومره زيا تو تکليفو وروسته يې د خپل دين د تبليغ احساس فرمايلی دئ او خلګو ته يې دين رسولی دئ، تر سخت مخالفت وروسته يې په ډېر شفقت سره اسلام او د اسلام احکام رسولي دي. په عمومي ډول خلګ په دې آند دي چې تبليغ د علماوو کار دئ او په دوی پوري خاص دئ، حال دا چې تبليغ کول د هر مسلمان ذمه واري ده يعني د هر چا و مخ ته چې ناروا کار کېږي دی يې د بندولو توانايي ولري پر ده باندي واجب ده، چي دغه کار منع کړي، که فرض کړو چي دا کار تر عالمانو پوري خاص او هغه يې د يوې مجبوری له امله نه سي پوره کولای يا په دوی باندي پوره نه وي نو د هر مسلمان ذمه واري ده، چي دغه تبليغ چاري پر مخ بوزي پر دوی باندي فرض ده کوم آياتونه او حديثونه چي د امربالمعروف او نهي عن المنکر په اړه راغلي دي او په راتلونکي فصلو کي به بيان سي د هغو څخه په ښکاره معلومېږي چي دغه کار د هرمسلمان فريضه ده او پر عالمانو پوري يې خاص کړی نه دئ او د علماوو د ناتوانی په صورت کي پر دوی فرض ده چي تر خپله وسه پوري امربالمعروف او نهي عن المنکر وکړي. په عمومي ډول زما د ټولو مسلمانانو څخه دا هيله ده، چي په او سني وخت کي لږ تر لږه يو څه برخه په تبليغ کي واخلي. څومره وخت چي د دين د حفاظت او تبليغ لپاره لګولای سي هغومره پکار دئ.

هر وقت خوش که دست مغتنم شمار

کس را وقوف نیست که انجام کار چیست

ژباړه : هرچا ته چي ښه وخت په لاس ورسي ګټه دي يې وبولي ځکه هيچا ته معلومات نسته چي د دې کار پايلي به څه وي.

په دې برخه کي هم ځان پوه کول په کار دي، چي د تبليغ يا امربالمعروف او نهي عن المنکر لپاره پوره ځان عالم کول ضروري نه دي. د هر چا چي يوه مسئله زده وي نورو ته دي يې ورسوي او که د ده په وړاندي يو ناروا کار کېږي نو پر ده باندي تر خپله وسه پوري منع کول واجب دي. په دې رساله کي په لنډ ډول او وه فصلونه بيان سوي دي:

لومړی فصل

په دې فصل کي د برکت په موخه څو آياتونه چي د تبليغ (امربالمعروف او نهي عن المنکر) په اړه په قرآنکريم کي راغلي دي وړاندي کوم. د دغو آياتونو څخه سړی پرېکړه کولای سي، چي الله جل جلاله د تبليغ لپاره څومره اهتمام په بيلا بيلو طريقو سره فرمايلی دئ، زما په کم نظر سره شپېته آياتونه د تبليغ لپاره راغلي دي که څوک په غور سره پلټنه وکړي نو نه ده

معلومه چي څو مره آياتونه به په دې اړه راغلي وي، څرنګه چي د ټولو آياتونو راوړل د کتاب د اوږدوالي لامل ګرځي نو ځکه دلته پر يو څو آياتو باندي بسنه کوم.

١- وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلاً مِّمَّن دَعَآ إِلَى ٱللَّهِ وَعَمِلَ صَٰلِحًا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ (١)	ژباړه: الله ﷻ فرمايي: تر هغه وينا به غوره وينا چيري وي چي د الله ﷻ و لوري ته بلنه کوي، نېک عمل کوی او وايي چي زه د مسلمانانو څخه يم(٢).

مفسرينو ليکلي دي چي هر څوک د الله ﷻ و لوري ته څوک را وبولي هغه د دې زيري او صفت حقدار دئ، په هره طريقه سره چي يې رابولي د مثال په ډول انبياوو عليهم السلام په معجزو سره خلک رابلل علماء يې په دليلو نو، مجاهدين يې په تورو، مؤذنين يې په اذانونو رابولي، لنډه دا چي په هره طريقه سره يې راوبولي هغوی په دغه صفت کي داخل دي.

که يې ظاهري اعمالو ته راوبولي که يې باطني اعمالو ته راوبولي لکه پيران چي خلک د الله ﷻ پيژندګلوی ته رابولي(٣).

مفسرينو ليکلي دي، چي د پورتني آيات کريمه وروستی جز و دې ته هم اشاره ده چي مسلمانېدل دي سړی د ځان لپاره وياړ او فخر بولي او د فخر په موخه دي خپله مسلماني بيانوي، ځينو مفسرينو ليکلي دي چي په دې وعظ او نصيحت دي د ځان لپاره لويه هستي نه بولي بلکي دا دي وايي چه زه هم د عامو مسلمانانو څخه يو مسلمان يم.

٢- وَذَكِّرْ فَإِنَّ ٱلذِّكْرَىٰ تَنفَعُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٥٥﴾	ژباړه: (اې محمده ﷺ!) خلک پوه کړه بېشکه پوهه مومنانو ته ګټه رسوي.

مفسرينو ليکلي دي چي د دې څخه مقصد د قرآن په اورولو سره نصيحت دئ، چي مومنانو ته ګټه رسوي. دغه نصيحت چي د مومنانو لپاره ګټه ده داخو ښکاره خبره ده او دا چي کافرانو ته به ګټه وي نو هم کېدای سي چي الله ﷻ دوی ته په دغه نصيحت سره انشاء الله مومنان کړي او دا آيات به پر دوی باندي هم صادق سي خو دغه ډول نصيحت په دغه ډول په معاصر وخت کي بيخي بند سوی دئ يوازي نصيحت پر دې را چاپيره دئ چي خپل تقرير ښه خوندور کړي او خلک ښه ورته ووايي، حال دا چي رسول الله ﷺ فرمايي: څوک چي په دې نيت تقرير زده کوي چي خلک خپل لوري ته را مات کړي نو په ورځ د قيامت به د ده هيڅ ډول عبادت نه قبليږي نه نفلي او نه فرضي.

٣ - وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱصْطَبِرْ عَلَيْهَا	ژباړه: (اې محمده ﷺ!) خپله کورنۍ پر لمانځه باندي امر کړه او خپله هم

---

(١) سورة حمٓ سجدة الاية (٣٣).
(٢) بيان القران.
(٣) خازن.

لَا نَسْـَٔلُكَ رِزْقًا ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُكَ ۗ وَٱلْعَـٰقِبَةُ لِلتَّقْوَىٰ ﴿١٣٢﴾ (۴)

پرې ټینګ سه موږ ستا څخه رزق نه غواړو موږ تاته رزق درکوو ښې پایلې د پرهیزګارۍ دي.

په زیاتو روایتو کې راغلي دي چې کله به پریو چا باندې د رزق تنګسیا راغله نو رسول الله ﷺ به په لمانځه سره امر ورته کاوه او پورتنی آیات به یې تلاوت کړ. ګویا دې خبرې ته به یې اشاره کوله چې د رزق پراخي د لمانځه د اهتمام سره تړلې ده. علماوو لیکلي دي چې په پورتني آیات کې د لمانځه امر او د لمانځه اهتمام د دې لپاره فرمایل سوی دئ، چې د تبلیغ تر څنګ دا هم لازمي ده چې سړی به خپله هم په هغه وینا عمل کوي، یعني لومړی به یې په ځان کې عملي کوي بیا به نورو ته تبلیغ کوي ځکه په داسې صورت کې بیا د ده تبلیغ پر نورو باندې زیات اثر کوي او د هغوی د اهتمام سبب ګرځي. همدا وجه ده چې لومړی یې و انبیاوو ته هدایت کړی دئ، چې هغه و نورو ته ځان د نمونې په ډول وړاندې کړي تر څو نورو ته عمل کول اسانه سي او دا فکر یې د ذهن څخه ووزي چې فلانی عمل ډیر ګران دئ، وروسته الله ﷻ د رزق د پراخوالي وعده په لمانځه کې وښوده، د دې لپاره چې په ښکاره داسې معلومېږي چې د لمانځه پابندي د رزق د ډېروالي لپاره تاوان دئ، نو ځکه الله ﷻ دا شک هم لیرې کړ، چې د رزق ذمه واري زموږ ده دا کارونه ټول د دنیا په اعتبار دي په آخرة کې الله ﷻ د کلي قاعدې په طور وښودل چې بس ښې پایلې د تقوی دي یعني په پرهیزګارۍ کې دي.

۴ – يَـٰبُنَيَّ أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ وَأْمُرْ بِٱلْمَعْرُوفِ وَٱنْهَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَٱصْبِرْ عَلَىٰ مَآ أَصَابَكَ ۖ إِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ عَزْمِ ٱلْأُمُورِ ﴿١٧﴾ (۵)

ژباړه : اې زویه! لمونځ کوه، په نېکو کارونو امر کوه، د بدو کارونو څخه منعه کوه، کوم مصیبت چې تاته ورسېږي پر هغه صبر کوه دا د همت د کارونو څخه دئ[۶].

په پورتني آیات کریمه کې الله ﷻ ډېر ضروري او مهم کارونه ذکر کړي دي چې د ټولو بریاو ذریعه ده او په حقیقت کې دا کارونه ضروري هم دي خو موږ دغه کارونه بیخي شاته غورځولي دي. امر بالمعروف خو څه کوې چې خلګو بیخي هېر کړي دي، لمونځ چې تر ټولو مهم عبادت دئ تر ایمان وروسته دستي لمونځ دئ د لمانځه په اړه څو مره بې پروایي روانه ده. بې لمانځه خلګ خو پرېږده لمونځ ګذاره خلګ هم پوره د لمانځه اهتمام نه کوي د لمانځه

---

(۴) سورة طه الاية (۱۳۲).

(۵) سورة لقمان الاية (۱۷).

(۶) بيان القران.

امر چي سوی دئ دا یو ازي د غريبانو لپاره دئ مالدار او شتمن خلگ لمونځ کول د ځان لپاره شرم بولي فالله المشتکی.

آن چه عار تست او فخر من است. یعني کوم څه چه ستا لپاره شرم دئ زما لپاره وياړ دئ.

۵ - وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ ۚ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿١٠٤﴾[7]

ژباړه: په تاسو کي دي خامخا یوه ډله وي چي نيکی ته بلنه کوي خلگو ته د نيکی امر کوي او د بدو کارونو څخه منعه کوي او دغه خلگ پوره کامیاب دي.

الله ﷻ په پورتني آیات کي یوه ضروري خبره فرمایلي ده هغه دا چي په دې امت کي دي خامخا یوه ډله وي چي د اسلام لپاره تبليغ کوي دا حکم د مسلمانانو لپاره دئ، خو په تآسف سره باید ووایم چي مسمانانو دا اصلي کار بيخي پرې ايښي دئ او نورو قومونو په پابندی سره تعقيب کړی دئ. یهودو او نصاری په دنیا کي د خپل دين د خپرولو لپاره بېلا بېلي ډلي لري او د دغه کار لپاره یې ځانگړي کړي دي. هم دا ډول په نورو قومونو کي هم داسي ډلي سته چي د دغه کار لپاره یې خاصي کړي دي خو ایا په مسلمانانو کې یوه داسي ډله سته چي دغه کار کوي؟ د دغي پوښتني جواب که په یا سره نه وي نو په هو سره هم مشکل دئ. که یو سړي یا یو ه ډله پورته سي تبليغ شروع کړي نو د مرستي پر ځای خلگ اعتراضونه پر شروع کړي نو هغه کس یا ډله تر یو څه وخته پوري مقاومت وکړي آخر ستړې سي کښېني حال دا چي باید د هغه مرسته وسي او د کمزوری اصلاح یې وسي نه دا چي پخپله کار نه کوي بلکي نور یې هم د اعتراضونو نښه کړې گويا د هغه د منعه کېدو لامل سوې.

٦ - كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ[8]

ژباړه: تاسو غوره امت یاست (د ټولو رسولو لپاره) خلگو ته ایستل سوي یاست تاسو خلگو ته په نېکی سره امر کوئ او د بدو کارونو څخه یې منعه کوئ او په الله ﷻ باندي ایمان لرئ[9].

د مسلمانانو تر نورو خلگو شرافت او د محمدي امت شرافت تر نورو امتونو په گڼو روایتونو او حدیثونو سره ثابت دئ او ځو ځایه په قرآن کریم کي هم اشاره ورته سوې ده او په پورتني آیات کي هم په خیر الامة سره ورته ویل سوي دي او د شرافت دليل ته یې هم اشاره سوې ده، چي تاسو غوره امت یاست ځکه چي تاسو امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوئ (د

---

[7] سورة ال عمران الاية (١٠٤).

[8] سورة ال عمران الاية (١١٠).

[9] بيان القران ، ترجمة عاشقي

دې څخه اشاره داسي معلومېږي كه تاسو امر بالمعروف او نهي عن المنكر نه وكړئ غوره امت به نه ياست). مفسرينو ليكلي دي چي په دې آيات كي امر بالمعروف او نهي عن المنكر تر ايمان هم مخكي ذكر سوى دى او حال دا چي ايمان اصل او بنياد دئ د ايمان پر ته هيڅ ډول نېكي اعتبار نه لري دا ځكه چي په ايمان كي نور امتونه هم شريک دي او امر بالمعروف او نهي عن المنكر يوازي د دې امت ځانګرتيا ده په همدې وجه محمدي امت پر نورو امتونو باندي لوړوالى لري، امر بالمعروف او نهي عن المنكر د دې امت خصوصي نښه ده. څرنګه چي د ايمان پرته هيڅ نېكي اعتبار نه لري نو ځكه الله ﷻ د امربالمعروف او نهي عن المنكر لپاره ايمان شرط وباله كنه نو اصل مقصود په دې ايات كي امر بالمعروف او نهي عن المنكر دئ همدا وجه وه چه هغه يې لومړى بيان كړ. د خصوصي نښي څخه مطلب دا دئ چي د تبليغ دې پوره اهتمام وسي يوازي په ګرځېدو او راګرځيدو سره د تبليغ ښه نه كېږي ځكه دا كار خو نورو امتونو هم كاوه چي په لاندېني او نورو آياتو سره يې بيان سوى دئ : فَلَمَّا نَسُوْا مَا ذُكِّرُوْا بِهِ.

خو دې امت ته په خصوصي ډول سره خطاب سوى دئ نو بايد په پابندۍ سره يې مستقل كار وکړي او د دين د نورو كارو په څير پكښي مشغول سي.

٧ - ﴿لَّا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِّن نَّجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا﴾ [١٠]

ترجمه : د عامو خلګو په زياتو خبرو كي خير (او بركت) نسته، مګر هغه خبري چي د صدقې يا د نېكي بلني لپاره وي او يا د خلګو په منځ كي د اصلاح په موخه (پخپل منځ كي مشورې كوي، او يا تدبيرونه نيسي په دغه ډول خبرو كي زيات خير سته) او دغه كار دوى يوازي د الله ﷻ د رضا لپاره كوي نو ډېر ژر به موږ لوى اجر (ثواب) وركړو.

په پورتني آيات كي الله ﷻ د امر بالمعروف والا لپاره د لوى اجر وعده كړېده. كوم اجر چي الله ﷻ لوي ورته ووايي د هغه به نو كله پاى معلومېږي. د پورتني آيات شريف په تفسير كي رسول الله ﷺ فرمايي چي د بنده هره خبره د بنده لپاره وبال ده مګر نه هغه خبره چي د امر بالمعروف او نهي عن المنكر لپاره وسي او يا د الله ﷻ ذكر وي. په نورو حديثو كي د نبي عليه السلام ارشاد دئ چي نبي ﷺ و اصحابو كرامو ته وفرمايل چي ايا زه تاسو ته يو داسي شى در وښيم چي تر نفلي لمانځه، روژې او صدقې غوره وي؟ اصحابو كرامو ورته وفرمايل چي خامخا يې را وښيه. رسول الله ﷺ ورته وفرمايل، چي د خلګو په منځو كي روغه جوړه كول دي، ځكه ورانى او دښمنى نېكي داسي له منځه وړي لكه د نايي چاړه

---

[١٠] سورة النساء الاية (١١٤).

چي وېښتان له منځه وړي. په نورو ډېرو آياتونو كي هم د صلحي په اړه زيات تائيد راغلی دئ خو دلته په دې ځای كي د صلحي بيان مقصود نه دئ بلكي دلته مطلب دا دئ چي صلحه هم په امر بالمعروف كي داخله ده. كه چيري د صلحي اړتيا پيدا سي نو خامخا دي يې اهتمام وسي.

دوهم فصل

په دې فصل كي ځيني حديثونه دي چي د پورتني مضمون په اړه راغلي دي. د ټولو حديثونو جمع كول مقصود نه دي او نه كېدای سي. كه يو څه اندازه زيات اياتونه او حديثونه جمع سي. نو د دې وېره ده چي كتونكي به يې پيدا نه سي ځكه كتاب به اوږد سي. ځكه نن سبا دومره مصروفيتونه دي، چي د داسي كارو لپاره وخت كله د دوی په آند پيدا كېږي. زه يوازي ستاسو وحضورته يو څو حديثونه وړاندي كوم د دې لپاره چي نبي ﷺ د تبليغ د كولو څومره اهميت فرمايلی دئ او د نه كولو په صورت كي يې څومره سزا فرمايلې ده.

چي د ګناهګار سړی سره خبري هم منعه نه كړي دايمان د درجو څخه وزي

١ – عن ابي سعيد خدري رضي الله عنه قال سمعت رسول الله ﷺ يقول من رءای منكم منكرا فليغيره بيده فـان لم يستطع فبلسانه فان لم يستطع فبقلبه و ذالک اضعف الايمان[11]

ژباړه: نبي ﷺ فرمايي: كه ستاسو څخه يو چا ناروا كار وليدی نو په لاس دي يې بند كړي كه يې توان نه و، نو په ژبه دي يې بند كړي او كه يې توان نه و نو په زړه كي دي يې بد وګڼي. دا د ايمان كمه درجه ده.

په يو بل حديث كي راغلي دي كه د يو چا په ژبه د بندولو توان وي نو بند دي يې كړي كه نه نو په زړه كي دي يې بد وګڼي په دې يې هم غاړي خلاصېږي.

په يو بل حديث كي راغلي دي چي كه څوک ناروا كار په زړه كي بد وګڼي دا كس هم مؤمن دئ خو تر دې د ايمان كمه درجه نسته. په دغه مضمون كي د نبي ﷺ څخه څو روايتونه په مختلفو طريقو سره را نقل سوي دي.

اوس تاسو د دې حديث پر منلو باندي نظر واچوی چي څومره كسان چه بد ويني په لاس يې بندوي او يا يې په ژبه بندوي او د دغه د بد والي څرنګوالی كوي او يا لږ تر لږه د

[11] رواه مسلم والترمذي و ابن ماجة والنسائي كذا في الترغيب.

ايمان په هغه ضعيفه درجه پر ناروا کار باندي نيت بدوي او ورسره کينه ساتي او يا يې په ناروا ليدلو سره زړه بې قراره سي او يا يې په ليدلو سره يوازي کښېني، لږ فکر وکړئ چي د دې بندوالى به څه ډول کېږي.

څوک چي مسلمان ورور له ګناه څخه نه راګرځوي خپل ځان هلاکوي

۲ - عن نعمان بن بشير رضي الله عنه قال مثل القائم في حدود الله والواقع فيها كمثل قوم استهموا على سفينة فصار بعضهم اعلاها و بعضهم اسفلها فكان الذي في اسفلها اذا استقوا من المآء مروا على من فوقهم فقالوا لو انا خرقنا فينصيبنا خرقا ولم نوذ من فوقنا فان تركو هم وما ارادوا هلكو جميعاً وان اخذوا على ايديهم نجوا ونجوا جميعا[۱۲].

ترجمه: رسول الله ﷺ فرمايي: کوم سړی چي د الله ﷻ حدود بر پايه کوي او کوم سړی چي د الله ﷻ حدود نه بر پايه کوي داسي مثال لري لکه يو قوم چي په يوه کښتۍ کي سپاره وي يوه ډله يې په لوړ منزل کي وي او يوه ډله يې په کښته منزل کي وي او د منزلونو ټاکل د قرعه کشۍ له مخي سوي وي، لانديني خلک د اوبو اړتيا د لوړي خوا پوره کوي نو لاندي خلک وايي چي موږ به لاندي يوه ټوټه ماته کړو لوړ خلک به د تکليف څخه خلاص سي موږ به خپله د اوبو اړتيا دلې لاندي پوره کوو او س نو که لوړو خلکو لاندي خلک منع نه کړل دواړه به هلاک سي او که يې بند کړل دواړه به نجات پيدا کړي. اصحابو رضي الله عنهم د نبي عليه السلام څخه وپوښتل چي ايا موږ په داسي حالت کي هم تباه کېږو، چي په موږ کي نېکان او متقيان موجود وي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل، چي: هو! که فسق او ګناهونه غالب سول.

نن سبا د مسلمانانو د تباهۍ سندري ويل کېږي، شور او غوغا شروع ده د مسلمانانو اصلاح په نوو نوو لارو سره کېږي کوم چي دنيا ورته روښان فکره وايي هغه خو لا څه کوي عجيبه لا دا ده چي هغه څوک معاصره دنيا ورته تنګ نظره وايي يعني ملا صاحب هم په دې لټه کي نه دئ چي د دې مرض اصلي درمل څه شي دئ، اصلي مربي او مهربانه طبيب د دې ناروغۍ علاج څه شي ښودلی دئ او څومره عملورباندي کېږي ايا د دې ظلم يو څه پای سته؟ کوم شی چي د مرض سبب دئ د کوم شي څخه چي ناروغۍ پيدا کېږي د علاج لپاره يې يوه لاره لټول سوې ده؟ (د دين څخه بې پروا، د دين د اسبابو څخه بې پروا او په خپله رايه باندي چي عمل کوي) داسي ناروغ به نو د سبا پر ځای نن نه هلاکېږي نو کله به هلاکېږي.

---

(۱۲) رواه البخاري والترمذي.

میر کیا سادہ ہیں بیمار ہوئی جس کی سبب

اسی عطار کی لڑکی سی دوالیتی ہیں

يعني مير (شاعر) څومره ساده دی د کوم چا له امله چي ناروغ سوی دئ د هغه دارو خرڅونکي د زوی څخه دارو رانيسي.

د امر بالمعروف پرېښودل دبني اسرآئيلو د هلاکت سبب سو

۳ : عن ابن مسعود ﷺ قال قال رسول الله ﷺ اول ما النقص على بنيّ اسرآئيل انه كان الرجل يلقي الرجل فيقول يا هذا اتق الله ودع ما تصنع به فانه لا يحل لک ثم يلقاه من الغد وهو على حاله فلا يمنعه ذالک ان يكون اكيله وشريبه وقعيده فلما فعلوا ذالک ضرب الله قلوب بعضهم ببعض ثم قال لعن الذين كفروا من بني اسرآئيل الي قوله فاسقون ثم قال والله لتَأْمُرن بالمعروف ولتنهون عن المنكر ولتَأْخذن علي يدالظالم ولتاطرنه على الحق اطرا(۱۳).

ژباړه: نبي ﷺ فرمايي: په بني اسرائيلو کي لومړی د هغه وخت څخه زوال پيل سو چي يو کس به د بل سره يو ځای سو او هغه به په يو ناروا کار باندي اخته و، نو هغه به يې د هغه بد کار څخه راوګرځوی که به هغه بند نه سو نو ده به د ځينو تعلقاتو په وجه د هغه ناروا کوونکي کس سره ناسته، ولاړه، خوړل او څښل کول. بيا نبي ﷺ د تائيد په موخه دا آيات د لعن الذين .... څخه تر فاسقون پوري وواية. بيا نبي ﷺ وفرمايل: تاسو په نېکۍ سره امر کوئ د بدو کارونو څخه منع کوئ ظالم تر لاس نيسي د حق خبري ته يې راولئ.

په بل حديث کي راغلي دي، چي نبي ﷺ ناست و تکيه يې وهلي وه په جوش را پورته سو او قسم يې واخيستی چي تاسو خلاصېدای نه سئ تر څو ظالم د ظلم څخه منع نه کړئ. په يو بل حديث کي راغلي دي چي تاسو امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوئ ظالم د ظلم څخه منع کوئ د حق خبري ته يې رابولئ که نه نو ستاسو زړونه به هم د دوی (يعني د بني اسرائيلو) په څېر ګډوډ سي دا سي لعنت به در باندي وسي لکه پر بني اسرائيلو چي وسو. رسول الله ﷺ د تائيد په موخه هغه آياتونه ولوستل چي په هغه کي پر بني اسرائيلو باندي د لعنت بيان سوی دئ د لعنت د سببونو څخه يو دا هم ښودل سوی دئ چي دوی به يو او بل د ناروا وو څخه نه منع کول. نن سبا دا کمال بلل کېږي او ښه اخلاق ورته ويل کېږي چي چلاو

(۱۳) رواه ابي داود والترمذي كذا في الترغيب.

وکړي يعني د هر ځای سره د هغه ځای برابري خبري وسي حال دا چي دا فکر بالکل غلط دئ بلکي په هغه ځای کي چي تبليغ هيڅ ډول گټه نه لري نو ممکن چي چپ پاتېدل روا سي او کوم چي گټه لري لکه خپلو اولادو يا نورو ترتا لاندو کسانو ته په داسي صورت په هيڅ ډول چپ پاته کېدل روا نه دي بلکي څوک چي چپ پاته سي دغه سړی شرعاً گنهگار دئ.

په زياتو روايتونو کي راغلي دي چي که گناه پټه کېږي نو وبال يې يوازي د کوونکي دئ او کله چي ښکاره سي او خلک يې د بندولو توان لري بيا يې هم نه بندوي نو خامخا يې تاوان ټولو ته متوجه کېږي. اوس دي نو هر سړی پر خپل حالت باندي غور وکړي چي څومره گناهو نه منع کولای سي او څومره د بي پروايي. څخه کار اخلي خو تر دې لوی ظلم دا دئ چي څوک بل څوک د گناه څخه منع کوي دی يې مخالفت کوي تنگ نظره ورته وايي د مرستي پر ځای يې مقابله کوي.

فَسَيَعْلَمُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا اَيَّ مُنْقَلَبٍ يَنْقَلِبُوْنَ!

په کوم قوم کي چي گناه کبېري دوی يې منعه نه کوي تر مرگ وړاندي به عذاب ورته راځي

٤ : عن جرير بن عبدالله رضي الله عنه قال سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول مامن رجل يكون في قوم يعمل فيهم بالمعاصي يقدرون على ان يغير عليه ولا يغيرون الا اصابهم الله بعقاب قبل ان يموتوا[۱۴].

ژباړه : رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : په يو قوم کي چي گناه کېږي دوی يې د توان سره نه منعه کوي نو مخکي تر دې چي دوی مړه سي الله جل جلاله به په دنيا کي پر دوی باندي عذاب راولي.

زما مخلصو مشرانو او د اسلام او مسلمانۍ د ترقۍ هيله لرونکو دوستانو! دا هم د مسلمانانو ورځ په ورځ د تباهۍ او بربادۍ وجوهات دي هر سړی دي پر ديو ته نه، سيالانو ته نه بلکي خپلي کورنۍ، کشرانو او اولادو ته لږ په غور سره وگوري چي څومره په گناهو کي اخته دي ايا ده هم د يوې گناه څخه منع کړي دي؟ منع کول خو پرېږده ايا د منع کولو اراده يې کړې ده؟ او يا په دې فکر کي سوی دئ، چي زما نازولي زوی څه کوي؟ خو که د حکومت يو کوچني جرم وکړي دا خو لا پرېږده چي محضي په سياسي مجلسو کي يې گډون وکړي ته دستي فکرمن سي چي هسي نه چه موږ ورسره لټارسو نو دستي و زوی ته اخطارونه ورکوي ډول- ډول تدبيرونه په کار اچوي تر څو چي دی د دغه ناروا کار څخه راوگرځوي. نو چي

---

(۱۴) رواه ابوداود و ابن ماجة وابن حبان والا صبهاني وغير هم كذافي الترغيب.

ستا زوی د احکم الحاکمین ذات مجرم سي ايا تا يې د منع کولو څخه د دغه تدبیرونو څخه يو تدبير هم کړی دئ؟

ته ښه پوهیږې چي ستا زوی د شطرنج شوقي دئ او هره ورځ په اخته وي چي په تکرار سره لمونځ هم باندي پرېږدي ايا ستا د خولې څخه يوه ورځ په خطايي سره هم تر خوله ورته وتلي دي چه دا څه کوي؟ دا د مسلمانانو کار نه دئ. حال دا چي تا ته امر سوی دئ چي خوړل څښل مه ورسره کوه که دي زوي گنهگار و لکه مخکي چي تېر سو.

ببین تفاوت راه از کجا است تا به کجا

ترجمه: وگوره چه د لاري فرق د کوم ځاي څخه تر کومه ځایه پوري دی.

داسي خلک به ډېر پيدا کړئ چي د زوی څخه پر دې ناراضه وي چي زوي مي ناراسته دئ، کور پروت وي د کار کوښښ نه کوي يا په دوکان کي لټي کوي، داسي کسان به ډېر کم پيدا کړئ، چي د زوی څخه پر دې ناراضه وي چي لمونځ په جماعت نه کوي او يا لمونځ قضا کوي.

مشرانو او دوستانو! که چيري د دې وبال يوازي په آخرت کي وای بيا هم په کيلو مترونو تښتنه ځني لازمي ده، خو بد بختانه چي موږ يوازي د دنيا د تکليف څخه دومره تښتو او په کوم څه کي چي د دواړو دنيااو تاوان دئ د هغه هیڅ پروا نه کوو.

لږ فکر خو وکړی الله جل جلاله فرمايي: مَنْ كَانَ فِيْ هٰذِهٖ اَعْمٰى فَهُوَ فِي الاٰخِرَةِ اَعْمٰى.

اصلي خبره دا ده چي د سوره بقرې لاندي آيات پر دوی باندي صادق دئ:

خَتَمَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَعَلَىٰ سَمْعِهِمْ وَعَلَىٰٓ أَبْصَٰرِهِمْ غِشَٰوَةٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٧﴾ (۱۵)

امر بالمعروف پرېښودل د کلمې سپکاوی دئ

۵ - روي عن انس رضي الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال لا تزال لا اله الا الله تنفع من قالها وترد عنهم العذاب والنقمة مالم يستخفوا بحقها قالوا يا رسول الله ما الا ستخفاف بحقها قال يظهر العمل بمعاصي الله فلاينكر ولا

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: کلمه طيبه تل ويونکي ته گټه رسوي او د عذاب څخه يې ژغوري تر څو چه حق يې له منځه نه وي تللی. اصحابو کرامو وفرمايل چي يا رسول الله صلى الله عليه وسلم د حق د له منځه وړلو څخه يې مطلب څه شي دئ؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل، چي د الله جل جلاله نافرماني په ښکاره کېږي څوک يې مخه نه

---

(۱۵) سورة البقرة الاية (۷).

يغير (۱٦). | نيسي.

اوس نو تاسو په انصاف سره پرېکړه وکړئ چي د الله ﷻ نافرمانيو ته يو اندازه هم سته او د مخ نيولو لپاره او يا لږ تر لږه د کمولو لپاره يې يو څه کوښښ سته؟ هيڅکله نسته. په يوه داسي محيط کي ښکيل يو چي شا وخوا د مسلمانانو شتون په عالم کي د الله ﷻ يو انعام دئ که نه نو موږ هيڅ يو سبب د تباهي نه دئ پرې ايښي چي د ځان د تباه کولو لپاره مو نه وي برابر کړي. حضرت عائشي رضي الله عنها د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه، چي که په مځکه کي د الله ﷻ عذاب نازلېږي او په هغه ځای کي نېکان وي نو ايا دغه نېکانو ته به هم عذاب رسېږي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: چي په دنيا کي به يې ټولو ته اثر رسېږي خو په آخرت کي به د ګنهګارو خلګو څخه جلا سي. په همدې وجه نېک خلګ دي پخپلو نېکو عملونو نه باوري کېږي چي د خلګو څخه بر طرف ناست وي بلکي که خدای مه کړه د ګنهګارو په سبب عذاب نازل سو دوی ته به هم رسېږي.

که امر بالمعروف پاته سو بيا نو الله ﷻ دعا نه قبلوي

٦ - عن عائشة رضي الله عنها قالت دخل على النبي ﷺ فعرفت في وجهه ان قدحضره شيئ فتوضاء وما كلم احدا فلصقت باالحجرة استمع ما يقول فقعد على المنبر فحمدالله واثني عليه وقال يآ ايهاالناس ان الله تعالى يقول لكم مروا بالمعروف وانهوا عن المنكر قبل ان تدعوا فلا اجيب لكم وتسئلوني فلا اعطيكم وتستنصروني فلا انصركم فما زاد عليهن حتى نزل (۱۷).

ژباړه: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي: چي يوه ورځ نبي عليه السلام کورته تشريف راوړی په مخ کي يې يو ډول اثر موجود و، زه هم پوه سوم چي يو څه خبره سته. نبي عليه السلام د هيچا سره خبره نه وکړه اودس يې تازه کړ، مسجد ته ولاړی. زه د دېوال سره پيوست ودرېدم د دې لپاره چي نبي عليه السلام څه فرمايي. نبي عليه السلام منبر ته وختی د الله ﷻ حمد او ثنا يې ووېله بيا يې وويل: اې خلګو! امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوئ هسي نه چي داسي وخت راسي چي تاسو به دعا کوئ دعا به مو نه قبلېږي. غوښتنه به کوئ غوښتنه به مو نه پوره کېږي تاسو به د خپلو دښمنانو په مقابل کي مرسته غواړئ ستاسو مرسته به نه کېږي. نبي عليه السلام دغه خبري وکړي د منبر څخه را کښته سو.

(۱٦) رواه الا صبهاني - ترغيب.

(۱۷) رواه ابن ماجة وابن حبان في صحيحه كذا في الترغيب.

په دغه خبره کي دي هغه کسان زياته توجه وکړي، چي د دښمن په مقابل کي په دين کي سترګي پټوي په دين کي اسانتيا را منځته کوي او حال دا چي د دښمن په مقابله کي برياليتوب د دين په پوخوالي کي نغښتي دئ.

حضرت ابو درداء رضي الله عنه يو مخور صحابي دئ فرمايي چي تاسو امر بالمعروف او نهي عن المنكر کوئ که نه نو پر تاسو به يو داسي ظالم پاچا مقرر سي چي ستاسو د مشرانو عزت به نه کوي، ستاسو پر کشرانو باندي به رحم نه کوي، ستاسو بزرګان به دعا کوي دعاوي به يې نه قبليږي. د الله جل جلاله څخه به مرسته غواړئ مرسته به نه درسره کېږي بخښنه به غواړئ بخښنه به نه درته کېږي. الله جل جلاله فرمايي :

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ يَنصُرۡكُمۡ وَيُثَبِّتۡ أَقۡدَامَكُمۡ ۝٧ (18)

ژباړه : اې هغه کسانو چي ايمان يې راوړی دئ که تاسو د الله جل جلاله مرسته وکړئ ستاسو مرسته به وسي او د دښمن په مقابل کي به ستاسو قدمونه ټينګ سي (19).

په بل ځاي کي الله جل جلاله فرمايي: اِنْ يَّنْصُرْكُمُ اللّٰهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ . [الاية]

ترجمه : که الله جل جلاله ستاسو سره مرسته وکړي نو هيڅوک پر تاسو باندي برلاسي نه سي کولای او که ستاسو سره د الله جل جلاله مرسته ونه سي نو بيا بل څوک سته چي ستاسو مرسته وکړي؟ يوازي مؤمنانو ته پر الله جل جلاله باندي تکيه کول په کار ده. درمنثو د ترمذي او نورو په حواله د خذيفه رضي الله عنه څخه نقل کوي، چي نبي عليه السلام قسم وکړ، چي تاسو امر بالمعروف او نهي عن المنكر کوئ که نه نو د الله جل جلاله عذاب به پر تاسو باندي مقرر سي تاسو به دعاوي کوئ دعاوي به مو نه قبليږي. موږ تر دې حالته راسېدلي يو چي لومړی دي زموږ بزرګان دا فکر وکړي چي موږ د الله جل جلاله څومره نافرماني کوو بيا به معلومه سي چي زموږ کوښښونه ولي بېکاره دي، نتيجه ولي نه ورکوي، دعاوي مو ولي نه قبليږي او دا فکر وکړو چي موږ د ترقی تخم کرو او که د کښته تلو يعني بربادۍ تخم کرو.

که امر بالمعروف پاته سو د وحي برکت به ولاړ سي

٧ عن ابي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اذاعظمت امتي الدنيا نزعت منها هيبة الاسلام واذاتركت الامر بالمعروف والنهي

ترجمه : رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: کله چي زما امت دنيا لوی شی وبلله نو د اسلام هيبت به ولاړ سي کله چي يې امر بالمعروف او نهي عن المنكر پرېښودی

---

(18) سورة محمد الاية (٧).

(19) بيان القران.

عن المنكر حرمت بركة الوحي واذا تسابت امتي سقطت من عين الله[۲۰].

د وحيو د برکته څخه به بې برخي سي او کله چي زما امت په خپلو منځو کي يو د بله ښکنځل سره شروع کړه د الله ﷻ د نظره (رحمت) څخه به وغورځول سي.

اې د ملت خير خواهانو! د اسلام او مسلمانانو د ترقۍ لپاره هر سړی کوښښ کوونکی دئ خو کوم اسباب چي دوی په کار اچولي دي هغه يې کښته لوري ته بيايي. که چيري تاسو خپل رسول زما روح دي ترې قربان وي ربښتينی رسول بولئ او د ده مبارک تعليم ربښتينی تعليم بولئ نو بيا ولي هغه شی چي رسول الله ﷺ د ناروغۍ سبب بللی دئ او کوم چي د ده مبارک د ناروغۍ ريښه بللې ده تاسو يې شفا بولئ او د روغتيا سبب مو ګرځولی دئ. رسول الله ﷺ فرمايي: هيڅکله به ستاسو څخه يو کامل مسلمان نه سي تر هغه وخته پوري چي خپل خواهشات دين ته تابع نه کړي کوم چي ما راوړي دي. خو ستاسو نظر دا دئ چي د دين پرده دي ليري سي تر څو موږ هم د نورو قومونو په څير ترقي وکړو.

الله ﷻ فرمايي:

مَن كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ ٱلْـَٔاخِرَةِ نَزِدْ لَهُۥ فِى حَرْثِهِۦ ۖ وَمَن كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ ٱلدُّنْيَا نُؤْتِهِۦ مِنْهَا وَمَا لَهُۥ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ مِن نَّصِيبٍ ﴿٢٠﴾[۲۱]

ژباړه: کوم څوک چي د آخرت کښت غواړي موږ و هغه ته په خپل کښت کي ترقي ورکوو او کوم څوک چي د دنيا کښت غواړي نو موږ د دنيا څخه يو څه ورکوو مګر ده ته په آخرت کي هيڅ برخه نسته[۲۲].

په حديث شريف کي راغلي دي چي کوم څوک چي آخرت مقصود وګڼي الله ﷻ يې زړه غني کړي دنيا به سپکه ورته ښکاريږي او کوم څوک چي دنيا مقصود وګڼي نو په غمونو کي به اخته سي د دنيا د ډېروالي په فکر کي به وي او حال دا چه کوم څه چي د ده په تقدير کي ليکلي وي تر هغه به زياته برخه هم لاس ته را نه وړي.

رسول الله ﷺ د پورتني آيات تر تلاوت وروسته وفرمايل: الله ﷻ فرمايي: اې د آدم زويه! ته خپل ځان زما د عبادت لپاره فارغه کړه، زه به ستا زړه د شتمنۍ څخه ډک کړم او د فکرونو څخه به دي خلاص کړم ستا مسکنت به ليري کړم که نه نو تا به په وسوسو اخته کړم او مسکنت به دي هم ليري نه کړم. د الله ﷻ او د رسول الله ﷺ لارښوونې دي خو ستاسو په آند موږ ځکه وروسته پاته يو، چي د ترقۍ چي کومه لاره ده هغه ملايان موږ ته نه پرېږدي. تاسو په انصاف سره پرېکړه وکړئ چي ملايان ستاسو سره دو که کوي نو ستاسو له آنده خود

(۲۰) كذا في الدر عن الحكيم الترمذي.

(۲۱) سوزة الشورى الاية (۲۰).

(۲۲) بيان القران.

ملایانو روزي ستاسو له خوا ده نو ملایان بیا ولي ستاسو په ترقی نه خوشحالیږي؟ نو که تاسو ملایان دو که بازه بولئ نو ستاسو ترقي خو لا دوی ته گټوره ده ځکه ستاسو شتمني د دوی د رزق د پراخوالي او اسانتیا سبب کیږي. د دې سره چې ملایان تاسو منع کوي نو خامخا یوه مجبوري سته چې دوی دې ته اړباسي چه تاسو منع کوي. ستاسو په آند تاسو د ودي څخه راګرځوي تر خپلي ګټي تیریږي ګویا دنیا خرابوي.

زما دوستانو تاسو لږ فکر وکړئ که چیري ملایان داسي خبره وکړي چې په قرآن کي ښکاره موجوده وي نو ستاسو لپاره د هغې څخه مخ ګرځول د عقله څخه لیري ده او د اسلام څخه هم لیري ده. ملایان چي هر څومره نا اهله وي خو کوم آیات یا حدیث چي تر تاسو رسوي پر تاسو باندي یې عمل فرض دئ د نه منلو په صورت کي الله ﷻ تاسو ته جواب درکوي. د یوه ناپوه څخه بل ناپوه دا هم نه سي ویلای چي زه ځکه سرکاري قانون نه منم چه اعلان کوونکی یې نا اهله دئ، تاسو حضرات دا مه وایاست چي ملایانو دیني کارونه د خپل ځان لپاره خاص کړي دي تل د دنیا دارو څخه سوال کوي زما په آند خو حقیقي ملا هیڅکله خواست نه کوي بلکي څومره چي د الله ﷻ په عبادت کي مشغول وي په هغه اندازه په استغنی او بې پروایي سره تحفه قبلوي البته که د کوم دیني کار لپاره خواست کوي نو ثواب به یې تر نه سوال کوونکي زیات وي. یوه مشهوره تېروتنه دا ده چه په محمدي دین کي رهبانیت (ترک دنیا) نسته بلکي په دې دین کي د دنیا او آخرت دواړو لپاره کار راغلی دئ ځکه الله ﷻ فرمایي:

رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِى ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِى ٱلْـَٔاخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿٢٠١﴾ (۲۳)

یوازي د دغه آیات ته زور ورکول سوی دئ ګویا د عمل لپاره دغه یو آیات راغلی دی حال دا چي لومړی خو د دې آیات د تفسیر لپاره د علم د ماهرانو څخه د زده کړي اړتیا ده ځکه یوازي د لفظ د معنی په پوهاوي سره ځان د تفسیر عالم بلل جهالت دئ، اصحابو کرامو او تابعینو چي د پورتني آیات کوم تفسیرونه لیکلي دي په لاندي ډول دي:

د حضرت ابي قتاده رضي الله عنه څخه روایت دئ، چي د دنیا د ښېګڼي څخه مراد عافیت دئ او د بسني په پیمانه روزي ده. حضرت علي رضي الله عنه فرمایي: چي د حسنة څخه مراد نېکه بي بي ده. حسن بصري رحمه الله فرمایي: چي مراد ځني علم او عبادت دئ. سدي رحمه الله فرمایي، چي پاک مال ځني مراد دئ. ابن عمر رضي الله عنه فرمایي چي نېک اولاد او د خلګو ستاینه ځني مراد ده. حضرت جعفر رضي الله عنه فرمایي چي صحت، کافي روزي، د الله ﷻ په کلام پوهېدل، پر دښمنانو برلاسی او د نېکو خلګو صحبت ځني مراد دي. دو همه خبره دا ده چي په دې آیات

---

(۲۳) سورة البقرة الاية (۲۰۱).

كي كه هر د ول دنياوي ترقي مراد ده لكه زما زړه چي يې هم غواړي نو خو بيا هم د الله ﷻ
شخه د دې كارونو لپاره دعا ده، د دې معنى دا ده چي هر د ول كوښښ چي دي كولای سو هغه
مه كوه بلكي د الله ﷻ شخه هم مرسته غواړه او د الله ﷻ مرسته په دين كي ستاو الله ﷻ
ته دعا خپله دين دئ. دريمه خبره دا ده چه تاسو شوک د دنيا گټلو شخه منع كوي؟ بالكل په
دې هر شوق يې حاصلوئ. زموږ مقصد دا نه دئ چي خداي مه كړه تاسو دا مقصودي شي
پرېږدئ بلكي مقصد مو دا دئ چي تاسو چي شومره دنيا گټي نو تر دنيا گټلو كه زيات نه وي
نو ورسره برابر خو د دين لپاره خواري وباسئ، شكه ستاسو په آند چي موږ ته د دنيا او آخرت
تعليم را كړل سوى دئ كه نه نو زه هم پوښتنه كوم چي په كوم قرآن كي چي پورتني آيات بيان
سوى دئ نو دا آيات هم پكښې بيان سوى دئ، چي الله ﷻ فرمايي:

مَن كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ ٱلْـَٔاخِرَةِ نَزِدْ لَهُۥ فِى حَرْثِهِۦ ۖ وَمَن كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ ٱلدُّنْيَا نُؤْتِهِۦ مِنْهَا وَمَا لَهُۥ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ مِن نَّصِيبٍ ﴿٢٠﴾ [۲۴]

او دا آيات هم دئ چي الله ﷻ فرمايي:

مَّن كَانَ يُرِيدُ ٱلْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهُۥ فِيهَا مَا نَشَآءُ لِمَن نُّرِيدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهُۥ جَهَنَّمَ يَصْلَىٰهَا مَذْمُومًا مَّدْحُورًا ﴿١٨﴾ وَمَنْ أَرَادَ ٱلْـَٔاخِرَةَ وَسَعَىٰ لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ كَانَ سَعْيُهُم مَّشْكُورًا ﴿١٩﴾ [۲۵]

په بل ځاي كي الله ﷻ فرمايي:

ذَٰلِكَ مَتَـٰعُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسْنُ ٱلْمَـَٔابِ ﴿١٤﴾ [۲٦]

په بل ځاي كي الله ﷻ فرمايي:

مِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلدُّنْيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلْـَٔاخِرَةَ [۲۷]

په بل ځاى كي الله ﷻ فرمايي:

قُلْ مَتَـٰعُ ٱلدُّنْيَا قَلِيلٌ وَٱلْـَٔاخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ ٱتَّقَىٰ [۲۸]

---

[۲۴] سورة الشورى الاية (۲۰).

[۲۵] سورة بني اسرائيل الايتان (۱۸ ، ۱۹).

[۲٦] سورة ال عمران الاية (۱۴).

[۲۷] سورة ال عمران الاية (۱۵۲).

[۲۸] سورة النساء الاية (۷۷).

په بل ځاي کي الله جلاله فرمايي:

وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا لَعِبٞ وَلَهۡوٞۖ وَلَلدَّارُ ٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَ (٢٩)

بل ځاي الله جلاله فرمايي:

وَذَرِ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ دِينَهُمۡ لَعِبٗا وَلَهۡوٗا وَغَرَّتۡهُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَاۚ (٣٠)

بل ځای الله جلاله فرمايي:

مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَكُونَ لَهُۥٓ أَسۡرَىٰ حَتَّىٰ يُثۡخِنَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ تُرِيدُونَ عَرَضَ ٱلدُّنۡيَا وَٱللَّهُ يُرِيدُ ٱلۡأٓخِرَةَۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ﴿٦٧﴾ (٣١)

بل ځاي الله جلاله فرمايي:

أَرَضِيتُم بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا مِنَ ٱلۡأٓخِرَةِۚ فَمَا مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ ﴿٣٨﴾ (٣٢)

په بل ځاي کي الله جلاله فرمايي:

مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيۡهِمۡ أَعۡمَٰلَهُمۡ فِيهَا وَهُمۡ فِيهَا لَا يُبۡخَسُونَ ﴿١٥﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَيۡسَ لَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا ٱلنَّارُۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُواْ فِيهَا وَبَٰطِلٞ مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٦﴾ (٣٣)

په بل ځاي کي الله جلاله فرمايي:

ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ وَفَرِحُواْ بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا مَتَٰعٞ ﴿٢٦﴾ (٣٤)

په بل ځای کي الله جلاله فرمايي:

---

(٢٩) سورة الانعام الاية (٣٢).

(٣٠) سورةالانعام الاية (٧٠).

(٣١) سورة الانفال الاية (٦٧).

(٣٢) سورة التوبة الاية (٣٨).

(٣٣) سورة هود الايتان (١٥ ، ١٦).

(٣٤) سورة الرعد الاية (٢٦).

مَن كَفَرَ بِٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ إِيمَـٰنِهِۦٓ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُۥ مُطْمَئِنٌّۢ بِٱلْإِيمَـٰنِ وَلَـٰكِن مَّن شَرَحَ بِٱلْكُفْرِ صَدْرًا فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِّنَ ٱللَّهِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٠٦﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ ٱسْتَحَبُّوا۟ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا عَلَى ٱلْـَٔاخِرَةِ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴿١٠٧﴾ (٣٥)

د دې پرته نور هم ډير آياتونه سته چي د دنيا او آخرت مقابله پکښې سوې ده خو په دې ځاي کي د ټولو آياتونو راجمع کول مقصود نه دي او نه يې اړتيا سته، د نمونې لپاره مې څو آياتونه په لنډول وليکل او د لنډوالي په خاطر مي د ترجمې پر ځاي د سيپاري حواله وليکل، په يوه ترجمه سوي قرآن کي يې ترجمه وګورئ (ما ژباړونکي د لااسانتيا په موخه سورة نوم او آيات شمېره وليکل) د ټولو مطلب دا دئ چي څوک د آخرت پر ځای د دنيا ژوند غوره کړي نو ډېر زيات تاوان به يې کړی وي که د دنيا او آخرت دواړه ژوند د سړي و لاس ته نه ورځي نو بيا د آخرت ژوند غوره کول بهتر دي، زه د دې څخه انکار نه کوم چي د دنيا د ژوند اړتيا وي به سړی نه پوره کوي بلکي چاره نسته خو دا يوه خبره ده چي هر سړي لپاره بيت الخلا ته تلل ضرورت دئ، هيڅ چاره نسته ځني، خو که څوک ټوله ورځ پکښې تېروي دا به د عقله ليري خبره وي. تاسو د الله ﷻ په حکمتونو کي نظر واچوئ په سپېڅلي شريعت کي هر شی اصولي دئ او هر شی الله ﷻ روښانه بيان کړی دئ. د لمونځونو د وختونو په وېش کي په څرګنده دې ته اشاره ده، چي په شپه او ورځ کي نيم وخت د بنده حق دئ د ده خوښه ده چي دغه وخت په ارام او استراحت تيروي او نيم وخت د الله ﷻ حق دئ.

تاسو به په دغه وخت کي د الله ﷻ عبادت کوئ ستاسو په آند په ژوند کي د دنيا او آخرت دواړه کارونه لازمي دي نو که تاسو په څليرويشت ساعته کي دوولس ساعته عبادت کوئ او دوولس ساعته استراحت او د دنيا کارونه کوئ خو ښه دئ او که عبادت تر دوولس ساعته کم کوئ نو ستاسو د وينا له مخي تاسو دنيا غوره کړېده د آخرت ژوند مو شا ته کړی دئ، بيا نو ستاسو د فيصلې مطابق دغه انصاف دئ، چي څليرويشت ساعته دي ټوله د دنيا کارونو او استراحت ته ورکړل سي دين ته دي بيخي وخت نه ورکول کېږي که ورکړل سي نو ډېر لږ وي ايا دغه انصاف دی؟

په دې فصل کي د تبليغ په اړه د حديثونو بيانول مقصود و، پر دغو اوه حديثونو باندي بسنه کوم ځکه د منونکي لپاره اووه خو څه کوې يو حديث هم کفايت کوي او څوک چي يې نه مني د هغه لپاره لاندي آيات بسنه کوي:

(٣٥) سورة النحل الايتان (١٠٦ - ١٠٧).

وَسَيَعۡلَمُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ أَيَّ مُنقَلَبٖ يَنقَلِبُونَ ﴿٢٢٧﴾ [۳۶]

په اخر کي مي يو عرض دا دئ چي د ځينو حديثونو څخه معلومېږي چي کله د فتنو په وخت شو متوب اختيار سي د نفساني خواهشاتو تابعداري شروع نه سي، په هر کار کي خپل نظر مني د بل چا دا نه مني په دغه وخت کي نبي ﷺ د خپل ځان د اصلاح امر کړی دئ او د دې امر يې کړی دئ، چي نور پرېږدئ. مګر د علماوو په آند هغه وخت لا تر اوسه نه دئ راغلی اوس څه چي کوئ هغه کولای سئ که خدای مه کړه هغه وخت راغلی نو په هغه وخت کي به بيا هيڅ اصلاح نه سي راتلای. کوم عيبونه چي په حديثونو کي بيان سوي دي د هغو څخه ځان ژغورل لازمي دي، ځکه چي دغه شيان د هلاکوونکو شيانو دروازې دي وروسته يې فتنې او بربادونکي شيان او دغه ټول شيان په هلاکوونکو شيانو کي حساب کړل سوي دي. اللهم احفظنا من الفتن ماظهر منها وما بطن.

دريم فصل

په دې فصل کي يو ضروري خبرداری مقصود دئ، هغه دا چي څنګه په اوس وخت کي د تبليغ څخه سستي کېږي او عام خلک څنګه د تبليغ څخه بې پروا دي. همدا ډول په ځينو خلګو کي دا مرض دئ چي کله پر يوه دنده باندي وګومارل سي لکه تحرير، تعليم او تبليغ نو د نورو خلګو په فکر اخته سي خپل ځان يې هېر سي حال دا چي لکه څنګه چي د نورو خلګو و اصلاح ته اړتيا ده تر هغه زيات د خپل ځان اصلاح ضروري ده، نبي ﷺ بې حسابه ځايونه فرمايلي دي چي تاسو داسي مه کوئ چي خلګو ته نصيحت کوئ او ځانونه مو هېر کړي وي او خپله په ګناهو اخته ياست. نبي ﷺ د معراج په شپه يوه ډله وليده چي د اور په غچيانو يې شونډان پرې کېدل، رسول الله ﷺ د جبرائيل ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي دا څوک دي؟ جبرائيل ﷺ ورته وويل دا ستا د امت تقرير کوونکي او واعظان دي، چي خلګو ته به يې نصيحت کاوه خپله به يې عمل نه په کاوه[۳۷].

په يو حديث کي راغلي دي، چي د جنتيانو څخه به يو څو کسان ولاړ سي د دوزخيانو څخه به پوښتنه وکړي چي تاسو څنګه دوزخ ته راغلي ياست؟ موږ ستاسو د خبرو د عمل کولو په برکت جنت ته راغلو، دوزخيان به ورته ووايي چي موږ تاسو ته نصيحت کاوه او خپله مو عمل نه په کاوه. په يو بل حديث کي راغلي دي چي بد کاره قاريانو (عالمانو) ته به د

---

[۳۶] سورة الشعراء الاية (۲۲۷).
[۳۷] مشكوة شريف.

دوزخ اور په تېزي سره ورځي هغه به په دې حيران سي چي ولي موږ ته تر مشركانو مخكي عذاب راكول كېږي؟ دوی ته به جواب وركړل سي چي د پوهي سره جرم كول تر هغه جرم زيات دئ چي په ناخبري سره يې كړی وي.

عالمانو ليكلي دي چي هغه وعظ او نصيحت گټه نه رسوي چي خپله عمل نه په كوي همدا وجه ده چي نن سبا زيات شمېر جلسې كېږي تقريرونه پكښي كېږي او هيڅ اثر نه كوي، زيات شمېر رسالې چاپېږي هيڅ گټه نه رسوي.

پخپله الله جل جلاله فرمايي:

﴿أَتَأْمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ وَأَنتُمْ تَتْلُونَ ٱلْكِتَٰبَ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٤٤﴾﴾[۳۸]

ژباړه: ايا تاسو خلك په نېكۍ سره امر كوئ ځانونه مو هېر كړي دي او تاسو كتاب هم لولئ ايا تاسو نه پوهېږئ[۳۹].

نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي:

ما تزال قدماعبد يوم القيامة حتى يسئل عن اربع عن عمره فيم افناه وعن شبابه فيم ابلاه وعن ماله من اين اكتسبه وفيم انفقه وعن علمه ماذا عمل فيه[۴۰].

ترجمه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: تر هغه وخته پوري د بنده پښې د قيامت په ورځ د خپله ځايه نه سي پورته كيدلای تر څو څلورو پوښتنو ته جواب ونه وايي: (لومړی) دا چي عمر دې په څه شي كي مصرف كړ؟ (دوهم) دا چي ځواني دې په څه شي كي مصرف كړه؟ (دريم) دا چي مال دې د كوم لوري څخه لاسته راوړ او په څه شي دې مصرف كړ؟ (څلورم) دا چي په علم دې څه عمل كړی دئ؟

حضرت ابو درداء رضي الله عنه يو مخور صحابي دئ فرمايي چي تر ټولو زما سره د دې زياته وېره ده چي د قيامت په ورځ به ماته اواز وسي او پوښتنه به را څخه وسي چي څومره علم دې لاسته راوړی دئ او څومره عمل دې په كړی دئ؟ د نبي عليه السلام څخه يو چا پوښتنه وكړه چي يا رسول الله صلى الله عليه وسلم ! تر ټولو خلكو بدترين څوك دئ؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: د بدو خبرو پوښتنه مه كوه د ښو خبرو پوښتنه كول په كار دي، بد ترين د خلكو عالمان دي. په يو حديث كي راغلي دي چي علم پر دوه قسمه دئ: يو هغه علم دئ چي تش پر ژبه باندي وي دغه علم د الله جل جلاله له خوا الزام دئ، گويا پر عالم باندي د جرم ثبوت دئ. دوهم هغه علم دئ چي پر زړه باندي يې اثر كړی وي دغه علم نافع دئ. حاصل دا چي د ظاهري علم تر څنگ باطني علم هم حاصل كړئ تر څو د باطني علم په مټ باندي پر زړه باندي اثر ولوېږي او كه پر زړه باندي

---

(۳۸) سورة البقرة الاية (۴۴).

(۳۹) ترجمة عاشقي.

(۴۰) ترغيب عن البيهقي و غيره.

اثر نه وي نو هغه علم به د الله ﷻ له لوري الزام وي او د قیامت په ورځ به نیول کېږي او ورته ویل کېږي چي په دې علم دي څه عمل وکړئ. همدا ډول په ډېرو حدیثونو او روایاتو کي سخت – سخت عذابونه راغلي دي زما و محترمو مبلغینو ته خواست دا دئ چي لومړي دي د خپل ظاهر او باطن د اصلاح فکر وکړي که نه نو خدای مه کړه په دغه سختو عذابونو کي به راښکیل سي. الله ﷻ دي د خپل پراخ رحمت په برکت ما ګنهګار ته د ظاهر او باطن اصلاح را نصیب کړي. ځکه زه تر خپل ځان زیات بد عمله هیڅوک نه وینم. (الا ان یتغمدني الله برحمته واسعة)

څلورم فصل

په دې فصل کي مقصد دا دئ چي د مبلغینو توجه یوې ضروري خبري ته راوګرځول سي، هغه دا چي ډېر وخت په بې احتیاطۍ سره کله د فایدې سره تاوان هم ملګري سي د همدې وجي څخه د هر لوري څخه احتیاط کول په کار دي، ډېر وخت یو تقریر کوونکی په جوش کي وي د یوه مسلمان بې پرده ګي وکړي او حال دا چي د مسلمان پرده ساتل یو لوی قیمتي شی دی. نبي علیه السلام فرمایي:

عن ابي هريرة رضي الله عنه مرفوعا من ستر على مسلم ستره الله في الدنيا والاخره والله في عون العبد ما كان العبد في عون اخيه[۴۱].

ژباړه: څوک چي د مسلمان پرده کوي الله ﷻ د ده پرده په دنیا او آخرت کي کوي. الله ﷻ د بنده مرسته کوي تر څو چي دی د ورور مسلمان مرسته کوي.

په بل ځای کي رسول الله ﷺ فرمایي:

عن ابن عباس رضي الله عنهما مرفوعامن ستر عورة اخيه ستر الله عورته يوم القيامه ومن كشف عورة اخيه المسلم كشف الله عورته حتى يفضحه بها في بيته[۴۲].

ژباړه: نبي علیه السلام فرمایي: څوک چي د مسلمان پرده وکړي الله ﷻ به د ده پرده وکړي او څوک چي د مسلمان بې پرده ګي وکړي الله ﷻ به د ده بې پرده ګي وکړي تر دا سي بریده چي کور به ناست وي بې پردې به سي.

لنډه دا چي دا سي ډول ډېر روایتونه راغلي دي په همدې وجه مبلغینو کرامو! د مسلمان د پردې کولو زیات اهتمام وکړئ دا ډېره ضروري ده او د دې څخه زیات د عزت

---

[۴۱] رواه مسلم وابو داود وغير هما - ترغيب.
[۴۲] رواه ابن ماجة - ترغيب.

ساتنه ده. رسول الله ﷺ فرمايي: څوک چي د مسلمان مرسته په داسي وخت کي و نه کړي چي د مسلمان بي عزتي کېږي الله ﷻ به د ده د مرستي څخه په داسي وخت کي اعراض وکړي چي دی مرستي ته اړ وي. بل ځای رسول الله ﷺ فرمايي: بدترين سود د مسلمان بې عزتي ده. په همدې ډول ډېر روايتونه راغلي دي چي د مسلمان د بي پرده ګۍ په صورت کي سخت عذابونه پکښې ښودل سوي دي په همدې وجه مبلغينو کرامو ته په کار ده چي د نهي عن المنکر په صورت کي د خپل لوري څخه د مسلمان څخه پرده ليري نه کړي. کوم بدکاره چي پټ ورته معلوم وي هغه دي په پټه بند کړي، کوم بد کاره چي ښکاره وي هغه دي په ښکاره بند کړي. په همدې ترتيب دي د منع کولو په وخت کي د هغه فکر ساتي هسي نه چي نېکي برباد سي او ګناه لازمه سي. مطلب دا چي د ګناه څخه منع کول يعني نهي عن المنکر دي خامخا وسي ځکه د نه کولو عذابونه هم بيان سول، چي ډېر سخت دي خو په دغه کار کي دي د مسلمان عزت وساتل سي طريقه يې دا ده چي کوم کس چي ناروا په ښکاره کوي په ښکاره دي منع سي او کوم کس چي يې پټه کوي نو هغه دي په داسي شکل منع کړي چي بي پرده ګي يې پکښې ونه سي. همدا ډول دا هم د تبليغ د اصولو څخه دي چي په تبليغ کي دي نرمي اختيار سي. مأمون الرشيد خليفه ته يو چا په سخته لهجه خبري وکړې، مامون ورته وويل چي په نرمه لهجه خبري کوه ځکه چي الله ﷻ ترتا بهتر يعني موسی عليه السلام او هارون عليه السلام تر ما بدتر يعني فرعون ته ليږلي وه، مګر د خبرو کولو لپاره يې داسي امر ورته کړی وو: فقولا له قـولا لينـا يعني تاسو د فرعون سره په نرمۍ خبري کوئ ښايي چي هغه نصيحت قبول کړي. (د مامون رشيد مطلب دا و چي ته د هغه هدايت څخه ګټه واخله او په نرمه لهجه ماته خبري کوه) د نبي عليه السلام په حضور کي يو ځوان حاضر سو او وې ويل چي يا رسول الله ﷺ ماته د زنا اجازه وکړه. اصحابو کرامو دا خبره نه سوای زغملای درد ورغلی نا راضه سول. نبي عليه السلام هغه کس ځان ته رانژدې کړ، په نرمۍ يې پوښتنه ځني وکړه چي ته غواړې چي ستا د مور سره څوک زنا وکړي؟ هغه ځوان ورته وويل چي ستا قربان سم دا خو زه هيڅکله نه سم قبلولای. رسول الله ﷺ ورته وفرمايل، چي: ستا په څېر نور خلګ هم نه سي قبلولای چي د دوی د ميندو سره زنا وسي. بيا رسول الله ﷺ پوښتنه ځني وکړه چي ته غواړې چي ستا د لور سره دي زنا وسي؟ هغه کس ورته وويل چي دا خو زه هيڅ نه سم قبلولای. رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چي ستا په څېر نور خلګ هم نه سي قبلولای چي د دوی د لوڼو سره دي زنا وسي. بيا نبي عليه السلام د خور، عمه او خاله په اړه پوښتني ځني وکړې هغه په پورتني ډول جواب ورکاوه. بيا نبي عليه السلام د هغه ځوان پر سينه باندي لاس کېښېښودی او دعا يې ورته وکړه، چي اې خدايه! د ده زړه پاک کړې او ګناهونه يې معاف کړې او شرمګاه يې د ګناه څخه محفوظ کړې. راوي وايي چي دغه سړي بيا د هيڅ شي څخه دومره

نفرت نه کاوه لکه د زنا څخه چې یې کاوه. مطلب دا چې په دعا، نرمۍ او دوا سره دې کار واخلي او دا فکر دې وکړي چې که زه د ده پر ځای سم د ځان لپاره کومه طریقه خوښوم.

پنځم فصل

په دې فصل کې مبلغینو ته یو ضروري درخواست کوم هغه دا چې په هر تقریر او تحریر کې دې د اخلاص څخه کار واخلي ځکه چې د اخلاص لږ کار هم ډېرې ګټې لري او بې اخلاصه کار نه په دنیا کې اثر لري او نه په آخرت کې مزدوري لري. نبي عليه السلام فرمايي:

ان الله لا ينظر الى صوركم واموالكم ولكن ينظر ال قلوبكم واعمالكم(۴۳).	ژباړه: بېشکه الله جل جلاله ستاسو شکلونو او مالو ته نه ګوري بلکې ستاسو عملونو ته ګوري.

په یو بل حدیث کې راغلي دي چې د نبي عليه السلام څخه چا پوښتنه وکړه چې ایمان څه شي دئ؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل چې اخلاص دئ. ترغیب نومي کتاب نوموړي مضمون په مختلفو روایتونو رانقل کړی دئ. په همدې ډول نبي عليه السلام چې کله معاذ رضي الله عنه د یمن حاکم مقرر کړ، نو ده غوښتنه وکړه چې ما ته یو څه وصیت وکړه. نبي عليه السلام ورته وویل چې په دین کې د اخلاص خیال ساته ځکه په اخلاص سره لږ کار هم کافي دئ. په یو حدیث کې راغلي دي چې الله جل جلاله هغه عملونه قبلوي چې خالص د الله جل جلاله لپاره سوي وي.

په یو بل حدیث کې راغلي دي:

قال الله تعالى انا اغني الشركآء عن الشرك من عمل عملا اشرك فيه معي غيري تركته وشركه وفي روايه فانا منه برئ فهوللذي عمله(۴۴).	ژباړه: الله جل جلاله فرمايي: زه د شریکانو د شراکت څخه مستغني یم (یعني د دنیا خلګ و شریکانو ته محتاجه دي خو زه د ټول مخلوق پیداکوونکی یم د شریکانو څخه بېزاره یم) څوک چې زما سره په عبادت کې شریک ونیسي زه هغه عبادت و هغه شریک ته سپارم زه ځني بېزاره یم.

په یو بل حدیث کې راغلي دي چې په ورځ د قیامت به یو اواز وسي چې چا چې د الله جل جلاله سره په عبادت کې شریک نیولی دئ د عبادت بدله دې د هغه څخه وغواړي. الله جل جلاله د ټولو شریکانو څخه بې نیازه دئ. په یو بل حدیث کې راغلي دي:

---

(۴۳) مشکوه عن مسلم.

(۴۴) مشکوه عن مسلم.

من صلى يرآءي فقداشرك ومن صام يرآءي فقد اشرك ومن تصدق يراءي فقد اشرک[۴۵].

ترجمه : څوک چي لمونځ د ريا لپاره کوي مشرک دئ، څوک چي د ريا لپاره روژه نيسي مشرک دئ او څوک چي خيرات د ريا لپاره کوي هغه مشرک دئ.

د مشرک کېدو څخه هدف دا دئ چي څوک د ځان ښودني په موخه عبادت کوي دا د الله ﷻ سره شريک نيول دي په دغه حالت کي د ده عملونه د الله ﷻ لپاره نه پاتېږي بلکي د هغه خلګو لپاره دي چي ده ځان په عبادت ښه ورته ښودی. په يو بل حديث کي راغلي دي:

ان اول الناس يقضى عليه يوم القيامه رجل استشهد فاوتي به فعرفه نعمته فعرفها فقال فماعملت فيها قال قاتلت فيک حتى استشهدت قال كذبت ولكنک قاتلت لان يقال جريء فقد قيل ثم امر به فسحب على وجهه حتى القي في النار . ورجل تعلم العلم وعلمه وقرء القرآن فاوتي به فعرفه نعمه فعرفها قال فما عملت فيها قال تعلمت العلم وعلمته و قرأت فيک القرآن قال كذبت ولكنک تعلمت العلم ليقال انک عالم وقرأت القرآن ليقال هو قارئ فقدقيل ثم امر به فسحب على وجهه حتى القي في النار . ورجل وسع الله عليه واعطاه من اصناف المال كله فاوتي به فعرفه نعمه فعرفها قال فماعملت فيها قال ماتركت من سبيل تحب ان ينفق فيها الا انفقت فيها لک قال كذبت

ترجمه : د قيامت په ورځ چي په خلګو کي يې لومړی فيصله کېږي شهيد دئ، دی به راوغوښتل سي لومړی به هغه نعمتونه ورته ښکاره سي چي د شهيد لپاره بيان سوي دي بيا به ده ته وويل سي چي تا د دې نعمتو څخه کوم ګټه اخستې ده؟ دی به ووايي چي ما ستا د رضا لپاره جهاد وکړ تر څو شهيد سوم؟ ده ته به وويل سي چي درواغ وايې تا د دې لپاره جهاد کاوه چي تا ته د لاوره وويل سي. نو ده ته به د عذاب فکر وسي په دوزخ کي به پړمخي وغورځول سي. دوهم هغه عالم دئ چي علم يې لاسته راوړی وي، نورو ته يې ښودلی وي، قرآن يې زده کړی وي لومړي به راوغوښتل سي کوم نعمتونه چي د عالم لپاره بيان سوي دي هغه به ورته ښکاره سي بيا به د ده څخه پوښتنه وسي چي د دې نعمتو لپاره دي کوم کوم عملونه کړي دي؟ دی به ورته وو ايي چي ستا د رضا لپاره مي علم حاصل کړی نورو ته مي وښودی قرآن مي زده کړی. ورته وبه ويل سي چي درواغ وايې تا د دې لپاره علم حاصل کړی دئ چي تا ته عالم او قاري وويل سي وروسته به ده ته د عذاب حکم واورول سي پړمخي به په دوزخ کي وغورځول سي. دريم به شتمن سړی راوغوښتل سي چي الله ﷻ به ښه د مال پراخي ورکړې وي ډول ډول مالونه به يې ورکړي وي لومړی به د سخا نعمتونه ورته وښودل سي بيا به پوښتنه ځني وسي چي د دې نعمتو لپاره دي کوم عملونه کړي دي؟ دی به ورته وو ايي چي ما هيڅ داسي نيک ځای نه دئ پرې ايښی چي د الله ﷻ د رضا لپاره مي پيسي نه وي

(۴۵) مشکوه عن احمد.

ولكنک فعلت ليقال هو جواد فقد قيل ثم امر به فسحب به على وجهه ثم القي في النار[۴۶].	پکښې صدقه کړي. جواب به ورکړل سي چي دروا غ وايې دا دي ددې لپاره کړي دي چي تاته سخي وويل سي. بيا به د عذاب حکم ورته واورل سي پړمخي به په دوزخ کي وغورځول سي.

د همدې وجهې څخه يوه ضروري او مهمه خبره دا ده چي مبلغين حضرات به پخپلو ټولو کارونو کي د الله ﷻ رض، د الله ﷻ د دين خپرول او د نبي ﷺ د سنتو تابعداري مقصود وبولي. شهرت، عزت او ستايني ته دي يوه ذره هم په زړه کي ځای نه ورکوي. که يې په فکر کي راسي نو په ولاحول او استغفار سره دي يې ليري کړي. الله ﷻ دي پخپله مهربانۍ سره، د خپل محبوب په صدقه او د خپل محبوب د کلام په برکت سره ما ګنهګار او تاسو کتونکو ته د اخلاص توفيق را نصيب کړي. (آمين)

شپږم فصل

په دې فصل کي د عامو خلګو يوې ضروري خبري ته متوجه کول دي هغه دا چي په نن زمانه کي پر عالمانو باندي بدګوماني او بي توجهي نه بلکي د دوی مقابله او سپکاوی بيخي عام دئ. دا کار په ديني لحاظ ډېر زيات خطرناک دئ. دا ښکاره او رښتيا خبره ده چي په هره ډله کي ښه او بد خلک سته په علماوو کي تر دې هم زيات سته، يعني په عالمانو کي هم بد ګڼ سوي دي خو دوې خبري د يادوني وړ دي: لومړی دا چي پر يو عالم باندي د بدۍ ثبوت نه وي نو پرده باندي بدګوماني نه ده په کار ځکه الله ﷻ فرمايي:

وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ ۚ إِنَّ ٱلسَّمْعَ وَٱلْبَصَرَ وَٱلْفُؤَادَ كُلُّ أُو۟لَٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْـُٔولًا ﴿٣٦﴾ (۴۷)	ژباړه: د کومي خبري تحقيق چه تاته تحقيق نه وي په هغه عمل مه کوه بېشکه د غوږ، ستر ګي او زړه د هر چا څخه به پوښتنه کوي.

يوازي په دې وجه د ويونکي خبره ردول چي ښايي نوموړی به په بدو عالمانو کي وي نور هم زيات ظلم دئ. نبي ﷺ دومره احتياط کاوه چي يهوديانو به د تورات مضامين په عربي ژباړلي وه (او خلګو ته به يې) اورول. نبي ﷺ به اصحابو کرامو ته ويل چي مه يې رشتيا بولئ او مه يې دروا غ بولئ بلکي دا واياست چي کوم څه چي الله ﷻ نازل کړي دي پر

---

(۴۶) مشكوه عن مسلم.

(۴۷) سورة بني اسرائيل الاية (٣٦).

هغو تړلو باندي زموږ ايمان دئ. يعني د کافرانو څخه رانقل سوی شی يې هم د څېړني پرته نه درواغ او نه رشتيا باله. خو زموږ د خلکو عادت دا دئ چي يو څوک زموږ د نظره مخالفه خبره وکړي نو موږ يې د ده پر ذات حملوو (خو دا ښه کار نه دئ) که څه هم موږ ته معلومه سي چي دی اهل حق نه دئ.

دوهمه خبره دا ده چي حقاني علماء د خير علماء او لارښود علماء هم د بشر څخه خالي نه وي (د بشر سره هېره او خطا وي) بې ګناه پاتېدل خو د انبياوو شان دئ په همدې وجه د علماوو خطاوي، کمزوري، نيمګړتياوي د دوی ذمه واري ده، الله ﷻ معامله ورسره کوي که يې بخښل او که يې سزا ورکول بلکي غالبه دا ده چي الله ﷻ به يې وبخښي ځکه الله ﷻ ډير غيرتي ذات دئ کوم بنده چي د ده په لاره کي مشغول سي نور کاروبار پرېږدي نو غالبه دا ده چي الله ﷻ يې ګناهونه معاف کړي او که سزا ورکوي هم د الله ﷻ خوښه ده ځکه دا هم عدل تقاضا ده، خو د دغه کارو په وجهٔ د علماوو په وړاندي بد ښکاره کول يا خلک باندي بد ګومانه کول، د خلکو نفرت ځني پيدا کول او يا خلک ځني ليري کول دا د خلکو لپاره د بې ديني سبب کېږي او د داسي کس لپاره لوی وبال دئ. نبي ﷺ فرمايي:

ان من اجلال الله تعالى اكرام ذي شيبة المسلم وحامل القرآن غيرالعالي فيه ولا الجافي عنه واكرام ذي السلطان المقسط[٤٨].

ژباړه: د درو کسانو عزت د الله ﷻ عزت دئ: يو د سپين ږيري مسلمان عزت، دوهم د قران د حافظ عزت چي د ډېري نيمګړتيا څخه خالي وي، دريم د عادل پاچا عزت.

په بل حديث کي نبي ﷺ فرمايي:

ليس من امتي من لم يبجل كبيرنا ولم يرحم صغيرنا ويعرف عالمنا(٤٩).

ژباړه: څوک چي زموږ د مشرانو عزت نه کوي، زموږ پر کشرانو باندي رحم نه کوي او زموږ د علماوو قدر نه کوي هغه زما د امت څخه نه دئ.

په بل حديث کي نبي ﷺ فرمايي:

عن ابي امامة رضي الله عنه عن رسول الله ﷺ قال ثلث لا يستخف بهم الا منافق ذوالشيبة في الاسلام وذوالعلم وامام مقسط(٥٠).

ژباړه: نبي ﷺ فرمايي: درې کسان دي چي د منافق پرته يې بل څوک سپک نه ګڼي: يو مسلمان سپين ږيري دئ، (دوهم) عالم دئ، (دريم) عادل واکمن دئ.

---

(٤٨) ترغيب عن ابي داود.

(٤٩) ترغيب عن احمد والحاكم وغيرهما.

(٥٠) الترغيب عن الطبراني.

په ځینو روایتو کي راغلي دي چي نبي ﷺ فرمايي : زما تر سره د خپل امت په اړه د درو شيانو ويره ده: لومړی دا چي دوی به ډېر مال پيدا کړي د مال په وجه به پخپلو منځو کي حسد سره کوي، دوهم دا چي قرآن کريم به د خلکو په منځو کي دومره عام سي چي هر سړي به يې د معنی د پوهاوي کوښښ کوي او حال دا چي د قرآن ځيني معاني يوازي الله جل جلاله ته معلوم دي نو موتي علماء به لا دا وايي چي زموږ پر دغو شيانو باندي ايمان دئ دا زموږ د پروردګار له لوري څخه دي[51]. يعني يا خه تصديق والا علماء به لا وايي چي موږ يې په معنی نه پوهيږو په دې باندي يوازي الله جل جلاله ښه پوهيږي يعني دوی به يې هم د معنی کولو دلاوري نه سي کولای عام خلک به يې معنی څنګه وکړي او هغو ته به څنګه اجازه وي.

دريم دا چي د علماوو حق به ضائع سي د دوی سره به د بي پروايی معامله کيږي. دغه روايت ترغيب د طبراني څخه را نقل کړی دئ. د دې ډول څخه ډېر روايتونه د حديثو په کتابو کي سته. کوم الفاظ چي اوس د علماوو لپاره کارول کيږي زيات يې داسي دي چي فتوی عالمګيري[52] د کفر الفاظ بللي دي خو خلک د خپلي ناپوهي په وجه ناخبره دي نو ځکه په داسي الفاظو کي ډېر احتياط په کار دئ. که فرض کړو چي موجوده ټوله علما بد دي حقاني علماء نه دي پاته سوي نو تاسو په دې نه خلاصيږئ په داسي وخت کي پر ټوله دنيا باندي فرض ده، چي يوه ډله د حقاني علماوو پيدا کړي. دغه ډلي ته علم وښودل سي ځکه د حقاني علماوو شتون فرض کفايي دئ که يو ه ډله موجوده وي نو د ټولو غاړي خلاصيږي او که موجوده نه وي نو د ټولو غاړي بندي دي. يو عمومي سوال دا کيږي چي د عالمانو اختلاف عوام خلک برباد کړل دغه سوال تر يوه ځايه پوري صحيح دئ خو اصلي خبره دا ده چي دا اختلاف د نن ورځي څخه نه د شلو او پنځو سوو کالو څخه نه بلکي د خير القرون يعني د نبي ﷺ د زمانې څخه را شروع دئ نبي ﷺ خپل چمپلان و ابو هريرة رضي الله عنه ته د نښاني لپاره ورکړل او ورته وې ويل چي ته اعلان وکړه چه کوم څوک چي د لا اله الا الله محمد رسول الله کلمه وايي هغه به جنت ته داخليږي ابو هريرة رضي الله عنه راغلی او وې ويل چي زه د رسول الله قاصد يم او دا اعلان درته کوم. عمر رضي الله عنه چي واوريده ابو هريرة رضي الله عنه يې په سينه کي وواهه هغه بېچاره پر کناټو باندي پرېواته (په دغه وخت کي ابو هريرة رضي الله عنه د رسول الله ﷺ قاصد ځان ښيي عمر رضي الله عنه ورسره مخالفت کوي) خو بيا هم د عمر رضي الله عنه په خلاف نه اشتهار چاپيږي او نه جلسه کيږي. د مبارکو اصحابانو په منځ کي په زرګونو اختلافي مسئلې وې. د څلورو امامانو په منځ کي د مسائلو دومره اختلاف دئ چي د فقهي شريفي ډېره لږ برخه به داسي

---

(51) بيان القران .

(52) د دغه الفاظو د پوهاوي په موخه د ژباړونکي د ښتيني باور په نامه کتاب وګورئ. چي د عالمګيري ټولي مسئلې په دغه موضوع کي پکښې بيان سوي دي. ژباړن

وي چي اختلاف نه وي پکښې، په څلور رکعته لمانځه کي د نيت تړلو څخه تر سلام ګرځولو پوري دوه سوه مسئلې دي، چي د څلورو امامانو تر منځ اکثره اختلافي دي چه زما تر کمزوري نظره لاهم تېري سوي دي او تر دې زياتي معلومي نه دي چي څومره به وي. د رفع اليدين، تکبير بالجهر او داسي نورو يعني د دوو درو مسئلو پرته به مو نه وي اوريدلي چي مناظرې وسوي يا احتجاج وسو او يا يو د بل پر ضد باندي اشتهار چاپ سو. لامل يې دا شی دئ چه عوام د دې مسئلو سره اشنا نه دي. د علماوو اختلاف رحمت دئ او دا ښکاره خبره ده چي يو عالم د شرعي دليل پر بنسټ باندي فتوی وباسي د بل علم په آند داسي نه وي نوْ هغه عالم په اختلاف کولو مجبور دئ که اختلاف ونه کړي حق پټوونکی او ګنهګار دئ حقيقت دا دئ چي د ديني کار د نه کولو لپاره خلک بې ځايه حيلې او بهانې جوړوي که نه نو د ډاکټرانو په منځ کي اختلاف وي او د وکيلانو په منځ کي اختلاف وي بيا هم نه څوک علاج پرېږدي او نه د مقدمې د مخ بيولو څخه څوک منع کېږي، مګر د ديني علماوو اختلاف د ځان لپاره بهانه جوړوي او ديني کار پرېږدي، رشتيا خبره دا ده چي د عمل کوونکي لپاره دا ضروري ده چي کوم عالم د ده په آند ښه وي د سنتو تابع وي د هغه په وينا دي عمل وکړي او د نورو علماوو د بد ويلو يا ردولو څخه دي منعه سي، کوم سړی چي په دليل نه پوهېږي تو پير نه سي کولای هغه حق نه لري چي ګډون پکښې وکړي. نبي ﷺ فرمايي: د داسي چا څخه علم رانقلول چي اهل يې نه وي علم ضائع کول دي خو کوم ځای چي بې ديني تر داسي بريده ورسېږي چي د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ په ارشاداتو سره هر سړی خوله خلاصوي په دغه ځای کي غريبان علماء د ګوتو په شمار دي څومره تورونه چي پرې ولګېږي بيا هم لږ دي.

وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ ٱللَّهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٢٢٩﴾ (۵۳)

اوم فصل

دغه فصل ګويا د شپږم فصل تتمه او تکلمه ده، په دې فصل کي و کتونکو ته يو مهم درخواست کوم هغه دا چي ډېر وخت د الله ﷻ د دوستانو سره اړيکي او د هغو په خدمت کي حاضرېدل په دين کي د ټينګوالي لامل جوړېږي او خيرات او برکت جوړېږي نبي ﷺ فرمايي:

الا ادلک علی مـلاک هذا الامر الذي تـصيب بـه

ژباړه: ايا زه تا ته داسي شی ونه ښيم چي دين په ټينګېږي او د دنيا او آخرت دواړو کاميابي په راځي هغه د

(۵۳) سورة البقرة الاية (۲۲۹).

خيرالدنيا و الاخرة عليك بمجالس اهل الذكر – الحديث[54]

ذکر کوونکو سره مجلسونه کول دي او کله چي ته يوازي سې نو ځان د الله ﷻ په ذکر مصروف ساته او خپله ژبه د الله ﷻ په نامه لنده ساته.

خو د دې خبري څېړنه په کار ده چي اهل الله والا کوم کسان دي د اهل الله پېژندنه د سنتو تابعداري ده، چي الله ﷻ خپل محبوب نبي ﷺ ته د امت د هدايت لپاره جوړه کړې نمونه رالېږلي ده او په خپل کلام کي يې فرمايلي دي:

قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِى يُحْبِبْكُمُ ٱللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣١﴾[55]

ژباړه: و وايه (اې نبي ﷺ!) که تاسو د الله ﷻ سره محبت کوئ نو زما تابعداري کوئ الله ﷻ به ستاسو سره محبت وکړي او تاسو ته به مغفرت وکړي او الله ﷻ بخښونکی او مهربانه دئ[56].

نو څوک چي د رسول الله ﷺ پوره تابعداروي هغه الله ﷻ والا دئ او څوک چي څومره د رسول الله ﷺ د تابعدارۍ څخه ليري وي هغه په هغه اندازه د الله ﷻ د قربت څخه ليري دئ.

مفسرينو ليکلي دي: څوک چي د الله ﷻ سره د محبت دعوه کوي او د سنتو څخه مخالفت کوي هغه دروا غجن دئ، ځکه قانون دا دئ چي د يو چا سره محبت کوي نو د هغه د کور، دېوال، باغ، انګړ آن تر دې چي د هغه د خره او سپي سره به لا محبت کوي:

امر على الديارديار ليلى اقبل ذاالجدار وذاالجدارا
وماحب الدنيا شغفن قلبي ولكن حب من سكن الديارا

ژباړه: (مجنون وايي) زه د ليلى پر ښار تېرېږم دا او هغه دېوال مچوم د ښارونو محبت زما زړه نه دئ عاشق کړی بلکي دا کار زه د هغه چا په خاطر کوم چي په دې ښارونو کي اوسېږي (چي هغه ليلا ده).

بل شاعر وايي:

تعصى الاله وانت تظهر حبه و هذا العمر في الفعال بديع
لوكان حبک صادقا لاطعته ان المحب لمن يحب مطيع

ترجمه: ته د الله ﷻ د محبت دعوه کوې او د هغه څخه نافرماني کوې که چيري ته په خپله دعوی کي رښتينی يې نو هيڅکله به دي نافرماني نه کولای ځکه عاشق تل د معشوق تابعداروي.

---

[54] مشكوة.

[55] سورة ال عمران الاية (۳۱).

[56] بيان القران.

نبي عليه السلام فرمايي: زما ټول امت به جنت ته داخليږي مګر هغه څوک چي انکار وکړي. چا پوښتنه وکړه چي انکار کوونکی څوک دئ؟ رسول الله عليه السلام وفرمايل: چا چي زما تابعداري وکړه جنت ته به داخليږي او څوک چي يې نه وکړي هغه انکار وکړی. بل ځای رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: تر هغه به يو ستاسو څخه کامل مؤمن جوړ نه سي تر څو خپل خواهشات و هغه دين ته تابع نه کړي کوم چي ما د الله جل جلاله د لوري څخه راوړی دئ(۵۷).

د حيرانتيا خبره دا ده، چي ډېر خلګ د اسلام او مسلمانانو د ترقی دعوه کوي او خپله د الله جل جلاله او د هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اطاعت څخه خالي وي او که کومه خبره ورته وسي چي دغه کار دي د اطاعت څخه مخالفت دئ نو دی داسي سي لکه په نيزه چي يې ووهې.

خلاف پیمبر کسی رہ گزید — کہ ہرگز بمنزل نہ خواہد رسید

ژباړه: څوک چي د پيغمبر د لاري پرته بله لاره غوره کړي نو هيڅکله به مقصود ته نه ورسېږي د دې ټولي څېړني څخه مطلب دا دئ چي چا ته معلومه سي چي يو سړی د الله جل جلاله د دوستانو څخه دئ نو د دغه سړي حضور ته ورتلل او د علومو څخه يې ګټه اخستل د دين د ودي سبب دئ او د رسول الله صلى الله عليه وسلم امر هم دئ.

نبي عليه السلام فرمايي: کله چي تاسو د جنت تر باغو تېرېږي نو يو شی لاسته راوړئ. اصحابو وويل: چي يا رسول الله صلى الله عليه وسلم! د جنت باغونه څه شي دي؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: چي د علم مجلسونه دي. په بل حديث کي راغلي دي چي لقمان (حکيم) خپل زوی ته نصيحت وکړ، چي د عالمانو په حضور کي ناسته کول ضروري وګڼه او د امت د حکيمانو ويناوي په غور سره واوره، ځکه چي د الله جل جلاله د حکمت په رڼا سره مړه زړونه داسي ژوندي کېږي لکه مړه ځمکه چي په شپېو – شپېو باران سره (ژوندی کېږي) حکيمان د دين پېژندونکي دي نه نور خلګ. په يو بل حديث کي راغلي دي چي د نبي عليه السلام څخه چا پوښتنه وکړه، چه غوره همنشين څوک دئ؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هغه څوک دئ چي په ليدلو سره يې الله جل جلاله در ياد سي. هغه د چا خبره چي د دين ترقي په راځي او په ليدلو سره يې سړي ته آخرت وريادېږي. دغه روايتونه ترغيب نومي کتاب رانقل کړي دي. په بل حديث کي راغلي دي چي بهترين بندګان هغه کسان دي چي په ليدلو سره يې الله جل جلاله سړي ته وريادېږي. پخپله الله جل جلاله فرمايي:

(۵۷) مشکوة.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَكُونُواْ مَعَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١١٩﴾ (۵۸)

ژباړه: اې ايمان والاوو! د الله ﷻ څخه ووېرېږئ او د صادقانو سره واوسېږئ (۵۹).

مفسرينو ليکلي دي: د صادقانو (رښتينو) څخه مراد صوفيه او مشائخ دي که څوک د دوی د درپه خادمانو کي هم داخل سي نو د دوی په برکت، تربيت او قوت سره به و لويو لويو مرتبو ته ترقي وکړي. شيخ اکبر رحمة الله عليه ليکلي دي: که ته د خپلي خوښي او رايي څخه نه سي وتلای نو هيڅ کله به د نفس د خواهشاتو څخه هم نه ووزې، که څه هم ټول عمر زيار و نه وباسې. که ته د يوه داسي سړی سره مخ سې چي د هغه سړي عزت ستا په زړه کي وي نو ته د هغه عزت کوه د هغه په وړ اندي داسي اوسه لکه مړی، په څه ډول چي غواړي چي تا استعمال کړي نو ته هيڅ خپل خواهش ته توجه مه کوه د امر پر ځای کول يې په چابکي سره کوه د کوم شی څخه چي دي منعه کوي د هغه شي څخه ژر ځان منعه کوه، که د کوم کسب امر درته کوي نو ده د حکم مطابق يې کوه نه پخپله رايه سره او که د کښېنستو امر درته کوي کښېنه. په همدې وجه د کامل پير تلاښ کوه چي ستا ذات د الله ﷻ سره وصل کړي. نبي عليه السلام فرمايي: په کوم مجلس کي چي د الله ﷻ ذکر کېږي نو ملائکي شا وخوا پرې راوګرځي رحمت پرې وغورېږي. الله ﷻ يې پخپل مبارک مجلس کي يادونه کوي. نو يو زړه بايللي عاشق ته تر دې بل څه نعمت سته، چي د محبوب په مجلس کي د ده ذکر وسي. په يو بل حديث کي راغلي دي چي کوم کسان چي د الله ﷻ ذکر په اخلاص سره کوي نو يو اواز کوونکی دوی ته اواز وکړي، چي الله ﷻ ستاسو ګناهونه وبخښل ستاسو بدی يې په نېکيو سره دربدلي کړې. په يو بل حديث کي راغلي دي چي په کوم مجلس کي چي نه د الله ﷻ ذکر وي او نه پر رسول ﷺ درود وي دغه مجلس کوونکو ته د قيامت په ورځ افسوس وي. د حضرت داود عليه السلام دعا ده، چي وايي: اې الله ﷻ! که ته ما د ذاکرينو د مجلس څخه بيايې او د غافلينو په مجلس کي مي حسابې نو زما پښې ماتي کړې.

جب اس کی صوت وصورت سی ہی محرومی تو بہتر ہی

مری کانون کاکر ہونا اور انکھین کو رہو جانی

ژباړه: کله چي د محبوب د اواز او صورت څخه بې برخيتوب وي نو سترګي دي ړندي وي او غوږونه دي کاڼه وي. حضرت ابو هريرة رضي الله عنه فرمايي: کوم کسان چي په مجلس کي د

---

(۵۸) سورة التوبة الاية (۱۱۹).
(۵۹) بيان القران.

الله ﷻ ذکر کوي دوی و اسمان والو ته داسي بريښي لکه ځکي والاوو ته چي د اسمان ستوري بريښي حضرت ابو هريرة رضي الله عنه يوه ورځ بازار ته تشريف يووړی خلکو ته يي وويل چي تاسو دلې ناست ياست په مسجد کي د رسول الله ﷺ ميراث وېشل کېږي. خلک په ځغاسته مسجد ته ولاړل کله چي ورغله په مسجد کي هيڅ نه وېشل کېده بيرته راغله و ابو هريرة رضي الله عنه ته يې وويل چه په مسجد کي خو هيڅ نه وېشل کېده. ابو هريرة رضي الله عنه ورته وويل: نو څه شي په مسجد کي کېده؟ دوی ورته وويل چي ځيني خلک په تلاوت اخته وه او ځيني په ذکر اخته وه. ابو هريرة رضي الله عنه ورته وويل چي همدغه د رسول الله ﷺ ميراث دئ. امام غزالي رحمه الله د دې ډول څخه ډير روايتونه رانقل کړي دي خو تر ټولو مهمه دا ده چي خپله نبي عليه السلام ته امر سوی دی:

وَٱصۡبِرۡ نَفۡسَكَ مَعَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ رَبَّهُم بِٱلۡغَدَوٰةِ وَٱلۡعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجۡهَهُۥۖ وَلَا تَعۡدُ عَيۡنَاكَ عَنۡهُمۡ تُرِيدُ زِينَةَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَا تُطِعۡ مَنۡ أَغۡفَلۡنَا قَلۡبَهُۥ عَن ذِكۡرِنَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ وَكَانَ أَمۡرُهُۥ فُرُطٗا ﴿٢٨﴾ (٦٠)

ژباړه: او تاسو د هغه خلکو (د ناستي) پابندي کوئ چي سهار او ماښام د خپل رب يادونه د ده ﷻ د رضا لپاره کوي د دنيا ژوند د ښکلا په موخه د دوی څخه ستر کي مه کرزوه او د داسي چا خبره مه منه چي زړه يي زموږ د ياد څخه غافله وي د خپل خواهش تابع وي او کاريې تر اندازې تېر سوی وي.

په زياتو روايتو کي راغلي دي چي نبي عليه السلام به پر دې باندي شکر ادا کاوه چي زما په امت کي داسي خلک سته چي د هغو سره په ناسته باندي ما ته امر سوی دئ. په دې آيات کريمه کي د يوي بلي ډلي امر هم وسو، چي د الله ﷻ د ذکر څخه غافله وي د خپلو خواهشاتو تابع وي د الله ﷻ تر حدودو تېر سوي وي د دغي ډلي د تابعداری څخه منعه وسوه. اوس نو هغه کسان دي فکر وکړي چي پخپلو ټولو کارو کي د دين وي که د دنيا کافران او فاسقان د ځان مشران جوړوي د مشرکانو او نصاراوو (عيسويانو) پروېناوو باندي ځان قربانوي، دوی دي خپله غور او فکر وکړي چي دوی پر کوم لاره باندي روان دي.

ترسم نه رسی به کعبه ای اعرابی   کین ره که تو می روی بترکستان است

ترجمه: ويرېږم چي و کعبې ته به نه ورسېږي اې صحرايي ځکه دا لاره چي ته پر روان يې ترکستان ته تللې ده.

---

(٦٠) سورة الکهف الاية (٢٨).

مرادما نصیحت بود کردیم حوالت با خدا کردیم ورفتیم

ژباړه : زما موخه نصیحت و ، ومي کړ پر خداي مي حواله کړ ، زه ولاړم.

وما علی الرسل الا البلغ

امر منونکی : مولانا محمد زکریا کاندهلوي رحمة الله علیه مقیم مدرسه مظاهر علوم سهانپور

۵ صفر ۱۳۵۰ هق = ۲۱ جون ۱۹۳۱م، د دوشنبې ورځ

ترجمه کوونکی : مولوي عبدالهادي (حماد) کندهاري مقیم جامعه اسلامیه اشرفیه اوله ناحیه، کندهار - افغانستان

د پای نېټه: د لوی اختر مبارکه ورځ ۱۴۲۸ هق = ۱۳۸٦/۹/۲۸ هش

بسم الله الرحمن الرحيم

دروژې فضائل

مؤلف

شيخ الحديث مولانا محمد زکريا نور الله مرقده

ژباړونکی :

مولوي عبدالهادي (حماد)

فهرست

شمیره	سرلیکونه	صفحه
۱	تمهید	۱
۲	لومړي فصل	۲
۳	د روژې د میاشتي (رمضان) په فضیلتونو کي	۲
۴	محمدي امت ته روژه کي پنځه شیان ورکړل سوي دي چي بل چاته نه وه وکړل سوي	۱۱
۵	درې کسان به دالله ﷻ درحمت څخه لیري وي	۱۵
۶	دمسلمانانو په روژه نیولو سره الله ﷻ پر ملائکو باندي فخر کوي	۱۹
۷	دهر روژاتي یوه دعا په شپه اوورځ کي قبلیږي	۱۹
۸	ددرو کسانو دعا الله ﷻ نه ردوي بلکي قبلوي یې	۲۰
۹	پر پېشلمي کونکو باندي دالله ﷻ رحم وي	۲۳
۱۰	ډیر وخت دروژاتي روژه هیڅ فائده نه لري	۲۶
۱۱	روژه دمسلمان لپاره ډال دی ترڅو چي څیري یې نه کړي	۲۶
۱۲	دټول عمر روژه هم دقضا سوي روژې ځای نه سي نیولای	۳۳
۱۳	دوهم فصل	۳۵
۱۴	دقدر د شپې بیان	۳۵
۱۵	که چا دقدر په شپه کي عبادت وکړی ټول ګناهونه به یې وبخښل سي	۳۸
۱۶	په رمضان کي یوه شپه ده چي عبادت یې تر زرو میاشتو بهتر دی	۳۹
۱۷	دروژو نیونکو بدی به په نیکیو بدلي سي	۴۲
۱۸	دقدر شپه پر طاق نېټه باندي وي	۴۳
۱۹	دریم فصل	۵۱
۲۰	د اعتکاف بیان	۵۱
۲۱	خاتمه	۵۷

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده و نصلي على رسوله الكريم حامدا و مصليا و مسلما

تمهيد

د اللهﷻ د ثنا او ستاينې او پر نبيﷺ باندې تر درود او سلام وروسته دا يو څو حديثونه دي چې د روژې د مياشتې په فضيلت کې راغلي دي. د رسول الله رحمة اللعلمين ذات چې څومره فضيلتونه د مسلمانانو لپاره فرمايلي دي نو زموږ لپاره يې په شکريه کې په کار دا وه چې ځانونه پرې قربان کړو، خو زموږ د دين سره مينه دومره کمزورې سوې ده چې عمل کول خو لا پرېږده د دين و لوري ته بيخي پام نه اړوو آن تر دې چې خلګو ته يې پوهاوي ډېر کم سوی دئ.

د دې پاړو موخه دا ده چې د مسجدو او امامان صاحبان او د تراويحو حافظان او هغه کسان چې څه ناڅه مينه د دين سره لري نو موړې رساله د روژې په اولو ورځو کې و خلګو ته واوروي نو د اللهﷻ د رحمت څخه هيله دا ده چې د خپل محبوب د ويناوو په برکت سره د دې مياشت ارزښت او درنښت ته لږ تر لږه يو څه توجه پيدا سي او د نېکو عملونو د زياتوالي او د بدو عملونو د کموالي لامل جوړه سي. رسول اللهﷺ فرمايي : که چيري اللهﷻ ستا په وجه يوه کس ته هدايت په برخه کړي نو ستا لپاره تر سرو اوښانو (چې غوره مال ګڼل کېږي) بهتر دئ.

د روژې مياشت په حقيقت کې د اللهﷻ يو لوی انعام دئ هغه وخت چې موږ يې د ارزښت څخه ګټه واخلو که نه نو موږ بې برخو انسانانو ته د دې پر ته چې د روژې، روژې ناري وهو نور څه په لاس نه راځي. په يو حديث کې راځي : که چيري خلګو ته دا معلومه سي چې روژه څه شي ده نو زما امت به دا آرزو وکړي چې روژه دې په کلونو سي. که څه هم په کلونو روژه نيول اسانه کار نه دئ خو د روژې د مياشتې د ثواب په مقابله کې د نبيﷺ ارشاد دئ چې خلک به د دې کار آرزو وکړي. په يو حديث کې راغلي دي چې د روژې د مياشتې روژې نيول او په هره مياشت کې درې ورځې روژې نيول د زړه خيره او وسوسې ليرې کوي. لنډه دا چې په هر صورت يو څه سته که نه اصحابو به د روژې په مياشت کې د جهاد په سفر تلل سره د دې چې نبيﷺ په تکرار سره د روژې ماتولو اجازه ورکړې وه خو بيا هم دوی مبارکانو روژې نيولې آن تر دې چې بيا پر دوی باندې حکماً منع ولګېده. د مسلم شريف په يو حديث کې راغلي دي:

اصحابان د یوې غزا په سفر کې یو ځای تم سوه ډېره سخته ګرمي وه دوی د ناداری له وجې دومره جامې هم نه درلودې چې د ګرمی. ځخه ځان پرې وساتي ډېرو یې د لمر ساتنې په موخه لاسونه مخ ته نیولي وه په دغه وخت کې هم د ډېرو روژې وې دوی مبارکانو د ولاړې توان نه درلودی پرېوتل. د اصحابانو مبارکانو یوه ډله داسې وه لکه چه تل یې روژې وې د نبي ﷺ په ښوونه داسې روایتونه رانقل سوې دې، چې په هغه کې د روژې فضیلتونه بیان سوي دي. زما ګنهګار لپاره د ټولو راجمع کول ګران کار نه بلکې تروس وتلی کار دئ که راجمع هم سي نو لوستونکې به ستړي سي ځکه په معاصر وخت کې د دین ځخه بې پروایي دومره ډېره ده چې د بیان اړتیا نه لري. په علم او عمل دواړو کې چې څومره کمزوري روانه ده هر سړی چې فکر وکړې ځانته یې معلومولای سي. نو زه په دې ځای کې په یوویشتو حدیثونو باندي بسوالی کوم او دا پر درو فصلونو باندي وېشم.

لومړي فصل : په دې که به لس حدیثونه وي د روژې د مبارکې میاشتې په فضیلتونو کې به وي.

دوهم فصل : په دې فصل کې به اووه حدیثونه وي د شب قدر په بیان کې به وي.

دریم فصل : په دې کې به درې حدیثونه وي د اعتکاف بیان به پکښې وي تر دې وروسته به یو اوږد حدیث وي چې دغه رساله به پرې ختمه سي. الله جل جلاله دې یې د خپل کریم ذات او د خپل محبوب په برکت د قبولیت په لورونه و نازوي او ما ګنهګار بنده ته دې د دې برکتونو ځخه د ګټې اخیستلو توفیق را په برخه کړي.

فَانه بِر جَواد کَرِیم

لومړی فصل

د روژې د میاشتې (رمضان) په فضیلتونو کې

۱. عن سلمان رضي الله عنه قال خطبنا رسول الله ﷺ في آخر یوم من شعبان قال یآیهاالناس قد اظلکم شهر عظیم مبارک شهر فیه لیلة

ژباړه : سلمان رضي الله عنه فرمایي: چې رسول الله ﷺ د برات د میاشتې په وروستۍ ورځ موږ ته وعظ وکړ او راته وې فرمایل: اې خلګو پر تاسو باندي یوه لویه میاشت راتلونکې ده مبارکه میاشت ده، په دې میاشت کې یوه

خير من الف شهر شهر جعل الله
صيامه فريضة وقيام الليه تطوعا
من تقرب فيه بخصلة من الخير
كان كمن ادى فريضة فيما سواه
ومن ادى فريضة فيه كان كمن
ادى سبعين فريضة فيما سواه وهو
شهر الصبر والصبر ثوابه الجنة
وشهر المواساة وشهر يزاد في رزق
المؤمن فيه من فطر فيه صائما كان
مغفرة لذنوبه وعتق رقبته من النار
وكان له مثل اجره من غير ان
ينقص من اجره شيئ قالوا يا
رسول الله ليس كلنا يجد ما يفطر
الصائم فقال رسول الله يعطي
الله ﷺ هذا الثواب من فطر صائما
علي تمرة اوشربة مآء او مذقة لبن
وهو شهر اوله رحمة واوسطه
مغفرة وآخره عتق من النار من
خفف عن مملوكه فيه غفرالله له
واعتقه من النار فاستكثروا فيه من
اربع خصال خصلتين ترضون بهما
ربكم وخصلتين لاغناء بكم عنهما
فاما الخصلتان اللتان ترضون بهما
ربكم شهادة ان لا اله الا الله
وتستغفرنه. واماالخصلتان اللتان
لاغناء بكم عنهما فتسئلون الله

شپه ده چې عبادت يې تر زرو مياشتو عبادت بهتر دئ داسي مياشت چې روژه پکښي نيول فرض دئ او د شپې عبادت (تراويح) پکښي كول نفل دي. دا يوه داسي مياشت ده چې څوک نفلي كار پکښي وکړي داسي ثواب لري لکه په نورو وختو کي چې اويا فرضونه ادا کړي دا مياشت د صبر ده او د صبر ثواب جنت دئ. دا مياښت د غمخوارۍ ده په دې مياشت کي د مؤمن رزق زياتېږي څوک چې په دې مياشت کي د يوه روژاتي روژه ورماته کړي (يعني روژه مات ورکړي) نو د ده د ګناهونو د بخښلو او د اور څخه د خلاصون سبب به سي او دومره ثواب به تر لاسه کړي لکه د هغه روژاتي ثواب، بېله دې چې د هغه د ثواب څخه يو شي کم سي (يعني ده به هم پوره ثواب ورکول کېږي). اصحابو وپوښتل چې موږ ټوله داسي نه سو كولای چې روژاتي ته روژه مات ورکړو (يعني په موږ کي مسکينان سته)؟ رسول ﷺ وفرمايل : (روژه مات ورکول تر مړېدو نه دي بلکي) يوه خرما يو ګيلاس اوبه يا شيدې ورکول هم دغه ثواب لري. دا يوه داسي مياشت ده چې اوله برخه يې رحمت ده، منځنۍ برخه يې مغفرت ده او وروستۍ برخه يې د اور د دوزخ څخه خلاصون دئ. څوک چې په دې مياشت کي پر خپل غلام (خادم) باندي اسانتيا راولي الله ﷻ به ګناهونه ور وبخښي او د دوزخ څخه به يې خلاص کړي. په دې مياشت کي تاسو په څلورو شيانو کي ډېروالی کوئ په دغه څلورو شيانو کي دوه داسي شيان دي چې الله ﷻ په راضي کېږي او دوه داسي شيان دي چې د هغوی څخه ستاسو خلاصون نسته، هغه دوه شيان چې الله ﷻ په راضي

(١) رواه ابن خزيمه في صحيحه ثم قال صح الخبر ورواه من طريقة البيهقي ورواه ابوالشيخ بن حبان في الثواب

الجنة وتعوذون به من النار ومن سقى صائما سقاه الله من حوضي شربة لا يظماء حتى يدخل الجنة[1].

کېږي د کلمې طيبې او استغفار ويل دي او هغه دوه شيان چې ستاسو خلاصون ځني نسته يو د جنت غوښتل دي او بل د اور څخه د دوزخ پناه غوښتل دي. چا که روژاتي اوبه کړ الله ﷻ به يې (د قيامت په ورځ) زما د حوض په اوبو اوبه کړي چې د جنت تر داخلېدو پورې به تږې نه سي.

فايده : محدثينو د دې حديث په ځينو روايت کوونکو کې بحث کړی دئ. لومړی دا چې په فضائلو کې دومره اندازه بحث د زغملو وړ دئ دوهم دا چې د زياتو مضامينو تائيد نورو روايتو کړی دئ. د دې حديث څخه څو خبرې معلومېږي لومړی دا چې د نبي ﷺ د برات د مياشتې په وروستۍ ورځ په خصوصي ډول وعظ وکړ او خلګو ته يې وښودل چې د روژې په مياشت کې يوه لحظه غفلت نه دئ په کار د ټولې مياشتې د فضيلت د بيانولو وروسته يې خلګ څو شيانو ته په خصوصي ډول متوجه کړل لومړی يې شب قدر ته (توجه وکړه) چې دا په حقيقت کې ډېره د ارزښته ډکه شپه ده، چې په دوهم فصل کې به يې مستقل بيان راسي. بيا نبي ﷺ وفرمايل چې د روژې نيول فرض دي او د تراويح کول سنت دي د دې څخه معلومه سوه چې تراويح هم د الله ﷻ د لوري څخه امر دئ او په کومو روايتو کې چې نبي ﷺ و ځانته د تراويح نسبت کړی دئ د هغه څخه مقصد دا دئ چې نبي ﷺ د دې تائيد او پوخوالی کړی دئ له همدې وجې څخه د څلورو امامانو پر دې خبره اتفاق دئ چې تراويح کول سنت دي. په برهان نومي کتاب کې راغلي دي چې د روافضو پرته بل هيڅوک د تراوح څخه منکر نسته. حضرت مولانا شاه عبد الحق دهلوي په ما ثبت بالسنة نومي کتاب کې د فقهي د ځينو کتابونو څخه نقل کړی دئ چې که د يو ښار خلګ ټوله تراويح پرېږدي نو د وخت پاچا دي جنګ ورسره وکړي. يوه خبره د يادوني وړ ده هغه دا چې ځيني خلګ په دې آند دي چې قرآنکريم به ژر، ژر په اتو يا لسو ورځو کې ختم کړو دستي به تراويح رخصت کړو دا صحيح فکر نه دئ ځکه دلته دوه سنته دي يو سنت د قرانکريم په تراويح کې ختمول دي او دوهم سنت په ټوله مياشت کې تراويح کول دي دلته نو يو سنت پر ځای سو چې قرانکريم ختم سو او

باختصار عنهما وفي اسنادهم على بن زيد جدعان ورواه ابن خزيمة ايضا والبيهقي باختصار عنه مَن حديث ابي هريرة وفي اسناده كثير بن زيد كذا في الترغيب صـــ ٢٠٣ قلت على بن زيد ضعفه جماعة وقال الترمذي صدوق وصحح له حديثا في السلام وحسن له غير ما حديث وكذا كثير ضعفه النسائي وغيره وقال ابن معين ثقة وقال ابن عدي لم ار بحديثه باسا واخرج بحديثه ابن خزيمة في صحيحه كذا في رجال المنذري صـــ ٧٠٤ لكن قال العيني الخبر المنكر فتامل.

دوهم سنت پاته سو، چې په تهوله میاشت کې تراویح کول دي. البته کومو کسانو ته چې د سفر او یا د یو بل شي په وجه تراویح کول ګران وي نو هغوی دې په یو مناسب وخت کې د تراویح پرته قران کریم ختم کړي بیا چې کله موقع پیدا کړي نو تراویح دې وکړي نو نه به یې په ختم کې نیمګړتیا راځي او نه به یې په تراویح کې نیمګړتیا راځي. نبيﷺ تر روژې او تراویح وروسته و نفلي عبادت توجه وګرځول چې یو نفل کول په دې میاشت د نورو میاشتو د فرضو سره یې ثواب برابر دئ او یو فرض په دې میاشت کې د نورو میاشتو د اویا فرضو سره په ثواب کې برابر دئ. په دغه ځای کې زموږ خلګو ته یو څه فکر کول په کار دي هغه دا چې موږ په دې میاشت د فرضو څومره حق ادا کړی دئ او د نفلو مو څومره اهتمام کړی دئ. موږ خو چې کله پیشلمی وکړو بیا بیدېږو نو زیات وختونه د سهار لمونځ را څخه قضا سي که قضا نه سي نو جماعت خو د زیاتو څخه تېر سي موږنو د پیشلمي دا حق ادا کړي چې د اللهﷻ حق یعني د سهار لمونځ مو بیخي قضا کړئ او یا مو په جماعت پرېښودلو سره نیمګړي کړ ځکه اهل اصول بې جماعته لمونځ نیمګړی بولي. نبيﷺ فرمایي: کوم څوک چې مسجد ته نژدې وي (ګویا) بېله جماعته یې لمونځ نه کېږي. مظاهرالحق نومي کتاب لیکلي دي چې څوک د عذر پرته بېله جماعته یوازي لمونځ کوي فرض یې د غاړي اوړي خو د لمانځه ثواب نه ورته رسېږي. د ماښام لمونځ په روژه مات کې ولاړ سي دا خو لا پرېږده د ماخوستن لمونځ د تراویح د احسان په بدله کي تر وخت مخکې کوي دا درې لمونځونه خو زیاته برخه ده کنه نو ماپښین لمونځ د غرمي تر خوب قربانول او د ماځیګر لمونځ د روژمات په تیاري کې قضا کول په سترګو لیدل سوي دي دا زموږ د فرضو حال دئ د روژه مات په تیاري کې چې د یوه فرض په بدله کې درې یا پنځه د لاسه ورکوو په دغه ډول په نورو فرضو کې پخپله غور وکړئ چې څومره کوښښ به د روژې په میاشت کې ورته کېږي. چه دا د فرضو حال وي نو د نفلو به یې څه پوښتنه کوي ځکه د اشراق او څاښت وخت خو په خوب کې تېر سي د اوابینو لمونځ (یعني د ماښام تر لمانځه وروسته شپږ رکعته نفل) دا به څنګه وکړي ځکه اوس یې روژه مات وکړ، ورپسې دستي د تراویح وېره ده او تهجد دلمانځه وخت خو د پیشلمي د خوراک وخت دی نو د نفلو لپاره خو بیخي وخت پاته نه سو دا ټوله د بې پروایی. او بې توجهی څخه کېږي.

تو ہی اگر نہ چاہی تو باتین ہزار ہین

یعني که یې ته نه غواړې نو خبرې په زرګونو دي.

ځومره د اللهﷻ بندګان دي دوی ټولو ته د هر شي لپاره وخت سته ځکه زما پیر او زما استاذ مولانا خلیل احمد رحمة الله علیه په ډېرو د روژې په میاشتو کي ما لیدلی دئ چي د ماښام تر لمانځه وروسته به یې یو ساعت او پنځلس دقیقي په لمانځه تلاوت کاوه او یا به یې اورېدی وزسته به دېرش دقیقې په خوراک او نورو شیانو بوخت سو، بیا به یې دوه نیم ساعته په تراویح کي تیرولې چي په هندوستان کي به اوسېدی او چي په مدینه منوره کي به و بیا به یې درې ساعته په تراویح او لمانځه تېرولي بیا به د موسم د اختلاف په نظر کي نیولو سره دوه یا درې ساعته بیدېدی بیا به کښیناستی د تهجد لمونځ به یې کاوه تر سپېدو نیم ساعت مخکي به یې پېشلمي وکړ، تر پېشلمي وروسته به یې کله په یاد تلاوت کاوه کله به یې نور ذکرونه کول چي رڼا به سوه د سهار لمونځ به یې ادا کړ بیا به تر اشراق پوري مراقبه و بیا به یې یو ساعت ارام کاوه وروسته به د ژمي په موسم کي تر دوولسو او د دوبي په موسم کي تر یوې بجي پوري به یې بذل المجهود (د ابو داود شریف مکمله شرحه) لیکله او راغلو خطونو ته به یې جواب وایه تر دې وروسته به یې تر ماپښین پوري ارام کاوه د ماپښین تر لمانځه وروسته به یې تر ماځیګره پوري تلاوت کاوه. د ماځیګره ځخه تر ماښام پوري به په تسبیحاتو مشغول و او د حاضرینو سره به یې خبري اتري کولې. د بذل المجهود تر خلاصېدو وروسته یې ځه وخت په تلاوت او ځه وخت د کتابو په مطالعه کي تیراوه په دغه وخت کي یې د بذل المجهود او وفاء الوفاء زیات مطالعه کاوه د روژې د میاشتي په عادت کي یې خاص توپیر نه و او پورتني نفلونه یې سر او کال کول البته د روژې په میاشت کي یې رکعتونه اوږده کول خو د بزرګانو په ځیر په روژه کي عبادت کول د هر سړی لپاره ګران کار دئ. حضرت شیخ الهند مولانا محمود الحسن رحمة الله علیه به د تراویح وروسته د سهار تر لمانځه پوري په نفلو بوخت و او د بېلو بېلو حافظانو ځخه به یې قرانکریم اورېدی. حضرت مولانا شاه عبد الرحیم رائپوري رحمة الله علیه به د روژې په میاشت کي شپه او ورځ تلاوت کاوه ډاک به یې بند و یعني د چا لیکونه به یې نه منل او د هیچا سره یې لږ ملاقات هم نه کاوه یوازي د تراویح وروسته یې دوې پیالي ساده چای چیښلي په دغه وخت کي د ده خاص خادمان د ده حضور ته ورتلل د بزرګانو د عادتونو د بیان ځخه مقصد دا نه دئ چي یوازي دي سړي ځغلنده نظر پرې تېر کړي وریسي دي د تفریح الفاظ پسي ووایي بلکي مقصد ځني دا دئ چي د توان سره سم عمل پرې وکړي او توان سره سم یې د کولو اهتمام وکړي. ځکه هره طریقه پر نورو باندي د خاصو امتیازاتو په وجه لوړه ده. کوم کسان چي د دنیا په لانجو کي ښکیل نه دي ځومره به ښه وي چي د یوولسو میاشتو د بې ځایه تېرېدو وروسته یوه میاشت قرباني ورکړي.

کوم کسان چې رسمي دنده د نهو بجو څخه تر څلورو بجو پورې لري څومره به ښه وي چې تر نهو بجو پورې د روژې په میاشت کې په عبادت بوخت واوسي یا په تلاوت اخته وي دا نو څه ګران کار دئ لنډه دا چې د دفتر دباندي وختو کي دي د عبادت لپاره څه وخت وباسي او بزګران خو نه د چا نوکران دي او نه د رسمي وخت پابندي لري او نه د وخت د بدلېدو پروا لري دوی خو کولای سي چې په ناسته ناسته په مځکه کي تلاوت وکړي په همدې ډول تجارانو ته هم هیڅ تکلیف نسته چې په دغه میاشت کي د دوکان وخت یو څه کم کړي او یا لږ تر لږ په دوکان کي د تجارت تر څنګ تلاوت هم کوي ځکه د دې میاشتي د تلاوت سره خاص مناسبت دئ. هم دغه وجه ده چې اسماني کتابونه په دغه میاشت کي نازل سوي دي لکه قران کریم چې د روژې په میاشت کي پر یوه ځای باندې د لوح محفوظ څخه د دنیا اسمان ته نازل سو او بیا د دغه ځای څخه د اړتیا سره سم لږ، لږ د رویشتو کلونو په موده کي نازل سو د قران څخه علاوه و ابراهیم ﷺ ته هم د روژې په اوله یا دریمه ورځ صحیفې ورکړل سوې. حضرت داود ﷺ ته زبور پر دولسم یا اتلسم د روژې ورکړل سوی دئ. حضرت موسی ﷺ ته توراة پر شپږم د روژې ورکړل سوی دئ حضرت عیسی ﷺ ته انجیل پر دوولسم یا دیارلسم د روژې ورکړل سوی دئ همدا وجه ده چې د دې میاشتي د الله ﷻ د کلام سره خاص مناسبت دئ نو ځکه باید په دې میاشت کي ډیر تلاوت وسي او بزرګانو هم داسي عمل کړی دئ. حضرت جبرائیل ﷺ به هر کال د روژې په میاشت کي نبي ﷺ ته قرانکریم اوروی او په یو روایت کي راغلي دي چې نبي ﷺ به ورته اوروی. علماوو د دې دواړو حدیثونو څخه دا را ایستلي چې یو د بله قرانکریم اورېدل مستحب کار دئ. لنډه دا چې څومره چې د قرآن کریم د تلاوت اهتمام کولای سي کوه يې او کوم وخت چې د تلاوت څخه پاته سئ هغه هم مه ضایع کوئ ځکه نبي ﷺ د پورتني حدیث په پای کي ویلي دي چې په دې میاشت کي د څلورو شیانو ډېروالی کوئ: کلمه طیبة، استغفار، د جنت غوښتل او د دوزخ څخه د پناه غوښتلو دعا کول نو څومره وخت چې په لاس درسي په دغه څلورو شیانو یې لګول د ځان لپاره نیکبختي وګڼه. او هم دا د نبي ﷺ د ارشاد درنښت دئ. په دې کي نو څه تکلیف دئ چې د دنیایي کار د بوختیا تر څنګ په ژبه درود شریف او یا کلمه طیبة وایي چې صبا درته لویه ګټه وي.

میں گورہا ہیں ستمائی روزگار

لیکن تماری یاد سی غافل نہیں رہا

يعني که څه هم زه په روزګار کې بند ومه خو ستا د ياد څخه غافل نه ومه.

تر پورتنيو خبرو وروسته نبي ﷺ د روژې د مياشتې ځينې خصوصيات بيان کړل، لومړۍ دا چې دا د صبر مياشت ده په کار ده چې د لوږې تندې سره په ښه شوق او خوند سره ونيول سي نه دا چې ناره او سورې وي لکه د ځينو خلکو چې د ګرمۍ په روژه کې عادت دئ او که پېشلمي نا ببره ځني پاته سي نو د سهار څخه د روژې فرياد شروع سي دا نه دئ په کار بايد صبر پرې وسي. همدا ډول که په تراويح کې څه تکليف وي بايد وزغمل سي آفت او مصيبت ونه ګڼل سي. دا بېخي د تاسف خبره ده چې موږ د دنيا د کمزورې خبرې لپاره خوړل، څښل، خوب او ارام پرېږدو او د دين لپاره هيڅ نه کوو په حقيقت کې پورتني کارونه د الله ﷻ د رضا په مقابل کې هيڅ نه دي.

وروسته رسول الله ﷺ فرمايي چې دا د غمخوارۍ مياشت ده يعني د غريبانو او مسکينانو سره مرسته کوئ نو څوک چې د خپل روژه مات لپاره لس شيان برابروي نو دوه شيان مسکينانو ته ورکول په کار دي که نه نو اصلي خبره خو دا ده چې مسکين ته که تر ځان زيات شی ور نه کړې برابر خو بايد خامخا وي. غرض دا چې څومره چه دي همت وي د پېشلمي او روژه مات په خوراک کې د غريبانو برخه خامخا ورکوه.

اصحابان مبارکان د دې امت لپاره عملي نمونه ده دوی مبارکانو د دين د هرې خبرې لپاره عمل پرې اينښی دئ د دوی د هر نېک کار د تابعدارې کولو لاره خلاصه ده. د قربانۍ او غمخوارۍ په لاره کې د بزرګانو تابعدارې کول هم د لوی زړه د خاوندانو کار دئ په سوونو او زرګونو داسې واقعات دي چې په هغه د حيرانتيا پرته بل هيڅ نه سي کېدلای. د مثال په ډول يوه قصه ليکم: د يرموک په غزا کې ابو جهم ﷺ فرمايي چه زه د خپل اکا د زوی په لټه کې روان وم د اوبو يو لوښی مې د ځان سره واخيستی په دې فکر وم که چيرې لږ ساه پکښې وه نو اوبه به يې کړم او مخ او لاس به يې ور پرېولم نا ببره مې هغه وليدی چې زخمي پروت و، ما د اوبو ورته وويل د اکا زوی مې په اشاره د اوبو غوښتنه راڅخه وکړه په دغه وخت کې يوه بل زخمي آه وکړ د اکا زوی مې و هغه ته د اوبو ورکولو اشاره وکړه زه و هغه ته ورغلم پوښتنه مې ځني وکړه معلومه سوه چې هغه هم تږی دئ اوبه غواړي په دغه وخت کې د ده يوه بل ملګري د اوبو غوښتنه وکړه دغه زخمي ما ته اشاره وکړه چې هغه ته يې وروړه زه چې هغه ته ورسېدم د هغه مبارک روح وتلی و، زه چې بيرته دوهم ملګري ته راغلم دی هم په حق رسېدلی و، بيا د اکا زوی ته راغلم د اکا زوی مې هم په حق رسېدلی و. دا زموږ د مشرانو قرباني وه چې خپله تږي مړه سوه خو د خپل مسلمان ورور مخکې يې اوبه څښل خوښ نه کړل. رَضِيَ الله

عَنْهُمْ وَرَضُوْاعَنْهُ آمين

روح البيان د سيوطي رَحمَۃُاللہِ عَلَیہِ د جامع صغير او د سخاوي د مقاصد څخه د ابن عمر رضی اللہ عنہ په روايت د رسول اللهﷺ څخه ارشاد رانقل کړی دئ چي نبيﷺ فرمايي: زما په امت کي به هر وخت پنځه سوه خاص بندګان وي او څلوېښت ابداله به وي کله چي د دوی څخه يو مړ سي نو دستي به يې پر ځای بل يو راځي. اصحابو کرامو پوښتنه وکړه چي د دغه خاصو بندګانو خصوصي عمل څه شي دئ؟ رسول اللهﷺ وفرمايل: دوی به ظالمانو ته بخښنه کوي او د بد عملو سره به احسان کوي د الله جل جلاله په ورکړل سوي رزق کي به د خلګو سره مرسته کوي. په يو بل حديث کي راغلي دي چي رسول اللهﷺ فرمايي: څوک چي وږي ته ډوډۍ ورکړي، يا لوڅ سړي ته جامې ورکړي او يا مسافر ته د شپې تېرولو ځای ورکړي الله جل جلاله به يي د قيامت د سختيو څخه وژغوري. يحيی برمکي رَحمَۃُاللہِ عَلَیہِ هره مياشت و سفيان الثوري رَحمَۃُاللہِ عَلَیہِ ته زر درهمه په خيرات کي ورکول. سفيان الثوري رَحمَۃُاللہِ عَلَیہِ به پر سجده پرېوتی او دعا به يې وکړه چي اې الله جل جلاله يحيی برمکي زما ضرورتونه پوره کړل د ده د آخرت ضرورتونه پخپله مهربانۍ سره پوره کړې، کله چي يحيی برمکي رَحمَۃُاللہِ عَلَیہِ وفات سو يو چا په خوب وليدی چي الله جل جلاله څه معامله درسره وکړه؟ ده ورته وويل چي الله جل جلاله د سفيان الثوري رَحمَۃُاللہِ عَلَیہِ د دعا په برکت بخښنه را ته وکړه. رسول اللهﷺ د حديث په اوږدو کي و بل روژاتي ته د روژه مات ورکولو فضيلت بيان کړی. په حديث کي راغلي دي چي څوک د حلالي ګټې څخه و روژاتي ته د روژه مات لپاره يو شی ورکړي نو د روژې په مياشت کي ملائکي ده ته رحمت لېږي او قدر په شپه به جبرائيل عليه السلام ورمصافحه (لاس په لاس) سي. د کوم چا سره چي جبرائيل عليه السلام مصافحه وکړي د هغه په زړه کي نرمي پيدا سي او تر سترګو يې اوښکي بهېږي حماد بن سلمة رَحمَۃُاللہِ عَلَیہِ به د ورځي و پنځوسو روژاتيانو ته روژه مات ورکاوه[1].

بيا رسول اللهﷺ وفرمايل چي د روژې اوله برخه رحمت دئ، يعني دغه برخه د عامو مسلمانانو لپاره عمومي رحمت دئ بيا نو کوم چا چي د دې شکريه ادا کړه نو رحمت باندي زياتېږي ځکه الله جل جلاله فرمايي: لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيْدَنَّكُمْ. د دغه روژې د منځنۍ برخي څخه مغفرت شروع کېږي ځکه د دې مياشتي يوه برخه تېره سوېده نو د دې بدله او اکرام په مغفرت سره شروع کېږي او آخري حصه خو بېخي د اور څخه خلاصون دئ. په نورو ډېرو روايتونو کي هم د اور څخه د خلاصون زېری د روژې په مياشت کي راغلی دئ. د پورتني مضمون څخه

---

(1) روح البيان

معلومه سوه چي د روژې میاشت درې برخي سوي ده: رحمت، مغفرت او د اور څخه خلاصون د عاجز بنده (مولانا زکریا صاحب) په آند د دغه درو برخو تر منځ توپیر دا دئ چي خلګ پر درو برخو وېشل سوي دي یو هغه خلګ دي چه هیڅ ګناه نه لري د دوی لپاره د روژې د اول څخه رحمت شروع سي دوهم هغه خلګ دي چي لږ ګناه لري د دوی لپاره د لږ روژو نیولو څخه وروسته مغفرت شروع سي دریم هغه خلګ دي چي ډېري ګناوي پر اوږو لري د دوی لپاره تر یو څه ډېرو روژو وروسته د اور څخه خلاصون راځي. کوم کسان چي د پیل څخه رحمت پرې شروع سوی دئ د هغه به نو څه پوښتنه کوي چي څومره لوړي مرتبې به یې وي چي د ډېرو ګناهو والا د اور څخه خلاصېږي. والله اعلم وعلمه اتم.

د دې څخه وروسته نبي ﷺ یوه بله خبره کړېده، هغه دا چي تاسو په دې میاشت کي پر خپلو نوکرانو باندي د کار کموالی او اساني کوئ ځکه هغه خو هم روژاتیان دي د کار په زیاتوالي کي پر هغوی هم تکلیف راځي په دې کي هیڅ تکلیف نسته، چي د روژې د میاشتي لپاره سړی عارضي نوکر ونیسي خو دا هغه وخت چي نوکر روژاتي وي او که روژاتي نه وي نو بیا پر ده باندي د روژې میاشت او بله میاشت هیڅ فرق نه لري او د هغه ظلم او بې غیرتۍ به نو څه بیان کوي چي دومره ظلم کوي چي خپله روژه نه نیسي او پر روژه داره نوکرانو باندي ظلم کوي هغه خواران که د لمانځه یا روژې په وجه سستي وکړي نو دی غصه پرې کوي الله ﷻ فرمايي: وسیعلم الذین ظلموا اي منقلب ینقلبون.

ژباړه: ژر دئ چي ظالمانو خلګو ته به معلومه سي چي څنګه د (غم ځای) ته لېږدول کېږي (چي مراد ځني دوزخ دئ). بیا نبي ﷺ د څلورو شیانو د ډېروالي امر وکړي چي یو ځني کلمه طیبه ده. په حدیثونو کي دې ته غوره د ذکرونو ویل سوېده. مشکوة شریف د ابو سعید خدري رضي الله عنه په روایت نقل کوي چي یو ځل حضرت موسی ﷺ الله ﷻ ته خواست وکړ، چي اې الله ﷻ! ما ته یوه داسي دعا او ذکر وښیه چي زه په هغه سره تا ته دعا کوم او تا په یادوم الله ﷻ ورته وفرمایل: چي لا اله الا الله وایه. ده مبارک ورته وویل چي دا خو ستا ټوله بندګان وايي ما ته یوه خاصه دعا وښیه چي زه تا خاص په یادوم د الله ﷻ له خوا ورته وفرمایل سوه چي که چیري زما پرته اووه اسمانونه او ابادوونکي یې (ملائکي) او اووه سره مځکي د ترازو په یوه پله کي کېښېښودل سي او کلمة طیبة په بله پله کي کېښېښودل سي نو بیا به هم د کلمې طیبې پله درنه سي. په یو حدیث کي راغلي دي چي که څوک په اخلاص سره کلمه طیبة وايي نو دستي د اسمان اووه دروازې ورته خلاصي سي د ده و عرش ته د رسېدو لاره هیڅ بنده نه وي خو په دې شرط چي ویونکی د کبیره ګناهو څخه پاک وي. د الله ﷻ عادت داسي

دئ چي په دنيا کي يې ډېر شيان پيدا کړي دي هر شی چي څومره اړتيا ورته ډېره وي په هغه پيمانه هغه شی هم ډېر وي لکه اوبه چي څومره ضرور شی دي په دغه اندازه ډېري او عامي هم دي او کيميا چي فضول او بېکاره شی ده نايابه هم ده.

هم دا ډول کلمه طيبه چي په زياتو حديثونو سره ثابته ده چي غوره د ذکرونو ده په دغه اندازه ډېره او عامه ده چي هيڅوک ځني محرومه نه سي. بيا هم که څوک محرومه ځني پاته سي نو دا د هغه بدبختي ده. لنډه دا چي د دې فضيلت په ډېرو حديثونو کي راغلی دئ چي د مختصر والي په وجه پاته سوی دئ. دوهم شی چي په پورته حديث کي يې د ډېر والي امر سوی دئ استغفار دئ د استغفار هم ډېر فضيلتونه په حديثونو کي راغلي دي. په يو حديث کي راغلي دي چي څوک ډېر استغفار وايي الله ﷻ د تنګسيا په وخت کي لاره ورته پيدا کوي او د غم څخه يې خلاصوي او د داسي لاري څخه رزق کوي چي د ده به هيڅ فکر نه وي.

په يوه حديث کي راغلي دي چي بنده خو ګنهګار وي خو بهترين ګنهګار هغه څوک دئ چي پر ګناه باندي توبه وباسي په يوه حديث کي راغلي دي چي نژدې به دغه حديث راسي چي. کوم څوک چي ګناه وکړي نو پر زړه يې تور ټکی پيدا سي کله چي توبه وباسي نو هغه ټکی ليري سي که نه نو پاته وي.

په آخر کي رسول الله ﷺ د دوو شيانو امر وکړ، چي د هغو شيانو پرته خلاصون نسته يو دا چي د دوزخ څخه به پنا غواړئ، دوهم دا چي د جنت غوښتنه به کوئ الله ﷻ دي زما او ستاسو نصيب وکړي.

محمدي امت ته روژه کي پنځه شيان ورکړل سوي دي چي بل چا ته نه وه وکړل سوي

۲ : عن ابي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ اعطيت امتي خمس خصال في رمضان لم تعطهن امة قبلهم خلوف فم الصائم اطيب عندالله من ريح المسك وتستغفرلهم الحيتان حتى يفطروا ويزين الله عز وجل كل يوم جنته

ژباړه: د ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت سوی دئ چي نبي ﷺ فرمايي: زما امت ته پنځه شيان په خصوصي ډول ورکړل سوي دي، چي پخوانيو امتونو ته نه دي ورکړل سوي لومړي دا چي د روژاتي د خولې بد بوی و الله ﷻ ته د مشکو تر خوشبويي بهتر دئ دوهم دا چي د درياب ماهيان و روژاتي ته د مغفرت دعا کوي دريم دا چي هره ورځ جنت ښايسته کړل کېږي او بيا الله ﷻ و جنت ته وفرمايي: نژدې

ثم يقول يوشک عبادي الصالحون ان يلقوا عنهم المؤنه ويصيروا اليک وتصفد فيه مردة الشياطين فلا يخلصوا فيه الى ما كانوا يخلصون اليه في غيره ويغفرلهم في آخر ليله قيل يا رسول اللهﷺ! اهي ليلة القدر قال لا ولكن العامل انما يوفي اجره اذاقضي عمله(۱).

دئ چي زما نيک بندګان به د دنيا تکليفونه وغورځوي او ستا لوري ته به راسي څلورم دا چي د روژې په مياشت کي به سرکښه شيطانان وتړل سي هغه ناروا کارونو ته به رسيدګي نه سي کولای کوم چي د روژې پرته به يې کول. پنځم دا چي د روژې په آخره شپه به روژاتيانو ته مغفرت کېږي. اصحابو کرامو وپوښتل چي يا رسول اللهﷺ! دغه د مغفرت شپه د قدر شپه ده؟ رسول اللهﷺ ورته وفرمايل: نه يا بلکي قانون داسي دئ چي مزدور ته د مزدورۍ په آخره شپه مزدوري ورکول کېږي.

فايده : رسول اللهﷺ په پورتني حديث کي پنځه داسي خاص انعامات ښودلي دي، چي نورو امتو ته نه دي ورکړل سوي يوازي دې امت ته ورکړل سوي دي. ارمان! چي زموږ سره د دې نعمت قدر او ارزښت وای. لومړی دا چي د روژاتي د خولې بد بوی چي د لوږي له امله پيدا کېږي د اللهﷻ په نزد د مشکو تر خوشبويۍ خوښ دئ. د حديثو شرحه کوونکو په دې لفظ کي اته قوله رانقل کړي دي، چي ما د مؤطا په شرحه کي رانقل کړي دي خو زما په آند په دغه اتو قولو کي درې قوله قوي دي:

لومړی دا چي اللهﷻ به د دې بدبويۍ په ثواب او بدله کي د آخرت په ورځ داسي خوشبويي ورکړي چي د مشکو تر بوی به خوشبويه او دماغ تازه کوونکي وي. دا مطلب خو ښکاره دئ په دې کي خو څه ليري والی هم نسته. د دې سره په درمنثور کي هم د دې وضاحت سته چي هم دا مطلب ترې مراد دئ. دوهم دا چي د قيامت په ورځ چي خلګ د قبرو څخه راوزي د روژاتي تر خولې به داسي ښه بوی راوزي چي د مشکو تر بوی به ښه وي.

دريم دا چي زما په آند تر دواړو قولو ښه دئ هغه دا چي په دنيا کي د روژې د خولې بوی و اللهﷻ ته د مشکو تر بوی ښه دئ او دغه کار د زړه د ميني پوري اړه لري يو څوک چي پر چا عاشق وي نو د هغه بد بوی ده ته تر زرګونو خوشبويو بهتر دئ.

ای حافظ مسکین چه کنی مشک ختن را
از گیسوئی احمد بستان عطر عدن را

(۱) رواه احمد والبزار والبيهقي ورواه ابوالشيخ بن حيان في كتاب الثواب الا ان عنده تستغفرلهم الملائكه بدل الحيتان كذا في الترغيب.

اې حافظ مسکينه ! د ختن مشک څه کوي د احمد د زلفو عطر د عدن واخله.

د کامل روژاتي مقصود و بادار ته نژديکت دئ. روژه و الله ﷻ ته ډېر خوښ عبادت دئ ځکه الله ﷻ فرمايي د ټولو عبادتونو مزدوري ملائکي ورکوي خو د روژې مزدوري زه خپله ورکوم ځکه روژه خالص زما لپاره ده. ځينو عالمانو ليکلي دي چي د الله ﷻ د دې لفظ څخه مطلب چي (اجزئ به) دا دئ چي زه خپل ځان په مزدوري کي ورکوم د محبوب تر لاسته راوړلو ښه مزدوري نسته.

په يو حديث کي راغلي دي چي د ټولو عبادتونو دروازه روژه ده. يعني په روژه سره زړه روښانه کېږي نو له امله يې و هر عبادت ته شوق پيدا کېږي. خو دا هغه وخت چي روژه روژه وي يعني يوازي وږې اوسېدل روژه نه ده بلکي د روژې د ټولو ادابو رعايت به يې کړی وي چي د نهمي شمېرې حديث په تفصيل کي به راسي. په دې ځاي کي يوه اړينه مسئله د يادوني وړ ده هغه دا چي د روژه لپاره ځينو امامانو د ماښام په وخت کي مسواک منعه کړی دئ د دې لپاره چي هغه بوی له منځه ولاړ نه سي خو د حنفيانو پر مذهب باندي مسواک هر وخت مستحب دئ، ځکه په مسواک سره د غاښو بد بويي له منځه ځي او کومه بد بويي چي د ماښام په وخت کي د روژاتي د خولې څخه پورته کېږي هغه د معدې د خالي والي په وجه دئ د غاښونو نه دئ. د حنفيانو دليلونه پر خپل ځای باندي د فقهي او حديثو په کتابونو کي موجود دي.

دوهم خصوصيت نبي ﷺ دا بيان کړی دئ چه ماهيان به ده ته د مغفرت دعا کوي يعني ډېري دعاوي به ورته کوي نوموړي مضمون په ډېرو روايتونو کي راغلی دئ په ځينو روايتونو کي راغلي دي چي ملائکي به د بخښني دعاوي ورته کوي. زما اکا يعني مولانا الياس رحمة الله عليه وايي چي د ماهيانو خصوصيت په دې وجه ښکاره دئ ځکه چي الله ﷻ فرمايي: ان الذين آمنوا وعملوا الصلحت سيجعل لهم الرحمان ودا ط

ژباړه : بېشکه کوم کسان چي ايمان يې راوړی دئ او نېک عملونه کوي دوی ته الله ﷻ په (دنيا کي) محبوبيت ورکوي. په حديث کي راغلي دي چي کله يو بنده د الله ﷻ خوښ وي نو جبرائيل عليه السلام ته وفرمايي چي زما فلانکی بنده خوښ دئ ته هم مينه ورسره کوه نو جبرائيل عليه السلام د هغه بنده سره محبت کوي او په اسمان کي اواز وکړي چي فلانکی بنده د الله ﷻ خوښ دئ تاسو هم محبت ورسره کوی نو ټول اسمان والا محبت ورسره کوي بيا د هغه کس لپاره په مځکه کي محبوبيت کښېښودل سي. دا يوه عامه قاعده ده چي د يو چا سره چي محبت کېږي نو د هغه سره شا وخوا اوسېدونکي خلګ هم محبت ورسره کوي خو د ده سره

محبت دومره عام سي چي د درياب حيوانان هم محبت ورسره کوي يعني په وچه او لنده کي د ده محبوبيت وي او کله چي د درياب ماهيان ده ته د مغفرت دعا کوي نو د ځنګله حيوانان خو بيخي دعا ورته کوي.

دريم خصوصيت چي نبي ﷺ ښودلی دئ د جنت ښايسته کېدل دي دغه خبره هم په ډېرو روايتو کي راغلې ده په يوه روايت کي راغلي دي چي د کال د سر څخه د روژې د مياشتي لپاره د جنت ښايسته کېدل شروع سي. دا عمومي خبره ده څومره چي د يو چا لپاره د انتظام اهتمام کېږي نو په هغه اندازه د مخکي څخه انتظام نيول شروع کېږي د واده لپاره خو په مياشتو مياشتو انتظام کېدل شروع سي.

څلورم خصوصيت چي نبي ﷺ ښودلي دئ د سرکښو شيطانانو بندېدل دي، د دې لپاره چي د ګناه زور کم سي. د روژې په مياشت کي د زيات رحمت او د عبادت د ډېروالي تقاضا دا وه چي شيطانانو د خلکو د غولولو لپاره زيات کوښښ کولای او خپل پوره زور يې وهلای د دې لپاره چي په خلکو ګناهونه وکړي خو د دې ليدلي سوي او ثابتي سوي خبري سره سره په عمومي ډول په دې مياشت کي ګناهونه کم کېږي ډېر شراييان او کباييان په دغه مياشت کي په خصوصيت سره شراب نه څښي دا ډول نور ګناهونه هم کم کېږي خو بيا هم څه نا څه ګناهونه خو کېږي مګر د دغه ګناهو په وجه په حديث کي شک نه پيدا کېږي ځکه چي حديث کي د سرکښه شيطانانو تړل راغلي دي که دغه ګناهونه د کوچنيو شيطانانو اثر وي نو بيا خبره ښکاره ده، البته په ځينو روايتو کي د عامو شيطانانو بندېدل هم راغلي دي خو په هغه ځای کي سرکښه شيطانان مراد دي ځکه ډېر وخت يو لفظ عام ذکر سي خو بل ځای بيا د هغه څرنګوالي په خاص لفظ سره وسي او که سرکښه شيطانان ځني مراد نه سي بلکي ټول شيطان ځني مراد سي بيا هم ليري خبره نه ده، ځکه يو خو دا چي شيطانان د ده سره ډېري مياشتي ملګری دئ هغه اثرات د ده سره ملګري وي زهر يې پکښي ايله کړي وي د ده نفس دومره ورسره بلد سوی وي او په ګناهونو عادت سوی وي چي د شيطان غيرحاضري بيخي نه محسوسوي خو دغه کار د هغه چا لپاره چي د روژې د مياشتي پرته نور هم ډېر ګناهونه کوي نو په روژه کي چي کوم ګناهونه کېږي هغه هم د دغي وجي څخه کېږي. دوهمه خبره دا ده چي نبي ﷺ فرمايي: کوم څوک چي ګناه وکړي نو د ده پر زړه باندي تور ټکی پيدا سي که په رښتيا توبه وباسي هغه ټکی ورک سي او که يې ونه باسي هغه ټکی پاته وي بيا چي دوهم واري ګناه وکړي بل ټکی يې پر زړه پيدا سي آن تر دې چي آخر يې د ډېرو ګناهو څخه زړه ټک تور سي و همدې خبري ته الله ﷻ اشاره کړې ده او فرمايي : کلا بل ران علی قلوبهم. يعني د

دوی زړونه زنګ وهلي سوه. په دغه وخت کي چي زړونه زنګ وهلي یا تک تور وي نو خپله د ګناه و لوري ته متوجه کېږي. همدا وجه ده چي یو سړی په بېباکي سره یوه ګناه کوي کله چي بله ګناه مخ ته ورته راسي نو زړه یې نه غواړي د مثال په ډول یو سړی شراب څښي کله چي د خنزیر غوښي د خوړلو لپاره ورته وړاندي سي نو د ده طبیعت نفرت ځني کوي حال دا چي د دواړو ګناه سره برابره ده او د شرابو سره چي عادت دئ نو په دلاوري یې خوري کوم څوک چي د ګناه سره عادت وي نو که شیطان هم ورسره نه وي بیا یې هم کوي.

خلاصه دا چي که په روژه کي د ټولو شیطانانو بندېدل مراد وي بیا هم په دې کي شک نسته چي ګناهونه به کېږي او که د سرکښو شیطانانو بندیدل مراد وي نو بیا خو بیخي په دې کي شک نسته چي څه نا څه ګناهونه به کېږي. زما په آند دغه وجه بهتره ده. هر څوک تجربه کولای سي چي د روژې په میاشت کي نېکي کول او د ګناهونو څخه ځان خلاصول دومره زور نه غواړي لکه په نورو میاشتو کي چي یې غواړي بلکي لږ همت کول هم بس دي حضرت مولانا شاه محمد اسحاق رحمة الله علیه فرمایي چي دغه دواړه حدیثونه د خلګو په اعتبار سره دي یعني دا چي د فاسقانو څخه لوی او سرکښه شیطانان تړل کېږي او د نیکانو څخه ټوله شیطانان تړل کېږي.

پنځم خصوصیت چي نبي علیه السلام فرمایلی دئ هغه دا دئ چي د روژې په آخره شپه به ټولو روژاتیانو ته بخښنه کېږي. دغه مضمون په تېر حدیث کي هم راغلی و. څرنګه چي د روژې په میاشت کي د قدر شپه سته اصحابو فکر وکړ، چي کېدلای سي چي دا به د قدر شپه وي خو رسول الله ﷺ وښودل چي د قدر شپه ځانته جلا شی ده دا یوازې د روژې د خلاصېدو انعام دئ.

درې کسان به د الله جل جلاله د رحمت څخه لیري وي

۳ : عن كعب بن عجرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ احضروا المنبر فحضرنا فلما ارتقى درجة قال آمين فلما ارتقي الدرجه الثانية قال آمين فلما ارتقى الدرجة

ژباړه: حضرت کعب بن عجرة رضي الله عنه وایي چي نبي ﷺ موږ ته وفرمایل چي منبر ته رانژدې سئ. نو موږ منبر ته رانژدې سوو. نبي ﷺ منبر ته وختی پر اوله ځینه چي یې پښه کښېښودل آمین یې وواېه بیا چي یې پر دوهمه ځینه پښه کښېښودل آمین یې وواېه بیا چي یې پر دریمه ځینه پښه کښېښوده آمین یې وواېه کله. چي نبي ﷺ د منبر څخه راکښته موږ پوښتنه ځني

الثالثه قال آمين فلما نزل قلنا يا رسول اللهﷺ! لقد سمعنا منک اليوم شيئا ماکنانسمعه قال ان جبرائيل عرض لي بعد من ادرک رمضان فلم يغفرله قلت آمين فللمارقيت الثانية قال بعد من ذکرت عنده فلم يصل عليک قلت آمين فلما رقيت الثالثة قال بعد من ادرک ابويه الکبر عنده او احدهما فلم يدخلاه الجنة قلت آمين(١).

وکړه چي يا رسول اللهﷺ! نن موږ ستا څخه (د منبر ختلو په وخت کي) داسي څه واورېدل چي نور وخت مو نه وه اوريدلي؟ رسول اللهﷺ راته وويل چي جبرائيلؑ زما مخته راغلی (ما چي د منبر پر اوله ځينه پښه کښېښوده) ده راته وويل چي هغه څوک دي هلاک وي چي د روژې مياشت راسي او ده ته مغفرت نه وسي ما ورته وويل آمين. کله چي ما پر دوهمه ځينه پښه کښېښوده جبرائيلؑ راته وويل چي هغه سړی دي هلاک وي چي ستا نوم د ده په وړاندي ذکر سي او دی پر تا باندي درود ونه وايي ما ورته وويل آمين، کله چي ما پر دريمه ځينه باندي پښه کښېښوده جبرائيلؑ را ته وويل چي هغه څوک دي هلاک وي چي مور او پلار دواړه او يا يو د دوی څخه د سپين ږيروالي په وخت کي ولري او دی په دوی باندي جنت ته داخل نه سي ما ورته وويل آمين.

فايده : په دې حديث کي جبرائيلؑ درې ښراوي کړي دي او نبيﷺ آمين پر ويلی دئ. لومړی خو د جبرائيلؑ ښراوي څه اسانه خبره نه ده بيا چي نبيؑ آمين پر ويلی دئ نو څه حال به يې وي نو سختي يې ښکاره دي. اللهﷻ دي پخپل فضل سره موږ ته د دې درو ښراوو څخه د ساتني توفيق راکړي او د دې بدو کارو څخه دي مو اللهﷻ وساتي که نه نو بيا زموږ په هلاکېدو کي هيڅ شک نسته.

د درالمنثور په ځينو روايتو کي راغلي دي چي خپله جبرائيلؑ و نبيﷺ ته وويل چي آمين ووايه د دې څخه نور زيات ټينګار معلومېږي.

لومړی: هغه څوک چي د روژې مياشت پرې تېره سي او د ده بخښنه ونه سي يعني د روژې د مياشتي په څېر د خير او برکت وختونه په غفلت او ګناهونو سره تېر کړي حال دا چي د روژې په مياشت کي د مغفرت او د اللهﷻ د رحمت باران اورېږي نو چي د دومره پراخ خير او برکت په وخت کي دئ د ګناهونو او غفلت په وجه د مغفرت څخه بې برخي سي نو بيا دی څه وخت مغفرت لاسته راوړي او د ده په هلاکېدو کي نو بيا څه شک دئ. که څوک د روژې په

(١) رواه الحاکم و قال صحيح الاسناد کذا في الترغيب وقال السخاوي رواه ابن حبان في ثقاته وصححه والطبراني في الکبير والبخاري في برالوالدين له والبيهقي في شعب وغير هم ورجاله ثقاة وبسط طرقه وروي الترمذي عن ابي هريرة وقال ابن حجر طرقه کثير کما في المرقاة

مياشت کې مغفرت غواړي نو ډول يې داسي دئ چي روژه او تراويح په پابندۍ سره کوي او د الله ﷻ څخه ډېر – ډېر د خپلو گناهونو بخښنه غواړي او توبه وباسي.

دوهم : د هغه چا لپاره ښرا سوې ده چي په وړاندي يې د نبي ﷺ مبارک نوم ذکر سي او دی درود شريف نه ووايي دغه مضمون په نورو روايتو کي هم راغلی دئ. په همدې وجه ځينو علماوو ويلي دي چه کله د نبي ﷺ نوم مبارک ذکر سي نو درود ويل واجب دي.

د پورتني حديث پرته په نورو روايتو کي هم د هغه چا لپاره ډېري سزاگاني راغلي دي چي په وړاندي يې د نبي ﷺ نوم ذکر سي او دی درود ونه وايي. په ځينو حديثو کي دغه کس د بخيلانو په ډله کي داخل بلل سوی دئ. همدا ډول بې وفا، د جنت د لاري هېرېدونکي آن تر دې چي په دوزخ کي داخل او بې دينه ورته ويل سوي دي او دا هم راغلي دي چي دغه کس به د نبي ﷺ مخ ونه ويني. تحقيق کوونکو عالمانو که څه هم د دې حديثونو تأويل کړی دئ خو پر نبي ﷺ باندي د درود پرېښودونکي چا لپاره نبي ﷺ کوم ښکاره سختي بيان کړېده د دې زغمل گران کار دئ ولي به نه وي ځکه چي د نبي ﷺ احسانات د خپل امت لپاره تر دې هم زيات دي چي په ليکلو او ويلو کي نه راځي د دې څخه علاوه رسول الله ﷺ پر امت باندي دومره حقونه لري چي و درود نه ويونکي ته هر څومره سزاوي وويل سي ورسره مناسبي دي.

او درود شريف دومره فضائل لري چي د هغو څخه بې برخي کېدل ځانته بدبختي ده تر دې به نو لوی فضيلت چيري وي چي څوک پر نبي ﷺ باندي يو وار درود شريف ووايي الله ﷻ پر هغه باندي لس واره رحمت نازلوي. د دې سره سره د ملائکو دعا، د گناهونو بخښنه، د درجو لوړېدل، د احد د غره په څېر ثواب پيدا کول، شفاعت ورته واجبېدل او داسي نور هم د درود ويلو پايله ده هم دا ډول د الله ﷻ رحمت تر لاسه کول، د الله ﷻ د غصې څخه خلاصون، د قيامت د سختيو څخه خلاصون، د مرگ په وخت کي په جنت کي خپل ځان ليدل او داسي نور د درود شريف ويلو ځانگړي خصوصيتونه دي.

هم دا ډول په درود شريف ويلو سره مسکنت ليري کېږي د الله ﷻ او د رسول ﷺ په دربار کي نژدېکت پيدا کېږي، پر دښمنانو باندي برلاسي پيدا کېږي، د زړه څخه نفاق او زنگ ليري کېږي د خلگو محبت ورسره پيدا کېږي. همدا ډول په ډېرو حديثونو کي د درود شريف نور فضائل هم راغلي دي. د فقهي شريفي عالمان په دې خبره په اتفاق دي چي په ټول عمر کي يو ځل عملاً درود شريف ويل واجب دئ او ځينو علماوو اختلاف کړی دئ، وايي چي د نبي ﷺ د هر ځلي نامه ذکر کېدو سره درود شريف ويل واجب دي او ځينو بيا ويلي دي چي مستحب دي.

دريم : مور او پلار چې سړی لري او سپينږيري وي دی يې د ومره خدمت ونه کړي چې د جنت حقدار سي دغه کس ته هم جبرائيل ﷺ ښرا کړې ده. په ډېرو حديثونو کي د مور او پلار د حقوقو په اړه ټينگار سوی دئ. عالمانو ليکلي دي چې د مور او پلار اطاعت کول په روا کارو کي ضروري دئ او دا يې هم ويلي دي چې بې ادبي به نه ورسره کوي د کبر سلوک به نه ورسره کوي که څه هم مشرکان وي، خپل دغ به تر هغو نه لوړوي، په نامه به يې نه بولي، په گار کي به تر دوی نه مخکي کېږي، امر بالمعروف او نهي عن المنکر به په نرمۍ سره ورته کوي که يې ونه مني د هدايت دعا به ورته کوي او ښه سلوک به ورسره کوي. لنډه دا چي بهترين عزت به د مور او پلار کوې په يو حديث کي راغلي دي چي بهترينه دروازه د جنت پلار دئ نو که دي زړه غواړي وې ساته او که دي زړه غواړي ضائع يې کړه. يو صحابي د نبي ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې د مور او پلار حق څه شي دئ؟ رسول الله ﷺ ورته وويل : چې مور او پلار ستا جنت او دوزخ دئ يعني که دي راضي ساتلي وه جنت دئ او که دي ناراضه کړي وه دوزخ به ستا وي. په يو حديث کي راغلي دي چې د فرمانبردار زوی يو نظر و پلار ته د حج ثواب لري. په يو حديث کي راغلي دي چې الله ﷻ د شرک پرته نور ټول گناهونه که يې خوښه سوه معافوي يې خو د مور او پلار نافرمانه زوی ته تر مرگ مخکي تاوان رسوي.

يوه صحابي نبي ﷺ ته وويل: چې زه و جهاد ته د تلو اراده لرم. رسول الله ﷺ ورته وويل چي مور لرې؟ صحابي ورته وويل: هو رسول ﷺ ورته وويل چي ورسه د هغې خدمت وکړه جنت د مور تر پښو لاندي دئ. په يو حديث کي راغلي دي چې د الله ﷻ رضا د پلار په رضا کي ده او د الله ﷻ ناراضي د پلار په ناراضي کي ده. هم دا ډول نور هم ډېر روايتونه د مور او پلار د حقوقو په اړه راغلي دي.

کوم خلک چي د مور او پلار نافرمانه پاته سوي دي او اوس يې مور او پلار مړه سوي دي د دوی لپاره اوس هم لاره سته ځکه په يوه حديث کي راغلي دي، چي نبي ﷺ فرمايي: که د چا پلار په داسي حالت کي مړ وي چې د ده څخه ناراضه و نو د پلار لپاره دي ډېره دعا او استغفار وايي په فرمانبرداره زامنو کي به حساب سي. په يو حديث کي راغلي دي چي بهترينه نېکي د پلار تر وفات وروسته د هغه د دوستانو سره ښه سلوک دئ.

د مسلمانانو په روژه نیولو سره الله ﷻ پر ملائکو باندې فخر کوي

٤ : عن عبادة بن صامت ﷺ ان رسول الله قال یوما وحضرنا رمضان اتاکم رمضان شهربرکة یغشکم الله فیه فیترل الرحمة ویحط الخطایا ویستجیب فیه الدعا ینظر الله تعالی الي تنافسکم فیه ویباهي بکم ملئکته فاروا الله من انفسکم خیرا فان الشقي من حرم فیه رحمة الله عزوجل(۱).

ژباړه: عبادة بن صامت ﷺ فرمایي : یوه ورځ نبي ﷺ د روژې میاشتي ته نژدې وفرمایل: تاسو ته د روژې میاشت راغله ده چې د برکت میاشت ده، په دې میاشت کې الله ﷻ ستاسو و لوري ته متوجه کېږي، رحمت نازلوي، ستاسو دعاوي قبلوي، ستاسو ګناهونه بخښي، ستاسو تنافس سیالۍ ته ګوري او پر ملائکو باندې فخر کوي. نو تاسو خپله نیکي د الله ﷻ په وړاندې وښایاست. بدبخته هغه څوک دئ چې په دې میاشت کې هم د الله ﷻ د رحمت څخه محروم سي.

فایده : تنافس و دې ته ویل کېږي چې په نېکو کارو کې یو د بل سره سیالي وکړي او هر یو د دې کوښښ کوي چې تر هغه بل زیات د خیر کار وکړي او خپل فخر وښیي، د فخر دعوه کوونکي دي راسي خپل جوهر دي وښیي د فخر خبره نه ده بلکي د نعمت د شکریې خبره ده زه که څه هم د خپل نااهلیت په وجه څه نه سم کولای خو د کور یوه ښځه ووینم چې د دې کار ډېر اهتمام کوي زه ډېر خوشحاله سم د کور د کارونو سره بیا هم د ورځې پنځلس شل سپارې د ورځې تلاوت کوي الله ﷻ دي یې پخپل فضل سره قبول کړي او د زیات عبادت توفیق دي ورکړي.

د هر روژاتي یوه دعا په شپه او ورځ کي قبلېږي

۵ : عن ابي سعیدخدري ﷺ قال قال رسول الله ﷺ ان لله تبارک تعالی عتقاء في کل یوم ولیلة یعني في رمضان وان لکل مسلم في کل

ژباړه : حضرت ابي سعید خدري ﷺ فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د روژې په میاشت کي هره ورځ او شپه کي د الله ﷻ د لوري څخه د دوزخ څخه بندیان پرېښودل کېږي او هر مسلمان ته په دې میاشت کي په هره ورځ او

---

(۱) رواه الطبراني ورواته ثقاة الا ان محمد بن قیس لا یحضرني فیه جرح ولا تعدیل کذافي الترغیب.

يوم وليلة دعوة مستجابة[1]. شپه کې يوه دعا قبلېږي.

فايده : په ډېرو روايتو کې د روژاتي دعا قبلېدل راغلي دي په ځينو روايتو کې راغلي دي چې د روژه مات په وخت کې دعا قبلېږي خو زموږ خلک د روژه مات په وخت کې پر خوراک داسې پرېوزي چې دعا څه کوي بلکې د روژه مات دعا لا هم راڅخه هېره سي. د روژه مات مشهوره دعا دا ده:

اللهم لک صمت وبک آمنت وعليک توکلت وعلى رزقک افطرت.

ژباړه: اې خدايه! زه ستا لپاره روژه نيسم پر تا ايمان لرم او پر تا باندې توکل لرم. د حديثو په کتابو کې دا دعا لنډه راغلې ده. حضرت عبدالله بن عمروبن العاص ﷺ به د روژه مات په وخت کې دا دعا ويل: اللهم اني اسئلک برحمتک التي وسعت کل شيئ ان تغفرلي.

ژباړه : اې الله ! ستا د رحمت په صدقه کې هر شي شامل دئ زه ستا څخه بخښنه غواړم په ځينو کتابو کې د نبي ﷺ څخه دا دعا رانقل سوېده: يا واسع الفضل اغفرلي. ترجمه : اې د لوی فضل خاونده ! ما ته مغفرت وکړې. په ځينو روايتو کې نوري دعاوي رانقل سوي دي خو د يوې دعا خاصوالی نسته دا دعا د قبلېدو وخت دئ هره دعا چه دي زړه وي کوه يې خو کله چې دعا کوې ما گنهگار بنده مه هېروه ځکه چې سوال گر کريم سوال گر حق لري.

چشمۂ فیض سی اگر ایک اشارہ ہو جائی

لطف ہو آپ کا اور کام ہمارا ہو جائی

ژباړه : د فيض د چيني څخه که يوه اشاره وسي مهرباني به ستا وي او کار به زموږ وسي.

د درو کسانو دعا الله ﷻ نه ردوي بلکې قبلوي يې

٦ :عن ابي هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ ثلثة لا ترد دعو تهم الصائم حتى يفطر والامام العادل و دعوة المظلوم يرفعها الله فوق الغمام ويفتح لها ابواب السمآء ويقول

ژباړه: ابو هريرة ﷺ فرمايي چې نبي ﷺ فرمايلي دي : درې کسان دي چې الله ﷻ يې دعا نه ردوي روژاتي چې د روژه مات په وخت کې دعا وکړي، دوهم عادل پاچا دئ دريم مظلوم دئ چې الله ﷻ يې دعا تر وريځو پورته کړي د اسمان دروازې ورته خلاصې سي او الله ﷻ ورته وايي

(۱) رواه البزار كذا في الترغيب

الرب وعزتي لا نصرنك ولو بعد حين⁽¹⁾. — چي زما دي پخپل عزت سره قسم وي چي زه به ستا مرسته کوم که څه هم تر يو وخت وروسته وي.

فايده: درمنثور د عائشې رضي الله عنها په روايت نقل کړی دئ چي کله به روژه راغله د نبي ﷺ رنګ به بدل سو په لمانځه کي به يې ډېروالی کاوه، دعا به يې په عاجزۍ سره کول وېره به پرې غالبه سوه. په دوهم روايت کي راغلي دي چي د روژې د مياشتي تر پايه پوري به بستري ته نه راتلی. په يوه حديث کي راغلي دي چي د روژې په مياشت کي الله ﷻ و عرش پورته کوونکو ملائکو ته وايي چي خپل عبادتونه پرېږدئ د روژاتيانو پر دعاوو باندي آمين واياست. په ډېرو روايتو کي په روژه کي د دعا قبلېدلو خاص اهميت بيان سوی دئ. کله چي الله ﷻ وعده وکړي او د هغه د رښتيني رسول ﷺ څخه رانقل سي نو په پوره کېدو کي يې هيڅ شک نسته. ځيني خلګ د يوه خاص غرض لپاره دعا کوي او د ده غرض پوره نه سي نو د دې دا معنی نه ده چي دعا يې نه سوه قبوله بلکي د دعا په معنی ځان پوه کول په کار دي.

رسول الله ﷺ فرمايي: کله چي مسلمان دعا وکړي په دې شرط چي د خپلوۍ پرېښودو يا د ګناه کولو دعا نه وي نو الله ﷻ يو د درو شيانو څخه ورکوي يا پخپله هغه شی ورته رسېږي، يا يې په بدل کي د يوه شره څخه خلاص سي او يا يې په بدله کي د ده لپاره په آخرت کي ثواب وليکل سي. په يو حديث کي راغلي دي چي د قيامت په ورځ به الله ﷻ يو بنده راوغواړي او ورته و به وايي چي ما تا ته د دعا کولو امر کړی و او قبلولو وعده مي درکړې وه ايا تا ما ته دعا وکړه ؟ بنده به ورته ووايي چي هو ماکړې وه الله ﷻ به ورته ووايي چه تا هيڅ دعا نه ده کړې چه ما نه وي قبوله کړې، تا فلانۍ دعا غوښتې وه ما فلانی تکليف درڅخه ليري کړ، ستا هغه دعا مي قبوله کړه او د فلاني تکليف دعا دي غوښتې وه د هغې دعا اثر دي په دنيا کي نه وليدی په بدله کي مي دغه ثواب په آخرت کي درکړ. نبي ﷺ وفرمايل چي بنده ته به ټولي دعاوي وریاد کړي او بدله به يې په دنيا او يا په آخرت کي وروښودل سي. بنده چي په آخرت کي د دعا د بدلې ثوابونه ويني نو وايي چي کاشکي په دنيا کي زما يوه دعا هم نه وای قبوله سوې د ټولو دعاوو بدلې دلته په آخرت کي راکړل سوي وای. لنډه دا چي دعا ډېر مهم شی دئ د دعا څخه غافله کېدل د لوی تاوان خبره ده. که په ښکاره د دعا قبلېدو نښې ونه ويني نو فکر دي نه خرابوي. د دې رسالې په پای کي يو اوږد حديث راروان دئ د هغه حديث څخه معلومېږي چي الله ﷻ د بنده مصلحتونو ته نظر کوي کوم

---

(۱) رواه احمد في حديث والترمذي وحسنه وابن خزيمه وابن حبان في صحيحهما كذا في الترغيب.

شی چې د بنده لپاره خیر وي هغه ورکوي او کوم شی چه ورته خیر نه وي هغه نه ورکوي دا هم د الله ﷻ لوی احسان دئ چې موږ یو شی غواړو او موږ نه پوهېږو چې هغه شی زموږ لپاره تاوان دئ نو الله ﷻ هغه شی موږ ته نه راکوي او کوم شی چې زموږ لپاره خیر وي هغه شی راکوي. یوه اړینه خبره د یادوني وړ ده چې ډېر نارینه یا ښځې د درد په حالت کې اولادو ته ښراوي کوي او حال دا چې د الله ﷻ په دربار کې ځیني داسي وختونه سته چې په هغه کې هره غوښتنه قبلېږي نو کله چې یې اولادو ته غم، مرگ او یا بل تکلیف ورسېږي بیا نو ژاړي او دا یې په فکر کې نه راځي چې دا د خپل لاس څخه ورته پیښ دئ، رسول الله ﷺ فرمایي: تاسو خپلو اولادو او خادمانو ته ښراوي مه کوئ داسي نه چې ستاسو ښراوي په داسي وخت کې وسي چې د قبلېدو وخت وي په ځانگړي توگه د روژې میاشت چې ډېره مهمه ده د دعا په قبلېدو کې په داسي وختو کې بیخي د ښراوو څخه ځانونه وژغورئ. حضرت عمر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه نقل کوي چې د روژې په میاشت کې د الله ﷻ یادوونکي خلک بخښل کېږي او نه یادوونکي نامراده پاته کېږي. ترغیب نومي کتاب د ابن مسعود رضي الله عنه په روایت یو حدیث را نقل کړی دئ چې د روژې په میاشت کې هره ورځ یو اواز کوونکی ږغ کوي : اې د خیر لټوونکې ! متوجه سه او رامخکې سه اې د بدی غوښتونکې! بس کړه سترگې وغوړوه. بیا دغه ملائکه وایي : څوک د بخښني غوښتونکی سته چه بخښنه یې وسي؟ څوک توبه ایستونکی سته چې توبه یې قبوله سي؟ څوک دعا کوونکی سته چې دعا یې قبوله سي؟ څوک غوښتونکی سته چې سوال یې قبول سي.

د یادوني وړ ده چې د دعا د قبلېدو لپاره ځیني شرطونه سته چې د نه موجودیت په صورت کې یې ډېر وخت دعا نه قبلېږي یو له دغو څخه حرام خوراک نه کول دي په دغه وخت کې هم دعا نه قبلېږي چې خوراک یې حرام وي ځکه رسول الله ﷺ فرمایي: ډېر وخت یو بدحاله د الله ﷻ و لوري ته لاسونه پورته کړي او وایي: اې ربه ! اي ربه ! خو د ده خوراک حرام وي چیښاک یې حرام وي او جامه یې حرامه وي په داسي وخت کې نو د ده دعا چیري قبلېږي.

د تاریخ کتابونو لیکلي دي چې په کوفه کې یوه ډله وه چې دعا یې قبلېدل هر ظالم چې به پر دوی باندي مقرر سو دوی به ښراوي ورته کولې هغه به هلاک سو کله چې حجاج پر دوی باندي مقرر سو نو یوه مېلمستیا یې جوړه کړه دوی ته یې خاصه بلنه ورکړه دوی هم پکښې شریک سوه کله چې دوی ډوډۍ وخوړه حجاج وویل چې زه اوس د دوی د ښراوو څخه وساتل سوم. اوس نو زموږ د زماني په روزیو باندي نظر اچول په کار دي چې د سود کولو د لارې پیدا کولو لپاره څومره هڅې رواني دي رسمي دندی لرونکي رشوت اخلي او تجاران

دو کې کوي.

پر پیشلمي کوونکو باندي د الله ﷻ رحم وي

۷ : عن ابن عمر ﷺ قال قال رسول الله ان الله وملائكته يصلون على المتسحرين[(۱)]. ژباړه: رسول الله ﷺ فرمايي: الله ﷻ او ملائکي يې پر پیشلمي کوونکو باندي درود وايي.

فایده: د الله ﷻ څومره لوی احسان دئ چي د روژې د نیولو مخکي خوراک چي پیشلمی ورته وايي الله ﷻ ثواب باندي ورکوي په ډېرو حدیثونو کي د پیشلمي فضیلت راغلی دئ. علامه عیني رحمه الله علیه د اوولس اصحابو څخه د پیشلمي پر فضیلت باندي حدیثونه رانقل کړي دي او د پیشلمي پر مستحب بللو باندي يي د عالمانو اتفاق رانقل کړی دئ. ډېر خلګ د سستیا له وجي د دې ثواب څخه بې برخي سي او ډېر خلګ د تراویح وروسته خوراک کوي بیا بیده سي د دې ثواب څخه بې برخي سي.

په عربي ژبه کي پیشلمي ته سحر وايي سحر په لغت کي هغه خوراک ته ویل کېږي چي سهار ته نژدې وي ځینو ویلي دي چي د پیشلمي وخت د نیمي شپي څخه شروع کېږي[(۱)].

صاحب کشاف بیا د شپې ورستی شپږمه برخه ښودلي ده یعني شپه چي پر شپږو برخو ووېشې وروستی شپږمه برخه د پیشلمي وخت دئ د مثال په ډول که د لمر لوېدو څخه تر سپېدو پوري دوولس ساعته وخت وي نو آخري دوه ساعته د پیشلمي وخت دئ خو په دغه کي هم آخري وخت بهتر دئ داسي آخري وخت نه چي په روژه کي شک پیدا سي (نو د پورتنۍ خبري په نظر کي نیولو سره هغه سړی د پیشلمي ثواب لاسته نه سي راوړلای چي د تراویح وروسته دستي خوراک وکړي بیا بیده سي) د پیشلمي ډېر فضایل په حدیثو کي راغلي دي.

رسول الله ﷺ فرمايي: زموږ او د یهودیانو او د نصاراوو تر منځ فرق په روژه کي په پیشلمي سره دئ. یعني موږ پیشلمی کوو دوی يې نه کوي. په یو حدیث کي راغلي دي چي تاسو پیشلمی کوئ په پیشلمي کي برکت دی.

په بل حدیث کي راغلي دي چي په درو شیانو کي برکت دئ:

۱. جماعت، ۲. ښوروا او ۳. پیشلمي کي. په دې ځای کي د جماعت څخه عامه معنی

---

(۱) رواه الطبراني في الاوسط وابن حبان في صحيحه كذا في الترغيب.

(۱) مرقاة

مراد ده په لمانځه کې وي او که داغسې د مسلمان سره يو ځای سي د اللهﷻ مرسته د دوی سره وي.

ښوروا دې ته وايي چې غوښې په اوبو کې پخې کړې او په هغه اوبو کې بيا ډوډۍ وړه کړې. دريم پېشلمي دئ. نبيﷺ چې به کله يو صحابي ته د پېشلمي لپاره بلنه ورکول نو ورته ويل به يې چې راسه د برکت خوراک وکړه.

په يو حديث کې راغلي دي چې د پيشلمي په خوراک سره پر روژه باندې قوت حاصل کړئ او د غرمې په خوب سره په آخره شپه کې د پورته کېدو لپاره قوت لاسته راوړئ. حضرت عبدالله بن حارث رضي الله عنه د يو صحابي څخه نقل کړي دئ چې زه د رسول اللهﷺ حضور ته په داسې وخت کې ورغلم چې ده پيشلمی کاوه نبيﷺ وفرمايل پيشلمی کوئ دا د برکت شی دئ چې اللهﷻ تاسو ته درکړی دئ. په ډېرو حديثونو کې د رسول اللهﷺ څخه د پېشلمي په اړه ترغيب (هڅونه) راغلی دئ آن تر دې چې په يو حديث کې راغلي دي چې تاسو پېشلمی کوئ که څه هم يوه خرما وي او يا يو ګيلاس اوبه چيښل وي له همدې وجې څخه د روژاتي لپاره د چا پر چم هم خدای او هم خرما ده يعني هم د بدن راحت دئ او هم ثواب دئ خو په دې کي يوه خبره ضروري ده هغه دا چې په پېشلمي کولو کې منځنی حالت په کار دئ يعني نه به دومره لږ خوراک کوي چې د عبادت کولو توانايي نه سي ورته پاته او نه به دومره ډېر خوراک کوي چې ټوله ورځ کهاله او دروند وي. ځکه دا خبره و دې ته اشاره ده چې که څه هم يوه خرما او يا يو ګيلاس اوبه وي همدا ډول بيا په ډېرو حديثو کي د ډير خوراک څخه منعه هم راغلې ده.

حافظ ابن حجر د بخاري په شرحه کې ليکلي دي چې د پېشلمي ډېر برکتونه دي لکه د سنتو تابعداري او د اهل کتابو څخه مخالفت چې موږ ته په کار دئ ځکه موږ ته د دوی څخه د مخالفت کولو امر سوی دئ.

همدا ډول پر عبادتونو باندې برلاسي د عبادتونو سره د مينې زياتوالی. د دې تر څنګ د زياتي لوږي څخه زيات وخت بد اخلاقي پيدا کېږي د دې څخه د ساتلو لاره دا ده که يو اړ سوال ګر درته راسي مرسته يې کوه او د مسکين همسايه مرسته کوه. همدا ډول په دغه وخت کې په خصوصي ډول سره دعا قبلېږي د پېشلمي په برکت دعا کول نصيب کېږي، د ذکر کولو توفيق هم پيدا کېږي او داسې نوري ګټې هم پکښې سته.

ابن دقيق العيد رحمة الله عليه فرمايي چې صوفيانو په پيشلمي کولو کې بحث کړی دئ دوی وايي چې پيشلمی د روژې د مقصد څخه مخالفت دئ ځکه د روژې څخه مقصد د نفس او شهوت ماتوالی دئ د پيشلمي په کولو سره دغه مقصد لاسته نه راځي نو صحيح خبره داده

چې دومره خوراک کول نه دئ پکار چې دغه مقصد بیخي فوت سي. خو زما په ناقص فکر په دې کې د پرېکړې خبره داده چې په پیشلمي او روژه ماتي کې اصولي شی د خوراک کموالی دی خو د ضرورتونو په وخت کې په دې کې بدلېدل راتلای سي مثلا که طالب العلمان (زده کونکي) خوراک کم کړي نو د روژې مقصد به یې لاسته راوړی وي خو د دین زده کړه چې زیات اهمیت لري هغه به ځني پاته وي نو د دوی لپاره لږ خوراک نه دی پکار بلکي مناسب خوراک په کار دئ همدا ډول ذکر کونکي خلګ که خوراک کم کړي نو ذکر ځني پاتېږي او څوک چې هیڅ ډول بوختیا نه لري نو دده لپاره لږ خوراک په کار دئ.

رسول اللهﷺ یو وار جهاد ته تشریف وړی نو اعلان یې وکړ، چې په سفر کي روژه نیول نیکي نه ده حال دا چې د روژې د میاشتي روژې وي خو دلته د روژې د جهاد سره مقابله راغلې وه. که چیري یو دیني کار تر روژې مهم وي او په دغه کار کي سستي نه راځي نو په دغه وخت کي د خوراک کموالي مناسب دئ.

په شرح اقناع کي علامه شعراني رحمة الله علیه لیکلي دي چې مونږ پر دې وعده وکړه چې په ماړه نس به ډوډۍ نه خورو دروژې په میاشت کي به یې بیخي نه خورو ښه خبره داده چې دروژې په میاشت کي د نورو میاشتو په پرتله خوراک کم کړئ ځکه چې څوک د روژې په میاشت کي په پیشلمي او روژمات ډیره ډوډۍ وخوري دده به څه روژه وي . عالمانو ویلي دي چې څوک د روژې په میاشت کي د لوږي عادت پیدا کړي نو د راتلونکي کال تر روژې پوري به د شیطانانو د حملو څخه ساتلي وي. د نورو علماو څخه هم په دې اړه سختي نقل سوې ده په شرح احیآء کي د عوارف نومي کتاب څخه نقل سوی دئ چې سهل بن عبدالله تستري رحمة الله علیه به د روژې په میاشت کي په پنځلسو ورځو کي یو وار خوراک کاوه د روژې په میاشت کي به یې یوه ګوله خوراک کاوه ،دسنتو د تابعدارۍ په موخه به یې په ساده اوبو روژه ماتول .

حضرت جنید بغدادي رحمة الله علیه به تل روژې نیولې که به ځیني نیکان خلګ ورته راغلل نو د هغوئ په وجه به یې روژه ماته کړه او ویل به یې د داسي نیکانو سره خوراک کول تر روژې نیولو کم نه دئ. نور هم د بزرګانو ډیرې قصې ددې شاهدي ورکوي چې دوئ به په لږ خوراک کولو سره د خپل نفس تربیه کول خو شرط دادئ چې په دغه کم خوراک سره به ددین نورو مهمو کارو ته تاوان نه رسیږي .

ډير وخت د روژاتي روژه هيڅ فايده نه لري

٨ : عن ابي هريرة‌ رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ رب الصائم ليس له من صيامه الا الجوع ورب قائم ليس له من قيامه الا السهر.(١)

ژباړه : رسول الله ﷺ فرمايي : ډير وخت يو روژه نيونکی وي خو د لوږې پرته نور څه په لاس نه ورځي او ډېر وخت د شپې عبادت کونکی وي خو د شپې روڼولو پرته نور څه په لاس نه ورځي.

فايده : عالمانو د پورتني حديث په شرحه کي څو ويناوي کړي دي.

لومړي : دا چي څوک ټوله ورځ روژه ونيسي ماښام يې په حرام مال ماته کړي نو د روژې تر ثواب يې د حرام خوړلو ګناه ډيره سي نو د لوږې پرته ده ته هيڅ ثواب نه پاتيږي.

دوهم: دا چي د دغه سړي څخه هغه څوک مراد دئ چي روژه نيسي بيا په غيبت اخته وي.

دريم : قول دادئ چي دغه کس هغه څوک دئ چي په روژه کي ځان د ګناه څخه نه ساتي.

د نبي ﷺ جامع قول دئ چي ټولي ويناوي پکښي داخلي دي او داسي نوري ويناوي هم پکښي داخلي دي . همدا ډول هغه څوک چي ټوله شپه په عبادت روڼه کړي مګر لږ غيبت وکړي يا بله بي عقلي وکړي لکه د سهار لمونځ چي قضا کړي او داسي نور دده شپه روڼول هيڅ ګټه نه لري.

روژه دمسلمان لپاره ډال دی ترڅو چي څيري يې نه کړي

٩ : عن عبيدة قال سمعت رسول الله ﷺ يقول الصيام جنة مالم يخرقها. (٢)

ژباړه: رسول الله ﷺ فرمايي : روژه د روژاتي لپاره سپر (ډال) دئ تر څو چي څيري نسي.

فايده : د سپر (ډال) څخه مطلب دادئ چي لکه څرنګه چي انسان په ډال سره د ځان حفاظت کوي په دغه ډول روژاتي هم په روژه سره د خپل ځان حفاظت د دښمن څخه يعني د شيطان څخه کوي په يوه حديث کي راغلي دي چي روژه د الله جل جلاله د عذاب څخ حفاظت دئ. په

---

(١) رواه ابن ماجة واللفظ له والنسائي وابن خزيمة في صحيحه والحاكم وقال صحيح على شرط البخاري ذكر لفظهما المنذري في الترغيب بمعناه

(٢) رواه النسائي باسنادحسن وابن ماجة وابن خزيمة والحاكم وصححه على شرط البخاري والفاظهم مختلفة حكاها المنذري في الترغيب

بل روایت کې راغلي دي چې روژه د دوزخ څخه حفاظت دئ.

په یو حدیث کې راغلي دي چې د رسول اللهﷺ څخه چا پوښتنه وکړه چې روژه په څشي شکېږي ؟ رسول اللهﷺ وفرمایل : په دروا غو او په غیبت شکیږي. د دې دوو روایتو تر څنګ په نورو زیاتو روایتو کې هم راغلي دي چې د دغسي کارو څخه ځان ساتل ضروري دئ.

ګویا د روژې ضائع کېدل ورته ویل سوي دي. زموږ په زمانه کې د روژې لنډول دیوه او بل خبري شروع کول مشغله ګرځول سوې ده. د ځینو علماو په آند په دروا غو او غیبت سره روژه ماتیږي یعني لکه څرنګه چې په خوړلو او چیښلو سره روژه ماتیږي په دغه ډول په دروا غو او غیبت سره هم روژه ماتیږي.

ځینو علماوو بیا ویلي دي چې روژه نه په ماتیږي خو د روژې برکتونه د ټولو په اتفاق سره له منځه په ځي .عالمانو د روژاتي لپاره شپږ ادبونه لیکلي دي چې د روژاتي لپاره یې اهتمام ضروري دئ.

لومړي: دا چې د نظر حفاظت به کوي چې بې ځایه یې نظر ونه لګیږي آن تر دې چې خپلي بي بي ته به هم د شهوت په سترګه نه ګوري پردی ښځه خو لا څه کوي . همدا ډول د بې ګټو شیانو وکولو او ناجائزه لوبو ته به نه ګوري. رسول اللهﷺ فرمایي چې نظر د شیطان د غشو څخه یو غشی دئ څوک د اللهﷻ د ویري له وجهي ځان ځني وساتي اللهﷻ به داسي ایمان ورنصیب کړي چې خوند به یې په زړه کي محسوسوي صوفیانو بې ځایه کتل داسي تعریف کړي دي چې هر کار چې زړه د اللهﷻ د لوري څخه بل لوري ته مشغولوي .

دوهم : دژبي حفاظت دئ درواغ ویل ، چغلي کول، بې ځایه مناقشه کول ، غیبت ، بده وینا او داسي نور ټوله په دې کي داخل دي چې ژبه به سړي ځني ساتي.

د بخاري شریف په یو روایت کې دي چې روژه د روژاتي لپاره ډال دئ په همدې وجه روژاتي لره پکار ده چې ژبه د هرډول غلطۍ څخه وساتي لکه په چا پوري ټوکي کول ، درواغ ویل ، مسخري کول او داسي نور که څوک جګړه ورسره کوي دئ به ورتهووايي چې زما روژه ده که هغه د پوهي ښتن و او که نا پوه و نو په زړه کي دي ووايي چې ته خو روژاتي يي دداسي بې عقل جواب ستا لپاره مناسب نه دئ. د ښکنځلو ، غیبت او دروا غو څخه دي بیخي ځان وساتي ځکه د ځینو علماوو په آند بیخي روژه په ماتیږي لکه مخکي چې تیره سوه.

د رسول اللهﷺ په زمانه کي دوو ښځو روژه نیول داسي لوږه ورته پېښه سوه چې بیخي یې نه سوای زغملای آخر مرګ ته نژدې سوې اصحابو رضي الله عنهم د رسول اللهﷺ څخه پوښتنه وکړه

رسول اللهﷺ دوئ ته یوه پیاله ولیږدول او ورته وې ویل چې په دې کې دې قي ووهي . اصحابو رضي الله عنهم چې پیاله راوړه دوی قی پکښې وواهه دوی په قی کې د غوښو کوچنی کوچنی ټوټې وې او تازه خوړل سوي ویني وې خلګ ورته حیران سوه رسول اللهﷺ ورته وفرمایل چې دوی په حلاله روزي روژه ونیول خو په حرام شي یې مات کړه یعني غیبت یې وکړی . ددې حدیث څخه یوه بله خبره هم معلومیږي هغه دا چې د غیبت کولو سره روژه ډیره اوږده معلومیږي ځکه پر هغه ښځو باندي دومره اوږده سوه چې د لوږې څخه مرګ ته نژدې سوې هم دا ډول د نورو ګناهونو حال هم داسي دئ . تجربه هم ددې خبرې تاکید کوي ځکه روژه پر نیکو خلګو باندي هیڅ اثر نه کوي او پر بدو خلګو باندي ډیره سخته وي له همدې وجهي که څوک غواړي چې روژه ځانته اسانه کړي نو د ګناهونو څخه دي ځان خلاص کړي په ځانګړي ډول دغیبت څخه ځکه الله ﷻ غیبت په خپل کلام د خپل مسلمان ورور د غوښو خوړلو سره برابر کړی دئ او حال دا چې خلګ اوس روژه پرې لنډوي په حدیثو کي هم داسي ډیري واقعاتي راغلي دي چې څوک د چا غیبت کوي په حقیقت کي د هغه غوښې خوري رسول اللهﷺ یو ورځ یو څو کسانو ته وویل چې په غاښونو کي غاښ ټومبي ووهئ هغو ورته وویل چې موږ خو نن بیخي د غوښو څکه هم نه ده کړې رسول اللهﷺ ورته وویل چې تاسو د فلاني سړي غوښې خوړلي دي . معلومه سوه چې دوئ د هغه سړي غیبت کړي و ، الله ﷻ دي زموږ ساتنه وکړي زموږ خلګ ددې څخه ډېر غافله دي. عام خلګ لا څه کوي خاص خلګ هم په اخته دي شتمن او دنیا خو ښه خلګ خو پرېږده ددینداره خلګو هم کم مجلسونه د غیبت څخه خالي وي . لږ یه خبره داده چې غیبت نه ورته وایي که په زړه کي څه وېره ورته پیداسي نو د حقیقت څرګندتیا ورته وایي (او یا زموږ دافغانستان په جنوب لوېدیځه حوضه کي چې داشی دود دئ هغه دا چې کله غیبت کوي نو وایي چې غیبت یې نه کوم سریې وایم او یا وایي دا زه داسي خبري کوم که مخامخ سم هم دا خبري ورته کوم . دشیخ صاحب مطلوب دادئ چې داهسي بهانې دي په دې خبرو څوک نه خلاصیږي). د رسول اللهﷺ څخه یو چا پوښتنه وکړه چې غیبت څشي دئ؟ رسول اللهﷺ ورته وویل په یو چا پسي د شا لخوا داسي خبره کول چې هغه یې بده ګڼي هغه سړی ورته وویل که په هغه سړي کي دا خبره موجوده وه (هم غیبت دئ؟) رسول اللهﷺ ورته وویل : هو ، ځکه که پکښې موجوده نه وي نو بیا خو بهتان ورته ویل کیږي .

یو ځلي نبيﷺ پر دوو قبرونو تیریدی نو وې فرمایل چې دغه دوو کسانو ته عذاب ورکول کیږي یوه ته د غیبت له وجهي او بل ته د بولو څخه د ځان نه ساتلو له وجهي. رسول

اللهﷻ فرمايلي دي چي د سود تر اويا ډيري درجې دي تر ټولو کمه درجه يې د مور سره زنا کول دي او د سود يو درهم تر پنځه ديرشو زناوو بدتر دئ.او تر ټولو بد او سخت سود د مسلمان بې عزتي کول دي په حديثونو کي د غيبت او د مسلمان د بې عزتۍ لپاره ډيري سختي سزاوي راغلي دي زما زړه غوښتل چي ښه ډير حديثونه رانقل کړم ځکه زموږ ډير مجلسونه په دغه کار اخته دي خو ځرنګه چي موضوع جلا ده نو ځکه په دغه اندازه بسنه کوم اللهﷻ دي موږ په خپل فضل سره ددې بلاوو څخه وساتي په ځانګړي ډول دي اللهﷻ پر ما ګنهګار بنده باندي رحم وکړي چي په ډيرو باطني مرضو باندي اخته يم. شعر

کبر و نخوت جہل و غفلت حقد و کینہ و بد ظنی   کذب و بد عہدی ریا و بغض و غیبت دشمنی

کون بیماری ہی یارب جو نہیں مجہ میں ہوئی   عافنی من کل داء واقض عنی حاجتی

ان لی قلبا سقیما انت شاف للعليل

ژباړه : کبر ، لويي ، ناپوهي ، غفلت ، حسد ، کينه ، بدګماني ، درواغ ، وعده خلافي، ريا بغض ، غيبت ، دښمني کوم مرض دي چي په ما کي نسته د هر مرض څخه صحت راکړي او زما حاجت پوره کړي زما زړه ناروغه دئ ته د ناروغيو شفا ورکونکي يې.

دريم شی چي د روژاتي لپاره ضروري دئ د غوږونو حفاظت دئ د هر مکروه شي څخه او د هغه شي څخه چي ويل او د ژبي څخه يې ايستل نا جائز وي. رسول اللهﷺ فرمايي : غيبت کونکي او اوريدونکي په ګناه کي سره شريکان دي.

څلورم : د پاته غړو حفاظت د ناروا شيانو څخه لکه لاس او پښه د ناروا شيانو څخه ساتل همدا ډول پاته نور غړي هم د ناروا شيانو څخه ساتل او خپل نس د شکمن شيانو څخه ساتل . څوک چي روژه نيسي بيا يې په حرامو شيانو ماتوي داسي مثال لري لکه ناروغ چي د ناروغۍ دوا وخوري خو په دوا باندي لږ زهر ګډ کړي نو دوا که يې جوړ کړي خو زهر يې د هلاکيدو تر بريده رسوي

پنځم : روژاتي لره پکار ده چي د حلال شيانو څخه هم دومره ونه خوري چي نس يې په ډک سي ځکه چي د روژې مقصد لمنځه ځي . د روژې څخه مقصد د شهوت او حيوانيت د قوت کمول دي نوراني او د ملائکو د صفت زياتول دي . دا يوولس مياشتي چي مو پوره خوراک وکړی که دا يوه مياشت کم خوراک وکړو څه به وسي ولي زموږ د خلکو دا حالت دئ چي د روژې په مياشت کي د روژه مات په وخت کي زيات خوراک کوي چي د ورځي د لوږي کمي پوره کړي او په پيشلني زيات خوراک کوي چي د راتلونکي لوږي مخه ونيسي داسي

خوراک کوي چې په نورو میاشتو کې یې نه کوي رمضان خو زموږ لپاره د ګیاه کار راکوي.علامه غزالي رحمة الله علیه فرمایي : کله به په داسي روژه باندي د روژې مقصد یعني د نفس ماتوالي او د شیطان خوابدتیا لاسته راسي چې په روژه مات دومره خوراک کوي چې د ورځې کسر پکښې وباسي . موږ نو په روژه کي نور هیڅ نه دي کړي یوازي داکوو چې د خوراک وختو نه مو وربدل کړه . او بل لا دا چې په نورو میاشتو کي داسي ډول ډول خوراکونه نه پیدا کېږي لکه په روژه کي چې پیدا کېږي یو ښه شی چې وي خلګ یې د روژې میاشتې ته ساتي . د ورځې د لوږې څخه وروسته ماښام پر خوراکونو ورپریوزي ددې پر ځای چې شهوت یې کمزوري سي نور هم زورور سي یعني د مقصد خلاف کار وسي. د روژې ډول، ډول ګټې دي او په فرض کېدو کي یې ډېر مطلبونه دي خو دا هغه وخت کېدای سي چې لږ تر لږه یو څه لوږه پر ځان تېره کړي . لویه ګټه یې داده چې د شهوتونو کمزوري راسي د شهوت کمزوري د خوراک په کموالي کي کېدای سي.

رسول الله ﷺ فرمایي : شیطان د انسان په رګو کي د ویني په څېر ګرځي تاسو دده ګرځېدل په لوږه سره بند کړی . ټول اندامونه هغه وخت مړېږي چې نفس وږي سي (نه بیا شهوت غواړي نه لویي غواړي او نه بل شی غواړي) کله چې نفس موړ سي ټول اندامونه وږي سي یعني دا چې دټولو غړو موړوالی اولوږه په نفس کي حصر ده . د روژې دوهم مقصد د مسکینانو سره مشابهت دئ او ددوی په حال باندي ځان خبرول دي داهم هغه وخت کېدای سي چې سړی په پیشلمي دومره خوراک ونه کړي چې تر ماښامه وږي نه سي د مسکینانو په حال هغه وخت خبرېدای سي چې یو څه لوږه پر ځان تېره کړي .

بشرحافي رحمة الله علیه یو سړي ته ورغلی هغه سړي د یخ څخه رپېدی ، او جامې هم ورته پرتې وي ده پوښتنه ځني وکړه چې ولي جامې نه اغوندې هغه سړی ورته وویل چې مسکینان ډېر دي د هغوی سره مرسته کول زما په توان کي نسته دومره مرسته کولای سم چې زه هم ددوی په څېر ځان کړم ، مشائخو ، صوفیانو او د فقهي علماوو په ښکاره ویلي دي چې په روژه کي به خوراک کموئ . د مراقي الفلاح مؤلف لیکي : په پیشلمي کي باید کم خوراک وسي ډېر خوراک به نه کوي لکه چې د شتمنو خلګو داسي عادت دئ ځکه د روژې مقصد لمنځه ځي. طحاوي رحمة الله علیه د پورتني خبري په شرحه کي لیکي چې د روژې مقصد دادئ چې لوږه پر ځان تېره کړي لوږه به محسوس کړي او د مسکینانو پر حال باندي یې رحم راسي نبي ﷺ فرمایي: الله ﷻ ته د هیڅ داسي لوښي ډکېدل ناخوښه نه دي لکه د نس مړېدل . رسول الله ﷺ فرمایي: د انسان لپاره یو څو ګولې خوراک بسنه کوي چې محض ملا یې په سیده سي او که د خوراک

څخه لاس نه اړوي نو د نس يوه دريمه دې په خوراک ډکه کړي، يوه دريمه دې د چينبلو لپاره کړي او يوه دريمه دې خالي پرېږدي په هر صورت يو څه خو خامخا سته چي نبيﷺ به څو ورځي پر لپسې روژې نيولې په منځ کي به يې هيڅ خوراک نه کاوه ما خپل شيخ استاد حضرت مولانا خليل احمد (نورالله مرقده) د روژې په مياشت کي ليدلي دئ چي په روژه مات او پيشلمي دواړو به يې يوه نيمه کوچنۍ او نازکه ډوډۍ خوړله نو، شى به يې نه خوړی خادمانو چي به چا عرض ورته وکړی ده به ورته وويل چي وږي نه يم خو د ملگرو په وجه کښېنم.

د مولانا شاه عبدالرحيم رائپوريؒ په اړه مي ډير اورېدلي دي چي څو ورځي به داسي و چي په روژه کي به يې د پيشلمي او روژمات دواړو خوراک يو څو پيالې د شيدو چاى وي. يو ځلي دده مبارک خاص خادم مولانا شاه عبدالقادرؒ په ډيره عاجزي سره ورته وويل چي يو څه خوراک خو کوه بيخي به کمزوری سې ده مبارک ورته وويل : الحمد لله د جنت خوند راته حاصلېږي . که اللهﷻ د داسي مبارکو هستو تابعداري را نصيب کړي دا به زموږ لويه نيکبختي وي مولانا سعديؒ وايي:

نه دارد تن پروران آگهى — که پر معده باشد ز حکمت تهى

يعني نس ور کسان په دې ناخبره دي چي ډکه معده د حکمت څخه خالي وي .

شپږم شى چي د روژاتي لپاره ضروري دئ هغه دا دئ چي روژاتي به د روژې وروسته په دې فکر کي وي چي دا روژه به د قبليدو وي که يا . هم دا ډول د هر عبادت وروسته فکر پکار دئ چي داسي نه چي په دې عبادت کي په بې فکرۍ سره يو داسي کار را څخه سوی وي چي له امله يې په دې عبادت سره پر مخ وويشتل سم . رسول اللهﷺ فرمايي : ډير ځلي به يو څوک قرآن وايي قرآن کريم به پرده باندي لعنت وايي رسولﷺ فرمايي: اول سړی چي د قيامت په ورځ به حساب ورسره کېږي شهيد دئ دی به راوبلل سي لومړی به د اللهﷻ نعمتونه چي په دنيا کي ده ته ورکړل سوي دي ورپه ياد سي بيا به ورته وويل سي چي تا ددې نعمتو د شکريې لپاره څه کړي دي؟ دی به ورته ووايي چي د اللهﷻ په لاره کي وجنگېدم تر داسي اندازې چي شهيد سوم . دروغ به وسي چي دروغ وايي تا ددې لپاره جهاد کاوه چي تا ته بهادر وويل سي بيا به امر وسي چي پړي مخ يې په دوزخ کي ورغوځوی .

ملائکي به يې په دوزخ کي وغورځوي . په دغه ډول به بيا يو عالم راوبلل سي لومړی به نعمتونه ورياد کړل سي، بيا به يو ښتنه ځني وسي چي تا ددې نعمتو په بدله کي څه کړي دي ؟

دی به ورته ووایي چي علم مي زده کړی و نورو ته مي ښودلی و او د الله ﷻ د رضا لپاره مي تلاوت کړی و. دروغ به وسي چي درواغ وایي دا خو یې ددې لپاره کړی و چي تاته ښه عالم وویل سي دده په اړه به هم امر وسي چي پړي مخ یې په دوزخ کي وغورځوئ بیا به یو شتمن سړی راوستل سي لوړی به د الله ﷻ ورکړل سوي نعمتونه وریاد کړل سي بیا به پوښتنه ځني وسي چي تا د الله ﷻ د دغه درکړل سوو نعمتو په بدله کي څه کړي دي دی به ورته ووایي چي هیڅ د خیر لاره مي نه ده پرې ایښي چي په هغه کي مي پیسي نه وي خرڅي کړي ده ته به هم وویل سي چي درواغ دي وویل تا خو ددې لپاره پیسې مصرفولې چي تاته سخي وویل سي نو دده په اړه به هم امر وسي په دوزخ کي یې پړي مخ وغورځوئ. الله ﷻ دي موږ ځني وساتي دا ټوله د بدو نیتونو نتیجې دي ددې ډول څخه ډیري واقعاتي راغلي دي له همدې وجهي څخه روژاتي لره ویره پکار ده او دعا په کار ده چي الله ﷻ دي یې د خپلي رضا سبب وګرځوي. خو یوه خبره د یادوني وړ ده هغه دا چي خپل عمل د قبلیدو وړ نه بلل جلا خبره ده او د الله ﷻ د مهرباني نظر جلا شی دی. د الله ﷻ د مهربانۍ طریقه خو بیخي عجیبه ده کله داسي وي چي پر ګناه هم ثواب ورکوي نو په نیک عمل کي کوتاهي لا څه کوي.

خوبی همین کرشمه و ناز و خرام نیست   بسیار شیوه ‌هاست بتان را که نام نیست

ژباړه: د محبوب ښیګڼه یوائي کرشمه، ناز او غوره اندامونه نه دي بلکي ډیر داسي صفتونه پکښې سته چي په ویلو کي هغو ته نومونه نسته.

دا شپږ شیان د عامو خلګو لپاره ضروري ښودل سوي دي خو د خاصو خلګو (یعني و الله ﷻ ته د نژدې) خلګو لپاره اوم شی هم ښودل سوی دی هغه دا چي د الله ﷻ پرته به زړه بل هیڅ لوري ته نه متوجه کوي آن تر دې چي داسي فکر ته هم خطا ویل کیږي چي دا فکر وکړي چي د روژمات لپاره یو شی سته که یا. ځینو علماوو لیکلي دي چي دا فکر کول چي د روژمات لپاره به یو شی وي که یا دا غلطیا ده ځکه دا د الله ﷻ د رزق په وعدې باندي د یقین کموالی دئ.

په شرح احیا کي د ځینو بزرګانو قصه لیکل سوي ده چي هغوئ ته چي به د روژمات مخکي یو شی راغلی بل چا ته به یې ورکاوه هسي نه چي زړه مو بل لوري ته متوجه سي او په توکل کي مو کمی راسي خو دا کار د لویو خلګو دئ زموږ د خلګو ددې کار لپاره حرص کول بې ځایه دي او ددوئ و حالت ته د رسیدو وړاندي داسي کار کول په هلاکت کي ځان اچول دي. مفسرین لیکي چي په: کتب علیکم الصیام کي دانسان پر هر غړي باندي روژه فرض

سوې ده . د ژبي روژه داده چي د ناروا ويلو څخه ژبه بنده کړي ، د غوږو روژه داده چي ناروا شيان نه په اوري او د سترګو روژه داده چي بې ګټي او ناروا شيان په ونه ويني . د پاته غړو روژه هم په ورته ډول ده چي په پايله کي به يې نفس د شهوتونو څخه وساتل سي. د زړه روژه داده چي زړه د دنيا د محبت څخه وساتي او د روح روژه داده چي د آخرت د خوندونو څخه ځان وساتي او د خاصو خلګو روژه داده چي د الله ﷻ پرته د نورو خلګو څخه ځان وساتي .

ټول عمر روژه نيول هم دقضا سوي روژې ځای نه سي نيولای

۱۰ : عن ابي هريرة رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ قال من افطر يوما من رمضان من غير رخصة ولا مرض لم يقضه صوم الدهر كله وان صامه (۳)

ژباړه : رسول الله ﷺ فرمايي : كه چا د عذر او ناروغۍ پرته روژه وخوړل كه ټول عمر روژه ونيسي د هغې روژې (ثواب) ته نه سي رسېدلای .

فايده : د پورتني حديث پر بنسټ د ځينو علماوو مذهب دادی چي په دوئ کي حضرت علي رضي الله عنه هم دی : چي څوک د عذر پرته روژه وخوري قضايي بيخي نه لري كه څه هم ټول عمر روژه ونيسي خو عام علماء په دې آند دي چي كه څوک بيخي روژه ونه نيسي نو قضايي پر يوه روژه باندي يوه روژه ده او كه يې نيت كړي روژه ماته كړه نو يوه روژه قضاده او دوې مياشتي پر لپسې روژه نيول يې كفاره ده . په دغه كفاره سره يې غاړې خلاصيږي خو د روژې چي كوم فضيلت او بركت دئ هغه لمنځه ځي او د پورتني حديث څخه هم معلوميږي چي د روژې چي كوم بركت دئ هغه يې دلاسه وزي خو دا ټوله هغه وخت دي چي قضا يې بيرته راوړي او كه بيخي روژه ونه نيسي لكه په اوس وخت كي چي ځيني فاسقان داسي كوي ددې خو بيخي پوښتنه مه كوه ځكه روژه د اسلام يو ركن دی . رسول الله ﷺ د اسلام بنسټ پنځه شيان ښودلي دي تر ټولو لومړی د توحيد او رسالت اقرار دی وروسې څلور بناوي دي چي د لمانځه ، روژې ، حج او زكوه څخه عبارت دي . څومره انسانان دي چي په شمېرنه كي مسلمان شمېرل كيږي خو پدې پنځو بناوو كي يوه هم نه ادا كوي په دولتي كاغذانو كي مسلمان ليكل كيږي خو دا الله ﷻ په فهرست كي مسلمان نسي ورته ويل كېدای آن تر دې چي ابن عباس رضي الله عنه فرمايي:

---

(۳) رواه احمد والترمذي وابوداود وابن ماجة والدرامي والبخاري في ترجمة باب كذا في المشكوة قلت وبسط الكلام على طرقه العيني في شرح البخاري

اسلام پر درو شیانو باندي ولاړ دی چي د شهادت د کلمې، لمانځه او روژې څخه عبارت دي که چا یو ددې څخه یو پرېښودی کافر دی مرګ یې روا دی که څه هم عالمانو داسي روایتونه په انکار سره مقید کړی دي او یا یې په بل ډول سره تاویل کړي دي خو په هر صورت د رسول الله ﷺ ارشاد دداسي کسانو په اړه ډېر سخت دی. په فرض کي د کوتاهي کونکو په اړه چي د الله ﷻ قهر او غضب دی ویره ځني کول ضروري ده. ددنیا ژوند ډېر ژر پاتیږي او د مرګ څخه د هیڅا خلاصون نسته. یوازي د سړي په ګټه د الله ﷻ اطاعت دی. ډېر نا پوهه کسان روژه نه نیسي. ځیني بې دینه خلګ خو داسي بې کاره الفاظ تر خولې راباسي چي کفر ته په رسیږي د مثال په ډول وایي چي روژه به هغه څوک نیسي چي په کور کي د خوراک شی نه لري. یا وایي چي د لوږي له امله زموږ په وژنه د الله ﷻ څه کیږي او داسي نور خو دداسي الفاظو څخه ځان ساتل بیخي ضروري دی. یوه مسئله د یادوني وړ ده هغه دا چي په یوه کوچني خبره باندي پسخند وهل کفر دی که څوک ټول عمر لمونځ ونه کړي روژه ونه نیسي او هیڅ یو نیک کار ونه کړي مګر ځیني منکر نه وي او کلمه وایي کافر نه دی او که ددین په یوه کوچني خبره یې پسخند ووا‌هه کافر دی ټول نیک عملونه یې ضائع کیږي ددې خبري زیات فکر ساتل په کار دی چي د روژې په اړه داسي خبري هیڅکله تر خولې ونه باسي. او که څوک په روژه پوري ټوکي نه کوي مګر د عذر پرته یې نه نیسي فاسق دی. د فقهي علمآوو په ښکاره ویلي دي چي څوک بېله عذره روژه خوري فاسق دی باید قتل سي. او که د قتل توان نه وي یعني دا چي اسلامي حکومت نسته امیر المؤمنین نسته نو باید لږ تر لږ دداسي کس ددې نا پاکه حرکت څخه په زړه کي بد یوسي چي د ایمان هغه کمزوري درجه مو ساتلي وي. الله ﷻ دي موږ او تاسو ته د نیکو عملونو توفیق راکړي چي زه خپله ډېر کوتاهي کونکی یم. د لومړي فصل لپاره په لس حدیثو نو سره بسنه کوم ځکه د منونکي لپاره یو حدیث هم کفایت کوي او که (تلک عشرة کاملة - یعني پوره لس حدیثونه) وي خو بیخي بس دي او څوک چي یې نه مني هغه ته نو که هر څومره حدیثونه بیان کړي اثر نه پرې کوي الله ﷻ دي ټولو مسلمانانو ته د عمل توفیق ورنصیب کړي.

دوهم فصل

دقدر د شپې بیان

د روژې په میاشت کې یوه شپه ده چې ته د قدر شپه ویل کېږي چې ډېره د خیر او برکت شپه ده په قرآن کریم کې دا شپه تر زرو میاشتو غوره بلل سوې ده د زرو میاشتو څخه درواتیا کاله څلورمیاشتې جوړېږي هغه سړی ډېر نیکمرغه دی چې ددغه شپې عبادت ورنصیب سي. څوک چې په دغه شپه کې عبادت وکړي داسي ثواب لري ګویا تر درواتیا کلو او څلورو میاشتو زیات عبادت یې وکړی .زیات نو هم نه دی معلوم چې څومره به زیات وي دا په حقیقت کې د الله ﷻ لوی انعام دی چې د قدر شپې عبادت کونکو ته یې ورکړی دی په درمنثور کې یو حدیث راغلی دی چې انس ﷺ د رسول الله ﷺ څخه رانقل کړی دی هغه دا چې رسول الله ﷺ فرمایي : الله ﷻ زما امت ته شب قدر ورکړی دی نورو امتو ته یې نه دی ورکړی. دا چې دې امت ته دغه شپه ورکړل سوې ده سبب به یې څشي وي؟ په دې اړه مختلف روایتونه راغلي دي یو دادی چې د نورو امتونو عمرونه ډېر وه او د نبي ﷺ د امت عمر لږ وو او ددې امت د نیکو عملونو اندازه د هغو سره برابرول ممکن نه وه نو د نبي ﷺ سره غم پیدا سو الله ﷻ و خپل نازولي پیغمبر ته دغه شپه ورکړه چې د امت د نیکو عملونو اندازه یې د نورو امتونو سره برابره سي. هغه سړی به ډېر نیکمرغه وي چې په دغه شپه عبادت وکړي که څوک لس شپې د قدر عبادت وکړي نو عبادت یې تر اتو سوو درو دیرشو او څلورو میاشتو زیاتیږي . په یوه روایت کې راغلي دي چې نبي ﷺ د بني اسرائیلو دیوه سړي بیان وکړی چې زر میاشتې پرلپسې یې دالله ﷻ په لاره کې جهاد کړی و اصحاب کرام رضي الله عنهم ډېر غمجن سوه چې داسي کارونه خو موږ بیخي نسو کولای نو الله ﷻ دغه شپه نازله کړه . په بل روایت کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ د بني اسرائیلو د څلورو مبارکو انسانانو یعني زکریا عليه السلام ، ایوب عليه السلام ، حزقیل عليه السلام ، او یوشع عليه السلام بیان وکړی چې تر اتیاوو کالو پوري مسلسل یې دالله ﷻ عبادت کاوه او د سترګو یو رپ نافرماني یې د الله ﷻ څخه نه کول اصحاب کرام رضي الله عنهم په دې سره حیران سوه دستي جبرآئیل عليه السلام د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو او سورة قدر یې نازل کړی . ددغه روایتونو د اختلاف وجه ده چې کله یو شی دډېرو واقعاتو وروسته پېښ

سي نو هري واقعې ته يې نسبت کېږي خو په هر صورت دغه شپه د اللهﷻ د لوري څخه و محمدي امت ته يو لوی انعام دی. او دا د اللهﷻ ورکړه ده او په دغه شپه کي عبادت هم دااللهﷻ په توفيق سره کېدای سي که نه نو ......

تهیدستان قسمت راچہ سوداز رہبر کامل   کہ خضر از آب حیوان تشنہ می آرد سکندر را

ژباړه: د کم نصيبو لپاره د کامل رهبر څه ګټه ده چي خضر عليه السلام سکندر تر آب حيات تږي تېر کړی

څومره د غبطې خبره ده چي بزرګان فرمايي چي زموږ څخه تر بلوغ وروسته شب قدر نه دی تېر سوی . البته ددغه شپې په تعين کي د علماو تر منځ اختلاف دی نژدې پنځه سوه ويناوي پکښي سوي دي د ټولو يو ځاي کول خو ګران کار دی مګر هغه مشهوري ويناوي يې رانقلوم :

دحديثو په کتابو کي ددغه شپې فضيلتونه په ډول ، ډول او په زياتو حديثونو کي راغلي دي خو لکه څرنګه چي ددغې شپې فضيلت په قرآن کي راغلی دی يو مستقل سورة ددغه شپې په اړه نازل سوی دی نو مناسبه ده چي اول ددغه څخه پيل وکړو او تفسير به يې وليکو چي د حکيم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله د تفسير بيان القرآن څخه رااخيستل سوی دی :

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿١﴾ إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةِ ٱلۡقَدۡرِ ﴿١﴾

ژباړه : شروع کوم په نامه د اللهﷻ چي ډير مهربانه او پوره بخښونکی دی بېشکه موږ قرآن د قدر په شپه کي نازل کړی دئ .

فايده : يعني قران کريم د لوح محفوظ څخه ددنيا و اسمان ته د قدر په شپه کي نازل سوی دی ددغه شپې لپاره دومره فضيلت بس و چي دومره لوی د عظمت شی په دغه شپه کي نازل سوی دی او لا دا چي په دې شپه کي نور فضيلتونه هم شامل دي ورپسې د تشويق په موخه اللهﷻ فرمايي :وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ ﴿٢﴾

ژباړه : تاته څه معلومه ده چي د قدر شپه څومره لوی شی ده او څومره فضيلتونه پکښي سته ددې وروسته اللهﷻ ددغه شپې څو فضيلتونه بيانوي : لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ خَيۡرٞ مِّنۡ أَلۡفِ شَهۡرٖ ﴿٣﴾

ژباړه : د قدر شپه تر زرو مياشتو بهتره ده يعني ددې شپې عبادت تر زرو مياشتو تر عبادت زيات دی دا هم نه ده معلومه چي زياتوالی به څومره وي. تَنَزَّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ په دغه شپه

کي ملائکي راکښته کېږي . علامه رازي رحمة الله علیه لیکي : ته چي ملائکو اول ځل ولیدي ستا ځخه یې کرکه کول او ستا ځخه یې الله جل جلاله ته شکایت کاوه چي دا به داسي مخلوق وي چي په مځکه کي به فساد کوي ویني به تویوي . همدا ډول ستا مور او پلار چي اول ځل ته دمنیو ځاځکي وي ستا ځخه یې کرکه کول آن تر دې چي د کالو سره به وموښتي کالې به یې پرېولل کله چي په تا باندي الله جل جلاله ښایسته شکل واغوستی نو مور او پلار ستا سره محبت شروع کړی او ملائکي د عذر غوښتلو په موخه راکښته کېږي .وَٱلرُّوحُ فِيهَا ژباړه : او روح القدوس یعني جبرائیل علیه السلام هم په دې شپه راکښته کېږي د روح په معنی کي د مفسرینو څو قوله دي لومړی قول د جمهورو علماوو دی چي پو رتنۍ وینا کوي یعني دا چي د روح ځخه جبرائیل علیه السلام مراد دئ. علامه رازي رحمة الله علیه فرمایي : چي هم دغه قول زیات غوره دئ. جبرائیل علیه السلام یې د فضیلت له وجهي په خصوصي ډول تر ملائکو وروسته ذکر کړی.

دوهم قول دادی چي د روح ځخه یو لویه ملائکه مراد ده چي ټول اسمانونه او مځکي د دې په پرتله لکه یوه ګوله داسي دي . دریم قول دادی چي د روح ځخه مراد یوه خاصه ډله ملائکي دي چي نوري ملائکي هم یوازي د قدر په شپه ویني . څلورم قول دادی چي د روح ځخه یو خاص مخلوق مراد دی چي نه خوراک کوي او نه چیښاک کوي او نه انسانان دي او نه ملائکي دي . پنځم قول دادی چي ددې ځخه عیسی علیه السلام مراد دی چي د محمد صلی الله علیه وسلم د امت د کار نامو د لیدلو لپاره د ملائکو سره راکښته کېږي. شپږم قول دادی چي ددې مراد دالله جل جلاله یو خاص رحمت دی چي د ملائکو سره نازلیږي . ددې ځخه علاوه نور قولونه هم سته خو مشهور قول یې اول قول دی . سنن بیهقي د انس رضي الله عنه په روایت د رسول الله صلی الله علیه وسلم ځخه ارشاد رانقلوي چي فرمایي : د قدر په شپه جبرائیل علیه السلام د یوې ډلي ملائکو سره یو ځای و مځکي ته راکښته کېږي او څوک چي په ذکر اخته وي د هغه لپاره د رحمت دعا کوي.

بِإِذۡنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمۡرٍ ﴿٤﴾ . ژباړه : د خپل خدای جل جلاله په اجازه هر د خیر امر رااخلي او د مځکي و لوري ته راکښته کېږي . مظاهرالحق لیکي : په دغه شپه ملائکي پیدا سوي دي ، په دغه شپه د بني آدم ماده جمعه کېدل شروع سوې ده او په دغه شپه د جنت درختي ایښودل سوي دي او ددعا قبلیدل خو په دغه شپه په ډېرو روایتو کي راغلي دي.ددرمنثور په یو روایت کي راغلي دي چي په دغه شپه عیسی علیه السلام و اسمان ته پورته سو او په دغه شپه د بني اسرائیلو توبه قبوله سوه.

سَلَٰمٌ . ژباړه : دغه شپه سراسر سلام دئ يعني ټوله شپه د ملائکو دلوري پر مؤمنانو باندي سلام ويل کېږي يوه ډله ځي بله ډله راځي لکه د ډيرو روايتو څخه چي څرګنديږي يا مراد دا چي دا شپه سراسر سلامتيا ده د هر شر او فساد څخه امن دی . هِيَ حَتَّىٰ مَطْلَعِ ٱلْفَجْرِ ۝ ژباړه: دغه شپه به (دبرکتونو سره وي) د سهار تر ختو پوري . داسي نه ده چي ددې شپې يوه برخه د برکت ده او نوره نونه ده بلکي دا ټوله شپه د برکتونو څخه ډکه ده د سهار تر ختو پوري .

په پورتني سورة کي الله ﷻ ددې شپې ډير فضائل بيان کړي دي د حديثو د بيان اړتيا نسته خو بيا هم ددې شپې په فضائلو کي ډير حديثونه راغلي دي نو ځکه يو څو حديثونه رانقلوم.

که چا دقدر په شپه کي عبادت وکړی ټول ګناهونه به يې وبخښل سي

۱ : عن ابي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ من قام ليلة القدر ايمانا واحتسابا غفر له ماتقدم من ذنبه (۴)

ژباړه: رسول الله ﷺ فرمايي څوک چي د قدر په شپه د ايمان سره د ثواب په نيت عبادت وکړي الله ﷻ به مخکني ټول ګناهونه وروبخښي.

فايده : په دغه شپه کي د درېدو څخه مطلب دادی چي پر لمانځه باندي ودريږي او دا هم پکښي داخل دی چي په يو بل عبادت لکه ذکر ، تلاوت او داسي نورو سره مشغول سي. د ثواب لاسته راوړلو څخه مطلب دادی چي ريا او يا بله بدنيتي نه وي پکښي بلکي يوازي د الله ﷻ د رضا لپاره وي . خطابي رحمه الله فرمايي : چي ددې څخه مطلب دادی چي پر ثواب يې يقين وي او زړه يې خوشاله وي . تکليف يې ځانته نه بولي او نا خوالي نه وي پکښي دا ښکاره خبره چي د سړي پر ثواب باندي څومره يقين ټينګ وي په دغه اندازه په عبادت کي تکليف پورته کول اسانه وي .

همدا وجه ده چي څومره سړی و الله ﷻ ته نژدې کېږي په هغه اندازه په عبادت کي شوق ډيريږي . بله ضروري خبره داده چي په پورتني حديث او نورو حديثو کي چي د ګناه د بخښلو بيان سوی دی مراد ځني صغيره ګنا وي دي ځکه د کبيره ګناوو په اړه الله ﷻ په (الا من

---

(۴) کذا في الترغيب عن البخاري ومسلم

تاب)سره تعبير کړى دى يعني هغه وخت بخښل کېږي چې توبه وباسي بېله توبې کبيره ګناهونه نه بخښل کېږي علماو هم پر دې خبره اتفاق کړى دى چې کوم ګناهونه چې په دغه شپه کې بخښل کېږي صغيره ګناهونه دي . زما پلار رحمة الله عليه په حديثو کې پر ګناهو باندي د صغائرو قيد لګولى دى او ددې وجهي يې بيان کړي دي لومړى دا چې د مسلمان شان دادى چې کبيره ګناه به نه کوي او که څني وسي نو تر هغه وخته پوري دى نه په ارامېږي تر څو توبه ونه باسي دوهمه خبره داده چې که انسان ته داسي زمينه مسعيده سي چې د قدر په شپه کې عبادت کوي نو ګويا دده لپاره توبه ضروري ده چې پر خپلو عملو نو باندي پښېماتتيا وکړي او هم داسي کېږي له همدې وجي توبه په خپله پکښي راځي ځکه د توبې څخه مقصد دادى چې پر تيرو ګناهونو پښيمانتيا وکړي او د راتلونکي لپاره د نه کولو پخه اراده وکړي . له همدې وجهي څخه که د چا څخه کبيره ګناهونه سوي وي نو چې کله د قدر شپه ورته ورسيږي او يا د دعا د قبلېدو موقع په لاس ورسي نو د زړه د اخلاصه دي توبه په خوله وباسي او دراتلونکي لپاره دي د نه کولو ټينګه اراده وکړي چې د الله ﷻ کامل رحمت ورته متوجه سي . صغيره او کبيره ټول ګناهونه به وبخښل سي . که درپه ياد سوه نو ما ګنهګار هم د اخلاص څخه په ډکو دعاوو کې ياد کړى. (که فقير ژباړونکي هم ياد کړئ ډيره لويه مهرباني به مو وي)

په رمضان کې يوه شپه ده چې عبادت يې تر زرو مياشتو بهتر دى

۲ : عن انس رضي الله عنه قال دخل رمضان فقال رسول الله ﷺ ان هذا الشهر قد حضركم وفيه ليلة خير من الف شهر من حرمها فقد حرم الخير كله ولا يحرم خيرها الا محروم. (۵)

ژباړه: انس رضي الله عنه فرمايي چې يو ځلي د روژې مياشت راغله رسول الله ﷺ و فرمايل : پر تاسو باندي يوه داسي مياشت راغله چې يوه شپه پکښي ده چې تر زرو مياشتو بهتره ده څوک چې ددغه شپې څخه محروم سي ګويا د ټوله خيره څخه محروم سو . ددغه شپې څخه څوک نه محرومه کېږي مګر هغه څوک چې په حقيقت کې محروم وي .

فايده : ولي به داسي چاته محرومه نه ويل کېږي چې د اتيا کالو او څلورو مياشتو عبادت د لاسه ورکړي په يوه شپه باندي . دريل ګاډى د لين نوکرهوالان د څو پيسو په وجه ټوله شپه ويښ وي نو ددومره ستر عبادت لپاره چې سړى يوه شپه ويښ سي دا نو څه ګرانه

(۵) رواه ابن ماجة و اسناده حسن انشاءالله تعالى كذا في الترغيب وفي المشكوة عنه الا كل محروم

خبره ده . اصلي خبره داده چې په زړه کې عشق او درد نسته که یې ځوک لږ خوند ووینې نو بیا یو شپه څه کوې په سلګونو شپې به ویښ وي.

الفت میں برابر ہی وفا ہو کہ جفا ہو ہر چیز میں لذت ہی اگر دل میں مزا ہو

محبت کې وفا او جفا برابره ده هر شی خوندور دی چې په زړه کې خوندور وي

په هر صورت یو څه خو وه چې نبي ﷺ ددې دومره وعدو او زیرو سره سره بیا هم دومره اوږده اوږده لمونځونه کول چې آخر پښې به یې وپړسېدلې سره ددې چې پر وعدو پوره کېدو باندې یې پوره یقین و . کومو خلګو چې ددې شپې قدر وکړی و امت ته یې نمونه پرېښودل و هغه چا ته د خبرو موقع او دلیل نسو پاته چې وایي د نبي ﷺ په څیر نو طاقت څوک لري چې دومره عبادت وکړي په زړه کې د ځای ورکولو خبره ده د محبت کونکو لپاره په غره کې د شیدو ویاله کنبل هم ګران کار نه دئ خو دا خبره د عاجزۍ پر ته لاسته نه سي راتلای . شعر

تمنا درد دل کی ہی تو کر خدمت فقیروں کی نہیں ملتا یہ گوہر بادشاہوں کی خزینہ میں

ژباړه : که د زړه درد د فقیرانو د خدمت ارزو وکړه دا ګوهر په خزانه د پاچهانو کې نه سي پیدا کېدلای

آخر یو څه خو وه چې حضرت عمر ﷺ به ماخوستن کورته ولاړی تر سهاره پوري به یې شپه په لمانځه تیره کړه . حضرت عثمان ﷺ به ټوله ورځ روژه نیول او ټوله شپه به یې په لمانځه تیرول . یوازي د شپې په لومړۍ برخه کې به لږ وخت بیدیدی د لمانځه په یوه رکعت کې به یې ټوله قرآن کریم خلاصوی . په شرح احیا کې د ابو طالب مکي رحمة الله علیه په روایت نقل سوي دئ چې د څلویښتو تابعینو څخه په تواتر ثابته ده چه دوئ به د ماخوستن په اوداسه د سهار لمونځ کاوه. حضرت شداد رحمة الله علیه به ټوله شپه ستوني ستخ پروت و پر یوه او بل اړخ به اوښتی او دا به یې ویل چې اې الله جل جلاله ! ستا ددوزخ ذ ویري زما خوب وتښتیدئ . اسود بن یزید رحمة الله علیه به د ماښام او ماخوستن د لمانځه تر منځ لږ بیدیدی بس نورنه بیدیدی . دسعید بن المسیب رحمة الله علیه په اړه راغلي دي چې تر پنځوسو کالو پوري یې د ماخوستن په اوداسه دسهار لمونځ کړی دئ . صله بن اشیم رحمة الله علیه به ټوله شپه لمونځ کاوه سهار به یې دادعا کول چې اې الله جل جلاله ! زه خو ددې وړ نه یم چې جنت وغواړم یوازي دومره خواست درته کوم چې د اور څخه مې وساتې . حضرت قتادة رحمة الله علیه به دروژې په میاشت کې په درو ورځو کې یو قرآنکریم ختموی او چې د روژې آخري لس ورځي به سوې نو هره شپه به یې یو قرآن کریم ختموی . د امام ابو حنیفة رحمة الله علیه په اړه دا خبره دومره مشهوره ده چې څلویښت کاله یې د ماخوستن په

او داسه د سهار لمونځ دئ چې انکار ځني کول د تاريخ څخه بيخي باور پورته کوي . يو چا پوښتنه ځني وکړه چې دغه طاقت تاته څنګه حاصل سو ؟ ده په جواب کي ورته وويل چې ما د الله ﷻ د نومونو په وسيله يوه خاصه دعا کړې ده . دی مبارک به غرمه لږ وخت بيدېدی او دا به يې ويل چې د غرمې خوب په حديث سره ثابت دی نو ګويا دده دغه خوب هم د سنتو تابعداري کول وه . د قرآنکريم دلوستلو په وخت کي به يې دومره ژړل چې د همسايګانو به زړه باندي وسوځی يوه شپه يې ټوله شپه ددې آيات په ويلو سره په ژړا تېره کړه :

بَلِ ٱلسَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَٱلسَّاعَةُ أَدْهَىٰ وَأَمَرُّ ﴿٤٦﴾ (٦)

ابراهيم بن ادهم رحمة الله عليه به د روژې په مياشت کي نه د شپې بيدېدی او نه د ورځې . امام شافعي رحمة الله عليه به د روژې په مياشت کي په لمونځو کي شپېته ځله قرآن کريم ختموی . ددې څخه علاوه نوري په زرګونو داسي قصې راغلي دي . دوئ په لاندئ آيات کريمه عمل وکړئ چې فرمايي :

وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾ (٧)

دوئ وخلګو ته وښودل چې د کونکو لپاره هيڅ ګرانه نه ده . داهم د مشرانو بزرګانو قصې وي اوس هم داسي خلګ موجود دي که څه هم د هغو انداز عمل يې نوي کړی خو د اوسنۍ زمانې موافق د تير بزرګانو نموني سته . د رسول الله ﷺ ريښتيني اقتدا کونکي اوس هم سته چې نه يې ددنيا راحت منعه کولای سي او نه يې ددنيا کارونه منعه کولای سي . رسول الله ﷺ فرمايي چې الله ﷻ وخپل بنده ته داسي فرمايي : اې د آدم زويه ! ته زما د عبادت لپاره ځان خلاص کړه زه به ستا زړه د غنا څخه ډک کړم که نه نو ستا لاسونه به په کارو بار ډک کړم او مسکنت به دې په زړه کي وي يعني مسکنت به ور څخه بند نه وي . په اوسنۍ وخت کي هره ورځ د پورتني ريشتيني ارشاد د شاهدۍ واقعاتي پېښېږي .

---

(٦) سورة قمر الاية (۴۶)

(۷) سورة الذاريات الاية (۵۶)

د روژو نیونکو بدی به په نیکیو بدلي سي

۳ عن انس رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ اذا كان ليلة القدر نزل جبرائيل عليه السلام في كبكبة من الملائكة يصلون على كل عبد قائم او قاعد يذكر الله عز وجل فاذا كان يوم عيدهم يعني يوم فطرهم باهي بهم ملائكته فقال يا ملائكتي ما جزاء اجير وفى عمله قالو ربنا جزاءه ان يوفى اجره قال ملائكتي عبيدي وامائي قضوا فريضتي عليهم ثم خرجوا يعجون الى الدعاء وعزتي وجلالي وكرمي وعلوي وارتفاع مكاني لا جينهم فيقول ارجعوا قد غفرت لكم وبدلت سيئاتكم حسنات قال فيرجعون مغفورا لهم (۸)

ژباړه : رسول الله ﷺ فرمايي : کله چي د قدر شپه سي نو جبرائيل عليه السلام د ملائکو د یوې ډلي سره راکښته سي وهر ناست او ولاړ سړي ته چي د الله ﷻ په ذکر اخته وي د رحمت دعا کوي . کله چي د کوچني اختر ورځ سي نو الله ﷻ پر ملائکو باندي فخر کوي او ورته وايي چي د هغه چا مزدوري څشي ده چي خپل خدمت پوره وکړي؟ ملائکي ورته ووايي چي داسي چاته دي بدله پوره ورکړل سي. الله ﷻ وفرمايي : زما بندګانو او مینځيانو فرض پوره ادا کړل بيا عیدګا ته ولاړه په چیغو يې دعا کول زما دي په خپل عزت ، لويي ، کرم او لوړوالي قسم وي چي زه به ددوئ دعا قبلوم بيا به ورته وويل سي چي ستاسو ګناوي مي وبخښلي په نيکۍ مي در بدلي کړي دوئ به په داسي حالت کي د عیدګاه څخه راووزي چي بخښل سوي به وي .

فایده : د حضرت جبرائيل عليه السلام مځکي ته راتلل په قرآن کريم کي هم ذکر سوی دی لکه مخکي چي تير سو او په ډېرو حديثو کي هم دغه بیان په ښکاره ډول راغلی دی خو ددغه رسالې په آخر کي به په یو اوږده حديث کي تفصيلي بيان راسي چي جبرائيل عليه السلام و ملائکو ته فرمايي چي تاسو د هر ذکر کونکي سره لاس په لاس سئ.

غالية المواعظ د شيخ عبدالقادر جيلاني رحمة الله عليه د کتاب غنية په حواله ليکي چي ابن عباس رضی الله عنه فرمايي: ملائکي به د جبرائيل عليه السلام په وينا په مځکه کي خوري سي او هيڅ کور ، کښتۍ ، لوي او کوچنی ځنګل به نه پریږدي چي مؤمن پکښي وي مګر هغه ته دلاس په لاس کېدو لپاره ورځي. مګر هغه کور ته نه ورځي چي سپی ، يا خنزير ، يا د ناروا کار په وجه جنبي يا تصوير پکښي وي خو بد بختانه په اوس وخت کي په څومره کورو کي يوازي د ښکلا لپاره

---

(۸) رواه البيهقي في شعب الايمان كذا في المشكوة

ځومره تصويرونه ځړيږي ددې لوی نعمت څخه يې په خپل لاس ځان بې برخي کړی دئ.
تصوير ځړونکي يو سړی وی خو دده په وجه ټول کور ددې رحمت څخه بې برخي سي.

دقدر شپه پر طاق نېټه باندي وي

٤ : عن عائشة رضي الله عنها قالت قال رسول الله ﷺ تحروا ليلة القدر في الوتر من العشر الاواخر من رمضان (۹)

ژباړه: رسول الله ﷺ فرمايي : تاسو دروژې د مياشتي په آخرو لسو ورځو کي پر تاک (طاق) باندي د قدر د شپې لټه کوئ

فايده : د جمهورو علماوو په آند د روژې په آخرو لسو ورځو کي د يوويشتم څخه شروع کېږي که مياشت ديرش ورځي وي او که نه ويشت ورځي وي پر دغه دواړو حسابو باندي د پورتني حديث د ښووني پر بنسټ پر ۲۱- ۲۳ - ۲۵- ۲۷- ۲۹ باندي د قدر د شپې لټه کول په کار ده . که مياشت نهه ويشت وي نو بيا هم عشرة په پورته ډول ده. ابن حزم رحمة الله عليه فرمايي: که مياشت ديرش ورځي وه نو پورتنی خبره صحيح ده او که نه ويشت ورځي وه نو بيا حساب د شلمي ورځي څخه شروع کېږي .

په داسي ډول نو د قدر د شپې تلاش په ۲۰ - ۲۴ - ۲۶ - ۲۸ کېږي . مګر نبي ﷺ چي به په آخرو ورځو کي اعتکاف کاوه نو په اتفاق سره دا خبره ده چي د يوويشتم تاريخ څخه به يې شروع کاوه نو ددغه خبري په نظر کي نيولو سره قوي خبره دا کېږي چي لومړی وينا غوره ده او غالبا يې په لومړنۍ حساب سره اميد کېدای سي او په دا نورو شپو کي يې هم اميد سته که څوک په دواړو حسابو کي لټه کوي نو آخري لس شپې دي د قدر د شپې په هيله ويښ پاته سي ځکه ددومري لوی ګټې د لاسته راوړلو په موخه لس يوولس شپې رونول هيڅ ګران کار نه دئ .

عرفی اگر بہ گریہ میسر شدی وصال صد سال میتوان بہ تمنا گریستن

ژباړه: که په ژړا باندي وصال حاصلېدلای نو عرفي به سل کاله ژړلي وای .

---

(۹) مشکوة عن البخاري

۵). عن عبادة بن صامت﷜ قال خرج النبي ﷺ ليخبرنا بليلة القدر فتلاحي رجلان من المسلمين فقال خرجت لاخبركم بليلة القدر فتلاحي فلان وفلان فرفعت وعسى ان يكون خيرا لكم فالتمسوها في التاسعة والسابعة والخامسة (۱۰)

ژباړه : عباده بن صامت﷜ فرمايي : رسول الله ﷺ راووتی چي موږ ته د قدر د شپې په اړه خبر راکړي خو فلانی او فلانی په جنګ اخته وه نو رسول الله ﷺ وفرمايل : زه راووتم چي تاسو ته د قدر په شپه خبر درکړم خو فلانی او فلانی په جنګ اخته وه الله ﷻ لوړه کړه کېدای سي چي دغه لوړوالی ستاسو لپاره غوره وي نو تاسو ددغه شپې لټه په نوويشتم اوويشتم او پنځويشتم کوئ.

فايده : په پورتني حديث کي درې خبري د غور وړ دي : لومړي دا چي جنګ کول څومره بد شی دئ چي په وجه يې د تل لپاره د قدر د شپې مقرړتيا پورته سوه نه يوازي دا بلکي ټول عمر جنګ برکتونه لمنځه وړي رسول الله ﷺ اصحابو ﷺ ته وفرمايل : زه تاسو ته يو داسي شی وښيم چي تر لمانځه ، روژې او صدقې غوره وي ؟ اصحابو ﷺ وويل : ښيخي يې راوښيه . رسول الله ﷺ وفرمايل : په خپل منځ کي ښه سلوک تر ټولو شيانو غوره دئ ، جنګ او جګړه کول ددين خريونکي دی يعني لکه څرنګه چي چاړه د سر وېښتيان خريي او صفاکوي يې جنګ هم داسي دين لمنځه بيايي . دهغه دنيا دارو به څه حال وي چي ددين دعوی کوي غتې تسبيح اړوي خو ټول عمر په جنګو اخته وي . لومړي خو د نبي ﷺ په لارښوونه کي ښه فکر وکړی بيا د خپل دين فکر وکړي ايا په دين کي د صلحي لاره نسته ؟ د روژې په ادبونو کي تېره سوه چي د مسلمان بي عزتي ته رسول الله ﷺ بدترين سود ويلی دئ بد بختانه چي موږ نه د مسلمان د بي عزتي پروا کوو او نه د الله ﷻ او د هغه د ريشتيني پيغمبر د لارښوونو پروا کوو . الله ﷻ فرمايي:

ولا تنازعوا فتفشلوا . الاية .ژباړه : جګړې مه کوئ که نه نو کم همته به سئ او زور به ولاړ سي(۱۱)

نن خلک د نورو د بي عزته کولو په فکر کي دي يوازي دي کښيني فکر دي وکړي چي دی خپله د ځان و عزت ته څومره تاوان رسوي او د الله ﷻ په وړاندي دا ناپاکه کار څومره ذليله دئ . رسول الله ﷺ فرمايي چي څوک د مسلمان ورور سره تر درو ورځو زيات خبري پرېږدي يعني خوابدی سي او مړ سي سيده به دوزخ ته ځي . په يو حديث کي راغلي دي چي هره سې شنبه او پنجشنبه د بندګانو ټوله عملونه و الله ﷻ ته وړاندي کېږي (د نيکو عملونو

---

(۱۰) مشکوه عن البخاري

(۱۱) بيان القران

په برکت) ټولو ته د مشرکانو پرته بخښنه کېږي خو د کومو دوو کسانو په منځ کي چي خوابدتیاوي ددوئ په اړه به وويل سي چي دوئ پرېږدئ (يعني بخښنه نه ورته کېږي) تر هغه وخته چي په خپل منځ کي روغه جوړه کوي . په بل حديث کي راغلي دي چي هره سې شنبه او پنجشنبه د بندګانو عملونه و الله ﷻ ته وړاندي کېږي د توبه کونکي توبه قبلیږي د استغفار ويونكي استغفار قبليږي خو هغه كسان چي په خپلو منځو کي خوابدي وي پر خپل حال باندي پاتيږي . په يو حديث کي راغلي دي چي دپنځلسي په شپه (د برات پنځلسمه) د الله ﷻ عمومي رحمت و مځکي ته راخوريږي (او په لږ لږ بهانه) مخلوق ته بخښنه کېږي يوازي دوو کسانو ته بخښنه نه کېږي يو کافر دئ دوهم هغه څوک دی چي د مسلمان ورور سره په زړه کي کينه لري . په يو حديث کي راغلي دي چي ددرو کسانو لمونځ د قبوليت لپاره تر سر يوه لويشت هم نه پورته کېږي په دغه درو كسانو کي يو د مسلمان ورور سره جګړه كوونكى دئ . داسي نور حديثونه هم په دې اړه راغلي دي خو دغه حديثونه مي ددې لپاره ذکر کړه چي زموږ عوام خلګ خو څه کوې بلکي خاص خلګ چي ځانته شريف او ديندار خلګ وايي د هغوئ مجلسونه هم ددغه ناوړه عمل څخه ډک دي .

فالى الله المشتكى والله المستعان

يوه خبره د يادوني وړ ده هغه دا چي دغه خوابدتيا په هغه صورت کي مراد ده چي ددنيا په وجه وي او که د چا سره د فسق او يا دبل کار په وجه وي نو بيا جائزه ده ابن عمر رضی الله عنه يو ځل د نبي ﷺ څخه يو روايت رانقل کړې نو ځوی يې يو لفظ ووايه چي ظاهراً د اعتراض په ډول معلومېده نو ابن عمر رضی الله عنه د خپل زوي سره تر مرګه پوري خبري نه وکړي . داسي ډيري واقعاتي داصحابو رضی الله عنهم څخه رانقل سوي دي خو د زړه په حال الله ﷻ ښه عالم دی چي څوک ددې په وجه د چا سره خوابدي کوي او څوک پر شخصي شيانو سره د الله ﷻ سره خوابدي کوي په ښکاره خو هر سړی د خپلي خوابدی نسبت و دين ته کوي .

دوهمه خبره داده چي د الله ﷻ په حکمت باندي راضي کېدل يعني دا چي د شب قدر د مقررتيا پورته کېدل که څه هم په ښکاره لوی تاوان دئ خو دا چي د الله ﷻ دلوري څخه دئ نو ځکه نبي ﷺ وفرمايل چي دا به زموږ لپاره خير وي . دا ډيره د عبرت او غور خبره ده الله ﷻ ډير كريم او رحيم ذات دئ يو بنده ته چي غم او مصيبت پيښ سي نو دی د خپلي عاجزۍ اقرار وکړي او الله ﷻ ته رجوع وکړي په دغه حالت کي هم د الله ﷻ کرم او احسان سته کېدلای سي چي هغه مصيبت دده لپاره د لوی خير سبب وګرځي او د الله ﷻ لپاره هيڅ شی ګران نه دئ .

علماوو د قدر د شپې د پوټوالي څو مصلحتونه بيان کړي دي : لومړی دا چي که دغه

شپه معلومه وای نو ډیرو خلګو به یوازې په دغه شپه عبادت کولای په نورو شپو کې به غافله وای نو کله چې دا شپه پټه سوه نو کوم کسان چې د دغه شپې لټه کوي هغوئ ته به د ډیرو شپو توفیق ور نصیب سي. دوهم دا چې که دغه شپه معلومه وای نو ډیرو خلګو به پر ګناه باندې زړورتیا کولای چې ډیره بده خبره ده ځکه د دوئ به یقین وای چې په دغه شپه ټول ګناهونه بخښل کېږي نو ځکه الله ﷻ دغه شپه پټه کړه نو څوک پر دنیا باندې دلورې نسي کولای ځکه دی په دې آند وي چې ګوره چې زه دغه شپه پیدا کړم که یا . رسول الله ﷺ یوه ورځ مسجد ته راغلی په مسجد کې یو صحابي بیده و رسول الله ﷺ حضرت علي ؓ ته امر وکړی چې ویښ یې کړه علي ؓ هم دغه سړی ویښ کړی بیا یې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې ته خو د خیر په کارو کې زیات کوشش کوي نو تاسو دغه سړی خپله ولي نه ویښوئ چې ماته مو وویل؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل په دې وجه ما نه کړی ویښ چې داسي نه چې انکار وکړي نو زما د خبري په انکار سره کافر کېدی او ستا د خبري په انکار سره نه کافر کېدی نو ځکه مي ویښ نه کړئ چې داسي نه چې کافر سي. د همدې وجهي څخه الله ﷻ نه وغوښتل چې د بزرګي شپې د معلومېدو وروسته یو څوک پر ګناه باندې زړورتیا پیدا کړي .

دریم دا چې که دغه شپه معلومه وای او د یو چا څخه اتفاقا دغه شپه پاته سوي وای نو د فکر خرابۍ او نورو په وجه به بیا هیڅ شپه نه ویښیدلای او س خو لږه تر لږه دوې درې شپې د دغه شپې په امید روڼوي .

څلورم دا چې څومره شپې د دغه شپې په لټه څوک ویښ پاتیږي د هغو ټولو جلا جلا ثواب دئ.

پنځم دا چې د روژې په میاشت کې الله ﷻ پر ملائکو باندې د خپلو بندګانو په عبادت سره فخر کوي نو څومره چې بندګان د شک په وجه ډیرې شپې روڼوي په هغه اندازه فخر زیاتیږي او که معلومه سي نو بیا دوئ ته د کوششونو څه ضرورت دئ . د دې څخه علاوه نور مصلحتونه د دغه شپې په پټوالي کې سته . په دې کې هم د الله ﷻ لوی حکمت دئ چې مهم شی یې پټ کړی دئ لکه په قرآن کریم کې چې یې اسم اعظم پټ کړی دئ د جمعې په ورځ یو وخت سته چې په هغه کې دعا قبلیږي هغه هم الله ﷻ پټ کړی دئ . دا هم کېدلای سي چې د روژې په هغه میاشت کې یې د جګړې په وجه د قدر شپه پټه کړې وي او په نورو میاشتو کې یې د نورو مصلحتونو پر بنسټ د تل لپاره د قدر شپه پټه کړې وي.

دریمه خبره چې په حدیث کې راغلي ده هغه داده چې د دغه شپې لپاره درې شپې یعني پنځویشتم ، اوه ویشتم ، او نویشتم شپې ښودل سوي دي د نور حدیثونو په نظر کې نیولو

سره دا خبره ثابته ده چې دغه درې شپې د آخري عشري (لسيزي) څخه دي په دې کې نو بيا ځو ډوله اميد کېږي که چيري د يويشتم څخه حساب شروع سي نو دغه شپې ۲۹ – ۲۷ – ۲۵ – کېږي او که د پای د خوا څخه را شروع سي نو ۲۱– ۲۳– ۲۵ کېږي او که مياشت نويشت ورځي سي نو بيا ۲۲– ۲۴– ۲۶– کېږي ددې څخه علاوه ډير روايتونه يې پر ټاکل والي باندي مختلف سته. په همدې وجه د علماوو په منځ ددغه شپې په اړه ډير اختلافات دئ لکه مخکي چې مو وويل آن تر دې چې ددغه شپې په اړه د علماوو ويناوي پنځوسوو ته رسيږي ځينو ددې اختلاف وجه دا ښودلې ده چې دغه شپه تو پير کوي په مختلفو کلو کې په مختلفو شپو کي راځي همدا وجه ده چې د نبيﷺ څخه ددغه شپې په اړه بيل روايتونه راغلي چې په بيلو شپو کي يې ددغه شپې دلټون لارښوونه کړي ده آن تر دې چې ټاکلې شپه يې هم ښودلې ده لکه چې د ابو هريرةؓ څخه چې روايت دی چې رسول اللهﷺ د اصحابوؓ څخه پوښتنه وکړه چې نن د روژې څويمه ده ؟اصحابوؓ ورته وويل چې نن دوويشتمه شپه ده رسول اللهﷺ ورته وفرمايل تاسو په دغه شپه کي د قدر د شپې لټه وکړئ. ابو ذرؓ فرمايي چې ما د نبيﷺ څخه پوښتنه وکړه چې دغه شپه به د نبيﷺ تر زماني پوري خاصه وي او که دده وروسته به هم وي؟ رسول اللهﷺ وفرمايل چې تر قيامته پوري به وي ما بيا پوښتنه وکړه چې د روژې د مياشتي په کومه برخه کي ده؟ رسول اللهﷺ راته وفرمايل :په اولو لسو شپو او يا په آخرو لسو شپو کي يې لټه کوئ بيا رسول اللهﷺ په نورو خبرو اخته سو ما بيا موقع پيدا کړه پوښتنه مي ځني وکړه چې يا رسول اللهﷺ ! ددغه لسو شپو په کومه برخه کي به وي؟ رسول اللهﷺ دومره ناراضه سو چې نه ما مخکي ليدلی و او نه وروسته خو بيا يې وفرمايل چې د الله جل جلاله که ددې شپې ښودل مقصود وای نو ښودلي به يې وای تاسو يې په وروسته اوو شپو کي لټه کوئ نوري پوښتني مه کوئ. يو صحابيؓ ته رسول اللهﷺ په ټاکلي ډول وښودل چې درويشتمه شپه ده.

ابن عباسؓ فرمايي چې زه بيده وم يو چا په خوب کي راته وويل چې کښينه د قدر شپه ده زه ژر ژر راکښېنستم د رسول اللهﷺ حضور ته راغلم رسول اللهﷺ د لمانځه نيت تړلی و دغه شپه درويشتم وه. په ځينو روايتو کي په ټاکلي ډول څلرويشتم شپه په ټاکلي ډول معلوميږي. حضرت ابن مسعودؓ فرمايي چې څوک ټوله کال ويښ وي هغه د قدر شپه پيدا کولای سي يعني د قدر شپه د ټول کال په شپو کي ګرځي يو چا ابي بن کعبؓ ته دغه خبره وکړه ده مبارک ورته وويل چې د ابن مسعودؓ مقصد دا دئ چې په ټوله کال کي پر يوه شپه باندي هم صبر مه کوئ بيا يې قسم ياد کړی چې دغه شپه د اوويشتم ده . همدا ډول د ډيرو

اصحابو رضي الله عنهم او تابعينو نظر دادی چې د قدر شپه په اوويشتم ده. د ابي بن كعب رضي الله عنه تحقيق هم دادی چې دغه شپه په اوويشتم ده كه نه نو د ابن مسعود رضي الله عنه وينا ښيي چې په ټوله كال كې ګرځي . ددرمنثور د يوه روايت څخه داسي معلوميږي چې د رسول الله ﷺ څخه ارشاد هم دی. په امامانو كې د امام ابو حنيفة رحمه الله نظر هم دادی چې دغه شپه په ټوله كال كې ګرځي . دده مبارک دوهم قول دادی چې د روژې په ټوله مياشت كې ګرځي . د يارانو نظر دادی چې د روژې په مياشت كې يوه ټاكلي شپه ده خو معلومه نه ده . د امام شافعي رحمه الله راجح قول دادی چې د يويشتم په شپه كې غالبا ده. د امام مالک او امام احمد حنبل (رحمة الله عليهما) نظر دادی چې دغه شپه د روژې د مياشتي په اخرو لسو شپو كې پر تاک (طاق) تاريخ باندي پيدا كېږي يو كال يوه شپه وي بل كال بله شپه وي د جمهورو علماوو نظر دادی چې د اوويشتم شپه ده . شيخ العارفين محي الدين ابن عربي رحمه الله فرمايي : زما په آند دهغه خلګو خبره ډېره صحيح ده چې وايي د قدر شپه په ټوله كال كې ګرځي ځكه ما دوه واره د برات په مياشت كې پر پنځلسم او نولسم تاريخ باندي ليدلي ده او دوه واره مي د روژې د مياشتي په منځني لسو شپو كې ليدلي ده يعني پر ديارلسم او اتلسم تاريخ باندي او د روژې په آخرو لسو شپو كې مي پر تاک تاريخ هم ليدلي ده نو ځكه زما يقين دی چې د قدر شپه د ټول كال په ورځو كې ګرځي خو زياته د روژې په مياشت كې راځي زموږ شاه ولي الله صاحب فرمايي : د قدر شپه په كال كې دوه واره ده يوه شپه هغه ده چې الهي احكام پكښي نازليږي او قرانكريم په دغه شپه د لوح محفوظ څخه ددنيا و اسمان ته نازل سوي دي دغه شپه د روژې په مياشت پوري خاصه نه ده په كوم كال چې قرآن كريم نازل سوي دی په هغه كال د قدر شپه په روژه كې وه او زيات وخت په روژه كې وي او دوهمه د قدر شپه د روژې په مياشت پوري خاصه ده په دغه شپه روحانيت خوريږي ملائكي راكښته كېږي ، دعاوي قبليږي دغه شپه د روژې د مياشتي په آخرو لسو ورځو كې په تاک ، تاک شپه كې پيدا كېږي زما پلار رحمه الله هم دغه وينا غوره كړي ده . په هر صورت د قدر شپه يوه وي او كه دوې وي هر څوک يې بايد د خپل توان سره سم په كال كې لټه وكړي . كه يې په ټوله كال كې لټه نسي كولای نو د روژې په مياشت كې دي هڅې پسي وكړي او كه دا هم نسي كولای نو په اخرو لسو ورځو كې دي لټه پسي وكړي او كه دا هم نسي كولای نو په آخرو لسو ورځو كې دي په تاک (طاق) شپو كې لټه وكړي او كه خدای مه كړه دا هم ورته ګرانه وي نو د اوويشتم شپه خو دي بيخي نه پريږدي . كه يو څوک دغه شپه پيدا كړي نو ددنيا ټوله نعمتونه او راحتونه ددغه شپې په مقابل كې پر هيڅ دي او كه يې پيدا نه كړي نو بيا هم د ثواب څخه نه خالي كېږي يعني ددغه شپې عبادت

يې بې ځايه نه ځي. په هر صورت د ماښام او ماخوستن لمونځ بايد هر څوک په پابندۍ سره په جماعت وکړي ځکه په ټوله کال کې خو د قدر شپه سته نو ته چې دغه دوه لمونځونه په دغه شپه کې په جماعت وکړې هم لوی ثواب دئ او د زياتو جماعتونو ثواب به لاسته راوړې. داد الله ﷻ څومره لوی انعام دی چې يو څوک ديوه ديني کار د لټون په صورت کې ناکامه هم سي بيا هم الله ﷻ ثواب ورکوي. داسي نو ډير د همت ښځتنان سته چې ددين لپاره کوششونه کوي او ددې په مقابل کې که څوک ددنيايي موخو لپاره هڅې وکړي نو که کامياب نسي هغه کوششونه يې بې ځايه ځي. تاسو وګورئ چې ددنيا د بې ګټو کارو لپاره څومره خلګ اخته دي ځان او مال دواړه برباد وي.

ببين تفاوت ره از کجا است تا به کجا

وګوره توپير د لاري د کوم ځای څخه تر کومه ځايه پوري دی

٦ : عن عبادة بن صامت رضي الله عنه ان سئل رسول الله ﷺ عن ليلة القدر فقال في رمضان في العشر الاواخر فانها في ليلة وترفي احدى وعشرين اوثلث وعشرين او خمس وعشرين اوسبع وعشرين او تسع وعشرين او آخر ليلة من رمضان من قامها ايمانا واحتسابا غفرله ماتقدم من ذنبه ومن اماراتها انها ليلة بلجة صافية ساكنة ساجية لا حارة ولا باردة كان فيها قمرا ساطعا ولا يحل لنجم ان يرمي به تلک اليلة حتى الصباح ومن اماراتها ان الشمس تطلع صبيحتها لاشعاع لها مستوية كانها القمر ليلة البدر وحرم الله على الشيطان ان يخرج معها يومئذ.(١٢)

ژباړه : عباده بن صامت رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه د قدر د شپې پوښتنه وکړه رسول الله ﷺ ورته وويل : دغه شپه د روژې د مياشتي په آخرو لسو شپو کې پر طاق ، طاق تاريخ باندي ده څوک چې په دغه شپه د ايمان او ثواب په نيت عبادت وکړي نو تېر ګناهونه به يې ټوله وبخښل سي. نښاني يې دادي چې دغه شپه روښانه ، پراخه او پاکه شپه ده ارامه شپه ده ميانه ده نه ډيره يخه ده او نه ډيره ګرمه ده ګويا (د انوارو د اوريدو) په وجه سپوږمۍ صفا ده په دغه شپه کې به په شيطانانو پسې ستوري نه ويشتل کېږي او ددغه شپې نښاني دادي چې لمر ددغه شپې په سهار د پلوشو پرته راخيږي برابر لکه د څوارلسم سپوږمۍ او په دغه سهار د لمر ختو په وخت کې الله ﷻ شيطانان د راختو څخه منعه کړي. (په خلاف د نورو ورځو چې شيطانان د لمر ختو سره را پورته کېږي)

---

(١٢) درمنشور عن احمد و بيهقي ومحمدبن نصر وغيرهم

فایده :ـد پورتني حدیث مضمون په لومړنیو حدیثو کي تیر سوی دی یوازي ددې حدیث په آخرکي د قدر د شپې نښاني بیان سوي دي چي ښه روښانه دي نور تفصیل ته اړتیا نه لري.

ددې څخه علاوه په نورو روایتو او د هغه خلګو په ویناوو کي نوري نښې هم بیان سوي دي. په ځانګړي ډول د قدر د شپې په سهار چي لمر پلوشي نه لري دغه نښانه په ډیرو روایتو کي راغلي ده او خامخا به وي نوري علامي ضرور نه دي چي خامخا به وي. عبدة بن ابي لبابة رضي الله عنه فرمايي : چي ما دروژې دمیاشتي داوویشتم په شپه ددریاب اوبه وچیښي بالکل خوږي وي.

ایوب بن خالد رحمة الله علیه لیکي : زما و غسل ته اړتیا پیښه سوه دغه شپه د روژې درویشتم وو نو ما په دریابي اوبو غسل وکړی ددریاب اوبه بالکل خوږي وي. عالمانو لیکلي دي: چي د قدر په شپه ټول شیان پر سجده کېږي آن تر دې چي درختي هم پر سجده سي بیا بیرته پورته سي خو ددغه حالت کشف و هر چاته نسي کېدلای.

۷ :عن عائشة رضي الله عنها قالت قلت یا رسول الله! ارایت ان عملت اي لیلة لیلة القدر ما اقول فیها قال قولي اللهم انک عفو تحب العفو فاعف عني (۱۳)

ژباړه عائشة رضي الله عنها فرمايي : چي ما د نبي ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي که ما ته د قدر شپه معلومه سي نو کومه دعا ووایم رسول الله ﷺ راته وویل : دا دعا ووایه:اللهم انک تحب العفو فاعف عني.

ژباړه : اې خدایه ! ته عفوه خوښوي نو ما ته عفوه وکړي.

فایده :ـدا ډیره ښه جامع دعا ده ځکه چي الله جل جلاله د آخرت ټولي غوښتني راپوره کړي تر دې نو ښه کار چیري دی.

من نه گویم که طاعت بپذیر قلم عفو بر گناهم کش

ژباړه : داسي نه وایم چي عبادت مي قبول کړه بلکي د عفوي قلم مي پر ګناه راکش کړه یعني بخښنه راته وکړه.

حضرت سفیان ثوري رحمة الله علیه فرمايي : په دغه شپه کي د نورو عبادتونو په پرتله په دعا مشغولېدل زیات غوره دي. ابن رجب رحمة الله علیه فرمايي : یوازي په دعا دي نه مشغوله کېږي بلکي په مختلفو عبادتونو مشغولېدل غوره دي. لکه لمونځ ، تلاوت ،دعا ، مراقبة او داسي

---

(۱۳) رواه احمد و ابن ماجة والترمذي وصححه کذافي المشکوة

نور ځکه د نبيﷺ څخه دغه ټوله ثابت دي. همدغه قول ښه دی ځکه په تېرو حدیثونو کي د لمانځه او نور عبادتونو فضیلتونه په دغه شپه راغلي وه.

دریم فصل

د اعتکاف بیان

په مسجد کي ټاکلي وخت د اعتکاف په نیت اوسېدل د اعتکاف څخه عبارت دئ د حنفي مذهب د علماوو په آند اعتکاف پر درې ډوله دی یو اعتکاف واجب دی دغه اعتکاف د نذر کولو څخه عبارت دئ د مثال په ډول چي څوک ووايي که زما دغه کار وسو زه به دومره ورځي اعتکاف کوم نو پرده باندي د کار د اجرا وروسته په هغه اندازه اعتکاف کول واجب دي او یا د کار شرط ونه لګوي بلکي داغسي ووايي چي پر ما باندي دومره ورځي اعتکاف نذر دئ په دغه صورت کي هم د اعتکاف اجرا کول واجب دي.

دوهم ډول اعتکاف سنت دئ دا هغه اعتکاف دی چي د روژې د میاشتي په آخرو لسو ورځو کي کېږي چي د رسول اللهﷺ مبارک عادت هم داسي و. دریم ډول اعتکاف نفل دی دغه اعتکاف نه دورځو تعین لري او نه د وخت هر وخت چي يې زړه وغواړي کولای يې سي که څه هم د ټول عمر نیت وکړي البته په کښته اندازه کي يې اختلاف سته د امام ابو حنیفةرحمه الله علیه په آند تر یوې ورځي کم اعتکاف نسي کېدلای خو د امام محمد (رح) په آند د لږ ساعت لپاره هم اعتکاف کېدای سي او هم پر دغه قول باندي فتوی د علماوو ده. په همدې وجه هر چا ته پکار ده چي کله مسجد ته ننوزي د اعتکاف نیت دي وکړي نو تر څو چي په لمانځه مشغول وي د اعتکاف ثواب به هم ورته رسیږي. ما خپل پلار صاحب ډېر وخت لیدلي و چي مسجد ته به ننوتي درستې پښې ددننه کولو سره به يې د اعتکاف نیت کاوه کله کله به يې د خادمانو د تعلیم په مقصد نیت په زوره وکړی. د اعتکاف زیات فضیلتونه دي تر دې به نو لوي فضیلت چیري وي چي رسول اللهﷺ به تل د اعتکاف اهتمام کاوه. د اعتکاف کونکي مثال داسي دی لکه چي څوک د یو چا په دروازه کي پرېوزي او وایي چي تر څو چي مي خواست قبول نه کړي د ښور پېدو نه یم.

نکل جاتی دم تیري قدموں کي نیچي   یہی دل کي حسرت یہی آرزو ہی

ژباړه: ستا تر قدمو لاندي ساه وزي دا زما د زړه ارمان دی او دامي آرزو ده . که په حقيقت کي څوک داسي وکړي نو هر څومره سخت زړه چي يې وي نرم به سي الله ﷻ ډير کريم ذات دی د بخښني لپاره بهاني لټوي بلکي بې بهانو هم بخښنه کوي

تو وداتا ہی کی دینی کی لئی در تری رحمت کی ہین ہر دم کہلی

ژباړه: ته د ورکړي هغه ذات يي چي ستا دورکړي لپاره په هر آن دروازې د رحمت خلاصي دي.

خدائی کی دین کا موسی سی پوچھی احوال که آگ لینی کو جائین پیمبری مل جائی

ژباړه: د الله ﷻ د ورکړي په اړه د موسی ﷺ احوال و پوښتی چي په اوړپسي تللي و الله ﷻ پيغمبري ورکړه.

په همدې وجه څوک چي دنيا پرېږدي د الله ﷻ په دربار کي پريوري نو بيا دده غوښتني په پوره کيدو کي څه وخت لګيږي او الله ﷻ چي پر چا باندي انعام وکړي نو د ډکو خزانو بيان يې څوک کولای سي .ددې څخه وروسته زه د بيان څخه عاجزه يم . ځکه تل نامرد د بلوغ کيفيت چيري بيانولای سي خو هغه وخت چي کلکه اراده وکړي

جس گل کو دل دیا ہی جس پہول پر فدا ہون یا وہ بغل مین آئی یا جان قفس سی چھوٹی

ژباړه: کوم ګل ته مي زړه ورکړي او پر کوم ګل باندي قربان يم يا به مي هغه ولوري ته راسي او يا به مي روح د بدن څخه جلا سي.

ابن قيم رحمة الله عليه فرمايي: چي د اعتکاف مقصد دادی چي د معتکف (اعتکاف کونکي) زړه او روح د الله ﷻ سره وتړل سي ، د ټولو خواوو څخه فکر رابند کړي يوازي د الله ﷻ سره پيوست سي، د ټولو بوختياوو په بدله کي د الله ﷻ سره مشغول سي، د الله ﷻ پرته د ټولو څخه اړيکي وشکوي او داسي بوخت واوسيږي چي په زړه کي يې د ټولو فکرونو پر ځای د الله ﷻ مينه کښيني او دغه مينه د قبر د وحشت په وخت کي په کار راځي په دغه ورځ به د الله ﷻ پرته نه بل ملګری وي او نه به زړه خوشاله کونکی وي که زړه ورسره بلد سوی وي نو څومره به په خوند وخت پرې تيريږي .

جی ڈہونڈ تاہی پہر وہی فرصت کہ رات دن بیٹہا رہون تصور جانان کئی ہوئی

ژباړه: زړه د هغه شپې او ورځي فرصت لټوي ، ناست يم د خپل جانان فکر پکښي کوم.
د مراقي الفلاح مؤلف ليکي : اعتکاف چي په اخلاص وي د بهترينو عملونو څخه دی

ځانګړتياوې يې دومره ډيرې دي چې تر اندازې وتلې دي ځکه چې د اعتكاف په کولو کې زړه د دنيا او د هغه شيانو څخه چې په دنيا کې دي پريکېږي او د الله ﷻ سره مشغوله کېږي او خپل نفس و الله ﷻ ته سپارل کېږي

پھر جی می ہی کہ در پہ کسی کي پړا رہون سر زیر بار منت دربان کی ہی

ژباړه: زړه مې غواړي چې د يو چا په دركې واى او سر مې د درباري تر منت لاندې واى.
همدا ډول د اعتكاف په وخت کې ټول وخت په عبادت کې مشغولتيا وي يعني خوب ، ويښوالي ، خوراک او څيښاک او داسې نور يې ټوله په عبادت کې شمېرل کېږي . او الله ﷻ ته نژدېوالى دى. په يو حديث کې راغلي دي چې الله ﷻ فرمايي څوک چې زما لورې ته يوه لويشت رانژدې سي زه به يو ګز ورنژدې سم او څوک چې زما لورې ته يو ګز رانژدې سي زه به دوه ګزه ورنژدې سم څوک چې زما لورې ته کرار کرار راځي زه په منډه ورځم يعني زما رحمت ورځي . اعتكاف كول د الله ﷻ په كور کې اوسېدل دي څوک چې د سخي چا په کور کې ډيره کېږي سخي يې خامخا ډير قدر او عزت كوي . همدا ډول معتكف د الله ﷻ په کلا کې محفوظ دى چې هيڅ دښمن رسيدګي نسي ورته كولاى . او داسې نور فضيلتونه هم سته چې په دغه مهم عبادت کې نغښتي دي.

مسئله : د اعتكاف لپاره تر ټولو غوره ځاى مكه مكرمة ده بيا مدينة منوره ده بيا بيت المقدس دى ، بيا جامع مسجد دى او بيا د خپل محل مسجد دى. د امام ابو حنيفة رحمة الله عليه په آند د اعتكاف د مسجد لپاره دا شرط دى چې پنځه وخته جماعت به پکښې كيږي خو د يارانو په آند شرعي مسجد كفايت کوي.که څه هم يو وخت لا جماعت نه پکښې کېږي . د ښځو لپاره اعتكاف په هغه ځاى کې کېږي چې دوئ دلمانځه لپاره خاص کړى وي که ښځه د لمانځه لپاره ټاكلى ځاې نه لري نو په كور کې دې يو ځاى ويو كونج ته د لمانځه لپاره خاص کړي په هغه ځاې کې دې اعتكاف هم کوي . د ښځو لپاره د نارينو په پرتله اعتكاف ډير اسانه دى ځکه په کور کې اعتكاف کوي د كور كارونه د نجنو يا نورو په واسطه هم تر سره کوي او ثواب هم تر لاسه کوي خو د دې اسانتيا سره سره هم ښځې ګويا د دې سنت څخه بې برخې دي .

١ : عن ابي سعيد الخدري رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ اعتكف العشر الاول من رمضان ثم اعتكف العشر الاوسط في قبة تركيه

ژباړه : ابي سعيد خدري رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ د روژې د مياشتې په اولو لسو ورځو کې اعتكاف وكړى بيا يې په منځنى لسو ورځو کې په يوه ترکی

ثم اطلع رَأسه فقال اني اعتكفت العشر الاول التمس هذه الليلة ثم اعتكفت العشر الاوسط ثم اتيت فقيل لي انها في العشر الاواخر فمن كان اعتكف معي فليعتكف في العشر الاواخر فقد اُريت هذه الليلة ثم انسيتها وقد رايتني اسجد من ماء وطين من صبيحتها فالتمسوها في العشر الاواخر والتمسوها في كل وتر قال فمطرت السماء تلك الليلة وكان المسجد على عريش فوكف المسجد فبصرت عيناي رسول الله ﷺ وعلى جبهته اثرالماء والطين من صبيحة احدى وعشرين (۱۴)

خیمه کي اعتکاف وکړئ (په دغه بهیر کي یې) سر راوایستي او وې فرمایل چي ما په اولو لسو ورځو کي اعتکاف د قدر د شپې په امید وکړی بیا مي په منځني ورځو کي ددغه شپې په امید اعتکاف وکړی بیا ماته یو څا (ملائکي) وویل چي دغه شپه په اخرو لسو شپو کي ده نو څوک که زما سره اعتکاف کوي ودي یې کړي ماته دغه شپه وښودل سوه بیا را څخه هېره سوه (نښانه یې داده) چي ما ددغه شپې په سهار په ختو کي خپل ځان سجده کونکي ولیدی نو تاسو ددغه شپې لټه په طاق ،طاق شپه کي کوئ . روایت کونکی وایي په دغه شپه باران وسو د مسجد بام په خاشو او لرګو پټ و ما د یویشتمي شپې په سهار رسول الله ﷺ په خپلو سترګو ولیدی چي تندی یې په ختو لړلی و

فایده: د رسول الله ﷺ مبارک عادت زیات وخت اعتکاف کول و خو په دغه میاشت کي یې ټوله میاشت اعتکاف وکړی .په کوم کال چي یې ددنیا څخه تشریف وړی په هغه کال شل ورځي په اعتکاف کي پاته سو او اکثره وخت به یې د روژې آخري لس ورځي اعتکاف کاوه په همدې وجه علماء وایي چي دغه اعتکاف کول سنت موکد دئ . د پورتني حدیث څخه معلومیږي چي د اعتکاف مقصد د قدر شپې لټون دئ او ددغه کار لپاره اعتکاف کول مناسب هم دئ ځکه که معتکف بیده هم وي بیا هم پر عبادت شمېرل کېږي . بله خبره داده چي په اعتکاف کي یوې او بلي خواته تلل او نور کارونه کول نسته نو ځکه دده بوختیا یوازي د عبادت کول دي . په همدې وجه څوک چي د قدر شپه غواړي نو بهترینه لاره یې اعتکاف کول دي. رسول الله ﷺ به لو مړی په ټوله روژه کي زیات عبادت کاوه بیا په آخرو لسو شپو کي خوبه یې هیڅ اندازه نه وه خپله به ویښ و او د کورنۍ د ویښولو به یې هم زیات اهتمام کاوه لکه د صحیحینو د زیاتو روایتونو څخه چي معلومیږي. د بخاري او مسلم په یو روایت کي حضرت عائشة رضي الله عنها فرمایي: چي رسول الله ﷺ به د روژې په آخرو لسو شپو کي لنګ ټینګ وتړی شپې به یې روڼولي او د خپل کور خلګ به یې هم ویښول . د لنګ ټینګ تړلو څخه

(۱۴) مشکوة عن المتفق علیه باختلاف اللفظ

مقصد دا و چې په عبادت کې به يې زيات كوشش كاوه او هم كېداى سي چې مطلب يې دا و چې د خپلو بيبيانو څخه به يې بيخي ځان ساتى.

۲ : عن ابن عباسؓ ان رسول اللهﷺ قال في المعتكف هو يعتكف الذنوب ويجري له من الحسنات كعامل الحسنات كلها (۱۵)

ژباړه : ابن عباسؓ د رسول اللهﷺ څخه روايت كوي چې رسول اللهﷺ د معتكف په اړه وفرمايل : معتكف د ګناهونو څخه محفوظ دئ او دومره نيكي ورته ليكل كېږي لكه دټولو نيكيو دكونكي لپاره.

فايده : په پورتني مبارک حديث كي د اعتكاف دوې خاصي فائدې بيان سوي دي لومړى دا چې معتكف به د ګناه څخه محفوظ وي كه نه نو انسان ډير واري د ځينو كمزوريانو له وجهي خامخا په ځينو ګناهونو اخته كېږي او په داسي مبارک وخت كي ګناه كول څومره لوى ظلم دى خو ددغه اعتكاف په وجه به په امن وي . دوهمه خبره داده چې معتكف چي ځيني نيک كارونه د اعتكاف په وجه نسي كولاى لكه جنازه ، د مريض پوښتنه او داسي نور بيله كولو به يې اللهﷻ ثواب وركړي. الله اكبر! څومره داللهﷻ لوى رحمت دى چې د يوه عبادت په بدله كي اللهﷻ د لسو عبادتو ثواب وركوي دا په حقيقت كي بخښي ته بهانه لټول دي لږ غوندي توجه غواړي د رحمت باران په شيبو وريږي .

به بهانه می دهد به بهانه می دهد

ژباړه : په بهانه يې وركوي په بې قيمته يې نه وركوي .

خو زموږ د خلګو سره ددې قدر نسته اړتيا يې نه بولو توجه څوک كوي ؟ ولي يې وكړي چي زموږ په زړو كي ددين قدر نسته .

اس کی الطاف توہی عام شہید سب پر تجھ سی کیا ضد تھی اگر تو کسی قابل ہوتا

ژباړه: شهيد د هغه مهرباني پر ټولو عامي دي ستا سره يې څه ضد و خو كه ته د يو شي وړ واى .

۳ : عن ابن عباسؓ انه كان معتكفا في مسجد رسول اللهﷺ

ژباړه : ابن عباسؓ په مسجد نبوي كي په اعتكاف كي و چي يو سړى راغلى پټه خوله كښيناستى ابن عباسؓ

(۱۵) مشكوة عن ابن ماجة

فاتاه رجل فسلم عليه ثم جلس فقال له ابن عباس رضي الله عنه يا فلان اراک مكتئبا حزينا قال نعم يا ابن عم رسول الله لفلان على حق ولا حرمة صاحب هذالقبر ما اقدر عليه قال ابن عباس رضي الله عنه افلا اكلمه فيک قال ان احببت قال فانتعل ابن عباس ثم خرج من المسجد قال له الرجل انسيت ماكنت فيه قال لا ولكني سمعت صاحب هذالقبر ﷺ والعهد به قريب فدمعت عيناه وهو يقول من مشى في حاجة اخيه وبلغ فيها كان خيرا له من اعتكاف عشر سنين ومن اعتكف يوما ابتغاء وجه الله جعل الله بينه وبين النار ثلث خنادق ابعد مما بين الخافقين. (١٦)

پوښتنه ئخني وکړه چي اې فلانکيه ! غمجن او خفه دي وينم څه وجه ده ؟ هغه سړي ورته وويل چي اې د رسول اللهﷺ د اکا زويه ! پر ما باندي د يو سړي حق دى زما دي د دغه قبر دخاوند په عزت قسم وي چي د پوره کولو توان يې نه لرم درسول الله ﷺ و قبر ته يې اشاره وکړه . ابن عباس رضي الله عنه ورته وويل : ايا زه ستا سپارښت وکړم ؟ هغه سړي ورته وويل : څنګه چي ته لازمه بولي هغسي وکړه ابن عباس رضي الله عنه څپلې په پښو کړې د مسجد څخه دباندي راووتى هغه سړي ورته وويل چي تا خپل اعتکاف هېر کړى ابن عباس رضي الله عنه ورته وويل چي هير کړى مي نه دى ما ددې قبر د خاوند څخه اوريدلي دي چي لږ وخت نه و تير سوى (چي د دې الفاظو په ويلو سره) د ابن عباس رضي الله عنه د سترګو څخه اوښکي رواني سوې چي نبي عليه السلام و فرمايل : څوک چي د مسلمان ورور د حاجت پوره کولو لپاره ووزي کوشش وکړي تر لسو کالو اعتکاف ثواب زيات لري او څوک چي يوه ورځ د اللهﷻ د رضا لپاره اعتکاف وکړي دده او ددوزخ تر منځ به درې خندقونه پيداسي يو خندق د مځکي او اسمان تر فاصلې زيات دئ . نو دلسو کالو به څومره فضيلت وي چي د يوې ورځي دومره فضيلت دى .

فايده :- د پورتني حديث څخه دوه مضمونونه معلوم سول .لومړى دا چي ديوې ورځي اعتکاف دومره فضيلت دى چي دده او دوزخ تر منځ درې خندقونه جوړيږي د يوه خندق به دومره لوى والي وي لکه ټول جهان او تر يوې ورځي چي اعتکاف څومره زياتيږي ثواب يې هم په هغه اندازه زياتيږي علامة شعراني رحمة الله عليه په کشف الغمة کي د رسولﷺ څخه نقل کوي چي رسول اللهﷺ فرمايي : د روژې د آخرو لسو ورځو اعتکاف ددوو حجو او دوو عمرو ثواب لري . او څوک چي د ماښام تر لمانځه وروسته تر ماخوستنه پوري په داسي مسجد کي اعتکاف وکړي چي جماعت پکښي کيږي او د تلاوت او لمانځه پرته د بل چا سره خبري نه

(١٦) رواه الطبراني في الاوسط والبيهقي واللفظ له والحاكم مختصرا وقال صحيح الاسناد كذا في الترغيب وقال السيوطى في الدر صححه الحاكم وضعفه البهيقي

وکړي الله ﷻ به په جنت کې یوه ماڼۍ ورکړي.

دوهمه خبره دا چې تر پورتنۍ خبرې هم مهمه خبره دا ده چې د مسلمان ورور حاجت پوره کول دي چې تر لسو کالو اعتکاف یې ثواب زیات ښودل سوی دئ همدا وجه وه چې ابن عباس رضی الله عنه د خپل اعتکاف پروا ونه کړه ځکه ددې اعتکاف پوره والی په قضا سره ممکن دی همدا وجه ده چې صوفیان وایي : د الله ﷻ په وړاندې چې د مات زړه څومره قدر دی د بل هیڅ شي نسته. همدا وجه ده چې په حدیثو کې د مظلوم د ښرا وو څخه ویره کول ښودل سوي ده. رسول الله ﷺ چې به څوک د یو ځای حاکم مقرر کړی نو دا به یې ورته فرمایل : واتق دعوة المظلوم. یعني د مظلوم د ښراوو څخه ځان وساته.

بترس از آه مظلومان که هنگام دعا کردن اجابت از در حق بهر استقبال می آید.

ژباړه : د مظلوم د آه څخه وویرېږه چې ښراوي قبلیدل د الله ﷻ د دربار څخه د استقبال سره راځي په دې ځای کې یوه مسئله د یادوني وړ ده هغه دا چې څوک د اعتکاف څخه د مسلمان د حاجت پوره کولو لپاره ووزي اعتکاف یې ماتیږي که اعتکاف واجب و نو قضا یې واجب ده. رسول الله ﷺ به د بشري اړتیا پرته د مسجد څخه نه واتی.

د ابن عباس رضی الله عنه قرباني یعني د بل لپاره د اعتکاف ماتوالی دداسي خلګو لپاره مناسب و چې خپله به مړه کېدل خو آخري ځاځکي او به یې خپل ملګري ته مخکي ورکولي خپله یې نه چیښلي آن تر دې چې تږی به شهید سو لکه مخکي چې یې قصه تېره سوه او ممکن چې د. ابن عباس رضی الله عنه اعتکاف نفلي و په دغه صورت کې نو بیا هیڅ ډول اشکال نه پیدا کېږي په آخر کي یو اوږد حدیث بیانوم چې مختلف فضائل پکښي بیان سوي دي او دا رساله پای ته رسوم.

خاتمه

٤ : عن ابن عباس رضی الله عنه انه سمع رسول الله ﷺ يقول ان الجنة لتبخر وتزين من الحول الى الحول لدخول شهر رمضان فاذا كانت اول ليلة من شهر رمضان هبت

ژباړه: ابن عباس رضی الله عنه د رسول الله ﷺ څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ فرمايي : د روژې د میاشتي لپاره و جنت ته خوشبويي ورکړل سي او د کال د پیل څخه تر آخره پوري جنت د روژې په خاطر ښائسته کړل سي کله چې د روژې اوله شپه سي نو تر عرش لاندي یوه هوا وچلیږي چې نوم

ريح من تحت العرش يقال لها المثيرة فتصفق ورق اشجار الجنان وحلق المصاريع فيسمع لذالک طنين لم يسمع السامعون احسن منه فتبرز الحور العين حتى يقفن بين شرف الجنة فينادين هل من خاطب الى الله فيزوجه ثم يقلن الحور العين يارضوان الجنة ماهذه اليلة فيجيبهن باالتلبية ثم يقول هذه اول ليلة من شهر رمضان فتحت ابواب الجنة لصائمين من امة محمدﷺ قال ويقول الله عز وجل يا رضوان افتح ابواب الجنان و يا مالک اغلق ابواب الجحيم عن الصائمين من امة احمدﷺ وياجبرائيل اهبط الي الارض فاصفد مردة الشيطين وغلهم باالاغلال ثم اقذفهم في البحار حتى لايفسدوا على امة محمد حبيبيﷺ صيامهم قال ويقول الله عزوجل في كل ليلة من شهر رمضان لمناد ينادي ثلث مرات هل من سائل فاعطيه سؤله هل من تائب فاتوب عليه هل من مستغفر فاغفرله من يقرض المليي غير العدوم والوفي غير الظلوم قال

يې مثيره دی (ددغه هوا د چليدو په وجه) د جنت ددرختو پاڼي او ددروازو حلقې يو د بل سره وجنګيږي او يو داسي ښائسته اواز ځني راووزي چي اوريدونکي ددې پرته نه دی اوريدلي بيا د ښائسته سترګو ميرمني حوري د خپلو کورونو څخه راووزي د جنت دلوړو ودانيو په منځ کي ودريږي داسي اوازونه کوي چي څوک د الله‎ﷻ په دربار کي زموږ سره واده کوي چي الله‎ﷻ موږ ورسره جوړه کړي بيا حوري د جنت ددروازواني ملائکي (رضوان) څخه پوښتنه وکړي چي دا څنګه شپه ده ؟ رضوان په لبيک سره جواب ورکړي چي د روژې د مياشتي اوله شپه ده د جنت دروازې د محمدﷺ د امت لپاره خلاصي سوي دي . رسول اللهﷺ و فرمايل چي الله‎ﷻ د جنت دروازه واني (رضوان) ته ووايي چي د جنت دروازې خلاصي کړه او ددوزخ دروازه واني (مالک) ته ووايي چي د احمدﷺ د امت پر روژاتيانو باندي ددوزخ دروازې بندي کړه .جبرائيل‎عليه السلام ته به امر وکړي چي مځکي ته کښته سه شيطانان بند کړه ځنځيرونه ورواچوه بيا يې په درياب کي و غورځوه چي زما د محبوب محمدﷺ د امت روژې خرابي نه کړي . رسول اللهﷺ دا هم وويل چي الله‎ﷻ د روژې په هره شپه کي يو اواز کونکي ته امر کوي چي درې ځله دا اواز وکړه : څوک غوښتونکي سته چي زه يې ورکړم څوک توبه ايستونکي سته چي زه يې توبه قبوله کړم څوک بخښنه غوښتونکي سته چي زه بخښنه ورته وکړم څوک داسي سته چي داسي غني ته قرض ورکړي چي ناداره نه دی او داسي پوره پوره اداکونکي دی چي يوه ذره هم کمی نه کوي . رسول اللهﷺ

(۱۷) كذا في الترغيب و قال رواه ابو الشيخ بن حيان في كتاب الثواب والبيهقي واللفظ له وليس في اسناده من

ولله عز وجل في كل يوم من شهر رمضان عند الافطار الف الف عتيق من النار كلهم قد استوجبوا النار فاذا كان آخر يوم من شهر رمضان اعتق الله في ذالک اليوم بقدر مااعتق من اول الشهر الي آخره واذاكانت ليلة القدر يامرالله عز وجل جبرائيل فيهبط في كبكبة من الملائكة ومعهم لواء اخضر فيركز اللوآء على ظهر الكعبة وله مائة جناح منها جناحان لا ينشرهما الا في تلک اليلة فينشرهما في تلک اليلة فيجاوزان المشرق الى المغرب فيحث جبرائيل عليه السلام الملائكة في هذه اليلة فيسلمون على كل قائم وقاعد ومصل وذاكر ويصافحونهم ويؤمنون على دعائهم حتى يطلع الفجر فاذاطلع الفجر ينادي جبرائيل معشر الملائكة الرحيل الرحيل فيقولون ياجبرائيل عليه السلام فما صنع الله في حوائج المؤمنين من امة احمد ﷺ فيقول نظر الله اليهم في هذه اليلة فعفا عنهم وغفرلهم الا اربعة فقلنا يارسول الله! من هم قال رجل مدمن خمر

و فرمايل چي الله ﷻ د روژې په مياشت کي هر شپه د روژماتې په وخت کي لس لکه (۱۰۰۰۰۰۰) داسي کسان د اور څخه ازادوي چي ددوزخ مستحق وي ، کله چي د روژې آخري شپه سي نو الله ﷻ دومره خلګ د اور څخه ازاد کړي لکه په ټوله روژه کي چي يې ازاد کړي وه . کله چي د قدر شپه سي الله ﷻ جبرائيل عليه السلام ته امر وکړي جبرائيل عليه السلام د ملائکو د يوه لښکر سره مځکي ته راکښته سي يو زرغون بيرغ ورسره وي د کعبې شريفي پر بام يې ښخ کړي . د جبرائيل عليه السلام سل وزره دي چي دوه وزره يې يوازي په دغه شپه غوړيږي چي د ختيځ څخه تر لويديځ پوري خواره سي بيا جبرائيل عليه السلام و ملائکو ته ترغيب ورکوي چي کوم مسلمان چي ولاړ وي ،يا ناست وي ، لمونځ کوي او يا ذکر کوي سلام ورته ووایاست او مصافحه ورسره وکړی او ددوئ پر دعاوو باندئ آمين ووایاست. تر سهاره پوري دغه حالت وي . کله چي سهار سي جبرائيل عليه السلام ږغ وکړي چي اې د ملائکو ټولګيه ! کوچ وکړی درځي . ملائکي پوښتنه وکړي چي اې جبرائيل عليه السلام ! الله ﷻ د احمد ﷺ د امت د غوښتونو ، اړتياو او ضرورتونو سره څه معامله وکړه ؟ جبرائيل عليه السلام ورته وويل چي الله ﷻ توجه ورته وکړه او د څلورو کسانو پرته يې ټول وبخښل. اصحابو کرامو وپوښتل چي يا رسول الله ﷺ ! دغه څلور کسان څوک دي؟ رسول ﷺ ورته وفرمايل چي يو د شرابو عادتي دی دوهم د مور او پلار ازاري دی دريم د وصيله رحمي پرېکونکی دی او څلورم کينه ساتونکي دی او په کورنۍ کي اړيکي پرېکونکی دی کله چي د کوچني اختر شپه سي ددغه شپې نوم (په

اجمع على ضعفه قلت قال السيوطى في التدريب قد التزم البيهقي ان لا يخرج في تصانيفه حديثا يعلمه موضوعا الخ وذكر القاري في المرقاة بعض طرق الحديث ثم قال فاختلاف طرق الحديث يدل على ان له اصلا اه

وعاق لوالديه وقاطع رحم ومشاحن قلنا يارسول الله! ما المشاحن قال هوالمصارم فاذاكانت ليلة الفطر سميت تلك اليلة ليلة الجائزة فاذا كانت غداة الفطر بعث الله عز وجل الملائكة في كل بلاد فيهبطون الي الارض فيقومون علي افواه السكك فينادون بصوت يسمع من خلق الله عزوجل الا الجن والانس فيقولون ياامة محمدﷺ اخرجوا الي رب كريم يعطي الجزيل ويعفو عن العظيم فاذابرزوا الى مصلاهم فيقول الله عز وجل للملائكة ما جزاء الاجير اذا عمله قال فتقول الملائكة الهناوسيدناجزائه ان توفيه اجره قال فيقول فاني اشهدكم ياملائكتي اني قد جعلت ثوابهم من صيامهم شهر رمضان وقيامهم رضائي ومغفرتي ويقول ياعبادي سلوني فوعزتي وجلالي لاتسئلوني اليوم شيئا في جمعكم لا خرتكم الا اعطيتكم ولا لدنياكم الا نظرت لكم فوعزتي لا سترن عليكم عشراتكم ما راقبتموني وعزتي وجلالي لا اخزيكم ولا افضحكم بين اصحاب الحدود وانصرفوا مفغورا لكم قد ارضيتموني

اسمانو کي) په ليلة الجايزة سره دی (يعني د انعام ورکولو شپه) کله چي د کوچني اختر سهار سي اللهﷻ و ټولو ښارونو ته ملائکي واستوي ملائکي مځکي ته راکښته سي د ټولو لارو او کوڅو پر سر باندي ودرېږي داسي اوازونه کوي چي د انسانانو او پيريانو پرته يې ټوله مخلوق اوري . اوازکونکي وايي : اې د محمدﷺ امته ! د هغه کريم ذات ته روان سه چي ډېر زيات ورکونکي دی او لوي ګناه کونکي ته معافي کونکی دی.
کله چي خلګ و عيدګاه ته ووزي اللهﷻ و ملائکو ته ووايي چي د هغه مزدور مزدوري څه ده چي خپله مزدوري پوره وکړي ؟ ملائکي ورته ووايي : اې زموږ معبوده ! اې زموږ مالکه ! دداسي چا مزدوري چي کار يې پوره کړی وي داده چي مزدوري يې پوره ورکړل سي اللهﷻ وفرمايي : اې زما ملائکو ! زه تاسو شاهداني ګرځوم چي ما خپلو بندګانو ته د روژو او تراويح په بدله کي خپله رضا او مغفرت ورکړی بيا اللهﷻ خپلو بندګانو ته وفرمايي : اې زما بندګانو زما څخه غوښتنه وکړی زما دي په خپل عزت قسم وي ، زما دي په خپله لويي قسم وي چي نن تاسو زما څخه په دې اجتماع کي د آخرت په باره کي کوم سوال کوی زه به يې درکوم او که ددنيا په باره کي څه غواړئ ستاسو مصلحت ته به ګورم . زما دي په خپل عزت قسم وي چي تر څو چي تاسو زما خيال ساتي زه به ستاسو پر غلطيو باندي پرده اچوم (يعني پټوم به يې) زما دي په خپل عزت قسم وي زما دي په خپله لويي قسم وي چي زه تاسو د مجرمانو (کافرانو) په مخکي نه رسوا کوم . اوس تاسو په داسي حالت کي کورونو ته ستانه سئ چي بخښل سوي ياست تاسو زه راضي کړم زه ستاسو څخه راضي يم ملائکي چي دا ثوابونه ويني چي د اختر

وړضيت عنکم فتفرح الملائكة وتستبشر بمايعطي الله عزوجل هذه الامة اذا افطروا من رمضان.([17]) اللهم اجعلنا منهم .

په ورځ يې ودې امت ته ورکړي خوشالي کوي او يو و بل ته زيرى ورکوي .

فايده : ددې حديث اکثره مضامين ددې رسالي په تيرو پاڼو کي بيان سوي دي البته د يو شي خبره د يادوني وړ ده چي تر تولو مهمه او لومړۍ خبره ده هغه دا چي د روژې د مياشتي د عمومي مغفرت څخه ډير بې برخي خلګ ايستل سوي لکه د مخکي روايتو څخه چي معلوم سوه چي د اختر ددې عام مغفرت څخه محروم سول . يو په خپل منځ کي جګړه کونکى دى ، دوهم د مور او پلار ازاري دى . ددوئ څخه تاسو پوښتنه وکړئ چي تاسو الله ﷻ ناراضه کړي نو تاسو د ځان لپاره کوم استوګنځاى لټولى دى . پر تاسو هم افسوس دى او ستاسو پر هغه عزت هم افسوس چي په خاطر يې د رسول الله ﷺ ښراوي پر ځان قبلوى . د جبرائيل عليه السلام ښراوي قبلوى د الله ﷻ د عام مغفرت څخه ځان بې برخي کوئ . زه ستاسو څخه پوښتنه کوم چي تاسو نن دښمن ته ماته ورکړه خپل بريت مو پرې لوړ کړى دا به تر څو ورځو پوري ستاسو سره پاته وي . چي د الله ﷻ خوږ پيغمبر پر تاسو لعنت وايي الله ﷻ تاسو د خپل مغفرت څخه باسي او د الله ﷻ مقربه ملائکه تاسو ته ښراوي کوي . د الله ﷻ لپاره يو لږ فکر وکړى وبس . د سهار ورک سوى که ماښام کورته راسي ورک نه ورته ويل کېږي . نن وخت سته کمى مو پوره کړي . صبا چي دداسي حاکم په وړاندي ودريږي چي نه عزت کار کوي او نه رعب بيا ستاسو مال ، پيسې او سامان کار نه کوي يوائې ستاسو د عمل پوښتنه کېږي .

هره کړنه به مو په ليکلي ډول ستاسو مخته کښيږدي الله ﷻ خپل حقوق معافوي خپل منځني حقوق يعني د بندګانو حقوق بې له بدلي نه بخښل کېږي رسول الله ﷺ فرمايي زما په امت کي مفلس هغه څوک دى چي د قيامت په ورځ راسي نيک عملونه ورسره وي يعني لمونځ ، روژې ، صدقې او هر څه راوړي خو په دنيا کي يې چا ته ښکنځل کړي وي ، پر چا يې تهمت ويلي وي ، څوک يې وهلي وي نو ټول دعوه کونکي پسي راسي دده ټول نيک عملونه دده ددغه حرکتو په بدله کي ځني يوسي . کله چي يې نيکۍ خلاصي سي نو بدۍ يې دده پر اوږو ورولويږي بيا ددې امبار په وجه دوزخ ته واچول سوي . نو د ټولو نيکو عملونو د کولو سره چي کومه نااميدي او افسوس سته بيان يې د اړتيا وړ نه دى .

وه مايوس تمنا کيون نه سوئی اسمان ديکهی که جو منزل بمنزل اپنی رائگان ديکهی

ژباړه: د آرزو څخه نا اميده به ولي و اسمان ته ګوري چي منزل پر منزل خپلي هڅي بې ګټي ويني.

دوهمه خبره د فکر کولو وړ داده چي په دې رساله کي څو ځايه د مغفرت بيان سوی دی پر دمخه خبره باندي يو سوال سته هغه دا چي يو چاته يو ځلي مغفرت وسي د هغه لپاره نو بيا مغفرت څه معنی لري ددغه سوال جواب دادی چي هره موقع د مغفرت راسي نو که د بنده پر ذمه باندي ګناه وي بخښل کېږي او که نه وي نو په دغه اندازه يې مرتبې لوړيږي.

دريمه خبره داده: چي الله ﷻ په څو ځايو کي ملائکي شاهداني ګرځولي دي لکه په پورتني حديث کي چي هم تېر سوه ددې څخه مطلب دادی چي الله ﷻ د قيامت په ورځ د عدالت معامله د قانون د اصولو مطابق ايږدي (چي هيچا ته سوال پکښي پيدا نسي) په همدې وجه انبيآء هم د تبليغ کولو په خاطر شاهدي ته طلبي لکه د حديثو په کتابو کي چي په ډيرو ځايو کي نبي عليه السلام فرمايلي دي: چي ستاسو څخه زما په اړه پوښتنه کېږي تاسو شاهدان اوسئ چي ما تاسو ته تبليغ کړی دئ. په بخاري او نورو کي روايت سوی دی چي د قيامت په ورځ به د نوح عليه السلام څخه پوښتنه وسي چي تا خپل امت ته تبليغ کړی و؟ د نوح عليه السلام قوم به ووايي: ما جآء نا من نذير ولابشير. ژباړه: موږ ته نه وېرونکی او نه زيری راکونکي راغلی و. ونوح عليه السلام ته به ووايي چي شاهدان راوله نوح عليه السلام به محمد عليه السلام او دده امت په شاهدي وړاندي کړي. محمدي امت به راوبلل سي شاهدي به ادا کړي. په ځينو روايتو کي راغلي دي چي هغه به محمدي امت ته ووايي چي تاسو څه خبر ياست چي پر موږ شاهدي ادا کوئ تاسو خو تر موږ وروسته ياست؟ محمدي امت به ورته ووايي چي موږ ته خپل ريشتني پيغمبر ﷺ معلومات راکړي دئ. زموږ پر پيغمبر باندي دالله ﷻ له خوا يو کتاب نازل سوی دئ په هغه کي معلومات ورکړل سوي وه. په دغه ډول به د نورو انبيآء د امتونو سره هم معامله وسي. الله ﷻ په دې اړه فرمايي: وکذالک جعلنکم امة وسطا لتکونوا شهدآء على الناس

امام فخرالدين رحمة الله عليه ليکي: چي د قيامت په ورځ به څلوره ډوله شاهدي وي. يوه د ملائکو شاهدي ده چي په اړه يې الله ﷻ فرمايي: ما يلفظ من قول الا لديه رقيب عتيد وجآءت کل نفس معها سآئق وشهيدا وان عليکم لحافظين کراما کاتبين يعلمون ماتفعلون.

دوهمه شاهدي د انبيآؤ ده چي په اړه يې الله ﷻ فرمايي: وکنت عليهم شهيدا مادمت فيهم فکيف اذا جئنا من کل امة بشهيد وجئنا بک على هؤلاء شهيدا.

دريمه شاهدي د محمدي امت ده چي په اړه يې الله ﷻ فرمايي: و جيئ بالنبيين والشهدآء.

څلورمه شاهدي د انسانانو د خپلو غړو ده چئ پر دوی يې ادا کوي الله ﷻ يې په اړه

فرمايي :

يوم تشهد عليهم السنتهم وايديهم وارجلهم .الاية . والیوم نختم علی افواههم وتکلمنا ایدیهم .الایه

د لنډوالي په خاطر مي د آياتو ترجمه پرېښودل خو حاصل يې د هغه شاهدۍ بيان دی چي تر آيات مخکي ذکر سوي ده.

څلورمه خبره چي په حديث کي ذکر سوي ده هغه دا ده چي الله ﷻ فرمايي: زه به تاسو د کافرانو په مخ کي نه شرموم دا د الله ﷻ نهايي کرم او احسان دئ او د مسلمانانو لپاره د غيرت خبره ده چي د الله ﷻ د رضا لټونکو لپاره دا هم لطف دئ چي په غلطيو او ګناهو باندي يې په هغه ځای کي هم عفو او پرده اچول کېږي.

عبدالله بن عمر ﷺ د رسول الله ﷺ څخه روايت کوي چي په ورځ د قيامت به يو سړی الله ﷻ نژدې را وغواړي پرده به پرې واچوي او ګناهونه به يې يو په يو ور په ياد کړي دی به په خپلو ګناهونو باندي اقرار وکړي کله چي د غه سړی په خپلو ګناهونو باندي اقرار وکړي او د خپلو ګناهونو د ډيروالي له وجهي به فکر وکړي چي اوس مي د هلاکت وخت را نژدې سو الله ﷻ به ورته وفرمايي چي ما پر تا باندي په دنيا کي پرده اچولې وه اوس هم پرده در باندي اچوم او معافوم دي. وروسته به د نيکو عملونو دفتر ته حواله سي. نور هم په سوونو روايتونه سته چي پورته مضمون څني معلومېږي چي الله ﷻ د ده رضا طلب کونکي ته د ګناه عفوه کوي او پرده پرې اچوي. په دغه خبره کي زيات فکر پکار دی چي يو څوک د نيکانو غلطياني د غيبت په ډول بيانوي دغه کس دي د دې فکر وکړي چي داسي نه چي د قيامت په ورځ د هغو پر غلطيانو باندي پرده واچول سي او وبخښل سي او ستاسو عملنامې د غيبته ډکي وي ستاسو د هلاکت سبب وګرځي الله ﷻ دي په خپل فضل سره موږ ټولو ته بخښنه وکړي.

پنځمه خبره دا ده چي په پورتني حديث کي د کوچني اختر شپه د انعام په شپه ياده سوې ده چي الله ﷻ خپلو ټولو بندګانو ته انعام ورکوي. په دغه وجه د دغه شپې زيات قدر کول پکار دي. عوام خلګ خو څه کوي بلکي خاص خلګ هم په دغه شپه ستړي ستومانه په خوا ږه خوب بيده سي او حال دا چي دا شپه په خصوصي ډول سره د عبادت د بوختيا شپه ده. رسول الله ﷺ فرمايي: څوک چي د اخترونو دواړي شپې په عبادت روښي کړي نو زړه به يې په هغه ورځ نه مري چي زړونه مري (يعني د فتنو او فسادو په وخت کي به د خلګو زړونه مړه غونډي وي مګر د ده زړه به ژوندی وي او ممکن چي د شپېلۍ د پوکي په وخت کي د ده روح بې هوښه نسي) په يو حديث کي راغلي دي چي څوک په پنځو شپو کي بيده نسي جنت ورته واجب دئ (هغه پنځه شپې د لاندنيو شپو څخه عبارت دي)

ليلة التروية (يعني د لوي اختر د مياشتي اتمه شپه) ليلة النحر (د لوی اختر شپه) ليلة العرفة (د نهم شپه) د کوچني اختر شپه او د برات د مياشتي پنځلسمه شپه فقهاو کرامو د اخترو شپې روښول مستحب بللی دي. په کتاب ما ثبت بالسنة کي د امام شافعي رحمه الله عليه څخه نقل سوی دی چي په پنځه شپو کي دعا قبليږي: د جمعې شپه، د دواړو اخترو شپې، د خدای تعالی د مياشتي لومړی شپه او د پنځلسي شپه.

خبرداری (تنبيه)

ځينو بزرگانو ليکلي دي چي د روژې په مياشت کي د جمعې په شپه زيات اهتمام کول پکار دی ځکه جمعه او ددې شپي وختونه زيات برکتمن دي. په ډيرو حديثونو کي د دغه شپي فضيلتونه راغلي دي. خو لکه څرنگه چي په ځينو روايتو کي د دغه شپې د عبادت لپاره پر خاصوالي باندي ممانعت راغلي دی نو ځکه يوه دوې شپي نوري هم ورسره ملگري کول پکار دي. ددې رسالي په آخره کي يو خواست درته کوم هغه دادی چي د روژې د مياشتي په خاصو وختو کي بنده (شيخ الحديث- او ما ژباړونکی) د دعا څخه مه هيروی. کېدلای سي چي ستاسو د مخلصانه دعا په برکت الله جل جلاله ماته هم خپله رضا او محبت نصيب کړي.

مناجات

گرچه مین بدکار و نالائق ہون ای شاہ جہان ❁ پر تیری درکو ستا اب چھوڑ کر جاؤن کہان

کون ہو تیری سوا مجھ بی نوا کی واسطی

ژباړه: اې خدايه! که څه هم زه بد کاره او نا لائقه يم. زه چي ستا در پرېږدم نو ته ماته وښيه زه چيري ولاړ سم ستا پرته نو زه بل چيري اسره لرم.

کشمکش سی ناامیدی کی ہؤان ہون مین تباہ ❁ دیکھہ مت میری عمل کر لطف پر اپنی نگاہ

یارب اپنی رحم و احسان و عطا کی واسطی

ژباړه: د نا اميدی په کشمکش کي تباه سوم څما عملو نو ته مه گوره په خپله مهرباني سره پر ما نظر وکړي اي ربه! د خپل احسان، اعطا او رحم په واسطه سره

چرخ عصیان سر پہ ہی زیر قدم بحر الم ❁ چار سو ہی فوج غم کر جلد اب بہر کرم

کچہ رہائی کا سبب اس مبتلا کی واسطی

ژباړه: پر سر مې د ګناه اسمان دی تر پښو لاندې مې د غمو درياب دی پر څلورو طرفونو مې د غم فوج دی ډېر ژر کرم رالاندې وکړه چې د دې غم څخه خلاص سم د مبتلا په واسطه.

ہی عبادت کا سہارا عابدون کی واسطی ❁ اور تکیہ زہد کا ہی زاہدون کی واسطی

ہی عصائی آہ مجہ بی دست وپا کی واسطی

ژباړه: دعا بدانو لپاره د عبادت تکيه ده، د زاهدانو لپاره د زهد تکيه ده زما بې وسه لپاره لکړه ده د پاکی په واسطه.

نی فقیری چاہتا ہون نی امیری کی طلب ❁ نی عبادت نی ورع نی خواہش علم وادب

درد دل پرچاہی مجہ کو خدا کی واسطی

ژباړه: نه فقيري غواړم نه مې د امارت طلب سته، نه د عبادت طلب، نه د پرهيز ګاري او نه مې د علم او ادب خواهش سته خو زړه مې د الله ﷻ سره مينه غواړي د الله ﷻ په واسطه

عقل وہوش وفکر اور نعمائی دنیا بی شمار ❁ کی عطا تونی مجہی پرآب تواسی پروردگار

بخش وہ نعمت جوکام آئی سدا کی واسطی

ژباړه: عقل، هوش، فکر او د دنيا نعمتونه دې بې شميره راکړي دي. اې خدايه اوس هغه نعمت راکړې چې ټول عمر مې پکار دی.

حد سی ابتر ہوگیا ہی حال مجہ ناشاد کا ❁ کر مری امداد اللہ وقت ہی امداد کا

اپنی لطف ورحمت بی انتہا کی واسطی

ژباړه: زما غمګين حالت تر حد زيات خراب دی اې الله ﷻ! زما مرسته وکړه د مرستې وخت دی د خپل بې پايه رحمت او لطف په واسطه سره

گر مین ہون ایک بندہ عاصی غلام پر قصور جرم میرا حوصلہ ہی نام ہی تیرا غفور

تیرا کہلاتا ہون مین جیسا ہون ای رب شکور انت شافي انت کافي في مهمات الامور

. انت حسبي انت ربي انت لي نعم الوكيل.

ژباړه : كه څه هم زه ډير ګنهګار يم خو زما جرم حوصله ده او ستا نوم غفور رحيم دی اې شكور ربه ! هر څوک چې يم خو ستا بللی يم (يعني ستا لوري ته مي نسبت کيږي) ته شفا وركونكي يې او ته زما د مهمو كارونو كفايت كونكي يی ته مالره بس يی ته زما رب يې او ته زما ښه وكيل يې يعني كار سازيې.

ليكونكي : مولانا محمد زكريا كاندهلوي مقيم مظاهر العلوم سهارنپو (وارد نظام الدين دهلوي) دليكلو نيټه ١٣٤٩ -رمضان- ٢٧

ژباړونكي : مولوي عبدالهادي (حماد) مقيم جامعه اسلاميه اشرفيه اوله ناحيه كندهار افغانستان

نيټه : ١٥\١٠\١٣٨٦ ه ش چه د ٢٧\١٢\١٤٢٨ ه ق سره سمون خوري .

بسم الله الرحمن الرحيم

دمسلمانانو دوروسته
پاتي والي يوازنی علاج

مرتب

مولانا محمد احتشام الحسن نور الله مرقده

ژباړونکی :

مولوي عبدالهادي (حماد)

د حقيقت څرنګدتيا

نحمده و نصلي علي رسوله الكريم.

د څه وخت راپه دې خوا زما د استاذ، مشر، زبدة الفضلاء او مقتدا عالم حضرت مولانا محمد الياس رحمة الله عليه په برکت د تبليغ کار شروع دئ، چې د امت د عالمانو، بزرګانو برکت او پوره پاملرنه ورسره وه پوهان خلک ښه په خبر دي ما ګنهګار بنده ته د دې پاکو هستيو امر وسو، چې د تبليغ په اړه يو څه وليکم تر څو په تبليغ کولو کي اساني رامنځته سي او ګټور تمام سي.

د دغه مخورو استادانو د امر په منلو يو څو کرښي ليکم، چې د دې لويو علماوو د علومو د درياب څخه يو څاڅکى دئ او د محمدي دين د باغچې څخه يو څو غونچې دي، چي په ډېره چابکۍ سره يو ځاى سوي دي که چيري څه غلطۍ يا کمى پکښې ښکاره سي نو زما د قلم غلطي او د بې علمۍ نتيجه ده. د مهربانۍ له مخي يې اصلاح کړئ د احسان سبب به سي. الله جل جلاله دي پخپل فضل او کرم سره زما پر ګناهونو پرده واچوي. ما او تاسو ته دي الله جل جلاله د دې پاکو هستيو د نېکو عملونو کړنلاره را نصيب کړي. الله جل جلاله دي موږ د خپلي رضا، د خپل دين د خپرولو او د خپل رښتيني رسول صلى الله عليه وسلم د اطاعت په دولت و نازوي. آمين

د بزرګانو د پښو خاوري

محمد احتشام الحسن، مدرسة کاشف العلوم

بستي حضرت نظام الدين اولياء دهلي – ۱۸/ربيع الثاني/۱۳۵۸ هـ ق

د پيل خبري

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام علي سيد الاولين والاخرين خاتم الانبيآء والمرسلين محمد وآله واصحابه الطيبين الطاهرين .

د نن څخه د يارلس سوه کاله وړاندي کله چي دنيا د کفر، جهالت، ناپوهۍ او ګمراهۍ په تيارو کي ډوبه وه د مکې مکرمې پر کاڼو او غرونو باندي د رشد او لارښووني سپوږمۍ راښکاره سوه. تر مشرقه، مغربه، جنوبه، شماله او د دنيا تر هر کونجه پوري يې خپله رڼا ورسوله تر درويشتو کالو په کمه موده کي يې انسان و هغه لوړي مرتبې ته ورساوه چي په

تاریخ کي یې د مثال ورکولو څخه انسان عاجزه دئ او د رشد، صلاح، هدایت او کامیابۍ هغه مثال یې و مسلمانانو ته په لاس وزکړ، چي په رڼا کي یې تل د ترقۍ او ودي لاري پیدا کېږي او تر سوونو کالو پوري یې پر دنیا باندي داسي حکومت وکړ، چي په دنیا کي هر چا ډغري ورسره وهلي دي ذره ذره سوي دي.

دا یو حقیقت دئ انکار نه سي ځني کېدلای خو دومره باید ووایم چي دغه پخوانۍ قصې نه څه ګټه لري او نه څه تسلي په راتلای سي خو د اوسنۍ زمانې حالات او کوم څه چي تېرېږي دا موږ خپله د تېرو مشرانو او بزرګانو پر ژوند باندي یو بد داغ لګولی دئ. د مسلمانانو ژوند چي په تېرو دیارلسو سوو کالو کي په تاریخ کي وکتل سي نو داسي معلومېږي چي موږ د عزت، دبدبې، شان او شوکت مالکان او اجاره داران یو او که د هغه تاریخ څخه نظر واړول سي نو موجوده حالات ښیي، چي موږ په ډېر ذلت، خوارۍ، افلاس او کمزورۍ کي نغښتي یو. نه زور او دولت سته، نه زر او دولت سته، نه شان او شوکت سته، نه پخپلو منځو کي مینه او محبت سته، نه ښه اخلاق او نه ښه عادتونه، هره بدي په موږ کي موجوده ده او هره نېکي زموږ څخه په میلونو لیري ده. دښمنان زموږ په دې بد حال خوشحاله دي او هر ځای زموږ کمزورۍ بیانوي پر موږ باندي خاندي، پر موږ ټوکي کوي په دې بسنه نه کوي بلکي زموږ د زړه ټوټې پر نوي ماډرن کلتور مین ځوانان په اسلام او اصولو پسخند وهي. پر هره خبره یې اعتراض کوي او دا پاک دین لغوه او بېکاره بولي. عقل حیران دئ چي کوم قوم چي د دنیا تنده مړه کړې وه نن ولي هغه تږي دئ؟ کوم قوم چي دنیا ته تمدن، تهذیب او ښکلا وربخښلې وه نن ولي هغه غیر مهذب او د تمدن څخه لیري دئ؟ د قوم رهنمایانو او مشرانو ډېر پخوا لا زموږ د دې بد حالت پېش بیني کړې وه او په مختلفو طریقو یې زموږ د اصلاح کوښښ کړی و.

مرض بڑھتا گیا جوں جوں دوا کی

ژباړه: ناروغي زیاتېږي هر څومره چي دوا خوري. نن تر بد لا بد حالت دئ او راتلونکی به د تېر په پرتله زیات د خطرونو ډک وي نو زموږ پټه خوله کښېنستل دومره لوی جرم دئ، چي بدله یې بیا په هیڅ شی نه سي پوره کېدلای. خو مخکي تر دې چي موږ عملي قدم پورته کړو په کار ده چي لومړی موږ پر هغه شیانو وږغېږو چي له وجې یې موږ د داسي خوارۍ او ذلت سره مخ سوي یو او په دې عذاب کي ښکیل یو. زموږ د دې وروسته پاته والي زیات لاملونه سته، چي د مخ نیولو لپاره یې یو شمېر تدابیر نیول سوي دي هر تدبیر چي په کار اچول سوی دئ ناکامه او ناموافقه سوی دئ په همدې وجه زموږ مشران او رهبران په امید او وېره کي پراته ښکاري. اصلي خبره دا ده چي تر اوسه پوري زموږ مرض معلوم سوی نه دئ،

کوم څه چي بیان سوي دي هغه زموږ مرض نه دئ بلکي زموږ د مرض نښانې دي تر کومه وخته پوري چي اصل مرض ته توجه ونه سي او پیدا نه سي نو د نښانو اصلاح شونې نه ده او تر کومه وخته پوري چي موږ د اصلي مرض اصلاح ونه کړو او معلوم یې نه کړو نو موږ ته د اصلاح لپاره خوله خلاصول سخته غلطي ده. زموږ دغه دعوه چي شریعت یو مکمل الهي قانون دئ، چي زموږ د دنیا او آخرت د کامیابۍ ضامن دئ. بیا نو هیڅ اړتیا نسته چي موږ د خپل مرض معلومول پیل کړو او علاج یې شروع کړو بلکي موږ ته په کار ده چي په قرآن کي خپل اصلي مرض پیدا کړو او هم د دې مرکز څخه د رشد او هدایت علاج پیدا کړو او څنګه چي قرآنکریم زموږ لپاره تر قیامته پوري قانون دئ نو بیا موږ ته هیڅ دلیل نسته چي موږ په دې قرآن عمل نیمګړی کړو. د مځکو او اسمانو لوی پاچا پخپله وعده کړې ده، چي د مځکي پاچهي او خلافت د مومنانو دی:

وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ[1]

ژباړه: الله ﷻ وعده کړې ده، چي په تاسو کي کوم څوک چي مؤمنان دي او نېک عملونه کوي زه به د مځکي خلافت ورکوم چي مومنان تل پر کافرانو باندي غالب وي او د کافرانو به هیڅوک مرسته کوونکي نه وي.

او دایې هم تسلي ورکړې ده چي تل به مسلمانان پر کافرانو باندي برلاسي وي او د کافرانو به هیڅوک مرسته کونکي نه وي:

وَلَوۡ قَٰتَلَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوَلَّوُاْ ٱلۡأَدۡبَٰرَ ثُمَّ لَا يَجِدُونَ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ﴿٢٢﴾[2]

ژباړه : که چیري دغه کافران ستاسو سره جنګېدلي وای نو خامخا به پر شا تللي وای بیا د دوی هیڅ دوست او مرسته کوونکی نه وي.

د مومنانو تل الله ﷻ مرسته کوي او دوی به تل سر لوړي وي.

وَكَانَ حَقًّا عَلَيۡنَا نَصۡرُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٤٧﴾[3]

ژباړه: د مومنانو مرسته پر موږ باندي حق دئ.

وَلَا تَهِنُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَنتُمُ ٱلۡأَعۡلَوۡنَ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿١٣٩﴾[4]

ژباړه: تاسو همت د لاسه مه ورکوئ تاسو غم مه کوئ تاسو به غالب یاست که پوره مومنان واست.

---

[1] سورة النور الاية (۵۵).
[2] سورة الفتح الاية (۲۲).
[3] سورة الروم الاية (۴۷).
[4] سورة ال عمران الاية (۱۳۹).

وَلِلَّهِ ٱلْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِۦ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَٰكِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٨﴾	ژباړه: الله ﷻ لره عزت او الله ﷻ رسول او مؤمنانو لره (عزت دئ) مګر منافقان نه پوهېږي.

د پورتنيو آياتو څخه تر غور وروسته معلومېږي چي د مؤمنانو سر لوړي، شان او شوکت، کاميابي او ترقي د دوی د ايمان د صفت سره تړلې ده. که چيري د ده اړيکي د الله ﷻ او د رسول الله ﷺ سره ټينګي وي.

(کوم چي د ايمان مقصود دئ) نو کاميابي به د ده په برخه وي او که خدای مه کړه د ده رابطه د الله ﷻ او د رسول الله ﷻ سره کمزورې سي نو خواري او ذلت به د ده په برخه وي لکه چي په سترګو ليدل کېږي.

وَٱلْعَصْرِ ﴿١﴾ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَفِى خُسْرٍ ﴿٢﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَتَوَاصَوْا۟ بِٱلْحَقِّ وَتَوَاصَوْا۟ بِٱلصَّبْرِ ﴿٣﴾	ژباړه: قسم په زمانه چي انسان په تاوان کي دئ، مګر نه هغه څوک چي ايمان يې راوړی وي. نېک عملونه يې کړي وي، توصيه په حق او صبر سره کوي (دغه کسان د تاوان څخه خلاص دي).

زموږ پخواني مشران په نهايي عزت کي وه او موږ په نهايي ذلت او خواري کي يو، د دې څخه معلومېږي چي هغوی د کامل ايمان څخه برخمن وه او موږ د دې صفت څخه بې برخي يو لکه څرنګه چي د الله ﷻ رښتيني پيغمبر خبر ورکړی دئ:

سيأتي علي الناس زمان لايبقى من الاسلام الااسمه ولامن القران الارسمه[(۵)].	ژباړه : ژر دئ چي داسي وخت به راسي چي د اسلام به يوازي نوم پاته وي او د قرآن به يوازي نقشونه پاته وي.

اوس خبره داده که چيري په واقعي ډول موږ د حقيقي اسلام څخه بې برخي يو کوم چي د الله ﷻ او د ده د رسول ﷺ مقصود دئ او په دې دين پوري زموږ د دنيا او آخرت کاميابي تړلې هم ده نو بله کومه ذريعه ده چي په مټ يې موږ بيرته د دې نعمت څخه برخمن سو؟ او هغه کوم اسباب دي چي په وجه يې زموږ څخه د اسلام روح وتلی دئ او يوازي خالي بدن راپاته دئ. کله چي قرآن تلاوت سي او د محمدي امت د فضيلت وجه ولټول سي نو معلومېږي چي دې امت ته يو لوی او اعلی کار سپارل سوی دئ، چي د هغه په وجه د خير الامم (يعني غوره د امتو) خطاب ورته سوی دئ، د دنيا د پيدا کېدو څخه لوی مقصد د الله ﷻ وحده لا شريک له د ذات او صفاتو پېژندنه ده او دا تر هغه وخته پوري ناممکنه ده

---

(۵) مشکوة.

چي انسان د بديو او چټلتياوو څخه نه وی پاک سوی او په نېکو او سپېڅلو صفتونو ښايسته سوی نه وي د دغي خبري لپاره په زرونو انبياء او رسولان راغلي دي او په آخر کي سيد المرسلين حضرت محمد ﷺ راولېږل سو او بيا د ألیوم اکملت لکم دينکم واتممت عليکم نعمتي زيري ورکړل سو. اوس نو ځرنګه چي دين پوره سو مکمل مقصد لاسته راغلی او پوره دين د عمل لپاره ورکړل سو نو په همدې وجه د نبوت سلسله ختمه سوه، کوم کار چي به انبياوو او رسولانو کاوه په پوره ډول محمدي امت ته وسپارل سو.

كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ (٦)

ژباړه: اې محمدي امته! تاسو غوره د امتونو ياست د خلکو د ګټې لپاره لېږل سوي ياست تاسو په نېکۍ سره امر کوئ او له بدو څخه خلک منع کوئ او په الله ﷻ باندي ايمان لرئ.

وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿١٠٤﴾

ژباړه: په تاسو کي يوه داسي ډله پکاره ده، چي خلک د خير و لوري ته راوبولي او د بدو څخه يې منع کوي او يوازي دغه خلک کامياب دي. په لومړي آيات کي د خير الامم وجه دا وښودل سوه، چي تاسو په نېکۍ سره امر کوي او د بدو څخه منع کوئ

په دوهم آيات کي په خصوصي ډول وښودل سوه، چي يوازي هغه کسان کامياب دي چي دغه کار کوي پر دې باندي بس نه ده بلکي بل ځای په ښکاره دغه کار نه کول د لعنت او ملامتيا سبب ښودل سوي دي.

لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَىٰ لِسَانِ دَاوُودَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا وَّكَانُوا يَعْتَدُونَ ﴿٧٨﴾ كَانُوا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَن مُّنكَرٍ فَعَلُوهُ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴿٧٩﴾

ژباړه: په بني اسرائيلو کي چي کوم خلک کافران وو پر هغوی باندي لعنت کړل سوی دئ پر ژبه د عيسی عليه السلام او داود عليه السلام دا لعنت په دې وجه وسو، چي دوی د هغوی د حکم څخه مخالفت وکړ او د حده ووتل کوم بد کار چي به دوی کاوه د هغه څخه يې نه منع کول بېشکه د دوی دغه کار بد و.

د دغه وروستي آيات وضاحت په لاندي حديثونو کي کېږي.

---

(٦) سورة ال عمران الاية (١١٠).

١ : وفي السنن والمسند من
حديث عبدالله بن مسعود رضي الله عنه
قال قال رسول الله ﷺ ان من
كان قبلكم كان اذ عمل العامل
فيهم بالخطيئة جآئه الناهي تعزيرا
فقال يا هذا اتق الله فاذا كان من
الغد جالسه واكله وشاربه كانه لم
يره على خطيئة بالامس فلما راي
عز وجل ذالک منهم ضرب قلوب
بعضهم على بعض ثم لعنهم على
لسان نبيهم داؤد و عيسى بن مريم
ذالک بما عصوا وكانو يعتدون
والذي نفس محمد بيده لتأمرن
بالمعروف ولتنهون عن المنكر
ولَتاْخذن على يدالسفيه ولتاطرن
على الحق اطرا اوليضر بن الله
قلوب بعضكم على بعض ثم يلعنكم
كما لعنهم.

ژباړه: د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله وفرمايل: ستاسو څخه مخکي امتونه داسي وه چي چا به ګناه وکړه نو منع کوونکی به هغه وېراوه او ورته ويل به يې چي د الله ﷻ څخه وويرېږه دا کار مه کوه کله چي به سبا سو نو د هغه سره به يې ناسته ولاړه کول، خوراک او څښاک به يې ورسره کاوه په دې ډول چي ګويا ده بېخي هغه سړی پر ګناه باندي نه دئ ليدلی. کله چي الله ﷻ د دوی دا کارونه وليدل الله ﷻ د دوی زړونه يو د بل سره ګډ کړل او د داود عليه السلام او عيسی عليه السلام په ژبه پر دوی باندي لعنت وويل سو دا په دې وجه چي دوی د الله ﷻ نافرماني کوله او تر حد يې تېری کاوه. زما دي قسم په هغه ذات وي چي د محمد ﷺ روح يې په قدرت کي دئ په ښو کارونو امر کوئ او د بد کارو څخه منع کوئ او بې علمه تر لاس نيسئ په حقه خبره يې مجبور کړئ که نه نو الله ﷻ به ستاسو زړونه سره ګډ کړي او لعنت به درباندي ووايي لکه پر تېرو امتونو چي لعنت وويل سو.

٢ : و في سنن ابي داود و
ابن ماجة عن جابر بن عبدالله قال
سمعت رسول الله ﷺ يقول مامن
رجل يكون في قوم يعمل فيهم
بالمعاصي يقدرون على ان يغيروا
عليه ولا يغيرون الا اصابهم الله
بعقاب قبل ان يموتوا.

ژباړه: د جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ، چي رسول ﷺ و فرمايل: په يو قوم کي چي يو سړی ګناوي کوي او هغه قوم يې د توان سره منع نه کړي نو تر مرګ مخکي به پر دوی باندي عذاب راسي. يعني په دنيا کي به په ډول - ډول عذابونو اخته سي.

٣ - و روي الاصبهاني عن
انس رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ قال لا
تزال لا اله الا الله تنفع من قالها
وترد عنهم العذاب والنقمة مالم

ترجمه: حضرت انس رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه روايت کړی دئ، چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کلمه طيبه ويونکي ته ګټه رسوي او د عذاب او بلا څخه يې ساتي تر څو چي د حقونو يې بې پروايي نه وي کړې.

يستخفوا بحقها قالوا يا رسول الله وما الاستخفاف بحقها قال يظهر العمل بمعاصي الله فلا ينكر ولا يغيروا [۷].

اصحابو کرامو پوښتنه وکړه چي د کلمې طیبې د حقونو بي پروایي څه شي ده؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: چي د الله جل جلاله نافرماني په ښکاره ډول کېږي بیا د دغه کار څخه انکار نه کېږي او نه یې د منع کولو لپاره کوښښ کېږي.

٤ : عن عائشة رضي الله عنها قالت دخل على النبي عليه السلام فعرفت في وجهه ان قد حضره شيئ فتوضاء وما كلم احدا فلصقت بالحجرة استمع ما يقول فقعد على المنبر فحمدالله واثنى عليه وقال يا ايهاالناس ان الله تعالى يقول لكم مروا بالمعروف وانهوا عن المنكر قبل ان تدعوا فلا اجيب لكم وتسئلوني فلااعطيكم وتستنصروني فلا انصركم فمازاد عليهن حتى نزل.

ژباړه: حضرت عائشة رضي الله عنها فرمایي، چي: رسول الله ﷺ زما کره تشریف راوړی ماییې په مخ کي یو خاص اثر ولیدی پوه سوم چي یوه خبره خامخا سته د هیچا سره یې خبري نه وکړې اودس یې تازه کړ، مسجد ته ولاړی زه د مسجد دیوال ته نژدې ودرېدم چي رسول الله ﷺ څه فرمایي هغه واورم. رسول الله ﷺ و منبر ته وختی د الله جل جلاله حمد او ثنا یې وویله بیا یې و فرمایل: اې خلکو! الله جل جلاله تاسو ته امر کوي چي په نېکیو سره امر وکړئ او د بدو څخه خلک منع کړئ داسي نه چي داسي وخت راسي تاسو به دعا غواړئ زه به یې قبلوم، تاسو به زما څخه غوښتنه کوئ زه به یې نه درکوم زما څخه به کومک غواړئ زه به ستاسو مرسته نه کوم. نبي علیه السلام دغه الفاظ وویل او د منبر څخه راکښته سو.

٥ : عن ابي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ اذا عظمت امتي الدنيا نزعت منهاهيبة الاسلام واذا تركت الامر بالمعروف والنهي عن المنكر حرمت بركة الوحي واذاتسابت امتي سقطت من عين الله [۸].

ژباړه: ابو هریرة رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چي زما امت ته دنیا د عزت او درنښت وړ سوه نو د دوی د زړونو څخه به د اسلام عزت او هیبت ووزي او که یې امر بالمعروف او نهي عن المنکر پرېښودی د وحیو د برکت څخه به محرومه سي او که یې پخپلو منځو کي یو دبله ښکنځل کول پیل کړه دالله جل جلاله د (رحمت) د نظر څخه به وغورځول سي.

په پورتنیو حدیثونو کي د فکر کولو څخه وروسته معلومېږي چي امر بالمعروف او نهي عن المنکر پرېښودل د الله جل جلاله د لعنت او غضب سبب جوړېږي.

---

[۷] ترغیب.

[۸] كذا في الدر عن الحكيم الترمذي.

کله چې محمدي امت دا کار پرېږدي نو د سختو تکلیفونو، غمونو او خواریو سره به مخ سي او د هر ډول غیبي مرستې څخه به بې برخې سي دا ټول هغه وخت رامنځته کېږي چې محمدي امت خپله فریضه پرېږدي او د خپلې ذمه وارۍ څخه غافله سي. همدا وجه ده چې نبي ﷺ امر بالمعروف او نهي عن المنکر د ایمان خاصیت او لازمي برخه یې ګرځولې ده او پرېښودل یې د ایمان کمزوري او ضعف ښودلی دئ. د ابو سعید خدري رضي الله عنه روایت دئ:

من رَاي منكم منكرا فليغيره بيده فان لم يستطع فبلسانه فان لم يستطع فقلبه وذالک اضعف الايمان [٩].

ژباړه: که په تاسو کې څوک بدي وویني نو په لاس دې یې منع کړي که یې په توان نه وه نو په خوله دې یې منع کړي او که یې دا هم په توان نه وه په زړه دې یې منع کړي (یعني په زړه کې دې نفرت ځني وکړي).

دا د ایمان کمزورې درجه ده. نو څرنګه چې په زړه کې بد ځني وړل د ایمان کمزورې درجه ده نو اوله یې تر ټولو کامله او لوړه درجه ده. خو تر دې روښانه د ابن مسعود رضي الله عنه روایت دئ:

ما من نبي بعثه الله قبلي الا كان له في امته حواريون واصحاب يَاخذون بسنته ويقتدون بامره ثم انها تخلف من بعدهم خلوف يقولون مالا يفعلون ويفعلون مالايامرون فمن جاهدهم بيده فهومؤمن ومن جاهدهم بلسانه فهو مؤمن ومن جاهدهم بقلبه فهو مؤمن وليس وراء ذالک من الايمان حبة خردل [١٠].

ژباړه: هر نبي چې مخکې تېر سوی دی خامخا به یې یوه ډله د تربیه سوو ملګرو څخه درلوده چې دوی به د نبي سنت برپایه کول او پر[illegible] بعداري به یې کول الهي دین چې په کومه بڼه او ډول پیغمبر پرې ایښی و په هغه ډول به یې محفوظ ساتی، یوه ذره تغیر به یې نه پکښې راوستی خو تر دې وروسته چې د شر او فساد وخت راسي داسي خلګ به پیدا سي چې هغه څه به وایي چې خپله عمل نه په کوي. کارونه به یې داسي وي چې شریعت اجازه نه وي ورکړې نو د داسي خلګو پر خلاف د سنت او حق قائمولو په موخه د لاس څخه کار واخلي مومن دئ او که چا د لاس څخه کار وانه خستی د ژبې څخه کار واخلي مومن دئ او که یې دا هم نه وکړه بلکې نیت او عقیده یې د داسي خلګو پر خلاف راوستل مومن دئ، مګر دا د ایمان آخره درجه ده د ایمان حد پر دغه ځای خلاصېږي که چا دا هم نه وکړل نو په زړه کې یې د خرماخستکي د منځ د پردې په څېر ایمان نسته.

د پورتني کار د اهمیت په موخه امام غزالي رحمه الله داسي فرمايي: په دې کې هیڅ شک نسته چې امر بالمعروف او نهي عن المنکر د ایمان داسي مضبوط رکن دئ چې د دین ټوله

---

(٩) مسلم.

(١٠) مسلم.

شيان ورسره تړلي دي د دغه کار د کولو لپاره الله ﷻ ټوله انبيآء رالېږلي دي او که يې علم او عمل پرېښودل سي نو العياذ بالله د نبوت بې کاره کېدل به لازم سي. ديناري چي انساني شرافت دئ کمزورې به سي. سستي به عامه سي د ګمراهۍ او ضلالت لاري به خلاصي سي، جهالت به په ټوله دنيا کي خپور سي، په ټولو کارونو کي به خرابوالى راسي. په خپلو منځو کي به بې اتفاقي او بدنيتي خپره سي، ابادۍ به وراني سي، مخلوق به تباه او برباد سي، د دې بربادۍ او تباهۍ درک به هغه وخت معلوم سي چي کله خلګ د الله ﷻ په وړاندي ودرول سي او پوښتنه ځني وسي.

افسوس سل ځلي افسوس کومه خطره چي وه هغه راغله کومو سترګو وېره وليده؟

كان امر الله قدرا مقدورا فانا لله وانا اليه راجعون.

د دغه شنې ستني نښانې له منځه تللي دي د حقيقت او د سمونو برکتونه له منځه تللي دي. د خلګو پر زړونو د سپکوالي او ذلالت مهرونه ولګېدل د الله ﷻ سره د زړه اړيکي له منځه ولاړې د نفسي خواهشاتو تابعداري د ځناورو په څېر روانه ده. د مځکي پر مخ داسي مؤمن پيدا کول ګران دي، لږ والي يې څه کوې بيخي نسته چي د حق د ښکاره کولو په موخه دې د چا ملامتيا وزغمي، که يو غښتلى مؤمن ليڅي راونغاړي د تباهۍ د ليري کولو لپاره اراده وکړي، د سنت د ژوندي کولو لپاره ميدان راسي نو يقينا دغه کس په ټول مخلوق کي يو امتيازي حيثيت لري او د ښکاره هستۍ مالک دئ. امام غزالي رحمه الله چي په کومو الفاظو د دغه کار اهميت موږ ته بيان کړى دئ زموږ د بيدارېدو لپاره بسنه کوي.

لومړۍ وجه دا ده چي موږ پورتنۍ فريضه يوازي په علماوو پوري خاص کړېده او حال دا چي په قرآن کريم کي د الله ﷻ امر و ټولو ته دئ د محمدي امت هر وګړى پکښې شامل دئ ځکه د دې د سپيناوي لپاره د اصحابو کرامو او خيرالقرون ژوند ښکاره شاهد دئ.

د تبليغ، امر بالمعروف او نهي عن المنکر په علماوو پوري خاص کول او د دوى په ډاډه سره بې غمه کېدل زموږ لويه ناپوهي ده. د عالمانو مسئوليت دا دئ چي سيده او حقه لاره وښيي بيا نو عمل په کول او نور پر روانول دا د نورو کار دئ، دغه خبره د رسول ﷺ په حديث کي بيان سوېده:

الا كلكم راع وكلكم مسئول عن رعيته فالامير الذي على الناس راع عليهم وهومسئول عنهم والرجل راع على اهل بيته وهو مسئول عنهم والمراة راعية على بيت بعلها وولده وهي مسئولة عنهم والعبد راع على

ژباړه: بېشکه تاسو ټول ساتونکي ياست د هر چا څخه به د خپل رعيت پوښتنه کېږي نو پاچا د خلګو ساتونکى دئ د خلګو پوښتنه به ځني کېږي. سړى د خپلي کورنۍ ساتونکى دئ د خپل کور پوښتنه به ځني کېږي او ښځه د خپل خاوند د کور او اولادو ساتونکې ده په دغه باره کي به پوښتنه ځني کېږي او تاسو ټوله

مال سیده وهو مسئول عنه فکلم راع وکلکم مسئول عن رعیته[۱۱]. | ساتونکي یاست د هر چا څخه د خپل رعیت په اړه پوښتنه کېږي.

قال الدین النصیحة قلنا لمن؟ قال لله ولرسوله ولائمة المسلمین وعامتهم[۱۲]. | ژباړه: رسول ﷺ وفرمایل: دین سراسر نصیحت دئ (اصحاب ﷺ وایي) موږ ورته وویل د چا لپاره؟ رسول ﷺ وفرمایل: د الله ﷻ، رسول ﷺ، د مسلمانانو امیرانو او د ټولو مسلمانانو لپاره.

که فرض کړو چي دا کار یوازې د علماوو لپاره دئ نو اوس خو اړتیا ده وخت د دې غوښتنه کوي چي ټوله د دې کار لپاره ملا وتړي او وخت پکښې ولګوي.

دوهمه وجه دا ده چي موږ داسي فکر کوو چي خپله به ایمانونه ټینګ کړو د نورو ګمراهي موږ ته هیڅ تاوان نه رسوي لکه چي د دې آیات څخه معلومېږي.

یَـٰٓأَیُّهَا ٱلَّذِینَ ءَامَنُوا۟ عَلَیۡكُمۡ أَنفُسَكُمۡۖ لَا یَضُرُّكُم مَّن ضَلَّ إِذَا ٱهۡتَدَیۡتُمۡۚ[۱۳] | ژباړه: اې ایمان والاوو! کله چي تاسو پر لار روان یاست نو د نورو ګمراهي تاسو ته هیڅ تاوان نه رسوي[۱۴].

په حقیقت کي د پورتني آیات څخه مطلب دا نه دئ لکه په ښکاره چي معلومېږي ځکه دغه معنی د الهي حکمت او دیني غوښتني څخه بیخي خلاف ده ځکه اسلامي ملت ټول د یو بدن مثال لري که د بدن پر یوه غړي باندي درد سي نو ټوله بدن ورسره نارامه وي د دې څخه اصلي مطلب دا دئ چي دین چي هر څومره کمال ته ورسېږي بیا به هم ځیني خلک وي چي سیده او حق لاره به پرېږدي ګمراهي به غوره کوي په پورتني آیات کریمه کي الله ﷻ و مومنانو ته تسلی ورکوي چي که خپله پر صحیح لاره باندي ودرېږي نو د دوی د ګمراهي څخه و تاسو ته د تاوان وېره نسته.

همدا ډول اصل شریعت دا دئ چي سړی د دین ټوله احکام ومني او عمل په وکړي نو د دین د احکامو څخه خو یو دا هم دئ چي سړی به امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوي. د دغه وینا تائید د ابو بکر ﷺ په لاندي حدیث سره کېږي:

عن ابي بکر الصدیق ﷺ قال ایهاالناس انکم تقرؤن هذه الایة یَـٰٓأَیُّهَا | ژباړه: ابوبکر ﷺ وفرمایل: اې خلکو! تاسو دا آیات وړاندي کوئ چي الله ﷻ فرمایي:

---

[۱۱] بخاري و مسلم

[۱۲] مسلم

[۱۳] سورة المائدة الایة (۱۰۵)

[۱۴] بیان القران

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ عَلَيۡكُمۡ أَنفُسَكُمۡۖ لَا يَضُرُّكُم مَّن ضَلَّ إِذَا ٱهۡتَدَيۡتُمۡۚ فاني سمعت رسول الله يقول ان الناس اذارأو المنكر فلم يغيروه اوشک ان يعمهم الله بعقابه.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ... (الاية) حال دا چې ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي، چې څوک يو ناروا کار ويني او منع يې نه کړي نو نژدې دئ چې الله جَلَّ جَلَالُهُ به يې په عمومي عذاب کې گرفتار کي

څېړونکو علماوو د پورتني آيات همدا معنی مراد کړېده.امام نووي رحمه الله د مسلم شريف په شرحه کې ليکلي: د تحقيق کوونکو علماوو مذهب د پورتني آيات کريمه په اړه داسې دئ، چې کله تاسو يو نېک کار وکړئ، نو د نورو نه کول يا گمراهي تاسو ته کوم تاوان نه سي رسولای لکه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي: ولاتزر وازرة وزراخرى.

نو کله چې داسې ده نو د کومو شيانو چې امر ورکړل سوی دئ هغه ټول امر بالمعروف او نهي عن المنكر دئ نو چا چې دا امر برپايه کړی يعني په ښو کارونو يې امر وکړ او د بدو کارو څخه يې منع وکړه نو ده خپله ذمه واري او وجيبه پوره کړه نور نو پر ده ملامتيا او الزام د هغوئ نه عمل کول او گناه کول ده ته تاوان نه رسوي (والله اعلم).

دريمه وجه دا ده چې ټول خلک يعني عوام، خاص، عالم، جاهل او هر سړی نااميده سوي دي چې نور نو د دين ترقي نه سي راتلای دا يې يقين دئ، چې دا کار گران دئ د چا په مخ کې چې د اصلاح نظام وړاندې سي نو دی په جواب کې ورته وايي چې اوس خو نه حکومت او نه سلطنت سته، نه د متو زور سته، نه مال او سامان سته، نه د جنگ وسايل سته، نه مرکزي حيثيت سته او نه اتفاق او اتحاد سته. ديندار خلک خو وايي چې اوس څوارلسمه صدۍ ده د رسالت د رڼا کمه سوې ده اوس نو د اسلام زوال يو لازمي شی دئ. دا خبره صحيح ده چې څومره د نبوت د رڼا څخه ليري والی راځي د حقيقي اسلام شغلې به کمېږي خو د دې هيڅکله دا مطلب نه دئ، چې د دين د حفاظت او ساتني لپاره به کوښښ او محنت نه کېږي، ځکه که چيري داسې وي او زموږ مشرانو هم داسې فکر کړی وي نو تر موږه پوري به د اسلام د رارسېدو هيڅ لاره نه وای البته زمانه چې ناموافقه ده نو د ټولني کړو وړو ته دي وکتل سي څنگه چې ښايي په هغه ډول دي په زيات همت او استقلال سره کار اخيستل پيل سي. د حيرانتيا خبره دا ده چې د کوم دين بنسټ چې سراسر پر قرباني او عمل باندې ايښودل سوی و، نن د هغه دين منونکي سراسر د عمل څخه خالي دي حال دا چې په قرآن کريم کې ځای پر ځای د عمل سبق ښودل سوی دئ او تاسو يې هم لولي. يو عبادت کوونکی چې ټوله شپه عبادت کوي د ورځې روژه نيسي او ټول وخت د الله، الله ذکر کوي د غه سړی هيڅ د هغه

چا سره نه سي برابرېدلای چي هغه د اصلاح او هدايت لپاره بې ارامه وي. قرآن کريم ځای پر ځای د جهاد في سبيل الله تاکيد فرمايلی دئ او د مجاهد فضيلت يې بيان کړی دئ:

لَّا يَسۡتَوِي ٱلۡقَٰعِدُونَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ غَيۡرُ أُوْلِي ٱلضَّرَرِ وَٱلۡمُجَٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡۚ فَضَّلَ ٱللَّهُ ٱلۡمُجَٰهِدِينَ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ عَلَى ٱلۡقَٰعِدِينَ دَرَجَةٗۚ وَكُلّٗا وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ وَفَضَّلَ ٱللَّهُ ٱلۡمُجَٰهِدِينَ عَلَى ٱلۡقَٰعِدِينَ أَجۡرًا عَظِيمٗا ﴿٩٥﴾ دَرَجَٰتٖ مِّنۡهُ وَمَغۡفِرَةٗ وَرَحۡمَةٗۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمًا ﴿٩٦﴾ (۱۵)

ژباړه: هغه کسان چي بېله عذره کور ناست دي د عذر پرته (جهاد نه کوي) د هغه کسانو سره برابر نه دي چي په مال او ځان سره جهاد کوي. کوم کسان چي په مال او ځان سره جهاد کوي د هغه کسانو په پرتله يې فضيلت زيات دئ، چي کور ناست دي. د ټولو سره الله ﷻ د نيکۍ وعده کړېده. الله ﷻ د مجاهدينو ته پر ناستو خلګو باندي فضيلت په لوی اجر سره ورکړی دئ يعني لويي درجې د الله ﷻ د لوري څخه مغفرت او رحمت ورکړل سوی دئ الله ﷻ زيات بخښونکی او زيات مهربانه دئ.

که څه هم د جهاد مقصد د کفارو او مشرکينو و مخ ته ټينګ درېدل دي او : اسلام لوړوالی دئ خو له بده مرغه موږ د دې لوړ او خوندور نعمت څخه بې برخي سوي يو. نو تر خپله وسه خو راته په کار ده چي د اسلام لپاره په هر ډول چي کېږي کوښښ او زيار وباسو آخر به زموږ دا لږلږ هڅي موږ مخ ته ورسوي.

والذين جاهدوا فينا لنهدينهم سبلنا!

ژباړه: کوم خلګ چي زموږ د دين په لاره کي کوښښ کوي موږ د هغوی لپاره خپلي لاري پرانيزو.

په دې کي هيڅ شک نسته چي الله ﷻ د خپل دين د ساتلو او حفاظت لپاره وعده کړېده خو زموږ لپاره د دې دين د ودې او ترقۍ لپاره هڅي لازمي دي، اصحابو کرامو چي د دين لپاره څومره کوښښونه وکړه عملي ګټې يې وليدې او د غيبي مرستو څخه برخمن سوه چي موږ يې نو مونه تر اوسه پوري اخلو او مثال پرې وايو.

که چيري موږ د دوی پر لاره باندي ولاړ سو او د کلمې طيبې د لوړوالي او ترقۍ لپاره ملا وتړو نو يقيناً به زموږ د غيبو څخه مرسته وسي او سرلوړي به سو، ځکه الله ﷻ فرمايي:

---

(۱۵) سورة النساء الايتان (۹۵ ، ۹۶)

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ يَنصُرۡكُمۡ وَيُثَبِّتۡ أَقۡدَامَكُمۡ ﴿٧﴾ (۱۶)

ژباړه: که تاسو د الله ﷻ مرسته وکړئ الله ﷻ به ستاسو مرسته وکړي او ستاسو قدمونه به ټينګ کړي (د شيطان او کافرانو په مقابل کي).

څلورمه وجه دا ده چي موږ فکر کوو چي موږ د دې لوړي مرتبې اهل نه يو چي دا کار وکړو. نو څرنګه چي موږ د دې کار اهل نه يو نو بيا په کومه خوله موږ دا کار شروع کړو داسي نه ده، ځکه چي موږ ته الله ﷻ امر کړی دئ، موږ ته د پاته والي هيڅ لاره نسته موږ ته يوازي د الله ﷻ په امر سره کار شروع کول په کار دي دا به انشاء الله زموږ د استقامت او توانايي سبب سي په دغه ډول به تل اوسو، يوه ورځ به الله ﷻ سعادت را نصيب کړي او دا هيڅ کله نه سي کېدلای چي موږ دي د الله ﷻ په لاره کي کوښښ کوو او رحمان او رحيم ذات دي موږ ته نظر نه کوي ځکه په حديث کي راځي:

عن انس رضي الله عنه قال قلنا يا رسول الله! لا نامر بالمعروف حتى نعمل به كله ولا ننهى عن المنكر حتى نجتنبه كله فقال ﷺ: بل مروا بالمعروف وان لم تعملوا به كله وانهوا عن المنكر وان لم تجتنبوه كله(۱۷).

ژباړه: د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ، چي موږ رسول الله ﷺ ته وويل: يارسول الله! موږ په نېکو امر نه کوو تر څو چي موږ خپله په ټولو عمل نه وي کړی او نه د بدو څخه منعه نه کوو تر څو چي موږ د ټولو بدو څخه نه يو منعه سوي، رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو په نېکو امر کوئ که څه هم تاسو په ټولو عمل نه وي کړئ د بدو څخه منعه کوئ که څه هم د ټولو څخه تاسو ځان نه وي ساتلی.

پنځمه وجه دا ده، چي موږ داسي فکر کوو چي ځای پر ځای مدرسې سته، عالمان نصيحتونه کوي، خانقاوي ابادي دي، کتابونه او رسالې چاپېږي دا ټول د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ځانګي دي په دغه کارو سره فرض غاړي خلاصېږي.

په دې کي هيڅ شک نسته چي دغه ټولي اداري لازمي دي او توجه ورته کول د ضروري کارو څخه ده ځکه لږه او ډېره رڼا چي سته هغه هم د دغه ادارو برکت دئ، خو بيا هم زموږ لپاره يوازي دغه اداري کافي نه دي او که موږ بس والی په وکړو دا به زموږ ښکاره غلطي وي ځکه دغه اداري هغه وخت بس وي چي زموږ د دين سره مينه وای او زموږ په زړو کي د دين شوق او درنښت وای. د نن څخه پنځوس کاله مخکي زموږ په زړو کي د دين شوق موجود و په هغه وخت کي زموږ لپاره دغه اداري بس وې اوس پرديو قومونو د ډېرو کوښښونو په نتيجه کي زموږ څخه د دين جذبه وړې ده د دين سره د ميني پر ځای موږ د مذهب څخه تښتو په داسي صورت کي موږ ته يو بل تحريک په کار دئ، چي د هغه په نتيجه

---

(۱۶) سورة محمد الاية (۷).

(۱۷) رواه الطبراني في الصغير الاوسط.

کي موږ د عوامو خلګو د دين سره مينه پيدا کړو او مړه جذبات يې بېرته راژوندي کړو که داسي وسي نو موږ د پورتنيو ادارو څخه پوره ګټه اخستلای سو او که داسي نه وي نو د دې پر ځای چي موږ به ګټه ځني وانه خلو د هغه ادارو پاتېدل هم ګران دي.

شپږمه وجه دا ده چي کله موږ دا کار شروع کړو نورو ته ورځو هغوی زموږ سره په بده طريقه ويني، په سختۍ سره جواب راکوي، زموږ سپکاوی کوي او موږ بې عزته کوي نو موږ ته دا معلومول په کار دي، چي دا کار د انبياوو دئ په داسي تکليفونو او زحمتونو کي ښکېلېدل د دغه کار خصوصيت دئ انبياوو په دغه کار کي تر دې ډېر تکليفونه زغملي دي ځکه الله جل جلاله فرمايي:

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ فِي شِيَعِ ٱلۡأَوَّلِينَ ۝ وَمَا يَأۡتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ۝ (۱۸)

ژباړه: موږ په لومړنيو ډلو کي تر تا وړاندي رسولان لېږلي دي او موږ هيڅ رسول نه دئ لېږلي مګر دوی به پسخند په واهه.

رسول عليه السلام فرمايي د دعوت په لاره کي چي پر ما باندي څومره تکليفونه او زحمتونه راغلي دي بل پر هيڅ پيغمبر نه دي راغلي. څرنګه چي زموږ سردار او آقا په دې لاره کي دومره غمونه او تکليفونه زغملي موږ هم د ده تابعدار يو د ده کار راسپارل سوی دئ موږ ته هم په کار ده چي هر څومره تکليفونه وزغمو.

د پورتنيو بيانونو څخه څرګندېږي چي زموږ اصل مرض دا دئ چي په موږ کي ايماني جذبې له منځه تللي دي او اصلي مرض مو د ايمان کمزوري ده، کله چي اصلي شی له منځه ولاړ سي نو ورسره ټول صفتونه تړلي دي هغه هم له منځه ځي زموږ د ضعف او کمزورۍ اصلي لامل دا دئ چي اصلي شی مو پرې ايښي دئ هغه امر بالمعروف او نهي عن المنكر دئ. ښکاره خبره ده چي هيڅ قوم تر هغه ترقي نه سي کولای تر څو چي خلګ يې په ښو خويونو او کمالاتو ښايسته نه سي زموږ يوازنی علاج دا دئ چي موږ د تبليغ فريضه پوره کړو، ټينګ ودرېږو تر څو زموږ ايمان قوي سي او مړې جذبې مو بيرته رابيداره سي موږ الله جل جلاله او رسول صلی الله عليه وسلم وپېژنو او احکامو ته يې سر کښېته کړو د دغه کار لپاره موږ ته هغه طريقه په کار ده کومه چي سيدالانبياء حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د مشرکينو د اصلاح لپاره کارول. ځکه الله جل جلاله فرمايي:

لَّقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٞ (۱۹)

ترجمه: بې شکه ستاسو لپاره په رسول الله صلی الله عليه وسلم کي (د تابعدارۍ) ښښه نمونه ده.

---

(۱۸) سورة الحجر الايتان (۱۰ - ۱۱).

(۱۹) سورة الاحزاب الاية (۲۱).

همدغه خبري ته امام مالک رحمه الله اشاره کړېده: لن يصلح آخر هذه الامة الاما اصلح اولها!

ترجمه: هيڅکله به د دې امت وروستي خلک اصلاح نه سي تر څو چي هغه طريقه يې نه وي مختاره کړې کومه چي په لومړيو کي اصلاح سوې ده.

کوم وخت چي رسول الله ﷺ د حق دعوت لپاره ودرېدی هيڅوک يې ملګری نه وو او نه يې فکر کېدی يوازې و دنياوي هيڅ طاقت نه و ورسره، په قوم کي يې ضد او سرکښي نهايي نقطې ته رسېدلې وه، په دوی کي هيڅوک د حق خبري اورېدلو ته تيار نه وو په ځانګړې ډول د کلمې طيبې څخه د رسول الله ﷺ قوم کرکه کوله او ځني بېزاره وه، په دغه وخت کي کوم طاقت و، چي يو مفلس، بې ياره او ناداره انسان خپل ټول قوم د حق و لوري ته راوبولي؟ اوس تاسو فکر وکړئ چي هغه کوم شی و، چي مخلوق يې د رسول الله ﷺ و لوري ته راوبولی او هغه شي چي چا تر لاسه کړی د تل لپاره د رسول الله ﷺ سو. ټولي دنيا ته معلومه ده چي د رسول الله ﷺ يو هدف و، پر هغه يې نظر و او هغه يې مقصد و، (چي په لاندي آيات کي ياد سوی دئ):

أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِۦ شَيْـًٔا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ ۚ (٢٠)	ژباړه: د الله جل جلاله پرته به د بل چا عبادت نه کوو او نه به د الله جل جلاله سره په هيڅ شي سره شريک نيسو او نه به موږ د ځينو لپاره څوک په خدايي سره نيسو د الله جل جلاله پرته. (چي الله جل جلاله پرېږدو).

د يو الله د اطاعت او عبادت پرته يې خلک د نورو شيانو د عبادت څخه منعه کړه، د دښمنانو ټول بندونه او علاقې يې ماتي کړې او يو الهي قانون يې وټاکی او وې ښودل چي د دې قانون څخه مه ليري کېږئ بل لوري ته مخ مه اړوئ.

ٱتَّبِعُوا۟ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوا۟ مِن دُونِهِۦٓ أَوْلِيَآءَ ۗ (٢١)	ژباړه: د هغه شي تابعداري کوئ چي تاسو ته د الله جل جلاله د لوري څخه راغلی دئ د الله جل جلاله پرته د بل چا تابعداري مه کوئ.

پورتنۍ خبره اصلي تعليم و او رسول الله ﷺ ته يې امر سوی و.

ٱدْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلْحِكْمَةِ وَٱلْمَوْعِظَةِ ٱلْحَسَنَةِ ۖ وَجَٰدِلْهُم بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ ۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ	ژباړه: اې محمده! د الله جل جلاله و لاري ته خلک رابوله په حکمت او نېک نصيحت سره د خلکو سره په هغه طريقه بحث کوه چي بهتره وي بېشکه ستا رب په هغه کسانو

---

(٢٠) سورة ال عمران الاية (٦۴).

(٢١) سورة اعراف الاية (٣).

أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ ۖ وَهُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُهْتَدِينَ ﴿١٢٥﴾ (٢٢)

پوه دئ چي گمراه سوي دي او په هغو كسانو عالم دئ چي پر هدايت دي.

دغه د هدايت هغه لويه لاره ده، چي د نبي ﷺ او د ده د هر تابعدار لپاره تاكل سوې ده.

قُلْ هَـٰذِهِۦ سَبِيلِىٓ أَدْعُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ ۚ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَا۠ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِى ۖ وَسُبْحَـٰنَ ٱللَّهِ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٠٨﴾ (٢٣)

ژباړه: ووايه! دا زما لاره ده زه رابولم په يقين سره زه او هغه څوک چي زما تابعدار دي الله ﷻ پاک دئ او زه د مشركانو څخه نه يم.

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّن دَعَآ إِلَى ٱللَّهِ وَعَمِلَ صَـٰلِحًا وَقَالَ إِنَّنِى مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿٣٣﴾ (٢٤)

ژباړه: تر هغه چا به نو د چا خبره ښه وي چي د الله ﷻ و لوري ته بلنه كوي او وايي زه د مسلمانانو څخه يم.

د الله ﷻ و لوري ته د هغه خلكو رابلل چي حقه لاره ځني وركه وي، گمراهانو ته هدايت ښودل د نبي ﷺ د ژوند وظيفه ده او د ده مبارك اصلي مقصد و د ودي او ترقۍ لپاره يې په سلگونو او زرگونو انبياء او رسولان راغلي دي.

وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِىٓ إِلَيْهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعْبُدُونِ ﴿٢٥﴾ (٢٥)

ژباړه: موږ ستا مخكي هيڅ رسول نه دئ لېږلی مگر دا وحي مو ورته كړې دي چي زما پرته بل معبود نسته او زما عبادت كوئ.

د رسول الله ﷺ او ټولو انبياوو په ژوند او د ژوند پر هره لحظه كي يې كه سړی نظر واچوي نو معلومېږي چي د دوی ټولو مقصد يو و، چي هغه د يوه الله ﷻ پر ذات او صفتونو باندي پوره يقين ساتل و. هم دا د اسلام مفهوم دئ او انسان هم د دې لپاره پيدا سوی دئ، ځكه الله ﷻ فرمايي:

وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾ (٢٦)

ترجمه: موږ پېريانان او انسانان يوازي د دې لپاره پيدا كړي دي چي عبادت وكړي اوس نو چي اصلي مقصد معلوم سو، ناروغي او علاج يې معلوم سو نو د علاج په طريقه

---

(٢٢) سورة النحل الاية (١٢٥).

(٢٣) سورة يوسف الاية (١٠٨).

(٢٤) سورة حمٓ السجدة الاية (٣٣).

(٢٥) سورة الانبياء الاية (٢٥).

(٢٦) سورة الذاريات الاية (٥٦).

اختیارولو کي زیات مشکلات نه پیښیږي او که په لاندي ډول طریقه که د علاج لپاره غوره سي انشاء الله ګټوره به وي.

زموږ د ناپوهی مطابق د مسلمانانو د کامیابی او ترقی لپاره یو نظام غوره سوی دئ، چي هغه ته په حقیقت کي اسلامي ژوند یا د پخوانیو مشرانو د ژوند نمونه ویل کېږي. چي لنډه نقشه یې ستاسو په خدمت کي وړاندي کوم: تر ټولو ضروري خبره دا ده چي هر مسلمان باید د دنیا د ټولو مقصدونو څخه نظر واړوي او یوازي د کلمې طیبې د لوړوالي لپاره او د الهي احکامو د رواج د ترقی لپاره خپل مقصد جوړ کړي او د دې خبري لپاره ټینګه وعده وکړي چي د الله ﷻ هر امر به منم او د عمل کولو کوښښ به یې کوم او د الله ﷻ څخه به هیڅکله نافرماني نه کوم او د پورتني مقصد لپاره په لاندي قاعدو سره عمل کوم:

۱ – کلمه : د لا اله الا الله محمد رسول الله په صحیحو الفاظو ویل، په معنی او مطلب یې ځان پوهول، په ذهن کي یې د کښېنولو کوښښ کول او خپل ټوله ژوند د دې کلمې سره برابر جوړول.

۲ – د لمانځه پابندي کول، د شرائطو او ادابو لحاظ یې کول، په خشوع او خضوع سره یې اداء کول او په هر رکن کي یې د الله ﷻ د لوی والي او عظمت فکر کول او د خپلي بېوسی او بندګی فکر کول، لنډه دا چي لمونځ دي په داسي ډول وکړي چي د الله ﷻ په دربار کي د وړاندي کېدو وړ وي او د دغسي لمانځه د توفیق غوښتنه دي وکړي. که یې نه وي زده زده دي کړي او په لمانځه کي د ټولو شیانو ویل دي یاد کړي.

۳ – د قرآن کریم سره اړیکي او مینه کول او محبت ورسره پیدا کول چي په دوو طریقو سره کیدای سي:

الف : د ورځي په ټاکلي وخت کي د قرآن کریم تلاوت په داسي ډول کول، چي په معنی کي یې فکر کوي که یې په معنی نه پوهېږي نو دغسي دي یې تلاوت کړي او دا فکر دي کوي چي زما کامیابي او ګټه په قرآن کریم کي پرته ده. یوازي الفاظ ویل هم لویه نېکمرغي ده د خیر او برکت لوی سبب دئ. که قرآن کریم نه سي لوستلای نو لږ وخت دي د قرآن په زده کړه کي مصرفوي.

ب : د خپلو اولادو، د کلي د هلکانو او نجنو د قرآني د تعلیم فکر کول او تر ټولو کارو یې وړاندي فکر کول.

۴ – څه وخت د الله ﷻ په یاد او ذکر کي تېرول او د طریقې لپاره یې د طریقت یو پیر پیدا کول البته چي د سنتو تابعدار وي او دهغه څخه پوښتنه کول که نه نو دریمه کلمه لوستل:

سبحن الله والحمدلله ولااله الاالله والله اکبر ولاحول ولاقوة الا بالله العلي العظیم!

پورتنۍ کلمه او درود شریف سهار او ماښام سل ځله لوستل په داسي ډول چي د زړه په پوره ارامتیا سره وي ځکه په حدیثو کي یې زیات فضیلتونه راغلي دي.

۵ – هر مسلمان خپل ورور ګڼل او همکاري او غمخواري ورسره کول. د اسلامي ځانګړتیاوو په موخه د هغه احترام او درنښت کول، د داسي خبرو څخه ځان ژغورل چي د مسلمان ورور د تکلیف او درد سبب ګرځي. د پورتنیو خبرو دي خپله هم پابندي کوي او د نورو مسلمانانو د هڅولو کوښښ دي هم کوي دا نو داسي کېږي چي په ورځنۍ ژوند کي څه وخت د اسلام د خدمت او خپرولو لپاره بېل کړي، او هم د دې لپاره پوره تیاري وکړي. د کوم دین د خپرولو لپاره چي رسول الله ﷺ، انبیاوو ډول – ډول تکلیفونه برداشت کړل، اصحابو کرامو او زموږ مشرانو خپل عمرونه پکښې ولګول او د دغه دین لپاره یې خپل ځانونه قربان کړل نو د دغه دین د خپرولو او پاته ساتلو لپاره لږ وخت هم نه لګول لویه بدبختي ده دا هم هغه ضروري فریضه ده چي د پرېښودو له امله یې موږ نن برباد او تباه سوي یو.

لومړی د مسلمان کېدو څخه مطلب دا ګڼل کېدی چي د خپل ځان او مال د عزت، اسلام خپرول او د کلمې د لوړوالي لپاره وخت ولګوي که به چا داسي نه کول ناپوه ګڼل کېده خو افسوس چي نن موږ ته مسلمانان ویل کېږي خو د دین پر خپرولو خپلي سترګي پټې ساتو بیا هم د دین د خپرولو لپاره هیڅ کوښښ نه کوو. لنډه دا چي د ژوند څخه مقصد د کلمې لوړوالی او د دین خپرول بلل کېږي. دا هم هغه کار دئ چي زموږ د دنیا او آخرت کامیابي ورسره تړلې ده دا هم هغه کار دئ چي له امله یې نن موږ خوار او ذلیل یو. اوس بیا موږ ته د خپل اصلي مقصد راپورته کول په کار دي او د ژوند اصلي مشغله جوړول په کار دي چي بیا رحمت الهي پر جوش راسي او زموږ د دنیا او آخرت کامیابي بیرته رانصیب سي. د دغه کار د کولو څخه هیڅ کله دا مقصد نه دئ چي نور کارونه پرېږدئ یوازي دغه کار پر مخ بیایاست بلکي مقصد دا دئ چي لکه څرنګه چي د دنیا کارونه پر مخ بیایې دغه کار هم ضروري وبوله او وخت ورته بېل کړه او د دنیا کارو ته هم وخت بېل کړه یا په بل عبارت چي څو کسان د دې کار لپاره تیار سي په هفته کي څو ساعتونه پخپله محله (کلي) کي په میاشت کي درې ورځي نژدې همسایګانو ته او په کال کي څلویښت ورځي په لیري ځایونو کي دا کار وکړئ او کوښښ وکړئ چي هر شتمن، ناداره، زمینداره، ملازم، عالم او بې علمه په دې کار کي شریک کړئ او د دغه کار پابنده یې جوړ کړئ.

د کار کولو طریقه

لږ تر لږه دي لس کسان د تبلیغ کولو لپاره ووزي، لومړی دي یو آمر وټاکي بیا دي سره یو ځای سي د اوداسه وروسته دي دوه رکعته نفل وکړي (په دې شرط چي مکروه وخت نه وي) بیا دي و الله ﷻ ته زاری وکړي د کامیابی او الهي توفیق غوښتنه دي وکړي د خپلې ثابت قدمی دعا دي وکړي بیا به په کراره - کراره د الله ﷻ د ذکر په کولو سره روان سي بې ځایه خبري دي نه کوي کله چي و ټاکلي ځای ته ورسېږي ټوله دي سره راجمع سي دعا دي وکړي بیا به په ټول کلي ګښت وکړي لومړی به لمونځ په وکړي بیا به د دغه کار د کولو لپاره وعده ځني واخلي او دغه کار ته دي یې تیار کړي، بیا به دغه خلګ د ځان سره بوزي ګښت دي وکړي په ښځو دي هم لمونځ وکړي د پابندی وعده دي ځني واخلي. کوم خلګ چي دې کار ته تیار سوه نو د هغوی څخه دي هم یو جماعت جوړ کړي او یو امیر دي ورته مقرر کړي پخپله نګراني کي دي یې واخلي او د هغوی د کار کولو فکر دي کوي. هر تبلیغ کوونکي ته په کار ده چي د خپل امیر خبره به مني او هر امیر ته په کار ده چي د خپلو ملګرو په خدمت کولو، استراحت کولو، همت زیاتولو او مرسته کولو کي دي کمی نه کوي او د کومي خبري چي مشورې ته اړتیا لري د ټولو ملګرو څخه دي مشوره اخلي او عمل دي په کوي.

د تبلیغ اداب

دغه کار د الله ﷻ یو لوی عبادت دئ او لویه نېکمرغي ده د انبیاوو پر لاره تګ دئ، کار چي څومره لوی وي په هغه اندازه اداب غواړي. د دې کار څخه مقصد د نورو هدایت نه دئ بلکي د خپل ځان اصلاح او د بندګی څرنګوالی دئ او د الله ﷻ د حکمونو پر ځای کول دي. د الله ﷻ رضا لټول دي، نو په کار ده چي لاندي ټکي په ښه ډول په ذهن کي کښېنوي او پابندي یې وکړي.

۱ - خپل ټول خرڅ یعني خوړل، څښل او کرایه دي پر خپله غاړه واخلي که مو توان و د بل نادار ملګري مصرف هم پر غاړه واخلئ.

۲ - د خپل ملګري او د دې پاک کار کوونکو خدمت خپل ویاړ وګڼئ، د ملګرو درنښت او احترام وکړئ.

۳ - د عامو مسلمانانو سره په عاجزی او کمینی سره معامله کوئ، نرمه لهجه او د خوشحالی کړه وړه ورسره اختیار کړئ. هیڅ مسلمان ته د سپکاوي او نفرت په سترګه مه

ګورئ. په ځانګړي ډول د علماوو زیات عزت کوئ. لکه څرنګه چي پر موږ باندي د قرآن او حدیث عزت او عزمت واجب او ضروري دئ، همدا ډول د علماوو عزت او درنښت هم پر موږ باندي ضروري او واجب دئ، ځکه الله ﷻ دوی په لوی نعمت سره سرلوړي کړي دي. د علماوو سپکوالی د دین د سپکوالی سره برابر دئ او د دین سپکوالی د الله ﷻ د قهر او غضب سبب ګرځي.

۴ – فارغه وخت د غیبت، بهتان، درواغو او د لوبو د تماشو پر ځای د دین د کتابو په مطالعه او د نېکو خلګو سره په ناسته تېر کړئ په دغه کار سره به د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ خبري درته معلومي سي په ځانګړي ډول د تبلیغ په ورځو کي د بې ځایه خبرو څخه ښخي پرهېز وکړئ. خپل فارغه وخت د الله ﷻ په یاد، ذکر، فکر، استغفار او درود په ویلو او زده کولو کي تیروئ.

۵ – په حلاله طریقه سره رزق حاصلوئ، کم خرڅ کوئ او د خپلو بچیانو او د نورو شرعي حقوق ادا کوئ.

٦ – په اختلافي مسئله او فروعي مسائلو کي څېړنه مه کوئ بلکي یوازي د توحید لوري ته دعوت کوئ او د اسلام د ارکانو تبلیغ کوئ.

۷ – خپل ټول کارونه او ویناوي په اخلاص او صفوف سره ښایسته کړئ په اخلاص سره لږ عمل د ډېري فائدې او برکت سبب جوړېږي د اخلاصه پرته په کار کي نه د دنیا ګټه ستة او نه په آخرت کي کوم ثواب ورته ستة. حضرت معاذ رضي الله عنه چي کله رسول الله ﷺ د یمن حاکم وټاکی د لېږلو په وخت کي یې د رسول الله ﷺ څخه غوښتنه وکړه، چي ما ته نصیحت وکړه. رسول ﷺ په جواب کي ورته وویل، چي:

په کارو کي اخلاص او اهتمام کوه، د اخلاص سره مل لږ کار هم کفایت کوي. په بل حدیث کي راغلي دي چي الله ﷻ یوازي هغه عملونه قبلوي چي د الله ﷻ لپاره یوازي سوي وي. په بل ځای کي راځي چي الله ﷻ ستاسو شکلو ته نه ګوري بلکي ستاسو زړونو او عملونو ته ګوري. نو تر ټولو مهمه خبره دا ده چي په کار کي باید اخلاص وي د ځان ښودني او ریا ته هیڅ ځای نه وي پکښې، څومره چي په کار کي اخلاص وي په هغه اندازه به په کار کي ترقي او تازګي وي. د کار کولو تګلاره په لنډ ډول ستاسو و حضور ته وړاندي سوه، پر اړتیا یې هم کافي رڼا واچول سوه خو خبره دا ده چي دغه ټګ لاره به زموږ د دې پرېشانۍ او بې ارامۍ په حال کي څومره رهبري وکړي او تر کومه ځایه پوري به زموږ مشکلات را حل کړي د دغي خبري لپاره و قرآن کریم ته بیا رجوع کوو، قران کریم زموږ دغه کوښښ یو ګټور تجارت بللی دئ او داسي پکښې فرمایل سوي دي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ هَلۡ أَدُلُّكُمۡ عَلَىٰ تِجَٰرَةٖ تُنجِيكُم مِّنۡ عَذَابٍ أَلِيمٖ ﴿١٠﴾ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُجَٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمۡوَٰلِكُمۡ وَأَنفُسِكُمۡۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿١١﴾ يَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡ وَيُدۡخِلۡكُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ وَمَسَٰكِنَ طَيِّبَةٗ فِي جَنَّٰتِ عَدۡنٖۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿١٢﴾ وَأُخۡرَىٰ تُحِبُّونَهَاۖ نَصۡرٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَتۡحٞ قَرِيبٞۗ وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٣﴾[۲۷]

ژباړه : اي ایمان والو! ایا زه تاسو ته داسي تجارت وښیم چي تاسو د دردوونکي عذاب څخه ژغوري؟ تاسو پر الله ﷻ او پر رسول ﷺ باندي ایمان راوړئ د الله ﷻ په لاره کي په مال او ځان سره جهاد وکړئ دا ستاسو لپاره ډیره بهتره ده که تاسو پوهېږئ، الله ﷻ به ستاسو ګناهونه معاف کړي او تاسو به داسي جنتونو ته داخل کړي چي د درختو تر ښاخو لاندي به یې ولې بهېږي. ښه ځایونه چي د اوسېدو په باغو کي به وي دا لویه کامیابي ده یوه بله خبره هم سته چي تاسو یې خوښوئ د الله ﷻ د لوري څخه مرسته او ژر بریالیتوب دئ زېري تاسو مؤمنانو ته درکړل سوی دئ.

په پورتني آیات کي د تجارت بیان سوی دئ، چي لومړی ګټه یې دا ده چي د دردوونکي عذاب څخه خلاصون دئ، دغه تجارت دا دئ چي موږ به پر الله ﷻ او رسول ﷺ باندي ایمان راوړو او د الله ﷻ په لار کي به په مال او ځان سره جهاد کوو دا هغه کار دئ چي زموږ لپاره سراسر ګټه ده که په موږ کي لږ پوهه او عقل موجود وي په دغه اسانه کار به موږ ته دومره لویي ګټې راکړل سي چي ټول ګناهونه به مو معاف سي او په آخرت کي به په لویو نعمتونو سره سرلوړي سو، همدغه لویه کامیابي ده خو په دغه کامیابۍ باندي بس والی نه دئ راغلی بله لا دا ده چي په دنیا کي هم موږ ته خوشالي پر دښمنانو بریالیتوب او حکومت راکړل کېږي. الله ﷻ موږ ته د دوو شیانو امر وکړ، لومړی دا چي موږ به پر الله ﷻ او رسول ﷺ باندي ایمان راوړو، دوهم دا چي د الله ﷻ په لاره کي به په مال او ځان سره جهاد کوو. د دغو دوو شیانو په بدله کي الله ﷻ موږ ته د دوو شیانو وعده راکړه یو په آخرت کي تل جنت، ارام او استراحت. دوهم په دنیا کي بریالیتوب او کامیابي. لومړی کار چي زموږ څخه غوښتل سوی دئ ایمان دئ ښکاره خبره ده چي د دغي غوښتني څخه مطلب دا دئ چي موږ ته د حقیقي ایمان دولت رانصیب سي. دوهمه غوښتنه زموږ څخه دا ده چي جهاد وکړو که څه هم جهاد دا دئ چي موږ د کافرانو سره وجنګېږو خو اصلي مطلب یې د کلمې

---

[۲۷] سورة الصف الایات (۱۰- ۱۱ - ۱۲ - ۱۳).

طيبې لوړوالی او د اسلامي احکامو جاري کېدل دي، همدغه لوی مقصد د جهاد دئ او زموږ د تحريک همدغه مقصد دئ. اوس معلومه سوه، چي لکه څرنګه چي د اخرت د ژوند ښه والی او د عذاب څخه خلاصون پر الله ﷻ او رسول ﷺ باندي په ايمان راوړلو او د الله ﷻ په لاره کي په کوښښ کولو پوري تړلی دئ همدا ډول د دنيا د ژوند ښه والی هم په دغه دوو شيانو پوري وتړل سو. کله چي موږ پر الله ﷻ او رسول ﷺ باندي ايمان راوړو او د الله ﷻ په لاره کي کوښښ وکړو تر څو اسلامي احکام جاري کړو نو ښکاره خبره ده، چي د مځکي پاچهي به زموږ وي او د حکومت او خلافت وړ به موږ يو او زموږ به وي ځکه الله ﷻ فرمايي:

وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ كَمَا ٱسۡتَخۡلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمۡ دِينَهُمُ ٱلَّذِي ٱرۡتَضَىٰ لَهُمۡ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّنۢ بَعۡدِ خَوۡفِهِمۡ أَمۡنٗاۚ يَعۡبُدُونَنِي لَا يُشۡرِكُونَ بِي شَيۡـٔٗاۚ (۲۸)

ژباړه : په تاسو کي چي کومو خلګو ايمان راوړی وي، نېک عملونه کوي الله ﷻ وعده ورکوي چي د مځکي خلافت به ورکوي لکه څرنګه چي مخکي ستاسو يې و خلګو ته ورکړی و. کوم دين چي يې د دوی لپاره خوښ کړی دئ هغه دوی ته قوت ورکوي وروسته به د دوی وېره په امن کړو، په دې شرط چي زما عبادت وکړي او زما سره هيڅ شريک ونه نيسي.

په پورتني آيات کي د ټول امت سره د حکومت او خلافت وعده سوې ده دغه وعده ټولو وليدل د نبي عليه السلام د زمانې څخه د خلفاء راشدينو تر زمانې پوري دغه وعده ښکاره سوه لکه چي جزيرة العرب د رسول ﷺ په زمانه کي او نور ملکونه د خلفاء راشده وو په زمانه کي فتح سول. بيا وروسته که څه هم يووالی نه و، څه وخت پر وخت د نيکو پاچهانو سره دغه وعدې پوره کېدل ښکاره سوه، ځکه الله ﷻ فرمايي:

ان حزب الله هم الغالبون . ونحوه (۲۹)

اوس نو معلومه سوه چي په دنيا کي ارام، سکون، عزت او آبرو کي د ژوند تېرولو لپاره يوازي لاره دا ده چي موږ په کامل دين کي داخل سو، عمل په وکړو او تر نورو پوري يې د رسولو لپاره په ټينګه ملا وتړو، بلکي خپل ټول ژوند د دغه کار لپاره وقف کړو. الله ﷻ فرمايي:

(۲۸) سورة النور الاية (۵۵).

(۲۹) بيان القران.

وَٱعۡتَصِمُواْ بِحَبۡلِ ٱللَّهِ جَمِيعٗا وَلَا تَفَرَّقُواْۚ (۳۰) | ژباړه : تاسو ټوله دين ټينګ ونيسئ او ټوټې ټوټې مه جوړيږئ

دا په لنډ ډول د عمل لپاره يو نظام دئ چي په حقيقت کي د اسلامي ژوند او مشرانو د ژوند يوه نمونه ده.دملک ميوات په سيمه کي د يو وخته څخه دغه کاروان دی او د دې نيمګړي کوښښ نتيجه دا ده چي ورځ په ورځ خلک اخته دي په کار کي ترقي کوي. د دغه کار ګټي او فايدې خلګو وليدې تر کومه ځايه چي د ليدلو سره اړه لري. که ټول مسلمانان په اتفاق سره دا کار شروع کړي نو د الله ﷻ څخه هيله لرم چي د دوی ټول مصيبتونه او مشکلات به ليري سي په دنيا کي به په ښه ارامی، اطمينان او عزت سره ژوند وکړي او د لاسه ورکړی شان او شوکت به بيرته لاسته راوړي. ځکه الله ﷻ فرمايي:

وَلِلَّهِ ٱلۡعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِۦ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ (۳۱)

هر څومره چي ما د خپل مقصد د پوهولو لپاره کوښښ وکړ، خو دا د يو څو تجويزونو مجموعه نه ده. بلکي دا يو عملي مسوده (خاکه ده) چي د الله ﷻ يو خوښ بنده سيدي و مولائي مخدومي و مخدوم العالم مولانا محمد الياس رحمه الله واخيسته او د دې پاک کار لپاره يې خپل ټول ژوند وقف کړ. په همدې وجه تاسو په دې بې ربطه کرښو لوستلو او پوهېدلو بس والی هيڅکله مه کوئ، بلکي دا کار زده کړئ او د دې کار عملي نمونه وګورئ د هغه څخه سبق واخلي او په دغه قانچه کي دي د ځان اچولو کوشش وکړئ هم دې لوري ته متوجه کول زما مقصود دئ. نور بس:

ميری قسمت سی الہی پائیں یہ رنگ قبول ۞ پہول کچہ مین نی چونی ہین ان کی دامن کیلئی

ژباړه: الهي! زما قسمت ته د قبوليت رنګ ورکړې د لمني لپاره مي يو څه ګلان ټول کړل.

و آخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام علي رسوله محمد وآله واصحابه اجمعين برحمتک يا ارحم الراحمين .

مرتب : مولانا محمد احتشام الحسن ۱۸ ربيع الثاني ۱۳۵۸ = ۷ جولای ۱۹۳۹م، چهارشنبه
ژباړونکی : مولوي عبدالهادي حماد مقيم جامعه اسلاميه اشرفيه
۱۳۸۶/۱۰/۲۱ = ۱۱ جنوري د ۲۰۰۷ م، جمعه مبارکه

---

(۳۰) سورة ال عمران الاية (۱۰۳).
(۳۱) سورة المنافقون الاية (۸).